بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوٰة المصابيح

تاليف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

جمع وترتيب: ابو زهير سيف الله غفرله



مكتبه محمديه

بيرون گنج گيټ منگل ماركيټ پيښور

بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

الحق الصريح ١

رسالت

پښتو شرح

مشكوٰة المصابيح

تاليف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

ترتيب: ابو زهير سيف الله

ترجمهٔ احاديث: ابو سلمان حضرت محمد غفرله

په دې جلد کښې د دوه سو (نه نوی ۲۹۹ 299) احاديثو تشريح کړې شوې ده

مكتبه محمديه

بيرون گنج گيټ
منګل مارکيټ
پيښور

دکتاب نوم ———— الحق الصریح پښتو شرح مشکوة المصابیح.
د مؤلف نوم ———— الشیخ ابو محمد امین الله حفظه الله.
جمع وترتیب ———— ابو زهیر سیف الله عفی عنه
نظر ثانی وتصحیح ———— الشیخ ابو محمد امین الله حفظه الله
الفن ———— علم الحدیث
سنه طباعت طبع اول ———— ۱/ رمضان المبارك ۱٤۲٥ هـ
ترجمه احادیث ———— ابو سلمان : حضرت محمد غفر له۔
دویم ایډیشن ———— ۱٤۲۹هـ ۱۷ ذی الحجه موافق : ۲۰۰۸ء
ځلورم ایډیشن ———— ۱٤۳۲ھ ۲۵ ربیع الثانی موافق ۲۰۱۱ء

ناشر

مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ پهندو روډ منګل
مارکیټ پیښور

ابو حذیفه ولی الله : 0301 8828402
ابو سلمان حضرت محمد : 0302 5953513
ابو زهیر سیف الله : 0307 5924001

★★★★★

تعارف او خصوصیات د الحق الصریح

۱ – د حدیث شریف عربي عبارت، سره د نمبر نه.
۲ – دحدیث شریف سلیسه با محاوره ترجمه.
۳ – تعارف دراوی : صحابی یا تابعی.
٤ – تشریح دحدیث شریف.
۵ – فوائد الحدیث.
٦ – مسائل الحدیث.
۷ – بیان د اختلاف الائمه مع الدلائل
۸ – بیان د قول راجح په مسئله مذکوره کښې سره د دلیل نه.
۹ – حِکم او اسرار الحدیث.
۱۰ – نکات الحدیث.
۱۱ – نحوی، صرفي، لغوی تحقیق او په بعض مواضعو کښې د جملو اعراب .او نور مفید علمی بحثونه.
۱۲ – تعاقب دقدیم او جدید باطلو فرقو اود قرآن او سنت په رنړا کښې په هغوی باندې تسلی بخش رد.
۱۳ – دافراط او تفریط دجراثیمو نه پاك حدیثي او فقهي ماحول.
په کتاب الله اوحدیث نبوی کښې دَ شوی تحریف اظهار اود کتاب اوسنت په رنړا کښې دهغې مکمل رد.
۱٤ – په دې کتاب کښې دکتاب الله او سنت رسول ﷺ د جامعیت، کمال، حسن او په هره مسئله کښې د راهنمایئ روح روان دې.
۱۵ – په دې کتاب کښې د اصول فقه دحقیقي او مزعومه اصول او قواعدو نشاندهي کیږی. چه دې سره د اختلاف العلماء منشاء معلومیږی. او دصحیح مسئلې وضاحت کیږی.
۱٦ – اخلاص، تقوی، احسان، عبادت او اخلاقو باندې تحضیض او ترغیب، او ددې اعمالو د اختیارولو طرق او اسباب، ثمرات او نتائج.

* * * *

بسم الله الرحمن الرحیم

تقریظ

الشیخ العلامة المفسر السید عبد السلام الرستمي حفظه الله

ان الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سیئات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادي له . وأشهد أن لا اله الا الله وحده لا شریك له واشهد ان محمدا عبده ورسوله صلی الله تعالی علیه وسلم تسلیما کثیرا۔

اما بعد : الله تعالی د ذکر د حفاظت وعده کړیده : ﴿ انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون ﴾ او الذکر لفظ وحي متلو او وحي غیر متلو یعني قرآن کریم او احادیثو د رسول الله ﷺ ته عام او شامل دے . الله تعالیٰ دا وعده پوره کړیده د دواړو حفاظت ئے په لیکلو سره کړیدے، او دارنګه په حفظ سره کړے دے . د قرآن کریم الفاظ او معاني ئے محفوظ ساتلي دي، نو داسے د احادیثو ئے لفظي او معنوي یا صرف معنوي حفاظت کړیدے . دا حفاظت علمائے حدیث په خپله غاړه باندے کیخودلے دے . د احادیثو یاد ساتل او د هغے لیکل او د هغے درس و تدریس کول او د هغے ترجمے او د هغے تشریحات لیکل او دا په امت باندې د دغه علمائے کرامو عظیم احسان دے چه په دے سره دین اسلام محفوظ ساتلے شویدے۔

په دے سلسله کښے زما ورور الشیخ ابو محمد امین الله البشاوري په دے وخت کښے مشهور او نمایان عالم دے، چه هغه د نورو دیني مصروفیاتو سره سره د مشکوة المصابیح شرح چه نوم (**الحق الصریح**) دے شروع کړیده۔ چه د هغے دوه جلدونو پوره شوي دي، دا شرح ددے کتاب، زما په نظر کښے داسے شرح ده چه عالم او طالب العلم بلکه د پښتو ژبے لوستونکو دپاره د نورو شرحو د کتلو نه بے پرواه کوي . د حدیث معنیٰ، د هغے تشریح، او دحدیث درجه، صحیح، حسن، ضعیف، موضوع په کښے په ډیر تحقیق سره ذکر کړي دي۔

طلباء د حدیث او بالخصوص د مشکوة المصابیح د طالبانو دپاره ضروري دي چه ددے کتاب نه استفاده اوکړي۔

او الله تعالیٰ نه دعاء ده چه مؤلف د کتاب ته ددے د تکمیل توفیق احسن ورکړي۔ او دا د هغه دپاره صدقه جاریه مقبوله اوګرځوي . وما ذلك علی الله بعزیز۔

اخوکم في الله ابو زکریا **عبد السلام** الرستمي

۲۷ محرم /۱٤۲۷ هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه د مشكوٰة المصابيح

مشكوٰة المصابيح داحاديثو هغه بهترينه مجموعه ده چه په دے كښے تقريباً شپږ زره احاديث دى لكه روستو را روان دى۔ ددے كتاب دوه مصنفين دى، دمشكوٰة جُدا، اود مصابيح جُدا څكه دا ا صل كښے دوه كتابه دى، لكه دا خبره به د امّا بعد نه روسته راځى۔

دا كتاب ددين په لحاظ آسان دے سند ئے مختصر دے، اهل علم فرمائى :كه ددے كتاب نه ماسوىٰ په دے موضوع كښے څوك ښه ترتيب والا كتاب گورى نو نه ئے شى پيدا كولے چه اول ئے ايمانيات وى بيا عبادات، بيا نكاح بيا حدود چه زواجر دى تاركينو دعبادت لره، بيا اخلاق بيا دآخرت احوال او آخر كښے مناقب الصحابة رضى الله عنهم چه ناقلين د دين دى۔

دلته درے بحثه پيژندل ضرورى دى :

اول بحث : په باره دآدابو داستاذ اود شاگرد كښ دے۔

آداب دوه قسمه دى (۱) مشترك بين الاستاذ والتلميذ (۲) مستقل د استاذ۔

آداب مشتركه ډير دى چه بعضے دهغے نه دادى :

۱– كتاب ته په اوداسه كښے كيناستل بهترډى۔ شمس الائمة السرخسىؒ نه چا تپوس وكړو چه ته دومره څنگه عالم شوے؟ هغه اووئيل : ما يوه تشه پانړه دكاغذ هم په غير داوداسه نه نه ده راخستے۔په اوداسه كښے گرځيدل هم عبادت دے، حديث نبوى كښے راځى : [لايحافظ على الوضوء الا مؤمن] (داوداسه اهتمام صرف او صرف مؤمن كوى) دارنگه مسجد كښے چه څوك په اوداسه كښے ناست وى نوملائك ورله استغفارغواړى، (والملائكة يصلون على احدكم ما دام فى مجلسه الذى صلى فيه يقولون اللهم ارحمه اللهم اغفر له اللهم تب عليه، مالم يؤذ فيه، ما لم يحدث فيه (صحيح مسلم)۔ ترڅو چه بے اودسه شوے نه وى۔

۲– دكتاب د شروع نه مخكښے دوه يا څلور ركعته مونځ استاذ اوشاگرد دواړو له پكار دے، د انسان حاجت ورسره پوره كيږى، حديث كښے دى : (يا ابن آدم ! اركع لى اربع ركعات من اول النهاراكفك آخره) [مشكاة : ۱۱۶/۱ بسند صحيح]۔ (اے دآدم ځويه ! دورځے په شروع كښے مادپاره څلور ركعاته مونځ وكړه زه به ستا دپاره د ورځے په آخر كښے كافى شم)۔

۳ – كتاب وئيلو كښے صحيح نيت پكار دے، دا وجه ده چه هرمصنف دكتاب په شروع كښے

حدیث د : انما الاعمال بالنیات راوړی، لکه دلته هم راروان دے تنبیهاً لطالب العلم علی تصحیح النیة۔ ٤- ان یکون نظیف الثیاب :پاکے کپړے واغوندی، عطر استعمال کړی چه خلق ترے نفرت اونکړی، تنګ نشی۔ ٥- بل ضروری ادب دادے چه حدیث د عمل په نیت لوستل پکار دی ځکه چه انسان کوم نیت اوکړی هغه ورته حاصلیږی۔

٦- دا نیت کول چه په ر سول الله ﷺ باندے ډیر درود اولولی۔امام ابن حِبانؒ فرمائی : دمحدثینو پشان ډیر درود لوستونکی څوک نشته، ځکه دوی که حدیث وائی یا ئے مطالعه کوی نو درود ورسره وائی، قیامت کښے به دوئ نبی اکرم ﷺ ته ډیر نزدے وی۔ دیته په حدیث دالترغیب والترهیب کښے خلفاء وئیلے شویدی چه زما حدیث سره تعلق لری۔

هغه آداب چه شاګرد سره متعلق دی

١- الاستماع یعنے غوږ کیښودل۔ ٢- الاصغاء : یعنے متوجه کیدل۔ ٣- الحفظ ٤- مذاکرة الدرس یعنے تکرار کول۔ ٥- نشره بین الناس: خلقو کښے دا خبرے خورول۔سفیان الثوریؒ دا آداب بیان کړیدی۔دا کارونه چه انسان کښے راشی نو دا رشتینے لوستونکے دحدیثو جوړیږی۔

٦- النصیحة : خیرخواهی دملګرو،هغوی ته ځائے پریښودل،خلق نه تنګول۔ ٧- التوجه للحدیث: سلفو به داخبره بده ګڼرله چه دحدیثو په درس کښے قلم اوتراشی، دابن عونؒ په درس کښے طالبانو دا کار اوکړو نو هغه خفه شو او پاڅیدو او ورته ئے اووئیل : (لا احدثنکم شهراً)۔(یو میاشت پورے به زه تاسو ته حدیث نه بیانوم) یو میاشت پورے ئے درس ونه وئیلو تادیباً لهم۔

داستاذ دپاره آداب :١- خیر خواهی کول دطالبانو دپاره ځکه چه تدریس او طالبان امانت دے چه استاذ ته سپارل شویدے، او طالبانو ته به صحیح خبره ښائی۔

٢ - مطالعه کول، کتاب کتل پرے لازم دی۔٣ - **تولو ملګروته یو شان توجه ورکول**۔

٤- د احادیثو په مجلس کښے ګپ شپ، مزاح کول نه دی پکارځکه دے سره ددرس وقعت او رعب کمیږی یا ختمیږی۔ ٥ - ان یکون الاستاذ نظیف الثیاب۔(استاذ دپاره د صفائی خیال ساتل پکار دی)

ددے آدابو په باره کښے کتابونه لیکل شوی دی هغه مطالعه کول پکار دی، لکه د خطیب بغدادی کتاب دے «الجامع لاخلاق الراوی وآداب السامع»۔ د ابن عبد البر کتاب دے : «جامع بیان العلم وفضله»۔د عبد القادر بن عبد العزیز کتاب دے «الجامع لطلب العلم الشریف»۔ده په دے باب کښی ښه او غلط دواړه قسمه کتابونه ښودلی دی۔«حلیة طالب العلم»

دویم بحث : - اقسامو د علم الحدیث :

علم الحدیث دوه قسمه دے۔ ١ - عمل الروایة ـ ٢ - علم الدرایة۔

علم الروایة دے ته وائی چه صرف نقل دحدیثو خلقو ته اوکړے شی، دهغے دمعانیو، احکامو، اسرارو او علومونه بحث اونه کړے شی۔لکه دا د تابعینو په زمانه کښے ډیر وو، زنانه، غلامانو،

امپانو او مليانو تولو به دحديث شريف نقل كولو۔
علم الدراية ديته وائي چه دحديث نه فقهي احكام، مسائل، آداب او اخلاق راويستلے شي۔دا د روستنو علماؤ مجتهدينو طريقه وه لكه امام بخاري، امام مسلم، بيهقي او ائمه اربعه وغيره شو۔زمونږ ستاسو طريقے دواړه دي، څكه روايت كول هم غرض دے خپلو شاگردانو ته او دهغے نه مسائل معلومول هم غرض دے، اگركه دا پخوانئ طريقه نه وه څكه چه پدے طريقه كښې پردے كتاب لوستل دي، او د هغے نه حديث بل ته بيانول دي۔او اصلي غرض علم الدراية دے چه صحيح حقيقت معلوم شي او مسائل ترے مستنبط كړے شي۔
بيا زمونږ په ممالكو پاكستان، هندوستان كښې ورسره مذاهب العلماء هم بيانيږي۔سره ددے چه احاديث مذاهب العلماء ته ضرورت نه لري، خو دا صرف ددے دپاره بيانيږي چه وضاحت راشي چه ما دحديث دا معنے اوكړه اودا مسئله مے ترے راويستله نو دا ما د څانه نه ده جوړه كړے، زما مبتكره او مبتدعه نه ده بلكه ما سره دا دا علماء هم ملگري دي – بيا په علم الحديث كښې نور علوم هم دي تقريباً اووه علوم دي چه په مقدمه د ابن الصلاح كښې اختصاراً جمع دي، او نخبة الفكر كښې هم بعضے ذكر دي يا لكه فتح المغيث للسخاوي والفية العراقي كښې هم دا علوم بيان شوي دي۔
په هر علم باندے جدا جدا كتابونه ليكلے شويدي، لكه خطيب بغدادي په احاديثو باندے جدا كتاب ليكلے، په صحيح او ضعيف باندے ئے جدا كتاب ليكلے، په رجالو باندے ئے جدا كتاب ليكلے، په غرائبو باندے جدا كتاب، په مصطلح الحديث باندے جدا كتابونه ليكلے شويدي۔نو دا ډير گران علم دے، چه دعلماؤ عمرونه ئے فاني كړيدي۔خو شيطان انسان ته دا وسوسه اچوي چه : حدثنا څه ته وائي ، دا خو آسان كار دے، گران خو فلسفه او منطق دے۔مونږ وايو هغه علوم آسان دي، يو څل چه دے اوويئيل بس ياد به دے وي۔او علم الحديث به هركال نوے نوے مطالعے سره مطالعه كوے۔رجال معلومول، ضعيف او صحيح معلومول د شكو په شان مثال لري۔

دريم بحث: په متعلقاتو دخطبه كښې دے

چه مصنف دا خطبة الكتاب ولے غوره كړيده، او بيا ددے خطبے معنے او فوائد څه دي؟۔
نوداخطبه ئے څكه غوره كړيده چه ديته خطبة الحاجة وائي، دا په ابتداء ددرسونو او كتابونو او تقريرونو كښې لوستل سنت دي۔دا د محدثينو طريقه ده چه هغوي ئے غوره كوي۔دا په اوو(۷) حديثونو كښې راغلے ده، شپږ صحيح حديثونه دي، او يو مرسل حديث دے۔په دے باندے شيخ البانى رحمه الله يوه رساله ليكلے ده د : خطبة الحاجة په نوم باندے۔دا خطبة الحاجة په مشكاة كښې درے ځايه راغلے ده، يو ځائے دلته خو دلته دحديث په شكل نه ده، بلكه دمشكاة مصنف جوړه كړيده، دوه ځايه حديث كښې راغلے ده، كما في المشكوٰة (۲۷۲/۲)۔نو ددے خطبے لوستل سنت دي، او نورے خطبے لوستل جواز لري۔دليل دجواز دا دے چه احاديث كښې درے الفاظ

راځي : ۱-کل امر ذی بال لا یبدأ فیه ببسم الله فهو اقطع۔۲- بذکر الله۔۳- بحمد الله الفاظ راځي۔ تفصیل دپاره ارواء الغلیل اوله صفحه اوګوره۔
اودا حدیث سنداً ضعیف دے، مشکوٰة جلد ثانی کتاب النکاح کښے به راشي نو هغوی وائی چه حدیث کښے د ذکر الله لفظ راغلے دے، ذکر الله عام دے که په لفظ دالحمد سره وی اوکه په نورو طریقو سره۔دا وجه ده چه نور علماء مختلف الفاظو سره خطبے وائی، عملًا بذلك الحدیث، وذلك الحدیث مذکور فی کتاب الاربعین للحافظ الرهاوی، ضعفه الالبانی فی الارواء رقم (۱-۲) لاجل احمد بن عمران الجندی وحسنه النووی فی الاذکار (۱/۹٤) والسبکی فی کتابه۔
لیکن دا خطبه لوستل سنت عمل دے، امر هم په باندے راغلے، او عملًا به هم نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وئیله۔په مشکاة (۲/۲۷۲) الفصل الثانی باب اعلان النکاح کښے حدیث دابن مسعودؓ دے (والترمذی فی النکاح : ۱/۲۱۰) دے کښے : ان الحمد زیات دے، دمشکوٰة په اوله کښے به ورسره دا زیاتوے۔ او: نؤمن به ونتوکل علیه – ورسره هیڅ حدیث کښے نشته۔
دلته : من سیئات اعمالنا نشته، مګر بل حدیث کښے ذکر دے۔من یضلله کښے (ه) ضمیر ذکر کول اوحذف کول دواړه جائز دی، بل حدیث کښے راغلی دی، ابن ماجه کښے ورسره ان الحمد لله نحمده زیات دے۔ دارمی کښے ورسره د خطبے نه پس : ثم یتکلم بحاجته لفظ راغلے، یعنی دخطبے نه پس به ئے دخپل حاجت خبره کول۔ددے فائده داده چه په نکاح وغیره کښے خطبه لوستل مخکښے پکار ده، او روسته ایجاب او قبول پکار دے۔او همدا سنت عمل دے۔کوم علماء چه دا کار نه کوی د سنت خلاف کوی۔
دویم ځائے : باب علامات النبوة (۲/۵۲۵) فصل ثانی حدیث ابن عباسؓ۔ هلته ورسره (وحده لاشریك له) زیات دے۔احادیثو کښے به ټول راغلی الفاظ جمع کولے شي او زیادت له به اعتبار وی۔اوددے خطبے فضیلت دهمدے حدیث نه معلومیږی چه کله ضماد بن ثعلبه رضی الله عنه باندے نبی علیه السلام دا کلمات د خطبے اولوستل نو هغه ورته اووئیل :(اعد علی کلماتك، ولقد بلغن قاموس البحر)، ما ته دا کلمات دوباره اووایه ځکه دا د فصاحت او بلاغت اوکمال د دریاب ژور والی ته رسیدلی دی انظر ذٰلك الحدیث هناك۔
دلته په من یضلله کښے د (ه) ضمیر شته دے، نو ټول الفاظ چه راجمع کړے داسے به شي : (ان الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سیئات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل – یضلله – فلا هادی له واشهد ان لا اله الا الله) – دلته مصنف هم خطبه بدله کړیده، پوره سنت طریقه خطبه داسے پکار ده – (وحده لاشریك له واشهد ان محمداً عبده ورسوله)۔نوددے لوستل په خطبو او تقریرونو کښے پکاردی۔

خطبه دَ مشکاة المصابیح

اِنَّ الْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِىَ لَهٗ. وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ شَهَادَةً تَكُوْنُ لِلنَّجَاةِ وَسِيْلَةً وَلِرَفْعِ الدَّرَجَاتِ كَفِيْلَةً۔

ترجمه : یقیناً تول صفتونه دکمال صرف الله لره دی، مونږ ئے ثناء صفت وایو، اودهغه نه مدد غواړواو بخښنه غواړو، او په الله سره پناهي غواړو د شر د نفسونو زمونږ نه اود بدو عملونو زمونږ نه، چاته چه الله هدایت اوکړي، دهغه دپاره هیڅوك گمراه کونکے نشته، اوچا لره چه گمراه کړي، هغه دپاره څوك هدایت کونکے نشته۔اوزه گواهي کوم چه نشته حقدار د بندگئ سیوا دالله نه داسے گواهي ورکوم چه هغه دنجات دپاره وسیله اوگرځی (داورنه مے خلاص کړي) اود اوچتو درجو دپاره ذمه وار اوگرځی– اما بعد :

فوائد الالفاظ : ۱– الحمد لله دا جمله اسمیه ده، (نحمده) جمله فعلیه ده، جمله اسمیه کښے دوام او استمرار وی، اوجمله فعلیه کښے تجدد او حدوث وی، نو الحمد لله کښے د الله دپاره حمد دائمی ته اشاره ده، او نحمده کښے نوی نوی حمدونه وئیل مقصد دی۔ په مونږ باندے دوه قسمه حمدونه لازم دی، ځکه چه په مونږ باندے د الله تعالیٰ دوه قسمه نعمتونه دی، یو دائمی نعمتونه، لکه زمکه، آسمان، جسمانی، روحانی، صحة البدن وغیره نعمتونه۔دویم : چه هغه هره ورځ راځی لکه خوراك، څکاك، نوے نوے جامے وغیره۔نو دے خطبه کښے دا کمال دے۔

۲ – اوله جمله کښې اشاره ده دیته چه الله مستحق د حمد دے که څوك ئے حمد وائی اوکه نه، فی نفسه الله لره صفات دکمال ثابت دی، هغه مستحق دحمد دے، او (نحمده) کښے اشاره ده چه زمونږ د شان سره دا لائق دی چه دهغه حمدونه دے بیان کړو، د وجے د نعمتونو کثیره ؤ زمونږ سره۔

بیا په الحمدکښے درے تعمیم او یو تخصیص دے، یو تعمیم د زمانے دے، یعنے دالله دپاره حمدونه په هره زمانه، هر ساعت او هر وخت کښے ثابت دی۔اودا معلومیږی ددے نه چه دا په اصل کښے (حمدت الله حمداً) جمله فعلیه ده، رانقل شوه جمله اسمیه ته، دپاره د دوام او استمرار۔ ۲ – دویم تعمیم دادے چه حمد که دهر چا د خولے نه وی، اعلیٰ درجے والا نه وی که د ادنیٰ درجے والا نه وی، د نبی وی که د ولی۔

دغه شان درے واړو اقسامو دحمد ته شاملیږی : (۱) حمد القدیم للقدیم، کحمد الله لنفسه فی کتابه۔(۲) حمد الحادث للقدیم، کحمد العباد لله۔(۳) حمد القدیم للحادث، لکه حمد د الله د بندگانو دپاره چه دا مرتبه ورله الله ورکړیده، نو رجع ئے الله ته کیږی۔اودا تعمیمات معلومیږی دعدم ذکر دفاعل نه دپاره دحمد۔

۳ – تعمیم : حمد ل... [illegible] ...دا معلومیږی دالف لام جنسی ،

نه، يا الف لام استغراقي دی يعنې ټول حمدونه۔او هرچه خصوصيت دے نو هغه د الله د لام نه معلوميږي، لان اللام للاختصاص۔

معنی الحمد : حمد په لغت کښې ستودن، ستائش او صفت کولو ته وائي، او په اصطلاح کښې : (هو الثناء باللسان على الجميل الاختياري من نعمة او غيرها) ته وائي۔يعنې د يو ذات صفت کول دی په هغه ښائسته صفاتو باندې چه دهغه ذات په اختيار کښې وی، اودا صفت کول که د نعمت په مقابله کښې وی اوکه نه وی۔که د يو شي صفت اوشي خو هغه دهغه په اختيار کښې نه وی، نو داحمد نه دے بلکه مدح ده، لکه د ديوال صفت اوکړے چه دا ديوال ډير صفا دے، نو صفائي د ديوال په اختيار کښې نه ده، نو ديته حمد نه وائي۔دغه شان عام دے چه که د نعمت په مقابله کښې وی اوکه نه وی، په دے تعميم سره ترېٔ شکر خارج شو، ځکه شکر په مقابله دنعمت کښې وی او په زړه، ژبه او نورو اندامونو سره کيږي۔نو حمد په اعتبار دمورد سره خاص دے، او شکر عام دے۔او حمد باعتبار المتعلق عام دے او شکر خاص دے، کما قرأت ذلك في الفنون فتدبر !

وَنَسْتَعِيْنُهٗ : په دے کښې اشاره ده تبرّی عن الحول والقوة ته ۔يعنې لاحول ولا قوة الا بالله ته۔يعنې چه مونږ د الله حمد وايو نو نفس کښې يو قسم کبر راغلو چه مونږ هم د الله حمد کولے شو، نو نستعينه کښې اشاره وشوه چه دا حمد هم د الله په طاقت باندے کيږي، نو داد اياك نعبد واياك نستعين په شان شو۔

وَنَسْتَغْفِرُهٗ : بخښنه ولے غواړو، للتقصير، ځکه چه دالله عبادت اوحمد دهغه دشان مناسب نه کيږي، نو ځکه بخښنه غواړو۔(لا احصی ثناء عليك انت كما اثنيت على نفسك)۔استغفار او توبه هغه ضروري عبادات دی چه انسان ورته هر وخت محتاج دے۔

وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ : پناه نيسو په الله باندے۔تعوذ صرف د الله پورے خاص دے دغير الله پورے تعوذ نيول شرکي عقيده ده، که څوك (اعوذ بسيد هذا الوادي، يا اعوذ بفلان) وائي نو داشرکي عمل دے۔لکه امام احمدؒ دا فرمائيلي دی چه قرآن غير مخلوق دے ځکه نبي اکرم ﷺ تعوذ نيولے دے په کلماتو د الله سره لکه (اعوذ بكلمات الله التامات الخ)۔اوتعوذ نه نيولے کيږي په مخلوق پورے۔نو دا دالله د خصوصياتو نه دے۔وانظر كتاب التوحيد بشرح فتح المجيد ص (۱۶۹) (والتعوذ بغير الله عبادة وهي لا تنبغي الا لله قاله ابن القيم) (فتح المجيد صفحه مذکوره)۔

مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا : دے جمله کښې دوه معنے دی، يو اضافي معنے ده، بله وصفي۔ اضافي معنیٰ داده : زمونږ د نفسونو دشرونو نه۔يعنې هغه شرونه چه زمونږ د نفسونو نه راپيدا کيږي، په نفس دانسان کښې ډير شرونه دی، دا وجه ده چه په نفس باندے به هميشه دپاره بد ګماني کوے، که چرے ښه ګمان دے پرے اوکړو نو خپل نفس ډے هلاك کړو، اوکه بدګمانه وے نو ځائے ته ډے اورسولو۔

يا اضافت د صفت دے موصوف ته : (يعنی انفسنا الشريرة)۔يعنې زمونږ هغه نفسونه چه شرير دی، ځکه نفسونو کښې شر زيات دے په نسبت سره خير ته۔اوپه دے الفاظو کښې اشاره ده

براعة الاستهلال ته، یعنے اشاره ده دے خبرے ته چه ددے کتاب په لوستلو او عمل کولو سره د انسان د نفس نه شرونه ختمیږی۔

★- اشاره ده چه که دنفس شر دریاندے غالب شو نو ددے کتاب نه به هیڅ فائده وانخلے که په استاذ باندے د نفس شر غالب شو نو هغه به غلط دین بیان کړی۔اوکه په شاگرد باندے شر د نفس شر غالب شو، نو د خیر نه به محروم شی۔نو د ابتداء نه څکه د شر د نفس نه پناهی طلب کول ضروری دی، چه د خیر نه محرومه پاتے نشو، صفا دین حاصل شی۔

وَمِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا : دے کښے هم دوه معنے دی :۱- اضافی معنی ده : دبدو د عملونو زمونږ نه۔یعنے کوم اعمال چه مونږ کړیدی اود هغے نه چه کوم آثار پیدا شویدی یا الله مونږ د هغے نه اوساتے، نو د سیئات نه مراد بد آثار شو۔

۲- یا سیئات صفت د اعمالو دے اضافت د صفت دے موصوف ته، یعنی من اعمالنا السیئة، نو په دے کښ بیا دوه مطلبه جوړیږی: ۱- یو دا چه کوم بد اعمال چه مونږ کړیدی دهغے نه مو اوساته یعنی هغه راته معاف کړه، راته ئے مه راښکاره کوه۔۲ - دویم دا چه : زمونږ کوم بد عملونه دی لاکړی مو نه دی نو د هغے دکولو نه مو محفوظ کړه۔

مَنْ یَّهْدِهِ اللّٰهُ : ربط : مخکښے د شرور او اعمالو نسبت نفسونو طرفته اوشو، نو دا وهم پیدا شو چه آیا په دے اعمالو کښے به د نفسونو اختیار او استقلال وی، یعنے نفسونه به خیر او شر پیدا کوی، مستقلًا او اختیاراً۔نودا وهم ئے دفع کړو په دے عبارت سره چه : من یهده الله الخ۔دپاره ددے چه اشاره اوشی دیته چه خیر او شر، هدایت اوگمراهی ټول د الله په اختیار کښے دی، او بنده صرف کسب کونکے دے۔خالق نه دے۔اوسعادت او شقاوت د الله په علم ازلی سره دی روسته دکسب د بنده نه۔

دا بیا براعة الاستهلال دے۔ددے عبارت دوه مطلبه دی، یا خو داجمله خبریه ده په معنی د دعاء سره، یعنے چاته چه الله هدایت اوکړو نو څوك ئے گمراه کولے نشی، اوڅوك چه گمراه شو،نو هغه ته څوك هدایت نشی کولے۔نو یا الله هدایت اوگمراهی دواړه ستا په لاس کښے دی، نو مونږ ته هدایت اوکړه، اود گمراهئ نه مو بچ کړه۔

۲- دویم په کښے براعة الاستهلال بیا دے چه یو کس بیان یا تقریر کوی، یا تصنیف کوی، نو که هغه ته الله هدایت کړے وی نو سامعینو کښے ئے څوك گمراه کولے نشی، مطلب دا چه د یو خطیب، یومصنف په زړه کښے خیر پروت دے ،هدایت ورسره دے، اوسامعینو قارئینو زړونو کښے گمراهی پرته ده، نو که دا خطیب ډیر بیانات اودلائل دے گمراه ته بیان کړی، خو چه الله گمراه کړے وی نو هیڅوك ورته هدایت نشی کولے۔(او دا د قرآن او سنت نه معلومه ده چه الله هسے چتی گمراه کول نه کوی بلکه دا د بنده د بدبختئ او بد عملئ د وجے نه۔ورنه الله خو هدایت طرفته دعوت ورکوی، ﴿وَاللّٰهُ یَدْعُوْ اِلٰی دَارِ السَّلَامِ وَیَهْدِیْ مَنْ یَّشَاءُ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ﴾

وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ شَهَادَةً :(ربط) : د حمد نه پس شهادتين ذكركوى، يو گواهى د توحيد، بل گواهى د رسالت، ځكه په دے كښے عمل دے په دے حديث د ابو هريره ﷺ باندے چه (كل خطبة ليس فيها تشهد، فهي كاليد الجذماء).اخرجه احمد والترمذى فى النكاح باسناد حسن صحيح. (۱/ ۲۱۰) .(الصحيحة ۱/ ۲۷۵) بسند صحيح).

بيا په حمد او استعانت او استغفار او تعوذ كښے ئے صيغه د جَمع راوړه، اشاره ده كثرت د نعمتونو او تقصيراتو او گناهونو ته، چه مونږ باندے د الله نعمتونه زيات دى،او زمونږ تقصيرات زيات دى-او په مقام د توحيد كښے ئے واحد صيغه (اشهد) راوړه، اشاره ده وحدة الذات ته چه د الله ذات هم واحد دے، لان فيه اثبات القدم واسقاط الحدوث، ومحل مشاهدة وحدة الذات وسقوط ما سوى الله-حاصل دا چه په اشهد كښے اشاره ده د الله وحدت او يوائے والى ته، او په صيغو د جمعو كښے اشاره ده احتياج دجميع العباد الى الله الواحد القهار ته-

۲-– دويمه وجه داده چه دا مخكنى كارونه امور ظاهريه دى، نو انسان نور كسان دځان سره په كښے شريكولے شى چه دوئ به هم د الله نه حمد او استعانت او استغفار اوتعوذ غواړى، اوهر چه شهادت دے نودا امر قلبى غيبى دے، انسان د بل چا په زړه خبر نه دے، چه آيا دده په زړه كښے توحيد شته اوكه نه، صرف الله ته ئے حقيقت معلوم دے، نوځكه ئے دلته صيغه دمفرد راوړه، وهو المناسب-

فائدة : معلومه شوه چه د جمع صيغه استعمالول په باب د شهادت كښے يعنے (نشهد) وئيل دا غير مناسب دى، ځكه تاته څه معلومه ده چه د نوروخلقو په زړه كښے توحيد شته اوكه نه؟، لان الشهادة خبر قاطع، مطابق للواقع، فلا ينبغى لاحد ان يحكم به بالجزم الا على نفسه- (ځكه شهادت هغه يقينى خبر دے چه د واقع مطابق وى نو انسان د خپل ځان نه علاوه بل چا دپاره دا يقينى طور سره نشى وئيلے) -

تركيب : شهادةً مفعول مطلق دے دپاره د (اشهد) اوبيا موصوف دے، اوتكون للنجاة وسيلةً جمله ورله صفت دے-يعنے داسے گواهى وركوم چه هغه د نجات دپاره وسيله او ذريعه اوگرځى-

تَكُوْنُ لِلنَّجَاةِ وَسِيلَةً : نَجَاة په فتحه د نون سره دے، دے كښے ډير خلق غلطى كوى چه په كسره د نون سره ئے وائى-قرآن كريم كښے دى : ﴿ مَالِيْ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجَاةِ﴾-[سورة مومن :٤١] لكه خلق لَذت په كسره دلام سره وائى داهم غلط دے فتحه دلام صحيح ده-دارنگ ذَهاب كښے كسره د ذال غلطه ده، فتحه صحيح ده- بيا نجاة دڅه نه مراد دے ؟ نو: (۱) يا خو نجاة من النار (۲) او يا نجات من غضب الله مراد دے-

ولرفع الدرجات كفيلة : دا عطف دے په للنجاةِ وسيلةً باندے، د تكون پورے متعلق دے او كفيلةً خبر د تكون دے مجموعه صفت دے د شَهَادَةً-يعنے دا شهادت د درجاتو پورته كيدلو دپاره ذمه واراوگرځى-بيا قانون داد ے چه په كلمه د توحيد باندے صرف داور نه خلاصے راځى، اورفع

ددرجاتو په اعمالو سره راځی لکه دا د احادیثو نه معلومه ده۔او دلته مصنف وئیلی دی چه دا کلمه زما دپاره درجات هم پورته کړی، نو دا ئے ولے وئیلی دی ؟ نوددے دوه وجے دی : (۱) یو دا چه په کلمو وئیلوکښے هم ډیر مراتب دی، بعضے انسان ئے اووائی خودومره محبت او اخلاص نه لری، او بعضے انسانان ډیره زیاته مینه لری، دخوراك څکاك او هواء نه ئے هم زیاته ضروری ګنړی، نود هرچا کلمه وئیلو کښے فرق دے۔صحابه کرامو هم داکلمه وئیلے ده، او مونږ ئے هم وایو لیکن فرق دے۔نو د بعضے خلقو کلمه صرف د اُورنه خلاصول کوی اودرجے ورله نه اوچتوی۔ اوډ بعضے خلقو کلمه وئیل هغه دپاره درجے هم اوچتوی۔ نومصنف وائی چه زه داسے کلمه وایم چه زما درجے هم اوچتے کړی، چه هغه اعلیٰ درجه کلمه وئیل دی۔

۲- دویم حکمت دادے چه کلمه د توحید دا ایمان دے اوروستو به راشی چه ایمان مرکب دے د تصدیق، اقرار او عمل بالارکان نه، نو په دے کښے اعمال هم داخل دی، نو په اعمالو به درجے پورته شی او په تصدیق به داُور نه خلاصے راځی۔

وَاَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهُ الَّذِیۡ بَعَثَهٗ وَطُرُقُ الۡاِیۡمَانِ قَدۡ عَفَتۡ آثَارُهَا وَخَبَتۡ اَنۡوَارُهَا وَوَهَنَتۡ اَرۡکَانُهَا وَجُهِلَ مَکَانُهَا فَشَیَّدَ "صَلَوَاتُ اللّٰهِ وَسَلَامُهٗ عَلَیۡهِ" مِنۡ مَعَالِمِهَا مَا عَفٰی وَشَفٰی مِنَ الۡعَلِیۡلِ فِیۡ تَاۡیِیۡدِ کَلِمَةِ التَّوۡحِیۡدِ مَنۡ کَانَ عَلٰی شَفَا وَاَوۡضَحَ سَبِیۡلَ الۡهِدَایَةِ لِمَنۡ اَرَادَ اَنۡ یَّسۡلُکَهَا وَاَظۡهَرَ کُنُوۡزَ السَّعَادَةِ لِمَنۡ قَصَدَ اَنۡ یَّمۡلِکَهَا۔

ترجمه : او زه دا ګواهی کوم چه بیشکه محمد ﷺ د اللّٰه بنده اود هغه رسول دے چه اللّٰه تعالی هغه په داسے حالت کښے رالیږلے دے چه دایمان دلاروآثار اونښے نښانے ورانے (مِټاؤ) شوے وے، (خلق پرے نه تلل راتلل) اود ایمان دلارو رنړاګانے مړے شوے وے اوارکان (جړړے، تناداوونه، ستنے) ددے لارو د ایمان کمزورے شویوے اومکان ددے لارو (چه دکوم ځائے نه ئے معلوم کړو) ورك شوے وو، پس مضبوط کړو نبی اکرم ﷺ (مینځ کښے ورته دعاء کوی په صلوات اللّٰه سره)(د اللّٰه رحمتونه او سلامتیا دِے وی په هغه باندے) د علاماتو ددے لارو نه هغه چه کوم وران شوی وو، او شفا ئے ورکړه هغه ناجوړه ته کوم چه په غاړه دکنده وو، په مضبوطولو دکلمے د توحید کښے (یعنی کوم ناجوړه (مشرك) چه د کندے په غاړه وو هغه ته ئے هدایت اوکړو نو د هغه په وجه ئے د توحید د کلمے سربلندی اوکړه) او واضحه ئے کړه لاره دهدایت دهغه چا دپاره چه اراده لری چه په دے لاره دهدایت باندے روان شی او ښکاره ئے کړے خزانے د نیك بختئ دهغه چا دپاره چه د هغه قصد دے چه ځان مالك کړی ددے خزانو۔

تشریح : وَاَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا : اوس د رسالت ګواهی ذکر کوی ځکه چه دا دواړه ګواهیانے تول دین دے چه اللّٰه ډِے یو اومنلو او محمد ډِے د اللّٰه رسول اومنلو، نو تول هغه څه چه اللّٰه خپل

رسول ته ورکړيدی هغه به هم منے، نو دے دواړو کښې تول دين راګير دے لکه په کلمه د توحيد کښې هم دا دواړه ذکر دی : (لا اله الا الله محمد رسول الله)۔ يعنے عبادت صرف اوصرف د الله کول،او په طريقه د رسول الله (ﷺ) باندے په تول دين عمل کول۔

وَطُرُقُ الْاِيْمَانِ : ددے ځائے نه دا خبره کوی چه الله خپل رسول (ﷺ) په داسے وخت کښے راليږلے دے چه ده ته سخت حاجت او ضرورت وو، د تيرو په دور کښے ئے راوليږلو او داسے وخت نه وو چه رانړا وه۔بلکه په تياره کښے الله رنړا راوليږله، ځکه چه په تياره کښے رنړا بله شی نو ډير خوند او مزه کوی۔دهدايت لارے تولے بندے وے، که رسول الله په داسے وخت کښے راليږلے شوے وے چه علماء او دين بيانونکی او رنړا موجوده وے نو بيا به دومره حاجت او فائده نه وے۔﴿ لِتُنْذِرَ قَوْماً مَا اَتَاهُمْ مِنْ نَذِيْرٍ مِنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴾ (الم سجده : ٢)۔

اَلَّذِیْ بَعَثَهٗ : بعث کښے ضمير فاعل الله ته راجع دے او (ه) ضمير دمفعول رسول ته راجع دے۔وطرق الايمان مبتداء ده او قد عفت آثارها ئے خبر دے او واو حاليه دے، مجموعه جمله حال دے د بعث نه۔

طرق : جمع دطريق ده لارے۔ اَقَدْ عَفَتْ آثَارُهَا : يقيناً زاړه شوی وو آثار دلارو دايمان۔ عفت : د عَفَا يَعْفُوْ عَفْواً و عَفَاءً وعُفُوّاً نه دے په معنے د محوه کيدو، زائل کيدو، ورانيدو، زړيدو سره دے ۔ آثار : جمع د اَثَر ده، نښو نښانو ته وائی۔حاصل د معنی دا شو چه الله خپل رسول داسے حالت کښے راوليږلو چه دخلقو پوره حاجت وو دے رسول ته، ځکه خلق په دغه وخت په انتهائی ګمراهئ او جهالت کښے پراته وو، ځکه چه په مخ د زمکه باندے ډاسے څوك نه وو پاتے چه هغوی د ايمان لارے اوپيژنی، سيوا دچند کسانو نه چه د عيسیٰ عليه السلام تابعدار وو، او په ګډونو اود غرونو په سرونو کښے ناست وو، وحدت او اعتزال ئے اختيارکړے وو۔

وَخَبَتْ اَنْوَارُهَا : دخَبَا يَخْبُوْ خَبْواً وخُبُوّاً نه په معنے د اُور مړکيدلو، په آرام کيدلو سره دے۔انوار : جمع د نور ده، رنړا، مراد ترينه علم دين دے چه د نمر پشان دے په کمال ظهورکښے۔معنی داده چه د ايمان د لارو انوار او رنړا ګانے مړے شوے وے، يعنے علم الدين والايمان چاته معلوم نه وو۔

وَوَهَنَتْ اَرْكَانُهَا : وهن ضعف او کمزورتيا ته وائی۔ارکان : جمع د رکن ده، اصل کښے ستنے ته وائی، اورکن د شئ داخل فی الشئ ته وائی۔يعنے تاداونه او ستنے دلارو د ايمان کمزورے شوے وے۔يعنے ايمان بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر) دا ارکان کمزوری شوی وو(لکه دا روستو په حديث د جبرئيل کښے راځی) چه خلقو دا عقيدے خرابے کړے وے، دالله سره شرك کيدلو، ملائك به بنات الله (دالله لونړه) ګنړل کيدے، کتابونه او رسولان ئے نه منل، دآخرت يقين ئے نه کولو، اِلا قليلاً منهم۔

وَجُهِلَ مَكَانُهَا : صيغه دمجهول ده يعنے ورك شوے وو مکان د طرق الايمان چه ايمان دکوم ځائے نه زده کړی، مدارس کتابونه نه وو، اشاره ده عدم المدارس والكتب ته، که کتابونه چرته وو نو چا ترے فائده نشوه اخستے، ځکه تول خلق د خواهشاتو پسے روان وو، د ظلم او فسق او قلة العدل زمانه وه۔

دطرق الايمان نه مراد (١) يا خو انبياء او رسولان او كتب منزله اود رسولانو تابعدار علماء او اولياء دي۔او د عفو الآثار، خبت الانوار او وهن الاركان نه مراد په هغه شريعتونو باندے عمل نكول كوم چه انبياؤ دوی ته راوړی وو، اوپه اخلاقو او اعمالو او آدابو ئے ورته حكم كړے وو، او كوم علوم او معارف چه رسولانو ورته بيان كړی وو هغه ئے نه زده كول، او هغه اخلاق او آداب ئے نه عملی كول۔اود جهل مكانها نه مراد مراتب او حقوق نه پيژندل دی۔

(٢) يا د طرق الايمان نه مراد علوم او معارف او نيك اعمال او آداب او مجاهدات النفس او صفات جميله او اخلاق حميده دی، يعنے دا چا نه پيژندل، او د عفو الآ ثار اوخبت الانوار او وهن الاركان او جهل المكان نه مراد په دے لارو باندے نه تلل، ددے هيڅ باك او اهتمام نه كول اوددے د حاصلولو كوشش نه كول دی۔

فَشَيَّدَ : (ربط) مخكښے بيان شو چه نبی ﷺ د تيَرو په وخت كښے راولیږلے شو نو اوس وائی چه هغه څه اوكړل؟، نو هغه دا اوكړل چه د اسلام د دعوت اوتبليغ اظهار ئے شروع كړو، چه دهغے د رڼړا او نورانيت په وجه هر طرفته ته د سكون او امن فضا گانے خورے شوے، اود اسلام او ايمان وران شوی نشانات ئے بيارا تازه كړل، نو دكومے گمراهئ او لادينيت په وجه چه خلق د جهنم دكندے په غاړه ولاړ وو، نو دهغے دغاړے نه ئے خلق را جدا كړل، اود جنت باغونو طرفته ئے روان كړل، نو كوم خلق چه دغير اسلامی نظام په بخار اوسپيره توب كښے مبتلاوو په هغوی باندے ئے دا عظيم احسان اوكړو چه دا اسلام لاره ئے ورته اوښودله اود اسلام قلعے ته ئے راداخل كړل۔

فشيد : فاء تفريعيه، شيد كښے ضمير نبی ﷺ ته راجع دے او هغه فاعل دشيد دے، ما عفا من معالمها ورله مفعول دے، ما موصوله يا موصوفه ده، او من معالمها ورله بيان دے، اوصلوات الله مينځ كښے جمله معترضه دعاء ده نبی ﷺ ته۔ تقدير العبارة داسے شو : فشيد عليه السلام الذی عفا من معالمها۔

تشيد : ديوال پورته كول۔ديوال له دچونے پلستر وركول، مضبوطولو په معنیٰ سره راځی، يعنے پورته كړو نبی ﷺ هغه نښے اوعلامے دطرق الايمان كومے چه زړے شوے وے۔اودا پورته كول دنبی ﷺ په علوماو معارفوسره اوشوكوم چه الله خاص ده ته وركړی وو، مخكنو پيغمبرانو ته ئے نه وو وركړی۔

"صَلَوَاتُ اللهِ : قسما قسم رحمتونه او شاباسيانے دے وی د الله او سلامتيا دے وی په ده باندے۔وشفی من العليل : دا عطف دے په شيد باندے، ضمير مستتر راجع دے نبی ﷺ ته او : من كان علی شفا دا مفعول دے د شفیٰ او مبين مؤخر دے، او من العليل دا بيان مقدم دے، او : فی تأييد كلمة التوحيد ظرف متعلق دے په شفیٰ پورے، نو معنی داسے شوه : وشفی من كان علی شفا من العليل فی تأييد كلمة التوحيد - يعنے نبی ﷺ شفا وركړه (شفاء وركونكے اصل كښے الله دے خو نبی ﷺ بيان كريدے په هغے سره شفاء حاصل شويده)، نو كومه بعض خلق اسناد

مجازي وائي) شفاء ئے ناجوړه ته ورکړه، دا ناجوړه هغه څوك دے چه د اُور په کنده باندے ولاړ وو، څنګه شفاء ئے ورکړه، (في تأييد) سره هغه بيانوي، يعنے په تائيد کولو او مضبوطولو ددے پيغمبر کښے کلمه د توحيد لره، يعنے ده چه تائيد دکلمے د توحيد اوکړو اوهغه ئے مضبوطه کړه د خلقو زړونو ته ئے ورداخله کړه، نو هغه ناجوړه خلق روغ شول، شفا ورته ملاؤ شوه، دکندے نه لرے شول، نو په دے کښے اشاره ده ديته چه د نبي اکرم ﷺ په تابعدارئ کښے بچاؤهم دے اوناجوړتياختمول هم دي۔

نکته : مِنَ الْعَلِيْلِ : بيان مقدم شو په مبين باندے دپاره درعايت د سجع او قافيه دکلام، اودا په خطبو کښے امر مرغوب دے، بيا د شَفیٰ او شَفَا په مابين کښے صنعة الجناس دے چه دوه لفظونه د يو جنس نه استعمال کړے شي اومعنے ئے بدلے وي۔اودا دمحسناتو بديعيه نه دے۔

عليل : بيمار ته وائي جمع ئے اعلاء ده۔

وَاَوْضَحَ سَبِيْلَ الْهِدَايَةِ : اوضح کښے ضمير نبي اکرم ﷺ ته راجع دے او سبيل الهداية مفعول به دے، او لمن اراد متعلق دے داوضح پورے، يعنی نبي اکرم ﷺ واضح ښکاره کړے لارے دهدايت دهغه چا دپاره چه اراده لري چه په دے لارو روان شي۔يعنے لاره د هدايت خو واضح ده خو که يو سړے پرے نه ځي نو هدايت هغه ته نه ملاويږي۔

لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يَّسْلُكَهَا : ان مصدريه مدخول خپل په تاويل د مصدر سره ګرځوي، اى لمن اراد سلوکها۔

وَاَظْهَرَ كُنُوْزَ السَّعَادَةِ : ددے ترکيب هم د اوضح پشان دے، په دے کښے هم براعة الاستهلال دے، کنوز السعادة کښے اشاره ده چه په مشکاة او مصابيح کښے د نيك بختئ خزانے پرتے دي، خو بنده به هله نيك بخته کيږي چه اراده لري چه دهغے څان مالك کړي، د نبي اکرم ﷺ احاديث خزانے د نيك بختئ دي، خو چه دهغے د تابعدارئ اراده نه وي، اوکه دعمل ازاده نه وي، نو هسے په وينا سره نيك بختي نه حاصليږي، چه صرف د خپل مذهب او رائے د تقويت يا دهغے نه د جواب او دفاع دپاره احاديث لولي، دکوم ځائے نه به ورته سعادت حاصل شي ؟!۔

اَمَّا بَعْدُ : د اما بعد نه پس که شارح ئے ذکر کړي نو غالباً درے خبرے بيانوي :

١ - **سبب التاليف** (يعنے داکتاب مے ولے اوليکلو) ۔

٢ - **سبب انتخاب الفن** (په دے فن کښے مے ولے اوليکلو) ۔٣ - **سبب انتخاب المتن** (په دے متن مے ولے اوليکلو) يعنے د تخصيص المتن وجه بيانوي۔ ٤ - اوکله **کيفية التصنيف** بيانوي لکه دلته۔اوکله چه مصنفين اصحاب المتون دا اما بعد ذکر کړي، نو ددے نه پس دوه خبرے بيانوي : ١ - اختيار الفن ٢ - باعث على التصنيف۔

اودلته اما بعد صاحب دمشکوٰة چه په منزله د شارح دے وئيلے دے، نو درے خبرے بيانوي : (١) يو دا چه حديثو کښے مے کتاب ولے اوليکلو؟، وجه داده چه ديته ضرورت دے، څکه د قرآن

کریم تفسیر دا احادیث مبارکه دی، دارنګ د نبی اکرم ﷺ اقتداء فرض ده اودا نه حاصلیږی په غیر د علم الحدیث نه۔ ۲ - بیا مے ولے دا مشکاة په مصابیح باندے اولیګلو، نو وجه داده چه مصابیح ډیر ښه کتاب وو، خو لیکن لږ شان نقص په کښے وو، نو ددے نقص لرے کولو دپاره مے دا کتاب اولیکلو، چه فائده ئے ډیره شی، نو درے واړه خبرو ته اشاره اوشوه۔

فوائد : کلمه د اما بعد په تقاریرو اوخطبو کښے لوستل سنت طریقه ده، او په لفظ د اما بعد سره سنت ده، او بعد یا فبعد وئیل سنت طریقه نه ده۔دا وجه ده چه امام بخاریؒ دخپل صحیح په کتاب الجمعة (۱۲۶/۱) کښے باب لګولے دے : باب اما بعد، په هغے کښے ئے پنځه شپږ احادیث راوړیدی چه دا لوستل د نبی اکرم ﷺ طریقه ده۔او بعد لوستل ځکه ښه نه دی چه ددے نه روستوُ بیا په عامو کتابونو کښے فاء راوړی، نو په هغے باندے بیا سوال واردیږی چه دلته فاء جزائیه ده، دا مخکښے شرط غواړی او مخکښے شرط نشته، نو دهغے تکلفانه جوابونو ته بیا حاجت پریوزی، نو **جواب** دا کوی : ۱- چه دا بعد ظرف متضمن دے معنے د شرط لره،نو روستو فاء راوړل صحیح دی، لکه واذ لم یهتدوا به فسیقولون کښے اذظرف دے متضمن دے معنی د شرط لره، نو روسته ترے فاء راغلے ده۔ ۲-کله وائی داپه توهم د امّا سره دے، یعنی مصنف چه بعد اولیکله نو ده دا وهم اوکړو چه ګنے ما (اما) راوړیده نو ځکه ئے روستو فاء راوړه، لیکن داسے د تیقانو جواب دے، دا څنګه مصنف دے چه دومره کتاب لیکی او په اول سرکښے ترے دومره وهم کیږی، لږ فکر دِے اوکړی، مخکښے دِے ورته اوګوری، که دے د اول نه داسے خطائی کوی نو بیا خوبه ئے ټول کتاب د غلطئ نه ډك وی۔نودا ہے ځایه تکلفانه جواب او ډیر ګوئی ده۔ ۳- یا تقدیر داما بعد دے۔نو دے جوابونو ته د انسان ضرورت هله راځی چه په سنت طریقه عمل اونکړی، اما بعد اووایه نو اشکالات به نه پیدا کیږی۔

بیا **د اما بعد اول** ویونکے دیوحدیث نه معلومیږی چه داؤد ﷺ دے کما فی الطبرانی باسناد ضعیف، کما فی فتح الباری (۳۲۲/۲) اودا ئے د فصل الخطاب تفسیر ګرځولے دے۔حافظ ابن حجرؒ فرمائی چه بعضو وئیلی دی چه قائل ددے یعقوب دے چه د نبی ﷺ په نیکونو کښے دے۔وقیل یعرب بن قحطان وقیل کعب بن لؤی وقیل قس بن ساعده۔ تقریباً شپږ اقوال په کښے دی - لیکن اوله خبره حق ته ډیره نزدے ده۔ حافظ داهم وئیلی دی چه اولنے قائل ددے داؤد ﷺ دے اودا نورچه اول دی نودا اولیت بالنسبة الی العرب وبالنسبة الی القبائل دے، یعنی په انسانانوکښں اول داود ﷺ دا وئیلے ده، اوبیا اول عربو وئیلے ده، او په عربوکښں اول یعرب وئیلے ده، وهکذا۔په دے سره د ټولواقوالو جمع راغله۔بهرحال هرڅوك چه وی خو زمونږ د نبی اکرم ﷺ طریقه ده، چه اما بعد به ئے لوستله۔اودا راوړل کیږی دپاره د جداوالی د خطبے اود مقصود، اودیته په علم البدیع کښے فصل الخطاب وائی۔

فَاِنَّ التَّمَسُّكَ بِهَدْيِهٖ لَايَسْتَتِبُّ اِلَّا بِالْاِقْتِفَاءِ لِمَا صَدَرَ مِنْ مِشْكٰوتِهٖ وَالْاِعْتِصَامَ بِحَبْلِ اللّٰهِ لَايَتِمُّ اِلَّا بِبَيَانِ كَشْفِهٖ وَكَانَ كِتَابُ الْمَصَابِيْحِ الَّذِىْ صَنَّفَهُ الْاِمَامُ مُحْيِ السُّنَّةِ قَامِعُ الْبِدْعَةِ اَبُوْمُحَمَّدِ الْحُسَيْنُ بْنُ مَسْعُوْدِ الْفَرَّاءُ الْبَغَوِيُّ رَفَعَ اللّٰهُ دَرَجَتَهٗ اَجْمَعَ كِتَابٍ صُنِّفَ فِىْ بَابِهٖ وَاَضْبَطَ لِشَوَارِدِ الْاَحَادِيْثِ وَاَوَابِدِهَا وَلَمَّا سَلَكَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ طَرِيْقَ الْاِخْتِصَارِ وَحَذَفَ الْاَسَانِيْدَ تَكَلَّمَ فِيْهِ بَعْضُ النُّقَّادِ وَاِنْ كَانَ نَقْلُهٗ – وَاِنَّهٗ مِنَ الثِّقَاتِ – كَالْاِسْنَادِ لٰكِنْ لَيْسَ مَا فِيْهِ اَعْلَامٌ كَالْاَغْفَالِ۔

ترجمه : یقیناً منګولې لګول په سیرت د نبی اکرم ﷺ باندې دا نه کامليږي، نه برابريږي مګر په تابعدارئ د هغه خبرو چه هغه راوتي دی د سینې د نبی اکرم ﷺ نه اومنګولې لګول د الله په رسئ (قرآن) دا نه پوره کیږي مګر په وضاحت ددې قرآن باندې، او ووکتاب د مصابیح چه تصنیف کړیدې محی السنة (سنت ژوندې کونکی) اود بدعت جرړې ویستونکی، ابو محمد الحسین بن مسعود الفراء البغوی، الله دِ دده درجه پورته کړی۔دا ډیر جامع کتاب دې (خبر دکان دې) په هغه کتابونو کښې چه لیکلې شوی دی په باب دَ حدیث کښې اوډیر راګیرونکې دې تریدونکی او متنفر (وحشی) احادیثولره، (یعنې وحشی او ناشنا غریب احادیثو لره)۔اوهرکله چه روان شوې وو دا (امام) – الله دې ترې راضي شي– په لاره د اختصار اوسندونه ئې هم حذف کړی وو نو (په دې وجه) خبرې اوکړې په دې کښې بعضې ناقدینو د حدیثو(په طریقه د اعتراض)، اواګرکه نقل کول د فراء دې حدیث لره داسې دی لکه داسناد ذکرکولو پشان (مینځ کښې وجه بیانوی) ځکه چه دا فراء دمعتمدو علماؤ نه دې، لیکن (بیاهم) نه ده هغه زمکه چه په هغې کښې نښې وی پشان دهغه زمکو چه شړې (بې نښو) وی۔

تشریح : هرکله چه مشکاة مستقل تصنیف نه دې بلکه په کتاب المصابیح باندې اضافه ده، په دې وجه صاحب المشکوٰة په خپل کتاب کښې شلور خبرو ته اشاره کوی : (۱) اول سبب التالیف ته اشاره کوی په دې عبارت سره چه : فان التمسك بهدیه الخ۔حاصل داچه د نبی علیه السلام اسوه او سیرت رانیول نه راځي مګر دهغه څیز په تابعدارئ سره چه هغه د نبی اکرم ﷺ د سینې نه راوتلې دې۔دغه شان دَ الله رب العالمین رسئ (قرآن) مضبوط نیول او په هغې باندې مکمل اعتماد او عمل کول به هله ممکن وی کله چه دهغې وضاحت په احادیثو نبویه سره اوشی، نود احادیثو علم د نبی اکرم ﷺ د سیرت اختیارولو دپاره د یو پورئ پشان دې، اود علم الحدیث په ذریعه د قرآن کریم د تعلیماتو نه استفاده کیدې شی، په دې وجه مې دا فن د تالیف دپاره منتخب کړو۔

فوائد الالفاظ : اَلتَّمَسُّكَ : منګولې لګول، کلك لاس اچول۔ بِهَدْيِهٖ : په فتحه دهاء او سکون د

دال سره، طریقے او سیرت ته وائی،او ضمیر مجرور راجع دے نبی اکرم ﷺ ته۔ هَدْی، اوسیرت او طریقه اودل په احادیثو کښې په یوه معنے سره استعمالیږی۔

لَایَسْتَتِبُّ : نه کامليږی، ای لا یستقیم ولا یستمر ولا یتأتی۔نه حاصليږی، نه صحیح کیږی۔ استتاب په لغت کښې په صحیح طریقه تللو ته وائی۔

اِلَّا بِالْاِقْتِفَاءِ : نه مراد اتباع ده، اقتفاء په اصل کښې دچا دځپ پسے روسته روانیدو ته وائی لکه : ﴿وَقَفَّيْنَا عَلٰى آثَارِهِمْ﴾۔ لِمَا صَدَرَ : صدور په معنے دخروج او ظهور سره دے۔

مِنْ مِشْكٰوتِهٖ : مشکاة اصل کښې د دیوال هغه طاقچے ته وائی چه غیر نافذ وی، یعنے بل طرفته وتے نه وی، چراغ دان چه په هغے کښې چراغ، ډیوه کیښودلے شی۔ دلته مصنف کلامِ بلیغ راوړیدے، ځکه چه د نبی اکرم ﷺ د زړه مبارک تشبیه ئے ورکړیده دډیوے سره په رڼرائی اوصفائی کښې، او بیادا زړه مبارك په سینه مبارکه کښې کیښودے شویدے، لکه ډیوه چه په طاقچه کښې کیښودلے شوی وی، گویاکښې د نبی اکرم ﷺ سینه دوه جهتونو والا ده په یو جهت سره د قلبِ منوّر نه د نور اقتباس (حصول) کوی اوپه بل جهت سره په مخلوق باندے ددے نورمقتبس افاضه کوی۔دا تشبیهات د قرآن کریم ددے آیت نه اخستل شویدی : ﴿ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ، مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ﴾ [سورة النور آیت : ۳۵]۔

دا تفصیل صرف په هغه صورت کښې دے چه کله دهَدْیِهٖ او مشکاتهٖ ضمیر مجرور نبی اکرم ﷺ ته راجع شی، ځکه بعضے علماء دا ضمیر اللّٰہ ته راجع کوی،لکه ملا علی قاری په المرقاة (۹/۱) کښې اللّٰہ ته راجع کړیدے۔

وَالْاِعْتِصَامَ : دا منصوب دے عطف دے په التمسك باندے اسم د ان دے۔او رفع هم جواز لری چه مبتداء شی۔اعتصام : یو شے مضبوط نیول، چه دهغے په وجه انسان دهلاکت نه بچ شی، یعنے ځان بچ کول د اللّٰہ په رسئ باندے اود هغے په عمل باندے۔

بِحَبْلِ اللّٰهِ : قرآن کریم ته حبل اللّٰہ وئیل شویدے په قرآن کښې هم او احادیثو کښې هم، لکه الدر المنثور (۶۰/۲) کښې دعبد اللّٰہ بن مسعودؓ نه روایت دے چه حبل اللّٰہ القرآن۔ مرفوع روایت هم په دے باب کښې شته، لکه د ابو سعید خدریؓ په روایت کښې دی : کتاب اللّٰه هو حبل اللّٰه الممدود من السماء الی الارض (الدر المنثور (۶۰/۲)۔

قرآن ته حبل اللّٰہ ولے وائی؟ ، ځکه د رسئ په وجه بوقه دکوهی نه راوځی، دارنگ د رسئ په وجه انسان اوبه راپورته کوی، غورزولے شوے شے یا انسان پرے دکوهی نه راپورته کیږی، فائده پرے حاصليږی، نو انسانان ټول غورزولے شوی او هلاك شویدی، نوکه دوئ دے قرآن پورے منګولے اولګولے نو خړیه به هم شی اود هلاکت دکندونه به راپوره هم شی اوآسمان والا به اوګرځی۔

لَایَتِمُّ اِلَّا بِبَیَانِ كَشْفِهٖ : اضافت د بیان کشف ته اضافت بیانیه دے، چه مضاف په منزله د

مبتداء وی او مضاف الیه بمنزلة الخبر وی، ای بیبان هو کشفه، چونکه د قرآن کریم مجملات د احادیثو د تفصیل او بیان نه بغیر نه معلومیږی مثلًا : مونځ قرآن کښې مجمل راغلی دے ددے د رکعاتونو تعداد، ارکان، شرائط، واجبات اوسنن، مفسدات اومکروهات ئے داحادیثو نه معلوم دی، دغه شان زکوٰة،حج، صوم وغیره، دے وجے نه قرآن کریم باندے اعتصام اوعمل کول بغیر د بیان اووضاحت د نبی اکرم ﷺ نه نه کیږی۔

فائده : د قرآن کریم تفسیر په څلورو طریقو سره کیږی :۱- دقرآن تفسیر په قرآن سره۔۲- د قرآن تفسیر په احادیثو سره۔۳- دقرآن تفسیر په اقوالو دصحابه کرامؓ سره۔۴- د قرآن تفسیر په لغت سره، نو یوه بهترینه طریقه ئے حدیث دے، خصوصاً د احکامو او عقائدو تفسیراو بیان په عقل او لغت باندے نه کیږی، بلکه د نبی اکرم ﷺ احادیثو ته ډیر زیات احتیاج دے۔دا وجه ده چه نبی اکرم ﷺ ته شارح او مبین د قرآن وئیلے شویدے۔قال الله تعالی : ﴿ وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ ﴾ النحل : ٤٤ ـانظر اول تفسیر ابن کثیر۔

وَكَانَ كِتَابُ الْمَصَابِيْحِ : ددے ځائے نه اوس مصنف دویمه خبره ذکرکوی چه هغه انتخاب د متن (المصابیح) دے، نو په مصابیح باندے د اضافے او الحاق کولو سبب بیانوی چه ما ولے دا متن غوره کړو د الحاق دپاره، وجه دا وه چه د علامه فراء بغویؒ یو کتاب وو دمصابیح السنة په نوم باندے چه اوس هم څلورو جلدونوکښے چهاپ شویدے چه دا ډیر جامع کتاب وو په باب د حدیث کښے، ځکه ده احادیث الاحکام په ترتیب د ابوابو فقهیه ؤ سره ذکر کړیدی، او ترغیب او ترهیب ئے ډیر مناسب ځایونوکښے ذکرکړیدے، دا وجه ده چه علماء وائی : که څوك د یو باب په بدلولوکښے فکر اوکړی، اوبل مناسب ځائے ورله اوګوری نونه ئے شی پیدا کولے، کوم چه علامه فراء بغویؒ غوره کړیدے هغه ډیر مناسب دے۔دے وجے نه دا کتاب د اهل العلم والفقه اود عوام الناس په مابین کښے ډیر مقبول دے اوډیر تعلیقات او شروح ئے هم شویدی۔

عدد د احادیثو د مصابیح اود مشکوة

علامه بغوی صاحبؒ په دے کتاب کښے داحادیثو یوه لویه ذخیره راجمع کړیده۔تقریباً څلور زره، څلور سوه، څلور اتیا حدیثونه وو (٤٤٨٤) قاله ابن الملك۔او صاحب دکشف الظنون وائی (٤٧١٩) احادیث وو په کښے۔صرف د بخاری احادیث په کښے (٣٢٥) او مختص بمسلم (٨٧٥) او متفق علیه احادیث په کښے (١٠٥١) دی، ابن ملك وائی باقی د نورو کتابونو دی۔صحاح په کښے (٢٤٣٤) دی، او حِسَان په کښے (٢٠٥٠) دی، کل (٤٤٨٤) دی۔لیکن هغه په دے کتاب المصابیح کښے یودوه نقصانه کړی وو،چه په هغے باندے خلقو اعتراض کولو،نودمشکاة مصنف راغلو او هغه نقصانات ئے ترے ویستل، او مشکاة ئے پرے اضافه کړو، د احادیثو عدد ئے

(۱۵۱۱) دي، مجموعه احادیث د دواړو کتابونو (۵۹۹۵) بناء بر قول اول، او (۶۲۳۰) بنا بر قول ثاني)۔ دارنګه ده فصل ثالث زیات کړو، چه په مصابیح کښې دوه فصلونه وو، اودا احادیث ئې په فصل ثالث کښې زیات کړیدي۔

دمصابیح نقصانات داوو۔ ۱ – چه هغه راوي دحدیث (صحابي) هم نه وو ذکر کړې، مخرج ئې هم نه وو ذکر کړې چه مذکوره روایت چا روایت کړیدې۔

۲ – دویم نقصان دا ووچه ده د ځانه یوه اصطلاح جوړه کړې وه چه د فصل په ځائې (الاحادیث الصحاح یا الصحاح) عنوان ذکرکړې وو، یعني چه زه به ددې عنوان لاندې صحیح احادیث (یعني د بخاري او مسلم احادیث) راوړم، اودویم فصل په ځائې (الاحادیث الحسان) عنوان راوړې وو، یعني حسن حدیثونه به ذکر کوم، او مراد ئې دا ووچه ماسوا د بخاري اومسلم حدیثونه به ذکرکوم چه هغه د اصحاب السنن حدیثونه دي، نو په دې کښې نقصان څه وو ؟ نو هغه داچه ده د بخاري اومسلم احادیثو ته صحاح وئیلي دي، او سره ددې نه چه بخاري اومسلم کښې حِسَان حدیثونه هم شته اګرکه ډیرکم دي، خو دا اعتراض پرې دومره قوي نه وو۔ اود فصل ثاني په ځائې (الاحادیث الحسان) باندې ډبل اعتراضونه راتلل هغه داچه فصل ثاني کښې روغ او صحیح حدیثونه هم شته، ابوداود، ترمذي وغیره کښې صحیح صحیح احادیث هم ډیر زیات دي، نو دیته څنګه حسن اووئیلې شي، دارنګه په هغې کښې ضعیف حدیثونه هم شته، هغې ته څنګه حسن اووئیلې شي، او په هغې کښې موضوعي حدیثونه هم شته نو په سنن کښې درې قسمه احادیث شته اوده دې ټولو ته حِسَان وئیلي دي، نو دا بل نقصان دې، دې وجې نه خلقو پرې دا اعتراضونه اوکړل، نو صاحب المشکاة راغلو او وې کتل چه مصابیح ډیر مزیدار کتاب دې، ددې اصلاح کول پکار دي، نو اصلاح ئې داسې اوکړه چه د هر حدیث په ابتداء کښې اول راوي (صحابي) ئې ذکر کړو، نور حدیث ئې په خپل ځائې پرېښودل۔

لیکن په ده باندې هم دا اعتراض واردیدو چه ده هم پوره سند نه دې ذکرکړې، نو دې به روسته جواب اوکړې چه ما دلته مخرّج ذکرکړیدې چه مثلاً رواه البخاري مې وئیلې دې، نو هلته سند شته دې، زما ذکرکولو ته ضرورت نشته، دویم کار ده مخرج ذکرکړو، دارنګ ده دالاحادیث الصحاح په ځائې الفصل الاول عنوان راوړو، اود الاحادیث الحسان په ځائې ئې الفصل الثاني راوړو، او الفصل الثالث ئې دخپل طرفنه اضافه کړو، نو اوس مخکښې اعتراض نه واردیږي۔ نو کتاب ئې ښه جامع او مزیدارکړو، چه د هر باب متعلق احادیث په کښې ملاویږي۔ دا وجه ده چه چا مشکاة صحیح یادکړو، نو پوره محدّث ترې جوړیږي۔ نو ټول تصرفات دمشکاة تقریباً لس دي، لکه روستو عبارةً راځي۔ نو ګویا که صاحب مشکاة دجامعیت دمصابیح په وجه دمصابیح انتخاب اوکړو، او په دې کښې دا بعضې نقصانات لرې کولو دپاره ئې په دې باندې زیادت

اوکړو۔نو همدا وجه ده چه ددې متن انتخاب اوشو، او همدا وجه د تاليف سبب شو، درې واړه خبرې پوره شوې، څلورمه خبره هم روستو بيانيږی چه هغه کيفيت د تاليف دې۔

مُحْيِ السُّنَّةِ : دا لقب ده ته په هغه وخت کښې ورکړې شوچه ده يوکتاب په احاديثوکښې اوليکلو د شرح السنه په نوم باندې، چه په شپاړس جلده کښې وو، اوس په نهه جلدونو کښې هم چهاپ شويدې،نو ده خوب اوليدو چه رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو نونبی اکرم ﷺ ورته خوب کښې دعاء اوکړه چه : (احياك الله كما احييتَ سُنتي)، نو سحرئې يو عالِم ته دا خوب بيان کړو، هغه ورته تعبير ورکړو چه : انت محي السنة۔يعنی د سنتو راژوندې کونکې ئې۔نو دا په دې لقب سره مشهور شو۔ ---- قَامِعُ الْبِدْعَةِ : بدعت ختمونکې او لرې کونکې دې، اود هغې د اهل دفع کونکې دې، ابو محمد ئې کنيه ده، او الحسين بن مسعود ئې اسم محض دې۔

الفَرَّاءُ الْبَغوِيُّ : فراء دده دپلار صفت دې، اوفراء د فرو نه دې پوستين ته وائی، اودده پلار به پوستينونه جوړول او خرڅول به ئې نوځکه ورته فراء وئيلې کيږی، يعنی بائع الفَرْوِ۔د پخوانو علماؤ طريقه داوه چه خپل کتابونو کښې به ئې خپل نوم ، نسب اود خپل کلی نوم او کسب او ذريعه د معاش ذکرکولو، دې درې واړو کښې فائده دا وی چه که نسب ذکر نشی نو پته نه لگيږی چه دا چا ليکلې دې، کيدې شی شيطان وِی، ډير خبرې ئې ښې ذکر کړې وی او يوه خرابه وی نو خلق به گمراه کړی، لکه شيطان دا کارکوی۔لکه حديث کښې راغلی دی، نو د سړی معلومول ضروری دی۔کلی ذکر کول ځکه ضروری دی چه که دې شخص کومه ورانه خبره کړې وی، نو سړې ورشی او په دې خبره کښې ورسره بحث مباحثه اوکړی چه داخبره دې ورانه ليکلې ده چه په خپل کتاب باندې نوم نه ليکی نو داخو د ويريدونکو خلقو طريقه ده۔او کسب به ئې په دې وجه ذکر کولو چه خلقو ته اوښائی چه مونږ سائلين نه يو، درباريان مُلّيان نه وو چه دخلقو مالونه په غلطه طريقه خورو، د خلقو وظيفې خورو، بلکه مونږ د خپل لاس دکسب نه خوراك کوو۔

البغوی : صفت دحسين دې، علاقه ذکر کوی۔بغوی : په فتحې د باء او غين اوکسره د واو سره، منسوب دې بَغْشُوْر علاقې ته، په نسبت کښې نيم اسم ذکر کيږی بيا واو راواپس شو چه بَغِیٌّ (زانيه) جوړنشی، بَغْشُوْر په خراسان کښې دمرو اود هرات ترمينځ يوه علاقه ده، د افغانستان د علاقو نه ده۔

د علامه فراء بغوی – رحمه الله – مرتبه :

امام بغویؒ هغه مشهور عالم دې، چه علماؤ ورته داسې القاب ورکړيدی : (الامام الحافظ، المفسر، المجتهد، المحدث)۔دا هغه نحوی فراء نه دې، بلکه دا د معالم التنزيل تفسير مصنف دې۔ احاديثوکښې ئې شرح السنة اومصابيح او الجمع بين الصحيحين ، اوفقه کښې ئې التهذيب په نوم باندې کتابونه ليکلی دی۔دا ډير لوئې عالم وو، (كان بحراً في العلوم، اماماً في الفقه والحديث والتفسير)۔ملاعلی قاریؒ فرمائی : (كان مفسراً، محدثاً، فقيهاً)۔دده په ټولو تصانيفو کښې الله ډير

خیر او برکت ایښے دے ده د نیك بختئ په وجه (لکه دهغه خوب نه معلومه شوه) دا د ربانینو علماؤ نه دے۔(کان ذا تعبدٍ ونسك وقناعة بالیسیر)، مشهوره ده چه ده به اوچه روټئ باندے گزاره کوله، خلقو ملامته کړو چه صحت به دِے خراب شی، نو بیا ئے د زیتون تیلو سره خوړله۔ (طبقات الشافعیة الکبرئ ۳۷/۷) ده د زهد په باره کښے علماء فرمائی چه ده بی بی وفات شوه خلقو ده ته دهغے میراث ورکولو، نو ده هغه هم وانخستلو د نهایت زهد فی الدنیا د وجے نه۔وړوکے پټکے اوزږے جامے به ئے اچولے،سفرونه ئے ډیر نه دی کړی ځکه احادیث په دغه دور کښے زیات مشهور شوی وو۔علماء فرمائی : دده قولِ ساقط نشته لکه څنګه چه د بعض علماؤ نه بعض ساقط اقوال صادریږی۔(وکان عابداً، زاهداً، جامعاً بین العلم والعمل علی طریقة السلف الصالحین)۔او ده به درس همیشه په اوداسه سره ورکولو۔

د بغشور نه بیا نقل شو مَرُوَ ته لاړ او هلته بیا وفات شو په شوال (۵۱٦هـ) کښے تقریباً د اتیا کالو په عمر باندے او د خپل شیخ قاضی حسین سره نزدے دفن شو۔ رحمة الله تعالی رحمة واسعة۔

سوانح د صاحب المشکاة

دده نوم الشیخ العلامه ولی الدین ابی عبد الله محمد بن عبد الله الخطیب التبریزی، تاریخ ولادت او تاریخ وفات ئے پوره نه دی معلوم، مگر صرف دا چه د اومے صدئ عالم دے، اودا کتاب ئے په سنه (۷۳۷هـ) کښے پوره کړیدے، نوددے سنے نه روستو وفات شویدے، (غالباً په ۷٤۱هـ ۱۳٤۰ء) الاعلام للزرکلی ٦/ ۲۳٤) د صاحب مشکوٰة په باره کښے ملا علی قاری فرمائی :

(مولانا الحبر العلامة والبحر الفهامة مظهر الحقائق وموضح الدقائق الشیخ التقی النقی۔وان فیما اَلَّفَهٗ لدلیلًا واضحاً علی سعة علمه ووفرة فضله)۔

دده استاذ علامه طیبیؒ دده په باره کښے فرمائی : (بقیة الاولیاء قطب الصلحاء)۔دده یو استاذ وو علامه طیبیؒ (الحسین بن عبد الله بن محمد الطیبی المتوفی سنة ۷٤۳هـ) خطیب ته ئے یو مشوره ورکړه چه ته ددے مصابیح کتاب تکمیل اوکړه، نوکله چه خطیب دا کتاب په دے ترتیب سره تیار کړو، نو استاذ ته ئے پیش کړو، هغه دا ډیر خوښ کړو، هغه راولګیدلو اودده په دے کتاب باندے ئے شرح اولیکله، اودا متقدمین سلف علماء ضدیان او متکبران نه وو، لکه ددے زمانے د خلقو پشان چه که یو شاګرد نه الله د خیر کار۔واخلی نو استاذ لره کینه ورځی، په ضدکښے راځی چه دده نه ولے دا د خیر کار حاصلیږی۔اوکه یو استاذ نه د خیر کار اخستے شی او شاګرد ته هغه ذکر شی نو شاګرد تکبر کوی چه دا خو په دے څیز نه پوهیږی، عبارت غلط وائی۔ د تقویٰ دکموالی او د دنیا پرستئ د وجے نه دا کارکیږی۔

دا شرح د طیبی مسمی په : (الکاشف عن حقائق السنن) باندے اوس په دولس دیارلس جلدونوکښے چهاپ شویده، دے کښے دا لطیفه بیانوی چه دلته استاذ حنفی دے او شاګرد (خطیب

شافعي المسلك دے۔دا وجه ده عام احناف لکه صاحب مرقات، مظاهر حق او لمعات والا ټول د طیبی نه نقل کوی،کما فی حواشی المشکاة۔

د حنفي شافعي نسبتونو صحيح تصور

لیکن دے سره دا خبره پیژندل پکار دی چه د پخوانئ زمانے علماؤ به چه ځان ته شافعی یا حنفی وئیلو، نو ددے مطلب دا نه وو چه دوئ داسے مقلدین وو چه که د امام خبره به حقه وه اوکه باطله، نو هغه به ئے منله، نه بلکه هغوی د حق تابع وو، خو عام مسائل به ورته دخپل امام ښه ښکاره کیدل، نو خپل ځان به ئے حنبلی، شافعی، حنفی مسلك ته منسوب کولو، اوکه حق به د امام سره نه وو نو بیا به ئے دهغه خبره نه منله۔زمونږ د زمانے د مقلدینو پشان نه وو چه د امام حق او باطل نه ګوری، بلکه د خپلے رائے پسے روان وی، اوهغه مخکښی علماء مجتهدین وو، خو د دوئ رایه به د امام د رائے سره موافق وه نو په دے وجه به ورته حنبلی، شافعی، حنفی، مالکی وئیل کیده۔ دیته توافق الرأی وائی، دا تقلید نه دے۔

اَجْمَعَ كِتَابٍ صُنِّفَ فِيْ بَابِهٖ : دا خبر دکان دے اوکتاب موصوف، صنف فی بابه جمله فعلیه صفت دکتاب۔یعنی هرکله چه کتاب المصابیح ډیر جامع کتاب وو په هغه کتابونو کښے چه په باب دحدیث کښے لیکلے شویدی۔

وَاَضْبَطَ لِشَوارِدِ الْاَحَادِيْثِ وَاَوَابِدِهَا : دا جمله عطف ده په اجمع باندے نو دکان خبر دے، شَوَارِدُ : جمع د شَارِدَةٌ ده، هغه حیوان ته وائی چه د انسان نه نفرت کوی، اود انسان نه تریږی، په لاس ورته نه راځی،او اضافت د شوارد احادیثو ته اضافت د صفت دے موصوف ته : (ای الاحادیث الشاردة)۔

اَوَابِدُ : جمع د آبِدَةٌ ده، هغه وحشی حیوان ته وائی چه د انسان نه منډه وهی، دا عطف تفسیر دے د شوارد۔ دلته ئے تشبیه د احادیثو ورکړیده دهغه حیواناتو سره چه په لاس نه راځی، دا بے ادبی نه ده بلکه دا تشبیه صرف په تنفر او ناشنا والی کښے ده، دلته دا الفاظ بطوراستعاره استعمال شویدی یعنی هغه احادیث چه په کتب الاصول کښے روایت شویدی لیکن طالب علمانوته دهغے ځائے نه دے معلوم چه داچرته ذکر شویدی، نو هغه احادیثو لره ئے د تښتیدونکو او تریدونکو اوښانو سره تشبیه ورکړه، ګویاکه دا د طالبانو نه تښتیدلی دی، او هغه احادیث چه دهغے معانی مقصوده دطالبانو نه پټے وے دهغے تشبیه ئے دهغه وحشی حیواناتو سره ورکړه، ګویاکه هغه احادیث دطالبانو سره مانوس نه وو بلکه متوحش وو۔

علامه ملا علی قاریؒ فرمائی : د احادیثو تشبیه ئے د وحشو سره په دے وجه ورکړه ځکه لکه څنګه چه وحشی حیوانات موقعه اوموسمی نو تښتی، چاته نه اودریږی، دغه شان احادیث هم د ضبط نه ډیر زر اوځی او هیریږی په لږ غفلت سره د حافظے نه غائبیږی، نوحاصل دا شو چه هغه احادیث چه په وړاندے کتابونو کښ راغلی دی او چاته یاد نه دی لکه یوحدیث په دارقطنی یا د

رزین بن معاویه یا بیهقی په کتاب کښې دے نو دخلقو ورسره اُنس نه وی، نو مصنف دا ټول احادیث تاته د ناشنا کتابونو نه راجمع کړل۔

وَلَمَّا سَلَكَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : دا جواب د سوال دے چه هرکله دا کتاب جامع وو، نو ته پرے لیکل ولے کوے، نو ددے جواب ورکوی چه کتاب ښه وو مګر بعضے نقصانات ئے لرل، ما ورله هغه نقصانات لرے کړل۔لما سلك کښې ضمیر فراء بغویؒ ته راجع دے، مینځ کښې ورته په رضی الله عنه جمله معترضه سره دعاء کوی۔

طَرِيْقَ الْاِخْتِصَارِ : مفعول فیه دے، اود اختصار الطریق تفصیل او تفسیر په حذف الاسانید سره ذکر کوی۔اود حذف الاسانید نه مراد طرفین د اسناد دی یعنے د اول طرفنه صحابی حذف کول اود آخر نه مخرج حذف کول۔

تَكَلَّمَ فِيْهِ بَعْضُ النُّقَّادِ : دا جواب د لما سلك دے، تکلم نه مراد اعتراض کول دی اود تکلم فیه دوه معنے دی :۱– یو داچه فیه ضمیر کتاب ته راجع دے یعنی بعض علماؤ لکه سراج الدین البلقینیؒ ددے کتاب په احادیثو اعتراض کړے وو چه په دے (مصابیح) کښې بعضے موضوعی احادیث هم راوړیدی، نو زه راولګیدم اودهغه احادیثو سند او مخرج مے ذکرکړو، دے دپاره چه خلقو ته پته اولګی چه دا حدیث موضوعی نه دے۔

۲– دویمه معنی : فیه ضمیر حذف الاسانید ته راجع دے، ددے اسانیدو په حذف کولو باندے بعضے ناقدینو دحدیث اعتراض اوکړو چه داکتاب خوښه دے لیکن نه ئے سند شته اونه ئے مخرج شته ! نو داسے احادیثو لره به اعتبار نه وی۔

د تصوف اود فقهے په کتابونو کښې د راغلو احادیثو حیثیت :

ددے ځائے نه دا قاعده یاده کړه چه هرهغه حدیث چه نه مخرج لری، اونه سند لری، هغے لره به اعتبارنه وی، خصوصاً هغه احادیث چه په کتابونو د تصوف کښې وی، ته پوهه شه چه دا به بیکاره حدیث وی، اکثرموضوعی وی، دارنګه هغه احادیث چه په کتابونود فقهاؤکښې وی، اکثر ضعیف او موضوعی وی، نو دے لره به اعتبار نه وی، دا خبره مولانا عبد الحیٔ اللکهنویؒ په «الرفع والتکمیل فی الجرح والتعدیل» ص (۳۵) مجموعه رسائل اللکهنوی رساله النافع الکبیرکښې لیکلے ده، په دے کتاب کښې ئے دا قاعده ایښے ده چه د فقهاؤ په کتابونوکښے یو حدیث راشی، هغے لره به هغه وخته پورے اعتبار نه وی، ترڅو پورے چه سند یا مخرج ئے نه وی ذکر کړے۔

ملا علی قاری الموضوعات الکبیر ص (۱۰) کښې لیکی : قال الحافظ زین الدین العراقی: ثم انهم– یعنی القُصاص– ینقلون حدیثه علیه التسلیم من غیر معرفة بالصحیح والسقیم، قال: وان اتفق انه نقل حدیثاً صحیحاً کان آثماً فی ذلك لانه ینقل ما لا علم له به وان صادف الواقع کان آثما باقدامه علی مالا یعلم۔بیا فرمائی : وقد حکی القاضی ابو بکر بن خیر اتفق العلماء علی انه لا یصح لمسلم ان یقول : قال رسول الله ﷺ

کذا حتی یکون عنده ذلك القول مرویاً ولو علی اقل وجوه الروایات۔لقوله علیه السلام : من کذب علی متعمداً فلیتبوأ مقعده من النار۔وفی بعض الروایات : من کذب علی مطلقاً من غیر تقیید)۔

(زین الدین عراقیؒ فرمائی : قصه ګو ملیان د رسول الله ﷺ حدیثونه خلقو ته نقل کوی حال دا چه دویٔ ددے په صحت او سقم باندے نه پوهیږی، که چا یو حدیث بغیر د معرفت دَ صحت او سقم نه نقل کړو او هغه په واقع کښې هم صحیح وو نو دے به بیا هم ګنهګار وی، ځکه ده په داسے څیز باندے اقدام اوکړو چه ده ته دهغے معلومات نه وو، حافظ ابو بکر بن خیر په دے خبره د علماؤ اتفاق نقل کړے چه هیڅ یو مسلمان دپاره دا جائز نه دی چه قال رسول الله ﷺ اووائی تردے پورے چه ده ته دهغے سند معلوم وی، ولے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چاچه په ما باندے قصداً دروغ جوړ کړل هغه له پکار دی چه ځانله په دوزخ کښې ټیکاونړه جوړه کړی، او بل روایت کښې د (قصداً) لفظ نه بغیر مطلقاً هم راغلے دے۔

دا وجه ده چه هدایه کښې به تاسو وینئ چه په هغے کښې بے شماره داسے احادیث شته چه هغه په کتابونو دحدیث کښې نه دی راغلی، صاحب د درایه په حاشیه کښې ورته ادباً داسے وائی : (لم اجده)۔یعنی ما دا حدیث نه دے موندلے، او هغه په واقع کښې هم غیر موجود وی، دارنګه نصب الرایه کښې علامه زیلعی په هدایه کښې دذکر شوو احادیثو په باره کښې وائی : (غریب، او غریب جداً)۔نو ددے مطلب دا وی چه دا حدیث د سره نه په کتابونو د حدیث کښې نه دے موجود، خو هغه د ادب د وجے نه لفظ دغریب ذکر کوی۔

دیته دخپلے کارخانے روایتونه وائی، اوداسے قسم روایتونو لره په دین کښې هیڅ اعتبار نه وی۔ ځکه عبد الله بن مبارکؒ فرمائی : (الاسناد من الدین، ولولا الاسناد لقال من شاء ما شاء۔(مقدمة مسلم : ۱۱/۱) – (یعنے سند ذکرکول دین دے، که سند نه وے نو دچاچه څه خوښه وے هغه به ئے وئیلے)

دا وجه ده چه مصابیح کښې ښه روغ حدیثونه هم وو، خو بے سنده اوبے مخرجه وو، نو ځکه پرے علماؤ اعتراض اوکړو۔نو مشکوٰة والا دا نقصان دَمصابیح نه ختم کړو۔

وَاِنْ كَانَ نَقْلُهُ : دا جمله معترضه ده، نقل کښې ضمیر فراء ته راجع دے، یعنی اګرچه نقل دَ فراء بغویؒ بلا اسناد، او مفعول د نقل حذف دے، (ای نقله الحدیث بلا اسناد کالاسناد)۔

وَاِنَّهُ مِنَ الثِّقَاتِ : دا بیا مینځ کښې جمله معترضه پطور ددلیل ده، غرض د صاحب المشکوٰة په دے عبارت سره د صاحب المصابیح توثیق او عظمت شان طرفته اشاره کول دی، چه مصنف (علامه بغویؒ) اګرچه سند نه دے ذکر کړے لیکن چونکه هغه ثقه او معتمد محدثینو علماؤ کښې شمار دے، په دے وجه دهغه سند نه ذکر کول ګویا که د سند ذکرکولو پشان دی۔کالاسناد : لکه داسناد ذکر کولو پشان دے۔ لٰكِنْ لَيْسَ مَا فِيْهِ : سره دفع د توهم کوی، چه هرکله دهغه حذف الاسناد دذکر الاسناد برابر دے نو بیا ولے په کښې ګوتے وهے ؟ نو جواب ورکوی په : لکن لیس ما فیه اعلام کالاغفال

سره۔یعنی دده دکتاب مثال داسے دے لکه د شړے زمکے چه نښے علامے په کښے نه وی لګیدلی، اوزما دکتاب مثال داسے دے لکه هغه زمکه چه په هغے کښے نښے نښانے لګولے شوی وی۔

اَعْلَامٌ : جمع د عَلَمْ ده نښے نښانو ته وائی۔اود (ما) نه مراد زمکه ده، یعنی هغه لاره چه په هغے کښے میلونه لیکلے شوی وی، اشارات په موړونوکښے لګیدلی وی، چه فلانئ لاره فلانی ځائے ته رسیدلے ده، نو انسان په هغے باندے روانیدو سره په آسانئ سره خپل مقصد ته رسی، اوکله چه شاړه زمکه وی نو په هغے باندے تلونکی نه لاره خطاء کیږی، کله کندو کښے هم پریوځی۔

کَالْاَغْفَالِ : جمع د غُفُل ده بضم الغین وسکون الفاء په معنیٰ د بے نشانه، بے علامت، غیر آباد، شاړے زمکے سره دے۔ بیا په دے عبارت کښے تقدیم تاخیر شویدے، حق د عبارت داسے وو (لکن لیس ما فیه اغفال کالاعلام) وجه دا ده چه په مشبه به کښے کمال پکار دے، اومشبه کښے نقصان وی، اودلته ده قلب کړیدے چه زما کتاب کښے نقصان دے۔اوده دا تقدیم او تاخیر دامام بغویؒ د شان اوشوکت په بناء اود خپلے کسر نفسئ او خاکسارئ په وجه کړیدے۔د امام بغویؒ نقصان داوو چه هغه په خپل کتاب کښے د حدیث په ابتداء کښے د راوی (صحابی) نوم نه وو ذکر کړے۔

ملا علی قاریؒ فرمائی چه د صحابی په ذکر کښے فائده دا وی چه د یو حدیث کله ډیر راویان اوډیر طرق وی، بعضے صحیح وی، بعضے ضعیف وی، نو چه صحابی ذکر شی نو صحیح روایت دضعیف نه جدا معلوم شی۔(مرقاة : ۱۲/۱)۔

۲– دارنګ رجحان الخبر وی په حال د راوی کښے، کله چه د راوی فقه او ورع او معرفت الناسخ والمنسوخ اوتقدم او تاخر د اسلام الراوی معلوم شی نو د هغه خبر رجحان به معلومیږی۔او په ذکر المخرج کښے فائده دا وی چه لفظ دحدیث متعین شی، او رجال الاسناد فی الجمله معلوم شی۔اوعند الاختلاف فی الفضول رجوع خپل اصول ته اوشی دے نه علاوه نور منافع ئے هم شته۔

فَاسْتَخَرْتُ اللّٰهَ تَعَالٰی وَاسْتَوْفَقْتُ مِنْهُ فَاَعْلَمْتُ مَا اَغْفَلَهٗ وَاَوْدَعْتُ كُلَّ حَدِيْثٍ مِنْهُ فِيْ مَقَرِّهٖ كَمَا رَوَاهُ الْاَئِمَّةُ الْمُتْقِنُوْنَ وَالثِّقَاتُ الرَّاسِخُوْنَ مِثْلُ اَبِيْ عَبْدِ اللّٰهِ مُحَمَّدِ بْنِ اِسْمَاعِيْلَ الْبُخَارِيِّ، وَاَبِي الْحُسَيْنِ مُسْلِمِ بْنِ الْحَجَّاجِ الْقُشَيْرِيِّ، وَاَبِيْ عَبْدِ اللّٰهِ مَالِكِ بْنِ اَنَسٍ الْاَصْبَحِيِّ، وَاَبِيْ عَبْدِ اللّٰهِ مُحَمَّدِ بْنِ اِدْرِيْسَ الشَّافِعِيِّ، وَاَبِىْ عَبْدِ اللّٰهِ اَحْمَدَ بْنِ مُحَمَّدَ بْنِ حَنْبَلٍ الشَّيْبَانِيِّ، وَاَبِىْ عِيْسٰى مُحَمَّدِ بْنِ عِيْسَى التِّرْمِذِيِّ، وَاَبِىْ دَاوٗدَ سُلَيْمَانَ بْنِ اَشْعَثَ السِّجِسْتَانِيِّ، وَاَبِىْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَحْمَدَ بْنِ شُعَيْبٍ النَّسَائِيِّ، وَاَبِىْ عَبْدِ اللّٰهِ مُحَمَّدِ بْنِ يَزِيْدَ بْنِ مَاجَهْ الْقَزْوِيْنِيِّ، وَاَبِىْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الدَّارِمِيِّ، وَاَبِى الْحَسَنِ عَلِيِّ بْنِ عُمَرَ الدَّارِقُطْنِيِّ، وَاَبِىْ بَكْرٍ اَحْمَدَ بْنِ الْحُسَيْنِ الْبَيْهَقِيِّ، وَاَبِى الْحَسَنِ رَزِيْنِ بْنِ مُعَاوِيَةَ

اَلْعَبْدَرِيِّ وَغَيْرِهِمْ، وَقَلِيْلٌ مَا هُوَ.

ترجمه : پس ما استخاره اوکړه د اللہ نه (طلب د خیر مے اوکړو دهغه نه) او توفیق مے طلب کړو دهغه نه، پس ما نښه اولګوله په هغه څه چه هغه شارِ پریښے وو، نو هر حدیث مے کیښود په خپل ځائے کښے (په کوم ځائے کښے چه په اصل کتاب کښے وو) لکه څنګه چه نقل کړیدے دا حدیث هغه امامانو چه مضبوط علماء دی، او هغه معتمد او قوی عادلان چه کلك او ثابت دی په علم کښے، لکه ابو عبد الله محمد بن اسماعیل البخاری الی آخره شو۔

فوائدالالفاظ : فَاسْتَخَرْتُ اللهَ : استخاره معنی طلب الخیر من اللہ (د الله نه خیر طلب کولو) ته وائی۔ اودا سنت عمل دے په حدیث دطبرانی فی الصغیر والاوسط کښے دی۔ یعنی : د اِستخارے کولو نه پس انسان نامراده کیږی نه، که دکار دکولو دپاره اوشوه نو په دے کښے به ضرور خیر وی، اوکه د نهٔ کولو دپاره اوشوه نو په دے کښے به خیر وی۔ بیا هرکار چه اوشو په هغے کښے به خیر وی۔ وفی الحدیث : من سعادة ابن آدم استخارته الله تعالی (کذا فی مجمع الزوائد :۲۷۹/۲) بروایة سعد بن ابی وقاص)۔ د اِستخارے احکام به په خپل ځائے کښے راشی، یو حکم ئے دا دے چه استخاره په هرکار کښے ده، دنیاوی وی که دینی۔

دا خبره دخلقو غلطه ده چه وائی : استخاره به په هغه څیز کښے کولے شی چه شکی وی، چه آیا وے کړم که نه، صبا دے ځائے ته لاړ شم که لاړ نشم۔ نه ! بلکه په دغه کار کښے به هم استخاره کوے، اوکه یو کار ښه د نیکئ دے نو هم استخاره به ورله کوے، لکه مثلًا یو سړے حج ته ځی چه ښه د نیکئ کار دے، دارنګه کتاب لیکل ښه د نیکئ کار دے، ښکاره معلومه ده چه په دے کښے خیر دے، اجر دے، خوبیا به هم دے دپاره استخاره کوے۔

داستخارے د امعنیٰ نه ده چه زه ددے شی ښه والے یا بدوالے معلوموم، بلکه د استخارے معنی ده د اللہ نه خیر غوښتل، توفیق غوښتل، نو الله انسان له ضرور فائده او خیر ورکوی۔ هاؤ ! البته دهغه عباداتو دپاره استخاره نشته چه دهغے اوقات معلوم وی، لکه فرض مونځ دپاره استخاره کول، نبی اکرم ﷺ ددے دپاره استخاره نه ده کړے، بلکه استخاره هغه امورو کښے وی چه کله ناکله واقع کیږی۔ وَاسْتَوْفَقْتُ : سین او تاء دطلب دپاره دی، یعنے د الله نه مے طلب د توفیق اوکړو۔

فَاَعْلَمْتُ مَا اَغْفَلَهُ : مصنف وائی چه ماپوره عزم اوکړو چه زه دا کار ضرور کوم، نود اللہ نه مے استخاره اوکړه، نو فاعلمت سره اوس خپل تصرفات بیانوی۔

نو اول تصرف : فاعلمت ما اغفله :

۱ – اعلام ما اغفلهٔ : نښه لګول په هغه څه چه امام بغوی شارِ پریښی وو۔ یعنی په اول کښے صحابی ذکر کول، او آخر کښے مخرج ذکر کول۔

فَاَوْدَعْتُ كُلَّ حَدِيْثٍ : دا مستقل تصرف نه دے بلکه ددے خبرے وضاحت بیانوی چه ما دومره تصرف نه دے کړے چه ګنے احادیث مے دخپل ځائے نه نقل کړے وی، بلکه احادیث مے په خپلو خپلو ځایونو کښے راوړیدی، په کوم ځائے کښے چه مصابیح کښے ذکر دی، لکه مثلًا : انما الاعمال بالنیات حدیث په مصابیح کښے هم دغه شان دغه ځائے کښے دے۔

كَمَا رَوَاهُ الْاَئِمَّةُ : کښے دے خبرے ته اشاره کوی چه ما چه داحدیث رانقل کړیدے اودلته مے لیکلے دے، نو ما دمصابیح په کتلو اکتفاء نه ده کړے، بلکه په اصل کتاب مثلًا بخاری، مسلم، ترمذی، ابوداود وغیره کښے چه څنګه دے نو هم هغه شان مے نقل کړیدے، ځکه چه دمصابیح په روایاتو کښے هم څه ناڅه تغیر اوتبدیل موجود وو۔

اَلْاَ ئِمَّةُ : جمع د امام ده، مراد ترینه داحادیثو امامان دی چه دهغویٔ اقتداء کیدے شی په باب د حدیثو کښے۔ اَلْمُتْقِنُوْنَ : جمع دمتقن ده د اتقان نه ماخوذ دے، مضبوط والی ته وائی، مراد ترینه هغه امامان دی چه ضابطین، حفاظ او حاذقین دی په باب دروایت کښے۔ وَالثِّقَاتُ : جمع د ثِقَة ده، بکسر التاء، عُدُول او معتمدو علماؤ ته وائی۔ الرَّاسِخُوْنَ : د رسوخ معنے ده یوشے په خپل ځائے کلك پاتے کیدل، ثابتیدل۔دلته مراد العلماء المتمکنون فی العلم الثابتون بمحافظة هذا العلم دی۔

مِثْلُ اَبِيْ عَبْدِ اللهِ مُحَمَّدِ بْنِ اِسْمَاعِيْلَ الْبُخَارِيِّ :

تعارف د امام بخاری رحمه الله : – ابو عبد الله دامام بخاری کنیه ده، ده نه روستو د عبد الله په نوم ځوئے نه وو پاتے شوے، بلکه بغیر د ولد نه ئے دا کنیه ایښے وه (او بغیر د ولد نه هم کنیه کیښودل سنت عمل دے) خپل نوم ئے محمد، دپلار نوم ئے اسماعیل دے، سلسله نسب ئے داسے ده : محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن مغیره بن بَرْدِزْبَهْ الْجُعْفِی البخاریؒ، امیر المؤمنین فی الحدیث، امام الا ئمة المجتهدین، جبل الحفظ والاتقان۔ د جُمعے په ورځ د جُمعے دمانځه نه پس په ۱۳ شوال سنه (۱۹۴ھ) کښے پیدا شویدے او د خالی په شپه چه د وړوکی اختر شپه وه په کال (۲۵۶ھ) کښے وفات شویدے، او د اختر په ورځ بعد صلوٰة الظهر دفن شویدے په خرتنګ علاقه کښے چه د سمرقند نه دوه فرسخه وړاندے دے، عمرئے دیارلس ورځے کم ۶۲ کاله وو۔ چه کله پیدا شو نو په سترګو ړوند شو، مور بی بی ئے ډیره نیکه ښځه وه، هغے به ورته ډیرے دعاء ګانے کولے، یوه شپه ئے ابراهیم علیه السلام په خوب کښے اولیدو، ورته ئے اووئیل چه ستا دځوئے سترګے الله پاك روغے کړے، نو چه راپاسیدو، وے کتل چه نظرئے راواپس شویدے، دا ددے کرامت وو، په وړوکوالی کښے ئے پلار وفات شو۔ هغه هم ښه عالم وو، ده د والدے په تربیت کښے نشو ونما بیاموندله۔په وړوکوالی ورله الله تعالی د علم الحدیث دطلب شوق پیدا کړو چه کله د لسو کالو په عمر وو، داوجه ده چه الله رب العزت ورله په علم الحدیث کښے نهایت مهارت ورنصیب کړو، چه ده ته امیر المؤمنین فی الحدیث وائی۔

په دے اُمت کښے علی الاطلاق د حدیثو په علومو باندے ښه پوهیدونکے امام بخاریؒ دے، دائمه

اربعوّ نه هم په علم الحدیث باندے ښه پوهیدو، دا بغیر د تعصب نه ده، بلکه په دے خبره اجماع ده چه دے په فن الحدیث باندے ډیر زیات ښه پوهیدلو، دده په جلالتِ شان باندے حنابله، مالکیه، شافعیه، احناف متفق دی۔ د یوولسو کالو په عمرئے استاذانو ته دحدیث غلطیانے ښودلے،نو هغویٔ به دخپلو کتابونو اصلاح دده دحفظ نه کوله، سماع الحدیث ئے اول په بخاریٰ کښے کړیده، بیا د تولو امصارو جلیل القدر محدثینو پسے گرځیدلے دے،ډیر کتابونه ئے لیکلی دی، لیکن ډیر زیات مشهور په کښے : الجامع الصحیح دے، چه په صحیح بخاری باندے مشهور دے۔

ددے الجامع الصحیح دکتاب د تصنیف وجه داوه چه دے دخپل استاذ اسحٰق بن راهویهؒ په مجلس کښے ناست وو، نو استاذ یو خواهش اوکړو چه یو کس یو کتاب اولیکی چه په هغے کښے د نبی اکرم ﷺ اقوال او افعال راجمع کړی۔امام بخاریؒ فرمائی : زما په زړه کښے اللہ تعالی داٗخبره واچوله، ماته شپږ لاکهه احادیث یاد وو، دهغے نه ئے داکتاب منتخب کړیدے، په صحیح بخاری کښے ټول (۷) زره احادیث دی، غیر مکرر په کښے څلور زره دی، اوسره د تکرار نه نهه زره دی، بیائے داحادیثو نه استنباط هم کړیدے، دا وجه ده چه دے یوعظیم فقیه هم دے۔مشهوره مقوله ده : (فقه البخاری فی تراجمه) بیا ئے دا کتاب امت ته پیش کړو، خلقو ئے توثیق اوکړو۔دا وجه ده چه د ټول امت اجماع ده په صحت ددے کتاب باندے، سیوا د شیعه گانو او منکرین حدیث نه چه امام بخاری ته شیعه وائی، دا خلق گمراه دی۔بیا ابن حجر په دے باندے یو شرح د فتح الباری په نوم لیکلے ده (۱۳) جلده، چه ډیر ښه شرح ده، چه صرف بخاری درسره وی اودا شرح درسره وی، دا د ټولو احکامو او ضروریاتو دپاره کافی کیږی۔

تعارف د امام مسلم رحمه الله : د امام مسلم سلسله نسب داسے ده:ابو الحسین مسلم بن الحجاج القشیری النیسابوری، قُشَیر : په ضمه دقاف اوفتحه د شین، دعربو یوه قبیله ده، او نیسابور اصل کښے نیشاپور دے، دے په (۲۰۴ هـ) یا په (۲۰۶ هـ) کښے پیدا دے، دا هم د ائمة الحدیث امام دے، الامام الحافظ الحجة۔ ده هم په وړوکوالی کښے علم الحدیث طلب کړیدے، عراق، شام، حجاز، مصر وغیره ته ئے سفر کړیدے۔دامام بخاری داستاذانو نه ئے هم اوریدل کړیدی لکه احمد بن حنبل، اسحٰق بن راهویه او قعنبی وغیره نه، دا د امام بخاریؒ شاگرد دے، خو په مسلم کښے ئے ترے حدیث نه دے نقل کړے، دا فرمائی ما خپل کتاب د(۳) لاکهه احادیثو نه منتخب کړیدے۔ دا هم اصح الکتب بعد کتاب الله دے، خود بخاری نه په لاندے درجه کښے دے، ځکه دده شرائط د بخاری د شرائطو نه لاندے دی۔

بعضے اهل مغرب صحیح مسلم ته فوقیت ورکړیدے په بخاری باندے خو اصح داده چه بخاری دصحت په لحاظ سره پورته دے دصحیح دمسلم نه اومسلم ته دحسن الترتیب او وضع الاحادیث په لحاظ سره تفوّق حاصل دے په بخاری باندے، ځکه چه صحیح بخاری کښے یوحدیث په جدا جدا بابونو کښے راوړل شویدے، انسان ئے زر نشی پیدا کولے، اودا تطبیق ډیر

غوره دے، کما قال احد العلماء ۔

تنازع قوم فی البخاری ومسلم لدیّ نقالوا ایّ ذین یقدم
فقلت لقد فاق البخاری صحة کما فاق فی حسن الصناعة مسلم

امام بخاریؒ چه کله نیسابور ته راغلو نوامام مسلم ترے تپوسونه اوکړل، هغه جوابونه اوکړل، نو امام مسلم پاڅیدو، ورته ئے اووئیل : دَعْنِیْ اُقَبِّلُ مابین عینیك یا استاذ الاستاذین، ویا طبیب الحدیث فی عِلَلِهٖ)۔ یعنے څنګه چه طبیب په بیمارئ ښه پوهیږی، نو ته دحدیث په بیمارئ ښه پوهیږے۔دے دواړو ته شیخین هم وائی۔

ددے دواړو دمرګ ناشنا واقعه ده۔ هغه دا چه امام بخاریؒ څان ته ښیرے کړے وے چه الله په ما مرګ راوله، دا په دے وجه چه بعضے بادشاهانو ورته فتنے اچولے وے۔

امام بخاریؒ چه کله بخارئ ته راغلو، نو هلته یو حنفی مُلا وو (ابو حفص الکبیر)، دده مرتبه ښکته شوه، نو ده د امام بخاری سره حسد شروع کړو، نو بادشاه ته ئے شیطانی اوکړ. چه دا خودګډے په پیئو باندے رضاعت ثابت ګنړی، چه چا دګډے پئ اوڅکل نو هغه ئے مور شوه، نو ددے ګډے نه که بل چا پئ اوڅکل نو هغه به ئے ورور ګرځی، دغه حنفی په امام بخاریؒ پورے دا دروغ جوړ کړل، یا اجتهادی مسئله وه دا دده یوقول وو بنا برقولین، نو بادشاه ورته تکلیفونه ورکول شروع کړل، بادشاه ورته اووئیل : زما بچو ته به سبق له راځے، هغه ورته اووئیل : دلته ئے رالیږه، څکه العلم یؤتی۔خلق به علم پسے ځی، علم د چا پسے نه ځی، دا د علم بے عزتی ده ، نو هغه ورته ضرر ورکول شروع کړل، جیل ته ئے واچولو او چه کله د جیل نه خلاص شو نوده دعاء اوکړه د مرګ چه دین کښے نقصان راځی، نو دخرتنګ په یو علاقه کښے چه دا په سمرقند کښے دے هلته کښے یوه ورځ پس وفات شو۔

اود امام مسلمؒ د وفات واقعه داسے وه چه ده ته دکجورو یوه پچئ راوړے شوه، نو دا دحدیثو په مطالعه کښے مستغرق وو، یوه یوه کجوره به ئے خوړله، تردے چه توکرئ ئے ختم کړه، نو بدهضمه شو، مریض شو، اودے نه پس وفات شو۔یوم الاحد په شپږم یا پنځم یا دریم درجب (۲۶۱ هـ) د ۵۵ کالو په عمر باندے۔

تعارف د امام مالك رحمه الله :—— هو الحافظ فقیه الامة، امام دار الهجرة صاحب المذهب ابو عبد الله مالك بن انس بن مالك بن ابی عامر بن عمرو الاصبحی۔ ده ته اصبحی څکه وائی چه منسوب دے حارث بن عوف ذی اصبح ته چه دا دده نهم نیکه دے، دا اصل کښے عرب دے، د یمن نه راغلی دے مدینه کښے آباد شویدے، څکه امام مالك ته امام دارالهجرة (ای المدینه) وائی، دده تاریخ ولادت بعضو (۹۰ هـ) بعضو (۹۴ هـ) او بعضو (۹۵ هـ) ذکر کړیدے،امام ذهبی په تذکرة الحفاظ کښے د یحیی بن بُکیر نه نقل کړیدی چه امام مالك نه ما اوریدلی دی چه فرمائیلی : زه په (۹۳ هـ) کښے پیدا شوے یم، اودا اصح قول دے۔ داد مور په خیټه کښے دریے کاله حصار پاتے

شویدے۔ تاریخ وفات ئے ۲۲ ربیع الاول (۱۷۹ھ) د (۸۶) کالو په عمر باندے۔ هو الصحیح۔ دا د امام شافعیؒ استاذ دے، اود امام ابوحنیفه ملگرے دے، یو بل سره ئے بحثونه هم کړیدی، علماء فرمائی چه دده نه دچا زیات شاگردان نشته۔اوتقریباً نهه سوه استاذان ئے وو، نافع دابن عمرؓ مولیٰ ئے استاذ وو، دارنگ زهری، یحیی بن سعید، او هشام بن عروه ئے استاذان وو۔

امام شافعیؒ نه نقل دی چه دا فرمائی : ماته محمد بن الحسنؒ چه د امام ابو حنیفهؒ شاگرد دے اووئیل : زمونږ استاذ ډیر اعلم وو، که ستا سو استاذ ؟ نو ما ورته اووئیل چه زه درنه په انصاف سره تپوس کوم او قسم درکوم تاته په الله چه په قرآن باندے ستاسو استاذ (امام مالكؒ) ښه پوهیدلو، اوکه زمونږ استاذ ؟ نو محمد بن الحسن اووئیل : اللهم صاحبکم، یعنے ستاسو استاذ۔بیا امام شافعی وائی : زه قسم درکوم په اللہ چه اعلم بالسنة ستاسو صاحب دے که زمونږ ؟ امام محمدؒ اووئیل : (اللهم صاحبکم)، ستاسو استاذ۔ بیا امام شافعیؒ اووئیل : من اعلم باقاویل اصحاب رسول الله ﷺ المتقدمین ؟ قال: اللهم صاحبکم)۔ **ترجمه** : دصحابه کرامو ؓ په اقوالو باندے څوك ډیر زیات ښه پوهه دے ؟ امام محمدؒ اووئیل : ستاسو استاذ۔امام شافعیؒ فرمائی : صرف قیاس پاتے شو، او قیاس صرف په دے څیزونو کیږی۔نو مونږ په څه سره قیاس اوکړو ؟ (ذکره ابن خلکانؒ)۔

دامام مالكؒ مذهب په اندلس او مغرب کښے ډیر مشهور شویدے۔علماؤ دده ترجمه او سوانح عمری ډیر اوګده لیکلی دی،مستقل کتابونه پرے لیکلے شویدی سلفاً وخلفاً۔ دده یواهم فضیلت دا هم دے چه په احادیثوکښے ئے د ټولو نه اول کتاب (الموطأ للامام مالك) لیکلے دے۔ امام شافعیؒ فرمائی : ماتحت ادیم السماء اصح کتاب من الموطأ۔خودا هغه وخت وو چه صحیح بخاری لا نه وو لیکلے شوے۔ دا وجه ده چه دلته مصنف هم دا په دریمه درجه کښے ذکر کړو، اگرکه د زمانے په لحاظ مقدم دے، خو په کتاب کښں ئے د صحت التزام نه دے کړے۔

تعارف دامام شافعی رحمه الله :

هو الامام، ناصر الحدیث، المجدد لامر الدین علی رأس المأتین، حبر الامة، صاحب المذهب ابی عبد الله محمد بن ادریس بن العباس بن عثمان بن شافع، الشافعی، المطلبی، القرشی، المکی۔ د شافع په وړوکوالی کښے دنبی اکرم ﷺ سره ملاقات شویدے، په دے وجه امام شافعیؒ هغه ته منسوب شویدے۔ او المطلبی ورته ځکه وائی چه دا د بنی هاشم بن المطلب بن عبد مناف داولاد نه دے، دنبی اکرم ﷺ سره په نسب کښے شریك شویدے، ځکه ورته القریشی او المکی هم وائی، دا مصرے عالم دے۔په (۱۵۰ھ) کښے دغزے په ښار کښے په هغه کال پیدا شو چه کله امام ابو حنیفهؒ وفات شو۔ بیا دغزه نه د اوو(۷) کالو په عمر مکے مکرمے ته نقل شو۔اود جمعے په ماسخوتن آخر د رجب سنه (۲۰۴ھ) کښے وفات شو۔اویوم الجمعه بعد العصر په قرافه مصر کښے دفن شو، د (۵۴) کالو په عمر باندے۔مصنف د مشکوٰة په (الاکمال فی اسماء الرجال)

آخر دمشکوة کښې وائي چه دده فضائل د شمار نه بهر دی، ده ته هغه علوم او مفاخر حاصل دی چه هیڅ امام ته نه دی حاصل۔ اودده مذهب په ټوله دنیا کښې خور دے۔ اعلیٰ فضیلت ئې دا دے چه : (هو اول من صنّفَ فی اصول الفقه) یعنې په اصول الفقه کښې اولنۍ تصنیف دوئ کړیدے۔ په کال (۱۹۵ هـ) کښې بغداد ته راغې، یوه میاشت ئې تیره کړه، بیا مصر ته لاړ او هلته وفات شو۔(۱۱۳) تصانیف ئې کړیدی۔ دا د لغت، نحو، شعر او علوم عربیو امام هم وو۔ داد امام احمد بن حنبل استاذ دے۔امام احمدؒ فرمائي : ماته ناسخ او منسوخ احادیث نه وو معلوم تردے چه امام شافعیؒ سره کیناستم۔ دا لوئې زاهد، وَرِع او جلیل القدر، عفیف النفس او سخي انسان وو۔ داد امام محمدؒ شاګرد هم وو، اود هغه سره ئې ډیرے مناظرے هم کړیدی۔

تعارف د امام احمد ـرحمه الله : ـ هو الامام ابو عبد الله احمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن اسعد الامام الحافظ الحجة صاحب المذهب الشیباني منسوب دے شیبان بن ذهل ته چه دا دده په نیکونو کښې وو، دا په اصل کښې دمَرو علاقې وو، بیا عراق کښې ئې ژوند تیر کړیدے۔ مور ئې په حالت د حمل دده کښې بغداد ته راغله، هلته امام احمدؒ په کال (۱٦٤ هـ) د ربیع الاول په میاشت کښې پیدا شو، اود جمعې دچاشت په وخت په (۱۲) ربیع الاول (۲٤۱ هـ) کښې په بغداد کښې د (۷۷) کالو په عمر وفات شو۔دا په فقه، حدیث، زهد او ورع او عبادت کښې امام وو۔ بعضې محدثین وائي : (کل حدیث لا یعرفه احمد فلیس بحدیث) (هرهغه حدیث چه امام احمد ته نه وی معلوم هغه به حدیث نه وی) دا په ډیر مهارت کښې مبالغه ده۔

ده ته امام اهل السنة وائي، وجه داوه چه دمامون بادشاه په زمانه کښې ده په مسئله دخلق القرآن کښې ډیرے مجاهدے کړیدی۔مامون بادشاه یو معتزلي شخص وو، او معتزله مُلیان به ورسره ناست وو، نو دا عقیده ئې ورته خودلې وه چه قرآن ته مخلوق وایه، اود الله صفات مه منه، سیوا دخوصفاتو نه باقي صفاتو کښې تاویل کوه۔(چه اوس په دے عقیده باندے معتزلو ته نزدے ماتریدیه حنفیه روان دی) نو مامون بادشاه خلقو ته کتاب کښې اولیکل چه دا عقیده به ټول خلق لري، که دچا دا عقیده نه وی نو هغه نه تدریس کولے شي، نه قضاوت، اونه افتاء۔اودغه مذکوره معتزلي عقیده ئې خلقو ته پیش کړه۔ علماؤ ته چه پیش کړے شوه، نو سخت امتحان کښې واقع شو، چا خو بطور تقیه په هغې باندے دستخط اوکړو۔صرف څلورو کسانو مقابله شروع کړه، چه مونږ دا نه منو: ۱ـ امام احمدؒ ۲ـ احمد الخزاعیؒ ۳ـ یحیی بن معینؒ ٤ـ یحیی بن المدینيؒ۔ بیا پرے امتحان نور هم سخت شو، نو په دوئ کښې دوه کسانو د تقیه په طور رجوع اوکړه، او امام احمدؒ او احمد الخزاعیؒ ئې دواړه جیل ته اولیږل۔ احمد الخزاعیؒ خو په جیل کښې وفات شو۔او امام احمدؒ په جیل کښې په کوړو باندے ډیر زیات اووهلے شو، تردے چه مامون بادشاه وفات شو، بیا معتصم بادشاه شو، نو هغه به هم په امام احمدؒ ظلمونه کول، جامې به ئې

ترے ویستلے اوکوړے به ئے ورکولے۔بیهوشه به ئے کړو۔

بیا معتصم بالله هم الله مرکړو، اودده نه پس د مِتوکل علی الله بادشاه دور راغے، نو دده عقیده صحیح وه۔ ده امام احمدؒ د (۲۸) میاشتے جیل تیرولو نه پس راویستو، نو الله تعالیٰ حق غالب کړو۔

حافظ ابن کثیرؒ په البدایة والنهایة کښے لیکی چه دامام احمدؒ په مقابله کښے ابن ابی داود قاضی ولاړ وو، نو امام احمدؒ به ورته وئیل چه زمونږ او ستاسو به دجنازے په ورځ پته لگی چه د سُنی پسے څومره خلق اودریږی، اود مبتدع پسے څومره خلق اودریږی۔ ابن ابی داود چه مړ شو، لس کسان پسے ولاړوو، اودا ټول د حکومت کسان وو۔ او امام احمدؒ چه وفات شو، نو متوکل بادشاه دصفونو کرښے جوړ کړے په جنازه کښے د شریك کیدونکو حساب چه اولګولے شو نو (۲۵) لاکهه کسان پسے ولاړ وو اوشل زره یهودیانو ایمان راوړو، او شپیته زره زنانو پسے جنازه اوکړه۔

امام احمد بن حنبلؒ یو زاهد صفت انسان وو، د زهد ئے دا حالت وو چه دحکومت دطرفنه ورله تنخواه مقرر وه، نو هغه به ئے نه خوړله، اووئیل به ئے چه زمونږ لرے ورځے پاتے دی، د شکی څیز نه خوراك نشو کولے۔اوکور والو چه ئے اخستله نو ده به کور کښے روټئ نه خوړله، ځان له به ئے پخوله، صاحب مرقات په کتاب البیوع کښے لیکی چه : یوځل دده دکور خلقو خمیره او روټئ دریاب ته ارتولے وه، نو امام احمدؒ ډیره موده پورے ماهیان نه خوړل، چه هسے نه ماهیانو زمونږ دکور روټئ ئے خوړلی وی۔ دده کتاب د المسند (مسند احمد) په نوم په دیرش زره احادیثو باندے مشتمل دے۔خپل ځوئے ته ئے وئیلی وو، ددے کتاب حفاظت کوه (فانه یکون للناس اماماً) او همدغه شان اوشوه۔

ټول علماء بخاری، مسلم وغیره دا ټول گویاکه دمسند احمد نه ماخوذ دی، ځکه چه امام احمدؒ د دوئ استاذ دے۔اگرکه دده کتاب دکتب سته ؤ نه روستو شویدے، ولے چه ضعیف حدیثونه هم په کښے موجود دی۔ ده په فقه کښے کتاب نه دے لیکلے، ځکه ده به وئیل : په خپلے رائے سره د قرآن اوحدیث مقابله نشم کولے۔ او امام مالكؒ چه کله کتاب اولیکلو، نو امام احمدؒ پرے خفه شو چه لیکل ئے نه وو پکار، بلکه پکار ده چه خلق احادیث په یادو ضبط کوی۔ بیا دده په مذهب کښے ډیر زیات کتابونه اولیکلے شو، دده مجاهدے ته الله تعالی اوکتل، اودده مذهب او اقوال د احادیثو سره زیات موافق دی، لکه چه تاسو ته به په مسائلو کښے ددے معلومات اوشی۔ بعضے اقوال ئے دحدیث مخالف راغلی دی، ځکه ده به اکثر دظاهر د احادیثو تابعداری کوله۔

ابو الحسن ابن الزاغونیؒ نه نقل دی چه د امام احمدؒ قبر (۲۳۰) کاله پس رابښکاره کړے شو، نو دهغه کفن هم هغه شان وو، چه لوندوالے هم ورته نه وو رسیدلے، او هیڅ اړخ ئے نه وو متغیر شوے۔

تعارف دامام ترمذی رحمه الله : هو ابوعیسٰی محمد بن عیسی بن سوره بن الضحاك الاسلمی الضریر البوغی الترمذیؒ۔ تِرمِذْ ته منسوب دے بکسر التاء والمیم، او فتح التاء وکسر المیم، وهو المتداول، او بضم التاء والمیم۔دا یوه علاقه ده په طرف د نهر د بلخ چه جیحون ورته

وائی۔ په سنه (۲۰۹ هـ) کښے پیدا شو۔او په رجب یوم الاثنین سنه (۲۷۹ هـ) کښے د (۷۰) کالو په عمر وفات شویدے۔ دا د امام بخاریؒ شاگرد دے، اوده دحدیثونو تصحیح او تضعیف دامام بخاریؒ نه زده کړیده۔ هر حدیث کښے به ئے دهغه نه تپوس کولو۔حافظه ئے دومره قوی وه چه دا په آخر عمر کښے ړوند شوے وو، یو ه علاقه کښے په یوه لاره روان وو، نو سرئے ښکته کړو، چا ورته اووئیل : دا ولے! هغه اووئیل دلته یوه اونه وه، یو عالم سره یو کتاب وو چه ډیرش حدیثونه په کښے وو، ده ورته اووئیل : دا ماله راکړه۔ هغه ورنکړو، نوده ترے لږ ساعت دپاره واغستو او وے کتلو او بیائے ورته واپس ورکړو، اودغه ډیرش واړه حدیثونه ئے ورته واورول۔ دا د فخر پطور فرمائی چه امام بخاریؒ مانه دوه حدیثو نه اوریدلی دی۔ یو (ماقطعتم من لینه) چه لینه نخلے ته وائی۔

دویم (لا یحل لاحد ان یجنب فی هذا المسجد غیری وغیرك)۔

دا دواړه په جامع ترمذی کښے موجود دی۔ د امام ترمذیؒ کتاب ډیر مفید دے انسان نه مجتهد جوړوی، ځکه چه صحیح او ضعیف هم ذکر کوی او مذاهب العلماء هم ذکر کوی، اود مسئلے استنباط هم ښائی، او په آخر دکتاب کښں په کښں علل هم شته۔ دوئ ډیرے سفرے کړیدی، عراق، خراسان او حجاز کښے ئے استاذان دی۔

تعارف دامام ابی داود رحمه الله : امام ابوداود سلیمان بن اشعث بن اسحق بن بشیر السجستانی، منسوب دے سِجِستَان بکسر السین والجیم ته۔ اصل کښے سیستان دے، ده ته سِجزِی هم وائی په نسبت کښے۔ په کال (۲۰۲ هـ) کښے پیدا شویدے۔او په بصره کښے دجُمعے په ورځ (۱۵) شوال سنه (۲۷۵ هـ) کښے د (۷۳) کالو په عمر وفات شویدے۔ دا هم د حفاظ الحدیث نه یو حافظ او امام دے۔(حافظ الحدیث وَحافِظُ عِلَلِهٖ)۔ ده هم ډیرے سفرے کړیدی خراسان کښے ئے هم سَماع کړیده، عراق، جزیره، شام، حجاز، مصر او بغداد ته باربار راغلے دے۔ او بیا بصره کښے دیره شو، کله چه ده کتاب (سنن ابی داود) اولیکلو، نو امام احمدؒ چه دده استاذ وو هغه ته ئے پیش کړو، نو دهغه ډیر خوښ شو، اوددے تحسین ئے اوکړو، بیا ئے مکے مکرمے ته اولیږلو هلته هم دخلقو په نظر کښے قبول شو، که څوك فقاهت او اجتهاد زده کوی، نو سنن ابی داود دِے اولولی، ځکه چه ده په هر حدیث بیل بیل باب ترلے دے، اود هغے نه ئے مسائل مستنبط کړیدی۔ ابن حبانؒ فرمائی : (ابوداود احد ائمة الدنیا فقهاً، وعلماً، وحفظاً، ونسکاً، وورعاً، واتقاناً)۔ امام ابوداودؒ خپله فرمائی چه ما خپل کتاب کښے څلور زره اته سوه حدیثونه راجمع کړیدی، دا مے دپنځه لاکهه احادیثونه منتخب کړیدی۔

تعارف د امام نسائی رحمه الله : هو ابو عبد الرحمن احمد بن شعیب بن علی بن سنان النسائی، الحافظ الامام القاضی، صاحب السنن۔النسائی : منسوب دے نَسَا بفتح النون والسین ته۔ داپه خراسان کښے یوه ښاریه ده۔په سنه (۲۱٤ هـ) یا بنا بر قول راجح (۲۱۵ هـ) کښے پیدا

شويدے۔او د فلسطين په يوه علاقه رمله كښے او بعضے وائى مكه كښے په يوم الاثنين (۱۳) صفر يا شعبان سنه (۳۰۳ھ) كښے د (۸۸) كالو په عمر وفات شويدے۔اودده د وفات سبب داوو چه دا خلقو اووهلو په دے وجه چه رملے ته تلے وو، او هلته ترے چا د يوے مسئلے تپوس اوكړو، نو ده جواب وركړو، خلقو د هغے په وجه اووهلو، بيا مكے ته مريض راوړے شو، هلته كښے شهيد شو، اوددے وجه دا وه چه دا په ټولو اهل عصر كښے افقه او اعلم بالصحيح والسقيم او اعلم بالرجال وو، نو خلقو ورسره حسد شروع كړو، رملے ته لاړ خلقو ترے تپوسونه شروع كړل۔

امام نسائىؒ چه اول يو كتاب د (السنن الكبرىٰ) په نوم شپږو جلدونو كښے اوليكلو (چه اوس چهاپ شويدے) نو بادشاه ته ئے پيش كړو، بادشاه ورته اووئيل چه دے كښے ټول صحيح حديثونه دى ؟ نو ده اووئيل : ضعيف په كښے هم شته، نو بادشاه ورته اووئيل چه ددے نه دصحيح احاديثو انتخاب اوكړه، نو بيا ده د (المجتبىٰ) په نوم يو كتاب تيار كړو، چه نن صبا د سنن النسائى په نوم ياديږى، دا دريمه درجه كښے دے۔اول بخارى بيا مسلم بيا نسائى دے بيا ابوداود بيا ترمذى دے۔ ده څلور ودونه كړى وو، اودده په عجائباتو كښے دا ده چه ده به چرګان ډير خوړل۔ دده ترجمه، فضائل او واقعات هم ډير زيات دى، راجع الى مقدمة تحفة الاحوذى ص (٦٤) اتحاف النبلاء ص (۱۸۹) والتهذيب (۱/۳۷)۔

تعارف دامام ابن ماجه رحمه الله : هو ابو عبد الله محمد بن يزيد ابن ماجه القزوينى منسوب دے قزوين ته چه دا يوه علاقه ده په اواخرو د عراق كښے۔ په كال (۲۰۹ھ) كښے پيدا شويدے، او په يوم الاثنين (۲۲) رمضان سنه (۲۷۳ھ) د (٦٤) كالو په عمر وفات شويدے۔ دا هم لوئے حافظ مفسر دے، امام فى الحديث دے، عراق، بصره، كوفه، بغداد، مكه، شام، مصر، رئ ته ئے سفرونه كړيدى، تفسير القرآن ئے هم ليكلے دے۔ابن ماجه ورته ځكه وائى چه ماجه يا خو دده دپلار لقب دے، يا ئے د والدے نوم دے۔مشهور محدث دے، ده هم كتاب د سنن ابن ماجه په نوم په حديثونو كښے ليكلے دے۔ دده په كتاب كښے ضعيف او بعضے موضوع روايتونه هم شته، په دے وجه علماؤ دا په اوومه درجه كښے شمارلے دے، او په شپږمه درجه كښے ئے سنن الدارمى شمارلے دے۔ دده په كتاب كښے څلور زره احاديث دى۔

تعارف دامام دارمى - رحمه الله : هو ابو محمد عبد الله بن عبد الرحمن بن فضل بن بهرام السمرقندى التميمى الدارمى۔ دارمى ورته ځكه وائى چه دا منسوب دے دارم بن مالك ته چه دا د بنو تميم قبيلے نه يوه قبيله وه۔ اودا عربى عالم دے، د امام احمدؒ همعصر دے، پخوانے عالم دے، دامام بخارى نه هم مشر دے۔ په كال (۱۸۱ھ) كښے پيدا شويدے۔او په كال (۲۵۵ھ) يوم الترويه يوم الخميس كښں وفات شويدے، او دعرفے په ورځ دفن شويدے۔ ټول عمرئے (۷٤) كاله دے۔دا هم لوئے امام حافظ عالم د سمرقند دے، مشهور كتاب سنن الدارمى يا مسند الدارمى

(دواړه ورته وائی) دوه جلدونو کښې اوس چهاپ شویدے دا ئے لیکلے دے، په طریقه د ابوابو فقهیه ؤ، نه په طریقه مشهوره د مسانیدو، چه په اسماء الصحابة سره لیکلے شی۔ دا کتاب غوره څکه دے چه یو ئے سنن مختصر دے، بل په کښې ضعیف احادیث ډیر کم دی۔امام احمدؒ نه نقل دی چه په دارمی باندے دنیا پیش کړے شوه هغه قبوله نه کړه، دا یو بادشاه په سمرقند باندے قاضی مقررولو، خو ده انکار اوکړو، تردے چه بادشاه پرے زور اوکړو، نو یوه فیصله ئے اوکړه او بیا ئے استعفیٰ ورکړه، اودا ډیر عقلمند او صاحب الفضیلة وو، په دیانت او حلم او اجتهاد او عبادت او قناعت کښې ضرب المثل وو۔ابو حاتم بن حبانؒ فرمائی : (کان من الحفاظ المتقنین ، و اهل الورع فی الدین ممّن حَفِظَ وجَمَعَ وتَفَقَّهَ وحَدَّثَ واَظْهَرَ السُّنَّةَ فی بلدہ، ودعا الیها وذبَّ عن حَرِیْمِهَا وَقَمَعَ مَنْ خَالَفَهَا)۔

تعارف دامام دارقطنی – رحمه الله: هو ابو الحسن علی بن عمر البغدادی الدارقطنی منسوب دے دارالقطن ته چه په بغداد (عراق) کښې یوه محله ده۔ په کال (۳۰۵هـ) یا (۳۰۶) کښې پیدا شویدے، او یوم الاربعاء (۹) ذی القعده سنه (۳۹۵) د اتیا کالو په عمر وفات شویدے۔ دده په باره کښې راځی چه دا هم لوئے محدث او مجتهد وو په باب د علل الحدیث باندے ډیر ښه پوهیدو، کتاب العلل ئے شپږو جلدونو کښې لیکلے دے، او سنن الدارقطنی ئے هم لیکلے ده،امام ذهبیؒ فرمائی:که دده علم بالحدیث معلومولے نو کتاب العلل ته ئے اوګوره۔ اودده نه پس داسے څوك نه دے راغلے چه دده پشان په علل الحدیث باندے پوهه وی، ډیر تصانیف ئے کړیدی، لکه المعرفة بمذهب الفقهاء، او المعرفة بالاداب والشعر۔ په علم القراءة کښې ئے یو مصنَّف موجود دے، بابونه ئے په کښې قائم کړیدی، ټولو قراؤ دده اقتداء کړیده، ډیر سفرونه ئے کړیدی، په بوډا والی کښې ئے مصر، شام ته سفر کړیدے۔ډیر زیات شاګردان ئے لرل، لکه حاکم، ابو حامد الاسفرائنی او ابو نعیم الاصبهانی وغیرهم۔

وابی بکر : **تعارف دامام بیهقی –رحمه الله :** هو ابو بکر احمد بن الحسین البَیْهَقِیُّ منسوب دے بَیْهَقْ ته چه دا ډیرے علاقے دی په نیشاپور کښې۔ په خسرو جرد (کلی د بیهق کښې) په شعبان (۳۸٤)هـ کښې پیدا شویدے۔ او په لسم د جمادی الاولی کال (٤۵۸)هـ کښې په نشاپور کښې د (۷٤) کالو په عمر باندے وفات شویدے۔او بیا بیهق ته نقل شویدے په خسرو جرد کښې دفن شو۔ دا د امام حاکم شاګرد دے، او حاکم شاګرد دے د ابن حبان، اودے شاګرد دے د ابن خزیمه، اودا شاګرد دے د امام بخاریؒ اود امام احمدؒ۔دا هم لوئے فقیه حافظ اصولی، ورع، واحد زمانه وفرد اقرانه فی الاتقان والضبط دے۔عراق، حجاز وغیره مقاماتو ته ئے سفرونه کړیدی۔دده په فضائلو کښې داده چه ده ډیر زیات کتابونه لیکلی دی، چه دومره کتابونه په متقدمینو کښې هیچا نه دی لیکلی، تقریباً زر جزء برابرېږی۔السنن الکبریٰ لس جلدونه، کتاب المعرفة اووه

جلدونه،اوشعب الایمان اووه جلدونه، سنن الصغیر دوه جلدونو کښې، کتاب الآداب یو جلد کښې، دائې احادیثو کښې لیکلې دی، دې امام شافعیؒ ته منسوب وو، ده دامام شافعي د مسائلو دپاره احادیث راوړیدی، چه دا مسئله ده اودا حدیث ئې دلیل دې۔ دا وجه ده چه امام الحرمین وائی : ما من شافعی الا وللشافعي علیه مِنّةٌ، الا ابا بکر البیهقي فان له المنّة علی الشافعي لتصانیفه في نصرة مذهبه۔ په السنن الکبریٰ کښې په هره مسئله دلیل پیدا کولې شي۔

وابی الحسن : **تعارف د امام رزین -رحمه الله** : هو ابو الحسن رزین بن معاویة العبدری منسوب دے عبد الدار بن قصي ته چه دا دقریشو نه یوه وړه قبیله ده، دده کتاب اوس ورك شویدے، ده په کتاب کښې کتب سته راجمع کړې وو، دارنګه نور احادیث ئې پرېے زیات کړی وو، خو دده کتاب دومره فائده مند ځکه نه دے چه بعضې موضوعات او ضعیف حدیثونه ئې هم راوړیدی، اودده کتاب په جامع الاصول د ابن الاثیر کښې راګیردے، چه دولس جلدونو کښې لیکلے شویدے، ده هم هغه کتب سته مع الزیادة راجمع کړیدی۔ دے په (۵۳۵) ھ یا (۵۲۰) ھ کښې وفات شویدے۔

وَغَیْرُهُمْ وَقَلِیْلٌ مَاهُوَ : یعنې ددے مذکوره علماؤ نه علاوه نورو ته هم نسبت شویدے خو هغه ډیر کم دی ۔ لکه ابن حِبانؒ او نوویؒ، او ابن الجوزیؒ في الوفاء، او ابن عبد البرؒ ته ئې هم نسبت کړیدے، مثلًا داسے وائی چه دا حدیث ابن حِبان راوړیدے وغیره، دارنګه منتقیٰ د ابن الجارود۔ کلمه د (ما) زیاته شویده دپاره د مبالغه في القلة اودا په عربئ کښې ډیر راځی لکه قرآن کښې دی ﴿وَقَلِیْلٌ مَّا هُمْ﴾ [سورة ص]

بیا دلته **سوال** واردیږی چه مصنف امام ابو حنیفهؒ ولې ذکر نه کړو ؟

نو ددے ښه **جواب** دادے چه دا ئې ځکه نه دے ذکر کړے چه د امام ابو حنیفهؒ په احادیثو کښې کتاب نه وو، اود صاحب مشکوة مقصد خو دا دے چه ما داحدیث ددے فلانو علماؤ په کتابونو کښې لیدلے دے، او بیا مې رانقل کړیدے۔اودا څه د تعصب او عداوت د وجې نه ئې نه دے ترك کړے، ځکه چه ده روسته (الاکمال في اسماء الرجال) کښې د امام ابوحنیفهؒ نوم اول کښې ذکر کړیدے، نو ددے علماؤ دسلفوؒ سره چرته هم عداوت نه وو، دا خو دمتاخرینو ناکاره کار دے۔

د امام ابو حنیفهؒ منقول روایات او د هغه کتابونه

که څوك اووائی چه مسند امام اعظم دا د امام صاحب کتاب نه دے څه ؟ نو ددے جواب دا دے چه دا خو لسمه صدئ کښې علامه خصفکي لیکلے دے۔ داسے مثال لری لکه مسند عمر بن عبد العزیز، مسند عائشه۔ نو دا خو هغوی خپله نه دی لیکلی، خو دوئ چه په کومو روایتونو کښې راغلی دی نو هغه ورله علماؤ راجمع کړیدی، دارنګه جامع المسانید چه دا دوه جلدونو کښې دے، پنځلس مسانید ئې راجمع کړیدی، داهم د امام صاحب کتاب نه دے، بلکه امام صاحبؒ چه په کوم روایت کښې راغلے دے نو دهغه یو مسند ئې تیار کړیدے، اوددے کتاب متعلق

امام شاه ولی الله صاحبؒ په حجة الله البالغة (۱/ ۱۳٤) کښې فرمائی : چه دا په څلورمه طبقه کښې شمار دے، لکه جامع المسانید للخوارزمی او ددے څه خاص اهمیت نشته، ځکه چه په دے کښې احادیث صحیحه مرفوعه نشته۔ دداسے کتابونو نه مبتدعین دخپل بدعت د ثابتولو دپاره حواله ورکوی۔ دا وجه ده چه په محدثینو کښې هیڅوك داسے حواله هیچرته نه ورکوی چه : (رواه فی جامع المسانید وغیره) او امام ابو حنیفهؒ راوی او ناقل د احادیثو نه وو، دا وجه ده چه امام ابو حنیفهؒ اګرکه په ډیرو احادیثو پوهیدلو مګر دهغه نه څومره حدیثونه نقل دی؟۔ نو پدے کښې یو څو اقوال دی : یا خو :

- دیارلس روایات ترے نقل دی۔ وهو قول ضعیف۔
- یا اولس روایات دی لکه علامه ابن خلدون ذکر کړیدی۔
- یا درے سوه دی کما ذکره ابن عدی فی الکامل : ۲٤۷۹/۷)۔
- یا پنځه سوه یا • اووه سوه۔ یا • اولس سوه یا • شپږ سوه شپږ شپیته۔ ذکره العلامة عبد الحی فی مقدمة عمدة الرعایة حاشیة شرح الوقایة ص (۳۵) نقلاً عن الزرقانی شارح المواهب اللدنیة والموطأ۔

وَاِنِّیْ اِذَا نَسَبْتُ الْحَدِیْثَ اِلَیْهِمْ کَاَنِّیْ اَسْنَدْتُ اِلَی النَّبِیِّ ﷺ لِاَنَّهُمْ قَدْ فَرَغُوْا مِنْهُ وَاَغْنَوْنَا عَنْهُ.

ترجمه : اوزه چه کله دحدیث نسبت دے علماؤ ته اوکړم، نو ګویاکه ما سند بیان کړیدے نبی اکرم ﷺ پورے، ځکه یقیناً دا (محدثین) په تحقیق سره فارغ شوی دی ددے (سندونو بیانولو) نه، اومونږه ئے بے پرواه کړی یو (دسند بیانولو) نه۔

تشریح : غرض دصاحب المشکوٰة امام تبریزی رحمه الله جواب ورکول دی د یواعتراض نه، اعتراض دادے چه دمشکوٰة د لیکلو وجه دا وه چه امام بغویؒ په کتاب المصابیح کښې نه خو سند ذکر کړے وو، اونه ئے دکتابونو حواله ورکړے وه، نو په دے باندے اعتراض شوے وو، لیکن اوس دمشکوٰة د لیکلو نه پس هم یو اعتراض واردیږی چه امام تبریزیؒ هم سند نه دے ذکر کړے، صرف د صحابی نوم ئے ذکر کړیدے اوحواله دکتابونو ئے ورکړیده، حال داچه پوره مکمل سند الحدیث ذکر کول پکار وو۔

جواب دا دے چه امام تبریزیؒ فرمائی : اګرکه مونږ سند نه دے ذکر کړے لیکن مونږ دا وئیلی دی چه دا حدیث فلانی محدث روایت کړیدے، اوچونکه محدثینو په خپلو کتابونو کښې پوره سند هم ذکر کړیدے اودغه شان په دے احادیثو باندے ئے دصحت، حسن او د ضعف وغیره حکم هم لګولے دے، نو مونږ ئے د اسناد ذکر کولونه فارغ کړی یو، په دے وجه مونږ دسند ذکرکولو ضرورت محسوس کړے نه دے، زمونږ حواله داسے ده لکه سند چه مو بیان کړے وی، ځکه هغه کتاب کښې اوګوره سند به ذکر کوی۔

كَأَنِّيْ اَسْنَدْتُ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ : نبی اکرم ﷺ ئے ذکرکړو سره ددے چه په دے کتاب کښے د تابعینو او صحابه کرامؓ اقوال هم شته، خو لیکن دهغوئ اقوال مطلقاً حجت نه دے، نودهغوئ سند ذکر کول ضروری نه دی، او هرچه د نبی اکرم ﷺ وینا مبارکه ده نو دهغے دپاره سند ضروری دے، ولے چه دا حجت دے۔ لِاَنَّهُمْ قَدْ فَرَغُوْا مِنْهُ : دا تعلیل دے داسناد او نسبت الی النبی دپاره۔

وَاَغْنَوْنَا عَنْهُ : ددے دوه معنے دی (۱) یو دا چه مونږه ئے داسناد ذکر کولو نه بے پرواه کړی یو، یعنے دهغوی په سند ذکر کولو کښے غِنٰی او کفایت دے زمونږ دذکر کولونه (۲) دویم دا چه مونږه ئے دتصحیح اود تضعیف بیانولو نه هم بے پرواه کړی یو، هغوی امامان ددے فن دی، نو دهغوی تصحیح او تضعیف کافی دے۔

وَسَرَدْتُّ الْكُتُبَ وَالْاَبْوَابَ كَمَا سَرَدَهَا وَاقْتَفَيْتُ اَثَرَهٗ فِيْهَا وَقَسَمْتُ كُلَّ بَابٍ غَالِبًا عَلٰى فُصُوْلٍ ثَلٰثَةٍ اَوَّلُهَا مَا اَخْرَجَهُ الشَّيْخَانِ اَوْ اَحَدُهُمَا وَاكْتَفَيْتُ بِهِمَا وَاِنِ اشْتَرَكَ فِيْهِ الْغَيْرُ لِعُلُوِّ دَرَجَتِهِمَا فِى الرِّوَايَةِ ۔

ترجمه : ما په ترتیب سره راوړیدی کتابونه اوبابونه لکه څنګه چه امام بغویؒ په ترتیب سره راوړیدی،اوما تابعداري کړیده دهغه دقدمونو(طریقے) په دے کتابونو اوبابونو کښے، اوما تقسیم کړیدے هرباب غالباً په درے فصلونو باندے۔ اولنی فصل کښے هغه حدیثونه دی چه شیخانو (بخاری اومسلم) دواړو راوړیدی، یا ددے دواړو نه یو کس (راوړیدی) اوما اکتفاء اوکړه د دوئ په ذکر کولو باندے اګرچه شریك وی په دے (حدیث راوړو) کښے غیر د دوئ نه (نور محدثین) د وجے داوچتوالی ددرجے ددے دواړو نه په باب دروایت کښے۔

تشریح : وَسَرَدْتُّ الْكُتُبَ : یعنے ما کتابونه اوبابونه په هغه ترتیب سره ذکر کړیدی په کوم ترتیب سره چه امام بغوی ذکر کړی وو، هیڅ تغییر او تبدیل، تقدیم او تاخیر په کښے نه دے شوے، څکه چه دهغه ترتیب ډیر ښه دے۔ سرد : عبارت ذکر کول په ترتیب سره۔ الْكُتُبَ : جمع دکتاب ده، په کوم کتاب کښے چه دمختلف موضوعاتو مضامین بیانیږی، نو دهغه مضامینو د وضاحت اوعلامت دپاره مصنفین خپل کتابونه په فصول او ابوابو تقسیموی۔ دکتاب تعریف دادے چه دکتاب په ذریعه چه کوم عنوان قائمیږی دهغے لاندے ډیر مختلف ابواب وی، چه هغه اګرکه یو موضوع سره تعلق لری، لیکن دهغے دمضامین اومباحثو تفصیل جدا جدا وی۔لکه مثلًا طهارت یوه موضوع ده اوددے موضوع سره متعلق مختلف انواع صورتونه اودهغے احکام او مسائل دی لکه وضوء، غسل، تیمم وغیره، نود تولو نه اول کتاب الطهارة عنوان ذکر کیږی، بیا ددے لاندے مختلف النوع صورتونه اودهغے په مسائلو او احکامو باندے مشتمل مضامین نقل کولو دپاره ابواب قائمیږی، لکه باب الوضوء ، باب الغسل، باب التیمم وغیره، نوکتاب په منزله دجنس وی اوابواب په منزله د انواع وی۔

کتـاب : تـه کتاب ځکه وائی چه دا مصدر دے دکتب، په معنے دجمع سره، لکه کتبت الابل فی الحظیرة، ای اجتمعت فیها . چونکه په کتاب کښے هم حروف راجمع شوی وی یا احکام او مسائل راجمع شوی وی۔ دکتاب اطلاق په مکتوب باندے هم کیږی، لکه ذلك الکتاب ای المکتوب ۔ د مـصنفینو په اصطلاح کښے دکتاب اطلاق په هغه مسائلو باندے کیږی چه دهغے یو مستقل تعبیر وی، برابره خبره ده چه په ډیرو انواعو مشتمل وی اوکه نه۔

وَاقْتَفَيْتُ اَثَرَهٗ فِيْهَا : اثـر په فتـح دهمزه اوثاء سره یا په کسره دهمزه اوسکون د ثاء سره نقش قدم، طریـقے تـه وائی۔ یـعـنے زه دهغه دطریقے پسے روان شوم، اود هغه اتباع مے اوکړه په باره دابوابو اوکتابونو کښے۔

وَقَسَمْتُ : دا په تـخفیف سره دضرب باب نه په معنیٰ د تقسیم سره دے۔ كُلَّ بَابٍ غَالِبًا: دا قید ځکه لګوی چه کله فصل اول نه وی کله ثانی نه وی، اوکله ثالث نه وی .اوکله ثانی اوثالث دواړه نه وی، لکه دا به روسته راشی۔

اَوَّلُهَا مَا اَخْرَجَهُ الشَّيْخَانِ : یـعـنی چه دواړه شیخانو راوړیدے۔ (اخرج او خرّج او رواه) دا تول په معنی دذکر الحدیث بالاسناد سره دے، دا وجه ده چه اخرج به په هغه کتاب کښے استعمالوی چه هغے کښې سند وی، لکه اخرجه البخاری وخرجه مسلم ورواه ابوداود۔ اوکوم کتاب کښې چه مکمل سند نه وی هغے کښے اخرج وغیره الفاظ نه استعمالیږی، لکه رواه او خرجه فی المشکوة نشی وئیلے، دغه شان (اخرجه النووی فی ریاض الصالحین) نشی وئیلے، بلکه (ذکره الخطیب فی المشکوة، واورده النووی فی ریاض الصالحین) به استعمالیږی۔

اود خرّج او اخرج غالباً فرق دا دے چه اخراج استعمالیږی په راوړلو دحدیث کښے په سند سره په کتاب کښے او تخریج استعمالیږی په (عزو الاحادیث الی من اخرجها من الائمة کښے)۔یعنی تخریج : داحادیثو هغه ائمو تـه نسبت کولو ته وائی چا چه دا حدیثونه په خپلو کتابونو کښے راوړی دی. (کما یقال خرّج فلان احادیث کتاب کذا، وفلان له کتاب فی تخریج احادیث الهدایة مثلاً) .

د شیخانو نه مراد امام بخاریؒ او امام مسلمؒ دی۔

وقسمت کل باب : دے سره دویم تـصرف دصاحب المشکوة ذکر دے۔ امام بغویؒ په خپل کتاب کښے دهر باب دوه حصے جوړے کړے وے، په اوله حصه کښے د بخاری یا مسلم، اویا ددے دواړو احادیث ئے راوړی وو اوددے حصے دپاره ئے (الاحادیث الصحاح) یا (من الصحاح) عنوان قائم کړے وو، نـو صاحب المشکوٰة دا عنوان بدل کړو په (الفصل الاول) سره، په دویمه حصه کښے ئے (الاحادیث الحسان) یا (من الحسان) عنوان قائم کړے وو، په دے کښے به ئے د ابوداود، ترمذی او نسائی وغیره احادیث راوړی وو .صاحب المشکوٰة دا په (الفصل الثانی) سره بدل کړو، اوددے نه پس صاحب المشکوٰة یو دریمه حصه هم زیاته کړه، اوددے نه ئے د (الفصل الثالث) په عنوان سره

تعبير کړيدے۔

دلته يو **سوال** واردېږي چه امام بغويؒ خو په عنوان دالصحاح کښے صحيح حديثونه راوړيدي، داخو صحيح ده، ليکن دالاحاديث الحسان عنوان لاندے خوده بعضے ضعيف حديثونه هم راوړيدي، نو ولے دے ټولو ته حسان وائي ؟ ددے اعتراض دوه جوابه دي :

(١) يو دا چه په دے حصه کښے چونکه اکثر احاديث حسان دي، او د (للاکثر حکم الکل) قاعدے په بناء باندے امام بغويؒ ټولو احاديثو ته تغليباً حسان عنوان ايخے دے۔

(٢) دويم دا چه : کيدے شي چه د امام بغويؒ دا يوه خاصه اصطلاح وي۔

وَاكْتَفَيْتُ بِهِمَا : يعنے ما اکتفاء اوکړه په ذکر کولو د بخاري اومسلم باندے، يعنے په فصل اول کښے مے صرف د دوئ حديثونه راوړيدي، اګرکه نورو علماؤ محدثينوؒ به هم دا روايتونه په خپلو کتابونو کښے راوړي وي، خو ما نسبت صرف بخاري او مسلم ته په دے وجه کړيدے چه دا شيخان دحديث په معامله او بيانولو کښے لويه مرتبه لري، نود نورو علماؤ ذکر کولو ته ضرورت پاتے نشو، اګرکه دهغوي په ذکر کولو سره په نقل د حديث کښ زيات تاکيد اوتقويت راځي، مثلًا اولنے حديث په کتاب الايمان کښے حديث دجبرئيل دے، دا د امام بخاري او امام مسلم نه علاوه امام احمد، ابوداود، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، ابن خزيمه، ابن حبان وغيره ؤ هم راوړيدے، ليکن صاحب المشکوٰة صرف د بخاري اومسلم حواله ورکوي په متفق عليه سره.

وَاِنِ اشْتَرَكَ فِيْهِ الْغَيْرُ : اګرکه شريك وي په دے راوړلو دحديث کښے دبخاري او مسلم سره نور علماء۔ داجمله شرطيه ده ان وصليه دے چه جزاء نه غواړي۔ فيه : ضمير تخريج الحديث ته راجع دے۔

لِعُلُوِّ دَرَجَتِهِمَا فِي الرِّوَايَةِ : دا تعليل داکتفيت دے، اوفي الرواية په علو پورے متعلق دے،

بيا د بخاري او مسلم درجه په باب الرواية کښے **ولے اوچته ده ؟**۔ ددے څو جوهات دي :

١ – اوله وجه دا ده چه د دوئ شرطونه سخت دي، امام بخاري حديث معنعن نه قبلوي، مګر په هغه وخت کښے چه د راوي معاصرت دخپل استاذ سره وي (يعنے زمانه ئے شريکه وي) او ملاقات ئے هم دخپل استاذ سره شوے وي، داشرط نورو علماؤ نه دے ضروري کړے۔ او امام مسلم صرف معاصرت شرط ګڼړي، لقاء (ملاقات) شرط نه ګڼړي۔يعنے يو راوي چه دخپل استاذ نه روايت نقل کوي، نودابه ضروري وي چه ددواړو زمانه يوه وي، چه امکان دملاقات موجود شي، چه دا راوي به دخپل شيخ سره ملاؤ شوے وي، اګرکه بالفعل دملاقات تصريح نه وي شوي۔ او امام بخاري وائي چه دا صراحت به شوے وي چه دا فلانے راوي دفلاني سره ملاؤ شويدے، هله به ئے حديث مقبول وي .که هسے امکان د معاصرت او امکان دلقاء وي او د بالفعل ملاقات تصريح نه وي شوي نو ددغه راوي حديث به مقبول نه وي۔ ددے تفصيل په نخبة الفکر او مقدمه د مسلم کښے راځي۔

٢ – دويمه وجه دا ده چه امام بخاري دهغه راويانو نه نقل کوي چه هغوي دخپل استاذانو سره

کثیر الملازمة وی (وخت ئے ورسره ډیر تیر کړے وی) او پخپله دا راویان کثیر الضبط هم وی او امام مسلم ددے سره سره د هغه راویانو نه هم نقل کوی چه هغوی کثیر الضبط خو وی لیکن قلیل الملازمة وی۔ اودا دواړه شرطونه نور علماؤ شرط نه گنړی، بلکه هغوی ددے نه لاندے درجے والا راویانو نه هم نقل دحدیث کوی .(لکه ددے تفصیل په مصطلح الحدیث کښې راځی) .

۳ – د شیخینو (بخاری او مسلم) شرط دادے چه هغه احادیث ذکر کوی چه المسند المرفوع الی رسول الله ﷺ وی، اونورو علماؤ دا شرط نه دے لګولے .نو ددے دواړو شیخینو احتیاط په باب د نقل الحدیث کښې ډیر زیات دے۔

وَثَانِيهِمَا مَا اَوْرَدَهُ غَيْرُهُمَا مِنَ الْاَئِمَّةِ الْمَذْكُورِيْنَ وَثَالِثُهَا مَا اشْتَمَلَ عَلٰى مَعْنَى الْبَابِ مِنْ مُلْحِقَاتٍ مُنَاسِبَةٍ مَعَ مُحَافَظَةٍ عَلَى الشَّرِيْطَةِ وَاِنْ كَانَ مَأْثُوْرًا عَنِ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ.

ترجمه : اود فصلونه دویم فصل هغه احادیث دی چه راوړیدی غیر ددے دواړو (بخاری اومسلم) نه نورو مذکوره امامانو۔ اودریم فصل هغه احادیث دی چه مشتمل دی په هغه معنے باندے چه باب ورله تړلے شویدے دهغه پیوسته شوی حدیثونونه، چه مناسب دی د باب سره .سره د حفاظت د شرط نه، اګرچه هغه نقل شوی وی دسلفو (صحابه کرامو رضی الله عنهم) نه یا دخلفو (تابعین عظام رحمهم الله) نه .

تشریح : مِنَ الْاَئِمَّةِ الْمَذْكُورِيْنَ دا بیان دغیرهما دے۔

مَا اشْتَمَلَ عَلٰى مَعْنَى الْبَابِ : دلته دمعنی نه مراد مقصود دے، یعنے په مقصود باب، یعنے په یو باب کښې مثلاً د ایمان مسئله شروع ده، نوزه به په دریم فصل کښې که د ایمان متعلق احادیث ماته معلوم شو نو زه به ئے ذکر کوم۔ مِنْ مُلْحِقَاتٍ مُنَاسِبَةٍ : ملحقات په فتحه دحاء سره صیغه د اسم مفعول ده اودا من بیان دے دما دپاره، یعنے هغه احادیث چه پیوسته کړے شویدی په دریم فصل پورے نو هغه د باب سره مناسب دی۔ مَعَ مُحَافَظَةٍ عَلَى الشَّرِيْطَةِ : ددے نه مراد هغه شرط دے چه دحدیث راوی به ذکر کوم او آخر کښې به مخرج راوړم، حواله به ورکوم۔

وَاِنْ كَانَ مَأْثُوْرًا: یعنے اګرکه دا حدیث منقول دے دسلفو او خلفو نه یعنے صاحب المصابیح خو داالتزام کړیدے چه په دواړو فصلینو کښې به احادیث مرفوعه راوړی، که چرته موقوف یا مقطوع راغلے وی نو هغه بالتبع راغلے دے، قصداً او اصالةً نه دے راوړے شوے۔ او هرچه زه یم نوزه به په فصل ثالث کښې دا التزام نه کوم بلکه قصداً به ټول روایات راوړم، اګرکه دصحابهؓ او تابعینؒ اقوال وی، خو چه دباب سره مناسب وی زه به ئے راوړم .

عَنِ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ : دلته دسلف نه مراد صحابه کرامؓ، اود خلف نه مراد تابعین عظامؒ دی۔ او په نورو ځایونو کښې سلف خیر القرون ته وائی، یعنے صحابه، تابعین اوتبع تابعین .او خلف

دهغوی نه روستو خلقو ته وائی۔ دلته دا یوه خاص اصطلاح د مصنف ده۔

ثُمَّ اِنَّكَ اِنْ فَقَدْتَّ حَدِيْثاً فِيْ بَابٍ، فَذٰلِكَ عَنْ تَكْرِيْرٍ اُسْقِطُهٗ وَاِنْ وَجَدْتَّ آخَرَ بَعْضَهٗ مَتْرُوْكًا عَلَى اخْتِصَارِهٖ اَوْ مَضْمُوْمًا اِلَيْهِ تَمَامُهٗ فَعَنْ دَاعِيْ اهْتِمَامٍ اَتْرُكُهٗ وَاُلْحِقُهٗ.

ترجمه : بیا كه چرے ته یو حدیث ورك كړے په یو باب كښے، نو دا (دحدیث نه موندل) دتكرار په وجه دی چه مابه ساقط كړے وی دا (حدیث)، اوكه تا بیاموندلو یو بل حدیث لره چه دهغے بعضے حصه پریخودے شویده، داختصار په وجه، اویا یو ځائے شوے وی ددے سره مكمله حصه ددے، نو دابه خاص دا اهتمام د وجے (باعث) نه زه پریدم او یا به ئے پیوسته كوم۔

تشریح : ددے ځائے نه صاحب المشكوٰة په مصابیح كښے (۳) دریم تصرف ذكر كوی، هغه دا چه یو حدیث حذف كول، او بل مناسب ځائے كښے راوړل د تكرار نه د بچ كیدو دپاره دی، حاصل دا چه اے د مشكوٰة طالب العلمه ! كه ته په مصابیح كښ یو حدیث په یو باب یا یو كتاب كښ اونه مومے بالكلیه، نو دا په دے وجه نه دی چه زمانه سهواً پاتے شویدے بلكه دا ما قصداً نه دے ذكر كړے، نو اعتراض به راباندے نه كوے چه په دے باب كښے په مصابیح كښے مثلًا فلانے حدیث موجود وو او دلته مشكوٰة كښے نشته، سره ددے چه ما ددے التزام كړیدے چه زه به د امام بغویؒ تابعداری په هر باب كښے كوم او تغیر اوتبدیل به نه كوم، نو دا ما قصداً په دے وجه پریښے دے چه دا حدیث مثلًا تكرار پیدا كوی، ځكه چه دا مكرر ذكر وی په مصابیح كښے نو د تكرار نه د بچ كیدلو دپاره زه دا حدیث حذف كوم، او په بل مناسب ځائے كښے هغه په غیر د تغیر نه ذكر كوم۔

والحقه : (ای فی غیر ذلك الموضع، او اُلْحِقُ بعض الحمل معه للمناسبة) . یعنی هغه حدیث به زه بل ځائے كښ ذكر كوم یا معنی دا ده چه زه به ورسره بعض مناسب جملے زیاتوم۔

دارنگ صاحب المصابیح ډیر احادیث داسے ذكر كړیدی چه هغه نامكمل یعنے مختصر وو، نو امام تبریزیؒ هم دهغے نه بعضو لره مختصر پریخودل، او بعضے حدیثونه چه ناقص ذكر وو هغه ئے پوره پوره ذكر كړل۔ علامه طیبیؒ فرمائی : چه بعضے اوقات داوگدو اوگدو حدیثونو ځینے حصے دباب دمناسبت په وجه نقل كوی، پوره حدیث نه نقل كوی، نو صاحب المشكوٰة هم دا طریقه د اختصار په سبب اختیار كړیده، یا یو حدیث په مختلف معانی یا الفاظو باندے مشتمل وی، چه دیوے حصے د یو باب سره مناسبت وی، اود بلے حصے د بل باب سره مناسبت وی، نو په دے وجه صاحب المصابیح ددے مناسبت په لحاظ بعضے جملے ذكر كوی، او صاحب المشكوٰة هم په دے حالت كښے دامام بغوی تابعداری كوی، اوكله چه ددے دواړو نه یو صورت هم نه وی، نو بیا پوره حدیث ذكر كیږی (مقدمه شرح الطیبی ص : ۸٦)۔

لهذا معنے د (ان وجدت آخر) دا جوړيږي : اوكه چرے ته بل حديث اوموے چه بعضے حصه ئے د اختصار په وجه پريخودے شوے وى (داختصاره ضمير حديث ته راجع دے، يا بغوى ته راجع دے) .يعنے داختصار د امام بغويؒ په وجه چه هغه مختصر راوړيدلے .اويا ددے حديث سره تمام (پوره كونكى جملے) ددے ضم كړے شوے وى، يعنے مختصر حديث مكمل شوے وى، نو ددے سبب او باعث دادے چه دځه اهتمام په وجه ئے زه په اختصار پريدم او يا دځه اهتمام په بناء مختصر حديث مكمل كوم،نو بناء په دے باندے اتركه او الحقه لف نشر مرتب دے،اتركه دمتروك على اختصاره سره لګى، او وَاُلْحِقُهُ كښے واؤ په معنے د (او) مضموم اليه سره لګى، نو مطلب به داشى چه كه يوځائے كښے حديث په مصابيح كښے مختصر وى نوكله كله ئے زه هم مختصر پريدم، اوكه يوځائے كښے په مصابيح كښے يوحديث مختصر وى نو زه ورسره الحاق د نورو جملو هم اوكړم د وجے دمناسبت نه .

دے ځائے عبارت كښے دوه تصرفات نور اوشو : (١)- د تكرار په وجه خديث حذف كول (٢) -دمختصر حديث سره جملے يو ځائے كول .نو ټول څلور تصرفات اوشو.

وَاِنْ عَثَرْتَ عَلَى اخْتِلَافٍ فِي الْفَصْلَيْنِ مِنْ ذِكْرِ غَيْرِ الشَّيْخَيْنِ وَذِكْرِهِمَا فِي الثَّانِيْ فَاعْلَمْ اَنِّيْ بَعْدَ تَتَبُّعِيْ كِتَابَي الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّحِيْحَيْنِ لِلْحُمِيْدِيِّ وَجَامِعِ الْاُصُوْلِ اعْتَمَدْتُّ عَلٰى صَحِيْحَيِ الشَّيْخَيْنِ وَمَتْنَيْهِمَا .

ترجمه : اوكه ته خبر شے په كوم اختلاف باندے په دواړو فصلونو كښے يعنے (اختلاف دادے چه) د شيخينو نه علاوه د بل چا ذكر په اول فصل كښے (اوشى)، اود شيخينو ذكر كول په دويم فصل كښے (شوے وى) نو پوهه شه چه ما د امام حميديؒ كتاب (الجمع بين الصحيحين) اود (ابن الاثيركتاب) جامع الاصول پس د تالاش كولو نه ما اعتماد كړيدے د شيخينو په صحيحينو اود هغوى په متنونو باندے.

تشريح : وَاِنْ عَثَرْتَ عَلَى اخْتِلَافٍ : حاصل ددے عبارت دا دے چه مصابيح والا دا قاعده ايښے ده چه زه به په (الاحاديث الصحاح) كښے (كوم چه بدل دے په الفصل الاول باندے په مشكوة كښے) دبخاري اومسلم روايات راوړم، اوفصل ثانى كښے چه دبخاري او مسلم نه علاوه نور حديثونه دى هغه به ذكر كوم، خو كله نا كله به علامه بغوى په قسم اول كښے يو حديث ذكر كړے وى، او زه به ئے غير دشيخينو ته نسبت اوكړم، لكه مثلاً په فصل اول كښے به اووايم چه رواه الترمذى، او حال دا چه دلته خو رواه البخاري وئيل پكار دى (لكه دا كار په باب سنن الوضوء، باب فضائل القرآن كښے شويدے) دغه شان د قسم ثانى په بعضے احاديثو كښے به زه نسبت دحديث شيخينو ته اوكړم (لكه په باب دما يقرأ بعد التكبير كښے دا كار شويدے) حال دا چه دا خو دمصابيح د قاعدے نه خلاف دے.

نو تـه بـه پـه مـا بـانـدے دا اعتراض نه کوے، ځکه ددے وجـه بـه دا وی چـه مـا ددے حدیث دپاره دوه کتابونه کتلی دی چه په هغے دواړو کښے حدیث الشیخین راجمع شویدی، یو کتاب الجمع بین الـصـحیـحین دامام حمیدی، اوبل جامع الاصول دابن الاثیر الجزری، دارنګ صرف او صرف په دے دواړو بـانـدے مے هم اعتماد نه دے کړے بلکه دبخاری او مسلم کتابونه اود دوئ متون مے بار بـار کـتـلی دی، او ما پـه فـصـل اول کښے دا حدیث په صحیحینو کښے نه دے پیدا کړے، نودابه دعلامه بغویؒ سهوه وی، اودده دا سهوه مے ښه یقینی کړیده، ځکه چه ډیر کتابونه مے ددے دپاره اوکـتـل۔ نـو پـه دے مـذکـوره مـخـالـفـت کښے به زما څه نقصان نه وی، بلکه دابه دعلامه بغویؒ سهـوه وی، چـه هغه دخپل التزام مطابق حدیث نه دے راوړے۔دغه شان چه کله مے د فصل ثانی حـدیـث پـه بـخـاری اومسلم کښے پیدا کړیدے، نو هلته به (رواه البخاری او مسلم) وایم، نودابه د امـام بـغـویؒ سهو وی چه هغه قلت تتبع کړیده، خو ډیر ادب سره دا الفاظ وائی، مینځ کښے دعاء هم ورته کوی، اود خطاء نسبت ورته صراحةً نه کوی۔

فان عثرت : په معنیٰ داطلعت وعلمت سره دے، یعنے که ته پوهه شے، خبرشے۔

کَتَابِي الْجَمْعِ : کتابی تثنیه ده دکتاب، نون په اضافه سره ساقط شویدے .الحمیدی :

تعارف الامام الحمیدی – رحمه الله : هـو الحافظ ابو عبد الله محمد بن ابی نصر فتوح بن عبد الله بـن حـمـیـد بـن یـصـل الازدی الاندلسی القرطبی ۔ دا هـم لـوئے امـام الـمـحـدثـیـن دے، ولادت ئے د (٤٢٠ هـ) نـه مـخکښے شویدے، یعنے دپنځمے صدئ عالم دے، دا د اندلس او قرطبه اوسیدونکے دے، ابـتـدائـی سَـمَـاع ئے په اندلس کښے کړے وه، مصر او شام او عراق ته هم د طلب الحدیث دپاره تلے دے۔ او بیا بغداد کښے اوسیدو، دابن حزمؒ خصوصی شاګرد دے، ډیر نقل ئے د هغه نه کړیدے، اود ابوعمر بن عبد البرؒ نه ئے هم شاګردی کړیده، افریقه کښے ئے ډیره سماع کړیده، اومکے مکرمے تـه هم راغلے دے، هلته دکریمة الـمَـرْوَزِیـة سره ملاؤ شویدے، کومه چه دصحیح بخاری راویه ده۔ یـحیی بن البناء فرمائی : حمیدی ډیر مجتهد اوکوشش کونکے انسان وو، په سخته ګرمئ کښے بـه ئے د شپے کـتـابـونـه لـیـکل، اوپه ځان باندے به ئے یخے اوبه اړولے دګرمئ د وجے نه۔ یحیی بن ابـراهیمؒ دخپـل پـلار نه نقل کوی چه د حمیدی پشان عالم ما په خپلو سترګو نه دے لیدلے، چه داپه فضل او نبالت او غزارتِ علمی او حرص علی نشر العلم کښے ډیر مخکښے وو، (وکان ورعاً، ثـقةً، امـامـاً فی الحدیث وعلله ورواته، متحققاً فی علم التحقیق والاصول، علی مذهب اصحاب الحدیث بـمـوافـقة الکتاب والسنة، فصیح العبارة، متبحراً فی علم الادب والعربیة والترسل) – دده مشهور کتاب (کـتـاب الـجـمـع بـیـن الـصـحـیـحـین) دے چه دا دخلقو په مابین کښے مقبول کتاب دے، اودومره ذهـیـن او زیـرکه وو چه (تاریخ علماء الاندلس) (مجلد واحد) کتاب ئے دخپل حفظ نه لیکلے دے۔ دا ابـن حـزمؒ تـه په اقوالو کښے ډیر مائل وو، اودهغه د اقوالو ډیر تائید به ئے کولو، دے وجے نه کوم

علماء چه د علامه ابن حزمؒ مخالف وو، هغوی امام حمیدیؒ ته فتنه او آزمائش او رسولو۔ بیا ده مشرق طرفته سفر اوکړو۔ په بغداد کښې دمنګل (سه شنبه) په ورځ سنه (٤٨٨ هـ) کښې د ذی الحجه په (١٧) تاریخ وفات شو۔دده کتاب ډیر مزیدار دے، ځکه صحیح البخاری او صحیح مسلم دواړه په کښې موجود دی، اود هغوی نه پکښې زیات احادیث هم په بعضے مواضعو کښې ذکر دی۔

جامع الاصول : داکتاب د امام مجد الدین ابی السعادات مبارك بن محمد چه مشهور په ابن الاثیر الجزری دے ۔النهایه فی غریب الحدیث کتاب ئے هم لیکلے دے، دا هم لوئے عالم دے، محدث او لغوی دے۔اول داپه جزیره کښې وو، بیا په کال (٥٦٥ هـ) کښې موصل ته نقل شو او هلته اوسیدو، بیا حج ته لاړو، اودے نه پس بغداد ته راواپس شو اودهغے نه واپس موصل ته لاړو، هلته بیمار شو او لاس خپو ئے کار پریخود، ډیر کتابت به ئے کولو،خو پس دمرض نه ئے نشوکولے،کورته به ورله علماء او اکابر راتلل۔ په جزیره د ابن عمر کښې په (٥٤٤ هـ) کښې پیدا شویدے، دده ډیر کتابونه دی، یو دهغے نه جامع الاصول فی احادیث الرسول دے، په دے کتاب کښې ئے صحاح سته راجمع کړیدی، د رزین دکتاب په ترتیب سره، مګر دا دهغے نه بهتر دے ځکه چه په دے کښې ډیر زیادات هم شته ۔

وَإِنْ رَأَيْتَ اخْتِلَافًا فِيْ نَفْسِ الْحَدِيْثِ فَذٰلِكَ مِنْ تَشَعُّبِ طُرُقِ الْاَحَادِيْثِ وَلَعَلِّيْ مَا اطَّلَعْتُ عَلٰى تِلْكَ الرِّوَايَةِ الَّتِيْ سَلَكَهَا الشَّيْخُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ.

ترجمه : اوکه چرے ته اووینے اختلاف په نفس (متن) دحدیث کښې نودا (په متن کښې اختلاف) به دډیر (مختلف) والی دلارو (اسانیدو) دحدیث په وجه سره وی،اوشاید چه زه به نه یم خبر شوے په هغه روایت باندے چه هغه شیخ (امام بغوی) راوړیدے، الله دے ترے راضی شی۔

تشریح : وَإِنْ رَأَيْتَ اخْتِلَافًا الخ : دلته امام تبریزیؒ دیو اعتراض جواب ورکوی، اعتراض دا دے چه بعضے داسے حدیثونه هم موجود دی چه په مصابیح کښې په جدا الفاظو سره راوړے شویدی، اوپه مشکوٰة کښې په جدا الفاظو راوړے شوی دی، نو سوال دادے چه صاحب مشکوة هغه لفظ ولے غوره نه کړو کوم چه په مصابیح کښې وو، اوجدا الفاظ ئے ولے راوړل، ددے اختلاف وجه څه ده ؟ دجواب حاصل دادے چه د یو حدیث ډیر سندونه دی او د هر سند په متن کښې اختلاف د الفاظو هم وی، ځکه بعضے راویانو روایت بالمعنیٰ کړے وی، نوزه به جدا الفاظ ذکر کړم په جدا سند سره او امام بغویؒ به جدا الفاظ ذکر کړے وی په بل سند سره، ځکه چه بخاری او مسلم کښې ډیر احادیث داسے دی چه هغه په ډیرو طرقو او اسانیدو سره په مختلف الفاظو نقل دی، لکه حدیث د (انما الاعمال بالنیات) په بخاری کښې په مختلفو الفاظواو مختلفو سندونو سره نقل دے، تقریباً اوه (٧) کرته راغلے دے، نو دا اختلاف څه مضر نه دے۔اویا ددے اختلاف

الالفاظ وجه به داوی چه کیدے شی ما هغه روایت کوم چه امام بغویؒ ذکر کړیدے په هغه الفاظو نه وی پیدا کړے په بخاری او مسلم کښے، نو په دے وجه زه به هغه الفاظو والا روایت راوړم کوم چه ما پیدا کړے وی په بخاری اومسلم کښے۔

فِيْ نَفْسِ الْحَدِيْثِ : نه مراد متن الحدیث یعنے الفاظ دحدیث دی۔

فَذٰلِكَ : اشاره ده اختلاف مذکوره ته. تَشَعُّب : پراګنده کیدل، متفرق کیدل، شاندار کیدل، څانګه څانګه کیدل۔ مراد مختلف کیدل اوډیر ګنړوالے دے۔ طُرُقِ الْاَحَادِيْثِ نه مراد، دحدیث سندونه دی، څکه چه په دے لاره باندے حدیث مونږ ته رارسی۔

وَلَعَلِّيْ مَا اطَّلَعْتُ : واحد متکلم صیغه ده د اطلاع نه مشتق دے، خبریدل، بره نه راښکاره کیدل، دلته اوله معنے مراد ده۔ سَلَكَهَا الشَّيْخُ : یعنے چه روان شویدے په هغے باندے شیخ بغویؒ۔ سلك : دسلوك نه مشتق دے په معنے دلاره باندے روانیدو سره .مراد ترینه بیانول د روایت او راوړل دروایت دی۔ اودا پنځم تصرف دے، وهو اختلاف الالفاظ بین المشکوة والمصابیح۔

وَقَلِيْلًا مَّا تَجِدُ اَقُوْلُ : مَا وَجَدْتُّ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ فِيْ كُتُبِ الْاُصُوْلِ اَوْ وَجَدْتُّ خِلَافَهَا فِيْهَا فَاِذَا وَقَفْتَ عَلَيْهِ فَانْسُبِ الْقُصُوْرَ اِلَيَّ لِقِلَّةِ الدِّرَايَةِ لَا اِلٰى جَنَابِ الشَّيْخِ رَفَعَ اللّٰهُ قَدْرَهٗ فِي الدَّارَيْنِ حَاشَا لِلّٰهِ مِنْ ذٰلِكَ.

ترجمه : اوډیر کرت به ته مومے چه زه به وایم : ما ندے موندلے دا روایت په کتابونو داصولو کښے، اویا ما ددے مخالف روایت په هغے (کتب الاصول) کښے موندلے دے، پس ته چه کله خبرشے په هغے (زما وینا باندے چه ما وجدت هذه الروایه الخ) نونسبت د قصور زما طرفته اوکړه، نه جناب شیخ (بغوی) طرفته، الله دے دهغه قدر (مرتبه) په دواړو جهانونو کښے اوچته کړی، پناهی ده الله پورے ددے (قصور دنسبت دعلامه بغوی طرفته کولو) نه۔

تشریح : بعضے اوقات صاحب المشکوة په فصل اول اوثانی کښے دحدیث ذکرکولو نه پس دهغے حواله نه ورکوی، بلکه دا لیکی : (ماوجدت هذه الروایة فی کتب الاصول)، یا دا عبارت لیکی : (وجدت خلافها)، یعنے ماته دمصابیح مخالف حدیث ملاؤ شویدے، لیکن امام تبریزیؒ فرمائی چه دا کار ډیرکم کرته شویدے، چه زه دا الفاظ اووایم (لیکن داپه پخوانو نسخو کښے وو، نن صبا موجوده نسخو کښے دا الفاظ هم ناسخینو حذف کړیدی) بیا امام تبریزیؒ فرمائی :کله چه ته مشکوٰة المصابیح لولے اوداسے مقاماتوته اورسیدلے چه ما دا الفاظ لیکلی وو : ما وجدت هذه الروایه الخ نودا به زما د تتبع او تالاش دنقصان په وجه سره وی، په دے کښے به د شیخ بغویؒ هیڅ غلطی او قصور نه وی، څکه چه غلطی به زما وی، چه مابه پوره تتبع نه وی کړے، اودا روایت به مے په کتب الاصول کښے نه وی موندلے، شیخ به ددے نه مبرا او منزه وی۔

تشريح الالفاظ : وَقَلِيْلًا مَّا تَجِدُ : لفظ دما غالباً د قليلًا او حيناً اوطال او قل سره زياتيږي، غرض په كښې تاكيد وى۔ دلته غرض تاكيد القلة دے، بيا قليلًا منصوب دے بنا بر مفعول مطلق د فعل محذوف دپاره اى تجدني اقول قليلاً اى في غاية القلة۔ يا منصوب على الظرفية دے اى في قليل من المواضع تجد۔

مَا وَجَدْتُّ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ : دا مقوله د قول ده، يعنى زه به وايم څه به وايم دا الفاظ به وايم، او د هذه الرواية نه مراد هغه روايت دے چه په مصابيح كښې ذكر دے۔ (اى ما وجدت هذه الرواية التى ذكرها البغوى فى المصابيح)

- فِىْ كُتُبِ الْاُصُوْلِ : ددے نه مراد د محدثينو امامانو كتابونه دى، لكه صحاح سته، مسند احمد، مسند دارمى، دارقطنى، مسند الحميدى موطا للامام مالك، جامع الاصول وغيره۔ داكتب الاصول ځكه دى چه ټول احاديث په كښې راجمع دى۔

اَوْ وَجَدْتُّ خِلَافَهَا فِيْهَا : دا عطف دے په ما وجدت نو دا هم مقوله داقول ده، يعنى زه به دا دواړه خبرے كوم ۱ – ما وجدت هذه الروايه فى كتب الاصول ۲ – وجدت خلافها .

فَاِذَا وَقَفْتَ : وقوف په معنى دعلم او خبريدلو سره دے يعنى كله چه ته خبرشے پو هه شے په دے وينا زما باندے .عليه : ضمير راجع دے (قولى) ته، چه دا مفهوم دے د اقول نه۔

فَانْسُبِ : دا جزاء د فاذا وقفت عليه ده، او فانسب د امر صيغه ده د باب د نصر نه په ضمه د سين به لولے فانسُب۔ اَلْقُصُوْرَ : يعنے تقصير په تتبع اوتلاش كښے۔ الى : ياء مشدده ده يعنى ماطرفته. لِقِلَّةِ الدِّرَايَةِ : ځكه زما علم كم دے، اوتتبع مے كمه ده۔

لَا اِلٰى جَنَابِ الشَّيْخِ : دلا دپاره مدخول حذف دے۔اى لا تنسُب القصور الى جناب الشيخ ۔ جناب : اړخ او جانب او طرف ته وائى۔

حَاشَا لِلّٰهِ مِنْ ذٰلِكَ. : ۱ – يوه معنى ده : (معاذ الله، اى اعوذ معاذ الله من نسبة القصور الى الشيخ)۔ يعنے په الله باندے پناه غواړم ددے نه چه نسبت دقصور شيخ ته اوكړم ۲ – دويم دا چه حاشا دا مرادف د تنزيه او پاكئ دے، او الله روستو ذكر كيږى دپاره د بيان المبرأ والمنزه، اولام په كښے د اختصاص دپاره دے، نو معنى داسے ده پاك دے شيخ بغوىؒ د نسبت كولو دقصور نه ده طرفته اودا پاكونكے دده خاص الله تعالى دے چه هغه دا پاك ساتلے دے ددے قصور نه، (اى ان الشيخ مُبَرَّأٌ ومُنَزَّهٌ عن قلة الدراية ونسبة القصور اليه، وهذه التبرئة له من الله ۔ ۳ – بعضے وائى حاشا فعل دے ضمير په كښے راجع دے شيخ ته، يعنے شيخ دالله دپاره ځان ساتلے دے د قصور نه نه دبل څه غرض دپاره۔ ٤ – يا كلمه د تعجب ده په معنى دسبحان الله سره، يعنے دا ډيره بعيده ده دعلم دشيخ نه چه هغه ته نسبت دقصور اوكړے شى۔

رَحِمَ اللّٰهُ مَنْ اِذَا وَقَفَ عَلٰى ذٰلِكَ نَبَّهَنَا عَلَيْهِ وَاَرْشَدَنَا طَرِيْقَ الصَّوَابِ وَلَمْ آلُ جُهْدًا فِىْ التَّنْقِيْرِ وَالتَّفْتِيْشِ بِقَدْرِ الْوُسْعِ وَالطَّاقَةِ.

ترجمه : الله دِې رحم اوکړي په هغه چاچه کله خبر شي په دې روايت باندې او مونږ له تنبيه راکړي په دې باندې (که مونږ ژوندي وو) او رهنمائي اوکړي زمونږه سيده (حقې) لارې طرفته۔ اوما کوتاهي نه ده کړې په کوشش کولو کښې په تلاش کولو (دطرق الحديث) او تفتيش کښې په اندازه دوسع اوطاقت (زما) سره۔

تشريح : امام تبريزيؒ فرمائي : چاچه ددې حديث (چه ما په کتب الاصول کښې نه دې موندلے او صاحب المصابيح راوړيدې) په باره کښې معلومات اوکړو او بيائې مونږ ته خبر راکړو، او صحيح لارې طرفته ئې زمونږ رهنمائي اوکړه نو الله دې په داسې شخص باندې رحم اوکړي.

نَبَّهَنَا عَلَيْهِ : دا تنبيه په حال الحيوٰة کښې مراد ده، او بعد الموت تنبيه داسې ده چه په حاشيه دکتاب ئې اوليکي يا دې شرح کښې اوليکي. طَرِيْقَ الصَّوَابِ : صواب په معنى دحق سره راځي، يعنې دحق لاره، دا د مصنف انصاف دې چه په خپل ضد او خپله خبره کلك نه اودريږي چه بس زما خبره چه هرڅنګه وي همدا صحيح ده، بلکه د هرمؤمن صفت به دا وي چه هغه به دحق پسې روانيږي، يو رائې او يو مذهب پسې به نه نښلي، چه که حق وي اوکه باطل خو بس زه دا منم بلکه د دليل تابع به وي، که دهرچا سره دليل وي د هغه خبره به اخلي، اوکه دخپل امام سره دليل نه وي په يوه مسئله کښې نودابه ضرور دهغه خبره پريدي، لکه دا د ټولو حق پرستو سلفو او خلفو طريقه ده، اوداسې شخص ته منيب وئيلے کيږي، (الذى يدور مع الحق حيث دار) ضد او تعصب به صرف د الله اود رسول دپاره کولے شي، نه ديو کتاب او يو مُلا او يو امام او استاذ يا تنظيم دپاره.

وَلَمْ آلُ جُهْدًا : دا دفع دسوال کوي دځان نه هغه داچه اې مصنفه ! دا قصور به تاکښې ځکه راغلے وي چه تابه خوبونه کول او پوره کوشش ددې روايت به دې نه وي کړې، نودې فرمائي چه ما د خپل کوشش موافق تلاش کړيدې او په دې کښې مې څه کوتاهي نه ده کړې. لم آل : همزه باندې مد دې او لام باندې ضمه ده، مهموز الفاء او ناقص دې، د(اَلَا يَأْلُوْ) نه جوړ دې، په يو کار کښې کوتاهي کولو ته وائي ﴿لَايَأْلُوْنَكُمْ خَبَالاً﴾ (العمران)، اى لا يُقَصِّرُوْنَكُمْ فَسَاداً. جهداً : جهد ئه په ضمه دجيم او سکون الهاء سره شي په معنى دمشقت او اجتهاد (کوشش) سره راځي، اوکه په فتحه دجيم سره شي نو په معنى دتکليف سره دې لکه حديث کښې دی [اللهم انى اعوذ بك من جَهْدِ البلاء] جهداً يا منصوب دې بنا برمفعوليت ځکه چه آلُ متضمن دې معنې دترك لره (اى لم اترك سعياً واجتهاداً)۔ ۲- يا منصوب بنزع الخافض دې، اى لم اقصر لكم فى السعى والاجتهاد.

۳- يا منصوب بنا بر حاليت دې، حال دې دضميردمتکلم نه په آلُ کښې (اى لم اقصرحال كونى مجتهداً)، يعنې د اجتهاد دکولو په حالت کښې مې کوتاهي نه ده کړې۔ ٤ - يا منصوب بنا بر تميز دې، يعنې ما کوتاهي نه ده کړې د حيثيت دکوشش نه، يا په اعتبار دکوشش سره، يا په کوشش کولو کښې۔

فِیْ التَّنْقِیْرِ وَالتَّفْتِیْشِ : دا والتفتیش عطف تفسیر دے دالتنقیر، غرض په عطف تفسیر کښے توضیح او تفسیر دمعطوف علیه وی، اول کښے یو لفظ ذکر شی چه واضح نه وی، نو بیا روسته دهغے مرادف واضح لفظ ذکر شی دپاره د توضیح ددغه لفظ.

تنقیر : اصل کښے دلرګی توګلو ته وائی چه دهغے په ذریعه ځان مقصد ته اورسوی، یعنے خندن لرګے توکل ددے دپاره چه صحیح شی او بازو وغیره ترے جوړ شی .دلته مراد بحث او تفتیش او تجسس دطرق الحدیث دے او اختلاف دالفاظو نه په کتب الاصول کښے یعنے کتابونه مے ډیر اړولی راړولی دی ددے کاردپاره۔

بِقَدْرِ الْوُسْعِ وَالطَّاقَةِ : قدر اندازے ته وائی، وسع او طاقت یو شے دے، خو لګ فرق دے هغه دا چه وسع هغه طاقت ته وائی چه انسان یو کار کوی او هیڅ تکلیف ورته نه وی، بنه په آسانئ سره ئے کوی، او طاقت دیته وائی چه انسان هغه کار کولے شی مګر په سختئ او مشقت سره، لکه بو ډا سړے روژے نیولے شی مګر تکلیف ورته ډیر وی۔

وَنَقَلْتُ ذٰلِكَ الْاِخْتِلَافَ كَمَا وَجَدْتُ.

ترجمه : او ما نقل کړو دا اختلاف (دا مختلف فیه حدیث) لکه څنګه چه ما موندلے دے (په کتب الاصول کښے).

تشریح : ددے تعلق د ماقبل وجدت خلافها سره دے۔ ددے مطلب دادے چه یو روایت دے په هغے کښے اختلافات دی، یو لفظ یو شان دے بل لفظ بل شان دے مختلف طرقو سره یو حدیث نقل شویدے، نو دا وائی چه مصابیح والا خو یو لفظ راوړیدے او ما درے څلور لفظونه راوړیدی، لکه داسے ئے وئیلی دی : (وفی روایة کذا، وفی روایة کذا) ، لکه دا به په باب دسنن الوضوء کښے راشی، دا بل تصرف شو۔

وَمَا اَشَارَ اِلَيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مِنْ غَرِيْبٍ اَوْ ضَعِيْفٍ اَوْ غَيْرِهِمَا بَيَّنْتُ وَجْهَهٗ غَالِبًا وَمَا لَمْ يُشِرْ اِلَيْهِ مِمَّا فِي الْاُصُوْلِ فَقَدْ قَفَّيْتُهٗ اِلَّا فِيْ مَوَاضِعَ لِغَرَضٍ.

ترجمه : او هغه حدیثونه چه هغے ته (امام بغویؒ) اشاره کړیده چه دا غریب دے یا ضعیف دے یا غیر ددے دواړو نه (مثلًا منکر دے) نو ما دهغے وجه بیان کړیده، غالباً (په اکثرو ځایونو کښے) او هغه احادیث چه هغے ته (علامه بغویؒ) اشاره نه ده کړے، کوم چه د اصولو په کتابونو کښے دی، نو پس یقیناً ما تابعداری کړیده ددے (علامه بغویؒ) مګر په بعضے ځایونو کښں د یو غرض د وجے نه.

تشریح : مصنف فرمائی چه امام بغویؒ په کتاب المصابیح کښے چه په کوم ځائے کښے حدیث ته غریب یا ضعیف یا منکر وغیره وئیلی دی او وجه ئے نه ده بیان کړے نو دهغے وجه ما بیان کړیده په اکثرو مقاماتو کښے، او کوم ځائے کښے چه وجه نه ده بیان شوے نو یا دهغه وجه نه

حه بغوی ورته اشاره ک یده حه دا غ یب دے یا منکر ... ما حه نه ده بیدا ک ے یا یا ... څه وجه

ده .او په بعضے مقاماتو کښې چه امام بغویؒ د حدیث په نوعیت باندے سکوت کړیدے، اودا ئے نه دی بیان کړی چه دا حدیث ضعیف دے یا منکر دے یا غریب دے نو ما هم د هغه تابعداری کړیده وجه مے همدغه شان پریخے ده او خاموشی مے اختیار کړیده۔

اِلَّا فِیْ مَوَاضِعَ : مګر په دے مقاماتو کښې هم بعضے داسے مواضع شته چه علامه بغویؒ نوعیت دحدیث نه وی بیان کړے لیکن ما بیان کړیدے چه دا حدیث ضعیف دے یا صحیح دے یا غریب دے، نوما د امام بغویؒ په دے بعضے ځایونو کښې مخالفت کړیدے، وجه دا ده چه په دغه حدیث کښې به ډیر اقوال وی، بعضے به ورته موضوع وائی، او بعضے ضعیف او بعضے به ورته حسن وائی نو ماچه کوم قول معتبر موندلے دے دهغے په لحاظ سره به دحدیث نه روستو اشاره کوم چه دا حدیث حسن دے یا صحیح دے اود وضع اوضعف قول صحیح نه دے۔

وَمَااَشَارَاِلَیْه : سره بل تصرف بیانوی۔ من غریب : دا بیان دما دے، ای من حدیث غریب. بَیَّنْتُ وَجْهَهٗ : یعنے وجه دغرابت اوضعف مے بیان کړیده. وَمَا لَمْ یُشِرْ اِلَیْهِ : بصیغة المعلوم من باب الافعال دے۔ مِمَّا فِی الْاُصُوْلِ : یعنے دا کوم حدیثونو ته چه امام بغویؒ اشاره نه ده کړے دا دهغه احادیثو نه دی چه اشاره ورته شویده په اصولو کښې، یعنے مثلًا ترمذی، ابوداود، بیهقی، ابن ماجه وغیره کښې هغے ته اشاره شوے وی، چه دا حدیث منقطع دے یا موقوف دے یا مرسل دے، اومصنف هغه نه وی ذکر کړی، نو هغه ما هم نه دی ذکر کړی. فَقَدْ قَفَّیْتُهٗ : د باب تفعیل نه دے په معنی د تابعداری کولو، اقتداء کولو سره، لیکن کتاب لولونکی مدرس له پکار دی چه دهغه ضعف اوصحت بیان کړی، دے دپاره چه اُمت ته صحیح دین بیان شی۔ فی ترکه : کښې ضمیر اشارے ته راجع دے ای فی ترك الاشارة۔ الا فی مواضع : یعنے په بعضے لږ شان مواضعو کښې ما دهغے وجه بیان کړیده لغرضٍ : د وجے دیو غرض نه کما مر، بل غرض دادے چه علامه طیبیؒ فرمائی : شیخ بغویؒ دمصابیح په خطبه کښې داوئیلی وو چه زه به منکر روایت نه راوړم، او بعضے مواضعو کښې ئے راوړیدے، نو زه به دهغے وجه بیانوم چه دا حدیث منکر دے، اظهاراً للواقع والنصیحة.

فائده : ۱- غریب هغه حدیث دے چه دهغه په سند کښې په یوه طبقه کښې صرف یو راوی وی، داپه دوه قسمه دے (۱) الغریب المطلق (۲) الغریب النسبی. **غریب مطلق** هغه دے چه د سند په اصل کښې غرابت وی یعنے دصحابی د طرفنه غرابت وی۔ **اوغریب نسبی** هغه دے چه دحدیث دسند په مینځ کښې غرابت په وی۔ یعنی دصحابونه خو ډیروخلقو روایت کړے وی لیکن دهغوی نه روستو یو راوی د یو نه نقل اوکړی. ۲- **ضعیف** هغه حدیث دے چه دهغه په سند کښې نه خو دصحیح شرائط پوره وی اونه د حسن .وللتفصیل موضع وهو علم المصطلح وشرح النخبة:۔

وَرُبَّمَا تَجِدُ مَوَاضِعَ مُهْمَلَةً وَذٰلِكَ حَيْثُ لَمْ اَطَّلِعْ عَلٰى رَاوِيْهِ فَتَرَكْتُ الْبَيَاضَ فَاِنْ عَثَرْتَ عَلَيْهِ فَاَلْحِقْهُ بِهٖ اَحْسَنَ اللّٰهُ جَزَاءَكَ.

ترجمه : اوډیر کرته به ته مومې مهمل (خالي) ځایونه (چه هلته به حواله نه وي ورکړې شوې) اودا په دې وجه چه زه به نه یم خبر شوې په راوي (مخرج) ددې باندې، پس ما سپین ځائې پرېښې دې، نو که چرته ته خبر (عالم) شې دهغه روایت په مخرج باندې نو پیوسته کړه دا مخرج په دې حدیث پسې (اوپه سپین ځائې کښې ئې اولیکه) الله تعالی دِې تاته ښائسته جزاء (بدله) درکړي.

تشریح : په مشکوٰة کښې ډیر داسې ځایونه راځي چه صرف رواه ..... لفظ راوړي، اومخرج دحدیث بیان نه کړي، چه چا دا روایت په خپل کتاب کښې راوړيدې، ددې وجه دا ده چه صاحب المشکوٰة دهغې مخرج نه دې پیدا کړې، نو ځکه سپین ځائې پریدی، نو اې مخاطبه ! که تا چرته مخرج پیدا کړو نو ورپورې پیوسته ئې کړه، لکه چه بعضې شراحو پدې خبره عمل کړيدې چه بين السطور کښې ئې هغه مخرج لیکلې دې.

مَوَاضِعَ مُهْمَلَةً : داهمال نه دې هسې پرېښودل، بې بیانه، سپین پرېښودل، اى مُبَيَّضَةً.

لَمْ اَطَّلِعْ عَلٰى رَاوِيْهِ : دلته دراوي نه مراد مخرّج دې یعنې راویستونکې ددې حدیث.

وَسَمَّيْتُ الْكِتَابَ بِمِشْكٰوةِ الْمَصَابِيْحِ وَأَسْأَلُ اللّٰهَ التَّوْفِيْقَ وَالْاِعَانَةَ وَالْهِدَايَةَ وَالصِّيَانَةَ وَتَيْسِيْرَ مَا اَقْصُدُهُ وَاَنْ يَّنْفَعَنِيْ فِي الْحَيٰوةِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ وَجَمِيْعَ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ.

ترجمه : اوما نوم کیښود دې کتاب ته په مشکاة المصابیح سره، اوزه سوال کوم دالله نه د توفیق او مدد او هدایت، اود(غلطۍ) نه د بچاؤ (حفاظت) اودآسان والي دهغه څیز چه زه ئې اراده کوم اودا چه فائده راکړي ماته زما په ژوند کښې اوپس د مرګ نه، اوټولو مسلمانانو سړو اوښځو ته، کافي دې ماله الله او هغه ډیر ښه کار ساز دې اونشته دګناه نه ګرځیدل او په اطاعت باندې قوت ، مګر په الله غالب او حکمتونو والا باندې دې.

تشریح : بِمِشْكٰوةِ الْمَصَابِيْحِ : دا نوم د مسمى سره بالکل موافق دې ځکه چه مشکوٰة طاقچې ته وائي اولکه څنګه چه په طاقچه کښې رڼرا راجمع کیږي اوډیره قوي وي په نسبت ددې چه په کولاؤ ځائې کښې لګیدلې وي، داکمزورې وي ځکه خوریږي، نو دغه شان کله چه احادیث شاړ وي اود راویانو نومونه ورسره نه وي، نو دا خواره کیږي اوکله چه دا دراویانو په ذکر کولو سره مقید (بند) کړې شي، نو خپل مکان کښې مضبوط شي، اود ذهن نه زر نه زائل کیږي۔ ۲–

دویمه وجه د تسمیه داسے ده چه شیخ عبد الحق الدهلوی په اللمعات کښے فرمائی : چه مشکاة هغه طاقچے ته وائی چه بنده وی اوپه دیوال کښے وی، او مصباح (ډیوه) په کښے کیښنودے شی، نو لکه څنګه چه ډیوه (مصباح) په طاقچه (مشکاة) کښے کیښنودے شی نو دغه شان کتاب المصابیح هم په کتاب المشکوة کښے کیښنودے شویدے، اودا پرے داسے مشتمل دے لکه چه طاقچه په ډیوه باندے مشتمله وی۔

۳- دریم دا چه هغه احادیث چه په دے کتاب کښے ذکر شویدی تول دمصباح (ډیوے) پشان روښانه دی نو دا کتاب ورلره دطاقچے پشان دے چه دا متعدد مصابیح (ډیوے) په کښے کیښنودے شویدی، تولے رنړا ګانے ئے راګیرے کړیدی .لانه فیه الدین ولیلها کنهارها۔

وَالصِّيَانَةَ : صیانت حفاظت ته وائی ذلته مراد حفاظت عن الاغلاط دے چه په احادیثو کښے غلط نشم .وَتَيْسِيْرَ مَا اَقْصُدُهٗ : او آسان والے دهغه څیز (دالله نه غوارم) چه زه ئے قصد او اراده لرم، دا هم عطف دے په التوفیق باندے نو داسئل مفعول ثانیٰ دے۔

وَاَنْ يَّنْفَعَنِيْ فِي الْحَيٰوةِ : اودا دعاء ئے الله قبوله کړیده چه تولو مسلمانانو سرو او ښځو ته الله ددے کتاب په وجه فائده رسولے ده، دا وجه ده چه داکتاب هرمکتبه فکر خلق لولی، مدرسین ئے تدریس کوی، کورونو کښے ئے زنانه لولی، تعلیمونه او وعظونه ددے کتاب نه کیږی، ډیر په اخلاص سره لیکلے شویدے.

وَلَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ . : ددے جملے ترکیب داسے جوړیږی: لاحول عن المعصية ولا قوة على الطاعة ثابتان لاحدٍ الا بالله العزيز الحكيم . حول په معنے دمنتقل کیدو، اود یوحالت نه بل حالت ته اوښتو ته وائی، دلته معنی ده منع کیدل اود ګناه نه اوړیدل۔

فائدة بديعة : ددے جملے دوه تتمے په احادیثو کښے راغلی دی (۱) په صحیح مسلم (۳۴۵/۲) کښے په العزیز الحکیم سره راغلے ده، په حاشیه دمشکوٰة (۱۴) کښے وائی : ذكر هذين الاسمين لانهماالواردان فی ختم هذه الكلمات دون ما اشتهر من ختمهما بالعلی العظیم (مرقاة : ۳۸/۱)۔

لیکن صحیح دا ده چه (۲) په العلی العظیم سره هم ددے تتمه شویده، دا الفاظ په ابن ماجه (۳۳۵/۲۰) رقم (۳۸۷۸) مجمع الزوائد (۶۱/۱۰) او الوابل الصیب ص (۹۲) کښې هم راغلی دی۔ وابن السنی فی عمل الیوم واللیلة رقم (۷۵۱) ص (۳۵) باسناد صحیح عن عبادة بن الصامت قال : قال رسول الله ﷺ : من تعار من اللیل فقال حین یستیقظ : لا اله الا الله وحده لا شریك له، له الملك وله الحمد وهو علی كل شئ قدیر، سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر ولا حول ولا قوه الا بالله العلی العظیم، ثم دعا رب اغفرلی غفر له ـ فتاوی الدین الخالص: ۱۹۷/۱) خود العزیز الحکیم والا روایت اصح دے، اودا روایت هم صحیح دے، نودواړه طریقے جائز اوصحیح دی، خوالعزیز الحکیم ډیره بهتره اوقوی ده په نسبت د العلی العظیم باندے، نو په دے وجه ددے العلی العظیم

مطلقاً نفی کول لکه چه صاحب المرقاة کړیده صحیح نه ده، بلکه اصل خبره هغه ده کومه چه مونږ دخلاصے پطور ذکر کړه.

فائده : هغه تصرفات چه صاحب المشکوٰة په مصابیح کښے کړیدی هغه په لاندے ډول اجمالًا ذکر کیږی تتمیماً للفائدة :

١ – اعلام ما اغفل. ٢ – تقسیم کل بابٍ علی ثلاثه فصول غالباً. ٣ – اسقاط الحدیث لاجل التکرار. ٤ – تتمیم الحدیث وضم بعض جُمَلِهٖ مع مختصره ٥ – الاختلاف فی الفصلین، من ذکر غیر الشیخین فی الاول وذکرهما فی الثانی ٦ – الاختلاف فی نفس الحدیث لاجل تشعب طرق الحدیث ٧ – قوله : ماوجدت هذه الروایة فی کتب الاصول، او وجدت خلاف هذه الروایة فی کتب الاصول. ٨ – نقل اختلاف الفاظ الحدیث کما کانت فی کتب الاصول. ٩ – بیان الوجه غالباً لما اشار الیه البغوی من غرابة الحدیث وضعفه ونکارته. ١٠ – مالم یشر الیه البغوی، ولم یذکر نوعیته من المنقطع والموقوف وغیرهما بیّن وجهه الامام الخطیب التبریزی رحمه الله فی بعض المواضع لغرضٍ من الاغراض.



بسم الله الرحمن الرحیم

حدیث دَ عمر بن الخطاب رضی الله عنه

۱- عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ، قَالَ رسول الله ﷺ: «اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَاِنَّمَا لِامْرِئٍ مَانَوٰى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ اِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهٖ فَهِجْرَتُهُ اِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ اِلٰى دُنْيَا يُصِيْبُهَا اَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ اِلٰى مَا هَاجَرَ اِلَيْهِ» . متفق علیه.

ترجمه: د عمر بن خطاب ﷺ نه روایت دے دا وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: نه دی معتبر عملونه مګر په نیتونو سره او نشته دے سړی لره مګر هغه څه چه نیت ئے کړے وی دهغے، نو هغه کس چه دهغه هجرت الله اورسول طرفته وی نو هجرت دده الله او رسول طرفته (مقبول) دے، اود چا هجرت چه دنیا طرفته وی چه ورسیږی هغے ته یا ښځے ته چه نکاح وکړی دهغے سره نو هجرت دده هغه څه طرفته دے چه ده ورته هجرت کړے دے.

تشریح: المباحث الستة فی حدیث عمر ﷺ: په دے حدیث کښے شپږ بحثونه دی. (۱) فضائل الحدیث (۲) اسماء الحدیث (۳) وجه د تقدیم الحدیث دکتاب او ابوابونه (٤) درجة الحدیث (۵) سبب ورود الحدیث (٦) فوائد الحدیث ومعناه واحکامه.

۱- اول بحث: فضیلت او مرتبه ددے حدیث:

(۱)- **امام شافعی**ؒ فرمائی چه دا حدیث نصف الاسلام دے ځکه اسلام یا اعمال الجوارح دی چه ظاهری بدن سره تعلق لری اویا اعمال القلب دی چه د باطن سره تعلق لری، او په اعمالو قلبیه ؤ کښے لوئی عمل نیت دے چه دارومدارد تولو اعمالو قلبیه ؤ دے په شریعت کښے، او په دے حدیث کښے دا عمل قلبی ذکر دے، نودا نصف الاسلام شو. دغه شان امام شافعیؒ او امام احمدؒ **او امام ابو داود**ؒ فرمائی چه اسلام په درے حدیثونو کښے راګیر دے (۱) یو داحدیث دے انما الاعمال بالنیات (۲) دویم حدیث دنعمان بن بشیر دے: الحلال بین والحرام بین الخ (۳) دریم حدیث دعائشه رضی الله عنها دے: (من احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهو رد).

(۲) اود **اسحق** بن راهویهؒ نه نقل دی چه دا حدیث څلورمه حصه داسلام ده، درے دغه پورتنی او څلورم داحدیث (ان خلق احدکم یجمع فی بطن امه اربعین یوماً).

(۳) اود **عبدالرحمن** بن المهدیؒ نه نقل دی :که ما چرته کتاب لیکلے نو ما به دا حدیث په هر باب کښے ذکر کولے۔ (٤) **ابو عبید**ؒ فرمائی : نبی اکرم ﷺ ټول کارونه دآخرت په دے کلمه کښے راجمع کړیدی : (من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد) اود دنیا ټول کارونه ئے په دے کلمه کښے راجمع کړیدی : (انما الاعمال بالنیّات) ځکه چه په هر کار کښے دنیت ضرورت دے که نیت نه وي نو عمل قابل د ثواب نه دے، اجر پرے نه ملاویږی۔

(۵) **امام ابو داود**ؒ فرمائی : دا حدیث پنځمه حصه داسلام ده، څلور دغه پورتنی حدیثونه او پنځم حدیث دتمیم داریؓ (الدین النصیحة) دے، کما فی جامع العلوم والحکم لابن رجب ص (۱٤) والمرعاة ص (۳۲) دا وجه ده چه یو شاعر فرمائی ۔

عُـمْـدَةُ الدِّیْـنِ عِـنْـدَنَـا کَـلِـمَـاتُ اَرْبَـعٌ مِـنْ کَـلِـمَـاتِ خَیْـرِ الْبَـرِیَّةُ

اِتَّـقِ الشُّبُهَـاتِ وَازْهَـدْ وَدَعْ مَـا لَیْـسَ یَـعْـنِیْکَ وَاعْـمَـلَنَّ بِنِیَّةُ

د عبرت قصه : یوه قصه کښے راځی چه یو شاګرد استاذ نه مشکوٰة شروع کړو په دے شرط چه د یو حدیث نه به بل حدیث ته نه ځو ترڅو چه عمل مو پرے نه وی کړے، نو چه دا حدیث ئے اووئیلو، شاګرد یو میاشت غائب شو کله چه راغلو نو استاذ ترے تپوس اوکړو : چرته تلے وے، هغه اووئیل په دے حدیث مے عمل کولو عمل پرے نه خلاصیږی ځکه چه هرشئ کښے نیت دے۔

دارنګ نور اقوال دعلماؤ په فضیلت او لویه مرتبه ددے حدیث کښے ډیر زیات دی، خو خلاصه داده چه چه دا حدیث یو د هغه احادیثو نه دے چه اسلام په دے باندے بناء دے اودا رومدار داسلام دے، او هر عمل کښے د نیت د تصحیح کوشش کول پکاردی چه دالله دپاره وی.

۲ – دویم بحث :

په اسماؤ ددے حدیث کښے : ددے حدیث ډیر نومونه دی، اوډیر والے د نومونو یو شئ دلالت کوی په عظمت شان د هغه شئ باندے، نو : ۱ – یو نوم ددے حدیث : حدیث النیّات دے ۲ – طَلِیْعَةُ الْکُتُب دے ځکه داپه اول دډیروکتابونو کښے راغلے دے لکه د صحیح بخاری، ریاض الصالحین، مشکوة، مصابیح وغیره ډیر داسے کتابونو په اول کښے راغلے دے (طلیعه جاسوس، او په اول سر کښے راختونکی ته وائی) ۳ – دریم نوم : حدیث عمرؓ فی باب النیة وهو المشهور۔

۳ – دریم بحث : وجه د تقدیم ددے حدیث په کتاب او ابوابو باندے دا ده چه طالب علم او مدرس ته تنبیه اوشی چه نیت خپل صحیح کړه، دارنګ مولف اشاره کوی دیته چه زما نیت خالص دے په لیکلو کښے۔

اهمیة النیة عند السلف :

هرکله چه نیت په شریعت مطهره کښے اوچته مرتبه ده، او مصنف ددے وجے نه په خپل کتاب کښے حدیث النیة د هرڅه نه مقدم راوړو، نو مونږ ددے په باره کښے دعلمائے کرامو اقوال ستاسو په وړاندے ذکر کوو، دے دپاره چه د نیت اهمیت نور هم واضح شی او په هر عمل کښے اخلاص

پیدا شی، دپاره ددے چه محل د قبولیت ته وراندے شی۔
۱ – ابن ابی الدنیا په منقطع سند سره د **عمر** ﷺ نه روایت کوی چه دویٔ اوفرمائیل : (لاعمل لمن لا نیة له، ولا اجر لمن لا حسبة له) ومعناه صحیح. (د هغه چا عمل نه صحیح کیږی چه نیت ئے نه وی او د هغه چا اجر نه کیږی چه د ثواب خیال ئے نه وی)
۲ – **یحیی بن ابی کثیر** نه نقل دی : (تَعَلَّمُوا النیة فانها اَبْلَغُ من العمل).
۳ – **زید الشامی** فرمائی : (اِنِّیْ لَاُحِبُّ ان تکون لی نیة فی کل شیٔ حتی فی الطعام والشراب) . (زه دا خوښوم چه زما په هر شی کښی نیت شی تردے چه په طعام او شراب کښی)۔
٤ – **داودالطائی** فرمائی: (رأیت الخیر کله انما یَجْمَعُهٗ حسنُ النیة، و کفاك بها خیراً وان لم تنصب)۔ (ما ټول خیرونه اولیدل چه په نیت کښی راجمع وو، او خیر په کښی ډیر دے او انسان پرے ستړے کیږی نه).
۵ – **سفیان الثوری** فرمائی : (ماعالجت شیئاً اشدَّ عَلَیَّ مِنْ نِیَّتِیْ لِاَنَّهَا تَتَقَلَّبُ عَلَیَّ) .(نور څیزونه په ما باندے دومره ګران مشکل نه دی څومره چه نیت دے ځکه دا ما نه بدلیږی رابدلیږی)۔
٦ – **یوسف بن اسباط** فرمائی : (تخلیص النیة من فسادها اشدُّ علی العاملین من طول الاجتهاد) ۔ (په عاملینو باندے د فساد نه دِ نیت خالص کول د اوګد اجتهاد (عبادتونو) او کوشش کولو نه ډیر سخت دی)۔ ----- ۷ – **مطرف بن عبدالله** فرمائی: (صلاح القلب بصلاح العمل، وصلاح العمل بصلاح النیة) . (د زړه روغیدل د عمل په روغیدو دی او د عمل روغیدل په نیت دی)۔
۸ – **عبدالله بن المبارک** فرمائی : (ربَّ عَمَلٍ صَغِیْرٍ تُعَظِمُهُ النِیَّةُ، وَرُبَّ عَمَلٍ کَبِیْرٍ تُصَغِرُهُ النِیَّةُ) .(ډیر کرت یو وړوکے عمل وی خو نیت ئے لوئی کړی او ډیر کرت لوئی عمل وی لیکن نیت ئے وړوکے کړی)۔ -- ۹ – **ابن عجلان** فرمائی: (لایصلح العمل الا بثلاثٍ : التقوی لله، والنیة الحسنة، والاصابة) .(د عمل جوړوالے په درے څیزونو دے : تقویٰ، صفا نیت، حق طلبی) ۱۰ – **فضیل بن عیاض** فرمائی : (انما یرید الله عز وجل منك نیتك وارادتك) .(الله ستا صحیح او اراده غواړی) په ابن ماجه کښے په حدیث دجابر بن عبدالله ﷺ کښے دی : (یحشر الناس علی نیاتهم)(انسانان به د قیامت په ورځ د نیت مطابق راپورته کولے شی) اخرجه ابن ابی الدنیا فی کتاب الاخلاص والنیة، کذا فی جامع العلوم والحکم ص (۱۹). لابن رجب . او دا واقعی خبره ده دنیا کښی ټول انسانان یو شان عمل کوی لیکن د چا مرتبه چه اوچتیږی دا په نیت او باطنی کیفیت سره۔
٤ – **څلورم بحث: درجة الحدیث** : چه آیا دا حدیث متواتر دے که مشهور اوکه خبر واحد؟ . نو په دے کښے درے اقوال دی: ۱ – **اول قول** دا دے چه دا حدیث متواتر دے، وجه د تواتر داده چه عمر فاروق ﷺ دمنبر دپاسه دجمعے په ورځ وئیلے دے، اوډیرو صحابه کرامو اوریدلے دے، لیکن دا قول ضعیف بلکه غلط دے وجه داده چه تواتر کښے نقل معین ضروری دے، ورنه داسے خو بیا هر حدیث متواتر دے .
۲ – **دویم قول** دا دے چه دا حدیث مشهور دے، وجه د شهرت ئے داده چه داحدیث د یحیی بن

سعید الانصاری نه دوه سوه یا اووه سوه کسانو اوریدلے دے (مرقاۃ) داقول هم ضعیف دے ځکه چه په مشهور کښے دا شرط دے چه د دووکسانونه به زیاتو نقل کړے وی اودلته صرف یحیی بن سعید مدارد حدیث دے، بره تول رُواۃ متفرد دی، لکه ابراهیم، علقمه اوعمر ﷺ. ۳- **قول راجح** قول دادے چه دا حدیث خبر واحد دے ځکه چه شروط المتواتر په کښے نشته، ځکه په هر دور کښے یو یو راوی نقل کړیدے تر یحیی بن سعید الانصاری پورے، په صحابه کرامو کښے عمرؓ، په تابعینو کښے علقمهؒ اوبیا د هغه شاګردانو ابراهیم، بیا د یحیی بن سعید شاګردانونقل کړیدے، اګرکه د یحیی نه روسته ډیروخلقو نقل کړیدے. اومتقدمینو علماؤ به داحدیث په ابتداء د کتابونو کښے ذکر کول.

مکمل سند ددے حدیث امام بخاریؒ داسے ذکر کوی : حدثنا الحمیدی قال حدثنا سفیان قال حدثنا یحیی بن سعید الانصاری قال اخبرنی محمد بن ابراهیم التیمی انه سمع علقمة بن وقاص اللیثی یقول : سمعت عمر بن الخطاب ﷺ علی المنبر یقول : سمعت رسول اللّٰه ﷺ یقول: (انما الاعمال بالنیات) ...الحدیث.(بخاری ۱/ ۲).

مسئله د حجیت، قطعیت او ظنیت دَ خبرِ واحد

اوس مونږ دلته یوه مهمه مسئله دحجیت د اخبار آحادو ذکر کوو، چه آیا دا حجت دے اوکه نه ؟ او آیا دا ظنیات دی اوکه یقینیات ؟ او دا ډیره مهمه مسئله ده ډیرو مقلدینو او باطل پرستو ددے نه غلطه فائده اخستے ده او صحیح احادیث ئے ددے په وجه په معمولی بهانو رد کړیدی.

نو اولاً : په دے خبره باندے اتفاق دے د ټولو مسلمانانو (دصحابو، تابعینو اودهغوی نه روسته محدثینو، فقهاؤ او اصولینو) چه خبر واحد چه ثقه راوی نقل کړی نو داحجت دے، کما فی شرح مسلم (۱/ ۲۲) صرف منکرین حدیث ترے انکار کوی بلا دلیل.

ثانیاً : اختلاف دے په دے کښے چه اخبار آحاد مفید د یقین دی دی او که دظن ؟

نو په دے کښے **درے قوله دی** (۱) جمهور علماء وائی : اخبار آحاد مفید دظن دی، بیا دعامو علماؤ او احنافو ترمینځ فرق دادے چه کوم شے ثابت شی په اخبار آحادو باندے نوپه هغے باندے به عمل کول واجب وی .لیکن داحنافو په نیز په اخبار آحادو فرضیت نه ثابتیږی، او دجمهورو علماؤ په نیز په اخبار آحادو فرضیت هم ثابتیږی لکه مسئله د فاتحه شوه، چه احناف وائی : فاتحه په مانځه کښې لوستل واجب دی او مطلق قرائت فرض دے ځکه فاتحه په خبر واحد سره ثابت ده او مطلق قرأت په قرآن سره ثابت دے او خبر واحد خو ظنی دے لهذا په دے سره فرضیت نه راځی.

(۲)- **او بعضے علماء** فرمائی چه اخبار آحاد مفید دیقین او قطعیت دی، اودا قول د امام احمد بن حنبلؒ ،امام مالكؒ، ابن حزمؒ اود بعضو شوافعو دے.

(۳) **دریم قول د محققینو** اوعام اهل حدیثو علماؤ، فقهاؤ، اصولینو، متکلمینو، او د مالکیه، شوافعو، حنابله ؤ او احنافو دے لکه قاضی عبد الوهاب المالکی، الشیخ ابواحمد الاسفرائنی، قاضی ابو الطیب الطبری، الشیخ ابو اسحق الشیرازی د شوافعو نه، او ابن حامد، ابو یعلی بن الفراء،

ابو الخطاب، ابن الزاعفرانی دحنابلو نه، او شمس الائمه السرخسی دحنفیه ؤ نه، اودا قول د اشاعرو هم دے لکه ابو اسحق الاسفرائنی او ابن فورك، او دا قول د شیخ الاسلام ابن تیمیه فی الفتاوی (١٨/٢١) او ابن القیم او حافظ ابن کثیر دے په الباعث الحثیث ص (٤٥) کښې اود امام سیوطی په تدریب الراوی (١/١٣٠) کښې اود حافظ ابن الحجر دے په بحث الحدیث الصحیح شرح النخبه ص (١٥) کښې، دارنګه ابن خزم ډیر نفیس بحث دے باره کښې لیکلے دے په الاحکام (١/١١٩ – ١٣٧) کښې، وکذا فی کتاب الام للامام الشافعی.

ددے ټولو مذکوره امامانو دا مذهب دے چه خبر واحد چه صحیح ثابت شی اومحتف بالقرائن وی نو هغه مفید دیقین اوقطعیت دے، او هغه خبر واحد چه متلقی بالقبول وی (ټول اُمت قبول کړے وی) نو دا مفید دیقین دے، برابره خبره ده که په باب داحکامو کښې دغه خبر واحد راغلے وی اوکه په باب د عقائدو کښې په دواړو صورتونو کښې مفید د قطعیت دے.

خبر واحد چه محتف بالقرینه وی (دلیل د صحت ئے موجود وی) مفید دعلم یقینی دے، اودا قول د جمهورو علمائے اُمت دے، تردے چه لوئے علماؤ دماتریدیه (وفی آخرهم الکوثری) اود ډیرو علمائے اشعریه ؤ، کبار المعتزله ؤ دا قول کړیدے چه د هغوئ نومونه دا دی:

١ – الامام الحافظ الخطیب البغدادی ٤٦٣ هـ (٢) امام الحرمین ابو المعالی الجوینی (٤٧٨) هـ ٣ – ابو حامد الغزالی (٥٠٥ هـ). ٤ – الامام فخر الدین الرازی. ٥- سیف الدین الآمدی (کما فی الاحکام (١/٣٣٧). ٦- ابن الحاجب. ٧ – سعد الدین التفتازانی. ٨ – حافظ ابن حجر. ٩- کمال الدین بن الهمال. ١٠ – ابن امیر الحاج. ١١ – جلال الدین السیوطی. ١٢ – شمس الدین السخاوی. ١٣ – شاه انور شاه الکشمیری. ١٤ – الکوثری.

(انظر الماتریدیة ٢/١١٤) للدکتور الشیخ شمس الدین رحمه الله.

شاه انور شاه په مقدمه د فیض الباری (١/٤٥) کښې داسے رقمطراز دے: (اختلفوا فی ان احادیث الصحیحین هل تفید القطع ام لا ؟، فالجمهور الی انها لا تفید القطع (هذا بزعمه) وذهب الحافظ الی انها تفید القطع، والیه جنح شمس الائمة السرخسی من الحنفیة، والحافظ ابن تیمیة فی الحنابلة، والشیخ ابو عمرو بن الصلاح، وهؤلاء وان کانوا اقل عدداً، الا ان رأیهم هو الرأی. (راجع الماتریدیة ٢/٤٥). (یعنی محققین علماء اګرکه کم دی لیکن قول ئے حق دے)

علامه ابن حزم رحمه الله فرمائی: والقسم الثانی من الاخبار ما نقله الواحد عن الواحد فهو اذا اتصل بروایة العدول الی رسول الله ﷺ وجب العمل به ووجب العلم بصحته ایضاً – والبرهان علی صحة وجوب قبوله قول الله عز وجل: ﴿فلولا نفر من کل فرقة منهم طائفة لیتفقهوا فی الدین ولینذروا قومهم اذا رجعوا الیهم لعلهم یحذرون﴾ فاوجب الله تعالی علی کل فرقة قبول نذارة النافر منها بامره النافر بالتفقه وبالنذارة ومن امره الله تعالی بالتفقه فی الدین وانذار قومه فقد انطوی فی هذا الامر ایجاب قبول محذوراته علی من امره بانذارهم

والطائفة فی لغة العرب یقع علی الواحد فصاعداً، وطائفة من الشئ بمعنی بعضه آھـ.

(یعنی خبر واحد چه کله صحیح متصل ثابت شی نو په هغې باندې عمل او یقین لرل واجب دی ځکه هر کله چه الله تعالیٰ د هرې فرقې نه د علم او تفقه فی الدین زده کولو دپاره وتلو باندې حکم اوکړو نو هغوی چه دین زده کړی نو قوم ته به ئې بیانوی او قوم باندې لازم دی چه د هغه په خبره به عمل او یقین کوی۔ ځکه هر کله چه الله تعالیٰ په تفقه حاصلولو حکم اوکړو نو ددې په ضمن کښې قوم ته حکم شو چه دا شخص کوم دین تاسو ته بیانوی په هغې به عمل او یقین کوئ)۔

بیا دې نه پس فرمائی : وبرهان آخر: وهو ان رسول الله ﷺ بعث رسولاً رسولاً الی کل ملك من ملوك الارض وکذلك بعث رسول الله ﷺ معاذاً الی الجند (موضع بالیمن) وجهات من الیمن وابا موسی الی جهة اخریٰ وهی زبید وغیرها، وابا بکر علی الموسم مقیماً للناس حجهم، وابا عبیده الی نجران، وعلیاً قاضیاً الی الیمن، وکذلك امیراً الی کل جهة اسلمت وجدت منه او قربت کاقصی الیمن والبحرین وسائر الجهات والارجاء والقبائل التی اسلمت بعث الی کل طائفة رجلاً معلما لهم دینهم، ومعلماً لهم القرآن الیهم ومفتیا لهم فی احکام دینهم وقاضیاً فیما وقع بینهم وناقلا الیهم مایلزمهم عن الله تعالیٰ ورسوله ﷺ، وهم مامورون بقبول ما یخبرونهم به عن نبیهم ﷺ.

(بل دلیل دا دې چه رسول الله ﷺ د زمکې هر بادشاه ته یو یو قاصد لیږلې دې او دارنګه جند (یمن) ته ئې معاذ لیږلې او ابو موسی اشعری ئې زبید ته او ابوبکر ئې په موسم د حج کښې په خلقو باندې امیر کړو چه هغوی باندې حج اوکړی او ابوعبیده ئې نجران ته او علی ئې یمن ته قاضی اولیږلو او نزدې او لرې اطرافو ته ئې یو یو امیر لیږلې دې او کومو قبائلو چه به اسلام راوړو نو هغوی ته به ئې د دین او د قرآن یو معلم (استاذ) او مفتی او قاضی لیږلو او دغه خلق مامور وو پدې چه د دغه قاصدانو خبره به قبلوی کوم چه هغوی ته د نبی د طرفنه خبر ورکوی)۔

بیا په (١١٢/١) کښې فرمائی : (فصح بهذا کله ان کل ما نقله الثقة عن الثقة مبلغاً الی رسول الله ﷺ من قرآن او سنة ففرض قبوله والاقرار به والتصدیق به واعتقاده والتدین به) . **(نو ددې بیان نه ثابته شوه چه یو ثقه راوی د بل ثقه راوی نه کوم قرآن او سنت د رسول الله ﷺ نه خلقو ته نقل کړی نو د هغې قبلول، په هغې باندې اقرار او د هغې تصدیق او په هغې باندې عقیده (یقین) او عمل کول فرض دی)۔**

بیا په (١١٨/١) کښې فرمائی : (ومن البرهان فی قبول خبر الواحد خبر الله تعالی عن موسی علیه السلام انه قال له رجل: اِنَّ الْمَلَاَ یَاْتَمِرُوْنَ بِكَ لِیَقْتُلُوْكَ، فصدقه وخرج نادّاً، وتصدیقه المرأة فی قولها : ان ابی یدعوك لیجزیك اجرما سقیت لنا، فمضی معها وصدقها). انتهی (الاِحکام فی اصول الاحکام: ١/١١٨) . **(بل دلیل په قبلولو د خبرواحد او په هغې باندې د یقین کولو دا دې چه الله د موسیٰ ؑ نه خبر ورکړیدې چه هغه ته چه کله سړی اووئیل چه فرعونیانو ستا دمرګ مشوره کړیده نو موسیٰ د هغه یو تن تصدیق (یقین) اوکړو او د هغوی نه اووتو۔ او په مدین کښې ئې د یوې ښځې زنانه قول**

باندے تصدیق (یقین) اوکړو چه هغے ورته اووئیل زما پلار تا غواړی چه تاته زمونږ د خړوبولو بدله درکړی نو د هغے تصدیق ئے اوکړو او ورسره لاړو۔

حافظ ابن حجر په شرح النخبه ص (٢٠) کښے د خبر واحد محتف بالقرائن درے اقسام بیان کړیدی، یو دا چه کوم احادیث چه بخاری او مسلم دهغے په صحت باندے اتفاق کړے وی، اود هغوی د شرط مطابق وی، نو دا محتف بالقرائن اخبار آحاد دی ځکه بخاری او مسلم داسے کتابونه دی چه ټول امت ددے په صحت باندے اتفاق کړیدے، دارنګه بخاری او مسلم په باب د صحت اوضعف دحدیث کښے ماهرین وو، دا وجه ده چه په امت کښے هیڅ یو مسلمان د بخاری اومسلم احادیث کوم چه د دوئ د شروطو برابر وی، نه دی رد کړی، احناف وی که اهل ظواهر، شوافع وی که حنابله او که مالکیه وی۔ نو دا دلیل دے ددے خبرے چه :

١- د دوئ احادیث اګرکه اخبار آحاد وی، یا هغه احادیث چه د دوی د شرط مطابق وی، او په نورو کتابونو کښے ذکر وی، او اخبار آحاد وی نودابه هم مفید دیقین او قطعیت وی۔ ٢- دارنګه هغه احادیث چه دهغے دپاره طرق متعدده وی، په ګڼرو طرقو سره نقل وی، او حد التواتر ته نه وی رسیدلی، په درجه دمشهور کښے وی، نودا هم خبر محتف بالقرینه دے، لکه چه په دے باندے ابو منصور البغدادی او ابو بکر ابن الفورك قول کړیدے چه دا حدیث به هم مفید للیقین وی.

(٣) - دریم هغه احادیث چه غټو غټو امامانو نقل کړے وی، لکه مثلاً احمد بن حنبل، امام مالك، سفیان الثوری، امام شافعی او ددے په شان نورئے په سند کښے راغلے وی، نودا حدیث به هم مفید للیقین وی، ځکه دا علماء په دے سند کښے راتلل دا قرینه ده ددے خبرے چه دا حدیث یقنیی دے، ځکه چه مثلًا د یو شخص سره امام احمد یا امام مالك یا سفیان ثوری مخامخ داخبره اوکړی چه دا حدیث صحیح دے اوزما استاذ هم ثقه دے، ترنبی اکرم ﷺ پورے نودده به ضرور یقین راځی په صحت ددے حدیث باندے.

د شیخ الاسلام ابن تیمیه نه په فتاوی (١٨/٦-١٦) کښے تپوس شویدے چه : (اذا صح الحدیث هل یکون صدقاً ؟) یعنے کله چه حدیث صحیح ثابت شی نو آیا مفید د یقین دے اوکه نه ؟ نو هغه تفصیلی جواب ورکړیدے چه اختصارئے دا دے چه :

په صحیح حدیث کښے ډیر انواع دی، یو صحیح هغه دے چه متواتر وی لفظاً اومعنیً، لفظاً لکه (من کذب علی متعمداً فلیتبؤ مقعده من النار) او متواتر معناً لکه احادیث الشفاعة، او احادیث رؤیة الرب تعالیٰ او احادیث الحوض وغیر ذلك۔ بله نوع داده چه ټولو مسلمانانو هغه قبول کړے وی، او عمل ئے پرے کړے وی لکه چه عمل ئے په احادیث الشفاعة اوحدیث الغرة فی الجنین، او احادیث سجود السهو باندے کړیدے.

دریمه نوع : احادیث الصحیحین (بخاری اومسلم) دی، نودا ټول (درے واړه نوعے) مفید دعلم

یقیـنـی اوقـطـعیت دی، او عمل په داسے احادیثو باندے فرض دے، دلیل داحدیث دے چه : (لا تجتمع امتی علی الضلالة......الحدیث) . (لکه ددے تحقیق روستو په باب الاعتصام کښے راروان دے).

دارنګه حافظ ابن کثیر په الباعث الحثیث (٤٥) کښے فرمائی :

ان ابـن الـصـلاح حـکـی ان الامة تـلـقـت هذین الکتابین بالقبول سوی احرف یسیرة انتقدها بعض الحفاظ کالدارقطنی وغیره، ثم استنبط (ای ابن الصلاح) من ذلك القطع بصحة ما فیها من الاحادیث لان الامة معصومة مـن الـخـطـاء، فـمـا ظنت صحته ووجب علیها العمل به لابد وان یکون صحیحاً فی نفس الامر وهذا جیّد، وقد خـالف فـی هـذه المسئلة الشیخ محی الدین النووی وقال : لایستفاد القطع بالصحة من ذلك، قلت : وانا مع ابن الصلاح فیما عول علیه وارشد الخ . (ابـن الصلاح نقل کړیدی چه امت دا دواړه کتابونه قبول کړیدی سویٰ د بـعـض څو حرفونو نه چه هغے باندے بعض حفاظو نقدونه کړیدی ـ بیا ابن صلاح ددے نـه دا مستـنـبـطـه کـړیده چه پدے کتـابـونـو کـښې کـوم حدیثونه دی هغه ټول مفید د یقین او قـطـعیت دی ځکه امت معصوم دے ددے نه چه په خطاء باندے اجماع اوکړی نو کوم احادیث چه صـحیح ثابت شی هغه به مفید د یقین وی او پدے خبره کښې امام نووی مخالفت کړیدے او دا ئے وئیلی دی چه ددے نه قطعیت نه معلومیږی ـ مګر ابن کثیر فرمائی زه د ابن صلاح سره یم) ـ

امام نووی داخبره کړیده چه اخبار آحاد مفید د ظن دی، کما فی شرح مسلم (١/٢٢) دلیـل ئے دا ذکـر کـړیدے چه پدے کښے احتمال الغلط والو هم والکذب راتلے شی، اوکله چه احتمال راشی نـو یـقـیـن نـه پـیـدا کیږی، لهذا خبر واحد مفید دظن دے اودا بعینهٖ مرکزی دلیـل دے د هغه علماؤ چه خبر واحد ته ظنی وائی ـ ددے **دلیل نه جواب** دا دے چه احتمال په دوه قسمه دے :

١ – یو هغه احتمال دے چه ناشئ (پیدا شوے) وی د دلیـل په بنیاد .

٢ – دویـم هـغـه احتـمـال دے چـه پـیـدا شـوے وی د مـجرد رائے په بنیاد باندے نو د خبر واحد په قـطـعیـت کښے مضر اولنے احتمال دے چه پیدا شوے وی د دلیـل نه، چه دلیل موجود وی په دے خبـره چه دے فلانی راوی به دروغ وئیل یا به خطاء کیدلونو بیا مفید د یقین نه دےـ او حال دا چه دا احتـمـال مدفوع دے په خبر واحد صحیح کښے، ځکه چه مونږ خو دا شرط لګولے دے چه خبر واحـد چه صحیح ثابت شی نو هغه مفید للیقین دے، او چه کله صحیح ثابت شی نو دا احتمال دهـغـه پـه قـطـعیـت کښے مضر نه دے، ځکه چه کوم راوی دروغژن وی اومتهم بالکذب وی نو دهـغـه روایت تـه څـوك صـحـیـح نـه وائی، بلکه متروك ورته وائی .او چه ډیر خطاء کیږی دهغه روایت ته منکر وائی، کما فی شرح النخبه ص (٦٩) .

بـلـه وجه داده چه که داسے احتمالات ناشئه من غیر دلیل معتبر شی نو په دنیا کښے به دهیڅا خبره یقینی اوصحیح نشی، ځکه تاته به مثلًا یو عالم اووائی چه فلانی ځائے کښے ترك واوړیدو نـو تـه بـه پـه دے باندے یقین نه کوے، ځکه چه احتمال شته چه دا دروغ وی، اودا خبره خو باطله

ده، نو ثابته شوه چه احتمال ناشئ عن غیر دلیل مضر نه دے په قطعیت دخبر واحد کښے۔ دغه شان احتمال الغلط خو په متواتر کښے هم راتلے شی، چه کیدے شی راویان د حدیث متواتر ټول غلط شوی وی، نو بیا خو پکار ده چه متواتر هم مفید دقطع او یقین نشی، فتامل !۔

دارنګ په خبر واحد کښے چه کوم احتمال دغلطتیا دے نودا احتمال ختمیږی په متابعاتو او نورو روایاتو سره، نو په دے کښے احتمال دغلطئ نه پاتے کیږی۔

بیا حافظ په شرح النخبه ص (٢٠) کښے وائی چه کوم کسان دظنیت دخبر واحد قائل دی، نو هغوی هم داخبره نه نفی کوی چه هغه خبر واحد چه محتف بالقرائن وی، هغه مفید د یقین اوعلم نظری دے۔ امام نوویؒ په شرح د مسلم ص (١٥) کښے دابو عمرو ابن الصلاح قول نقل کړیدے چه: جمیع ما حکم مسلم رحمه الله بصحته فی هذا الکتاب فهو مقطوع بصحته، والعلم النظری حاصل بصحته فی نفس الامر، وهکذا ماحکم البخاری بصحته فی کتابه وذلك لان الامة تلقت ذلك بالقبول سوی من لا یعتد بخلافه ووفاقه فی الاجماع ۔ (ټول هغه احادیث چه امام مسلم په هغے باندے د صحت حکم کړیدے نو دا یقینی صحیح دی او ددے په صحت باندے په نفس الامر کښں علم نظری (یقین) حاصل دے، او دغه شان خبره د بخاری باره کښں هم ده او ددے وجه دا ده چه امت دا قبول کړیدی سوئ د هغه چا نه چه په اجماع کښں د هغوی مخالفت او موافقت لره څه اعتبار نشته)

بیا فرمائی : (والذی نختاره ان تلقی الامة للخبر المنحط عن درجة التواتر بالقبول یوجب العلم النظری بصدقه، خلافاً لبعض محققی الاصولیین حیث نفی ذلك بناء علی انه لا یفید فی حق کل منهم الا الظن، وانما بکله، لانه یجب علیه العمل بالظن والظن قد یخطئ) .(هغه خبره چه مونږ ئے غوره کوو چه امت یو خبر چه د تواتر نه لاندے درجے والا وی قبول کړی نوُ د هغے په صدق باندے علم نظری واجبیږی خلاف دے بعض اصولینو لره چه هغوی دا نفی کړیدے الخ)

بیا وائی : (وفی جزء له:ما اتفق البخاری ومسلم علی اخراجه فهو مقطوع بصدق مخبره ثابت یقیناً، لتلقی الامة ذلك بالقبول، وذلك یفید العلم النظری وهو فی افادة العلم کالمتواتر الا ان المتواتر یفید العلم الضروری، وتلقی الامة بالقبول یفید العلم النظری، وقد اتفقت الامة علی ان ما اتفق البخاری ومسلم علی صحته فهو حق وصدق).وانظر شرح العقیدة الطحاویة (١/٢٥٥) .(هغه احادیث چه بخاری او مسلم د هغے په راوړو اتفاق کړے وی نو د هغوی د راویانو په صدق باندے یقین کړے شویدے او یقیناً ثابت دی ځکه امت دا قبول کړیدی او دا مفید د علم نظری دی او دا د علم یقینی په افاده کولو کښں د متواتر په شان دی مګر دومره ده چه متواتر مفید د علم ضروری (بدیهی) دے او دا د امت قبلول مفید د علم نظری دی۔ او امت پدے اتفاق کړیدے چه بخاری او مسلم چه په کوم روایاتو اتفاق کړیدے هغه حق او رشتینی دی)۔

بیا وائی : وقد کنت امیل الی ان ما اتفقا علیه فهو مظنون واحسبه مذهباً قویاً، وقد بان لی الآن انه لیس کذلك، والصواب انه تفید العلم (ای الیقین).(شرح مسلم : ١/١٥) . (یعنی زه اول کښں دے خبرے ته

مائل اوم چه بخاري او مسلم چه په كوم احاديثو اتفاق كړيدي هغه باندې ظني علم راځي او دا راته قوي مذهب ښكاريدو ليكن اوس راته ښكاره شوه چه خبره دغه شان نه ده بلكه حقه دا ده چه دا احاديث مفيد د علم يقيني دي)۔

امام نووي چه دا خبره كړيده چه تلقي د امت دليل د قطعيت نه دې بلكه صرف د وجوب العمل دليل دې نو دا خبره بې دليله ده ځكه هر كله چه امت پدې باندې بې چون وچرا عمل كوي نو دا مستلزم دې يقين كولو لره په هغې باندې۔ او څه مانع دې د يقين كولو نه په هغې باندې كله چه هغه صحيح ثابت وي۔ او هر احتمال قطعيت نه ختموي، بلكه دا چه امت چه كله عمل كوي نو هغوي نفي د قطعيت نه كوي۔

په مكانة الصحيحين (١٣٨) كښې ملا خاطر وائي : ولم يكن ابن الصلاح هو اول من قال بذلك، بل سبقه ائمة من اهل الحديث والنقد من الحفاظ– قال الحافظ العراقي رحمه الله : ان ما ادعاه (اى ابن الصلاح) من ان ما اخرجه الشيخان مقطوع بصحته، قد سبقه اليه الحافظ ابو الفضل محمد بن طاهر المقدسي، وابو نصر عبد الرحيم بن عبد الخالق بن يوسف قالا : انه مقطوع به، انتهٰى.

(التقييد والايضاح ص : ٤١، بحواله مكانة الصحيحين ص (١٣٨).

(ابن صلاح اول دا خبره نه ده كړې بلكه د هغه نه مخكښې د اهل الحديث نه ډير امامان او نقاد حافظانو ديته سبقت كړيدې ۔ حافظ عراقيّ فرمائي : د ابن صلاح نه مخكښې علامه ابوالفضل محمد بن طاهر المقدسي او ابونصر هم دا خبره كړيده چه دا احاديث د بخاري او مسلم مفيد د يقين دي)

حافظ ابن حجر فرمائي : وممن صرح بافادة ما اخرجه الشيخان العلم النظري الاستاذ ابو اسحق الاسفرائني، ومن ائمة الحديث : ابو عبد الله الحميدي وابو الفضل ابن طاهر وغيرهما.شرح النخبة) ص (٩).وكل هؤلاء قبل ابن الصلاح . **(او د شيخينو احاديث مفيد د علم نظري يقيني دي دا خبره ابواسحاق الاسفرائيني هم كړيده او د امامانو د حديث نه امام حميدي، او ابن طاهر وغيره كړيده چه دا ټول د ابن صلاح نه مخكښې تير شويدي)۔**

په مكانة الصحيحين ص (١٤٠) كښې فرمائي : ولهذا كان جمهور اهل العلم من جميع الطوائف على ان خبر الواحد اذا تلقته الامة بالقبول تصديقاً له او عملاً به، انه يوجب العلم.وهذا هو الذى ذكره المصنفون فى اصول الفقه من اصحاب ابى حنيفة ومالك والشافعي واحمد الا فرقة قليلة من المتاخرين اتبعوا فى ذلك طائفة من اهل الكلام، انكروا ذلك.ولكن كثيراً من اهل الكلام --او اكثرهم -- يوافقون الفقهاء، واهل الحديث والسلف على ذلك، هو قول اكثر الاشعرية،وابى اسحق، وابن فورك، واما الباقلاني فهو الذى انكر ذلك، وتبعه مثل ابى المعالى، وابى حامد، وابن عقيل، وابن الجوزى، وابن الخطيب.والاولى هو الذى ذكره القاضي عبد الوهاب وامثاله من المالكية، وهو الذى ذكره ابو يعلى، وابو الخطاب، وابوالحسن بن الزاغوني من الحنبلية، وهو الذى ذكره شمس الدين السرخسي وامثاله من الحنفية.واذا كان الاجماع على تصديق الخبر موجباً للقطع به، فالاعتبار فى ذلك باجماع اهل العلم

بالحديث، كما ان الاعتبار في الاجماع على الاحكام باجماع اهل العلم بالامر والنهي، آه.

(يعني ددي وجه نه جمهور اهل علم د تولو طوائفو نه پدي خبره دي چه خبر واحد چه كله امت قبول كړي او تصديق او عمل ئي پري كړي وي نو دا علم يقيني ثابتوي او دا هغه خبره ده چه مصنفين د اصول الفقه د شاگردانو د ابوحنيفه، مالك او شافعي او احمد ذكر كړيده مگر يوه معمولي فرقه د متأخرينو پدي كښ د اهل كلام والو پسي روان شويدي او ددي خبري نه ئي انكار كړيدي. ليكن اكثر اهل كلام هم د فقهاء او اهل الحديث او سلفو پدي كښ موافق دي او دا قول د اكثر اشعريه ؤ ابواسحاق، ابن الفورك دي الخ او كله چه پدي خبره اجماع د اهل الحديث شوه چه يو خبر صادق شي نو دا به موجب د يقين وي نو بس همدي اجماع له به اعتبار وي (او ددي مخالفت له به اعتبار نه وي) ځكه په باب د روايت كښ اجماع د محدثينو له اعتبار دي او په باب د احكامو كښ اجماع د هغه علماؤ له اعتبار دي چه پو هه وي په امر او نهي باندي))

دغه شان حافظ په شرح النخبه ص (٢٧) كښي داخبره هم ذكر كړيده چه دا دري انواع د خبر واحد محتف بالقرائن چه مونږ ذكر كړل نو دا مفيد د يقين دي، خو يقين پري د هغه چا حاصليږي چه هغه عالم بالحديث وي، او متبحر وي په باب داحاديثو كښي او عارف وي په احوالو دراويانو او عللو داحاديثو باندي، اوچاته چه دا علم يقيني نه حاصليږي نو هغه په دي وجه چه هغه كښي دا صفات نه وي موجود، اودا ضروري نه ده چه هر شخص ته به علم يقيني افاده كوي.(لكه مثلاً يوسړي ته په يو شئ يقين وي، د بل سړي به په دغه شئ گمان وي، دبل به شك وي، بل ترې منكر وي، دا د تعلق او تجربه اودلائلو په وجه وي، يو سړي سپوږمۍ ته ختلي وي، بل هسي گمان لري، بل وائي دابه څنگه اوشي، بل وائي نشي كيدلي، دغه شان دعلم الحديث او رواية الحديث مثال هم دي نوكه د يو انسان شك وي په يوه خبره كښي نو ددي نه دا نه لازميږي چه د تولو انسانانو دي هم په كښي شك وي. فتدبر!.

شيخ الاسلام ابن تيميه په مجموع الفتاوى (٤٨/١٨) كښي فرمائي:

وايضاً فالخبر الذي تلقاه الامة بالقبول تصديقاً له او عملاً بموجبه يفيد العلم عند جماهير الخلف والسلف وهذا هو في معنى المتواتر لكن من الناس من يسميه بالمشهور والمستفيض، ويقسمون الخبر الى متواتر ومشهور وخبر واحد، واذا كان كذلك فاكثر متون الصحيحين معلومة متقنة تلقاها اهل العلم بالحديث بالقبول والتصديق، واجمعوا على صحتها واجماعهم معصوم من الخطاء كما ان اجماع الفقهاء على الاحكام معصوم عن الخطاء، ولو اجمع الفقهاء على حكم كان اجماعهم حجة، وان كان مسند احدهم خبر واحد، او قياس، او عموم فكذلك اهل العلم بالحديث اذا اجمعوا على صحة خبر، افاد العلم، وان كان الواحد يجوز عليه الخطاء، لكن اجماعهم معصوم عن الخطاء، انتهىٰ.

(يعني هغه خبر چه امت قبول كړي وي نو دا مفيد د علم يقيني دي د جمهورو سلفو او خلفو په نزد او دا په معني د خبر متواتر كښ دي ليكن بعض خلق ورته د مشهور او مستفيض نوم

ورکوی او خبر درے اقسامو ته تقسیموی، متواتر، مشهور او خبر واحد ته نو ددے وجه نه د صحیحینو احادیث خو محدثینو قبول کړیدی او پدے ئے تصدیق کړیدے او ددے په صحت ئے اجماع کړیده او د هغوی اجماع د خطائی نه محفوظ ده لکه څنګه چه اجماع د فقهاؤ په احکامو باندے د خطائی نه محفوظ ده، او که فقهاء په یو حکم اجماع اوکړی نو د هغوی اجماع به حجت وی اګرکه دلیل ئے خبر واحد یا قیاس یا عموم وی نو دغه شان اهل الحدیث چه کله په صحت د یو خبر باندے اجماع اوکړی نو دا به مفید د علم یقینی وی اګرکه په یو تن باندے خطائی راتلل ممکن دی لیکن اجماع د هغوی د خطائی نه محفوظ ده۔ انتهی)

بیا دے نه یو څلور کرښے پس فرمائی : وقوله انما الاعمال بالنیات هو مما تلقاه اهل العلم بالقبول والتصدیق ولیس هو فی اصله متواتراً بل هو من غرائب الصحیح، لکن لما تلقوه بالقبول والتصدیق صار مقطوعاً بصحته–وفی السنن احادیث تلقوها بالقبول والتصدیق کقوله ﷺ : (لا وصیة لوارث) فان هذا مما تلقته الامة بالقبول والعمل بموجبه وهو فی السنن لیس فی الصحیح)، انتهیٰ.

(او دا قول انما الاعمال بالنیات د هغه احادیثو نه دے چه اهل علمو قبول کړیدے او تصدیق ئے پرے کړیدے او دا په اصل کښ متواتر نه دے بلکه غریب صحیح دے لیکن هرکله چه دوی په قبلولو او تصدیق کولو واخستو نو ددے په صحت باندے یقین اوشو او په سننو کښ ډیر احادیث دی چه هغه هم علماؤ قبول کړیدی لکه لا وصیة لوارث حدیث شو نو پدے باندے هم یقین لازم دے) مجموع الفتاوی : (١٣/٣٥٠)، وانظر ایضاً شرح العقیدة الطحاویة (١/٣٥٥).

تنبیه : دَ خبر واحد د ظنیت د عقیدے تاریخ :

دا خبره پیژندل ضروری دی چه دا اختلاف په اخبار آحادو کښے چه واقع شویدے نو دا دکوم وخت نه دے ؟ نو د صحابه کرامو د زمانے نه تر دمعتزلو پیدا کیدو پورے په دے خبره اتفاق وو، چه خبر واحد مفید د یقین دے، او عقائد او احکام دواړه پرے ثابتیږی، اود صحابه کرامو په دور کښے دا اختلاف نه وو، چه آیا دا ظنی دے اوکه یقینی، لیکن کله چه واصل بن عطاء دحسن بصریؒ دمجلس نه جدا شو، او خپل ملګری ئے پیدا کړل چه هغے ته معتزله وائی، هغوی مختلف باطلے عقیدے اختیار کړے، چه یو په کښے دا عقیده هم وه چه اخبار آحاد دا ظنی دی، اوپه دے باندے عقیده نه ثابتیږی ، اودا نظریه ئے په دے وجه اختیار کړه چه په دے سره خپلے باطلے عقیدے ثابتے کړی، ځکه چه چا به ورته اوونیل : دا ستاسو خبره د فلانی حدیث نه خلاف ده، نو هغوی به اوونیل : دا خو خبر واحد دے، او خبر واحد مفید دظن دے !!

بیا ددے عقیدے نه ډیرو باطل پرستو فائده واخستله، لکه قدریه، روافضو۔ دارنګ نن صبا دور کښے منکرینِ حدیث پرویزیان وغیره ؤ ته لاره پرانستلے شوه، ځکه هغوی ته چه څوك حدیث پیش کړی، نو هغوی وائی : پریده احادیث ځکه دا خو اخبار آحاد دی، او اخبار آحاد ظنی

دی، (وان الظن لا یغنی من الحق شیئاً)۔ لهذا کوم علماء چه دخبر واحد دظنیت قائل دی، نود دویٔ داخبره مرجوحه ده، کما فصلنا لك ذلك .والله اعلم.

او روستنو مقلدینو تریے غلطه فائده واخستله چه حدیث راشی په یوه مسئله کښیے دویٔ وائی دا د قرآن خلاف دیے، اوقرآن یقینی دیے، اوحدیث ظنی، او یقینی مقدم وی په ظنی باندیے۔ نودا خبره باطله شوه، بلکه حدیث د قرآن تفسیر وی، او هیڅکله صحیح حدیث د قرآن خلاف نه راځی، لکه امام ابن خزیمه رحمه الله فرمائی: لا اعرف حدیثین متضادین، فمن کان عنده شئ فلیأتنی لاولف بینهما۔ حاشیة نخبة الفکر ص: (٥٨) .(یعنی هیڅ داسیے دوه حدیثونه نشته چه دهغوی ترمینځه تعارض او ټکراؤ وی، که چا سره وی نو هغه دیے ما له راوړی چه زه په کښں تطبیق اوکړم).

٥ – پنځم بحث: سبب د ورود الحدیث:

ځینے علماؤ داخبره کړیده چه دا حدیث په باره د هغه شخص کښیے وارد دیے چه مهاجر شویے وو دپاره د نکاح د ام قیس لکه طبرانی فی المعجم الکبیر رقم (٨٥٤) کښیے د ابن مسعود ﷺ قول نقل کړیدیے (کان فینا رجل خطب امرأة یقال لها ام قیس فابت ان تتزوجه حتی یهاجر فهاجر فتزوجها فکنا نسمیه مهاجرام قیس). کذا فی جامع العلوم والحکم ص(٢٦) ۔په مونږ کښں یو سړیے وو چه د یویے ښځے (ام قیس) جرګه ئے اوکړه نو هغے تریے انکار اوکړو مګر هله چه هجرت اوکړی نو ده د هغے دپاره هجرت اوکړو نو بیائے ورسره نکاح اوکړه مونږ به هغه ته مهاجر د ام قیس وئیلو) نو نبی اکرم ﷺ په مجلس کښیے دا حدیث ده ته واورولو اګرکه عبرت عموم د الفاظو لره دیے، نه خصوص د سبب لره، لیکن حافظ ابن حجر په فتح الباری (١/ ١٦) کښیے په دیے خبره رد کړیدیے او وئیلی ئے دی چه ما دا حدیث دمهاجر ام قیس باره کښیے چرته نه دیے موندلیے، اګرکه د مهاجر ام قیس حدیث شته لیکن ددیے حدیث په شان ورود کښیے نه دیے راغلیے.

بیا د صحابه کرامو په دور کښیے مجموعی طور سره دریے طائفے وو، یو هغه چه هجرت ئے صرف د الله د رضا دپاره کړیے وو (٢) دویم هغه چه هجرت ئے د الله د رضا اود امان طلب کولو دپاره کړیے وو (٣) دریم هغه چه د دنیا دپاره ئے کړیے وو، نودا دریم قسم په صحابه کرامو کښیے نه وو، سیوا د یو کس نه چه هغه ته مهاجر دام قیس وائی.

٦ – شپږم بحث: — فوائد الحدیث او تحقیق الالفاظ:

عن عمر رضی الله عنه: دا جار مجرور ظرف مستقر متعلق دیے مقدر پوریے چه هغه (یَرْوِیْ) فِعل دیے، یعنے یَرْوِیْ عَلْقَمَةُ عَنْ عُمَرَ ﷺ، او پوره سند مخکښیے دصحیح البخاری نه ذکر شو.

مختصر سوانح د خلیفه راشد عمر فاروق ﷺ: اسم کنیه ئے ابو حفص دیے، دویم خلیفه دیے دخلفاء راشدینو نه، اود فقهاؤ صحابو نه یو فقیه دیے ٣ – څلویښتم مسلمان دیے، په شپږم کال دنبوت باندیے ئے اسلام راوړیدیے، ده چه کله اسلام راوړو نود اسلام دعوت ښکاره شروع شو۔ ٤ –

فاروق ورتـه څـکـه وائـی چـه دده د اسـلام پـه جـه د اسـلام دعوت ښکاره شو۔ (۵) اول بیت المال اوجیل ده جوړ کړیدے۔ ٦- د ټـولـو نـه اول مسمٰی شویدے په امیر المؤمنین سره۔ ۷- دده په زمانه کښے فتنے ختمے شویدی۔ ۸- عراق او شام ده فتح کړیدی۔ ۹- ابو لؤلؤ چه دمغیره بن شعبهؓ مجوسی غلام وو، دے په مدینه طیبه کښے یوم الاربعاء د سحر په مانځه کښے شهید کړو.

اوسبب د قتل ئے داوو چه ابولؤلؤ د عمر فاروق ﷺ نـه مطالبه اوکړه چه مانه خراج (ټیکس) کم کړه، نو عمر فاروقؓ انکار اوکړو،ابو لؤلؤ قسم اوکړو چه زه به دے قتلوم، (لاجعلن لك رحی الحرب)، نو عمر فاروقؓ اوخاندل، نو د سحر په مانځه ولاړ وو چه دا وریسے راغلو او توره باندے ئے اووهلو .او شهید ئے کړو (ﷺ).

د شهید کیدو وجهٔ ئے دا وه چه دوئ به دا دعا غوښتله : (اللهم ارزقنا الشهادة فی سبیلك واجعلها فی بلد رسولك) (بخاری کتاب الحج)۔ ۱۰- او جنازه پرے صهیب ﷺ اوکړه۔ ۱۱- ټول عمر ئے (٦۳) کاله وو۔ ۱۲-کله چه دے شهید شونو ابن مسعودؓ اوفرمائیل : ذهب الیوم بتسعة اعشار العلم (نهه حصے علم ئے نن دځان سره یوړو) (وکان اشدهم فی الله) .۱۳- روایات منقوله دده (۵۳۹) دی او عالم په ډیرو باندے وو۔ دده دفتاویٰ نه یو مستقل کتاب لیکلے شویدے د (فتاوی عمرؓ) په نوم۔ ۱٤- سنه وفات (۲٤ هـ) ده .اوپه یوم الاحد فی اول المحرم (۱۵) قبرته اوسپارل شو۔ ۱۵- لس نیم کاله خلافت ئے کړیدے۔ نور مناقب به ئے په آخر دمشکوة کتاب المناقب کښے راشی.

ابْنَ الْخَطَّابِ : قاعده ۱: لفظ د ابن چه بین العلمین واقع شی نو عموماً د اول علم دپاره صفت وی اودویم تـه مضاف وی، لکه دلته ابن صفت د عمر دے او خطاب ته مضاف دے۔ ۲- کله چه د مخکښے عَلَم صفت وی نو همزه په کښے نه لیکلے کیږی او نه لوستلے کیږی۔ ۳- که په ابتداء کښ وی نو همزه به نه حذف کیږی نه لفظاً او نه کتابةً .اوکله چه ترے روستو زنانه راشی نو بیا لیکلے کیږی خو لوستلے کیږی نه، لکه حسین ابن فاطمةؓ.

قَالَ : (قاعده) : د قال دپاره یو قائل وی اویو فاعل، نو قائل داول قال علقمه دے، اوفاعل ئے عمرؓ دے، اود دویم قال قائل عمر دے او فاعل ئے نبی اکرم ﷺ دے .انما الاعمال بالنیات : لفظ دانما دحصر دپاره دے، نو تقدیر دمعنی داسے شو : (لا عمل الا بالنیة).

علامه کرمانیؒ فرمائی : دا دواړه جَمعے محلیٰ بلام الاستغراق دی، اودا مفید دحصر وی .دا حدیث په مختلفو الفاظو سره نقل دے لکه (۱) الاعمال بالنیات (۲) العمل بالنیة (۳) الاعمال بالنیة .اودیته روایت بالمعنی وائی، اودا څه نقصان نه پیدا کوی، مقصد د ټولو یو دے، الفاظ جدا دی.

د فعل او عمل ترمینځه فرق

دعمل اود فعل ترمینځه فرق دا دے چه (۱) په عمل کښے دوام وی، اوپه فعل کښے دوام نه وی چه همیشه کوم کار کیږی هغے ته عمل وائی اوچه صرف یو کرت دوه کرته اوشی نو دیته فعل

وائی۔ (۲) عمل د ذوی العقولو دپاره مستعمليږی لكه (وعملوا الصالحات)، او فعل عام دے لكه (يا ابا عمير ما فعل النُغَير) .(۳) عمل كښے قصد، توجه او فكر وی، اوفعل عام دے، حركة المرتعش فعل دے او عمل نه دے، كذا فی حاشية مير زاهد وملا جلال.

الاعمال نه مراد اعمال ظاهريه دی. النيات : نيات جمع دنيت ده، مشدد دے يا مخفف، نيت په لغت كښے قصد او ارادے ته وائی، او په اصطلاح د شرع كښے : (توجه القلب نحو الفعل ابتغاء مرضاة الله).

اقسام النية : نيت په دوه قسمه دے (۱) نيت د تمييز العبادة بعضها عن بعض، لكه تمييز دصلوٰة الظهر دصلوٰة العصر نه مثلاً، يا نيت د تمييز العبادات عن العادات، لكه تمييز دغسل د جنابت دهغه غسل نه چه د يخوالی يا د پاكرالی دپاره اوشی، او دا معنی دفقهاؤ په كتابونو كښے ډيره ذكر كيږی، اوديته : تمييز العمل عن العمل هم وائی.

(۲) دويم قسم نيت د تمييز المعبود عن المعبود دے، اوديته اخلاص هم وائی يعنے اِفراد المعبود بالعبادة، لكه تمييز بين اهل الاخلاص واهل الرياء والسمعة، چه مخلصين بندگان صرف د الله دپاره عبادت كوی، بل چاته ښودل، اوروَل غرض نه وی. خپل معبود يواځے كوی په عبادت سره۔ اورياكار خلق دمعبود سره نورو خلقو له هم برخه دعبادت وركوی، هغوی ته خپل عمل ښائی. اودا دويمه معنی د زهد او تصوف په كتابونو كښے ذكر كيږی.په دے حديث كښے نيت اگرچه دواړو اقسامو ته شامليږی، مگر دلته مقصود دويم قسم دے ځكه دلته نبی اكرم ﷺ د مخلص چه د الله د رضا طالب وی، اود غير مخلص چه د دنيا اود ښځو طلبگار وی ترمينځه فرق اوكړو. او انما لكل امرأ مانوىٰ كښے بيا دواړه قسمه نيتونه مراد كيدے شی.

فائدة النية : (تمييز عبادة الله عن غيره، وتمييز العبادة عن العادة) (د الله عبادت د غير الله نه جدا كول او عبادت د عادت نه جدا كولو دپاره نيت كيږی)۔

فائده : دنيت اوارادے ترمينځه فرق دا دے چه اراده اِصْدَارُ المراد ته وئيلے شی يعنے يو كار د عدم نه وجود ته راويستل، چه په هغے كښے دغرض اعتبار نه وی۔ د غرض نه مراد هغه غرض دے چه راجع وی فاعل ته.اونيت ديته وائی چه په هغے كښے دغرض اعتبار وی۔ داوجه ده چه د الله افعال معلل بالاغراض الراجعة اليه نه دی، نو (نَوَى اللّٰهُ) نه استعماليږی، او (اَرَادَ اللّٰهُ) وئيلے شی - يعنے د الله دپاره نيت نه استعماليږی بلكه اراده استعماليږی۔ دا فرق اكثری دے كله كله ديو بل په معنی كښے هم استعماليږی.

مسئله : محل د نيت زړه دے، اوپه ژبه باندے تلفظ كول په شرع كښے نه دی راغلی، بلكه : ۱- تلفظ ته علماؤ بدعت وئيلے دے، لكه شامی (۱/۲۷۹) كښے وائی : وفی الفتح عن بعض الحفاظ لم يثبت عنه ﷺ عن طريق صحيح ولا ضعيف انه كان يقول عند الافتتاح اصلی كذا ولاعن احد من الصحابة والتابعين، زاد فی الحلية ولا عن الائمة الاربعة، بل المنقول انه ﷺ كان اذا قام الی الصلاة كبر، وفی الدر المختار : اذ لم ينقل عن

المصطفى ولا الصحابة ولا التابعين بل قيل بدعة . (يعني د بعض حفاظونه نقل دی چه نيت د نبی ﷺ نه نه په صحيح سند ثابت دے او نه په ضعيف سند چه هغه په ابتداء د مانځه كښې داسے وئيلی وی چه زه دومره مونځ كوم۔ او نه د هيڅ يو صحابي او نه تابعي نه ثابت دی - او نه د څلورو امامانو نه بلكه د نبی عليه السلام نه خو دا نقل شويدی چه هغه به كله مونځ ته اودريدو نو الله اكبر به ئے اووئيلو او په در مختار كښې دی چه نيت په ژبه وئيل بدعت دے)

دغه شان ملاعلی قاری په مرقاة المفاتيح (۴۱/۱) كښې ليكی : (ولا يجوز التلفظ بالنية فانه بدعة، والمتابعة كما تكون في الفعل، تكون في الترك ايضاً، فمن واظب على فعل لم يفعله الشارع فهو مبتدع) .(يعنی په نيت باندے په ژبه سره تلفظ كول بدعت دے او د نبی ﷺ متابعت لكه څنګه چه په كولو د يو كار كښې كيږی نو دغه شان په پريخودلو كښې هم كيږی نو چا چه په كار باندے هميش والے اوكړو چه هغه شارع نه وو كړے نو دا بدعتی دے)۔

دغه شان عمدة الرعاية حاشيه شرح الوقايه (۱۵۹/۱) كښې علامه عبد الحی لكهنوی ليكی: ههنا ثلاث صور : احداها الاكتفاء بنية القلب، وهو مجزئ اتفاقاً، وهو الطريقة المشروعة المأثورة عن رسول الله ﷺ واصحابه فلم ينقل عن احد منهم انه تكلم بِنَوَيْتُ اوأنوِىَ صَلَاة كذا فی وقت كذا ونحو ذلك، كما حققه ابن الهمام فی فتح القدير (۲۳۲/۱) كذا فی الفتح (۸/۱.وابن القيم فی زاد المعاد (۶۹/۱) وقد فصلت ذلك فی السعاية، وفی رسالتی : احكام النفائس فی اداء الاذكار بلسان الفارس. وثانيها : الاكتفاء باللسان فلا يجزئ ذلك، وثالثها : الجمع بينهما وليس سنةً ولا مستحباً۔ مخلصاً.

(دلته درے صورتونه دی ۱- يو دا چه صرف د زړه په نيت اكتفاء اوكړی دا په اتفاق د علماؤ كافی ده او دا هغه مشروع طريقه ده چه د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابونه نقل ده ځكه د هغوی د يو تن نه دا هيچرے نده نقل چه هغوی نويتُ او انوی لفظ وئيلے وی، ۲- دويم دا چه صرف په ژبه اكتفاء اوكړی (زړه ئے حاضر نه وی) نو دا خو ناجائز ده۔ ۳- دريم دا چه دواړه راجمع كړی نو دا نه سنت ده او نه مستحب ده (بلكه بدعت ده). بيا متاخرينو چه دا خبره كړيده چه نيت په خوله باندے وئيل مستحب دی، ځكه چه دعوامو خلقو توجه نه برابريږی، نو چه كله تلفظ اوكړی نو د زړه توجه به تلفظ برابره كړی، نوداخبره غلطه ده، ځكه چه تلفظ كول بدعت شو، كما مرّ.

بله دا چه يو انسان دمانځه دپاره راروان شی نو دا دده نيت شو چه زه مثلًا د ماسپخين مونځ دپاره ځم، مثلًا يو شخص دده نه تپوس اوكړی چه چرته ځے نو دا ورته جواب كوی چه مانځه له ځم، نو زړه كښې ئے نيت شته، (اګركه مانځه ته د اودريدو په وخت به دوباره توجه كوی) نو دخولے وينا ته هيڅ ضرورت نشته بلكه كه بل څوك دا شخص په صف كښې ناست اوګوری نو پيژنی چه دا د مانځه په انتظار كښې دے نو بل شخص هم دده نيت پيژنی نودے خو به ئے په طريقه اولیٰ سره پيژنی . نو تلفظ ته هيڅ حاجت نشته، دا په دين كښې دځانه يوشے ورمنډل دی،

دین د برے نه راغلے دے، روستنو خلقو ته دا اختیار حاصل نه دے چه دوئ یو شئ ته ښه اووائی یا بد کله چه په خیر القرون کښې نه وی۔
علامه ابن القیمؒ په اغاثة اللهفان (۱۳۶/۱) کښې فرمائی چه په نیت کښې لس بدعات دی، بعضے دهغے نه تلفظ بالنیة دے، دارنګ اعوذ بالله مخکښې وئیل، آواز تیزول، تندے تیتول وغیره.
فائده : اعمال جمع ده، او نیّات هم جمع ده، قاعده دا ده چه کله جمع مقابل دجمع راشی نو انقسام دآحادو به په آحادو کیږی، تقدیر دعبارت داسے شو : ای کل عمل بنیته .بیا دلته جمع راوړے شوه، اشاره ده دیته چه نیتونه ډیر انواع لری. لکه څنګه چه اعمال ډیر انواع لری. کله په عمل سره مقصود دالله رضا وی، کله تحصیل الموعود وی، اوکله ځان بچ کول د وعید نه وی، اوپه کوم روایتونو کښې چه الاعمال بالنیة مفرد راغلے دے نو دهغے وجه دا ده چه محل دنیت زړه دے او زړه واحد دے، نوځکه نیت ئے هم واحد ذکر کړو۔ پاتے شو اعمال نو هغه دظاهر سره تعلق لری، او هغه متعدد وی نو دهغے جمع ذکر کول مناسب دی، یا دنیت رجع اخلاص ته کیږی او هغه واحد دے .۲ – دویمه وجه داده چه نیت شرعاً اولغةً معلوم دے چه توجه القلب او قصد ته وائی اودا خو خامخا په زړه کښې وی، نو تلفظ ته ضرورت رانغلو.
۳– دریم دا چه که تلفظ ددے دپاره کولے شی چه الله تعالی پرے خبرول غواړی، نو هغه دانسان حال وینی، او په زړه باندے پو هیږی، نو بیا دخولے تلفظ ته حاجت نشته. ٤ – کله انسان وائی : نیت مے کړے دزړه د اخلاصه، او کیدے شی چه ده په اخلاص سره نیت نه وی کړے نودا دروغ شو۔ نو ثابته شوه چه په خوله باندے نیتونه کول په سجده التلاوه کښې (لکه نویت لسجدة التلاوة الخ) او په روژه او جنازه وغیره کښې دا ټول بدعات دی.
بعضے خلقو (لکه ابن حجر الهیثمی) دا دلیل نیولے دے چه حاجی صاحب چه کله حج دپاره احرام اوتړی نو نیت به کوی اووائی به : اللهم انی ارید الحج فیسره لی الخ نو دے کښې تلفظ بالنیة راغلے دے. **جواب** دادے چه دا ئیت نه دے بلکه په خوله باندے دعاء غوښتل دی پس د نیت نه په زړه باندے۔ دارنګه دا شرعاً ثابت دے، اوددے نه علاوه په نورو ځایونو کښې ثابت نه دے، او په عباداتو کښې قیاسونه نه چلیږی. بالنیات : داظرف مستقر دے متعلق دے په نیز دجمهورو باندے په مقدر پورے، تقدیر دعبارت داسے دے : انما تصح الاعمال بالنیات، وتقبل بها .۲ – او په نیز دامام ابو حنیفهؒ او سفیان الثوریؒ ته منسوب دی چه تقدیر داسے دے : انما ثواب الاعمال واجرها بالنیات۔ ددے اختلاف نتیجه دا ده چه بعضے اعمال داسے دی چه آیا نیت په هغے کښې فرض دے اوکه نه ؟ لکه **اودس او غسل** نو :
۱– جمهور علماء فرمائی چه نیت په اوداسه کښې واجب دے۔ ۲– امام ابو حنیفهؒ اوثوریؒ وائی چه نیت یا سنت دے اویا مستحب دے، کما فی الهدایه (۵/۱). **دلیل** د احنافو دا دے چه : ۱– اودس

عبادت محضه مقصوده نه دے بلکه دا وسیله ده دپاره دمانځه او نیت په وسائلو کښې ضروری نه وی بلکه په عباداتِ مقصوده کښې نیت ضروری وی، نو په اوداسه او غسل کښې سنت یا مستحب شو دحدیث په وجه. ۲- دارنګ دوی اودس قیاس کوی په جامو وینځلو باندے لکه څنګه چه یو سړے جامې وینځی او نیت ئے نه وی، نو هغه جامې پاکے حسابیږی، نیت ئے کړے وی که نه، نودغه شان اودس هم دے په غیر د نیت نه صحیح کیږی، نیت په کښې ضروری نه دے. **بیا** په دوئ باندے سوال واردیږی چه تاسو په تیمم کښې ولے نیت ضروری ګڼړئ! نو جواب کوی چه په تیمم کښې په استعمالیدونکی څیز خاوره کښې ظاهراً تلویث دے، دارنګ د تیمم په لفظ کښې معنی دنیت پرته ده، څکه چه تیمم په لغت کښې قصد ته وائی، نو ثمره به داسے شی چه که چا اودس اوکړو په نیت د تبرید الاعضاء (ځان یخولو) نود احنافو په نیز ئے اودس اوشو، اګرکه دمانځه نیت ئے هم نه وو.

لیکن د احنافو ددے خبرے **جواب** دا دے چه نه منو داخبره چه په تیمم کښې نیت شرعی پروت دے، بلکه تیمم خو قصد الصعید دے اودا خو نیت شرعی نه دے، نو دکوم ځائے نه په کښې د نیت شرعی معنی راغله، کذا قال النووی فی المجموع (۱/ ۳۱٤) ـفتح الباری (۱/ ۲۱٤) ماجاء فی الوضوء).

بله دا چه که اومنو چه په تیمم کښې قصد پروت دے، نو ددے قصد ظاهریدل په عمل دمکلف کښې ضروری دی، دے دپاره چه ابتلاء پرے صحیح شی .او هرکله چه په تیمم کښې معنی د قصد پرته ده اودا قصد په عمل دمکلف (تیمم وهونکی) کښې ظاهر نشو (ددغه پرتے معنی قصد ئے اونکړو) نو په څه وجه دے مکلف ته دثواب حاصلونکے اووایو! څکه دا قصد خو په نفس الامر کښې په تیمم کښې پروت وو، د انسان په عمل کښې خو ظاهرنشو، فتدبر فانه دقیق!! (وهذا مثل لزوم تعیین النیة فی رمضان).

۳- **او جمهور** نیت ته واجب وائی په اودس او غسل او تیمم کښې کما فی (المجموع شرح المهذب (۱/ ۳۱۲) اوهمدا قول دے د زهری، ربیعه، مالك، لیث بن سعد، احمد بن حنبل، اسحق، ابو ثور، ابو عبید، داود، وهو قول جمهور اهل الحجاز ویروی عن علی بن ابی طالب ﷺ

په اوداسه کښې **د نیت په فرضیت باندے دجمهورو دلائل**:

۱- یودلیل عموم ددے حدیث دے، چه مراد د اعمالو نه اعمال ظاهریه دی .په حدیث کښې حصر دے چه صحت د عمل نشته مګر په نیت سره، نو په هر عمل کښې دصحت شرعی دپاره نیت ضروری دے .۲- **دویم دلیل** قرآن کریم دے: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ او اخلاص نه وی مګر په نیت سره، نو نیت لازم شو په هر عبادت کښې، او اودس او غسل وغیره هم عبادات دی نو نیت په کښې فرض شو. ۳- **دریم دلیل**: قرآن کښې دی: اذا قمتم الی الصلاة) ددے معنی ده اذا اردتم القیام الی الصلاة فتوضأوا لاجلها) (یعنی کله چه تاسو د مانځه اراده اوکړه نو اودس اوکړئ د وجه د مانځه نه) نو ګوره د مانځه په نیت باندے اودس کول ضروری شو نو نیت په اوداسه کښې فرض شو

(فتح الباری ١/ ٢١٤) ٤- **دليل** : دا دے چه نه منو دا خبره چه اودس وسيله ده، اوعبادت مقصوده نه دے، بلکه مونږ وايو چه اودس عبادتِ محضه دے، نبی اکرم ﷺ فرمائی : (الطهور شطر الايمان) ، او ايمان عبادت دے .کما فی مسلم (١/ ١١٨) دغه شان اودس عبادتِ مستقله دے، يواځے ذريعه نه ده مانځه ته، بلکه نبی اکرم ﷺ به دخوب دپاره هم اودس کولو۔ دغه شان نفسِ اودس عبادت دے، حديث شريف کښے دی : (ولا يحافظ على الوضوء الا مؤمن). کما فی المشکاة (١/ ٦٨) .

دارنګه د نبی اکرم ﷺ طريقه دا وه چه کله به ئے يو ځائے کښے اودس مات کړو او اوبه به لرے وے نو زر به ئے تيمم اووهلو، يو ځل ورته عبد الله بن عباسؓ عرض اوکړو، (يا رسول الله ! ان الماء منك قريب) (مسند احمد : ١/ ٢٠٣) اوبه خو نزدے دی، دا څه کوے ؟ نبی اکرم ﷺ ورته اوفرمائيل : (لعلی لا ابلغه) دمرګ پته نه لګيږی، ممکن ده اوبو ته د رسيدلو نه مخکښې دے اودسئ حالت کښې مرګ راشی۔ نودلته اودس خپله مستقل عبادت دے بغير دمانځه نه۔

٤- **دليل** : دغه شان بل حديث کښے دی : (وذلك انه اذا توضأ فأحسن الوضوء ثم خرج الى المسجد لايخرجه الاّ الصلاة لم يَخطُ خَطْوَةً الا رفعت له بها درجة وحط عنه بها خطيئة.فاذا صلى لم تزل الملائكة تصلى عليه مادام فی مصلاه-وفی رواية : مالم يؤذ فيه مالم يحدث فيه.الحديث_متفق عليه) ۔ نو په اوداسه سره ګناهونه زائل شويدی، اودا هله کيږی چه نيت په کښے اوکړے شی اوکه نيت په کښے اونه کړے شی نو بالاتفاق هيڅ ګناه نه رژوی، اوداسے اودس مامور به نه دے اونه پرے مونځ صحيح کيږی۔ داوجه ده چه په ستر العورة او ازالة النجاسة وغيره شرائطو دمانځه کښے نيت په احاديثو کښے نه دے راغلے او په اوداسه کښې راغلے دے کما سياتی فی موضعه،نو اودس اګرچه وسيله مانځه ته هم ده خو پخپله مستقل عبادت هم دے، دوه کماله په کښے جمع شو، وسيله جوړيدل او عبادة مستقله کيدل۔ لهذا نيت په کښے ضروری شو .

اوجواب ددغه قياس د اودس نه په جامو باندے دادے چه امام نووی په المجموع (١/ ٣١٠) کښے فرمائی چه څيزونه په دوه قسمه دی (١) يو افعال (٢) دويم تروك .نو په افعالو کښے نيت ضروری دے، لکه اودس، غسل وغيره، اوپه تروكُ کښے نيت نه دے ضروری لکه يو سړے دکور نه اوځی نودا نيت ضروری نه دے چه زه به زنا نه کوم، غلا به نه کوم .ولے چه دا د باب د تروك نه دی.

دارنګ حافظ په الفتح (١/ ١٠) کښے فرمائی چه ترك اګرچه فعل کف دے ليکن په هغے باندے د عمل اطلاق نه کيږی، اوپه حديث کښے خو عمل ذکر دے چه په اعمالو کښے نيت ضروری دے .او هرچه جامے وينځل دی نودا خو د قبيلے د تروك نه دی، ځکه په دے کښے زوال النجاسة دے، نو فرق شو په مابين د اودس اود غسل الثياب کښے . دارنګه فرمائی : والتحقيق ان الترك المجرد لاثواب فيه وانما يحصل الثواب بالكف الذى هو فعل النفس الخ ۔ (يعنی په خالص ترك باندے ثواب هم نه ملاويږی بلکه ثواب په هغه ترك باندے ملاويږی چه فعل د زړه وی نو د چا

په زړه کښې چه د سره ګناه تیره نه شي نو د هغه ثواب نشته او د چا په زړه کښې ګناه راشي او بیا د الله د یرې د وجه نه ځان منع کړي نو ده ته ثواب ملاویږي لهذا ددې رجع هم عمل ته کیږي)۔

۲- دویم جواب دا دې چه قیاس هلته حجت وي چه کله ضرورت، راپیښ شي، اودلته ضرورت نشته چه په جامو قیاس اوکړو، ځکه چه احادیث موجود دي په نیت کښې دپاره داودس، نه په جامو کښې۔

لِامْرِئٍ : د امرئ دپاره نه جمع شته اونه تثنیه، اوددې وسط تابع دلام کلمې دې، جَاءَنِي امْرُؤٌ، رأيتُ امْرَأً، مَرَرْتُ بِامْرَئٍ خلاف القیاس، او اطلاق ئې په مذکر اومونث دواړو باندې کیږي، یعني شخص، اګرکه لفظ دامرئ مذکر دې.

مَانَوٰی :۱-سوال : نیت هم عمل دې، نو ددې دپاره به بل نیت ته ضرورت وي، دارنګه هغه بل نیت بیا عمل دې نو بیا به بل نیت ته ضرورت وي، وهلم جراً نو تسلسل (اجتماع دامورو غیر متناهیو بالفعل) لازمیږي. **۱-جواب** دادې چه مراد د اعمال نه اعمال ظاهریه دي، نه اعمال قلبیه، اونیت خو عملِ قلبي دې، نوددې دپاره بل نیت ته ضرورت نشته. ۲- دویم دا چه نیت مستثنیٰ دې ددې نه په استثناء د شرع او عقل سره.

۲- سوال : دا قول (لامرئ مانوی) دوباره ولې ذکر شو حال دا چه انما الاعمال بالنیات ددې معنی اداء کوي، نو ددې دوباره ذکر کولو کښې څه فائده ده ؟۔

۱- جواب : امام قرطبیؒ فرمائي : دا جمله تاکید دې دپاره د اولې جملې، اوشریعت کښې دا قانون دې چه یوکار مهم وي نو هغه په تاکید سره ذکر کوي. **۲- دویم جواب** دا دې چه انما الاعمال بالنیات دا مقدمه عقلیه واقعیه ده (یعنې دا عقلاً ثابته ده چه هر عمل په نیت باندې وي، که نیت په یو عمل کښې نه وي، نو دا سهو او خطاء حسابیږي په اعتبار دعقل سره)، اودا (لامرئ مانویٰ) جمله مقدمه شرعیه ده، شریعت ئې تائید کړیدې. **۳- دریم جواب** : اوله جمله هم مقدمه شرعیه ده، لیکن په لامرئ مانویٰ کښې اشاره ده تعدد دنیاتو ته، یعنې انسان لره پکار دي چه په یو عمل کښې ډیر نیتونه اوکړي، لکه دعلم په سفر باندې چه سړې اوځي نو د جهاد، خدمت، عبادت اوادب زده کولو نیت اوکړي۔ **٤-جواب** : انما الاعمال بالنیات کښې اشاره ده اعمال دینیه ته، او (لامرئ مانویٰ) کښې اشاره ده اعمال دنیویه مباحه ؤ ته، لکه مثلاً خوراك، څکاك چه دا مباح امور دي، که په دې کښې نیت اوکړي چه عبادت پرې اوکړم نودا نیك عمل حسابیږي، اوکه داپه بدنیت سره استعمال شي نو بد عمل جوړیږي یعنې دیني اعمالو کښې هم نیت ضروري دې او دنیوي مباحو کارونو کښې هم نیت کول پکار دي.

۵- پنځم جواب : په دویمه جمله کښې دا مستقله فائده بیانول مقصود دي چه نیت کښې نیابت باعتبار الاصل نه جاري کیږي، بلکه چاچه کوم نیت اوکړو هم هغه به ورته حاصلیږي، د

بل چا په نیت سره هیڅ فائده نشته، اود اولے جملے نه عموم معلومیدو چه هر عمل په نیت دے، نو چابه وئیل چه یو شخص د بل دپاره نیت اوکړی نو آیا دانیت به څه فائده ورکوی، نو دویمه جمله کښے کښے اوفرمائیل شو چه د هر انسان دپاره د هغه نیت فائده ورکوی، نه د بل چا.

٦- **جواب:** امام نوویؒ فرمائی: چه اوله جمله د بیان د ربط بین النیة والعمل دپاره ده، یعنے ددے نه صرف دا معلومیږی چه هرعمل کښے نیت ضروری دے، او عمل به مرتبط وی د نیت سره، اوپه دویمه جمله کښے غرض تعیین المنوی دے، مثلًا دچانه ډیر مونځونه فوت شوی وی، نو دقضاء په وقت کښے مطلق دانیت کول چه فوتی مونځ اداء کوم، نه کافی کیږی، بلکه تعیین دنیت ضروری دے، چه مثلًا دظهر دپاره یا د عصر فوتی مونځ کوم په مطلق نیت اکتفاء صحیح نه ده.

فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ: هجرت په لغت کښے ترك (پرېخودلو) ته وائی او هجرة الی الشئ معنی ده (الانتقال الیه عن غیره- د بل شی نه دیته رانقل کیدل). اوپه اصطلاح دشرع کښے (ترك مانهی الله عنه، کما فی الحدیث: ان تهجر ما کره ربك) - **د هجرت تخصیص** ئے د دوو وجهونه اوکړو (۱) یو دا چه حدیث وارد دے په باره دمهاجر ام قیس کښے. (۲) دویم دا چه هجرت اکبر الاعمال دے اود نبی اکرم ﷺ په زمانه کښے به زیات کیدو، نو په دے وجه ئے تخصیص اوشو. **سوال:** دلته کلام مفید نه دے، ځکه چه د شرط او جزاء په مابین کښے اختلاف او مغایرت وی، اودلته اتحاد دے؟ **جواب:** ۱- دلته په کلام کښے تقدیر دے: ای فمن کانت هجرته الی الله ورسوله نیةً وقصداً، فهجرته الی الله ورسوله ثواباً واجراً. (یعنی د چا هجرت چه د الله اور رسول په نیت او قصد سره وی نو د هغه هجرت به الله او رسول ته په اعتبار د اجر او ثواب سره وی)

۲- یا خبر محذوف دے: ای فهجرته الی الله ورسوله مقبولة. (یعنی هجرت ئے قبول دے)

۳- یا تقدیر داسے دے: (فهجرته الی اللهِ ورسوله لا الی غیرهما)، (یعنی هجرت ئے الله او رسول ته شو نه بل چا ته یعنی د هغے نه حساب شو) نو په دے کښے هم معنی د قبولیت پرته ده.

بیا دهجرت الی الله نه مراد هجرت الی دین الله برفض الشرك وغیره (یعنی د الله دین ته هجرت دے د شرك وغیره په پریخودوسره)، اود الله د رضاء دپاره کول مراد دی. ❁ اود هجرت الی الرسول نه مراد هجرت الی المدینة دے، کله چه نبی اکرم ﷺ ژوندے وو، اوچه وفات شو نو هجرت الی اطاعته وسنته وبطریقته مراد دے.(د پیغمبر اطاعت او سنت طرفته هجرت کول درواجونو بدعتونو نه).

اقسام الهجرة: هجرت اولًا په دوه قسمه دے ۱- هجرت معنوی ۲- هجرت حسّی (مادی) هجرت معنوی دیته وائی چه: (ان تهجر ما کره ربك، کما فی الحدیث)، یعنے گناهونه اومخالفت د الله اود رسول پریښودل. اودا اعلیٰ هجرت دے.

بیا د هجرت معنوی تقسیم په اعتبار داجزاؤ سره دے لکه دخولے، دسترگو اود لاسونو گناهونه پریښودل. **اوهجرت حسی** (مادی) دیته وائی چه د وطن، مال اوجائیداد نه جدا شی، دپاره

دحفاظت د دين۔ **او هجرت مادي** په څو قسمه دے (۱) **اول** : د درار الحرب نه دار الامان ته هجرت کول، لکه هجرت دصحابوؓ دمکے نه حَبُشے ته (۲) **دويم** : د دار الحرب نه دار الاسلام ته هجرت کول، لکه هجرت دصحابوؓ دمکے نه مدينے ته، دا دواړه داول قسم دهجرت نه دی۔ بيا ددے دواړو هجرتونو ترمينځه فرق دے هغه دا چه د دار الامن نه واپس خپل وطن ته تلل جائز دی کله چه آزاد شی، اود دار الاسلام نه واپس نشی تللے، دا وجه ده چه صحابه کرامؓ دمدينے طيبے نه واپس مکے مکرمے ته لاړنشو، او صحابهؓ د حَبُشے نه بيرته مکے مکرمے ته واپس شول۔(۳) **دريم** : د شرك،کفر، فسق او عصيان دمجلس نه هجرت کول، لکه الله تعالى فرمائى: ﴿ وَاِذَا رَأَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْ آيَاتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ، وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِيْنَ ﴾ [سورة الانعام] بل ځائے ارشاد دے ﴿ فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ، اِنَّكُمْ اِذاً مِّثْلُهُمْ ﴾ الآية [سورة النساء].

(٤) **څلورم** : هجرت د محلة الفُسَّاق نه محلة المؤمنين ته، دا تول ضروری دی۔ په بل تقيسم باندے **هجرت په دوه قسمه** دے چه دا فرض عين دے :

۱ – يو هجرت الى الله بالاخلاص .(الله ته هجرت کول په اخلاص اختيار ولو په تولو عباداتو کښِ) ۲ – او دويم هجرت الى الرسول ﷺ بالاتباع، چه دهغه تابعداری اوکړی اودهغه په مقابله کښِے د بل چا خبرے لره اعتبار ورنه کړی، چه دهغه احاديث پرے ساقط کړی.

اودا دوه قسمونه علامه ابن القيم رحمه الله په القصيدة النونيه ص (۲۰) کښِے ذکرکړيدی لکه فرمائی :

واجعل لقلبك هجرتين ولا تنم ✽ فهما على كل امرئ فرضان
فالهجرة الاولى الى الرحمن ✽ بالاخلاص فى سر وفى اعلان
والهجرة الاخرىٰ الى المبعوث ✽ بالحق المبين وواضح البرهان
فيدور مع قول الرسول وفعله ✽ نفياً واثباتاً بلا روغان

د خپل زړه دپاره دوه هجرتونه مقرر کړه اوده کيږه مه دا دواړه فرض دی۔

اول هجرت رحمٰن ته په اخلاص کولو سره په پټه او ښکاره حالاتو کښِ۔ او دويم هجرت رسول الله ﷺ ته دے چه په واضحه حق او برهان راليږلے شويدے۔نو انسان به د رسول الله ﷺ د قول او فعل سره نفياً او اثباتاً گرځی راگرځی۔ اخوا ديخوا به ترے منډے نه وهی۔

دارنگ طريق الهجرتين کتاب ئے په دے باندے ليکلے دے۔



کتـــاب الایمان

په دے مقام کښې يو څو بحثونه دی (۱) اول : وجه د تقديم ددے کتاب الايمان (۲) دويم : ايمان لغةً او اصطلاحاً (۳) دريم : مذاهب العلماء في الايمان.

۱ - اول بحث : دايمان بحث ځکه مقدم شو چه دا اساس دے داعمالو، کله چه عقيده برباده وی نو عمل به هم برباد وی، اوکه عقيده صحيح وی نو بيا دلږ عمل هم ډير وزن وی.

۲- دويم بحث : دايمان لغوی اواصطلاحی معنیٰ :

نو ايمان په لغت دعربو کښې په دريو معنو سره راځی ۱ - تصديق، لکه قرآن کريم کښې دی ﴿وَمَا اَنتَ بِمُؤمِنٍ لَنَا﴾ [يوسف : ۱۷] ای بمُصَدِّقٍ لَنا.﴿ وَلَمَّا يَدخُلِ الاِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ ﴾ ای التصديق فی قلوبكم [الحجرات آيت : ۱۳] ۲ - وثوق او اعتماد، لکه عرب وائی : (آمن به ای اعتمد عليه، كما فی الكشاف للزمخشری (۱/۳۵) ﴿ يُؤمِنُونَ بِالْغَيبِ ﴾ ای يثقُونَ). ۳ - ايمان دامن نه ماخوذ دے، مؤمن ته مؤمن ځکه وئيلے شی چه ده امن ورکړيدے مُؤمَنٌ بِهٖ ته د تکذيب کولو نه، فكأنه آمَنَ المُصَدَّقَ عن التكذيب) (بيضاوی، وشعب الايمان ص (۳۹).

د ايمان په صله کښې کله باء استعماليږی لکه الا يمان بالله- نو ددے معنی وی: (اثباته و الاعتراف بوجوده) . يو شے ثابت ګنړل او د هغے په وجود باندے اقرارکول) اوکله لام استعماليږی لکه (الايمان له) .ددے معنی وی : (القبول عنه و الطاعة له) .(د هغه خبره قبلول او د هغه طاعت کول) د ايمان بالنبی معنیٰ ده : (اثباته والاعتراف بنبوته) . (هغه ثابت ګنړل او د هغه په نبوت باندے اقرار کول) اود الايمان للنبی معنی ده : (اتباعه وموافقته والطاعة له) . (د هغه اتباع او طاعت او موافقت کولو ته وائی) حاصل دا چه : که په صله کښې باء راشی په معنی د اقرار او تصديق سره راځی، اوکه په صله کښې لام راشی نو په معنی دق بول او طاعت او خبره منلو سره دے، لکه فآمن له لوط.

تعبيرات الايمان ومعانيه الشرعية :

اوپه اصطلاح د شرع کښے دايمان دپاره څو تعبيرونه دی چه دهغے نه مذاهب جوړيږی : **۱-تعبير : متکلمينو داسے کړيدے :** (هو التصديق بجميع ما جاء به النبی ﷺ وعلم بالضرورة (بالبداهة)، كما فی شرح العقائد) . (پيغمبر چه څه راوړی وی او په طريقه د بداهت باندے معلوم شوی وی په هغه تولو تصديق کول)- په دے تعبير کښے دا نقصان دے چه ددے نه دا لازميږی چه اخبار آحادو باندے ايمان ضروری نه دے ځکه چه هغه ظنی دی د دوئ په نيز، معلوم بالبداهة نه دی.

۲- تعبير : شاه انور شاه كشميريؒ ذكر كړيدے : (الايمان هوالتصديق بما جاء به النبي ﷺ مع الاعتماد على النبي ﷺ) . (يعنى د نبى په ټولو راوړى دين تصديق كول سره د اعتماد نه په نبى)

۳- تعبير : امام محمدؒ په كښے وائى : (هو التصديق بما جاء عن النبي ﷺ مع التبرئ عمّا سوى الله) . (د نبى نه په نقل شوى دين باندے تصديق كول او د ماسوى الله نه براءت كول)۔ دا قيد ځكه لګوى چه ايمان سره د شرك نه معتبر نه دے، بلكه اول به كفر بالطاغوت اوكړى، نو بيا به ايمان راوړى، اودا تعريف مستنبط دے ددے آيت نه چه الله تعالى فرمائى : ﴿ قَدْ كَانَتْ لكم اسوة حسنة فى ابراهيم والذين معه اذ قالوا لقومهم انا برآؤا منكم ومما تعبدون من دون الله ﴾ الآية [الممتحنة آيت: ٤] ددے ټولو تعبيرونو رجع يو شئ ته كيږى. **۴- تعريف** : سلفؒ اومحدثينؒ كړيدے چه : (هوالتصديق بالجنان، والعمل بالاركان، والاقرار باللسان) . (په زړه يقين او تصديق كول او په اندامونو عمل كول او په ژبه اقرار كولو ته ايمان وائى) اودا تعريف په بعضو احاديثو كښے هم راغلے دے ليكن هغه ضعيف او موضوعى دى، لكه كنز العمال (۱/۲۳) كښے دى، نو اصح دا ده چه دا دعلماؤ قول دے اوصحيح حديث په دے باب كښے نشته.

فائده : شاه ولى الله دهلويؒ د ايمان دپاره دوه څيزونه ذكر كړيدى (۱) يو كيفيت او صورت او تصديق قلبى او اقرار باللسان او عمل بالاركان دے۔ (۲) دويم : د ايمان حقيقت دے هغه دا چه مقتضى دطبيعت تابع شى د شريعت، يعنے طبيعت د انسان چه هرڅه غواړى نو دا د شريعت مطابق وى، ديته ايمان وائى، لكه (لا يؤمن احدكم حتى يكون هواه تبعاً لما جئت به) او انسان صرف مكلف دے په صورت د ايمان اوكمال د ايمان په حقيقت باندے موقوف دے۔

قرآن كريم كښ د ايمان تعبيرات

بيا په قرآن كښے دايمان تعبيرونه ګڼړ راغلى دى، لكه سوره الم سجده آيت (۱۵) كښے دى ﴿ اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيَاتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَايَسْتَكْبِرُوْنَ ﴾ (يعنى مؤمن هغه دے چه د الله آيتونه ورته بيان شى نود عاجزئ د وجے نه سجده كوى اود الله حمد اوثناء وائى اوتكبر نه كوى)، نو په دے آيت كښے تصديق مع العمل ته ايمان وئيلے شويدے۔ (۲) ﴿ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَاناً وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴾ [انفال آية:۲] په دے آيت كښے هم ايمان تصديق قلبى اوعمل ته وئيلے شويدے روسته ئے عملونه ذكر كړيدى۔ دارنګ حسن بصريؒ نه نقل دى (بعضے وائى داحديث دے ليكن اصح داده چه دحسن بصريؒ قول دے كما فى كنز العمال ۱/۲۵) : ليس الايمان بالتحلى ولا بالتمنى ولكن ما وقر فى القلب وصدقه العمل. (ايمان په ډولونو او ارمانونو نه حاصليږى بلكه ايمان هغه شے دے چه په زړه كښ اوسيږى اوعمل د هغے تصديق كوى) په دے تعريفونو كښے د قرآن كريم اود جمهورو سلفو او محدثينؒ تعريف اصح دے.

۳ - بحث - مذاهب العلماء فى الايمان :

اول اختلاف په بساطت اوترکیب دایمان کښې دې، چه آیا ایمان بسیط دے اوکه مرکب؟
(**الاختلاف فی بساطة الایمان وترکیبه**) په دے کښې دوه قوله دی: ١-**اول قول**: دا دے چه ایمان بسیط دے یعنې اجزاء او ارکان نه لري. ٢- **قول** دا دے چه ایمان مرکب دے، اجزاء لري، بیا څوك چه په بساطت د ایمان قائل دی هغوئ خپل مینځ کښې مختلف دی.
١- **مرجئه** وائي: ایمان عبارت دے د تصدیق نه فقط، دوئ استدلال کوی په متشابهاتو باندے چه دهغې د جملې نه یو داحدیث دعباده بن صامتؓ دے چه په ص (١٤) کښې به راشي چه څوك کلمه د توحید اووائي او الله اورسول مني نو جنت ته به ځي (ادخله الله الجنة علی ما کان من العمل) لیکن په دوئ باندے سلفو علماؤ ډیر ردونه کړیدی چه صرف تصدیق ته ایمان وئیل صحیح نه دی، ځکه تصدیق خو دډیرو کفارو هم وو ﴿ یَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا یَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ﴾(البقرة:١٤٦) ﴿ فَاِنَّهُمْ لَا یُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِیْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ یَجْحَدُوْنَ﴾ [انعام: ٣٣] وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَیْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ﴾ [النمل: ١٤]. ٢ – ددوئ په خلاف باندے **کرامیه** دی، یعنې اتباع دمحمد بن کرام چه دا په خراسان کښې پیدا شوے وو، ددوئ مذهب دادے چه ایمان صرف اقرار باللسان ته وائي (مع خلو القلب عن التصدیق والتکذیب)، که زړه کښې یقین وی که تکذیب خو چه اقرار دکلمے کوی نو بس دا مؤمن دے، که تصدیق راغې نو لابنه ده، اوکه تصدیق نه وو نو هم ایمان نه ختمیږی. منافقان ددوئ په نیز حقیقي مؤمنان دی. دوئ دا حدیث **دلیل** پیش کوی (من قال لا اله الا الله دخل الجنة) یاددے پشان نور احادیث، په دے حدیث کښې صرف اقرار ذکر دے، تصدیق وغیره په کښې نه دے ذکر.
فائده: دا خبره یاد لرل پکار دی چه د ټولو اهلِ بدعت نظر صرف په یو حدیث وی او د هغې نه استدلال کوی، او نور حدیثونه پریدی، نو ځکه دائے سبب دګمراهئ ګرځیدلے دے. د اهل السنة طریقه دا ده چه په یوه مسئله کښې په ټولو احادیثو نظر اچوی، اودهغې نه حکم راوباسی.
٣ – **دریم قول دجهمیه** ؤ دے، یعنې تابعدار دجهم بن صفوان المعطِل (چه ده عقیده دکفر لرله) دوئ وائي چه ایمان عبارت دے دمعرفت دخالقیت دالله نه فقط، یعنې څوك چه دا اوپیژني چه الله تعالی زما خالق دے، بس دا مؤمن دے، نوټول کفار ددوئ په نیز مؤمنان دی، لکه ابو جهل، فرعون، ابلیس وغیره، لکه ددے تفصیل علامه ابن القیمؒ په القصیدة النونیه ص (٧) کښې ذکر کړیدے کما یقول:

قالوا واقرار العباد بانه • خلاقهم هو منتهی الایمان

٤ – **څلورم قول دماتریدیه او اشاعره** ؤ اود امام ابو حنیفهؒ دے، دوئ وائي: ایمان صرف تصدیق دے، اقرار ورله شرط دے، اوعمل خارج دے دمفهوم دایمان نه. نو دوئ عمل داخل نه ګڼړی په ایمان کښې- دے وجے نه سلفو علماؤ احنافو ته مُرجِئه وئیلی دی، لکه شیخ عبد القادر جیلانیؒ (پیران پیر صاحب) احنافو ته په غنیة الطالبین (٥١/١) کښې وئیلی دی. لیکن انصاف

دادے چه احناف مرجئه نه دی ځکه چه دمرجئه ؤ عقیده داده چه المعصية لا تضر مع الايمان، كما لا تنفع الطاعة مع الكفر) . (د ایمان سره ګناه کول څه ضرر نه لری لکه څنګه چه د کفر سره طاعت فائده نه کوی) لیکن په دوئ کښې ډیرے ډلے دی، یوه نرمه ډله په کښے عمل لره اعتبار ورکوی، نو شاه انور شاه کشمیریؒ وائی چه په دے وجه مونږ ته مرجئه وئیل شویدی، (کما فی فیض الباری) .دارنګه په دے وجه ورته مرجئه وئیل شویدی چه مرجئه زیادت او نقصان دایمان نه منی او احناف هم زیادت او نقصان دایمان نه منی . او دا نزاع لفظی نه ده، کما ستعرف .

دلائل الاشاعرة - و الماتريدية :

۱- اول دلیل دا دے چه عمل رکن نه دے دایمان نه ځکه قرآن کریم کښے نسبت د ایمان قلب (زړه) ته شویدے لکه ﴿ وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ ﴾ (الحجرات : ١٤) .

۲- په قرآن او احادیثو کښے عمل عطف شویدے په ایمان باندے لکه ﴿ ان الذين آمنوا وعملوا الصالحات لهم جنات ﴾ الآية (البروج:۱۱) .اوقانون دا دے چه عطف تقاضا دمغایرت کوی،نو عمل غیر شو دایمان نه او په ایمان کښے داخل نشو، ځکه رکن د شئ نه عطف کیږی په شئ باندے،ځکه دشئ اودهغه د رکن ترمینځه مغایرت نه وی . ۳-**دليل الزامی** : دوئ محدثینؒ ته وائی تاسو هم په ترك دعمل باندے انسان ته کافر نه وایئ، نو معلومه شوه چه عمل رکن نه دے دایمان نه .

لیکن ددے دلائلو نه جوابونه بالترتیب دادی : ۱- دایمان نسبت چه زړه ته شویدے نو داځکه چه زړه محل او موضع دایمان دے، اوپه داسے مواقعو کښے د ایمان نسبت زړه ته کیږی، دوجے دمناسبت دمقام نه، ورنه ټولو دلائلو ته چه اوکتلے شی نو عمل ته ایمان وئیلے شویدے .بل داچه په دغه مذکوره آیت کښے نفی د ایمان د عمل بالارکان اود اقرار باللسان نه نه ده شوے، صرف دا وئیلے شویدی چه ایمان ستاسو زړونو ته نه دے داخل شوے اودا خبره خو محدثینؒ هم منی چه ایمان زړه ته داخلیږی۔یعنی تصدیق په زړه کښے وی نو دا نفی ددے نه کوی چه عمل ګنے ایمان دے، نو دلته صرف ذکر د جزء اشرف شویدے چه هغه تصدیق دے۔نو په آیت سره په بساطة الایمان باندے استدلال کول درست نه دی .

۲- **دویم دلیل** نه جواب دادے چه عطف همیشه دپاره تقاضا دمغایرت نه کوی بلکه په عطف کښے اقسام دی: ★یو عطف تفسیر دے، اودا دیته وائی چه عطف دمترادفینو اوشی په آخر باندے اودا په قرآن کښے نشته ★- دویم عطف دخاص دے په عام باندے دپاره داهتمام لکه په دے آیت کښے چه ﴿ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ ﴾ [البقره : ۹۷] نوجبرئیل په ملائکو کښے داخل دے لیکن عطف شویدے په ملائکه باندے د وجے داهتمام دشان دده نه ★- دریم عطف دجزئی دے په کُلی باندے لکه جاء القوم وزید، نو په دے مقام کښے عطف دجزء (عمل) شویدے په کل (ایمان) باندے، نو عمل ضروری جزء دے د ایمان، ځکه ئے عطف اوشو، کله کله بل شئ ضروری وی په اعتبار دموقع

باندے نو هغه هم عطف کیږی لکه ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَخْبَتُوا ﴾ یا ﴿ وَصَبَرُوا ﴾ وغیره ★- خلورم : عطف داحد المتغایرین علی الآخر دے لکه جاء زید وعمرو، اوپه دے کښے صرف عطف دمغایرت دپاره وی، نه په نورو کښے.

القول الثانی : دویم قول دا دے چه ایمان مرکب دے، او په دے کښے هم درے ډلے دی:

۱- **خوارج** وائی چه ایمان عبارت دے دتصدیق، اقرار او عمل درے واړو نه، په داسے طریقه چه که په دے درے واړو کښے یو جزء فوت شو نو کافر به وی .دوئ استدلال کوی په هغه احادیثو باندے چه په هغے کښے په گناهونو باندے نفی دایمان شوے وی لکه زنا، سرقه، شراب خوری، کذب وغیره (لا یزنی الزانی حین یزنی وهو مؤمن) .

۲- **دویم قول د معتزله** ؤ دے، دوئ هم ایمان عبارت گنړی دتصدیق، اقرار اوعمل نه، لیکن دوئ وائی چه څوك عمل ترك كړی هغه نه كافر دے نه مؤمن، بلكه منزله بين المنزلتين ثابتوی یعنی نه کافر دے نه مؤمن لیکن په نتیجه کښے پشان دخوارجو دی چه تارك العمل (مرتکب دکبیرے) همیشه دپاره په اُور کښے داخل گنړی، نو ددوئ په مذهب کښے تناقض دے نه ئے کافر گنړی اونه ئے مؤمن اوبیائے همیشه اُورته داخل گنړی.

۳- **دریم قول** : دامام مالك، امام شافعیؒ، امام احمدؒ، امام بخاریؒ او باقی ټولو محدثینوؒ دے چه ایمان مرکب دے دتصدیقِ قلبی، اقرار لسانی او عملِ بدنی نه، خو تصدیق نه ساقطیږی په هیڅ حالت کښے او اقرار ساقطیږی په وخت داکراه کښے اود دوئ اود خوارجو ترمینځه فرق دادے چه خوارج انسان لره په ترك دیو عمل سره کافر گنړی، اودوئ په ترك دټولو اعمالو سره کافر وائی، اوتارك دبعضو اعمالو ته فاسق وائی، اگرکه صفت دکافر په کښے راغلے دے، لیکن حقیقةً کافر نه دے، الله ته به ئے سپارو که عذاب ورکوی اوکه مغفرت ورته کوی - اودا مذهب غوره دے اود احادیثو اود قرآن مطابق دے، امام بخاریؒ باب تړی : (الایمان قول وعمل) . دارنگه ډیر ائمو په دے باندے کتابونه لیکلی دی لکه کتاب الحجة للاصبهانی، اوکتاب الشریعة للآجری، اوکتاب السنة للالکائی، وکذا کتاب الایمان لابن تیمیه ص (۸) .

(۲) - دویمه مسئله : زیادت او نقصان په ایمان کی راځی اوکه نه ؟

۱- **احناف، ماتریدیه اواشاعره** وائی : په ایمان کښے نه زیادت راځی نه نقصان، ځکه ایمان تصدیق دے اوزیادت اونقصان په ذی الاجزاء کښے راځی او تصدیق خو بسیط دے، اوپه کومو آیاتونو او حدیثونو کښے چه زیادت راغلے نودوئ په کښے درے قسمه تاویلات کوی ★ یودا چه زیادت په معنی دظهور سره دے ★ دویم : زیادت په اعتبار دعمل سره دے ★ دریم : زیادت اونقصان په معنی د قوت او ضعف سره دے. ۲- **جمهور محدثینؒ** وائی : ایمان کښے زیادت اونقصان دواړه راځی، بلکه په تصدیق کښے هم زیادت او نقصان راځی.

دلائل :—— (۱) دلیل: قرآن کریم کښې دی ﴿وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ﴾ [البقره آیت : ۲۶۰] دلته د اطمینان القلب نه مراد زیادت د تصدیق قلبی دے، عمل نه دے مراد . ۲- **دلیل وجدانی** دے : چه ایمان د وجدانیاتو نه دے او په وجدانیاتو کښې زیادت او نقصان راځی لکه یو انسان درد محسوسوی چه زما درد زیات دے که کم، دارنګ زیادت اونقصان انسان په خپل وجدان معلوملولے شی، فتدبر! دغه شان په ایمان کښې هم زیادت اونقصان راځی، کله چه انسان په ګپ شپ کښې مشغول وی نو هغه دے خپل زړه ته اوګوری، اوکله چه په مانځه او ذکر اذکار کښې مشغول وی، نو انسان خپله معلوملولے شی چه څنګه ئے په ایمان کښې زیادت راځی .

۳- **دلیل** : ظاهر د آیتونو، حدیثونو او اقوال السلفؒ نه معلومیږی چه ایمان قابل د زیادت اود نقصان دے، لکه الله فرمائی ﴿زَادَتْهُمْ اِيْمَاناً﴾ [انفال : ۳] ﴿اِزْدَادُوْا اِيْمَاناً مَعَ اِيْمَانِهِمْ﴾ [الفتح : ٤] ﴿فَزَادَهُمْ اِيْمَاناً﴾ [آلعمران:۱۷۲] باقی آیتونه اوحدیثونه په صحیح بخاری (۵/۱) کښې اوګوره.

حافظ ابن حجر په الفتح (۱/ ٤٠) کښې فرمائی : (قال الشیخ محیی الدین: والاظهر المختار ان التصدیق یزید وینقص بکثرة وضوح الادلة ولهذا کان ایمان الصدیق اقویٰ من ایمان غیره بحیث لایعتریه الشبهة) .(شیخ محی الدین فرمائی چه غوره او ظاهره دا ده چه تصدیق کښې هم زیادت او نقصان راتلے شی د وجے د ډیر واضح کیدو د دلائلو نه بعضو ته لکه د ابوبکر صدیق ایمان د ټول امت نه زیات دے)

★-په صحیح بخاری (۵/۱) کښې دابن مسعود ﷺ قول دے : (الیقین الایمان کله)، (یقین ټول ایمان ته وائی) نو ایمان کښې کلیت اوجزئیت راځی دا دلیل د زیادت اود نقصان دده دے، وهو قول اکثر الائمة کما فی شرح مسلم (۲۵/۱) .

فائده : قرآن اوحدیث به په ظاهر باندے حمل وی، ترڅو چه قرینه صارفه نه وی موجود، پس کله چه قرینه اودلیل موجود شو په دے چه دلته ظاهر نه دے مراد نو بیابه تاویل کولے شی، ګنے بیا خو د باطنیو مذهب ثابتیږی، لکه شرح العقائد النسفی ص (۱۱۹) کښې وائی : والنصوص من الکتاب والسنة تحمل علی ظواهرها مالم یصرف عنها دلیل قطعی والعدول عنها الی معان یزعمها اهل الباطن الحاد) .(نصوص به په ظاهر باندے حملولے شی ورنه بیا به الحاد لازم شی)

دارنګ الابانه ص (٦٨) کښې ابو الحسن الاشعریؒ وائی : (والقرآن علی ظاهره ولیس لنا ان نزیله عن ظاهره الا بحجة والا فهوعلی ظاهره) .(قرآن به په ظاهر باندے حمل وی او زمونږ دپاره دا جائز نه دی چه د ظاهر نه ئے واړو مګر په دلیل سره او که دلیل نه وی نو بیا به ئے په ظاهر باندے وی) اوګوره تفصیلاً الدین الخالص : (۸٤/۲).

اقوال السلف الصالحین فی زیادة الایمان ونقصانه :

۱- عمیر بن حبیب الخطمی رضی الله عنه فرمائی :(الایمان یزید وینقص، فقیل له : ومازیادته ونقصانه ؟ قال: اذا ذکرنا الله وسبحناه فذلك زیادته، واذا غفلنا ونسینا فذلك نقصانه .

(یعنی ایمان زیاتیږی او کمیږی اووئیل شو، زیادت او نقصان ئے څه شے دے؟ وے فرمایل: کله چه مونږ د الله ذکر کوو او تسبیحات ئے وایو نو بس ایمان زیات شی او کله چه مونږ غافل شو نو ایمان ناقص شی).

٢- ابن عباس، ابوهریره او ابو الدرداءؓ نه نقل دی: (الایمان یزید وینقص).

٣- دارنګ په یو ضعیف حدیث کښے دی کما روی عن معاذ مرفوعاً: الایمان یزید وینقص، اصح دا ده چه دا د راوی کلام دے۔ نور اقوال هم شته کذا فی کتاب الحجة (١/ ٤٠٥) ورواه ابن ماجه (١/ ٨) وابن تیمیة فی کتاب الایمان ضمن الفتاوی (٧/ ٣٣٠) والضعیفة (٣/ ٢٠٢).

دا وجه ده علامه ابی محمد اندلسی قحطانیؒ په خپله قصیده قحطانیه کښے تفصیلًا رد کړیدے په هغه چا چه ایمان قابل د زیادت اود نقصان نه ګنړی، کما یقول:

ایمان جبریل وایمان الذی • رکب المعاصی عندکم سیان.

(دمنکرینو د زیادت په نیز دجبرئیل اود یو ګناهګار انسان د ایمان ترمینځ فرق نشته، اودا څومره خلافِ عقل خبره ده!)

٤- دارنګه حدیث کښں دی: (اکمل المؤمنین ایماناً احسنهم خلقاً) نو هر کله چه خوش اخلاق ډیر کامل مومن شو نو ددے مخالف به ناقص ایمان والا وی) نو ایمان کښں زیادت او نقصان راغلو، (فتح الباری (١/ ٢١٤)).

دارنګ امام بیهقیؒ په شعب الایمان (١/ ٦٠) کښں په زیادت او نقصان دایمان باندے باب تړلے: باب القول فی زیادة الایمان ونقصانه وتفاضل اهل الا یمان فی ایمانهم - چه په دے کښں ئے ډیر آیتونه او حدیثونه په دے مسئله کښں جمع کړی دی، چه په هغے کښں صریح روایتونه دا دی:

١- د ابو سعید الخدری ﷺ حدیث کښں دی چه په هغے کښں د اخراج المؤمنین بحث دے: یدخل الله اهل الجنة الجنة یدخل من یشاء برحمته ویدخل اهل النار النار، ثم یقول: انظروا من وجدتم فی قلبه مثقال حبة خردل من ایمان فاخرجوه.... الحدیث) رواه البخاری. بل روایت کښں دی (ولیس وراء ذلك حبة خردل من الایمان). ددے نه معلومه شوه چه ایمان کښں زیادت او نقصان راځی، کله زیاتیږی، او کله دخردل (اوری، شرشم) ددانے پشان وروکے کیږی.

٢- په نقصان الایمان باندے دلیل حدیث دمسلم دے دعبد الله بن عمرؓ په روایت: ما رأیت من ناقصات عقل ودین). دین او ایمان یو شے دے او په دین کښں نقصان اوزیادت راځی، فکذا فی الایمان. او هغه نور عقلی دلائل هم ذکر کړیدی. ١- لکه یو دلیل دا دے چه یو شخص دے دهغه په زړه کښں توحید وی خو دهغه سره خوف غالب نه وی، چه دهغے په وجه دګناهونو نه منع شی، اونه ئے په زړه کښں رجاء حاضره وی چه ددے په وجه طمع د الله نه اوکړی، بلکه دنیا پرے غلبه کړے وی، اودهغے په لذتونو کښں دآخرت نه غافل وی. نو ددے انسان په زړه کښے توحید کم دے دهغه شخص د توحید نه چه هغه حاضر القلب وی، د الله یره او رجاء دهغه په زړه

کښې همیشه موجوده وي .ځکه دا قانون دے چه تصدیق چه په یو وجه سره وي نو داکم وي، او ضعیف وي دهغه تصدیق نه چه هغه د ډیرو طریقو نه حاصل وي، نو ددے تصدیق وزن کم وي، او کله چه ورسره دا نور څیزونه یوځائے کړے شي نو وزن ئے زیات شي .

۲ – دویم دلیل دا چه دیو تن په ادنیٰ مراتبو دیقین کښې وي تردیے که هغه ته شك ور واچولے شي نو شکي کیږي، او بل انسان په آخري مراتبو دیقین کښې وي، نو ددے انسان دایمان او تصدیق وزن زیات وي . اود اول انسان دایمان وزن سپك دے .لکه دجبرائیل او ابوبکر صدیق ؓ ایمان د نور امت دایمان په نسبت زیات دے .لکه دعمر بن الخطاب ؓ قول دے : (لو وزن ایمان ابی بکر بایمان اهل الارض لرجح بهم) (فضائل الصحابة بحوالة كنز العمال (۷۳۳/۱۲) .

۳ – دریم دا چه: دیو شخص ایمان دقوي استدلال او کامل نظر نه پیدا وي، اود بل تن ایمان او تصدیق دخبر په وجه راغلے وي، نو خامخا به داول انسان د ایمان وزن اثقل وي، او دویم دایمان وزن به اخف وي، نودا دلیل دے ددے خبرے چه انسانان په ایمان کښې متفاوت دی لکه حدیث کښې دی : (ما اخاف علی امتی الا ضعف الیقین.بروایة ابی هریرة) .نو په یقین کښې هم تفاوت شته .

نو صحیح خبره دا معلومه شوه چه په ایمان کښې زیادت او نقصان راځي، اوهرکله چه زیادت او نقصان راځي نو انسان به د زیادت کوشش کوي اود نقصان نه به ځان ساتي .

تنبیه : یو ایمان لغوي دے بل شرعي دے، لغوي ایمان تصدیق ته وائي، او شرعي ایمان هغه دے چه تصدیق او عمل او اقرار درے وا ړو نه مرکب دے، نو کومو حدیثونو کښې چه صرف شهادتینو ته ایمان وئیلے شویدے نو هغه دجزء اقویٰ په وجه چه هغه تصدیق دے ځکه چه دچا تصدیق وي هغه به عمل هم کوي .اوکه صرف تصدیق وي او عمل نه کوي نو دهغه ایمان شرعي ایمان نه دے، البته که یو انسان ایمان راوړي اود عمل کولو نه مخکښې مړ شي نودا هم مؤمن دے، ځکه چه ده اراده دعمل وه، نو په دے سره مستحق دجنت جوړیږي .خبره په هغه شخص کښې ده چه صرف تصدیق لري او عمل نه کوي، نو دا شرعي مؤمن نه حسابیږي، بلکه ده ته فاسق وئیل کیږي .

اسباب زیادة الایمان وقوته : دا خو ډیر زیات دی ، ددین نه معلوم دی بعض دا دی :

۱ – **معرفة اسماء الله وصفاته** : د الله تعالی نومونه او صفتونه پیژندل او په هغے کښې فکر کول او هغے باندے عمل کول په طریقه دذکر او عبادت سره . ۲ – **تدبر القرآن** : په قرآن کښې غور او فکر کول اود هغے مقصد او رازونه معلومول چه انسان کوم مقصد له پیدا شویدے .

۳ – **التدبر فی الکائنات** : په دے عالم کښې سوچ کول، آسمان، زمکه، نمر سپوږمۍ، شپه او ورځ کښې فکر کول . ٤ – **اتباع السنة النبویة** : دنبي اکرم ﷺ دسنتو په هره معامله کښې مضبوطه تابعداري کول .فی القطمیر والنقیر . ٥ – **ذکر الله** : د الله تعالی ذکر ډیر کول دشریعت مطابق (لایزال لسانك رطبا من ذکر الله) . ٦ – **الدعاء** : دزړه په توجه او خشوع سره د الله نه دعاء

غوښتل ایمان زیاتوی (کما هو المجرب). ۷ - حسن الخلق : دمخلوق سره ښه اخلاق کول .(وهو افضل الایمان). ۸ - معرفة معجزات الرسول ﷺ : (درسول الله ﷺ معجزات پیژندل). ۹-د رسول الله ﷺ شخصیت پیژندل. (دهغه خواږه اخلاق اودهغه جاذب سیرت معلومول ۱۰ - معرفة محاسن الدین الاسلامي : (داسلامی دین خوبیانې اوکمالات اوعدل او انصاف معلومول). ۱۱ - دکفر اومنافقت دهر قسم شعبې نه ځان لرې ساتل (فان الاشیاء تتبین باضدادها) . ۱۲ - په بعض اوقاتو کښې خلوت کول د الله سره. ۱۳ -مجالسة العلماء الصالحین : (دعلماؤ سره ناسته کول اود هغوی دخبرو نه فائده اخستل). ۱۴ - العلم بالقرآن والحدیث : (د قرآن اوحدیث پوهه حاصلولو سره ایمان کښې قوت راځي). ۱۵ - الاحسان في کل عبادة : (هر عبادت کښې احسان (توجه) کول (کانك تراه)). ۱۶ - التواضع وحسن الادب مع الله تعالی : د الله سره دعاجزئ اودب رویه اختیارول). ۱۷ - دمؤمنانو سره د الله درضا دپاره محبت ساتل. ۱۸ - الاجتناب عن کل ما یبعد عن الله : (هر هغه شې چه د الله نه انسان وړاندې کول کوی دهغې نه ځان ساتل). ۱۹ - الجهاد في سبیل الله. ۲۰ - العمل الصالح : هرنیك عمل سره دانسان په ایمان کښې زیادت پیدا کیږی. دې خبرو کښې ډیر تفصیل دې لیکن مونږ اجمالاً ذکر کړل دې دپاره چه یادول ئې آسان شي.

۳- **دریمه مسئله : الاستثناء في الایمان** : ان شاء الله په ایمان کښې وئیل څنګه دي ؟ نو په دې کښې دوه قوله دي : ۱- اول قول د ابن مسعودؓ، ابراهیم نخعیؒ، احمدؒ او اهل الحدیث دې چه دوئ ان شاء الله وئیل په ایمان کښې ضروری ګنړی، نو یو شخص به داسې نه وائی چه انا مؤمن، بلکه ان شاء الله به ورسره وائی چه انا مؤمن ان شاء الله، کما في تعلیق کتاب الحجة ص (۴۰۸) نقلاً عن کتاب الایمان لابن تیمیة ص (۴۱۰) .

۲- **دویم قول** د جهمیه او مرجئه : دې چه دوئ وائی ایمان کښې ان شاء الله وئیلو ته ضرورت نشته ځکه چه دا خو دشك دپاره استعمالیږی، اوپه ایمان کښې شك کول کفر دې، بلکه لکه څنګه چه په خپل مونځ روژه باندې یقین وی دغه شان په ایمان به ئې هم یقین وی، اودا قول د احنافو هم دې - لیکن په دې دواړو قولینو کښې شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ محاکمه کړیده چه ان شاء الله وئیل من وجهٍ جائز او من وجهٍ ناجائز ده .که د شك په اعتبار سره وی نو بیا ناجائز ده اتفاقاً، اوکه په اعتبار د انجام سره وائی چه الله ته پته ده چه زه به په اعتبار دعاقبت سره مؤمن یم اوکه نه ؟ نو بیا جائز ده، اوددې دپاره ډیر دلائل دي کذا في کتاب الحجة (۴۸/۱) وکتاب الایمان ص (۳۸۴).

۴- **مسئله : محل د ایمان کوم ځائې دے ؟** (۱) جمهور وائی چه محل دایمان زړه دې، کما شهدت به النصوص. (۲) - دامام ابو حنیفةؒ نه یوروایت نقل دې چه محل د ایمان دماغ دی، لیکن بعضې وائی چه ده ته دا نسبت خطاء دې، خو صحیح اول قول دې .بیا د ایمان اوعمل

ترمینځه مکمل ربط دے، ایمان د عمل په وجه کامل کیږی او ښائسته کیږی، اوعمل دایمان په وجه قبلیږی، اود الله مطلوب من العبد هم ایمان مع العمل دے، نوداقول راجح دے.

بیا دکتاب نه روسته یو باب پټ وی نو دلته باب داسے دے: باب شعب الایمان وفضائله و الترغيب فی تکمیله وبیان ما یضاده.

الفصل الاول - اولنے فصل

١ - عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيْدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ، شَدِيْدُ سَوَادِ الشَّعْرِ، لَايُرٰى عَلَيْهِ اَثَرُ السَّفَرِ وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا اَحَدٌ حَتّٰى جَلَسَ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَاَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلٰى فَخِذَيْهِ وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ! اَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِسْلَامِ؟ قَالَ: «اَلْاِسْلَامُ اَنْ تَشْهَدَ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ وَتُقِيْمَ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكٰوةَ وَتَصُوْمَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ اِنِ اسْتَطَعْتَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا» قَالَ: صَدَقْتَ. فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ. قَالَ: فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِيْمَانِ؟ قَالَ: «اَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ» قَالَ: صَدَقْتَ. قَالَ: فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِحْسَانِ؟ قَالَ: «اَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ» قَالَ: فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ السَّاعَةِ؟ قَالَ: «مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا بِاَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ» قَالَ: فَاَخْبِرْنِيْ عَنْ اَمَارَاتِهَا؟ قَالَ: «اَنْ تَلِدَ الْاَمَةُ رَبَّتَهَا وَاَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُوْنَ فِي الْبُنْيَانِ» قَالَ: ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ لِيْ: «يَا عُمَرُ! اَتَدْرِيْ مَنِ السَّائِلُ؟» قُلْتُ: اَللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ. قَالَ: «فَاِنَّهٗ جِبْرِيْلُ اَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِيْنَكُمْ» رواه مسلم - ورواه ابوهريرة مع اختلاف وفيه: «وَاِذَا رَاَيْتَ الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الصُّمَّ الْبُكْمَ مُلُوْكَ الْاَرْضِ فِيْ خَمْسٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ اِلَّا اللهُ ثُمَّ قَرَاَ: ﴿ اِنَّ اللهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ﴾» الآية متفق عليه.

ترجمه: عمر بن خطاب ﷺ نه روایت دے فرمائی: یوځل مونږ د رسول الله ﷺ سره یوه ورځ (ناست) وو چه ناڅاپه راښکاره شو په مونږ باندے یو سړے چه تکے سپینے جامے ئے وے او تك تور وېښتـه ئے وو، په هغه باندے اثر د سفر نه ښکاریدو، او په مونږ کښے هغه لره هیڅوا هم نه پیژندو تردے چه هغه نبی ﷺ ته مخامخ کیناستو، او خپل دواړه زنګنونه ئے د نبی ﷺ زنګنونو ته اولګول، او خپل دواړه لاسونه ئے په خپلو پټنونو(یا د هغه په پټنونو) کیخودل او عرض ئے اوکړو، اے محمد! خبر راکړه ما ته په باره د اسلام کښ؟، وے فرمائیل: اسلام دادے چه ګواهی

وکړے ته په دے چه نشته لائق دعبادت سیوا د الله نه او محمد (ﷺ) د الله رسول دے، او پابندی د مانځه کوے او زکوٰة ورکوے اود رمضان روژے نیسے اود بیت الله حج اوکړے که طاقت دِے وی هغے ته د لارے، هغه وئیل : رشتیا دے اووئیل (صحابهؓ وائی) مونږ تعجب اوکړو دهغه نه چه تپوس هم ترے کوی او تصدیق ئے هم کوی، هغه اووئیل : خبر راکړه ماته په باره د ایمان کښ، ورته ئے اوفرمائیل : چه ایمان راوړے په الله اود هغه په ملائکو اودهغه په کتابونو اود هغه په رسولانو او په ورځ دآخرت اوپه تقدیر دخیر دده اود شر دده باندے، هغه اووئیل : رشتیا دے اووئیل، هغه اووئیل : ماته خبر راکړه په باره د احسان کښ ؟، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : چه ته د الله داسے عبادت کوے لکه چه ته ورته ګورے، نو که ته ئے نه وینے نو هغه خو دِے وینی، هغه اووئیل : ماته د قیامت په باره کښ خبر راکړه، وے فرمائیل : نه دے هغه کس چه تپوس ترینه کړے شویدے ډیر پوهه د تپوس کونکی نه، وے وئیل : ما دهغے دعلاماتو نه خبر کړه؟، ورته ئے اوفرمایل: چه وزیګوی وینځه مالکه خپله اوچه اووینے ته خپے ابله خپو والا بربنډ، فقیران او ګډے بیزے څرونکی چه فخر به کوی په آبادی کولو کښ، راوی وائی چه بیا روان شو هغه سړے اوما درنګ تیر کړو ډیر وخت، بیا ماته نبی ﷺ اوفرمائیل : اے عمر ! آیا تاته پته شته چه دا سوال کونکے څوك وو، ما عرض اوکړو، الله اورسول ښه پوهیږی، وے فرمائیل : دا جبریل وو تاسو ته دے دپاره راغلے وو چه تاسو ته ستاسو دین دراوښائی۔ دا حدیث مسلم روایت کړیدے۔

اودا حدیث ابو هریرهؓ روایت کړیدے سره دڅه اختلاف نه، او په دے کښ دادی : چه کله ته خپے ابله خپو والا بربنډ کانړه چاړا ګان اووینے چه د زمکے بادشاهان جوړ شویدی، (دقیامت علم) په هغه پنځو ځیزونو کښ دے چه هغه د الله نه سیوا بل هیچا ته معلوم نه دی، بیائے دا آیت اولوستلو : یقیناً الله سره علم د قیامت دے او هغه باران ورِوی تر آخر دآیت پورے۔ (روایت کړیدے ددے بخاری او مسلم).

تشریح : الفصل الاول : په دے مقام کښے په مصابیح د امام بغویؒ کښے عنوان داسے وو : الاحادیث الصحاح، صاحب المشکوٰة هغه بدل کړو په الفصل الاول سره چه په دے کښے به متفق علیه احادیث راوړی کمامر. په دے حدیث کښے **دوه بحثونه دی** (۱) اول : دحدیث نومونه ۲ـ دویم فوائد او احکام دحدیث. (۱) نو ددے حدیث یو نوم امام قرطبی ذکر کړیدے چه دیته **ام السنة** وائی ځکه چه په دے کښے دسنت علوم ذکر دی۔ (۲) بل نوم دے **ام الجوامع** .ځکه چه مشتمل دے په ډیرو جامعو کلماتو ددین باندے، چه ایمانیات، عقائد، اخلاق په کښے ذکر دی۔ (۳) **ام الاحادیث**، دا ورته ځکه وائی چه داحادیثو اسرار او احکام عظیمه په کښے ذکر شویدی په طریقه داجمال سره په منزله دسورة الفاتحه دے چه هغے ته هم ام القرآن او ام الکتاب وائی ځکه چه په مضامینو دقرآن باندے مشتمل دے په طریقه داجمال

سره (٤) څلورم نوم مشهور دے په حدیث جبرئیل سره څکه د جبرئیل واقعه په کښے ذکر ده (٥) حدیث عمر فی باب الایمان.

الفوائد والاحکام: بَیْنَمَا : دا ظرف زمان دے په معنی د حین من الاحیان سره یعنی په یو وقت د اوقاتو کښے مونږ د نبی اکرم ﷺ سره ناست وو. عِنْدَ : ددے نه دا فائده معلومیږی چه نبی اکرم ﷺ به خپل اوقات تقسیم کړی وو، درے وقتونو ته (۱) بعضے اوقات دخلوت دپاره چه په دے کښے به ئے د الله تعالی سره تعلق قائمولو په ذکر اوعبادت سره لکه حدیث دابو هریرهؓ کښے به راشی چه نبی اکرم ﷺ به د بنی النجار باغ ته دخلوت دپاره وتلو (۲) بعضے اوقات به ئے خپل اهل اوکور والو ته ورکول (۳) او بعضے اوقات به ئے دعامو مسلمانانو حاجتونو ته ورکولو لکه دلته نبی اکرم ﷺ دصحابوؓ سره ناست وو (کذا فی شمائل الترمذی) او په دے کښے رد دے په باطلو پیرانو باندے چه هغوئ همیشه خلوت خوښوی اود خلقو سره نه کینی.

ذَاتَ یَوْمٍ : یوم په لغت عربی کښے وقت ممتده ته وائی چه ورځ اوشپه دواړو باندے ئے اطلاق کیږی اوچه کله ورسره ذات لفظ ذکر شی نو بیا صرف ورځ مراد وی یعنی بیاض النهار.

رَجُلٌ : بریلیان وائی نبی علیه السلام بشر متشکل دے لکه د جبرئیل پشان چه ذات ئے نور دے او ځان ئے په شکل دانسان جوړ کړیدے، جواب دا دے : چه قانون دا دے چه جبرئیل کله متشکل شی نو د هغه بیان روسته راغلے وی، چه دا جبرئیل وو لکه ددے حدیث په آخر کښے به راشی (فانه جبرئیل اتاکم یعلمکم دینکم) اود نبی اکرم ﷺ په باره کښے هیچرته دانه دی راغلی چه دابشر متشکل وو، بلکه د دوئ دا عقیده دکفر ده، صحیح اسلامی عقیده د نبی اکرم ﷺ په باره کښے داده چه دده ذات بشر دے، اوصفت ئے نور دے الله تعالی ورته نور ورکړیدے چه نبوت دے لکه قرآن ته نور وئیل شویدے څکه چه الله په کښے نورا چولے دے، اونبی اکرم ﷺ عربی اوقریشی اورسول دے. دا وجه ده چه علامه آلوسیؒ په خپل تفسیر روح المعانی (۱۱۳/٤) کښے وائی : چه څوك ددے درے صفاتو دنبی اکرم ﷺ نه منکر نه شو، هغه کافر دے، سورت آلعمران کښے اوگوره. د شیخ ولی الدین العراقیؒ نه دنبی اکرم ﷺ په باره کښے تپوس اوشو :

هل العلم بکونه ﷺ بشراً، ومن العرب شرط فی صحة الایمان او من فروض الکفایة ؟ فاجاب : بانه شرط فی صحة الایمان ثم قال : فلو قال شخص : أومن برسالة محمد ﷺ الی جمیع الخلق لکن لا ادری هل هو من البشر اومن الملائکة اومن الجن، اولا ادری هو من العرب ام من العجم ؟ فلا شك فی کفره لتکذیبه القرآن وجحده ما تلقته قرون الاسلام خلفاً عن سلفٍ وصار معلوماً بالضرورة عند الخاص والعام، ولا اعلم فی ذلك خلافاً. (آیا نبی علیه السلام بشر اوعربی گڼړل شرط دے په صحت د ایمان کښې او آیا دا د فرض کفائی نه دے؟ نو هغه جواب ورکړیدے چه آو، دا شرط دے په ایمان کښې نو که یو شخص اووائی زه د محمد ﷺ په رسالت ایمان لرم لیکن ما ته پته نشته چه هغه بشر وو او که د ملائکو نه وو

او كه د جناتو نه وو او يا نه پوهيږم چه عربي وو او كه عجمي نو دده په كفر كښې هيڅ شك نشته ځكه دده د قرآن كريم تكذيب اوكړو او د هغه څه نه منكر شو چه ټولې پيړيو د اسلام پرې اتفاق كړيدے او په دين كښې ښكاره معلوم شے دے د خاص او عام خلقو په نيز او دا اجماعي مسئله ده)

۴- **جواب** دا دے : چه نبي اكرم ﷺ هم خپل ځان ته بشر وئيلے دے او الله هم ورته وئيلے دے قرآن كښې دي ﴿ قُلْ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ﴾ (اووايه زه ستا سو پشان انسان يم) دارنګ صحابه كرامؓ ورته بشر وئيلے دے، عائشةؓ فرمائي (كان بشراً من البشر) (بخاري الادب المفرد ص: ۵۴۱) وشمائل الترمذي ص (۳۴۲) او هيچرته دا نه دي نقل چه هغه ځان ته نور وئيلے وي، يا صحابوؓ ورته نور وئيلے وي، كه بشر نه وے او نور وے بيا خو په هغه لازمه وه چه امت ته ئے ددے ضرور بيان كړے وے چه ما بشر مه ګڼړئ .نو دے نه معلومه شوه چه دا د بريلويانو احمقانه عقيده ده !!۔

بَيَاضِ الثِّيَابِ : **فائده** : ۱- دے نه فضيلت د سپينو جامو معلوميږي لكه مشكوة كتاب الجنائز (۱/۱۴۴) كښې د نبي اكرم ﷺ ارشاد مبارك دے : (البسوا من ثيابكم البياض، فانها من خير ثيابكم، و كفنوا فيها موتاكم. .الحديث) .۲- دويم دا چه : طالب العلم له پكار دي چه نظيف وي او د پاكئ او صفايئ خيال اوساتي . الشَّعْرِ : وېښته ساتل افضل دي لكه خپل ځائے كښې به راشي . دويمه فائده داده چه دعلم طلب په ځوانئ كښې افضل دے (چه داد شديد سواد الشعر نه معلوميږي). وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا اَحَدٌ : ۱- صحابهؓ په خپل ګمان دا خبره كوي چه مونږ نه پيژندلو۔ ۲- ليكن ظاهره دا ده چه نبي اكرم ﷺ هم نه پيژندو لكه بل روايت كښې دي .

۳- بله فائده داده چه نبي اكرم ﷺ اودغه شان صحابهؓ عالمِ الغيب نه دي. فَاَسْنَدَ : (تكيه ئے كړو) ددے نه معلوميږي چه د تپوس دپاره مخامخ كيناستل پكاردي .۲- او په تشهد طريقه كيناستل افضل دي په تعلم كښې . عَلٰى فَخِذَيْهِ : په دے ضمير كښې دوه احتماله دي .۱- يو احتمال دادے چه ضمير راجع دے جبرئيل ته، چه لاسونه ئے په خپلو ورنونو كيښودل .۲- يا ضمير راجع دے نبي اكرم ﷺ ته يعني جبرئيل عليه السلام خپل دواړه لاسونه د نبي اكرم ﷺ په پتونو باندے كيخودل او دا راجح احتمال دے، لكه په روايت د نسائي (۲/۲۶۵) كښې په دے تصريح راغلې ده (حتى وضع يده على ركبتي رسول الله ﷺ) او په دے احتمال كښې فائده داده چه ډير توجه سره تپوس كونكے كيناستو اوددے دپاره چه دخلقو نه ځان پټ كړي، دے وجے نه صحابوؓ ناشنا ګڼړلے دے لاجل هيئة جلوسه، واليه اشار في الفتح (۱/۹۶) .

۴- بله دا چه ددے نه معلوميږي چه پردي فخذين مسح كول په لاسونو باندے كله چه دجامو دپاسه وي نو داجائز دي، اوبغير دجامے نه پردے پتون مسح كول جائز نه دي .

يَا مُحَمَّدُ ! : ددے لفظ وئيلو نه قرآن اوحديث كښې منع راغلې ده لكه سورة النور آيت : ۶۳ كښې دي ﴿ لا تجعلوا دعاء الرسول بينكم كدعاء بعضكم بعضاً ﴾ الآية .اوسوره حجرات آيت :

(۳)کښې دي ﴿ یا ایها الذین آمنوا لا ترفعوا اصواتکم فوق صوت النبی ولا تجهروا له بالقول کجهر بعضکم لبعض ان تحبط اعمالکم ولا تشعرون ﴾

اوپه حدیث دمسلم (۱٤٥) باب منی الرجل کښې دي چه ثوبان ﷺ د (یامحمد) په آواز باندې یو یهودي په سینه کښې وهلې وو، اوداسې دیکه ئې ورکړه چه نزدې وو چه دغه یهودي راپرېوتې وې.

۲- دارنګه په حدیث دمسند احمد کښې دي چه اقرع بن حابس ﷺ نبي اکرم ﷺ ته دبهر نه آواز اوکړو: (یا محمد یا محمد). اوبل روایت کښې دي: یارسول الله! نودا آیت نازل شو چه ﴿ ان الذین ینادونك من وراء الحجرات اکثرهم لا یعقلون﴾ (کمافی الدر المنثور:٦/٧٩) سورة الحجرات - نودا دلیل دې چه (یامحمد) مخامخ او غائبانه وئیل حرام دي، اویا رسول الله! مخامخ وئیل رسول الله ته جائز دي، چه کله نبي اکرم ﷺ ژوندې وو. او غائبانه وئیل ئې حرام دي، کما فی ابن کثیر (٢٠٨/٤) نور دلائل هم شته لکه دې دپاره زمونږه رساله (بې مطلبه چغه) اوګوره.

اجوبة : یا محمد لفظ: ۱- یا الله استعمال کړیدې .۲- یا جبرئیل .۳- یا یهودي ٤- یا منافق. ٥- یا اعرابي دناپوهۍ په وجه. او جبرئیل مکلف بالاحکام نه دې .نوکه څوك په دې پنځو کښې داخل وي هغه دې استعمالوي !! یو خو په دې کښې بې ادبي ده چه دخپل پلار نوم څوك په آواز کښې ذکر کوي دا بې ادبي ګڼړي، نو د نبي اکرم ﷺ دپاره په طریقه اولی سره بې ادبي ده .۲- دویم دا چه دا غائب ته آواز کول دي، که مدد په نیت وي نو شرك دې، غیر الله نه مدد غوښتل دي، اوکه د مدد په نیت نه وي نو بې مطلبه آواز دې دجاهلانو پاګلانو پشان، اوکه دمحبت په نیت وي لکه اکثر بریلیان وائي مونږ دمحبت په نیت دغه آواز کوو، نو دوئ ته **جواب** دا دې چه محبت یو عبادت دې اوپه عباداتو کښې دا قانون دې چه درسول الله ﷺ نه به نقل وي دځان نه عبادت جوړول دمبتدعینو طریقه ده .اوجبرئیل علیه السلام یا محمد لفظ استعمال کړو دپاره د (زیادة فی التعمیة) یعنی چه څوك ئې اونه پیژنی څکه چه بیا به خلق دده په تماشه شي نو مقصود به حاصل نشي چه هغه تعلیم دې صحابوؓ ته، اویا دا لفظ استعمالول ماقبل التحریم وو لکه ملا علی قاریؒ (۵۱/۱) فرمائي: (وورد فی الصحاح من نداء بعض الصحابة باسمه فذلك قبل التحریم) .(یعنی یا محمد وئیل حرام دي او بعضو صحابوؓ چه نبي اکرم ﷺ ته په نوم سره آواز کړیدې نو دا د تحریم نه وړاندې وو.

بل روایت کښې دي چه ده سلام هم اچولې دې کما فی روایة ابی داود .اویا رسول الله لفظ ئې هم استعمال کړیدې کما فی روایة ابی هریرة عند البخاری (٤/٢) فی تفسیرسورة لقمان وفی روایة عمر عند ابی عوانة . نو تطبیق ددواړو ترمینځه دادې چه په ابتداء کښې ئې یا محمد څکه اووئیلو چه څوك ئې اونه پیژنی او روسته ئې ادب کړیدې، نو یا رسول الله لفظ ئې ذکر کړو. دا هله چه دوه لفظونه ئې استعمال کړي وي، اوکه چرې یو لفظ ئې استعمال کړې وي نو بیابه دا روایت بالمعنی

وی چه راوی دیا محمد لفظ په یارسول الله بدل کړو، او روایت بالمعنی جائز دے خپل ځائے کښے په راشی. اَخبِرْنِیْ عَنِ الْاِسْلَامِ : په روایت دابو هریره عند البخاری (۱۳/۱) و مسلم (۲۹/۱) کښے ئے دایمان سوال مقدم کړیدے، نو وجه ئے داده چه اول به انسان تصدیق کوی په دین باندے بیا به اعمال کوی، اودلته ئے اسلام مقدم کړو وجه داده چه اسلام ظاهری اعمالوته وائی او ایمان باطنی عمل دے او ظاهر مقدم وی په باطن باندے.

حافظ ابن حجرؒ وائی : ددواړو روایتونو قصه یوه ده خو راویانو مختلف بیان کړیدی، چا اسلام مخکښے کړیدے چا ایمان .(فتح الباری : ۹٦/۱) .

تنبیه : امام بغویؒ په مصابیح کښے دالایمان سوال او جواب مخکښے راوړیدے په اسلام باندے اودا دحدیث دعمرؓ نه مخالف دے کوم چه په مسلم (۲۷/۱) کښں دے چه هغے کښے اسلام مخکښے ذکر شوے د ایمان نه .خو صاحب المشکوٰة چه دا حدیث په دے الفاظو ذکر کړو چه اسلام په کښے مقدم دے اودا الفاظ دمسلم دی، نو په دے کښے اعتراض فعلی ته اشاره ده په امام بغویؒ صاحب المصابیح باندے، چه هرکله تا الفاظ دمسلم راوړل نو هلته خو د اسلام سوال مقدم دے په ایمان باندے نو تا ولے ایمان مقدم کړو لیکن په خوله ئے څه نه دی وئیلی، دیته فعلی عملی اعتراض وائی، فتدبر!

النسبة بين الايمان والاسلام :

دایمان او اسلام ترمینځه کوم نسبت دے ؟ په دے کښے څو اقوال دی :

۱- **اول قول** دامام بخاریؒ، بعضے احناف اوشوافعوؒ دے چه دایمان او اسلام ترمینځه ترادف دے یعنی دوه اسمونه دی اومسمی ئے یوه ده، دواړه په یوه معنی کښے استعمالیږی چه دین ته وائی اوپه دے باندے ډیر دلیلونه پیش کوی چه ځینے دادی :۱- په احادیثو کښے ایمان په ځائے د اسلام او اسلام په ځائے د ایمان استعمالیږی. ۲- قرآن کریم کښے دی ﴿ فاخرجنا من كان فيها من المؤمنين فما وجدنا فيها غير بيت من المسلمين ﴾ [الذاريات : ۳٦] نودلته ایمان او اسلام په یوه معنی کښے استعمال دی. ۲- **قول د امام** مالکؒ، ابو حنیفهؒ او احمدؒ دے چه د اسلام او ایمان ترمینځه نسبت د تباین اود تضاد دے، دلیل دا دے چه :

۱- ایمان باطنی اعمالوته وائی او اسلام ظاهری اعمالو ته وائی. ۲- قرآن کریم کښے فرق شویدے ددواړو ترمینځه ﴿ قالت الاعراب آمنا قل لم تؤمنوا ولكن قولوا اسلمنا﴾ [الحجرات آیت : ۱۳] ۳- دارنګه حدیث دمسند احمد (۴۲۴/۳) کښے دی چه نبی اکرم ﷺ به داسے دعاء کوله : (اللهم حبّب الى الاسلام والايمان) .نور احادیث هم شته چه یود هغے نه دا حدیث دجبرئیل دے.

۳- **قول دامام خطابیؒ** دے کما فی شرح مسلم (۲۵/۱) للنووی، چه د ایمان او اسلام ترمینځه نسبت د عموم خصوص مطلق دے، ایمان اخص مطلق او اسلام اعم مطلق دے، نو هر مؤمن مسلم دے، او هر مسلم مؤمن نه دے، ځکه چه ایمان عبارت دے د تصدیق قلبی نه او اسلام

صرف ظاهري اعمالو ته وائي چه تصديق قلبي ورسره وي، والا فهو منافق .ماده اجتماعي لکه صحابهؓ وغيره چه مؤمنان او مسلمانان دواړه دي، تصديق هم شته او ظاهري اعمال هم .اوماده افتراقي دطرفه داسلام نه لکه بنو اسد دصحابوؓ په دور کښې دکومو په باره کښې چه آيت : (قالت الاعراب آمنا قل لم تؤمنوا) نازل شويدے، يا نن صبا کمزوري مسلمانان چه صرف اعمال ظاهره کوي او کمزورے تصديق ئے وي.

٤-**قول** : بعضو دا ذکر کړيدے چه ددے دواړو ترمينځه نسبت دعموم خصوص من وجه دے، چه دزړه تصديق هم وي او ظاهري اعمال هم کوي، مثلاً مونځ، روژه، زکوٰة، حج وغيره لکه صحابهؓ وغيره شو .اوکله به ظاهري اعمال وي اود زړه تصديق به نه وي لکه منافقان شو .اوکله به د زړه تصديق وي خو اعمال به نه وي .اودا قول معلوميږي دعبارت دامام نوويؒ نه په شرح دمسلم (١/٢٥) کښے، خو اکثرو علماؤ دا قول رد کړيدے ځکه چه يو انسان تصديق لري او ټول اعمال اسلاميه نه کوي، نودا هم مسلمان نشي کيدے په خارج کښے بلکه دا قسم مسلمان نه موجوديږي.

فيصله او محاکمه :

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري (١/٩٦) کښے قول فيصل ذکر کړيدے چه حاصل ئے دادے چه ايمان او اسلام هر يو مستلزم دے آخر لره او هريو مُکمّل د بل دے، ځکه هر عامِل چه عمل کوي نودابه کامِل مسلمان نه وي ترڅو چه دده تصديق اواعتقاد نه وي، دغه شان هر معتقد او مصدق کامل مؤمن نه دے ترڅوئے چه عمل نه وي کړے، نو ددے دواړو ترمينځه کمال رُبط او تعلق دے، اوکوم ځائے کښے چه ايمان په ځائے داسلام يا بالعکس ذکر شي، اويا يو ذکر شي اومراد دواړه واخستے شي نو هغه به حمل وي په مجاز باندے، او فرق به په اعتبار دسياق سره کولے شي، که مقام دظاهري اعمالو وي نو اسلام به مراد وي، اوکه مقام د تصديق وي نو ايمان به مراد وي، اوکه په يو سوال کښے دواړه ذکر شي نو حقيقت به مراد وي، اوکه دواړه په يو مقام کښے ذکر نشي نو يابه محمول وي په حقيقت باندے يابه محمول وي په مجاز باندے، قرينے او مقام ته به کتلے شي، نو ددے رجع ترادف ته کيږي.

فائده : دا فرق به هله کولے شي چه کله شريك ذکر شي اوچه جدا ذکر شي نو بيا به د يو بل په معنى استعماليږي، داسے لکه فقير اومسکين (اذا اجتمعا افترقا، واذا افترقا اجتمعا) ۔ اِنِ اسۡتَطَعۡتَ اِلَيۡهِ : داستطاعت نه مراد په نيز دامام مالكؒ او ابوحنيفةؒ زاد او راحله او صحة البدن دے، اوپه نيز دامام شافعيؒ قوتِ مالي مراد دے .ليکن دا منافي نه دے د زاد او راحله سره ځکه چه ديو انسان خپل طاقتِ بدني نه وي دحج نو دا به دا مال ورکوي بل چاته، نو رجع دقوتِ مالي زاد اوراحله ته کيږي .دامام شافعيؒ دليل حديث د بخاري دے لکه مشکوٰة (١/٢٢١) کښے دي چه يوه زنـ... خثعميه نبي اکرم ﷺ ته عرض اوکړو چه زما پلار باندے حج فرض شوے او پـ... مورلئ باندے

نشي تينګيدے نودده د طرفنه زه حج اوکرم ؟ قال : نعم ! وذلك فی حجة الوداع .

۳ - او په نيز دامام مالك قوتِ بدن ته استطاعت وائي، نودده په نيز په هغه چا حج فرض دے چه روغ بدن والا وی، اګرکه مال نه لري، بلکه په لاره به مزدوری کوی او ځان به رسوی .

فَعَجِبْنَا لَهُ : وجه د تعجب دا ده چه سوال منافی دے دتصدیق سره ځکه تصدیق کښے علم وی په شئ باندے اوسوال کښے جهل وی. --- الايمان ان تؤمن : دلته **سوال** دے چه په دے عبارت کښے دور دے او اخذ دمحدود دے په حد کښے ځکه چه په جانب دمحدود کښے الايمان ذکر دے، اوپه جانب دحد (تعريف) کښے ان تؤمن مشتقي ذکر دے او په ان تؤمن کښں هم ايمان پروت دے نو حمل د ايمان راغلو په ايمان باندے تقدير داسے شو: الايمان ايمان، نو دور لازم شو او معرّف او تعريف يو شے شو.او دا خو باطل دے؟ **جواب** دادے چه مراد دايمان نه په جانب دمحدود (الايمان) کښے ايمان شرعي دے، اوپه جانب دحد (ان تؤمن) کښے ايمان لغوی دے، چه عبارت دے د تصديق نه نو جهت د توقف جدا شو نو دور لازم نشو. ۲ - دارنګ (الايمان) کښں ايمان اجمالي مراد دے او ان تؤمن کښے تفصيلي ايمان مراد دے او اجمال غير وی دتفصيل نه. **بِالْقَدْرِ** : دتقدير تفصيلي بحث به روستو په باب القدر کښے راشي .خيره وشره : ای نفعه وضره .

قَالَ: اَلْاِحْسَانُ : په دے جواب کښے اشاره ده دوه مرتبو داحسان ته يوه اعلیٰ بله ادنیٰ، اعلیٰ مرتبه داده چه بنده باندے د الله تعالی ليدل په زړه سره دومره غالب شی چه ګوياکه دائے په سترګو مخامخ وينی .اودويمه مرتبه دا ده چه د بنده دا خيال او حضور وی چه ما ته الله تعالیٰ ګوری، زما هر عمل وينی، اوپه دے دويمه مرتبه ذکر کولو کښے دا اشاره ده چه الله تعالی که ته په زړه سره نه وينے نو بيا هم هميشه دالله عبادت کوه، ځکه چه الله خوتاته ګوری، ستا دعمل نه غافل نه دے.

بيا احسان په دوه قسمه دے : ۱ - احسان مع المخلوق، دا ظاهر دے، جبرئيل ددے تپوس نه کوی ۲ - احسان مع الله چه عبارت دے داخلاص نه په عبادت کښے او خشوع پيدا کول اوخپل زړه دمشاغلو نه فارغول ته وائي اودلته دا مقصود دے .فان لم تکن تراه : معنی داده چه (ان لم تعامله معاملة الرؤية فانه يراك) .

الفائدة الانيقة : دَ عمل د قبوليت دپاره شروط دی :

(۱) توحيد به وی، دشرك سره عبادت نه قبليږی (۲) په اتباع السنة سره به وی (۳) اخلاص به وی، رياء او سمعت دپاره به نه وی (٤) احسان به په کښے وی،کما مر (٥) حقوق العباد اداء کول ځکه حديث کښے دی (من لم يشکر الناس لم يشکر الله) ، دارنګ حديث د مفلس پرے دليل دے، حديث کښے دی نبی اکرم ﷺ تپوس اوکړو : (اتدرون ماالمفلس فيکم ؟) صحابوؓ اوفرمائيل : (المفلس فينا من لادرهم له ولا دينار) ، (چه روپئ او اشرفئ ورسره نه وی) نبی اکرم ﷺ اوفرمائيل : د [illegible] دے بلکه مفلس زما په امت کښے هرهغه شخص دے چه ډير عبادت به ئے کړے وی، خو

څوك به ئے وهلے وی، چاته به ئے كنځل كړے وی، نو حساب ته به وړاندے كړے شی نو ټول اعمال به ئے په (مظلومو) بندګانو تقسيم شی اوبيا به د هغوئ ګناهونه دده په څټ باندے واچولے شی (كه په نيكيو كار اونشو). رواه مسلم كما فی رياض الصالحين ص (١٠٦) ددے وجه داده چه ده حقوق العباد نه دی اداء كړی. (٦) الاحتساب (خپل ځان سره حساب كول).

اود **عبادت روح** دوه شيان دی : ١- يو محبت د الله تعالى سره. ٢ - دويم تذلل او ذلت دخپل ځان، او ابن القيم په مدارج السالكين (٨٣/١) او النونية ص (٣٢) كښے دا دوه ذكر كړيدی فرمائی.

وعبادة الرحمن غاية حبه • مع ذل عابده هما قطبان

وعليهما فلك العبادة دائر • ما دار حتى قامت القطبان

(٧) صدق فی العمل اودا د يته وائی چه په جذبے سره اوشی، سُستئ سره اونشی. بيا د اخلاص او صدق فی العمل ترمينځه فرق دا دے چه اخلاص كښے توحيد المراد وی، يعنے يو عمل دالله دپاره اوكړے شی اګرچه دهغے سره نورے ارادے هم ملګرے وی. اوصدق كښے توحيدالاراده وی، صرف د يو عمل نيت اواراده اوكړے شی. (٨) ادب په عمل كښے ضروری دے دے دپاره چه عمل بربادئ نه محفوظ شی، اودا دواړه يعنی ادب او اداء حقوق العباد دحفاظت العمل اسباب دی (٩) سبب : العمل بخوف الآخرة، چه دآخرت د ويرے دوجے نه اوكړے شی.

بيا احسان په څه پيدا كيږی ؟ نو اسباب الاحسان دا دی (١) ترك الذنوب، يعنی زړه دګناهونو نه خالی كول (٢) ذكر ډير كول په شرعی طريقه باندے (٣) دعاء ددے دپاره كول (٤) تلاوت دقرآن پاك كول (٥) مراقبه كول، يعنی وخت فارغول ددے دپاره چه فكر اوكړی د الله په احساناتو اود خپل ځان په كمزورئ كښے (٦) فكر كول په كائناتو كښے، اودارنګه تدبر فی القرآن واسماء الله وصفاته.

فائده : بيا دلته درے مرتبے دی : ١- اوله مرتبه : داسلام ده، بيا دايمان بيا داحسان ده ددے داسے مثال دے لكه درے حلقے وی، اوله حلقه كښے انسان داخل شی نو ديته مسلم وائی يعنی ظاهری انقياد اوكړی لازړه كښے پوره يقين اوكمال نه وی، نوكله چه داسلام په خوند پوهه شی اوزړه كښے ئے د الله محبت اود اسلام لذت پيدا شی نو بيا دويمے حلقے د ايمان ته نقل شی، تصديق ئے كامل شی، بيا ددے نه پس چه كله په عباداتو كښے ئے اخلاص او حضور او توجه او خشوع پيدا شی ګوياكه الله ته ګوری يا الله ده ته ګوری نو بيا دريمے حلقے داحسان ته نقل شی، اودا آخری حلقه ده، او اسلام اوله حلقه ده، او ايمان درميانی حلقه ده. اللّٰهم ابلغنا الحلقة القصوىٰ حلقة الاحسان. آمين.

مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا بِاَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ : فائده : داسے ئے اونه فرمايل چه : (ما انا باعلم منك) (زه پرے ستا نه ډير عالم نه يم)، اشاره ده عموم ته چه هر سائل او مسئول دقيامت نه په بے علمئ كښے دے، اود مرګ په پټولو كښے ډير حكمتونه دی. ١- يو حكمت دادے چه انسان عملونو

کښې کوشش اوکړي، ځکه پته نه لګي مرګ کله راځي . ۲- دویم دا چه انسان همیشه په خوف او ویره کښې وي چه هسې نه چه صباله مرګ راشي اومابه اعمال نه وي کړي۔

اَمَارَاتِهَا : کله اشراط استعمالیږي، کله علامات اوکله امارات، نو امارات غټو غټو علاماتو ته وائي،او اشراط وړو علاماتو ته وائي او علامات عام دی . ٭ امارات جمع د اَمَارَة ده بفتح الهمزه په معنی د علامې سره اوکه په کسره د همزه شي نو ددې بیا بله معنی ده یعنی خلافت او حکومت لکه اِمارتِ اسلامی ٭ اوکه په فتحه دهمزه او تشدید د میم شي اَمَّارَة نو دا صیغه داسم فاعل دمبالغې ده، یعنی ډیر زیات امر کونکې لکه (ان النفس لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوْءِ).(یوسف:۵۳) دلته اوله معنیٰ مراد ده .

اَنْ تَلِدَ الْاَمَةُ رَبَّتَهَا : چه اوزیګوی وینځه بالداره خپله۔ ددې څو مطلبونه دی : ۱- مطلب دا دې چه په احوالو کښې به تغیر راشي اودا په طریقه دمثال دې یعنی مور به په منزله د وینځې شي لور به پرې امرونه کوي، یعنی د والدینو نافرمانی به زیاته شي . ۲- اشاره ده ډیر والی د وینځو اودهغوی د بچو ته تردې چه د وینځې بچي به بادشاهان شي، جاهلان به وي، اودا وینځې به دهغوی په رعیت کښې راشي اوبادشاه خو د رعیت سردار وي، نوګویاکه دا بچي د وینځو سرداران شو . ۳- یوه زنانه به وینځه وی دیو سړي، هغه به ورسره نکاح کړې وي،کله چه سړې مړ شي نو دهغه لور به وائي دا زما وینځه شوه، ماته میراث کښې پاتې شوه، دارنګه ځوئې به ورسره نزدیکت کوي جهلًا، اوحال دادې چه کله مولیٰ مړشي نو وینځه ئې ازادیږي، داکارونه بچو لره حرام دي، لیکن دوئ چه دا کار کوي د وجې دجهل نه به ئې کوي، په دې مسئله به نه پوهیږي، نو اشاره ده چه جهل اوناپوهي به زیاته شي . ٤- یا مطلب دادې چه نا اهله خلق به مشران شي اودا دعلاماتو دقیامت نه دی لکه حدیث دې (اذا وُسِّد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة) .(کله چه نا اهله خلقو ته کارونه اوسپارلې شي نو د قیامت انتظار کوه)

اَلْحُفَاةَ : حُفَاة جمع دحَافِیُ ده خپې ابیله ته وائي چه څپل څپلۍ ئې نه وي۔ عُرَاةَ جمع د عَارِيُ ده بربنډ ته وائي او اَلْعَالَةَ : جمع د عائل ده فقیر ته وائي او رِعَاءَ په کسره د رعاء سره جمع د راعی ده۔ شپونکي ته وائي یعنی زمانه کښې به داسې انقلاب راشي چه شپونکي چه بل چا له په پیسو ګډې بزې څروي دوی به مالداره شي، د الصم البکم مطلب دا چه دوی به جاهلان هم وي چه په هیڅ به نه پوهیږي (او دارنګه د حق وینا به نه کوي د هغې نه به ئې ځان چاړا کړې وي) او د ملك مشری به کوي، لکه نن صبا وخت کښې همدا بالکل صادق دې چه زمونږ د پارټیانو او د ملك مشرانو له بسم الله وئیل هم صحیح نه ورځي۔ نور دین لا خو په ځائې پریده۔ دارنګه اول کښې ډیر غریب او خوار پړق وو او بیا مشران لیډران ترې جوړ شو، هر سړې ډې خپل قوم کښې اوګوري همدا شان حالت به ورته ښکاره شي۔

الصم البکم ئے ورتہ ځکہ اووئیل چہ د دوی حواس اگرکہ سلیم او صحیح وو لیکن دوی دا خپلے سترگے او غوږونہ پہ دین کښ استعمال نہ کړے نو داسے شو لکہ چاړاگان او کانړہ او رانده۔

يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ : د قیامت د علاماتو نہ دا دہ چہ غریب خلق بہ مالدارہ شی او بیا بہ اوگدے اوگدے آبادیانے او بلڈنگونہ جوړوی، ددے وجہ نہ اللہ بدی بیان کړیدہ دھغہ چاچہ فضول دنیا کښ آبادیانے جوړوی او پہ ھغے باندے اسراف سرہ خرچے کوی ﴿ اتبنون بکل ریع آیۃ تعبثون وتتخذون مصانع لعلکم تخلدون﴾ لکہ نن صبا دا علامہ د قیامت بالکل واقع شویدہ چہ خلق پہ فلشونو (بیت الخلاء) باندے دومرہ رقم لگوی چہ ھغہ پخوا پہ ډیرہ آبادئ باندے نہ لگیدل داسے ټیلونہ او سنگ مرمر او ماربلے لگوی تہ بہ وائے گنے چرتہ د مانځہ دپارہ ځائے جوړوی۔ یا د ناوی کوټہ دہ۔ ددے ټولو بہ اللہ تپوس کوی صرف دومرہ کوټہ انسان دپارہ ضروری دہ چہ ځان پرے د خلقو نہ پټ کړی۔ او ضرورتونہ ئے پکښ پورہ کیږی۔ حدیث کښ دی : مومن چہ ھرہ خرچہ کوی پہ ھغے ورتہ اللہ اجر ورکوی مگر ھغہ چہ پہ آبادئ اولگی نو پدے کښ اجر نشتہ۔

مَلِيًّا : مشدد دے دملائت نہ ماخوذ دے ای زماناً طویلاً او مکثاً طویلاً.

يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ : **فائدة : سوال** پہ درے قسمہ دے (۱) عنادی (۲) تعلیمی (۳) تعلمی اواستعلامی .عنادی سوال چہ دیتہ اعتراض ھم وائی مذموم دے .او سوال تعلمی دیتہ وائی چہ خپل ځان پوھہ کول مقصود وی۔ او تعلیمی دیتہ وائی چہ خپلہ پو ھیږی، لیکن نور مخاطبین پو ھہ کول مقصود وی، لکہ جبرئیل علیہ السلام سوال تعلیمی کړیدے، صحابوؓ تہ تعلیم ورکول مقصود وو. (رواہ مسلم) : دا حدیث امام مسلم دقدریہ ؤ درد دپارہ راوړیدے .

فائدہ ثانیہ : دے مخکنو ټولو امورو تہ دین اووئیلے شوځکہ دین اعمال ظاھریہ او اعتقادات او ټولو عباداتو لرہ یو جامع (راجمع کونکے) نوم دے۔

تعارف دابو ھریرہ ﷛ : ددہ پہ نوم کښے دیرش اقوال دی لیکن صحیح خبرہ دادہ چہ ددہ نوم پہ جاھلیت کښے عبد الشمس، یا عبدِ عمرو وو، او پہ اسلام کښے عبد الرحمن بن صخر یا عبد اللہ دے، او ابو ھریرہ ورتہ ځکہ وائی چہ ددہ نہ تپوس اوشو چہ تاتہ ولے ابو ھریرہ وائی، نو دہ اووئیل چہ مابہ گډے بیزے څرولے او یو پیشو راسرہ وہ لوبے بہ مے پرے کولے، نو خلقو ماتہ ابو ھریرہ کُنیہ کیخودلہ .۲- یاورتہ نبی اکرم ﷺ داکُنیہ ورکړے وہ، کلہ چہ دا د نبی اکرم ﷺ پہ تالاش کښے اووتلو او دباغ پہ یو سرنگ کښے داخل شو، نبی اکرم ﷺ چہ اولیدو چہ پہ تنگ سوری کښے داخل شو، ورتہ ئے اوفرمائیل یا ابا ھریرۃ ! اودا امام المحدثین او حافظ او مفتی اوفقیہ صحابی وو. پہ صحابوؓ کښے دیرش مفتیان وو، یو پہ کښے ابو ھریرۃؓ وو، کما فی اعلام الموقعین (۱۲/۱).

کوم خلق چہ دہ تہ غیر فقیہ وائی لکہ احناف نو ددوئ دا خبرہ غلطہ دہ، ځکہ فقاھت حاصلیږی پہ تقویٰ، قلۃ الوسائط، قوۃ الحفظ، قوۃ الایمان، نور القلب، نور فی الاعمال،

البصیرة فی الدین، الاهتمام بالدین سره، اودا تول صفات په ابو هریره ﷺ کښې په کمال درجه موجود وو۔ ده ته هغه احادیث یاد وو کوم چه مهاجرین او انصارو ته نه وو یاد، ځکه چه هغوئ به تجارت کولو اوباغونو ته به تلل کرکیله به ئې کوله، او ابو هریرهؓ به علم زده کولو، اود اصحاب الصفه سره به ناست وو، دده نه (۵۳۶٤) احادیث نقل شویدی، اودا ئې په څلورو کالو کښې یاد کړی وو، دخیبر په اوّل کال ئې ایمان راوړیدے په شپږم کال دهجرت، او په مدینه کښې وفات شویدے په (۵۷ هـ) یا (۵۸ هـ) کښې د (۷۸) کالو په عمر۔او جنازه پرې ولید بن عقبه بن ابی سفیان کړیده چه دا په دغه وخت امیر المدینه وو۔

فِیْ خَمْسٍ : ددے متعلق محذوف دے (یعنی علم وقت الساعة داخل فی جملة خمس) (یعنی د قیامت علم په هغه پنځو څیزونو کښې داخل دے چه صرف او صرف الله ته معلوم دی) او دیته په احادیثو کښې مفاتیح الغیب وئیل شویدی۔

اِنَّ اللهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ : ۱- زاد المسیر په سورة لقمان (۳۳۱/٦) کښې دامام زجاجؒ نه نقل کړیدی چه څوك ددے پنځو کارونو نه منکر شو، یائې ددے علم بل چاته ثابت کړو، نودا کافر دے۔

۲- ابن عباسؓ فرمائی : (هذه الخمس لا یعلمها ملك مقرب ولا نبی مرسل مصطفی) ۔(پدے کارونو باندے نه یو مقرب ملائك پوهیږی او نه غوره مرسل نبی)۔ علامه قرطبیؒ فرمائی : فمن ادعی علم شیء منها غیر مسنده الی رسول الله ﷺ کان کاذباً فی دعواه) فتح الباری (۸۰/۱) ۔ (څوك چه ددے څیزونو د علم دعویٰ کوی او دلیل نه راوړی نو دا به په خپله دعویٰ کښې دروغجن وی۔) او هر چه د غیبو گمان دے نو هغه کله د نجومی وغیره نه هم رشتینے کیږی نو دا علم غیب نه دے، ځکه دا د تجربے په ذریعه کیږی۔

دَ اسلام بنیاد په پنځو څیزونو دے

۳- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« بُنِیَ الْاِسْلَامُ عَلٰی خَمْسٍ: شَهَادَةِ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَاءِ الزَّکٰوةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : د ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : داسلام بنیاد په پنځو څیزونو دے : ددے خبرے په زړه سره اقرار او گواهی کول چه الله نه سیوا بل هیڅوك دعبادت لائق نشته اومحمدﷺ د الله بنده او رسول دے، پابندئ سره مونځ کول، زکوٰة ورکول، حج کول، او د رمضان روژے نیول (بخاری اومسلم).

تعارف دابن عمر ﷺ : دده نوم عبد الله دے اگرکه دعمر نور ځامن هم شته لیکن دا مشهور دے په ابن عمر باندے کنیه ئې ابو عبد الرحمن ده، اسلام ئې دخپل پلار سره راوړیدے په هغه وخت

کښې ماشوم وو اوغزوه احد کښې د (۱٤) کالو په عمر وو. نوجنګ دپاره قبول نه کړے شو، بيا غزوه خندق کښې قبول شو چه عمرئې (۱٥) کاله وو، دنيا کښې زاهد اوبے رغبته وو، اود رسول الله ﷺ په هر عمل کښې تابعدار وو، اقوال او افعال تولو کښې، اګرکه هغه کار به مباح وو، جابر بن عبد الله فرمائي : هر انسان دنيا ته مائل شويدے سوی دعمرؓ اود هغه دځوئے عبد الله نه، نبی اکرم ﷺ دده په باره کښې فرمائيلی دی (انه رجل صالح) دده نه تول (۲٦۳۰) احاديث نقل دی۔ په (۷٤هـ) کښې وفات شو، او په محصّب کښې دفن کړے شو۔ حجاج بن يوسف يوشخص ته حکم اوکړو چه دحج په موسم کښې په نيزه باندے عبد اللهؓ قتل کړه، چه په دغه نيزه ئے زهر اچولی وو، هغه سړی د ابن عمرؓ په خپه باندے کيخوده، کله چه د عرفات نه راواپس شو، مريض شو څو ورځے پس وفات شو، عمرئے (۸٤) کاله وو.

تشريح : بُنِيَ الْإِسْلَامُ : دلته د اسلام تشبيه ديوے خيمے سره ورکړے شويده، خيمه د باران، يخنئ، ګرمئ نه انسان بچ کوی، نو دغه شان اسلام هم دے چه دانسان د سر ومال، آبرو اوعزت حفاظت کوی. علی خمس : **وجه دحصر** په دے کښې داده چه عبادت به خالی نه وی يا به قولی وی نودا شهادت شو او يا به غير قولی وی، نويا به ترکی وی نودا صوم دے، اويابه فعلی وی نو دابه خالی نه وی يابه بدنی وی دا صلاة دے، يابه مالی وی دا زکوٰة دے، يا به مرکب منهما وی دا حج دے۔

شَهَادَةِ : ۱- دا خو يا مرفوع دے بناء په حذف د مبتداء باندے (ای احدها شهادة) .۲- يا مجرور دے بدل دے دخمس نه، وهو الاصح ځکه چه تقدير ته حاجت نه راځی۔ ۳- نصب هم جواز لری چه اعنی مقدر کړے شی۔ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ : ددے نه مراد تول ايمانيات دی.

بيا تارك ددے درے اعمالو کافر نه دے او منکرئے کافر دے او په تارك الصلاة کښې اختلاف دے .۱- قول دعام صحابوؓ ، احمد، اسحق بن راهويه، ابن ابی شيبه، ابن حزم او عام محدثينو دے سيوا دائمه ثلاثو نه : چه تارك الصلاة کافر دے کله چه عمداً اوقصداً مونځ پريدی، اوحدئے قتل دے .۲ - دويم قول د امام مالكؒ شافعیؒ دے، چه تارك الصلاة فاسق دے اوحداً به قتلولے شی، لکه د زنا بعد الاحصن پشان .۳ - دريم قول د امام ابوحنيفهؒ دے چه فاسق دے خو جيل ته به اچولے شی تردے چه توبه اوباسی اويا مرشی .او تفصيلی دلائل به په خپل ځائے کښې په کتاب الصلاة کښې راشی (۲/۳ ٤) .دارنګ الدين الخالص (۳/ ٦۲) تفصيلًا اوګوره۔

بيا دلته **سوال** دے چه الاسلام دا مبنی دے او علی خمس الخ دامبنیٰ عليه دے اوپه مابين د مبنی او مبنی عليه کښې مغايرت ضروری دے، حال دا چه دلته مغايرت نشته ځکه اسلام بعينهٖ دا پنځه ارکان دی، اودا پنځه ارکان بعينهٖ اسلام دے ؟ نوبو **جواب** دادے چه مراد د اسلام نه تذلل او انقياد لغوی دے، اودا پنځه ارکان تذلل شرعی دے نو معنی دا ده چه دا تذلل او انقياد لغوی به مرتب وی په دے ارکانو باندے يعنی دا تذلل به د بنده نه هله قبليږی کله چه دا راتګ اوکړی په

دے ارکان خمسه باندے نو تغایر راغلو ځکه چه اسلام مرتب شو او ارکان خمسه مرتب علیه شو کذا فی المرعاة (١/٤٥) ٢- یا په مبنیٰ او مبنیٰ علیه کښے د اجمال او تفصیل په وجه فرق راځی یعنی اسلام اجمال دے او خمس ئے تفصیل دے او اجمال او تفصیل کښے مغایرت من وجه وی. ٣ - او یا الاسلام ټول اسلام مبنی دے په دے پنځو ستنو چه دائے بعضے اجزاء دی نه ټول یعنی فرق د جزئیت او کلیت دے، چه الاسلام کل دے او دا پنځه ستنے ئے اجزاء دی. مقصد په دے حدیث کښے رد دے په مرجئه ؤ باندے په بیان د زیاده الایمان والنقصان. او بیان دد دے چه اعمال په ایمان کښے داخل دی. خلافاً للمرجئه.

بیا **سوال** واردیږی چه جهاد هم د اسلام رکن دے نو هغه ئے ولے ذکر نه کړو؟ **جواب** دادے چه مقصود دلته هغه ارکان ذکر کول دی چه هغه فرض عین وی، او جهاد فرض کفایه دے عموماً۔

بل سوال دادے چه د ایمان بل رکن خو ایمان بالملائکة والرسل هم دے، دائے ولے ذکر نه کړو؟ **جواب:** هغه داخل دے په ایمان بالله کښے، ځکه چه الله باندے ایمان راوړلے شی نو د هغه ملائك اورسولان به هم منی.

دلته روایت کښے صوم رمضان مخکښے راغلے دے، بل روایت د مسلم کښے وصوم رمضان والحج راغلے دے، چه دا تقدیم تاخیر د بعضے رواتو نه کیږی. نو دا سوال نه واردیږی چه صوم د هجرت په دویم کال فرض شویدے او حج په شپږم یا په نهم باندے فرض شویدے.

د ایمان څانگے

٤- عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «اَلْاِیْمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُوْنَ شُعْبَةً فَاَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ وَاَدْنَاهَا اِمَاطَةُ الْاَذٰی عَنِ الطَّرِیْقِ وَالْحَیَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْاِیْمَانِ» . متفق علیه.

ترجمه: د ابو هریره ﷺ فرمائی رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: د ایمان څانگے د اویا نه هم زیاتے دی هغے کښ د ټولو نه د اعلیٰ درجے څانگه ژبے او زړه سره ددے خبرے اقرار کول دی چه الله نه سیوا بل څوك د عبادت لائق نشته او د ټولو نه کمه درجه څانگه تکلیف ورکونکے څیز د لارے نه لرے کول دی او شرم او حیاء هم د ایمان یوه څانگه ده۔ (بخاری او مسلم).

تشریح: غرض الحدیث ١ - د ایمان شعبے بیانول دی. ٢- رد دے په مرجئو باندے چه هغوئ عمل لره اعتبار نه ورکوی. ٣- ایمان کښے زیادت او نقصان راځی، ځکه ایمان د وُنے په شان دے لکه چه وُنه مشتمله وی په ستنه او په څانگو او په پاڼړو باندے چه د بعضے اجزاؤ په ختمیدو سره بالکل ختمیږی لکه ستنے نه ئے او وهه نو وُنه ختمه شوه، او د بعضے اجزاؤ په ختمیدو سره ناقص کیږی لکه پانړے کټ کړے شی نو حُسن ئے خراب شی، نو دغه شان ایمان مرکب دے د تصدیق، اقرار او عمل نه، نو په نفی د تصدیق سره سلب الایمان راځی، او په نفی د عمل سره

ناقص گرځی، اوپه نفی د اقرار سره بدرنګ کیږی.

بِضْعٌ وَسَبْعُوْنَ شُعْبَةً : بِضع مثلث الباء دے یعنی ضمه، کسره، فتحه درے واړه حرکات پرے راتلے شی، لیکن کسره د باء مشهوره ده اود بضع اطلاق کیږی د واحد نه تر عشره پورے اود نیف اطلاق کیږی د واحد نه تر ثلثه پورے. **سوال** : بل روایت کښے بضع وستون شعبة راغلے دے، اودلته بضع وسبعون شعبةً دے، ددے څه تطبیق دے؟ **جواب** : ۱- مفهوم العدد لره اعتبار نشته چه یوځائے کښے عدد ذکر شی لکه آیة المنافق ثلاث، نودا نه ده لازم چه بل ځائے ډیر عدد نه وی مراد، اوعدد اقل نفی داکثر نه کوی. ۲- دا اختلاف په اعتبار د تعدد الوحی سره راغلے دے یعنی اول وحی دستون راغلے وه بیا ورسره زیادت اوشو بضع وسبعون نازل شو. ۳- اصل وحی د ستون شویده اوسبعون د تکثیر دپاره دے اوتعیین غرض نه دے، عرب لفظ دسبع او سبعون دتکثیر دپاره استعمالوی. ٤- وهو القوی، منافات په مابین دحدیثینو کښے نشته ځکه چه بعضے داسے شعبے دی چه بعضے علماء دوه په یو کښے شماری او بعضے ئے جدا ګڼړی لکه مثلاً امر بالمعروف او نهی عن المنکر یوه شعبه ده، یا خضوع اوخشوع، یاتوکل او انابة الی الله، تولے شل مسئلو کښے اختلاف دے څوک ئے دوه شماری نو بضع وستون شو، او څوک ئے جدا جدا شماری نو بضع وسبعون شو .اودے جواب ته حافظ په فتح الباری (۱/ ٤٤) کښے اشاره کړیده.

شُعْبَةً : شعبه څانګے ته وائی (ای القطعة والمراد الخصلة والجزء) -یعنی ایمان متعدد څانګے (اجزاء او خصلتونه) لری.(فتح) دلته د ایمان تشبیه د شجرے سره ورکړے شویده، نو د ونے کمال په یوڅو شیانو سره راځی : ۱- په اساس (بنیاد) سره. ۲- په څانګو سره. ۳- په پاڼړو سره. ٤- په ثمارو(میوو)سره.نودغه شان تصدیق اساس الایمان دے،اوعمل څانګے اوپاڼړے دی، اواخلاص تنه ده،او اخلاق ئے ثمار دی چه پیدا کیږی د اعمالونه. اودا شُعَب ابن حِبان ذکر کړیدی په کتاب شعب الایمان کښے او ابن حجر په فتح الباری (۱/ ٤٥) کښے شمارلی دی، اوامام بیهقی هم په شعب الایمان کښے راوړیدی، اودهغے خلاصه ابو عمرو بن الصلاح په یوه رساله کښے راویستلے ده، دارنګه زمونږ فتاوی الدین الخالص (۱/ ٣٤٤ - ٣٨٤) کښے یوه رساله ده چه شعب الایمان په کښے ذکر دی.

بیا دلته درے شعبے ذکر دی (۱) اعلیٰ چه هغه قول دلا اله الا الله دے (۲) او ادنیٰ چه هغه اماطة الاذیٰ عن الطریق ده. (۳)او متوسط چه هغه حیاء ده.نو په دے سره تنبیه اوشوه په باقی شعب الایمان باندے.

قَوْلُ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ : قول په دوه معنو سره دے : ۱- په معنی داعتقاد سره. ۲- په معنی دګفتن (وینا) سره. اودلته مراد اعتقاد او وینا دواړه دی. اودیته شهادة التوحید وائی، دا یوه شعبه ده، اوشهادة الرسالة جدا شعبه ده، دا وجه ده چه دواړه ئے جمع نه کړل. وادناها : یعنی کمے درجے والا شعبه. د ادنیٰ دوه مصدره راځی : ۱- دُنُوّ په معنی د قرب سره. ۲- دَنَاءَ ةٌ په معنی د رذالت سره،

اودلته اوله معنى مراد ده. يعنى آسان اوقريبه په اعتبار د درجې سره. اماطه الاذیٰ : (لرې كول د تكليف وركونكى څيز لكه ازغى، كاڼړې خبثته وغيره) الاذیٰ مصدر دے په معنى دمُوذِى سره مَبنى للفاعل دے يعنى ضررى څيز.

دلته يو سوال دے چه په مشكوٰة باب المساجد (۶۹/۱) كښې راځى چه بهتر عمل (الاذى يماط عن الطريق) دے نو هلته ئے ورته بهتر عمل وئيلے اودلته وائى دا ادنیٰ عمل دے نو ددے دواړو ترمينځه تطبيق څه دے ؟.

جواب : ۱- دادے چه دا حديث ډير قوى دے دهغه حديث نه په اعتبار د سند سره نو ترجيح دے حديث لره ده. **جواب۲ :** دائے په طريقه د ترغيب سره وئيلى دى يعنى هركله چه اماطة الاذیٰ چه دا يو ادنیٰ اومعمولى عمل دے دومره بهتر دے چه انسان جنت ته داخلوى نو نور اعمال (صوم، صلاة، زكاة، حج وغيره) خو به په طريقه اولیٰ سره انسان جنت ته داخلوى. عن الطريق :صوفيه ؤ دلته بله معنى كړيده چه اذیٰ بدو صفاتو د نفس ته وائى اوالطريق نه مراد الطريق الموصل الى الله ده .يعنى بد صفات دنفس نه اوباسه نو الله ته به اورسيږے، ليكن ظاهره اوله معنى ده، دا صرف اشاره ده.

بيا په دے حديث كښې ايمان ذكر دے چه بل لره به نفع وركوى نو دا اعلیٰ درجه ده، او راتلونكى حديث كښې ضرر نه وركول دى، اودا اسلام دے نو دا دويمه درجه ده.

وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيْمَانِ : ۱- حياء په لغت كښې ماخوذ دے دحيوة نه، تغير او انكسار ته وائى چه انسان ته راپيښيږى د وجے دخوف دعيب اوملامتيا نه .

۲- امام راغبؒ په المفردات كښې دحياء داسے تعريف كوى : (هو انقباض النفس عن القبائح شرعاً اوعرفاً او عقلاً). (شرعاً يا عرفاً يا عقلاً د بدو كارونو نه د نفس راټوليدلو ته وائى) او په اصطلاح د شرع كښې : (هوخلق يمنع الانسان عن ارتكاب القبائح) . (دا هغه اخلاق دى چه انسان د بدوكارونو د كولو نه منع كوى) حافظ ابن حجرؒ داسے تعريف كوى : (خُلُقٌ يبعث على اجتناب القبيح ويمنع من التقصير فى حق ذى الحق) .(حياء يو داسے خوئى دے چه انسان راپورته كوى په ځان ساتلو د قبيح كاراو منع كوى ئے د كوتاهى كولو نه په حق د صاحبِ حق كښې). كله ئے مطلقاً په ترك الشئ باندے اطلاق كيږى، دا معنى لازم ده ددغه شرعى معنى سره.

اونبى اكرم ﷺ ئے بل تعريف كړيدے لكه كتاب الجنائز دمشكوٰة (۱۴۵/۱) كښې راځى وهو حديث حسن اوصحيح كما فى صحيح الجامع الصغير وزيادته للالبانى (۲۲۲/۱) عن ابن مسعود قال : قال رسول الله ﷺ : (استحيوا من الله حق الحياء، قالوا : انا لنستحى من الله يارسول الله ! قال : ليس ذلك ولكن من استحى من الله حق الحياء فليحفظ الرأس وما وعىٰ وَلْيَحْفَظِ البطن وماحوىٰ، وليذكر الموت والبِلیٰ ، ومن اراد الآخرة ترك زينة الدنيا، فمن فعل ذلك فقد استحىٰ من الله حق الحياء) .

(يعنى حقه حياء ديته وائى چه انسان د سر (دماغ)او د هغے د فكرونو، د خيټے او د هغے د ماحول

حفاظت اوکړي او مرګ او خپل زوړ والے (په ژوند او قبر کښ) ياد کړي او د دنيا ډولونه پريدي)۔
بل تعريف جنيد بغدادیؒ کړيدے چه : (رؤية آلاء الله بالكثرة والتقصيرمن نفسك) (يعني د الله نعمتونه ډير ګنړل اوخپل ځان کوتاه ګنړل ديته حياء وائي)۔اوس که څوك دالله نعمتونه کم ګنړي اوخپل عمل ډير ګنړي نوداے حياء دے۔ ۲-اوکه دالله نعمتونه اوخپل عمل برابر ګنړي داهم بے حياء انسان دے.

سوال ۱ : حياء په بضع وسبعون شعبة کښے داخل ده نو ولے ئے جدا ذکر کړه وجه د تخصيص څه ده ؟ **جواب** : وجه د تخصيص داده چه حياء يوه جامعه شعبه ده ځکه چه حياء انسان د قبائحو اوبدو صفاتو نه منع کوی، اوپه معروفاتو باندے ئے آماده کوی، نو په دے کښے يو جامعيت پروت وو په دے وجه ئے تخصيص اوکړو۔

۲- جواب : حياء خُلق طبعي اوفطري دے اوپه خُلق فطري باندے ثواب هله وی چه کله انسان نيت د ثواب اوکړي ځکه چه د بعضو خلقو حياء عادت وی، ثواب ئے نه ګنړي، نودلته ذکر شوه چه ګوره حياء لوئے عمل دے، ددے د ثواب نيت پکار دے. **سوال: ۲**- حديث کښے دی (الحياء خير كله) وفي رواية (ولا ياتي الا بخير) (متفق عليه، مشكوة : ۴۳۱/۲، باب الرفق والحياء) .(حياء سراسر خير خير دے) اوحال دا چه مونږ ډير انسانان ګورو چه دحياء په وجه حق نشي بيانولے اوډير نيك كارونه نشي کولے؟ نو دے حياء کښ څو خير رانغلو؟۔ **جواب** : حياء په دوه قسمه ده : ۱- يو حياء شرعي ده ۲- دويم حياء غير شرعي ده چه په معنی دعجز سره ده، نو حديث کښے چه الحياء خير كله راغلے دے نوددے نه مراد حياء شرعي ده، او عجز ته مجازاً حياء وئيل کيږی هغے ته رعب وائي.

اسباب الحياء : هرکله چه حياء لوئے عمل دے نو اوس حياء په څه سره په انسان کښے پيدا کيږی، نو امام احمدؒ په كتاب الزهد اوابن قيمؒ په خپل کتابونو کښے ډير اسباب ذکر کړيدی : (۱) په خپلو ګناهونو کښے سوچ کول (۲) اود عملونو نقصانات يادول (۳) اود الله نعمتونه يادول، نو په دے سره يو کيفيتِ نفساني پيدا شي هغے ته حياء وائي۔(٤) دارنګه دحياء په باره کښ د راغلو ترغيباتو او فضائلو مطالعه کول .(٥) دارنګه درجه داحسان ته چه انسان اورسيږی حياء پيدا کيږی.

د ايمان او اسلام مفهوم

٥- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ» هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ وَلِمُسْلِمٍ : قَالَ اِنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ ﷺ أَيُّ الْمُسْلِمِيْنَ خَيْرٌ؟ قَالَ: «مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ» .

ترجمه : دعبد الله بن عمرو ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمايل : کامل مسلمان هغه دے چه

دهغه دلاس اوژبے (دضرر) نه مسلمانان محفوظ وی او اصل مهاجر هغه دے چه هغه تمام څیزونه پریدی چه دهغے نه الله تعالی منع فرمائیلے ده۔ داالفاظ د بخاری دی او مسلم دا روایت په دے الفاظو سره بیان کړیدے چه یو سړی د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه مسلمانانو کښې د تولو نه بهتر څوك دے، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل: چه دهغه دژبے اولاس (دضرر) نه نور مسلمانان محفوظ وی.

تعارف د عبد الله بن عمرو رضی الله عنه: د عمرو په باره کښې نبی اکرم ﷺ فرمائیلی دی: (اسلم الناس وآمن عمرو (وکان من دهاء العرب-شجاع) (نورو خلقو اسلام راوړے او عمرو ایمان راوړے او دا په عربو کښې ډیر زیرك او بهادرانسان وو) عبد الله ئے ځوئے دے، اودا ډیر عبادت او زهد والا وو، د واده په شپه ئے توله شپه عبادت کړے وو، بلکه ډیرے مودے پورے لیلًا اونهاراً خپلے بی بی ته نه وو نزدے شوے کما فی ریاض الصالحین ص (۷۹) (متفق علیه)۔ دا د خپل پلار نه یوولس کاله کشر دے، او دده پلار د پنځیشت کالو په عمر نیکه جوړ شویدے، دا هم دهغه صحابوؓ نه دے چه ډیر روایات ترے نقل شویدی، دا وجه ده چه ابو هریرهؓ به فرمائیل: عبد الله ډیر حدیثونه یاد کړل، ځکه چه ده به لیکل کول اومابه یادول، اوده (عبد الله) د نبی اکرم ﷺ نه یوه رساله لیکلے وه په نوم د (**الرسالة الصادقة**) سره (چه داحادیثو په کتابونو کښې ذکر کیږی) چا اعتراض پرے اوکړو چه ته هره خبره لیکے اوکله خو نبی اکرم ﷺ غصه وی، دغصے حالت کښې خبره کوی، نو هرڅه مه لیکه! هغه نبی اکرم ﷺ ته شکایت اوکړو ددے خبرے، نونبی اکرم ﷺ ورته اوفرمائیل: هرڅه لیکه ځکه زما دخولے نه نه اوځی مگر حق خبره۔ په (٦٧ هـ) کښې د (۷۲) کالو په عمر په مکه مکرمه کښې وفات شویدے۔ احادیث منقوله ترے (۷۰۰) دی.

نکته: دعُمر اود عمرو په مابین کښې فرق په واو سره کولے شی چه په عمرو کښې به واو په حالت رفعی اوجری کښې لیکلے شی اوپه حالت نصبی کښې به په الف سره لیکلے شی .او په عُمر کښې به واو نشی لیکلے اونه به په حالت نصبی کښې الف لیکلے شی ځکه غیر منصرف دے بلکه فتحه به وی.

فائده: دابو هریرهؓ روایات بیا هم ډیر دی دعبد الله بن عمروؓ د روایاتو نه د دوه وجهو نه (۱) دا طائف کښې اوسیدلو، او ابو هریرهؓ مدینه کښې، نو مدینے ته به خلق ډیر تلل راتلل په نسبت سره طائف ته (۲) وجه: ابو هریرهؓ به صرف مرفوع حدیث بیانول، او عبد الله بن عمروؓ به کله کله اسرائیلیات هم بیانول، (لانه وجد زاملتین فی غزوة الیرموك فکان یحدث منهما) .ځکه ده په غزوه د یرموك کښې دوه کتابچے موندلے وے نو د هغے نه به ئے خبرے بیانولے۔

تشریح: اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ: دلته څو **اشکاله** دی:

(۱) یو دا چه: المسلم مبتداء معرفه ده، او من سلم ئے خبردے دا هم معرفه ده او مبتداء اوخبر چه دواړه معرفه وی نو مفید دحصر وی، نوددے نه معلومه شوه چه یو انسان صرف ضرر چاته نه رسوی نودا مسلمان دے که نور اعمال (مونځ، زکوة، صوم حج وغیره) کوی اوکه نه کوی،

اودا خبره خو خطاء ده ؟ .**جواب** : ۱- دادے چه مراد د حصر نه په دے مقام کښے کمال دے یعنی کامل مسلمان هغه دے چه چاته ضرر نه رسوی ـ ۲- **جواب** : احادیثو کښے قانون دادے چه نبی اکرم ﷺ یوه خبره اوکړی نو هغه دموقعے او محل مناسب وی، پوره تفصیل نه وی ذکر، باقی تفصیل ورسره مراد وی، نو دلته هم ورسره قید دے : (ای مع مراعاة باقی الارکان) ،(چه د باقی ارکانو لحاظ به ورسره مراد وی) دلته مقصود صرف د یو عمل فضیلت ذکر کول دی۔ داوجه ده چه امام خطابیؒ فرمائیلی دی : دلته دمسلم نه مراد هغه دے چه جمع کړے ئے وی اداء دحقوق الله او حقوق العباد دواړه۔ که حقوق الله نه اداء کوی مثلًا ډیر هندوان چاته ضرر نه رسوی، نو آیا دا به مسلمانان وی، یواځے په دے صفت باندے نه مسلمانیږی بلکه حقوق الله او حقوق العباد دواړو لحاظ به ساتی۔ ۳- **جواب** دادے چه دلته نبی اکرم ﷺ دمسلمان علامه بیانوی چه دده داسلام علامه ضرر نه رسول دی لکه د منافق علامه چه ذکر کیږی، نو دلته مقصود دانه وی چه صرف اوصرف په دے کار مسلمان شو اګرکه نور اعمال نه کوی بلکه دا صرف علامه شوه، نور اعمال ورسره ضروری دی .اودغه شان جواب په : المهاجر کښے هم دے چه مراد دمهاجر نه هغه دے چه د ترك الوطن سره ترك دمحارمو هم جمع کړی، اوپه دے باندے دلیل روستو جمله ده (ایُّ المسلمین خیر) او امام ابن جنی وئیلی دی چه دعربو عادت دادے چه دمبالغے دپاره اسم جنس ذکرکوی، نودلته هم الف لام په المسلم او المهاجر کښے جنسی دی، په دے حصر کښے مبالغه غرض دے (ای المسلم الکامل) لکه عرب وائی (الکعبة هی البیت) یا الکتاب ذکر کوی اومراد ترینه کتاب د سیبویه اخلی ای الکامل۔ ۲- **دویم اشکال** دادے چه دلته ئے المسلمون ذکر کړیدے یعنی مسلمانانو ته به ضرر نه رسوی، اوکه اهلِ ذمه ته ضرر رسوی نو خیر دے، حال دا چه دا خبره صحیح نه ده ؟ **جواب** : ۱- دا چه دا قید دمسلمون تغلیبی دے هرچاته شامل دے احترازی نه دے وجه داده چه عام ضرر په معاشره کښے مسلمانانو ته رسی نو دائے تغلیباً ذکر کړل، اهل ذمه په کښے هم داخل دی . ۲- بله دا چه مسلمون ئے ځکه ذکر کړل چه اهلِ ذمه اونور کفارو نه لاس بندول د یو وخت پورے دی، اصل په هغوئ کښے قتال دے چه جنګ به ورسره کولے شی۔ ۳- **دریم اشکال** : مسلمون ئے ذکر کړل نه مسلمات، نوکه څوك مسلماتو زنانو ته ضرر رسوی نو آیا دابه جواز لری ؟۔

الجواب : ۱- مراد دالمسلمون نه المتصفون بالاسلام دی، اومتصف بالاسلام (اسلام والا) نارینه اوزنانه دواړه دی، نودلته دواړه مراد دی۔ ۲- **جواب** : په خطاباتِ شرعیه ؤ کښے غالباً دا قانون دے چه خطاب سړو ته کیږی اوزنانه تابع وی دسړو، هغه هم مرادے وی،نوذکر دالمسلمون نفی د المسلمات نه کوی بلکه هغه ورسره تبعاً مراد دی۔

۴- **اشکال** : که یو سړی قتل اوکړو نو پکارده چه قصاص نه کړے شی ځکه مسلمان ته ضرر رسیږی، یا یو مسلمان زنا اوکړه نو پکار ده چه حد پرے قائم نه کړے شی ځکه په دے کښے هغه

ته ضرر رسيږي ؟۔ **جواب** : مراد د المسلمون نه هغه دي چه هغوئ په خپل ځان باندے موجب د اذئ (ضروري څيز) لازم نه کړي، اوکه په ځان باندے موجب د اذئ اوضرر څيز ارتکاب اوکړي نو بيا ضرر ورکول جواز لري، په دے کښے نقصان دده دے، چه ځان ته ئے ضرر ورکړو، ولے ئے داسے کار کولو چه ضرر ورته رسيږي .حاکم ورته ضرر نه دے رسولے بلکه ځان اورسولو۔

من لسانه ويده : دلسان ضرر لکه مسلمان ته کنځل کول، رد بد وئيل، لعنت، ښيرے، غيبت او بهتان او چغلي کول۔ دارنګه حق پرستو پسے تقريرونه کول، هغه په بدو يادول۔ دلاس ضرر لکه مسلمان سره جنګ کول، وهل ټکول، جيل ته په ناحقه اچول، مسلمان پسے په قلم باندے کتاب ليکل، دحق مخه نيول۔ اوددے نه د ماشومانو اود غلامانو، ښځو اوشاګردانو وهل مستثنیٰ دی ځکه هغه په طريقه دضرر نه وی بلکه دتاديب (ادب ورکولو) دپاره وی .

سوال : لسان ئے ولے مقدم کړو، سره ددے نه چه دلاس ضرر ډير اهم دے ځکه چه په ژبه دومره نه تکليف کښے کيږی څومره چه په لاس تکليف کښے کيږی ؟ **جواب** : د ژبے ضرر مقدم دے دلاس دضرر نه، اول جنګ په لسان جوړيږي، لاس ته روستو موقع پيدا کيږی .نو ځکه ئے دژبے ذکر هم مقدم کړو۔ ٢- **جواب** : عاقل انسان ته دژبے ضرر لوئی دے د ضرر دلاس نه، ځکه چه د ژبے ضرر دائمي وی اود لاس زخم چه روغ شي نو هير شي، دا وجه ده چه شاعر وائی :

جراحات السنان لها التِيَامُ ❁ ولا يلتام ماجَرَحَ اللسانُ

٣- **جواب** : د لسان اود يد دضرر ډير فرق دے۔ په لاس باندے ضرر قريب ته رسی، اود لسان ضرر قريب اوبعيد دواړو ته رسی ★ دارنګ د لاس ضرر لږو خلقو ته رسيږی اود لسان ضرر ډيرو ته رسی، مثلًا ټولے قبيلے ته کنځل کول ★ دارنګه دلاس ضرر حاضروته رسيږی اود ژبے ضرر حاضر او غائب هرچاته رسيږی۔ ★ دلاس ضرر ژوندو ته رسی، اود ژبے ضرر ژوندو اومړو دواړو ته رسی، نودلسان ضرر زيات دے دضرر دلاس نه نوځکه ئے مقدم کړو۔ په دے **سوال** وارد دے چه دلاس ضرر هم ډير دے مثلًا مسلمان پسے څه اوليکل شی نودا ډير دوام دار دے او احياء او اموات حاضر او غائب اوقليل او کثيرو ټولو ته رسيږی، نودلاس ضرر هم زيات دے؟۔ **الجواب** : زمونږ خبره په اکثر او غلب کښے ده، او غالباً د قلم ضرر کم وی، ځکه دا هرڅوك نشي استعمالولے، اود ژبے ضرر اهم دے امی سړے ئے هم استعمالوی، نودا د هرچانه واقع کيږی، په دے وجه ئے مقدم کړو .

وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ : تخصيص دهجرت د دوو وجهو نه اوشو :

(١) يو دا چه کله انصارو دمهاجرينو دهجرت فضليت واوريدلو نو اوپسخيدل او خفه شو چه مونږ دهجرت مقام نه دے حاصل کړے نو نبی اکرم ﷺ ورته ارشاد اوفرمايه چه که تاسو مادی هجرت نه دے کړے نو معنوی هجرت اوکړئ نو په دے کښے تسلی ده دوئ ته۔ يعنی تاسو به په کور کښے ناست يئ اود مهاجرينو اجر اوثواب به درته ملاؤ شی هغه مرتبه به درته حاصله شی،

بيا دا كامل مهاجر ولې دې؟ وجه دا ده چه ګنا هونه پرېښودل داجنس دې اود ملك پرېښودل ئې يو نوع ده څكه انسان ملك ولې پرېدي، دې دپاره چه دګناه نه بچ شي نو كامل مهاجر هغه دې چه هرځائې ګنا هونه پرېدي، دا وجه ده چه هجرت هر وخت فرض دې۔

(۲) دويمه وجه داده چه مهاجرو به ځان اوچت ګڼرلو په غير مهاجرو باندې، نو نبي اكرم ﷺ ورته اوفرمائيل چه په دې باندې ځان اوچت مه ګڼرئ بلكه داكارونه اوكړئ (چه كوم شئ الله منع كړيدې هغه پرېدئ) اودا اعلىٰ هجرت دې وجه دا ده چه مقصود په هجرت (ترك الوطن) كښې دادې چه انسان دالله اود رسول ﷺ مخالفت اود ګنا هونو نه ځان اوساتي اودين ئې په حفاظت كښې شي، اودا مقصود په دې هجرت معنوي كښې شته دې.

سوال : المهاجر صيغه داسم فاعل ده دباب مفاعله نه اويو خاصيت دمفاعله مشاركت دې يعنې دوه كسان په هجرت كښې شريك كيدل چه يوبل ته هجرت اوكړي، حال دا چه دلته خو هجرت ديو طرفنه دې، يعنې د بنده دطرفنه دې نه د الله دطرفنه۔ **الجواب :** باب مفاعله كله دفاعل په معنىٰ وي يعنې مزيد په معنى دمجرد وي لكه مُسَافِر په معنى د سَافِر، دلته مهاجر په معنى دهَاجِر سره دې نوسوال دفع شو. **سوال :** په بعضې احاديثو كښې نبي اكرم ﷺ فرمائي (افضل المؤمنين ايماناً احسنهم خلقاً) ۲ - **اوكله :** (افضل الايمان اطعام الطعام وافشاء السلام. ۳ اوكله په جواب داې المسلمين خير كښې من سلم المسلمون من لسانه ويده وائي. – نوسوال يو دې چه غوره مؤمن اومسلمان څوك دې، اوجوابونه مختلف وركوي،ددې څه وجه ده ؟۔

الجواب : ۱- اختلاف دجواب بناء دې په اختلاف د حال د سائلينو باندې، په بعضې سائلينو كښې چه به سلامتيا د لاس اوژبې كم وه نو هغه ته به ئې اوفرمائيل : المسلم من سلم المسلمون الخ چه دا غوره دې۔ اوچاكښې چه به سلام اچول كم وو هغه ته به ئې دافشاء السلام دغوره والي جواب وركولو۔اوچاكښې به داخلاقو كمزوري وه، هغه ته به ئې د اخلاقو دغوره والي جواب وركولو ۔او ديته مردم شناسي او موقع شناسي وائي۔ **۲- جواب :** اختلاف دجواب بناء دې په اختلاف دازمنه ؤ باندې، چه په كوم وخت كښې به دكوم شئ ضرورت وو په هغه زمانه كښې به هغه افضل وو، مثلًا دهجرت په موقع كښې هجرت افضل دې، داخلاقو په موقع كښې اخلاق استعمالول افضل دي الخ

۳- يا مثلًا كله چه خلق اوږي وي نو بيا اطعام الطعام افضل دې، اوكله چه عام حالت وي، نو سلامونه كوه، اوكه څوك د قحط په وخت كښې نفلي حجونه كوي، دا غوره نه دې بلكه انفاق او اطعام غوره دې، نو داهميت دمسئلې په وجه جواب وركړې شويدې، الاهم فالاهم به مقدم كوې. يو سړې كافر دې هغه ته به دمسواك فضائل نه بيانوې بلكه مسلمان ئې كړه نوځا اختلاف د جواب بناء دې په اختلاف دمكان اوزمان اوحالت دمخاطب باندې فتفكر !

۴- جواب : يا خيريت په جدا جدا نوع كښې مراد دې نو په عباداتو كښې غوره صلوة دې، او په

مسلمون کښې من سلم الخ دے او په مجاهدتو کښې جهاد غوره دے الخ. ۵- بعضے علماء وائی چه سوالونو کښې دخیر او افضل الفاظ ذکرکیږی او خیرمقابل دشر کښې استعمالیږی، او افضل مقابل دقلیل کښې استعمالیږی، نو افضل لازمی فائده ده او خیر متعدی فائده ده، نو کوم حدیث کښې چه ای الاسلام افضل سره سوال شویدے نو معنی داده چه کوم عمل په اسلام کښې فی نفسه غوره دے، نو دهغه عمل جواب ورکړے شویدے، لکه ای الاسلام افضل قال: الایمان بالله، یعنی دانسان دپاره فی نفسه ایمان غوره دے، اوکوم روایاتو کښې چه ای الاسلام خیر راغلے دے نو معنی داده چه بل چاته په فائده رسولو کښې کوم عمل په اسلام کښې غوره دے لکه ای الاسلام خیر قال: تطعم الطعام وتقرأ السلام الخ اومن سلم المسلمون. نو اختلاف د جواب بناء دے په اختلاف دسوال باندے. اطعام الطعام کښې د بل چا فائده ده نو داخیر دے.

د محبت درجات

٦- عَنْ اَنَسٍ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَایُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ». متفق علیه.

ترجمه: انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمایل: تاسو کښې هیڅ سړے هغه وخته پورے (پوره) مؤمن کیدے نشی ځو پورے چه زه هغه ته دخپل پلار، بچو او ټولو خلقو نه زیات محبوب نشم. (بخاری او مسلم).

تعارف دانس رضی الله عنه: دده کنیه ابو حمزه ده، ده به حمزه بوټے (یوترش بوټے دے) ډیر راشوکولو، نو رسول الله ﷺ ورته ابو حمزه کنیه ورکړه، دپلار نوم ئے مالک بن نضر دے، او پلندرئے ابو طلحه دے، ام سلیم ئے مور وه، نبی اکرم ﷺ د ابو طلحه نه دخادم مطالبه اوکړه، نو ام سلیم ورته اووئیل چه انس به ورته ورکړو، انس رضی الله عنه د لسو کالو په عمر د نبی اکرم ﷺ خادم مقرر شو، اولس (۱۰) کاله خدمت ئے اوکړو او په شلم کال ترے نبی اکرم ﷺ وفات شو، کله چه ام سلیم رضی الله عنها انس رضی الله عنه ورکولو نو هغے دنبی اکرم ﷺ نه ددعاء مطالبه اوکړه، نو نبی اکرم ﷺ ورته داسے دعاء اوکړه (اللهم بارك فی ماله وولده واطل عمره واغفر ذنبه) دا وجه ده انس رضی الله عنه فرمائی: زه په خپل عمر کښې د ډیر والی په وجه تنګ شوم، او مال مے ډیر زیات شو، او اولاد مے دوه کم دوه سوه (۱۹۸) خاورو ته اوسپارل، او دخلورم څیز (یعنی دمغفرت) اُمید دالله نه ساتم. اودے د ټولو صحابو رضی الله عنهم نه آخر کښې وفات شویدے په بصره کښې په کال (۹۳ هـ) کښې، عمرئے د سلو نه اوړیدلے وو. او دده نه (۱۲۸٦) احادیث نقل شویدی.

تشریح: لَایُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ: د لایؤمن دوه ترجمے دی * یوداچه مراد نفی داصل ایمان شی یعنی بالکل مؤمن نه دے * دویم داچه مراد نفی دکمالِ ایمان شی، یعنی کامل مؤمن نه دے. اَحَبَّ اِلَیْهِ: که څوك د پیغمبر ﷺ دمحبت دعویٰ کوی او د سنتو نه ئے اعراض کوی او جوابونه ترے کوی دا

دروغژن دی۔ د **نبی اکرم ﷺ محبت** په دوه قسمه دی * یو محبت شرعی : اودا دیته وائی چه د نبی اکرم ﷺ امر مقدم کړی د بل چا په امر باندې، یو طرفته دمور اوپلار خبره راشی بل طرفته دنبی اکرم ﷺ خبره راشی اوانسان د نبی اکرم ﷺ خبره واخلی نودا محبت شرعی دی د ایمان دحلاوت حاصلیدلو سبب دی، کما فی حدیث انس : (ثلث من کن فیه وجد بهن حلاوة الایمان:ان یکون الله ورسوله احب الیه مما سواهما) الحدیث۔ کما سیاتی بعد)۔ ★-دویم محبتِ طبعی دی چه نبی اکرم ﷺ هر مؤمن ته ښه ښکاری د مور پلار اود هر چا نه۔

اوس دلته کوم محبت مراد دی؟ نودې کښې دعلماؤ دوه رائې دی : ۱- **بعضې علماء** وائی چه دلته محبتِ شرعی مراد دې ځکه که طبعی محبت مراد شی نو ډیر انسانان به کافر شی ځکه چه هغوئ ته طبعاً مور پلار ښه ښکاری، اوپه اکثرو اوقاتو کښې ئې نبی اکرم ﷺ ته فکر هم نه وی، اود محبتِ طبعی دانسان په طاقت کښې نشته، نو ضرور به محبتِ شرعی مراد وی۔ ۲- دویمه رائې داده چه محبتِ طبعی مراد دې چه دهر مؤمن زړه نبی اکرم ﷺ ته میلان کوی، تردې چه دخپل مال اونفس نه تیریږی خو چه نبی اکرم ﷺ بچ شی، اوپه دې باندې ډیر واقعات دلیل دی، ابو طلحةؓ نبی اکرم ﷺ ته په ورځ د اُحد کښې اووئیل چه زما مور پلار دې پتا قربان شی سرمه اوچتوه چه کافر دې په غشی اونه ولی ! دارنګه په غزا د احد کښې د بنی ذبیان قبیلې یوې انصاریه زنانه ورور اوخاوند شهیدان شول هغې ته چا خبر ورکړو چه ستا خاوند شهید شو، هغه ئې اووئیل : نبی ﷺ ژوندی دې اوکه نه ؟ کله ئې چه نبی اکرم ﷺ اولیدو، نو وې وئیل (کل مصیبة بعدك جلل [illegible] صغیر) الرحیق المختوم ص (۲۸۳) (دلائل النبوة للبیهقی ۳/۳٦٤) یعنی هر مصیبت ستا په ژوندون [illegible] سره آسان دې، چه ته ژوندې ئې نور به کیږی۔

دارنګ د ابو بکر صدیقؓ دغار واقعه دلیل دې چه صحابوؓ دنبی اکرم ﷺ سره طبعی محبت وو، دارنګ عمر فاروقؓ نبی اکرم ﷺ ته اووئیل : یارسول الله ! ته ماته دهرشئ نه زیات محبوب ئې، سیوا دنفس نه، نو نبی اکرم ﷺ اووئیل : (لا حتی اکون احب الیك من نفسك)۔ نو عمر فاروقؓ اووئیل : اوس ماته دخپل نفس نه هم زیات محبوب ئې، نو نبی اکرم ﷺ ارشاد اوفرمایه : (الآن یا عمر) (اوس مسلمان شوې) بخاری (۲/۹۸۱) فتح الباری (۱۱/٤٤٥)۔ لیکن غوره قول دادې چه دلته دواړه محبتونه مراد دی ځکه چه هر مؤمن ته نبی اکرم ﷺ طبعاً ښه ښکاری، که څوك ورته اووائی چه ستا مور پلار، ښځه، مال دې نه وی خو چه دنبی اکرم ﷺ په مجلس کښې موجود وې داخوښوې ؟ نو هغه ئې ضرور خوښوی۔ اودارنګ محبت شرعی هم مراد دې ځکه چه دنبی ﷺ خبره هر مؤمن مقدم کوی دمور پلار وغیره په خبره باندې۔ نو که دمحبت نه محبت طبعی مراد شی نو بیا (لا یؤمن) کښې نفی داصل ایمان نه ده بلکه نفی دکمال ده، یعنی کامل مؤمن نه دې، اوکه محبت شرعیه مراد شی نو بیا نفی داصل الایمان ده، یعنی بالکل مؤمن نه دې ،فتدبر ! ۔

سوال : یو سړے د رسول الله ﷺ سره محبت کوی اونه مونځ کوی، نه زکوٰة ورکوی، اونه نور عبادات کوی نو آیا دا ایماندار کیدے شی اوکه نه؟ **جواب :** دا کنایه ده داهمیت دحب الرسول نه یعنی داهم رکن دے دایمان لکه (لاصلاة الا بفاتحة الکتاب) وئیلے شویدے اوسره ددے نه چه په مانځه کښے خو رکوع سجده هم شته که هغه اونکړی او صرف فاتحه اولولی نو هم مونځ نه کیږی، خو فاتحه ذکر شویده د وجے داهمیت ددے نه یا لکه (الحج عرفة) یعنی عرفه هم رکن دے، اودا مطلب نه دے چه حج صرف عرفات ته وائی، دغه شان دلته هم دا مطلب نه دے چه داتول ایمان دے بلکه د محبت د رسول الله ﷺ سره سره به نور ارکان دایمان اداء کوی۔ اوچ عاشقِ رسول به نه جوړیږی۔

اسباب المحبة :

بیا یو محب چه دمحبوب سره محبت ساتی نو دمحبت پنځه وجوهات دی (۱) یو: جمال الظاهر والباطن۔ یعنی کمال په کښے وی لکه ښه عالم وی، ښه کاتب وی (۲) دویم : علم په کښے وی (۳) دریم : مال دمحبوب وی۔ (٤) څلورم : احسان دمحبوب وی، یعنی ښیګړه کونکے وی۔ لکه یو شاعر وائی :

وَاَحْسَنُ وَجْهٍ فِی النَّاسِ وَجْهُ مُحْسِنٍ وایَمَنُ کَفٍّ فِیْهِم کَفُّ مُنْعِم

(۵) پنځم دمحبوب قرابت وی۔ (٦) شپږم الشجاعة والقوة (بهادری او طاقت) (۷) اووم الخلق الحسن (ښائسته اخلاق وی) (احیاء العلوم للغزالی) ۔ اودا ټول په رسول الله ﷺ کښے په اعلیٰ درجه کښے موجود دی۔ رسول الله ﷺ کښے کمال هم اعلیٰ درجه وو، نبوت اوعلم او جمال هم وو، مال هم ورسره وو (اوتیت مفاتیح خزائن الارض) دا جدا خبره ده چه هغه نه دی قبول کړی، او اعلیٰ درجه محسن وو، دارنګه قرابت والا وو، لکه ﴿النَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ﴾ نه معلومیږی، هرکله چه دا وجوه په نبی ﷺ کښے راجمع دی نو انسان به ولے دهغه سره محبت نه لری! ۔ ---- مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ : **سوال :** ۱- والد ئے ولے مقدم کړو په ولد باندے سره ددے نه چه ولد باندے شفقت زیات وی؟ **جواب :** والد اکثرُ وجوداً دے، ځکه چه داسے څوك به دے اُمت کښے نشته چه والد ئے نه وی، اوډیر خلق داسے شته چه اولاد ئے نشته۔ ۲- **جواب :** د تکریم او تعظیم په وجه ئے والد مقدم کړو ځکه چه خلق دپلار قدرکوی مثلًا که د یو سړی ځوئے دهغه د والد سره جنګ اوکړو نو سړے خپل ځوئے ته غصه کیږی۔ ۳- **جواب :** والد طبعاً سابق وجوداً دے ځکه دانسان والد مقدم وی، بچی روسته پیدا کیږی، نو ذکراً ئے هم مقدم کړو، لیوافق الذکر الطبع . **سوال :** ۲- والده ئے ولے ذکر نه کړه، ددے نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ درته دمور نه زیات محبوب نه وی نو هم خیر دے اوحال دا چه دا خو خطاء ده؟ ۔ **جواب :** والد نه مراد ذات من له الولد دے .اودا مور پلار دواړو ته شامل دے۔

۳- **جواب :** اکتفاء بالا هم والاصل شویده او مور تابع دپلار ده لکه ﴿یَا آدَمُ اسْکُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ﴾ [البقرة:۳۵]۔ داسے ئے اونه فرمائیل چه (اسْکُنَا) ځکه زوجه تابع ده۔

سوال: ۳- والد او ولد ذكر شو اونفس او زوجه ذكر نه شو ددے څه وجه ده ؟۔

جواب: هرعقلمند انسان ته والد او ولد گران وي دخپل مال اونفس او زوجه نه، ليكن دا ضمناً ثابته ده چه رسول الله ﷺ به د نفس او زوجه نه هم ډير محبوب وي، نو په دے وجه ئے بل لفظ ذكر كړو صراحةً چه (والناس اجمعين) دے : نو دا تصريح بما علم ضمناً ده، اوعطف دعام دے په خاص باندے مخكښے خاص والد او ولد ذكر شو اوس عام خلق ذكر كوي، اوپه الناس كښے نفس اوزوجه، امامان اواستاذان هم داخل دي، دارنګ بل روايت كښے دنفس ذكر صراحةً هم راغلے دے۔

فوائد الحديث : * محبت د رسول الله ﷺ سره واجب دے * اطاعت درسول الله ﷺ واجب دے * درسول الله ﷺ سره دمحبت پيدا كولو طريقه دا ده چه دهغه سيرت، اوواقعات اوحالاتِ زندگي مطالعه كړے شي، دارنګ دهغه احسانات اوبهادري او امت دپاره خير خواهي اوكتلے شي ... محبت چه پيدا كيږي نو دا په كمال ظاهري يعني حُسن بنائست *كمال باطني يعني بهادري * سخاء وغيره سره وي، اودا ټول خبرے په اعلیٰ درجه په هغه كښے موجودے۔ * داحديث دليل دے په دے چه ايمان كښے زيادت او نقصان راځي وجه داده چه دلته محبت الرسول ﷺ ته ايمان وئيلے شويدے اومحبت كښے خو ضرور زيادت او نقصان وي كما هو المحسوس نو په ايمان كښے هم راځي۔

د ايمان خوند او مزه

٧ - وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:((ثَلٰثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ : مَنْ كَانَ اللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَمَنْ اَحَبَّ عَبْدًا لَا يُحِبُّهٗ اِلَّا لِلّٰهِ وَمَنْ يَكْرَهُ اَنْ يَّعُوْدَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْقَذَهُ اللهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ اَنْ يُلْقٰى فِي النَّارِ)). متفق عليه.

ترجمه : انس رضي الله عنه روايت كوي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه : كوم سړي كښې چه دا درے څيزونه وي هغه به ددے په وجه دايمان خوند بيامومي : اول داچه : هغه ته به د الله او دهغه د رسول محبت د دنيا د تمامو څيزونو نه زيات وي۔ دويم داچه : يوبنده سره به دهغه محبت صرف د الله دپاره وي۔دريم داچه : هركله الله هغه كفر د تيرے نه دايمان په رنړا سره خلاص كړو نواوس به هغه داسلام نه ګرځيدل دومره بد ګنړي لكه چه اوركښ غورزيدل بد ګنړي (بخاري او مسلم)

تشريح : ثَلٰثٌ : دا عدد مذكر دے نو ددے تميز به مؤنث راوړلے شي، (اى ثلث خصالٍ)۔دلته تنوين عوض عن المضاف اليه دے۔كن فيه : اى اجتمعن فيه وحصلن) ۔داكان تامه ده كه ټول راغلل نو پوره خوند به بيا مومي، اوكه يو راغلو نو لږ خوند به اومومي۔حلاوة الايمان : په دے حلاوت كښے مختلف اقوال دي : ۱- يو قول د شيخ محيي الدين دے هغه فرمائي : د ايمان حلاوت ديته وائي چه په طاعاتو كښے لذت حاصلول اود دين په معامله كښے مشقتونه برداشت كول اوپه دنياوي

غرضونو باندے دینی معاملے ته ترجیح ورکول اوکړے شی، ځکه مؤمن باندے چه په دین کښے تکلیف راځی په دے کښے ورته خوند حاصلیږی ځکه چه دا د خپل محبوب د وجے نه راپیښیږی، اود محبوب دپاره مشقت برداشت کول خوندوروی.

۲-**قول** : **د قاضی بیضاویؒ** دے هغه دعقلی محبت او حلاوت قائل دے فرمائی : چه لکه څنګه مریض اګرچه دوائی طبعاً بده ګنړی دهغے نه دهغه طبیعت نفرت کوی لیکن عقل چه کله دهغے فوائد اوګوری چه په دے کښے صحت د بدن دے لګ ساعت تکلیف خوبیا آینده راحت، نو عقل ورته مائل شی، دغه شان که احکام شرعیه دقلبی امراضو په وجه طبعاً بد اوګنړی او ګران ورته ښکاری لیکن کله چه عقل دا تامل اوسوچ اوکړی چه د شارع اوامر او نواهی کښے دنیوی صلاح او اخروی خلاصے دے نو عقل امتثال او عمل کولو ته ترجیح ورکړی، نو نفس یو التذاذ عقلی (عقلی خوند) او حلاوت حاصل کړی، همدے حالت ته حلاوه الایمان وائی.

۳- **شیخ ابو محمد بن ابی جمرهؒ** فرمائی : په دے حلاوت کښے اختلاف دے چه داحسی دے که معنوی، فقهاء فرمائی چه دا یو امر معنوی دے یعنی په چاکښے چه دا حلاوت ایمانی موجود وی هغه به په ایمان باندے جزم او یقین کوی، اوداحکام ایمانیه ؤ منقاداو مطیع به وی.

٤-**جمهور علماء** فرمائی : داحلاوت یو امر محسوس دے اودا حلاوت دقبیلے د وجدانیاتو نه دے لکه زړه ژوندے وی، روح تازه وی علامه ئے دا ده : (استلذاذ الطاعات وتحمل المشاق فی رِضَی اللّٰهِ ورسوله ﷺ) لکه نبی اکرم ﷺ فرمائی : (وجعل قرة عینی فی الصلاة) .انسان لره بیا عبادت خوند ورکوی، تکلیف پرے نه وی.په دے باندے دصحابوؓ او تابعینوؒ حالات اوګوره : ۱- تحفة الاشراف او سیر اعلام النبلاء (٤/ ٣٤٠) کښے یوه واقعه لیکی چه د عروه خپه کینسر شوے وه، کله چه مانځه ته اودریدو نو هغه ئے ترے پریکړه هیڅ پرے پوهه نشو. ۲- یوبل عالم په مانځه ولاړ وو، دچهت نه مار راپریوتو خلقو چغے کړے کله چه ده سلام اوګرځولو، وئیل دا څه شور وو ؟ زما په غوږونو څه کشارے راغلو، نو کور والو ورته اووئیل چه نزدے وه چه مار خوړلے وے اوته پوهه نشوے.

۳- بلال ﷺ به ئے چه کله په سخته ګرمئ کښے په ګرمه زمکه واچولو اوکانړی به ئے پرے کیخودل نو هغه به اَحَدُ اَحَدُ آواز کولو.دارنګ دهغه د وفات په وخت کښے دهغه اهل اووئیل : (واحزناه !) بلالؓ اووئیل : (واطرباه ! غداً نلقی الاحبة محمداً وحزبه).(احیاء علوم الدین)

٤- دغه شان په غزوه احزاب کښے په یو انصاری باندے درے ځل غشی اولګیدل اودے باوجود ئے مونځ قطع نه کړو. ٥- جنید فرمائی : (اهل اللیل فی لیلهم اَلَذُّ من اهل اللهو فی لهوهم) . (د تماشو والود تماشے د مزے نه د شپو والا د شپے په عبادت کښں ډیر مزه اخستونکی دی) نو که د عبادت حلاوت معنوی وے نو دومره مصائب شتی باندے به ئے اقدام نه کولے.معلومه شوه چه دا حلاوت یو محسوس شے دے او همدا قول راجح دے، دے وجے نه عثمان او حذیفه ﷺ فرمائی : (لَوُصَفَتُ مِنَّا القلوبُ ما شَبِعَتُ من القرآن) کما

فی الزهد لاحمد وابن المبارك كنز العمال ۲۸۷/۲) واحياء العلوم للغزالی (۲۸۸/۱) ۔دلته د حلاوت حسی سره حلاوت معنوی هم مراد کیدے شی لیکن یواځے معنوی نه دے مراد۔

من کان الله : (ای احد ها) دلته مضاف حذف دے (ای خصلة من کان) ، ځکه چه حمل دمن کان په احد ها مبتداء باندے صحیح نه دے،حمل د ذات په وصف راځی اودا صحیح نه وی، باطل وی، نو خصلة مقدر شو چه حمل صحیح شی یعنی حمل د وصف په وصف راشی۔

بیا بعضے متکلمینو وئیلی دی چه د الله سره محبت نشی کیدے ځکه چه شرط دمحبت لیدل دمحبوب دی، او اللهﷻ نه لیدل کیږی،خودا خبره سراسر غلطه ده، ځکه چه محبت د معنویاتو سره کیږی لکه شجاعت (بهادری) نه لیدل کیږی لیکن خلق ورسره مینه کوی،مونږ سلفؒ نه دی لیدلی او زمونږ ورسره مینه ده، ځکه چه په هغوئ کښے صفاتِ حمیده وو کما فی احیاء العلوم۔

بیا په دے حدیث کښے : ۱- رد دے په مرجئه ؤ باندے چه دوئ ایمان سره عمل له اعتبار نه ورکوی، حال دا چه محبت یو عمل دے اونبی اکرم ﷺ ورله اعتبار ورکړیدے۔

۲- اورد دے په احنافو باندے چه ایمان کښے زیادت او نقصان نه منی .حال دا چه حلاوت کښے تفاوت راځی، نو په ایمان کښے به خو خامخاه زیادت راځی۔

اَحَبَّ اِلَيۡهِ مِمَّا سِوَاهُمَا : **سوال** : ضمیر د تثنیه راجع دے الله اورسول ته، حال دا چه ابوداود کښے دی چه یو خطیب نبی اکرم ﷺ شرلے وو په دے خبره چه هغه په خطبه کښے داسے اووئیل : (ومن یعصهما فقد غوىٰ) [مسند احمد : ۲۵٦/٤ .وصحیح ابی داود (۲۰۵/۱) ومسلم باب الجمعة ۔نو نبی اکرم ﷺ ورته اوفرمائیل : (بئس الخطیب انت) نو خطیب ئے منع کړو ددینه چه الله اورسول به په یو ضمیر کښے نه جمع کوے، اودلته ئے جمع کړل، نو ددے دواړو حدیثونو څه تطبیق دے ؟

جواب : ۱- رسول الله ﷺ دپاره دا جمع کول جواز لری، اومخاطبینو دپاره منع دی ځکه چه خطیب ځان ته خبره نه کوی، بلکه مخاطبینو دپاره ئے کوی .اودا درسول الله ﷺ دشان سره لائق دی، نه دنورو خطیبانو سره، ځکه کیدے شی چه ددے په وجه تو هم د تسویه بین الله ورسوله راشی۔ ۲- **جواب** : دواړو ضمائرو کښے فرق دے، ځکه : (ومن یعصهما) نه معلومیږی چه دیو په عصیان سره غوایت اوگمراهی نه راځی، حال دا چه که څوك فقط درسول الله ﷺ عصیان اوکړی هم به گمراه او غوی وی، اوکه صرف دالله عصیان اوکړی نو هم به گمراه وی، ددے وهم دپیدا کیدو په وجه ئے خطیب منع کړو .او هرچه دا حدیث دے نودلته جمع دالله اورسول په یو ضمیر کښے ځکه اوشوه چه دامقام دمحبت دے او په محبت کښے به انسان دواړه جمع کوی، ځکه چه صرف د الله سره محبت وی اورسول الله ﷺ سره نه وی، نو هم مسلمان نه دے، اوکه صرف د رسول الله ﷺ سره ئے محبت وی اود الله سره ئے نه وی هم مسلمان نه دے، نو دلته جمع کول ددے دواړو ضروری دی، اوهلته جمع کول منع دی .فتدبر وهو الذی اختاره فی الفتح

(۵۲/۱) حافظ ابن حجرؒ نور جوابونه هم نقل كړيدى لكه (۳)- دعوى الترجيح يعنى جانب دمنع اولى دے دجواز نه، ځكه داعام دے اوجواز احتمال دخصوصيت لرى (٤) يا دمنع والا روايت قولى دے اودجواز روايت فعلى دے، اوقول بـه مقدم وى په فعل باندے (۵) يا دا چه دخطيب قصه خاصه واقعه ده صيغه دعموم په كښے نشته، دا احتمال لرى چه په دغه مجلس كښے داسے خلق موجود وو چه په هغوئ باندے د تو هم التسويه ويره كيدے شوه، يعنى چه هغوئ داخيال اونه كړى چه الله اورسول دواړه يو دى .

فائده : اقسام دمحبت :

محبت يو څو قسمه دے (۱) محبة الشهوة، لكه د زنانو، خوراك سكاك وغيره سره محبت.(۲) محبة الشفقة لكه اولاد، والِدين وغيره سره .(۳) محبة الاخوة الدينية - لكه عامو مسلمانانو سره .(٤) محبة العبودية . او دا صرف د الله تعالى پورے خاص دے.

لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلّٰهِ : (اى لا لـغرض ولا لعرض ولا لعوض، ولا لحسن صورة) .حافظ په (۱۲/۱) كښے د يحيى بن معاذ نه نقل كړيدى چه (حقيقة الحب فى الله ان لا يزيد بالبر ولا ينقص بالجفاء) (يعنى د الله دپاره دمسلمان سره دمحبت كولو حقيقت دا دے چه د احسان كولو په وجه به زياتيږى نه اود بدئ كولو په وجه به كميږى نه) .

فائده : علامات د محبت دالله تعالى :

د اللہ دمحبت دپاره دوه علامے دى : ۱- يو دا چه دغه بنده (چه ته ورسره مينه كوے) ديندار به وى .۲- دويم دا چه دمحبت كونكى محبت به مخكښے دالله سره وى، ځكه چه الله تعالى واسطه ده په مابين دمحبت دعبدينو كښے نود الله سره محبت به مقدم وى، بيا مراد د عبد نه عام دے، آزاد بنده وى اوكه غلام وى. ومن يكره ان يعود : كه مخكښے مسلمان وى نو مراد دعود نه دخول دے (يعنى دا بده ګڼړى چه داخل شى په كفر كښے) اوكه مخكښے مشرك وو نو د عود خپله معنى ده واپس كيدل (يعنى بيرته كفرته واپس كيدل داسے بد ګڼړى لكه اورته داخليدل چه څنګه بد ګڼړى) .

سوال : دعود صلـه لام اوالى راځى لكه ﴿ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا ﴾ (المجادلة) يقال : عاد اليه اى رجع) .اودلته فى راوړلے شويده ؟ **جواب :** حروف جاره كښے توسع ده ديو بل په ځائے باندے استعماليږى ليكن نكته په كښے داده چه فى دانغماس اود قرار دپاره راځى، يعنى په كفر كښے قرارے اونيسى، اوددے په شان دا آيت دے ﴿ وَمَا كَانَ لَنَا اَنْ نَعُوْدَ فِيْهَا ﴾ الاعراف) .لكه وئيلے شى (ذهب الى الوطن) .ددے دوه معنے دى : (۱) يودا چه لګ وخت دپاره وطن ته لاړو، بيرته واپس كيږى.(۲) اوچه په معنى د فى سره شى نو معنى دا ده چه وطن ته لاړو هلته اوسيږى قرارے نيسى. ۳- **جواب :** فى مشاكلةً راوړے شويده فى النار سره. كَمَا يَكْرَهُ : دلته تشبيه دمعقول ده دمحسوس سره دپاره دزيادت وضاحت اود زيادت نفرت عن الكفر واهله.ددے حديث نه معلوميږى چه الاشياء تتبين

باضدادها .که دایمان حلاوت پیژندل غواړے نو دکفر او کافرانو بدی به زړه کښے راولے .
دا وجه ده چه محمد بن عبد الو هاب التمیمی رحمه الله په مجموعة التوحید کښے فرمائی :
کـه یو سړے شرك نه کوی خو د توحید سره هم مینه نه کوی اومشرکین هم بدنه گنړی، نودا هم
مسلمان نه دے لکه هغه ډیر اقسام دمشرکانو ذکر کړیدی فرمائی :

* ومن الناس من عبد الله وحده، ولم ینکر الشرك ولم یعاد اهله، وهذا ایضاً مشرك

(یعنی : چه صرف یواځے د الله عبادت کوی خو شرك هم بد نه گنړی اود مشرکانو سره دشمنی
هم نه کوی نودا هم مشرك دے) .

* (ومنهم من عاداهم ولم یکفرهم. وهذا ایضاً مثلهم) .

(یعنی چه مشرکانو سره هسے دشمنی کوی خو هغوی ته کافر نه وائی، دا هم مشرك دے۔

* (ومنهم من لم یحب التوحید ولم یبغضه وهذا ایضاً کافر) .

(یعنی څوك چه توحید سره مینه نه نلری او نه ورسره بغض لری دا هم کافر دے) .

* (ومنهم من لم یبغض الشرك ولم یحبه، وهذا ایضاً مشرك) .۔

(یعنی : څوك چه دشرك سره نه بغض کوی اونه ورسره محبت لری دا هم مشرك دے) .

* (ومنهم من لم یعرف الشرك ولم ینکره ولم ینفه وهذا ایضا غیر موحد) .

(یعنی : څوك چه شرك اونه پیژنی اونه ترے انکار اوکړی اونه ئے لرے کړی دا هم موحد نشی
کیدے) . * (ومنهم من لم یعرف التوحید ولم ینکره وهذا ایضا کافر کالانعام) .

(یعنی : څوك چه توحید اونه پیژنی اونه ترے انکار اوکړی دا هم لکه دځناورو کافردے) .

* (واشدهم خطراً من عمل بالتوحید ولم یعرف قدره ولم یبغض من ترکه ولم یکفرهم) .

(په دے ټولو کښ خطرناك هغه څوك دے چه په توحید خو عمل کوی مګر دهغے قدر او
مرتبه نه پیژنی اوچا چه توحید پریښے دے هغوی سره بغض اوکینه نه ساتی اونه هغوی ته کافر
وائی) . کذا فی مجموعة التوحید للشیخ الامام محمد بن عبد الوهاب التمیمی رحمه الله (۱/۵۰)
الجامع الفرید رسالة الکلمات النافعة ص (۲۹۷) .

اودا ډیرے عجیبه خبرے دی چه ددین د اصولو سره موافق دی۔

فائده : په دے حدیث کښے درے جملے دی : ۱- یودا چه دالله تعالی اود رسول محبت . ۲- دویم
: محبت مع العبد لله . ۳- دریم : کراهیة الکفر .نو په اولنو دوه جملو کښے مسئله دالولاء ده،
یعنی دوستی ساتل دمومنانو سره . چه داکارونه به په ځان کښے پیدا کوی۔ او په دریمه جمله
کښے مسئله د البراء ده .یعنی دکفر اوکافرانو سره دشمنی ساتل چه داکارونه به ځان نه اوباسے، او
اسلام د ولاء (محبت) اود براء (بائیکاټ) نه مرکب دے۔ داوجه ده چه قرآن کښے هم دغه شان بیان
راغلے دے ﴿ فمن یکفر بالطاغوت ویؤمن بالله فقد استمسك بالعروة الوثقیٰ ﴾ البقرة : ۲۵٦) .

الفائدة العاطرة : اسباب لذة الایمان وحلاوته

دایمان خوند او لذت په کومو څیزونو او اسبابو سره حاصلیږی، نو داپه احادیثو کښې ډیر زیات دی، بعضے دهغې نه دادی : لکه په دے حدیث کښې درے څیزونه ذکر شوی دی : ۱- حب اللّٰہ والرسول. ۲- الحب فی اللّٰہ مع المؤمنین. ۳- کراهیة الکفر. ٤- روستو حدیث د عباسؓ کښې بل څیز دا ذکرد ے چه د اللّٰہ په ربوبیت، داسلام په خپل دین ګڼرلو اود محمد ﷺ په رسالت باندے د زړه نه خوشحاله اوراضی شی. ۵- عبد اللّٰہ بن عباسؓ فرمائی : (من احب فی اللّٰه وابغض فی اللّٰه ووالی فی اللّٰه وعادی فی اللّٰه فانما تنال ولایة اللّٰه بذلك، ولن یجد عبد طعم الایمان، وان کثرت صلاته وصومه حتی یکون کذلك، وقد صارت عامة مواخات الناس علی امور الدنیا وذلك لا یجدی علی اهله شیئاً).رواه ابن جریر، کذا فی کتاب التوحید) .(څوك چه د الله دپاره محبت، بغض، دوستی، او دشمنی ساتی نو پدے سره به د الله ولایت او محبت حاصلیږی لیکن د عامو خلقو تعلقات او دوستانے تولے د دنیا په لالچ بناء دی پدے وجه دا دوی ته فائده نه رسوی) نو په دے اثر کښې څلور څیزونه ذکر شول.

٦- عن ابی امامة مرفوعاً : (مامن مسلم ینظر الی محاسن امرأة اول مرة ثم یغض بصره الا احدث اللّٰه عبادة یجد حلاوتها)(احمد، طبرانی، مجمع الزوائد ۳/۲۹۲) .(یعنی دپردئ زنانه د ښائست په ځایونو چه اول ځل نظر اولګی او بیا ترے نظر واړوی نو ددے کس په عبادت کښې به اللّٰہ تعالی داسے خوند واچوی چه دے به ددے مزه بیامومی). او په روایت دحذیفةؓ عند الحاکم وصححه کښې داسے دی : (قال قال رسول اللّٰه ﷺ النظرة سهم من سهام ابلیس مسمومة فمن ترکها من خوف اللّٰه اثابه اللّٰه ایماناً یجد حلاوته فی قلبه (الدر المنثور : ٤/٤١) سورة النور . نو د بد نظرئ نه ځان ساتلو سره حلاوة الایمان حاصلیږی.

۷ - مراقبه او احسان کول : ابو نعیم دعبد اللّٰہ بن معاویة العامری نه مرفوعاً روایت کوی : (ثلث من فعلهن فقد طعم الایمان : ان عبد اللّٰه وحده، واعطی زکاة ماله طیبة بها نفسه فی کل عام، ولم یعط الهرمة ولا الرذبة ولا الشرطة اللئیمة ولا المریضة ولکن من اوسط اموالکم، وزکی نفسه.فقال رجل : یارسول اللّٰه ! ما تزکیة المرأ نفسه، فقال : یعلم ان اللّٰه معه حیث کان، وقال عبادة بن الصامت ﷛ قال رسول اللّٰه ﷺ : افضل الایمان ان تعلم ان اللّٰه معك حیثما کنت).ذکرهما ابن کثیر فی سورة الحدید (٤/۳۰٤) (یعنی یواځے د الله عبادت کول، زکوة د نفس په خوشحالئ سره ورکول او ردی مال نه ورکول او د خپل نفس تزکیه کول او تزکیه دا ده چه الله ځان باندے حاضر ناظر اوګڼړی چه الله ماسره دے هر ځائے چه زه یم او دے آخری صفت ته په مرفوع حدیث د عباده کښې افضل الایمان وئیلے شویدے). او حدیث دجبرئیل کښې داحسان معنی تیره شویده چه :- (ان تعبد اللّٰه کانك تراه فان لم تکن تراه فانه یراك) .نو په دے مراقبه (دالله لحاظ ساتلو) او احسان سره دایمان خوند حاصلیږی. ۸- په سیر اعلام النبلاء (۱۱/۳٤) کښې امام احمد بن حرب فرمائی : عبدتُ اللّٰه خمسین سنة فما وجدت حلاوة [illegible]

ترکت رضی الناس حتی قدرت ان اتکلم بالحق (۲) وترکت صحبة الفاسقین حتی وجدت صحبة الصالحین (۳) وترکت حلاوة الدنیا حتی وجدت حلاوة الآخرة.

۹- **شقیق بن ابراهیمؒ فرمائی :** (من شکی مصیبة الی غیر الله نزع الله منه حلاوة الطاعة (السیر للذهبی:۹/۲۱۵) **(چا چه د یو مصیبت شکایت غیر الله ته اوکړو نو الله به د هغه نه د عبادت خوند واخلی) ددے وجه دا ده چه د الله شکایت مخلوق ته کول بدګمانی ده په الله باندے، اوحسن الظن دے په مخلوق، اوچا چه دا ګمان اوکړو چه د الله رحمت اوقوت کم دے د رحمت اوقوت دمخلوق نه نو دهغه به څه حال وی؟ دهغوی په عبادت کښې به څه خوند پیدا شی؟** ★ انما تشکو الرحیم الی الذی لا یرحم ★

۱۰- (ایثار مرضاة الله علی شهوات النفس) **یعنی په خپلو خواهشاتِ نفسانیه باندے د الله تعالیٰ رضا غوره کول، دا وجه ده چه کوم اعمالو کښې مجاهده اود نفس خلاف زیات وی، نو په زړونو باندے دهغے تاثیر هم زیات وی، لکه تهجداود سحر مانځه نه پس د الله ذکر او جهاد وغیره. الله تعالیٰ داؤد علیه السلام ته فرمائیلی وو :** (ان العالم اذا آثر شهوته علی مرضاتی فادنیٰ ما افعله به ان احرمه لذیذ مناجاتی) (والعیاذبالله) کذا فی کتاب الزهد للامام احمدواحیاء العلوم للغزالی) **(یعنی عالم چه کله زما په رضا باندے خپل شهوات غوره کوی نو ادنیٰ عذاب زما د هغه دپاره دا وی چه زه ئے د خپل مناجات د لذت نه محروم کوم) اودد ے تائید په دے آیت کښې راغلے دے :** ﴿فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ﴾. ۱۱- **دحرام خوراك څکاك نه ځان ساتل : ځکه چه حرام خوراك څکاك زړه خړوی اود عبادتونو خوند ختموی،لکه دیته اشاره کړیده رسول الله ﷺ پدے قول سره : په حدیث د نعمان بن بشیر کښې :** (اَلَا وَاِنَّ فِی القلب مُضْغَةً اذا صَلُحَتْ صلح الجسد کله واذا فسدت فسد الجسد کله، اَلَا وَهِیَ القلبُ) **.ددے نه مخکښې ئے امر بترك الشبهات ذکر کړیدے .او حدیث کښې دی : دحرام خور دعاء نه قبلیږی. ۱۲- حدیث دعباده بن الصامتؓ کښې راځی چه ده خپل ځوئے ته وصیت کولو، وے فرمائیل :** (یا بُنَیَّ اِنَّكَ لن تجدَ طَعْمَ الایمان حتی تعلم ان ما اصابك لم یکن لیخطئك ما اخطأك لم یکن لیصیبك) (فتح المجید ص : ۴۲۸) **یعنی تقدیر دخیر او شر باندے ایمان لرل سبب دے دحلاوة الایمان پیدا کیدلو، که مصیبت اورسیږی دا هم د الله د طرفنه اوګنړه، اوکه راحت اورسیږی دا هم د الله له خوا اوګنړه، د ایمان خوند به درته حاصل شی.**

د ایمان مزه چا اوسکله

۸- وَعَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «ذَاقَ طَعْمَ الْاِیْمَانِ مَنْ رَضِیَ بِاللهِ رَبًّا وَبِالْاِسْلَامِ دِیْنًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا». رواه مسلم.

ترجمه : د عباس بن عبد المطلب ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړے چه الله تعالیٰ خپل رب، اسلام خپل دین او محمد ﷺ خپل رسول په خوشحالئ سره اومنلو

نو (پوهه شه چه) هغه دايمان مزه اوڅکله.

تعارف دعباس رضي الله عنه: دا دنبي اکرم ﷺ تره دے دنبي اکرم عليه السلام لس ترونه وو څلور ئے ليدلي دي، ابو طالب، حمزه، عباس او ابو لهب .حمزه او عباس اسلام راوړيدے، اودوه په کفر کښے تير شويدي. دعباس کنيه ابو الفضل ده، داد نبي اکرم ﷺ نه دوه يادرے کاله مشر وو. دده نه به چا تپوس اوکړو چه ته مشرئے اوکه نبي اکرم ﷺ؟ هغه به په طور دادب سره فرمائيل (هو اکبر مني وانا اسنّ منه) دا د قريشو دمشرانو نه وو، د بيتُ الله خدمت به ئے کولو، حاجيانو له به ئے د اوبو انتظامات کول اوخپل قوم به ئے په حرم کښے د بدو کارونو نه منع کولو.ابن عبد البرّ فرمائي: ده دخيبر په فتح کښے اسلام ښکاره کړو، اګرکه ده په بدر کښے اسلام قبول کړيدے ليکن پټ ئے ساتلو، مکه کښے به اوسيدلو اونبي اکرم ﷺ ته به ئے دمشرکانو خبرونه ليګل، اود رسول الله ﷺ سره به ئے د ابو طالب دمرګ نه پس ډير امداد کولو. دے چه به کله په عمر او عثمان رضي الله عنهما تيريدلو نو هغوئ به دده داحترام د وجے نه د سورلو نه کوزيدل، اوصحابوؓ به دده نه مشورے اخستلے ځکه دا قوي الرأي انسان وو.دده د فضائلو نه داده چه دده په باره کښے رسول اکرم ﷺ فرمائي: (من آذى العباس فقد آذاني، فانما عم الرجل صنو ابيه (اخرجه الترمذي) مجاهد فرمائي: عباسؓ دخپل وفات په وخت اويا (۷۰) غلامان آزاد کړل، دجمعے په ورځ په (۱۲) د رجب يا د رمضان (۳۲ هـ) د (۸۸) کالو په عمر باندے په مدينه کښے وفات شو،او په بقيع کښے دفن شو. دده نه تول (۳۵) احاديث نقل دي.

ابن عبد المطلب: دعبد المطلب نوم شيبه دے اومطلب دهاشم ورور دے.اصل کښے واقعه داسے وه چه هاشم دعبد المطلب مور چه نوم ئے سلمیٰ بنت عمرو وو د بني نجار نه وه په نکاح واخسته، څه وخت دهغے سره اوسيدلو، بيا شام ته لاړو اوپه واپسئ کښے مدينے ته راغے او خپل ښځه ئے دمعد پلار کره پريخوده. اودهغے نه عبد المطلب يعني شيبه پيدا شو.شيبه نوم ئے ورله کيخودلو ځکه هغه چه اوشو نوداسے وخت وو چه دپلار په سرکښے ئے سپين ويښته لګيدلي وو.نو بيا هاشم وفات شو .اود هغه زنانه سلمي به دشيبه په خپل کور کښے (په مدينه کښے) تربيت کولو.اودده دخاندان نه چه په مکه کښے اوسيدل هيڅوك په دے خبره خبر نه وو چه ګنے ده په مدينه کښے واده کړيدے اودهغه نه شيبه پيدا شويدے .نو دا شيبه (عبد المطلب) ځلمے شو، نو دده تره مطلب ورپسے راغلو، او مور ته ئے ورله اوويل چه دا زه ځان سره مکے ته بوځم چه دخپل پلار په ځائے مشري سنبال کړي (او د عربو مشري ډيره خوښه وه) نو هغے ورسره پريخود.کله چه مطلب ځان سره خپل وراره (شيبه) مکے ته راوستو، نودمکے خلقو مشهوره کړه چه دا هلك دمطلب غلام دے، نو عبد المطلب نوم ئے ورته وئيل شروع کړل، حال دا چه دا په حقيقت کښے دمطلب وراره دے، يعني دهاشم ځوئے دے.دا وجه ده چه مطلب د الله په اسماء

اوصفاتو كښې نشته .وبعض القصه في الرحيق المختوم ص (٤٩).

تشريح : ذَاقَ طَعْمُ الْإِيْمَانِ : د ذوق نه مراد ظاهري څکل نه دی بلکه دا د زړه ذوق (څکل) دی، اود طعم نه مراد حلاوت دے .من رضی بالله : يعنى الله رب گنړی، بل چاته نه متوجه کیږی، نور ارباب ئے نه وی. داوجه ده چه مشرك انسان دايمان په خوند نه پوهیږی .دارنګ بعضے خلق وائی الله ته ډیرے لارے دی، یهودیت اونصرانیت او اسلام، داغلطه خبره ده بلکه الله ته صرف یوه لاره ده چه اسلام دے .

مَنْ رَضِيَ بِاللهِ : دا الفاظ په مشكوة كښې پنځه ځله نقل دی. یو مقام كښې په طریقه دذکر نقل دی، چه چا سحر ماښام دا ذکر درے کرته اوکړو : (رضيت بالله رباً، وبالاسلام ديناً، و بمحمد نبياً) .حديث حسن .نو فضيلت ئے دادے چه الله به ئے دقيامت په ورځ ضرور راضی کړی، او جنت به ورکړی .كذا في كتاب الدعوات مشكوة (۱/۲۱۰).

د حدیث مطلب دا دے چه څوك صرف د الله عبادت كوى په هغه رضا وى غير الله طرفته توجه نه كوى، او په اسلام راضى شو بل دين په اسلام كښے نه داخلوى، اود الله عبادت د محمد ﷺ په طريقه سره كوى نودابه دايمان خوند اوڅكى، يعنى د شرك اوبدعاتو نه ځان اوساتى، اود الله په عبادت مشغول شى نود ايمان خوند به اوڅكى .

دارو مدار د نجات صرف په اسلام دے

۹ـ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَا يَسْمَعُ بِيْ اَحَدٌ مِنْ هٰذِهِ الْاُمَّةِ يَهُوْدِيٌّ وَلَانَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوْتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِيْ اُرْسِلْتُ بِهٖ اِلَّا كَانَ مِنْ اَصْحَابِ النَّارِ». رواه مسلم .

ترجمه : ابو هريرةؓ فرمائى : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : په هغه ذات مے دے قسم وی چه دهغه په لاس كښې دمحمد ﷺ ساه ده: دے امت كښې چه كوم سړے برابره ده هغه یهودی وی یا نصرانی وی زما دنبوت خبر بيامومى او بيا هغه په داسے حال كښې مرشى چه ايمان را نه وړى په هغه شريعت چه زه پرے راليږلے شوے يم نو هغه خامخا دوزخى دے۔(مسلم) .

تشريح : پدے حديث كښې د ايمان بالرسالة اهميت ذكر دے چه پدے امت كښې څومره انسانان دی كه يهودى وى كه نصرانى او كه مجوسى خو چه د رسول الله ﷺ د رسالت نه خبر شى او بيا په هغه باندے ايمان رانه وړى او پدے حالت كښې وفات شى نو ضرور بالضرور به اورته ځى اګركه هغه به ځان يو دين ته منسوب كوى او ځان ته حق پرست وائى ليكن ترڅو چه ئے زمونږ په محمد ﷺ باندے ايمان نه وى راوړے نشى كاميابيدے۔ نو معلومه شوه چه اسلام يو آفاقى مذهب دے چه ددے د دائرے په اطاعت كښې راتلل د تمام كائناتو دپاره ضرورى دى، او دا د الله د

طرفـنـه یـو داسـې بین الاقوامی قانون دے چه په هر شخص او په هره طبقه باندے ددے تابعداری لازم ده، لهـذا کـه یـهـود نصارئ د خپل حقانیت دعوه کوی او ځان ته دین والا وائی آو پدے طریقه جاهلان خلق گمراه کوی چه مونږ هم په آسمانی دین روان یو، نو دا دعوت ئے غلط دے ځکه الله ته د اسلام نه پس هیڅ دین مقبول نه دے۔

فوائد الحدیث وَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِیَدِهٖ : نبی اکرم ﷺ نه په ټول عمر کښے اتیا (۸۰) ځله قسم نـقـل دے، کـذا فی زاد المعاد۔ ددے نه معلومیږی چه قسم سنت عمل دے۔په عوامو کښې مشهـوره ده چـه قسـم کـول پـه حـق وی کـه پـه نـاحقه دواړه ناجائز دی، داخبره ددوئ خطاء ده .په صحیح الجامع الصغیر (۱/۱۰۲) کښې یو حدیث کښې ترغیب راغلے دے (احلفوا باللّٰه وبروا، واصدقوا، فان اللّٰه یحب ان یحلف به) (قسم پـه الله کـوئ او ځان په کښې رشتینے کوئ ځکه الله ذا خوښوی چه په هغه باندے قسم اوکړے شی) ځکه په دے کښے تعظیم دمقسم به وی۔

نـفـس : د نفس درے اطلاقات دی : ۱- یو اطلاق ئے په ذات باندے کیږی. ۲- دویم اطلاق ئے په روح بـانـدے کـیـږی. ۳- دریم په روح مع الجسد دواړو باندے .اودلته همدا مراد دے .لا یسمع بی احد من هذه الامه : سمع متضمن دے معنی داخبار لره (ای لا یسمع مخبراً بی)، یعنی نه اوری یو یهودی چه هغه ته زما په باره کښے خبر ورکړے شی۔

فـائـده : د لا یسمـع نـه داخبره معلومه شوه چه که چرے یو اعرابی یا یهودی نصرانی دنبی اکرم ﷺ نـه خبر نه وی، نو په ده باندے عذاب نشته۔په دے لایسمع باندے یوه مسئله متفرع ده چه هغے ته مسئله د شاهق الجبل وائی۔

مسئله د شاهق الجبل :

ددے مسـئـلـے خـلاصـه دا ده چه یوانسان دے هغه دغرونو په څوکه کښے اوسیږی، اود اسلام اودتوحید دعـوت ورتـه چـانـه وی کـړے، رسول یا مبلغ ورته نه وی راغلے، اوده په الله بـانـدے ایمان رانه وړو، نو آیا دے شخص له به الله په دنیا او آخرت کښے عذاب ورکوی اوکه نه ؟ نو په دے کښے دوه قوله دی :

۱- **قول** : دا هل السنة او اشاعروُ دے چه دوئ وائی : داسے شخص ته نه دنیاوی عذاب شته اونه اخروی۔ اوددے ډیر **دلائل** دی : ۱- **یو دلیل** : عـمـوم ددے قول د الله تـعـالی دے چه : ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِیْنَ حَتّٰی نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴾ [الاسراء آیت:۱۵] . چه ددے آیت مطلب دادے چه مونږ چاته رسول نه وی لیږلے نو هغه له عذاب نه ورکوو ۔یعنی نه په دنیا کښے اونه په آخرت کښے . ۲- **دویم دلیل** : حدیث دے کـمـا فی مسند احمد (۴/۲۴) الصحیحه رقم (۱۴۳۴) ابن کثیر (۳/۲۹) حاصل ئے دادے چـه څـلـور کسـان بـه د قیامت په ورځ الله تـه خـپـل دلـیـل پـیـش کـوی، یو کـونـړ سړے، دویم کـمـعـقـل، دریـم هـغـه بـوډا چـه پـه خبره نـه پـو هیږی. څلورم هغه شخص چه په فترت (زمانه دانـقـطـاع دپیغمبرانو) کښے مړ وی۔دوئ به الله تـه وائی یا الله ! تـه مـونـږ ولے جهنم ته بو ځے، خال

دا چه مونږ ته رسول نه دے راغلے۔ زمونږ عقل کار نه کولو۔ وهکذا نو الله به د دوئ نه لوظ واخلی چه زما اطاعت به کوئ، نو په دوئ به امتحان اوشی، پیغمبر به ورته را اولیږلے شی، هغه به ورته حکم اوکړی چه اور ته داخل شئ! بیا نبی اکرم ﷺ فرمائی : (فمن دخلها کانت علیه برداً و سلاماً) که څوك پکښ اور ته داخل شی نو دغه اور به په دوئ یخ او سلامتیا والا جوړ شی۔ اود ابو هریرهؓ په بل روایت کښے ورسره دادی چه (ومن لم یدخلها یسحب الیها) یعنی څوك چه هغه اور کښے دهغه په حکم داخل نشی نو اُورته به رابښکلے شی۔ اود ابو هریرهؓ په روایت کښے ورسره دا زیادت شویدے چه ابو هریرهؓ اوفرمائیل : (فاقرؤا ان شئتم : وما کنا معذبین حتی نبعث رسولاً) کذا فی ابن کثیر (۳/۲۹)۔

۳- قول دماتریدیه اومعتزلو او بعضے احنافو دے۔ دوئ وائی مذکوره شخص له عذاب شته دے،خو بیا په دوئ کښے فرق دے، معتزله وائی : دغه مذکوره شخص له دنیا او آخرت دواړو کښے عذاب شته دے۔ او ماتریدیه وائی : دُنیا کښے عذاب نشته او آخرت کښے ورله عذاب شته دے۔ دمعتزلو دلیل دادے چه په مذکوره آیت کښے چه رسول ذکر دے دهغے نه مراد عقل دے، یعنی د انسان عقل په منزله د رسول دے، داوجه ده امام ابو حنیفهؒ نه نقل دی که چرته الله، رسول لره دنیا ته را اونه لیګی نو په مخلوق باندے واجب دی چه الله په عقل سره اوپیژنی (انظر اصول الشاشی ص : ۳۴)۔

۲- دلیل : دا وائی چه دلائل سمعیه به هله حجت ګرځی کله چه استدلال د عقل صحیح وی، نو عقل د دوئ په نیز مستقل حجت دے۔

داول دلیل نه جواب دادے چه رسول په معنی دعقل سره اخستل داد قرآن کریم داستعمال نه خلاف دی، وجه دا ده چه خزنه د جهنم به کفاروته وائی : ﴿ أَلَمْ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُم بِالْبَيِّنَاتِ ﴾ نوداسے ورته نه وائی چه [اولم تکونوا عقلاء] دارنګ چا چه دا آیت خاص کړیدے په نفی دعذاب دنیوی پورے لکه ماتریدیه ؤ، چه ګنے دنیا کښے به ورله عذاب نه ورکوی۔ نودوے جواب دادے چه هرکله دنیاوی عذاب په نه رالیګلو درسول باندے نفی شو چه دا آسان عذاب دے نو د آخرت عذاب خو به په طریقه اولیٰ سره نفی وی ولے چه هغه خو غټ او سخت عذاب دے، نو هرکله چه عدم ارسال الرسول مؤثر شو په نفی د اهون عذاب کښے، نو عدم ارسال الرسول به خامخا مؤثر کیږی په نفی داصعب او اشق عذاب کښے۔

اود دویم دلیل نه جواب دادے چه د اهل السنة والجماعة مذهب خو دا نه دے چه عقل بالکل بیکاره دے بلکه مطلب دا دے چه عقل حاکم محض بالحسن والقبح نه دے ترڅو چه شرع نه وی راغلی، اورسول رالیږل یانه رالیږل دا امر شرعی دے، نو چه امر شرعی نه وی نو عقل په حسن او قبح معلومولو کښ مستقل نه دے بلکه بعد ورود الشرع به حسن او قبح عقل معلومولے شی، نو صحیح مذهب دادے چه دُنیا کښے پرے عذاب نشته، او آخرت کښے به ورته الله رسول راولیګی که هلته ئے پرے ایمان راوړو نو مؤمن دے، دعذاب نه خلاص دے، اوکه هلته ئے ایمان

رانه ورونو دعذاب مستحق دے۔ او دا تطبیق دے په مابین دقول دا هل السنة والجماعة او ماتریدیه ؤ کښې، کما تریٰ تفصیل ذلك في روح المعانی (۱۵/۴۰)۔

هٰذِهِ الْاُمَّةِ : اُمت په دوه قسمه دے: ۱- امت اجابت: لکه مسلمانان، دوئ د الله اود رسول اجابت کړیدے۔ ۲- امتِ دعوت لکه کفار چه دوئ ته به دعوت کولے شی اسلام طرفته۔

يَهُوْدِيٌّ وَلَانَصْرَانِيٌّ : دا دواړه ولے خاص شو؟ وجه دا ده: ۱- چه دا اصول الکفر دی۔ ۲- دویم: د دوئ دین سماوی وو، روغ دین ئے شته، نو هرکله چه دوئ اصحاب النار ګرځی په نه منلو د رسول الله ﷺ باندے نو ددوئ نه سیوا نور خلق خو به ضرور په طریقه اولیٰ سره اصحاب النار ګرځی۔ ددے حدیث مناسبت دکتاب الایمان سره دادے چه الایمان بالرسول واجب لانه جزء الایمان۔

دوچنده اجر موندونکی خلق

۱۰- عَنْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِیِّ ؓ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «ثَلٰثَةٌ لَهُمْ اَجْرَانِ، رَجُلٌ مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِیِّهٖ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ، وَالْعَبْدُ الْمَمْلُوْكُ اِذَا اَدّٰی حَقَّ اللهِ وَحَقَّ مَوَالِیْهِ وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهٗ اَمَةٌ يَطَأُهَا فَاَدَّبَهَا فَاَحْسَنَ تَأْدِيْبَهَا وَعَلَّمَهَا فَاَحْسَنَ تَعْلِيْمَهَا ثُمَّ اَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا فَلَهٗ اَجْرَانِ». متفق علیه۔

ترجمه: ابو موسی اشعریؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمایه: دریے سړی داسے دی چه هغوی ته به دوچنده اجر ملاویږی: ۱- یو هغه کتابی (یهودی یا نصرانی) چه مخکښ ئے په خپل نبی باندے ایمان لرلو، بیا ئے په محمد ﷺ باندے ایمان راوړلو۔ ۲- دویم هغه غلام چه د الله حقونه هم ادا کوی او دخپل آقاګانو (بالدارانو) حق هم اداکوی ۳- دریم هغه سړے چه دهغه یوه وینزه وه هغے سره ئے کور والے کولو بیا ئے هغه هنر مندۀ جوړه کړه، بیا ئے هغے ته ښه تعلیم ورکه بیا ئے هغه آزاده کړه اونکاح ئے ورسره اوکړه، نودے به هم د دوچنده اجر حقدار وی۔ (بخاری اومسلم)۔

تعارف د ابو موسی الاشعری ؓ: دده خپل نوم عبد الله بن قیس دے، دمتقدمینو نه دے په اسلام کښې۔ دهجرت نه مخکښې ئے اسلام راوړو بیا خپل وطن ته واپس شو، او حبشو ته ئے هجرت اونکړو اوکله چه د وطن نه واپس راتلو نو کشتئ کښې کیناستو، هواء راغله او کشتئ ئے دخپل منزل مقصود نه خطاء کړه تردے چه حبشو ته اورسیدله هلته دجعفر بن ابی طالبؓ سره ملاؤ شو، او یو څو ورځے پس ئے دحبشو نه هجرت مدینے ته اوکړو، د اد فضلاء الصحابه نه دے، ښائسته آواز ئے لرلو، کله چه به عمر فاروقؓ سره ملاؤ شو هغه به ورته اووئیل: مونږ ته قرآن اولوله، څکه ستا آواز ډیر ښائسته دے (شَوِّقْنَا اِلٰى رَبِّنَا) (رب ته مو شوق پیدا کړه) (وفی الحدیث: لقد أوتیت مزماراً من مزامیر آل داود) تا ته د داود علیه السلام د آوازونو نه یو خوش آواز درکړے شویدے) په اهلِ بصره کښې اوچت فقیه اوقاری وو۔ د نبی علیه السلام په زمانه کښې په

یمن کښې د زبید او عدن والي (گورنر) وو، او عمر فاروقؓ په بصره باندې دمغیره بن شعبهٔ نه پس گورنر مقرر کړو، اوڅلور کاله حکومت ئې اوکړو، سره ددې نه چه عمر فاروقؓ دا وصیت کړې وو چه ماکوم والي او گورنر مقرر کړو هغه به دیو کال نه زیات حکومت نه کوي، صرف ابو موسی اشعريؓ ئې څلور کالو پورې گورنر اوساتلو، دا دلالت کوي دده په کمالِ فضیلت باندې.دہ په خپل وخت کښې اهواز او اصبهان فتح کړېدی.دہ نه ټول نقل شوی احادیث (۳۶۰) دی. په کال (۵۰ھ) کښې په کوفه یا په مکه کښې د (۶۳) کالو په عمر باندې وفات شو ﷺ.

تشریح : **ثَلٰثَةٌ لَهُمْ اَجْرَانِ** : (ای ثلثة اشخاص) . **مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ** : کتاب کښې دوه احتماله دی : ۱- یا خودددې نه مراد انجیل دې فقط، لکه داپه روایت د بخاري کتاب الانبیاء (۱/۴۹۰) کښې راغلې دې : (واذا آمن بعیسٰی ثم آمن بی) . هلته صرف عیسی علیه السلام ذکر دې، نه لفظ د اهل الکتاب، لیکن دا احتمال ضعیف دې. وجه دضعف دا ده چه هلته راوی اختصار کړېدې. صحیح خبره دویمه ده.

۲- او هغه دا چه دکتاب نه مراد عام دې، تورات اوانجیل دواړو ته شامل دې لکه عام قرآن اوسنت کښې چه لفظ داهل الکتاب ذکر شي نو یهودي اونصراني دواړو ته شامل وي، لکه ددې تائید په مسند احمد (۵/۲۵۹) د ابی امامةؓ په روایت کښې دې فرمائي : (انی لتحت راحلة رسول اللّٰه ﷺ یوم الفتح، فقال قولاً حسناً جمیلاً، وقال فیما قال : من اسلم من اهل الکتابین فله اجره مرتین---الحدیث) . اود عبد اللّٰه بن عباسؓ نه په تفسیر ددې آیت ﴿ یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰه وآمِنُوا بِرَسُوْلِهٖ یُؤْتِکُمْ کِفْلَیْنِ مِنْ رَحْمَتِهٖ ﴾ الحدید: ۲۸] کښې نقل دی چه ده فرمائیلی دی : (اجرین بایمانهم بعیسی وبالتوراة والانجیل وبایمانهم بمحمد ﷺ) رواه النسائی فی ادب القضاة (۲/۳۰۶) اودغه شان داحدیث مستفاد دې ددې آیت نه ﴿ اُولٰئِكَ یُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَرَّتَیْنِ ﴾ القصص ٥٤) . چه دا آیت نازل شویدې په باره د رفاعه القرظيؓ او عبد اللّٰه بن سلام وغیره اهل کتاب مسلمانانو کښې، کوم چه په مدینه کښې اوسیدل. رفاعه او عبد اللّٰه دیهودو نه وو، اوسلمانؓ د نصاراؤ نه وو، ایمان ئې راوړو.

لیکن په دې احتمال باندې هم دا **سوال** کیدې شي چه دکتاب نه مراد عام شي او تورات او انجیل دواړو ته شامل شي نو بیا هم صحیح نه ده بلکه صرف نصاریٰ مراد دی، ځکه چه یهودو کله په عیسی علیه السلام کفر اوکړو نو دهغوی ایمان ختم شو، کفار شو په موسی علیه السلام باندې هم ځکه چه انکار دروستنی نبی نه انکار دې دمخکنی نبی نه.نو دوئ چه کله په محمد ﷺ باندې ایمان راوړو نو ددوئ خو صرف یو عمل پاتې شو چه صرف زمونږ په نبی باندې ایمان راوړل دی، نو دوئ صرف د یو اجر مستحق کیدل پکار دی؟

جواب :کوم یهود وغیره چه په موسیٰ علیه السلام باندې ایمان راوړې وي اود عیسی علیه السلام ددعوت نه ناخبره پاتې شوې وي نو دهغه تصدیق به کیدې شي چه دا یهودي مؤمن دې ځکه په موسیٰ علیه السلام ئې ایمان شته دې اود بل روستني پیغمبر نه انکارئې نشته، بیا کله چه

محمد ﷺ راغلو او په هغه باندے ئے ايمان راوړو نو داپه دے حديث کښے اشکاله داخل دے، لکه بعضے عرب د يمن والاؤ نه په يهوديت کښے داخل شوي وو اود عيسى عليه السلام دعوت ورته نه ؤ رسيدلے۔ دارنګ دمدينے ډير يهوديان داسے وو چه هغوی ته دعيسى عليه السلام دعوت نه ؤ رسيدلے ځکه دده ددعوت زمانه ډيره کمه وه، تهولو خلقو ته نه وو رسيدلے نو ډير خلق په خپل يهوديت باندے پاتے ووتردے چه محمد ﷺ راوليګلے شو او په هغه باندے ئے ايمان راوړو نو داپه دے آيتٔ ﴿ اولئك يؤتون اجرهم مرتين ﴾ کښے داخل دی، او په دے حديث کښے هم داخل دی۔

بعضے وائي چه عبد الله بن سلامؓ وغيره د عيسى عليه السلام د راتلو نه خبر وو ليکن دعوت نه ئے نه ؤ خبر، نو دوئ اجمالي طور سره په عيسى عليه السلام باندے ايمان لرلو اودا اجمالي ايمان کافي دے داستحقاق الاجر دپاره، اوبيا اګرکه په يهوديت باندے پاتے وی نو دا مانع نه دے د اجر نه، بيا کله چه په نبئ اکرم ﷺ باندے ئے ايمان راوړو نود دوئ دوه اجره شو۔ هاؤ ! ددے نه هغه يهود خارج دی لکه د شام اوسيدونکی چه هغوی ته عيسى عليه السلام راغلو اود خپل شريعت دعوت ئے ورته ورکړو او هغوی ترينه انکار اوکړو، نودوئ چه په محمد ﷺ باندے ايمان راوړو نو دوئ صرف د يو اجر مستحق دی۔

تنبيه ۱ : بعضے علماؤ وئيلی دی چه دا دوچنده اجر دهغه کتابی دے چه په خپل صحيح دين باندے باقی پاتے دے او تبديل اوتحريف ئے نه وی کړے، نو څوك چه داسے وی اوبيا په نبی اکرم ﷺ باندے ايمان راوړی نو دده دوه اجره دی، اوچا چه تحريف او تبديل کړے وی او بيا روسته په محمد ﷺ باندے ايمان راوړی نو دهغه صرف يو اجر دے۔ليکن دا خبره ددے حديث د نص نه خلاف ده، ځکه نبی اکرم ﷺ داخبره دخپلے زمانے والاؤ باره کښے ذکر کړيده او په هغه زمانه کښے د يهود او نصاراؤ د تحريف او تبديل داستان دقرآن نه معلوم دے۔دارنګ هرقل ته نبی اکرم ﷺ ليکلی وو (اسلم يؤتك الله اجرك مرتين) او هرقل بعد التبديل په نصرانيت کښے داخل شوے وو، کذا قال الحافظ۔

تنبيه ۲ : دادوه اجره په دوه عملونو باندے خو د هرچا دپاره دی نو ددے کسانو دتخصيص وجه څه ده ؟ نو اصل کښے وجه داده چه ددے کسانو په هر عمل باندے به دوئ ته دوه دوه ثوابه ملاويږی۔ ۲- بعضے وائي چه د تخصيص وجه داده چه ددے درے کسانو په اعمالو کښے اشکال دے چه اجرين ډے ورته حاصل نشي ځکه دا وهم کيدے شي چه عبد خو دمولیٰ مملوك دے، نو شايد چه دده په خدمت کولو کښے اجر به نه ملاويږی ځکه دا حق دمولیٰ په خدمت سره اداء کوی او هغه ورته خوراك څکاك ورکوی، دارنګ د وينځے سره نکاح کول خو دخپلے فائدے دپاره دی، نو کيدے شي چه مالك ته اجر ملاؤ نشي، دارنګ د اهل الکتاب مؤمن له دے پکار وی چه زمونږ په نبی باندے هم مؤمن وی ځکه چه دهغوی نه الله دا لوظ اخستے دے چه په روستنی نبی به ايمان راوړئ، نو زمونږ په نبی باندے دهغه ايمان راوړل دهغه د ايمان حصه ده

په خپل نبي باندے۔ نو دلته تعدد د ايمان نشته چه دوه اجره ورته ملاؤ شي۔ نو دے حديث شريف كښے تنبيه راغله چه د نبي اكرم ﷺ د بعثت نه پس په هغه باندے ايمان تفصيلي راوړل پس د اجمالي ايمان نه چه د هغه تذكره په پخوانو كتابونو كښے ده، دا دواړه جدا جدا امرين دي، نو ځكه اجرونه جدا جدا دي، وهكذا۔

وَالْعَبْدُ الْمَمْلُوْكُ : د المملوك قيد ئے ځكه اولګولو چه دعبد اطلاق كله په حُر باندے هم كيږي نو دا قيد احترازي دے۔ اِذَا اَدّٰى حَقَّ اللهِ : حق د الله خو نشي پوره كيدے، نبي ئے هم نشي پوره كولے پاتے لا عام انسانان ليكن مراد ددے نه دا دے چه كوم مامورات ورته الله كړيدي هغه حتى الوسع پوره اداء كوي لكه صوم، صلاة، زكوٰة، حج وغيره۔

مَوَالِيْهِ : جمع ئے راوړه ۱ - مدح ته اشاره ده يعني دومره ښه سړے دے چه د ټولو حقوق اداء كوي۔ ۲ - يا دا چه عبد نه مراد جنس عبيد دي، اوموالِيه هم جمع ده، اوجمع چه مقابل دجمع راشي نو انقسام دآحادو په احادو مراد وي۔

سوال : په دے مقام كښے خو دغلام اجر دمالك نه هم دوچند شو، ددے څه وجه ده ؟۔

جواب : داڅه د نقصان خبره نه ده بلكه دا د الله فضل دے چه چاته ډير اجر وركوي اوچاته كم۔

۲- **جواب :** په دے جهت سره دغلام اجر دوچند دے ليكن كيدے شي چه دنورو جهاتو په وجه دمالك اجر ډير چندونو والا وي، مالك نور ډير اعمال كوي۔ ۳- **جواب :** دلته مراد ترجيح د هغه عبد بيانول دي چه دوه حقه اداء كوي، په هغه عبد باندے چه يو حق اداء كوي۔ ٤- **جواب :** مراد تضعيف داجر د هغه عمل دے چه په هغے كښے د الله اود مالكؑ طاعت متحد وي، لكه كوهے كنستل، لاره جوړول وغيره، نو دوه حقه ئے اداء كړل ځكه دوه اجره دي په دے عمل باندے۔ يطاها : يعني دوطئ سره سره ورله اجر وركوي۔

فَاَدَّبَهَا : ادب په امورو دنيويه كښے دے او تعليم په امورو دينيه كښے دے۔ فَاَحْسَنَ تَاْدِيْبَهَا : يعني نرمي او ښائسته اخلاق ورسره كوي، د هغے اصلاح كوي، سختي ورسره نه كوي، هغه دبدو كارونو نه منع كوي، اوپه ښائسته اخلاقو ئے باعثه كوي۔

فَاَحْسَنَ تَعْلِيْمَهَا : يعني احكام شرعيه ورته ښائي او تقديم الاهم فالاهم ورزده كوي سره د اخلاقو نه۔ فَلَهٗ اَجْرَانِ : ۱ - ضمير خو يا راجع دے كل واحد ته، نو تكرار د تاكيد دپاره دے۔ ۲ - يا راجع دے قريب ته ځكه دده څلور امور ذكر دي نو وهم راتلو چه دده به اته اجرونه وي، نو دلته ئے اووئيل چه نه دده هم اجران دي، اشاره ده ديته چه معتبر په دے امورو كښے امران دي چه عتق اوتزوج دے۔ داوجه ده چه دوباره ئے دا لفظ مكرر ذكر كړو۔ دلته څلور اعمال ذكر دي، دوه ديني اودوه دنيوي۔

اجران - يو اجر په اعتاق او دويم اجر په تزوج، ځكه چه دا دواړه جدا جدا مستقل عبادتونه دي، تزوج بعد الاعتاق بل عبادت دے۔ بيا دا تاديب او تعليم ولے ذكر شو؟ نو ددے وجه داده چه دا

مكمل د اجر دى، اجر په دے سره مكمل كيږى ځكه چه ادبناكے معلمے ښځے سره نكاح كولو كښے بركت زيات دے، خاوند سره به ددين په كار كښے مدد كوى، ركاوټ به نه واقع كيږى۔ اودا اجران په تعليم او تاديب باندے نه دى ځكه چه دا مختص نه دے په وينځو پورے بلكه اولادو او پردى خلقو ته تولو ته تاديب او تعليم وركولے شى نودا دوينځو سره څه دومره لوئے احسان نه دے، فائده ئے مالك ته راجع ده، او عتق او تزوج دواړه لوئے احسانات دى دهغوئ سره۔

بيا ددے مذكوره درے كسانو د اجر دوچند والى وجه دا ده :

۱- چه دا درے واړه دداسے متزاحم اومتقابل دوه جزئينو نه مركب دى چه په يوباندے مشغول كيدل دبل دحق پوره كولو نه مانع دى۔ دارنگ دا اعمال كول مشقت غواړى، ځكه مثلاً چه كتابى اول ايمان راوړى په خپل نبى اودهغه په كتابونو باندے بيا چه كله په آخرى نبى ايمان راوړى نودا ورته طبعاً استغناء او استنكاف ښكارى، په طبيعت ئے بوج پريوځى چه آيا اوسه پورے زه په باطل باندے ووم ! نو په دے كښے مجاهده د نفس او صبر او تحمل على المكاره راځى نوځكه مستحق ددوه اجرونو دے۔دغه شان عبد چه دواړه حقونه اداء كوى نو په دے كښے ډير مشقت دے، نود زيادت مشقت په وجه ورته دوه اجرين وركول كيږى۔ددے مثال دادے لكه حديث كښے دى : (والذى يَتَتَعْتَعُ فى القرآن وهو شاق عليه فله اجران، متفق عليه) ۔دغه شان د وينځے سره نكاح كول عرفاً عار او شرم گنړل كيږى اوددے باوجود دا انسان دا بوج په ځان باروى، نو ځكه ددوه اجرونو مستحق دے (كما فى الحديث: اَجْرُكُمْ على قَدْرِ نَصَبِكُمْ)۔

۲- يا ددے درے واړو دوچند اجر كيدل په يو عمل باندے دى، ليكن په شرط دمقارنت دعمل آخر لكه دكتابى دپاره په محمد ﷺ باندے ايمان راوړو كښے دوه اجره دى، خو شرط دادے چه ايمان په خپل نبى هم لرى، دارنگ عبد مملوك دپاره په اداء دحق ﷲ باندے دوه اجره دى، خو شرط دا دے چه دمولىٰ حق اداء كوى، دغه شان په اعتاق الامه باندے دوه اجره دى خو په شرط د تزوج سره۔ كذا قال السيد جمال الدين۔

ليكن مرقاة (۸۰/۱) كښے ئے دا مرجوح كړيدے، او وئيلى ئے دى چه مقارنت شرط نه دے ځكه اجرين په مقابله دايمانين او اداء الحقين كښے دى۔ نو دمقارنت څه معنى ده ؟ **ملا على قارى** فرمائى : ښه وجه د تخصيص ددے درے كسانو داده چه دلته ددے درے كسانو ذكر كول مقصود دى، او په دے سره نفى دماعدا نه كيږى۔اودا درے كسان ئے ددے وهم ددفع كولو دپاره ذكر كړيدى چه هركله پخوانى اديان منسوخ شو نو پكار ده چه دهغوى هيڅ ثواب اونشى، دارنگه عوامو كښ مشهوره ده چه دمملوك اجر دمالك دپاره وى او اعتاق د وينزے دخپل غرض دپاره كوى نو پكارده چه اجر ورته ملاؤ نشى، نو دا وهم ئے دفع كړو، چه نه ! ددے درے كسانو دوچند اجر دے۔ بيا امام سيوطىؒ كتاب ليكلے دے (مطلع البدرين فيمن يؤتى اجره مرتين) په دے كتاب كښے ئے تقريباً (۴۰) څلويښت كسان

ليکلی دی چه هغوئ ته دوه اجره ورکولے کيږی په تولو اعمالو باندے۔

الغرض من ايراد الحديث المذكور : دمصنف غرض په دے مذکوره حديث سره دلته، اشاره ده تفضيل دايمان د بعضے خلقو په بعضو باندے لکه دکتابی ايمان په نبی عليه السلام افضل دے دغير کتابی دايمان نه په نبی عليه السلام، نو په ايمان کښے تفاضل راغے، او هرکله چه تفاضل راغے نو زيادت او نقصان به په کښے هم راځی۔

کفارو سره به ترکومه وخته پورے جنګ کيږی ؟

۱۱ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اُمِرْتُ اَنْ اُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَشْهَدُوْا اَنْ لَااِلٰهَ اِلَّااللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ وَيُقِيْمُوْا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوْا الزَّكٰوةَ فَاِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ عَصَمُوْا مِنِّيْ دِمَائَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ اِلَّا بِحَقِّ الْاِسْلَامِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ». متفق عليه۔

ترجمه : ابن عمر ﷺ نه روايت دے چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل : ماته د الله تعالی دطرفنه حکم راکړے شويدے چه زه (دين دشمن) خلقو سره هغه وخته پورے جنګ اوکړم څو پورے چه هغوی ددے خبرے ګواهی اونه کړی چه د الله نه سوا بل څوك لائق دعبادت نشته، او محمد ﷺ د الله راليږلے رسول دے او مونځ اوکړی، او زکوٰة ورکړی۔ هرکله چه هغوی داسے کارونه کول شروع کړی نو هغوی خپل ځان او مال مانه محفوظ اوساتو۔ هاؤ ! کوم حق چه د اسلام دضابطے لاندے وی هغه به اوس هم باقی وی۔ (دے نه پس) دهغوی (د باطن) معامله الله ته سپارلے شويده۔ (هغه پوهيږی چه دهغوی اسلام دزړه په صدق سره وو يائے صرف دخپل ځان ومال دحفاظت دپاره ښکاره کړے وو) (بخاری اومسلم) البته دمسلم په روايت کښ د (الا بحق الاسلام) الفاظ نشته۔

تشريح : اُمِرْتُ اَنْ اُقَاتِلَ النَّاسَ : فائده : نبی عليه السلام په توره راليږلے شويدے لکه چه نبی اکرم ﷺ فرمائی : (انا نبی الْمَلْحَمَة) (زه د جنګونو پيغمبريم) چه دکفارو نه به ختونه وهم (کنز العمال ۳۲۰۸۶)۔

دلته يو **مشهور سوال** دے، او هغه دا چه داحديث د قرآن خلاف معلوميږی ﴿ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوْا الصَّلٰوةَ وَآتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ﴾ (توبه آيت:۱۱)۔ دارنګ د سوره توبه (۵) آيت ﴿ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوْا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ﴾ هم ددے حديث دمضمون په شان دے، هغه هم د (۲۹) آيت خلاف معلوميږی، ځکه چه ددے حديث نه معلومه شوه چه دنجات ذريعه درے شيان دی : ۱– کلمه دشهادت وئيل۔ ۲– اقامة الصلوٰة۔ ۳– ايتاء الزكوٰة۔ او (۲۹) آيت کښے فرمائی : ﴿قَاتِلُوْا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَاحَرَّمَ اللهُ وَرَسُوْلُهُ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُوْنَ﴾ نو په دے آيت کښے درے شيانو سره جزيه ورکول هم زيات شو، يعنی چه جزيه ئے نه وی ورکړی نو اګرکه دا درے څيزونه

په کښې وي بیا به هم ورسره جنګ کول جائز وي۔او حدیث کښې صرف په دریے شیانو نجات عن القتال دے۔ دارنګه (۵) او (۱۱) آیت نه هم دریے شیان معلومیږي۔نو ددے تعارض دفعیه څه ده ؟

جواب : ۱- دا حدیث په ابتداء داسلام محمول دے، اوسورة التوبه په ترتیب نزولي کښې (۱۱۳) سورت دے، ددے نه بعد صرف ﴿ اذا جاء نصر الله ﴾ نازل شویدے، نودا حدیث منسوخ دے په (۲۹) آیت باندے۔ ۲- **جواب** : نسخ نشته بلکه دحدیث جدا مقصد دے اود آیت (۲۹) جدا مقصد دے۔ حدیث دمشرکانو په باره کښې دے اودلیل په دے باندے بل حدیث دے لکه نسائي، کتاب المحاربه (۲/۱۶۰) کښې راځي : (امرت ان اقاتل المشرکین) او (۲۹) آیت کښې یهود ذکر دي، نو دیهودو دنجات دپاره جزیه ورکول هم زیات شویدي۔ ۳- **جواب** : دلته په حدیث کښې لفظ د(اقاتل) دے، نه دقتل۔ اومقاتله عام ده دقتل نه۔ جزیه اخستل هم مقاتله ده۔ دامقاتله مالي ده، اوپه توره باندے دکورنه ویستل هم مقاتله ده، نو تعارض د آیت او د حدیث ترمینځ نشته۔ ۴- **جواب** : په حدیث کښې حتی یشهدوا ان لا اله الا الله لفظ راغلے دے اومراد د شهادت نه خاص شهادت دے چه اعلاء دکلمة الله ده، یعنی دا یقین اوکړي چه د اسلام په مونږ باندے تسلط دے، اوپه جزیه کښې هم دا شهادت په معنی د اعلاء کلمة الله سره شته دے چه دائے اوپیژنده چه دمسلمانانو په مونږ باندے تسلط دے۔ لهذا دآیت اود حدیث تعارض نشته۔

۵- **جواب** : دآیت او حدیث ترمینځه هیڅ تعارض نشته ځکه جزیه کښې مقصد دا دے چه دا خلق مونږ تنګ کړو تردے چه اسلام ئے جوړ شي اوصوم او صلاة او زکوٰة شروع کړي۔نودا جزیه سبب دشهادت دکلمے دے او مفضي دے دغه شهادت ته، نو معنی دا شوه چه (حتی یشهدوا) پخپله شهادت اوکړي، یا سبب دشهادت اختیار کړي چه جزیه ده۔کذا في الفتح (۱/۶۴)۔

فائده : په دے حدیث کښې رد دے په هغه کسانو باندے چه ایمان بسیط ګڼړي، لکه مرجئه، کرامیه، احناف وغیره۔بلکه صحیح داده چه ایمان مرکب دے، لوئے لوئے اجزاء لري، او دلته دریے ذکر شو، اوپه معتزلو او خوارجو باندے رد دے په (عصموا مني دمائهم) سره چه شهادت او صلاة او زکوة اداء کوي اوددے سره سره قتل یا زنا وغیره اوکړي نو هم کافر نه دے، بلکه مسلمان دے او په اسلام کښې دننه به ورسره حساب کیږي چه حد به ورکولے شي، قصاص به ترینه اخستے شي۔او په (حسابهم علی الله) کښې رد دے په کرامیه ؤ باندے چه صرف اقرار ته ایمان وائي، ځکه چه صرف اقرار ایمان نه دے بلکه که زړه خراب وي نو الله به ورسره حساب کوي، یو ائځے په اقرار باندے نجات نشته۔

وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ : ددے حدیث نه چا استدلال کړیدے په دے چه کفار مخاطب بالفروع دي، ځکه چه دلته یقیموا الصلاة داحکامو امر ورته شویدے،نو معلومه شوه چه کفار مخاطب بالفروع

دی۔ خودا استدلال ددے حدیث نہ پہ محل د نظر کښے دے، اگرچہ مسئلہ صحیح دہ خو ددے حدیث نہ ئے معلومول پہ محل د نظر کښے دی، بلکہ دلتہ معنی دادہ چہ څوك لا الہ الا اللہ اووائی نوددہ وینہ محفوظ شوہ، اود مانځہ اوزکوٰۃ اقرار بہ اوکړی چہ دابہ آیندہ کښے کوی، ځکہ چہ سمدست پہ مانځہ اوډیدل خونشتہ، بلکہ چہ کلہ وخت راشی هلہ بہ مونځ کوی، اودغہ شان زکوٰۃ واخلہ، نو اقرار ددے اعمالو کافی دے اودا علامے دلا الہ الا اللہ دی۔

مسئلہ : کفار مخاطب بالفروع دی اوکہ نہ ؟

ددے مسئلے تفصیل بہ پہ کتاب الزکوٰۃ کښے ان شاء اللہ راشی، لیکن دلتہ مختصرہ دا یادول پکار دی چہ پہ دے باندے ټول امت مسلمہ متفق دے چہ کفار پہ ایمان باندے مکلف او مخاطب دی، خو اختلاف پہ دے کښں دے چہ آیا پہ فروعی اعمالو باندے مخاطب دی اوکہ نہ ؟ نو پہ دے کښے دوہ قولہ دی :

۱- **راجح قول** دادے چہ کفار مخاطب بالفروع دی، یعنی اعمالو شرعیہ (صوم، صلوۃ، زکوٰۃ، حج وغیرہ) باندے مخاطب دی۔ کہ اداءئے نہ کړل نولکہ څنګہ پہ قیامت کښں بہ دے کافرونہ د عقیدے تپوس کیږی دغہ شان ددے شرعی اعمالو او فروعاتو تپوس بہ ترے هم کیږی، اولکہ څنګہ چہ دوئ تہ بہ پہ ترك د اعتقاد سرہ عذاب ورکولے شی دغہ شان دوئ تہ بہ پہ ترك دشرائعو (احکام شرعیہ) سرہ هم عذاب ورکولے شی۔

دلیل د قول راجح دا دے چہ د قرآن کریم پہ ګڼرو آیتونو کښے داخبرہ ذکر دہ چہ کلہ کفار جهنم تہ لاړ شی، اوهغوی نہ تپوس اوشی چہ تاسو دے جهنم تہ څہ شی داخل کړئ ؟ نو هغوی بہ وائی مونږ جهنم تہ ځکہ داخل شو چہ مونږ بہ مونځ نہ کولو، مسکین تہ بہ مو خوراك نہ ورکولو، او قیامت بہ مو نہ منلو، لکہ سورۃ الحاقہ (آیت : ۳٤) کښے دی : ﴿ انہ کان لایؤمن باللّٰہ العظیم ولا یحض علی طعام المسکین ﴾ دارنګ سورہ مدثر[٤۲] آیت کښے دی ﴿ ماسلککم فی سقر قالوا : لم نك من المصلین ولم نك نطعم المسکین و کنا نخوض مع الخائضین و کنا نکذب بیوم الدین ﴾ الآیۃ۔

بلہ دا چہ اللہ تعالی عام خطاب پہ حج سرہ کړیدے ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ﴾۔ ۲- پہ دے کښے خلاف اصحاب الرأی، اکثرو شوافعو،اشاعرو، ابو بکر رازی ،کرخی او ابو حامد کړیدے اودا اصح قول دامام احمد دے چہ کفار صرف مخاطب دی پہ اصول یعنی پہ ایمان باندے نہ پہ اعمالو۔

ثمرہ داختلاف ظاهرېږی پہ ورځ دقیامت کښے پہ عقاب سرہ، یعنی څوك چہ وائی چہ مخاطب بالفروع دی نو دهغوی پہ نیز بہ اللہ دے کفاروتہ پہ ایمان نہ راوړ هم عذاب ورکوی،او پہ مونځ، روژہ نورو اعمالو نہ کولو باندے هم عذاب ورکوی، او د اصحاب الرأی او ابوحامد وغیرہ قول ثانی والو پہ نیز کفاروتہ بہ پہ قیامت کښے صرف پہ ترك ایمان باندے عذاب ورکولے کیږی۔ کذا فی روضۃ الناظر وجنۃ المناظر لابن قدامۃ (۱/۱٤۵)۔

بیا دلته صرف دوه عملونه ذکر شو، صلوٰة اوزکوٰة، نور اعمال ذکر نشو :
۱- ځکه دا دواړه د بدني اومالي عبادتونو بنیاد او سرچشمه ده، په دے کښے تول عبادات بدنیه اومالیه راغلل۔ ۲- اتباعاً للقرآن دا ذکر شویدی، ځکه قرآن کښے په سوره توبه (۵) آیت کښے دی : ﴿فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَآتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ﴾ ۔اِلَّا بِحَقِّ الْاِسْلَامِ : لکه مثلًا قصاص یا عشر، زکاة او صدقة الفطر، میلمه له میلمستیا ورکول، نفقة د اهل وغیره اخستل حق د اسلام دے۔
وحسابهم على الله : (ای حساب قلوبهم وامر سرائرهم) ۔(یعنی د دوی د زړونو او پټ رازونو حساب الله ته سپارل شویدے) ددے وجے نه عمر فاروقؓ به دخپل خلافت په دور کښے فرمائیل : څوک چه مونږ ته خپل ظاهر ښه ښکاره کړی نو مونږ به ورسره ښه معامله کوو اګرکه باطن کښے هرڅنګه وی۔

مسلمان څوک دے ؟

۱۲- وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ اَنَّهٗ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ صَلّٰى صَلَاتَنَا وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا وَاَكَلَ ذَبِيْحَتَنَا فَذٰلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِىْ لَهٗ ذِمَّةُ اللهِ وَذِمَّةُ رَسُوْلِهٖ فَلَا تُخْفِرُوْا اللهَ فِىْ ذِمَّتِهٖ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : انس ﷺ وائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړے چه زمونږ په شان مونځ کوی، زمونږ قبلے ته مخ کوی او زمونږ ذبیحے (حلالے) خوری هغه مسلمان دے چه دهغه دپاره د الله او دهغه د رسول ذمه (عهد او امان) دے نو کوم سړے چه د الله په عهد اوامان کښې دے تاسو دهغه دا عهد او امان مه ماتوئ۔(بخاری)۔

تشریح : مَنْ صَلّٰى صَلَاتَنَا : (ای من صلى صلاة كصلاتنا) ۔په دے کښے رد دے په شیعه ګانو باندے چه دهغوی مونځ زمونږ دمانځه پشان نه دے نو هغوی مسلمانان نه دی۔بیا مونځ ئے ذکرکړو اشاره ده دیته چه څوک زمونږ دمانځه پشان مونځ کوی نو هغه د رسول الله ﷺ په نبوت اقرارکوی چه (انه من اللّٰه) (دا د الله دطرفنه دے) نو دا متضمن شو اقرار د توحید او رسالت لره۔داحدیث دلیل دے په دے چه شرع ظاهر ګوری۔
وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا : په دے کښے رد دے په یهودو او نصاراؤ باندے چه بیت اللحم او بیت الشرق طرفته مونځونه کوی۔بیا قبله ئے ځکه ذکرکړه، سره ددے نه چه مونځ کښے قبله داخله ده، وجه داده چه قبله ډیره مشهوره ده، هر دین والا خپله قبله پیژنی اګرچه مونځ نه کوی۔
وَاَكَلَ ذَبِيْحَتَنَا : ذبیحة وزن د فَعِيْلَة دے په معنی د مفعولَة، ای مذبوحة تاء په کښے دجنس ده لکه شاة کښے د جنس دپاره ده۔ په دے حدیث کښے رد دے په بعضو یهودو باندے چه دمسلمانانو ذبائح نه خوری۔ بیا دا دریے اعمال ئے خاص کړل وجه داده چه داد اسلام غټ ارکان دی، او یو شخص چه زرمسلمان معلومیږی نو هغه په دے اعمالو سره معلومیږی، ځکه دا په هره ورځ

كښې ډير واقع كيږي، اوددے نه علاوه نورواعمالو سره د انسان د اسلام دومره زرپته نه لگى څكه يوه ورځ كښې دانسان مونځ اوطعام پيژندلے شى په خلاف د روژے اوحج نه چه هغه زر نه معلوميږي نو څكه هغه ذكر نشو۔

تنبيه : په دے حديث كښې يو بل قيد هم شته چه هغه ددين نه معلوميږي هغه داچه دغه شخص به دغه كارونه هم كوى او دے سره به دضرورياتو ددين نه منكو هم نه وى، نو هله به مسلمان وى، نوقاديانانواوبريلويانوكښې اگركه دغه مذكوره صفات موجود دى ليكن د ضرورياتو د دين نه منكر دى، لكه د ختم نبوت او بشرية الرسول ﷺ نه انكار كوى، نو دوئ هم كافر دى۔ دارنگ هر منكر دضرورياتو ددين نه دغه حكم لرى۔دضرورياتو معنى داده چه (ما ثبت بالتواتر و البداهة فى الدين) ۔په دے ملك كښې د قاديانى ملعون دنبوت ددعوے په وخت علماء راجمع شو چه قاديانانو ته كافر څنگه اووايو سره ددے نه چه ددے حديث نه خو هغوئ مسلمانان معلوميږى، څكه زمونږ پشان مونځ كوى، زمونږ ذبائح خورى، نو څنگه ورته كافر اووايو؟۔

نو بيا علماؤ اتفاق اوكړو چه ددے حديث سره يو قيد مراد دے هغه دادے چه (اذا لم ينكر من ضروريات الدين) ، او قاديانان دضرورياتو ددين نه منكر دى چه هغه ختم نبوت دے نو په دے قيد سره ډيرے ډلے كافران كيږى ۱- قاديانان ۲- بريلويان ۳- شيعه گان ٥- پرويزيان وغيره۔

ذِمَّةُ اللهِ وَذِمَّةُ رَسُوْلِهٖ يعنى دا انسان د الله اود رسول په امان او لوظ كښې دے۔

فَلَا تُخْفِرُوْا اللهَ: يعنى مه ماتوئ ذمه د الله ۔اخفار ذمے ماتولو ته وائى۔ دلته صرف د الله تذكره اوشوه نه درسول، څكه دا اصل دے۔ په دے حديث كښې رد دے په جماعة المسلمين فرقے باندے چه څوك دضرورياتو ددين نه منكر نه وى او قبلے طرفته مونځ كوى او زمونږ پشان ذبائح خورى، نو دغه مذكوره ډله ورته مسلمان نه وائى، بلكه ټولو مسلمانانو ته كافر وائى سيوا دخپل تنظيم والو نه چه صرف دا مسلمانان گڼرى، نو د دوئ دا تنظيم بدعت دے۔

جنت ته بوتلونكى اعمال

۱۳- عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ، قَالَ : اَتَى اَعْرَابِىٌّ النَّبِىَّ ﷺ فَقَالَ: دُلَّنِىْ عَلٰى عَمَلٍ اِذَا عَمِلْتُهٗ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ ؟ قَالَ: «تَعْبُدُ اللهَ وَلَاتُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا وَتُقِيْمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوْبَةَ وَتُؤَدِّى الزَّكٰوةَ الْمَفْرُوْضَةَ وَتَصُوْمُ رَمَضَانَ» قَالَ: وَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِهٖ لَا اَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا شَيْئًا وَلَا اَنْقُصُ مِنْهُ فَلَمَّا وَلّٰى، قَالَ النَّبِىُّ ﷺ :«مَنْ سَرَّهٗ اَنْ يَنْظُرَ اِلٰى رَجُلٍ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ اِلٰى هٰذَا». متفق عليه۔

ترجمه : ابو هريرةؓ نه روايت دے چه يو بانده چى د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شو، عرض ئے اوكړو يارسول الله ! ماته څه داسے عمل اوښائے چه د هغے په كولو سره زه جنت ته داخل

شم، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : د الله عبادت کوه، هغه سره څوك مه شریکوه، فرض مونځ کوه، فرض زکوٰة ادا کوه اود رمضان روژې نیسه، دې اوریدو سره هغه بانډه چې اووئیل : په هغه ذات مې دې قسم وی چه دهغه په لاس کښې زما ساه ده زه به نه دې نه زیات کوم، نه کم، کوم وخت چه هغه بانډه چې لاړ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : چالره چه دا خبره خوشحاله کوی چه (په دنیا کښې) یو جنتی سړی ته اوګوری نو هغه دې دې سړی ته اوګوری۔ (بخاري، مسلم)۔

تشريح : اَعْرَابِیٌّ : دا په یاء سره مفرد دې اوبدون الیاء جمع ده، لکه اعراب بانډه چیانو اویدویانو ته وائی، اودا دهغه الفاظو نه دې چه جمع ئې په حذف دحرف دمفرد سره راځی، او مفرد ئې په زیادت د یوحرف سره راځی لکه د قَنًا او قَنَاة پشان اود رَسول او رُسُل پشان۔ ددې اعرابی نوم لقیط بن صبرةؓ دې چه د بنی المنتفق وافد (وفد کښې راغلې) دې۔علامه عینیؒ وائی چه دا سعد بن الاخرم دې لیکن مرعاة (۶۱/۱) کښې وائی : وفیه نظر۔(دا خبره ضعیفه ده)۔

دَخَلْتُ الْجَنَّةَ : دخولِ اولی جنت ته په ایمان مع العمل سره راځی، اونفس استحقاق د جنت (دخول ثانوی) په نفس ایمان سره راځی۔ تَعْبُدُ اللهَ : دا خبر دمبتداء محذوفې دې (ای هو ای العمل عبادة الله) ۔۲– یا دا مبتداء ده او مابعد ئې خبر دې او مضارع مبتداء واقع کیدل په کلام دعربو کښې کثیر دی لکه (تسمع بالمعیدی خیر من ان تراه☆، (یا اء نذرتهم (ای تعبد الله یدخلك الجنة)،

وَتُقِيْمُ الصَّلَاةَ : دا تخصیص بعد التعمیم د زیادت اهتمام دپاره ذکر شو ورنه په عبادت کښې داخل وو۔ اوحج ذکر نشو ځکه یا خو لاحج فرض نه وو ځکه دا ابتداء داسلام ده، اوحج په (۹ هـ) کال فرض شویدې۔ ۲– یا حج ذکر شویدې لیکن راوی اختصاراً حذف کړیدې، یا ترینه هیر شویدې۔خو دا جواب ضعیف دې ځکه په دې کښې تخطئة الثقات (ثقه راویانو ته د خطائی نسبت) من غیر دلیلٍ لازمیږی اودا صحیح نه ده۔

لَا اَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا شَيْئًا : ای من نفسي۔ وَلَا اَنْقُصُ مِنْهُ : ای برأی۔ رَجُلٍ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ :

سوال : دا سړې د ترك السنن والنوافل باوجود څنګه جنتی شو حال دا چه سنن اونوافل مکملات د فرائضو دی، پکار ده چه ددې په وجه هم جنت ته لاړ شی، نو ددې څو جوابونه دی :

۱– جواب دا دې : چه لا ازید علی هذا ولا انقص کښې عدم زیادت او عدم نقصان په تبلیغ کښې مراد دې یعنی زه چه خپل وطن ته لاړشم نو دا خبره به صحیح بیانوم او زیادت اونقصان به په کښې نه کوم۔ اودا مطلب نه دې چه سنن اونوافل به نه کوم۔اودا قول دابن المنیرؒ دې۔ **۲–جواب** : زیادت او نقصان دجنس د مزید علیه نه مراد دې، (ای لاازید فی الفرض شیئاً) (بل فرض به دځانه نه جوړم) ولا انقص منه (او په فرضو کښې به نقصان نه کوم)، (ای لا اکون مبتدعاً ولا فاسقاً)۔

۳– جواب : هذا کښې اشاره ده سوال ته او (منهُ) کښې اشاره ده بیان ته (ای لا ازید علی هذا السؤال ولا انقص من هذا البیان)۔ (یعنی نور تپوسونه نه کوم، اودا مسئله به پوره بیانوم)۔

٤- **علامه** طیبیؒ وائی : داکلام دهغه نه د قبول او د تصدیق دمبالغې د اظهار په طور صادر شویدے (ای قبلت کلامك قبولاً لا مزید علیه من جهة السؤال ولا نقصان فیه من طریق القبول) ۔(یعنی ستا خبره به داسې قبلوم چه په تپوس کولو کښې به زیادت نه کوم او په قبلولو کښې به څه نقصان نه وی) ۔ ٥- یا کنایه ده د اخذ دکلام او اهتمام نه مبالغةً اوتشدیداً لکه چه دا په محاوره کښې هم استعمالیږی، او لفظی معنی مراد نه ده لکه چه اول کښې لفظی معنی مراد ده۔ لیکن دا جوابونه صرف احتمالات دی۔ ٦- ښه **جواب** دادے چه ددے مطلب دادے چه سنن اونوافل به نه کوم، اودلیل په دے روایت د بخاری (۲۷۸) کتاب الحیل دے : (قال والذی اکرمك لا اتطوع شیئاً ولا انقص مما فرض الله علیّ شیئاً) نودلته صراحت شویدے چه مراد د شیئاً نه نوافل او سنن دی۔

اود نقصان نه مراد نقصان دے په دے فرائضو کښې۔ یعنی نفل نه کوم او فرض کښې به نقصان نه کوم۔ نو سوال باقی پاتے شو۔ نو ددے جواب دادے چه دا ابتداء دا سلام وه، هغه ته ئے خبره نه سختوله ځکه چه اعرابی دے، نوے مسلمان دے، نبی علیه السلام به په ابتداء کښې احکام نه سختول، او نبی اکرم ﷺ ته دا معلومه وه چه دا شخص په دے فرائضو مداومت کوی، او په ښه طریقه سره ئے اداء کوی، نو دائے ددخول الجنة دپاره کافی دی۔اوهرچه مونږ یو نو زمونږ دپاره ډیر عبادت پکار دے ځکه زمونږ فرائض په ښه طریقه سره نه کیږی نو مونږ له سنن او نوافل زیاتول پکار دی۔

مسئله مهمه : دَ (۱۲) رکعاتو سنن رواتبو حکم څه دے ؟

ددے حکم دا دے چه که چا همیشه دپاره هم دا سنن ترك کړل نو نه کافر کیږی، اونه دگناه کبیره مرتکب کیږی، بلکه قلیل المبالات بالدین دے (بے باکه دے، ددین پرواه ورسره نشته) اودا خلاصه ده د اقوالو دعلماؤ۔

لکه امام نوویؒ په شرح دمسلم (۱/ ۳۰) کښې فرمائی : (ویحتمل انه اراد ان لا یصلی النافلة مع انه لا یخل بشیئ من الفرائض وهذا مفلح بلا شك وان کان ترك السنن مواظبةً مذموم، وترد به الشهاده، الا انه لیس بعاصٍ بل هو ناجٍ مفلحٌ ۔(پدے حدیث کښې دا احتمال شته چه ددے سړی مراد دا وی چه زه به نوافل نه کوم او فرائضو کښې به هیڅ خلل نه راولم او پدے کار باندے دا سړے بے شکه کامیاب دے اګرکه همیشه دپاره سنن راوتب پریخودل مذموم (بدکار دے) او ګواهی پدے سره رد کیږی مګر بیا هم عاصی (ګناهګار) نه دے بلکه ناجی او کامیاب دے)

دارنګ علامه ابن حجرؒ په فتح الباری (۲۰۵/۳) کښې ددے حدیث لاندے لیکی : قال القرطبی : فی هذا الحدیث وکذا فی حدیث طلحة فی قصة الاعرابی وغیرهما دلالة علی جواز ترك التطوعات لکن من داوم علی ترك السنن کان نقصاً فی دینه، فان ترکها تهاوناً بها ورغبةً عنها کان ذلك فسقاً، یعنی لورود الوعید علیه حیث قال ﷺ : من رغب عن سنتی فلیس منی، وقد کان صدر الصحابة ومن تبعهم یواظبون علی السنن مواظبتهم علی الفرائض ولا یفرقون بینهما فی اغتنام ثوابهما۔وانما احتاج الفقهاء الی التفرقة بینهما لما یترتب

عليه من وجوب الاعادة وتركها ووجوب العقاب على الترك ونفيه۔ولعل اصحاب هذه القصص كانوا حديثي عهدٍ بالاسلام فاكتفى منهم بفعل ما وجب عليهم في تلك الحال لئلا يثقل ذلك عليهم فيملوا حتى اذا انشرحت صدورهم للفهم عنه والحرص على تحصيل ثواب المندوبات سهلت عليهم، انتهى۔

(امام قرطبيؒ فرمائي : پدے حديث كښ ...... دليل دے پدے خبره چه نوافل پريخودل جائز دي ليكن څوك چه هميشه سنت پريدي نو دا په دين كښ نقصان دے كه سنت د سپكاوي يا اعراض په طريقه پريدي نو دا به فسق وي ځكه چه ددے په پريخودو وعيد راغلے دے نبي عليه السلام فرمائي : چا چه زما د سنت نه اعراض اوكړو نو هغه ما نه ندے" او صحابه كرامو او تابعينو به په سنتو باندے هميش والے كولو لكه د فرائضو پشان او دواړو كښ به ئے فرق نه كولو په ثواب حاصلولو كښ ۔او هرچه فقهاء دي نو هغوي محتاج شو ديته چه د دواړو ترمينځ تفرقه اوكړي ځكه چه په دے باندے احكام مرتب كيږي چه هغه اعاده واجب كيدل او نه واجب كيدل او عقاب لازميدل او نه لازميدل دي او شايد چه ددے قصو والا صحابه كرامو د اسلام زمانه نوے وه نو هغوي ته اكتفاء اوشوه په هغه كار كولو كوم چه په دوي باندے په دغه وخت كښ لازم وو دے دپاره چه په دوي باندے بوج رانشي او ستومانه نشي تردے چه د هغوي سينے د نبي عليه السلام د خبرو يادولو ته كولاوے شوے او د مستحباتو د ثوابونو حاصلولو حرص ئے پيدا شو نو هغوي باندے آساني اوشوه)۔

دارنگ د شيخ الاسلام ابن تيميةؒ نه په مجموع الفتاوى (۱۲۷/۲۳) كښے تپوس شويدے : وسئل رحمه الله : عمن لايواظب على السنن الرواتب فاجاب : من اصر على تركها دل ذلك على قلة دينه وردت شهادته في مذهب احمد والشافعي وغيرهما ۔(چه يو انسان په مقرر سنتو باندے هميش والے نه كوي نو دده څه حكم دے ؟ نو هغه جواب وركړے : څوك چه ددے په پريخودلو باندے هميش والے كوي نو دا دليل دے دده په قلتِ دين باندے او په مذهب د امام احمدؒ او شافعيؒ وغيره كښ دده شهادت به رد كولے شي)۔

دارنگه الجامع في طلب العلم الشريف (۱۶۵/۱) كښے دي : ان ترك الرواتب مما يجرح عدالة العبد، كذا في الدين الخالص (۲۸٦/٥)۔ (سنن رواتب پريخودل د بنده عدالت مجروح كوي)۔

نودا ټول اقوال په دے باندے دلالت كوي چه سنن رواتب كول ضروري دي، ځكه انسان ناقص الدين شمارل كيږي او په دين كښے بے باكه ګڼړل كيږي، وجه دے باكئ دا ده چه نبي اكرم ﷺ هميشه كړيدي او هغه په ټول انسانيت كښ ډير عبادت كونكے وو۔ سيوا د سفر نه اوته ئے ترك كوے۔ ۲- قيامت كښے به ناقص العمل وي۔ ۳- دارنګه انسان د لوئے خير نه محروم كيږي، هغه دا چه رسول الله ﷺ فرمائي : (من صلى ثنتي عشرة ركعة (في اليوم والليلة) بنى الله له بيتاً في الجنة) رواه مسلم كذا في الصحيحة (٤٥٧/٥) والهيثمي في المجمع (۲۳۱/۲) (چا چه په ورځ كښ دولس ركعاته سنت اوكړل الله ورله جنت كښے كور وركوي) اودے په دے كښے بے رغبته دے۔ ٤- د جنت

د دروازے نه ورته آواز کيږي ځکه د جنت يو دروازه باب الصلاة (يعني دمانځه دروازه) ده، او هرچه وتر اود سحر سنت دی نو دابه سفراً اوحضراً کوی، ځکه نبی اکرم ﷺ په سفر کښې هم نه دی پريښي. انظر الدين الخالص (۲۸٦/۵) تفصيلاً.

فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا : ۱- دا هذا خو يا شخص ته اشاره ده يعني دے شخص ته دے اوګوري.

۲- يا هذا جنس دے (اى الى من كانت هذه صفته)، (هر څوک چه پدے صفت وی) وهوالظاهر ځکه دلته نبی اکرم ﷺ ترغيب دے اعمالو ته ورکوی، نه شخص ته. بيا په دے حديث کښې رد دے په مرجئه باندے چه ايمان کښې اعمال الجوارح هم داخل دی، دارنګه ايمان مرکب هم شو.

کامل ايمان

۱۴- وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللهِ! قُلْ لِيْ فِيْ الْإِسْلَامِ قَوْلًا لَا اَسْئَلُ عَنْهُ اَحَدًا بَعْدَكَ. وَفِيْ رِوَايَةٍ : غَيْرَكَ. قَالَ: «قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ». رواه مسلم.

ترجمه : سفيان بن عبد الله الثقفی رضی الله عنه وائی، ما د رسول الله ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو يا رسول الله! ماته داسلام څه داسے خبره اوښايه چه ستاسو نه پس ماته دبل چانه د تپوس کولو ضرورت پاتے نشی، اوپه يو بل روايت کښې داسے الفاظ دی چه ستاسو نه علاوه بل چانه د تپوس کولو حاجت پاتے نشی. نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل : ژبے او زړه سره ددے خبرے اقرار اوکړه چه ما په الله ايمان راوړيدے بيا په دے قائم اوسه. (مسلم).

تعارف دسفيان رضی الله عنه : دده کنيه ابو عمرو يا ابو عمرة ده، دا د ثقيف قبيلے دے طائف کښې اوسيدو اود ثقيف د وفد سره ئے ايمان راوړيدے او عمر رضی الله عنه په طائف باندے والی (ګورنر) مقرر کړو کله چه عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه معزول شو. دده نه ټول نقل شوی احاديث (۵) پنځه دی، دوه په مشکوٰة کښې ذکر دی، يو دلته بل دويم جلد کښې راځی.

تشريح : قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ) : په ټول مُؤمَن به کښې صرف ايمان بالله ذکر شو ځکه چه دا ابتداء د ايمانياتو ده چه ايمان په الله اولړے نو ټول ايمانيات به منے.

داستقامت معنى ده : (هى سلوك الطريق المستقيم وهو الدين من غير تعويج عنه يمنةً ولا يُسرةً) (مرعاه : ٦٣) د استقامت معنى لغوی تثبت او قرار ده. بيا استقامت شرعى څه ته وائی، نو په دے کښې په اتفاق دعلماؤ سره معنى د اعمالو پرته ده. او استقامت کلمه جامعه ده ټول دين لره.

دَ استقامت په مصداق کښې دخلفائے راشدينو اقوال

۱- ابو بکر صديق رضی الله عنه نه ددے آيت : ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا ﴾ [حم السجده : ۳۰] په تفسير کښې نقل دی چه کله دا آيت نازل شو نو ابوبکر صديق رضی الله عنه په صحابو رضی الله عنهم باندے تلاوت

كړو او تپوس ئے ترينه اوكړو چه د(ثم استقاموا) څه معنى ده ؟ صحابوؓ په جواب كښے اووئيل چه : (من لم يذنبوا) يعنى استقامت والا هغه خلق دى چه گناه نه كوى، نو ابو بكر صديقؓ ورته اوفرمائيل : تاسو خو خبره سخته كړه ! هغوى دده نه مطالبه اوكړه چه ته څه معنى كوے ! هغه جواب وركړوچه : (هم الذين لم يشركوا بالله، ولم يرجعوا الى عبادة الاوثان، ولم يلتفتوا الى اله غيره) يعنى په دين باندے مضبوط ولاړ وى او شرك نه كوى۔

٢- **عمر فاروق** ﷺ نه نقل دى : (استقاموا لله تعالى بطاعته، لم يروغوا روغان الثعالب) يعنى د الله تعالى په طاعت باندے مضبوط وى اود گيدړانو پشان اخوا ديخوا منډے نه وهى ۔٣- **عثمان**ؓ فرمائى : (استقاموا اى اخلصوا العمل) يعنى چه عمل كښے اخلاص كوى، د الله درضا دپاره ئے كوى، رياء اوسمعت په كښے نه كوى۔ ٤- **على** او ابن عباس رضى الله عنهم نه نقل دى (ادوا الفرائض) يعنى كوم احكام چه الله تعالى فرض كړيدى هغه پابندئ سره كوى۔په دے څلور واړو اقوالو كښے اصل تفسير دآيت قول د ابو بكر صديقؓ دے اودا نور مصداقات دى۔

دمذكوره آيت په تفسير كښے **دنورو علماؤ** نه هم كنړ **اقوال** نقل دى لكه :

١- **سفيان الثورى**ؒ فرمائى : (عملوا على وفق ما قالوا) يعنى استقامت والا هغه خلق دى چه كومه خبره كوى دهغے مطابق عمل هم كوى، عمل ئے د وينا مخالف نه وى لكه د منافقانو پشان۔ ٢- **فضيل بن عياض**ؒ نه نقل دى (زَهَدُوْا فى الفانية ورغبوا فى الباقية) يعنى هغه كسان دى چه دے فانى دنيا كښے بے رغبته دى اود آخرت سره ئے مينه وى دهغے دپاره اعمال كوى۔ ٣- ربيعؒ نه نقل دى : (اعرضوا عما سوى الله) يعنى د الله نه سيوا نه ئے اعراض كړے وى۔داهم دمخكښے پشان دے۔

٤- كشاف كښے ليكى : استقامت واله هغه خلق دى چه ايمان ئے راوړو، اوبيا په دے ايمان او اقرار باندے ثابت قدم وى۔او دائے يقين وى چه الله زما مدبر اوخالق او مالك دے، اوزه دهغه بنده يم، او په مقتضىٰ ددے اقرار باندے مضبوط ولاړ وى قلباً وعملاً چه عمل ئے د الله د مرضئ او دهغه د رسول دطريقے مطابق وى، اوددےنه مخكښے روستـه نه پاتے كيږى۔نو په دے كښے ټول عبادات او اعتقادات داخل دى دا وجه ده چه نبى اكرم ﷺ دے صحابى ته د استقامت تلقين اوكړو۔ هذا كله فى روح المعانى (١٢٠/٢٣) وابن كثير (٩٩/٤)۔

بيا علماء فرمائى : (بالصبر والاستقامة تنال الامامة فى الدين) ۔ (يعنى د صبر او استقامت په وجه د دين امامت او مشرى حاصليږى)۔دارنگه فرمائى : (الاستقامة خير من الف كرامة) (استقامت د زرو كرامتونو نه بهتر دے) ځكه دكرامت نه پس انسان گمراه كيدے شى لكه شيطان اول كرامت والا وو بيا روستـه گمراه شو۔ انظر المرقاة (٨٥/١) قال القشيرى : درجة بها كمال الامور وتمامها وبوجودها حصول الخيرات ونظامها ومن لم يكن مستقيماً ضاع سعيه وخاب جهده) ۔ (قشيرى فرمائى : استقامت يوه داسے درجه ده چه پدے سره د انسان ټول امور كمال او تمام ته اورسيږى او ددے په وجود سره

انسان ته ډیر خیرات حاصلیږی او کارونه پرے برابریږی او څوك چه استقامت والا نه وی د هغه کوشش به ناکامیاب وی او د خپل کوشش نه به نا امیده وی۔ **استقامت** والا دپاره الله څه درجه ورکوی؟ نو هغه قرآن مجید ذکر کړیده چه ملائك ورته دجنت بشارت ورکوی اود خوف اوحزن نه به په امن کښے وی۔ **زید بن اسلم**ؒ فرمائی : (یبشرونه عند موته وفی قبره، وحین یبعث) ابن کثیر (۹۹/٤)۔

بیا داستقامت پنځه ارکان دی : ۱- الصلاح۔ ۲- اتباع السنة والجماعة (د قرآن او حدیث او د صحابه کرامو د نقش قدم پسے روانیدل) ۔۳- الوسطیة۔ ٤- حسن الخلق (ښائسته اخلاق) ۔

۵- الجلیس الصالح۔(نیك ملګرے) او د صلاح نه مراد دا دے چه د خپل ظاهر او باطن په اقوالو او افعالو او مقاصدو کښ اصلاح اوکړی نو ښکاره عبادات کوی او ټول حرام کارونه پریدی۔ او د اتباع السنة والجماعة نه مراد دا دے چه د نبی علیه السلام په ټول کارونو د ژوند کښ تابعداری کول خو په طریقه د سلف او پوهه د صحابه او تابعینو) او د وسطیة نه مراد دا دے چه په ټولو کارونو عباداتو او معاملاتو کښ د افراط او تفریط (زیادت او نقصان) ترمینځ وی) او ښائسته خو معلوم دی او هر چه نیك ملګرے دے نو په استقامت د انسان کښ دده ډیر اثر دے ځکه انسان د ملګری په دین باندے وی نو اوډے ګوری چه انسان د چا سره دوستانه کوی۔ د تفصیل دپاره بل ځائے دے ۔ (" الفوائد فی تزکیة النفوس" ته رجوع اوکړه)۔

دَ اسلام فرائض

۱۵ - وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ مِنْ اَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرَ الرَّأْسِ نَسْمَعُ دَوِيَّ صَوْتِهٖ وَلَا نَفْقَهُ مَا يَقُوْلُ، حَتّٰى دَنَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ فَقَالَ ﷺ :«خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ» فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ؟ قَالَ :«لَا، إِلَّا اَنْ تَطَوَّعَ» قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «وَصِيَامُ شَهْرِ رَمَضَانَ» قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ ؟ قَالَ: «لَا، إِلَّا اَنْ تَطَوَّعَ ».قَالَ: وَذَكَرَ لَهٗ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ الزَّكٰوةَ فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: «لَا، إِلَّا اَنْ تَطَوَّعَ» قَالَ: فَاَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُوْلُ : وَاللهِ لَا اَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا وَلَا اَنْقُصُ مِنْهُ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اَفْلَحَ الرَّجُلُ اِنْ صَدَقَ».متفق علیه۔

ترجمه : طلحه بن عبید ؓ فرمائی : دا هل نجد نه یو سړے درسول الله ﷺ په خدمت کښ حاضر شو چه دهغه دسر ویښته ګډوډ وو۔ مونږ دهغه دآواز ګونګوسے خو آوریدو لیکن (دلری والی په وجه) په هغے نه پوهیدو، چه هغه نبی کریم ﷺ ته څه وائی، تردے چه هغه رسول الله ﷺ ته بالکل نزدے راغے، نو مونږ واوریدل چه هغه داسلام (د فرائضو) په باره کښ تپوسونه کوی۔ رسول الله ﷺ په جواب کښ اوفرمائیل : شپه او ورځ کښ پنځه مونځونه (فرض)

دی۔دے اوریدو سره هغه سړی اووئیل : آیا دے مونځونو نه سوا په ما څه نور مونځونه هم فرض دی؟ نبي کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : نه، خو د نفل مونځ کولو تاته اختیار دے۔ بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل : او د رمضان دمیاشتے روژے (فرض) دی۔ هغه سړی عرض اوکړو، آیا دے روژو نه سوا څه نورے روژے په ما فرض دی؟ نبي کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : نه، البته د نفلي روژو تاته اختیار دے۔راوي وائي : رسول الله ﷺ دے نه پس زکوٰة ذکر کړو هغه عرض اوکړو، آیا دے نه علاوه هم په ما څه صدقه فرض ده؟ نبي کریم ﷺ اوفرمائیل : نه، خو دنفل صدقے تاته اختیار دے۔ دے نه پس هغه سړی دا اووئیل او لاړو چه قسم په الله زه به نه په دے څه زیاتے کوم اونه دے کښې څه کمے کوم۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : که دے سړی رښتیا وئیلي وي نو نجات ئے بیاموندو او کامیاب شو (بخاري اومسلم)۔

تعارف د طلحه بن عبید الله رضي الله عنه: دده کنیه ابو محمد ده د عشره مبشره نه دے اود هغه آتو کسانو نه دے چه سابق الی الاسلام (اسلام ته سبقیت کونکی) دی، اودهغه پنځو کسانو نه نه دے چه د ابو بکر صدیق رضي الله عنه په لاس ئے ایمان راوړیدے، اودهغه شپږو کسانو نه دے چه عمر فاروق رضي الله عنه په مشوره دخلافت کښې کینولے وو۔ او په اُحُد کښې ورته ډیر زیات تکلیف رسیدلے وو۔د نبي اکرم ﷺ دحفاظت دپاره ئے لاس په غشو اولګیدو او شل شو او په بدن ئے (۷۵) پنځه اویا غشي لګیدلي وو، او نبي علیه السلام فرمائي : (من احب ان ینظر الی شهید یمشي علی وجه الارض فلینظر الی طلحة)۔ (په دنیا کښې شهید ته کتل چه څوك خوښوي نو طلحه ته دې اوګوري) اونبي علیه السلام ورته القاب ورکړیدي : ۱- طلحة الخیر۔ ۲- طلحة الفیاض۔ ۳- طلحة الجواد۔

اودا په ټولو صحابو رضي الله عنهم کښې مالدار ترین صحابي دے، دیرش (۳۰) لکهه درهم اودوه ویشت (۲۲) لکهه دیناره ترے پاتے شویدي۔ بلکه سیر اعلام النبلا کښې دي : طلحه د ځان نه روستو درے سوه بارونه د سرو زرو پریخي وو۔ قاله ابن جوزي)۔ دده نه ټول د (۳۸) احادیثو ذخیره نقل شویده۔ جنګ جمل کښې په لسم دجمادي الاولی سنه (۳٦) هـ د (٦٤) کالو په عمر باندے په نامعلومه غشي باندے اولګیدو او شهید شو، اوڅوك وائي مروان ویشتلے وو۔ او په بصره کښې دفن شو۔کما في سیر اعلام النبلاء (۱/ ۳۹)۔

تشریح : جَاءَ رَجُلٌ : ابن عبد البر رحمه الله، ابن بطال رحمه الله، قاضي عیاض رحمه الله اومنذري رحمه الله وائي دا ضمام بن ثعلبة رضي الله عنه وافد د بني سعد دے۔ ۲- یا یو بل صحابي دے۔

نَجْدٍ : دنجد دوه اطلاقه دی : ۱- عراق ته وائي۔ ۲- اوچتے زمکے ته وائي، ددے په مقابل کښې تهامه راځي چه علاقه دخلیج، شام، عراق اوسعودي، امارات په کښې داخل دي، کما في معجم البلدان (۳٦۹/٤) : نجد اسم للارض العریضة التي اعلاها تهامة والیمن واسفلها العراق والشام (نجد : هغه پلنه زمکه

ده چه بره طرفته ئے تهامه او یمن دے او لاندے ئے عراق او شام دے۔ ثَائِرَ الرَّأْسِ : یعنی پراگنده (خواره واره ویختو والا وو) دَوِیُّ صَوْتِهٖ : دویٰ هغه آواز ته وائی چه مچیٔ ئے کوی (گونرارے، بنګیدل)۔

وَلَا نَفْقَهُ مَا یَقُوْلُ : صحابه وائی مونږ ته د هغه د وینا پته نه لګیده چه څه وائی، خو شراح الحدیث وائی چه ده سوالونه ضبطول څکه چه د پیغمبر پاك ﷺ نه تپوسونو کولو سره انسان باندے رعب راځی، سوالونه ترینه هیریږی، خوکیدے شی چه ذکرئے کولو یائے تلاوت کولو، واللّٰه اعلم باسرار عباده۔ یَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ : (ای عن فرائض الاسلام و شرائعه) څکه چه دا مسلمانان وو خو فرائض ورته نه دی معلوم لکه پدے باندے دلیل روایت د بخاری کتاب الاعتصام دے : (فاخبره رسول اللّٰه ﷺ بشرائع الاسلام آه) (فتح الباری : ۱/۸۸) ۔

خَمْسُ صَلَوَاتٍ : په دے کښے دوه فائدے دی : ۱- یو دا چه وتر واجب نه دی اګرچه دا اختلاف مضرنه دے څکه چه اختلاف علمی دے، عمل فی الجمله د تولو یو شان دے اګرکه د وجوب قول ظاهر نه دے۔ ۲- فائده : په ټول اُمت باندے پنځه مونځونه فرض دی، نو استثناء د فقه حنفی صحیح نه ده چه کنز (۷/۱) کتاب الصلاة کښے وائی : (ومن لم یجد وقتهما لم یجبا) ۔ یعنی کوم خلق چه دماسخوتن او وترو وخت نه مومی (لکه د ناروے او بلغاریه خلق) نو په هغوی باندے (دکنز مطابق) دماسخوتن مونځ او وتر نشته۔ دا مسئله غلطه ده، بلکه په کومو علاقو کښے چه ورځ شپږ میاشتے وی نو هغوی به د پنځو مونځونو اوقات اندازه کوی، لکه دا فتویٰ د نبی اکرم ﷺ ده په مشکوٰة (۲/۴۷۳) باب العلامات بین یدی الساعة کښے دی چه نبی علیه السلام فرمائی : دجال چه کله راشی نو هغه به څلویښت ورځے په دنیا کښے تیروی، یوه ورځ به دکال پشان اوګده وی، دویمه دمیاشتے هومره، دریمه دجمعے په اندازه، اونورے ورځے به دعامو ورځو پشان وی۔ صحابه کرامؓ تپوس اوکړو چه یوه ورځ دکال پشان وی نو مونږ به دمانځه پروګرام څنګه کوو، آیا په دغه ورځ کښے به پنځه مونځونه کافی وی؟ نو نبی علیه السلام اوفرمائیل : (لا اقدروا له قدره) یعنی دمونځونو داوقاتو اندازه به لګوئ۔ دا فتویٰ بیا محققین احناف هم ورکوی کما فی احسن الفتاوی (۲/۱۱۴) ورد المحتار (۱/۱۴۲)۔

مسئله : آیا د لَزِمَ النفل بالشروع قانون صحیح دے ؟

په دے مسئله کښے اختلاف دے چه یو شخص نفل مونځ یا روژه شروع کړی بیائے مات کړی نو ددے حکم څه دے، په ده اعاده واجب ده که نه ؟ درے مذهبه دی :

۱- **یومذهب داحنافو** دے چه نفل په شروع سره واجبیږی، برابره خبره ده چه دعذر په وجه ئے ترك کړی وی اوکه بلا عذره ئے ترك کړی وی۔ ۲- **دویم مذهب دامام مالك** دے هغه هم وائی چه لزم النفل بالشروع۔ لیکن فرق دے، که چرته بلا عذره ئے ترك کړی وی نو قضاء واجب ده اوکه دعذر په وجه ئے ترك کړی نو قضاء نه ده لازمه

۳- **دریم مذهب دامام شافعی**، احمدؒ، بخاریؒ او مسلمؒ دے چه قضاء د نفل واجب نه ده، بلکه افضل او مستحب ده چه قضاء راوړی، په وجوب ئے هیڅ دلیل نشته۔
داحنافو دلائل اود هغے حقیقت : ۱- **اول دلیل** : احناف داپیش کوی چه قرآن کښے دی ﴿وَلَا تُبْطِلُوٓا اَعْمَالَكُمْ﴾ [سوره محمد : ۳۳] او چه عمل کښے انسان شروع اوکړی او بیا ئے مات کړی نو دا بطلان دعمل دے اودا منهی عنه دے۔ **الجواب** : ۱- دا استدلال صحیح نه دے وجه داده چه شاه انور شاه کشمیری صاحبؒ فیض الباری کښے فرمائی : دا آیت دموضع النزاع نه خارج دے ځکه په دے آیت کښے بطلان الثواب مراد دے، نه بطلان فقهی۔اودلیل په دے باندے سیاق دآیت دے، اودا پشان ددے آیت دے ﴿لَا تُبْطِلُوْا صَدَقَاتِكُم بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى﴾ نو هلته خو بطلان الثواب مراد دے نودلته هم بطلان الثواب مراد دے،اوهرچه بطلان فقهی دے نودا نه دے مراد ځکه بطلان فقهی دیته وائی چه دا عمل بالکل شوے نه دے دوباره به ئے کوی۔ ۲- **جواب** : ابن عبد البرؒ لیکی چه څوك په دے آیت سره د لزوم النفل بالشروع دپاره استدلال کوی نودا جاهل دے په اقوالو داهلِ علمو باندے ځکه چه اکثر اهل علم ددے آیت دا معنی کوی چه مراد ددے نه نهی د ریاء او سُمعة نه ده، (یعنی لا تبطلوا اعمالکم بالریاء، بل اخلصوها لله، ولا تبطلوا اعمالکم بالارتداد وبمخالفة الرسول ﷺ) ۔ (یعنی اعمال په ریاء سره مه بربادوئ بلکه خالص د الله دپاره ئے کوئ او په ارتداد او مخالفت د رسول الله ﷺ سره ئے هم مه بربادوئ)
اوکه چرته ددے آیت نه نهی د بطلان دهغه اعمالو مراد شی چه هغه فرض نه دی بلکه نفل دی نو بیا خو پکار ده چه دا نفل قطع کول ممنوع شی، مثلاً نفل روژه ماتول ممنوع شی، حال داچه احناف په دے قائل نه دی، بلکه د دوئ په نیز هم نفلی روژه ماتول جائز دی، رسول الله ﷺ هم ماته کړیده نو د قرآن خلاف څنګه کوی ؟۔ **تفسیر تسهیل** کښے لیکی : چه لزم النفل بالشروع والا قاعده د یو آیت نه هم نه معلومیږی، بلکه دا ضعیف تفسیر دے په دے آیت کښے۔
۳- **جواب** : علامه بحر العلوم اللکهنوی په شرح دمسلم الثبوت طبع هند (۵۸) کښے لیکی : په دے آیت باندے استدلال ددوه وجهو نه صحیح نه دے : یو داچه حدیث دمسلم کښے دی چه نبی اکرم ﷺ نفلی روژه په خوراك ماته کړه، او قضائے رانه وړه۔ نو که چرته لزم النفل بالشروع قانون (صحیح) وے نو بیا خو اتمام النفل واجب وو، او پریخودل به ئے ګناه وه۔
دویمه وجه داچه عمل به هله باطلیږی کله چه مکمل شی، او په نفس شروع فی العمل بیا ترك سره عمل مکمل شوے نه دے، نو دا په دے آیت کښے څنګه داخلیږی؟، ځکه ابطال العمل خو هله راځی چه کله عمل پوره شی، اودلته عمل د سره شوے نه دے نو ابطال دکوم ځائے نه راغے ؟ نو معلومه شوه چه په دے آیت کښے بطلان الثواب مراد دے۔ بیا چا چه داخبره کړیده چه په اعتبار دما یؤل الیه سره عمل جوړیږی، نو داخبره غلطه ده ځکه دا مجاز دے نو جمع بین الحقیقة والمجاز

راځي ځکه همدغه يو عمل حقيقةً هم عمل شو اومجازاً هم، وهو لا يجوز عند الحنفية۔
۴- **جواب** : په مذکوره آيت کښې دا خبره نشته چه بيا قضاء راوړه، نو پکار ده چه په ترك النفل سره ورته گناهګار اووايئ، نه دا چه دا سبب شي دپاره د وجوب القضاء کما مر۔
۵ - **جواب الزامي** : دا دے چه که اومنو چه اتمام لازم دے نود آيت نه خو دا ثابتيږي چه اتمام فرض دے او تاسو ورته واجب وائے فتدبر !!
۲- دويم دليل د احنافو : داحاديثو نه يو دا حديث دے (الا ان تطوع) طريقه داستدلال داسے ده چه اصل په استثناء کښې داده چه دا متصل وي، ليکن دلته خو په مستثنیٰ منه کښې فرضيت دے او په مستثنیٰ يعنی تطوع کښې فرضيت نشته نو معنی به داکوو چه (الا ان تطوع فيلزم عليك اتمامه) ۔ **الجواب** : ۱- منم داخبره چه استثناء متصل ده خو متصل کله دجنس قريب نه وي اوکله د جنس بعيد نه وي، دلته تطوع دخمس صلوات سره په جنس بعيد کښې شريك دے چه هغه صلوٰة دے ځکه فرض هم صلوة دے اوتطوع هم صلوة دے لکه (لايسمعون فيها لغواً الا قيلاً سلاماً سلاماً ﴾ کښې دسلام استثناء شويده دلغو نه اوسلام دلغو سره په جنس بعيد کښې- چه نفس قول دے- شريك دے، نومعنی به داشي چه (لا، الا ان تصلی صلاة تطوع فذلك لك) (يعنی فرض مونځ نور نشته مگر که ته نفل مونځ کوے نو دا به ستا دپاره مفيد وي) نو وجوب دکوم ځائے نه راغلو ؟ والتحقيق فی بدائع الفوائد (۳/۶۹)۔
۲- **جواب** : دادے چه داحنافو دا قاعده ده چه نفي نه استثناء روسته راشي نو هغه په درجه د مسکوت عنه کښې وي، نه داثبات دپاره وي، نه دنفي دپاره۔نو الا ان تطوع کښې وجوب او الزام دکوم ځائے نه راغلو ؟ بيا خو تاسو دخپلے قاعدے نه خلاف کوئ ! کذا في كتب الاصول۔
۳- جواب : تاسو وائے لزم النفل بالشروع او په حديث کښې استثناء دفرض نه راغلے ده نو تاسو ورته واجب څنگه وائے؟ نو ستاسو په نيز هم استثناء منقطع شوه ځکه مستثنیٰ دجنس دمستثنی منه نه نشوه، ځکه استثناء الواجب من الفرض شوه اودا منقطع ده۔نو ثابته شوه چه دلته مستثنیٰ منقطع ده۔کذا في الفتح (۱/۸۸)۔ ۴- **جواب** : بعض احنافو وئيلي دي چه دا حديث دموضع النزاع نه خارج دے ځکه په دے حديث کښې چه ايجاب ذکر دے نودا ايجاب د جهة د وحي نه دے او مسئله د لزوم النفل بالشروع دا خو ايجاب دعبد دے په خپل نفس باندے په خپله خوښه۔ نو حديث نه استدلال کول دُرست نه دی۔ ۵ - **جواب** : په دے حديث کښې دصلوٰة سره زکوٰة هم ذکر دے او زکوٰة کښې خو دا نشي وئيلے چه (الا ان تطوع فيجب عليك اتمامها) ، ځکه چه دصدقے په شروع کولو سره دهغے اتمام داحنافو په نيز هم نه دے واجب، فتدبر ! اودا استدلال دمجاهد هم دے لکه د راتلونکی حديث نه به معلوم شي په دلائل د جمهورو کښې۔
عجيب نکته : الزامي رد دادے چه هرکله تاسو لزم النفل بالشروع قاعده کينبودله نو په دے

صورت کښې ستاسو قاعدې ماتې شوې چه اقتداء دمفترض دمتنفل پسې ناجائز ده، ځکه دلته متنفل چه په نفلو کښې شروع اوکړه نو فرض شو نو اقتداء جائز شوه. دارنګ مسئله ثمانیه دکنز وغیره چه دهغې شپاړس صورتونه دی قرء، ما قرء، قرء قرء وغیره داټول دمنځه لاړل، نو هیڅ صورت دنفلو باقی پاتې نشو بلکه ټول نوافل فرائض شول، حال داچه د اُمت اتفاق دې په دې چه په شریعت کښې بعضې اعمال فرض او بعضې نفل دی د اول نه واخله تر آخره پورې.

۳- دریم دلیل د احنافو : حدیث دعائشهؓ اوحفصهؓ دې چه دواړو روژه نیولې وه، یو طعام ورته راغلو او هغوی پرې روژه ماته کړه، نونبی اکرم ﷺ نه ئې ددې تپوس اوکړو، ورته ئې اوفرمائیل : (اقضیا یوماً مکانه) نو د دغه روژې په قضاء راوړلو ئې ورته امر اوکړو او امر دوجوب دپاره دې، نو قضاء واجب شوه.

۱- جواب : داحدیث ضعیف دې، (ضعفه احمد والبخاری والنسائی، وانظر ضعفه فی المرقاة (۱۱۳/٤) په دې کښې زمیل مجهول راوی دې دارنګه مرسل هم دې لکه دمشکوٰة په (۱۱۱/۱) کښې به راشي. انظر تفصیله فی الفتح (۱۷۳/٤). **ابن جریج وائي :** دامام زهری نه تپوس اوشو چه تا دعروه نه آوریدلی دی ؟ هغه اووئیل : لم اسمع من عروة فی هذا شیئاً، ولکن سمعت من ناسٍ عن بعض من سال عائشة۔وقال الخلال : اتفق الثقات علی ارساله وشذ من وصله، وتوارد الحفاظ علی الحکم یضعف حدیث عائشة هذا).

۲- جمهور ائمه فرمائی : دا امرد وجوب دپاره نه دې بلکه استحباب دپاره دې، دلیل په دې باندې راتلونکی احادیث دی.

٤- دلیل داحنافو : دوئ وائی اجماع دصحابوؓ ده په دې چه لزم النفل بالشروع. **الجواب :** دا مجرد دعوی ده، هیڅ دلیل پرې نشته، دیو صحابی قول دې څوك پیش کړی پاتې لا د ټولو صحابوؓ، بلکه دصحابوؓ په جانب مقابل اجماع ده کما سیاتی.

۵ - پنځم دلیل داحنافو : قیاس دې چه مونږ صوم او صلاة قیاس کوو په نفلی حج باندې چه په هغې کښې قضاء راوړل لازم دی کله ئې چه په مینځ کښې فاسد کړی.

جواب : دحج جدا احکام دی اود صوم اوصلاة جدا احکام دی ځکه چه حج کښې اتمام ددغه حج ضروری دې او په فاسد نفلو کښې اتمام نه دې ضروری نو دا قیاس مع الفارق دې. دارنګه حج فاسد کښې کفاره واجب ده لکه څنګه چه په صحیح حج کښې واجب ده. انظر المغنی (۹۲/۱) والمحلی (٤۱۷/٤) المجموع (۳۹٤/۱) المرعاة (٦٥/۱) البیهقی (۲۷۷/٤) نصب الرایة (٤٦٥/۲) فتح الباری (۸۸/۱). اوپه نفلی صوم او صلاة کښې په ترك سره کفاره نه ده واجب، نوددې حکم جدا شو.

۳- بله وجه دا ده چه په عباداتو کښې قیاس لره دخل نه وی ځکه بناء دعبادت په توقیف ده، نو په نفلی صوم اوصلاة کښې شریعت قضاء نه ده خودلې، او حج کښې ئې خودلې ده، نو دمذهب د اثبات دپاره قیاس کول نه دی مناسب.

دلائل الجمهور : جمهورو سره په دے باره کښې ډير احاديث دی چه ابن حجرؒ په فتح البارى (۸۸/۱) کښې او بيهقى سنن كبرىٰ(۲۷۵/٤) کښې راوړيدى، امام بيهقى باب تړى : باب صيام التطوع والخروج عنه قبل تمامه ـ ۱- اول حديث د عائشةؓ ئے راوړيدے چه نبى اكرم ﷺ ورته اوفرمائيل : (هل عندك شئ قالت : لا، فقال : اذاً انا صائم) نو په دے حديث کښې عائشےؓ ورله حيس (حلوا) ورکړه نو نبى اكرم ﷺ پرے په مينځ کښې روژه ماته کړه د لوږے د وجے نه، او نبى اكرم ﷺ ددغه روژے قضاء نه ده راوړے، کـه چرتـه قضاء ئے راوړے وے نو مونږ ته به خامخا رانقل شوى وے. واذ ليس فليس ـ قال البيهقى : ورواه مسلم فى صحيحه ـ قال طلحة : فحدثت مجاهداً بهذا الحديث فقال : ذلك بمنزلة الرجل يخرج الصدقة من ماله، فان شاء امضاه وان شاء امسكها ـ وكذا فى مسلم (۳٦٤/۱) ـ (امام بيهقى فرمائى : مسلم په صحيح کښې راوړے دے طلحه راوى وائى ما دا حديث مجاهد ته بيان کړو، نو هغه اووئيل : دا په منزله د يو سړى دے چه صدقه د خپل مال اوباسى نو د هغه خوښه ده چه هغه اداء کوى او که ځان سره ئے ساتى)

ملا على قارىؒ فرمائى : (دل الحديث على ان الشروع فى صوم النفل لايمنع الخروج عنه) ـ (دا حديث دليل دے چه په نفل روژه کښې شروع نه منع کوى وتل د هغے نه) ـ

۲- حديث : دام الدرداءؓ دے چه سلمان فارسىؓ د ابودرداءؓ ميلمه شو، روژه ئے پرے ماته کړه (وقال: ما انا باكل حتى تاكل) (زه به تر هغے خوراك نه کوم چه تا نه وى کړے) اود تولے شپے مونځ ئے پرے پريخودلو ـ ابودرداء سَرى صبا نبى اكرم ﷺ ته ددے خبرے خبر ورکړو چه ماسره سلمانؓ دا کار اوکړو ـ نبى اكرم ﷺ ورته اوفرمائيل: (سلمان افقه منك (البخارى (۱۰٤/۱) البيهقى ۲۷٦) (سلمان ستا نه ډير پوهه دے) نو په دے حديث کښې هم نفلى روژه ماته شويده او بيرته ئے قضاء نه ده راوړے شوے ـ **۳- حديث : دابو سعيد الخدرىؓ** دے قال : صنعت للنبى ﷺ طعاماً فلما وضع قال رجل : انا صائم فقال رسول الله ﷺ : دعاك اخوك وتكلف لك، افطر فصم مكانه ان شئت) واسناده حسن، كما قال الحافظ ابن حجر فى الفتح (۱۷۳/٤) ـ كذا فى المرعاة (٦٥/۱) (ما رسول الله ﷺ دپاره طعام تيار کړو کله چه طعام حاضر شو يو سړى اووئيل : زه روژه يم ـ رسول الله ﷺ اوفرمايل : ورور (مسلمان) تا ته دعوت درکړو او تکلف ئے درله اوکړو نو روژه ماته کړه او بيا که دِے خوښه وى نو ددے په ځائے قضاء راوړه) نو په دے حديث کښې دقضاء راوړو او نه راوړو دواړو اختيار دے نو قضاء راوړل واجب نشو ـ

٤- حديث : دام هانئؓ دے (قالت : دخل علىّ رسول الله ﷺ فاستسقى فشرب فناولنى سؤره وانا صائمة فشربت سؤر رسول الله ﷺ فقلت : يارسول الله ! فعلت شيئاً لا ادرى اصبتُ ام اخطئتُ، ناولتنى سؤرك وانا صائمة فكرهت ان اردّ سؤر رسول الله ﷺ قال : امتطوعة ام قضاء من رمضان؟ قلت : متطوعة ـ قال : المتطوع بالخيار ان شاء صام وان شاء افطر) ـ (امام هانئؓ فرمائى : رسول الله ﷺ ما

کره ژاغلو نو اوبه ئے طلب کړے نو کله ئے چه اوسکلے باقي مانده اوبه ئے ماته راکړے او زه روژه وم نو ما اوڅکلے بیا مے اووئیل یا رسول الله ! ما یو کار اوکړو نه پوهیږم چه زه به په حق یم او که خطاء شوے به یم، تا ما ته خپله جوټه راکړه او زه روژه وم نو ما بده اوګڼله چه د رسول الله ﷺ جوټه رد کړم۔ نبي علیه السلام اوفرمایل : آیا ته نفلي روژه نیونکے وے او که د رمضان قضائی وه ؟ ما اووئیل : نفلي روژه۔ وے فرمایل : نفلي روژه نیونکے لره اختیار دے که خوښه ئے وي روژه دِے اونیسي او که خوښه ئے وي ماته دِے کړي)۔ نو دے حدیث کښے هم دنفلي روژے ماتولو نه پس د بیرته نیولو اونه نیول دواړو اختیار دے، وجوب نشته۔

۵ – **حدیث** : هم دام هانیؓ دے : (ان رسول الله ﷺ کان یقول : الصائم المتطوع امیر نفسه ان شاء صام وان شاء افطر)۔ (رسول الله ﷺ فرمائیلي دي : نفلي روژه نیونکے د خپل ځان امیر دے که روژه نیسي او که ماتوي ئے) وفي روایة ابی داود (۱/۳۴۰) والترمذی (۱/۱۶۳) : فلا یضرك انکان تطوعاً – ای افطارك۔ (الحاکم ۱/۴۳۹) احمد (۶/۳۴۱) البیهقی (۴/۳۷۶) مشکوة (۱/۱۸۱) کښے هم راځي۔

۶ – **حدیث** : عن عطاء ان ابن عباس ﷺ کان لا یری باساً ان یفطر الانسان فی صیام التطوع ویضرب لذلك امثالاً، رجل طاف سبعاً ولم یوفه فله اجر ما احتسب، او صلی رکعة ولم یصل اخریٰ فله اجر ما احتسب (السنن الکبری (۴/۲۷۸) (ابن عباس به د نفلي روژے په ماتولو کښ هیڅ باك نه ګڼرلو او ددے دپاره به ئے مثالونه بیانول لکه یو سړي طواف شروع کړو او سر ته ئے اونه رسولو نو ګردشونه ئے چه اوکړل بس د هغے اجر ورته ملاؤ شو یا یو سړي یو رکعت مونځ اوکړو او بل ئے ورسره یو ځائے نه کړو نو ده له هم اجر د یو رکعت ورکړے شو) ددے حدیث نه هم استحباب د قضاء معلوم شو۔

۷ – **حدیث** : دام هانیؓ دے په هغے کښے دا الفاظ دي : (ان کان قضاء من رمضان فاقض یوماً مکانه وان کان تطوعاً فان شئتِ فاقض وان شئتِ فلا تقضِ۔(الطحاوی فی معانی الآثار ۱/۳۵۳) الصحیحة (۶/۷۱۷) بروایة احمد (۶/۳۴۳) والدارمی (۲/۱۶) فتاوی الدین الخالص (۵/۳۳۷)۔(که د رمضان قضاء وي نو قضاء راوړه او که نفلي وي نو ستا خوښه ده چه قضاء راوړے او که نه !)

نو ددے نه هم استحباب دقضاء معلوم شو، نه دا چه قضاء واجب ده۔

۸ – **دابن مسعود** نه روایت دے فرمائي : (اذا اصبحت وانت تنوی الصیام فانت باحد النظرین ان شئت صمت وان شئت افطرت) (کله چه ته صبا کړے او د روژے اراده لرے نو ستا خوښه ده که روژه نیسے او که ماتوے ئے) نو په دے حدیث کښے هم ابن مسعودؓ په قضاء کښے اختیار ورکوي۔احناف د ابن مسعودؓ د قول هم خلاف کوي، سره ددے نه چه فقه حنفي ده ته منسوب کوي، چه دا هسے دعویٰ ده۔

۹ – مخکښے تیر شو چه په اجماع دعلماؤ سره په اعمالو کښے فرض او نفل دواړه شته دے، نو که لزم النفل بالشروع اومنلے شي نو بیا دا اجماع د علماؤ ختمیږي۔

۱۰ – دغه شان دمذکوره صحابه کرامو مخالف نشته نو په اجماع دصحابوؓ سره قضاء واجب نه ده۔

۱۱ - کہ لزم النفل بالشروع جوړه شوے قاعده اومنلے شی، نو بیا داقتداء المفترض خلف المتنفل دعدم جواز مسئله نه جوړیږی۔ نو د لزم النفل بالشروع قانون ضعیف دے۔ فائده د اشوه چه مسئله ثمانیه چه په فقه حنفی کښے په زور او شور سره د قرء قرء، ماقرء، قرء په صورت کښے بیانیږی دا ضعیفه اوکمزورے شوه۔ دیته هیڅ حاجت نشته۔ بلکه صرف دماغی ورزش دے !!

فائده : دے مذکوره حدیث (دمشکوٰة) کښے رد دے په مرجئه باندے چه هغوئ عمل لره اعتبار نه ورکوی، صرف تصدیق دنجاة دپاره کافی گنړی، دلته د نجاة دپاره د تصدیق سره عمل هم ضروری گرځولے شویدے، چه نجاة په تصدیق مع العمل باندے مرتب شویدے۔

افلح الرجل ان صدق : دلته بعضے علماء مخکنئ اودا واقعه یوه شماری، یو شخص تپوس کړیدے او ان شرطیه نه دے معنی داده چه دا سړے کامیاب دے ځکه چه ده رشتیا اووئیل۔ ۲- خو ظاهره داده چه دواړه جدا جدا سړی دی، هلته نبی اکرم ﷺ ته په وحی سره یقینی معلومه شوه چه دا سړے رشتینی دے اودلته ورته پوره نه ده معلومه شوے نو ځکه ان شرطیه ذکر کوی۔ فتدبر۔

اسلام کښ د مُبلغ مقام

۱۶ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : اِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا اَتَوُا النَّبِيَّ ﷺ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنِ الْقَوْمُ-اَوْمَنِ الْوَفْدُ» قَالُوْا: رَبِيْعَةُ، قَالَ: «مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ اَوْبِالْوَفْدِ، غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامٰى»، قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ! اِنَّا لَا نَسْتَطِيْعُ اَنْ نَأْتِيَكَ اِلَّا فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هٰذَا الْحَيُّ مِنْ كُفَّارِمُضَرَ فَمُرْنَا بِاَمْرٍ فَصْلٍ نُخْبِرْ بِهٖ مَنْ وَرَاءَ نَا وَنَدْخُلْ بِهِ الْجَنَّةَ وَسَأَلُوْهُ عَنِ الْاَشْرِبَةِ، فَاَمَرَهُمْ بِاَرْبَعٍ وَنَهَاهُمْ عَنْ اَرْبَعٍ:اَمَرَهُمْ بِالْاِيْمَانِ بِاللهِ وَحْدَهٗ قَالَ: «اَتَدْرُوْنَ مَا الْاِيْمَانُ بِاللهِ وَحْدَهٗ ؟» قَالُوْا: اَللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ. قَالَ: «شَهَادَةُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ وَاِقَامُ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَاءُ الزَّكٰوةِ وَصِيَامُ رَمَضَانَ، وَاَنْ تُعْطُوْا مِنَ الْمَغْنَمِ الْخُمُسَ» وَنَهَاهُمْ عَنْ اَرْبَعٍ عَنِ الْحَنْتَمِ وَالدُّبَّاءِ وَالنَّقِيْرِ وَالْمُزَفَّتِ وَقَالَ: «اِحْفَظُوْهُنَّ وَاَخْبِرُوْا بِهِنَّ مَنْ وَرَاءَ كُمْ». متفق علیه، ولفظه للبخاری۔

ترجمه : ابن عباسؓ بیان کوی چه څه وخت وفد عبد القیس د رسول الله ﷺ په خدمت کښ مدینے ته اورسیدل نو رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه داخلق څوك دی، یا دا تپوس ئے اوکړو چه دا دکومے قبیلے وفد دے؟ (راوی ته شك دے چه رسول الله ﷺ دلته دقوم لفظ اوفرمائیلو یا د وفد) خلقو جواب ورکړو چه د ربیعه قبیلے کسان دی، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : په خیر راغلئ (او تاسو خلق خو په خپله خوښه مسلمانیدو سره راغلئ نو) ځکه نه دنیا کښ ستاسو دپاره رسوائی شته اونه دآخرت شرمندگی (یا تاسو پښیمانه نه ئے په ایمان راوړلو)۔ دے وفد والو عرض اوکړو یارسول الله!

زمونږ او ستاسو مينځ کښې دا کفار د مضر (مشهور جنګجو) قبيله پريوځی،نوزمونږ وس نه کيږی چه ستاسو په خدمت کښې زر زر حاضر شو،صرف هغه مياشتو کښې (راتلے شو) چه هغې کښې جنګ کول حرام دی نوتاسو دحق او باطل په مينځ کښې فرق کونکی داسے احکام مونږ ته راکړئ (چه په هغې مونږ خپله هم عمل اوکړو) اوخلق (هم) دهغې نه خبر کړو، چه هغوی مو وروستو(وطن او قوم کښې) پريخی دی او په هغې عمل کولو سره مونږ جنت کښې داخل شواو (دے سره) هغوی دهغې لوښو په باره کښې (هم) تپوس اوکړو (چه هغې کښې نبيذ جوړولے شو چه مونږ کوم استعمالولے شو اوکوم نه شو؟) نبی کريم ﷺ هغوی ته دڅلور خبرو حکم اوکړو اود څلورو خبرو نه ئے منع کړل، د الله تعالی په وحدانيت ئے د ايمان راوړلو حکم ورکړو او وے فرمائيل : آيا تاسو پوهيږئ چه د الله تعالی په وحدانيت د ايمان راوړلو څه مطلب دے؟۔ هغوی عرض اوکړو : الله او د هغه رسول ښه پوهيږی، نبی کريم ﷺ اوفرمائيل : (د الله وحدانيت باندے ايمان راوړل) ددے خبرے شهادت کول دی چه د الله نه سيوا هيڅوك د عبادت لائق نشته او محمد(ﷺ) دهغه رسول دے، پابندئ سره مونځ کول، زکوٰة ورکول اود رمضان روژے نيول۔ دے څلورو خبرو نه علاوه (ورستو نبی ﷺ دوی ته حکم اوکړو) چه مال غنيمت نه پنځمه حصه ورکړئ۔او ددے څلورو څيزونو د استعمال نه ئے منع کړل، شين منګی (کښې دنبيذ جوړولو) نه، کدو (کښې دنبيذ جوړولو) نه (دغه شان) په چيړ شوی اوتارکولی لوخو (کښې دنبيذ جوړولو) نه (ئے منع کړل)۔او وے فرمائيل دا خبرے په ښه شان سره ياد ساتئ، اوکوم مسلمانان چه مو روستو پريخی دی هغوی هم ددے خبرونه خبر کړئ۔

تعارف د عبد الله بن عباس ﷺ : دده نوم عبد الله ، کنيه ئے ابو العباس، د نبی اکرم ﷺ د تره ځوئے، د والدے نوم ئے ام الفضل لبابه بنت الحارث دے۔ دهجرت نه درے کاله مخکښے پيدا شويدے۔ نبی اکرم ﷺ چه وفات کيدو نو دده عمر (١٣) کاله يا (١٥) کاله وو کما قال احمد۔ دا رئيس المفسرين او ترجمان القرآن دے۔نبی اکرم ﷺ ورته دعاء کړيده (اللهم علّمه الحکمة، وعلمه الفقه بدينك۔وفی رواية : وعلمه التاويل)۔(اے الله ده ته د شريعت رازونه ورزده کړه او په دين ئے پوهه کړه او د قرآن په تفسير ئے پوهه کړه) جبرئيل ئے دوه کرته ليدلے دے۔عمر فاروقؓ به دے د خپل ځان سره مشوره کښے کينولو چه په دغه شوریٰ کښے به مشران صحابهؓ ناست وو۔ يوه ورځ ابن عباس يو انصاری ته اووئيل : راځه چه دواړه علم زده کړو۔ هغه وئيل : مشران صحابه موجود دی، ما اوتانه به څوك دمسائلو تپوس اوکړی ! ابن عباسؓ ځان له دعلم پسے ګرځيدو، يو ورځ ديو صحابی اُبی بن کعبؓ کورته لاړو، بهر ناست وو هغه راؤتلو، ورته ئے اووئيل : ماته به دے دروازه وهلے وے ! ابن عباسؓ ورته وئيل : مونږ خلق نه په عذابوو۔لنډه دا چه ډير احاديث ئے راجمع کړل او خلقو ده ته توجه شروع کړه۔مسجد نبوی کښے به ناست وو۔نو دده هغه انصاریؓ ملګری به فرمائيل : (رأی ابن عباس افقه منی) (د ابن عباس رأيه زما نه ډيره حقه وه)آخر عمر

كښے رونډ شوي وو كما في فتح الباري ۲۸۲/۱۳) الا من تاب) والمرقاة (۸۸/۱) طائف كښے په كال (۶۸ هـ) كښے د (۷۱) كالو په عمر دابن الزبير دخلافت په دور كښے وفات شويدے۔او محمد بن الحنفيه پرے دجنازے مونځ كړيدے۔احاديث منقوله دده نه (۱۶۶۰) دی۔

تشريح : **وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ** : وفد جمع دوافد ده، وفد هغه كسانو ته وائی چه د قوم پيغام ئے يو امير او مشرته راوړے وی، وفد دعبد القيس په عراق (بحرين) كښے اوسيدل عام الوفود دمكی ژوند نه روسته شروع شويدے غالباً۔ دا وفود به راتلل ترديے چه نبی اكرم ﷺ وفات شو۔او صحابوؓ ته ئے د وفد آداب اوخودل چه دوئ سره به هغه شان معامله كوئ كومه چه ورسره ماكوله۔بيا دا وفد دوه ځله راغلے دے * يو ځل په پنځم كال دهجرت يا ددے نه مخكښے سنه (۶) كښے۔كما يعلم من رواية ابن عباس ذكره ابن كثير في البداية (۴۴/۳)۔ واقعه داسے وه چه په دوئ كښے يو كس چه دهغه نوم منقذ بن حِبان وو مدينے ته به تجارت لره راتلو كله چه نبی اكرم ﷺ مدينے ته هجرت اوكړو نو داشخص بيا تجارت دپاره راغلو نو داسلام نه خبر شو، اسلام ئے قبول كړو اود نبی اكرم ﷺ خط ئے خپل قوم ته دځان سره يوړو، نو قوم ئے اسلام قبول كړو۔اوسوره فاتحه او اقرأ باسم ربك سورتونه ئے يادكړل۔نو بيا ئے د (۱۴) كسانو وفد نبی اكرم ﷺ ته په اشهر حرم كښے راوليږلو چه مشر ئے اشج عبد القيس العصری وو، چه دده خپل نوم منذر وو۔دوئ چه كله مدينے ته راغلل نو په وفد كښے راغلو ټولو خلقو د نبی اكرم ﷺ ملاقات ته ورمنډے كړے او اشج عبد القيس په سكون او آرام سره خپل سورلئ اوتړله او غسل ئے اوكړو اوبيا مسجد نبوی ته داخل شو اود ايمان اود شرابو د لوخو د استعمال په باره كښے ئے د نبی اكرم ﷺ نه تپوسونه اوكړل،او نبی اكرم ﷺ ددے مشر (اشج) صفت اوكړو چه (ان فيك لخصلتين يحبهما الله ورسوله : الحلم والاناة) لكه مشكوٰة (۴۲۹/۲) كښے به داحديث راشی۔ * دويم ځل په عام الوفود (۹) (۱۰) كښے راغلے دے چه (۴۰) كسان وو، په هغوی كښے الجارود بن العلاء العبدی وو۔كما تراه في الرحيق المختوم ص (۴۴۵)۔

تشريح : **مَنِ الْقَوْمُ – اَوْمَنِ الْوَفْدُ** : شك د راوی دے، او سوال د استيناس اومحبت پيدا كولو دپاره دے او يا سوال دمعرفت دے چه دهغوی مرتبه اوپيژنی۔ **رَبِيْعَةُ** : دا دليل دے چه قريش اوعرب عراق ته هم تلی دی۔ **مَرْحَبًا** : مرحباً پس دسلام نه سنت عمل دے۔ (ای اتيتم مكاناً رحباً واسعاً)۔ **غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامٰى** : ۱– جمله دعائيه ده، يعنی الله دے تاسو اونه شرموی اونه دے پښيمانه كړی په ايمان باندے۔ ۲– يا جمله خبريه ده يعنی (لستم خزايا بالقتال بل آمنتم بدون القتال)۔(تاسو د جنگ په وجه شرمنده نشوئ بلكه په غير د جنگ نه مو اسلام راوړو او تاسو د اسلام نه روستو شوی هم نه ئے چه پښيمانه شئ، بلكه تاسو مخكښ نه ايمان راوړو۔ ۲– يا معنی دا ده : تاسو ته جنگ او قيد اونه رسيدو چه تاسو د هغے په وجه ذليله او پښيمانه شئ۔ خزايا جمع د خزيان ده دخزی نه دے په معنی د ذلت او اهانت سره منصوب بنا برحال دے او ندامیٰ جمع د ندمان ده په معنی د نادم سره پښيمان ته وائی۔ مخامخ

صفت کول کله چه ډیر خلق وی جواز لری۔ مضر : مضر اوربیعه دواړه ورونړه وو، دنزار بن معد بن عدنان ځامن وو۔ اود دوئ اولاد د یو تره ځامن (تربوران) او دشمنان وو۔ هَذَا الْحَيُّ : حی هغه ځائے ته وائی چه قبیله په هغے کښے اوسیږی، محله علاقه، بیا په کښے اتساع شویده نو قبیلے ته هم وائی۔

فائده : په هذا کښے اشاره ده دے خبرے ته چه هذا همیشه دمحسوس بالبصر دپاره نه استعمالیږی بلکه کله دمعلوم دپاره وی۔لکه په دے مقام کښ قبیله دمضر محسوس نه ده خو معلومه ده۔ فَصْلٍ : مصدر دے په معنی د فاصل سره۔ ۲- یا په معنی دمفعول دے (ای المفصول المبین المکشوف) یعنی ښکاره واضحه خبره۔ نُخْبِرُ بِهٖ : اشاره ده چه علم بغیر ددے دوه فائدو نه -یو د اصلاح النفس دپاره، اوبل داصلاح الغیر نه - د بل څه دپاره طلب کول غلط دی۔ عَنِ الْاَشْرِبَةِ : (ای عن حکم ظروف الاشربة) ۔ فَاَمَرَهُمْ بِاَرْبَعٍ : ددے حدیث شان ورود دابن عباسؓ نه داسے نقل دے چه ابو جمره د ابن عباسؓ د فارسیٔ ژبے ترجمان وو، نو ده ابن عباسؓ ته اووئیل چه زه په یو منګی کښے نبیذ جوړوم کله چه زیات اوڅکم نو نشه کیږم او ویریږم چه په یو مجلس کښے اونه شرمیږم، غلطے خبرے مے دخولے نه اونه وځی، نو ابن عباسؓ ورته جواب ورکړو اودا حدیث ئے ورته بیان کړو چه حاصل ئے دادے چه داسے منګی کښے نبیذ (شربت) جوړول حرام دی۔کما فی روایة البخاری (۲/۶۲۶)۔

بیا دلته **دوه اشکاله** دی (۱) یو دا چه : دلته خو نبی اکرم ﷺ څلور اوامر نه ذکر کړی، بلکه صرف ایمان ئے ذکر کړیدے ځکه چه اندرون ما الایمان سره دایمان تفسیر ذکر کوی۔نو درے اوامر نور څه شو ؟ بیضاوی وغیره وائی چه دلته صرف یوه خبره ذکر ده او نورے خبرئے نه دی ذکر شوی، لیکن داخبره غلطه ده ځکه چه بیا به ئے بل حدیث کښے ښائے، حال دا چه بل حدیث کښے خو هم نه دی ذکر نو معلومیږی چه دلته څلورواړه ذکر دی۔ ۲- **اشکال** دادے : چه دا ما بعد د ایمان ارکان شی سره دایمان نه نو بیا خو ټول پنځه اوامر جوړشو د ان تعطوا من المغنم الخمس سره۔نو راوی څنګه وائی چه (فامرهم باربع) ؟ ❁ نو داول **اشکال نه جواب** دادے چه اول نبی اکرم ﷺ اجمال بیان کړو چه ما الایمان بیا ئے تفاصیل الایمان اواجزاء بیان کړل اودهغه اجزاؤ نه ئے تعبیر په اربع سره اوکړو۔نو ایمان یو دے خو په نظر سره اجزاؤ ته ئے څلور ګرځولے دے۔

او د دویم اشکال نه **جواب** دا دے چه : دا د فصحاء او بلغاؤ طریقه ده چه زیادت کوی په جواب کښے د وجے دا هتمام دیوے خبرے نه نو دلته پنځمه خبره مهمه وه، ځکه چه دوئ اصحاب السیف وو، غنیمتونه به ئے حاصلول، نو خمس ئے ورته بیان کړو چه ایمان به مو هله قبول وی چه خمس بیت المال ته اداء کړئ ! اوددے مثال داسے دے لکه یو حدیث کښے دنبی اکرم ﷺ نه د سمندر داویو باره کښے تپوس اوشو، هغه جواب کښے اوفرمائیل : (هو الطهور ماؤه، والحل میتته) نو دا الحل میتته زیادت دے په جواب کښے دوجے دضرورت نه، ځکه چه کله ناکله په سمندر

کښې خوراك ته ضرورت راځي نو ماهیان به خوری نو دهغې حکم ئې ورته زباني بیان کړو۔ یا لکه د ترمذی شریف اولنۍ حدیث (لایقبل الله صلاة بغیر طهور ولا صدقة من غلول) (یعنی لکه څنګه چه عبادت بدنی (مونځ) بغیر د طهارت نه نه قبلیږی دغه شان صدقه د حرام مال نه نه قبلیږی) نور جوابونه هم شته * (۲) یو دا چه ایمان یعنی شهادتین ئې تبرکاً ذکر کړیدی وجه داده چه دا خلق مخکښې نه مسلمانان وو، دامعلومیږی ددې لفظ نه چه (وبیننا وبینك هذا الحی من کفار مضر) دارنګه په بعضې روایاتو کښې ورسره دایمان ذکر نشته، اوددې تائید په روایت دبخاری باب الادب (۲/۶۱۲) کښې ذکر دې چه هغې کښې شهادتین نه دی ذکر۔ نو باقی څلور امور دی۔ * (۳) یا دا چه: صیام رمضان دراوی وَهَم دې ځکه چه بعضې روایاتو کښې ورسره دصیام رمضان ذکر نه دې راغلې۔ * (٤) یا وان تعطوا من المغنم الخمس عطف دې په فامرهم باربع باندې، ای فامرهم باربع وباعطاء الخمس، داوجه ده چه ددې سیاق هم جدا دې، نو اشکال رانغې ځکه د خُمُس تعلق ددې څلورو څیزونو سره نشته۔ لیکن اصح جواب اول دې۔

سوال: دې اوامرو کښې حج نه دې ذکر حال دا چه حج د اسلام د ابنیه (بناګانو) نه دې۔

ددې بنه **جواب** دادې: چه حافظ ابن حجرؒ ذکر کړیدې چه دوئ ته ئې ددنې بعضې اوامرو خبر ورکړو ځکه چه دوئ سوال داسې کړې وو چه (فمرنا بامر فصل) یعنی مونږ ته داسې قطعي خبره اوکړه چه دهغې په کولو مونږ جنت ته په دخولِ اولی سره داخل شو، نو نبی اکرم ﷺ ورته هغه کارونه اوخودل چه دوئ فی الحال کولې شو، اوټول احکام بیانول مقصود نه وو۔ دا وجه ده چه دوئ ته ئې نواهی څلور اوخودل، سره ددې نه چه نور نواهی هم شته چه ددې نه ډیر سخت دی، لیکن دوئ دا ډیر استعمالول نو ځکه ئې ورته نهی اوکړه۔ ۲- **جواب**: ددې څلورو ذکر دنمونې پطور دې اوحصر مراد نه دې نو په اقام الصلاة کښې ټول عبادات بدنی او په زکوة کښې ټول عبادات مالي، او په شهادت کښې ټول عبادات قولي داخل دی، اوحج هم په دې امورو کښې داخل دې ځکه چه حج کښې قولي، فعلي، ترکي، مالي ټول عبادات شته دې۔ نودا د زیات ضرورت په وجه ذکر شو۔ ۳- بنه **جواب** دا هم دې چه حج روسته فرض شویدې یا په یو حدیث کښې ټول احکام نه وی ذکر۔

عَنِ الْحَنتَمِ: هغه شین منګې چه دډیر زوږ والي په وجه پرې ویښته راختلي وی۔ وَالدُّبَاءِ: هغه لوخې چه دکدونه جوړ شوې وی، هغه اوږد کدو چه بند وی او سر کښې ئې ورله سورې کړې وی اوپه هغې کښې څیزونه اچوی۔ وَالنَّقِيرِ: هغه منګې چه دهغه لرګی نه جوړ وی چه تراشل شوې وی۔ وَالْمُزَفَّتِ: هغه منګې چه تارکول پرې لګیدلي وی، یا کنډ څلیبنناك پرې لګیدلې وی۔ اووجه دمنع ددې لوخو نه داده چه په دې کښې که نبیذ جوړوی او بیا ئې ترې راړوی۔ نو خمر به ورته یادیږی، نو عادت به ئې نه ختمیږی۔

۲- وجه دا ده چه ددې لوښو مسامات بندوی نوکوم شئ چه په دې کښې لګ وخت حصار

شي نو بدبويه كيږي او شراب ترې جوړيږي، نو په ناخبرئ به ترې څوك نبيذ اوڅكي او هغه به شراب شوې وي. **بيا اختلاف** دې چه ددې لوښو **استعمال اوس څنګه دے**؟ نو په دې كښې دره قوله دي: ١- د امام شافعيؒ او احمدؒ قول دا دې چه په دې كښې اوس هم نبيذ شربت جوړول ناجائز دي. ٢- دويم قول: دامام ابو حنيفةؒ او مالكؒ دے چه دا حكم منسوخ دے اودا قول صحيح دے، دليل په دې باندې بل حديث دے چه هغه ددې حديث مساوي دے هغه ناسخ دے لكه مشكوة كتاب الاشربه (٣٧٢/٢) كښې دي: باب النقيع (نهيتكم عن الاشربة الا في ظروف الادم فاشربوا في كل وعاء، غير ان لاتشربوا مسكراً) رواه مسلم.

بيا دلته يو **قانون** واوره! چه كوم كسان د نسخ دعوې كوي نو اكثرې دا دعوې غلطې دي،وجه داده چه د نسخ دپاره شرائط دي: ١- منسوخ به مقدم وي او ناسخ به مؤخر وي. زمانه او تاريخ به معلوم وي، اوددې پيژندل ډيرګران دي. ٢- ناسخ به يا مساوي وي يابه قوي وي دمنسوخ نه د سند په لحاظ. نو ضعيف احاديثو سره نسخ نه ثابتيږي.

٣- تطبيق به ممكن نه وي نوځكه به نسخ ته احتياج راځي. كذا في ارشاد الفحول ص (٣١٥)

فائده: دا **احنافو دا اصول** دي چه كله تعارض په احاديثو كښې راشي نو دهغې يو څو جوابونه كوي: ١- اول د نسخ خبره كوي چه دا حديث منسوخ دے. ٢- دويمه درجه كښې په تخصيص بالنبي باندې قول كوي، يا واقعة حال لاعموم لها وائي، چه دا دهغه زمانې پورې خاص دے. ٣- او روستنئ مرتبه كښې به تصحيح او تضعيف دحديث كوي.

او د **شوافعو اصول** دادي چه: ١- هغوى تصحيح او تضعيف اول كوي. ٢- عراقي حديث مرجوح ګڼړي دحجازي حديث نه، داغلط دي.

او **مالكين** كه حديث دعمل دا هل مدينه سره موافق وي نو عمل پرې كوي، ګنې نه كوي، دا هم غلطه ده. ددې نه علاوه نور اصول ددوئ هم شته خو دا په كښې ډير خطاء دي. اوكوم كسان چه اكثر دا وائي دا حديث منسوخ دے اودا منسوخ دے دا هسې دعوې دي دخپل مذهب مخالف حديث چه اووينى هغه ته منسوخ وائي، بلكه عوام هم نن صبا د نسخ دعوې كوي، تاته به وائي دا خلق په منسوخ حديثونو عمل كوي.

بلكه احاديث منسوخه ټول يا يوولس دي لكه علامه ابن القيمؒ په اعلام الموقعين كښې ذكر كړيدي، او يا (٢١) دي لكه ايقاظ همم اولى الابصار ص (٥٣) كښې ذكر دي. ددې نه سيوا ټول احاديث ثابت دي، منسوخ نه دي. بيا ما تحقيق اوكړو، نو معلومه شوه چه صرف اوويشت احاديث منسوخ دي لكه تفصيلًا (الدين الخالص ٣/٤) كتاب الآثار للحازمي اوګوره.

داسلام احكام

١٧- وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ اَصْحَابِهِ: «

بَايِعُونِي عَلٰى اَنْ لَاتُشْرِكُوْا بِاللهِ شَيْئًا وَلَاتَسْرِقُوْا وَلَاتَزْنُوْا وَلَاتَقْتُلُوْا اَوْلَادَكُمْ وَلَاتَاْتُوْا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُوْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَاَرْجُلِكُمْ وَلَاتَعْصُوْا فِيْ مَعْرُوْفٍ فَمَنْ وَفٰى مِنْكُمْ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللهِ وَمَنْ اَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا فَعُوْقِبَ بِهٖ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ وَمَنْ اَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا، ثُمَّ سَتَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ فَهُوَ اِلَى اللهِ: اِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَاِنْ شَاءَ عَاقَبَهٗ » فَبَايَعْنَاهُ عَلٰى ذٰلِكَ. متفق عليه۔

ترجمه : عباده بن صامتؓ فرمائی : یوه ورځ رسول الله ﷺ د صحابوؓ جماعت ته چه ګیر چاپیره ترې ناست وو اوفرمائیل : ماسره دے خبرو باندے بیعت (لوظ او اقرار) اوکړئ چه الله سره به څوك نه شریکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ (د فقر د ویرے نه به) خپل بچی نه قتلوئ۔ قصداً به په چا بهتان نه تړئ، اود شریعت مطابق چه کوم احکام درکړم د هغے نافرمانی به نه کوئ۔ بس تاسو کښې چه کوم سړے دا عهد او اقرار پوره کړی د هغه اجر د الله په ذمه دے (چه آخرت کښې به خپل انعامات ورکړی) او کوم سړے چه (د شرك نه سیوا) په څه ګناه کښې مبتلا شی او بیا په دنیا کښې هغه ته د هغے ګناه سزا هم ورکړے شی (لکه حد وغیره پرے جاری کړے شی) نو دا دده دپاره کفاره ده اوڅوك چه ددے نه څه ته اورسیدو بیا په هغه باندے الله تعالی پرده واچوله نودده معامله الله تعالی سپارلے شویده که اوغواړی معافی به ورته اوکړی او که اوغواړی نو عذاب به ورکړی (راوی وائی) مونږ دے تولو شرطونو باندے د نبی کریم ﷺ سره بیعت (لاس نیوکه) اوکړه ۔ (بخاری اومسلم)۔

تعارف د عبادة بن الصامت ؓ دده کنیه ابوالولید ده انصاری صحابی دے تولو غزواتو ته حاضر شویدے، سره د لیلة العقبة نه۔ دا په مدینه کښې نبی اکرم ﷺ نقیب مقررکړے وو۔ د رنګ نه ډیر ښائسته وو، قد ئے لس لویشتے اوګد وو۔دعمر فاروقؓ په زمانه کښې د شام قاضی مقرر شویدے بیا هلته نه فلسطین ته نقل شو، (وکان من قراء القرآن فی زمن النبی ﷺ ومن جمع القرآن) ۔او په کال (۳٤هـ) کښې د (۷۲) کالو په عمر په رمله علاقه یا بیت المقدس کښې وفات شویدے۔ تول (۱۸۱) احادیث ترینه نقل شویدی۔ اوبعضے وائی چه دمعاویهؓ د دور خلافت پورے ژوندے وو۔

تشریح : عِصَابَةٌ : د عصابه اطلاق کیږی د لسو نه ترڅلویښتو پورے یعنی جماعت۔ بَايِعُوْنِيْ :

اقسام البيعة : د بیعت یوڅو اقسام دی : ۱ – بیعت بالایمان دے د رسول الله ﷺ سره، اودا په هرچا باندے فرض دے۔ ۲ – بیعت په بعض اعمالو لکه په دے حدیث کښې۔ ۳ – اوکله بیعت بالجهاد وی، لکه د غزوه خندق په موقعه صحابهؓ فرمائی :

نحن الذین بایعوا محمداً ٭ علی الجهاد ما بقینا ابداً۔

٤ – کله بیعت په نورو اعمالو شویدے لکه جریر بن عبد اللهؓ فرمائی : (بایعت رسول الله ﷺ

على اقام الصلاة وايتاء الزكاة والنصح لكل مسلم)۔ ٥- بيعت د خليفة المسلمين سره، نو پيغمبر سره فرض وي، اود اسلامي بادشاه (خليفه) سره هم واجب دے، ليكن د پيغمبر سره په بيعت نه كولو باندے كافر كيږي، اود خليفه سره په بيعت نه كولو باندے باغي دے۔ خليفه نه مراد هغه دے چه بالفعل بادشاه وي داسے نه چه هسے د خلافت دعوىٰ ئے كړے وي او هيڅ طاقت ورسره نه وي۔ هغه سره بيعت كول بدعت اوگمراهي ده۔

٦- بيعت د بزرگانو او پيرانو سره : نودا هيچرته په دين كښے نه دے ثابت، ديته صوفيت وائي، بلكه ښه طريقه دا ده چه دعالم نه دخپلو اعمالو باره كښے دسنت طريقو تپوس كوه، چه دے كار كښے د نبي كريم ﷺ څه طريقه ده۔ نبي اكرم ﷺ نه لوئى پير څوك نشته، نورو پيرانو ته ضرورت نشته۔ او عام مسلمانان به په دين عمل كوي په طريقه د تعليم او تعلم، نه په طريقه د بيعت لكه ټول امت كښے سوچ اوكړه چه آيا نيكان خلق په صوفيت طريقه عمل كوي؟ بلكه د يو حديث نه معلوميږي چه بيعت د صوفيه ؤ جائز نه دے لكه (مشكوٰة : ٢/ ٣٠٣) : (ايها الناس انه لاحلف في الاسلام)(او لا تحدثوا حلفاً في الاسلام) كښے سوچ اوكړه۔ دارنگه خلاصة الفتاوىٰ (٣٧٨) كښے او تفسير احسن الكلام (١/ ١٠٣) كښے ورته بدعت وائي۔

وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ : قتل د هرنفس مؤمنه حرام دے خو قتل د اولادو ددوه وجهونه ډير قبيح دے * يو قتل النفس الزكية (د پاك نفس قتل) دے۔ * دويم قطع دصله رحمي ده۔ دارنگه قتل الاولاد په عربو كښے زيات وو چه جينكئ به ئے ژوندئ په خاورو كښے خخولے اوځامن به ئے د فقر ويرے نه وژل۔ دا خلورئے ځكه ذكر كړل چه دا من افحش الذنوب (ډير فاحش گناهونه) دي دا وجه ده چه دا قرآن كريم كښے شريك ذكر كيږي۔

بِبُهْتَانٍ : دبهتان سزا څه ده ؟ نو ياخو به ورته الله عذاب وركړي، يا به ئے سپك كړي۔
* يا به تعزير وي په اسلامي حكومت كښے چه (٨٠) دُرّے به وركړي۔

يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ : ددے معنى ده : ١- چه تاسو ئے دخپلو ځانونو دطرفنه جوړوئ اى من قبل انفسكم ۔ ٢- يابين الايدى والارجل كنايه ده دزړونو نه يعني چه دا بهتان ستاسو زړونو راپيدا كړے وي۔ ٣- يا معنى داده چه خلقو باندے دعيبونو بهتانونه مخامخ ښكاره مه لگوئ نو بين الايدى معنى ده مخامخ او ارجل ورسره تاكيداً ذكر شويدے۔ في معروف : ١- په يو معلوم ديني كار كښ۔ ٢- يا معروف : ما عرف في الشرع حسنه (چه په شريعت كښ د هغے حسن معلوم وي يعني هر حكم شرعي)۔ فعوقب به : دلته ورسره يو قيد مرعي دے چه غير الشرك ځكه كه يو مشرك لره عقاب وركړے شي نو هم دهغه دپاره كفاره نه گرځي تردے چه توبه اونه باسي۔ في الدنيا : ١- يا د جانب د ملك اوسلطان نه۔ ٢- يا د جانب د لله نه په مصائبو او تكليفونو او دردونو او بيماريانو سره۔ دا هم يو عقاب دے د الله دطرفنه۔ فهو كفاره له :

مسئله : حدود کفارات دگناهونو دی اوکه زواجر دی ؟

درې قوله دی په کښې : ۱- جمهور وائی : حدود کفارات دی، دلیل پرې داحدیث دې چه فهو کفاره له۔ ۲- امام ابو حنیفه وائی : حدود زواجر (گناه نه منع کونکی دی) نه کفارات (گناه پرې ختمیږی نه) او الله ته به ئې سپارو، ان شاء عذبه وان شاء غفر له۔

ثمره ددې اختلاف داده چه داقامة الحد نه پس توبه ویستل واجب دی عند ابی حنیفهؒ او عند الجمهور واجب نه دی، بلکه گناه ورته معاف شوه، بسبب الحد۔

دلیل دامام ابو حنیفهؒ دا آیت دې ﴿ انما جزاء الذین یحاربون الله ورسوله ویسعون فی الارض فساداً ان یقتلوا او یصلبوا۔۔۔الآیة ﴾ ددې په آخر کښې راځی ﴿ ذلك لهم خزی فی الدنیا ولهم فی الآخرة عذاب عظیم ﴾ [المائده] دلته دکفارې نه روسته عذاب اُخروی هم راغلې دې۔او ﴿الا الذین تابوا ﴾ [النور] کښې دلته دحد قذف نه روسته توبه هم راغلې ده، دا دلیل دې چه حدود زواجر دی، نه کفارات۔ولې که کفارات وې نو اُخروی عذاب ته څه ضرورت وو۔ دارنګه توبې ته حاجت څه وو ؟ لیکن ددې نه جمهور داجواب کوی چه آیة المائده دکفارو په باره کښې دې لکه عرنیین چه مرتد شو نودهغوی دپاره حدود کفارات نشول، اوزمونږ خبره په مؤمنانو کښې ده۔اود کفارو دپاره خو دنیوی او اُخروی عذاب دواړه شته۔ هر چه د حد قذف نه پس دتوبې تذکره شویده نو دلته توبه درې شیانو ته متوجه ده : ۱- عدم قبول الشهادة۔ ۲- فسق ته۔ ۳- او جلد ته۔

نو که یو شخص توبه هم اوباسی بیا به هم جلد ورکولې شی او هرچه عدم قبول الشهادة دې نو دابه په توبه سره رد کیږی عند الجمهور، اودارنګه دفسق نوم هم ترینه زائل کیږی۔کله چه توبه اوباسی۔نودلته چه د حد نه روسته توبه راغلې ده نو دا ددې دپاره ده چه شهادت ئې قبول شی اود فاسق نوم ترینه ختم شی۔او هرچه ګناه ده نو هغه په حد سره معاف شویده۔

۲- بل دلیل احناف دا پیش کوی : چه حاکم په مستدرك کښې حدیث دابو هریرةؓ نقل کړیدې چه نبی اکرم ﷺ فرمائی : (لاادری الحدود کفارات لاهلها ام لا؟) وهوصحیح علی شرط الشیخین۔ نو رسول الله ﷺ ته پته اونه لګیده چه حدود کفارات دی اوکه نه دی. نو اې جمهورو ! تاسو دکوم ځائې نه خبر شوئ چه حدود کفارات دی ؟

جواب : دا حدیث په هغه وخت کښې نبی اکرم ﷺ فرمائیلې دې چه وحی ورته نه وه شوې، بیا روسته ورته وحی اوشوه چه : الحدود کفارات ، لکه په حدیث دعباده کښې تیر شو * بیا احناف اعتراض کوی چه حدیث دعباده منسوخ دې په دې حدیث دابو هریرةؓ سره، وجه داده چه دا بیعت په بیعة العقبه کښې شویدې اواسلام دابو هریرةؓ مؤخر دې ددې نه۔ * لیکن ددې نه حافظ ابن حجرؒ جواب کړیدې چه داخبره صحیح نه ده، بلکه حدیث دابو هریرةؓ منسوخ دې، وجه داده چه عباده بن الصامتؓ بیعت درې ځل کړیدې :

۱- یو په لیلة العقبه کښې ۲- بل په بیعة الرضوان تحت الشجره کښې ۳- او بل په اتم کال پس دفتح دمکې نه. اودا مذکوره بیعت پس دفتح دمکې نه شویدې دلیل په دې باندې دادې چه عباده بن الصامت فرمائي: مونږ سره داسې بیعت اوشو لکه د زنانو سره چه شویدې، اودا خو ظاهره ده چه بیعت دزنانو سره داتم کال نه پس شویدې روسته دفتح دمکې نه. نو دابیعت پس داسلام دابو هریرهؓ نه واقع شویدې نو ثابته شوه چه: حدود کفارات دی د خپل اهل دپاره کما فی حدیث عباده.

۳- **دلیل**: حدیث دابو امامهؓ دې چه یو غل نه نبی اکرم ﷺ لاس پریکړو اوبیا ئې ورته اووئیل: توبه اوباسه، استغفار اوغواړه! نو هغه توبه اوویستله نو نبی اکرم ﷺ ورته دعاء اوکړه: (اللهم تب علیه، کما فی ابی داود والنسائی وابن ماجه). نو که حدود کفارات وې نو استغفار ته څه ضرورت وو؟ ددې نه جمهور جواب کوی چه (تب) نه مراد دادې چه په استقبال کښې ددې ګناه نه توبه کړه اوس درته په حد سره معاف شوه، خو آینده دوباره رجوع مه کوه، یاتوبه او استغفار د ټولو ګناهونو نه مراد دې کما قال السندی فی حاشیة النسائی. ۳- دارنګه استغفار اوتوبه دګناه سره منافی نه ده ځکه نبی اکرم ﷺ فرمائي: (انی لاستغفر الله فی کل یوم سبعین مرة. وقال تعالی: ﴿واستغفر لذنبك﴾ نو ډیر او صحیح احادیث دې طرفته دی چه حدود کفارات الذنوب دی.

۳- **دریم قول**: بعضې علماؤ په دې باب کښې توقف کړیدې * یاخو ورته احادیث متعارض ښکاره شویدی * یا داچه دحدیث دابو هریرهؓ نه استدلال کوی چه (لا ادری الحدود کفارات لاهلها ام لا، کما مر). نو نبی اکرم ﷺ نه دې خبر، مونږ هم نه یو خبر! وتفصیل ذلك فی المرعاة (۷۹/۱) والفتح)

محاکمه او فیصله: چا دا محاکمه کړیده چه دواړه قولین صحیح دی، ځکه قول الجمهور ظاهر دې په نسبت سره احسان د الله تعالی ته، چه د الله دذات او احسان نه دا طمع ده چه انسان به معاف کړی په صرف اقامة الحد سره. اوقول دابوحنیفهؒ ظاهر دې په نسبت سره بنده ته چه بنده له پکار دی چه غفلت اختیار نه کړی بلکه توجه اوکړی الله ته په توبه سره، اودا صحیح فیصله ده. نو راجح دا ده چه حدود د مجرم په حق کښې کفارات دی لیکن مجرم به الله ته توبه اوباسی د وجه د حق د الله نه. عَاقَبَةٌ: بل بشارت په مسلم (۳۲۲/۲) کښې دې نبی اکرم ﷺ ارشاد دې: لایستر الله علی عبد فی الدنیا الا ستره الله یوم القیامة). (چا باندې چه الله په دنیا کښې پرده واچوله نو د قیامت په ورځ به پرې ضرور پرده اچوی)

فائده: په دې حدیث کښې ۱- رد دې په معتزله اوخوارجو باندې چه دګناه په ارتکاب باندې انسان کافر کوی. ۲- اوشعب الایمان په کښې ذکر شو، دلیل دې چه ایمان مرکب دې، زیادت او نقصان قبلوی. ۳- رد دې په مرجئه چه صرف تصدیق کافی ګڼړی د نجات دپاره.

دښځو په باره کښې د رسول الله ﷺ فرمان

۱۸- وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ ﷺ قَالَ: خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِیْ اَضْحٰی اَوْ فِطْرٍ اِلَی

الْمُصَلّٰى فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ! تَصَدَّقْنَ، فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» فَقُلْنَ: وَبِمَ يَارَسُوْلَ اللهِ! قَالَ: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ، مَارَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِيْنٍ اَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ اِحْدَاكُنَّ» قُلْنَ: وَمَا نُقْصَانُ دِيْنِنَا وَعَقْلِنَا يَارَسُوْلَ اللهِ! قَالَ: «اَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ؟» قُلْنَ: بَلٰى! قَالَ: «فَذٰلِكَ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا» قَالَ: «اَلَيْسَ اِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ؟» قُلْنَ: بَلٰى! قَالَ: «فَذٰلِكَ مِنْ نُقْصَانِ دِيْنِهَا». متفق عليه۔

ترجمه: ابوسعيد خدريؓ فرمائي: رسول الله ﷺ يوځل لوئے يا وړوکي اختر مونځ دپاره عيدګاه ته تشريف يوړو، نو دښځو يوے ډلے ته هم ورغلو (چه مونځ دپاره جدا يوګټ کښې جمع شوے وے) هغوی ته ئے اوفرمائيل: اے دښځو ټولګيه! تاسو صدقه اوخيرات کوئ ځکه چه تاسو ما ته د اور والو نه زياتره راخودلے شوی يئ۔ (دے اوريدو سره) ښځو اووئيل: يارسول الله! ددے څه وجه ده؟، نبي کريم ﷺ ورته اوفرمائيل: تاسو لعن طعن ډير کوئ اود خپل خاوندانو ناشکری اونافرمانی کوئ او ما په عقل او دين کښې دکمزور کيدو باوجود هوښيار سړی لره بيوقوف جوړولو کښې ستاسو نه زياتے بل څوك نه دے ليدلے۔ دے آوريدو سره هغے بيبيانو عرض اوکړو: زمونږ عقل اودين کښې څه کمے دے؟۔ نبي کريم ﷺ ورته اوفرمائيل: آيا ديوے ښځے (بی بی) ګواهي دنيم سړی دګواهي برابر نه ده (يعنی آيا داسے نه ده چه شريعت کښې ددوه ښځو ګواهي ديو سړی دګواهي برابر ګڼړلے شي؟) هغوی عرض اوکړو، هم داسے ده۔ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: ددے وجه د ښځے دعقل کمزوری ده او آيا داسے نه ده چه کومه ښځه دحيض په حالت کښې وی نو نه مونځ کولے شي او نه روژه نيولے شي؟۔ هغوی اووئيل: همداسے ده۔نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: دا د هغے دين کښې د نقصان وجه ده۔ (بخاری اومسلم)۔

تعارف دابو سعيد الخدري ﷺ: دده نوم سعد بن مالك بن سنان دے، انصاری خزرجي دے، داد انصارو دنجباء، علماء اوفضلاء نه دے۔ په خپلو همزولو کښې فقيه وو۔ په احد غزا کښې ئے پلار شهيد شو، اودا د (١٤) کالو په عمر وو، اول جنګ ئے غزوة الخندق کښې کړيدے، احد کښې وړوکے وو۔ د نبي اکرم ﷺ نه ئے ډير احکام او طريقے زده کړيدی۔ دده نه ټول (١١٧٠) احاديث نقل شويدی۔ په کال (٦٣) يا (٦٤) يا (٧٤هـ) کښې په مدينه کښې وفات شويدے رضی الله عنه۔

تشريح: مناسبت ددے حديث دماقبل کتاب الايمان سره بالتضاد دے چه ګناهونه کول دامنافي دی دايمان سره اوصفت دکفارو دے۔

فِيْ اَضْحٰي: دهمزے فتحه اوتنوين سره مؤنث ئے اَضْحَاة راځي اودا يو لغت دے په اُضْحِيَّة کښې اودلته مضاف حذف دے (ای فی عيد اضحی)، خو اکتفاء په شهرت شويده، اود اضحی

معنی ده چاشت۔اَوْ فِطْرٍ : داشك دے دراوی۔
یَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ ! : دمعشر جمع معاشر راځي، لیث نه نقل دی چه معشر هر هغه جماعت ته وائی چه یو مقصد ئے وی۔ اُرِیْتُکُنَّ اَکْثَرَ اَهْلِ النَّارِ : اُریتُ فعل مجهول متکلم دے ای ارانی الله ایاکن، نو تُ مفعول دے نائب عن الفاعل۔اوکن مفعول ثانی او اکثر اهل النار مفعول ثالث دے۔یعنی ماته تاسو ډیر اور والو نه خودلی شوی یئ۔ دا خودنه خو یا په لیلة الاسراء کښے وه، خو ظاهره داده چه دا خودنه په صلاة الکسوف کښے واقع شوے وه، لکه دا په روایت دابن عباسؓ کښے په صلاۃ الکسوف کښے راروان دے۔۳- یادا چه په وحی سره خودنه شویده۔ **سوال** : دے حدیث کښے ذی حه ښځے ډیرے اور والا دی، او په حدیث دابو هریرهؓ عند ابی یعلی کښے دی چه (فیدخل الرجل علی ثنتین و سبعین زوجة مما ینشئ الله و زوجتین من ولد آدم) نو په دے کښے دی چه دوه دنیوی ښځے اودوه اویا جنتی بیبیانے به یو جنتی سړی دپاره وی، په دے حدیثینو کښے ظاهراً تعارض ښکاری ؟ ددے **جواب** دادے چه : زنانه جهنم کښے هم ډیرے شوے او جنت کښے هم، دزنانو پیداوار ډیر دے په دے وجه په دواړو ځایونو کښے زیاتے دی۔
۲- **جواب** : چونکه هغه زنانه دکفران العشیر په وجه جهنم ته تلی دی، اوکفران العشیر کفر دون کفرِ دے، نو ابتداءً دسزاء خوړلو دپاره هغوی به جهنم ته لاړے شی، او بیا به د هغه ځائے نه جنت ته راځی نو ګویاکه ابتداءً جهنم کښے په کثرت سره دی، او بیا انتهاءً به جنت کښے په کثرت سره وی۔نو په دواړو ځایونو کښے په کثرت سره ځکه دی۔
تَصَدَّقْنَ : صدقه دجهنم داور نه حفاظت دے، حدیث کښے دی : (ان الصدقة لتطفئ غضب الرب وتدفع میتة السوء) [مشکاة : ۱/۱٦۸) عن انس مرفوعاً۔و فی الحدیث : (اتقوا النار ولو بشق تمرة) [متفق علیه ریاض الصالحین ص (۷٤)۔ تُکْثِرْنَ اللَّعْنَ : تاسو لعنت رد بد کنځل، ښیرے ډیرے کوئ۔ لعنت په لغت کښے (الطرد والابعاد عن رحمة الله) (شړل او وړاندے والے د الله د رحمت نه) ته وائی، اود بنده ګانو لعنت کنځلے، ښیرے، رد بد وئیل ټولو ته شامل دی، لکه زنانه عام دا کار کوی چه وړو اوچرګانو، پردو او خپلوانو ټولو ته ښیرے کوی، تُن لعنت استعمالوی، میراته شے، ځوانی مرګه شے وائی، دا ټول لعنت دے، کما قال ابو السعادات کذا فی فتح المجید ص (۱۲۵)

مسئله دَ لعن معین اوغیر معین

دبعضے احادیثو اوآیتونو نه معلومیږی چه لعنت وئیل جائز دی، اود بعضو نه معلومیږی چه لعنت وئیل دمؤمن صفت نه دے لکه حدیث د ترمذی (۱/۱۳۸) بشرح تحفة الاحوذی کښے دی : (لیس المومن بالطعان و لا اللعان و لا الفاحش و لا البذی)۔
بل حدیث کښے دسمره بن جندبؓ کښے دی : (لا تلاعنوا بلعنة الله، ولا بغضبه وبعقابه)۔دغه شان ابو بکر صدیقؓ په بعضے غلامانو باندے لعنت اووئیلو، نبی اکرم ﷺ واوریدلو، ورته ئے

اوفرمائيل : (يا ابا بكر: صديقين ولعّانين ! كلّا وربّ الكعبة، مرتين او ثلاثاً)۔نو ابوبكرؓ هغه غلام آزاد كړو، نبي اكرم ﷺ ته راغلو ورته ئې اوفرمائيل : آينده به بيا دے كار ته نه واپس كيږم۔(مسلم)

بل حديث كښې دي : (ان اللعانين لا يكونون شفعاء ولا شهداء يوم القيامة) (صحيح مسلم)۔

اوبعضے حديثونو كښې نبي اكرم ﷺ لعنت فرمائيلے لكه قريشو باندے به ئې قنوت نازله كښې لعنت وئيلو اوبئر معونه كښې چه كوم صحابهؓ شهيدان شو، نبي اكرم ﷺ دهغوى په قاتلينو باندے لعنت وئيلو تردے چه دا آيت نازل شو ﴿ليس لك من الامر شيئ اويتوب عليهم او يعذبهم فانهم ظالمون﴾ دصحيحينو په حديث كښې ددے دا الفاظ دي : (اللهم العن لحيان ورعلاً الحديث۔ دارنګه قرآن كښې دي ﴿ان الله لعن الكافرين واعد لهم سعيراً﴾ ﴿الا لعنة الله على الظالمين﴾ اوداسے نور۔

نو ددے تطبيق دا دے چه د **لعنت درے اسباب او صفات** دي : ۱- كفر ۲- بدعت ۳- فسق۔ او په دے كښې دلعنت درے مراتب دي : ۱- اول لعنت په عام وصف باندے لكه لعنة الله على الكافرين والمبتدعين والفاسقين۔ ۲- دويمه مرتبه : په خاص وصف او صفت باندے لعنت وئيل لكه لعنة الله على اليهود والنصارى والمجوس والقدرية والخوارج والروافض وعلى الزناة (زنا كار) والظالمين والفاسقين وآكلي الربا (سود خواره)۔ په دے دواړو مرتبو باندے لعنت وئيل بالاتفاق جواز لري۔ ۳- دريمه مرتبه : په يو شخص معين باندے لعنت وئيل، دا خطرى دے لكه يو شخص وائي : زيد لعنه الله۔يا اووائي چه دا فلانے فاسق يا بدعتي يا منافق دے۔ نو دے كښې تفصيل دادے چه هر هغه شخص چه هغه باندے لعنت وئيل په شرع كښې ثابت وي، نوپه هغه وئيل جواز لري لكه دا اووئيلے شي : فرعون لعنه الله، ابو جهل لعنه الله ځكه چه دا شرعاً معلومه ده چه دا خلق په كفر باندے مړه دي۔پاتے شو په هغه معين شخص باندے لعنت وئيل چه شرعاً معلوم نه وي لكه داسے وئيل : عقيل لعنه الله، يا مثلاً فلانى يهودى دے، نودا خطرى دے ځكه چه داشخاصو په احوالو كښې تبديلي راځي، كيدے شي چه هغه مؤمن شي نو په هغه باندے څنګه دا حكم كيدے شي چه دا ملعون دے۔او هرچه نبي اكرم ﷺ دے نو هغه ته په وحى سره معلومه شوے وه چه دا فلانے فلانے به كفركوى په دے وجه هغه ابو جهل، عتبه بن ربيعه وغيرهم په لعنت سره خاص كړيدى۔اودكوم كسانو په باره كښې چه نبي اكرم ﷺ ته معلومات نه وو نوپه هغوى باندے د لعنت وئيلو نه الله تعالى په ﴿ليس لك من الامر شيئ﴾ آيت كښې منع اوفرمائيله، دارنګه هر هغه شخص چه دهغه په كفر باندے مړكيدل مونږ ته معلوم شي نو دهغه ذم او په هغه لعنت وئيل جائز دي۔خو شرط دادے چه بل مسلمان ته دهغه په لعنت وئيلو كښې ضرر نه وي لكه د يو مسلمان پلار كافر وي، نو په دغه شخص باندے لعنت وئيلو سره دهغه مسلمان ځوئے ته ضرر رسيږي نو دا كار هم جائز نه دے، لكه سعيد بن العاص په باره كښې ابو بكر صديقؓ اووئيل : هذا قبر رجل كان عاتياً على الله ورسوله)۔نو دهغه ځوئے عمرو بن سعيد غصه شو، ابو

بکرؓ ته ئے اووئیل : (هذا قبر رجل کان اطعم للطعام واضرب للهام من ابی قحافة) ـ نو ابو بکر صدیقؓ نبی اکرم ﷺ ته ددیے ګیله اوکړه۔ نبی اکرم ﷺ عمرو بن سعید ته اوفرمائیل : دابو بکر نه قلارشه ! اوبیا ئے ابو بکرؓ ته اوفرمائیل : (یا ابا بکر ! اذا ذکرتم الکفار فعمّموا، فانکم اذا خصصتم غضب الابناء للاباء) ـ (کله چه تاسو کافر ذکر کوئ نو عموم طریقے سره ئے ذکر کوئ ځکه که تاسو تخصیص اوکړئ نو ځامن به د پلارانو دپاره غصه کیږی) نو خلق ددیے کار نه بند شو۔

دارنګه بل شرط دادیے چه هغه (شخص معین) باندیے په لعنت اوید رد رئیلو کښیے به دینی فائده وی مثلًا دا چه هغه مبتدع کافر وی دهغه د شر نه خلق ځان اوساتی لکه هغه دشر کتابونه لیکلی وی، نو ته دهغه بدی بیان کړیے ددیے دپاره چه خلق دهغه دشر نه محفوظ شی۔او په عامو ګناه ګارانو باندیے لعنت وئیل هم صحیح نه دی لکه صحیح بخاری کښیے دی چه یو شخص دعبد الله په نوم چه لقب ئے حمار رو نبی اکرم ﷺ به ئے کله نا کله خندولو هغه شراب اوڅکل او هغه ته سزاء ورکړیے شوه،نو یوه ورځ راوستے شو او امر اوکړیے شو چه جلد (دُرے) ورته ورکړئ نو په ناستو خلقو کښیے یو سړی اووئیل :(اللهم العنه ! ما اکثر ما یؤتی به) ـ (دا ګس دیے الله تباه کړی هر وخت راوستلے شی د سزا دپاره)۔نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل : (لا تلعنوه، فوالله ما علمت الا انه یحب الله ورسوله) ـ (په ده باندیے لعنت مه وایئ ځکه ما ته دا معلوم دیے چه د الله او رسول سره محبت ساتی)۔ بل روایت کښیے دی (لا تکونوا عون الشیطان علی اخیکم) (د شیطان سره د خپل ورور مسلمان په مقابله کښں مدد مه کوئ) نو په معین فاسق باندیے لعنت وئیل جائز نشو، اوکه فاسق مړشویے وی نو په هغه لعنت وئیل خو ډیر سخت دی، مګر کله چه دهغه د شرنه دحفاظت په نیت په هغه لعنت اووئیلے شی نو دا جواز لری ـ کذا فی تحفة الاحوذی (۱۳۸/۳) نقلًا عن الطیبی، واحیاء العلوم (۱۵۷۳/۳) فتح المجید ص (۱۲۵)۔

حاصل : دا چه په اشخاصو باندیے په لعنت وئیلو کښیے خطره ده ځان ترینه ساتل ضروری دی، خصوصاً چه کله دهغه فسق اوبدعت اوکفر معلوم نه وی۔

فائده بدیعة : په شریعت کښیے لعنت په کومو کسانو اوځیزونو باندیے وئیلے شویدیے، یعنی

اسباب اللعنة څه دی ؟ یا ملعونین څوک دی ؟

نو داډیره لویه موضوع ده، مونږ دهغے نه بطور اختصار څه ذکر کوو

● دابن مسعود ؓ په حدیث کښیے دی : (قال قال رسول الله ﷺ : (آکل الربا وموکله، وکاتبه، وشاهداه اذا علموا ذلك، والواشمة، والموشومة للحسن ولاوی الصدقة، والمرتد اعرابیاً بعد الهجرة : ملعونون علی لسان محمد ﷺ یوم القیامة) اخرجه الحاکم فی المستدرك وفی صحیح الجامع الصغیر رقم (٦٤/٥) ـ یعنی : (۱) سود خوړونکے لعنتی دیے، د الله لوئے دشمن دیے، مونځ اوروژه او نور عبادات ئے نه قبلیږی، اود هغه کس نه دسود خور ګناه زیاته ده چه پنځه دیرش کرته دخپلے مور سره زنا اوکړی کما فی الحدیث۔(۲)

دسود مال په بل چا باندے خورونکے ملعون دے۔(۳) سودی کاروبار ليکونکے (منشی) (سودی بينك منيجر)۔(٤) سودی کاروبار باندے گواهی کونکے۔(٥) خالونه لگونکے ښځه وی که سړے۔(٦) هغه کس چه په هغه خال لگولے شی۔ (۷) زکوٰة او فرض عُشر منع کونکے۔(۸) هغه کس چه هجرت اوکړی دکافرانو نه اوبيا لاړ شی او بانده اوکلی کښے اوسيږی، او واپس جهاد ته نه ځی، او نه دخپل ملك دآزادولو کوشش کوی، داسلام د قائمولو په نيت۔

● بل حديث دابن عباسؓ کښے راځی : قال قال رسول الله ﷺ : اتانی جبرئيل فقال : يامحمد، ان الله عز وجل لعن الخمر وعاصرها ومعتصرها وشاربها وحاملها والمحمولة اليه وبائعها، ومبتاعها، وساقيها، ومسقيها) اخرجه احمد (۱/۳۱٦) والبيهقی فی شعب الايمان (۲/۱۵۰) ۔ (۹) شرابو باندے لعنت راغلے دے، هر قسم شرابو له گوتے وروړل جائز نه دی۔ (۱۰) انگور نچورونکے په نيت دشرابو۔(۱۱) هغه ځوك چه دانگور نچوړولو غوښتنه کوی دپاره د شراب جوړولو۔(۱۲) شراب څکونکے۔(۱۳) شراب بارونکے۔(١٤) چاکره چه دا اوړلے شی۔ (۱۵) شراب خرڅونکے، دارنگه هر نشائی ځيز خرڅونکے۔ (۱٦) شراب اخستونکے۔(۱۷) په باندے شراب څکوونکے۔ (۱۸) بل چاته د شرابو ځائے وربښودونکے۔ (۱۹) تصوير جوړونکے، کما فی المشكوٰة (۱/۲٤۱)۔(۲۰) دمصيبت په وخت خپل مخ وهونکے۔ (۲۱) گريبان شلونکے۔ (۲۲) دهلاکت اوتباهئ خبرے کونکے۔(۲۳) رشوت ورکونکے۔(٢٤) رشوت اخستونکے، کما فی حديث احمد وصحيح الجامع الصغير (۹۰۷) ۔(۲۵) الواصله : د بل په سرکښے بازاری ويښته لگونکے۔(۲٦) المستوصله : هغه ښځه چه د بل چانه غواړی چه زما سر کښے بازاری ويښته اولگوه۔(۲۷) نامصه: هغه ښځه چه دمخ وروځو ويښته اوباسی۔ (۲۸) المتنمصه : هغه ښځه چه بل چاته حکم کوی چه زما دمخ نه ويښته اوباسه۔ (۲۹) المتفلجات : هغه زنانه چه خپل غاښونه تراشی دپاره ددے چه کولاؤ شی، او ډولی شی۔(۳۰) هغه سړے چه د زنانو لباس اچوی۔(۳۱) هغه زنانه چه دسړو لباس اچوی۔(۳۲) هغه زنانه چه ځان نه سړے جوړوی۔(۳۳) لعن الله السارق يسرق البيضة)۔(البخاری ومسلم) ۔ غل سړے يا غله ښځه که لږ ځيز غلا کوی که ډير سبب دلعنت دے۔(۳٤) لعن الله المحلل والمحلل له (ابوداود، ترمذی، ابن ماجه،جامع الصغير ۹۰۷/۲) محلل : هغه سړے چه په دريے طلاقو سره طلاقه شوے ښځه بيرته داول خاوند دپاره ديوے شپے دنکاح په وجه حلالوی۔(۳۵) محلل له : هغه خاوند چه ښځه په دريے طلاقو سره طلاقه کړی اوبيا خفه وی نو بل سړی ته ښځه ديوے شپے دپاره په نکاح کړی۔(۳٦) المختفی : هغه سړے چه دمړو نه کفنونه پټوی۔(۳۷)۔ مختفيه : مړو نه کفن پټونکے ښځه۔(۳۸) لعن الله اليهود اتخذوا قبور انبيائهم مساجد (کما فی النسائی والمشكاة وتحذير الساجد ص:۱۷)۔قبرخوا کښے مسجدونه جوړونکے او قبر دمسجد په حصه کښے داخلونکے۔ (۳۹) حيله کول په حکمونو د کښے لکه بعضے خلق دزکوه داسقاط

دپاره حیله جوړوی۔(۴۰) حرام خور۔(۴۱) هغه زنانه چه مقبرے ته ډیره ځی۔ زنانو دپاره مقبرے ته تلل جواز لری په شروطو باندے، یودا چه ډیره به نه ځی، شرك به نه کوی، خاص بابا له به نه ځی، ډول سنګار به نه ښکاره کوی، جزع فزع به نه کوی، په دے باره کښے پنځه احادیث صحیحه دی کما فی احکام الجنائز للشیخ الالبانیؒ۔(۴۲) مخ باندے داغ لګونکے۔رواه مسلم۔(۴۳) صحابوؓ باندے لعنت ویونکے۔کما فی صحیح الجامع الصغیر: (۲/۹۰۹) والطبرانی (۴۴) لعن اللّٰه من لعن والدیه) ۔ (مور پلار ته کنځل کونکے، بدرد ویونکے)۔(۴۵) لعن اللّٰه من ذبح لغیر اللّٰه) ۔الله نه سیوا دبل دپاره ذبح کونکے۔(۴۶) لعن اللّٰه من آوی محدثاً) ۔مجرم او بدعتی ته پناهي ورکول۔(۴۷) لعن اللّٰه من غیر منار الارض ۔ یعنی پردئ زمکے وهل اوخپل حق کښے داخلول۔رواه مسلم،صحیح الجامع ۹۰۹)۔(۵۰) حیوان مثله کول، غوږونه خپے ورله پریکړی، شکل ورله خراب کړی (بخاری)۔ عن معاذ مرفوعاً : اتقوا الملاعن الثلثة : البراز فی الموارد، وقارعة الطریق، والظل۔رواه ابو داود، صحیح الجامع (۱/۸۲)۔ (۵۱) یعنی په ګودرونو یا په عامو لارو کښے یا په هغه سورو کښے چه خلق ورته کینی متیازے کول سبب دلعنت دے۔(۵۲) په ولاړو اوبو کښے متیازے کول، کما فی صحیح الجامع (۲/۱۰۲۴)۔(۵۳) ښځے سره په دبر کښے جماع کول۔(ملعون من اتی امرأة فی دبرها (رواه احمد وابوداود) وفی المشکاة (۲/۲۷۶) صحیح الجامع (۲/۱۰۲۴۲) ابن القیمؒ ددے عمل (۲۱) نقصانات ذکر کړیدی۔(۵۴) کتمان الحق (حق پټول) کما فی البقرة : ۵۵) ﴿ ان الذین یکتمون ما انزلنا من البینات والهدیٰ من بعد ما بیّناه للناس فی الکتاب اولئك یلعنهم اللّٰه ویلعنهم اللاعنون ﴾۔

مَارَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتَ عَقْلٍ وَدِيْنٍ : سوال : په حدیث الباب کښے خو ټولو زنانو ته ناقصات اوویل شویے،حالانکه حدیث کښے راغلی دی (کمل من الرجال کثیر ولم یکمل من النساء الا مریم وآسیة) (یعنی بعض زنانه هم کاملے دی) اوپه روایت د ترمذی (۲/۲۲۷) اواحمد کښے دانسؓ نه دی (اربع مریم وآسیة وخدیجة وفاطمة) نو ددے دواړو حدیثونو ترمینځه تطبیق څه دے ؟۔

جواب : ۱- په زنانهؤ کښے کامل کیدل ډیر کم اونادر دی، لهذا د بعضے کمو افرادو دناقصات دحکم نه په خارج کیدو کښے هیڅ حرج نشته۔نو دازنانه په دے حدیث کښے نه دی داخل بلکه دا د عامو زنانو حکم دے۔دا مذکوره زنانه ترینه مستثنیٰ دی۔

۲- جواب : عینی وائی : (الحکم علی الکل بشئ لا یستلزم الحکم علی کل فرد من افراد ذلك الشئ)۔ (یعنی په کل باندے د یو شئ حکم کول مستلزم نه دی حکم لره په هر فرد د افرادو د هغه شئ باندے) (حاصل مطلب دا چه حکم په مفهوم کلی باندے صادقیږی په ضمن د کل جزئیاتو کښ هم او په ضمن د بعض جزئیاتو کښ هم نو دا مهمله ده په قوت د جزئیه کښ ده حاصل ئے دا ترکیب راوځی چه النساء ناقصات عقل ودین نو دا به کله په ضمن د کل نساؤ کښ وی او کله

به په ضمن د بعض نساؤ کښې وی خو درحقیقت دا په ضمن د بعض اکثرو جزئیاتو کښې دے نه په کل جزئیاتو کښې)۔ **اَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ** : ډیر ختمونکی عقل د هوښیار سړی۔(اذهب ای اکثر ذهاباً للب)۔اود سیبویه په نیز اسم تفضیل دمزیدو نه هم راځی۔ لب وائی (العقل الخالص من شوائب الهوی. (هغه صفا عقل چه د خواهشاتو د ګډونه پاك وی) یا : (ما ذکی من العقل) (تیز بلیدونکی عقل) ته وائی، عقل ته لب ځکه وائی چه داد انسان د قوتونو خلاصه اوعمده دے .او عقل وائی : (غریزة فی الانسان یدرك بها المعانی ویمنعه عن القبائح وهو نور الله فی قلب المؤمن .(دا طبعی شے (قوت) دے په انسان کښې چه ددے په ذریعه انسان معانی (مقاصد) حاصلوی او انسان منع کوی د قبیح کارونو نه او دا د الله د طرفه یو نور دے چه د مؤمن په زړه کښې ئے اچوی) او هر لب عقل دے او عکس نشته، یعنی هر عقل لب نه دے، نودوارو کښې عموم خصوص مطلق دے .یعنی زنانه سره دعقل دکموالی نه داسے چلونه ورته یاد وی چه هوښیار سړے هم په خپل جال کښې راګیروی .الیس شهاده المرأه مثل نصف شهاده الرجل : دے کښې اشاره ده چه د ښځې ضبط کم دے نسیان پرے غالب دے نو دادلیل دے د نقصان العقل دهغوی .

فَذٰلِكَ : دکاف کسره ده خطاب دے واحدے مؤنثے ته کومے چه تپوس کړے وو .یا فتحه دکاف ده اشاره ده حکم ته او خطاب عام دے۔

تنبیه : امام نوویؒ لیکی : بعضے خلق دا اشکال کوی چه دحیض په حالت کښې مونځ او روژه پریښودلو ته څنګه نبی اکرم ﷺ نقصان ددین وئیلے دے سره ددے نه چه دا خو ورته شریعت په دے حالت کښې معاف کړیدے۔ خودا په واقع کښې داشکال خبره نه ده، ځکه چه دین اواسلام او ایمان په یوه معنی کښې شریك دی، نو طاعاتو ته ایمان او دین وائی نو معلومه شوه چه دچا عبادت زیات وی نو دهغه ایمان اودین به زیات وی اود چا عبادتونه چه کم وی نو دهغه دین به ناقص وی۔ حافظ وئیلی دی چه په دے نقصان باندے به زنانه نشی ملامته کولے بلکه دا خودوئ ته د الله دطرفنه مقرر ده .خودلته ذکر شو په دے کښې تنبیه او ویره ده زنانوته چه ستاسو دین کم دے نوکوشش کوئ چه نور طاعات زیات کړئ. الی المصلی :

فائده : په عید ګاه کښې داختر مونځ کول سنت عمل دے، اوپه مسجد کښې د اختر مونځ کول صرف یوځل راغلے دے په یو حدیث ضعیف کښې نو د ضرورت په وجه جواز لری . فمر علی النساء : دا دلیل دے چه زنانه هم عیدګاه ته راتلے شی او په دے کښې ورسره بلال او ابن عباسؓ هم ملګری وو۔اوداخبره غلطه ده چه بعضے خلق وائی چه زنانه به هغه مسجد ته ځکه راتلے چه مسلمانان ډیر ښکاره شی .صحیح بخاری (۱/ ۳۳) کتاب العیدین (ومالهم لا یفعلون) کښې ورسره دادی چه ابن جریج د عطاءؒ نه تپوس اوکړو چه اوس به راځی ؟ هغه وئیل : څه وجه ده بادشاهانوله چه دوئ ته اجازت نه ورکوی۔ اُریتکن : دا خو یا : ۱- په کشف سره وو، یعنی

الله نبی اکرم ﷺ تـه دمينځ نه پردے لرے کرے او جهنم ئے ورته وربنکاره کرو-یا په وحی سره، یا دمعراج په شپه۔

تَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ : عشيـر وزن فـعيـل دے په معنی دمعاشر اسم فاعل سره دے یعنی المخالط (د ژوندے ملګرے)، دلته ترینه مراد زوج (خاوند) دے، ښځه چه دخاوند کفر کوی هغه دا چه دهغه د نعمتونو او احساناتو نه انکار کوی او دهغے شکر نه اداء کوی او دهغه احسانات معمولی او سپك ګنړی- یا ځان ته ځایه استعمالوی۔

فائده نادره : د کفر معنی او اقسام : په دے حدیث کښے یو څو کبیره ګناهونه ذکر شویدی یو په هغے کښے دخاوند د نعمتونو ناشکری کول دی، دیته کفر وئیلے شویدے۔ دا کفر حقیقی نه دے بلکه کفر دون کفرِ دے، پس دلته دکفر معنی او اقسام پیژندل ضروری دی دے دپاره چه ډیر احادیث او نصوصو کښے اشکالات راځی نو هغه پرے حل کیږی۔ نو پوهه شه چه کفر (ك، ف، ر) په : ١-اصـل لـغت کښے ستر (پټولو) ته وائی، زمیندار چه دانے په زمکه کښے پټوی هغه ته کافر وئیلے شویدے ﴿ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ﴾ الحدید .٢-او په عرف دا هل لغت کښے کفر : دنعمت پټولو ته وئیلے شی چه دیته ناشکری وائی .

٣- دارنګه مطلق انکار ته وئیلے شی که انکار دحق وی او که د باطل وی .

داولنیے مـعـنی په لحاظ سره د لفظ د(کـفـارـة او کفّر عنا سیئاتنا) راغـلـے دے .یعنی معنی ئے ده پټوالے .اودویمه معنی په سوره ابراهیم (٧)آیت کښے ذکر ده ﴿ وَقَالَ مُوْسٰى اِنْ تَكْفُرُوْا اَنْتُمْ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ ﴾ معنی ئے ده ناشکری۔

اودریـمـه مـعـنی په سوره بقره آیت (٢٥٦) کښے ذکر ده ﴿ فـمـن یکفر بالطاغوت﴾ یـعنی انکار کول دبندګئ دغیر الله نه۔ اودا حقیقی کفر دے۔

بیا کفر پـه دوه قـسـمـه دے (١) کفر حقیقی۔ دیته کفر اعتقادی هم وائی۔ اوددے څلور اقسام دی لـکه علامه خطیب شربینیؒ ذکر کړیدی : ١- کفر انکار ٢- کفر جحد د ٣- کفر عناد ٤- کفر نفاق۔ کفر انکار دا دے چه نه الله تـعـالی پیژنی اونه پرے اقرار کوی۔ او کفر جحود دا دے چه الله تـعـالی خـو پیـژنـی مـګر اقرار پرے نه کوی، لکه کفر دابلیس اود یهودو شو۔ سورت بقره آیت : (٨٨)کښں راغـلـے دے۔ --- کفر عناد دا دے چه الله تـعـالی پـه زړه سره پیژنی او په ژبه اقرار هم کوی لیکن دین نه منی او عمل وریاندے نه کوی، لکه کفر دابو طالب چه وئیل به ئے ۔

ولقد علمت بان دين محمد ۞ من خير اديان البرية دِيْنًا
لولا الملامة اوحذارَ مَسَبَّةٍ ۞ لَوَجَدْتَنِيْ سَمْحاً بذاك مُبِيْنًا

کـفـر نـفـاق دا دے چـه پـه ژبـه اقـرارکوی چه دین منم خو په زړه کښے ئے عقیده دمنلونه وی۔ دا څلور اقسام کفرِ حقیقی دے۔په دے سره انسان داسلام نه خارجیږی۔(٢) دویم قسم کفر، کفرِ

عملي دي، اوديته كفر حكمي هم وائي، او كفرِ دون كفرٍ ورته هم وئيلے شي اودا كفر هر قسمه كبيره ګناه ته شامليږي لكه كفران العشير وغيره ته لكه پدے حديث كښں شو۔ ددے حكم دادے چه دا مخرِجٍ عن الملة نه دے، يعنى ددے كفر والا انسان د دائرے داسلام نه بالكليه نه خارجيږي، او نه موجب دخلود النار دے، بلكه موجب د فسوق دے، ده ته به فاسق وئيلے شي، اود الله مشيئت ته سپارلے شويدے كه هغه اوغواړي معاف به ئے كړي اوكه خوښه ئے شي عذاب به وركړي۔ خو بيا هم هميشه به په عذاب كښے نه وي، بلكه يو وخت كښے به ترينه راوځي۔

اوديته امام بخاريؒ په خپل الجامع الصحيح (۹/۱) كښے په: باب كفران العشير وكفر دون كفر سره اشاره كړيده۔ په دے كښے اشاره ده چه په احاديثو كښے كله كفر حقيقي ذكر كيږي اوكله كفر عملي (كفر دون كفر) مراد وي،اګرچه دايمان نوم ترے زائل شويدے مګر بيا هم حقيقي كفر نه دے يعنى دكافرانو پشان عمل پكښے راغلے دے اګركه حقيقةً كافر بالله وبالدين نه دے۔

ضروري تنبيه : - كفر په قول او عمل سره هم وي :

دا مخكښے چه كوم كفر عملي ذكر شو ددے نه مراد دا دے چه كوم مشهور ګناهونه دي لكه غلا، زنا، ډاكه، فحشاء، حسد، كينه، چغلي اوداسے نور ګناهونه شو نو ددے ارتكاب كونكے حقيقةً كافر نه دے، بلكه فاسق دے۔

اوبعضے داسے اعمال اواقوال دي چه په هغے سره انسان حقيقةً كافر ګڼلے كيږي لكه دقرآن استهانت (سپكاوے) كول، نبي ته كنځل كول، هغه وژل، حكم بغير ما انزل الله (د الله دقانون نه علاوه د بل چا په قانون فيصله كول) كاهن ته تلل اود هغه تصديق كول، بُت ته سجده كول۔

اودا د سلفو صالحينوؒ مذهب دے او په دے باره كښے ډير كتابونه ليكلے شويدي، يو دهغے نه د علوي بن عبد القادر السقاف كتاب دے د (التوسط والاقتصاد في ان الكفر يكون بالقول والفعل والاعتقاد) په نوم باندے چه دا په دے موضوع كښے ډير معياري كتاب دے، په دے كښے ئے د علماؤ سلفاً او خلفاً اقوال ذكر كړيدي په دے موضوع باندے۔

۱ - هغه علماء چه دهغوي دا عقيده ده چه انسان په قول يا په عمل سره هم كافر كيږي اود اعتقاد قيد ئے نه دے لګولے په خپلو عبارتونو كښں يعنى مطلقاً قول او فعل سره هم كفر راتلے شي، دهغوي نومونه دادي: نافع مولى ابن عمر، الشافعي، اسحق بن راهويه، محمد بن سحنون، ابن جرير الطبري، ابو الحسن الاشعري، البربهاري، الجصاص، ابن عبد البر، الجويني، البزدوي، الكيا الهراسي، ابن العربي، الرازي، الكاساني، الفرغان صاحب قاضي خان، ابن الجوزي، القرطبي، القرافي، ابن القيم، ابن مفلح، ابن رجب، البزاز صاحب الفتاوى البزازيه، ابن حجر العسقلاني، الشوكاني، الحموي، العدوي، الشنقيطي وغيرهم - رحمهم الله۔

۲ - اوكوم علماؤ چه صراحةً خپلو عبارتونو كښں اعتقاد شرط نه دے ګرځولے اوداسے الفاظ ئے

وئيلي دي چه (ولو لم يعتقد) بلكه په قول يا فعل سره هم كفر وائي اگركه دانسان عقيده هم دغه شان نه وي، خو صرف عمل يا قول سره داسلام مخالفت اوكړي نو دا هم كافر دے حقيقةً د هغوي نومونه دادي : ابو ثور، السمرقندي، ابن الحزم، القاضي عياض، النووي، ابن تيميه، علاؤ الدين المحبوبي، الاندربتي الدهلوي، التفتازاني، الزركشي، ابن امير الحاج، الخطيب الشربيني، محمد بن عبد الوهاب، ابن عابدين، الآلوسي، الكشميري، ابن عثيمين، ابن الجبرين، الفوزان وغيره – رحمهم الله په دوئ كښے دبعضے علماؤ اقوال دادي :

١ – فقيه المغرب محمد بن سحنون المالكي (٢٦٥ هـ) فرمائي : (اجمع العلماء ان شاتم النبي ﷺ المتنقصين له كافر والوعيد جارٍ عليه بعذاب الله وحكمه عند الامة القتل ومن شك في كفره وعذابه كفر)۔ انظر الشفاء للقاضي عياض (٣١٢/٢) ۔ (د علماؤ اجماع ده چه نبي عليه السلام ته كنځل كونكے او د هغه سپكاوے كونكے كافر دے او ده باندے د الله د عذاب وعيد جاري كيږي او د امت په نزد دده حكم قتل دے او چا چه دده په كفر او عذاب كښې شك اوكړو هغه هم كافر دے)

٢ – ابو الحسن علي بن اسماعيل الاشعري المتوفي (٣٢٤ هـ) فرمائي : (ارادة الكفر كفر، وبناء كنيسة يكفر فيها بالله كفر، لانه ارادة الكفر)۔ انظر انوار البروق في انواع الفروق للقرافي (٢٢٥/١)۔

٣ – ابو بكر الجصاص الحنفي فرمائي : قال تعالى ﴿ولئن سالتهم ليقولن انما كنا نخوض ونلعب – الى قوله – ان نعف﴾ فيه الدلالة على ان اللاعب والجاد سواء في اظهار كلمة الكفر على غير وجه الاكراه لان هؤلاء المنافقين ذكروا انهم قالوا ما قالوا لعباً فاخبر الله عن كفرهم باللعب ۔ (پدے آيت كښې دليل دے چه د كفر كلمه په غير د اكراه صورت نه راښكاره كول پدے كښې توقے كونكے او رشتيني برابر دي ځكه دے منافقانو خپلے خبرے د توقو په طريقه كړے وے او الله تعالىٰ د هغوي د كفر نه په طريقه لوبو خبر وركړو)۔

٤ – محمد بن الوليد السمرقندي الحنفي الذي كان حيا في سنه (٤٥٠) هـ قال في الجامع الصغير : اذا اطلق الرجل كلمة الكفر عمداً لكنه لم يعتقد الكفر قال بعض اصحابنا لا يكفر، لان الكفر يتعلق بالضمير ولم يعقد الضمير على الكفر وقال بعضهم : يكفر وهو الصحيح عندي، لانه استخف بدينه)۔ انظر البحر الرائق لابن نجيم (١٣٤/٥) طبع دار الكتاب العربي ۔ (جامع صغير كښې وائي : كله چه يو سړے د كفر كلمه قصداً اووائي ليكن عقيده د كفرئے نه وي نو بعض احنافو وئيلي دي چه نه كافر كيږي ځكه كفر د زړه سره تعلق لري او دده زړه كښې كفر نشته او بعض وائي چه كافر دے او دا خبره زما (سمرقندي) په نزد صحيح ده ځكه دده د خپل دين سپكاوے اوكړو)۔

٥ – العلامة ابو محمد بن الحزم الظاهري المتوفي (٤٥٦ هـ) په الفِصل كتاب كښې فرمائي : واما قولهم : ان شتم الله تعالى ليس كفراً وكذلك شتم الرسول فهو دعوى لان الله تعالى قال : ﴿يحلفون بالله ما قالوا ولقد قالوا كلمة الكفر وكفروا بعد اسلامهم﴾ فنص الله تعالى على ان من الكلام ماهو كفر) (الفصل في الملل والاهواء والنحل : ٢٤٤/٣) ۔ (هر چه دا قول د بعض علماؤ دے چه الله او رسول

تـه كـنـځـل كـول كـفـر نـه دے نـو دا تشه دعوه (بے دليله) ده حُكه الله فرمائى : دے منافقانو په الله قسمونه اوكړل چه دوى دا خبره نه ده كړے او حال دا چه دوى د كفر كلمه وئيلے ده او د اسلام نه روستو ئے كفر كړيدے" نو الله تعالىٰ پدے خبره تصريح اوكړه چه بعض د كلام نه كفر وى)

٦- الحافظ يوسف بن عبد الله بن عبد البر المالكى المتوفى (٤٦٣ هـ) : ده داسحق بن راهويه كلام نقل كړيدے او سكوت ئے پرے كړيدے: قال اسحق : اجمع العلماء ان من سب الله عز وجل اورسوله ﷺ او دفع شيئا انزله الله اوقتل نبياً من انبياء الله وهو مع ذلك مقرٌ بما انزل الله انه كافر)۔ انظر التمهيد (٤/٢٢٦) طبع وزارة الاوقاف المغربية ۔ **(اسحاق وائى : علماؤ پدے اجماع كړيده چه چا الله او د هغه رسول ته كنځل اوكړل يا ئے يو شے په الله نازل كړے وو ديكه كړو يا ئے يو نبى قتل كړو او دا سره ددے نه اقرار كونكے وو په ما انزل الله بيا هم كافر دے)۔**

۷- امام الحرمين الجوينى الشافعى (٤٧٨هـ)۔ : قال الهيثمى فى الزواجر عن اقتراف الكبائر (١/٥٤) نقل امام الحرمين عن الاصوليين ان من نطق بكلمة الردة وزعم انه اضمر تورية كفر ظاهراً وباطناً واقرهم على ذلك ۔ **(هيثمى په زواجر كښ فرمائى : امام الحرمين د اصولينو نه نقل كړيدى چه څوك د ارتداد په كلمه تكلم اوكړى او دده دا خيال وى چه زما په زړه كښ توريه ده نو دا ظاهراً او باطناً كافر دے او پدے باندے د اصولينو اقرار موجود دے)**

۸- فخر الدين حسن بن منصور الفرغان الحنفي صاحب فتاوى قاضى خان : قال فى الفتاوى على هامش العالمكيريه : رجل كفر بلسانه طائعاً وقلبه على الايمان يكون كافراً ولايكون عند الله تعالى مؤمناً)۔ **(يو سړے بنه په خوښه په ژبه كلمه د كفر اووائى او زړه كښ ئے ايمان وى نو دا كافر دے او د الله په نزد د ايمان خاوند نه دے)۔**

۹- محى الدين يحيى بن شرف النووى الشافعى المتوفى (٦٧٦ هـ) قال فى روضة الطالبين فى كتاب الردة (٧/٢٧٣) دار الكتب العلمية : هى قطع الاسلام ويحصل ذلك تارة بالقول الذى هو كفر وتارة بالفعل والا فعال الموجبة للكفرهى التى تصدر عن تعمد واستهزاء بالدين صريح كالسجود للصنم او للشمس والقاء المصحف فى القاذورات والسحر الذى فيه عبادة الشمس وغيرها۔ قال الامام فى بعض التعاليق عن شيخى : ان الفعل بمجرده لايكون كفراً قال وهذا زلل عظيم من المعلق ذكرته للتنبيه على غلطه،وتحصل الردة بالقول الذى هو كفر سواء صدر عن اعتقاد او عناد او استهزاء)۔ **(ارتداد د اسلام ختميدو ته وائى او دا كله په قول سره وى چه ديته كفر وائى او كله په فعل او سره وى او هغه افعال چه كفر راولى هغه دى چه صادر شى د قصد او ددين پورے د استهزاء نه دا صريح كفر دے لكه بُت ته يا نمر ته سجده كول، قرآن كريم گندگئ ته گوزارل او هغه سحر چه په هغے كښ د نمر عبادت وى وغيره)۔**

۱۰- العلامه صديق حسن خان القنوجي المتوفى (۱۳۰۷) هـ فرمائى :

ومن ذلك الهزل بشيء فيه ذكر الله اوالرسول او القرآن او السنة وهذا الهزل كفر بواح قال تعالى : ﴿ولئن

سالتهم لیقولن انما کنا نخوض ونلعب قل آبالله وآیاته ورسوله کنتم تستهزؤن، لا تعتذروا قد کفرتم بعد ایمانکم ﴾ ای بهذا المقال الذی استهزأتم به)۔ (اعانة الطالبین علی حل الفاظ فتح المبین (۱۳۲/٤) (او ددې کفر نه د هغه شي پورې توقې کول دي چه په هغې کښې د الله یا د رسول یا د قرآنْ یا د سنت ذکر وي او دا توقې ښکاره کفر دې، آیت کښې دي چه منافقان پدې توقو کافران شو)

داسې نور نُقول هم شته چه دا تول دلالت کوي په دې خبره چه کفر عملي کښې هم دوه درجې دي یوه دا چه دهغې په کولو سره انسان دملت نه نه خارجیږي اوبعضې اعمال داسې دي چه دهغې په کولو سره انسان دایمان نه خارجیږي نو په دې کښې رد دې په هغه خلقو باندې چه په ترک دهیڅ عمل باندې هم انسان مخرج عن الملة نه ګنړي ترڅو چه عقیده باقي پاتې وي۔ خو داخبره ضعیف ده ځکه چه بعضې اعمال کفریه دي هغې سره بالکلیه ایمان زائله کیږي او تصدیق بیا فائده نه ورکوي۔ اودا دسلفو مذهب دې چه داسې فرق کوي اود دوئ نه روستو خلقو دهغوی اقوال اونه پیژندل نوخطاء شو، او دوه ډلې جوړې شو۔ یوې ډلې دا عقیده اولرله چه په کبائرو باندې انسان دملت نه خارج دې او اصحاب الکبائر همیشه دپاره اور والا دي اودې ډلې ته خوارج وائي۔ اوبلې ډلې دا عقیده اولرله چه اصحاب الکبائر مؤمنان دي اوکامل الایمان دي، اودوئ ته اصحاب الجهم (جهمیه) وائي۔ اودې دواړو افراط او تفریط اوکړو۔ او اهل السنة والجماعة د دوئ ترمینځه عقیده لري۔ چه اهل الکبائر مؤمنان فاسقان دي۔ د الله مشیئت ته سپارلې شوي دي اوحقیقةً کفار نه دي، اګرکه مرتکب دبعضې اعمال کفریه حقیقةً کافردې کما عرفت۔ والله تعالی اعلم۔

فائده : دکفر دوه قسمه نور دي : ۱- کفر جهلي چه د ناپو هئ په وجه دحق نه انکاراوکړي۔ ۲- کفر عنادي چه سره دپو هې نه دضد اوعناد په وجه انکار کوي، اودا دواړه قسمونه دسوره بقره په آیت (۸۹) کښې جمع دي۔ والله اعلم۔

فائده : د ك، ف، ر نه عربئ کښې درې الفاظ استعمالیږي : ۱- کفران ۲- کفر۔ ۳- کفور۔ کفران دنعمت په انکار کښ مستعملیږي۔ اوکفر ددین په انکار کښې استعمالیږي، او کفور دواړو کښې استعمالیږي۔ تنبیه : دخاوند او ښځې حقوقو بیان به په کتاب النکاح کښې راشي ان شاء الله تعالی فانتظره۔

مِنْ نُقْصَانِ دِيْنِنَا وَعَقْلِنَا : زنانو په خپلو الفاظو کښې دین مقدم کړو۔

۱- یا خو اشاره ده اهتمام دشان ددین ته، نقصان ددین مهم دې دنقصان دعقل نه۔

۲- اویا اشاره ده نقصان دعقل ددوئ ته چه ترتیب نبوي ئې بدل کړو۔ د نقصان العقل والدین ښکاره علامه داده چه دنبي اکرم ﷺ دوینا نه پس غلي پاتې کیدل پکار وو، مګر بیا هم دهغه نه تپوس کوي په : وما نقصان دیننا سره۔ اَلَيْسَ شَهَادَةَ : دا دنبي اکرم ﷺ استدلال دې د قرآن کریم نه چه ﴿ فان لم یکونا رجلین فرجل وامرأتان ﴾ البقرة : ۲۸۲)۔ نودیته استدلال د نص وائي په

نص باندے۔ ددے حدیث مناسبت دباب سره بالتضاد دے چه ګناهونه لعنتونه منافي دایمان دی اګرکه کفر حقیقي نه دے۔ وقد مر۔

انسان له سرکشي پکار نه ده

۱۹- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی: كَذَّبَنِیْ ابْنُ آدَمَ وَلَمْ یَكُنْ لَهٗ ذٰلِكَ وَشَتَمَنِیْ وَلَمْ یَكُنْ لَهٗ ذٰلِكَ فَاَمَّا تَكْذِیْبُهٗ اِیَّایَ فَقَوْلُهٗ: لَنْ یُّعِیْدَنِیْ كَمَا بَدَاَنِیْ وَلَیْسَ اَوَّلُ الْخَلْقِ بِاَهْوَنَ عَلَیَّ مِنْ اِعَادَتِهٖ؟ وَاَمَّا شَتْمُهٗ اِیَّایَ فَقَوْلُهٗ: اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا، وَاَنَا الْاَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِیْ لَمْ اَلِدْ وَلَمْ اُوْلَدْ وَلَمْ یَكُنْ لِّیْ كُفُوًا اَحَدٌ». وَفِیْ رِوَایَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ: «وَاَمَّا شَتْمُهٗ اِیَّایَ فَقَوْلُهٗ: لِیْ وَلَدٌ وَسُبْحَانِیْ اَنْ اَتَّخِذَ صَاحِبَةً اَوْ وَلَدًا». رواه البخاری.

ترجمه: ابو هریرهؓ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: الله تعالی فرمائی: بني آدم ما دروغجن کوی او دده دپاره دا مناسب نه ده او زما باره کښې بدګوئي کوی حالانکه داد هغه سره مناسب نه دی، دهغه زما دروغجن کول خودادی چه هغه وائی ځنګه چه الله زه (دے دنیا کښې) په وړومبني ځل پیدا کړے یم دغسے هغه آخرت کښې ما دوباره هیڅ کله نشي پیدا کولے۔ حالانکه دوباره پیدا کول د اول ځل پیدا کولو نه ګران نه وی، اود هغه زما باره کښې بد ګوئي کول دادی چه هغه وائی الله ځان له خپل ځوئے جوړ کړیدے حالانکه زه تنها اوبے نیازه یم نه مانه څوك پیدا دی، اونه زه دچانه پیدا یم، اونه زما څوك هم سر (سیال) شته۔اود ابن عباسؓ په روایت کښې داسے دی چه دانسان ماته بد رد وئیل دادی چه هغه وائی د الله ځوئے شته دے، حالانکه زه دے نه پاك یم چه څوك ښځه یا ځوئے جوړ کړم (بخاری)۔

تشریح: قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی : دا حدیث قدسي دے۔ حدیث قدسي دیته وائی چه رسول الله ﷺ د الله تعالی نه روایت کوی، چه الله داسے فرمائی او هغه ته نسبت اوکړی۔اودا ورته الله تعالی د الهام په طور ښودلی وی۔ قرآن هغه دے چه دهغه الفاظ او معنی د الله دطرفنه وی اوپه وحی جلی (ظاهری) سره نازل وی۔اوکه معنی د الله دطرفنه وی خو نزول ئے په وحی خفی مثلاً الهام یا خوب کښې وی او نسبت پکښې هغه ته شوے وی نودا حدیث قدسي دے اوکه لفظ اومعنی دواړه د نبی اکرم ﷺ دطرفنه وی نودا حدیث نبوی دے، دے تولو ته وحی وائی۔ او فرق په مابین دحدیث قدسي او عام احادیثو کښې دادے چه حدیث قدسي کښې نسبت الله ته کیږی او غیر قدسي کښې نسبت الله ته نه کیږی۔

۲- او **فرق بین القرآن والاحادیث القدسیة** دا دے ۱- چه قرآن وحی جلی ده اوحدیث وحی خفی غیر جلی ده۔ ۲- قرآن په تواتر سره نقل دے او په احادیثو قدسیه ؤ کښې تواتر شرط نه دے په دے کښې متواترات ډیر کم دی۔ ۳-قرآن کریم معجز دے۔اود احادیثو قدسیه ؤ الفاظ معجز نه

دی، بل څوک ئې هم جوړولې شي، البته هغه معنی اواسرار به په کښې نه وي کوم چه دنبي اکرم ﷺ په الفاظو کښې موجود وي. ٤- په قرآن باندې مونځ کیږي (په مانځه کښې لوستلې شي) او په احادیث قدسیه ؤ باندې مونځ نه کیږي. ٥ - قرآن لوستل هر وخت عبادت دې، اود احادیثو قدسیه ؤ لوستل عام اوقاتو کښې عبادت نه دې چه دتلاوت په نیت وي.اودا تول درې اقسام دي.

مسئله احادیث د چا د طرفنه دي ؟

هرکله چه احادیث غیر قدسیه کښې الله طرفته نسبت نه وي شوې نو بیا احادیث دچا دطرفنه دي ؟ په دې کښې اختلاف دې (اودا ډیره مفیده مسئله ده په دې سره ډیر اشکالات دفع کیږي) درې اقوال دي په کښې : ۱- یوقول دا دې چه تول احادیث نبي اکرم ﷺ دخپل طرفنه وئیلی دي اود الله دطرفنه وحي نه ده، بلکه دا دهغه اقوال دي. خو الله پرې راضي دې. ۲- قول : تول احادیث د الله دطرفنه دي، د نبي اکرم ﷺ دځانه وینا نه ده. دلیل دادې : ﴿ وما ینطق عن الهویٰ ان هوالا وحی یوحیٰ﴾ [النجم : ٣] . یعنی نبي علیه السلام دخپل خواهش نه خبرې نه کوي بلکه دا تول د الله دطرفه وحي ده. **٣- قول** : وهو الراجح دا دې چه بعضې احادیث وحي ده د الله دطرفنه اوعام احادیث وحي نه ده. اوهرچه دا آیت دې، نو ددې معنی دا ده چه نبي ﷺ دخپل خواهش په بناء خبرې نه کوي، یعنی خبرې ئې دخواهش نه دي چه مسئله دخپلې فائدې دپاره بیانه کړي چه زما عزت اوکړې شي، زه بنه سړې اوشمارلې شم اوځان طرفته تسکوره اووهلې شي.او ﴿ اِنْ هُوَ﴾ کښې ضمیر قرآن ته راجع دې. یعنی دا قرآن وحي ده چه هغه ته کیږي.

اوس دلیل په دې خبره چه بعضې احادیث وحي ده او بعضې نه ده - څه دې ؟

نوکوم احادیث چه وحي ده هغه خو معلوم دي * چه په احادیثو کښې خپله دا الفاظ راځي چه (ان روح القدس نفث فی قلبی) * یا دا الفاظ راځي (اوحی الی انکم تفتنون فی قبورکم) * یا دا چه الله تعالی له ورغلې وي اوهغه سره ئې خبرې کړې وي. * یا قال الله اووئیلې شي یعنی الله ته په کښې نسبت اوشي. نو احادیث قدسیه وحي ده.

دارنګه دا راځي چه د نبي اکرم ﷺ نه دډیرو مسائلو تپوس شویدې هغه په کښې غلې شویدې، او بیا وحي شویده لکه چا تپوس اوکړو چه زمکه کښې کومه زمکه بهتره ده ؟ نبي اکرم ﷺ غلې شو، دجبرئیل نه ئې تپوس اوکړو، هغه اووئیل : ماله هم نه راځي د الله نه ئې تپوس اوکړو، الله تعالی اوفرمائیل : مساجد بهترینه زمکه ده، اوبازارونه ناکاره زمکه ده. دغه شان صحابوؓ اووئیل قرآن کښې درود راغلې دې مونږ په تا څنګه درود اووایو ؟ نبي اکرم ﷺ ته جواب مستحضر نه وو، غلې شو. نو وحي ورته اوشوه چه دا الفاظ وائې : (اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد) ترآخره پورې.

دغه شان د (الا الدین) والا حدیث هم دې چه یو سړي تپوس اوکړو چه زه په جهاد فی سبیل الله کښې قتل شم، آیا زما ګناهونه به معاف شي؟، نبي کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : آو. کله چه سړې

روان شو نو ورته ئے اوفرمائيل : (الا الدين)۔ يعنی سيوا دحقوق العباد نه، دغسے ماته جبريل وئيلی دی۔
داسے نور احاديث هم شته، خاصكر احاديث الاحكام دا وحی ده۔ اوعام احاديث به نبی اكرم ﷺ دخپل طرفنه وئيل د الله د رضا مطابق، خو كله چه به ئے يو داسے خبره اوكړه چه هغه به د الله خوښه نه وه، نو په هغے به ئے رد اوكړو چه اے زما نبی ! دا مه وايه، اوداسے مكوه ! اوكومه خبره چه به د الله خوښه وه نو هغه به دين اوګرځيدو۔ (داخبره اول كښے په انسان باندے ناشنا لګی خو چه تشريح ئے اوشی نو واضحه شی) ددے مثالونه : ١- لكه د بدر په واقعه كښے چه قيديان اونيول شو (وحی نه وه) نو نبی اكرم ﷺ په مشوره باندے فديه غوره كړه، الله ته دا خوښه نه وه، نو نبی اكرم ﷺ او صحابوؓ ته ئے تنبيه وركړه ﴿ ما كان لنبی ان يكون له اسریٰ حتی يثخن فی الارض ﴾ (انفال : ٦٧)۔
٢- دارنګه روستو باب العدة كښے راځی چه يوه زنانه راغله، عرض ئے اوكړو : زما خاوند وفات شويدے نوزه د هغه په كور كښے عدت تير كړم اوكه بل ځائے، خو دخاوند كور مے ډير شړ دے ؟ نبی اكرم ﷺ ورته اوفرمائيل : پلار كره لاړه شه ! كله چه كوټے نه بهر ته اووتله، بيرته ئے راواپس كړه او ورته ئے اوفرمائيل چه دخاوند په كور كښے به عدت تيروے۔ نو دومره سمدست خو وحی نه بدليږی چه يو سيكنډ كښے حكم منسوخ شی ځكه بيا په دے كښے څه حكمت معلوميږی؟۔
٣- دارنګه يو ړوند راغے عرض ئے اوكړو : يا رسول الله ﷺ ! ماته اجازت اوكړه زه به جماعت له نه راځم، هغه ته ئے اوفرمائيل : زه تاته اجازت دے كله چه بهرته اووتلو، نبی اكرم ﷺ اوفرمائيل : راواپس ئے كړئ، كله چه راغے ورته ئے اوفرمائيل : آذان اورے ؟ هغه اووئيل : آو، ورته ئے اوفرمايل : مسجد ته به راځے، دپاتے كيدو اجازت نشته۔ سمدست ئے خپله خبره (اجتهاد) بدله كړه۔
٤- دغه شان نبی اكرم ﷺ اوفرمائيل : دمكے تول بوټی به نه پريكوئ داحرام دی۔ عباسؓ عرض اوكړو : (يارسول الله ! الا الاذخر) يعنی سرګړے مستثنی كړئ ! نبی ﷺ اوفرمائيل : (الا الاذخر)، سرګړے مستثنیٰ دے۔ دومره سيكنډ كښے وحی نه كيږی۔
٥- او د همدے قبيلے نه ده مشوره دعمر فاروقؓ دنبی اكرم ﷺ سره د جنت په بشارت نه وركولو كښے اوبيا منل دنبی اكرم ﷺ دے مشورے لره دليل دے په دے چه كه دا اجتهاد نه وے بلكه وحی وے نو بيا به نبی اكرم ﷺ دا مشوره نه منلے، اونه به ئے دوحی بيان پريښے وے۔ نو رسول الله ﷺ دا خبرے به په خپل صواب ديد سره كولے۔ الله به پرے رضا وو، مګر زمونږ اود نبی ﷺ داجتهاد فرق دادے چه نبی اكرم ﷺ به يو قول اوعمل اجتهاداً اوكړو، او الله به پرے رد اونكړو، نو هغه زمونږ دپاره دين شو، اوكه د الله تعالی به هغه قول يا عمل خوښ نشو نو تنبيه به ئے وركړه۔ او زمونږ اجتهاد كښے دحق اوباطل يقين نشته۔ كه زمونږ اجتهاد خطاء هم شی نو څوك تنبيه وركونكے نشته۔ په دے وجه يقين د حقانيت په كښے نشته۔ اود نبی اكرم ﷺ تولے

خبرے یقینی اوحق دی، نو په دے قول کښے د نبی د احادیثو هیڅ ښکته والے نشته بلکه بیا هم احادیث د الله حکم حسابیږی اگرکه نبی اکرم ﷺ په خپل اجتهاد سره وئیلی وی، ولے چه دا نبی د الله نبی دے، نوکه ظاهراً خبره ئے خپله ده خو اصل کښے تولے خبرے ورته الله خودلی دی۔

وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلِكَ : په دے کښے ډیره مبالغه ده ځکه نفی دکینونت شویده، یعنی دا شے ده لره بالکل موجود نه دے یعنی موجودیدل ئے ورله جائز نه دی۔

وَشَتَمَنِيْ : د شتم او سبّ ترمینځه فرق دا دے چه شتم هغه کنځلو ته وائی چه مور خور په کښے یاده شی (سختو کنځلو ته وائی) او سب مطلقاً رد بد عیب وئیلو ته وائی۔

وَاَمَّا شَتْمُهُ اِيَّایَ : په کوم ځیز کښے چه حقارت، نقصان او عیب وی یو شخص په هغے باندے موصوف کولوته شتم (کنځلے) وائی۔نو الله طرفته د ولد نسبت کول شتم او کنځلے ځکه دی چه ولد د والد مماثل وی او ولد خو حادث اوممکن وی، نو په دے سره به والد هم ممکن اوحادث شی بوجه المماثلة۔ نوپه اثبات الولد سره الله طرفته دامکان او حدوث نسبت لازمیږی۔

۲- دویم داچه د اتخاذ الولد نسبت الله طرفته شتم ځکه دے چه په دے کښے تنقیص د شان د الله تعالی دے، ځکه ولد عادةً دوالدے (مور) نه پیدا وی، چه هغے حمل کړے وی، اودا مخکښے نکاح غواړی اوتناکح باعث غواړی چه شهوت دے، او په الله باندے هیڅ باعث نشته تعالی الله عن ذلك علواً كبيراً۔

۳- اثبات الولد سره الله تعالی ته محتاج وئیل دی، ځکه توالد او تناسل ته هغه څوك محتاج وی چه استبقاء د نوع ته دا جراء دامر اود خلافت دپاره محتاج وی، نوکه الله ولد اونیسی نو هغه نه پس به خلیفه وی، چه د الله نه پس به دهغه کارونه سنبالوی، نو په دے کښے زوال اوفناء د الله تعالی لازمیږی، حال داچه الله تعالی ددے هرڅه نه منزه دے۔

دابن آدم نه مراد بعضے انسانان دی چه هغوی داوائی چه الله دپاره ولد دے لکه یهود اونصاری۔ اویا لکه د عربو مشرکانو به وئیل : ملائك د الله لونړه دی۔اوبعضو به وئیل : (العیاذ بالله) الله تعالی په پیرانو کښے واده کړیدے اود هغے نه ملائك پیدا شویدی۔

لَنْ يُعِيْدَنِيْ : په دے کښے د الله تعالی تکذیب داسے دے چه الله فرمائی : قیامت به راځی ﴿ وما خلقنا السماء والارض وما بینهما باطلاً ﴾ (ص : ۲۷) ۔ او د عربو مشرکینو به وئیل : نه راځی، دوئ د قیامت نه منکر وو، نودے انکار ته تکذیب وئیلے شویدے۔

او فلاسفه په کښے لا دا وائی چه جنت اوجهنم نشته، بلکه دوئ وائی جنت او جهنم نه مراد په نیك عمل خوشحالیدل او په بد عمل خپه کیدل دی۔بعضے په کښے داسے وائی : چه قیامت نشته اود جنت نه مراد دادے چه کله انسان نیك عمله وی او روح ئے د بدن نه خارج شی نو دا روح په بل نیك عمله سړی کښے ننوځی یا په باغونو کښے چکرے لگوی۔اود جهنم نه مراد دادے چه بدعمله سړی روح په سپی وغیره کښے ورداخل شی، ذلیل اوخوار وی، یا په ډیرانو نو

اوګـنـدونـو کنبـې پروت وی، بد بوئی پرې ورځی، دائې جهنم دے۔ دا دکفارو عقیده ده ﴿ ذلك ظن الذين كفروا فويل للذين كفروا من النار ﴾۔ [ص : ۲۷]۔

الصَّمَدُ : ددے ګنړے معنی دی : ۱- الذی کمل سُوْدَدُهٗ (هغه ذات چه سرداری ئے پوره وی)۔
۲- الذی یصمد الیه فی الحوائج (هغه ذات چه په حاجتونو کنبے ورته خلق زاری او عاجزی کوی۔ ۳- الذی لاجوف له (هغه ذات چه ډډ نه لری خوراك څكاك ته ئے ضرورت نه وی)۔

ددے حدیث مناسبت هم بالتضاد دے چه دا څیزونه دایمان منافی دی۔ (ومن الایمان ان لا یکذب الله ولا یشتمه، والا فهو کافرحقیقةً)۔ وَلَيْسَ اَوَّلُ الْخَلْقِ بِاَهْوَنَ عَلَيَّ : په دے کښې مثال بیان شویدے چه سهل اوعام فهم دے څکه چه دا خبره شاهده ده چه یوشخص از سرِنو (ابتداءً بغیر د نمونے اواصل نه) یو شے یا یوکار کول غواړی نو هغه ډیر مشکل وی، ډیر کرته هغه کار اتمام ته اونه رسیږی، لیکن کوم شخص چه مات شوے او نړیدلے شے بیا جوړول او مرمت کول غواړی نودا آسان وی څکه اصول باقی دی، نقشه موجوده ده۔ دلته هم دغه شان معامله ده چه کله الله تعالی ابتداءً پیدائش اوکړو چه هغه زمونږ په نسبت مشکل کار دے څکه الله ته خو ټول کارونه آسان دی خوکله چه الله مشکل صورت کښے پیدائش کولے شی نو کوم صورت چه زمونږ په اعتبار سره هم آسان دے دهغے اعاده به ولے نشی کولے؟۔ ۲- دویم په دے عبارت کښے تحقیق د معاد او امکان د اعادے ته اشاره ده څکه دبدن تحقق چه په کوم اجزاء او صورت باندے موقوف دے که دهغے وجود ممکن نه وے نو اولاً به نشو موجودیدلے لیکن هغه موجود دے اوکله چه ممکن شو نو ثانیاً موجودول به هم ممتنع لذاته نه وی، بلکه ممکن به وی څکه که دوباره دغه ممکن لذاته ممتنع شی نو بیا به ممکن لذاته په ممتنع لذاته باندے بدل شی اودا محال ده۔

زمانے ته کنځل کول جائز نه دی

۲۱- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «قَالَ اللهُ تَعَالٰی: یُؤْذِیْنِی ابْنُ آدَمَ یَسُبُّ الدَّهْرَ وَاَنَا الدَّهْرُ، بِیَدِیَ الْاَمْرُ، اُقَلِّبُ اللَّیْلَ وَالنَّهَارَ»، متفق علیه۔

ترجمه : او ابو هریرهؓ وائی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : الله تعالی فرمائی : بنیادم ماته تکلیف راکوی، داسے چه هغه زمانے ته بد وائی حالانکه (زمانه هیڅ نه ده هغه) خو زه یم ټول تصرفات زما په لاس کښی دی اود شپے او ورځے ګردش زما په حکم سره کیږی۔ (بخاری او مسلم)۔

تشریح : یُؤْذِیْنِی ابْنُ آدَمَ : یعنے داسے خبرے کوی چه الله پرے ناراضه کیږی ګویاکه ده الله ته ضرر ورسولو چه هغه ئے ناراض کړو، اودا ایذاء دمتشابهاتو نه ده، کیفیت ئے مجهول دے، خو خفه کول ورسره مراد دی څکه عربی لفظ دے۔ ددے حدیث مناسبت دباب سره هم بالتضاد دے

چه زمانے ته کنځل کول د ایمان سره منافي دي۔

مسئلة الاسماء و الصفات

د الله تعالی په صفاتو کښې داهل السنة والجماعة عقیده دا ده چه : کوم صفات الله خپل ځان دپاره په قرآن کریم کښې ثابت کړیدی، یا ورله رسول الله ﷺ په نبوی احادیثو کښې ثابت کړیدی هغه به مونږ هم الله لره ثابتوو، بغیر د تحریف او د تاویل نه، او بغیر د تمثیل او د تعطیل اود تفویض نه۔ مثلاً د الله دپاره ید، ساق، استواء علی العرش، رحمت، استحیاء، مجئ الی السماء الدنیا ضحك، تعجب وغیره ثابت دي۔ددے صفاتو لغوی معنے به کولے شي چه دید نه مراد لاس دے او ساق نه مراد پنډئ ده اود استواء نه مراد پورته کیدل او برابریدل دي اوداسے نور۔اوددے صفاتو به دمخلوق سره تشبیه نشي ورکولے،اوداسے به نشي وئیلے چه د الله لاس زما دلاس پشان دے، بلکه د هغه لاس هغسے دے څنګه چه د هغه شان سره مناسب دے۔اودغه شان باقي صفات هم اووایه۔ اوداسے به هم نشي وئیلے چه ددے صفاتو معاني نه دي معلومے، او الله ته سپارل شویدي، ځکه دا د مفوضو مذهب دے چه ددے صفاتو لغوی معنا ګانے هم نه کوي، نه ! بلکه ددے لغوی معاني معلومے دي خو کیفیت ئے مجهول دے، اود الله تعالی دپاره چه کوم صفات ثابت دي په هغے کښې تاویل کول هم غلط دي چه مثلاً د استواء نه دے استولیٰ (غلبه حاصلول) مراد شي، دید نه دے قدرت مراد شي، اود رحمت نه دے فیضان الخیر مراد شي۔ ددے صفاتو تاویل کول اصل کښې ددے باطلول دي۔اودا د ټولو سلفو اتفاقي مسلك دے چه ددے خلاف کول باطل دي۔

امام ابو حنیفهؒ نه په فقه اکبر کښې نقل دي : (ولا یقال ان یده قدرته لان فیه ابطال الصفة وهو قول اهل القدر والاعتزال)۔ (یعنی دا تاویل به نشي کولے چه د ید نه مراد قدرت دے ځکه په دے کښې ابطال د صفت د الله دے اودا دمعتزلو او قدریه ؤ عقیده ده)۔

دے نه معلومه شوه چه څوك د ید نه مراد قدرت اخلي هغه د امام ابوحنیفهؒ او نورو سلفوؒ په ژبه معتزلي او قدري دے لکه عام متاخرینو ددے اعتزال ارتکاب کړیدے۔ او پدے کښې رد دے په بعضو علماؤ چه هغوی د امام رازی قول پیش کوی چه (طریقة السلف اسلم وطریقة الخلف احکم) یعنی د سلفو په اسماء او صفاتو کښې تاویل نه کول هم صحیح دي او د متأخرینو تاویلات کول ډیر محکم کار دے نو وائي چه دواړه جائز شو۔ لیکن دا خبره غلطه ده ځکه چه امام ابوحنیفهؒ تاویل فی الصفات ته ابطال د صفت وئیلے دے او ته وائے دواړه جائز دي او هغه دیته د قدریه او معتزلو قول وئیلے دے نو ستا اومنو او که د امام ابوحنیفه؟!۔

سوال : رحمت خو رقة القلب (د زړه نرمیدو) ته وائي، او ید خو جارحه مخصوصه ته وائي اودا خود الله دپاره نشته۔ **جواب** : ددے سوال منشاء عظیمه غلطی ده په باب دصفاتو کښې چه بعضے متاخرینو ته لګیدلے ده۔ هغه دا چه دمخلوق اود الله تعالیٰ په صفاتو کښې فرق نه کوي۔

حال دا چه لکه څنګه چه د الله رب العزت ذات دتمامو ذواتو نه جدا دے دغه شان دهغه تمامی صفات دمخلوق دصفاتو نه جدا دی۔اوس راشه یو رحمت دمخلوق دے اوبل رحمت د الله تعالی دے۔اوپه سوال کښے ذکر شوے رحمت (رقة القلب) داد مخلوق صفت دے۔اوهرچه د الله تعالی صفت (درحمت) دے نو هغه دهغه دشان سره لائق دے چه بندګان دهغے تصور نشی کولے۔

دغه شان یو د الله لاس دے اوبل د انسان لاس دے۔ دانسان لاس جارحه مخصوصه ده، اود الله لاس دهغه د شان سره مناسب دے۔نواوس که څوك اووائی چه که ید حقیقةً اورحمت حقیقةً الله تعالیٰ دپاره ثابت شی نو بیا خو جسمیت او تشبیه لازمیږی۔ نو مونږ وایو دے نه خو بیا لازمیږی چه الله تعالی له دے وجود، حیٰوة، سمع، بصر وغیره صفات هم ثابت نشی (والعیاذ بالله)، ځکه بیا خو مشابهت او جسمیت لازمیږی۔ اولازمیږی دا چه الله دے حی نشی، سمیع، بصیر دِے نشی ځکه حیٰوة، سمع، بصر صفات خو دانسان صفات دی۔ اوس که څوك دا وائی چه الله حی دے دهغه دشان سره چه کوم حیوة مناسب وی، سمیع دے دهغه شان سره چه څنګه سمع مناسب وی، بصیر دے دهغه دشان سره چه څنګه بصر مناسب وی۔ نو همدغه خبره مونږ هم کوو په تمامی صفاتو کښے چه د الله تعالی تمام صفات دمخلوق پشان نه دی۔ او حقیقةً ثابت دی۔ هیڅ قسمه مجاز په کښے نشته۔

حاصل دا چه کوم خلق (اشاعره او ماتریدیه متاولین) د الله دپاره صرف اووه (۷) یا آته (۸) صفات منی نو په دغه اوو یا اتو صفاتو کښے هم دا احتمالات شته چه مثلًا د ارادے معنی داده چه دانسان په زړه کښے دیو څیز کول یا نه کول تیر شی۔نو دا څنګه د الله صفت جوړیدے شی؟ دارنګه سمیع غوږونو سره اوریدونکی ته وائی، نو آیا د الله دپاره هم غوږونه شته دے؟ دارنګه خالق د الله صفت دے، خلق خو لاس غواړی، بدن غواړی، نو الله لره به هم دا ثابت وی؟ اودا خو تاسو نه منئ۔ نو معلومه شوه چه په قرآن اوحدیث کښے چه کوم صفات د الله رب العزت راغلی دی دا به په ظاهر باندے حمل وی، معنی به ئے کولے شی او کیفیت به ئے الله تعالی ته سپارلے شی، اوداسے به هم نشی کولے لکه معطله چه د الله صفات نه منی۔

ددے عقیدے په باره کښے په (مختصر العلو للذهبی) کښے دسوونو علماؤ اقوال ئے راوړیدی۔

یو قول دامام مالك دے چه دهغه نه یوسړی تپوس اوکړو: (یا اباعبد الله ! الرحمن علی العرش استوٰی کیف استوٰی ؟) (رحمان په عرش څنګه استواء کړیده؟) نو امام مالك ورته سخت غصه شو، ډیر ساعت غلے وو، بیا ئے ورته اوفرمائیل: (الکیف غیر معقول، والاستواء منه غیر مجهول، والایمان به واجب، والسؤال عنه بدعة، وانی اخاف ان تکون ضالاً، وامر به فاخرج)۔ (مختصر العلو للذهبی ص (۱۴۱) ۔ ددے نه معلومه شوه چه د **تاویل عقیده په غلط فهمئ**، تحکم او ترجیح بلا مرجح باندے بناء ده۔ د اسماء او صفاتو د تفصیل دپاره: القصیدة النونیه، الاسماء والصفات مجموعة الفتاوی (۶/۵)او

الماتريدية للدكتور شمس الدين تفصيلًا اوګوره۔
بيا اسماء او صفات درے قسمه دي : ١- هغه چه صرف الله پورے خاص دي لکه الله، الرب، الرحمن، الغفار، مالك الملك وغيره۔ ٢-مشترك دي په اسم کښے د بندګانو سره اګرکه حقيقتونه ئے جدا جدا دي لکه رحيم، صبار، شکور وغيره۔٣- هغه چه د الله نه به ئے نفي کولے شي، ځکه دا د بندګانو پورے خاص دي، لکه آکل، شارب، ميت وغيره۔
يَسُبُّ الدَّهْرَ : زمانے ته کنځل کوي لکه جاهليت والا به وئيل : (يا خيبة الدهر ! تباً للدهر !) چه زمانے په مونږ دا مصيبت راوستو اود حوادث الدهر او قوارع الدهر الفاظ به ئے استعمالول ځکه ورځ او شپه محل دحوادثو ده نودوئ به نسبت ورځے ته کولو چه خير او شر دا پيدا کوي، الله تعالى ئے نه پيژندو۔ بله فِرقه داسے وه چه الله تعالى ئے خالق ګڼړلو خو نسبت د شرورو به ئے الله ته نه کولو وئيل به ئے په دے کښے بے ادبي ده د الله تعالى بلکه نسبت الشرور به ئے زمانے ته کولو او هغې ته به ئے کنځل کول۔ وَأَنَا الدَّهْرُ: په دے کښے ډيرے معنے دي :
١- امام راغب اصبهانيؒ فرمائي : ددے مطلب دادے چه کوم دهر (زمانے) ته دخير او شر نسبت کيږي د هغه خير او شر فاعل خو زه يم نو تاسو چه زمانے ته کنځل کوئ په خپله عقيده کښے نودا ماته کنځل کول دي۔ (فالمعنى: انا خالق ما يضاف الى الدهر وهو المعنى الراجح) ۔ نو چه تاسو زمانے ته کنځل اوکړئ نو دابه بالواسطه الله ته اوشي نودا تبعاً الله ته کنځلے دي۔
٢- علامه ابن حزمؒ وائي : دهر د الله داسماؤ نه يو اسم دے نودا حمل دے په حقيقت باندے۔ ليکن علامه ابن کثيرؒ په خپل تفسير (١٥١/٤) سورة الجاثيه کښے په دے رد کړيدے چه دا خبره غلطه ده ځکه دهر د الله تعالى په اسمائے حسنىٰ کښے ندے نقل، بلکه الله چه ځان ته دهر وئيلے دے نودا دپاره د رد په مشرکانو باندے چه هغوئ نسبت دهر ته کولو نو الله اوفرمائيل چه خير او شر زما دطرفنه دي، د دهر په دے کښے هيڅ اختيار نشته، کذا قال ابن منظور فى لسان العرب (٤٢٤/٤)۔
٢- بله داچه دهر خو د دنيا دزمانے مودے ته وائي اوددے اطلاق په الله تعالى نه کيږي۔ ٣- قاضي عياض فرمائي : دلته مضاف محذوف دے (اى انا مقلب الدهر والمتصرف فيه) ۔ معنى داده چه دهر اوزمانه زما په تصرف اواختيار سره جاري ده، ددے خپل اختيار نشته نو په زمانه کښے چه کوم خير او شر جاري دے داپه اصل کښے زما تصرف دے نو زمانے ته کنځل کول ماته کنځل کول دي، ځکه چه نافع اوضار حقيقةً زه يم۔ اودا معنى ددے روستنو الفاظو نه معلوميږي چه (اقلب الليل والنهار) يعني زه شپه اوورځ اړوم راړوم۔ ٤- يا معنى داده چه : (انا باق مقيم ابداً لا ازال)۔يعني زه هميشه باقي يم، فناء راباندے نه راځي، نو دهر منصوب برظرفيت دے (اى انا باق فى الدهر، مقيم ابداً) ۔ ٥ - کرمانيؒ وائي : مضاف حذف دے (اى انا مدبر الدهر)۔ (کذا فى المرعاة وتنظيم الاشتات) ۔ مقصود په دے حديث کښے تصحيح اللسان ده چه ژبه صحيح استعمال کړه۔

او قرآن کښې هم تصحيح اللسان راغلې ده لکه: ﴿ لا تقولوا راعنا ﴾ [البقرة:١٠٤] ـ يعنې مشتبه الفاظ مه استعمالوئ ـ دغه شان حديث کښې دي: (لا تقولوا واللات والعزى) ـ دا رنګ انسان به داسې نه وائي چه: (خَبُثَتْ نَفْسِيْ) بلکه (لَقِصَتْ) به وائي ـ (ما شاء الله وشئت ـ او ماشاء الله وشاء فلان) او کلمه د لو نه منع راغلې ده ـ نو په دې کښې اشاره ده چه د ژبې اصلاح يو لوئي عمل دې په ايمان کښې، او دا دمؤمن صفت دې په دې سره کاميابي حاصليږي ـ ﴿ وقل لعبادي يقولوا التي هي احسن ﴾ (الاسراء: ٥٣) ـ

بيا د دهر دوه اطلاقه دي: ١- عند المتكلمين ليل او نهار ته دهر وائي ـ او دا ليل او نهار پيدا شويدي پس دخلق السموات والارض نه ـ ددې ابتداء شته دې ـ ابن منظور په لسان العرب (٤/٤٢٤) کښې وائي: (الدهر هو الامَدُ الممدُود ـ وقيل الف سنة جَمْعُهُ اَدْهُرٌ وَدُهُوْرٌ قال الازهرى: ويقع الدهر على مدة الدنيا كلها ـ (يعنې دهر اوګدې مودې ته وائي بعض وائي زر کالو ته دهر وائي او ازهري وائي: د ټولې دنيا مودې ته دهر وائي) ـ

٢- يا دهر: تعدد الآنات ـ (اختلاف الاوقات)، يا (نسبةُ حادثٍ الى حادثٍ) ته وائي او دا د زمکې او اسمان نه مخکښې وو لکه ابن القيمؒ په القصيدة النونية ص (٤٦) کښې دا خبره غوره کړيده ـ لکه فرمائي:

اوليس ذلكم الزمان بمدة •	لحدوث شيئ وهو عين زمان ـ
فحقيقة الازمان نسبة حادث •	لسواء تلك حقيقة الازمان

او دا حقيقي معنی د دهر ده ـ

د الله تعالى صبر او تحمل

٢٢- وَعَنْ اَبِىْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ((مَا اَحَدٌ اَصْبَرَعَلٰى اَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللهِ، يَدْعُوْنَ لَهُ الْوَلَدَ ثُمَّ يُعَافِيْهِمْ وَيَرْزُقُهُمْ)). متفق عليه ـ

ترجمه: ابو موسى اشعري ؓ وائي، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه: تکليف ورکونکې خبرو آوريدو سره الله تعالى نه زيات صبر او تحمل کونکې بل هيڅوک نشته ـ خلق هغه دپاره ځوئې تجويز کوي (او په دې هم هغه ترې بدل نه اخلي بلکه) هغوي ته عافيت ورکوي او روزي ورته رسوي (بخاري او مسلم) ـ

تشريح: عَلٰى اَذًى يَسْمَعُهُ: د يسمعه قيد ئې ځکه زيات کړو چه هغه پرې عالم دې او بيا هم صبر کوي ـ ترکيب: ما احد اسم د ما دې او اصبر اسم تفضيل دې من الله وريورې متعلق دې او اذى موصوف يسمعه جمله صفت دې ـ صبر په صفت دبندګانو کښې دګناهونو وغيره نه بنديدلو او په طاعاتو باندې مضبوط کيدلو ته وائي ـ او د الله په صفاتو کښې دا دمتشابهاتو نه دې او لازم ددې صفت سره دا دې چه بنده ته عذاب ورنکړي په جلتئ سره بلکه آخرت ته ئې اوساتي ـ

اذی : اسم مصدر دے دآذیٰ یُؤذِیٰ باب افعال نه په معنی د مُؤذی اسم فاعل سره دے اوددے دپاره موصوف حذف دے یعنی (کلام مؤذٍ قبیح)، هغه کلام چه ضرر ورکونکے اوقبیح وی۔ مطلب داچه د ﷲ نه لوئی صبرناك بل هیڅ څوك نشته، چه هغه تکلیفونه دخلقو اوری او بیا هم عذاب زر نه ورکوی بلکه قیامت ته ئے ساتی۔ نو حدیث کښے اشاره ده دیته چه صبر بهترین شے دے او تسلی ده مؤمن ته چه مصیبتونه برداشت کوه ددے جزاء ډیره مزیداره ده۔ ﷲ فرمائی ﴿ انما یوفی الصابرون اجرهم بغیر حساب ﴾ (الزمر : ۱۰)۔ دهر عمل جزاء محصوره او په حساب سره ده، اود صبر جزاء بے حسابه ده، او سخته زورنه ده مجرمینو ته چه الله درله دنیا کښی سزا نه درکوی نو غرور کښی مه راځه دا درله آخرت کښی درکوی نو تاوان طرفته روان ئے، زر د خپلو گناهونو نه توبه کړه۔

یدعون له الولد : ددے دوه معنی دی : ۱- ینسبون له الولد ۔ (د اولادو نسبت ورته کوی) ۲- یا لام په معنی دمع سره دے (ای یدعون معه الولد)۔ (د هغه سره شریك ولد گنړی)

د توحید اهمیت او عظمت

۲۳- وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ: كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ ﷺ عَلٰى حِمَارٍ لَيْسَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ اِلَّا مُؤَخَّرَةُ الرَّحْلِ فَقَالَ: «يَامُعَاذُ! هَلْ تَدْرِيْ مَا حَقُّ اللهِ عَلٰى عِبَادِهٖ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ؟» قُلْتُ: اَللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ. قَالَ: «فَاِنَّ حَقَّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ اَنْ يَعْبُدُوْهُ وَلَايُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ اَنْ لَّا يُعَذِّبَ مَنْ لَايُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا» فَقُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ! اَفَلَا اُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ؟ قَالَ «لَاتُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوْا». متفق علیه۔

ترجمه : معاذ ﷺ وائی، دیو سفر په دوران کښی زه د رسول ﷲ ﷺ پسے د سورلئ په خربانده سور ووم، زما اود نبی کریم ﷺ ترمینځ صرف دکجاوے ورستنے حصه حائله وه، نبی کریم ﷺ ماته اوفرمائیل : اے معاذ! پو هیږے، په بندگانو د ﷲ څه حق دے؟ ماعرض اوکړو ﷲ اود هغه رسول بهتر پوهیږی، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : په بندگانو د ﷲ حق دادے چه د هغه عبادت اوکړی، هغه سره څوك شریك نه کړی۔ اود بندگانو په ﷲ دا حق دے چه ﷲ سره چا شریك نه وی جوړ کړے هغه له عذاب ورنه کړی (دے اوریدو سره) ما عرض اوکړو، یا رسول ﷲ! دا خوشخبری زه خلقو ته واوروم؟۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : خلقو ته دا خوشخبری مه آوروه ځکه چه هغوی به په دے بهروسه اوکړی او عمل کول به پریدی ۔ (بخاری اومسلم)۔

تعارف د معاذ ﷺ : دجبل ځوئے، کنیه ئے ابو عبد الرحمن ده، انصاری خزرجی صحابی دے۔ د (۱۸) کالو په عمرئے اسلام راوړیدے بدری صحابی دے۔ دقرآن او احکام شرعیه ؤ په علومو باندے دهرچانه ښه پوهیدلو۔ نبی اکرم ﷺ دده په باره کښے فرمائی : (واعلمهم بالحلال والحرام معاذ بن جبل) ۔ ابن مسعودؓ فرمائی : دمعاذ تشبیه به مونړ د ابرا هیم علیه السلام سره ورکوله۔

(وکان امة قانتاً لله حنیفاً ولم یك من المشرکین) ۔ عمر فاروقؓ دده په باره کښې فرمائی: (عجزت النساء ان تلدن مثل معاذ) ۔ (زنانه عاجزې دی چه د معاذ په شان بچې راوړی) نبی اکرم ﷺ یمن ته قاضی او معلم لیګلے وو۔ (وکان امام الفقهاء وکنز العلماء)۔ او په انصارو کښې حلیم اوبردبار ځوان وو، حیاء او سخاء اوجمال په کښې وو۔ په کال (۱۷ هـ) کښې د (۳٤) کالو په عمر په شام کښې په طاعون بیمارئ باندې وفات شویدې۔ ؓ۔ دده نه ټول نقل شوی احادیث (۱۵۷) دی۔
مناسبت دحدیث دکتاب الایمان سره دادې چه: اعمال په ایمان کښ داخل دی نو ایمان مرکب دې ۔
تشریح : عَلٰی حِمَارٍ : ددې چمار نوم عُفیر وو، مقوقس ورته هدیه کړے وو لکه بل روایت کښې ذکر شویدې۔ (کما فی البخاری بشرح الفتح : ٤٥/٦)۔
فائده : نبی اکرم ﷺ به حیواناتو له هم نوم کینبودلو لکه کاسې له ئے مغراء، اوښې له ئے قصواء، عضباء، جدعاء، اس له ئے مرتجز ، اللحیف، نزار، ظرب، سبحه، الورد، سکر، اوقچر له ئے دُلدل، او قچرې له ئے فضه، او ګډو بیزو له ئے سقیا، غیاثه نوم ایښے وو۔ ونحو ذلك اوګوره زاد المعاد (۲۹/۱) تفصیلاً۔ ۲- په حمار باندې سورلی کول عاجزی پیدا کوی اوتکبر ختموی لکه حدیث کښې دی: (عن عبد الله بن شداد مرفوعاً، قال: من لبس الصوف واعتقل الشاة ورکب الحمار واجاب دعوة الرجل الدُونِ او العبد لم یکتب علیه من الکبر شیئ) کتاب الزهد ص: ۲۰ للامام احمد).

(چا چه د وړئ واغوسته او ګډه ئے اولوشله او په خر باندې ئے سورلی اوکړه او د خکته (معمولی سړی) یا غلام دعوت ئے قبول کړو نو ده باندې به د تکبر نه هیڅ برخه نشی لیکلے)۔
بیا په یو حمار باندې دوه کسان سوریدلو نه منع راغلے ده ځکه ظلم دې په خره باندې مګر کله چه خر مضبوط وی برداشت کولے شی نو بیا جواز لری۔ اودلته هم دا حمار مضبوط وو اوکله چه نزدې ځائے پورې ځی نو بیا درې کسان هم پرې سوریدې شی۔
مُؤَخَّرَةُ الرَّحْلِ : (لرګے دپالان) په مُؤَخِرَةُ الرَّحْلِ کښې دولس قرأتونه دی: مخفف،مشدد، په فتحه د خاء سره یا په کسره سره، مهموز یا غیر مهموز دې د یو بل سره لګوه نو دولس جوړیږی۔ رحل: (پالان) په اوښ باندې اچولے شی۔ اواګاف (کته) په حمار باندې اچولے شی، دلته کیدې شی چه حمار غټ وو، نوځکه ئے پرې رحل اچولے وو۔ ۲- یا د یو بل په معنی سره استعمالیږی۔ ۳- یا دلته مضاف حذف دې یعنی (قدر مؤخرة الرحل) یعنی دومره قریب ورته ناست وو لکه د مؤخرة الرحل په اندازه باندې، نودلته اګرچه مؤخرة الرحل (لرګے) نشته، خو هغه اندازه مراد ده۔ مؤخرة الرحل اندازه د سُترې ده یعنی دیو شرعی ګز په مقدار، کما قال عطاء فی المصنف لعبد الرزاق (۹/۲) وشرح مسلم (۱۹٦/۱) وفتاوی الدین الخالص (۵٦۰/۳) ۔
دمؤخرة الرحل نه مرا د هغه لرګے دې چه سوریدونکے ئے خپل شاته ګدی دې دپاره چه تکیه ورته

اووهي۔ مقصد ددې عبارت نه مبالغه ده په زيات قرب كښې چه ما داخبره يقيني اوريدلې ده څكه چه ډير نزدې ورته ناست ووم۔ هل تدرى : دې كښې مخاطب متوجه كول غرض وى۔

اَنْ لَّا يُعَذِّبَ مَنْ لَايُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا : په دې حديث او روستني حديث كښې يو **اشكال** دې چه الله تعالى دلته وعده كړيده چه چا شرك نه وى كړې د الله سره او عبادت كوى نو جنت ته به ځى او عذاب به ورله نه وى، لكه روستو حديث كښې راځى (حرمه الله على النار) او حال دادې چه نورو احاديثو كښې راځى چه چا قتل اوكړو، زنا يا تكبرئې اوكړو نو اور ته به داخليږى، بيا به د شفاعت يا د رحمت د الله په ذريعه داور نه خارجيږى نو ددې تعارض تطبيق څه دې ؟ نو ددې اتلس (۱۸) جوابونه دى لكه فتح البارى، فيض البارى، تحفة الاحوذى، مرقاة او مرعاة كښې ذكر شويدى بعضې دهغې نه دا دى :

۱ - دلته اوچت مؤمن مراد دې چه د توحيد سره عبادات هم كوى او كبيره گناهونو نه ځان ساتى او كه ترينه اوشى نو زر توبه اوباسى۔ او هيڅ قسم شرك نه كوى نو ده له به الله عذاب نه وركوى او اور به پرې حرام وى، څكه څوك چه شريكان نه جوړوى هغه كښې كبيره نه وى غالباً۔ يا محمول دې په مخلص باندې لكه : (ان يعبدوه) نه معلوميږى چه عبادت ئې كړيدې ليكن ددې دواړو جوابونو رجع يو جواب ته كيږى۔ او دا قول د حسن بصرى دې هغه فرمائى : (معناه من قال الكلمة وادى حقها وفريضتها فيكون الامتثال والانتهاء مندرجين تحت الشهادتين) (څوك چه كلمه اووائى او ورسره دهغې فرائض او حقوق ئې ادا كړى وى نو دا فرائض او حقوق په شهادتينو كښې داخل دى)۔

۲- **جواب** : امام بخارىؒ فرمائى : چه دا په باره دهغه چا كښې دې (لمن تاب من الشرك ثم مات على ذلك قبل ان يتمكن من الاتيان بفرض آخر) يعنې چه د شرك نه توبه اوباسى او ايمان راوړى او زر مړشى چه د نيك او بد اعمالو فرصت ورته ملاؤ نشى۔ ليكن داخبره ضعيف ده، وجه داده چه دلته حق العباد جمع راغلې ده نو تخصيص ته ضرورت نشته چه خاص شخص مرادشى۔

۳- **جواب** : سعيد بن المسيبؒ او يو جماعت دسلفوؒ فرمائى : چه دا د عدم عذاب او حرمة النار حكم په هغه وخت كښې وو چه امر او نهى او فرائض او احكام نه وو نازل شوى، په هغه وخت كښې صرف په توحيد باندې انسان دجنت مستحق گرځيدلو۔

۴- **جواب** : بعضې دا وائى لكه ملا على قارى په مرقاة (۹۸/۱) كښې چه مراد دادې چه اور كښې به هميشه نه وى كه اورته لاړ شى دگناهونو په وجه، نو بيا به هم آخر جنت ته داخليږى۔ نو د لا يعذب نه مراد لا يعذب خالداً دې۔

ليكن صاحب المرعاة (۸۹/۱) مباركفورى صاحبؒ په دې باندې رد كړيدې چه ددې تاويل ته حاجت نشته څكه چه دلته عدم تعذيب دهغه چا په حق كښې دې چه د الله عبادت كوى يعنې طاعات كوى او دگناهونو نه پرهيز كوى، او تصديق او اقرار كوى، اوشرك نه كوى۔ او څوك چه داشان وى نو هغه دپاره مطلقاً عذاب نه وى، او هغه به اولاً جنت ته داخليږى، نو دا تاويل صحيح نه دې۔

۵- **جواب** : شاه ولي الله الدهلويؒ فرمائي : دنار نه مراد نارشديده او عذاب شديده دے، لکه دكافر دپاره اود مسلمان عاصي دپاره به عذاب خفيف وي۔
٦- **جواب** : دعدم عذاب نه مراد دادے چه دمؤحد تولو اندامونو ته به عذاب نه وي بلکه مواضع السجود مستثنیٰ دي لکه په حديث د شفاعت کښې دي : (ان الله حرم على النار ان تاكل مواضع السجود)۔ ۷- **جواب** : دعدم عذاب نه مراد (عذاب مثل عذاب الكفار) دے يعني دكافرو عذاب په دے اعتبار سره دے چه ايذاء او تعذيب مقصود وي، اود مؤمن عذاب په دے جهت سره دے چه تطهير او پاکوالے ئے راشي۔ نو دكفارو پشان عذاب په مؤمن حرام دے۔ ۸- **جواب** : دلته په دے احاديثو کښې د (لا اله الا الله محمد رسول الله) اصلي اثر اوخاصيت بيانول غرض دي چه دايمان اصلي اثر اوخاصيت دادے چه مؤمن جنت ته داخلوي اواور پرے حراموي، په دے شرط چه نور موانع ورسره نه وي، معني داده : (ان لا يعذب اذا لم يمنع مانع) ۔ حديث کښې دي : چه څوك په ښه شان اودس اوکړي اوبيا دوه رکعته اوکړي (لم يحدث بها نفسه) نو جنت به ورله الله ورکړي۔ نو ددے سره دا مراد وي چه ددے سړي به ايمان وي، اونورد ايمان منافي کارونه به ورسره نه وي۔ نو دلته دايمان په وجه جنت ملاويږي خو کله چه ورسره معاصي او ذنوب يوځائے نشي اوکه دا موانع يوځائے شي نود ايمان اثر ئے پټ کړو نو دځه وخت دپاره به اورته لاړ شي خو کله چه اور داګناهونه اوسيزي نو اصل ايمان به پاتے شي بيا به انسان جنت ته داخل کړي۔ اودا (قيد د اذا لم يمنع مانع) ښه جواب دے هرځائے کښې جاري کيږي، ددے مثال دادے لکه چاقو کښې اثر دغوڅولو شته دے خو چه مانع موجود نه وي، تهوپك کښې کښې اثر شته خو چه مانع موجود نه وي، دغه شان عبادت او توحيد کښې اثر دادے چه انسان جنت ته داخلوي کله چه مانع موجود نه وي۔ نو دلته اصلي ثواب ددے عمل بيانول مقصود وي ځکه دا قسم بشارت ذکر کيږي۔
لَاتُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوْا : **سوال** : معاذ بن جبلؓ خو رسول الله ﷺ دإخبار ورکولو نه منع کړو نو بيا ولے معاذؓ مونږ ته خبر راکړو ؟ **جواب** : ۱- معاذ ته دا معلومه وه چه دنبي اکرم ﷺ دمنع نه مقصد دادے چه (لاتبشرهم حتى يتعودوا على الاعمال) يعني دا خلق نوي مسلمانان دي په تکاليفو عادت نه دي نو که بشارت ورکړے شي په دے باندے به اکتفاء اوکړي او نور اعمال به نه کوي۔ اوکله چه صحابهؓ په اعمالو باندے عادت شو نو خبرئے ورته ورکړو۔
۲- **جواب** : روستو حديث کښې راځي (فاخبر معاذ تأثماً) يعني معاذ دكتمان العلم دګناه نه ځان بچ کولو دپاره ددے خبر خلقو ته ورکړو ځکه (من كتم علماً الجم بلجام من نار) اوهغه ته دا معلومه وه چه دا نهي د نبي اکرم ﷺ د تحريم دپاره نه ده ځکه که د تحريم دپاره وے نو بيا ئے ولے معاذ ته دا بشارت ورکولو، بلکه دا نهي دمصلحت دپاره وه۔ دلته په (اذا ابتلى الرجل ببليتين فليختر اهونهما) باندے عمل شويدے ځکه يو طرفته د نبي اکرم ﷺ امر دے چه مه بيانوه، بل طرفته د

کتمان العلم گناه هم لویه ده۔ نو معاذ په دوه مصیبتونو کښې راګیر شویدے نو د نبی اکرم ﷺ په خبره ئے عمل اوکړو چه ابتداء کښې ئے دا بشارت بیان نه کړو، اود کتمان العلم دګناه نه د بچ کیدو دپاره ئے په آخره کښې ددے خبر ورکړو۔

۳- جواب : دا نهی مقیده وه په اتکال باندے یعنی خبر ځکه مه ورکوه چه هسے نه توکل به اوکړی او اعمال به پریدی، نو معاذ بیا خبر ورکړو چه هغه باندے داتکال (بشارت باندے دتوکل کولو او نورو عملونو پریخودلو) ویره نه وه ځکه چه قید زائل شو نو مقید هم زائل شو۔ ددے جواب اود اول جواب حاصل یو دے، بل جواب روستو راځی۔

فائده : دے حدیث کښې د (فیتکلوا) معنی ده دوئ به توکل اوکړی په هغه اعمالو کښې چه سنن اونوافل دی، او هرچه فرائض او واجبات دی نو د هغے کول خو ضروری دی، اودا وعده د عذاب نه ورکولو د هغه چا دپاره ده چه فرائض او واجبات خو کوی لیکن که هغوی ته په دے باندے بشارت ورکړے شی نو هغوی به بیا نوافل او مستحبات اوسنن وغیره نه کوی، بلکه دا به وائی چه زمونږ ددخول الجنة دپاره صرف فرائض کافی دی۔ نو په خبر نه ورکولو کښې غرض دا دے چه اوچتے مرتبے ورته حاصلے شی۔ نو اتکال راجع دے نوافل او سننو او اجتهاد فی حق الله ته۔ اودا مطلب نه دے چه خبر ځکه مه ورکوه چه هسے نه بیا به فرائض نه کوی۔ ځکه دا مخالف دے داول سر دحدیث نه چه په هغے کښے (ان یعبدوه ولا یشرکوا به) ذکر دے۔ اوعبادت نه مراد فرائض دی، که فرائض هم نه وی نو بیا دا وعده دسره نشته دے۔

بشارت : وئیلے شی (اَلْخَبَرُ الاَوَّلِيُّ السَّارُ الَّذِیْ یظهر منه اثر السرور فی البشرة۔ (دا هغه اول خبر ته وائی چه خوشحالونکے وی چه د هغے نه د خوشحالئ اثر په بدن باندے ښکاره شی)

فائده : داحدیث او راتلونکے حدیث دواړه جدا جدا حدیثونه دی، کما قال الحافظ فی الفتح (۴۵/۶) ځکه په هغه روایت کښے بشارت په کلمة التوحید دے اودلته په عبادت او عدم الاشراك دے۔ دغه شان هغه روایت کښے ورسره دا الفاظ زیات دی (فاخبر بها معاذ عند موته تأثماً) اورد ئے کړیدے په حمیدی باندے چه دواړه ئے یو حدیث شمارلے دے په دے وجه چه دواړو کښے (یتکلوا) لفظ راغلے دے۔

دجهنم نه نجات

۲۴- وَعَنْ اَنَسٍ: اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ، وَمُعَاذٌ رَدِیْفُهٗ عَلَی الرَّحْلِ قَالَ: «یَامُعَاذُ!» قَالَ: لَبَّیْكَ یَارَسُوْلَ اللهِ وَسَعْدَیْكَ. قَالَ: «یَامُعَاذُ!»، قَالَ لَبَّیْكَ یَارَسُوْلَ اللهِ وَسَعْدَیْكَ، قَالَ: «یَا مُعَاذُ!» قَالَ: لَبَّیْكَ یَارَسُوْلَ اللهِ وَسَعْدَیْكَ ثَلٰثًا. قَالَ: «مَا مِنْ اَحَدٍ یَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهٖ اِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَی النَّارِ» قَالَ: یَارَسُوْلَ اللهِ! اَفَلَا اُخْبِرُ بِهٖ

النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوْا ؟ قَالَ: «اِذًا يَتَّكِلُوْا» فَاَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهٖ تَاَثُّمًا» . متفق عليه۔

ترجمه : انسؓ وائی، یو ورځ نبی ﷺ هغه وخت چه (په سفر دوران کښې) په سورلۍ وو او معاذؓ ورپسے سور وو، وے فرمائیل : اے معاذ ! هغه وئیل : یارسول الله ! حاضر یم او ستا دحکم سره موافق یم، بیا نبی کریم ﷺ اوفر مائیل : اے معاذ ! معاذ وائی ما عرض اوکړو، یارسول الله ! حاضر یم او ستا دحکم سره موافق یم، په دریم ځل رسول الله ﷺ معاذ لره مخاطب کړو، هغه بیا اوویل : حاضر یم، دغسے درے ځله مخاطب کولو نه پس ئے معاذؓ ته اوفرمائیل : د الله کوم بنده چه ربنتینے زړه سره ددے خبرے ګواهی اوکړی چه الله نه سیوا بل څوك دعبادت لایق نشته او محمد (ﷺ) د الله رسول دے نو الله تعالی په هغه د دوزخ اور حراموی۔ دے آوریدو سره معاذؓ عرض اوکړو یا رسول الله ! دخوشحالۍ دے زیری نه زه خلق خبر کړم، چه ددے په آوریدو سره خوشحاله شی؟، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : نه، خلق به په دے تکیه (بهروسه) اوکړی۔ انسؓ وائی، معاذؓ دمرګ په وخت ددے خبر خلقو ته ورکړو دے دپاره چه دحدیث پټولو ګناه پرے نه وی۔

تشریح : دا حدیث انسؓ دمعاذ نه نقل کوی، بیا دلته نبی ﷺ خبره درے ځله اوکړه دپاره دمتوجه کولو د معاذ اود اهتمام دشان ددے خبرے دپاره، لکه دا د نبی اکرم ﷺ عادت مبارك وو چه کله به یوه خبره مهمه وه نو درے ځله به ئے کوله۔

لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ : دا دواړه لفظین د الله دپاره هم استعمالیږی لکه په حج او عمره کښې ابن عمر استعمال کړیدی۔ معنی ئے داده چه حاضر یم امرته اوموافق یم ستاد حکم اود بندګانو دپاره هم استعمالیږی۔ لبيك : تشنيه ده مضاف ده دپاره دتاکید۔ معنی د تکثیر اود تکریر ورکوی، دلبّ نه ماخوذ دے دوه معانی لری ، یو (اجاب)، بل (اقام)۔ نو تقدیر دعبارت ددواړو دادے : اجبت لك اجابة بعد اجابة، او اقمت على طاعتك اقامة بعد اقامة)۔ یعنی ستا خبره بار بار منم اوستا په طاعت کښے بار بار ولاړ یم۔

سعديك : (اى ساعدت طاعتك مسعادةً بعد مساعدة)، ستا دحکم بار بار موافق یم۔

وَمُعَاذٌ رَدِيْفُهٗ : (اى راكب خلفه ﷺ) ردیف روستو سور شخص ته وائی، د ردْف نه ماخوذ دے روستنۍ حصه د شئ ته وائی۔ عَلَى الرَّحْلِ : په پالان دخره باندے کما مر ۔ اَفَلَا اُخْبِرُ بِهٖ : دهغه مخکښے اعتراض نه ۳ – جواب دا هم دے چه نبی اکرم ﷺ معاذ ته فرمائیلی وو چه خبر مه ورکوه ترڅو چه زه خبر ورنکړم خو بیا نبی اکرم ﷺ روستو خبر ورکړو کله چه صحابوؓ په اعمالو کښے کوششونه شروع کړل نو معاذ هم خبر ورکړو۔

فائده : تخصیص په علم سره دبعضے کسانو جواز لری لکه امام بخاریؒ باب تړلے : باب من خص بالعلم قوماً دون قوم (۱/ ۲٤) ۔ اودا حدیث ئے راوړیدے۔ اووجه دا ده چه کیدے شی چه په بعضو کښے دیوے خبرے استعداد وی چه هغه په نورو کښے نه وی، ممکنه ده چه دهغویٰ دپاره

سبب دگمراهئ اوگرځي۔ ثالثًا: دا باب تفعل دے یو خاصیت ئے تجنب هم دے ای تجنباً عن اثم کتمان العلم۔ یعني دوجے دځان ساتلو دگناه دکتمان العلم نه۔

په ایمان باندے خاتمه دجنت ضمانت دے

۲۵- وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ الْغِفَارِیِّ قَالَ: اَتَیْتُ النَّبِیَّ ﷺ وَعَلَیْهِ ثَوْبٌ اَبْیَضُ وَهُوَ نَائِمٌ ثُمَّ اَتَیْتُهٗ وَقَدِ اسْتَیْقَظَ فَقَالَ: «مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ثُمَّ مَاتَ عَلٰی ذٰلِكَ اِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ» قُلْتُ: وَاِنْ زَنٰی وَاِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: «وَاِنْ زَنٰی وَاِنْ سَرَقَ» قُلْتُ: وَاِنْ زَنٰی وَاِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: «وَاِنْ زَنٰی وَاِنْ سَرَقَ» قُلْتُ: وَاِنْ زَنٰی وَاِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: «وَاِنْ زَنٰی وَاِنْ سَرَقَ عَلٰی رَغْمِ اَنْفِ اَبِیْ ذَرٍّ». وَكَانَ اَبُوْ ذَرٍّ اِذَا حَدَّثَ بِهٰذَا قَالَ وَاِنْ رَغِمَ اَنْفُ اَبِیْ ذَرٍّ. متفق علیه.

ترجمه: ابو ذر غفاریؓ وائي: زه یوځل دنبي کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شوم، نو نبي کریم ﷺ یوه سپینه کپړه اغوستے اوده وو (زه واپس راغلم) بیا دوباره خدمت کښې هغه وخت حاضر شوم چه نبي کریم ﷺ بیدار شوے وو، زما لیدو سره ئے اوفرمائیل: کوم سړی چه دزړه په صدق سره لا اله الا الله اووئیله (یعني په رښتینے زړه سره ئے د الله تعالی دوحدانیت اقرار اوکړو) او په دے عقیده وفات شو، نو هغه به ضرور جنت ته ځي، ما عرض اوکړو: اګرکه (د) غلا اوزنا (پشان لوئے ګناهونه) ئے کړے وي۔ نبي کریم ﷺ اوفرمائیل: آو، اګرکه غلا او زنائے کړے وي، ما بیا (په دویم ځل ډیرے حیرانتیا سره) عرض اوکړو: اګرکه هغه دغلا او زنا جرم کړے وي؟ (په دریم ځل هم) نبي کریم ﷺ دا اوفرمائیل: آو، اګرکه هغه غلا او زنا کړے وي۔او اګرکه دا خبره په ابو ذر باندے نابرداشته لګي (راوي وائي) چه کله به ابو ذرؓ داحدیث بیانولو (نو دفخر په طور به ئے) دا آخري جمله: اګرکه په ابو ذر باندے داخبره نابرداشته لګي، ضرور نقل کوله۔(بخاري اومسلم)۔

تعارف دابو ذر غفاري ؓ: دده په نوم کښې ډیر اقوال دي مشهور قول جندب بن جناده دے، دادکبار الصحابه نه دے، قدیم الاسلام پنځم مسلمان دے، داسلام راوړلو نه پس خپل کلي ته لاړو اود خندق نه پس مدینے ته راغلو اوده به د بعثت نه مخکښې هم عبادت کولو، دده ډیر فضائل دي۔نبي اکرم ﷺ دده په باره کښې فرمائي: (ما اظلت الخضراء ولا اقلت الغبراء اصدق لهجةً من ابي ذر) (یعني دآسمان نه لاندے اود زمکے دپاسه دابو ذر نه څوك په لهجه کښې رشتینے نه شته)۔ په دنیا کښې ډیر زاهداوے رغبته وو، تردے چه دا نظریه ئے جوړه شوے وه چه څه شئ ذخیره کول اوخزانه کول جائز نه دي۔امام ابوداودؒ فرمائي: د ابن مسعودؓ سره په علم کښې برابر دے۔ ربذه کښې اوسیدلو اوهلته د تنهائي په حالت کښې دعثمانؓ دخلافت په دور کښې په کال (۳۲ هـ) کښې وفات شو، او ابن مسعودؓ پرے جنازه اوکړه۔ رضي الله تعالی عنه۔

تشریح : اَتَیتُ : ۱- دا خو یا ملاقات لہ راغلے دے۔ ۲- یا مسئلے تپوسلو دپارہ راغلے دے۔ ظاھر دحدیث اول دے۔ یا بطور معجزہ نبی اکرم ﷺ خبر ورکریدے چہ ستا پہ زرہ کبنے دا تپوس کول دی۔ وَهُوَ نَائِمٌ : راویان اکثر داسے قیودات ذکرکوی، دے دپارہ چہ خپلہ خبرہ سامع تہ قوی ښکارہ کړی۔دلتہ ابو ذرؓ ډیر د ادب نہ کار اخستے دے دمشر ادب ئے کړے او خوب نہ ئے نہ دے پاخولے، بل دا چہ د وخت لحاظ ئے کړیدے۔

لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللہُ : دے نہ مراد ټول ایمانیات دی اوټولہ کلمہ پہ احادیثو کبنے نہ دہ ذکر مگر پہ کتاب مسند الفردوس کبنے راغلے دہ چہ مرقاۃ پہ (۷۶) کبنے ھغہ حدیث ذکر کړیدے وفیہ عثمان بن مطر وھو ضعیف ۔ اګرکہ دا کلمہ جدا جدا پہ احادیثو کبنے راغلے دہ خو مجموعہ کلمہ د توحید علماؤ یو ځائے کړیدہ۔ اوپہ حدیث کبنے دمستدرك (۶۱۵/۲) کبنے چہ راځی چہ آدم علیہ السلام عرش تہ اوکتل (فاذا فیہ مکتوب لا الہ الا اللہ محمد رسول اللہ) فھو حدیث موضوع منکر، فیہ عبد الرحمن بن زید بن اسلم وھو ضعیف کذا فی الدین الخالص (۷۸/۲) (یعنی پہ عرش باندے کلمہ د توحید لیکلے شوے وہ نو دا منکرحدیث دے) لکہ آمنت باللہ الفاظ ھم علماؤ یو ځائے کړیدی۔ نود اځہ بدکار نہ دے، ددین نہ معلومہ دہ، لیکن زمونږ مقصد دادے چہ دلا الہ الا اللہ محمد رسول اللہ ټولے کلمے ذکر چہ کوم عوام کوی نو دا صحیح نہ دے بلکہ کومو حدیثونو کبنې چہ د توحید دکلمے فضیلت راغلے دے نو دھغے نہ مُراد صرف لا الہ الا اللہ دہ، محمد رسول اللہ جملہ بہ ورسرہ دذکر پہ طور نہ شاملوی، نو عوام خلق چہ دسلام ګرځولو نہ پس مجموعہ کلمہ وائی نو دا صحیح نہ دہ، دا عبادت کول دی پہ غلطہ طریقہ۔

اِلَّا دَخَلَ الْجَنَّۃَ : پہ دے حدیث کبنے ھغہ اشکال سابق نہ راځی چہ صرف پہ کلمہ د توحید څنګہ جنت تہ داخل شو؟۔ ځکہ چہ دلتہ دخول الجنۃ مطلق دے کہ ګناھونہ ورسرہ ملګرے وی، نو دخول ثانوی بہ مراد وی، اوکہ نیك اعمال ورسرہ وی نو دخول اولی بہ مراد وی۔وان زنی وان سرق : دا دواړہ ئے خاص ذکر کړل نہ نور ګناھونہ ځکہ چہ زنا صرف حق اللہ ضائع کول دی، اوسرقہ کبنے حق العبد دے او ھرچہ حق اللہ دے ھغہ پہ کبنے ضمناً دے۔نود نورو ګناھونو رجع ھمدے دواړو تہ کیږی۔ اودا الفاظ ابوذرؓ ذکر کړل دپارہ دتابعداریٔ دنبی اکرم ﷺ ځکہ کلہ چہ جبریل علیہ السلام داخبرہ نبی اکرم ﷺ تہ کولہ نو نبی اکرم ﷺ ورتہ اوفرمائیل : وان زنی وان سرق، نو ابوذرؓ ھم دا الفاظ نبی ﷺ تہ ذکر کړل، ففیہ توافق الخاطرین۔

بیا دا الفاظ درے ځل ذکر شو : ۱- یا خو اشارہ دہ غیرت دِ ابوذرؓ تہ د اللہ دپارہ چہ پہ ګناھونو باندے خفہ کیږی، چہ اللہ دِے ګنا ھګار، اوداللہ مخالف جنت تہ بونہ ځی، ولے د اللہ خلاف کوی!۔

۲- دویم دابوذرؓ پہ ذھن کبنے بل حدیث وو چہ (لایزنی الزانی حین یزنی وھو مؤمن) (چہ زنا کار پہ وخت د زنا کبنې مومن نہ وی) نو دا خو مؤمن نہ دے نو څنګہ جنت تہ ځی؟۔ نو دلتہ وائی چہ

آو، جنت ته به سره د زنا اوسره د سرقه نه ځي، لیکن اورته به هم همیشه دپاره نه ځي که لاړ شي نو بیا به ترې راوځي او آخري عاقبت ئې جنت ته داخلیدل دي۔ اود (لایزني الزاني حین یزني وهو مؤمن) مطلب دادے چه کامل مؤمن نه دے لکه چه خپل ځائے کښې به راشي۔ نود ابوذرؓ په ذهن کښې دا تعارض ښکاره کیدو ځکه ددے الفاظو تکرار کوی۔ ۳- یا دکبائر د ارتکاب باوجود جنت ته داخلیدل دابوذرؓ په نیز ډیر عظیم قابل تعجب خبره وه، نو ځکه ئې تکرار اوکړو۔ او د ابوذرؓ د استعظام او انکار کولو دپاره نبی اکرم ﷺ هم تکرار اوکړو۔ چه ستا دا تعجب صحیح نه دے ځکه سړے مومن دے اگرکه فاسق دے۔ او کافر خو نه دے چه انسان پرے تعجب اوکړی۔ اودے حدیث کښې رد دے په معتزلهِ اوخوارجو باندے صراحةً چه په گنا هونو باندے انسان جهنم ته خالداً مخلداً نه ځي، اود ایمان نوم ترینه بالکل زائله کیږی هم نه۔نو په دے حدیث کښې اشاره ده د الله د رحمت پراخئ او وسعت ته۔

نکته دقیقه: په امت کښې انسانان دوه قسمه دی: متساهل فی المعاصی (گنا هونو کښې نرمي او سستي کونکی) نو هغوی ته وائي (لا یزني الزاني حین یزني وهو مؤمن) چه ویره اوکړه چه ایمان درنه خراب نشي۔ دویم قسم خائفین دی چه نا اُمیدئ ته رسیږی نو هغوی ته وائی تاسو ولے نا اُمیده کیږئ الله به کله هم دمسلمان سره دکافر غونته معامله اونکړی چاته چه د اسلام غونډے عظیم دولت نصیب شو دهغه د نا اُمیدئ سره څه کار دے (وان زنی وان سرق) اگرکه انسان زنا یا غلا وغیره گناهونه کړے وی اول او آخر به د الله رب العزت دمغفرت اود رحمت عظیم دریاب په چپو راشي او ددے عظیم گناهگارانو بیړئ به پورے باسي۔ الله اکبر! څه مهربانه رب العالمین دے۔ او څومره فراخه دین دے!!۔

عَلٰی رَغْمِ اَنْفِ اَبِیْ ذَرٍّ: رغم دمصدر صیغه ده د باب د سمع نه مُثَلَّثُ الفاء دے فتحه د راء، کسره د راء او ضمه دراء اوسکون العین درے واړه پرے لوستل جواز لری۔ رغم۔ اوداً د رغام په فتحه دراء نه جوړ دے په معنی دخاورے سره۔ د رغم معنی ده خړوالے د پوزے (په خاورو ککړ کیدل)، مراد ترینه ذلت اوکراهت دے یعنی اگرکه ابوذر دا بده گنړی او هغه پرے ذلیله کیږی اطلاق داسم السبب دے په مسبب باندے۔ وکان ابوذر: دا کلمات به ابو ذرؓ ځکه وئیل چه یا خود نبی اکرم ﷺ الفاظ نه بدلوی۔ ۲- او یا په طریقه د فخر سره او تشرف سره وائی چه زه هم په دین خفه کیږم۔ اوذ غه شان دمحبوب الفاظ په محب باندے مزیدار لگیږی۔ په دے حدیث دابوذر کښې رد دے په خوارجو او معتزلو باندے صراحةً دهغوی کوړئے وران کړیدے هغوئ گناه کبیره والا کافر مخلد فی النار گنړی، معتزله وائی نه کافر دے نه مؤمن دے، خو مخلد فی النار دے اود الله نبی وائی که زنا او غلا ئې کړئ وی هم جنت ته به ځي۔خو قانون دادے چه ټولو احادیثو باندے به نظر اچولے شي ځکه بعضے احادیثو کښې وائي که چا زنا اوغلا اوکړه هغه مؤمن نه دے (لایزني

الزانی حین یزنی وهو مؤمن) کما سیاتی) چه نور دایمان په کښې نشته یا کامل مؤمن نه دے ناقص مؤمن دے، او په ناقص ایمان باندے انسان جنت ته داخلیدلے شی اګرکه اولاً داخل نشی۔ لکه دا د اهل السنة عقیده ده چه ګناه کبیره والا به هم جنت ته ځی اګرچه اعلیٰ درجے ورله نه وی۔ یا به ورله ﷲ عذاب ورکړی روستو به جنت ته داخل شی۔ دلته نبی علیه السلام قانون دا بیانوی چه نفس مؤمن دجنت مستحق دے، د ایمان قدر بیانوی اوخلقو ته دا ترغیب نه ورکوی چه ګناهونه غلا اوزنا کوئ۔ د ﷲ قانون دے چه داسے خلقو ته جنت ورکوی اګرکه زنا او غلا ترے شوی وی کله ئے چه حلال نه ګنړی۔ نو په دے کښې مونږ ته دا خبره ښائی چه یوشخص نه زنا یا غلا اوشوه نو دا عقیده به نه ساتی چه دا دواړه جهنمی شو، غرق شو، کافر شو، همیشه به په اور کښې وی، بلکه د ﷲ رحمت ډیر فراخه دے په دے حدیث کښې سعت (فراخی) د رحمت د الله ذکر دے، دګناهونو نه ځان ساتل هم ضروری دی ځکه هغه د سړی ایمان خرابوی، سړے کله کله د ایمان نه بل طرفته واړوی، ځکه (الذنب برید الکفر)(ګناه د کفر ډاکی دے)۔

د نجات دارو مدار په کومه خبره دے

۲۶- وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «مَنْ شَهِدَ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَاَنَّ عِيْسٰى عَبْدُاللهِ وَرَسُوْلُهٗ وَابْنُ اَمَتِهٖ وَكَلِمَتُهٗ اَلْقَاهَا اِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِنْهُ وَالْجَنَّةَ وَالنَّارَ حَقٌّ اَدْخَلَهُ اللهُ عَلٰى مَاكَانَ مِنَ الْعَمَلِ». متفق علیه۔

ترجمه: عباده بن صامتؓ وائی، رسول ﷲ ﷺ اوفرمایل: څوك چه ددے خبرے ګواهی ورکړی (یعنی ژبے سره اقرار اوکړی او زړه سره رښتینے اوګنړی) چه ﷲ نه سیوا بل څوك لائق د عبادت نشته، یواځے دے هیڅوك دهغه شریك نشته، اودا چه محمد ﷺ بیشکه د ﷲ بنده اود هغه رسول دے، اودا چه عیسی هم د ﷲ بنده او رسول اود ﷲ دوینزے (مریم) ځوئے اود هغه کلمه دے چه مریم ته اچولے شوے وه اود ﷲ رالیږلے شوے روح دے اوجنت اودوزخ حق (او واقعی شیزونه) دی، نو ﷲ تعالی به دا کس ضرور جنت ته ننباسی، برابره خبره ده چه دهغه عمل هرڅنګه وی۔ (بخاری او مسلم)۔

تشریح: قوله وَاَنَّ عِيْسٰى عَبْدُاللهِ وَرَسُوْلُهٗ : تخصیص دده ځکه اوشو چه یهود په مدینه کښے اوسیدل اودهغوی عقیدهداده چه عیسی ولد الزنا دے، دده رسالت ئے نه منلو۔ اود نصاراؤ عقیده دا ده چه دا د ﷲ ځوئے دے، ثالثُ ثلاثه دے نو په دے حدیث کښے تعریض کوی په دوئ باندے په ذکر د عبدیت او رسالت دعیسیٰ علیه السلام سره او ردکوی په دوئ باندے چه دا افراط اوتفریط دے چه تاسوکوم بیانوئ، بلکه داخو د ﷲ د امه (وینځے) ځوئے دے نو اِلٰه نشی کیدے، دارنګه

عیسی علیه السلام محتاج دے په کلمه دکُن سره پیدا شویدے نو اِلٰه نه دے، اوپه رسالت کښے الله ته محتاج دے۔

وَكَلِمَتُهُ اَلْقَاهَا : عیسی ته کلمه ځکه وئیل شویده چه : ۱- یا په کلمه دکن سره پیدا شویدے۔ ۲- یا دده دکلماتونه خلقو فائده اخستے ده ځکه چه ده به د نصیحت ښے خبرے کولے۔ ۳- یا ئے په حالت د صغر (وړوکوالی) کښے : انی عبد الله کلمه وئیلے وه نو ځکه په کلمه سره تعبیر اوشو۔ او په دے کښے اشاره ده چه عیسی د الله په بندګانو باندے حجت دے دا ئے بے پلاره پیدا کړیدے او په وړوکوالی کښے ئے پرے خبرے کړیدی، اودده په لاس ئے مړی راژوندی کړیدی۔

وَرُوْحٌ مِنْهُ : عیسی ته روح ځکه اووئیل شو چه : ۱- یا خو دده په وجه به په مړو کښے روح راتلو اودا دده معجزه وه، کله چه ده به (قم باذن الله) اووئیلو نو مړے به ژوندے شو۔ ۲- یامضاف حذف دے (ای ذو روح صدر منه بغیر توسط الاصل والمادة)، (یعنی عیسی په هغه روح پیدا دے چه بغیر دماده نه وی)، داسے نه ده لکه د نورو انسانانو پشان چه هغه دمادے نه پیدا دی۔

۳- یادا چه دا د جبرئیل په نفخ الروح (د روح په پوکلو) پیدا دے نو ځکه ده ته روح وائی۔اوپه دے کښے رد دے په یهودو چه عیسی د الله مقرب بنده دے چه په واسطه دجبرئیل ئے روح په کښے پوکلے دے نوتاسو ورته ولد الزنا څنګه وائے ؟۔

فائده : امام نوویؒ فرمائی : دا عظیم الموقع حدیث دے او دهغه جامعو احادیثو نه دے کوم چه په عقائدو باندے مشتمل دی ځکه په دے حدیث کښے هغه څه جمع شویدی چه دکفر ټول ملتونه سره د اختلاف دعقائدو اود یوبل نه د وراندے والی سره نبی علیه السلام په دے مختصروالفاظو کښ داسے بیان اوکړو چه ټول ادیان پرے جدا کیږی (شرح مسلم : ۴۳/۱)۔روح منه : ددے نه نصاریٰ استدلال کوی چه عیسی د الله نه جزء دے، وائی زمونږ عقیده ستاسو قرآن کښے شته دے چه عیسی د الله جزء او حصه ده۔ جواب دادے چه دمنه د امعنی نه ده چه د الله جزء دے بلکه ددے معنی داده چه دا روح صادر شویدے مخلوق دے د الله دطرفنه اودا داسے دے لکه سورة الجاثیه (۱۳) آیت کښے الله فرمائی ﴿ وسخرلكم مافي السموات ومافي الارض جميعاً منه ﴾ نو ددے دا مطلب نه دے چه ما في السموات وما في الارض دا ټول د الله جزء دی۔ نو دوی چه ددے آیت نه څه جواب ورکوی مونږ به هغه جواب ددے حدیث نه ورکوو۔

وَالْجَنَّةَ وَالنَّارَ : دا ئے ځکه ذکر کړل چه ډیر خلق په یو دین روان وی خو جنت او جهنم نه منی آخرت نه منی لکه یهودیانو کښے یوه ډله داسے هم وه چه هغوی به دا وئیل چه جنت او جهنم په بدن باندے نشته، په روح باندے به وی، دا هم دجنت اوجهنم نه منکر دی۔دغه شان فلاسفه اونصاریٰ د بعث او معاد جسمانی نه منکر دی، کما في شرح العقيدة الواسطية ص (۲۰) هغوی وائی : تناسخ د ارواحو کیږی، د نیک سړی روح اوځی او په بل نیک سړی کښے داخل شی یا په چمنونو او باغونو کښے چکرے لګوی۔اود بد عمله

سړی روح په بد عمله کښې داخلیږی اویا په ګندونو کښې اوسیږی۔ په دې حدیث کښې په هغوئ تولو رد اوشوو چه دجنت او جهنم متعلق به صحیح عقیده لری، هله به جنت ته داخلیږی۔

اَدْخَلَهُ اللّٰهُ عَلٰی مَاکَانَ مِنَ الْعَمَلِ : یعنی ﷲ به ئې جنت ته داخل کړی په هر عمل چه موصوف وی که دصلاح عمل وی اوکه دفساد عمل وی۔ اودا دخول یاابتداءً دے یا انتهاءً، نوکه دصلاح عمل وی نو دخول اولی ابتدائی به وی، اوکه دفساد عمل وی نو دخول انتهائی اخیراً به وی۔ یا دا معنی چه د العمل نه مراد (دالف لام عهدی په وجه) کبائر ګناهونه دی یعنی دکبائرو په وجه به اګرکه دعذاب مستحق وی خو بیا هم اهل التوحید به جنت ته داخلیږی اوهمدا په حدیث د ابوذر کښې هم مراد دے په (وان زنی وان سرق) سره۔ اودا داهل السنة مسلك دے نو په دے کښې صراحةً رد دے په معتزله او خوارجو باندے چه هغوی اصحاب الکبائر همیشه اصحاب النار ګنړی۔ دا جمله دلیل دے په دے چه په توحید باندے انسان جنت ته داخلیږی په یو وقت داوقاتو کښې۔

دے قسم احادیثو باندے مرجئو استدلال کړیدے۔ دوئ وائی مخکښې حدیث کښې ئې چه غلا اوزنا هم کړیده اوبیا هم جنت ته داخلیږی نو معلومه شوه چه ګناهونو لره هیڅ اعتبار نشته د ایمان سره۔ اودے حدیث کښې هم راغلل چه عمل لره هیڅ اعتبار نشته که ښه وی که بد اولګ وی که ډیر خو جنت ته به ځی۔ نو عملونو ته څه حاجت نشته دے۔ اصل داده چه دوئ درسول الله ﷺ په مطلب پوهه نشو، ځکه نبی ﷺ خو دا نه دی وئیلی چه عمل مه کوئ، عمل بے فائدے شئ دے، اونه ئې دا وئیلی دی چه: (ادخله الله الجنة اولًا بلا تعذیب) ۔ (الله به ئې ابتداء کښې جنت بغیر د عذاب نه بوځی) بلکه نبی اکرم ﷺ خو صرف خبر ورکړیدے چه دا د جنت مستحق دے یو وقت د اوقاتو کښې به داخلیږی۔ اوس د ښائسته عملونو په وجه په ایمان کښې طاقت پیدا کیږی د ښائسته اوډیر عمل د وجے نه دانسان ایمان محفوظ کیږی، اود جنت اعلیٰ درجو ته رسیږی اوپه اول ځل داخلیږی۔ او چه عمل خراب وو نو خطره ده د ایمان د زائله کیدو ده اود عمل د خرابیدو په وجه انسان د اعلیٰ درجو دجنت نه ښکته راکوزیږی، او ابتداءً جنت ته نشی داخلیدے بلکه انسان ته ډیرکرته عذابونه ورکولے شی۔ ځکه چه ﷲ خو عزیز ذو انتقام هم دے انسان نه بدله هم اخلی۔ ددے ویره به هم ساتی۔

اسلام قبلولو سره مخکښې ټول ګناهونه معاف کیږی

۲۷- وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ ﷺ قَالَ: أَتَیْتُ النَّبِیَّ ﷺ فَقُلْتُ اُبْسُطْ یَمِیْنَكَ فَلِاُبَایِعْكَ فَبَسَطَ یَمِیْنَهُ فَقَبَضْتُ یَدِیْ فَقَالَ: «مَالَكَ یَاعَمْرُو!» قُلْتُ: أَرَدْتُ اَنْ اَشْتَرِطَ. قَالَ: «تَشْتَرِطُ مَاذَا؟» قُلْتُ: اَنْ یُغْفَرَلِیْ. قَالَ: «أَمَا عَلِمْتَ یَاعَمْرُو! اَنَّ الْاِسْلَامَ یَهْدِمُ مَا کَانَ قَبْلَهُ وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَاکَانَ قَبْلَهَا وَأَنَّ الْحَجَّ یَهْدِمُ مَا کَانَ قَبْلَهُ». رواه مسلم والحدیثان المرویان

عن ابى هريرة : قال : قال الله تعالىٰ : انا اغنى الشركاء عن الشرك والآخر : اَلْكِبْرِيَاءُ رِدَائِيْ سنذكرهما في باب الرياء والكبر ان شاء الله تعالىٰ۔

ترجمه : عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائي (هركله چه الله تعالى د اسلام په رڼا سره زما زړه اودماغ روښانه كړل نو) زه دنبي كريم ﷺ خدمت كښې حاضر شوم او عرض مې اوكړو، يارسول الله ! خپل ښي لاس (مبارك) ډې رامخكښې كړه زه تاسو سره داسلام بيعت كووم۔ دې آوريدو سره چه نبي كريم ﷺ خپل ښي لاس مبارك رامخكښې كړونو ما خپل لاس راښكلو، نبي كريم ﷺ (حيرانتيا سره) اوفرمائيل : ولې عمرو ! ما عرض اوكړو، يارسول الله ! زه څه شرط لګول غواړم، نبي كريم ﷺ اوفرمائيل : څه شرط لګول غواړې ! ما عرض اوكړو (زه غواړم) چه زما تمام ګناهونه معاف كړې شي (كوم چه ما د اسلام نه مخكښې كړي دي) نبي كريم ﷺ اوفرمائيل : اې عمرو ! آيا تاته نه ده معلومه چه اسلام هغه ټول ګناهونه معاف كوي چه د اسلام قبلولو نه مخكښې شوې وي، هجرت هغه ټول ګناهونه لرې كوي چه د هجرت نه مخكښې شوې وي او حج هغه ټول ګناهونه ختموي چه هغې حج نه مخكښې شوي وي (مسلم) اود ابو هريرة دواړه نقل شوي حديثونه يعني (قال الله تعالى انا اغنى الشركاء عن الشرك او الكبرياء ردائي الخ به د رياء او كبر په باب كښې ان شاء الله نقل كړې شي۔

تعارف د عمرو بن العاص رضي الله عنه : ده دصلح حديبيه په كال اسلام قبول كړيدې، نبي اكرم ﷺ ده په باره كښې فرمائي : اسلم الناس وآمن عمرو كما في السلسلة الصحيحة (١/٢١٣٨) وصحيح الجامع (١/٢٢) او په عُمان باندې نبي اكرم ﷺ والي مقرر كړو، د نبي اكرم ﷺ دوفات نه پس هم والي پاتې وو او په ذات السلاسل لښكر امير مقرر وو، دغه شان دشام په فتح كښې دلښكر امير مقرر شوې وو، او دعمر بن الخطابؓ په زمانه كښې ئې مصر فتح كړو اود عثمانؓ او معاويهؓ په زمانه كښې دمصر عامل (ګورنر) مقرر وو تردې چه وفات شو۔او په جاهليت كښې پهلوان پاتې شويدې دقريشو نه۔ په كال (٤٣ هـ) كښې د (٩٠) كالو په عمر باندې وفات شو او ډير مال ترينه پاتې شويدې۔ده نه منقول احاديث (٣٩) دي۔

العاص : دا د عمرو پلار دې په زمانه دجاهليت كښې مړ شويدې په دې لفظ كښې ياء هم راغلې ده، لكه عاصي كقاضي اوبدون الياء هم راغلې دې كقاضِ ليكن صحيح خبره داده چه دا بالياء دې عند اهل العربية نووي وائي دا د جمهورو قول دې۔كذا في المرعاة (١/٩٧)۔

٢– قاموس كښې وائي : العاص ليس بناقص بل هو اجوف اى اعوص) ۔داوجه ده ملا علي قاري فرمائي: (الاصح عدم ثبوت الياء اما تخفيفاً او بناءً على انه اجوف) ۔اوداخبره راجح ده ځكه ددې جمع اعياص اواعواص راځي، او عامو كتابونو دحديث كښې ياء ورسره نشي ليكلې۔ اودا اسم فاعل دعصىٰ نه نه دې لكه چه اول قول والا وئيلې دي۔ نو بناء په دې كتابت د ياء جائز نه دې اونه

قرائت دیاء، کما اختاره فی المرعاة۔
اُبۡسُطۡ یَمِیۡنَكَ فَلِاُبَایِعُكَ : فائده : ددے نه طریقه دنبی اکرم ﷺ معلومیږی چه مصافحه به ئے په یو لاس سره کوله۔

مسئلة : المصافحة بالید الواحدة سنة

په دے کښے دعلماؤ اختلاف دے چه مصافحه په یو لاس کول افضل دی اوکه په دواړو لاسونو ؟ دوه قوله دی : ۱ – اول قول داحنافو دے اودویئ نه هم دوه قوله نقل دی۔

❁ شاه انور شاه کشمیری په عرف شذی (۱۰۱/۲) کښے فرمائی : مصافحه بالیدین اکمل ده او په یو لاس جائز ده۔ ❁ دویم روایت شامی په کتاب الحج کښے ذکر کړے۔ : (قوله : فان لم یقدر ای علی تقبیله الا بالایذاء او مطلقاً یضع یدیه علیه ثم یقبلها او یضع احداهما والاولی ان تکون الیمنی لانها المستعملة فیما فیه شرف۔ ولما نقل فی البحر العمیق من ان الحجر یمین الله یصافح بها عباده والمصافحة بالیمنی) ۔ (یعنی حجر اسود په ښی لاس سره خکلول بهتر دی ځکه ښے لاس په هغه ځایونو کښ استعمالیږی چه هغے کښ شرافت وی ۔ او دا خکلول د مصافحے په شان دی او مصافحه خو په ښی لاس وی)

نو ددے نه معلومه شوه چه داحنافو په نیز هم مصافحه صرف په ښی لاس بهتره ده، نه په دواړه لاسونو۔ اودا قول د اکثرو شوافعو اوحنابله ؤ هم دے۔

دلائل : داول روایت دپاره دلیل دادے چه امام بخاریؒ باب تړلے : باب المصافحة بالیدین۔ او د تابعینو آثارئے ذکر کړی، (وصافح عبد الله بن المبارك وحماد بالیدین) ۔ جواب : ددے نه دا نه معلومیږی چه دا سنت عمل دے بلکه دا اقوال د علماؤ دی او دا په درجه د تائیدکښے وی۔ دا هله چه مصافحه بالیدین په احادیثو کښے ثابته شی۔

۲– دلیل : حدیث دابن مسعودؓ پیش کوی کما فی البخاری (۹۲٦/۲) عن ابن مسعود قال : علمنی النبی ﷺ التشهد و کفی بین کفیه۔ ۔ ۔ الحدیث۔

جواب : کفی بین کفیه نه مصافحه بالیدین نه معلومیږی د دوو وجهونه :

۱ – دا باب د تعلیم دے نه دمصافحے، ځکه تر آخره پورے نبی اکرم ﷺ ورله لاس نیولے دے اودا دنبی اکرم ﷺ طریقه وه چه هغه به چاته یوه خبره کوله نوکله نوکله به ئے غوږ کله به ئے سر اوکله به ئے دهغه په اوګو باندے لاس کیښودل، اودا معلومیږی د ظاهر ددے حدیث الفاظو نه ته پکښ سوچ اوکړه ځکه داسے ئے ندی وئیلی چه صافحته بالیدین یا صافحنی بالیدین (چه ما د هغه سره مصافحه په دوه لاسونو اوکړه یا هغه راسره په دوه لاسونو اوکړه) بلکه وائی زما لاس د هغه په دواړو لاسونو کښ وو) او دا جمله حالیه ده حال دے د علمنی د فاعل نه یعنی پداسے حال کښ ئے ماته تعلیم راکولو چه زما لاس د هغه په لاس کښ وو۔ فتدبر!۔ که دے کښ دے سوچ اوکړو، هیڅوك دے نشی دوکه کولے ان شاء الله۔

۲– وجه دا ده چه په دے حدیث کښے خو یو لاس دواړه لاسونولره ورکړے شویدے، نبی اکرم ﷺ

دوه لاسونه ورکړیدی او ابن مسعودؓ یو لاس ورکړیدے نو معلومیږی چه مصافحه په یو لاس ده اودا بے ادبی نه ده ځکه ابن مسعودؓ ډیر ادبناك دے دهرچا نه۔ دا هله چه دا صورت د مصافحے شی۔

۳- دکفی نه به مراد یا یو لاس وی او یا دوه که یو لاس وی نو معلومه شوه چه مصافحه په یو لاس ده، ولے چه ابن مسعودؓ یو لاس بطور مصافحه ورکړیدے ولے چه په مصافحه کښې همدا طریقه ده او رسول الله ﷺ ورسره بطور تعلیم بل لاس هم ملګرے کړیدے۔ اوکه دواړه لاسونه وی نو د (بین) لفظ د وجے نه د ابن مسعودؓ دواړه لاسونه د نبی ﷺ ددواړو لاسونو په مینځ کښې شول نو ددے نه کوم شکل جوړ شو؟ داخو بیا ابن مسعودؓ خپل دواړه لاسونه دنبی ﷺ ددواړو لاسونو ترمینځه ورکړل دا خو مصافحه نشوه۔ په دے جواب سره دهغه چا تاویل باطل شو چه وائی دکف نه مراد دوه لاسونه دی ځکه کف اسم جنس دے تدبر!

۲- قول دجمهورو دے چه مصافحه په یو لاس سره ده۔

دوئ سره درے قسمه دلائل دی ❁ احادیث ❁ اقوال العلماء ❁ اللغة۔

د احادیثو نه (۲۵) احادیث دی چه په هغے کښې اګرکه صراحةً خبره نشته چه امر راغلے وی په مصافحه د یو لاس باندے لیکن د ید (لاس) لفظ په کښې راغلے دے نه یدین (دواړه لاسونه) کما تراها فی الفتاوی الدین الخالص (۲/۱۰):

۱- اول دلیل: نبی اکرم ﷺ به دبیعت کولو په وخت یو لاس ورکولو۔په دے حدیث کښې ذکر شو (ابسط یمینك) یعنی ښے لاس ډِے راوړاندے کړه چه بیعت درسره اوکړم۔اونور ډیر احادیث دی۔اود مصافحه عند اللقاء او مصافحه عند البیعة په مابین کښې هیڅ فرق نشته، لکه چه بعض خلق وائی چه دلته د بیعت مصافحه ده۔ مونږ وایو دواړه مصافحے دی، په دے کښې هیڅ فرق نشته۔ نو څوك چه وائی فرق شته هغه ډِے فرق اوکړی!

۲- حدیث: عن عبد الله بن هشام قال: کنا مع النبی ﷺ وهو آخذ بید عمر بن الخطاب۔ (بخاری ۹۲۶/۲:) دلته هم یو لاس ذکر دے۔

۳- حدیث الترمذی (۱۸۲/۲) باب ما جاء ما یقول اذا ودع انساناً۔ عن نافع عن ابن عمر قال: کان النبی ﷺ اذا ودع رجلاً اخذ بیده فلا یدعها حتی یکون الرجل هو یدع النبی ﷺ ویقول: استودع الله دینك وامانتك وآخر عملك۔ وسنده صحیح۔ (رسول الله ﷺ به چه کله څوك رخصتولو نو د هغه یو لاس به ئے اونیولو الخ)

اوڅوك دلته جواب کوی چه ید جنس دے دواړو لاسونوته شامل دے۔ نو:

اولاً: خو مونږ دا نه منو چه ید جنس دے، ځکه بیا به یدین نه ذکر کیدے۔ لکه کلم جنس دے نو کلمین نشی وئیلے۔ دارنګه د جنس دپاره واحد وی، لکه کلم جنس دے کلمه ئے واحد دے، تمر جنس دے تمرة ئے واحد دے، نو که ید جنس دے نو ددے واحد راته ته اوښایه!

ثانیاً : کـه اومـنو چه ید جنس دے نو بیا وایو چه یو لاس ته هم شامل دے اودواړو ته هم لیکن دلتـه تـرے د (ابسـط یـمینـك) په وجه ښے لاس مراد دے ځکه الحدیث یفسر بعضه بعضاً، بعض حدیثـونـو کـښ یـد ذکر دے او بـعـضـو کښ یمین ذکر دے نو دید تفسیر په یمین سره شویدے، اوهمدا متعین دے په جنس کښے۔

ثالثا : هرکـلـه چه ید جنس هم شی نو بیا یو لاس ورکولو ته بے ادبی نه دی وئیل پکار ځکه جنس یوته هم شامل وی لکه بعضے نا اهله دیته بے ادبی وائی۔

۳- دلیل : پـه کـنـز الـعـمال (۱۳۱/۹) کښے حدیث راځی (تـمـام التحیة الاخـذ بالید والمصافحة بالیمنیٰ)۔ (د سلام پوره والے دا دے چه لاس اونیول شی او مصافحه په ښی لاس اوکړے شی) ۔

٤- حدیث : مسـنـد احمد کښ دانس بن مالكؓ روایت دے : بایعت رسول الله ﷺ بیدی هذه یعنی الیمنی علی السمع والطاعة فیما استطعت۔ وسنده صحیح۔ انظر نصب الرایة (۲۰۹/٤) ۔ (ما رسول الله ﷺ پدے ښی لاس بیعت کړیدے) ۔ دارنگه مسند احمد کښ دابو غادیهٔ روایت دے دا فرمائی :

بایعت رسول الله ﷺ۔ قال ابو سعید : فقلت له : بیمینك ؟ قال : نعم۔ (ابوغادیه وائی ما د رسول الله ﷺ سره بیعت اوکړو ابوسعید وائی ما ورته اووئیل : آیا په ښی لاس ؟ هغه اووئیل : آؤ۔)

نو په دے کښے صریح (یمنیٰ او یمین) لفظ راغلے دے یعنی ښی لاس سره ئے مصافحه اوکړه۔

٤- حدیث ابن عباس : (الرکن یمین الله فی الارض یصافح بها خلقه مصافحة الرجل اخاه الحدیث۔ (عبد الـرزاق ۳۹/٥ طبرانی کبیر ۹۳/۲۰) نـو دا حـدیـث ظـاهـر دے پدے کښ چه وروربه د وروړ سره په ښی لاس مصافحه کوی او همدا سنت دے) پدے کښ سوچ اوکړه او ددے نه جواب کول ظلم دے۔

۲- اقوال العلماء : په دے کښے بے شمازه دی بعضے دهغے نه دا دی :

لـکـه شامی (۱۶۶/۲) کتـاب الحج) کښے دی : (الاولـی ان تکون الیمنیٰ)۔ یـعـنی حجر اسود په ښی لاس سره ښکلول پکار دی۔ ځکه دا داسے ده لکه چه الله لره لاس ورکوی۔

دارنـگـه شـامـی، امـام نـووی، شیـخ الا سـلام اونـورو فـقـهاؤ یوه قاعده ایښے ده هغه دا چه کوم کـارونـه د بـاب الـتـکـریـم نه وی نو هغه په ښی لاس کول پکار دی۔ او نجاسات په ګس لاس لرے کـول پـکـار دی۔ اوداحـدیـث (اسـط یمینك فلابایعك علی الاسلام) پرے هم دلیل دے۔ لکه دا قـاعـده مـجـمـوعـة الـفتاوی (۱۱۹/۲۱) عون المعبود (۱۱۹/٤) غنیة الطالبین ص(۱۹) تحفة الاحوذی (۳۹۷/۳) شرح مسلم للنووی او ریاض الصالحین کښے ذکر شویده۔

۳- د لغت نه دلیل : تحفة الاحوذی (۳۹۸/۳) کښے وائی :

والـدلیـل الثالث :ان المصافحة هی الصاق صفح الکف بصفح الکف الخ۔ (مـصـافحه : د تلی یو طرف د بل چا د تـلـی د یـو طـرف سـره مـلاوولـو تـه وائـی)نـو کـه دواړه لاسـونـه شی نو بیا خو دا معنی پکښ نه جوړیږی)۔

۲- دارنګ ابن منظور په لسان العرب (۳۵٦/۷) کښې ليکي:
والمصافحة الاخذ باليد والتصافح مثله والرجل يصافح الرجل: اذا وضع كفه في صفح كفيهما وجههما۔ ومنه حديث المصافحة عند اللقاء وهي مفاعلة من الصاق صفح الكف بالكف واقبال الوجه بالوجه ۔ (يعنی يو ورغوي د بل ورغوی سره يو ځائے کولو ته مصافحه وائی)۔نو چه کله دوه لاسونه ورکړی نو بيا خو د مصافحے معنی په کښے رانغله بلکه دا خو مصافحتين (دوه مصافحے) شوے او مونږ مامور په يوه مصافحه باندے يو نه په دوو باندے۔

فيصله: ضياء الدين الحنفی په لوامع العقول کښے فرمائی: (والظاهر من آداب الشريعة تعين اليمنى من الجانبين لحصول السنة كذلك فلا تحصل باليسرىٰ فى اليسرىٰ ولا فى اليمنٰى) ۔ (د آدابو د شريعت نه ظاهره دا ده چه د دواړو طرفونو نه صرف ښے لاس ورکړے شی ځکه په همدے طريقه سنت باندے عمل حاصليږی نو ګس لاس ګس لاس سره يا ښی لاس ښی لاس سره ملاوولو سره سنت نه حاصليږی)

۲- امام نوویؒ فرمائی: يستحب ان تكون المصافحة باليمنٰى وهوافضل (شرح مسلم) ۔(مستحب دا ده چه مصافحه په ښی لاس شی ځکه همدا طريقه افضل ده)۔

۳- علامه البانیؒ په السلسلة الصحيحة (۲۲/۱) کښے فرمائی: وقد دلت احاديث كثيرة فى ان المصافحة انما هى باليد اليمنٰى فقط والمصافحة باليدين خلاف السنة ۔ (ډير احاديث پدے دلالت کوی چه مصافحه صرف او صرف په ښی لاس ده او مصافحه په دواړه لاسونو خلافِ سنت ده)۔

لهذا يو لاس ورکول سنت دی اودوه لاسونه ورکول سنت نه دی بلکه خلاف السنة دی او په سنت باندے عمل کول ادب وی نه بے ادبی۔ فتدبر!۔

تَشْتَرِطُ مَاذَا ؟: ماذا استفهام دے تقاضا دصدارت کوی خو قاعده د نحو اکثری وی نه کلی۔
۲- يا دا چه ما استفهاميه چه کله د ذا سره مرکبه شی نو تقديم اوتاخير دواړه جائز وی لکه کان ماذا۔ اما علمت: عمرو ته خو پته نه وه نو بيا ورته څنګه وائی چه آيا تاته پته نشته ؟ نو ددے معنی داده چه دامسئله خو ډيره واضحه ده پکار داده چه تاته معلومه وے۔ ۲- يا په دے کښے معنی د امر وی يعنی اعلم پوهه شه !۔

اَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَاكَانَ قَبْلَهُ : **فائده**: يو سړے مسلمان شي نو قرض او قتل، غلا ټول معاف شی که چرے مالك د مال نه وی موجود۔ اوکه پردے مال ئے خوړلے وی دهغے واپس کول نشته بلکه ټول صغائر اوکبائر ګناهونه ورته معاف کيږی او د جاهليت په زمانه کښے چه کوم نيك اعمال ده کړے وی دهغے اجر هم ورته ملاويږی۔

وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ : په دے کښے حقوق الله معاف کيږی او حقوق العباد نه معاف کيږی۔
وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ : په دے سره ګناهونه صغيره اوکبيره معاف کيږی بالاجماع۔ خو حقوق العباد کښے اختلاف دے : ۱- ظاهره دا ده چه انسان باندے پردے حق دے او هغه ورته معلوم دے نودا به

ضرور واپس کوی، دا ورته نه معاف کیږی په حج سره۔ ۲- او کله چه ورته مالك نه دے معلوم او انسان کوشش کوی چه واپس ئے کړی نو هغه هم ورته الله معاف کوی لیکن ښه طریقه داده چه هغه مال صدقه کړی نو ددے نه پس الله سرِی ته ښه بخښنه کوی۔

مسئله : بعضے اهل السنة وائی چه کبائر بغیر د توبے نه نه معاف کیږی او تفصیل به په کتاب الطهارة کښے راشی ان شاء الله۔

سوال : ددے حدیث نه معلومه شوه چه اسلام مخکنی تول ګناهونه ختموی او بل حدیث کښے راځی چه بعد الاسلام په مخکنو او روستنو تولو ګناهونو باندے نیوکه شته دے (کما فی حدیث ابن مسعود قال : قلنا یارسول الله ! انؤاخذ بما عملنا فی الجاهلیة ؟ فقال ﷺ من احسن فی الاسلام لم یؤخذ بما عمل فی الجاهلیة ومن اَسَاءَ فی الاسلام اخذ بالاول والآخر) ۔(یعنی چا چه په اسلام کښ نیك عمل کولو نو د جاهلیت په ګناهونو نه رانیول کیږی او که اسلام کښ بد اعمال کوی نو د جاهلیت په بد اعمالو به هم راګیریږی) نو ددے نه معلومه شوه چه څوك په اسلام کښے ګناه اوکړی نو د جاهلیت په ګناه باندے به هم رانیول کیږی۔ نو ددے تطبیق څه دے ؟

جواب : امام نوویؒ فرمائی : په دے حدیث کښے داحسان فی الاسلام نه مراد دادے چه ظاهراً او باطناً مسلمان وی اود اساء ة فی الاسلام نه مراد دادے چه ظاهراً په اسلام کښے داخل وی، مګر باطناً دزړه نه مسلمان نه وی، بلکه منافق وی۔ نو اسلام دهغه چا ګناهونه ختموی چه ظاهراً او باطناً مسلمان وی او بعد الاسلام دهغه چا ګناه نه ختموی چه باطناً مسلمان نه وی، صرف ظاهراً منقاد وی نو دا منافق دے او منافق کافر وی اوکافر په مخکنو او روستنو تولو ګناهونو باندے رانیولے کیږی۔

۲-جواب : شاه انور شاهؒ په فیض الباری کښے کړیدے چه دهغه چا ګناهونه الله بعد الاسلام معاف کوی چه دهغه اسلام متضمن وی توبے لره دمعاصی سابقونه او هغے طرفته بیا رجوع نه کوی، اود کوم شخص اسلام چه متضمن توبے لره نه وی۔ د مخکنو ګناهونو ارتکاب داسلام نه پس هم کوی نو دا مسیئ فی الاسلام دے دا به په مخکنو او روستنو تولو ګناهونو رانیولے کیږی۔ (فحدیث الهدم محمول علی من تضمن اسلامه التوبة، وحدیث ابن مسعود محمول علی من لم یکن کذلك)۔

والحدیثان المرویان : دا دفع دسوال ده چه په مصابیح کښے په دے مقام کښے دا دواړه حدیثونه وو دلته تا ذکر نکړل هغه دے څه کړل ؟ نو جواب کوی چه هغه دواړه دباب الریاء اوباب التکبر سره زیات مناسبت وو هلته مے راوړیدی دلته ئے نشم ذکر کولے ځکه چه تکرار لازمیږی، اوتکرار زه نه کوم۔

ددین ارکان —— الفصل الثانی – دویم فصل ——

۲۸- عَنْ مُعَاذٍ قَالَ: قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِیْ بِعَمَلٍ یُدْخِلُنِیْ الجَنَّةَ وَیُبَاعِدُنِیْ مِنَ النَّارِ! قَالَ: «لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ عَظِیْمٍ وَاِنَّهُ لَیَسِیْرٌ عَلٰی مَنْ یَسَّرَهُ اللهُ عَلَیْهِ : تَعْبُدُ اللهَ وَلَا تُشْرِكُ بِهٖ

شَيْئًا وَتُقِيْمُ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكٰوةَ وَتَصُوْمُ رَمَضَانَ وَتَحُجُّ الْبَيْتَ »، ثُمَّ قَالَ: «اَلَا اَدُلُّكَ عَلٰى اَبْوَابِ الْخَيْرِ؟ اَلصَّوْمُ جُنَّةٌ وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيْئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ، وَصَلَاةُ الرَّجُلِ فِيْ جَوْفِ اللَّيْلِ » ثُمَّ تَلَا ﴿ تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ –حَتّٰى بَلَغَ – يَعْمَلُوْنَ﴾». ثُمَّ قَالَ: «اَلَا اَدُلُّكَ بِرَأْسِ الْاَمْرِ وَعُمُوْدِهٖ وَذِرْوَةِ سَنَامِهٖ؟ » قُلْتُ: بَلٰى يَارَسُوْلَ اللهِ! قَالَ: رَأْسُ الْاَمْرِ الْاِسْلَامُ وَعَمُوْدُهُ الصَّلَاةُ وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ» ثُمَّ قَالَ: «اَلَا اُخْبِرُكَ بِمِلَاكِ ذٰلِكَ كُلِّهٖ؟» قُلْتُ: بَلٰى يَا نَبِيَّ اللهِ! فَاَخَذَ بِلِسَانِهٖ وَقَالَ: «كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا». فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ وَاِنَّا لَمُؤَاخَذُوْنَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهٖ؟ قَالَ: «ثَكِلَتْكَ اُمُّكَ يَا مُعَاذُ ! وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ اَوْ عَلٰى مَنَاخِرِهِمْ اِلَّا حَصَائِدُ اَلْسِنَتِهِمْ». رواه احمد والترمذی وابن ماجه.

ترجمه : معاذ بن جبل ﷺ وائی: ما عرض اوکړو یارسول الله ! ماته څه داسے عمل اوښایه چه ما جنت ته بوځی اود دوزخ داور نه مے محفوظ کړی؟، نبی کریم ﷺ اوفرمایل : حقیقت داد ے چه تا د یو ډیر لوئے څیز تپوس اوکړو خو په چا چه ئے الله آسان کړی هغه دپاره آسان هم دے۔بیا ئے اوفرمایل : د الله تعالیٰ بندګی کوه، هغه سره څوك مه شریکوه، مونځ پابندئ سره ادا کوه، زکوٰة ورکوه، درمضان روژے نیسه اود خانه کعبے حج کوه۔ دے نه پس ئے بیا اوفرمائیل : اے معاذ ! آیا تا دخیر او نیکئ دروازو اونه خایم ؟ (نو واوره) روژه (یو داسے) ډهال دے (چه ګناه نه سړے بچ کوی اود دوزخ داور نه ئے محفوظ کوی)، اود الله لار کښ خرچ کول ګناه داسے رژوی څنګه چه اوبه اور وژنی۔ اودغسے شپه کښ د مومن مونځ کول ګناه ختموی۔بیا نبی کریم ﷺ دا آیت تلاوت کړو (چه هغے کښ د تهجد ګذار اود شپے دعبادت کونکو فضیلت بیان شویدے) (اود هغے پوره آیت ترجمه داده : دهغے نیکانو مؤمنانو اړخ (د شپے) دبسترونه جدا وی او هغوی خپل رب خوف او امید سره یادوی اوکوم مال چه مونږ ورکړیدے هغے نه د الله لار کښ خرچ کوی، هیڅ یو کس ته معلومه نه ده چه هغه نیکانو مؤمنانو دپاره د سترګو د یخوالی کوم نعمتونه پټ ساتلے شویدی؟۔ دا دهغوی داعمالو بدله ده چه هغوی به کول)۔ بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : آیا تاته د هغے څیز (یعنی دین) سر اود هغے ستن اود هغے داوچت قُب خبر در نه کړم، ما ورته عرض اوکړو، ولے نه یارسول الله ! وے فرمایل : ددغے څیز سر اسلام دے اود هغے ستن مونځ دے اود هغے اوچت قُب جهاد دے، بیا ئے اوفرمایل : آیا تاته ددے ټولو څیزونو جرړه اونه ښایم، ما عرض اوکړو اے دالله نبی ! ضرور اوښائے۔نبی کریم ﷺ خپله ژبه مبارکه اونیوله او هغے طرفته ئے اشاره اوکړه وے فرمایل : دا بنده ساته، ماعرض اوکړو، اے د الله نبی ! آیامونږ

دخپلے ژبے نه چه کوم لفظ اوباسو په هغے تولو به رانیولے کیږو؟ - نبی ﷺ اوفرمایل : معاذ ! ستا مور دِے تا ورك كړی (مور دے بوره بور چنړه شه - دا يوه محاوره ده چه د تعجب داظهار دپاره وئیلے شی) په دے پوهه شه چه خلق په دوزخ کښې پرمخې نه غورځوی مگر هغه (خرابے) خبرے چه د هغوی ژبو لَوکړی وی (د خولے نه ئے ویستلی وی) - (احمد، ترمذی، ابن ماجه)۔

تشریح : نبی اکرم ﷺ چه کله د تبوك نه راواپس شو، په لاره کښے یواځے شو، معاذ فرصت اوموندلو او تپوس ئے اوکړو۔ دین په لاره هم ازده کیږی۔

يُدْخِلُنِيَ الْجَنَّةَ : دلته دخول اولی مراد دے ځکه نفس دخول جنت ته په کلمه د توحید سره کیږی خو دلته تپوس ددے کوی چه هغه کوم سبب دے چه انسان په غیر دعذاب څکلو نه اولاً جنت ته ننباسی۔ ۲- حدیث دلیل دے په دے چه اعمال سبب د دخول الجنة دے نو عمل جزء دے د ایمان نه۔

لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ عَظِيْمٍ : ۱- نبی اکرم ﷺ په دے کښے تائید دسوال کوی چه دِاسوال ډیر لوئے دے یا دا خبره ډیره لویه ده ځکه دا تول کوشش چه په دنیا کښے مونږ کوو، دا خو د همدغه خبرے دپاره کوو چه جنت ته داخل شو اود اور نه بچ شو نودا د تولے زندگئ تپوس دے۔ یعنی تا دیو داسے لوئی څیز په باره کښے تپوس اوکړو چه د هغے حاصلول گران کار دے ځکه چه په نفس باندے مشقت راولی، مگر هغه څوك چه الله ئے ورته آسان کړی نو بیا هغه ته دا کار آسان دے۔

* بعضے علماء داسے معنی کوی چه تا دداسے عظیم څیز په باره کښے تپوس اوکړو چه د هغے جواب خو مشکل دے، ځکه دداسے عمل شناخت چه په هغے سره دخول الجنة راځی دا دغیبو د علم سره تعلق لری، اود الله نه سیوا دغیبو علم هیچا ته نشته۔لیکن دے مشکل الجواب عظیم شئ باندے عمل کول د هغه چا دپاره آسان دی چه الله ئے ورته آسان کړی۔

وَإِنَّهُ لَيَسِيْرٌ : یعنی ددے صفت د حاصلولو دپاره د الله نه دعاء پکار ده چه انسان ته ئے آسان کړی۔

تَعْبُدُ اللهَ : ۱- دے کښے خو یا معنی د امر ده یعنی : اعبد الله ولا تشرك به شیئاً۔

۲- یا ان مصدریه محذوف دے ای ذلك العمل ان تعبد الله ولا تشرك به یدخلك الجنة۔ ۳- یا دا مبتداء ده او خبرئے محذوف دے او مضارع عند الكوفیین مبتداء واقع کیدے شی ای تعبد الله ولا تشرك به یدخلك الجنة) - بیا دا احکام دمعاذ پورے خاص نه دی بلکه اول خطاب هغه ته دے بیا هر امتی ته۔ لکه دا د عام خطاباتو شرعیهؤ طریقه ده (العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب)۔ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ : اشاره ده چه گناه گرمی پیدا کوی په بدن کښے، او نیکی یخوالے پیدا کوی، انسان کښے حلم، وقار او بردباری پیدا کیږی اود گناه په وجه تندخوئ جلد بازی غصه وغیره هرکارئے گډوډ وی، او صدقه دا اور وژنی۔

ثُمَّ تَلَا : امام شافعیؒ فرمائی : هر حدیث چه نبی اکرم ﷺ فرمائیلے دے دا ئے دقرآن نه اخذ کړیدے۔ دحدیث نه معلومیږی چه په لاره کښے علم حاصلول جائز دی۔

اَبْوَابِ الْخَیْرِ: ددے نه مراد نوافل دی، دلیل پرے دا الفاظ دی (وصلاة الرجل فی جوف اللیل)۔ اودیته ځکه ابواب الخیر وائی چه خیر فرائض دی اودهغے دروازے نوافل دی، ځکه نوافل مکملات دفرائضو دی خو په آخرت کښے۔او د ابواب نه مراد خزائن الخیر هم دی ځکه چه انسان په دروازه داخل شی نوخزانه ورته حاصلیږی۔ هرکله چه مونږ د ابواب الخیر نه نوافل مراد کړل نو سوال دفع شو چه صوم وغیره خو مخکښے ذکر شو نو ولے تکرار کوی؟ نوجواب اوشو چه مخکښے فرائض وو اوس نوافل۔اودیته ابواب الخیر په دے وجه هم وئیلے شویدی چه څوك په دے اعمالو عادت شی نو هر خیر ورته آسانیږی، او ابتداء کښے داکارونه سخت وی خوکله چه انسان دا دروازه لاندے کړی نو ګران کارونه ورته آسان شی۔

اَلصَّوْمُ جُنَّةٌ : جُنَّة په ضمه دجیم اونون مشدد سره ډال ته وائی، نومعنی داده چه : ۱- لکه څنګه چه په ډال سره انسان ځان بچ کوی په وخت دجنګ کښے د تورو نه، نو دغه شان روژه هم ډال دے په دے سره انسان دهغه ګناهونو او شهواتو نه بچ کیږی کوموسره چه انسان اورته رسیږی۔ ۲- دغه شان روژے ته ډال په دے وجه وئیلے شویدے چه په روژه کښے انسان اوګے وی نو د شیطان مجاری (لارے) بند وی، نووسوسے ئے اثر نه کوی۔

۳- قاضی عیاضؒ فرمائی : د روژے په وجه دانسان دخواهشاتو مخ نیوے کیږی کما فی الحدیث : ما ملا آدمی وعاءً شراً من بطن)۔ اخرجه الترمذی ابواب الزهد (۶۳/۲) وفی مسند احمد (۱۳۲/۴-۵۰)۔ (انسان د خیټے په شان بد ترین لوخے نه دے ډك کړے)۔ بِرَأْسِ الْاَمْرِ : یعنی ددین د اصل خبر تاته نه درکوم، ذکر درأس دے او مراد ترینه اصل دے،اود الامر نه مراد هغه دین دے چه نبی اکرم ﷺ پرے رالیګلے شویدے۔ وَعَمُوْدُهُ الصَّلَاةُ : عمود ستنے ته وائی مراد ترینه (ما یقوم به الدین) دے (دین چه په څه باندے اودریږی) لکه خیمه چه په ستنو اودریږی۔ وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ: بکسر الذال وضمها دڅیز پورتنئ حصے ته وائی لکه ذروة الجبل د غرڅوکے ته وائی۔ سنام : قُب، اود اوښ پورتنئ حصه۔

فائده : دلته د اسلام تشبیه دسر سره اود مانځه تشبیه دخیمے سره اود جهاد تشبیه داوښ دقُب سره ورکړے شویده۔ داسلام نه مراد کلمه د شهادتین دی نو لکه څنګه چه بنده تر څو پورے ددے کلمے اقرار اونه کړی نو هغه ته ددے دین نه هیڅ نه حاصلیږی، خو کله چه اقرار اوکړی نو اصل دین حاصل شو، خوددے سره چه صلاة نه وی نو دین د انسان پریوتلو والا وی، خو چه هغه قائم کړی نو داسے شو لکه خیمه چه اودروی۔ بیا چه کله انسان جهاد کوی، نو په دے سره دا دین ترقی کوی، شرافت ورته حاصلیږی۔ نو اسلام په نسبت د نورو اعمالو په منزله د رأس (سر) دے په نسبت د باقی بدن لکه څنګه چه بدن په غیر د سر نه باقی نه پاتے کیږی دغه شان باقی اعمال په غیر داسلام نه بے کا ره دی۔په ذروه سنامه الجهاد : کښې اشاره ده ګران والی او

اوچته مرتبه دجهاد ته دا وجه ده چه امام احمدؒ وغيره فرمائي : (افضل الاعمال بعد الفرائض الجهاد في سبيل الله)۔ (د فرائضو نه روستو په ټولو اعمالو کښې بهترين عمل جهاد في سبيل الله دے)۔

اَلْجِهَادُ : دجهاد ډير اقسام دي كما ياتي دلته ترينه مراد قتال دے اودا ذروة السنام په دے وجه دے چه دا متضمن دے ډيرو اعمالو لره لکه د الله دوستانو سره مينه کول، اودهغه دشمنانو سره دشمني کول، حدود قائمول، کفار ذليله کول، ايمان قوي کيدل، اتحاد پيدا کيدل، دکفارو نه په دنيا کښې عذاب الهي اړول، اوداسے نورے بے شماره فائدے په جهاد کولو باندے مرتبے دي نوځکه ورته ذروة السنام اووئيلے شو۔

تنبيه : رأس الامر الاسلام : ملا علي قاري (۱/۱۰۵) فرمائي : په دے عبارت کښې تشبيه مقلوب ده، اصل کښې داسے دے : (الاسلام رأس الا مر)، ځکه دلته مقصود تشبيه دا سلام ده د رأس الامر سره، چه دا معلومه شي چه داپه نورو اعمالو کښې داسے دے لکه په جسد کښې چه سر دے چه باقي جسد په وجود کښې محتاج دے بقاء دسر ته، نو دغه شان اسلام هم دے۔

بِمَلَاكِ ذٰلِكَ كُلِّهِ : مِلاك په کسره دميم سره پرې ته وائي چه د بوجئ خُله پرے تړلے شي، دارنګه هر هغه څيز ته وائي چه په هغے سره اِحکام او تقويت دڅيز راځي، نو معنی داده چه آيا تاخبر نه کړم په هغه څه سره چه انسان دهغے په سبب سره مالك ګرځي ددے ټولو کارونو۔ اودا ټول عبادات ورته آسانيږي، او هغه حفاظت دحقوق العباد دے ځکه چه بيا انسان مفلس دعمل ګرځي۔

بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهٖ : دا دمعاذ ګمان دے۔ اود عامو خلقو هم داګمان دے چه ګنے خبرے عمل نه دے، عمر بن عبد العزيزؒ فرمائي : (من جعل كلامه مِنْ عمله قلّ كلامه ۔ (چا چه خبرے د عمل نه اوګڼلے نو خبرے به ئے کمے شي)

امام شافعي رحمه الله فرمائي : (۱/۱۰۵)۔

احفظ لسانك ايها الانسان ❁ لا يلدغنك انه ثعبان

كم في المقابر من قتيل لسانه ❁ كانت تهاب لقاء ه الشجعان ۔

(اے انسانه ! د ژبے حفاظت کوه ځکه دا مار دے چرته تا ټك درنکړي) (په مقبرو کښې ډير د ژبے مقتولين پراته دي چه د هغوی د ملاقات نه بهادران هم يريږي)

سوال : معاذ ته څنګه اشتباه راغله چه دژبے په خبرو انسان رانيولے کيږي که نه ؟

جواب : دلته مراد بما نتكلم نه (بجميع ماتتكلم) (ټولے خبرے) دي او همدا منشاء د اشتباه دمعاذ ده۔ **ثَكِلَتْكَ اُمُّكَ** : د باب سمع نه ماضي صيغه ده يعني مور درباندے بوره شه، يعني هغه دے تا ورك کړي ته دے دهغے نه مرشے : ۱- دا خو يا عادتي ښيرے دي ددے د وقوع اراده نه وي، عرب ئے استعمالوي۔ ۲- او يا زورنه ده هغه ته چه مهمه خبره ده اوته ترے خبر نه ئے۔

وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ : (**فائده نادره**) : قانون دا دے چه هر باب لازم چه متعدي کيږي نو دهغے

یوه طریقه دا ده چه باب افعال ته ئے نقل کړه نو متعدی به شی، اوهر چه دا باب دے نو په دے کښے د تهولو بابونو خلاف کار دے چه مجرد ئے متعدی دی اومزید ئے لازم دی۔ نو دلته دوه قرأته دی، یو دا چه یَکُبُّ مجرد شی او الناس ورته مفعول به شی اوحصائد السنتهم ورله فاعل شی، او اضافت د حصائد، السنتهم ته اضافت د اسم مفعول دے فاعل ته ای محصودات الالسنه۔ نو معنی به داسے شی : نه ارتوی پرمخے خلقو لره په اور کښے په مخونو او پوزو باندے مگر هغه خبرے چه ژبو لو کړی وی۔ ❁ دویم قرأت : یُکِبُّ لازم شی، الناس ورله فاعل دے او الاحصائد السنتهم کالمفعول دے ای بسبب محصودات الالسنة۔ نو معنی داده چه نه غورځیږی خلق په اور کښے په مخونو اوپوزو باندے مگر په سبب د هغه خبرو چه دخلقو ژبو لَو کړیدی۔ عَلٰی مَنَاخِرِهِمْ : جمع دمنخر بفتح المیم وکسر الخاء، دپوزے سوری ته وائی دا چونکه په سقوط کښے اول وی نو ځکه ئے داخاص کړو۔

دلته نبی علیه السلام د انسان د خبرو تشبیه ورکړه د هغه فصل سره چه لوکړے شی په لور سره او دا د نبوت بلاغت دے یعنی لکه څنګه چه لور هرڅه پریکوی د لامده او اوچ، جید او ردی فرق نه کوی نو دغه شان د بعضے خلقو ژبه هم هر قسمه خبرے کوی ښه او بد تول راتاووی۔

فائده : د ژبے حفاظت ډیر ضروری دے که نه وی نو بیا اعمال ضائع کیږی داسے مثال لری لکه څوك په بوجئ کښے غَلَه واچوی او دهغے خوله اونه تړی، نو هغه به ضائع کیږی۔

درجة الحدیث : اسناد حدیث معاذ صححه الترمذی وقال : حدیث صحیح۔ وصححه الالبانی فی صحیح الجامع (۲/۹۱۳) رقم (۵۱۳٦) وهوعن ابی وائل عن معاذ۔ وکان معاصره فهو صحیح علی شرط مسلم ورواه احمد (۵/۲٤۸) عن شهر بن حوشب عن عبدالرحمن بن غنم عن معاذ، فصار صحیحاً وانظر صحیح ابن ماجه(۳۹۷۳) والارواء (۲/٤۱۳) وصححه فی کتاب الایمان لابن تیمیه ص (۲)۔

ایمان په کومو څیزونو سره کامل کیږی؟

۲۹- وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ اَحَبَّ لِلّٰهِ وَاَبْغَضَ لِلّٰهِ وَاَعْطٰی لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَکْمَلَ الْاِیْمَانَ». رواه ابوداود ۳۰- ورواهُ الترمذی عن معاذ بن انس مع تقدیمٍ وتاخیرٍ وفیه:« فَقَدِ اسْتَکْمَلَ اِیْمَانَهٗ»

ترجمه : ابو امامهؓ وائی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : څوك چه (چاسره) الله دپاره محبت کوی، الله دپاره بغض اوکینه ساتی، الله دپاره خرچ کوی او الله دپاره خرچ بندوی، نویقیناً هغه ایمان کامل کړو (ابوداود) اوترمذی دا روایت دمعاذ بن انسؓ نه څه قدرے تقدیم او تاخیر سره نقل کړیدے، چه دهغے آخری الفاظ دا دی : نو یقیناً هغه خپل ایمان مکمل کړلو۔

تعارف دابو امامه ﷺ : دده نوم صُدی بن عجلان الباهلی دے په کنیه باندے مشهور دے، ابتداءً

مصر كښې اوسيدلو بيا حِمص ته لاړو هلته اوسيدو ترديې چه وفات شو. كان من المكثرين في الاحاديث. ده نه ټول (۲۵۰) احاديث نقل دي. نبي اكرم ﷺ ورته فرمائيلي وو: (انت مني وانا منك). (يعني ستا خاص تعلق ماسره دے اوزما خاص تعلق تاسره دے). په كال (۸۶ھ) كښې د(۹۱) يا د (۱۰۶) كالو په عمر باندے وفات شو. اودا په شام كښې آخري صحابي دے چه وفات شويدے. اودا ډير كرامت والا صحابي دے.دده بعضے كرامات علامه ابن كثير ذكر كړيدي يو كرامت ئے په (۳/۲) كښې په صحيح سند سره ذكر كړيدے هغه دا چه ابو امامهؓ فرمائي: زه نبي اكرم ﷺ دخپل قوم ددعوت دپاره اوليږلم نو هغوي مے اسلام ته راؤبلل ليكن هغوي نه منلو، نوزه تږے شوم، ما ورته اووئيل: هلاك شئ يو گوټ اوبه خو راباندے اوڅكوئ، سخت تږے يم، هغوي وئيل نه ئے دركوو بلكه همدغسے ډے پريدو چه د تندے نه مرشے. دا فرمائي: زه غمژن شوم او شړئ راسره وه هغه مے واغوسته اوپه گرمه زمكه باندے په سخته گرمئ كښې اوده شوم، په خوب كښې يو شخص راته د شيشے پياله راوړله چه داسے ښائسته پياله چانه وه ليدلے، په هغے كښې داسے خوږے اوبه وے چه هيچا داسے نه وے ليدلے، ماته ئے راكړے ما اوڅكلے او ددے نه پس رابيدار شوم نو قسم په الله چه ددے څكلو نه پس نه يم تږے شوے. بل روايت كښې دي چه خلقو يوبل ته اووئيل: تاسو ته دسردارانو دقوم نه يو سړے راغلے دے تاسو ورته يو گوټ پئ ورنكړل نو هغوئ ماته پئ راوړل، ما ورته اووئيل: زما ديته حاجت نشته، ماته الله تعالى خوراك څښكاك راكړو او خلقو ته مے خيټه وروښكاره كړه نو هغوي ټولو ايمان راوړو.

تشريح: مَنْ اَحَبَّ لِلّٰهِ: په دے كښې الولاء (جوړ) ته اشاره ده او: وَاَبْغَضَ لِلّٰهِ كښې البراء (توړ) ته اشاره ده چه الله دپاره مينه كول او الله دپاره برائت كولو نه اسلام مركب دے. اودا څلور اعمال ئے خاص كړل سره ددے نه چه هر عمل به مؤمن دالله دپاره كوي، وجه داده چه دا حظوظ نفسانيه دي نو ددے خالص كول گران دي كله چه دا اعمال دالله دپاره خالص شي نو دنورو اعمالو خالص كول گران نه دي ددے وجه نه ئے ديته د دين كمال اووئيلو.

درجة الحديث: دا حديث صحيح دے، اوگوره الصحيحة (۱/۷۵۷) رقم (۳۸۰) وفي سنده قاسم بن عبد الرحمن الشامي وهو حسن الحديث، قال الحافظ: صدوق. ولهذا الحديث ثلاثة طرق، فالحديث صحيح لغيره) وصححه الالباني في صحيح الجامع (۵۹٦۵). نو څوك چه ورته ضعيف وائي صحيح نه ده (صحيح ابي داود رقم: ٤٦٨١) دغه شان روايت د معاذ بن انس الجهني هم حسن دے والحمد لله.

د ټولو نه افضل عمل كوم يو دے؟

۳۱- وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَفْضَلُ الْاَعْمَالِ الْحُبُّ فِي اللهِ وَالْبُغْضُ فِي اللهِ». رواه ابوداود

ترجمه : ابو ذرؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمایل : (باطنی) اعمالو کښې د ټولونه افضله مرتبه دهغې عمل ده چه الله دپاره (چاسره) محبت وی او الله دپاره (چا سره) بغض او عداوت اوساتلې شی (ابوداود)۔

تشریح : اَفْضَلُ الْاَعْمَالِ : په دې کښې سوال دې چه نبی اکرم ﷺ صرف دې اعمالو ته افضل اووئیل حال دا چه نور اعمالو ته هم افضل وئیلې شویدی چه هغه هم افضل او خیر دی، نو افضل خو یو وی ډیر خو افضل نه شی کیدې دا څنګه صحیح کیږی؟۔ **جواب** : دا افضلیت په اعتبار دموقع سره دې یا افضلیت په دې نوع کښې مراد دې، یا افضلیت په اعتبار د اختلاف د اشخاصو سره دې، کما مر فی الحدیث الخامس من هذا الباب۔

درجة الحديث : رواه ابو داود وفی اسناده مقال ۔ ځکه په دې کښې هم یزید بن ابی زیاد الکوفی دې وهو لا یحتج بحدیثه، کذا قاله المنذری۔ لیکن په مسند احمد او بیهقی او طبرانی کبیر کښې ددې شواهد ذکر دی، فهو صحیح لشواهده، فقد رواه احمد (۲۸۶/٤) عن البراء مرفوعاً : (اوسط عُرَى الايمان ان تحب لله وتبغض لله) واسناده حسن فیه لیث وهو حسن الحدیث فی الشواهد، وله شاهد من حدیث ابن عباس وابن مسعود ولذلك حسنه السيوطي والمناوي وضعفه الالباني في الضعيفة (٤٨٦/٣) فلينظر الى شواهده. وسكت عليه الحافظ في الفتح (٤٧/١) واشار اليه البخاري تعليقاً (٦/١) وقواه المباركفوري۔

۳۲- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ وَالْمُؤْمِنُ مَنْ اَمِنَهُ النَّاسُ عَلٰى دِمَائِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ» رواه الترمذی والنسائیُّ .

۳۳- وزاد البیهقی فی شعب الایمان بروایة فضالة: «وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهٗ فِىْ طَاعَةِ اللهِ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوْبَ» ـــــــــــــــ

ترجمه : ابو هریرهؓ وائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : (کامل او رښتینې) مسلمان هغه دې چه دهغه دلاس اوژبې (دضرر نه) مسلمان محفوظ وی، او (پوخ او صادق) مؤمن هغه دې چه هغه نه خلق خپل ځان او مال په آمان اوګنړی (ترمذی، نسائی) او شعب الایمان کښې چه بیهقی د فضالهٔ نه کوم روایت نقل کړیدې هغې کښې دا الفاظ هم دی : او حقیقی مجاهد هغه دې چه د الله طاعت او عبّادت کښې خپل نفس سره جهاد اوکړی۔ او (اصل) مهاجر هغه دې چه ټول واړه او غټ ګناهونه پریدی۔

تعارف د فضاله ؓ: دده دپلار نوم عبید انصاری، دده کنیه ابو محمد ده، سابق فی الاسلام دې اوله غزا ئې د احُد کړیده صلح حدیبیه کښې هم حاضر وو دمصر اوشام په فتح کولو کښې هم شریك شویدې، شام کښې اوسیدلو، معاویهٔ قاضی مقرر کړې وو په دمشق باندې پس دوفات دابو درداءٔ نه۔ په زمانه د خلافت د معاویه کښې وفات شویدې او معاویه ؓ دده د کټ پورته کونکو نه وو۔ په کال

(۵۳ ھ) کښې وفات شویدے۔ ټول نقل شوی احادیث دده نه (۵۰) دی۔

تشریح : وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِيْ طَاعَةِ اللهِ : یعنی مجاهد فقط هغه نه دے چه دکفارو سره قتال کوی بلکه مجاهد هغه هم دے چه خپل نفس سره جهاد کوی، هغه په طاعت د الله مجبورکړی ځکه د انسان نفس دکفارو نه هم زیات لوئی دشمن دے لکه حدیث کښې دی (ان اعدٰی عدوك نفسك التی بین جنبیك) ځکه دکفارو سره جنګ کله کله واقع کیږی او هغوی د مسلمان نه وړاندے وی او هرچه نفس دے نودا انسان لره همیشه دپاره دخیر اوطاعاتونه منع کوی، ها ورسره همیشه دشمنی کوی۔ لهذا دهغه دشمن سره قتال کول کوم چه دانسان سره علی الدوام دے داد هغه قتال نه ډیر اهم دے کوم چه دکافر دشمن سره وی، کوم چه ډیر وړاندے دے او کله کله کیږی۔

۲- دویمه وجه دا ده چه نفس او شیطان د بادشاه پشان دی او کفار دهغے لښکر دے لهذا دلښکر په نسبت داصلی بادشاه (نفس) مقابله کول اصلی جهاد دے۔او دیته یوحدیث کښې اشاره شویده (فذلکم الرباط) سره۔اود (رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر) (البیضاوی والزهد للبیهقی) هم دا معنی ده اګرچه دے حدیث ته امام ابن تیمیهؒ موضوع اوبے اصله وئیلے دے، مجموع الفتاوی (۱/ ۴۸۹) (النساء) والضعیفه (۵/ ۴۷۸) حافظ ابن حجر ورته په تخریج الکشاف ۴/ ۱۱۴) رقم (۳۳) کښې ضعیف وئیلے دے۔ لیث بن ابی سلیم پکښې دے۔ دے تقریر سره دا سوال دفع شو چه المجاهد معرفه مبتداء ده اوخبرهم معرفه دے نو دا حصر پیدا کوی، نو معنی داشوه چه مجاهد صرف او صرف هغه دے چه دنفس سره جهاد کوی د الله په طاعت سره۔نو آیا مجاهد صرف همدغه دے، مقاتل فی سبیل الله مجاهد نه دے؟۔ نوجواب اوشو چه دا حصر د اهمیت په جه سره شویدے چه دا جهاد ډیر اهم دے دارنګه دا ډیر اغلب دے اوهغه بل احیاناً کله کله وی نو هغه ددے په نسبت داسے دے لکه ګویا که لاجهاد۔فتدبر!

۳- دارنګه داقاعده هم ده چه دیو جنس کمالات په یو خاص فرد کښې موجود وی نو په هغه فردباندے د جنس اطلاق بطور حصر کیږی لکه زید الشجاع۔نوشجاعت خو په نورو کښې هم موجود دے خو په زید کښې دومره پوره طریقے سره دے چه ګویا شجاعت هم ده پورے خاص دے، ځکه په نورو خلقو کښې هم اګرکه شجاعت موجود دے خو دومره کمال سره نه څومره چه زید کښې دے۔ نو دلته هم په دے قسم جهاد کښې ډیر کمال وو نو ځکه په دے باندے ددے جنس (المجاهد) اطلاق بطور حصر اوشو۔ چه اګرچه نور جهادونه هم شته خو لیکن دنفس والا جهاد د خپل کمال په وجه ګویاکه صرف همدا جهاد دے۔

د لفظ جهاد یو څو اطلاقات دی : ۱- جهاد کله په معنی دقتال سره وی۔ ۲- کله په معنی د مُجَاهَدَةُ النفس سره وی، لکه ﴿ وجاهدوا فی الله حق جهاده ﴾ الحج : ۷۸) ۔ او لکه ﴿ والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا ﴾ الآیة العنکبوت : ۶۹) ۔ بیا جهاد په لغت کښې کوشش کولو او ځان

کړولو ته وائی۔ او په اصطلاح دشریعت کښې: (هو بذل النفس والمال لاشاعة الاسلام)۔ (د اسلام د اشاعت (خوره ولو) دپاره نفس او مال لګولو ته جهاد وائی)۔

اقسام الجهاد : جهاد په څلور قسمه دے: ۱- د نفس سره جهاد۔ ۲- د شیطان سره جهاد۔ ۳- دکفارو سره جهاد۔ ٤- دمنافقینو سره جهاد۔ بیا جهاد د نفس سره په څلور قسمه دے: ۱- جهاد النفس علی تعلیم العلم والهدی والدین الحق (د نفس سره جهاد کول په تعلیم دعلم، هدایت او دین حق زده کولو)۔ ۲- جهاد النفس علی العمل به (جهاد په عمل کولو)، څکه یواځې علم حاصلول که انسان ته ضرر ورنکړی نو فائده هم نه ورکوی ترڅو پورے چه عمل ورسره نه وی۔ ۳- جهاد النفس علی الدعوة الیه وتعلیمه)۔ (نفس سره جهاد کول په دعوت کولو د دین او تعلیم د دین سره) څکه که دعوت او تعلیم دعلم نه وی نو انسان د الله دعذاب نه اود کتمان العلم دعذاب نه نشی خلاصیدلے۔ ٤- جهاد النفس علی الصبر علی مشاق الدعوة الی الله واذیٰ الخلق۔ (د نفس سره جهاد کول په صبر کولو په مشقتونو د دعوت الی الله او تکلیفونو د خلقو) کله چه انسان ته دا مراتب حاصل شی نو داعالم ربانی شمارل کیږی۔ (الذی یدعی کبیراً فی ملکوت السموات) چه بیا آسمانونو کښې عظیم او لوئی شخصیت شمارلے کیږی)۔

او د شیطان سره جهاد په دوه قسمه دے: ۱- الجهاد بدفع الشکوك والشبهات القادحة فی الایمان۔ (شکوك او شبهات چه ایمان خرابوی دفع کول)۔ ۲- الجهاد بدفع الشهوات والارادات الفاسدة۔ (شهوات او غلطے ارادے دفع کول) اوشهوات دشرك پشان دی، څکه چه شرك کښې هم انسان د الله نه محرومیږی اوپه شهواتو کښې هم انسان دالله نه محرومیږی، غیر الله کښې مشغول وی۔ بیا د شیطان سره په اول جهاد کولو سره یقین پیدا کیږی۔ او په دویم جهاد سره صبر پیدا کیږی۔ اودا دواړه چه حاصل شو نو امامت فی الدین انسان ته ملاویږی۔ لکه الله فرمائی: ﴿وجعلنا منهم ائمة یهدون بامرنا لما صبروا وکانوا بآیتنا یوقنون﴾ [آلم السجدة: ٢٤]۔

وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوْبَ : ګناهونه پریښودونکی ته مهاجر وئیل شویدے، ددے وجه داده چه غرض په هجرت کښې دا وی چه مؤمن په غیر دځه مانع نه د الله په طاعاتو باندے قادرشی اود اشرارو دصحبت د تاثیر نه بچ شی او دا غرض دګناهونو په پریخودلو کښې حاصلیږی نو څکه ده ته حقیقی مهاجر وئیلے شویدے، کذا ذکره الطیبیؒ۔

او د کفارو، منافقینو سره جهاد هم په څلور قسمه دے: ۱- جهاد بالقلب۔ (په زړه) ۲- جهاد باللسان (په ژبه)۔ ۳- جهاد بالمال (په مال)۔ ٤- جهاد بالنفس والسیف والسنان واقامة الحدود علیهم (په نفس، توره، او حدودو قائمولو په هغوی)۔

بیا دکفارو سره جهاد په لاس پورے خاص دے، او منافقانو سره جهاد په لسان پورے خاص دے۔ بل قسم جهاد دظالمانو او دمنکراتو اوبدعاتو والو سره دے، هغه هم په درے قسمه دے: ۱- جهاد بالید۔ چه

هغوی په لاس سره منع کړے شي۔ ۲- جهاد باللسان۔ که دلاس قدرت نه لري نو په ژبه به هغوی منع کړے شي۔ ۳- جهاد بالقلب۔ لکه دا درېواړه حديث کښې ذکردي : (من رأى منكم منكراً فليغيره بيده۔۔۔ الحديث) نو ټول اقسام دجهاد (۱۳) دیارلس دی۔ کذا في زاد المعاد في كتاب الجهاد (۱۰/۳)

وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوبَ : د ذنوب اوخطايا ترمينځه فرق دا دے چه ذنوب غټ ګناهونو ته وائي او خطايا وړو ګناهونو ته۔ ۲- ذنوب اعم دے دخطايا نه، ځکه دا کله قصداً هم کيږي، په خلاف دخطيئة نه۔ بيا دخطايا درے اطلاقات دی : ۱- ضد العمد (د قصد ضد)۔ ۲- المعصية الصغيرة (واړه ګناهونه)۔ ۳- المعصية الكبيرة (غټ ګناهونه)۔

درجة الحديث : اسناد حديث ابي هريرة (حسن) اخرجه الترمذي (۲٦۲۹) والنسائي (۱۰٤/۸) واسناد حديث شعب الايمان صححه الالباني في الصحيحة (٥٤۹)۔

دامانت اود لوظ پوره کولو اهميت

۳٤ - وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: قَلَّمَا خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِلَّا قَالَ «لَا اِيْمَانَ لِمَنْ لَا اَمَانَةَ لَهُ وَلَادِيْنَ لِمَنْ لَاعَهْدَ لَهُ». رواهُ البيهقيُّ في شعب الايمان۔

ترجمه : انسؓ وائي : رسول الله ﷺ به داسے خطبه مونږ ته کمه راکړے وی چه هغے کښې به ئے دا نه وی فرمائيلی : چه کوم سړی کښې امانت نشته دهغه ايمان هيڅ هم نه دے او چاکښې چه وعده پوره کول نه وی، دهغه دين هيڅ هم نه دے (شعب الايمان)۔

تشريح : قَلَّمَا خَطَبَنَا : قلما په معنی دنفی سره هم راځی۔ (ما خطبنا وما وعظنا)۔ او دليل په دے باندے روستو استثناء ده۔ بيا ئے قلما ذکر کړو چه حصر لازم نشی ځکه بيا کذب لازميږی۔

فائده : معلومه شوه چه يوه خبره بار بار کول هم جواز لري۔

لَا اِيْمَانَ لِمَنْ لَا اَمَانَةَ لَهُ : **داقاعده** ياد لرل پکار دی چه کمال په دوه قسمه دے : کمال وجوبی، اوکمال استحبابی۔ ۱- کمال استحبابی ديته وائي چه ديو شئ ټول شرائط او ارکان موجود وی صرف بعضے مستحبات په کښے کم وی نو عام طور سره په قرآن اوسنت کښے ددے قسم نفی نه ده راغلے چه مثلًا دا عمل عمل نه دے نو د (لاصلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب) دا معنی نه ده چه صرف مستحب ترينه پاتے شويدی اومونځ صحيح دے بلکه دلته به نفی دکمال وجوبی وی يعنی دے مونځ کښے واجب او فرض پاتے شويدی نوځکه نه صحيح کيږی۔ دليل ددے دادے چه که په قرآن اوسنت کښے نفی دکمال استحبابی راشی نو بيا خو دهر چا عمل غلط دے زمونږ دمسلمانانو په ډيرو اعمالو کښے مستحبات نه وی، مانځه کښے ډير مستحبات پاتے کيږی بيا به هغه هم صحيح نه وی۔ لکه حديث دے (لا تجزئ صلاة الرجل حتى يقيم صلبه في الركوع والسجود۔

اخرجه ابو داود : ۱۳۱/۱ والترمذي (۵۱/۲) بسند صحيح۔ كما في المشكوة : ۸۲/۱۔ والسلسلة الصحيحة (۹۲/٦)۔

دلته دا معنی نه ده چه مونځ کښے رکوع او سجده برابرول دا سنت يا مستحب عمل دے، په دے

سره نفی دمانځه نه کیږی بلکه مطلب دادے چه مونځ ددے په پریخودلو سره خرابیږی۔ بناء په دے باندے امانت هم دوه قسمه دے کما یاتی۔ نودلته یا نفی دکمال استحبابی ده یا نفی دکمال وجوبی۔ نوکه د امانت نه مراد حقوق العباد شی نو بیا نفی دکمال استحبابی ده۔ معنی به دا شی چه کامل ایمان نشته دهغه چاچه د امانت ادائیگی ورلره نه وی۔ اودا قسم کمال وجوبی په احادیثو کښے مراد وی۔ ته نفی دکمال استحبابی ځکه بیا به یو عمل هم صحیح پاتے نشی ولے چه په ډیرو اعمالو کښے مستحباتو باندے راتگ نه کیږی۔ ۲- اوکه د امانت نه مراد عام شی چه امانت د الله وی لکه فرائض حدود غیره او یا امانت فی حقوق العباد وی۔ نو بیا نفی داصل ایمان ده یعنی د سره ایمان نشته دهغه چاچه هیڅ امانت په کښے نه وی یعنی حقوق الله اوحقوق العباد دواړه ئے برباد کړی وی۔ بلکه اعمال نه کوی اوعهده وغیره کښے خیانت کوی، اودا قول په دے حدیث کښے مراد کیدے شی۔

وَلَادِيْنَ لِمَنْ لَاعَهْدَ لَهٗ : په دے کښے دعهد نه مراد دمخلوق سره لوظونه کول دی یعنی هغه لوظونه چه بندگان ئے دیو بل سره کوی، نو بیا نفی دکمال مراد ده۔ یعنی هغه شخص کامل دیندار نه دے چه دانسانانو سره په لوظونو کښے خلاف کوی بلکه دمنافقانو علامه په کښے موجود ده۔ اوکه دعهد نه مراد د الله سره لوظ کول مراد شی کوم چه په ازل کښے د ټولو ذریاتو دآدم نه الله تعالی اخستے دے کوم چه په دے آیت ﴿ واذ اخذ ربك من بنی آدم من ظهورهم ذریتهم واشهدهم علی انفسهم الست بربکم قالوا بلی ﴾ [اعراف : ۱۷۲] کښے ذکر دے چه دا لوظ په اقرار د ربوبیت دالله دے اویا هغه عهد چه آدم علیه السلام دنیا ته د راکوزیدو په وخت کښے دهغه د اولاد نه اخستے شویدے ﴿ قلنا اهبطوا منها جمیعاً فاما یاتینکم منی هدی ﴾ (البقره : ۳۸) کښے راغلے دے چه هغه عهد دهدایت تعلق وو – نو بیا نفی د اصل دین ده لکه چه دا نفی حقیقی ده۔ یعنی بالکلیه دین دهغه چا ... لوظونه نه لری، اقرار بالربوبیة نه کوی یا اتباع دهدایت نه کوی۔

... ت سره ایمان ذکر شو اود عهد سره دین ذکر شو دے کښے نکته داده چه په امانت کښے ... وی، دامانتو معامله خلق پته ساتی نو په دے کښے دایمان پته لگی چه آیا دا انسان ... ت کوی اوکه نه، ځکه چه ایمان هم باطنی څیز دے۔ اوهرچه عهد دے نو داد عامو خلقو ... په دے سره دانسان دینداری معلومیږی کله چه انسان دعهد (لوظ) پابند وی هغه ته ... نداریٔ کوی اووعده خلاف انسان ته نسبت دے دینیٔ کیږی۔

بیا امانتو ته ډیر قسمو ... ال کښے۔ ۲- وعده کښے۔ ۳- عهده (خلافت، قضاوت، افتاء، تدریس وغیره) کښے۔ ٤- خبرو ... - دالله تعالی فرائضو کښے۔ ٦- فروج او ابدانو کښے۔

درجة الحدیث: اسناده صحیـ... خرجه احمد (۱۳۵/۳، ۱۵٤، ۲۱۰) والبیهقی فی الشعب والکبریٰ (۲۸۸/٦) فعزو المصنف هذا ال... ث الی البیهقی فقط وهم منه رحمه الله۔

الف ... ثالث - دریم فصل

دیے نـه مراد هغه ملحقه احادیث دی چه صاحب المشکوٰة غیر مقید پیوسته کړیدی برابره خبره ده که صحیحینو کښې وی اوکه اصحاب السنن راوړی وی اوکه دصحابی نه وی اوکه تابعی نه۔

دابدی نجات ضمانت

۳۵- وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ يَقُوْلُ : «مَنْ شَهِدَ اَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ النَّارَ». رواهُ مسلم۔

ترجمه :عباده بن صامت ؓ وائی : ما درسول الله ﷺ نه دا واریدل چه کوم سړی (رښتینې زړه سره) ددیے خبرے گواهی اوکړه چه الله نه سیوا بل هیڅوك دعبادت لائق نشته او محمد (ﷺ) دهغه رسول دیے نو الله تعالی به (په خپل فضل اوکرم سره) په هغه د دوزخ اُور حرام کړی (مسلم)۔

تشریح : ددیے تشریح مخکښ شویده چه دلته مراد دا دیے چه ددیے توحید بدله دا ده چه اور په انسان باندیے حراموی خو که چرته مانع نه وی موجود یعني نور گناهونه ورسره نه وی نو بیا به بالکل پریے اور حرام وی او که نور گناهونه مانع شو ددیے بدلے نه نو بیا به څه وخت پوریے جهنم ته ځی آخر کار به جنت ته راځی۔

د توحید اهمیت او بدله

۳۶- وَعَنْ عُثْمَانَ ؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:«مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ اَنَّهُ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ». رواهُ مسلم

ترجمه : عثمان بن عفان ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : څوك چه په دیے (پخه) عقیده وفات شو چه الله نه سِوا بل هیڅوك دعبادت لائق نشته، نو هغه به جنت ته داخلیږی ۔ (مسلم)۔

تعارف د عثمان ؓ دده شجره نسب داسے ده : عثمان بن عفان بن ابی العاص القرشی الاموی المدنی، کنیه ئے ابو عبد الله یا ابو عمر ده، دده ډیر فضائل دی، یو د عشره مبشره نه دیے، د تبوك په غزا کښې دصحابو دپاره ده دجنگی آلاتو او سامان پروگرام کړیے وو، نهه سوه اوښان، سل اسونه، (۲۲) لکهه روپیۍ او اشرفیۍ ئے ورکړیدی۔ د شورىٰ دشپږ کسانو نه دیے، نبی اکرم ﷺ تریے راضی وو، دعام الفیل نه شپږ کاله روستو پیدا شویدیے، او دابو بکر صدیق ؓ په لاس ئے په ابتدائی حالت کښې اسلام راوړیدیے، او حبشوته ئے دوه هجرته کړیدی، اوبدر غزا ته په دیے وجه حاضر نشو چه دده ښځه رقیه د رسول الله ﷺ لور بیماره وه، د نبی اکرم ﷺ په اجازه حِصار شو او نبی اکرم ﷺ ورله دغنیمت نه برخه مقرر کړه۔ ده ته ذی النورین ځکه وائی چه دنبی اکرم ﷺ دوه لونړه ئے یکے بعد دیگریے په نکاح اخستیے ویے کله چه یوه وفات شوه بله ئے ورته ورکړه، رقیهؓ او ام کلثومؓ۔ دعمر فاروقؓ دشهادت نه دریے ورځے پس ده سره په (۲٤ هـ) کښې د خلافت بیعت اوشو۔او په (۳۵ هـ) کښے د باغیانو په لاس شهید شو۔دولس ورځے کم دولس کاله خلافت ئے کړیدیے۔احادیث منقوله ترینه

(۱۴۶) دی۔ دلائل النبوة للبیهقی (۱۳۶/۷) الاستیعاب (۴۴۵/۱)

تشریح: مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ (فائده): یعلم څکه وائی چه که انسان عند الموت داکلمه اونه لوستله اود مرګ د سختئ په وجه ئے په خوله اونه وئیله بلکه په زړه کښے ئے راوستله نو هم به جنت ته ځی۔ اعتبار آخرے خاتمے لره دے۔ او مراد د لا اله الا الله نه ټول ایمانیات دی یعنی رسول به هم منی، ملائك به هم منی۔ او ټول مؤمن بہٖ به منی۔ ۲- دویمه په دے (یعلم وئیلو) کښے امام نوویؒ فرمائی: رد دے په غلاة (غالیان) مرجئهٔ ؤ باندے چه هغوی وائی: څوك چه دکلمه توحید اقرار اوکړی اګرکه په زړه کښے دهغے مطابق عقیده هم نه لری نو بیا به هم جنت ته داخلیږی نودلته پرے رد اوشو چه صرف اقرار د نجات دپاره کافی نه دے بلکه دهغے علم او عقیده ساتل هم ضروری دی، لکه ددے تائید په بل روایت مسلم کښے داسے راغلے (غیر شاك فیهما) چه شك به نه لری په شهادتینو کښے نو هله به جنت ته داخلیږی اوددے دخول تشریح مخکښے حدیث کښے تیره شویده۔

جنت او دوزخ واجبونکے خبرے

۳۷- وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «ثِنْتَانِ مُوْجِبَتَانِ» قَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ! مَا الْمُوْجِبَتَانِ؟ قَالَ: مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ وَمَنْ مَاتَ لَايُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ». رواه مسلم.

ترجمه: جابر ﷺ وائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دوه خبرے (جنت او دوزخ) واجبونکی دی، یو صحابی عرض اوکړو یارسول الله! هغه کومے دوه خبرے دی چه (جنت اودوزخ) واجبونکے دی؟۔ نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل: رومبئ خبره خو دا چه څوك په دے حال کښې مړ شو چه هغه الله سره څوك شریك کړے نو هغه به دوزخ کښې اچولے شی او (دویمه خبره دا چه) څوك په دے حال کښې وفات شو چه هغه څوك د الله سره شریك نه کړو نو هغه به جنت ته ځی۔ (مسلم)۔

تعارف دجابر ﷺ: جابر بن عبد الله بن عمرو بن حرام الانصاری الخزرجی، په صحابوؓ کښے دعلماؤ نه وو، مسجد نبوی کښے به ئے درس ورکولو۔ بدر ته نه دے حاضر شوے څکه پلار منع کړے وو، لیکن عند البخاری حاضر شویدے او خپلو ملګرو له به ئے په دغه ورځ اوبه راوړلے۔ دے په اتلس (۱۸) غزواتو کښے د رسول الله ﷺ سره حاضر شویدے، آخر عمر کښے په سترګو باندے ړوند شو۔ مدینه کښے په کال (۷۳ هـ) کښے د (۹۴) کالو په عمر باندے وفات شو، او ابان بن عثمان پرے د جنازے مونځ اوکړو۔ بعضے وائی: په مدینه کښے دا آخری صحابی دے چه وفات شو۔ ټول نقل شوی احادیث ترینه (۱۵۴۰) دی۔ هشام بن عروه فرمائی: ما د جابر دپاره په مسجد نبوی کښې یوه عظیمه حلقه اولیده چه هغوی به دده نه علم زده کولو او دده به وئیل ما

دپاره رسول الله ﷺ په شپه د اوښ باندے پنځه ويشت کرته استغفار طلب کړيدے۔

تشريح : قوله ثِنْتَانِ مُوْجِبَتَانِ: يعنی دوه څيزونه (خصلتونه) دی چه هغه انسان دپاره واجبونکی دی اُور يا جنت۔ **فائده** : دلته رسول الله ﷺ اول اجمال اوکړو په ثنتان لفظ سره بيائے ددے تفصيل اوکړو لکه چه دا درسول اکرم ﷺ عادت مبارك وو چه اول به ئے مجمله او مبهمه خبره ذکر کړه، دے دپاره چه ملګری متوجه شی او دومره شوق کښے شی چه په تپوس باندے مجبوره شی،او بيا به ئے روسته دخپلے مجملے خبرے تفصيل فرمائيلو او دا بعينہٖ بلاغت دے۔ داوجه ده چه دلته هم صحابوؓ تپوس کړيدے۔نو سنت طريقه داشوه چه معلم او مقرر له پکار دی چه سمدستی خبره خلقو ته نه غورزوی بلکه اول دِے خلق متوجه کړی بيا دِے خبره شروع کړی ځکه تفصيل بعد الابهام اوقع فی الذهن وی۔ ثنتان دا صفت دخصلتان دے۔

د توحيد په عقيده باندے دقائم اوسيدونکو دپاره دجنت زيرے

۳۸- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ: كُنَّا قُعُوْدًا حَوْلَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَمَعَنَا اَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ فِیْ نَفَرٍ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مِنْ بَيْنِ اَظْهُرِنَا فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا وَخَشِيْنَا اَنْ يُّقْتَطَعَ دُوْنَنَا وَفَزِعْنَا فَقُمْنَا فَكُنْتُ اَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَخَرَجْتُ اَبْتَغِیْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ حَتّٰی اَتَيْتُ حَائِطًا لِّلْاَنْصَارِ لِبَنِی النَّجَارِ فَدُرْتُ بِهٖ هَلْ اَجِدُ لَهٗ بَابًا فَلَمْ اَجِدْ فَاِذَا رَبِيْعٌ يَدْخُلُ فِیْ جَوْفِ حَائِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ - وَالرَّبِيْعُ الْجَدْوَلُ - قَالَ: فَاحْتَفَزْتُ فَدَخَلْتُ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ: «اَبُوْهُرَيْرَةَ ؟» فَقُلْتُ: نَعَمْ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ:مَاشَانُكَ قُلْتُ كُنْتَ بَيْنَ اَظْهُرِنَا فَقُمْتَ فَأَبْطَأْتَ عَلَيْنَا فَخَشِيْنَا اَنْ تُقْتَطَعَ دُوْنَنَا فَفَزِعْنَا فَكُنْتُ اَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَاَتَيْتُ هٰذَا الْحَائِطَ فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ وَهٰؤُلَاءِ النَّاسُ وَرَائِیْ فَقَالَ: «يَااَبَاهُرَيْرَةَ» وَاَعْطَانِیْ نَعْلَيْهِ فَقَالَ: «اذْهَبْ بِنَعْلَیَّ هَاتَيْنِ فَمَنْ لَقِيَكَ مِنْ وَرَاءِ هٰذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهٗ فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَكَانَ اَوَّلَ مَنْ لَقِيْتُ، عُمَرُ فَقَالَ: مَاهَاتَانِ النَّعْلَانِ يَااَبَاهُرَيْرَةَ ؟ قُلْتُ: هَاتَانِ نَعْلَا رَسُوْلِ اللهِ ﷺ بَعَثَنِیْ بِهِمَا مَنْ لَقِيْتُ يَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهٗ بَشَّرْتُهٗ بِالْجَنَّةِ فَضَرَبَ عُمَرُ بَيْنَ ثَدْيَیَّ فَخَرَرْتُ لِاِسْتِیْ فَقَالَ: اِرْجِعْ يَا اَبَا هُرَيْرَةَ ! فَرَجَعْتُ اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَاَجْهَشْتُ بِالْبُكَاءِ وَرَكِبَنِیْ عُمَرُ فَاِذَا هُوَ عَلٰی اَثَرِیْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَالَكَ يَا اَبَا هُرَيْرَةَ ؟ قُلْتُ: لَقِيْتُ عُمَرَ فَاَخْبَرْتُهٗ بِالَّذِیْ بَعَثْتَنِیْ بِهٖ فَضَرَبَ بَيْنَ ثَدْيَیَّ ضَرْبَةً خَرَرْتُ لِاِسْتِیْ فَقَالَ: اِرْجِعْ ! فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «يَاعُمَرُ! مَا حَمَلَكَ عَلٰی مَا فَعَلْتَ؟» قَالَ: يَارَسُوْلَ اللهِ بِاَبِیْ اَنْتَ وَاُمِّیْ اَبَعَثْتَ اَبَا هُرَيْرَةَ

بِنَعْلَيْكَ مَنْ لَقِيَ يَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشِّرهُ بِالْجَنَّةِ ؟ قَالَ: «نعم !» قَالَ: فَلَاتَفْعَلْ فَاِنِّيْ اَخْشٰى اَنْ يَّتَّكِلَ النَّاسُ عَلَيْهَا فَخَلِّهِمْ يَعْمَلُوْنَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«فَخَلِّهِمْ».

رواه مسلم۔

ترجمه : ابو هريره رضی الله عنه فرمائي : (يوه ورځ) مونږ صحابه رسول الله ﷺ نه چاپيره ناست وو مونږ سره ابو بكر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه هم وو، چه رسول الله ﷺ ناڅاپي زمونږ دمينځ نه پاسيدلو او چرته بهرته ئے تشريف يوړو، هركله چه وخت ډير تير شو (او واپس ئے تشريف رانه وړلو) نو مونږ سره سخت فكر شو چه هسے نه زمونږ په غير موجودگئ كښې دچا دشمن دخوانه نبی كريم ﷺ ته تكليف اونه رسي (په دے خيال) مونږ سره ويره پيدا شوه۔ پاسيدونكو خلقو كښې د ټولو نه ړومبنے سړے زه ووم چه د رسول الله ﷺ په تالاش كښې بهرته راووتم چه د نجار قبيلے ديو انصاري باغ ته اورسيدم (په دے خيال چه شايد نبی كريم ﷺ دے باغ كښې دننه وي) ما دننه ورتلو دپاره ځلور واړه اړخونو ته دروازه تالاش كړه۔ خو (دپريشانئ او خوف په وجه) دروازه راته په نظر رانغله ناساپي يو لختے مے په نظر راغے چه د بهر كوهي نه باغ ته دننه تلے وو، ځان مے راغونډ كړو او په هغه لختي كښې ننوتلم اود هغے په ذريعه د رسول الله ﷺ خدمت كښې اورسيدم۔ نبی كريم ﷺ (ناساپي زما ليدو سره دحيرانتيا نه) اوفرمائيل : ابو هريره ئے ! ما عرض اوكړو، آو يارسول الله !۔ وے فرمائيل : څه خبره ده ؟ ما عرض اوكړو يارسول الله ! تاسو مونږ كښې تشريف فرما وئ بيا پاسيدئ روان شوئ، هركله چه وخت زيات تير شو او تاسو واپس رانغلے نو مونږ اوويريدلو چه چرته زمونږ غير حاضرئ كښې (الله دِے نه كړي) تاسو ته څه حادثه نه وي پيښه شوي۔ اود ټولو نه مخكښې ويره په ما خوره شوه ستاسو تالاش كښې دے باغ ته راورسيدم (دلته دروازه په نظر رانغله) نو دلومبړي په شان مے ځان راغونډ كړو (او په دے لختي باغ ته راننوتلم) باقي خلق هم ماپسے را روان دي (دے آوريدلو سره) نبی كريم ﷺ خپلے دواړه پنړے اوخكلے اوماته ئے راكړے او وے فرمائيل : اے ابو هريره ! څه، دا پنړے ځان سره يوسه (چه خلقو ته پته اولگي چه ته ماته راغلے ئے) اود باغ نه بهر چه كوم سړے د زړه په صدق او پوخ اعتقاد سره دا گواهي وركولو سره تاسره يو ځائے شي چه الله نه سوا بل هيڅوك دعبادت لائق نشته نو هغه ته دجنت زيرے وركړه (ابو هريره رضی الله عنه فرمائي : د نبی كريم ﷺ دے پيغام سره زه بهر راووتم، نو) دټولو نه مخكښې عمر رضی الله عنه ما سره ملاؤ شو، هغه تپوس اوكړو، ابو هريره ! دا پنړے درسره څنگه دي؟، ما ورته اووئيل : دا د رسول الله ﷺ پنړے دي، رسول الله ﷺ د نښے په طور دا پنړے ماته راكړيدي ، راليگلے يم چه كوم سړے چه د زړه په صدق او پوخ اعتقاد سره دا گواهي كولو سره ماسره يو ځائے شي چه د الله تعالى نه سِوا بل هيڅوك دعبادت لائق نشته نو زه به هغه ته دجنت زيرے وركوم (دے آوريدو سره) عمر رضی الله عنه زه دومره زور سره په سينه اووهلم چه زه په شا راپريوتم۔ بيا هغه اووئيل : اے ابو هريره !

واپس لاړ شه، نو زه درسول الله ﷺ خدمت کښې په ژړا ژړا واپس راغلم. اخوا دعمرؓ خوف په ما خور وو، اوس څه ګورم چه هغه هم ماپسې ورستو راورسیده (دې حالت لیدو سره) نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : ابو هریره ! څه اوشو، ما عرض اوکړو یارسول الله ! (زه ستاسو پیغام سره بهر راووتم نو دتهولو نه مخکښې زما سره) عمرؓ ملاقات اوکړو، ما ستاسو پیغام هغه ته اورسولو (هغه آوریدو سره) دومره په زوره په سینه اووهلم چه زه په شا په زمکه راپریوتم بیا هغه اووئیل واپس لاړ شه. دې نه پس رسول الله ﷺ دعمر (فاروقؓ) نه تپوس اوکړو، اې عمر ! تاولې داسې اوکړل، هغه اووئیل : یارسول الله ! زما مور اوپلار دې په تاسو قربان وی آیا واقعی تاسو ابو هریرهؓ ته خپلې پڼړې ورکړې او دې دپاره مو اولیږلو چه کوم سړې د زړه په صدق او پوخ اعتقاد سره لا اله الا الله وئیلو سره بیا مومی هغه ته به دجنت زیرې ورکوی. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل آو، عمرؓ عرض اوکړو یارسول الله ! داسې مه کوئ ماسره ویره ده چه چرته خلق په دې زیری بهروسه اونه کړی (او عمل کول پریږدی) نو تاسو هغوی (زیات نه زیات) عمل کولو کښې مشغول پریږدئ. رسول الله ﷺ اوفرمائیل : (که ستا دا مشوره ده) نو بیا خلق عمل کولو کښې مشغول پریږدئ. (مسلم).

مناسبة الحدیث : دا حدیث ددې دپاره راوړل شویدې چه لا اله الا الله اساس الایمان دې او سبب دجنت دئ، په دې حدیث کښې فضیلت دعمرؓ اودهغه فقه فی الدین او اصابة الرأی معلومیږی. او رسول الله ﷺ به په دینی امورو کښې – چه کله به وحی نه وه شوې – مشوره قبلوله.

تشریح : فِیْ جَوْفِ حَائِطٍ : دلته دحائط نه مراد دیوال ددې باغ دې او جوف نه مراد مینځ دې.

مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ : دې لفظ کښې درې قسمه استعمالات دی : ۱ – بئر په تنوین سره دې او خارجةٍ صیغه داسم فاعل صفت د بئر دې یعنی هغه کوهې چه وتلې وو کنستې شوې وو. ۲ – بئر په تنوین سره او خَارِجَةُ په هاء الضمیر سره، هاء باندې ضمه ده یعنی هغه کوهې چه بهر وو ددې دیوال یا باغ نه. ۳ – بئر مضاف دې خارجةٍ ته اوخارجه د سړی نوم دې یعنی هغه کوهې چه منسوب وو خارجه سړی ته. په دې کښې اول استعمال ظاهر اومشهور دې. امام نوویؒ فرمائی : (هکذا ضبطناه بالتنوین فی بئر خارجه) . بعضې علماء وائی : دلته د بئر نه مراد باغ دې اودا کوهیان به په باغونو کښې وو نو په دې وجه دې باغ ته بئر وئیل کیدو، لکه بئر بضاعه، بئر اریس او بئر خارجه وغیره شو چه دا ټول باغونه وو دکوهیانو په نوم باندې.

وَالرَّبِیْعُ الْجَدْوَلُ : دا د بعضې راویانو تفسیر دې. فَاحْتَفَزْتُ: احتفاز دیته وائی چه په زنګنونو باندې سړې برابر کینی ګویاکه پاځیږی، مراد ترینه ځان راغونډول دی (ای تَضَامَمْتُ) (لسان العرب : ۲۳۹/۳). فَاَجْهَشْتُ : اِجْهَاش، جَهْش او جُهُوْش مصدر صیغې دی دیته وائی چه انسان چا ته پناهی حاصله کړی پداسې حال کښې متغیر الوجه وی، ژړا ته تیار شوې وی خو لا ژړلې ئې نه وی.

فوائد الحدیث : ۱ – د ابو بکرؓ او عمرؓ تخصیص ئې اوکړو ځکه چه دا افضل الصحابة دی.

۲- په حديث كښې د عمرؓ واقعه ذكره ده. اظهرنا : دا لفظ اكثر زائد راځي دپاره د تاكيد، (اى من بيننا). اَنْ تُقْتَطَعَ دُوْنَنَا : (اى يقتل دون اطلاعنا عليه). (يعنې زمونږ د خبريدو نه علاوه به قتل كړے شي) اَوَّلَ مَنْ فَزِعَ : ۱- داخو يا دده دخپل گمان خبره ده چه د ټولو نه اول زه په نبى اكرم ﷺ اوبريدم، ورنه نورو صحابوؓ هم داسے هيبت كړيدے. ۲- يا دده زړه كمزورے وو نو زرئے هيبت كړيدے اود نورو صحابوؓ زړونه قوى وو. ۳- يا همده اول هيبت كړيدے اودا دده فضيلت جزئى دے. حَائِطاً : حائط هغه باغ ته وائى چه ديوالونه ترے چاپيره وى او بستان عام دے. وَاَعْطَانِيْ نَعْلَيْهِ : نعلين نه مراد څپلئ دى نه پنړے. ۱- نبى اكرم ﷺ ورته نعلين په دے وجه وركړل چه ده دنبى اكرم ﷺ سره احسان اوكړو چه د هغه په غائب كيدو خفه شو نو نبى اكرم ﷺ ورله بدله وركوى په بشارت سره نبى اكرم ﷺ به دچا احسان اوښيگړه په ځان نه پريښودله بلكه خامخا به ئے د هغے بدله وركوله. ۲- يا په نعلينو كښې اشاره ده ثبوت او استقامت فى الدين ته چه چا داكلمه اووئيله نو د هغه ايمان به الله مضبوط كړى او استقامت به وركړى، يعنى ترمرگه پورے استقامت په كلمه باندے ضرورى دے. ۳- يا نعلينو وركولو كښې فائده داده چه خلقو ته دامعلومه شى چه ابو هريرهؓ دنبى اكرم ﷺ سره ملاؤ شويدے نو د هغه په خبره به پوره اطمينان او يقين اوكړى او زيات اوقع فى النفس به شى اگرچه د ابو هريرهؓ خبره بغير دنعلينو نه هم مقبول ده. ٤- يا دا چه نبى اكرم ﷺ چه نعلين ويستلى وو په دے كښې اشاره ده بشارت ته چه ددے امت نه به الله هغه اغلال او گران احكام لرے كوى كوم چه په پخوانو امتونو باندے پراته وو.

فَضَرَبَ عُمَرُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ : دلته خبره كښې اختصار شويدے. هغه دا چه عمر فاروقؓ ابو هريرهؓ لره واپس كولو چه رازه دنبى اكرم ﷺ سره مشوره كوو نو هغه نه واپس كيدو نو عمر فاروقؓ اووهلو ځكه كيدے شى چه دا نوى مسلمانانو ته بشارت وركړى هغوى به عمل پريدى. دے نه ثابته شوه چه مشر كشر لره د ادب دپاره وهلے شى. بيا عمر فاروقؓ چه ابو هريرهؓ اووهلو نو دا د دينى غيرت په وجه لكه موسى عليه السلام چه د هارون عليه السلام گيره او سر رانيولى وو ځكه چه عمر فاروقؓ (اشدهم فى امر الله) (د الله په دين كښې سخت) دے. دارنگه عمرؓ چه ابو هريرهؓ په دے بشارت بيانولو باندے اووهلو دينه دانه معلوميږى چه عمر دنبى اكرم ﷺ بشارت ردكوى بلكه كله چه عمر فاروقؓ دا بشارت واوريدلو نو داخبره ئے زړه ته راغله چه خلقو كښې تكاسل اوغفلت دے نو كه دا بشارت وركړے شى نو بيا به هيڅ عبادت نه كوى دا وجه ده چه نبى اكرم ﷺ سره ئے مشوره اوكړه او هغه ورله خبره اومنله او بشارت ئے روستو كړو، نو دا واپس كول د مصلحت په وجه وو.

فَخَرَرْتُ لِاِسْتِيْ : (اى سَقَطْتُ عَلٰى مَقْعَدِيْ)، (په شا راپريوتم دوجے دسخت گوذار دده نه). عمرؓ ابو هريرهؓ ولے راگوذار كړو؟ نو وجه داده چه هغه نه واپس كيدو نو عمر فاروقؓ بله چاره اونه موندله سوا ددے نه چه گوذار وركړى نو هغه پريوتلو اود عمر فاروقؓ قصد دا نه وو چه ابو هريرهؓ

دے راپریوځی۔رکبني : یعنی گران شو په ما باندے راتګ د عمر فاروقؓ ځکه دداسے افضل سړی په مخکښے انسان فریاد نشی کولے۔ قَالَ فَلاَتَفعَلَ : دا دمشورے په طور وائی ورنه صحابه کرامؓ نبی اکرم ﷺ نه منع کولو چه ګنے دامسئله مه بیانوه بلکه مشوره ئے ورکوله ځکه چه عمر فاروقؓ مُلهَمَ انسان وو۔ (الهام به ورته کیدو) ، نو ځکه ئے نبی اکرم ﷺ موافقت اوکړو بلکه (۲۱) ځایونو کښے ورسره الله موافقت کړیدے چه دده مشورے او غوښتنو موافق ئے وحی رالیګلے ده۔

فائده : پدے حدیث کښې جواز دے د کتمان د علم دے د بعض خلقو نه تریو مودے پورے نه همیشه دپاره ۔

الاطلاع – علی البدو والتلاع

فائده : ددے حدیث دمتعلقاتو نه مسئله د خلوت ده۔ خلوت معنی ده ځان دخلقو داختلاط اوګډون نه جدا کول دپاره دعبادت د الله اود زړه دصفایئ دپاره۔اودا معنی د تبتل هم ده په کوم باندے چه الله تعالی په قرآن کریم کښے حکم کړیدے ﴿ وتبتل الیه تبدیلاً ﴾ (المزمل : ۸)۔ چه الله ته ځان جدا کړه یعنی دهغه په تعلق او عبادت کښے ځان مشغول کړه اود دنیا اود دے زخارف (ډوکه ورکونکی څیزونه) پریده۔ او نبی اکرم ﷺ به په دے آیت باندے عمل کولو نو کله کله به صحراونو ته وتلو دنبوت نه مخکښے هم، اودنبوت نه پس هم، لکه دعائشےؓ په حدیث کښے دی :

(عن المقدام بن شریح عن ابیه قال : سالت عائشة عن البداوة فقالت : کان رسول اللّٰه ﷺ یبدو الی هذه التلاع وانه اراد البداوة مرة فارسل الی ناقة محرمة من اهل الصدقة فقال یا عائشة ارفقی فان الرفق لم یکن فی شئ قط الا زانه ولانزع من شئ قط الا شانه)۔ (ابوداود باب ماجاء من الهجرة وسکنی البلو) صحیح ابی داود : ۲/۴۷۰)۔

(یعنی رسول الله ﷺ ماته اوبنه راکړه اووے فرمائیل چه په دے باندے سامان اوتړه اوبیا به نبی علیه السلام ځنګل ته تلو دے دپاره چه دالله سره مناجات اوکړی۔ داروایت اګرکه متکلم فیه دے دشریك راوی په وجه، مګر ددے په معنی کښے نور احادیث هم شته نو صحیح لشواهده دے۔ دے وجے نه امام بخاریؒ په الادب المفرد کښے باب تړلے : باب البدو الی التلاع -یعنی بانډو (ښاړو، ډیرکو) ته وتل، او بیا ئے حدیث راوړیدے : (عن شریح سالت عائشة عن البدو قلت : وهل کان النبی ﷺ یبدو؟ فقالت: نعم کان یبدو الی هؤلاء التلاع۔ وهوحدیث صحیح صححه الالبانی۔ صحیح الادب المفرد ص (۲۱۸) والصحیحة (۵۲۴) ۔ (یعنی نبی علیه السلام به ښاړو ته وتلو) د الله سره د تعلق قائمولو او د زړه د صفا کولو دپاره۔

دارنګه نبی اکرم ﷺ باندے چه کله وحی په ابتداء د نبوت کښې نازلیده نو هغه ته جدائی خوښه وه لکه بخاری باب بدء الوحی (۲/۱) کښے حدیث دے (ثم حُبِّبَ الیه الخلاء – ای الخلوة – فکان یخلو بغارحراء۔ نو غار حراء ته به وتلو۔او ددے جدائی وجه داده چه د اختلاط (ګډون) کوم

اثر په زړه پریوځي هغه په دې سره لرې کیږي، ځکه چه کله انسان خلقو سره مشغول وي نو دهغه زړه کښې قسوت اوبې نوري پیدا کیږي چه دا په دې تبتل سره زائله کیږي، البته دا خبره یاد لرل پکار دي چه داخلوت په دوه قسمه دې:

۱- یو مستقل طورسره ځان دخلقو نه جدا کول دي چه بالکلیه دهغوی سره اختلاط نه کوي، نو دا طریقه دعیسایانو وه چه هغوی به په خپلو خانقاهونو اوګیرجو کښې چلې ویستلې، دا زمونږ په اسلام کښې نشته لکه حدیث کښې دي (لارهبانیة فینا) العلل المتناهیة :۲/۱۵۲)۔وفی السلسلة الصحیحة (۱/۶۷۹) : (فانی لم اومر بالرهبانیّة) اسلام کښې پیرتوب نشته۔

۲- دویم دلګ وخت دپاره جدائي اختیارول چه زړه صفا شي نوداجائز عمل دې بلکه مرغوب فیه عمل دې هرمسلمان لره پکار دي چه د تزکیة النفس دپاره په جدا ځائې کښې د الله ذکر او عبادت اوکړي اوهمدا دنبي اکرم ﷺ طریقه وه چه بعضې باغونو کښې به ئې د الله سره مناجات کولو۔ والله تعالیٰ اعلم۔

سوال: په دې حدیث کښې دا راغلل چه نبي اکرم ﷺ بلا اجازت پردي باغ ته تلې دې، نو آیا پردي باغ کښې قضائې حاجت کول جائز دي؟۔

جواب: دلته اذن دلالةً موجود دې ځکه چه دا شاړ باغ وو، بول وبراز ورته څه ضرر نه رسولو۔

مسئله: په پردي باغ کښې بول وبراز کول ناجائز دي کله چه په دې سره هغه باغ خرابیږي ځکه حدیث کښې دي (اتقوا الملاعن الثلثة : البراز فی الموارد وقارعة الطریق و الظل) رواه ابوداود (۱/۵)۔ نو حدیث دلیل دې په دې چه په هغه ځایونو کښې بول وبراز کول چه هغې کښې خلقو ته ضرر وي ظلم او ناجائز عمل دې، البته که یو شاړ ځائې وي چه دباغ مالك نه خفه کیږي یا هغه ځائې ته دبول وبراز کولو په وجه نقصان نه رسیږي نو بیا هغه استعمالول جواز لري۔

دجنت قُنجي

۳۹- وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَفَاتِيْحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ اَنْ لَااِلٰهَ اِلَّا اللهُ». رواهُ اَحْمَدُ

ترجمه: معاذ بن جبل رضی الله عنه وائي: رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل: (رشتینې زړه او پخې عقیدې سره) ددې خبرې ګواهي ورکول چه الله نه سِوا بل هیڅوك لائق دعبادت نشته، دجنت قنجیانې (حاصلول) دي۔ (احمد)۔

تشریح: مَفَاتِيْحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ اَنْ لَااِلٰهَ اِلَّا اللهُ: دلته سوال دې چه مفاتیح الجنة مبتداء ده او شهادة الی آخرهٖ خبر دې اوخبر حمل وي په مبتداء باندې اودلته حمل نه صحیح کیږي ځکه چه حمل دمفرد دې په جمع باندې ولې چه مفاتیح جمع ده او شهادة مفرد دې۔

۱- جواب دادې: چه شهادت جنس دې اود جنس اطلاق په قلیل اوکثیر تولو باندې کیږي نو

حمل صحیح دے۔ ۲- **جواب** : مفاتیح جمع ده په اعتبار داسنانو او اجزاؤ سره او یوجزء په کښې شهادت دے نو حمل صحیح دے لکه اجزاء ئے صلاة، زکاة، صیام وغیره دی۔ یعنی لا اله الا الله مفتاح الاسنان ده ځکه دتوحید ډیر غاښونه دی : مونځ یو غاښ دے، زکوٰة بل غاښ دے، صوم بل غاښ دے گویاکه هر یو غاښ ته ئے مفتاح وئیلے دے ځکه چه دا غاښونه په کښې نه وی نو انسان دجنت د دروازے بند قُلف ابتداءً نشی پرانستے، او دلته خو ابتداءً دخول الجنة مراد دے۔

۳- **جواب** : شهادت اصلًا مفتاح ابواب الجنة دے نو گویاکه دا ډیر مفاتیح شو۔ او په دے حدیث کښې استعاره ده هغه داچه کفر مانع دے ددخول الجنة نه نودا مشابه دے د قُلف سره او هرچه اسلام دے نو داسبب د دخول الجنة دے نو اسلام مشابه شو دمفتاح سره، علت جامعه دادے چه هر واحد سبب الدخول دے اود مبالغے د وجے نه اداة د تشبیه حذف شو۔ بیا په احادیثو کښې مفتاح الجنة څو شیان ذکر دی :

۱- لا اله الا الله وئیل۔ ۲- الصلاة۔ اودا په کښې لوئے غاښ دچابی دے۔

۳- لا حول ولاقوة الا بالله وئیل، (کما فی حادی الارواح)۔ او په شریعت کښې الله تعالی دهر عمل دپاره مفتاح (چابی) مقرر کړیده که دثواب کار وی اوکه دگناه، لکه حادی الارواح ص (٤٨) کښې ددے تفصیل ذکر شویدے علامه ابن القیم هلته فرمائی :

وقد جعل الله سبحانه لكل مطلوب مفتاحاً يفتح به فجعل مفتاح الصلاة الطهور ومفتاح الحج الاحرام ومفتاح البر الصدق ومفتاح الجنة التوحيد ومفتاح العلم حسن السؤال وحسن الاصغاء ومفتاح النصر والظفر الصبر، ومفتاح المزيد الشكر، ومفتاح الولاية المحبة والذكر، ومفتاح الفلاح التقوى، ومفتاح التوفيق الرغبة والرهبة فى الدنيا، ومفتاح الايمان التفكر فيما دعا الله عباده الى التفكر فيه، ومفتاح الدخول على الله اسلام القلب وسلامته له والاخلاص له فى الحب والبغض والفعل والترك، ومفتاح حياة القلب تدبر القرآن والتضرع بالاسحار وترك الذنوب، ومفتاح حصول الرحمة الاحسان فى عبادة الخالق والسعى فى نفع عبيده، ومفتاح الرزق السعى مع الاستغفار والتقوى، ومفتاح العز طاعة الله ورسوله، ومفتاح الاستعداد للآخرة قصور الامل، ومفتاح كل خير الرغبة فى الله والدار الآخرة، ومفتاح كل شر حب الدنيا وطول الامل، ومفتاح النار الشرك والكبر والاعراض عما بعث الله به رسوله والغفلة عن ذكره والقيام بحقه وجعل الخمر مفتاح كل اثم، وجعل الغنى مفتاح الزنا، وجعل اطلاق النظر فى الصور مفتاح الطلب والعشق، وجعل الكسل والراحة مفتاح الخيبة والحرمان، وجعل المعاصى مفتاح الكفر، وجعل الكذب مفتاح النفاق، وجعل الشح والحرص مفتاح البخل وقطيعة الرحم واخذ المال من غير حله، وجعل الاعراض عما جاء به الرسول مفتاح كل بدعة وضلالة۔ انتهى۔

(او الله تعالیٰ د هر مقصود او مطلوب دپاره چابی مقرر کړیده نو د مانځه چابی پاکی ده او د حج چابی احرام دے او د نیکئ چابی رشتیا وئیل دی او د جنت چابی توحید او د علم چابی ښائسته تپوسونه او ښه طریقے سره خبره اوریدل او دمدد او کامیابئ چابی صبر کول دی او د نعمت د زیاتیدو چابی شکر کول دی او د ولایت چابی محبت او ذکر کول دی او د کامیابئ چابی تقویٰ ده او د توفیق د عمل چابی مینه او یره په دنیا کښې او د ایمان چابی فکر کول په هغه څه

کښې چه الله بندګانو ته دعوت ورکړے په هغے کښې فکرکولو ته، او په الله باندے د ورداخلیدو چابي د زړه تابعداري او روغوالے او سلامتیاده او هغه دپاره اخلاص کول په محبت او بغض، فعل او ترك كښې او د زړه ژوند په قرآن کښې تدبر کول او په سحر (پیشمنی) وقت کښې الله ته عاجزي كول او ګناهونه پریخودل دی او د رحمت د حاصلولو چابي د الله په عبادت کښې احسان کول او د هغه بندګانو ته فائده رسولو کښې کوشش کول دی او د رزق چابي کوشش کول دی سره د استغفار او تقوی نه، او د عزت چابي د الله او د هغه د رسول طاعت کول دی او د آخرت د تیاریٔ دپاره چابي امیدونه کمول دی او د هر خیر چابي د الله او آخرت سره مینه ده، او د هر شر چابي د دنیا محبت او امیدونه اوګدول دی او د اور چابي شرك او تکبر او د رسول الله ﷺ د دین نه اعراض كول دی او د الله د ذکر او د هغه د حق نه غفلت کول دی، او د هرے ګناه چابي شراب څکل دی او مالداري چابي د زنا ده او کولاو نظر کول په شکلونو کښې چابي د طلب او عشق ده۔ او سُستوالے او راحت طلبي چابي د نامرادیٔ او محرومتیا ده۔ او ګناهونه چابي د کفر ده او دروغ چابي د نفاق ده او شح او حرص چابي د بخل او صله رحمي قطع کولو او مال د حرام ځائے نه حاصلولو ده ۔ او د رسول الله ﷺ د راوړي دین نه اعراض کول چابي د هر بدعت او ضلالت ده۔انتهیٰ)۔

دارنګه حدیث کښے دی : وعن انس بن مالك قال قال رسول الله ﷺ : ان من الناس مفاتیح للخیر مغالیق للشر۔ وان من الناس مفاتیح للشر مغالیق للخیر، فطوبی لمن جعل الله مفاتیح الخیر علی یدیه، رویل لمن جعل الله مفاتیح الشر علی یدیه) (حسنه الالبانی، الصحیحة رقم : ۱۳۳۲) صحیح ابن ماجه (۱/٤٦) (بعض خلق د خیر چابیانے وی او د شر تالے وی او بعض خلق د شر چابیانے او د خیر تالے وی نو خوشحالي ده هغه چا لره چه الله د هغه په لاسونو کښې چابیانے د خیر واچوی او هلاکت دے هغه چا لره چه الله چابیانے د شر د هغه په لاسونو کښې واچوی)۔

نو انسان له پکار دی چه دا مفتاح الخیر والشر اوپیژنی چه ده ته تول خیر حاصل شی اود تولو شرونو نه ورته نجات ملاؤ شي اودا د الله په توفیق سره کیږی۔

درجة الحدیث : دا روایت سنداً ضعیف دے، رواه احمد (۵/۲٤۲) په دے کښې اسماعیل بن عیاش او شهر بن حوشب عن معاذ دے، او روایت دشهر دمعاذه نه مرسل دے، شهر پخپله هم مختلف فیه راوي دے۔ دارنګه اسماعیل بن عیاش چه د اهل الحجاز نه روایت اوکړی نو ضعیف وی،اودا هم دحجازینو نه روایت دے، فهو ضعیف، لیکن معنی ئے د نورو احادیثو نه معلومه ده لکه په دغه مخکني روایت کښې همدا معنی موجوده ده۔ دارنګه مخکښے حدیث دعثمانؓ اودا روایت یوه معنی لري۔ فتدبر!۔

۴۰ - وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ: اِنَّ رِجَالًا مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ حِينَ تُوُفِّيَ حَزِنُوا عَلَيْهِ حَتّٰى كَادَ بَعْضُهُمْ يُوَسْوِسُ، قَالَ عُثْمَانُ: وَكُنْتُ مِنْهُمْ فَبَيْنَا اَنَا جَالِسٌ مَرَّ عَلَيَّ عُمَرُ فَلَمْ اَشْعُرْ بِهٖ فَاشْتَكٰى عُمَرُ اِلٰى اَبِيْ بَكْرٍ ثُمَّ اَقْبَلَا حَتّٰى سَلَّمَا عَلَيَّ جَمِيعًا فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ مَا حَمَلَكَ عَلٰى اَنْ لَاتَرُدَّ عَلٰى اَخِيْكَ عُمَرَ سَلَامَهٗ ؟ قُلْتُ : مَا فَعَلْتُ. فَقَالَ عُمَرُ : بَلٰى! وَاللهِ لَقَدْ فَعَلْتَ. قُلْتُ: وَاللهِ مَا شَعَرْتُ اَنَّكَ مَرَرْتَ وَلَاسَلَّمْتَ. قَالَ اَبُوْبَكْرٍ: صَدَقَ عُثْمَانُ قَدْ شَغَلَكَ عَنْ ذٰلِكَ اَمْرٌ. فَقُلْتُ اَجَلْ! قَالَ: مَا هُوَ؟ قُلْتُ: تَوَفَّى اللهُ تَعَالٰى نَبِيَّهٗ ﷺ قَبْلَ اَنْ نَسْأَلَهٗ عَنْ نَجَاةِ هٰذَا الْاَمْرِ قَالَ اَبُوْبَكْرٍ: قَدْ سَأَلْتُهٗ عَنْ ذٰلِكَ فَقُمْتُ اِلَيْهِ فَقُلْتُ لَهٗ بِاَبِيْ اَنْتَ وَاُمِّيْ اَنْتَ اَحَقُّ بِهَا قَالَ اَبُوْبَكْرٍ: قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ مَا نَجَاةُ هٰذَا الْاَمْرِ فَقَالَ ﷺ: «مَنْ قَبِلَ مِنِّيْ الْكَلِمَةَ الَّتِيْ عَرَضْتُهَا عَلٰى عَمِّيْ فَرَدَّهَا فَهِيَ لَهٗ نَجَاةٌ. رواه احمد۔

ترجمه : عثمان ﷺ بيان كوي : كوم وخت چه نبي ﷺ وفات شو نود صحابوؓ يو جماعت باندے دغم او خفگان دومره غلبه وه چه هغوی كښې دبعضو باره كښې داخطره پيدا شوے وه چه چرته شك او شبهه كښې گرفتار نشي (يعني ددے وهم ښكار نشي چه هركله رسول الله ﷺ دے دنيا نه رخصت شو نو ددين او شريعت قصه هم ختمه شوه) عثمانؓ وائي : هغے خلقو كښې يو زه هم ووم، نو (دے عظيم حادثے سره سخت پريشان حال اود غم او فكر بُت جوړ شوم) زه ناست ووم چه عمرؓ په ما تير شو اوماته ئے سلام اوكړو (دحواسو الوتلو په وجه) ماته پته اونه لگيده (چه هغه كله په ما تير شو اوكله ئے سلام اوكړو) عمرؓ ددے خبرے شكايت ابو بكر صديقؓ ته اوكړو۔ نو ابو بكر صديقؓ او عمر فاروقؓ دواړه ماله راغلل، اودواړو ماته سلام اوكړو، ابو بكر صديقؓ ماته تپوس اوكړو، تا دخپل ورور عمرؓ دسلام جواب ولے ورنه كړو ؟ ما اووئيل : نه، داسے نه دي شوي (يعني ماته ددے علم نشته چه عمرؓ راغلے وي ماته ئے سلام كړے وي اوماجواب نه وي وركړے) عمرؓ اووئيل : آو، قسم په الله دغسے شوي دي (چه تا زما دسلام جواب نه دے راكړے) عثمانؓ وائي : ما اووئيل : په الله مے دے قسم وي ماته قطعاً ددے احساس نه دے شوے چه تاسو ماته راغلي وئ، اونه دا چه تاسو ماته سلام كړيدے۔ ابو بكر صديقؓ اوفرمائيل : عثمانؓ رښتيا وائي (ليكن معلوميږي چه) خاص وجے نه ته دے نه خبر نه شوے (چه نه ته دعمرؓ د راتلو نه خبر شوے اونه دے دسلام جواب وركړے شو) مااووئيل : آو، كيدے شي، هغوي تپوس اوكړو، هغه څه وجه ده ؟ ما اووئيل : الله تعالى خپل نبي ﷺ وفات كړو ليكن مونږ دهغوي نه دا تپوس اونه كړو چه دے معاملے (يعني عبادت كښې دوسوسو پيدا كيدل، دشيطان لمسولو) نه د نجات ذريعه څه

ده؟۔ ابو بکر صدیقؓ اووئیل : (تـه غم مـه کوه) ما دے باره کښې د نبی کریم ﷺ نه تپوس کړیدے (عثمانؓ وائی چه) زه بے اختیاره اودریدم، اوما اووئیل : زما مور پلار دې په تاسو قربان شی، واقعی تاسو (د نبی کریم ﷺ نه دکمال اوحصول علم دغلبه دشوق په وجه) دے باره کښې دتپوس کولو ډیر لائق وئ۔ ابو بکر صدیقؓ اوفرمائیل : ما عرض کړے وو، چه یارسول الله، دے معامله کښې د نجات څه صورت دے؟ نورسول الله ﷺ فرمائیلی وو چه کوم سړی (دزړه اخلاص سره) مونږ نه هغه کلمه توحید قبوله کړه، کومه چه ماخپل تره ابو طالب ته پیش کړے وه۔ هغه قبوله نه کړه، نو هغه کلمه به دهغے سړی د نجات ضامن وی۔ (احمد)۔

تشریح : حِيْنَ تُوُفِّيَ : مسئله د وفاة النبی ﷺ :

په نبی اکرم ﷺ باندے وفات راغلے دے اوخوك چه دا وائی چه نبی ﷺ وصال کړیدے، یا ئے پرده فرمائیلے ده او حقیقةً وفات نـه دے، نودا عقیده غلطه ده، اودا عقیده دمتکلمینو دیوے وسوسے نه پیدا شویده چه هغوی وائی : رسالت او نبوت عرض دی اوعرض تابع دذات وی نوکله چه دنبی ذات وفات شو نو نبوت به هم ختمیږی، نو اوس چه یو شخص ایمان راوړی نو په رسالت اونبوت دنبی باندے ایمان نشی راوړے ځکه هغه خو ختم شویدی په موت دنبی سره، لهذا هغوی اووئیل چه نبی نـه دے وفات بلکه وصال ئے کړیدے او هسے ملاقات له تلے دے، حقیقی وفات نه دے، ولے کـه وفات ئے اومنو نو مذکوره نقصان راځی، نو په دے وجه ئے انکار اوکړو دډیرو نصوصو نه۔ اود خپلے غلطے عقیدے داثبات دپاره ئے په دین کښے یو بدعت پیدا کړو او دین ئے پرے وران کړو۔ حال دا چه مذکوره عقیده خطاء ده ځکه چه عرض په دوه قسمه دے :

۱- یو هغه عرض دے چه دانسان وصف وی لکه مثلاً عالم شو، نو علم دانسان یو داسے وصف دے چه دا په مرګ دده سره نه ختمیږی، بیا پس دمرګ نه ورته هم عالم وئیلے شی، لکه څنګه چه دخوب په حالت کښے دا وصف نه ختمیږی۔

۲- دویم قسم هغه عرض دے چه هغه دانسان وصف عارضی دے لکه بیان اوتقریر دانسان شو چه دا په وفات دده سره ختمیږی۔ نوبیان د رسالت اونبوت په وفات النبی ﷺ سره ختم شو، ولے نفس وصف الرسالة نه دے ختم شوے۔

تفصیل دپاره القصیدةَ النونیة۔ او الماتریدیه (۱/ ٤٤٥) اوګوره۔

اودحیاة النبی دا مذکوره عقیده د اشعریه، ماتریدیه، کوثریانو او اکثرو دیوبندیانو ده۔ او دا عقیده دصریح قرآن اود صحابه کرامو د اجماع خلاف ده۔

ابو بکر صدیقؓ د نبی اکرم ﷺ دوفات په وخت اوفرمائیل : (بابی انت وامی یا نبی الله ! لا یجمع الله علیك موتتین، وفی روایة : طبت حیاً ومیتاً، والذی نفسی بیده لایذیقك الله الموتتین ابداً) (یعنی الله په تا باندے دوه مرګه نه راجمع کوی اوته په ژوند او مرګ کښې مزیدار ئے) او په خطبه کښے ئے اوفرمائیل : (من كان

يعبد محمداً فان محمداً قد مات)۔ (څوك چه د محمد (ﷺ) عبادت كوى نو يقينا محمد (ﷺ) مړ شو) او دليل كښې ئے دا آيت كريمه پيش كړو ﴿انك ميت وانهم ميتون﴾ ﴿وما محمد الا رسول قد خلت من قبل الرسل افان مات او قتل انقلبتم على اعقابكم﴾ [آلعمران آيت : ۱٤٤]۔ رواه البخارى فى صحيحه كتاب الجنائز، وباب الدخول على الميت (۱/۴۱۹)۔

بيا مولوى اشرف على تهانوى صاحب ددے عقيدے د اثبات دپاره چه نبى ﷺ په قبر كښې داسے ژوندے دے څنګه چه په دنيا كښې ژوندے وو دا دليل ذكر كړيدے چه : دنبى ﷺ ميراث نشى وړلے، او د هغه بيبيانے نشى په نكاح كولے، نو دينه معلوميږى چه هغه په قبر كښې ددنيا د ژوندون پشان ژوندے دے۔

جواب دا دے : چه دميراث نه وړل په دے وجه نه دى چه نبى اكرم ﷺ په قبر كښې ددنيا دژوند پشان ژوندے دے بلكه په دے وجه چه د نبى اكرم ﷺ وينا ده (لا نورث ماتركناه صدقة) (زمونږ ميراث مونږ نه نشى وړلے بلكه مونږ چه څه پريخي وى هغه به صدقه وى)۔ اوددے وجوه په خپل ځائے بيان شويدى، يو دهغے نه داده چه كه پيغمبرانو نه ميراث وړل كيدلے نو كيدے شى چه ميراث خورو دهغوى په وفات باندے دخوشحالئ احساس كړے وے نو دا ددغه ميراث خورو دپاره د تباهئ سبب دے۔او هرچه دنبى اكرم ﷺ دبيبيانو سره د نكاح حراموالے دے، نودا د وجے داكرام اوعزت دنبى اكرم ﷺ نه۔ بله دا چه هغه د امت امهات (ميانديے) دى۔اود مور سره نكاح حرامه وى۔

حَتّٰى كَادَ بَعْضُهُمْ يُوَسْوَسُ : دلته كاد دوقوع دپاره دے نه دقرب دپاره دا وجه ده چه عثمانؓ فرمائى : وَكُنْتُ مِنْهُمْ : يعنى ماته هم دا وسوسے راغلے وے۔وسوسے دڅه خبرو وے ؟ نو چاته دا وسوسه راتله چه دادين به ختم شى چاته دكفر وسوسے راتلے چه كه پيغمبر دالله رسول وے نو دابه نه مړ كيدے اودا وسوسے مؤمنانو ته ډيرے راځى دهغے ډير علاجونه دى دلته يو علاج ذكر دے۔ فَقُمْتُ اِلَيْهِ : دا پاڅيدل دا هتمام دمسئلے دپاره دى ورنه قيام للقادم نشته۔ بِاَبِىْ اَنْتَ وَاُمِّىْ اَنْتَ : دا دليل دے چه مور پلار دچانه قربانولو (يعنى دے وئيلو كښې چه زما په مور پلار دے مصيبت راشى خو په تادے رانشى) كښې بے ادبى نشته بلكه دا دعربو عادتى كلمه ده۔

مَا نَجَاةُ هٰذَا الْاَمْرِ : حاشيه د مشكاة كښې دمرقاة په حواله ددے مصداق بيانوى چه دهذا الامر نه مراد النجاة من عذاب النار دے۔ يعنى داتپوس مونږ كولو چه داور نه به مونږ په كومو اسبابو باندے خلاصيږو۔ ليكن داخبره خطاء ده ځكه داخبره خو صحابوؓ ته معلومه وه د قرآن نه۔بله دا چه مخكښې دعثمانؓ حديث تير شو چه (من مات وهو يعلم ان لا اله الا الله دخل الجنة) نو دلته عثمانؓ ولے دا شك كوى، آيا هغه ته سبب د نجاة من النار نه دے معلوم ؟۔ ۲- دغه شان دغرور الشيطان اود حب الدنيا وشهواتها معنى كوى چه د شهواتو نه دنجات څه سبب دے۔نودا هم نه ده صحيح۔ ځكه چه دا هم د قرآن كريم نه واضح ده چه صبر كوئ ﴿زين للناس حب الشهوات﴾۔

۳- اصل مصداق ددے حديث په روايت دمسند ابو يعلىٰ (۱/۹۸) كښې راغلے دے چه عثمانؓ ابو

بکر او عمر رضی اللہ عنهم ته اوفرمائیل : یالیتنی سالت رسول الله ﷺ ما الذی ینجینا من هذا الحدیث الذی یلقی الشیطان فی انفسنا فقال ابوبکر : فانی والله لقد اشتکیت ذلک الی رسول الله ﷺ وسالته ما الذی ینجینا من هذا الحدیث الذی یلقی الشیطان فی انفسنا ؟ فقال رسول الله ﷺ ینجیکم من ذلک ان تقولوا مثل الذی امرت به عمی عند الموت فلم یفعل) قال البوصیری فی الزوائد العشره : اسناده حسن کذا فی جمع الجوامع للسیوطی۔ (عثمان اووئیل : هائے ارمان چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس کړے وے چه د شیطان د وسوسو نه به په څه خلاصیږو نو ابوبکر اوفرمایل : ما دا شکایت رسول الله ﷺ ته اوکړو او هغه نه مے تپوس اوکړو نو هغه اوفرمایل : ددے نه نجات دا دے چه تاسو هغه کلمه اووایئ کوم باندے چه ما خپل تره ته دهغه د مرګ په وخت کښې حکم اوکړو او هغه اونه وئیله)

بل روایت کښې ورسره دی چه عثمان اوفرمایل : (حتی لا استطیع ان اتکلم به) یعنی شیطان راته لوئے کفر زړه کښې اچولے دے چه هغه په خوله باندے نشم وئیلے)۔ معلومه شوه چه د (هذا الامر) نه مراد شیطانی وسوسے دی دکفر وغیره په باره کښې چه دمؤمن په زړه کښې دکفر اود الله د توحید یا دجنت اوجهنم په باره کښې وسوسے راځی۔نو ددے نه دخلاصئ سبب عثمان ؓ ته نه وو معلوم، په دے وجه پریشانه شویدے۔ نو ابو بکر صدیق ؓ ورله دا اشکال دنبی اکرم ﷺ په وینا سره ختم کړو چه داکلمه وایه نو وسوسه به خلاصیږے نو په دے کښې علاج دوسوسو ذکر شویدے۔دارنګه دا مطلب ددے حدیث دسیاق نه معلومیږی چه (حتی کاد بعضهم یوسوس) یعنی بعضے خلق نزدے وو چه وسوسو کښې راګیر شوی وے۔

اسباب النجاۃ من وسواس الشیطان

۱ – یو سبب دے حدیث شریف کښې ذکردے چه لا اله الا الله ډیره وئیل دی۔

۲ – سبب :ابن عباس ؓ ته یو سړی اووئیل چه ماته زړه کښې دکفر وسوسے راځی هغه ورته اوفرمائیل د سورۃ حدید اول آیت تلاوت کړه ﴿هو الاول والآخر والظاهر والباطن﴾ الآیة۔ کذا فی ابی داود رقم (۵۱۱۰)۔ ۳– سبب : اعوذ بالله من الشیطان الرجیم) وئیل او ګس اړخ ته درے ځل لاړے توکل اوسورت اخلاص لوستل او فکر بندول۔ ٤– سبب : آمنت بالله ورسله ذکر لوستل۔ دے نه علاوه نور اسباب به په باب الوسوسه کښې ذکر شی ان شاء الله۔

فوائد الحدیث * د ابو بکر صدیق ؓ علم فراخه دے * دسلام آداب په کښې ذکر دی * دلا اله الا الله کلمے عظیم فضیلت په کښې دے چه دا د وسوسو نه خلاصول کوی۔د ابو طالب په تخصیص کښې اشاره ده چه یو ځل چا داکلمه اووئیله هم کار کیږی۔فتدبر ! * دعثمان ؓ پریشانی د وسوسو په باره کښې۔ ٤– ذات البینی تعلق او زیات محبت دصحابو ؓ خپلو کښې۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : رواه احمد (۱/٦) وفی سنده رجل مجهول وثقه الزهری وعنه عبد الله بن بشر ان الرجل المجهول هو سعید بن المسیب کمافی الکامل لابن عدی (۱۵۵۸) وعبد لله هذا

صدوق کما فی التقریب (۲۹۷) ولکن بهذا الاسناد ذکره فی مجمع الزوائد ومسند ابی یعلی الموصلی۔ واخرجه ابن عدی (۱۵۵۸/٤) : بسند آخر : حدثنا موسی ابن عمران عن مسروق بن المرزبان عن عبد السلام بن حرب الملائی عن عبد الله بن بشر عن الزهری عن سعید بن المسیب عن عثمان۔ ولیس فیه مجهول۔ فهو صحیح ان شاء الله تعالی۔

تولې دنیا ته دکلمه توحید د رسیدو پیشن گوئی

٤١ - وَعَنِ الْمِقْدَادِ اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : «لَايَبْقٰى عَلٰى ظَهْرِ الْاَرْضِ بَيْتُ مَدَرٍ وَّلَاوَبَرٍ اِلَّا اَدْخَلَهُ اللّٰهُ كَلِمَةَ الْاِسْلَامِ بِعِزِّ عَزِيْزٍ وَذُلِّ ذَلِيْلٍ اِمَّا يُعِزُّهُمُ اللّٰهُ فَيَجْعَلُهُمْ مِنْ اَهْلِهَا اَوْ يُذِلُّهُمْ فَيَدِيْنُوْنَ لَهَا» قُلْتُ : فَيَكُوْنُ الدِّيْنُ لِلّٰهِ. رواه احمد۔

ترجمه : دمقداد ﷺ نه روایت دے هغه د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل چه دزمکے دپاسه به دخاورو یا دخیمے هیڅ داسے کور پاتے نشی چه هغے ته به الله تعالی داسلام کلمه دمعزز په عزت سره او دذلیل په رسوائی سره داخله نه کړی (نوکوم خلق چه دا کلمه په خوشحالئ اودزړه په صدق سره قبوله کړی) الله تعالی به هغوی معزز اوددے کلمے اهل جوړ کړی او (کوم خلق چه په خوشحالئ سره ئے قبوله نه کړی) الله تعالی به هغوی ذلیل کړی او هغه خلق به ددے کلمے مطیع او فرمانبردار کیدو باندے مجبور کړی (داسے چه هغوی به جزیه ادا کولو سره اسلامی ریاست کښې اوسیږی) ما (دے آوریدو سره) اووئیل : بیا خو به هر طرفته د الله دین وی۔ (احمد)۔

تعارف دمقداد ﷺ دده نوم مقداد بن عمرو الکندی دے مشهور دے په مقداد بن الاسود سره وجه داده چه منسوب دے اسود بن عبد یغوث ته ځکه چه دا مقداد د اسود په جاهلیت کښې حلیف اومُتَبَنّٰی وو نو خلقو به ده ته مقداد بن الاسود وئیلو شپږم مسلمان دے تولو غزواتو ته حاضر شویدے او په بدر کښے لوئی شهسوار وو۔بدر کښے ئے اووئیل یارسول الله ! مونږ د بنی اسرائیلو پشان نه یو چه هغوی وئیلی وو (اذهب انت وربك) (ته او ستا رب ډے لاړ شی مونږ نشو تلے) بلکه (اذهب انت ونحن معك) (ته زه او مونږ درسره یو) ابن مسعودؓ اووئیل : ارمان دے چه دا خبره ما کړے وے۔نبی علیه السلام فرمائی : ماته الله امر کړیدے چه دڅلورو کسانو سره محبت کوه، یو په کښے مقداد دے، دمصر فتح ته هم حاضر شویدے۔په جرف مقام کښے چه هلته اوسیدو وفات شویدے، چه درے میله دمدینے نه وراندے دے بیا مدینے ته ئے راوړو او بقیع کښے دفن شو په کال (۳۳ هـ) د (۷۰) کالو په عمر باندے او عثمانؓ پرے جنازه کړیده احادیث منقوله ئے (٤٢) دی۔

تشریح : لَايَبْقٰى عَلٰى ظَهْرِ الْاَرْضِ بَيْتُ مَدَرٍ وَّلَاوَبَرٍ : وبر : د وَبَرُ الْاِبِلِ نه ماخوذ دے داوښ ویښتو

تـه وائی مدر: جمـع د مَـدَرَة لوتـه، ځلیبنناکه ختـه، کچه خختـه۔ ددے نه مراد مُدُن (ښارونه) او قُرٰی (کلی، بانډے) دی یعنی دکورونو والا او خیمو والا۔ اِلَّا اَدْخَلَهُ اللّٰهُ كَلِمَةَ الْاِسْلَامِ بِعِزِّ عَزِيْزٍ وَذُلِّ ذَلِيْلٍ : (ه) ضـمـیر بیت ته راجع دے (بعز شخص عزیز)، یعنی الله تعالی به خامخا حکم داسلام ددے کورته داخـلـوی پـه عزت دعزت مند شخص سره یا په ذلت دذلیل شخص سره یعنی څوك چه کلمه قبوله کـړی بـغیـر د قیـد او قـتـال نه هغه ته به الله په دے سره عزت ورکړی اوڅوك چه انکار اوکړی هغه به پرے الله ذلیل کړی چه قید به شی او بیا به ایمان راوړی یابه جزیه قبوله کړی۔

اوس دا مذکوره حالت به په کوم وخت کښے وی، ددے څه مصداق دے ؟

۱ – نـو بـعـضـو وئیلی دی چه دا د عمر په دور خلافت کښے شویدے چه هر کورته اسلام داخل شویدے۔ لیکن دهغه په دور کښے ډیر ملکونه نه وو فتح شوی۔

۲ – نـو صحیح دا ده چـه دابـه دمهدی اود عیسی عـلـیـه السـلام په زمانه کښے وی لکه ددے تشریح په بل حدیث کښے ذکر ده، لکه حدیث د ابو هریره کښ دی : وتهلك في زمانه الملل كلها الا الاسلام)۔ (یـعنی په هغه زمانه کښ به ټول دینونه سویٰ د اسلام نه ختم شی) اودا حدیث ماخوذ دے ددے آیت نه ﴿ هُوَ الَّذِيْ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ﴾ الصف : ۹) ۔ لیـکـن ددے سره سره تـمیم الداری به وئیل : (قـد عرفت ذلك في اهل بيتي، لقد اصاب من اسلم منهم الخير والشرف والعز، ولقد اصاب من كان منهم كافراً الذل والصغار والجزية)، كما في الطبراني الكبير والبيهقي والحاكم ومسند احمد (۲/۱۰۲)۔ (یعنی ددے حدیث مصداق ما ته په خپله کورنئ کښ مـعـلـوم شـویـدے) زمـا پـه کـورنـئ کښ چه چا اسلام قبول کړو هغو ته خیر او شرافت او عزت حـاصـل شو۔ اوڅوك چه کافر پاتے شو هغوی باندے ذلت، سپکاوے او جزیه راغله)۔ اودا حدیث بـه ئے دخپـل دور سره لګولو۔ او نبی علیه السلام فرمائی : : وجعل الذلة والصغار على من خالف أمري)۔(یعنی چا چه زما دحکم اودعوت خلاف اوکړو په هغه باندے به الله تعالی ذلت را ولی) ۔ (بخاری : ۱/۴۰۸) کتاب الجهاد) دے کښے هم اشاره ده۔

د جنت قنجی

۴۰ – وَعَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ قِيْلَ لَهٗ : اَلَيْسَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مِفْتَاحَ الْجَنَّةِ ؟ قَالَ: بَلٰى! وَلٰكِنْ لَيْسَ مِفْتَاحٌ اِلَّا وَلَهٗ اَسْنَانٌ فَاِنْ جِئْتَ بِمِفْتَاحٍ لَهٗ اَسْنَانٌ فُتِحَ لَكَ وَاِلَّا لَمْ يُفْتَحْ لَكَ، رواه البخاريُّ في ترجمة باب۔

ترجمه : وهب بن منبه نه روایت دے هغه نه چا تپوس اوکړو، آیا : لا اله الا الله : د جنت قُنجی نه ده ؟ وهب اووئیل، بیشکه۔ لیکن قنجی کښ غاښ هم ضروری دی (څنګه چه ګومنځ کښ غاښونه موجود وی) نو که تا داسے قنجی راوړه چه دهغے غاښونه وو نو تادپاره به

(دجنت) دروازه پرانستے شي گنے نه به پرانستے کیږي۔(بخاري ترجمة الباب)۔

تعارف د وهب بن منبه – رحمه الله : وهب بن منبه الیمنی الصنعانی، کنیه ئے ابو عبد الله الانباري ده کان من ثقات اوساط التابعین دابو هریرهؓ شاگرد دے، ده او کعب الاحبار به دبنی اسرائیلو واقعات نقل کول، دده په بخاري کښے صرف یو حدیث دے په کتاب العلم کښے۔په کال (۱۱٤ هـ) کښے وفات شویدے۔ بعض وائي : یوسف بن عمر اووهلو تردے چه مړ شو۔ده او کعب الاحبار دواړو ته د بنی اسرائیلو ډیر زیات واقعات یاد وو، تفاسیرو کښ نقل کیږي۔

تشریح : وهبؒ باندے یو مُرجِئ اعتراض اوکړو چه تاسو وائے : لا اله الا الله مفتاح الجنة ده، اوبیا وائے چه عملونه هم ضروري دی نو چه چا لا اله الا الله اووئیله بس دا ددخول الجنة دپاره کافي ده، نو دا عملونه راباندے دکوم ځائے نه فرض کوئ؟ هغه ورته ډیر ښه جواب ورکړو۔

(ددے جواب په باره کښے ابن القیمؒ په القصیدة النونیة کښے فرمائي : چه دا جواب یاد ساتل پکار دی، دامثال چه انسان لغوه نه ګنړي نو په ټولو حدیثونو باندے پو هیږي اوکه داسے مثال دے لغوه اوګنړو نو بیا په احادیثو باندے سم نه پو هیږي)۔

نو وهبؒ اوفرمایل : هرے کُنجي دپاره غاښونه وي، یے غاښونو چابي چرته نشته۔ نودا عملونه ددے کنجي (لا اله الا الله) دپاره غاښونه دی، نو ځکه ضروري دی، نو که داسے کُنجي ډے راوړه چه دهغے غاښونه وو نو جنت به درته پرانستے شي اوکه غاښونو والا چابي نه وه نو هسے به ورته ولاړ ئے جنت به درته نه پرانستے کیږي۔دا خو د وهبؒ جواب دے۔

فائده : دحسن بصریؒ نه هم داسے جواب نقل دے چه فرزدق شاعر ته ئے اووئیل (ده به په شعرونو کښے ګډے وډے وئیلے) : ان للا اله الا الله شروطاً فایاك وقذف المحصنات)۔یعنی ددے کلمے دپاره شروط دی نو ته دپاکدامنو ښځو بدی مه وایه)، دهغے د شرطونو نه یو دادے چه محصناتو ته به کنځلے نه کوے۔په بل روایت کښے دی چه فرزدق اووئیل : لا اله الا الله خو عمود دے یعنی ستن داسلام ده داراپکښے شته دے داکافي ده، نو حسنؒ ورته اووئیل : (هذا العمود فاین الطنب) ۔(یعنی کلمه د توحید دخیمے دپاره ستن ده او خیمه خو بغیر دطنابونو نه نه اودریږي) اوهغه طنابونه اَوَامِرُو باندے عمل کول او نَوَاهِي نه ځان ساتل دی۔ځانله په ستنه کار نه کیږي، نو طنابونه ورته چرته دی، نو که عمل ډے نه کولو نو خیمه به ډے په زمکه پرته وی نه به اودریږي۔دغه شان چا ورته اووئیل چه خلق وائي صرف لا اله الا الله اووایه جنت ته به ځے، حسنؒ ورته اوفرمایل : من قال لا اله الا الله فَاَدّٰی حقَّهَا وفَرْضَهَا دَخَلَ الجنة ۔ (یعنی چا چه دا کلمه اووئیله او ددے حقوق او فرائض ئے ادا کول نو هله به جنت ته داخلیږي)۔

دارنګه بعضے کتابونو کښے دی چه معاذ بن جبلؓ ته هم نبی علیه السلام داخبره ښودلے وه کله ئے چه یمن ته لیګلو چه خلقو ته دعوت ورکوے نو داسے ورته وایه۔خو هغه روایت څوك

وائی مدرج دے نو نبی اکرم ﷺ ته ئے نسبت قوی نه دے۔

فائده : مصنف په دے مقام کښے د وهب بن منبه قول راوړو په دے کښے اشاره ده دے خبرے ته چه کوم احادیثو کښے دخول الجنة اوحرمة النار صرف په شهادتینو وئیلو سره راغلی دی نو داصحیح ده چه دا شهادتین سبب د دخول الجنة اوحرمة النار دے خو ددے دپاره شرطونه دی اوهغه دا چه اتیان بالفرائض (فرائضو باندے به عمل) کوی اود موانعو نه به ځان بچ کوی لکه منهیات نه ځان ساتل۔ لم یفتح :

سوال : دا هل السنة مذهب دا دے چه انسان گناه کبیره اوکړی بیا به هم جنت ته داخلیږی اگرکه بعضے اعمال ئے پریښے وی نو دلته څنګه وائی چه (لم یفتح لك) (تاته جنت دروازه نه پرانستلے کیږی) ؟ جواب : دلته تقدیر دے (ای لم یفتح لك اولاً) ۔ یعنی دخول اوّلی نه به محروم وی۔ ۲- **جواب :** دا هم دا هل السنة مذهب دے چه تارك د تولو اعمالو مسلمان نه دے نو هغه ته به جنت نه کولاویږی او دا خبره حقه ده لکه علامه صدیق حسن خان په تفسیر فتح البیان کښ ذکر کړیده په آخر د سوره انعام کښ نو دا قول د وهب په خپل ظاهر بناء دے۔

درجة الحدیث : رواه البخاری فی ترجمة الباب : دا حدیث امام بخاری تعلیقاً ذکر کړیدے یعنی بلا سند په اول دکتاب الجنائز کښے او بیا ئے په التاریخ الکبیر کښے متصل السند ذکر کړیدے۔ نو دمصنف دا عبارت چه رواه البخاری فی ترجمة الباب سهوه ده ځکه چه امام بخاریؒ دا په صحیح خپل کښے نه دے ذکر کړے په ترجمة الباب اونه په غیر دترجمه الباب کښے بلکه تعلیقاً ئے راوړیدے اوددے دپاره رواه لفظ نه استعمالیږی بلکه لفظ د(ذکره) پکار دے۔

د نیکئ اجر او ثواب

۴۳- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اِذَا اَحْسَنَ اَحَدُکُمْ اِسْلَامُهٗ فَکُلُّ حَسَنَةٍ یَعْمَلُهَا تُکْتَبُ لَهٗ بِعَشْرِ اَمْثَالِهَا اِلٰی سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ وَکُلُّ سَیِّئَةٍ یَعْمَلُهَا تُکْتَبُ بِمِثْلِهَا حَتّٰی لَقِیَ اللّٰهَ». متفق علیه

ترجمه: ابو هریره ﷛ وائی : رسول الله ﷺ اوفرمایل : هرکله چه تاسو کښ یو تن (دزړه صدق اود اخلاص نیت په بناء) خپل ایمان ښه جوړ کړی نو هغه چه کوم نیك اعمال اوکړی په هغے دهغه عملنامه کښ دهغے په شان دلسو نه واخله داووه سوه پورے د نیکو زیاتی اجر لیکلے شی، اوڅوك چه بدعمل اوکړی نو په هغے دهغه دپاره دهغه په علمنامه کښ یوه گناه لیکلے شی تردے چه هغه الله سره ملاقات اوکړی (یوځائے شی)۔ (بخاری اومسلم)۔

تشریح : اِذَا اَحْسَنَ اَحَدُکُمْ اِسْلَامُهٗ :حسنْ داسلام په ډیرو څیزونو سره راځی :

۱- په ترك دما لایعنی (بے فائدے خبرے او کارونه پریخودلو) سره۔ ۲- په اطعام الطعام

(مسلمانانو باندې خوراك كولو) سره. ٣- په افشاء السلام (ډير سلامونو اچولو) سره. ٤- مسلمانانو ته په لاس او ژبه سره ضرر نه رسولو سره. ٥- په لين الكلام (نرمو خبرو كولو) سره. ٦ - په اخلاص سره. ٧ - په دخول في الاسلام ظاهراً وباطناً (اسلام كښې ظاهر او باطني طريقې سره داخليدو سره چه منافقت ورسره نه وي) . ٩- استحضار د قرب الرب عند العمل وهو الاحسان (چه بنده د عمل كولو په وخت د الله تعالىٰ د قرب او نزديوالي استحضار اوكړي او ديته احسان وائي). دې نه علاوه نور اسباب روستو حديث كښې راروان دي.

بِمِثْلِهَا حَتّٰى لَقِيَ اللهَ : بل روايت دبخاري كښې په حديث دابو سعيد كښې داسې دي: (والسيئة بمثلها الا ان يتجاوز الله عنها) . په دې حديث كښې رد دې په مرجئه باندې چه عمل لره اعتبار نه وركوي. دغه شان په هغه چا باندې هم رد دې چه زيادت او نقصان په ايمان كښې نه مني او وائي چه ټول خلق په اسلام كښې سره برابر دي. رد داسې دې چه حسن كښې تفاوت ددرجاتو راځي نو اسلام كښې به په طريقه اولىٰ سره راځي.

فائده : څومره چه اسلام كښې حسن راځي هغه هومره په اعمالو كښې طاقت پيدا كيږي اجر زياتيږي. اِلٰى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ : ضِعف په كسره دضاد سره په عربئ ژبه كښې ددو چند معنى وركوي اود مثل معنى هم وركوي (لسان العرب ٦٤/٨) دلته معنى دمِثْل ده.يعنى دلسو نه تر اووه سوه پورې امثال وركوي.از هريّ فرمائي : ضعف په معنى دمثل دې اودا په مثلين پورې خاص نه دې بلكه عرب وائي : (هذا ضعفه اى مثلاه وثلاثة امثاله) . يعني ضعف دو مثلو ته هم وائي او درې امثالو ته هم وائي) ځكه چه ضعف په اصل كښې هغه زيادت ته وائي چه غير محصور وي لكه آيت ﴿ فاولئك لهم جزاء الضعف ﴾ (سبا : ٣٧) كښې يو مثل يادوه مثله نه دي مراد بلكه اضعاف (ډير چندونه) مراد دي خو اقل دضعف يو مثل دې او اكثر لره ئې حدنشته.

حافظ فتح البارى كښې ليكي : (٢٧٣/٨) الضعف في اللغة المثل والتحقيق انه يقع على العدد بشرط ان يكون معه عددآخر فاذا قيل ضعف العشرة فُهِمَ ان المراد عشرون. آه . (ضعف په لغت كښې مثل ته وائي او تحقيق دا دې چه دده اطلاق په عدد باندې كيږي خو پدې شرط چه بل عدد ورسره ذكر وي نو كله چه داسې اووئيلې شي ضعف العشره (د لسو يو ضعف يعني مثل) نو ددې نه به فهميږي چه شل مراد دي).

بيا قرآن پاك كښې دي ﴿ والله يضاعف لمن يشاء ﴾ [بقره آيت : ٢٦١] (الله په ډيرو چندونو وركوي) اودلته اووه سوو پورې حد راغلې دې دې وجې نه حافظ (٢٧٣/١١) فرمائي : چه آيت كښې دوه احتماله دي : ١- يضاعف نه مراد دلسونه تر اووه سوو چندونو پورې رسول.نو معنى دا شوه چه الله په چندونو زياتوي دغه اجر تردې چه اووه سوه پورې ئې اورسوي، لهذا قرآن اوحديث كښې هيڅ تعارض نشته. ٢- احتمال : يضاعف معنى داده چه داووه سوو نه اجر زياتوي تر لا الى النهايه پورې

اودا خبره بهتره ده۔ څکه چه په روايت د بخاري كتاب الرقاق (٢/٩٦٠) حديث د ابن عباس كښې دى چه (فان هم بها وعملها كتبها الله له عنده عشر حسنات الى سبع مائة ضعف الى اضعاف كثيرة۔ ۔ ۔ الحديث) ددې نه معلوميږى چه سبع مائة نه مراد صرف كثرت دے او تعيين نه دے مراد لكه چه په دے تعيين باندې بعضے علماء قائل دى نو ددې وجه د مفضوليت تا اوپيژنده۔

حَتّٰى لَقِيَ اللّٰهَ : ددې نه معلومه شوه چه دا قانون د الله تعالىٰ تول عمر دے تر مرګ د انسان پورې به چليږى۔ او پس د مرګ نه به دغه اجرونه يا سزاګانې ورته رسيږى۔

دايمان نښه او علامه

٤٤- وَعَنْ اَبِىْ اُمَامَةَ اَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مَا الْاِيْمَانُ ؟ قَالَ: «اِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَاَنْتَ مُؤْمِنٌ» قَالَ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! فَمَا الْاِثْمُ؟ قَالَ: «اِذَا حَاكَ فِيْ نَفْسِكَ شَيْئٌ فَدَعْهُ». رواهُ احمد۔

ترجمه : ابو امامه رضي الله عنه وائى يو سړى د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو، (يارسول الله !) دايمان (دسلامتيا) نښه څه ده ؟ نبى كريم ﷺ ورته اوفرمايل : هركله چه ستا نيكى تاته ښه ښكاره شى او ستا بدى تاته بده ښكاره شى نو (پوهه شه چه) ته (پوخ) مؤمن ئې۔ بيا هغه سړى تپوس اوكړو، يارسول الله ! دګناه علامه څه ده ؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل : هركله چه يوه خبره ستا زړه كښې خدشه اوشك پيدا كړى (نو پوهه شه چه هغه ګناه ده) نو هغه پريږده۔ (احمد)۔

تشريح : مَا الْاِيْمَانُ ؟ : (اى ما علامة الايمان– د ايمان نښه څه ده؟)۔ اِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ : په نيكۍ باندې خوشحالى په دوه قسمه ده. * په طريقه د فخر سره، دا حرام كار دے دمؤمن صفت نه دے، دے نه مؤمن وربريږى۔ * دويم دهغے په كولو باندې خوشحالى كول چه ښه دے چه الله د نيكۍ توفيق راكړو۔ دمنافقانو نښه داده چه هغوى په نيكۍ باندې نه خوشحاليږى، دا عادتى كار ګنړى او په ګناهونو خفه كيږى نه، داسې وى لكه دپوزې نه چه مچ پاڅوى، بيا چه څومره ايمان قوى كيږى هغه هومره په نيكۍ باندې ډير خوشحاليږى۔ عبد الله بن مسعودؓ بيمارۍ كښې ژړل، چاترېنه تپوس اوكړو، ولې ژاړې ؟ وې فرمايل : پدې ژاړم چه دا بيمارى راباندې په ځوانۍ راغلې وې كوم وخت چه به ما نيكيانې ډيرې كولې اوس بوډايم ناجوړه يم نيكۍ رانه پاتې شويدى۔ او ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه څوك بيمار شى نو په صحت چه كوم عمل كولو د هغې اجر ورته په بيمارۍ كښې ملاويږى۔ نو ارمان چه د صحت په حال كښې مې نيك اعمال ډير وې نو اوس به راته د هغې اجر ملاويدې۔ نو اوګوره صحابه د نيكيانو پسې ژاړى، داد قوت ايمان د وجې نه۔ د حديث مطلب دادې چه كله ته څه طاعت اونيكى اوكړې او په هغې خوشحاله شې اودا دې يقين وى چه ماته به پدې اجر راكړې شى اوچه ګناه اوكړې او په هغې بيا غمژن شې چه د الله خلاف اوشو۔ نو دا علامه دايمان ده چه ته كامل مؤمن ئې څكه چه ته د الله

په رضا خوشحالیګے اود الله په غضب خفه کیږي۔ کله چه ستا خفګان په ګناه راشي نو معلومیږي چه ته پښیمانه ئے او پښیمانتیا توبه ده،او (التائب من الذنب کمن لاذنب له) ۔ (د ګناه توبه ویستونکے داسے دے لکه چه ګناه ئے نه وي کړي) ۔

اِذَا حَاكَ فِيْ نَفْسِكَ شَيْئٌ : اثم په دوه قسمه دے: ۱- هغه چه ښکاره ګناه وي لکه زنا، سرقه، غیبت وغیره۔ ۲- هغه ګناه ده چه ښکاره نه وي۔بیا ئے دلته د: ما الاثم په جواب کښے نور ګناهونه بیان نکړل ځکه هغه ښکاره وو بلکه هغه شے ئے ذکر کړو چه خلق ورته ګناه نه وائی، ګناه ورته نه ښکاري الا القلوب الصافیه(مګر صفا زړونه)۔ نو دلته دویم قسم ګناه بیانوی چه په ظاهره کښے ګناه نه ښکاري اود انسان زړه کښے تردد او شك پیدا کوی، اودا په نسبت دپاکو زړونو اهل التزکیه والا سره دے نه په نسبت سره عوامو زړونو ته چه دګناهونو په وجه په تیاره کښے وي چه ګناه هم ورته نیکي ښکاري، او نیکي ورته ګناه ښکاري۔

اودا تردد دریے وجهو نه پیدا کیږي: ۱- یو داختلاف دعلماؤ نه چه بعضے ورته ګناه وائي اوبعضے ورته ګناه نه وائي۔ ۲- دویم د تعارض د ادله (دلائلو) په وجه تردد راشي چه آیا دیته ګناه اووایو که نه؟ او ترجیح ددلائلو هم نه وي موجوده۔ ۳- دریم دعدم العلم بالدلیل په بناء تردد راځي چه انسان ته دلیل نه وي معلوم چه آیا دا کار ګناه ده اوکه نه، نو په داسے کار کښے که ستا زړه کښے تردد او شك پیدا شو چه دحل اود حرمت پته نه لګیده نوداکار پریده دابه ګناه وي۔ او په (دع مایریبك الی ما لا یریبك الحدیث) (د شکی څیز نه یقیني څیز طرفته لاړ شه) باندے عمل اوکړه۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : رواه احمد (۲۵۱/۵، ۲۵۲، ۲۵۶) وفی سنده یحیی بن ابی کثیر وهومدلس واخرجه الطبرانی فی الاوسط قال الهیثمی ورجاله رجال الصحیح، الا ان فیه یحیی بن ابی کثیر وهو مدلس وان کان من رجال الصحیح، انتهیٰ۔ واخرج احمد والبزار والطبرانی فی الکبیر عن ابی موسی نحوه فهذا یعضده۔ ولذلك قال الالبانی فی صحیح الجامع الصغیروفی الصحیحة رقم (۵۵۰): انه صحیح۔

د ایمان او اسلام خبرے

۴۵- وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ ﷺ قَالَ : اَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! مَنْ مَعَكَ عَلٰى هٰذَا الْاَمْرِ؟ قَالَ:«حُرٌّ وَعَبْدٌ». قُلْتُ: مَاالْاِسْلَامُ؟ قَالَ:«طِيْبُ الْكَلَامِ وَاِطْعَامُ الطَّعَامِ» قُلْتُ: مَاالْاِيْمَانُ؟ قَالَ: «اَلصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ» قَالَ: قُلْتُ: اَیُّ الْاِسْلَامِ اَفْضَلُ؟ قَالَ: «مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ» قَالَ: قُلْتُ : اَیُّ الْاِيْمَانَ اَفْضَلُ؟ قَالَ: «خُلُقٌ حَسَنٌ» قَالَ قُلْتُ : اَیُّ الصَّلَاةِ اَفْضَلُ ؟ قَالَ: «طُوْلُ الْقُنُوْتِ ». قَالَ قُلْتُ اَیُّ الْهِجْرَةِ اَفْضَلُ ؟ قَالَ: «اَنْ تَهْجُرَ مَا كَرِهَ رَبُّكَ ».قَالَ فَقُلْتُ: «فَاَیُّ الْجِهَادِ اَفْضَلُ؟ قَالَ: «مَنْ عُقِرَجَوَادُهٗ وَاُهْرِيْقَ دَمُهٗ». قَالَ: قُلْتُ:«اَیُّ السَّاعَةُ اَفْضَلُ؟ قَالَ: «جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرُ. رواه احمد۔

ترجمه: عمرو بن عبسه ﷺ نه روايت دے، فرمائي: زه رسول الله ﷺ ته (د خپل کلي نه) راغلم او عرض مے اوکړو، يارسول الله! د دعوت اسلام شروع کښ په دے دين (اسلام) تاسو سره څوك وو، نبي کريم ﷺ اوفرمايل: يو آزاد (ابو بکرؓ) او يو غلام (بلالؓ) ما عرض اوکړو، د اسلام علامه څه ده؟ وے فرمايل: پاکيزه خبرے او مسکينانو باندے طعام خورول، ما عرض اوکړو، دايمان خبرے څه دي؟ وے فرمايل: صبر او سخاوت (يعني بدو خبرو نه بچ اوسيدل او اطاعت او فرمانبرداري باندے کلك اوسيدل) ما اووئيل: کوم مسلمان بهتر دے؟، وے فرمايل: چه دهغه د ژبے او لاس (دضرر نه) مسلمان محفوظ وي. ما اووئيل: ايمان کښ بهتر څيز څه دے؟ وے فرمايل: ښه اخلاق. ما اووئيل: مونځ کښ کوم څيز بهتر دے؟ وے فرمايل: ډير وخته پورے اودريدل (قيام). ما عرض اوکړو، کوم هجرت بهتر دے؟ وے فرمايل: داچه ته هغه څيز پريږدے چه هغه ستا رب بد ګنړي، ما عرض اوکړو، جهاد کښ افضل کوم يو دے؟، وے فرمايل: هغه سړے افضل دے چه دهغه اس اوو ژلے شي او هغه خپله هم شهيد شي. ما اووئيل: د تولو نه افضل کوم وخت دے؟. نبي کريم ﷺ اوفرمايل: دنيمے شپے آخري حصه.

تعارف دعمرو بن عبسه ﷺ: دده کنيه ابو نجيح، د ابوذر سره په مور کښے شريك ورور او ابتدائي پنځم مسلمان دے. داسلام قبلولو نه روستو خپل کلي ته لاړو هلته اوسيدو تردے چه د خيبر دغزا نه روسته ئے مدينے ته هجرت اوکړو، او فتح دمکے ته حاضر شو. په جاهليت زمانه کښے به ئے دغير الله عبادت بدګنړلو او وئيل به ئے: (هذا ما تفعلونه ضلال و باطل) (دا تاسو چه کوم شرك کوئ دا ګمراه او باطل کار دے) اوده چه به کله کډے بيزے څرولے نو وريځ به پرے سورے کولو، دا دده کرامت وو. تول احاديث منقوله ئے (٤٨) دي. د دور عثماني په آخر کښے وفات شويدے. كذا في تهذيب التهذيب (٦/٨). دده ددے حديث تشريح په بله طريقه الحق الصريح (٥٥٩/٤) کښ اوګوره! هلته نور تپوسونه دي.

تشريح: مَنْ مَعَكَ عَلٰى هٰذَا الْاَمْرِ؟: يعني ستا څوك موافق شته په دے دين باندے.

حُرٌّ وَعَبْدٌ: دے نه مراد: ۱- ابو بکر اوزيد بن حارثه دي.

۲- يا ابو بکر صديقؓ او بلال مراد دي لکه په روايت د مسلم کښ دي: (ومعه يومئذ ابو بكر وبلال) (او د هغه په دغه وخت کښ ابوبکر او بلال ملګري وو) او عليؓ دوړوکوالي په وجه ذکر نشو. ۳- يا هر حر او عبد مراد دي، لکه ملا علي القاري په مرقاة کښ ليکلي دي. يعني ماسره په دے دين باندے هر حر اوعبد مامور دي چه موافقت به کوي. اوس سوال دادے چه دحر او عبد نه که ابوبکرؓ اوزيدؓ يا بلالؓ مراد شي اودا تپوس دعمرو بن عبسهؓ په ابتداء داسلام کښے شي نو بيا پدے حديث کښے جهاد اوهجرت ذکر دے نو په ابتداء داسلام کښے جهاد او هجرت چرته وو؟ اوکه تپوس روستو زمانه کښے وي نو تخصيص دابو بکرؓ او زيد بن حارثهؓ اويا دبلالؓ صحيح نه دے، بلکه په هغه وخت کښے خو ډير احرار او عبيد موجود وو.

الجواب: باختيار الشق الاول: چه مراد دحر او عبد نه ابو بکرؓ اوزيدؓ يا بلالؓ دي، او تپوس هم په

ابتداء داسلام کښې شويدے اود جهاد او هجرت ذکر هم صحيح دے ځکه نبی اکرم ﷺ په مکه کښې دفرضيت دجهاد اوهجرت نه ديته ترغيبات ورکول، لکه نبی اکرم ﷺ ابو جهل ته په مکه کښې فرمائيلي وو: (جئتکم بالذبح) (يعنی ماته ستاسو دذبح حکم شويدے). او ابو جهل خپله هم وئيلي وو کله ئې چه په نبی اکرم ﷺ باندے دقاتلانه حملے کولو ... د هغه کور محاصره کړو، خپلو محاصره کونکو ملګروته وائی: (ان محمداً يزعم انکم ان تابعتموه على امره کنتم ملوك العرب والعجم ثم بعثتم من بعدموتكم فجعلت لكم جنان كجنان الاردن وان لم تفعلوا كان له فيكم ذبح، ثم بعثتم من بعد موتكم ثم جعلت لكم نار تحرقون فيها). كما فی الرحيق المختوم ص (۱٦۲).

سوره مزمل ابتدائی سورت دے او په هغے کښې هم دجهاد ذکر راغلے دے (وآخرون يقاتلون فی سبيل الله). ۳- **جواب** باختيار الشق الثانی: چه داتپوس روسته زمانه کښې شويدے اومراد دحر او عبد نه عام دی اوتخصيص نشته.

طِيبُ الْكَلَامِ: هذا من قبيل اطلاق الكل على الجزء دے دايمان (کل) اطلاق ئې په اجزاؤ کړيدے. بيا طيب الكلام (خوږو خبرو) کښې احسان روحانی دے او اطعام الطعام کښې احسان جسمانی دے اوپه طيب الكلام کښې اشاره ده تحليه ته او په اطعام الطعام کښې اشاره ده تخليه ته چه په دے سره دحب المال ددنيا نه زړه صفا کيږی. بيا تخليه مقدم وی دتحليه نه خودلته ئې تحليه مقدم کړه. وجه دا ده چه دلته ئې تواضع النفس چه تحليه ده ديو خاص غرض په بناء مقدم کړه چه هغه فضيلت د تواضع النفس دے، او ددے دواړو په ذکر کولو کښې حث او تيزی ده په مکارم الاخلاق او احسان کولو باندے. اګرکه د ژبے په خوږولو سره ولے نه وی.

اَلصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ: يعنی (ثمرة الايمان الصبر والسماحة). دايمان په جواب ئې کښې صبر او سماحت (سخاوت) ذکر کړو ځکه چه په صبر کښې ځان ته فائده رسول دی او په سماحت کښې بل ته فائده رسول دی.

۲- يا په صبر کښې احجام (خلقو نه ضرر بندول) وی اوپه سماحت کښې اقدام (بل ته فائده رسول) وی. ۳- يا په صبر کښې اشاره ده ترك المنهيات (حرام پريخودلو) ته او په سماحت کښې اشاره ده فعل المامورات (امرونو کولو) ته. اوپدے کارونو سره دانسان ايمان کامليږی مُثْمِر دثمراتو جوړيږی. حسن بصرىؒ فرمائی: (الصبر عن معصية الله والسماحة على اداء فرائض الله). (صبر د ګناهونو نه او سخاوت کول په اداء کولو د فرائضو د الله) او ددے دواړو ته خلق حسن وائی لکه چه عائشه فرمائی د نبی عليه السلام اخلاق قرآن وو. **خُلُقٌ حَسَنٌ**: ښائسته اخلاق څه ته وائی، نودا درے مادے غواړی: ۱- لکه جامع الترمذی (۲/۲۱) کښې د **عبد الله بن المبارك** نه نقل دی چه: (هو بذل الندى، وكف الاذى، وطلاقة الوجه). (بل له سخا (فائدے) ورکول، چا له ذر نه ورکول او کولاو تندے ساتل) ۲- او **حسن بصرىؒ** فرمائی: (حسن الخلق: بسط الوجه وبذل

الندی و کف الاذی)۔ (مخ فراخه ساتل او سخاکول او ضرر بندول)۔
۳- علی ﷺ فرمائی : (حسن الخلق فی ثلاث خصال : اجتناب المحارم، وطلب الحلال و التوسعة علی العیال) ۔(ښائسته اخلاق په درې خویونو کښې راجمع دی : د حرامو نه ځان ساتل او حلال طلب کول او په اهل وعیال باندې فراخی راوستل)۔ **٤- ابو سعید الخرّاز فرمائی :** (هوان لایکون لك همّ غیر الله تعالی) (احیاء العلوم (۱٤٤/۳) (یعنی چه ستا د الله نه سوا بل هیڅ غم او فکر نه وی- تول عمر الله ته د رسیدلو په فکر وی) دا خو اقوال دی۔
او حقیقت دحسن الخُلُق امام غزالیؒ داسې ذکر کړیدې : (فالخلق عبارة عن هیئة فی النفس راسخة تصدر عنها الافعال بسهولة ویسر من غیر حاجة الی فکر ورویة فان کانت الهیئة بحیث تصدر عنها الافعال الحمیلة المحمودة عقلاً وشرعاً سمیت تلك الهیئة خلقاً حسناً، وان کان الصادر عنها الافعال القبیحة سمیت الهیئة خلقاً سیئاً)۔(نو اخلاق عبارت دې د هغه هیئت نه چه په نفس کښې مضبوط وی او د هغه نه کارونه په آسانتیا سره صادریږی او حاجت فکر او ذهن چلولو ته نه وی، که دا هیئت پداسې طریقې سره وی چه ددې نه ښائسته نیك کارونه عقلا او شرعاً صادریږی نو دې هیئت ته حسن الخلق وائی او که ددې نه قبیح افعال صادریږی نو دیته خلق سیء (بد اخلاقی) وائی)۔
او ددې څلور ارکان دی : ۱- قوة العلم : پدې سره دصدق اوکذب، حق اوباطل ترمینځه فرق کیږی، اوددې نه حکمت پیدا کیږی، کوم چه رأس الاخلاق الحسنة دې۔
۲- قوة الغضب : چه دا په حکمت طریقه استعمال شی، ددې مواضع پیژندل۔
۳- قوة الشهوة : دابه هم دحکمت د اشارې لاندې وی۔ ٤- قوة العدل بین هذه القوی الثلاث : (ددې درې قوتونو ترمینځ د عدل قوت) پدې سره ضبط الشهوة والغضب راځی، دعقل اوشرع داشارې لاندې عقل دخیر خواه مشیر پشان دې، نو که دا تول برابر وی نو داحسن الخُلق دې مطلقاً۔ اوکه بعضې برابر وی نو کمه درجه حسن الخلق دې۔ زیاتی تشریح دپاره احیاء العلوم ته رجوع کولې شئ۔
* دویم تعریف په کتاب الزواجر لابن حجر الهیثمی (۸٦/۱) کښې ذکر شویدې چه دهغې حاصل دادې چه دحسن الخلق رجع دوه څیزونو طرفته کیږی : ۱- اعتدال دقوة العقل، سره دکمال حکمت نه۔ ۲- اعتدال دقوت غضبیه اوشهوانیه دې۔ چه دا دواړه اعتدالین به هله حاصلیږی چه کله عقل دشرع تابع شی۔اودا اعتدال د الله په جُود (ورکړې) سره او په کمال فطری سره حاصلیږی۔اویا داچه انسان ددې داسبابو کسب اوکړی لکه مجاهده او ریاضت اوکړی او هر هغه عمل اختیار کړی چه باعث دحسن الخلق وی اود هرهغه عمل نه ځان اوساتی چه باعث دبد اخلاقئ وی۔اودا کار به هله کیږی چه انسان خلوت او عزلت اختیار کړی اود نفس دعاداتو او شهواتو نه ځان اوساتی اودا عزلت به ځکه کوی چه مالوفات د نفس اود سمع اود بصر وغیره نه ورانډې شی۔ او بیا ددې خلوت نه روسته همیشه ذکرکوی او دعاګانې غواړی په

خلوت كښې، ترديے چه د الله سره محبت او دهغه دذكر سره ئے محبت او اُنس غالب شي۔ په اوله كښې خو به داكار گران وي خو روسته به خوندونه اخلي۔

بيا فرمائي : چه بعض خلق لږه شان مجاهده دنفس سره اوكړي، بعضے گنا هونه، فواحش پريږدي نو دا گمان كوي چه زما نفس مهذب شو او اخلاق مے صحيح شو ليكن چرته ده ته حاصل وي؟ حال دا چه ده كښے صفات الكاملين او اخلاق المؤمنين نه وي موجود، لكه زړه پريدل د ذكر يا خشوع او تويے او نه تكبر كول) ۔

بيا فرمائي : كه څوك ځان معلوموي چه آيا زه حسن الخلق والا يم اوكه نه، نو په احاديثو دے ځان پيش كړي چه آيا ده كښ دا صفات شته اوكه نه، لكه مثلاً :

١ – محبة المرأ لاخيه ما يحب لنفسه۔ (بل مسلمان له هغه څه خوښول كوم چه ځان له خوښوي۔ ٢ – اكرام الضيف والجار ۔ (د ميلمه او گاونډي اكرام كول) ٣ – قول الخير او الصموت ۔ (د خير خبرے كول يا چپ كيناستل) بيائے علامات دحُسن الخلُق ذكر كړيدي : وهي ان يكون كثير الحياء، قليل الاذى، كثير الصلاح، صدوق اللسان، قليل الكلام، كثير العمل، قليل الفضول، قليل الزلل، وهو برّ وصول وقور صبور، رضى شكور، حليم، رفيق، عفيف، شفيق، لا لماز، ولاسباب، ولا نمام، ولا مغتاب، ولا عجول، ولا حقود، ولا بخيل، ولا حسود، هشاش، بشاش، يحب فى الله، ويبغض فى الله، ويرضى فى الله، ويغضب فى الله – فهذا هو حسن الخلق۔ انتهى۔ (٨٧٨) ۔ (چه ډيرے حياء والا وي، ضرر وركونكے نه وي، ډير صلاحيت(نيك عملئ) والا وي، رشتينے ژبے والا وي، كمو خبرو والا وي، ډير عمل والا وي، كم فضول والا وي، كم لغزشاتو والا وي، ډير احسان كونكے وي، صله رحمي قائمونكے وي، ډير وقار والا وي، صبرناك وي، د الله نه راضي او شكر گذار وي، بردبار وي، نرم دل وي، پاكدامن، شفقت كونكے وي، ډير عيب لگونكے نه وي، كنځل مار نه وي، چغلي خور، غيبت كونكے، تلوار گرن، كينه كونكے، بخيل، حسد گر نه وي، هشاش بشاش (تروتازه) وي، د الله دپاره مينه، او د الله دپاره بغض كونكے وي، د الله دپاره راضي كيږي او د الله دپاره غصه كيږي نو دا ښائسته اخلاق دي)

٣– دريم تعريف : اوحديث كښے بل تعريف دحسن الخلق ذكر دے : هو ان تصل من قطعك وتعطى من حرمك وتعفو عمن ظلمك۔ (يعني څوك چه درسره قطع رحمي كوي ته به ورسره صله رحمي كوے، څوك دے محروم كړي او ته ورته وركړه كوے، څوك دربانديے ظلم اوكړي ته ورته معاف اوكړے نو دا حسن الخلق دے) ۔ حديث كښ دي : (ذهب حسن الخلق بخيرى الدنيا والآخرة)۔ نقله ابن القيم فى حادى الارواح۔ ورواه الطبرانى فى الكبير والبزار باسناد ضعيف كذا فى الاحياء (١٤٣٣/٣)۔ (يعني ښائسته اخلاقو د دنيا او آخرت خيرونه ويوړل)

القنوت : دقنوت ډير مصداقات دي : ١– قيام۔ ٢– قرائت۔ ٣– الخشوع۔ ٤– السكوت۔ ٥ – اقامة الطاعة۔ ٦ – الدعاء۔ ٧– الصلوة۔ دلته طول القيام مراد دے۔

مسئله : ایهما افضل ؟ طول القیام ام کثرة السجود ؟

په دے کښے اختلاف دے چه طول القیام غوره دے اوکه کثرة السجود۔ نو :

۱ – امام ابو حنیفهؒ طول القیام ته غوره وائی، اودلیل ئے دا حدیث دے۔ ۲ – او امام شافعیؒ کثره السجود غوره کوی۔ اودلیل ئے حدیث د ربیعه بن کعبؓ دے چه ده ته نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل : (فاعنی علی نفسك بكثرة السجود، كذا فی المشكاة فی باب السجود (۱/ ۸٤) او ابن القیمؒ په زاد المعاد (۱/۲۲۸) کښے تفصیلاً مع الدلائل ذکر کړیدی، وانظر فتاوی الدین الخالص (٤/۳۳۷) وسیاتی تفصیله فی موضعه)۔

ثمره داختلاف داده چه دامام ابو حنیفهؒ په نیز دوه رکعته چه اوګده وی غوره دی دڅلور هغه رکعتونو نه چه لنډ وی۔ او امام شافعیؒ څلور رکعته بهتر ګڼړی ددوه رکعتونو نه، دوجے دکثرة السجود نه په دے کښے۔

۳- **قول ثالث** : دادے چه دشپے طول القیام افضل دے ځکه دشپے په باره کښے لفظ دقیام راغلے دے ﴿قم اللیل﴾ (من قام رمضان) اود ورځے په باره کښے قیام النهار نه وئیل کیږی۔ اود ورځے کثرة الرکوع والسجود افضل دے۔ * لیکن امام شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ اولنو دواړو کښے تطبیق کړیدے چه کله قرائت (قیام) اوګد وی نو پکار ده چه رکوع سجده به هم دهغے مطابق وی، اوکه قیام لنډ وی نو رکوع سجده به دهغے مطابق وی، اودلیل پدے باندے عمل الرسول ﷺ دے چه کله به ئے سورة البقره لوستله نو دهغے په اندازه به ئے رکوع سجده هم کوله۔ براء بن عازبؓ فرمائی : (كان قيامه وركوعه وسجوده واعتداله قريباً من السواء)۔ مجموعة الفتاوی (۱/ ۲۳۰) ونقله ابن القیم عن شیخه فی الزاد۔ وانظر الدین الخالص (٤/۳۳۷)۔

اَلْهِجْرَةِ : دهجرت اقسام مخکښے تیر شوی دی زیاتی داچه هجرت درے قسمه دے :

۱ – هجرت لتعلم الدین (د دین د زده کړے دپاره) ۔ ۲ – لتعلیمه (د دین د خودلو دپاره)۔ ۳– الهجره لاشاعة الدین۔ (د دین د دعوت دپاره)۔ **مَاكَرِهَ رَبُّكَ** : فائده : قرآن اوسنت کښ کراهت په معنی دحرام سره وی۔ ۲– کراهت د الله دصفاتو نه هم دے ﴿كل ذلك كان سَيِّئُهُ عند ربك مكروها﴾ (اسراء : ۳۸)۔اوهرچه کراهت تحریمی اوتنزیهی دے نو دا اصطلاحات دفقهاؤ دی چه دا تقسیم کړی

عُقِرَجَوَادُهُ : فائده : اس ئے دخپل ځان نه مخکښ ذکر کړو اشاره ده شجاعت دده ته چه د ځان نه مخکښ کفار وژنی روسته دده وینه تویږی۔ **جَوْفُ اللَّيْلِ** : وجه د افضلیت دا ده: ۱ – ... کښ اخلاص ډیر وی، ریاء نه واقع کیږی۔ ۲– وقت د نزول د الله تعالیٰ د ... آسمان د دنیا ته ۳– توجه ډیره وی، دماغ تازه وی۔ ٤– په دے کښے یو ساعت دے چه دعاء په کښے قبلیږی

درجة الحدیث : رواه احمد (٤/۳۸٥) ۔ ورواه الطبرانی ورجاله موثقون ...
كما فی المرعاة۔ واسناده حسن۔ وفیه شهر بن حوشب وهو حسن الحدیث۔

ايمان او اسلام باندے مرکیدونکے شخص جنتی دے

٤٦- وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: «مَنْ لَقِيَ اللهَ لَايُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا وَيُصَلِّي الْخَمْسَ وَيَصُومُ رَمَضَانَ غُفِرَلَهُ». قُلْتُ: اَفَلَا اُبَشِّرُهُمْ يَارَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «دَعْهُمْ يَعْمَلُوا» رواه احمد۔

ترجمه : معاذ بن جبل ﷺ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل: څوك چه د الله سره په داسے حال کښې ملاقی شي چه الله سره ئے څوك نه وي شريك کړے، پنځه وخته مونځ ئے کولو، د رمضان روژے ئے نيولے نو هغه به ببنلے شي، ما عرض اوکړو، یارسول الله! آيا زه خلقو ته (ددے زيرے ورنه کړم، نبي کريم ﷺ اوفرمايل: هغوي په خپل حال پريده چه عمل کښې مشغول وي - (احمد)۔ داحديث دمعاذ مخکښے تير شويدے رواه احمد (٣٨٥/٥) باسناد صحيح۔

٤٧- وَعَنْهُ اَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ ﷺ عَنْ اَفْضَلِ الْإِيْمَانِ قَالَ: «اَنْ تُحِبَّ لِلّٰهِ وَتُبْغِضَ لِلّٰهِ وَتُعْمِلَ لِسَانَكَ فِيْ ذِكْرِ اللهِ» قَالَ: وَمَاذَا يَارَسُولَ اللهِ؟ قال: «وَاَنْ تُحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ وَتَكْرَهَ لَهُمْ مَا تَكْرَهُ لِنَفْسِكَ». رواه احمد۔

ترجمه : اود همدے معاذ نه روایت دے چه ده دنبي کريم ﷺ نه د افضل ايمان په باره کښې تپوس اوکړو، نبي کريم ﷺ ارشاد اوفرمايه: (افضل ايمان دادے) چه ته خاص دالله دپاره (خلقو سره) مينه کوے او خاص د الله دپاره (خلقو سره) بغض اوکينه کوے، اوخپله ژبه د الله په ذکر کښې اولګوے۔ معاذ عرض اوکړو، نور څه یارسول الله! رسول الله ﷺ اوفرمايل: اويل دا چه ته دخلقو دپاره هغه څيز خوښوے کوم چه دځان دپاره خوښوے، اوهغوي دپاره هغه څه بدګڼړے کوم چه دځان دپاره بد ګڼړے۔ (احمد)۔

تشريح : وَتُعْمِلَ لِسَانَكَ : (اى وتستعمل وتشغل) ۔ (يعني مستعمله او مشغوله کړے) فائده: په دے لسانك رطب من ذکر الله کښے رد دے په پيرانو باندے چه په پوزه ذکر کوي، او اوګے (ولی) خوزوي۔ **اقسام الذكر** : ذکر په درے قسمه دے : ١- ذکر قلبي فقط۔ ٢- ذکر لساني فقط۔ ٣- ذکر لساني او قلبي دواړه۔ اول ذکر قلبي يعني په زړه سره الله يادول، ديته فکر هم وائي۔ ذکر لساني يعني الله صرف په ژبه سره يادول سره دغفلت دزړه نه۔ اودريم ذکر قلبي او لساني دواړه جمع کول۔ علماء فرمائي: دا دريم قسم ذکر ډير فائده مند دے، او اولنے قسم هم فائده لري، او دويم قسم هم دهسے کيناستو نه بهتر دے۔ ليکن په ذکر باندے چه دکومو انعامونو وعده شويده، نو ددے خبرے ويره ده چه دغه انعامات به دے شخص ته ملاؤ نشي۔ دا وجه ده علماء فرمائي: دهر عبادت دالفاظو معنی زده کول ضروري دي، دے دپاره چه توجه په کښے پيدا شي، ليکن داخبره ديادولو قابل ده چه کومے دعاګانے اوذکرونه دموقع اومقام سره تعلق لري هغه په

زړه کښې وئیل او په خوله ئې نه وئیل سراسر خطائی ده۔لکه مثلًا په زړه کښې یو انسان الحمد لله (فاتحه په مانځه کښ) لولی نو مونځ ئې نه کیږی۔

ددې درې قسمه ذکرونو نه سیوا چه کوم ذکرونه پیران خلقو ته بیانوی لکه هُو هُو، او اللا هُو اللا هُو، یا ذکر معکوس، یا صرف الله، الله وئیل نو دا ذکرونه هم په شریعت کښې نه دی راغلی، ځکه ددې معنی ګانې نشته۔ مشتبه الفاظ دی، او مفرد الفاظ دی۔ دارنګه په پوزه باندې ذکر کول، اوګې خوزول داټول بدعات او دځان نه جوړې شوې طریقې دی۔نبی اکرم ﷺ خپل امت ته نه دی ښودلی۔زیات تحقیق دپاره زمونږ دذکر او دعاء مستند کتاب، فتاوی ابن تیمیہؒ تفصیلًا او فتاوی الدین الخالص (۲/۲۰۸) کتلې شئ۔

وَاَنْ تُحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ : ددې دوه صورته دی: ۱– یو دا چه ستا زړه کښې یو خیر موجود دې نو دا خوښوې چه دا خیر بل مسلمان ته هم اورسی۔اوهمدې ته حدیث کښ نصیحت وئیل شویدې۔ ۲– دویم دا چه تاته څوك یو کار اوسپاری چه مثلًا بازارنه ماله هم دا فلانې څیز راوړه نو ځان دپاره چه څنګه شې خوښوې نو هغه له به هم دغسې کوشش کوې۔

درجة الحديث : رواه احمد (٥/٢٣٧) (٢٢٠٨٩) بطريقين فى احديهما رشدين وفى الاخرى ابن لهيعة وكلاهما يرويان عن زبان والثلاثة مضعفون لكن الحديث معناه صحيح من احاديث اُخر۔ بل روایت طبرانی نقل کړیدې په هغې کښې ابن لهیعه دې او هغه سئ الحفظ دې، خو حدیث دده حسن لغیره جوړیږی اوکله چه دعبادله اربعه نه نقل کوی نو بیا صحیح وی، کما فى درس ترمذی (۱/۱۹۸) فحدیثه مقبول فى الاستشهاد۔



باب الکبائر و علامات النفاق

غټ گناهونه اود منافقت نښې

مناسبت ددې بالتضاد دې یعنې دایمان سره منافي دا گناهونه دي۔

بیا دکبائرو او نفاق ترمینځ نسبت دعموم خصوص مطلق دې : ۱ – ماده اجتماعي : کذب دی چه دا نفاق هم دې اوکبیره هم ده۔ ۲ – اوزنا اوسرقه کبائر دي خو نفاق نه دې، نوکبائر اعم مطلق او نفاق اخص مطلق دې۔ نوذکر دعلامات النفاق پس دکبائرنه دا تخصیص بعدالتعمیم دې اوغرض په کښې اهتمام دې۔ اوچا وئیلي دي چه نسبت دعموم خصوص من وجه دې،کذب ماده اجتماعي، زنا اوسرقه کبائر دي، نه نفاق او وعده خلافي (عندهم) نفاق دې او کبیره نه ده، ددې مثال لکه تهجد پرېښودل دنفاق علامه ده کما فی کنز العمال (۱۷۱/۱) جیفة باللیل حمار بالنهار، خشب باللیل، سخب بالنهار۔اوکبیره نه ده، لیکن دا نسبت دومره مشهور نه دې۔

الفرق بین الصغائر والکبائر

صغائر جمع دصغیرة ده وړه گناه۔ کبائر : جمع دکبیرة لویه گناه ۔

۱ – صوفیه : دکبائرو او صغائرو په مابین کښې فرق نه کوي، او روایت دابن عباسؓ پیش کوي چه (کل ما عصی الله فیه فهو کبیرة) نو ټول گناهونه ددوئ په نیز کبائر دي او دوی وائي : لا تنظر الی صغر المعصیة و کبرها وانظر الی من عصیتَ بها) کما فی الاحیاء (۱۹۶/۱)۔

(یعنې د گناه وړوکوالي او غټوالي ته مه گوره دیته اوگوره چه ته پدې سره د چا خلاف کوې)

۲ – اشاعره، ابوبکر الباقلاني، امام الحرمین، ابو اسحق الاسفرائني هم فرق نه مني، ټول گناهونه ددوئ په نیز کبائر دي۔ او صغیره اوکبیره چه راځي نو دا بالاضافة دي، لکه زنا په نسبت سره شرك ته کبیره ده، لیکن دشرك پشان نه ده۔ نودا صغیره بالنسبة الی الشرك ده، او په واقع کښې کبیره ده۔نودا کلي مشکك دې نسبت ئې بعض افرادو ته په زیادت اونقصان او شدت اوضعف سره دې۔– دا قول دویرولو دپاره ښه دې لیکن د قرآن او احادیثو دظاهر خلاف دې، ځکه قرآن کښې سورة النساء (۳۱) کښې الله تعالی فرمائي : ﴿ ان تجتنبوا کبائر ما تنهون عنه نکفر عنکم سیئاتکم ﴾ (ترجمه) (که تاسو دلوئي گناهونو نه ځان بچ کړئ نو واړه گناهونه به درته معاف کړو)۔ سیئات صغائر دي، نو دقرآن نه فرق معلومیږي۔اواحادیثو کښې ذکر دکبائرو هم راغلي دې اود صغائرو هم۔ ځکه چه صغائر په صلوات خمسه او صوم رمضان اوحج او عمرې، اودس، صوم عرفه او عاشوراء باندې معاف کیدل احادیثو کښې ذکر دي۔او کبائر مثلاً شرك بدون

التوبه نه معاف کیږي۔ داوجه ده مصنف هم داباب قائم کړو (باب الکبائر)۔

بله وجه داده چه دکبائر او صغائر حقائق جدا جدا دي ځکه صغائر او کبائر مقدمات او توابع دي دکبائرو، او کبائر هغه گناهونه دي چه الله ترینه منع کړي وي۔ دلیل پدے حدیث د (العینان تزنیان، والرجلان تزنیان، ویصدق ذلك كله الفرج او یکذبه) (سترگے هم زنا کوي، خپے هم زنا کوي او فرق کله ددے تصدیق کوي او کله ئے تکذیب) دے لکه چه رابه شي او مثال ددے داسے دے لکه لمس قُبله وغیره چه دامقدمات د زنا دي اوزنا منهي عنه او کبیره ده، كذا قال ابن القيم في المدارج (١/٣٢١)۔

بیا فرق د کبیره او صغیره ترمینځ معلومیږي په تعریف کولو سره * او یا په عدد معلومولو سره۔نو په **تعریف دکبائرو** کښ ډیر اقوال دي :

١- **اول قول** : دابن عباسؓ، حسن بصريؒ اوجمهورو علماؤ دے چه هرهغه شے چه دهغے په کولو باندے وعده دحد یا دنار یاد لعنت یا دغضب یا دلیس منا یا الله ترینه منع فرمائیلي وي نودا به کبیره وي، باقي صغائر دي۔ ٢- **قول** : دا دے چه کوم معاصي چه دمونځ، روژه، حج وغیره حسناتو په وجه نه معاف کیږي هغه کبائر دي اوکوم گناهونه چه په دغه اعمالو حسنه ؤ سره معاف کیږي هغه صغائر دي۔ کما في الآية ﴿ان الحسنات يذهبن السيئات﴾ هود : ١١٤)۔

٣- **دریم قول** : دامام غزاليؒ دے چه هر هغه گناه چه انسان ئے پطور دجرأت او استخفاف اوتهاون سره اوکړي بغیر دخوف او ندامت نه نو داکبیره ده، اوکه دنفس اود ژبے دلغزش په بناء باندے دانسان نه صادره شي او ورسره ندامت هم وي نو داصغیره ده۔واختاره ابن القيم في المدارج۔

٤- **څلورم قول** : ابو عمرو ابن الصلاحؒ، ضحاكؒ، الحسين بن الفضلؒ فرمائي : هر هغه گناه چه په هغے باندے د(اثم کبیر) اطلاق اوشي یا موصوف شي په عظیم سره نو دا کبیره ده چه دهغے علامه داده چه حد پرے واجبیږي یا وعید د اور وي یا فاعل ئے موصوف شوے وي په فسق یا لعنت وغیره سره نو دا کبیره ده او که داسے نه وي نو صغائر دي۔

٥ - **پنځم قول** : مالك بن مغولؒ فرمائي : (معاصي المبتدعين کبائر، ومعاصي المؤمنين صغائر، لان المبتدعين لا یتوبون عنها) ۔ د مبتدعینو گناهونه کبائر دي او د مومنانو گناهونه صغائر دي ځکه مبتدعین د بدعت نه توبه نه اوباسي)۔

٦- **شپږم قول** : سفیان ثوريؒ فرمائي : هغه گناه چه ستا اود بندگانو په مابین کښ مظالم وي نوداکبائر دي۔ اوکه ستا اود حقوق الله ترمینځ وي نو داصغائر دي۔ په شفاعت او عفو او استغفار سره معاف کیږي، (لان الله کریم یعفو) (الله کریم دے عفو کوي)۔ استدلال کوي په حدیث دانس بن مالكؓ قال قال رسول الله ﷺ ینادي مناد من قبل بُطنان العرش یوم القیامة یاامة محمد۔ ان الله عز وجل قد عفا عنكم جميعاً، المؤمنين والمؤمنات فتواهبوا المظالم بينكم وادخلوا الجنة

برحمتی)۔ مدارج (۱/۳۲۲)۔ (د قیامت په ورځ به د عرش دطرفنه آواز اوشي اے امت د محمد ! الله تاسو ټول معاف کړئ مومنان سره او ښځے نو خپل کښې ظلمونه اوبخئ او زما په رحمت باندے جنت ته داخل شئ)

۷- اووم قول : امام سدیؒ فرمائي : چه کبائر هغه لوئی لوئی گناهونه دی۔ چه الله تعالی ترے منع فرمائیلی وی اوددے کبائرو مقدمات صغائر دی۔ لکه نظر کول، لمس (گوتے وروړل) قُبله (خکلول) او ددے مشابه۔ لکه چه مخکښې تیر شو۔ حافظ ابن القیمؒ ددے قول تشریح داسے کړیده چه مراد دسدیؒ دا دے چه منهی عنه دوه قسم ده : ۱- یو هغه ده چه نفس فعل سراسر مفسد وی، نودا کبیره ده لکه قتل النفس، سرقه، قذف، زنا۔ ۲- هغه چه ددے مقدمات او وسائل وی لکه نظر، لمس، حدیث (خبرے)، قُبله چه دامقدمات د زنا دی، نودا صغائر دی، نو صغائر دمقدماتو دجنس نه دی اوکبائر دمقاصدو دجنس نه دی۔

۸- اتم قول : دشیخ الاسلام ابن القیمؒ دے چه (ذنوب العالم کبائر، وذنوب الجاهل صغائر، لان حسنات الابرار سیئات المقربین۔ (د عالم گناهونه کبائر دی او د جاهل گناهونه صغائر دی ځکه د نیکانو نیکیانے د مقربینو گناهونه وی) وما احسن ما قیل :

فکبائر الرجل الصغیر صغائر وصغائر الرجل الکبیر کبائر

(د وړوکی سړی لوئی گناهونه واړه دی او د لوئی سړی واړه گناهونه لوئی دی)۔
دا فرق په نسبت د سړی او د هغه د مرتبے سره دے۔

۹- نهم قول : شمس الائمه الحلوائیؒ فرمائی : هر هغه گناه چه دمسلمانانو ترمینځه قبیح او شنیع وی او ورسره هتك دحرمت الله اود دین هم وی نو داکبائر دی، والا فصغیرة۔ **۱۰- لسم قول** : امام نوویؒ دبعض علماؤ نه نقل کړیدے په صغیره چه کمه درجه گناه ده په دے باندے اصرار کولو سره کبیره گرځی، او دلیل کښې ئے قول د عمر او ابن عباس ذکر کړیدے : (لا کبیرة مع استغفار ولا صغیرة مع اصرار)۔ (استغفار سره گناه غټیږی نه او د همیشه کولو سره وړه گناه وړه کیږی نه بلکه کبیره گرځی)

۱۱- یولسم قول : ابو الحسن واحِدیؒ نه نقل دی چه دکبائرو او صغائرو حد نشته۔ چه بندگان ئے معلوم کړی ځکه که حد معلوم وے نو بیا به ټول خلق صغائرو کښې داخل شوی وے اودا به ئے مباح گڼړلے، دومره باك به ئے نه کولے، ځکه چه یقینی به راته معلومیدلے چه زما دا گناه صغیره ده خو لیکن الله تعالی د انسانانو نه ددے حد او تعریف پټ ساتلے دے، دے دپاره چه انسانان په ویره کښې وی چه زما گناه چرته کبیره نه وی، هلاك به شم، نو په دے وجه به د ټولو منهیاتو نه ځان ساتی تردے چه دکبائرو نه به بچ شی۔ او د دے مثال داسے دے لکه د لیلة القدر، ساعة الاجابه دجمعے په ورځ، او اسم الله الاعظم او د مسبحات سورتونو آیت چه د زر آیتونو نه بهتر دے

چه دا څیزونه الله پټ کړیدی چه انسانان په اعمالو کښې په هر وخت کښې په کوشش کښې وی نو دغه وختونه به په کښې هم راشی اوکه دا وختونه معین شی نو بیا به عام انسانان خاص په همدے اوقاتو کښې عبادت کوی او نور وختونو کښې به غافل وی۔دا عند التدبر ډیر ښه قول دے۔

* دویم دا چه دا فرق معلومیږی بالعدد۔ نو : ۱- بعضو وئیلی دی چه کبائر صرف اووه دی لکه په راتلونکی حدیث کښې دی : (اجتنبوا السبع الموبقات)۔ ۲- دابن عباسؓ قول دے چه کبائر هغه دی چه د اول د سورة النساء نه تردے آیت ﴿ان تجتنبوا کبائر ما تنهون﴾ (۳۱) آیت پورے ذکر دی۔ ۳- او د ابن عباس په یو بل روایت کښې دی چه : ده نه یو سړی تپوس اوکړو چه (الکبائر سبع ؟ قال : هن الی سبع مائة اقرب منها الی سبع)۔ یعنی باعتبار اصناف الانواع اووه سوو ته رسیږی۔ ٤- سعید بن جبیرؒ فرمائی : (هی سبعون کبیرة)۔ (دا اوویا گناهونه دی) باقی صغائر دی۔

او دا ټول اقوال په تفسیر ابن جریر (۱٦/۵) وابن کثیر (٤۷۹/۱) والزواجر للهیثمی (٦/۱) ومدارج السالکین واحیاء العلوم (۱۹۷/۱) والمرعاة (۱۲۱/۱) وتنظیم الاشتات وفتح الملهم (۲۵۳/۱) شرح مسلم۔ کښې دی ۔ من اراد مزید التفصیل فلیرجع الی هذه الکتب ولعل ما بیناه فیه کفایة عنها۔

فائده : صغائر په کومو اسبابو سره کبائر جوړیږی ؟

ددے دپاره علماؤ ډیر اسباب ذکر کړیدی، بعض د هغے نه دا دی :

۱- په صغیره گناه باندے مواظبت او همیش والی کولو سره کبیره (لویه گناه) جوړیږی دا وجه ده چه ابن عباسؓ فرمائی : (لا صغیرة مع اصرار ولا کبیرة مع استغفار) (مدارج السالکین ۲۲۱/۱) (څوك همیشه کوی دا وړه گناه نه ده او څوك استغفار غواړی نو دا غټه گناه نه جوړیږی) صغائرو گناهونو نه کبائر جوړیږی، دا وجه ده چه یو شخص یو گناه کبیره اوکړی خو بیا ورته اعاده نه کوی نو ددے دمعافئ ډیر امید کیدے شی د هغه وړے گناه نه چه انسان ئے همیشه کوی ددے مثال داسے دے لکه په یو کانړی باندے په یو ځل ډیرے اوبه واچوه نو په هغے کښې دومره اثر نشی کولے البته که یو یو څاڅکے اوبه پرے همیشه راپریوځی نو هغه کانړی کښې سورے اوکړی لکه څنګه چه نیك عمل چه همیشه والی سره لږ وی الله تعالی ته بهتر دے دډیر هغه عمل نه چه همیشه نه وی۔

۲- سبب : کله چه گناهګار یوه گناه وړه او سپکه اوګنړی نو کبیره ترے جوړه شی ځکه کله چه بنده ته گناه وړه ښکاره شی نو د الله په نیز هغه غټیږی او چه بنده ته لویه ښکاره شی نو د الله په نیز وړه ګرځی، ځکه چه په دے کښې زړه دگناه نه نفرت کوی بده ئے ګنړی، دا وجه ده چه حدیث د بخاری (۹۳۳/۲) کښې راځی (المؤمن یری ذنبه کالجبل فوقه یخاف ان یقع علیه والمنافق یری ذنبه کذباب مر علی انفه فطاره) (مومن خپله گناه داسے لویه ګنړی لکه چه غر دده دپاسه وی او دا یریږی چه رابه راپریے نه

وځی او منافق ته ګناه داسے ښکاری لکه مچ چه په پوزه ناست وی او هغه والوزوی)۔
بعضِ صحابه لکه انس بن مالكؓ تابعینو ته فرمائی : (انکم لتعملون اعمالاً هی ادق فی اعینکم من الشعر کنا نعدها علی عهد رسول الله ﷺ من الموبقات) ریاض الصالحین ص : (٤٨) (تاسو اعمال کوئ چه ستاسو په سترګو د ویښته نه هم معمولی دے لیکن هغه به مونږ په زمانه د نبی ﷺ کښ د هلاکونکو نه شمارلو) ځکه چه د صحابوؓ د الله د جلال معرفت زیات وو نو واړه ګناهونه به ئے هم غټ ګنړل۔ ۳- په ګناه باندے فخر او خوشحالی کول، کله چه بنده ته وړه ګناه خوند ورکړی نو د هغے اثر دومره لوئی شی چه زړه ورله تور کړی لکه یو سړے داسے اووائی : ګوره فلانے مے په مناظره کښ څنګه اوشرمولو، او تلبیس مے پرے اوکړو، او دهوکے مے ورکړے، یا تاجر اووائی چه څنګه کوته څیز مے پرے خرڅ کړو۔ پدے سره ګناه لویه کیږی ځکه چه انسان د الله نه وړاندے کیږی او شیطان پرے غالب کیږی ددے مثال داسے دے لکه یو مریض دا خوښوی چه د دوائی بوتل مات کړی چه ددے دوائی دڅښکلو دمصیبت نه خلاص شی نودده دشفاء امید ګران دے ځکه دا په ځان باندِ مرض نور هم سختوی، فتدبر!
٤- **التهاون بستر الله علیه** : دالله په پرده باندِ سپکاوے کول یعنی الله دے شخص باندِ پرده اچولے ده او عذاب ئے ورته ورنه کړو خلقو ته ئے رسوا نکړو نو دا ګمان اوکړی چه دا دالله په ما احسان دے الله ما پدے ګناه نه رانیسی ولے چه داګناه وے نو الله به ماته عذاب راکړے وے، زه به ئے شرمولے وے ﴿ ویقولون فی انفسهم لولا یعذبنا الله بما نقول حسبهم جهنم ﴾ (المحادلة : ۸)۔ ﴿ فلا یامن مکر الله الا القوم الخاسرون ﴾ اعراف : ۹۹) ۔ ٥- **اظهار الذنب**، چه یو انسان یو ځائے کښ یواځے ګناه اوکړی څوك ئے اونه وینی اودا راځی خلقو ته ئے بیانوی، دالله نه حیاء نه کوی چه هغه پرے پرده وا چوله اودا هغه پرده دځانه لرے کوی نو دا هم د انسان وړه ګناه لویه کوی۔
٦ - د هغه عالم چه دخلقو مُقتدیٔ وی وړه ګناه لویه جوړیږی لکه عالم زیښم واغوندی، دسرو زرو په زین (سورلئ) باندِ سوریږی، بادشاهانو مالدارانو ته ورځی۔ دخلقو غیبتونه کوی، په بے ځایه علومو کښ مشغولیږی چه دهغے نه مقصود خپل جاه اومرتبه ښکاره کول لکه علم الجدل والمناظره ځکه چه خلق عالم/لوګوری چه داکارونه کوی نو هغوی هم پدے اعمالو کولو باندِ جرأت اوکړی اود عالم اقتداء اوکړی، وائی که دا کار ناروا وے نو فلانی عالم به نه کولے، نو عالم به مړ شی خودا شر به ئے باقی پاتے وی په عالَم کښ۔ ابن عباسؓ نه نقل دی (ویل للعالم من الاتباع یزل زلة فیرجع عنها ویحملها الناس فیذهبون بها فی الآفاق) (د عالم دپاره د تابعداری کولو نه هلاکت دے چه هغه په یوه خبره اوخویږی او هغه ترے رجوع اوکړی لیکن خلق هغه واخلی او په اطرافو کښ ئے خوره کړی) نود عالم دوه وظیفے دی : ۱ - ګناه پرینښودل۔ ۲ - ګناه پټه ساتل۔
کذا فی احیاء العلوم کتاب التوبه للغزالی (۱/۱۹۵) بتغییر یسیر۔

علامات النفاق نه دلته پدے باب کښې څلور علامات ذکر دی په یو حدیث کښې، پنځمه په کښې دنیا پرستی ده، لکه داد (کالشاة العائرة) نه معلومیږی یعنی خود غرض کیدل کله د یوے ډلے ملګرے وی او کله د بلے ډلے۔او قرآن کښې ډیر علامات دمنافقت ذکر دی، زمونږ کتاب (الفوائد فی تزکیة النفوس) کښې سل دانے ذکر شوی دی لکه بعض مهمے علامے به په اووم حدیث دابن عمرؓ کښې راشی فانتظرها۔

د ټولو نه لویه ګناه ــــــــ الفصل الاول - اول فصل ــــــــ

۱- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ اَیُّ الذَّنْبِ اَكْبَرُ عِنْدَ اللهِ؟ قَالَ: «اَنْ تَدْعُوَ لِلّٰهِ نِدًّا وَّهُوَ خَلَقَكَ». قَالَ: ثُمَّ اَیٌّ؟ قَالَ: «اَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ خَشْيَةَ اَنْ يَّطْعَمَ مَعَكَ» قَالَ: ثُمَّ اَیٌّ؟ قَالَ: اَنْ تُزَانِیَ حَلِيْلَةَ جَارِكَ فَاَنْزَلَ اللهُ تَصْدِيْقَهَا ﴿وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللهِ اِلٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِیْ حَرَّمَ اللهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ﴾ الآية متفق عليه۔

ترجمه: عبد الله بن مسعود ﷛ وائی: یو سړی تپوس اوکړو، یا رسول الله! د الله تعالیٰ په نیز د ټولو نه لویه ګناه کومه ده؟ نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل: دا چه کوم الله ته پیدا کړے ئے ته هغه سره څوك شریك جوړ کړے، بیا هغه سړی تپوس اوکړو: دے نه پس لویه ګناه کومه ده، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمایل: دا چه ته خپل اولاد په دے وجه اووژنے چه هغه به تاسره خوراك کوی۔ هغه بیا تپوس اوکړو، دے نه پس کومه ګناه لویه ده، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمایل: دا چه ته دخپل ګاونډی ښځے سره زنا اوکړے (عبدالله بن مسعودؓ وائی) دنبی کریم ﷺ ددے ارشاد تصدیق کښې دا آیت نازل شو (چه ترجمه ئے داده) د الله خاص بندګان هغه دی چه الله نه سوا بل څوك لائق دعبادت نه ګنړی، اونه هغه نفس قتلوی چه الله (د هغه وژل) حرام کړیدی، اونه زنا کوی، اوڅوك چه داسے اوکړی هغه به دګناه په سزا کښې پریوځی) (بخاری)۔

تعارف د عبد الله بن مسعود ﷛: دده اسم کنیه ابوعبد الرحمن ده، د بنو هذیل قبیلے دے ابتدائی مسلمان، دعمر فاروقؓ نه ئے مخکښې ایمان راوړیدے، شپږم مسلمان دے، ابن ام عبد هم ورته وائی۔د رسول الله ﷺ دخواصو ملګرو نه وو، دنبی اکرم ﷺ خادم وو، په نعلین، مسواك او طهور باندِ مقرر وو۔ټولو غزواتو ته حاضر شویدے۔عمر فاروقؓ به فرمایل: (كُنَيْفٌ مُلِئَ عِلْمًا) (یعنی وړوکے غونډے دے خود علم نه ډك دے)۔دے فرمائی چه ما د نبی اکرم ﷺ دخولے نه اویا (۷۰) سورتونه زده کړیدی۔دا دنبی اکرم ﷺ سره په هیئت، شکل، ناز او کیناستو پاڅیدوکښې مشابه وو۔ نبی اکرم ﷺ دده په باره کښې فرمائی: (رضیت لکم ما رضی لکم ابن ام عبد) رواه الحاکم۔ (زه تاسو له هغه څه باندے راضی یم په کوم باندے چه ابن مسعود راضی دے چه هغه

د الله او د رسول محبت او تابعداری ده) په صحابو کښ دا دکبار العلماء والفقهاء نه وو۔ دشام فتح ته حاضر شویدے اود عمر فاروقؓ دخلافت په زمانه کښ دکوفے قاضی اود بيت المال خزانچی مقرر شو۔ مدینے ته راغلو هلته په کال (۳۲ هـ) کښ وفات او په بقيع کښ دفن شو۔ ﷺ۔ عمرئے څه دپاسه اویا کاله وو۔ نقل شوی احادیث ترینه (۸۴۸) دی۔ او خپلے فتاوی ئے ډیرے دی۔

متاخرین احناف دا دعویٰ لری چه فقه حنفی (زرعه ابن مسعود و ... علقمة وطحنه ابو حنيفه وعجنه ابو يوسف وخبزه محمد) درمختار (۱/۳٤)، مقدمه نور الایضاح، فتاوی دیوبند (۱/٦٥)۔ (ابن مسعود کریلے ده علقمه خړوبه کړه او ابو حنیفه وړه کړه، ابو یوسف واغږله، او محمد پخه کړه)
لیکن دا خبره غلطه ده څکه په سوونو مسئلے د ابن مسعودؓ د فقه حنفی خلاف دی لکه باب نقض الوضوء، وتر وغیره کښ مثالونه راروان دی۔

تشریح : اَنْ تَدْعُوَ لِلّٰهِ نِدًّا : ۱- (ای ان تدعو مع اللّٰه شريكاً) ۔اکثر دا په دعاء کښ وی پدے وجه ئے لفظ د دعاء راوړواوند شريك مماثل مناوی (مدِ مقابل) ته وائی۔
۲- دویمه ترجمه : (ان تنسب للّٰه شريكاً)۔ وَهُوَ خَلَقَكَ : داجمله معترضه ده راوړل شویده دپاره د زیادت قباحت چه ستا خالق الله دے اوته دهغه سره بیا هم شرك کوے دا خو ډیره قبیح خبره ده۔
ثم ای : تنوین عوضی دے (ای اَیُّ الذنبِ) ۔ حَلِيْلَةَ جَارِكَ : حلیله ښځے ته وائی څکه چه دایا دحلول نه دے په دے باندے هم حلول او نزول کیږی۔ ۲- یا دحل نه دے داهم خاوند له حلاله وی۔
۳- یا دحل الازار نه ده چه وجه ئے ظاهره ده۔ بیا دګاونډی تخصیص ئے څکه اوکړو چه دا ډیره سخته ګناه ده په دے وجه چه دپردئ ښځے سره تعلقات قائمول ګران دی، اود ګاونډی ښځے سره تعلقات قائمول هم آسان دی او سرے ترینه خبریږی هم زر، چه خاوند ئے شته اوکه نه په کور کښ یواځے ده۔ نو په دے کښ دوه حقوق ضائع کیږی : ۱- یو دالله حق۔ ۲- دویم دګاونډی حق ضائع شو۔ (ګاونډی تاسره امانت ایخے دے نو پدے کار کښ یو زنا ده او بل خیانت دے د ګاونډی سره نو دا څکه عظیمه ګناه شوه) ۔
اوکله چه خپلوان هم وی نو بیا درے حقوق ضائع کیږی۔ په یو حدیث کښ دی چه ګاونډی ښځے سره زنا لس ګناهونه دی اوپردئ ښځے سره یوه ګناه ده۔
فَاَنْزَلَ اللّٰهُ : **سوال :** آیت مکی دے او حدیث مدنی دے نو څنګه وائی چه فانزل الله تصدیقها ؟ **جواب :** دا یا تکرار النزول شویدے۔ ۲- یا دصحابوؓ اصطلاح وه چه کله به یوه خبره دآیت موافق وه نو هغوی به داسے وئیل چه دا آیت ددے فلانئ خبرے باره کښ نازل دے په دے معنی چه ددواړو مضمون یو دے او واقعه ئے د اولے واقعے سره مشابه ده۔ اګر چه آیت به مخکښ نازل شوے وو، کما ذکره الشاه ولی الله الدهلوی فی الفوز الکبیر۔
سوال : دا آیت خو ددے حدیث مطابق نه دے څکه آیت کښ مطلق قتل او زنا ذکر ده، او

حدیث کښې مقید ده. **جواب**: په حدیث کښې چه دا قیودات ذکر شویدی، دزیادت قباحت دپاره دی، قید احترازی نه دے، یعنی هسې هم زنا او قتل کول قبیح اوحرام کارونه دی خو کله چه دګاونډی دښځې سره وی او خپل ولد قتل کړی نو دا ډیر قبیح او ناکاره کار دے. * بیا په دے حدیث کښې درے قسمه ګناهونو ته اشاره ده: ۱- هغه دی چه تعلق لری دغیر الله سره نو دا دعاء دغیر الله شوه. ۲- اتباع دقوت غضبی، دا قتل النفس شو. ۳- اتباع دقوت شهوانی دا زنا شوه. اودا درے قسمه ګناهونه دټولو ګناهونو امهات (جرړے) دی. (التعلق بغیرالله، اتباع القوة الغضبیة. اتباع القوة الشهوانیة، کما فی سورة الفرقان ونحو ذلك).

دمور پلار نافرمانی اودروغ قسم خوړل

۲- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «اَلْكَبَائِرُ: اَلْإِشْرَاكُ بِاللهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَالْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ». رواه البخاريُّ.

۳- وفي روايةِ اَنَسٍ: «وَشَهَادَةُ الزُّوْرِ» بَدَلَ "اَلْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ". متفق عليه.

ترجمه: عبد الله بن عمرو ﷺ وائی: رسول الله ﷺ اوفرمایل: ځوك د الله شریك جوړول، د مور پلار نافرمانی کول، ناحق ځوك وژل او په دروغه قسم خوړل لوے ګناهونه دی. اود انس ﷺ روایت کښې دروغ قسم خوړلو په ځائے ددروغو ګواهی کول الفاظ دی. (بخاری اومسلم).

تشریح: اَلْكَبَائِرُ: ددے نه مراد اکبر الکبائر دی لکه مخکښې حدیث دابن مسعودؓ کښې الاشراك داکبرُ الذنوب نه شمارلے دے، دارنګه روایت د احمد (٤/٤٩٥) کښې په حدیث د عبد الله بن انیس کښې اکبر الکبائر لفظ ذکر دے. اَلْإِشْرَاكُ بِاللهِ: دے نه مراد مطلق کفر دے او شرك ئے ذکر کړو وجه داده چه دا په عربو کښې غالب وو نو په دے سره تنبیه ده په ټولو اصناف الکفر باندے. وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ: دا اکبر الکبائر ځکه دی چه یو منعم حقیقی دے چه الله دے بل منعم مجازی دے چه والدین دی. نو ددوئ خلاف اکبر الکبائر دے.

عقوق: من العق وهو الشق والقطع، منع ته وائی یعنی حق منع کول. ۲- دویم دهغوی خلاف کول په دین کښې په دے کښې دوه حقه ضائع کیږی حق الله اوحق الوالدین. ۲- یا په امورو مباحو کښې ترکاً وفعلاً. یعنی مور پلار درته وائی دا کار اوکړه یادا خبره اومنه او هغه مباح کاروی حرام نه وی شرك نه وی، یا ډے یو کار نه منع کړی نو په هغے کښې به ئے خبره منے که اوډے نه منله نو ته به نافرمانه حسابیږے. اود شرك او کفر او ګناه کار کښې به ئے خبره نه منے ﴿وان جاهداك على ان تشرك بى ما ليس لك به علم فلا تطعهما﴾ (لقمان: ١٥).

مسئله: عقوق الوالدین په وجه انسان دمیراث نه محرومیږی.

مسئله: په عقوق الوالدین کښې دا ضروری نه ده چه والدین بچی ته دعاق لفظ استعمال کړی چه

دا زمونږ نه عاق شو بلکه که دهغوی خبره ئے اونه منله او هغوی صبر اوکړو غلی شول، هیڅ ئے ورته هم اونه وئیل نو بیا هم بچی گناهگار اود هغوی نافرمانه او عاق حسابیږی۔ وقتل النفس : دنفس نه مراد ناحقه غیر مجرم وژل او کله چه مجرم وی مثلاً قاتل وی یا زانی محصن وی نو بیا د هغه وژل په اسلامی حکومت کښ ضروری دی۔ والیمین الغموس : غموس دغمس نه دے غمس داخلولو ته وائی۔او دا یمین هم انسان په گناه کښ یا په اور کښ داخلوی۔

اقسام الیمین : قسم په دریے قسمه دے : ۱- یمین منعقده : (وهو الحلف علی شئ فی المستقبل) (په آینده زمانه کښ د یو شی په کولو یا پریخودلو قسم خوړل) او په دے کښ کفاره هم شته اوکه هغه کار اونه کړی اوحانث شی نو گناه هم شته۔ ۲- الیمین الغموس : دا دیته وائی چه په تیر شوی کار باندے قصداً په دروغه قسم اوخوری، چه داسے اووائی : والله ما فعلت کذا وهو یعلم انه فعله۔ (قسم په الله ما دا کار نه دے کړے او بنه پو هیږی چه کړے ئے دے)۔ ❁ دویم تعریف : یمین غموس دیته وائی چه انسان په دروغه قسم اوکړی دے دپاره چه د بل مسلمان مال پرے حاصل کړی۔غموس د غمس نه دے ډوبول او داخلولو ته وائی۔ غموس ته غموس ځکه وائی (لانه یدخل صاحبه فی الاثم والنار)۔(ځکه دا هم خپل صاحب په گناه او اور کښ داخلوی)

۳- **دریم قسم** یمین لغو دے۔ ددے هم دوه تعریفه دی : یو دا چه عادی قسم کولو ته لغو وائی لکه هره خبره کښ عرب وائی : لا والله وبلی والله ! او قصد ئے قسم نه وی۔دویم تعریف : لغو هغه قسم دے چه انسان ئے په ماضی یا حال زمانه کښ په دروغو باندے په خطاء سره کوی، دده داگمان وی چه زه په دے قسم کښ رشتینی یم، حال دا چه په واقع کښ دروغژن وی۔په دے کښ نه کفاره شته اونه گناه،لکه آیت کښ دی : ﴿ لا یؤاخذکم الله باللغو فی ایمانکم ﴾ (المائده : ۸۹) ۔ اود یمین غموس په کفاره کښ اختلاف دے : ❁ عند الجمهور کفاره نشته دا گناه په کفاره نه معاف کیږی غټه گناه ده په توبه یا په اور باندے ختمیږی۔ ❁ اود امام شافعیؒ په نیز په کښ کفاره ضروری ده۔ اویمین منعقده کښ کفاره بالاتفاق نشته۔ مزید تفصیل مشکاة جلد ثانی کښ راځی۔

تباه کونکو څیزونو نه بچ اوسئ

٤- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«اِجْتَنِبُوْا السَّبْعَ الْمُوْبِقَاتِ» قَالُوْا یَارَسُوْلَ اللهِ وَمَاهُنَّ؟ قَالَ: «اَلشِّرْكُ بِاللهِ وَالسِّحْرُ وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِیْ حَرَّمَ اللهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَكْلُ الرِّبَا وَاَكْلُ مَالِ الْیَتِیْمِ وَالتَّوَلِّیْ یَوْمَ الزَّحْفِ وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ». متفق علیه

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه وائی : رسول الله ﷺ اوفرمایل : اووه هلاکونکو خبرو نه بچ اوسئ، تپوس اوشو، یارسول الله ! هغه اووه هلاکونکے خبرے کومے دی؟۔ وے فرمایل : (۱) الله سره

شریك جوړول (۲) جادو کول (۳) دچا قتل چه الله حرام کړے وی، هغه په ناحقه وژل (٤) سود خوړل (٥) دیتیم مال خوړل (٦) دجهاد په وخت دشمن ته شا خودل یعنی تښتیدل (۷) پاك لمنو مؤمنو او ناخبره ښځو باندے د زنا تهمت لګول۔(بخاری اومسلم)۔

تشريح : اِجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوْبِقَاتِ : موبقات جمع د مُوْبِقَة ده مُهْلِك (هلاکونکی) څیز ته وائی۔ دے ګناهونو ته مُهْلِکات ځکه وائی چه ددے مرتکب په دنیوی سزا سره یا دآخرت په عذاب سره هلاکوی۔نودا اسباب الهلاك دی۔تخصیص دسبع اوشودا یا باعتبار المجلس والموقع دے په دے موقع دا مناسب وو نودا ئے ذکرکړل۔

۲- یا مفهوم العدد لره اعتبار نشته۔یعنی تنصیص په یو عدد باندے نفی دماعدا نه کوی۔نورهم ډیر کبائر راغلی دی۔تر اوباو پورے لکه مخکښ تیر شو۔ ۳- بعضِ علماء وائی چه داپه ابتداء داسلام کښ بیان شویدی بیا په کښ زیادت اوشو۔ ٤- لیکن ظاهره دا ده چه نبی اکرم ﷺ په یو موقع کښ یوعدد بیان کړیدے او په بله موقع کښ ئے بل عدد بیان کړے، دموقع اود اشخاصو دحال موافق۔ قوله وفی روایه انس شهاده الزور :سوال : دا اختلاف ولے راغلے دے ؟

جواب : دا اختلاف دمجلس داختلاف د وجے نه دے په دوه مجلسونو کښ بیله بیله خبره ذکر شویده ځکه انسؓ شهادة الزور (د دروغو ګواهی ورکول) ذکرکوی او ابن عمرؓ یمین غموس۔ لکه ددے تفصیل مخکښ تیر شویدے۔

وَالسِّحْرُ : امام راغبؒ فرمائی : دسحر اطلاق په ډیرو معانیو کیږی : ۱- هغه څیز چه لطیف اوباریك وی او هر هغه څیز چه بل څیز رامائل کوی لکه شعراء وائی : سحر العیون ځکه چه سترګے هم نفوس مائله کوی۔ هم ددے نه دے : (ان من البیان لسحراً)۔ ۲- هغه شئ ته وائی چه په دهوکه او تخیلاتو سره واقع کیږی چه دهغے هیڅ حقیقت نه وی لکه د لاس په صفایئ سره دچا نظر بندول اوکله کله په دے کښ هغه شے استعمالیږی چه په هغے کښ یو خاصیت وی۔

تعریف د سحر امام راغبؒ په مفردات (۲۲٤) کښ داسے کړیدے : (هو استجلاب معاونة الشيطان بضرب من التقرب اليه او هوقوه تغيير الصور والطبائع تجعل الانسان حماراً) (شیطان ته په څه طریقه ځان نزدے کولو سره د هغه مدد ځان ته راخکلو ته سحر وائی - یا دا هغه قوت ته وائی چه په هغے کښ د څیزونو شکلونه او صورتونه یا طبیعتونه بدلولے شی لکه د انسان نه خر جوړ کړی) ۔

تفسیر روح المعانی (۱/۳۳۹) کښ علامه آلوسیؒ داسے فرمائی : (فسره الجمهور بانه خارق للعادة يظهر من نفس شريرة بمباشرة اعمال مخصوصة ۔ (جمهورئے داسے تعریف کوی چه دا هغه امر دے چه د عادت نه ناشنا وی د شریر نفس نه ښکاره کیږی په سبب د کولو د څه خاص اعمالو)۔

مسئله : سحر، معجزه اوکرامت کی څه فرق دے ؟

نو د سحر او معجزے ترمینځه فرقونه دا دی : ۱- سحر د ناکاره خلقو نه صادریږی او معجزه د

نیکانو خلقونه صادریږي. ۲ - په سحر کښې تحدي (اعلان مقابله) ضروري نه وي او معجزه کښې تحدي ضروري وي. ۳- سحر کښې دعویٰ د اثبات الحق ضروري نه وي او معجزه کښې دعویٰ د اثبات الحق ضروري ده. ٤ - دسحر مقابله ممکن ده او د معجزې مقابله ممکن نه ده لکه الله حکایت د موسی نه کوي: ﴿مَاجِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ إِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهُ﴾. (تاسو چه څه راوړل دا خو جادو دے الله به ئې زرتباه کړي).

٥- صاحب المعجزه دپاره دعویٰ د نبوت ضروري ده او ساحر دپاره دعویٰ د نبوت ضروري نه ده.

او د معجزې او کرامت تر مینځه فرق دا دے: ۱- چه معجزه کښې تحدي او مقابلے دپاره دعوت وي او کرامت کښې نه وي. ۲- دمعجزې اظهار ضروري دے او د کرامت اخفاء ضروري ده. دا وجه ده چه علماء فرمائي: (الكرامة حيض الرجال فيجب اخفاؤها). (کرامت د سړو حیض دے نو پټول ئې پکار دي) ۳- معجزه د نبي نه صادریږي او کرامت د ولي نه صادریږي.

٤- صاحب المعجزه نه ګمراه کیږي او صاحب الکرامة کښې احتمال دګمراهۍ کیدے شي.

او د سحر او کرامت تر مینځه فرق دا دے چه: ۱- سحر دا قوالو او افعالو په مدد سره کیږي او کرامت دیته محتاج نه دے ډیر کرته اتفاقاً صادریږي.

۲- سحر کښې د ظاهري تعلیم او تعلم دخل وي، ﴿يعلمون الناس السحر﴾. او په کرامت کښې دا نه وي. ۳- سحر دپاره خاص زمان او مکان ضروري دے او د کرامت دپاره دا ضروري نه دے. ٤- سحر د بد عمل نه صادریږي او کرامت د ولي نه صادریږي. ٥ - سحر د ساحر په قدرت کښې وي، او کرامت د ولي په قدرت کښې نه وي.

قدر مشترك په دے دریے واړو کښې دا دے چه امور خارقه للعادة (د عادت نه ناشنا کارونه) دي.

حکم السحر : بعض سحر (جادو) په درجه دکفر کښې وي، بعض په درجه دفسق کښې وي. که داسے اقوال او افعال په کښې وي چه هغه مقتضي دکفر وي نو دا بیا کفر دے او که داسے نه وي نو بیا معصیت او کبیره ګناه ده او د ساحر جزاء په اسلامي حکومت کښې قتل دے. او ددے مسئلے تفصیل په مشکاة جلد ثاني کښې راځي ان شاء الله.

وَالتَّوَلِّيْ يَوْمَ الزَّحْفِ : زحف ګنړے ته وائي مراد ترینه داده چه مسلمان ګنړ وي او حمله کوي په کفارو باندے دا دلیل دے چه تولي یوم الزحف د بدر پورے نه ده خاص هر وخت کښې دا کار کبیره ګناه ده. کومو مفسرینو چه دا د بدر پورے خاص کړیده دا غلطه ده. دتولي (اوړیدلو) معنی داده چه د کافرانو نه راوتښتي او قرارګاه یعنې کورته لاړ شي. او که د کافر نه او تښتي او قرار ګاه ته راشي بیا دحملے اراده لري نو دا بالکل ګناه نه ده دا تولي نه ده، دډیرو خلقو دا ګمان دے چه جنګ کښې به د کافرانو نه بالکل نه تښتے دا غلطه ده، څکه قرار ګاه ته راتښتیدل تولي نه ده.

وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ : قذف کنځلو ته وائي عیب دزنا لګول، محصنات پاکدامنو

زنانو تـه وائي زنانـه ئے ذكر كرے اگرچه دسړو هم دا حكم دے چه په هغوي باندے عيب اوتور لگول هم كبيره گناه ده ځكه چه زنانو باندے تورډيرلگي يا د قرآن د موافقت د وجے نه ئے محصنات ذكر كړيدي. المؤمنات: قيد ئے ځكه زيات كړو چه دكافرانو زنانو باندے عيب دزنا لگول يا هغه زنا كاره زنانه چه پاكدامنه نه وي نو دا گناه نه ده ځكه دا د كفارو دشان سره زياته لائقه ده اوظن بالمظنون جائز دے چه يو شخص په زنا گانو مشهور وي په دے عيب لگولو كښې هيڅ حداوگناه نشته. اگركه دا عيبونه بے فائدے لگول ښه نه دي د زناگانو خبرے مشهورول نه دي پكار.

هغه بد ترين گناهونه چه دهغے دكولو په وخت ايمان باقي نه پاتے كيږي

٥- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَايَزْنِي الزَّانِيُ حِيْنَ يَزْنِيُ وَهُوَمُؤْمِنٌ وَلَايَسْرِقُ السَّارِقُ حِيْنَ يَسْرِقُ وَهُوَمُؤْمِنٌ وَلَايَشْرَبُ الْخَمْرَحِيْنَ يَشْرَبُهَا وَهُوَمُؤْمِنٌ وَلَايَنْتَهِبُ نُهْبَةً يَرْفَعُ النَّاسُ اِلَيْهِ فِيْهَا اَبْصَارَهُمْ حِيْنَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَمُؤْمِنٌ وَلَايَغُلُّ اَحَدُكُمْ حِيْنَ يَغُلُّ وَهُوَمُؤْمِنٌ فَاِيَّاكُمْ اِيَّاكُمْ». متفق عليه. ٦- وفي روايةِ ابن عبَّاسٍ: «وَلَا يَقْتُلُ حِيْنَ يَقْتُلُ وَهُوَمُؤْمِنٌ قَالَ عِكْرِمَةُ: قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ كَيْفَ يُنْزَعُ الْاِيْمَانُ مِنْهُ؟ قَالَ: هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ اَصَابِعِهٖ ثُمَّ اَخْرَجَهَا فَاِنْ تَابَ عَادَاِلَيْهِ هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ اَصَابِعِهٖ وَقَالَ اَبُوْعَبْدِ اللهِ: لَا يَكُوْنَ هٰذَا مُؤْمِنًا تَامًّا وَلَا يَكُوْنُ لَهٗ نُوْرُ الْاِيْمَانِ. هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ.

ترجمه: ابو هريره ﷺ وائي: رسول الله ﷺ اوفرمايل: زنا كونكے چه زنا كوي نو هغه وخت دهغـه ايمان باقي نه پاتے كيږي، شرابي چه شراب څكي نو هغه وخت دهغه ايمان باقي نه پاتے كيږي، اوچه شوكه كوي (په زور اخلي) او خلق هغه (په ډاگه) په زبردستي آخستونكےويني (ليكن دخوف اودهشت نه بے وسه وي اود چغو سورو نه علاوه دهغه هيڅ نشي كولے) نو هغه وخت دهغه ايمان باقي نه پاتے كيږي، نو تاسو ډيے گناهونو نه بچ اوسئ (بخاري او مسلم) اود ابن عباسؓ روايت كښې دا الفاظ هم دي: چه قتل كونكے چه ناحقه قتل كوي نو هغه وخت دهغه ايمان باقي نه پاتے كيږي، عكرمةٌ وائي: ما دابن عباسؓ نه (دے حديث آوريدو نه پس) تپوس اوكړو چه هغـه نه ايمان څنگه جدا شي؟ نو هغه ددواړو لاسونو گوتے يو بل كښې داخلے كړے او بيا هغه گوتے ئے يو بل نه جدا كړے هغے نه پس ئے اوفرمايل: كه هغه توبه اوباسي نو ايمان داسے واپس راځي اودے وئيلو سره هغوي خپلے گوتے يو بل كښې داخلے كړے.او ابو عبد الله (يعني امام بخاريؒ) وئيلي دي چه (ددے حديث مطلب دا دے چه) هغه سړے (دگناه كولو وخت كښې) كامل مؤمن نه پاتے كيږي، او هغه نه دايمان نور اوځي – (بخاري).

تشریح : لَایَزْنِی الزَّانِیُ حِیْنَ یَزْنِیُ وَهُوَمُؤْمِنٌ : مطلب ددے حدیث دا دے چه ایمان کامل اوګناه کبیره دواړه سره نه جمع کیږی، خامخا به ایمان کښی نقصان پیدا کوی نو په حدیث کښی وعید دے په ګناهونو کولو باندے ځکه دا دکافرانو صفت دے۔

سوال : دا حدیث په ظاهر کښی دخوارجو او معتزلو دمذهب دلیل دے چه زانی او سارق وغیره کافر دی همیشه به په اور کښی وی، نو په ګناه کبیره سره دانسان نه ایمان څنګه سلب شو، داخو په ظاهر کښی تعارض راغلو دنورو احادیثو سره چه هر څومره ګناهګار وی نو جنت ته به اول او آخر ځی۔ اګرچه عذاب ورکړے شی، همیشه به په اور کښی نه وی، لکه مخکښی حدیث تیر شو (ادخله الله الجنة علی ما کان من العمل) اولکه مسلم کښے دی چه قاتل دنفس جنت ته تلے دے چه دخپلو ګوتو دپریکولو په وجه مړ شو۔ (مشکوٰة ۲/۳۰۰) باب القصاص۔ د ابوذر روایت کښی تیر شو (وان زنی وان سرق) ؟۔

جواب : د جمهور امت په نیز مرتکب د ګناه کبیره حقیقةً کافر نه دے، لهذا هغوی پدے کښی ډیر توجیهات بیانوی : ۱ – اوله توجیه داده چه (لا یزنی الزانی حین یزنی وهو مؤمن) په ظاهر کښے جمله خبریه ده ولے په حقیقت کښی په معنی دجمله انشائیه ده۔نو معنی داده چه زنا ډے نه کوی کله چه انسان ځان ته مؤمن وائی۔لکه بل روایت کښی په صیغه دنهی سره راغلی دی چه (لایزن ولا یشرب الخ) دغه شان سرقه شوه۔ابن جریر دابن عمرؓ نه نقل کړیدی چه دا خبر دے په معنی د نهی سره ۔ (ای لا یزنینّ مؤمن ولا یسرقنّ مؤمن) (فتح الباری ۱۳/۵۰) ۔نو په دے کښی منع غرض دے اوداسے منع ډیرے دی لکه (اجتنبوا السبع الموبقات) نودخوارجو مذهب ثابت نشو۔

۲– **جواب** : وهو مؤمن نه مراد دلته یوه شعبه دایمان ده چه هغه حیاء من الله ده، لکه حدیث دے : (الحیاء شعبة من الایمان)۔ اوداسے ډیر کیدے شی چه دایمان اطلاق په یوه شعبه شوے وی لکه صلاة ته ایمان وئیلے شویدے پدے آیت کښے ﴿ وما کان الله لیضیع ایمانکم ﴾(البقره : ۱٤۳)۔ ای صلاتکم۔ نو دلته معنی داشوه چه (لایزنی الزانی حین یزنی وهو مستحیٍ من الله)۔ یعنی زانی اوسارق وغیره کښے د الله نه حیاء نشته ځکه که حیاء ئے کولے نو ددے قبیح کار نه به ئے ځان ساتلے۔ ۳–**جواب** : دمؤمن نه مراد دلته کامل ایمان والا دے یعنی که مؤمن داکارونه کوی نو ضعیف الایمانّ دے اودا مطلب نه دے چه پوره ایمان ترینه سلب دے۔په بل تعبیر باندے د ابو جعفر الباقرؒ نه ترمذیؒ نقل کوی چه (خرج من الایمان الی الاسلام) ۔ (یعنی د ایمان درجے نه د اسلام درجے ته راخکته شو) ځکه ایمان اخص دے داسلام نه نوکله چه دایمان نه خارج شو نو اسلام کښی باقی پاتے دے اودا دجمهورو دقول سره موافق ډے چه دلته نفی دکمال ده نه نفی داصل ایمان (الفتح ۳/۹٦)۔امام نوویؒ وائی : دا تاویل محققین ځکه کوی چه حدیث د ابی ذر کښی راغلی دی (من قال لا اله الا الله دخل الجنة وان زنی وان سرق) اوحدیث د عباده (انهم بایعوا

رسول الله ﷺ علی ان لا یسرقوا ولا یزنوا) الحدیث)۔اود هغے په آخر کښے دی (ومن فعل شیئا من ذلك فعوقب به فی الدنیا فهو کفارة۔ ومن لم یعاقب فهو الی الله ان شاء عفا عنه وان شاء عذبه) (لکه چه داحدیث مخکښ تیر شویدے۔دارنګه آیت کښے دی : ﴿ ان الله لا یغفر ان یشرك به ویغفر مادون ذلك لمن یشاء ﴾ سره بیا تعارض راځی۔ددے دلائلو نه معلومیږی چه مرتکب الکبائر کافر نه دے مګر صرف په شرك به کافر کیږی۔

٤- جواب : حسن بصریؒ، ابن جریر طبریؒ داسے تاویل کوی چه الله تعالی خپلو بندګانو ته اعزازی نوم دمؤمن ورکړیدے نو چه کله دا زنا، سرقه وغیره ګناهونه اوکړی نو الله تعالی ترینه دا د مؤمن نوم سلب کړی اوزانی، سارق، فاجر او فاسق نوم ورته ورکړی اودا مطلب نه دے چه حقیقةً ایمان ترینه سلب دے۔ ٥- جواب : ابن حجرؒ په فتح الباری کښ نقل کړیدے چه : د (وهو مؤمن) نه مراد دادے چه کوم شخص داسے کبائر کوی نو (وامره الی ذهاب الایمان) (کارئے د ایمان ختمیدو ته نزدے شویدے) یعنی په اعتبار دعاقبت سره نفی دایمان مراد ده ځکه چه کوم شخص ددے کبائرو عادی شی دهغه په زړه کښ جرأت پیدا شی په ګناهونو باندے نو په هغه باندے یره وی چه دا ګناهونه به ئے کفر ته اورسوی۔ نو په دے انسان باندے خوف دے دسلب الایمان عند العاقبة، کیدے شی چه الله تعالی ترینه ایمان واخلی په عاقبت کښ اوکافر شی، لکه حدیث کښ دی: (من یرتع حول الحمی یوشك ان یقع فیه) ۔ (څوك چه د چراګاه نه ګیر چاپیره څرړی نزدے ده چه په هغے کښ واقع شی)۔

٦- جواب : مراد دا دے چه دا ګناهونه حلال اوګنړی اوبنه ورته معلوم وی چه دا حرام دی خودا ورته حلال وائی نودا بیا کافر دے حقیقةً باجماع المسلمین نودلته خاص قسم نفی دایمان ده چه هغه المستحل (حلال ګنړونکے) دے اودا ځکه کافردے چه دا بنده دالله مقابله کښ اودریدلو چه ستا محرمات نه منم۔ ٧- جواب : وهو مؤمن نه مراد (المستحضر لعقاب الله) دے یعنی هغه څوك دے چه دالله تعالی عذاب یا دهغه جلال ئے په ذهن کښ حاضر وی۔ اوددے نه ابن الجوزیؒ داسے تعبیر کوی : (فان المعصیة تذهله عن مراعاة الایمان وهو تصدیق القلب فکأنه نسی من صدق به ۔ (یعنی ګناه ده لره غافله کړی د لحاظ ساتلو د ایمان نه چه هغه تصدیق قلبی دے نو ګویا کښ ده مصدق به هیر کړو) نو هرکله چه زنا کوی معلومیږی چه دده په ذهن کښ دالله عذاب نه ویره نشته، لهذا سلب الایمان مراد نه دے ۔

٨- جواب : نفی د ایمان کله دګناه کبیره د وجے نه هم کیږی ځکه دا کار دکفر دے لکه یو کافر کښ دایمان صفات راتلے شی چه ښه اخلاق کوی صدقه وغیره ورکوی دغه شان مؤمن کښ دکافرانو اعمال راتلے شی۔ فتدبر ! نودلته کفر دون کفر مراد دے، چه هغه ادنیٰ کفر – چه کبائر دی – مراد دے، او اعلیٰ کفر نه دے مراد چه هغه کفر حقیقی الموجب لخلود النار دے، نودا کفر عملی شو نه کفر اعتقادی۔

۹- **جواب** : ابن عباسؓ کریدے (کما فی الکتاب وھو اختیار البخاری) : چه مراد دعدم الایمان نه دادے چه (ینزع عنه نور الایمان)۔ یعنی دایمان نور به ترے دگناهونو په وجه ختم شی۔

۱۰- **جواب** : مراد دنفی الایمان نه دلته نفی الامان من عذاب الله دے، یعنی کله چه دا زنا کوی نو دا د الله دعذاب نه په امان کښ نه دے او نفی دایمان نه ده مراد۔

۱۱- **جواب** : دلګ وخت دپاره ترینه ایمان جدا کیږی او بیا دګناه کولو نه پس بیرته ورته واپس کیږی لکه حدیث دابو هریرهؓ مرفوعاً کښ دی (اذا زنا الرجل خرج منه الایمان فکان علیه کالظلة فاذا اقلع رجع الیه الایمان) اخرجه ابو داود والحاکم بسند صحیح وسیاتی هذا فی الکتاب)۔ (یعنی ایمان په وخت دزنا، سرقه وغیره کښ داسے جدا کیږی لکه د وریځ پشان چه دده په سر باندے ئے سورے کړے وی خوکله چه دګناه نه فارغ شی بیرته ورته واپس شی او په دے حدیث الباب کښ دابن عباسؓ قول هم دیته اشاره کوی۔ انظر الفتح (۱۲/۵۰)۔

وَلَایَنْتَهِبُ نُهْبَةً : دنهبه، اختلاس او غصب ترمینځه فرق دا دے چه غصب په زوره مال اخستلو ته وائی چه دلاس نه ئے ورله واخلی ٭ او اختلاس دیریدونکو غلو کار دے چه سامان واخلی او تښتی۔ ٭ او نهبه (اخذ مال الغیر قهراً مجاهرةً من غیر خوف)۔ (پردے مال په زوره ښکاره طریقے سره په غیر د خوف نه اخستل) په دے وجه ئے دا قید ورسره لګولے دے چه (یرفع الناس الیه فیها ابصارهم) زرورتیا ته اشاره ده چه دا د قطاع الطریق کار دے۔ اوحد ئے دادے چه ﴿ ان یقتلوا او یصلبوا او تقطع ایدیهم وارجلهم من خلاف او ینفوا من الارض﴾ [المائده : ۳۳] یعنی کله چه هغه قتل کړے وی نو قتلولے به شی او که صرف مال ئے اخستے وی نو لاس به ترے پریکولے شی۔ او سرقه : (هی اخذ المال غیر المحرز خفیةً بدون الرضاء) (محفوظ مال په پټه باندے په غیر د رضاء دچا نه اخستل)۔ **بیا نهبه** په دوه قسمه ده :

۱- نهبة الاختلاس : پردے مال اخستل په زوره ښکاره۔ ۲- دویم ته نثار وائی : یعنی په واده وغیره کښ پیسے شیندل اودنورو خلقو دهغے پسے منډے وهل اورانیول۔

نو آیا دا رانیول جائز دی اوکه نه ؟ نو په دے کښ دوه قوله دی ٭ یوقول دا دے چه دا ناجائز دے ځکه دا پردے مال لوټ کول دی، او نبی ﷺ منع کریده د نهبٰی نه ۔ عبد الله بن یزید الانصاری فرمائی : نهی النبی ﷺ عن النهبی۔ کما فی البخاری (۱/۳۳۵) مسند احمد (٤/٤٩٥) (من انتهب نهبة فلیس منا)، اودا یو روایت دے دامام احمدؒ نه، خو دا قول صحیح نه دے۔ ٭ دویم قول دادے چه دا جائز دے مطلقاً۔ اودا قول دابن المنذرؒ دے دلیل په دے باندے حدیث دعبد الله بن قُرط دے کما فی ابی داود والبیهقی (۲۸۷/۷) مشکوٰة کتاب الحج) چه نبی اکرم ﷺ پنځه اوښان ذبح کړل بیا ئے اوفرمائیل : (من شاء اقتطع) (دچا چه خوښه وی نو ځانله دے غوښه راپریکړی، لوټ دے کړی)۔ دغه شان دے صاحب النثار خپل مال حلال کریدے راټولولو دپاره،

په خپله خوښه ئے شیندی، نودا دنهبیٰ صورت نه دے ځکه نهبیٰ کښې لوټ وی په غیر د رضاء دصاحب المال نه، اوچا چه دا علت گرځولے دے چه کیدے شی چه په دے مجلس کښې هغه څوك وی چه صاحب النثار نه غواړی چه دا مال هغه راواخلی نو حرام شو، نو داعلت گرځول صحیح نه دی وجه داده چه په کوم طرف دمجلس کښې هغه شخص وی نو هغه طرفته دِے نه شیندی، یا دِئے پاڅوی- فتدبر!

ددے مسئلے تفصیل فتاوی الدین الخالص (۷/) او المغنی لابن قدامه (۱۱۹/۸)کښې اوګوره-

فائده : قاضی عیاض نه نقل دی چه بعضے علماء فرمائی :

په دے حدیث کښې څلور انواع دګناهونو ذکرشویدی، په دے کښې تنبیه ده په ټولو انواعو دګناهونو باندے اودهغے نه په ځان ساتلو باندے-په زنا کښې تنبیه ده د ټولو شهواتونه په ځان ساتلو باندے- په سرقه اوغلول کښې اشاره ده چه دنیا سره مینه او حرام باندے حرص نه دے پکار- او په شرابو کښې اشاره ده چه ټول هغه څیزونه چه انسان د الله نه اړوی اود الله دحقوقو نه انسان غافل کوی دهغے نه ځان ساتل فرض دی، او په نهبه (لُوټ مار) کښې د الله د بندګانو سپکاوے اودهغوی بے عزتیٔ اوبے حیائی ده او په غیر شرعی طریقه مال راجمع کول دی-(الفتح : ۵۱/۱۲)-

قَالَ عِكْرِمَةُ : ابو عبد الله ئے کنیه ده دابن عباسؓ غلام وو، اول به ئے سبق نه وئیلو، ابن عباسؓ به ترلو بیا ئے صحیح شاګرد شو، او یو لوئی عالم اومفسر ترینه جوړ شو-په کال (۱۰۷ ھ) د (۸۰) کالو په عمر وفات شو- مطلب دحدیث دا دے چه ایمان به دګناهونو سره خړ وی، نُور به په ک ،ن نه وی-دلته بل ابو عبد الله بخاری مراد دے دلته مصنف مسامحه کړیده-داسے وئیل پکار وو : رواه البخاری وقال البخاری الخ-

د منافق نښے اوعلامے

۷- وَعَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:((آیَةُ الْمُنَافِقِ ثَلٰثٌ)) زَادَ مُسْلِمٌ ((وَاِنْ صَامَ وَصَلّٰی وَزَعَمَ اَنَّهُ مُسْلِمٌ))ثُمَّ اتَّفَقَا: ((اِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَاِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ وَاِذَا ائْتُمِنَ خَانَ))-

---

ترجمه : ابو هریره ﷺ نه روایت دے، نبی کریم ﷺ اوفرمایل : د منافق درے علامے دی، دے نه پس مسلم خپل روایت کښې دومره اضافه اوکړه : اګرکه هغه مونځ کوی او روژه نیسی اود مسلمان کیدو دعویٰ هم کوی، دے نه پس بخاری او مسلم دواړه متفق دی (هغه درے نښے دادی) : ۱- چه خبره کوی نو دروغ وائی- ۲- چه وعده اوکړی نو دهغے خلاف کوی- ۳- او هرکله چه هغه سره امانت کیخودے شی نو خیانت په کښې کوی- (بخاری اومسلم)-

تشریح : آیَةُ الْمُنَافِقِ ثَلٰثٌ : **سوال** : آیة مبتداء ده او ثلاث ئے خبر دے او خبر جمع ده معنیً او آیة مفرد دے نو حمل صحیح نشو ؟ **جواب** : آیة جنس دے، (ای كل واحد منها آیة) -نو حمل

صحیح دے۔ ۲- **جواب** : ثلاث پہ اعتبار دلفظ سرہ مفرد دے۔ منافق پہ درے قسمہ دے : ۱- منافق اعتقادی ۲- شکی ۳- منافق عملی۔ اودد نہ بہ صحابہ کرام ویریدل۔ پہ دے تقسیم سرہ اشکال رفع کیږی کما یاتی۔

وَاِنْ صَامَ : دا ان وصلیہ دے جزاء نہ غواړی یعنی اگرکہ مونځ روژہ کوی هم منافق دے علامہ د نفاق پہ کښی موجود دہ۔ ذکر دصوم او صلاۃ دے اومراد ترینہ ټول اعمال دمسلمانانو دی یعنی اگرکہ دمسلمانانو پشان عبادات کوی۔- صوم مقدم شو پہ صلوٰۃ باندے ځکہ چہ پہ دے کښی د اللہ نہ ویرہ زیاتہ وی ځکہ انسان روژہ پہ پټہ هم ماتولے شی لیکن داللہ دویرے دوجے نہ ئے نہ ماتوی۔

سوال : دے حدیث نہ هم دخوارجو مذهب ثابت شو هغہ دا چہ یو انسان منافق شو نو کافر شو؟۔ **جواب** : ۱- دا یو خاص منافق مراد دے الف لام پہ المنافق کښی عهدی دی، نبی اکرم ﷺ اشارہ اوکړہ دے خاص منافق تہ چہ یو شخص وو هغہ کښی دا صفات وو۔ لیکن دا جواب ضعیف دے وجہ دادہ چہ ✽ روستہ حدیث کښی لفظ د(من) راغلے دے هغہ دپارہ دعموم دے۔ ای من کن فیہ۔ ✽ بیا زمونږ دپارہ پہ کښی فائدہ نہ موجودیږی۔

۲- **جواب** : المنافق نہ عملی منافق مراد دے اوعملی منافق تہ کافر نشی وئیلے۔ فهذا کفر دون کفر ونفاق دون نفاق۔ ۳- **جواب** : دلتہ منافق نہ مراد مستحل دے چہ دا گناهونہ حلال گنړی نوبیا دا اعتقادی منافق اوکافر دے۔ ٤- بنہ **جواب** دا دے چہ دا احادیث محمول دی پہ مداوم باندے یعنی هغہ شخص چہ پہ دے مذکورہ اعمالو باندے همیش والے کوی۔ اودا معلومیږی د (اذا) لفظ نہ ځکہ اذا دعموم الاوقات دپارہ راځی۔ او همیش والے پہ دے اعمالو باندے انسان کافرکوی چہ پہ ټول عمرکښی هیڅ رشتیا اونہ وائی۔ (واما المؤمن فیکذب فیخاف ثم یتوب ویستغفر ویندم مراراً)۔ **سوال** : دے حدیث کښی درے علامات ذکر دی او راتلونکی روایت کښی څلور علامات ذکر دی، نو ددے څہ تطبیق دے؟

جواب : ۱- دا بناء دے پہ اختلاف دمجالس باندے۔ دلتہ بعض بیان شویدی او راتلونکی حدیث کښی پورہ بیان شویدی۔ ۲- یا مفهوم العدد لرہ اعتبار نشتہ، وهو الصحیح، نو قلیل نفی د کثیر نہ کوی۔ ۳- یا تعدد الوحی دہ، وهو الاصح۔

وَاِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ : یعنی کلہ چہ دخیر (ښیگړے) وعدہ اوکړی پہ آیندہ زمانہ کښی نو ارادہ د خلاف کوی۔ اوهر چہ دشر وعدہ دہ نو دهغے خلاف ضروری دے۔ اخلف یعنی ارادہ دخلاف کوی او وعدہ نہ پورہ کوی۔ اوکہ یو شخص دچاسرہ وعدہ اوکړی او نیت ئے دخلاف کولو نہ وی خو یو مانع (ضرورت شرعی) ورتہ پیښ شی چہ دهغے پہ وجہ ترینہ دوعدے خلاف اوشی نو دا شخص گناهگار نہ دے او نہ منافق دے۔ پہ دے باندے دلیل حدیث دسلمان دے کما فی الطبرانی پہ هغے کښی دا الفاظ دی : (اذا وعد وهو یحدث نفسہ انہ یخلف۔ واسنادہ لاباس بہ عند الحافظ وضعفہ الالبانی فی الضعیفة (۳/٦٤۳) رقم (۱٤٤۷)۔ او پہ روایت ابو داود او ترمذی کښی پہ روایت د زید بن ارقم کښی داسے لفظ دے

(اذا وعد الرجل اخاه ومن نيته ان يفي له فلم يف فلا اثم عليه) بسند ضعيف الترمذی رقم (٤٩٣) (٢٧٨٣) وضعيف ابی داود (٤٩٠) فی سنده ابو النعمان وابو وقاص مجهولان۔ په دے کښې تصريح په نيت راغلې ده۔

وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ : ائتمن صيغه دمجهول ده يعنې امين اوګنړلے شي په يو څيز باندې، خلق ورسره يو څيز يا يوه خبره امانت کيدی نودے په کښې خيانت کوی۔ امانت عام دے که امانت د بندګانو وی لکه عهده، مال، خبره۔ يا امانت دادے چه ورته اووائی چه زما دے ماشومانو ته سبق وايه نو داپه کښې چل ول کوی، تپاس کوی۔ يا په تدريس کښې بلاضرورته غير حاضری کوی۔ يا چا سره مزدور دے او هسے وخت تيروی لور په لوته تيره کوی۔ يا دالله امانت وی لکه دهغه عبادات په صحيح طريقه نه کوی، نودا هم خيانت دے، اود اماناتو اقسام لږ مخکښې تير شويدی فليراجع اليه۔

فائده : دا درے خصلتونه خاص ذکر شو ځکه چه دا مشتمل دی په هغه مخالفت چه هغه مبنی دنفاق ده، چه هغه مخالفت دباطن دے دظاهر نه۔ په دروغو کښې د واقع خلاف خبره وی، امانت حق دا دے چه دادے خپل اهل ته اداء شی نو خيانت دا مخالفت دے دامانت۔ او وعدے خلاف خو ظاهر دے۔

انسان لره منافق جوړونکے څلور خبرے

٨- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«اَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتّٰى يَدَعَهَا: اِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ وَاِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَاِذَا عَاهَدَ غَدَرَ وَاِذَا خَاصَمَ فَجَرَ». متفق عليه۔

ترجمه : عبد الله بن عمر رضی الله عنهما وائی : رسول الله ﷺ اوفرمايل : کوم سری کښې چه څلور خبرے وی هغه پوره منافق دے۔ که چا کښې دهغے نه يوه خبره بيامندے شی نو پوهه شئ چه هغه کښې دمنافقت يو خوئی پيدا شو، څو پورے چه هغه پرے نږدی (هغه څلور خبرے دادی) : ١- کله چه ورسره امانت کيخودے شی نو هغے کښې خيانت کوی۔ ٢- چه خبرے کوی نو دروغ وائی۔ ٣- چه قول او اقرار (وعده) اوکړی نو دهغے خلاف کوی (يعنی دخپل لوظ نه تښتی) ٤- اوچه جګړه کوی نو کنځل کوی۔ (بخاری او مسلم)۔

تشريح : مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا : دا صفت ئے ذکرکړو دپاره د تاکيد يعنی چاکښې چه څلور واړه علامات موجود وی نو هغه ډير زيات مشابه دی دمنافقانو سره په سبب ددے خصلتونو سره۔ يا داچه دا ټول خصلتونه په کښې راجمع شی په دے شان چه هميشه ئے کوی نودا بيا خالص منافق دے ځکه مؤمن په دے خصالو هميش والے نه کوی۔ لکه چه مخکښې تير شو۔

٣- يا داچه دابه خالص منافق وی صرف په دے خصلتونو کښې، نه په نورو کښې فتدبر! وَاِذَا عَاهَدَ

غَدَرَ: کلمه چه لوظ اوکړي نو ابتداءً ئے ماتوي۔ اود لوظ خیال نه ساتي۔ غدر: معنی ده دهوکه دلته تـرینـه ابتداءً عهد ماتول مراد دي۔ اوبے وفائي د لوظ مراد ده۔ دعهد او وعد تر مینځه فرق دادے چه وعده دیو طرفنه وي او عهد ددواړو طرفنه وي، نو عهد قوي وي د وعدے نه، یعنی دا ښه مضبوط لوظ کوي خو بیا هم مخالفت کوي۔ دے کښ دده جرأت علی المخالفة ته اشاره ده۔

وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ: یعنی کله چه دچا سره جګړه کښ واقع شي نو په هغے کښ کنځل کوي، بد رد وائي۔ باطل او دروغ وائي۔ فجور په اصل کښ المیل عن القصد (د نیغے لارے نه اوړیدلو) ته وائي۔ نو معنی داده چه (اذا خاصم فجر فی خصومته ای مال عن الحق وقال الباطل والکذب)۔ (یعنی په جګړه کښ کنځلے کوي یعنی د حق نه میلان کوي او باطل او دروغ خبرے کوي)۔ ملا علی قاري معنی کوي:(ای شتم ورمی بالاشیاء القبیحة)۔ (کنځل کوي او بد رد وائي)۔

فائده: حدیث نه معلومه شوه چه کوم کسان په جګړه کښ کنځل کوي بدرد وائي نو هغه کښ دنفاق علامه موجود ده نو څه به وي حال دهغه چا چه په غیر دجګړے نه په ګپ شپ کښ کنځل کوي، لکه نن صبا دا عادت جوړ شویدے دعامو ځوانانولوپرانو چه دیو بل سره ملاویږي نو دسلام په ځائے دکنځلو نه شروع کوي، دفلاني ځویه چرته وے، آیا دا کار به دمنافقت نه وي، ولے نه ؟ افسوس په حال دداسے بندګانو ! اعاذنا الله من تلك الخصال الذمیمة، آمین !۔

دمنافق مثال

۹- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَالشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيْرُ اِلٰى هٰذِهٖ مَرَّةً وَ اِلٰى هٰذِهٖ مَرَّةً ». رواه مسلم۔

ترجمه: ابن عمر ﷺ وائي: رسول الله ﷺ اوفرمایل: دمنافق مثال دهغے چیلۍ په شان دے چه ددوه رمُو مینځ کښ ګرځي راګرځي چه دخپل نر په تلاش کښ کله دے طرفته او کله هغے طرفته مائله کیږي۔ (مسلم)۔

تشریح: مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَالشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ: عائرة په معنی د مُتَرَدِّدَةٌ سره دے یعنی دمنافق مثال دهغه ګډے پشان دے چه ددوه رمو په مینځ کښ روانه وي او وارئے راوړے وي ځان له په دے رمه کښ یو ګډ ګوري، کله دیوے رمے سره ملګرے شي او کله دبلے رمے سره، یعنی خپل غرض طلب کوي۔ نو دغه شان منافق هم خود غرضه وي په ظاهره دمؤمنانو ملګرے وي او په باطن کښ دمشرکانو ملګرے وي، خپل خواهشات او اغراض چه ئے کوم ځائے پوره کیږي هغه طرفته میلان کوي۔ نو دا دهغه ګډے پشان دے۔ قرآن کریم کښ هم دا صفت دمنافق راغلے دے ﴿مُذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ لَا اِلٰى هٰؤُلَاءِ وَلَا اِلٰى هٰؤُلَاءِ﴾ [النساء آیت : ۱۴۳] نو په دے حدیث کښ بل صفت دمنافقانو دا ذکر دے چه دوئ خودغرضه دي، دین ئے مقصد نه وي۔

تَعِيْرُ: بفتح التاء یعنی ځي راځي، (ای تـرد وتذهب)۔ دا د (عار الفرس عیاراً) نه مشتق دے په

معنی د گډوډ تلو راتلو سره۔ **فائده:** علامه طیبیؒ یوه نکته ذکر کړیده فرمائی چه په دے حدیث کښ نبی اکرم ﷺ دمنافق تشبیه د الشاة العائرة (وار راوړونکی گډے) سره ورکړو، په دے کښ اشاره ده سلب الرجولیة عن المنافقین ته یعنی منافقانو کښ سړیتوب نشته بلکه ددغه گډے پشان دی چه ځان دپاره گډ گوری چه په ځان ئے اوخیژوی۔

فائده: په دے حدیث کښ او ددے نه په مخکښو حدیثونو کښ دمنافقانو شپږ خصلتونه ذکر شویدی چه بعضے په بعضو کښ داخل دی، لکه عهد کښ غدر او وعده کښ خلاف کول۔

صفات المنافقین الذمیمة:

اوس مونږ په دے مقام کښ دمنافقانو صفات ذکرکووتتمیماً للفائدة۔ چه هرمؤمن د هغه صفاتو نه ځان اوساتی دے دپاره چه کامیابئ ته اورسی۔ * شپاړس صفات المنافقین خوصرف په سورة البقره (۲۰) کښ ذکر دی لکه په توجیه الناظرین للشیخ عبد السلام حفظه الله ص (۱٦) دارنګه سورة التوبه کښے (۷۷) کښ صفات ذکر دی کما فی التوجیه ص (۸۲) په سورة النور کښ (۱۰) دی۔ دغه شان په سورة الاحزاب کښ (۱٤) سورة النساء، سورة آلعمران، سورة الانفال آیت (۲۲ – ۲۳)، سورة الحشر، سورة المنافقون کښ ذکر دی، کما فی التوجیه۔

★–او په احادیثو کښ دا صفات ذکر دی: ۱– جهاد نه کول اونه دهغے اراده کول منافقت دے (من مات ولم یغزو ولم یحدث به نفسه بغزو مات علی شعبة من نفاق) اخرجه مسلم ۔ ۲– دوه خویونه په منافق کښ نه جمع کیږی حدیث کښ دی: (خصلتان لا تجتمعان فی منافق :حسن سمت ولا فقهٌ فی الدین) اخرجه الترمذی (۲/۱۱٤) وهو صحیح بمجموع الطرق انظر الصحیحة (۱/۲۷۸) (یعنی منافق کښ ښائسته سیرت، اوپه دین پو هیدل نه راجمع کیږی)۔ ۳– (آیة المنافق بغض الانصار (بخاری: ۱/۷۔ جامع الصغیر (۱/۵۹۹) وفی (۲/۱۲٦۳) (دمنافقانو نښه داده چه دانصارو صحابوؓ سره بغض به لری)۔ ٤– (حب العرب ایمان وبغضهم نفاق) ۔ یعنی دعربو سره بغض (کینه) ساتل منافقت دے۔ اخرجه البیهقی فی شعب الایمان (۲/۸ – ۱٦) والحاکم فی المستدرك (٤/۹۷)۔

۵– یو حدیث کښ دی (ثلاث لا یستخف بهم الا منافق: ذو شیبة فی الاسلام، وذو علم، وامام مقسط) یعنی درے قسمه خلق سپك ګڼړل: بوډا مسلمان، عالم، عادل بادشاه منافقت دے۔ ٦– قال النبی ﷺ: (ان الغیرة من الایمان وان المذاء من النفاق، والمذاء الدیوث) رواه البیهقی (۱۰/۲۲٦) (یعنی دینی غیرت کول د ایمان نښه ده او خپل اهل وعیال کښ بے حیائی لیدل اوهغه نه منع کول منافقت اودیوث توب دے)۔ ۷– بلا ضرورته دجمعے مونځ پریښودل۔

د ابن عباس نه مرفوعاً نقل دی: (من ترك الجمعة من غیر ضرورة کتب منافقاً فی کتاب لا یمحی ولا یبدل) رواه الشافعی وهو فی المشکاة کتاب الجمعة (المرعاة ٤/٤۵۵) ۔ ۸ – دعادی خشیت نه ځان ډیر خشیت والا ښکاره کول منافقت دے۔(من أری الناس فوق ما عنده من الخشیة فهو منافق)

عن ابی ذر (کنز العمال : ۱۶۹/۱)۔ **(چا چه د خپل خشيت نه زيات خلقو ته ښكاره كړو نو دا منافق دے)** ۹- المنافق يملك عينيه يبكى كما يشاء)۔ **(د ريا ژړا په كښ زياته وی۔ (عن علی)**۔

۱۰ - **حديث د ابی هريره كښ څو صفات ذكر دی** (للمنافقين علامات يعرفون بها : تحيتهم لعنة، وطعامهم نهبة، وغنيمتهم غلول، لايقربون المساجد الا هجراً، ولاياتون الصلاة الا دبراً، مستكبرين لا يالفون، ولا يؤلفون، خشب بالليل، سخب بالنهار) **(يعنی منافقان په يو څو علاماتو پيژندے شی (۱۱) ددوئ سلام لعنت او كنځلے وی۔ (۱۲) خوراك ئے لوټ مار وی۔ (۱۳) غنيمت ئے غلا اوخيانت وی۔ (۱۴) مسجد ته دبكواس دپاره ځی (۱۵) مانځه ته سست راځی۔ (۱۶) تكبر كونكی وی۔ (۱۷) دمؤمنانو سره مينه نه لری (۱۸) دوئ هم قابل دمينے نه وی (۱۹) دشپے دلرګو په شان پراته وی (تهجد نه كوی) (۲۰) دورځے چغے او سورے وهی)۔ كنز العمال (۱۷۱/۱)۔ (۲۱)** (بيننا وبين المنافقين شهود العشاء والصبح لا يستطيعونهما) (عن عبد الرحمن بن حرملة مرسلاً، كنز العمال (۱۷۲/۱) **يعنی منافقانو علامه داده چه د ماسخوتن اوسحر مانځه ته نه راځی، طاقت ئے نه لری)۔ (۲۲)** (الا اخبركم بصلاة المنافق يؤخرالعصرحتی اذا كانت الشمس كثرب البقرة صلاها) اخرجه الدارقطنی (۹۴/۱) والحاكم (۱۹۵/۱) كذا فی الصحيحة (۱۷۴۵/۴) رقم۔ (تلك صلاه المنافق يجلس يرقب الشمس حتی اذا كانت بين قرنی الشيطان قام فنقرها اربعاً لا يذكر الله عز وجل فيها الا قليلاً)۔ اخرجه مسلم۔ وفی الصحيحة (/۴) وصحيح ابی داود رقم (۴۴۰) **دمازيګر مونځ ناوخته كول چه نمر زيړ شی دا منافقانو علامه ده)۔ (۲۳) دحذيفة ؓ نه دمنافق په باره كښ تپوس اوشو** (فقال : الذی يصف الاسلام ولا يعمل به، وهم اليوم شر منهم علی عهد رسول الله ﷺ ، لانهم كانوا يكتمونه وهم اليوم يظهرون) - **(اسلام بيانوی تقريرونه كوی خو خپله پرے عمل نه كوی، اودا خلق دصحابو ؓ دزمانے دمنافقانو نه زيات بدترين دی ځكه هغوی به منافقت پټ ساتلو اودوئ ئے ښكاره كوی)۔ القرطبی (۱۲۲/۱۸) والبخاری فی الفتن۔**

(۲۴)- **حسن بصری فرمائی :** (ان المؤمن جمع احساناً وخوفاً، وان المنافق جمع اساءةً وامناً)۔ **(يعنی منافق بدی كوی اود الله نه نه يريږی، بنه په خاطر جمعئ سره وخت پاس كوی او مومن سرے احسان او خوف جمع كوی)۔ (۲۵) - حسن بصری فرمائی :** (ما امنه الا منافق، وما خافه الا مؤمن) **(يعنی دمنافقت نه نه ويريدل دا منافقت دے،اود منافقت نه ويريدل ايمان دے)۔ موارد الظمآن (۱۵۹/۱) مدارج السالكين (۳۵۸/۱) حذيفة ؓ ديو شخص نه واوريدل چه وئيل ئے :** (اللهم اهلك المنافقين، فقال يا ابن اخی ! لو هلك المنافقون لاستوحشتم فی طرقاتكم من قلة السالك۔ **(اے الله منافقان هلاك كړے حذيفه ورته اوفرمايل : اے ورارہ ! كه منافقان هلاك شو نو تاسو به په لارو كښ اويريږئ د وجه د كم تلونكو نه- منافقان دومره ډير دی)۔(۲۶) - يو حديث كښ دمؤمن، منافق او كافر مثال ذكر دے چه درے كسان دی په نهر كښ پريوځی، نو مؤمن نهر ته**

پریوتو هغه دنهر نه پورے وتو، بیا منافق پریوتلو تردے چه کله مؤمن ته نزدے اورسیدو نو کافر ورته آواز اوکړو چه زما خواته راشه زه دربانده یریږم۔ او مؤمن ورته آواز اوکړو چه زما خواته راشه، ځکه ما سره دادا ځیزونه دی، چه څه ورسره وی هغه ورته بیان کړی۔ نو منافق همیشه ددے دواړو په مینځ کښې اوړی راوړی، تردے چه مصیبت پرے راشی او په اوبو کښې غرق شی۔ نو دغه شان منافق هم په شك اوشبهه کښې وی تردے چه په همدے حال کښې پرے مرګ راشی)۔ کنز العمال (۱۷۲/۱) عن قتادة مرسلًا۔ (۲۷) – آذان نه پس دمسجد نه وتل کله چه واپس نه راځی نو دا منافق دے۔ کما فی الحدیث عند ابی داود، والبیهقی۔ انظر حاشیة شرح الوقایه ص (۲) والکنز باب الاذان۔

الفصل الثانی

۱۰ – عَنْ صَفْوَانِ بْنِ عَسَّالٍ قَالَ: قَالَ یَهُوْدِیٌّ لِصَاحِبِهٖ اِذْهَبْ بِنَا اِلٰی هٰذَا النَّبِیِّ، فَقَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ لَا تَقُلْ نَبِیٌّ، اِنَّهٗ لَوْ سَمِعَكَ لَكَانَ لَهٗ اَرْبَعُ اَعْیُنٍ فَاَتَیَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَسَاَلَاهُ عَنْ تِسْعِ آیَاتٍ بَیِّنَاتٍ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «لَاتُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ شَیْئًا وَلَاتَسْرِقُوْا وَلَا تَزْنُوْا وَلَاتَقْتُلُوْا النَّفْسَ الَّتِیْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا تَمْشُوْا بِبَرِیْءٍ اِلٰی ذِیْ سُلْطَانٍ لِیَقْتُلَهٗ وَلَا تَسْحَرُوْا وَلَا تَاْكُلُوْا الرِّبَا وَلَا تَقْذِفُوْا مُحْصَنَةً وَلَا تَوَلَّوْا لِلْفِرَارِ یَوْمَ الزَّحْفِ وَعَلَیْكُمْ خَاصَّةً الْیَهُوْدُ اَنْ لَا تَعْتَدُوْا فِی السَّبْتِ» قَالَ: فَقَبَّلَا یَدَیْهِ وَرِجْلَیْهِ وَقَالَا نَشْهَدُ اَنَّكَ نَبِیٌّ قَالَ: «فَمَا یَمْنَعُكُمْ اَنْ تَتَّبِعُوْنِیْ؟» قَالَا: اِنَّ دَاوٗدَ عَلَیْهِ السَّلَامُ دَعَا رَبَّهٗ اَنْ لَّا یَزَالَ مِنْ ذُرِّیَّتِهٖ نَبِیٌّ وَاِنَّا نَخَافُ اِنْ تَبِعْنَاكَ اَنْ تَقْتُلَنَا الْیَهُوْدُ». رواه الترمذیُّ وابوداوٗد والنسائیُّ۔

ترجمه : صفوان بن عسال ؓ وائی : یوه ورځ یو یهودی خپل یهودی ملګری ته اووئیل : راځه چه دے نبی له ورشو۔ هغه ملګری ورته اووئیل : هغه ته نبی مه وایه ځکه که هغه واوریدل (چه یهودیان هم ماته نبی وائی) نو سترګے به ئے څلور شی (یعنی دخوشحالئ نه به جامو کښې نه ځائیږی) بهر حال دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شول اود نبی کریم ﷺ نه ئے د نهه واضحه احکامو باره کښې تپوس اوکړو، رسول الله ﷺ ورته اوفرمایل : ۱ – الله سره څوك شریك مه جوړوئ ۲ – غلا مه کوئ ۳ – زنا مه کوئ، ٤ – دکوم نفس وژل چه الله حرام کړیدی هغه په ناحقه مه وژنئ، ٥ – څوك بے ګناه قتلولو دپاره (په هغه غلط الزام لګولو سره) حاکم ته مه بوځئ، ٦ – جادو مه کوئ، ۷ – سود مه خورئ ۸ – پاك لمنے ښځے باندے د زنا تهمت مه لګوئ ۔ ۹ – میدانِ جنګ کښې دشمن ته مه شاکوئ (مه تښتئ) او اے یهودو ! تاسو دپاره خاص طور

سره واجب دي چه دخالي ورځ معامله کښې (د الله د حکم نه) تجاوز مه کوئ (دے آوریدو سره) دواړو یهودیانو دنبی کریم ﷺ لاس خپے ښکل کړل او وے وئیل: مونږ ګواهی کوو چه تاسو واقعی نبی ئے۔نبی کریم ﷺ ورته اوفرمایل: هرکله چه ستاسو زما په رسالت یقین دے نو بیا زما تابعداریٔ نه تاسو لره څه خبره منع کوی، هغوی اووئیل: حقیقت دادے چه داود علیه السلام خپل رب نه دُعا غوښتے وه چه همیشه دے دهغوی اولاد کښې نبی وی نو مونږ یرېږو که ستا تابعداری اوکړو نو یهودیان به مو قتل کړی۔(ترمذی، ابوداود، نسائی)۔

تعارف دصفوان بن عسال رضی الله عنه: دبنو مراد قبیلے نه دے اود نبی اکرم ﷺ سره په دولسو غزواتو کښې حاضر شویدے، دکوفے اوسیدونکے دے۔ تول نقل شوی احادیث ترینه (٢٠) دی،کله کله ترینه ابن مسعودؓ، زر بن حبیش او عبد الله بن سلمه المرادی هم نقل کوی۔

تشریح: اِذْهَبْ بِنَا: باء د تعدیت دپاره ده څکه اذهب باب لازم دے یا مصاحبت دپاره ده یعنی زه چه دے نبی ته لاړ شو۔ -- **لَوْ سَمِعَكَ**: (یعنی لو سمع النبی قولك او یسمع قولك الی هذا النبی)۔ (یعنی که دا نبی ئے واوری یا ئے ده ته څوك واوروی چه دے یهودو تاته نبی اووئیلو)۔ **لَكَانَ لَهُ اَرْبَعُ اَعْيُنٍ**: نو دده به څلور سترګے شی۔ یعنی ستا پدے خبره به خوشحاله شی، علامه سندی په حاشیه د نسائی (١٧١/٢) کښې فرمائی: دا کنایه ده دزیادة الفرح او فرط السرور نه یعنی ډیر به خوشحاله شی څکه چه خوشحالی دانسان اندامونو کښې قوت پیدا کوی او اندام کښې قوت مشابه وی داندام ددوچند کیدو سره۔علامه توربشتیؒ وائی: فان الفرح یمد الباصرة کما ان الهم والحزن یخل بها۔ (څکه خوشحالی نظر تیزوی لکه چه غمونه نظر کموی)

عَنْ تِسْعِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ: آیات جمع د آیة ده ښکاره علامے ته وائی په محسوساتو کښې هم استعمالیږی لکه علامة الطریق او په معنویاتو او معقولاتو کښې هم استعمالیږی لکه (المسئلة الواضحة والحکم الواضح)۔ او هره جمله چه دلالت کوی په یو حکم د احکامو د الله باندے نو دیته آیت وائی (الفتح الربانی ١٩٧/١٨)۔

تسع آیات بینات کښې دوه احتماله دی: ١- یودا چه دے نه مراد نهه معجزات دی کوم چه په دے آیت دسورة الاسراء (١٠١) کښې ذکر دی ﴿ ولقد آتینا موسی تسع آیات بینات ﴾ او تفصیل ئے سورة الاعراف کښې دے۔ (السنین (قحط)، نقص الثمرات، الطوفان، الجراد، القمل، الضفادع، الدم، الید البیضاء، العصا)۔نوکه سوال ددے معجزاتو په باره کښې شوے وی نو بیا جواب دنبی اکرم ﷺ دهغوی دسوال موافق نه دے ورکړے شوے څکه هغوی امتحان اخستو دنهه معجزاتو او نبی اکرم ﷺ جواب په نهه کلماتو سره ورکړیدے او (علیکم خاصة الیهود) دا زیادت علی الجواب دے، دپاره دزیادت فائدے لکه دا په حدیث کښې ډیر کیږی لکه (هو الطهور ماؤه والحل میتته) کښې زیادت شویدے او حدیث د وفد عبد القیس کښې خمس من المغنم زیادت دے په (فامرهم باربع)

باندے کمامر۔ نوددے مخالفت دجواب وجه داده چه دهغوی دپاره دهغے جواب ورکول مفید نه وو، اودا احکام پیژندل ورته مفید وو۔ او دیته اسلوب الحکیم وائی لکه داکار په (ویسئلونك عن الاهلة) کښې شویدے چه سوال د حقیقت دهلال نه شوے وو اوجواب په فوائدو دهلال ورکړے شو۔

۲- بعضِ علماء وجه دا بنائی چه نبی اکرم ﷺ هغه معجزات هم ذکر کړل اود هغے نه پس ئے دا احکام هم ورته بیان کړل خو راوی هغه معجزات پریښودل ځکه چه هغه دقرآن نه معلوم وو، او صرف دا احکام ئے ذکر کړل - لیکن داجواب ښه نه دے ځکه چه دا په هیڅ روایت کښې نه دی ذکر چه نبی اکرم ﷺ دواړه جمع کړیدی، او بیا راوی معجزات نه وی ذکر کړی۔ سره ددے چه دا روایت په مسند احمداو نسائی او ترمذی کښې راغلے دے، او په هغے کښې صرف تسع آیات بینات ذکر دی۔

۳- احتمال دا دے چه تسع آیات بینات نه مراد په آیت کښې نهه احکام دی اودا نهه وصیتونه وو په تورات کښې او معجزات نه دی مراد، او په دے حدیث کښې دنبی اکرم ﷺ نه تپوس هم ددے نهه احکامو متعلق شویدے اوددے تائید دادے چه امام ترمذی په خپل سنن کښې او مسند احمد کښې یو روایت داسے راغلے دے (فسالاه عن قول الله تعالی: ﴿ ولقد آتینا موسی تسع آیات بینات﴾ نو دا حدیث دلیل دے چه دا حدیث اگرکه په جواب دیهودیانو کښې دے مگر دا تفسیر دے دهغه اجمال کوم چه په دغه آیت کښې دے، یعنی تسع آیات کوم کوم دی؟ نو دهغے بیان په دغه حدیث کښې ذکر دے۔بنا په دے احتمال سره جواب دنبی اکرم ﷺ هغوی ته موافق د سوال دهغوی دے۔ هغوی هم دتورات دوصیتونو (احکامو) تپوس کولو اونبی اکرم ﷺ هم ورته په جواب کښې هم هغه ذکر کړل۔ (وهذا الاحتمال اختاره المظهر والتوربشتی من شراح المصابیح)۔

امام ابن کثیرؒ په خپل تفسیر (۶۷/۳) کښې فرمائی: ممکنه ده چه یهودیانو ددے احکامو تپوس کړے وی خو راوی (چه عبد الله بن سلمة المرادی دے) دا وَهم اوکړو چه هغوی دتسع آیات بینات یعنی معجزاتو تپوس کړیدے۔ غرض دعلامه ابن کثیرؒ دادے چه آیت کښې دتسع آیات بینات نه مراد معجزات دی، لکه ددے په تفسیر کښې ئے قول دابن عباسؓ ذکر کړیدے چه نهه معجزات دی۔او په دے حدیث دمسند احمد کښې چه (فسالاه عن قول الله: تسع آیات بینات) راغلے دے نودا د راوی تعبیر دے، اواصل کښې دلته دعشر کلماتو تپوس شویدے اونبی اکرم ﷺ دهغے جواب ورکړیدے خو راوی دا وهم اوکړو چه گنے تپوس دمعجزاتو شویدے اوهغه جواب کښې نه دی ذکر شوی، بلکه دا احکام ذکر شویدی، تردے چه سوال وارد شی چه موافقت دسوال اوجواب نشته کما مر۔ نو بنا په دے دا حدیث بیا تفسیر دآیت نه دے۔او علامه ابن کثیرؒ دا وئیلی دی چه عبد الله بن سلمه راوی په باره کښې دعلماؤ کلام دے: (انه تغیر واختلط بآخرته، ففی حفظه شئ)۔ نو وهم دهغه دحال سره مناسب دے۔

اِنَّ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ دَعَا رَبَّهٗ اَنْ لَّا يَزَالَ مِنْ ذُرِّيَّتِهٖ نَبِيٌّ : دهغوی دنه تابعدار کیدو دوه عذره

بیانوی : ۱- یو عذر دعام یهودیانو دطرفنه دے۔ په دے الفاظو بیانوی چه (ان داود علیه السلام الخ)۔ ۲- اودویم عذر دخپل ځان دپاره بیانوی چه (انا نخاف الخ)۔ یعنی مونږ ځکه ستا تابعداری نه کوو چه داود علیه السلام دالله نه دا دعاء غوښتے وه چه دهغه په اولاد کښ دے تر قیامته پورے نبوت نه وی منقطع اودهغه دعاء خو الله ضرور قبلوی ځکه الله دپیغمبرانو دعاء نه رد کوی، نو هرکله چه داسے ده نو یو نبی به راپیدا شی چه یهود به ئے تابعداری اوکړی او یو وخت کښے به غالبه شی نو که مونږ ستا تابعداری اوکړو اود هغوی دین پریدو نو یهود به مونږ قتل کړی۔خو دا خبره ددوئ غلطه او افتراء ده په داؤد علیه السلام باندے ځکه هغه هیچرے داسے دعاء نه ده غوښتے بلکه په تورات او زبور کښ داخبره ثابته ده چه محمد ﷺ آخری خاتم النبیین دے اود هغه په راتلو سره به ټول ادیان او کتابونه منسوخ کیږی، نو بیا داؤد علیه السلام څنګه دالله دخبر خلاف دعاء کوی ؟ دغه شان عیسی علیه السلام د داؤد علیه السلام په اولاد کښ نبی دے اودوئ نه دے منلے !!

فاضل سندیؒ په حاشیه د نسائی (۱۷۱/۲) کښ فرمائی : دا بهانه چه داؤد علیه السلام دعاء دنبی دپاره کړیده او مونږ دهغه نبی انتظار کوو چه دهغه تابعداری اوکړو نو داسراسر تکذیب دے دخپلے خبرے چه (نشهد انك نبی) اودا ګواهی دهغوی دصدق اعتقاد نه وه، ځکه چه نبی اکرم ﷺ به دا دعوی کوله چه زه خاتم النبیین یم، نو هرکله چه دوئ دهغه د نبوت تصدیق اوکړو نو دا لازم ده چه دهغه دخاتم النبیین کیدو تصدیق به هم کوی، نو بیا انتظار دبل نبی ددے منافی دے، نو دا د دوئ تناقض اوکذب دی او هسے بهانه ده ځان خلاصول دی۔

فائده : دنبی اکرم ﷺ دعوت یواځے توحید ته نه وو بلکه دټولو ګناهونو نه ئے هم منع کوله، لکه دا روایت او دے نه علاوه نور روایات هم په دے دلیل دے۔نو څوك چه وائی : صرف توحید ته دعوت ورکوه باقی سنت ته دعوت مه ورکوه ځکه بیا شر جوړیږی نو داخبره غلطه ده، بلکه پوره دین به بیانولے شی، اګرکه الاهم فالاهم به مقدم کولے شی۔ اَنْ لَا تَعْتَدُوْا فِي السَّبْتِ :

سوال : هر کله چه زمونږ نبی محمد رسول الله ﷺ راغلو نو په یهودو باندے خو تعظیم دخالی اوس نشته نو بیا ورته نبی اکرم ﷺ څنګه امر کوی په تعظیم السبت باندے ؟

جواب : یهود چه کله په خپل دین باندے عمل کوی نو الله ورته دین محمدی طرفته هدایت کوی، اودوئ په دے وخت کښ کفار وو نو تعظیم السبت پرے لازم وو چه دخپل دین تابع خو وی نو دین محمدی طرفته ورله الله تعالی توفیق ورکوی۔

فائده : دلته یهودو ته خصوصاً خطاب کوی دا زیادت فی الجواب دے دپاره دفائدے۔

فَقَبَّلَا يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ وَقَالَا نَشْهَدُ اَنَّكَ نَبِيٌّ :

مسئلة التقبيل : تقبیل (ښکلول) په درے قسمه دی : ۱- یو تقبیل واجب دے لکه تقبیل د

زوجه او د خپل اولادو، د زوجے خو حق دے، او په ماشومانو باندے شفقت دے، لکه نبی کریم ﷺ اقرع بن حابسؓ ته په نه ښکلولو داولادباندے زورنه وکړه او ورته ئے اوفرمائیل: (من لا یرحم لا یرحم) رواه ابوداود (۳۶۲/۲) ۔ ۲- **دویم قسم تقبیل جائز** دے۔ دا بیا په څو قسمه دے: ۱- یو تقبیل الید۔ ۲- تقبیل الناصیه لکه عبد الله بن عمر دنبی اکرم ﷺ لاس ښکل کړیدے، او ابوعبیده بن الجراح دعمر فاروقؓ لاس ښکل کړو کله چه عمرؓ شام ته راغلو، دارنګه نبی اکرم ﷺ د عثمان بن مظعونؓ او زید بن حارثه او جعفر ناصیه (تندے) ښکل کړیدے۔ نود اقسم تقبیل جائز دے دهغه چا چه عالم وی، ددین مشر وی، خو شرطونه ئے دادی * چه عادت او عمل مستمره به ترینه نه جوړوی، چه همیشه عالم خپل شاګردانو ته لاس اوګدوی چه دا ښکل کړی * دویم دا چه عالم به په دے سره تکبر نه کوی چه ځان په بل چا لوئی اوګنړی چه زما لاسونه ښکل کیږی لکه صوفیه او پیران داکار کوی۔ * دریم داچه ددے په وجه به مصافحه نه ساقطوی چه هغه سنت عمل دے اود متصافحینو ګناهونه ورسره رژیږی، کذا ذکره فی السلسلة (۲۵۲/۱)۔

۳- **دریم تقبیل الرا س**: لکه دعائشےؓ برائت چه کله نازل شو نو مور ورته حکم اوکړو چه (قومی فقبلی رأس رسول الله ﷺ) (ابوداود: ۳۶۳/۲)۔ (پاځه د رسول الله ﷺ سر خکل کړه)

۴- **تقبیل الجسد**: لکه اُسید بن حضیرؓ دنبی اکرم ﷺ تشے مبارك ښکل کړو۔ (مشکوة: ۴۰/۲) دا ټول اقسام د تقبیل جائز دی۔ دارنګه دمور پلار ښکلول راغلی دی۔ هذا اکثره فی السنن الکبری للبیهقی (۱۰۱/۷) ۳- دریم قسم تقبیل ممنوع دے، هغه دا چه ددنیا دار اومالدار سړی لاس تندے خلق ښکل کړی دمالدارئ دوجے نه نو دا ناجائز دے۔او هرچه تقبیل دخپو دے نودا اختلافی دے: ۱- بعضے وائی جائز دے، یو دلیل دا حدیث پیش کوی چه دے یهودیانو درسول الله ﷺ لاس خپے ښکل کړے او نبی اکرم ﷺ منع نه کړل * دویم حدیث دزارع دے په ابوداود(۳۶۳/۲) کتاب الادب اومشکوة(۴۰۲/۲) او بیهقی (۱۰۲/۱) کښ راځی چه داد وفد عبد القیس سره راغلے وو فرمائی: (فجعلنا نتبادر من رواحلنا فنقبل ید رسول الله ﷺ ورجله) الحدیث۔ (مونږ د خپلو سورلو نه جلتی اوکړه او د رسول الله ﷺ لاس او خپه مو خکل کړه)

۲- **جمهور** وائی: تقبیل الرجلین مناسب نه دے * یو دلیل دا چه منع راغلے ده دسرټیټولو نه لکه مشکوة (۴۰۱/۲) باب المصافحه کښ دی چه (اینحنی بعضنا لبعض؟ قال: لا۔۔۔ الحدیث) (آیا مونږ به یو بل ته سر ټیټوو؟ وے فرمایل: نه!) اودا قانون دے چه منع روسته وی دجواز نه ۔ نودا احادیث که ثابت شی نو منسوخ دی ځکه چه هرکله سرټیټول منع شو نو تقبیل الرجل به هم منع وی ځکه په دے کښ هم سرټیټول راځی * دویم دا چه دا روایات ضعیف دی، په دے روایت دصفوان کښ عبد الله بن سلمه دے او هغه په آخر عمر کښ مختلط شوے وو کما مر۔ او په حدیث دزارع کښ امرأه مجهوله ده، وهی ام ابان بنت زارع کما فی

ضعیف ابی داود رقم الباب (۵۲۲۵) نور حدیث حسن دے لیکن (فنقبل رِجلَه) لفظ ضعیف دے، دا وجه ده چه بل سند کښې ورسره لفظ د رِجل نشته. ● اوکه جواز اووایو نو دا به هله وی چه کله په کښې انحناء رانشي یعني چه ښکلونکے ناست وی او هغه شخص ورته خپه را اوچته کړی اودائے ښکل کړی۔ او سرښکته کول په کښې رانشي، دابه هم کله نا کله (ز) همیشه به داکار نه کوی۔ تفصیل په الدین الخالص کښې اوګوره۔ باقي تفصیل به ان شاء الله په باب المصافحه کښې راشي۔

درجة الحدیث : رواه الترمذی فی کتاب الاستیذان وقال حدیث حسن صحیح، والنسائی فی المحاربة واخرجه احمد فی مسنده (۲۳۹/٤) والحاکم فی المستدرك وقال صحیح لا نعرف له علة بوجهٍ من الوجوه ووافقه الذهبی، فالحدیث صحیح۔

تنبیه : مصنف په دے مقام کښې سهوه شویدے چه ددے حدیث نسبت ئے ابوداود ته کړیدے څکه چه په سنن ابی داود کښې دا حدیث نه دے موندلے شوے لکه چه حافظ په درایه کښې فرمائي : رواه الاربعة الا ابا داود۔ فتدبر۔

هغه درے خبرے چه دایمان جرړے دی

۱۱ – وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «ثَلٰثٌ مِنْ اَصْلِ الْاِيْمَانِ: اَلْكَفُّ عَمَّنْ قَالَ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ، لَا تُـكَـفِّرْهُ بِذَنْبٍ وَلَا تُخْرِجْهُ مِنَ الْاِسْلَامِ بِعَمَلٍ. وَالْجِهَادُ مَاضٍ مُذْ بَعَثَنِيَ اللهُ اِلٰى اَنْ يُقَاتِلَ آخِرُهٰذِهِ الْاُمَّةِ الدَّجَّالَ لَا يُبْطِلُهُ جَوْرُ جَائِرٍ وَلَاعَدْلُ عَادِلٍ. وَالْاِيْمَانُ بِالْاَقْدَارِ» . رواه ابوداود

ترجمه : انس رضی الله عنه وائي : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : درے خبرے دایمان جرړے دی : ۱ – کوم سړے چه دلا اله الا الله اقرار اوکړی هغه سره جنګ اودشمني ختمول۔ اوس دڅه ګناه په وجه هغه ته کافر مه وائے اونه دڅه عمل په وجه هغه باندے داسلام نه دخارج کیدو فتوی لګوئ، ۲ – دکله نه چه الله تعالی زه رسول رالیګلے یم، جهاد به همیشه همیشه دپاره جاري وی تردے پورے چه ددے امت آخرنے کس ددجال سره جنګ اوکړی۔ دیو عادل (بادشاه) دعدل یا دڅه ظالم دظلم بهانه کولو سره جهاد نشي ختمیدے، ۳ – او تقدیر باندے ایمان راوړل – (ابوداود)۔

تشریح : لَا تُكَفِّرْهُ بِذَنْبٍ : فائده : په دے کښې رد دے په خوارجو باندے چه په ګناهونو باندے انسان کافر ګنړی، خولیکن دلته بعض داسے اعمال دی چه دهغے په ارتکاب سره شرع ورته کافر وئیلی دی لکه حکم بغیر ما انزل الله شو، نوداسے سړی ته کافر وئیل پکار دی کله چه مانع نه وی، څکه تکفیر په درے شیانو سره راځي : اعتقاد، قول او عمل کما فی کتاب التوسط والاقتصاد فی ان الکفر یکون بالقول والفعل والاعتقاد (ډیر تفصیلي کتاب دے کما مر)۔

مُذْ بَعَثَنِيَ اللّٰهُ : **سوال** : پـه اول البـعـثـة کـښې خـو جهاد فرض نه وو نو نبی اکرم ﷺ څنګه وائی مـذ بـعـثنی الله ؟۔ **جواب** : ۱- مـراد د بـعـثـت نـه بـعـثـت بـالـجـهـاد دے یعنی کله چه ورته امر بـالـجهاد اوشو د هغه وخت نه فرض دے تر قیامته پورے۔ یا بعثت الی المدینه مراد دے او په هغه وخـت کښې خو فرض وو۔ بعثة النبوة نه دے مراد۔ ۲- جواب : جهاد اګرکه په مدینه کښې شروع شـو خو لیکن فرض شوے دمخکښې نه وو۔ لا یبطله جور جائر : یعنی (لایسقط الجهاد کون الامام ظالماً او عادلًا) ۔مـطلب دادے چه دده په ملګرتوب کښې به هم جهاد کولے شی، اګرکه امیر فاسق یا بدعتی وی بیا به هم ورسره ملګرے کیږی او جهاد به کوی اودا به نه وائی چه امیر خپله فاسق دے نو زه څله جهاد کوم دده په ملګرتیا کښې۔

درجة الحدیث : اسـنـاده ضـعیف ومـعـنـاه صحیح : رواه ابوداود وسکت علیه وکل ما سکت علیه ابـوداود فهو صالح للاحتجاج علیه)۔ لـیـکـن دا قاعده ضعیف ده څکه ابوداود په ډیر منکر روایاتو بـانـدے سـکوت کړیدے، په سکوت دابوداود باندے همیشه اعتماد نشی کیدے۔ اودا روایت هم ضعیف دے څکه ددے په سند کښې یزید بن ابی نشبه دے وهو مجهول کما فی التقریب (۶۵۵) ۔ لیـکـن مـعـنـی دحـدیث صحیح ده، دنورو روایاتو نه معلومه ده، لکه امام بخاریؒ (۱/۳۹۹) د باب الخیـل معقود بنواصیها الخیر الی یوم القیامه نه دا معنی راویستلے ده۔

د زنا کولو په وخت ایمان بهر راوځی

۱۲- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:«اِذَا زَنَی الْعَبْدُ خَرَجَ مِنْهُ الْاِیْمَانُ فَکَانَ فَوْقَ رَأْسِهٖ کَالظُّلَّةِ فَاِذَا خَرَجَ مِنْ ذٰلِكَ الْعَمَلِ رَجَعَ اِلَیْهِ الْاِیْمَانُ . رواه الترمذی وابوداود ۔

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه وائـی : رسـول الله ﷺ اوفرمائیل : بنده چه کله زنا کوی نو ایمان ترے بهـر اوځـی اود هـغـه پـه سر د تـنـبو په شان زوړند شی بیا چه هغه ګناه نه فارغ شی نو ایمان هغه طرفته واپس راځی۔ (ترمذی، ابوداود)۔

تشریح :خَرَجَ مِنْهُ الْاِیْمَانُ : ۱- بـعـض عـلـمـاء فرمائی : داپه خپل ظاهر دے چه په وخت د زنا کښې ترینه ایمان جدا کیږی خو پس د زنا نه ورته بیرته واپس کیږی چه توبه اوباسی۔

۲- اوبـعـض وائـی : دایمان نه مراد نور الایمان او کمال د ایمان دے، څکه چه ایمان عبارت دے د تـصـدیق، اقرار او عـمـل نه، او نُور په عمل باندے حاصلیږی خو کله چه عمل نه وی نو بیا نور الایـمـان نـه وی، او کـمـال دایمان خراب شی نقصان په کښې راشی یعنی دایمان ددرجے نه د اسلام درجے تـه راکـوز شـی۔ ۳- د ایـمـان لـویـه شعبه ترینه خارجیږی چه هغه حیاء من الله ده۔ ٤- یا ګویاکه ترینه خارج دے څکه چه ایمان مانع دے دګناه نه خو کله چه دده ایمان مانع د زنا نه وی نو

گویاکه دده سره ایمان نشته، نو په څان دے اویریږی۔ کَالظُّلَّةِ: پشان دوریځے۔ ددے نه معلومیږی چه بالکلیه ایمان نه دے خارج اگرچه دایمان سره منافی کارئے کړیدے خو بیا هم د ایمان دسوری لاندے دے، دهغه نوم ترینه نه دے زائل شوے۔ فاذا خرج : بل روایت کښ ورسره دا الفاظ زیاتی دی (ان تاب) یعنی که توبه ددے بد عمل نه اویاسی نو ایمان ورته بیرته واپس کیږی۔ اودا دابن عباسؓ دحدیث نمبر (٦) نه هم معلومیږی چه فان تاب کما مر۔ په دے حدیث کښ وعید غرض دے اود خوارجو مذهب نه ثابتیږی څکه دفوق رأسه نه معلومیږی چه دا کالظله دے یعنی بالکل ختم شوے نه دے بلکه څه ناڅه فائده ورکوی۔ او بالکل کافر نه دے۔

درجة الحديث : رواه الترمذی ۔ داحدیث په سنن ترمذی کتاب الایمان کښ معلق ذکردے۔ ورواه ابوداود وسكت عليه هو والمنذری واخرجه ايضاً البيهقي والحاكم وقال : صحيح على شرطهما ووافقه الذهبي على ذلك۔

الفصل الثالث - دریم فصل

١٣- عَنْ مُعَاذٍ قَالَ: اَوْصَانِیْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ قَالَ: «لَاتُشْرِكْ بِاللهِ شَيْئًا وَاِنْ قُتِلْتَ وَحُرِّقْتَ وَلَا تَعُقَّنَّ وَالِدَيْكَ وَاِنْ اَمَرَاكَ اَنْ تَخْرُجَ مِنْ اَهْلِكَ وَمَالِكَ وَلَا تَتْرُكَنَّ صَلَاةً مَكْتُوْبَةً مُتَعَمِّدًا فَاِنَّ مَنْ تَرَكَ صَلَاةً مَكْتُوْبَةً مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ وَلَا تَشْرَبَنَّ خَمْرًا فَاِنَّهٗ رَأْسُ كُلِّ فَاحِشَةٍ وَاِيَّاكَ وَالْمَعْصِيَةَ فَاِنَّ بِالْمَعْصِيَةِ حَلَّ سَخَطُ اللهِ وَاِيَّاكَ وَالْفِرَارَ مِنَ الزَّحْفِ وَاِنْ هَلَكَ النَّاسُ وَاِذَا اَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ وَاَنْتَ فِيْهِمْ فَاثْبُتْ وَاَنْفِقْ عَلٰى عِيَالِكَ مِنْ طَوْلِكَ وَلَاتَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ اَدَبًا وَاَخِفْهُمْ فِي اللهِ». رواه احمد.

ترجمه : معاذ ﷺ وائی، رسول الله ﷺ ماته دلس خبرو وصیت اوکړو، وے فرمایل : ١- الله تعالی سره څوك شریك مه جوړوه اگرکه ته اووژلے شے او اوسوزولے شے۔ ٢- دخپل مور پلار نافرمانی مه کوه، اگرکه هغوی تاته دخپل اهل او مال پریښودلو حکم درکړی ٣- قصداً هیڅ فرض مونځ مه پریږده څوك چه قصداً مونځ پریدی، الله تعالی دهغه نه بیزاره دے ٤- شراب مه څکه څکه چه شراب د ټولو بدو جرړه ده۔ ٥- د الله تعالی نافرمانی اوګناه نه بچ اوسه څکه چه نافرمانی کولو سره د الله غصه راځی ٦- جهاد کښ هیڅ کله دشمنانو ته شا مه اړوه (مه تښته) اگرکه تاسره تمام خلق هلاك شی ٧- هرکله چه خلقو کښ مرگ (د وبا په صورت کښ) خورشی اوته هغوی کښ موجودئے، نو ثابت قدم اوسه، یعنی دهغوی دمینځ نه مه تښته۔ ٨- په خپل اهل وعیال دخپل وسع مطابق خرچ کوه۔ ٩- د ادب د وجے نه خپله ډنډه دهغوی نه مه لرے کوه۔ ١٠- اود الله تعالی معامله کښ هغوی

ویروه یعنی اهل وعیال کښی که څوك دسزا یا ادب دپاره څه وهل ټکول ضروري وي نو هغې نه بې پروائي مه کوه او هغوی ته دښو ښو خبرو نصیحت او تلقین کوه اود دین داحکام او مسائلو تعلیم ورکوه اوهغوی دخرابو خبرو نه دبچ کولو کوشش کوه۔ (احمد)۔

تشریح : بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ : لس جملې دی چه دا د نبی اکرم ﷺ تزکیه ده صحابوؓ لره او د ﴿ویزکیهم﴾ مصداق دے۔

وَاِنْ قُتِلْتَ وَحُرِّقْتَ : **سوال** : قرآن کښی اجازت راغلے دے په حالت د اکراه کښی په کلمه دکفر لوستلو سره هم، او په دے حدیث کښی منع راغلے ده، چه اګرکه ته په اُور سوزلے شے یا قتل کولے شے بیا به هم شرك نه کوے۔نو په ظاهره کښی دا حدیث د قرآن خلاف ښکاري؟۔

جواب : دلته شرك في القلب مراد دے یعنی الفاظ وئیل درله جائز دی خو په زړه کښی به ورسره شریك نه ګنړے په خپل اختیار اګرچه قتل کړے شے، فلا تعارض ۔ ۲- **جواب** : قرآن کښی رخصت ذکر دے اودلته عزیمت دے، پیغمبر اسلام به خپلو صحابوؓ ته عزیمت ښودلو۔

وَاِنْ اَمَرَاكَ : یعنی درته اووائی چه وینځه آزاده کړه یا ښځه طلاقه کړه نو د دوئ خبره به منے خو دا هله چه دشریعت خلاف نه وی، دلیل په دے باندے واقعه د سعدؓ ده دخپلے مور سره۔ چه مورئے بهوك هرتال کړے وو چه زه به هغه وخته پورے خوراك څکاك نه کوم ترڅو چه ته کفر اونه کړے په محمد (ﷺ) هغه ورته اووئیل : که ستا سل روحونه شی او یو یو اوځی نو هم زه داکار نه کوم۔

(امراك) نه معلومیږی چه دمور پلار دواړو خبره به منلے شی۔ کوم علماء چه وائی چه دمور خبره به دطلاقو په باره کښی نه منے صرف دپلار به منے، نودا اصحه خبره نه ده، خو بیا به دمور پلار نه په دے کارونو کښی وجه تپوسے چه آیا غصه کښی دی او که په رضا کښی۔ مالك : معنی دانه ده چه حکم درته اوکړی چه مال سین ته ګوذار کړه، نوګنیے ته به داحکم منے ځکه داضاعة المال نه منع راغلے ده، بلکه مطلب دا دے چه (تبدیل الکسب بکسب) مراد دے چه داکار مه کوه بل کسب شروع کړه، نو داخبره به منے۔اودلته چه دا قیود لګیدلی دی نواکثر علماء وائی چه دا قیود باعتبار الاکمل دی، دمبالغے دپاره دی۔ یعنی دمور پلار خبره ضرور منه اګرچه دمال نه وتلو او طلاق الزوجه حکم درته کوی بیا که په دے امر دے عمل اوکړو نو کامل مؤمن ئے اوکه عمل دے اونکړو نو ناقص الایمان ئے۔ اصح داده چه خامخا به خبره منے ضروری ده۔

وَاِنْ هَلَكَ النَّاسُ : ددے جواز هم راغلے دے چه انسان جنګ کښی یواځے پاتے شی نور ملګری اوتښتی، خودا قید باعتبار الاکمل دے یعنی بهتره خبره ده۔یا فرار من الزحف کور کیناستو ته وائی او دا هیڅ کله جائز نه دی لکه دویم جلد د مشکوٰة کښی حدیث د (بل انتم العکارون) پرے دلیل دے۔ ۲- یا دا په هغه وخت کښی دے چه په مخ د زمکه باندے ټول خلق مړه شی نو هم جهاد مه پریده۔ --- وَاِذَا اَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ : **فائده** : ددے تفصیل دا دے چه یو کلی کښی وباء (طاعون)

اولګیده نو کلی نه به نه تښتي اوکه ته بهرویے نو نه به ورځې اوکه ستا ضرورت وی نو بیا وتلے شی یا داخلیدلے شي بل حدیث پریے دلیل دیے چه (فلا تخرج فراراً منه)۔

وَلَاتَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ : د ماشومانو او ښځو وهل ادب دپاره شته مګر ظلماً به ئے نه وهی په پخلی وغیره خرابولو سره وهل نشته بلکه دحرام کار په کولو به وهل ورکوی ځومره چه ګناه وی هغومره به وهل وی زیادت به هم نه کوی۔او د ادباً نه معلومیږی چه ماشومان او اهل کله په وهلو سره مستحق د ادب وی نو د هغوی سره به نرمی نشی کولے۔ **وَاَخِفْهُمْ فِي اللهِ** : یعنی د الله د اوامرو او نواهیو د مخالفت نه ئے په نصیحت او تعلیم سره یروه۔

درجة الحديث : (اسناده حسن او صحیح لغیره): رواه احمد فی مسند معاذ باسناد منقطع، لان عبد الرحمن بن جبیر بن نفیر لم یلق معاذاً ولم یسمع منه لکن له شواهد وتوابع فی مجمع الزوائد والطبرانی فی الاوسط، فهو حسن الاسناد صحیح المعنی وحسنه الالبانی فی صحیح الترغیب (۱۳۸/۱)۔

اوس کفر دیے یا ایمان

۱٤- وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: إِنَّمَا النِّفَاقُ كَانَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَأَمَّا الْيَوْمَ فَإِنَّمَا هُوَ الْكُفْرُ وَالْإِيْمَانُ. رواهُ البخاريُّ

ترجمه : حذیفه ﷺ وائی : دمنافقت حکم دنبی کریم ﷺ په زمانه ختم شو اوس به دوه صورتونه وی یابه کفر وی یا ایمان۔ (بخاریؒ)۔

تعارف دحذیفه ﷺ : حذیفه بن الیمان واسم الیمان حُسیل انصاری صحابی دیے ده او پلار دواړو په یوځائے ابتداء داسلام کښې ایمان راوړیدیے بدرته دواړه حاضریدل لیکن لاره کښې مشرکانو قسم اوکړو چه نه به راځې اوبیا دواړه احد ته حاضر شو نو پلار ئے دمسلمانانو دلاس نه قتل شو، په دیے ګمان چه دا مشرك دیے، ده ډیریے چغے اوکړیے چه دا زما پلار دیے لیکن صحابونه اوریدلے نو بیا حذیفه پدیے باندیے ډیر صبر اوکړو او هغه قاتلان ئے ملامته هم نه کړل صحابه وائی دا د حذیفه ډیر لوئی فضیلت شمارل کیدو۔اوحذیفه د رسول الله ﷺ د راز ملګریے وو ده سره به ئے رازونه ساتل۔ رسول الله ﷺ ورته دمنافقانو نومونه ښودلی وو، داوجه ده عمر فاروقؓ به جنازه په چا نه کوله ترڅو چه به ورته حذیفه نه وو حاضر۔ عمر ﷺ په مدائن باندیے عامل مقرر کړیے وو نو هلته ووتردیے چه وفات شو۔دعثمانؓ دقتل نه څلویښت ورځے روسته په سنه (۳٦ هـ) کښې په اول د خلافت د علی کښې۔ او په سنه (۲۲ هـ) کښې ئے ډیر فتوحات کړیدی، لکه ری او همدان او دینور ئے فتح کړیدی۔ (وکان اعلمهم بالحوادث والفتن) د فتنو او حوادثو معلومات ورته زیات وو۔احادیث منقوله تری نه (۱۰۰) دی۔

تشریح : **اِنَّمَا النِّفَاقُ** : (ای حکم النفاق وهو اجراء الاحکام الشرعیة علیهم من الحدود والمیراث وغیره)۔ (یعنی د منافقت حکم چه هغه د احکام شرعیو (حدود، میراث وغیره په هغوی جاری

کول نو دا د رسول الله ﷺ په زمانه پورې خاص وو دځه مصالحو په بناء دې. په دې مقام کښې سوال دې چه ددې حديث نه خو معلوميږي چه نن صبا زمانه کښې يا صرف کفر دې يا صرف ايمان دې او نفاق نشته اوحال دا چه نفاق خو اوس ډير دې د نبي اکرم ﷺ د زمانې په نسبت ؟ نو جواب دادې چه انما النفاق نه مراد حکم النفاق دې يعني دنبي اکرم ﷺ زمانه کښې درې قسم خلق وو : ۱- مؤمنان. ۲- خالص کفار. ۳- منافقان.

نو کفارو باندې دقتال حکم جاري وو. او منافقانو باندې ظاهراً دمؤمنانو حکم جاري کيدو چه قتال ورسره نه کيدو وجه حديث کښې راغلې ده چه نبي اکرم ﷺ فرمائي (اکره ان يتحدث العرب ان محمداً يقتل اصحابه) (چه عرب خلق به وائي نبي اکرم ﷺ خپل ملګري وژني) نو رکاوټ پيدا کيدو دا مصلحت وو، نن صبا هم منافقان شته خو د منافقانو حکم به پرې نه جاري کيږي کوم چه دنبي اکرم ﷺ په دور کښې وو چه هغه نه وژل دی، بلکه حاکم وقت به هغوی قتلوی که کوم کار ترې دکفر ښکاره شو.



باب فی الوسوسة

د وسوسے بیان

مناسبت : کله چه یو کس مؤمن شی نو هغه ته شیطان وسوسے اچوی، نو دا گناهگار هم نه دے او منافق هم نه دے مؤمن ته وسوسے ډیرے راځی خصوصاً هغه مؤمنانو ته چه دغفلت نه رابیدار شی الله ته ئے توجه پیدا شی ذکر عبادت اومحبت والا جوړ شی خو غافل مؤمن ته هم ډیرے وسوسے نه راځی۔ او کافر ته هم دکفر وسوسے نه راځی ځکه هغه هسے هم کافر دے اگرچه دگناهونو وسوسے ورته راتلے شی۔ مؤمن ته دایمان، آخرت، احادیثو او الله باره کښ وسوسے راځی۔ یا مناسبت دا دے چه : (الوسوسة بالكبائر لا معصية فيها) ۔ (دکبیره گناهونه وسوسه راتلو کښ هم گناه نشته)۔

وسوسه په لغت کښ : (الصوت الخفي والكلام الخفي)۔ (پټ آواز او پټ کلام ته وائی) او په اصطلاح کښ : (هي الخواطر التي تدعو الى الرذائل ويقابلها الالهام وهو الخواطر التي تدعو الى الخصال المرضية والخيرات)۔ (وسوسه د زړه هغه خبرے دی چه رذیل کارونو ته دعوت ورکوی او ددے مقابل کښ الهام دے دا د زړه هغه خبرو ته وائی چه پسندیده خصلتونو او نیکیانو ته دعوت ورکوی) بیا د وسوسے سره قریب المعنی څو الفاظ دی، گویاکه دا اقسام الوسوسه دی :

١ - الوسوسه۔ ٢ - التردد۔ ٣ - الهاجس۔ ٤ - الخاطر۔ ٥ -حديث النفس۔ ٦ - الهمّ۔ ٧ - العزم۔ نو یو گناه چه ستا زړه کښ تیره شی بیا زائل شی او زړه کښ ځائے اونه نیسی۔ (ان لايستقر في القلب) ۔ نو دیته وسوسه وائی دا معاف ده لکه دیے اول حدیث کښ روسته راځی (ان الله تجاوز عن امتي ما وسوست به صدورها) بیا ددے نه پورته درجه کښ تردُّد دے دا دیته وائی چه زړه کښ خیال راشی او قصد اوکړی اوقرارے اونه نیسی اوشك پیدا کړی۔ او هاجس دیته وائی چه زړه کښ ابتداءً یوشئ واقع شی او زر اوځی۔ اوخاطر هغه خیال ته وائی چه په زړه کښ ابتداءً واقع شی او دکولو یا نه کولو هیڅ خبره ذهن کښ پیدا نشی۔او حدیث النفس دیته وائی چه زړه کښ خیال راشی او دکولو اویا نه کولو اراده هم وی لیکن ترجیح د احد هما علی الآخر نه وی۔ په دے امورو باندے مؤاخذه نشته، که گناه وی اوکه خیر وی نواجر هم نه ملاویږی ترڅو چه مضبوط قصد اونکړی۔او هَمّ دیته وائی چه زړه کښ خیال راشی اودده په نفس کښ دکولو اونه کولو اراده هم وی لیکن جانب د فعل راجح وی په جانب دعدم الفعل باندے۔ اودا ترجیح قوی نه وی، نو هَمّ دے۔په دے باندے ثواب ملاویږی که خیروی، او عقاب نشته که شروی۔اوکه جانب د فعل ته ترجیح ورکړی په جانب دعدم فعل باندے او هغه ترجیح قوی وی، یعنی د انسان زړه

کښې دیوشئ کـلـکه اراده راشي خو دیو مانع د وجې نه هغه اونه کړي نودیته عزم وائي۔داکه په خیر کښې وي ثواب ملاویږي، اوکه په شر کښې وي نو عقاب ملاویږي۔

بعض داسې تعبیر کوی : چه د یو معصیت او ګناه صرف په زړه کښې خیال راتلو پنځه درجې دی : ۱- هاجس : یعنی په زړه کښې د یو ګناه خیال اضطراراً راتلل۔

۲-خاطر : یعنی په زړه کښې د یوې ګناه خیال (قصداً) راوستل۔

۳-حدیث نفس : یعنی د یوې ګناه په باره کښې تردد کیدل چه آیا دا ګناه اوکړې شي او که نه ؟

٤-هم : یعنی پدې تردد کښې یو جانب ته ترجیح ورکول۔

٥- عزم : یعنی د ګناه قصد ته تقویت ورکول۔

د هم او عـزم فـرق دا دې چه کـه خیـر جانب ته ترجیح ورکوی نو پدې باندې نیکی هم لیکلې شي او کـه بـدئ ته ترجیح ورکوی نو پدې باندې مؤاخذه نه وی، دا پدې امت باندې د الله احسان دې البته عزم باندې مواخذه شته۔

بیا عزم په دوه قسمه دې : ۱- عزم اعمال القلوب المفضية الى الكفر(د زړه د هغه اعمالو عزم چه انسان کفر ته رسوی) ، لکه کفر، نفاق وغیره زړه کښې راولي او ددې اراده اوکړي نودا کفر دې۔

۲- عـزم الاعمال، په دې کښې اختلاف دې۔ * بـعـض سلف ؒ فرمائي : په دې کښې هم اخذ نشته په دې راتلونکی حدیث کښې داخل دی۔ * جمهور السلف ؒ فرمائي : عزم العمل باندې اخذ شته دې، او همدا حقه خبره ده۔ ځکه عزم وسوسه نه ده اودلته وسوسه ذکر ده۔نقلي دلیل دا دې چه حدیث کښې راځي (اذا التقى المسلمان بسيفيهما فالقاتل والمقتول كلاهما فى النار، اما المقتول فلانه كان حريصاً على قتل صاحبه) (دوه مسلمانان یو بل وژني نو دواړه په اور کښې دی ځکه هریو د بل په وژلو حرص کوی) نـودلتـه عزم العمل دمقتول موجود وو په دې وجه اور ته داخل شو۔دلته مانع موجود وو چه دې په هغه کامیاب نشو، ورنه ده خو هغه وژلو۔

بیا وساوس دوه قسمه دی : ۱- غیر اختیـاری، دا ټولـو امتـونو تـه معـاف دی۔ ۲- وساوس اختیـاریـه، اودا صـرف دې امت ته معاف دی، ددې امت خصوصیت دې، خو کله چه دعزم درجې ته نه وی رسیدلی۔ **فائده** : وسوسه اختیاریه دیته وائي چه په زړه کښې راشي او استمرار اوکړي او قـصـد دعمل هم اوکړي، او خوند د هغه څیز نه واخلي لکه زړه کښې دیوې زنانه تصویر راشي اود هغې نه خوند واخلي، دادې امت ته د نبی ﷺ د تشریف او تکریم دپاره معاف شویدی۔ خودا کار به هم همیشه نه کوی، دانسان زړه کښې په دې سره فساد راځي۔

الفصل الاول

۱- عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:((اِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِيْ مَا وَسْوَسَتْ بِهٖ صُدُوْرُهَا مَالَمْ تَعْمَلْ بِهٖ اَوْ تَتَكَلَّمْ)). متفق عليه

ترجمه : ابو هریره ﷺ وائی، رسول الله ﷺ اوفرمایل : حقیقت دادے چه الله تعالی زما دامت دخلقو هغه وسوسے معاف کړے دی کومے چه دهغوی زړونو کښ پیدا کیږی څو پورے چه هغوئ هغے وسوسو باندے عمل اونه کړی او هغه په ژبه رانه وړی - (بخاری اومسلم)۔

تشریح : اِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِیْ مَا وَسْوَسَتْ بِهٖ صُدُوْرُهَا : فائده : دا دلیل دے چه وسوسه اچونکے لکه څنګه چه شیطان دے نو نفس انسانی هم دے۔ مالم تعمل : که دا وسوسه داعمالو دقبیلے نه وی۔ او تتکلم : که د اقوالو دقبیلے نه وی۔ خو که دعقائدو فاسدو دقبیلے نه وی نو هغه معاف نه دی چه دغلطے عقیدے دکفر او منافقت عزم اوکړی دا حرام دی انسان کافر کیږی څکه دا په خپله خوښے سره کفر غوره کول دی۔ ملاعلی قاریؒ فرمائی : دا ډیره ښه خبره ده چه نبی اکرم ﷺ دلته صرف عمل اوتکلم ذکر کړو، اشاره ده دیته چه وسوسه داعمالو او اقوالو مخکښ د ارتکاب (کولو د هغه عمل) نه معاف ده، اودکومے وسوسے چه تعلق دعمل اوکلام سره نه وی لکه بدواخلاقو او عقائدو سره وی نو هغه خامخا ګناهونه دی (۱/۱۳۸)۔

فائده نادره : شیطان مؤمن ته ابتداءً پنځه شیانو کښ وسوسه اچوی :

۱ - اودس کښ چه دا فلانے اندام درنه اوچ پاتے شو، کله چه دے کښ کامیاب نشی نو

۲ - دویم نمبر کښ په مانځه کښ ورته وسوسه اچوی چه یو رکعت درنه پاتے شو، فاتحه کښ خطاء شوے۔ کله چه په دے کښ هم کامیاب نشی نو دریم نمبر :

۳ - دکفر او شرك وسوسه اچوی چه زړه کښ د الله باره کښ خبرے اترے راپیدا کړی (العیاذ بالله)۔ بیا ددے نه پس قتل ته انسان برابر کړی چه دډیرو وسوسو نه تنګ شی۔

٤ - د ښځے دطلاقو په باره کښ۔ روتیئ چه خوری چپ چپ سره دا ګمان کوی چه زما دخولے نه طلاق لفظ خارج شو۔ د شیطان ډیرے وسوسے دی خو هغه ټولے په شپږو اجناسو کښ منحصر دی۔ علامه ابن القیمؒ په بدائع التفسیر (٥/٤٥٥) کښ او دارنګه په کتاب (البیان فی مداخل الشیطان) (۱/۱۲۱) کښے ذکر شویدی هغه دا دی :

اقسام مداخل الشیطان ووساوسه

۱ - اوله وسوسه دکفر اوشرك اچوی، اود الله او رسول دشمنی دانسان په زړه کښ پیدا کوی، په دے چه کله کامیاب نشی نو ۲ - دبدعت وسوسه اچوی، داوجه ده علماء فرمائی (البدعة احب الی ابلیس من الفسق والمعاصی) (ابلیس ته د فسق او ګناهونو نه بدعت ډیر محبوب دے) څکه بدعتی دخپل بدعت نه توبه نه اوباسی۔ په دے کښ چه ناکام شی۔ نو بیا ۳ - د ارتکاب الکبائر وسوسه اچوی، ددے نه پس بیا۔ ٤ - د ارتکاب الصغائر وسوسه استعمالوی، دا وجه ده نبی اکرم ﷺ فرمائی : (ایاکم ومحقرات الذنوب ۔ ۔ ۔ الحدیث)۔ (د وړو ګناهونو نه ځان بچ کړئ) څکه چه واړه ګناهونه چه راجمع شی نو انسان هلاکوی۔ ددے نه پس ٥ - داشتغال بالمباحات (په مباح کارونو کښ مشغوله کولو)

وسوسه اچوی، چه انسان دکامیابئ لارے نه بچ کړی، اوپه دے چه کامیاب نشی نو بیا : ٦- انسان په مفضول او مرجوح عمل باندے مشغول کړی، او افضل اوراجح عمل ترینه پاتے کوی، لکه مثلًا دفرض مانځه وخت کښې په نفلونو شروع اوکړی، وغیره۔ بل بد چل دشیطان ئے دا هم ذکر کړیدے چه انسان ته داسے دلائل راپیش کړی په یوه مسئله کښې چه په ظاهره کښې صحیح وی لیکن په هغے سره اراده دباطل لری، دے دپاره چه صحیح لارے نه ئے واړوی۔

علاج الوساوس

انسان چه دشیطان دوسوسے نه خلاصیږی نو ددے یو څو اسباب او علاجونه دی : ١- اول دا چه انسان به دا عقیده لری چه الله ما په دے عمل نه راګیروی، دا معاف دی، دا ډیر مهم علاج دے کله چه شیطان پوهه شی چه دا انسان وسوسه باندے نه خفه کیږی نو بس کړی۔ ٢- فکر به بند کړی۔ ٣- اعوذ بالله من الشیطان الرجیم به وائی۔اوکه په مانځه ولاړ وی نو ګس طرفته تف تف کولو سره به لاړے ګوذار کړی۔ ٤- آمنت بالله ورسله وئیل۔

٥- هو الاول والآخر آیتونه لوستل کما فی روایة ابن عباسؓ۔ ٦- قرائة المعوذتین۔ ٧- د الله نه دعاء غوښتل چه ددے وسوسونه ئے خلاص کړی۔ ٨- کلمه د توحید (لا اله الا الله) لوستل کما فی حدیث عثمان رضی الله عنه۔

فائده نادره : مونږ بطور افاده دشیطان مداخل لیکو چه شیطان په کومو لارو باندے دانسان دګمراه کولو دپاره په انسان کښے داخلیږی او خپل جال کښې ئے راګیر کړی۔ دا مداخل چه اوپیژندے شی نو انسان ته دشیطان دشمن نه نجات ملاویږی اود هغه دوهکے او دشمنی پیژنی او شریعت مونږ ته دا مداخل ځکه راښودلی دی چه انسان غالب شی په شیطان باندے اودا د الله محض امتنان او احسان دے کله چه انسان څومره الله طرفته نژدے کیږی نو هغه ته دامداخل ښه واضح ښکاری، او الله ورله غلبه ورکوی په دشمن باندے :

١- **اول مدخل : الامر بالسوء** : د شیطان ټول اعمال دامر بالسوء لاندے داخلیږی ځکه چه دشیطان بل کار نشته سیوا ددے نه چه انسان ته (په هره ذریعه) دګناه او بدکارئ حکم اوکړی کله کله خپل امر ته دحق جامه وراغوندی ځکه چه هغه د الله سره لوظ کړیدے چه ﴿ لاتخذن من عبادك نصیباً مفروضاً ولاضلنهم ولامنینهم ولآمرنهم فلیبتکن آذان الانعام ولآمرنهم فلیغیرن خلق اللّٰه﴾ [النساء آیت : ١١٧]۔ وقال تعالی : ﴿ إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاءِ ﴾ ۔

٢- **نسیان الاستحواذ :** یعنی شیطان همیشه دا کوشش کوی چه انسان باندے غلبه په دے طریقه اوکړی چه د هغه نه الله تعالی او د هغه ذکر او تعلق هیر کړی، او هغه خالق هیر کړی چه ده له ئے تصویر ورکړے او په ده کښې ئے روح اچولے، بیا مثال ددے انسان دمړی پشان اوګرځی د شیطان مقابله نشی کولے ﴿استحوذ علیهم الشیطان فانساهم ذکر اللّٰه اولئك حزب الشیطان ﴾ وفی

الحديث (مثل الذی یذکر ربه والذی لا یذکر ربه کمثل الحی والمیت) متفق علیه۔ وقال الشاعر :

فنسیان ذکر الله موت قلوبهم ٭ واجسامهم قبل القبور قبور

وما لمیت بجرح من ایلام (د الله د ذکر هیرول د زړونو مرګ دے نو د دوی بدنونه مخکښ نه قبرونه جوړ شویدی) (او مړی ته په زخمی کولو هیڅ درد نه رسی) ٭ او په دے هیره سره دانسان ژوند تنګ شی لکه الله فرمائی : زه ده ورله تنګ ژوند ورکړم : ﴿ومن اعرض عن ذکری فان له معیشة ضنکاً ونحشره یوم القیامة اعمی قال رب لم حشرتنی اعمی وقد کنت بصیراً قال کذلك اتتك آیاتنا فنیستها وکذلك الیوم تنسی﴾ اوددے مدخل دپاره شیطان ډیر وسائل استعمالوی، لکه بعض قرآن ذکر کړیدی لکه : شراب، جواری وغیره ﴿انما یرید الشیطان ان یوقع بینکم العداوة والبغضاء فی الخمر والمیسر ویصدکم عن ذکر الله وعن الصلاة﴾ [المائدة آیت : ۹۱] ددے په ذریعه انسان نه الله اودهغه ذکر هیروی اوکله کله مال او ابناء په ذریعه کار کوی لکه الله فرمائی : ﴿یآیها الذین آمنوا لاتلهکم اموالکم ولا اولادکم عن ذکر الله ومن یفعل ذلك فاولئك هم الخاسرون﴾ [المنافقون آیت : ۹]۔ (مال او اولاد دے تاسو د الله د ذکر نه غافل نکړی ورنه تاوان والا به شئ)

۳- **النزغات** : فساد او چونډاره لګول، وسوسه اچول، دا ډیر خطرناك مدخل دے په دعوت او دُعاتو باندے ډیر تاثیر کوی، شیطان ددے دپاره دوه وسیلے استعمالوی، لسان (ژبه) افعال (کارونه، عملونه)، دړے په وجه دا نزغات په نفسونو کښ راجمع کیږی لکه الله تعالی فرمائی : ﴿وقل للعبادی یقولوا التی هی احسن ان الشیطان ینزغ بینهم﴾ [الاسراء آیت : ۵۳] ښے خبرے کوی ځکه چه شیطان وسوسے اوفساد اچوی دانسانانو ترمینځه دبدو خبرو په وجه۔ په حدیث دمعاذؓ کښے دی چه ده د نبی اکرم ﷺ نه دداسے عمل په باره کښ اوکړو چه انسان جنت ته داخلوی او جهنم نه لرے کوی نو نبی اکرم ﷺ ورته آخر کښ اوفرمایل : ددے ټولو اعمالو پرے درته نه اوښایم نو ژبه ئے اونیوله وے فرمایل : (کف علیك لسانك) ژبه بنده ساته دغلطو خبرونه اکثر خلق اُورته ددے په سبب غورځیږی، او دا حدیث مخکښ تیر شویدے۔ ابن مسعود به فرمائیل : (ما علی وجه الارض شیٔ احوج الی طول سجن من لسان)۔ الفوائد ص (۱٤۸) (یعنی په مخکښ د زمکه د ژبے نه علاوه بل شے اوګد جیل ورکولو ته نه ده محتاجه)نو ژبے له اوګد جیل ورکول پکار دی۔

ددے نزغاتو ډیر مثالونه دی : ۱- کله چه ورته څوك نصیحت کوی نو ده ته شیطان زړه کښ واچوی چه ته خوددے ناصح نه ښه پوهیږے ته څنګه دده خبره منے، کله ورته وائی په دے ناصح کښ خو خپله دا عیبونه موجود دی نو اول دے ځان ته نصیحت اوکړی۔ کله ورته وائی : ته څنګه دده خبره منے داخو ستانه کشر دے، نو د هغه سره بالکل خبرے نکوی او هغه ورته بد او سپك ښکاره شی اوکله دیو ناصح په بیان کښ غلطی اونکته چینی خلقو ته ښائی چه زه هم عالم یم، یا دا خو جاهل دے دا ولے نصیحت کوی، دارنګه بعض خلقو ته چه دعوتِ طعام ورکړے

شي نو هغه وائي : (اليوم يوم الخميس) يعني زه خو هره پنجشنبه روژه يم۔ بعض خلق چه روژه وی نو نور خلق ورته سپك ښكاري، كله دشپے تهجد اوكړي سحر خلقو ته وائي چه بيګاه مؤذن په فلاني وخت آذان اوكړو، خلقو ته ښائي چه زه ويښ وم۔ بعض دعاتو ته چه كله رد بد كنځل اوكړيے شي نوشيطان ورته چونډاره وركړي چه ته ورته لا نصيحت كوے او هغه درته بد رد وائي نو بدله ترينه واخله نو كله چه هغه بدله واخلي نود شيطان مقصد حاصل شي چه دحق اودعوت لاره بنده شي، كله يو داعي په تكبر كښ راشي فخر كوي، او په مجلس كښ دمنكراتو والا بدی بيانوی، اوډيركرته دمسلمانانو عيبونه ښكاره كوی چه دهغے پټول واجب دی، اوكله په افعالو سره نزغات (فسادونه پيدا) كوی لكه بعضِ خلق چه كله دخپل ملګرونه يو منكر كار اووينی نو شيطان ورته وائي ده ته نصيحت مه كوه ځكه چه هغه به غصه شي نو ملګرتيا به درسره پريدی نو دامر بالمعروف والنهي عن المنكر نه ئے بندكړی، كله په يو مجمع كښ يو فقير اووينی نو شيطان ده ته اووائي چه كه ته يواځے ده ته صدقه وركړيے داخو به رياء كښ راشي خلق به وائي دا محسن دے، نو دانفاق نه ئے منع كړي، داد شيطان غشي دی په دے سره انسان قتلوی۔

٤- **التخويف بالفقر** : مؤمنانو سره الله بيعت په نفس او مال خرچ كولو سره كړيدے، او په دے كښ دجنت كاميابی انسان ته ملاوېږی خو شيطان راځی اودا بيعت خرابوی نو دانسان په زړه كښ دفقر نه ويره اچوی ﴿ الشيطان يعدكم الفقر ﴾ [البقره آيت : ۲٦۸] نبی اكرم ﷺ به صحابو كښ چه كله دبيعت په يو طرف كښ نقصان اوليدو نو هغه به ئے صحيح كولو۔ يو ځل بلال ؓ مخے ته دكجورو ډيرئ ولاړه وه نبی ﷺ پرے داخل شو ورته ئے اوفرمايل (ما هذا يابلال) داڅه دی ؟ هغه اووئيل : دامے ستا ميلمنو له ساتلي دی۔ نبی اكرم ﷺ اوفرمايل : دے نه نه يريګے چه دابه ستا دپاره دجهنم لوګے جوړ شي (انفق يا بلال ولا تخش من ذی العرش اقلالاً) رواه البزار باسناد حسن۔ (بلال ! انفاق كوه او د عرش مالك نه د كموالي او فقر نه مه يريږه)

۵- **مدخل : فلا تخافوهم** مؤمنان كله ناكله دكفارو وسائلو اوكثرتِ عدد او سامانونه اووينی نو ددے په وجه دهغوی په زړونو كښ دباطل نه يره پيدا شي، ليكن الله هغه ختموی لكه چه فرمائي : ﴿ انما ذلكم الشيطان يخوف اوليائه فلا تخافوهم وخافون ان كنتم ان مؤمنين ﴾ [آلعمران آيت : ۱۷۵] دا يقين كوی چه دا ﴿ كسراب بقيعة يحسبه الظمآن ماء ﴾ پشان دشګو ګل دے، يقين د الله په مدد اود حق په كاميابئ كوی۔

٦- **الاماني الكاذبة** : شيطان خپلو ملګروته دا آروز وركوی چه نه جنت شته، اونه جهنم يا دهغوی په زړونو كښ اُور سپك ښكاره كوی نو په ګناهونو باندے ئے زړور كوی او په زړه كښ ورته دا اچوی چه ګناهونه كوئ ستاسو رب غفور رحيم شته، ګناهونه به درته بخښي اوديته نه

ګوري چه هغه خو شديد العقاب هم دے بعض دعاتو ته دمعاش او اولاد تربيت تمنی وراچوی چه په دے کښې مشغول شه نو دعوت پريدی او دنيا ته مخه کړی۔

ونستلـــذ الامـــانـــی وهـــم مـــردية ● کشـارب السم مـمـزوجـاً مع العسل۔

(مونږ آرزوګانے خوندرے ګنړو حال دا چه هغه مونږ لره هلاکونکی دی، لکه زهر څکونکے چه د شهدو سره يو ځائے شوی وی) ﴿ يعدهم ويمنيهم وما يعدهم الشيطان الا غروراً ﴾۔

۷- الاستهواء : کله چه داعی په حق مضبوط ولاړ وی او باطل باندے ردونه کوی نو اهل باطل دهغوی ددعوت بندولو اود هغے دترقئ لارے ته خنډونه اچوی، په دے طريقه چه هغه ته د دنيا فتنے يعنی مال، زنانه، منصب او عهده ورته پيش کړی، نو داعی ورته چغه کړی : ﴿ اندعوا من دون الله ما لاينـفـعـنا ولا يضرنا ونرد علی اعقابنا بعد اذ هدانا الله کالذی استهوته الشياطين فی الارض حيران له اصحاب يدعـونـه الی الهدی ائتنا قل ان هدی الله هو الهدی وامرنا لنسلم لرب العالمين ﴾ [الانعام آيت: ۷۱] ۔کفارئے زمکے ته راګوزاروی اومؤمن بره زور کوی، دا استهواء د شيطان مدخل دے۔

۸- الايحاء بالمجادلة : دشيطان ملګری اهل حقو سره جګړے کوی او مؤمن د هغه دعقيدے نه اړوی لکه الله تعالی فرمائی :﴿وان الشياطين ليوحون الی اوليائهم ليجادلوکم وان اطعتموهم انکم لمشرکون ﴾ [الانعام : ۱۲۱] دا قسم خبرے ممنوع دی په شريعت کښې مګر هله چه شرائط وی، چه د آداب اسلاميه لحاظ په کښې وی لکه ﴿وجـادلهم بالتی هی احسن ﴾ کښې ذکر دی۔او اهل باطـل دحق دمخ نيوی دپاره جګړے مناظرے کوی، په دے کښې د اسلامی آدابو لحاظ نه وی، نو دے کښې هيـڅ فـائده نشته، بلکه دشيطان لاره پيدا کيږی۔ **۹- تحريم ما احل الله :** شيـطان په جاهليـت والاؤ دا تـلبيس راوستے وو چه کوم څيزونه الله تعالی حلال کړی وو هغه ئے پرے حرام کـړل، لـکـه بـحيـره، سائبـه، وصيله او حام وغيره۔ شيطان په دے طريقه ښکار کول، نو اسلام دا کارونـه بـند کړل لکه الله فرمائی : ﴿ کـلـوا مما رزقکم الله ولا تتبعوا خطوات الشيطان ﴾ [الانعام : ۱۴۲] او نـن صبا ډير خلق د بابا ګانو د قبرونو په خوا کښې ښکار نه کوی د هغه ځائے حيوانات نه رانيسی په دے کښې دضرر رسيدلو عقيده ساتی داد شيطان مدخل دے۔

۱۰- غرس الياس : نـا اميـدی په زړه دمؤمن کښې پيدا کول، لکه په غزوه بدر کښې ئے د مسلمانانو پـه زړونو کښې دا وسوسه واچوله چه تاسو ګمان کوئ چه تاسو د الله اولياء ئے او تاسو کښې رسول دے اوحال دادے چه مشـرکان ستـاسـو نه اوبوته مخکښې لاړل او تاسو به په جنابت کښې مونځونه کوئ (بعـض صحابوؓ ته جنابت رسيدلے وو) نو الله پرے باران اوکړو چه مسلمانانو اوبه اوڅښلے او غسل ئے پرے اوکـړو اودشيطان وسوسه ئے ترينه ختمه کړه۔شيطان لعين ورته دجنابت حالت کښې دمانځه ذکر اوکـړو په دے کښې پـه ايـمـانـی جـامـه کـښې شيـطـان را داخـل شو، دے دپاره چه نا اميدی دهغوی په زړونو کښې بنه کور اوکړی۔شيطان خصوصاً په جنګونو کښې دا وَسله استعمالوی۔

۱۱- **الاستفزاز** : په حق باندے دهر طرفنه آوازونه کول او خپل سامان اسلحه پیدل اوسواره تول دحق دختمولو دپاره تیارول لکه الله فرمائی : ﴿ واستفزز من استطعت منهم بصوتك واجلب عليهم بخيلك ورجلك ﴾ [الاسراء : ٦٤] اودا کارونه په مختلف شکلونو او رنګونو سره وی لکه دکتابونو، قلمونو، سینما ګانو، کیبلو، شرابو کبابو، جوارِیو، مجلاتو، لیټریچرو، اود ګمراهئ او فحشاء مرکزونو په ذریعه – دا ټول د شیطان جالونه دی دحق دختمولو دپاره، اوشیطان په دے کارونو کښ غالباً کامیاب شویدے، اوددے نه بچاؤ ډیر ګران دے ولے چه دا سیلابونه دی۔ الا من رحم ربك۔

۱۲- **المشاركة** : په دے مدخل کښ شیطان خلقوته حکم کوی چه خپل مالونه دخالق په نافرمانئ کښ خرچ کړی، نو په جوارئ، شرابو، ظلم، ګمراه کتابونو، مجلاتو، ناولو، دمسلمانانو په خلاف دظالمانو ملګرتیاء سود، دمال دهوکه وغیره تولو کښ دشیطان مشارکت دے په مال کښ، الله فرمائی : ﴿ وشاركهم في الاموال والاولاد ﴾ اولاد کښ مشارکت داسے دے چه خپل اولاد ته غلط شرکی نومونه کیښودل لکه عبد العزی، عبد الحسن، عبد الحسین، عبد النبی، پیر بخش اوګنج بخش او پیرداد۔ او هغوی باندے غلط تعلیمونه کول، هغوی غلطو محفلونو ته پریخودل، دا ټول د شیطان شرکت فی الاولاد دے۔

۱۳- **تفکیک الاسرة** : دخاندانونو- ښځے خاوند – ترمینځه جدائی پیدا کول : یوسف علیه السلام ته دا مَدْخَل معلوم وو، ځکه ئے خپل مور پلار ته اووئیل : ﴿ وقد احسن بي اذ اخرجني من السجن وجاء بكم من البدو من بعد ان نزغ الشيطان بيني وبين اخوتي ﴾ دوروڼو ترمینځه جدائی پیدا کول د شیطان مدخل دے۔ اوحدیث کښ دی : ابلیس خپل عرش داوبو دپاسه کیدی او خپل فوجونه اولیږی، تردے چه په هغوی کښ یو کس راشی اود ښځے او خاوند ترمینځه جدائی ئے پیدا کړی وی، نو ابلیس ورله غاړه ورکړی۔ (رواه مسلم)۔ په دے کورنی اختلاف سره مجتمع اسلامی کښ جدائی راځی، کله چه کورنے اختلاف راشی نو په دے کښ د یو بل سره حسد، کینه، تهمت، بهتان وغیره پیدا کیږی، تردے چه دے کښ بهر خلق هم شریك شی نو تاثیر په اجتماعیت دمسلمانانو باندے اوکړی، نو په دے باره کښ صبر او استقامت نه کار اخستل او انتقام نه اخستل، اود شیطان دا مداخل یادول علاج دے۔

۱٤- **الغضب** : موسی علیه السلام چه کله د بنی اسرائیلی په آواز او استغاثه سره قبطی اووهلو نو روستهٔ ئے فکر اوکړو چه ﴿ هذا من عمل الشيطان انه عدو مضل مبين ﴾ [القصص : ١٥] غضب په دوه قسمه دے : ۱ – غضب لله، صرف دالله دپاره غصه کیدل دایمان نښه ده۔ ۲ – غضب لغیر الله : یعنی دنفس او د وطن او قبیلے دپاره غصه کیدل، نودا دشیطان مدخل دے، په دے سره اخوت ایمانی قطع کیږی، جرائم او ضعف الایمان پیدا کیږی او خاندانونه جدا کیږی۔ دا داسے شر دے چه ډیر شرونه ترینه پیدا کیږی۔ بعض خلق غصه ددے دپاره کوی چه خلقو ته اوښائی چه زه قوی یم او جنګ والا

یم، لیکن قوت په دے کښې دے چه انسان دغصے کنټرول اوکړی۔

۱۵- **الانهماك بالمزاح** : مزاح، ګپ شپ، خوش طبیعتی دابلیس لویه وسیله ده چه ددوستانو ترمینځه جدائی پریے راولی۔ مزاح په دوه قسمه دے: یو مزاح محمود دے چه چاته کنځل، غیبت، او مسلمان سپك ګنړل په کښې نه وی، دا به نبی اکرم ﷺ کولو، لکه یو بے بوډئ ته ئے اوویل: بوډئ ګانے به جنت ته نه ځی، هغه خفه شوه، بیا ئے ورته اوویل: مارشتیا وئیلی دی بوډئ ګانے به د بوډاوالی په صفت نه ځی بلکه ځوانانے به ترینه جوړیږی۔ مذموم مزاح هغه دے چه فحش بدرد په کښې وی اویا زیاتوالے او انهماك په کښې وی۔

۱٦- **النجوی** : شیطان کله خپل دوستان تیز کړی په جرګوکولو باندے او غرض په دے کښې دمؤمنانو خفه کول وی لکه منافقانو به دا کار کولو، لکه په سورة المجادله (۷) کښې دی: ﴿ انما النجوی من الشیطان لیحزن الذین آمنوا ولیس بضارهم شیئاً الا باذن الله ﴾۔ (فضول جرګے د شیطان کار دے مومنان پرے غمجن کوی)

۱۷- **ظن السوء** : جرګه د بد ګمانئ نه پیدا کیږی۔ بعض مسلمان په مؤمنانو باندے په بدګمانئ کښې خوند اخلی اودخپل زړه دخباثت په وجه هیڅ تبیین او تحقیق نه کوی، اودا په امت مسلمه کښې د افتراق خطرناك سبب دے۔ ۱۸- **الغیبة** : کله کله شیطان انسان ته دازاله د منکر دپاره دغیبت دلارے نه وسوسه اچوی، غیبت اوریدل، هغه په هره طریقه کول حرام دی، فساد دے۔

۱۹- **تصید العیوب** : دخلقو عیبونه بیانول په ښه نیت لکه داعی دا کار ډیر کوی، ددے مطلب دا نه دے چه انسان به نهی عن المنکر نه کوی بلکه نهی عن المنکر به کوی په لسان او قلب سره مګر عیبونه به نه بیانوی چه هغے کښې دینی فائده نه وی، بلکه نفس خوشحالول او یخول وی۔

۲۰- **تزیین الشیطان الاصغر** : بعض انسانانو ته شیطان خپل بد عمل ښائسته ښکاره کړی لکه فرعون چه انا ربکم الاعلیٰ نعره اولګوله، ابو جهل، سامری، مارکس مؤسس الشیوعیة، لینن، کمال اتاترك چه رب ئے نه منلو چه دوئ ته خپل عملونه ښه ښکاره کیدل اود نورو خلقو اعمال ورته بد ښکاره کیدل۔ ۲۱- **تزیین الشیطان الاکبر** : چه ټول امت ته بدعمل ښه ښکاره کول لکه د رسولانو قومونو ته کفر بالله وبالرسل اود پلار نیکه تابعداری دحق په مقابله کښې ښه ښکاره شوی وو، ﴿ وزین لهم الشیطان ما کانوا یعملون ﴾۔

۲۲- **وسوسه اچول** ، او ددے طرق مخکښې بیان شویدی۔ ۲۳- **وذلك اضعف الایمان** : دشیطان بله دسیسه داوی چه انسان ته صراحةً داسے نه وائی چه نهی عن المنکر مه کوه، غلے شه، بلکه کله چه یو عالم داعی مُنکر اووینی نودا حدیث رایاد کړی (من رأى منكم منكراً فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه) نو دا ښه طاقت لری چه په لاس ئے منع کړی مګر ابلیس ورته اووائی چه دا په ژبه منع کړه ځکه دا به ښه نتیجه راوړی او کله چه په ژبه طاقت لری

نو ابلیس ورته وائی ﴿ لا یکلف اللّٰه نفساً الا وسعها ﴾ ستا وسع نشته هر سړے به خپل کار کوی، مونږ ورسره نه شریکیږو، په دے طریقے سره دمؤمن ایمان په آرام آرام سره ختمیږی تردے چه دهغه په زړه کښې د حبة خردل (د اوری د دانے) په اندازه ایمان هم پاتے نشی۔اعاذنا اللّٰه من ذلك۔دا مداخل مشرحاً په (البیان فی مداخل الشیطان) ص (۲۲) کښې اوګوره۔وفیما ذکرنا کفایة وغنایة۔

وسوسه بد ګنړل دایمان علامه ده

۲- وَعَنْهُ قَالَ: جَاءَ نَاسٌ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَسَأَلُوْهُ اِنَّا نَجِدُ فِيْ اَنْفُسِنَا مَا يَتَعَاظَمُ اَحَدُنَا اَنْ يَّتَكَلَّمَ بِهٖ ! قَالَ: «اَوَقَدْ وَجَدْتُّمُوْهُ؟» قَالُوْا: نَعَمْ! قَالَ:«ذَاكَ صَرِيْحُ الْاِيْمَانِ».رواه مسلم۔

ترجمه : ابو هریره ﷺ وائی : یو ورځ د رسول اللّٰه ﷺ څو صحابه دربار نبوی کښې حاضر شو او عرض ئے اوکړو، مونږ خپلو زړونو کښې ځینے داسے خبرے (یعنی وسوسے) بیا مومو چه دهغے په ژبه راوړل هم مونږ بد ګنړو۔د دواړو جهانو سردار تپوس اوکړو، آیا تاسو واقعی داسے بیاموے (چه څه داسے وسوسه ستاسو زړونو کښې پیدا شی چه خپله ستاسو زړه هغه نه خوښوی اود هغے په ژبه راوړل هم تاسو بد ګنړئ ؟) صحابوؓ عرض اوکړو : آو، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمایل : دا څرګند ایمان دے۔ (مسلم)۔

تشریح : اِنَّا نَجِدُ : یعنی زمونږ په زړونو کښې داسے لوئی لوئی دکفر اود اللّٰه په باره کښې وسوسے راپیدا کیږی چه په ژبے سره په هغے باندے تلفظ کول راته ډیر ګران اولویه بدئ راته ښکاری۔ انا نجد : دا په موضع دحال کښې دے، ای فسالوه مخبرین انا نجد، او قائلین) ۔ یا دا مفعول ثانی دے دسالوه دپاره، نوکه مخبرین مقدر کړے شی یا مفعول ثانی شی نو بیا به همزه باندے فتحه وی۔او که قائلین مقدر کړے شی نو همزه باندے به کسره لوستے شی، او کسره بهتره ده ځکه دا بیان دمسؤل عنه دے، فتدبر۔

مَا يَتَعَاظَمُ : تعاظم باب تفاعل دے په معنی دمبالغے سره دے، مزیدو کښې زیادت دالفاظو غالباً دزیادت دمعنی دپاره وی۔ای نستعظم غایة الاستعظام۔(مونږ ئے ډیر لوئی ګنړو)

اَنْ يَّتَكَلَّمَ بِهٖ : یعنی داسے لویه وسوسه وی چه مونږ ته دا معلومه وی چه دا صفت دالله دشان لایق نه دے نو تلفظ پرے نشو کولے۔ اَوَقَدْ وَجَدْتُّمُوْهُ ؟ : دا یا عطف دے په مقدر باندے (ای احصل ذلك وقد وجدتموه ؟) او ضمیر منصوب راجع دے ما یتعاظم ته، ای ذلك الخاطر۔یعنی هغه خبره چه ستاسو زړه کښې راځی آیا دا تاسو موندلے ده ؟۔ وجدان دلته په معنی دمصادفت اومخامخ کیدو سره دے یعنی تاسو ددغه وسوسے سره مخامخ شوی ئے۔یا وجدان په معنی دعلم سره دے یعنی (قد علمتم ذلك الخاطر

القبيح وعلمتم انه مذموم غير مرضى) ـ(آیا تاسو دا د زړه خبره بده خبره مونډلې ده او ددې په بدئ باندې پوهه شوي يئ)۔ صَرِيْحُ الْإِيْمَانِ : ديته ئې صريح الا يمان ځکه اووئيلو چه هرکله تاسو په دې وسوسې باندې تلفظ کول لوئی جرم ګڼړئ اوددې مخالف عقيده لرئ نو دا دهغه چا کار دې چه ايمان ئې کامل وی ا وشکوك وغيره نه پاك وی۔ (نوویؒ)۔

شيطان چه وسوسې پيدا کړی نود الله پناه غواړئ۔

۳- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «يَأْتِي الشَّيْطَانُ اَحَدَكُمْ فَيَقُوْلُ مَنْ خَلَقَ كَذَا ؟ مَنْ خَلَقَ كَذَا ؟ حَتّٰى يَقُوْلَ: مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ فَإِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ وَلْيَنْتَهِ». متفق عليه۔

ترجمه : او ابو هريره ؓ نه نقل دی، رسول الله ﷺ اوفرمايل : تاسو کښې بعضو سره ته شيطان راځي اودا وائي چه فلانې فلانې څيز چا پيدا کړو، اوهغه څيز چا پيدا کړو تردې چه بيا هغه داسې وائي چه ستا رب چا پيدا کړو ؟ هرکله چه نمبر دې ته اورسی نو هغه له پکار دی چه الله نه پناه اوغواړی اودا سلسله ختمه کړی۔ (بخاری او مسلم)۔

تشريح : يَأْتِي الشَّيْطَانُ اَحَدَكُمْ : **فائده** : په دې حديث کښې پيشن ګوئی ده چه شيطان به هرکس ته وسوسې اچوی او په احدکم کښې اشاره ده چه داقسم وسوسې مؤمنانو ته راځي نه کافرو ته اودا امتحان دې اود زړه صفائی ده۔ شيخ عبد القادر جيلانیؒ ته چا اووئيل : ولې وسوسې تاسو ته راځي ؟ هغه اووئيل ځکه چه دمؤمن زړه آباد کور دې، اود کافر زړه وران کور دې، او خلق آباد کور ته ځی نه وران کور ته۔ دارنګ ابن عباسؓ ته چه اووئيل چه يو سړې وائي مونږ ته وسوسې مانځه کښې نه راځي، وې فرمائيل تلك صلاة اليهود۔(دا د يهوديانو مونځ دې)۔

پدې حديث کښې د وسوسې دوه علاجونه اوخودل شو اعوذ بالله وئيل او سوچ بندول۔

٤- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَايَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُوْنَ حَتّٰى يُقَالَ: هٰذَا خَلَقَ اللهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللهَ؟ فَمَنْ وَجَدَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ آمَنْتُ بِاللهِ وَرُسُلِهِ». متفق عليه۔

ترجمه : اوابو هريره ؓ نه روايت دې، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو : خلق به هميشه خپلو کښې (دمخلوقاتو وغيره باره کښې) تپوسونه کوی تردې چه وبه وئيلې شي (يعنی دماغ کښې به ئې دا وسوسه راشي) چه دا تمام مخلوق الله پيدا کړيدې، نو (بيا) الله چا پيدا کړيدې؟ دکوم سړی زړه او دماغ کښې چه دا قسم څه خيال يا وسوسه پيدا شي نو هغه دې دا اووائی چه ما په الله تعالیٰ اود هغه په رسول ايمان راوړو۔ (بخاری اومسلم)۔

تشریح : لَايَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُوْنَ : ۱- يا خو کافران دهریان د یو بل نه تپوسونه کوی په هره زمانه کښې۔ ۲- یا شیطان او انسان دیو بل نه تپوس کوی۔ ۳- یا انسانان خپلو کښې د یو بل نه تپوس کوی۔ حتى يقال: يعنى تردے چه سوال دے حد ته اورسیږی چه بیا دالله دپیدائش په باره کښې تپوس کوی، یعنی شیطان دمؤمن زړه کښې اچوی چه دا الله به (معاذ الله) چا پیدا کړے وی۔ نو پدے وسوسه باندے مومن گناهگار نه دے خو بار بار به دا زړه کښې قصداً نه راولی او علاج ئے دا دے چه دغه ذکر اووایه : (آمنت بالله ورسله)۔

هر انسان سره یو شیطان او یو ملائك مقرر شویدے

٥- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا وَقَدْ وُكِّلَ بِهٖ قَرِيْنُهٗ مِنَ الْجِنِّ وَقَرِيْنُهٗ مِنَ الْمَلَائِكَةِ» قَالُوْا: وَاِيَّاكَ يَارَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: «وَاِيَّایَ وَلٰكِنَّ اللهَ اَعَانَنِیْ عَلَيْهِ فَاَسْلَمَ فَلَا يَأْمُرُنِیْ اِلَّا بِخَيْرٍ». رواه مسلم۔

ترجمه : ابن مسعود ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : تاسو کښې هیڅ سړے داسے نشته چه هغه سره یو ملگرے د شیطانانو نه او یو ملگرے دملائکو مقرر شوے نه وی۔ صحابه ؤ عرض اوکړو یارسول الله ! آیا تاسو سره هم شته ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمایل : آو، ماسره هم شته، لیکن الله ماته د هغه (مقرر جِنی) دمقابلے کولو مدد راکړیدے ځکه زه دهغه (مکراو فریب اوگمراهئ) نه محفوظ یم بلکه دے پورے چه هغه هم ماته دنیکئ مشوره راکوی۔ (مسلم)۔

تشریح : قَرِيْنُهٗ : فائده : دهر انسان دپاره درے څیزونه سبب دگمراهئ دی : ۱- شیطان۔ ۲- نفس۔ ۳- خواهشات ددنیا۔ اوددے په مقابل کښې درے څیزونه دخیر او هدایت دی : ۱- عقل۔ ۲- فطرت سلیمه۔ ۳- کتابونه او رسولان۔ نواعلیٰ مؤمن هغه دے چه دکتابونو او رسولانو پسے روان شی تهذیب به ئے اوشی۔ او مجرمین هغه دی چه د شهواتو او شیطان پسے روان وی۔ او عام مؤمنان امتحان کښې دی، کله دخواهش تابع کیږی او کله د رسولانو تابع وی، نو مؤمن به هر وخت په جهاد کښې وی دشیطان او شهوت او دنیا سره، نو الله ته التجاء پکار ده دهغه نه دعاء غوښتل پکار دی۔ (ددے قاعدے د تشریح دپاره الوابل الصیب اوگوره)۔ مِنَ الْجِنِّ : فائده : قرین (پیوسته ملگرے) که دملائکو نه وی نو هغه ته مُلْهِم وائی اوکه دجناتو نه وی نو هغه ته وَسْوَاس وائی۔

فائده : دے نه معلومه شوه چه شیطان او جن یو شے دے، اود قرآن اوسنت نه درے قسمه مخلوق معلومیږی : ۱- ملائك۔ ۲- الجن۔ ۳- الانس۔ لکه حدیث کښې دی : خلقت الملائكة من نور وخلق الجان من مارج من نار، وخلق آدم مما وصف لكم - ای من التراب) (رواه مسلم، مشكاة ۲/۵۰٦) باب بدء الخلق)۔ (ملائك د نور نه او جان د گلوډ اور نه او آدم د خاورو نه پیدا شویدے اود جن اب جان دے نو ابلیس دجناتو نه دے۔

او جنات په دوه قسمه دي : ۱- مفسدان. ۲- او غير مفسدان. نو مفسدانو ته شياطين وائي او غير مفسدينو ته عام جن وائي. نو تول يوه نوع ده اوځوك چه دا وائي چه جن نوع دملائكو ده نو داخبره بلا دليله ده. وَاِيَّاكَ : ددے نه معلوميږي چه بعض متكلمينو وئيلي دي چه په خطاب كښې متكلم داخل نه وي، او بعض وائي متكلم هم داخل وي، لكه دلته واياي نهى فرمائيلے ده چه په دے كښې زه هم داخل يم.

فَاَسْلَمَ : يعنى مسلمان شويدے. او دا قاضي عياض راجح كړيدے. وهوالاصح ځكه د (فلاياتي الا بخير) نه معلومه ده، ولے چه دخير امر كافر نه كوي. ۲- فَاَسْلَمُ يعنى زه دهغه نه سالم (بچ) يم. دا قراءت علامه خطابیؒ مختار كړيدے.

فائده : ابليس نه مسلمانيږي او اولاد ئے مسلمان كيدے شي لكه هامه بن ابليس باره كښې مشهوره ده چه ده اسلام راوړيدے، نبي عليه السلام ته ئے د عيسى عليه السلام سلام رارسولے دے (مسلم، مرقاة ۱/۲۳۵)، اودلته دا كرامت د نبي اكرم ﷺ دے چه دے مسلمان شويدے.

شيطان دانسان رګونو كښې زغلي

۶- وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِىْ مِنَ الْاِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ». متفق عليه.

ترجمه : انس رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمايل : انسان كښې شيطان داسے زغلي ځنګه چه رګونو كښې وينه ګردش كوي. (بخاري مسلم)

تشريح : يَجْرِىْ مِنَ الْاِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ : ددے درے معاني دي : ۱- مجرى صيغه دظرف ده (اى موضع جريان الدم وهو العروق)، يعنى په رګونو كښې دويني پشان روان وي.

۲- مجرى مصدر ميمي دے او وقت حذف دے (اى الى وقت جريان الدم وهو الموت). يعنى د مرګه پورے شيطان وسوسے اچوي. فائده : كله چه انسان مړ شي نو هغه ته وسوسه اچول هم ختم شي، ددے نه دا فائده معلومه شوه چه قبر كښے د شيطان شړلو دپاره اذان كول بدعت دے، ځكه شيطان ترمرګه پورے دانسان سره ملګرے وي او تر مرګه پورے ورته وسوسه اچوي، او كله چه مړ شي نو بيا ورسره نه وي. نو بيا په قبر كښې آذان سره دده دشړلو څه معنى ده ؟.

۳- دا بناء دے په تشبيه باندے (اى كجريان الدم لا يعلم الانسان به) . يعنى لكه چه انسان دويني په حركت باندے نه پوهيږي دغه شان د شيطان په ګرځيدو هم نه پوهيږي نو عجيب دشمن دے. انسان ته تنبيه ده چه خبردار دشمن ډير محتاط دے نو دوكه دے نكړي.

دپيدا ئش په وخت د بچي ژړا د شيطاني عمل نتيجه وي

۷- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَامِنْ بَنِىْ آدَمَ مَوْلُوْدٌ اِلَّا يَمَسُّهُ الشَّيْطَانُ

حِيْنَ يُوْلَدُ فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ غَيْرَ مَرْيَمَ وَابْنِهَا». متفق عليه.

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمايل : د بني آدم چه كوم بچے هم پيدا كيږي شيطان هغه مسه كوي چه دهغے په وجه بچے چغه اووهي ليكن د بي بي مريم ځوئے (عيسى عليه السلام) اود هغه مور شيطان مسه نه كړل۔ (بخاري اومسلم)۔

تشريح : مَامِنْ بَنِيْ آدَمَ مَوْلُوْدٌ : مـولـود قيد ځكه زيات شو چه كله بني آدم كښ مضاف اليه داخـل وي ځـكـه دا جـنـس دے نـو وهم راتلو چه آدم به هم داخل وي نو دا وهم دفع شو په مولود سره چه مضاف مراد دے اوقرينه پرے مولود ده چه اوس پيدا شويدے۔ يَمَسُّهُ الشَّيْطَانُ : دے كښ دده دعـوت تـه اشاره ده د اولـنـے ورځے نه شيطاني دعوت شروع شي۔داوجه ده چه دے وخت كښ دماشوم په غوږ كښ آذان كيدے شي، چه د رحمان دعوت ورته اورسيږي۔

فوائد الحديث : يَمَسُّهُ الشَّيْطَانُ : شيطان پرے چونډاره لګوي دے چونډاره كښ غرض دشيطان داولے ورځے نـه دعـوت وركـوي چـه زما په لاره به راځے دهغه دعوت ته په كښ اشاره ده، وسوسے خو نشي وراچولے ځـكـه چـه هـغه لا ماشوم دے۔ امام قرطبيؒ وائي : دا تسلط الشيطان ته اشاره ده چه شيطـان اول نـه مسلط شو په انسان آهـ داوجه ده چه احاديثو كښ راځي چه آذان ورته اوكړے شي (اګـرچـه بعض خلق په دے آذان باندے هم كلام كوي چه ددے حديث كمزورے دے، اقامت خو خامخا كـمـزورے دے، ليـكـن صحيح داده چه د اذان والا حديث حسن درجه كښ دے دامت عمل ئے هم تائيد كـوي) اذان هم ورته ددے دپاره كيږي چه د اولے ورځے نه رحماني دعوت او شيطاني دعوت شروع شو، رحمان ئے ځان ته راكاږي، شيطان ئے ځان ته راكاږي۔

فَيَسْتَهِـلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ : يـعـنـي آواز اوكړي په داسے حال كښ چه چغه كونكے وي په ژړا، د وجے دچونډارے دشيطان نه۔صـارخـاً : (اى رافعاً صوته بالبكاء)۔ (آواز پورته كونكے وي په ژړا)

زمـخـشـري مـعـتـزلـي حـنـفي (عليه ما يستحقه) دا حديث وران كړيدے، وائي چه ماشوم كه د شيـطـان پـه چـونډاره چغے وهي نو بيا خوبه تولـه دنيا دهغه دچغونه ډكه شي، نو مس الشيطان نشتـه۔اوكـه دا حـديـث صحيح شي نو بيا به معنى دا وي چه شيطان دهر ماشوم په ګمراه كولو كښ طمع لري چه زه به دا ګمراه كوم هغه وئيلي دي چه داهسے خيال دے۔

مـونږ وايـو چـه شـيـطـان حـقـيـقـةً پـه مـاشـوم بـانـدے چونډاره لګوي لكه دا ظاهر دحديث دے اوحـديـث صـحـيـح دے مـتـفـق عـلـيـه حديث دے۔ اودنيا دچغونه نه ډكيږي ځكه چه دا خو داسے چـونـډاره نـه ده چـه شيطان په ماشوم كښ ستنه ښخه كړے وي ترمرګه پورے چه توله دنيا چغے چغے شي بلكه دا لږ ساعت دپاره وي اوپه هغه وخت كښ ډيرے ژړا اوشي دے كښ څه نقصان دے ؟! د تولے دنيا ماشومان ډيرے په وخت د ولادت كښ ژاړي، دنيا ددے چغو نه هيڅكله نه ډكيږي، او

همدغه شان واقع کښې هم ماشومان د ولادت په وخت ژاړي دنيا کومه ده چه دچغو نه ډکه شوه خودا په خپل ناقص عقل سره صحيح حديث ورانول دي۔(نعوذ بالله من هذا الخذلان) !!

او شيخ القرآن مولانا محمد طاهر صاحبؒ به ددے حديث حقيقي معني چونداره نه اخستله اودابه ئے وئيل چه دحديث معنى دا ده چه کوم ماشوم غټ شي او مشرك شي نودده دمشرك کيدو وجه داده چه شيطان ده ته دعوت ورکړيدے اودا دشيطان دعوت منونکے دے ځکه مشرك شو۔ دا معنى هم مناسب نه ده، يو خو دعامو محدثينوؒ دمعنى نه خلاف ده۔۲ – دويم حديث دلته چلولے شويدے دے دپاره چه په وخت د ولادت کښې مس الشيطان کيږي او هغه چغه وهي، او هغه به د (ويستهل صارخاً) معنى داکوله چه بابا ته چغه اووهي چه اے بابا رامدد شه ! حال دا چه دا معنى دلته نه ده مراد، روستو حديث کښې خو بالکل تاويل نشي کيدے (راتلونکي حديث کښې فکر اوکړه !!) دارنګه بيا ددے استثناء د مريم او عيسى عليه السلام د تخصيص څه معنى ده ؟۔

غَيْرَ مَرْيَمَ وَابْنِهَا : يعني د مريم او عيسى عليهما السلام د شيطان ددے چونداريے نه مستثنى دي۔په دے باندے سوال دے چه زمونږ د پيغمبر ﷺ به څه حال وي، آيا هغه ته هم شيطان چونداره ورکړيده ؟ **جواب** : ۱– زمونږ پيغمبر ﷺ هم ددے نه مستثنى دے ځکه چه هغه خو د عيسى اود مريم نه غوره دے، نو ممکنه ده چه هغه ته دا چونداره نه وي رسيدلې۔

۲– **جواب** : دا فضيلت جزئي دے د مريم او د عيسى عليهما السلام۔او دا فضيلت ورته د مور (حنه بنت فاقوذا) د دعاء په وجه حاصل شويدے چه هغے د مريم او د هغے د اولادو دپاره دعاء کړے وه او هغه قبوله شويده لکه آيت کښې دي : ﴿ انى اعيذها بك و ذريتها من الشيطان الرحيم ﴾ او د بعض پيغمبرانو فضيلت په بعض جزئي څيزونو کښې زمونږ په پيغمبر ﷺ باندے کيدے شي، اګر که کلي لحاظ سره زمونږ پيغمبر ﷺ غوره دے، لکه دابراهيم عليه السلام فضيلت جزئي په نبى اکرم ﷺ شته چه هغه اب الانبياء دے۔

سوال : دا دعاء خو دعيسى دپاره صحيح ده، ليکن مريم خو پيدا شويده اود عاء روستو شويده او قبوله شوے مخکښې ده، سبب روستو دے او مسبب مخکښې دے ؟۔

جواب : دعاء کښې دا قانون نشته چه سبب به مقدم وي ځکه چه دا اسباب شرعيه دي او اسباب شرعيه کښې مسبب مقدم کيدے شي په سبب باندے، په علل حقيقيه کښې مسبب په سبب باندے نشي مقدم کيدے، اسباب شرعيه کښې داسے کيدے شي چه الله ته پته ده چه دا سړے صبا دعاء کوي نن ئے ورله قبوله کړي، دده دنيك عملئ دوجے نه !۔

۸– وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :((صِيَاحُ الْمَوْلُوْدِ حِيْنَ يَقَعُ نَزْغَةٌ مِنَ الشَّيْطَانِ)).متفق عليه

ترجمه : اود همدے ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمايل : د ماشوم چغه (ژړا) په هغه وخت چه پيدا کيږی دا چونډاره د شيطان وی) (يعنی دپيدائش په وخت بچے څکه ژاړی چه شيطان ئے په تشی وهی)۔(بخاری او مسلم)

تشريح : صياح نه مراد سبب د چغے دے او نزغة معنی چونډاره ده يا په ضرری څيز باندے مصيبت رسول دی بعض وائی گوزار دے يا وسوسه ده۔

د ښځے خاوند مينځ کښ دشيطان خوښ کار

۹- وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «إِنَّ إِبْلِيْسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ يَفْتِنُوْنَ النَّاسَ فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً، يَجِيْئُ أَحَدُهُمْ فَيَقُوْلُ فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا، فَيَقُوْلُ: مَا صَنَعْتَ شَيْئًا». قَالَ: «ثُمَّ يَجِيْئُ أَحَدُهُمْ فَيَقُوْلُ: مَا تَرَكْتُهُ حَتّٰى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ. قَالَ: فَيُدْنِيْهِ مِنْهُ فَيَقُوْلُ: نِعْمَ أَنْتَ» قَالَ الْأَعْمَشُ: أُرَاهُ قَالَ «فَيَلْتَزِمُهُ».رواه مسلم۔

ترجمه : جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمايل : ابليس دخپل حکومت تخت په اوبو (سمندر) باندے گدی، هلته نه خپل فوجونه ليږی چه خلق په فتنه اوگمرا هئ کښ مبتلا (آخته) کړی۔په هغه فوجونو کښ دابليس دتولو نه زيات خوښ (او هغه ته نزدے) هغه دے چه د تولو نه لوئی فتنه کښ غورځونکے وی، هغوئ کښ يو واپس راشی وائی ما فلانئ فلانئ فتنے پيدا کړی دی، ابليس د هغه جواب کښ وائی تا خو هيڅ اونه کړل، نبی کريم ﷺ فرمائی : بيا هغوئ کښ يو راشی او وائی ما (ديو بنده گمراه کول شروع کړل او) هغه وخته پورے مے پرے نه خودلو، تردے چه چه دهغه اود هغه ښځے مينځ کښ مے جدائی راوستله، نبی کريم ﷺ فرمائی : ابليس (دے آوريدو سره) هغه ځان ته نزدے کينوی او ورته وائی چه تا ښه کار اوکړو۔ (دحديث يو راوی) اعمش ؒ وائی : زما خيال دے جابرؓ د (شيطان هغه ځانته رانزدے کړی) په ځائے (شيطان هغه ځانته را ترغاړه باسی) الفاظ نقل کړی وو ۔ (مسلم)۔

تشريح : إِنَّ إِبْلِيْسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ : يعنی مرکز ئے سمندر دے اوهغه ځائے نه فوجونه دخلقو گمراه کولو دپاره راليږی اودا په خپل ظاهر باندے حمل دے، اودا دهغه دپاره استدراج دے چه الله تعالی قادر کړيدے په دے کار باندے دے دپاره چه دهوکه شی چه زما عرش هم د الله د عرش پشان دے چه هغه هم داوبو دپاسه وو، لکه الله فرمائی : ﴿ و كان عرشه على الماء ﴾ بعض صوفياؤ په اوبو باندے دابليس عرش (تخت) ليدلے وو نو هغوی به دا وئيل چه مونږ د رحمٰن ذات عرش ليدلے دے۔ ابن صياد (وړوکی دجال) هم دابليس عرش ليدلے وو۔سراياه : جمع د سرية ده هغه جماعت چه څلور سوه کسان په کښ وی چه دشمن طرفته ليږلے شی ليکن ددے نه

زياتيږي او کميږي هم چا پسے دوه ليږي چا پسے ډير۔ او ابليس پخپله غټ غټ ځايونو ته ځي لکه اسمبليانو، پارليمنټونو او هغه ځايونو ته چه د هغے نه لويه فتنه ولاړيږي، دلوئي لوئي مليانو مجلسونو ته ورځي چه طالبان پرے گمراه کړي۔ داحديث بيا په دوه طريقو سره نقل دے:
۱- يوه طريقه دا ده چه دے حديث کښ ذکر ده۔ ۲- دويمه طريقه ترغيب او ترهيب دمنذريؒ کښ راغلے ده چه يو تن په کښ راشي دا وائي: (لم ازل به حتى اشرك) (مستدرك كتاب الحدود ۳۸۲/٦)۔ يعني زه يو کس پسے شوم تردے چه هغه مے مشرك کړو، تعويذگرم ترينه جوړ کړو، بابا گانو ته مے پرے سجده اوکړه، نو ابليس ورته وائي (نعم الابن انت) ته زما ډير ښه ځوئے ئے۔اودے روايت کښ دښځے او خاوند ترمينځه جدائي راوستونکي ته دا وائي (نعم انت) وجه دادہ چه شرك هم فراق عن الله دے اود ښځے اوخاوند مينځ کښ هم فراق دے، او فراق فراق د الله نه دے خوښ ځکه شيطان په دواړو ډير خوشحاليږي، بيا طلاق خو جائز کار دے مگر د ښځے او خاوند په مابين کښ په جدائي سره ډير نقصانات پيدا کيږي، بد اخلاقي، بے محبتي، بغض اوکينه او اختلافات جگړے هر وخت۔نو حديث کښ مونږ ته ترغيب دے چه اے سړيه! ته ښځے سره گذاره کوه او اے ښځے! ته خاوند سره گوذاره کوه چه شيطان درکښ جدائي رانه ولي۔ نِعْمَ اَنْتَ: يعني ته ډير ښه ځوئے ئے نعم الولد انت فاعل دنعم حذف دے انت مخصوص بالمدح دے، ابليس په تفرقه بين الزوجين ځکه ډير خوشحاليږي چه کله دښځے او خاوند ترمينځه اختلاف راشي نو ددے نه ډير ضررونه او گناهونه پيدا کيږي لکه حسد، ظلم، دروغ، بهتان، طلاق وغيره۔

تعارف د اعمش: : دده نوم سليمان بن مهران دے تابعي دے، اعمش ورته ځکه وائي چه نظرکښ ئے نقصان (شب کوري) وه، دکوفے اوسيدونکے دے، احد الاعلام الحفاظ والقراء انس ﷺ ئے ليدلے دے۔ټول نقل شوي احاديث ترينه (۱۳۰۰) دي۔مدلس راوي دے، او په مدلسينو کښ ډير طبقات دي، دا هغه مدلس دے چه روايت ئے سره دعنعنے نه مقبول دے لکه يحيى بن معين او سفيان بن عيينه پشان دے کله چه يو روايت کښ نور ضعف هم وي نو دده (اعمش) تدليس ئے هم يوه وجه دضعف گرځي۔اوکله چه نور روايت صحيح وي صرف دده تدليس وي په کښ نو بيا روايت صحيح شمارلے شي۔په کال (۴۷ هـ) کښ وفات شويدے۔ اُرَاهُ: ۱- ضمير دمفعول يا راجع دے ابو سفيان طلحه بن نافع راوي ته چه شاگرد دجابر دے۔ ۲- يا جابر ته راجع دے۔يعني زما گمان دے په جابر يا په ابو سفيان باندے چه داسے نبي کريم ﷺ فرمائيلي دي۔ فَلْيَلْتَزِمُهُ چه ابليس ورته غاړه ورکړي۔

جزيرة العرب کښ د توحيد دمضبوط بنياد په وجه شيطان دنا اميدئ ښکار دے

۱۰- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ اَيِسَ مِنْ اَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّوْنَ فِيْ

جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ وَلٰكِنْ فِي التَّحْرِيْشِ بَيْنَهُمْ». رواه مسلم۔

ترجمه : او همدے جابر ﷺ نه روایت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : شیطان دے خبرے نه نا امیده شویدے چه جزیره العرب کښې مونځ گذار (یعنی مسلمان) دهغه عبادت اوکړی، لیکن دهغوئ مینځ کښې دفتنه اوفساد خورولو نه نا امیده نشو - (مسلم)۔

تشریح : اَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّوْنَ : مصلون نه مراد مؤمنان دی اود عبادت نه مراد دا چه عبادت د بتانو به نه وی ښکاره۔ که څوك ئے پټ کوی نو هغه ددے پیشن گوئی دصادق کیدو سره منافی نه دے۔ دا مطلب نه دے چه کافر به موجود نه وی۔

فِيْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ : جزیره هغه زمکے ته وائی چه گیر چاپیره ترے اوبه وی یعنی ټاپو۔ اوددے جزیرة العرب دلاندے ډیر ملکونه داخل دی، بحر البصرة، عمان، عدن نه تر دریائے قلزم دمصر او بحر الشام والنیل پورے ددے نه دننه ممالك۔ امام مالك نه نقل ډی : جزیرة العرب مکه اومدینے او یمن ته وائی۔ قاموس کښې دی : جزیرة العرب ما احاط به بحر الهند وبحر الشام ثم دجلة والفرات وما بین عدن ابین الی اطراف الشام طولاً، ومن جده الی ریف العراق عرضاً، انتهیٰ) (یعنی جزیرة العرب هغه ده چه په هغے باندے بحر هند او بحر شام بیا دجله او فرات او مابین د عدن نه تر اطراف د شام پورے طولاً احاطه کړی وی او د جده نه تر سرسبز زمکه د عراق پورے عرضاً دے)۔ جزیرة العرب ئے خاص کړو څکه چه دا معدن العبادة او مهبط الوحی دے (قاله القاری : ۱/۱۳۷)۔ او همدا پیشن گوئی دنبی کریم ﷺ صادقه شوه چه تر نن تاریخه پورے په جزیرة العرب کښې برسر عام عبادت د غیر الله نشته دے او قیامته پورے به په دے حالت وی۔

وَلٰكِنْ فِي التَّحْرِيْشِ بَيْنَهُمْ : تیزی ورکول، راپارول او خپل مینځ کښې بغض او کینه پیدا کول۔

فائده : ۱- موحد همیشه دپاره هیڅ کله شرك ته واپس نه ځی۔ ۲- کله چه انسان موحد شی نو اختلافات به په کښې ډیر وی دشیطان دکوشش دوجے نه۔ دارنگ روستو کتاب الحج کښې راځی چه صغیره گناه به پرے کوی (ولکن ستکون له طاعة فیما تحتقرون من اعمالکم فسیرضی بذلك)۔ **فائده عجیبه** : د توحید او رسالت عقیده غالباً نه بدلیږی، اوایمان هر وخت بدلیږی رابدلیږی څکه ایمان دکیفیت قلبی نوم دے۔

الفصل الثانی

شیطانی وسوسے نه محفوظ پاتے کیدو باندے د الله شکر ادا کړئ

۱۱- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: اِنِّيْ اُحَدِّثُ فِيْ نَفْسِيْ بِالشَّيْءِ لَاَنْ اَكُوْنَ حُمَمَةً اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اَتَكَلَّمَ بِهٖ قَالَ: «اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ رَدَّ اَمْرَهٗ اِلَى الْوَسْوَسَةِ».

رواه ابوداود۔

ترجمه : ابن عباس ﷺ وائي : د نبي ﷺ خدمت کښې يو صحابي راغې عرض ئې اوکړو، يارسول الله ! زه خپل ځان کښې داسې خراب خيال بياموم چه (زه اوسوزم او) سکاره شم دا راته زياته خوښه ده نه چه هغې باندې په ژبه تلفظ اوکړم۔ (دې آوريدو سره) نبي کريم ﷺ اوفرمايل : د هغه الله شکر دې چه د شيطان کارئې وسوسې ته واپس کړو (او په انسان باندې ئې شيطان ته د زيات تسلط او گمراه کولو طاقت ورنکړو) – (ابوداود)۔

تشريح : رَدَّ اَمْرَهُ اِلَى الْوَسْوَسَةِ : ۱– ضمير راجع دې رجل ته اى امر الرجل۔ (يعنى د الله شکر ادا کوه چه ستا کارئې وسوسې ته اورسولو او عملًا کفر او شرك کښې ئې مبتلا نه کړې او د شيطان زور ئې دربانديې قائم نه کړو)۔ ۲– يا راجع دې شيطان ته اى امر الشيطان او هغه ضمناً ذکر دې سياق پرې دلالت کوي۔ اود امر نه مراد حکم يا شان دې۔ حُمَمَةٌ : په ضمه دحاء او فتحه دميم سره، سکروټې وائي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه ابوداود في الادب واخرجه ايضا احمد والنسائي وصححه ابن حبان۔وقال الالباني في صحيح ابي داود رقم (٤٢٦٤) صحيح۔

خپل ځان کښې دنيکئ جذبې باندې د الله شکر ادا کوه اود شيطان د وسوسې اچولو په وخت په الله پناه غواړه

۱۲– وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً فَاَمَّا لَمَّةُ الشَّيْطَانِ فَاِيْعَادٌ بِالشَّرِّ وَتَكْذِيْبٌ بِالْحَقِّ وَاَمَّا لَمَّةُ الْمَلَكِ فَاِيْعَادٌ بِالْخَيْرِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْحَقِّ، فَمَنْ وَجَدَ ذٰلِكَ فَلْيَعْلَمْ اَنَّهُ مِنَ اللهِ فَلْيَحْمَدِ اللهَ وَمَنْ وَجَدَ الْاُخْرٰى فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ ثُمَّ قَرَأَ: ﴿اَلشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ﴾».رواه الترمذی وقال هذا حديث غريب۔

ترجمه : ابن مسعود ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايلو : حقيقت دا دې چه هر انسان باندې يو تصرف د شيطان وي اويو تصرف د ملائك۔ د شيطان تصرف خودادې چه هغه ئې بدئ ته مائل کوي او حق ورته دروغ ښکاره کوي اود ملائك تصرف دادې چه هغه نيکئ ته آماده کوي اود حق تصديق کوي، نو کوم سړې چه (نيکئ باندې دملائکې دآماده کولو) دا کيفيت خپل ځان کښې بياموومي نو هغه له پوهيدل پکار دي چه دا د الله تعالى له خوا نه (هدايت) دې، په دې هغه له د الله شکر ادا کول پکار دي، اوکوم سړې چه دويم کيفيت (يعنى دشيطان وسوسه اچول) ځان کښې بياموومي، نو هغه له پکار دي چه شيطان مردود (رټلې شوى) نه الله پورې پناه اوغواړي۔بيا نبي کريم ﷺ دا قرآني آيت اولوستلو چه دهغې ترجمه داده چه

(شیطان تاسو دفقر نه ویروی او په بے حیائی (گناهونو) باندے درته امر کوی)۔دا روایت ترمذی نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ : لمة بفتح اللام وتشديد الميم د المام نه ماخوذ دے نزول اوقرب ته وائی یعنی شیطان بنی آدم ته داسے وسوسے اچوی چه په دے سره ئے گناهونو ته نزدے کړی، بیا که داخطرات قلبیه د شیطان دطرفنه وی دیته وسوسه وائی اوکه دملك دطرفنه وی نو دیته الهام وائی۔ فَإِيْعَادٌ بِالْخَيْرِ : وعده ورکول دخیر دی لکه مونځ، زکاة، علم او تقویٰ کول دی۔ایعاد : د باب افعال نه دے، اَوْعَدَ او وَعَدَ (مجرد) دواړه په یوه معنی استعمالیږی، وعده کولو ته وائی خو بیا په عرف کښ ایعاد دشر دپاره استعمالیږی، مگر دلته ئے د ازدواج او مشاکلت په طور په خیر کښ هم استعمال کړو، اوبله دا چه اشتباه هم نه راځی ځکه چه روستو بالخیر لفظ ذکر دے، فتدبر۔

فایعاد : یعنی شیطان انسان ته دا وسوسه اچوی چه شر اوکړه، او د حق تکذیب اوکړه دا ورته ښائسته کړی، اود ملائك الهام دا وی چه انسان ته د خیر کولو او په حق باندے تصدیق کولو ته دعوت ورکوی۔نو بعض نفسونه صفا وی نو هغوی د ملائکو الهام قبول کړی او الله پرے رحم اوکړی نو ده له د الله حمد او شکر ادا کول پکار دی چه الله ورسره دا احسان اوکړو چه د شر نه ئے بچ کړو او په خیر ئے آماده کړو۔

بیا دملائکو دالهام تاثیر دا وی چه انسان کښ اُنس او مینه دنیکئ سره پیدا کړی اود شیطان د وسوسے تاثیر دا وی چه وحشت او پریشانی په نفس کښ پیدا کړی انسان قتل ته تیار کړی او په شر کښ ورله مینه پیدا کړی، شر ورله خوند ورکوی۔

ثُمَّ قَرَأَ : دا یا قول د ابن مسعودؓ دے یا قول د نبی اکرم ﷺ دے وهو الظاهر یعنی نبی علیه السلام دا آیت تلاوت کړو۔او دا د قرآن نه استشهاد دے چه فقر نه یرول داهم یو شر دے چه شیطان پرے خلق یروی۔

درجة الحديث : رواه الترمذی تفرد به عطاء بن السائب وقد اختلط بآخرة لكن الحديث السابق الذی رواه مسلم (قرينه من الملائكة) يؤيد هذا وسنده حسن۔وابوداود وصححه ابن حبان۔

که وسوسه پیدا شی نو شیطان کړے کوئ اوپه الله پناه غواړئ

۱۳- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «لَايَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَ لُوْنَ حَتّٰى يُقَالَ هٰذَا خَلَقَ اللهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللهَ ؟ فَإِذَا قَالُوْا ذٰلِكَ فَقُوْلُوْا اَللهُ اَحَدٌ اَللهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا اَحَدٌ ثُمَّ لِيَتْفُلْ عَنْ يَسَارِهٖ ثَلٰثًا وَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ».

رواه ابوداود.وسنذكر حديث عمرو بن الاحوص في باب خطبة يوم النحر ان شاء الله تعالى.

ترجمه : ابو هریره ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمایل : خلق به (مخکښ دمخلوقاتو وغیره باره کښ) تپوس پوښتنه کوی، بیا به آخر کښ دا سوال راپورته کړی چه ټول مخلوق خو الله پیدا کړیدے، نو بیا الله چا پیدا کړیدے، هرکله چه دا سوال راپورته شی نو تاسو اووایئ، الله

ایکی یودے، اللہ بے نیازہ دے، نہ ھغہ نہ ځوك پیدا دی اونہ ھغہ دچا نہ پیدا دے او نہ ځوك دھغہ ھم سر (سیال) شتہ۔بیا خپل گس اړخ تہ درے ځلہ اوتوکړئ او شیطان رټلی شوی نہ پہ اللہ پورئے پناہ اوغواړئ - (ابوداود)۔او (صاحب مشکوۃ وائی چہ) د عمرو بن احوص روایت (چہ صاحب مصابیح دلتہ نقل کړے وو) مونږ بہ ھغہ د (خطبۃ یوم النحر) باب کښں نقل کړو ان شاء اللہ (ځکہ چہ ھغہ روایت دھغے باب دموضوع سرہ تعلق لری)۔

تشریح : یَتَسَاءَ لُوْنَ نہ مراد خو یا : ۱- دا دے چہ یو بل نہ تپوس کوی لکہ دھریان وغیرہ چہ اللہ چا پیدا کړیدے۔ ۲- یا د تسائل نہ مراد دا دے چہ د ځان سرہ بہ خبرے کوی پہ طریقہ د وسوسے سرہ ددواړو تائید شتہ دے۔ د استعاذے اوتُفلو پہ نسبت دویم احتمال ظاھر، او فاذا قالوا ذلك، تائید د اول احتمال کوی۔

اَللّٰہُ اَحَدٌ : ۱- داذکر یا دالله احد نہ شروع کیږی لکہ دلتہ ورسرہ قل نہ دے راوړے۔ ۲- خود بل حدیث نہ معلومیږی چہ قل ھو الله احد بہ وائی و ھو الاصح، اودا یو علاج دے ددفع کولو دوسوسے۔ ثُمَّ لِیَتْفُلْ عَنْ یَسَارِہٖ ثَلٰثًا : تفل لاړے توکل تُف تُف کول اودرے کرتہ کولوکښں بہ حکمت الله او رسول تہ معلوم وی۔وَلْیَسْتَعِذْ بِاللّٰہِ : بیا داکار مانځہ کښں ھم کولے شی او بھر دمانځہ نہ ھم، روستو نہ معلومیږی چہ نبی اکرم ﷺ مانځہ کښں ھم دا کار کړیدے۔

درجة الحدیث : رواہ ابوداود وفی سندہ سلمة بن الفضل قاضی الریّ لا یحتج بہ الا ان فی معناہ احادیث کثیرة ۔وسنذکر حدیث الخ : دفع دسوال دہ چہ دلتہ مصابیح کښں یوحدیث دعمرو بن الاحوص وو(ھغہ داحدیث دے : الا لا یجنی جان الا علی نفسہ الا لا یجنی جان علی ولدہ، ولا مولود علی والدہ الا ان الشیطان قد ایس ان یعبد فی بلادکم ھذہ ابداً الخ) نو ھغہ ولے پہ مشکوٰۃ کښں دلتہ ولے ذکر نہ کړو؟۔ جواب دا دے چہ ھغہ دلتہ مناسب نہ وو بلکہ باب خطبة یوم النحر سرہ مناسب وو ھلتہ مے ذکر کړیدے۔

الفصل الثالث - دریم فصل

۱۴- عَنْ اَنَسٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ: «لَنْ یَّبْرَحَ النَّاسُ یَتَسَاءَ لُوْنَ حَتّٰی یَقُوْلُوْا ھٰذَا اللّٰہُ خَلَقَ کُلَّ شَیْءٍ فَمَنْ خَلَقَ اللّٰہَ عَزَّ وَجَلَّ؟». رواہ البخاری ولمسلم قَالَ : «قَالَ اللّٰہُ عَزَّ وَجَلَّ : اِنَّ اُمَّتَكَ لَایَزَالُوْنَ یَقُوْلُوْنَ : مَاکَذَا مَاکَذَا حَتّٰی یَقُوْلُوْا ھٰذَا اللّٰہُ خَلَقَ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللّٰہَ عَزَّوَجَلَّ»

ترجمہ : انس رضی اللہ عنہ فرمائی: رسول اللہ ﷺ ارشاد اوفرمایلو : خلق بہ خپلو کښں تپوس (پوښتنہ) کوی (یعنی دشیطانی وسوسو پہ صورت کښں بہ ھغوئ کښں داسے خیالات پیدا کیږی) ھرکلہ چہ ھر څیز اللہ پیدا کړو نو بیا لوئی او برتر اللہ چا پیدا کړو ۔ (بخاری) او دمسلم پہ روایت کښں داسے دی چہ : انس رضی اللہ عنہ فرمائی : رسول اللہ ﷺ اوفرمایل : اللہ تعالی فرمائی : ستا

دامت خلق (که دشیطان دوسو سے غورخولو نه بیدار نه شو نو مخکښې) به داسے وائی چه دا څه دی اودا څنګه اوشو (یعنی دمخلوقاتو باره کښې به تحقیق او لټون کوی) بیا به آخر کښې دا وائی چه ټول څیزونه الله پیدا کړل نو الله عز وجل چا پیدا کړیدے۔

تشريح : داحدیث قدسی دے مطلب ئے دا دے چه الله تعالی خپل نبی ته دا خبر ورکوی چه ستا په امت کښې به داسے خلق پیدا کیږی نو هغه خلق ددے خبرو نه اوبروه۔

إِنَّ أُمَّتَكَ : دامت نه مراد امة الدعوة (کفار) دی او بعض مسلمانان چه د هغوی به د جهالت یا د شیطانی وسوسے په طریقه داسے خبرے کوی۔ **لَايَزَالُوْنَ يَقُوْلُوْنَ** : یعنی یو بل ته به داخبرے کوی، دلته دا احتمال واضح دے ۔**مَا كَذَا مَا كَذَا** : یعنی دا فلانے کار څنګه شویدے۔داکنایه ده ددیرو تپوسونو نه (ای ما شانه ومن خلقه)۔ (څه حالت ئے دے او چا پیدا کړیدے)۔

دمونځ په دوران کښې دشیطان خلل اچول

۱۵- وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ اَبِى الْعَاصِ قَالَ: قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ! اِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي وَبَيْنَ قِرَاءَتِي يَلْبِسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهٗ خِنْزَبٌ فَاِذَا اَحْسَسْتَهٗ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ وَاتْفُلْ عَنْ يَسَارِكَ ثَلٰثًا فَفَعَلْتُ فَاَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي». رواه مسلم.

ترجمه : عثمان بن ابی العاص ؓ وائی : ما عرض اوکړو یارسول الله ! زما او زما دمونځ او زما د قرائت مینځ کښې شیطان واقع کیږی اودے څیزونو کښې شك او شبهه اچوی، رسول الله ﷺ اوفرمایل : دا هغه شیطان دے چه خِنزب ورته وئیلے شی هرکله چه تاته احساس اوشی چه شیطان به دِے وسوسو او شبهاتو کښې مبتلا کړی نو ته د هغه (شیطان مردود) نه په الله سره پناه غواړه اوکس طرفته درے ځله اوتوکه۔عثمانؓ وائی (درسول الله ﷺ دارشاد مطابق) ما دغسے اوکړل، نو الله تعالی ما نه (دشیطان وسوسے اوشك شبهات) ختم کړل ۔(مسلم)۔

تعارف د عثمان بن ابی العاص ؓ : دده کنیه ابو عبد الله الثقفی الطائفی نزیل البصرة دے، دده په فضائلو کښې داده چه داد ثقیف دقبیلے دلسو کسانو په وفد کښې نبی اکرم ﷺ ته راغلے وو، اودا په کښې وروکے وو، ایمان ئے راوړو، دوئ سره اوښان وو نو دائے اوښانو ته کینولو په دے شرط چه دابه روسته ملاقات کوی، کله چه هغوی را واپس شو نو دده دملاقات مطالبه اوکړه، هغوی دده په اصرار باندے دده لره ملاقات ته پریخودو، نو نبی اکرم ﷺ ته راغلو او تپوسونه ئے تړینه اوکړل او طلب ددعاء ئے ترینه اوکړو دپاره دعلم بالدین نو نبی اکرم ﷺ ورته اوفرمایل : (انت افقههم) (ته پدے ټولو کښې ډیر پوهه ئے) ځکه چه هغوی اخوا دیخوا تپوسونه اوکړل اوده دعلم دین دعطاء کیدو دعاء اوغوښتله۔ نبی اکرم ﷺ ده لره په هغوی باندے امیر مقرر کړو او امام المسجد هم وو۔بیا په طائف باندے نبی ﷺ عامل (ګورنر) هم مقرر کړیدے او دعمر فاروقؓ

دور خلافت پورې دغسې عامل پاتې وو، دې نه پس عمر فاروق دې په عمان او بحرین باندې عامل مقرر کړو، بیا بصره کښې اوسیدلو تردې چه دمعاویهؓ په دور خلافت کښې په کال (۵۵ھ) کښې وفات شو۔ په ده کښې جنی (پیرې) داخل شوې وو چه تلاوت به ئې پرې خرابولو، نبی اکرم ﷺ ترینه لکه دسپې د بچې پشان پیرې اوویستلو۔ دده احادیث منقوله (۲۹) دی۔

تشریح : اِنَّ الشَّیْطَانَ قَدْ حَالَ بَیْنِیْ وَبَیْنَ صَلَاتِیْ : بل روایت کښې دی چه ده کښې جنی ننوتې وو نو رسول الله ﷺ هغه کینولو اوجنی ئې ترینه خارج کړو، داسې وو لکه دسپې دبچې په شکل باندې۔ اودم ئې پرې واچولو اودخولې نه ئې ورله راویستو، نو جوړ شو۔ اودې روایت کښې دا هم راغلل چه داسې وسوسه ئې هم ورته اچوله په مانځه کښې چه مونځ به ئې پرې خرابولو۔ داد هغه دوسوسو نه یوه وسوسه ده چه مونځ په انسان خرابوی۔ ددې نه دخلاصیدو علاج دادې چه دابه اووائی – چه کله یقینی معلومه وی چه داد شیطان وسوسه ده – چه زما الله غفور رحیم دې، زما په دې طریقه هم مونځ قبلوی، اگرکه زمانه قرائت یا تکبیر پاتې شو، لکه روستو راځی۔

خِنْزَبٌ : بوزن دِرْهَم، معنی ئې ده : الجرئ علی الفجور، یعنی په بدکاریو باندې زړور)۔اودا د شیطان لقب دې۔ **سوال** : داځنګه یو خِنزب دې چه تولو انسانانو ته په مانځه کښې رسیږی (بریلویان وائی : چه شیطان تولو خلقو ته حاضریږی نو نبی علیه السلام هم حاضر ناظر دې)۔

جواب : دلته نوع مراد ده، دایوه نوع ده، ددې لاندې ډیر کسان دی، په مانځه کښې دوسوسه اچونکو چه کومه شیطانی پارتئ مقرر ده هغې تولو ته خِنزب وائی۔ او په اوداسه چه مقرر دی هغې ته ولهان وائی، په بازارونو چه مقرر دی دهغې نور نومونه دی۔ وَاتْفُلْ : بفتح الفاء یا بکسر الفاء : دلته په مانځه کښې لاړې توکل مراد دی۔ احناف وائی دا منسوخ دی، مونځ کښې به دا تصرفات نه کوی۔ خو صحیح خبره داده چه د نسخ دلیل ضعیف دې ځکه چه اعوذ بالله هم د مانځه منافی عمل نه دې اودا د نبی کریم ﷺ عمل دې۔ اود قوموا لله قانتین خلاف نه دې ځکه نبی علیه السلام په دې آیت باندې زمونږ نه بنه پو هیدلو هغه داسې کار کړیدې، البته که هغه نه وې ثابت، نو بیا به مونږ وئیلې چه داکار صحیح نه دې۔ ﴿یا ایها الذین آمنوا لاتقدموا بین یدی الله ورسوله واتقوا الله – سورة الحجرات : ۱)۔ (د الله او د رسوا نه مخکښې والې ندې پکار)۔

وَهم او وسوسې ته توجه مه کوه او خپل مونځ جاری ساته

۱۶ – وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ اَنَّ رَجُلًا سَأَلَهُ اِنِّیْ اَهِمُ فِیْ صَلَاتِیْ فَیَکْثُرُ ذٰلِكَ عَلَیَّ فَقَالَ لَهُ: اِمْضِ فِیْ صَلَاتِكَ فَاِنَّهُ لَنْ یَّذْهَبَ ذٰلِكَ عَنْكَ حَتّٰی تَنْصَرِفَ وَاَنْتَ تَقُوْلُ مَا اَتْمَمْتُ صَلَاتِیْ». رواه مالك۔

ترجمه : قاسم بن محمدؒ ته یو سړی عرض اوکړو، چه ماته خپل مونځ کښې وهم کیږی (یعنی

کله خودا شك کیږي چه زما مونځ درست ادا نه شو، کله دا وهم کیږي چه یو رکعت رانه پاتے شو) نو دا کار په ما بوج وي، هغه ورته اوفرمایل : ته (داسے خیال ته توجه مه ورکوه او) خپل مونځ پوره کړه ځکه چه هغه (شیطان) به تانه هله لرے شي چه ته خپل مونځ پوره کړے او اووایه چه آو، ما خپل مونځ پوره نه کړو۔ (مالك)۔

تعارف د قاسم بن محمد رحمه الله : دا د ابو بکر صدیق‌ؓ نواسے اود فقهاء سبعو نه دے، په مدینه کښ داکابر التابعین نه دے۔ د ایوب نه نقل دي : مارأیت افضل منه ۔په خپل دور کښ ډیر صاحب فضل اوکمال شخص دے۔ محمد بن سیرینؒ یو شخص ده ته اولیګلو چه (فانظر الی سیرته ودلّه) یعنی دده سیرت او وضع رفع (کیناستو پاڅیدو) ته اوګوره که ښه وو، خو سبق ترے اووایه اوکه نه وو نو سبق ترینه مه وایه۔ دوه سوه (۲۰۰) احادیث ترینه نقل دي۔ (۱۰۶ ھ) کښ وفات شوید ے۔**فائده** : فقهاء سبعه په دے دوه شعرونو کښ راجمع شویدي۔

الا کُل من لا یقتدی بائمة ● فقسمته ضیزیٰ عن الحق خارجه

فخذهم عُبید الله عروة قاسم ● سعید ابو بکر سلیمان خارجة

تشریح : اِنِّیْ اَهِمُ فِیْ صَلَاتِیْ : بفتح الهمزه وکسر الهاء وتخفیف المیم۔ (وهم او شك کښ پریوتو ته وائي) **فَیَکْبُرُ ذٰلِكَ** : دا د باب کرم نه دے په معنی دلوئي کیدل او بوج کیدل، او بل باب دسمع نه راځي دهغے معنی ده په عمر کښ مشر کیدل (اسرافا وبدارأ ان یکبروا) بل روایت کښ فیکثر لفظ هم راغلے دے یعنی دا کار ماسره ډیر کیږي۔

مَا اَتْمَمْتُ صَلَاتِیْ : ددے سره بله خبره مراد ده چه ماخو مونځ پوره نکړو ستا د وسوسو دوجے نه، خو زما رب غفور رحیم دے هغه دا مونځ هم قبلوي، ستا په مقابله کښ۔ ما غلط مونځ اوکړو خو الله به ئے قبلوي، نو په دے وخت کښ شیطان نا امیده شي چه دا اوس نشم ګمراه کولے۔ داخبره دطلاقو په باره کښ هم ده، او تولے وسوسے په دے باندے ختمیږي چه انسان په هر عمل کښ دا اووائي چه په دے وسوسه باندے ما الله نه راګیروي، دامعاف دي۔ بیا به درته شیطان په طلاقو، اودس اومانځه کښ وسوسے نه اچوي۔خو دا قانون په هغه وخت کښ دے چه انسان ته وسوسے راځي اوکله چه یقیناً ستا په مانځه کښ رکوع یا سجده وغیره پاتے شوه بیا به دهغے اعاده کوي په کومه طریقه چه دهغے اصلاح کیدله هغه به کوي، خودا هغه صورت د وهم دے۔ اودا خبره د قاسم بن محمدؒ قول دے، دیته حدیث مقطوع وائي، دتابعي وینا ده، دتابعینوؒ اقوال حجت نه وي، صرف تائید پیدا کوي۔نو داد هغه نور حدیثونو دپاره تشریح شوه چه الله تعالی په وسوسه باندے انسان نه رانیسي۔

درجة الحدیث : رواه مالك وهو من بلاغات مالك قال القاري : عن سفیان (اذا قال : مالك بلغنی فهو اسناد قوی – مرعاة : ۱/۱۵۷)۔

باب الایمان بالقدر

پہ تقدیر باندے د ایمان بیان

ایمان لفظ ئے زیات کړو ځکه چه په تقدیر کښې ډیر اختلاف خلقو واقع کړیدے۔
نو اشاره کوئ چه صحیح ایمان په تقدیر هغه دے چه په دے راتلونکو حدیثونو کښې ذکر دے۔
دلته یو څو بحثونه دی : ۱ – اول بحث : دتقدیر لغوی او اصطلاحی معنی :
نو تقدیر په لغت کښې اندازه کولو دیو شئ ته وائی، مجرد ئے قَدَر راځی ددواړو یوه معنی ده۔
اوپه اصطلاح دشرع کښې : (ما قضاه الله وحکم به من الامر) ۔ یعنی هر هغه کارچه الله تعالیٰ پرے حکم او فیصله کړے وی (علامه جزریؒ) دغه شان : تقدیر دالله قدرت ته وائی، دارنګه علم الله المکتوب (د الله هغه علم چه لیکلے شوے وی) ته وائی، دا امام احمدؒ دابن عقیل دسوال په جواب کښې چه تقدیر څه ته وائی وئیلی وو چه دا دالله علم ته وائی چه لیکلے شویدے، په دے علم کښې تصرف هم وی، لهذا په ایمان بالتقدیر کښې ویره پرته ده انسان دپاره چه آیا زه به سعید (نیك بخت) یم که شقی (بدبخت)۔ په دے وجه د علی ؓ نه تپوس اوشو دتقدیر په باره کښې چه : ما التقدیر ؟ فقال : هو طریق مظلم فلا تسلکه، ثم قال : ما التقدیر ؟ فقال : بحر عمیق فلا تلجه۔ثم سال فاجاب : هذا سر الله قد خفی علیك فلا تفتشه (تاریخ الخلفاء للسیوطی ص : ۱۸۲) ۔(یعنی تقدیر څه شے دے؟ هغه اوفرمایل : دا تیاره والا لاره ده پدے مه روانیږه، بیا هغه اووئیل تقدیر څه دی ؟ ده اوفرمایل : دا یو ژور دریاب دے پدے کښې مه داخلیږه، بیا هغه تپوس اوکړو نو ده ورته اوفرمایل : دا د الله یو راز دے تا نه ئے پټ ساتلے دے نو ددے تالاش مه کوه)

د تقدیر د مفهوم تشریح او توضیح :

دتقدیر مطلب او معنی دا ده : چه الله تعالیٰ د شیونو دپیدائش نه مخکښې پوهه دے چه زه به دا انسانان، پیران، ملائك، آسمان، زمکه اودا باقی کائنات پیدا کوم اودا دا کارونه به په کښې کیږی، اودا ئے په لوح محفوظ کښې اولیکل چه داکار به کیږی دابه کیږی، نو په دے کښې چه په دنیا کښې کوم کارونه کیږی په دے کښې د الله تعالیٰ دطرفنه هیڅ ظلم نشته دے، تقدیر دیته نه وائی لکه دډیرو خلقو دا ګمان دے چه مثلاً دا فلانے سړے به ښه نیك عمله کارونه کوی خو ما اولیکل چه دا جهنمی او اُور والا دے، اودا بل سړے به بد کارونه کوی خو ما اولیکل چه جنتی شو۔ هسے بلا موجبه بلاسببه الله اولیکل داسے هیڅ کله نه ده بلکه دتقدیر معنی (حاصل) دادے چه مخلوق به زه پیدا کړم، هغوی له به اختیار ورکړم هغوی ته به رسولان اولیږم، عقل به

ورکړم، فطرت به ورله برابر کړم، دلائل به ورته نصب کړم، او نیکے بدے دوه لارے به ورته اوښایم ﴿ وهديناه النجدين ﴾ چه دایوه دخیر لار ده اودا بله دشر لار ده، په دے لاره که لارے نو اُورته به غورزیګے، مخکښ کنده ده، اوکه په دے بله لاره لاړے نو باغونو باندے به ور روان ئے۔ او دے انسان له به اختیار الله ورکړی نودا انسان به په خپل اختیار (خو دالله په فضل) په دے نیغه لار روان وی روان وی تردے چه جنتونو باغونو ته به اورسیږی۔ الله تعالی ته دا معلومه وه چه دده خاتمه ښه ده، داجنتی دے اوماته دا معلومه ده چه دا انسان به په دے نیکه لاره باندے روان وی، دا ئے ترمرګه پورے ورسره اولیکل۔ اودے بل انسان له به الله اختیار ورکړی دابه په خپله خوښه په غلطه روان وی زه به ورته دپیغمبرانو په ژبه اووایم چه مه ځه پدے لاره، دے به ضد کوی چه نه زه خو ځم نو دے به په دے لاره روان وی تردے چه کندے ته به پریوځی، نو الله اولیکل چه داکافر دے جهنمی دے اوماته دمخکښ نه معلوم دے چه دے به داسے کار کوی۔

په تقدیر کښ څه نقصان او ظلم شته ؟ نه، نه ! ددے مثال دپوهے دپاره دادے چه یو هوښیار سړے عالم دے په دے چه ددے کوځے په سر کښ یو کوهے دے چه انسان په کښ پریوځی نو غرق کیږی تباه کیږی، یو ړوند سړے په دے لاره روان دے نو دا ورته اووائی چه په دے لاره مه ځه دلته کوهے دے ورغورځیګے، لاره تنګه ده خامخا به ورغورځیګے، دا پریده په بله لاره لاړشه، خو هغه ړوند ددے سړی خبره اونه منی اوپه خپله طبع باندے په همدے لاره روان شی، نو دا سړے دلته خلقو ته اووائی چه اے خلقو ! تاسو پو هه شئ چه دا ړوند سړے به هلاکیږی، ماته دا پته ده چه خامخا به کوهی ته ورغورځیږی، نو کله چه دا ړوند هلته ورا ورسیږی نو واقعی په هغه کوهی کښ ورپریوځی او په کښ مړ شی اوخلق خبر شی چه جنازے له ئے راځئ۔ نو اوس به خلق ددے سړی په باره کښ دانه وائی چه یره دامخکښ نه چه پو هه وو دا سړے غلط سړے دے، نه بلکه دا دده کمال ګنړی، اودویم کمال ئے داهم ګنړی چه هغه ړوند سړے ئے منع هم کړو، خو هغه سینه زوری کوله خبره ئے نه منله، ده خو څه دیکه نه ده ورکړے اونه ئے پرے په زوره روان کړیدے، اونه ئے دهوکه کړیدے۔اوبل یو ړوند په لاره تیریږی نو دا سړے ورته اووائی چه دلته کوهے دے نو هغه ړوند دده خبره اومنی چه زه ړوند یم ته ماته ښه پوهیګے، ته زما لاس اونیسه، هغه ته دعاء هم اوکړی چه الله دے اجر درکړی چه زما مدد دِے اوکړو، هغه سړے دده لاس اونیسی او دنجات په نیغه لارئے روان کړی اوخپل مقصد ته اورسی۔نودلته دے پو هه شخص ددوارو ړندو سره احسان اوکړو لیکن هغه یو خبره اونه منله په ځان ئے ظلم اوکړو، او دے بل ړوند خبره اومنله نجات ته اورسیدو۔دا بعینه دتقدیر مثال دے چه ظلم په کښ نشته۔فتفکر !

۲ – دویم بحث : تقدیر الله تعالی په اسبابو سره لیکلے دے :

داسے نه ده چه الله تعالی وائی ما داشے داسے بلاسببه اولیکلو اوداسے به خامخا کیږی۔نه بلکه

دھر خیز دپاره ئے سبب مقرر کړیدے هغه ئے ورسره لیکلے دے لکه مثلاً دائے لیکلی دی چه دا کار به کیږی خو ددے سبب به داوی، نو جنت دپاره ئے هم څه اسباب لیکلی اود جهنم دپاره ئے هم اسباب لیکلی دی، دکفر، ایمان، نیکئ اوبدئ تولو دپاره ئے اسباب لیکلی دی۔ دپوهے دپاره ددے مثال دادے چه الله عز وجل چا دپاره په تقدیر کښ دا لیکلی وی چه ددے سړی به څوئے پیدا کیږی۔اوس یو سړے اووائی چه که الله ماله په تقدیر کښ بچے لیکلے وی نو هسے به ئے هم راکوی، واده ته څه ضرورت دے، یابه الله نه وی لیکلے نو هسے ئے هم نه راکوی، نو که زه شل ودونه اوکړم نو هسے ئے هم نه راکوی واده ته څه ضرورت دے، نو داسے سړی ته دهر چا په نیز کمعقل اوجاهل انسان وئیلے کیږی، ځکه چه الله د بچی پیدا کولو دپاره سبب لیکلے دے چه واده به اوکړے، بی بی سره به ملاؤ شے یو کال وغیره به تیر شی نو الله به درله بچے درکړی۔ دا قدری سبب دے، دنیا دار الاسباب دے الله همدغسے هم ورکولے شی مگر دنیا ئے دار الاسباب گرځولے ده۔ددے مثال په احادیثو کښ داسے دے لکه چه روستو حدیث راروان دے چه صحابوؓ عرض اوکړو یا رسول الله ! نیك عمل مونږ ولے کوو، که الله مونږ جنتیان لیکلی یو نو نیك عمل ته څه ضرورت دے هسے به ئے هم راکوی، ولے چه د الله لیکل نه بدلیږی، اوکه الله اُور والا لیکلی یو نو بیا دا خوارئ ولے کوو، خواری به هم اوکړو بیا به هم اُور ته ځو ولے چه دالله لیکل خو نه بدلیږی۔ ډیرو صحابوؓ دا سوال کړیدے (لکه په شفاء العلیل لابن القیمؒ کښ ئے اوګوره)۔اودا سوال دعامو خلقو په ذهن کښ هم راځی۔نبی اکرم ﷺ دهغے ښائسته جوابونه ورکړیدی۔یو دهغے نه دا جواب دے چه (اعملوا) عمل به کوئ ځکه دجنت حاصلولو دپاره الله سبب عمل گرځولے دے، وئیلی ئے دی چه که دے انسان ایمان اوعمل صالح اختیار کړو نوزه به ئے جنت ته بوځم، اوکه بد عمل ئے اختیار کړونو اُور ته به ئے بوځم ﴿ اُدۡخُلُوا الۡجَنَّةَ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴾ یو صحابی چه کله دا حدیث واوریدلو نو هغه اووئیل : زما مخکښ دنیك اعمالو سره شوق کم وو، اوس ډیر شو کما فی شفاء العلیل لابن القیم ص (۲۷) اوس راته معلومه شوه چه دا نیك عمل سبب او ذریعه دجنت ده، دے اعمالو کښ الله داطاقت اچولے دے چه انسان جنت ته راکاږی۔ بل مثال ئے په احادیثو کښ دا راغلے دے لکه روستوحدیث کښ راځی چه صحابوؓ تپوس اوکړو (ارأیت دواءً نتداوی به وتقاةً نتقیها ورقیً نسترقیها هل تردُّ مِنۡ قَدَرِ اللّٰہ ؟) ددے سوال لنډ مطلب دادے چه که الله رب العالمین مونږ دپاره بیماری لیکلی وی چه نن شپه به ته بیماریږے نو که ته دوائی استعمال کړے هم به بیماریګے اوکه ویے نه خورے نو هم به بیمار ئے، اوکه الله درله لیکلی وی چه که ته بهر اوځے نو یو سړے به دے وژنی نو ته ځان سره توپك وسله اوباسے هم وژنی به دے اوکه ویے نه باسے هم وژنی به دے، اودارنګه یو سړے الله بیمار لیکلے دے که دا دم اچوی اوکه نه نو بیمار به وی ځکه الله داسے لیکلی دے نو دوائی اودم او وسلے ته څه ضرورت دے ؟ نو نبی اکرم ﷺ ښه جواب ورکړیدے

(احادیثو کښې مختصر جواب وی خو ډیر جامعیت وی په کښې) نبی اکرم ﷺ اوفرمایل : (هی من قدر اللّٰه) یعنی الله په تقدیر کښې دا هم لیکلی وی چه دے سړی که په دے شپه فلانئ دوائی استعمال کړه نودا به لس منتو کښې ښه کیږی اوکه استعمال ئے نه کړه نو سحره پورے به بیمار اوسی۔اوکه وسله ورسره وی نودشمن به ورله مخے ته راشی او هغه به ترینه اوبریږی نو پټ به شی نو مړ به ئے نه کړی اوکه تش لاس وی نو سړے به ئے مړ کړی (بیا الله ته پته ده چه مړ کیږی اوکه نه) خودا اسباب ئے لیکلی وی۔

ددے نه زیات قوی روایت په بخاری کښې راغلے دے چه عمر فاروق رضی الله عنه یو ځل شام ته تلے وو جهاد د دپاره جابیه علاقه کښې وو، خبر شو چه په دغه علاقه کښې وباء بیماری لګیدلے ده، ملګری ئے راجمع کړل چه څه اوکړو (دے باره کښې ورته حدیث نه وو معلوم) که همداسے ورشو نو دجنګ نه په غیر به ملګری په وباء باندے مړه شی(اګرکه دا هم ددے امت شهادت دے کما فی الحدیث) نوچا اوونیل چه ورتګ پکار دے که الله زمونږ دپاره تقدیرکښې مرګ لیکلے وی نو هسے هم نشو بچ کیدلے اوچا اوونیلے چه په دے نه ورځو، په دے کښې دابو عبیده بن الجراح رضی الله عنه (جنتی عالم صحابی دے) د هغه دخولے نه یوه خبره را اووتله چه : (افراراً من قدر اللّٰه) آیا تاسو د الله دتقدیر نه تښتئ که الله بیماری لیکلی وی نو بیمار به شو اوکه نه ئے وی لیکلی نو نه به بیماریږو، داخبره ئے هغه وخت کښې اوکړه چه مشوره په دے پاس شوے وه چه نه ورځو۔اودا رائے او مشوره بالکل د شریعت مطابق وه، نو عمر فاروق رضی الله عنه ورته اوفرمایل : (لو غیرك قالها) یعنی که داخبره تانه علاوه بل چا کړے وے نو ښه به وه، ځکه ستا دشان او علم سره دا مناسبه نه ده، نو عمر فاروق رضی الله عنه ورته جواب ورکړو چه : (نفر من قدر اللّٰه الی قدر اللّٰه) – ډیر علمی جواب دے – یعنی مونږ د الله تقدیر نه دالله تقدیر طرفته تښتو۔یعنی الله تقدیر کښې دا هم لیکلی دی چه که په دے ورځ مونږ لاړنشو نو بیماری به نه لګی ځکه دا زمونږ بیرته واپس کیدل هم تقدیر کښې لیکلے شویدی، دا سبب دے دپاره دبچاؤ، په دے مینځ کښې یو صحابی عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه راغے هغه اوونیل : مادنبی اکرم ﷺ نه حدیث اوریدلے دے چه کله په یوځائے وباء بیماری اولګی نو هغه کلی ته مه ورځئ اوکله چه په کښې موجود وئ نو بیا ترینه مه راوځئ (فراراً منه) (چه ددے نه تیښته کوئ)، الله باندے بیا توکل کوئ۔نو دصحابو رضی الله عنهم مشوره بالکل دحدیث موافق شوه۔(مشوره کښې دومره خیر وی) ۔

۳ – دریم بحث : په تقدیر کی اول چا خبرے کړیدی ؟

نواول خبرے په تقدیر کښې معبد الجهنی متوفی (۸۰ هـ) په بصره کښې شروع کړیدی د (۶۲ هـ) کال نه پس۔ لکه په صحیح مسلم کښې راځی : کله چه په ده باندے عبد الله بن عمر رضی الله عنه خبر شو نو یو کس ئے وراولیګلو چه زه تانه بیزاره یم۔ په اصل کښې دمجوسو په اولاد کښې یو سړے وو چه دهغه نوم سُیسویه وو، په عراق کښې پیدا شو ، اومعبد الجهنی دهغه نه دا عقیده

زده کړه۔ ده او ده داتباعو لکه غیلان الدمشقی عقیده داوه :

۱ - چه الله تعالی د بندګانو تقدیر نه دے لیکلے او هر کار بنده ته سپارل شویدے، دهغه په اراده سره دے۔ نو بنده ځان ته هدایت هم کولے شی، او ځان ګمراه کولے هم شی، اوځان له خیر حاصلولے شی او شرنه ځان بچ کولے شی۔ او ټول کارونه نوی پیدا کیږی، مخکښ نه نه دی لیکل شوی۔ ۲ - او وائی : (الامر أُنُفٌ) : یعنی الله دمخکښ نه په کارونو دبندګانو عالم ندے او نه مخکښے تقدیر شته (العیاذ بالله) او دا اوله مرحله دقدریه وده دے قسم خلقو ته غلاة القدریه او القدریة الغالیة او القدریة الاولی وائی اود قدریهٔ دا مذهب پیدا شویدے په زمانه دآواخر الصحابة کښ بعد موت معاویهؓ۔

ددے وجے نه کشرانو صحابوؓ نه پرے ردونه نقل دی، او غټ بدعات په دغه دور کښ پیدا شو، لکه روافض (شیعه) قدریه، خوارج وغیره۔ شیخ الاسلام په الفتاوی (۳۸۴/۷) کښے وائی دصحابو ددور په اخر کښے بدعت دقدریه او مرجئه پیدا شو صحابو او تابعون لکه عبد الله بن عمر او ابن عباس اوجابربن عبد الله او واثله بن الاسقع پرے سخت انکار اوکړو اودامذهب اصل کښے سینسویه یا سیسویه مجوسی پیدا کړے وو او دهغه نه معبد الجهنی واخستو او په شام، عراق او بصره کښے خور شو، اوحجاز کښے پدے طریقه خور شو چه په سنه (۶۳ ھ) کښ کعبه اوسوزیدله نو یو سړی اووئیل : داپه تقدیر کښ لیکل شویدی چه سوزی به، نو بل شخص اووئیل چه د الله تقدیر نشته۔ **دویمه مرحله** : کله چه په قدریه غالیه و باندے ائمة المسلمین ردونه اوکړو نو دویم قسم اکثر قدریه و داعقیده اختیار کړه چه د الله علم متقدم (قدیم) هم شته او مخکښے نه لیکل په لوح محفوظ کښے هم شویدی لیکن دعموم مشیت د الله نه او دهغه دقدرت نه ئے انکار اوکړواو دا انکارئے اوکړو چه الله دبندګانو دکارونو خالق نه دے دارنګه وئیل به ئے : (ان الله لایخلق الشر)۔(الله شر نه پیدا کوی) دیته قدریه ثانیه وائی او ددوی ابتداء دمعتزله و نه شویده بیا فرمائی قدریه و به وئیل الله که د امر نه مخکښے پدے پوهه وی چه دا انسان به عصیان کوی نو بیا آمر لره مناسب ندی چه هغه ته امر وکړی دارنګه چه الله ته معلومه وی چه خلق به فسادکوی نو بیا دداسے قسم خلقو پیدا کول مناسب ندی دا قسم باطلے نظریے ئے پیدا کړے چه صحابه ددے نه خبر شو نو برائت ئے ترے اوکړو فتاوی (۳۶/۱۳)۔

بیا لیکی : خلق پدے بدعت کښے ډیر ننوتل او اکثر خلق دبصرے او شام او بعض مدینے والا هم پدے کښے شامل شو، اکثرو به خود تقدیر سابق اقرارکولو او کتاب متقدم به ئے هم منلو صرف نزاع دخلقو په اراده او خلق افعال العباد کښے شوه نو دوه ډلے شوے (۱) نفی کونکو به پکښ وئیل : نه د الله اراده شته او نه ئے مشیئت او الله صرف د هغه شی اراده کوی چه په کوم باندے امر کوی او د بندګانو د کارونو نه ئے هیڅ شے ندے پیدا کړے) (۲) هغه خلق چه په تقدیر

کښې ننوتي وو (جبريه) لکه جهم بن صفوان چه دوئ وئيلي وو: اراده صرف په معنئ د مشيئت ده او امر او نهي مستلزم نه دي ارادے لره او دوي دا هم وئيلي وو چه بنده دپاره بالکل خپل هيڅ فعل (کار) نشته او نه دده قدرت شته بلکه ددے ټولو کارونو د بنده دپاره کونکے او قادر صرف الله دے۔ (بنده ئے د کاڼړو او ونړکو په شان بے اختياره ګنړلے وو) (کذا فی کتاب القدرية لناصر العقل)۔

٤- څلورم بحث: اقسام القدرية:

شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په مجموع الفتاوی (۲/ ۳۰۰) اوالاستقامة (۱/ ٤۳۳) کښې درے اقسام ذکر کړيدي: ۱- **قدريه ابليسيه**: دوئ الله ته نسبت دګناهونو کوي چه په انسان باندے ګناه الله کوي، لکه ابليس چه وئيلي وو (فبما اغويتني) چه تا زه ګمراه کړم۔

۲- **قدريه مجوسيه**: چه دوه خالقان ګنړي، لکه دمجوسو پشان چه دوه خالقان ګنړي، يَزْدَان خالق دخير، او اَهْرَمَنْ خالق د شر، نودوئ هم وائي الله خالق د شر نه دے ځکه چه بيا به نسبت د شرور او قبائحو اوشي الله ته، او الله خو منزّه دے ددے نه۔ دارنګه وائي چه خلق دانسان قوي دے د خلق د الله نه ځکه الله په خلق د شر نه دے قادر او انسان قادر دے۔

جواب: الله خالق دخير هم دے او خالق دشر هم دے، ځکه که خالق د شر نشي نو عجز به ثابت شي ځکه خلق داضدادو دا بعينهٖ کمال قدرت دے۔ او نسبت دقبيح الله ته نه کيږي، ځکه چه الله کاسب دشر نه دے بلکه خالق دے، اوددے دواړو په مابين کښې ډير فرق دے۔ هغه دا چه خلق د قبيح قبيح نه دے او کسب دقبيح قبيح دے۔ (لکه د کلاشينکوف جوړول کمال دے او غلط استعمالول ئے قبيح دي دغه ئے مثال دے)۔ فتدبر!

۳- **قدريه آيسه**: چه قدريه مشرکيه ورته هم وائي داهغه دي چه دالله نه نا اميده شويدي چه الله به يا جهنم له پيدا کړي يو يابه جنت له نوعمل ته ضرورت نشته۔ ددوئ داخبره هم غلطه ده مخکښې تفصيلًا ددے رد تير شو۔

۵- پنځم بحث: فوائد التقدير فی الشرع

د تقدير ډير حکمتونه دي بعضے د هغے نه دا دي:

۱- **بيان احاطة علم الله**: چه زمونږ يقين په الله ډير شي چه دبندګانو عاقبت ورته دمخکښې نه معلوم دے۔ ۲- امام احمدؒ فرمائي: فيه بيان قدرة للّٰه)۔ (پدے کښې د الله د قدرت بيان دے)۔

۳- **عدم الاعجاب بالاعمال**: يعني نيک عملونو باندے فخر نه کول، ځکه پته نه لګي چه عاقبت او انجام څنګه جوړيږي۔ ٤- **عدم الحکم لاحد بالنار**: هيڅوا دپاره داُور فيصله نه کول۔

۵- **المبادرة الی الاعمال**: نيک عملونو کښې تادي کول۔ حديث کښې دي: چاله چه نيک اعمالو ته توفيق ورکړے شي نو دا علامه دسعادت ده۔ او چاله چه ګناهونو ته توفيق ورکړے شي نودا علامه د بدبختئ ده۔ ٦- **الالتجاء الی الله ليجعله من السعداء**: (الله ته زاري کول چه

انسان لره نيك جوړ كړي) ځكه كه عمل مؤثر محضه وي نو الله ته به زاري او دعاء نه وي، او الله تعالى ته د بنده دا زاري خوښه ده. بيا هرسړى چه نيك عمل كولے نو ځان ته به ئے جنتي وئيلے. ۷- چه انسان په غم خفه نشي او په خوشحاليو باندے پوره خوشحاله نشي، چه تكبر كښې راشي. اودا فائده قرآن كريم ذكر كړيده ﴿ لكيلا تاسو على ما فاتكم ولا تفرحوا بما آتاكم ﴾ (الحديد : ۲۳).

۸ - بله فائده دا چه الله تعالى دامورو مقدره دموجود كيدولو نه مخكښې په هغے باندے عالم دے، نو په دے سره د الله علمِ قديم ثابتيږي. ۹- هركله چه الله مقادير الخلائق مقرر كړيدي او مقادير صفات معينه مختصه ته وائي نو معلومه شوه چه الله عالم دے په جزئياتو دځيزونو باندے هم، نو په دے كښې رد دے په هغه فلاسفه او قدريه ؤ باندے چه الله عالم بالجزئيات نه گنړي. ۱۰ - دغه شان په تقدير كښې اشاره ده چه الله په خپلو افعالو كښې مختار دے، په خپل مشيئت او اراده سره ځيزونه پيداكوي، اودا خلق دده ذات سره داسے لازم نه دے چه گنې په طريقه داضطرار سره دے ترينه خپله خلق اوشي. ځنگه چه ديونان وغيره دفلاسفو رائے ده. ۱۱ - دارنگ تقدير دليل دے په حدوث د مقدور او په وجود بعد العدم باندے ځكه چه الله تعالى ئے اول اندازه كړيده بيا ئے پيدا كړي دي. دابعض فوائد شرح العقيدة الطحاويه ص (۲۷٤) كښې اوگوره. دغه شان نور ے فائدے هم شته، تقدير ے ځايه شے نه دے، بلكه عجيب او عظيم شے دے.

٦ - شپږم بحث : اقسام التقدير :

۱- تقدير مبرم : دا د الله اټله فيصله ده (وهوعلم الله المكتوب عنده) (او دا هغه علم دے چه الله ځان سره ليكلے دے) **۲- تقدير معلق** : ددے صورت دا دے چه يوه خبره ئے معلقه ليكلے وي، مثلًا كه دے سړي دمور پلار ادب كولو او رشتيا ئے وئيل نو عمر به ئے زياتوم، اوكه نه وي نو عمر به ئے كموم. اوديته اشاره شويده په دے قول د الله تعالى كښې ﴿ يمحو الله مايشاء ويثبت وعنده ام الكتاب ﴾ (رعد : ۳۹). اوديته تقدير المحو والاثبات هم وائي. **۳- سعادة ابن آدم وشقاوته فى بطن امه** : (د مور په خيټه كښې نيك بختي او بدبختي ليكل) دا تقدير د ملائكو په كتابونو كښې دے. او ديته التقدير فى بطن الام وائي. **٤- تقدير سنوى** : ديو كال تقدير ليكلے شي په ليلة القدر شپه كښې چه فلانے به مري، فلان بچے به پيدا كيږي ﴿ فيها يفرق كل امر حكيم ﴾ (الدخان : ٤).

۵- تقدير يومى : چه ملائك صبا او بيگاه راكوزيږي اوپه صحائفو كښې دمونځ گذار حال ليكي. اوديته اشاره ده په دے قول د الله تعالى كښې چه ﴿ كل يوم هو فى شان ﴾ (الرحمن : ۲۹).

فوائد خارجيه عجيبه په بحث د تقدير كښې

۱ - فائده : دتقدير نه ويريدونكي درے قسمه خلق دي : ۱- بعض خلق به دسابقه نه ويريدل چه الله تعالى به مونږ ځنگه ليكلي يو ﴿ ان الذين سبقت لهم منا الحسنى ﴾ الانبياء : [۱۰۰].

۲- بعض سلف به دخاتمے نه ویریدل، او وئیل به ئے: (لقد قطع خوف الخاتمة ظهور المتقین) (الجواب الکافی لابن القیم (٦٢)۔(د خاتمے نه یریدل د متقینو خلقو ملاگانے ماتے کړے)۳ – بعض خلق به دضیاع دوقت نه ویریدل چه مخکښ هرڅه وی، خو چه وقت مو بلاعبادت تیر نشی۔

۷ – اووم بحث: الفرق بین القدر والقضاء:

۱ – یوه طائفه دعلماؤ وائی: قدر او قضاء دواړه الفاظ مترادفه دی یوه معنی لری، لکه قاموس کښ دقدر معنی په قضاء او حکم سره کړیده اشاره ده اتحاد او ترادف ته۔

۲- بعض وائی: القدر هو علم الله السابق المکتوب، والقضاء اخراجه الی عالم الموجودات ۔(یعنی تقدیر د الله هغه مخکنے لیکلے شوی علم ته وائی او قضاء عالم د موجوداتو ته د هغه علم راویستلو ته وائی) ۳- قدر په منزله دنقشِ خیالی دے، او قضاء په هغے باندے قلم راښکلو ته وائی۔نو اول خیالی شے دے اودویم فعلی شے دے۔په تقدیر ایمان راوړل حقیقت دایمان ته رسیدل دی۔ لکه حدیث کښ دی: لایبلغ عبد حقیقة الایمان حتی یعلم ان ما اصابه لم یکن لیخطئه الخ۔(یو بنده حقیقت د ایمان ته نشی رسیدلے تر څو چه دا علم رانه ولی چه کوم شے ده ته رسیدلو نو هغه دده نه نه خطاء کیدو او کوم شے چه خطاء شو نو هغه ده ته نه رسیدو)

۸ – اتم بحث: مراتب التقدیر:

دتقدیر د پاره یوڅو مراتب دی چه په هغے څوك ایمان رانه وړی نو هغه په تقدیر باندے ایمان راوړونکے نه دے: ۱- علم الله تعالی بالاشیاء قبل کونها: دټول څیزونو دپیدائش نه مخکښے الله تعالی عالم وو پدے څیزونو باندے یعنی داالله په علم قدیم باندے ایمان لرل اوالله پدے علم قدیم سره دمخلوقاتو په ټولو هغه کارونو- چه هغوی ئے اوس یا آینده کوی- دازل نه پدے پوهه دے۔ ټول څیزونه که اشخاص وی که اوصاف که کارونه که حالات وی داټول دهغه دعلم موافق موجودیږی او داپه قرآن کریم کښے ډیر زیات ذکردے سورة البقره (۳۰) کی دی: قال انی اعلم ما لاتعلمون۔ سوره لقمان (آیت ۳۴) کښے دی: ﴿ان الله عنده علم الساعة وینزل الغیث ویعلم مافی الارحام وماتدری نفس ماذا تکسب غداً وما تدری نفس بارض تموت ان الله علیم خبیر﴾۔

۲- کتابة الله الاشیاء بواسطة القلم: یعنے الله تعالی داڅیزونه صرف دخپل علم نه نه موجود وی بلکه بیائے داعلمددے څیزونو په لوح محفوظ کښے دځان سره لیکلے هم دے دقلم په ذریعه سره لکه په حدیث کښ دی: (اول ما خلق الله فقال له اکتب قال ما اکتب قال اکتب ماهو کائن الی یوم القیامة) (اول الله قلم پیدا کړو هغه ته ئے اووئیل اولیکه نو هغه تر قیامته پورے څیزونه اولیکل) اوداقسم تقدیر په سورة یٰس (۱۲) آیت کښے ذکردے: ﴿ انا نحی الموتی ونکتب ماقدموا وآثارهم وکل شئ احصیناه فی امام مبین ﴾۔ دلته دوه قسمه کتاب ذکر دے یو (الکتاب السابق

لاعمالهم قبل وجودهم) (د انسانانو د وجود نه مخکښې څیزونه په لوح محفوظ کښې لیکل)، دویم هغه کتاب د دوئ داعمالو سره پیوست دے چه الله هغه دملائکو په ذریعه وقت په وقت لیکی۔ ۳- **مشیئته لذلك** : یعنې پدے باندے ایمان لرل چه الله تعالی څه غواړی هغه کیږی او هغه چه څه نه غواړی هغه نه کیږی لکه حدیث کښ دی : (ما شاء الله کان وما لم یشأ لم یکن)، او په زمکه او آسمانونو کښ هیڅ حرکت او سکون نه کیږی مګر صرف دالله په اراده سره اودهغه په بادشاهئ کښ بس صرف هغه څه موجودیږی چه هغه ئے اراده کړی وی دا مرتبه هم قرآن کښې ډیره راغلې ده :
﴿ وماتشاؤن الا ان یشاء الله﴾ ﴿ ولوشاء الله ماقتتلوا ﴾،﴿ كذالك الله یفعل مایشاء ﴾ العمران (٤٠)۔
٤- خلق الله الاعمال وتکوینه وایجاده لها، ای اخراج الاشیاء الی الوجود علی حسب ماعلمه منها :
یعنې کوم کارونه چه الله په تقدیر کښې لیکلی دی او په هغې باندے دمخکښې نه پوهه دے هغه دخپل علم مطابق خارج کښې موجودول او ددے کارونو خالق الله ګڼړل نه مخلوق لکه مجوس چه دوه خالقان ګڼړی خالق د خیر الله ګڼړی او خالق د شر شیطان ګڼړی ، او لکه قدریه چه خالق د افعال العباد بندګان ګنړی نه الله۔ حاصل دا چه په علم قدیم او بیا د هغه علم لیکل او بیا داکارونه دهغه په اراده سره موافق دهغه دعلم موجودول او ددے کارونو خالق صرف الله ګڼړلو سره دانسان ایمان په تقدیر باندے ثابتیږی که پدے مراتبو کښ یوه مرتبه خرابه شی نودا انسان مومن په تقدیر نه دے او ددے مراتبو ډیر تفصیل په شفاء العلیل (۹۳) دعلامه ابن القیم او العقیده الواسطیه (۱۵۳) دشیخ الاسلام ابن تیمیه کښې اوګوره چه مونږ دهغې جامع حاصل ذکرکړو۔
۹ - **نهم بحث** : دا عقیده لرل ضروری دی چه تقدیر کښ هیڅ قسم ظلم نشته ﴿وما الله یرید ظلماً للعباد﴾ نو اشکالات به نه راځی۔

الفصل الاول - اولنے فصل

۱- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «كَتَبَ اللهُ مَقَادِيْرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ اَنْ يَخْلُقَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضَ بِخَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ قَالَ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ». رواه مسلم۔

ترجمه : عبد الله بن عمرو ﷺ روایت کوی، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایلو : الله تعالی دآسمانونو او زمکے پیدا کولو نه پنځوس زره کاله مخکښ دمخلوقاتو تقدیرونه لیکلی دی او وے فرمایل : هغه وخت دالله عرش په اوبو باندے وو - (مسلم)۔
تشریح : كَتَبَ اللهُ مَقَادِيْرَ الْخَلَائِقِ : الله لیکلی دی تقدیرونه دمخلوقاتو پنځوس زره کاله مخکښ داسمان اود زمکے دپیدائش نه۔ کتب : کتابت دالله تعالی صفت دے الله لیکل کوی څنګه چه دهغه د الهی شان سره مناسب وی۔ دمخلوق پشان لیکل نه دی، ولے چه دهغه هر صفت دمخلوق دصفت

نه جدا دے۔ مقادیر : جمع دمقدار ده مایعرف به قدر الشئ وکمیته ته وائی یعنی هر هغه شے چه د بل څیز اندازه پرے معلومیږی، کله کله په معنی د تقدیر باندے هم استعمالیږی، اودلته هم دا معنی مراد ده یعنی کمیت او کیفیت دځیزونو ئے لیکلے دے۔ فائده : په کتب کښ اشاره ده چه تقدیر دالله تعالی هغه علم ته وائی چه مکتوب وی، نفس علم لرل دیته تقدیر نه وائی۔

بِخَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ : امام نووی فرمائی : علماؤ وئیلی دی چه دلته دتقدیر وخت نه دے مراد بلکه دکتابة المقادیر د وقت تحدید کوی چه دمقادیر الخلائق دلیکلو وخت دآسمانونو اوزمکو دپیدائش نه پنځوس زره کاله وړاندے شویدے۔ او اصلِ تقدیر نه دے مراد ځکه هغه خو ازلی ابدی دے د هغه دپاره اول نشته۔

قَبْلَ اَنْ يَخْلُقَ السَّمٰوٰتِ : په دے کښ اختلاف دے چه **قلم** مخکښ پیدا شویدے او که **عرش** وغیره۔ ۱ – یو قول دا دے چه قلم مخکښ پیدا دے، دلیل حدیث دعبادة دے چه په فصل ثانی کښ راروان دے (اول ما خلق الله القلم فقال له اکتب الخ) نودا حدیث ظاهر کښ دلیل دے چه اول په مخلوقاتو کښ قلم پیدا شویدے۔

۲ – دویم قول دشیخ الاسلام ابن تیمیة او علامه ابن القیم دے چه عرش، اوبه، هواء او زمانه وغیره دقلم نه مخکښ پیدا دی۔ علامه ابن قیم په النونیه کښ وائی : ●

والناس مختلفون فی القلم الذی ● کتب القضاء به من الدیان

هل کان قبل العرش او هو بعده ● قولان عند ابی العلاء الهمدانی

والحق ان العرش قبل لانه ● وقت الکتابة کان ذا ارکان

وکتابة القلم الشریف تعقبت ● ایجاده من غیر فصل زمان

شرح العقیده الواسطیة للهراس ص (۱۵٤)۔

(حقه دا ده چه عرش مخکښ دے ځکه دا وقت د کتابت دے او د قلم لیکل د هغه د پیدائش نه روستو دی چه مینځ کښ څه د زمانے جدائی نه وه)۔

واختاره فی شرح العقیده الطحاویه (۲٦٥/۱) دلیل دا دے چه دے حدیث کښ لفظ د(کان عرشه علی الماء) راغلے او کان دماضی صیغه ده یعنی مخکښ دکتابة المقادیر نه عرش په اوبو باندے وو، او اوبه په متن الریح باندے وے او بیا عرش داوبو نه نقل شو فوق السموات ته، نو عرش او اوبه او هواء قبل القلم پیدا دی، اود هغه حدیث متقدم نه جواب دادے چه اول ما خلق الله کښ اولیت نه مراد اولیت اضافی دے یعنی د نور مخلوق په نسبت سیوا دعرش، اوبو او هواء نه قلم مخکښ پیدا دے۔ دهغه حدیث تفصیل به راشی۔

فائده : په دے حدیث کښ غرض دالله لوئی او زیادت علم اوقدرت بیان شوے چه الله رب العزت په ټول مخلوق باندے دمخکښ نه عالم دے دآسمان او زمکے دپیدائش راسے په لکونو

کلونه کیږي اوبیا دهغې دپیدائش نه پنځوس زره کاله مخکښ دمخلوق تقدیرئے لیکلے دے، عظیم قدرت د الله دے انسان په کښ حیرانیږي

۲- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ حَتّٰى الْعَجْزُ وَالْكَيْسُ». رواه مسلم.

ترجمه: عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه: هر څيز تقدیر سره کیږي تردے چه هوښیارتیا او کم عقلي (هم تقدیر سره کیږي).

تشریح: كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ: یعنی هر شے چه موجودیږي نو ددے د مخکښ نه تقدیر اولیکنه شویده چه دا شے په دومره اندازه په فلاني وخت کښ به موجودیږي، که خیر وي اوکه شر وي. حَتّٰى الْعَجْزُ وَالْكَيْسُ: عجز په فتح دعین او کیس په فتحه دکاف سره: ۱- عجز حمق او کم عقلتیا ته وائي او الکیس هوښیارتیا ته وائي. ۲- یا کسره دعین ده عاجز کیدل، بے طاقته کیدل. بیا به ددے ضد حذف وي یعنی (حتى العجز والقدرة، والكيس والبلادة بقدر الله) ـ (عاجز کیدل او قدرت، هوښیاري، اوبے وقوفي ټول د الله په تقدیر دي) په العجز والکیس کښ درے قرائته جائز دي لکه (اكلت السمكة حتى رأسها) پشان. که حتی جاره شي نو عجز او کیس به مجرور وي، وهو الاوجه. ۲- اوکه حتی ابتدائیه شي نو عجز او کیس به مرفوع بنا برابتدائیت وي او خبر به ئے محذوف وي ای بقدر الله اومقدوران. ۳- یا منصوب دي او حتی عاطفه ده.

سوال: دعجز او کیس جدا تذکره ولے اوشوه سره ددے چه دا په کل شئ کښ داخل دي؟.

جواب: په دے کښ اشاره ده دیته چه تقدیر داعراضو هم کیږي پاتے لا دجواهرو او اجسامو، یعنی دانسان کم عقلتیا او هوښیارتیا (چه اعراض دي) هم الله په تقدیر کښ لیکلي دي چه فلانے به دومره کم عقل وي فلانے به دومره هوښیار وي. دانسان دحال موافق لیکلے شویدي ـ وفیه المصلحة.

۳- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِحْتَجَّ آدَمُ وَمُوْسٰى عِنْدَ رَبِّهِمَا فَحَجَّ آدَمُ مُوْسٰى. قَالَ مُوْسٰى: اَنْتَ آدَمُ الَّذِيْ خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِهٖ وَنَفَخَ فِيْكَ مِنْ رُوْحِهٖ وَاَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهٗ وَاَسْكَنَكَ فِيْ جَنَّتِهٖ ثُمَّ اَهْبَطْتَ النَّاسَ بِخَطِيْئَتِكَ اِلَى الْاَرْضِ. قَالَ آدَمُ: اَنْتَ مُوْسَى الَّذِي اصْطَفَاكَ اللهُ بِرِسَالَتِهٖ وَبِكَلَامِهٖ وَاَعْطَاكَ الْاَلْوَاحَ فِيْهَا تِبْيَانُ كُلِّ شَيْءٍ وَقَرَّبَكَ نَجِيًّا فَبِكَمْ وَجَدْتَّ اللهَ كَتَبَ التَّوْرَاةَ قَبْلَ اَنْ اُخْلَقَ؟ قَالَ مُوْسٰى: بِاَرْبَعِيْنَ عَامًا. قَالَ آدَمُ: فَهَلْ وَجَدْتَّ فِيْهَا: ﴿وَعَصٰى آدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى﴾؟ قَالَ: نَعَمْ!. قَالَ: اَفَتَلُوْمُنِيْ عَلٰى اَنْ عَمِلْتُ عَمَلًا كَتَبَهُ اللهُ عَلَيَّ اَنْ اَعْمَلَهٗ قَبْلَ اَنْ يَّخْلُقَنِيْ بِاَرْبَعِيْنَ سَنَةً؟. قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «فَحَجَّ آدَمُ

مُوْسٰی»). رواه مسلم۔

ترجمه : ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل (عالم ارواح کښې) آدم او موسی علیهما السلام دخپل رب مخکښې مناظره (بحث او مباحثه) اوکړه، او آدم علیه السلام په موسی علیه السلام باندې غالب راغې۔ موسی علیه السلام اووئیل : ته هغه آدم ئې چه الله خپل لاس سره جوړ کړې وې، په تا کښې ئې روح اچولے وو، ملائکو باندې ئې تا ته سجده کړې وه او خپل جنت کښې ئې ته اوسولے وې، او بیا تا خپلے خطا سره خلق زمکے ته راکوز کړل (یعنی که تا خطا نه وې کړې نو زمکے ته به نه وې راکوز کړې شوی اوستا اولاد به دې دنیا کښې نه خوریدلو، بلکه جنت کښې به وو) آدم علیه السلام ورته اووئیل : ته هغه موسی ئې چه الله خپل منصب رسالت در کولو سره غوره کړې وې او خپل کلام کولو سره ئې تا له عزت درکړو، اوتاته ئې هغه تختئ در کړې وې چه هغې کښې دهر څیز بیان وو، او بیا تاته ئې د سرګوشئ (غوږ کښې خبرو) کولو سره د رانزدې کولو عزت در اوبښلو، نو آیا تاته معلومه ده چه الله زما دپیدائش نه څومره مخکښې تورات لیکلے وو، موسی علیه السلام اووئیل : څلویښت کاله مخکښې، آدم علیه السلام ترې تپوس اوکړو، آیا تا تورات کښې دا ئې کلې الفاظ (یعنی ددې مضمون) نه دی بیاموندی : وعصی آدم ربه فغوی : یعنې آدم علیه السلام دخپل رب نافرنی اوکړه او خطا شو۔ موسی علیه السلام اووئیل : آو۔ هغه اووئیل : بیا ته ما په داسې عمل ولې ملامته کوې چه هغه الله زما دپیدائش نه څلویښت کاله مخکښې ما دپاره لیکلے وو۔ نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمایلو (دې دلیل سره) آدم علیه السلام په موسی علیه السلام باندې غالب راغې (مسلم)۔

تشریح : اِحْتَجَّ آدَمُ وَمُوْسٰی عِنْدَ رَبِّهِمَا : په دې حدیث کښې دآدم او موسی علیهما السلام مناظره شویده او نبی اکرم ﷺ ئې ثالث دې آدم علیه السلام وړ او موسی علیه السلام پړ دې اوهغه خپل پرتوب منلے دې، او د انصاف تقاضا دا ده چه کله انسان پړشي نو ضد اوعناد اونکړي، دا خو زمونږ دزمانې نا اهله خلق دی چه دتعصب نه کار اخلي، حق ته نظر نکوی خو ځان وړکوی، خپله خبره خامخا بهر صورت حاکم کوی، بهتان لګوی او فساد کوی، خو ځان کامیابئ ته په زوره رسوی۔ حاصل دمناظرې دا دې چه آدم علیه السلام ته موسی علیه السلام اوفرمائیل : تا له الله دومره اکرام اوکړو چه په خپل لاس ئې پیدا کړې، روح ئې درکښې واچولو اود ملائکو مسجود ئې اوګرځولے بیا دې په خپلې ګناه سره خلق دجنت نه زمکے ته راکوز کړل۔ آدم علیه السلام اوفرمائیل :ته هغه موسی ئې چه الله په خپل رسالت او کلام غوره کړې او بیا ئې درله تورات په تختو کښې (لیکلے) درکړو، او نجی (راز دار) ئې اوګرځولے نو تاته تپوس کوم چه زما دپیدائش نه الله تعالی تورات څومره موده مخکښې لیکلے دې ؟ موسی ورته اووئیل : تورات کښې الله ماته لیکلی وو چه دا تورات دآدم دپیدائش نه څلویښت کاله مخکښې ما لیکلے

دے، نو بیا ورتہ آدم علیہ السلام اوفرمایل : آیا پہ تورات کښ تا ددے الفاظو معنی موندلے دہ چہ ﴿ وَعَصٰی آدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰی ﴾ [مخالفت اوکړو آدم دحکم درب خپل پس ژوند ئے خراب شو، یا مراد تہ اونہ رسیدو] موسی اووئیل : آو، آدم علیہ السلام اوفرمائیل : اے موسی ! آیا تہ ما پہ هغہ عمل باندے ملامتہ کوے چہ اللہ ما دپارہ زما دپیدائش نہ څلویښت کالہ وړاندے لیکلے دے ؟ نو نبی اکرم ﷺ (چہ ثالث دے) فرمائی : آدم علیہ السلام پہ موسی علیہ السلام باندے پہ مناظرہ کښ غالب شو۔

فوائد الحدیث : ۱- فائدہ : مناظرہ سنت عمل دے نبی اکرم ﷺ دیهودو سرہ کړیدہ، او ابراهیم علیہ السلام دنمرود سرہ کړیدہ، او موسی علیہ السلام دآدم او ساحرانو سرہ کړیدہ۔ غرض پہ مناظرہ کښ اظهار دحق وی ځکہ دمناظرے معنی دہ (النظر فی دلیل الجانبین) (د جانبینو پہ دلائلو کښ کتل) چہ دچا سرہ حق او دلیل دے؟۔ ۲- موسی دآدم علیهما السلام سرہ کړیدہ اشارہ دہ چہ ځوئی دپلار سرہ مناظرہ کولے شی، اودا بے ادبی نہ دہ بلکہ حق واضح کول مقصود دی، نو کوم دوچے شیخان چہ د شاگرد مناظرہ د استاذ سرہ بے ادبی گڼړی نو دا غلطہ خبرہ دہ۔

عندربهما : د اللہ پہ دربار کښ، ددے نہ مراد : ۱- یا عالم الارواح دے (چہ ددواړو روحونہ جنت تہ تلی دی) او هلتہ دا مناظرہ شوے۔ ۲- یا پہ زمانہ دموسی علیہ السلام کښ آدم علیہ السلام اللہ راژوندے کړے معجزةً۔ ۳- یا ورتہ کشف د قبر شویدے اودا معجزہ د موسی علیہ السلام دہ۔ ٤- اویا داپہ عالم البرزخ کښ شویدہ کلہ چہ موسی وفات شو، وهو الظاهر۔

فَحَجَّ آدَمُ مُوسٰی : دا د نبی اکرم ﷺ ثالثی فیصلہ دہ چہ مونږ تہ ئے اورولے دہ، اوددے نہ پس تفصیل دمناظرے بیانوی۔

خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِهٖ : ید لاس تہ وائی اود اللہ لاس شتہ څنګہ چہ د هغہ دشان سرہ مناسب وی، دمخلوق دلاس پشان نہ دے۔ اود لاس معنی دلتہ پہ قدرت سرہ کول غلط دی اگر چہ پہ نورو ځایونو کښ پہ لغت دعربئ کښ ید پہ معنی دقدرت سرہ راغلے مگر دلتہ د اللہ پہ صفت کښ راغلے دے، دلتہ دقدرت معنی نشی اخستے، ځکہ پہ دے کښ ابطال دصفت د اللہ راځی۔ دغہ شان ﴿ ما خلقت بیدیّ) سرہ بہ څہ کوے آیا هلتہ قُدْرَتَیَّ وئیلے شے ؟ نہ، ځکہ چہ اللہ یو قدرت کافی دے نو قدرتین څہ معنی لری ؟ بل دا چہ قدرت خو مصدر دے دا نہ تثنیہ کیږی اونہ جمع کیږی۔ بل دا چہ پہ حدیث کښ صراحةً ذکر شویدی چہ درے څیزونہ اللہ تعالی پہ خپل لاس پیدا کړیدی : ۱- آدم۔ ۲- شجرة الطوبی فی الجنة۔ ۳- اوتورات ئے پہ خپل لاس لیکلے دے۔ دلتہ دقدرت معنی بالکل نشی کیدلے ځکہ بیا ددے درے څیزونو دتخصیص هیڅ فائدہ نشتہ۔ولے چہ هرشے اللہ تعالی پہ خپل قدرت سرہ پیدا کړے نو دا درے څیزونہ ئے ولے خاص کړل معلومیږی چہ داللہ لاس شتہ دے، او قدرت معنی هم اخستے شی خو پہ بل ځائے کښ

مګر هله چه د الله د ید صفت منې، اوکه ید حقیقي نه منې بلکه ددې تاویل په قدرت سره کوي، نودا سلفو صالحینو دعقیدې په خلاف بغاوت دې. کما بسط في موضعه.

مِنْ رُوْحِهٖ : دا اضافت تشریفي دې یعنی هغه روح چه الله پیدا کړیدې او آدم کښې اچولې دې په خپل قدرتِ کامله سره. دروح ډیر تعریفونه علماؤ کړیدي لکه علامه ابن القیمؒ (۲۲) پورې رسولي دي. ښه تعریف دا دې چه : ﴿ وما اوتیتم من العلم الا قلیلاً ﴾ دروح په حقیقت باندې انسانان نه پوهیږي، صرف دا چه روح هغه شے دې چه په بدن کښې وي نوانسان یا حیوان ژوندې وي، اوکله چه دبدن نه اووځي نومړ کیږي، ډیر پاك مخلوق دې چه انسان ورسره نه بدبویه کیږي کله چه د بدن نه اوځي نو یو ورځ کښې بدن خراب شي.

ثُمَّ اَهْبَطْتَّ النَّاسَ بِخَطِیْئَتِكَ

مسئله د عصمة الانبیاء

د انبیائے کرامو علیهم السلام خطایا په کومه درجه کښې دي ؟

نو : ۱- د شیعه ګانو مذهب دادې چه انبیاء معصوم دي دګناهونو نه قبل النبوة وبعد ها، دصغائرو او کبائرو تولو نه، الا عن الکفر (مګر د کفر کولو نه ندي معصوم) (والعیاذ بالله).

۲- د بعض اهل سنت لکه ابو حنیفةؒ، مالكؒ، شافعيؒ مذهب دادې چه انبیاء دصغائرو نه معصوم دي لکه څنګه چه کبائرو نه معصوم دي قبل النبوة وبعد ها.

دلیل دادې چه مونږ ته حکم شویدې په اتباع دانبیاؤ سره په افعالو، آثارو او سیرت ددوئ کښې مطلقاً. نوکه صغائر ترینه صادر شي نوبیا اقتداء څنګه صحیح کیږي، ځکه بیا خو په ګناه کښې اقتداء راځي. ۳- دویم قول داکثر اهل سنتو لکه امام ابن جریر الطبري، فقهاؤ، متکلمینو او محدثینو دې. شیخ الاسلام ابن تیمیه فرمائي : وهو قول اکثر علماء الاسلام وجمیع الطوائف واکثر اهل التفسیر والحدیث والفقهاء (مجموعة الفتاوی ٤/ ۳۱۹) :

هغه دا چه دوئ وائي : انبیاء قبل النبوة او بعد النبوة دکبائرو نه معصوم دي. البته صغائر ترینه صادر شویدي. (بیا ددې دا مطلب نه دې چه انسان به دانبیاء کرامو ګناهونه بار بار ذکر کوي، ځکه دا کار حرام دې بلکه یو کرت نیم بغیر داصرار نه د دوئ نه صغیره صادریدلې شي دوجې د دلائلو نه، فلا حجة فیه للحروریة واهل الضلال).

دلیل په دې باندې دا دې چه الله تعالی دانبیاء کرامو علیهم السلام دګناهونو نه خبر ورکړیدې ، اود هغوی نسیان او عتاب او توبه ئې ذکر کړیده، نو که صغائر ترینه صادر اونه وئیلې شي نو بیا به په دغه آیتونو کښې تاویل راشي اواکثر ځایونه داسې دي چه تاویل هم نه قبلوي. اودا صغائر ګناهونه صادریدل د دوئ په منصبِ نبوت باندې عیب نه لګوي، ځکه چه دا خطأً او نسیاناً شویدي، یا په نیت د تاویل سره شویدي، او علی سبیل الندرت دي، نودا په

نسبت سره انبیاؤ ته سیئات دی او په نسبت سره غیر انبیاؤ ته حسنات دی۔ ځکه چه دانبیاؤ قدر او مرتبه ډیره لویه ده، او حسنات الابرار سیئات المقربین قانون دے۔ * بل دا چه انبیاء کرام علیهم السلام خپله اقرار دګناهونو کړیدے او قیامت کښ به هم اقرار کوی لکه په حدیث د شفاعة کښ به راشی۔

اودا قول امام قرطبیؒ غوره کړیدے کمافی تفسیره (۱/۳۰۸) واختاره شیخ الاسلام فی فتاواه (۴/۳۱۹) * بیا په مفتاح دار السعاده ص (۳۵۸) کښ ددے فوائد او حکمتونه ذکر کړیدی چه دانبیاء کرامو نه ګناهونه ولے کیږی؟

* نو یو حکمت ئے دا دے چه دالله تعالی دپاره بے شماره اسماءِ حسنیٰ دی، اود هر یو اسم یو اثر وی په مخلوقاتو کښ چه هغه مرتب وی په دغه اسم باندے لکه رازق یو نوم دے ددے اثر په مخلوق کښ رزق ورکول دی، اولکه رحیم او غفور دوه نومونه دی ددے اثر رحمت او مغفرت دے په مخلوق کښ۔نو که په بندګانو کښ ګناهګار انسانان نه وی موجود، نو بیا به مغفرت چاته اوکړی۔ نو بیا دالله ددے اسم اثر نه ښکاری۔

۲- دویم دا چه دګناه په وجه دعبد پوره عبدیت ښکاره کیږی ځکه چه انسان ګناه اوکړی نو دا به الله ته انقیاد او ذلیل شی اودا پوره عبودیت دے نو کامل په مخلوقاتو کښ هغه څوک دے چه کامل عبودیت والا وی، الله ته پوره عاجز او ذلیل وی۔

۳- دریم دا چه الله تعالی خپل عبد ته دا ښائی چه زما علم فراخه دے اورحمت مے فراخه دے اوکه زه اوغواړم نو په ګناه باندے زر را اونیسم او خلقو ته به دے اوشرموم چه ژوند به درسره نشی تیرولے، لیکن سره ددے نه ما دباندے پرده اچولے ده، نو په دے کښ بنده ته د الله حِلم او بردباری، کرم او رحمت معلومیږی۔

۴- څلورم دا چه بنده ته دا اوښائی چه لاره دنجاة نشته سیوا ددے نه چه زه درته مغفرت او عفو اوکړم، نو د الله مغفرت ته هر انسان محتاج دے لکه چه دهغه فضل او رحمت ته هر څوک اګرکه پیغمبران ولے نه وی محتاج دی۔

۵- پنځم دا چه کله انسان ګناه نه کوی نو دهغه زړه سخت کیږی اوچه کله ګناه اوکړی نو زړه کښ نرمی پیدا شی نو الله ته توجه پیدا شی، لکه بعض سلفو وئیلی دی : دخل رجل بسیئة الجنة ودخل آخر بالحسنة النار لانه یذکرها الخ) ۔ (یو انسان په ګناه سره جنت ته داخل شو او بل انسان په نیکئ سره جهنم ته داخل شو ځکه ګناهګار ځان ذلیل او عاجز ګنړی اوهر وخت خپله ګناه یادوی او نیکی کونکے هر وخت خپله نیکی یادوی نو د الله د رحمت نه پریوځی)

فَبِکُمْ : تمییز حذف دے ای فبکم مدة علمت باللّٰه) ۔اوس دلته **سوال** واردیږی چه داسے احتجاج بالتقدیر کول خو طریقه دابلیس ده، نو آدم علیه السلام څنګه احتجاج دخپل معصیت دپاره په

تقدیر باندے کوی۔ ● دغه شان وجه دغلبے دآدم څه ده په موسی باندے؟

جواب دادے: چه تقدیر باندے احتجاج کول (دلیل نیول) دوه قسمه دی:

۱- یو قبل العمل چه انسان لا گناه نه وی کړی او وائی زه دا گناه کوم یا ځان سین ته غورځوم دابه ما دپاره لیکلے شوی وی، نودا خلاف شریعت کار دے، اوطریقه دابلیس ده اود مشرکانو عمل دے ځکه چه مشرکانو ته اووئیل شو چه دا شرك ولے کوئ نو هغوی احتجاج بالتقدیر کوی چه دا مونږ ځکه کوو چه الله په دے راضی دے ﴿وقال الذین اشرکوا لوشاء الله ما عبدنا من دونه من شيءٍ نحن ولا آباء نا﴾ (النحل: ۳۵)۔

۲- دویم بعد المعصیة دے چه انسان نه گناه اوشی او توبه اوباسی او بیائے څوك ملامته کوی، نو هغه احتجاج بالتقدیر اوکړی چه دابه ما دپاره الله لیکلی دی ځکه مانه صادره شوه۔ نو **دا** احتجاج جائز دے۔ اودلته هم احتجاج دآدم علیه السلام بعد المعصیة دے۔

۳- **جواب** دا دے چه: موسی علیه السلام آدم علیه السلام په هغه مصیبت ملامت کولو چه هغه اولاد آدم ته اورسیدو چه دجنت نه را اوتل اودار الابتلاء والمحن ته راغلل، دا وجه ده چه هغه ته ئے خطیئة لفظ ذکر کړو چه داسبب ددے مصیبت وو، نو آدم علیه السلام احتجاج په تقدیر باندے اوکړو په دے مصیبت کښ او وے فرمایل چه دا مصیبت چه زما اولاد ته اورسیدو په سبب دگناه زما باندے نو دا زما دپیدائش نه مخکښ په تقدیر کښ لیکل شوے وو۔ او په تقدیر باندے احتجاج په مصائبو کښ صحیح دے نه په معائبو کښ۔ اودلته هم آدم علیه السلام عیب په تقدیر نه لگولو۔ دا دواړه جوابونه علامه ابن القیمؒ په شفاء العلیل (۳۱/۱) کښ ذکر کړیدی۔

● **او وجه دغلبے دآدم** په موسی باندے داده چه: ۱- آدم علیه السلام پلار دے اوموسی ځوئے دے اوځوئے له ادب پکار دے نو هغه ادباً غلے شویدے لیکن داوجه ضعیف ده، ځکه حق که دهر چا سره وی دهغے تابعداری پکار ده، دلیل له اعتبار دے، ابراهیم علیه السلام په خپل پلار باندے رد کړیدے۔ ﴿یآبت لم تعبد مالا یسمع﴾ (مریم: ٤۲) ۔۲- دویمه وجه دا ده چه ځکه غالب شویدے چه ملامتیا دموسی علیه السلام په یو شریعت کښ ده او گناه دآدم په بل شریعت کښ ده، نوشریعتونه جدا جدا دی۔ ځکه آدم غالبه شویدے، لیکن دا وجه هم ضعیفه ده، ځکه چه روستنی امتونه به گواهی ورکوی په مخکنی امتونو باندے او هغه خلق به ملامته کوی، کومو چه مخالفت درسولانو کړیدے، نو جدا والے د شریعت دا مضر نه دے ملامتیا ته۔

۳- دریمه وجه دا ده چه ملامته کول دگنا هگار په دوه قسمه دی۔ ● یو قبل التوبه نودا جائز دی ● او بل بعد التوبه دی نودا ناجائز دی، ځکه داپیغور دے (التائب من الذنب کمن لاذنب له)۔ (توبه ویستونکے د گناه نه داسے دے لکه چه گناه ئے نه وی کړی) اودلته موسی علیه السلام آدم علیه السلام بعد التوبه ملامته کوی نو ځکه مغلوب شویدے۔ دا وجه هم ضعیفه ده۔ ځکه

چه آدم داسې نه دی وئیلی چه (اتلومنی علی ذنب قد تبتُ منه) (تـه ما په هغه گناه ملامته کوې چه ما تربې توبه ویستلې ده) * بـلـه دا چه موسی علیه السلام اعرف بالله او کلیم الرحمن دې نو څنگه هغه شخص ملامته کړی چه هغه توبه ویستلې وی؟، حال دا چه داکار خو عام مؤمن هم نه کوی !۔

٤ - څلورمه وجه دا ده چه دا ملامتیا په عالم الارواح کښې وه، او هغه دار التکلیف نه دې او په غیر عالم التکلیف کښې ملامتیا نه وی، نو څکه مغلوب شو۔ دا وجه هم ضعیفه ده، څکه آدم ورته دا نه دی وئیلی چه (اتلومنی فی غیر دار التکلیف) (تـه ما پـه غیـر دار التکلیف کښې ملامته کوې) دارنگه موسی خو هغه ملامته کولو نو آیا هغه ته دانه ده معلومه چه دا دار التکلیف او عالم التکلیف نه دې ! بـه ورته معلومه وه خو بیا ئې هم ملامته کړو۔

٥ - پـنـځـمـه صحیح وجه دا ده چه موسی علیه السلام څکه مغلوب شویدې چه دفعل دوه قسمـه نسبته دی : ۱ - یو نسبت الله ته دې بعلمهٖ وقدرتهٖ ومشیئتهٖ، (چه د الله په علم او قدرت او اراده سـره شـویـدې) پـه دې کـښې الـوهـیـت پـروت دې۔ ۲ - دویم نسبت عبدتـه دې بکسبهٖ واختیـارهٖ، (چه دده په کسب او اختیار سره شویدې) نو بنده چه یو عمل کوی نو په ده کښې دا دوه نسبتـونـه وی، یـو دا چـه د الـلـه عـلم او قدرت او مشیئت او تقدیر ته اوگورې نو دا عمل په انسان بـانـدې الله کوی د هغه په قدرت او تسلط باندې کیږی۔ او چه دبنده اختیار او کسب ته اوگورې چه ده کـښې عبـودیت پـروت دې نـو دا څنگه دالله خلاف کوی په یو معصیت کښې به دې دواړو طـرفـونـو ته کتلې شی، الوهیة الله، او عبودیة العبد ته۔ او موسی علیه السلام یو طرفته اوکتل چـه اختیـار اوکسب الـعبـد (عبـودیت) دې نو ملامته ئې کړو، او بل طرفته ته ئې اونه کتل چه د الـلـه تسلط او قدرت دې نو څکه مغلوب شو۔ اودا جواب شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ ذکر کړیدې او عـلامه ابن القیمؒ په شفاء العلیل ص (۳۱) کښې نقل کړیدې۔ ډیر علمی جواب دې که څوك پرې پـو هـه شی۔ نـو کـوم کـسـان چـه صـرف مشیئت ته گوری نو هغه نه جبری جوړیږی اوکوم چه صرف د بنده کسب ته گوری نو هغه نه قدری منکر التقدیر جوړیږی۔

---

٤ - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوْقُ: «اِنَّ خَلْقَ اَحَدِكُمْ يُجْمَعُ فِيْ بَطْنِ اُمِّهٖ اَرْبَعِيْنَ يَوْمًا نُطْفَةً ثُمَّ يَكُوْنُ عَلَقَةً مِثْلَ ذٰلِكَ، ثُمَّ يَكُوْنُ مُضْغَةً مِثْلَ ذٰلِكَ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ اِلَيْهِ مَلَكًا بِاَرْبَعِ كَلِمَاتٍ فَيَكْتُبُ عَمَلَهٗ وَاَجَلَهٗ وَرِزْقَهٗ وَشَقِيٌّ اَوْ سَعِيْدٌ ثُمَّ يَنْفُخُ فِيْهِ الرُّوْحَ فَوَ الَّذِيْ لَا اِلٰهَ غَيْرُهٗ اِنَّ اَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ اَهْلِ الْجَنَّةِ حَتّٰى مَا يَكُوْنُ بَيْنَهٗ وَبَيْنَهَا اِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ اَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا، وَاِنَّ اَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ اَهْلِ النَّارِ حَتّٰى مَا يَكُوْنُ بَيْنَهٗ وَبَيْنَهَا اِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ اَهْلِ

الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا». متفق علیه۔

ترجمه: ابن مسعود ﷺ نه روایت دے چه صادق مصدوق (رشتینے او رشتیا ورته وئیلے شوی ددوارو جهانو سردار ﷺ) مونږ ته اوفرمائیل: تاسو کښ دهر سړی پیدا ئش داسې کیږی چه مخکښ دهغه نطفه دمور خیټه کښ څلویښت ورځے جمع وی (پرته وی) بیا دومره ورځے (یعنے څلویښت ورځو) نه پس هغه چکه وینه جوړیږی، بیا دومره ورځے پس هغه دغوښے ټکړه شی، بیا الله تعالی هغے ته یو ملائك څلورو خبرو دپاره را لیږی هغه ملائك دهغه: ۱- عمل ۲ - دهغه دمرګ وخت ۳ - دهغه د رزق مقدار۔ ٤- اودهغه بدبخت او نیك بخت کیدل (دالله په حکم سره) دهغه تقدیر کښ لیکی۔ قسم دے په هغه ذات چه دهغه نه سِوا بل هیڅوك دعبادت لا ئق نشته، تاسو کښ یو سړے دجنتیانو په شان عمل کوی تردے چه دهغه اوجنت مینځ کښ صرف د یو لاس فاصله پاتے شی چه د تقدیر لیك رامخکښے شی او هغه د دوزخیانو په شان عمل کول شروع کړی اوهغه دوزخ کښ داخل شی، او تاسو کښ یو سړے ددوزخیانو پشان اعمال کوی تردے چه دهغه اودوزخ مینځ کښ صرف د یو لاس فاصله پاتے شی چه د تقدیر لیك راوړاندے شی او هغه دجنتیانو پشان عمل شروع کړی اوجنت کښ داخل شی۔ (بخاری اومسلم)۔

تشریح: حَدَّثَنَا: حدثنا او اخبرنا په یوه معنی دی چه کله ئے صحابی استعمال کړی، محدثین فرق کوی، حدثنا کښے استاذ قاری وی او اخبرنا کښ شاګرد قاری وی استاذ مستمع وی۔ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوْقُ: یعنی خپله هم رشتینے دے اود الله دطرفنه ورته هم رشتیا وئیلے شویدی، یو انسان چه دروغژن ګرځی یا خو خپله دروغ وائی یا خپله رشتینے وی خو بل چا ورته دروغ وئیلی وی، نو نبی کریم ﷺ داسے نه دے۔ اِنَّ خَلْقَ اَحَدِكُمْ: یعنی ماده دخلق۔

اَرْبَعِيْنَ يَوْمًا نُطْفَةً: نطفه چه کله دننه رحم ته لاړه شی نو الله رب العالمین دهغې نه یوه حصه رحم کښ اوساتی باقی بهر خارجه شی، داترڅلویښت ورځو پورے همدغه شان نطفه وی، دیته الله لاره بنده کړی نوره نطفه دننه نشی تلے، اودارنګه حیض هم د زنانه بند شی، دے نه پته اولګی چه د زنانه حمل دے بیا ترے توته د وینے جوړه شی، بیا کرینده (کرچنے) (توته دغوښے) ترینه جوړ شی دا څلورمیاشتے اولس ورځو کښ وی، څلور میاشتے چه تیرے شی لاروح په کښ نه وی اچولے شوے، لس ورځے چه پرے دپاسه شی، نوبیا په کښ روح واچولے شی۔ بیا ئے تقدیر اوشی۔

ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ اِلَيْهِ مَلَكًا: اوس سوال پیدا شو چه بل حدیث دمسلم کتاب القدر (۲/۳۳۳) کښ راځی چه کله په نطفه باندے دوه څلویښت ورځے او په یو روایت کښ څلویښت ورځے تیرے شی نو ملائك ورته راځی لکه دا الفاظ دی: (اذا مر بالنطفة اثنتان واربعون لیلة بعث الله الیها ملكا فصّورها وخلق سمعها وبصرها وجلدها ولحمها وعظامها - الحدیث) اودلته وائی چه څلور میاشتے اولس ورځے پس راځی او دا کلمات ئے په تندی لیکی، نودوارو حدیثونو کښ تعارض او

مخالفت ښکاري، نو ددې تعارض څه تطبیق دې ؟ نو ددې څو جوابونه دي :
۱- **اول جواب** دا دې چه دا اختلاف د وجې دا ختلاف دماشومانو نه دې بعض ماشومانو ته (٤٢) ورځې پس راځي او بعضو ته څلور میاشتې پس راځي۔
۲- **جواب** : بعض علماء فرمائي : دا لیکل دوه ځله کیږي، یو ځل په آسمان کښې ملائك لیکي، اوبل ځل دمور په خیټه کښې لیکل کیږي دده په تندې۔
۳- **جواب** : په دې حدیث کښې (ثم یبعث الله الخ) کښې ثم د ترتیب داخبار دپاره دې نه د ترتیب دمخبر عنه دپاره۔ یعني دلته ثم یبعث په ذکر کښې صرف روستو شویدې اوداسې نه ده چه دمضغې نه پس ورته ملائك راځي بلکه دوه څلویښت ورځې پس ورته راځي خودا رالیږل ئې صرف په ذکر کښې روستو کړیدي دې دپاره چه درې واړه دورونه دماشومانو په ترتیب سره او متصل ذکر شي او مینځ کښې فصل واقع نشي، ځکه په ترتیب سره ذکر کول ډیر ښه دي۔ نو بناء په دې باندې تعارض نشته، دواړه یوه زمانه ده چه دوه څلویښت ورځې پس دي۔ ورجحه فی المرعاة : (۱/۱٦٥)۔
٤- امام نوويؒ داسې جواب کړیدې چه په انسان کښې دملائکو ډیر تصرفات دي، بعض دوه څلویښت ورځې پس کوي، بعض څلور میاشتې پس، نو دوه ځله راځي نو تعارض نشته۔ خو په حدیث دمسلم کښې چه (فصورها وخلق سمعها) لفظ راغلې دې نو ددې نه به مراد لیکل د تصویر اولیکل دخلق السمع وغیره وي، نه ورکول ځکه دوه څلویښت ورځې پس خو هغه ته تصویر او اندامونه نشي ورکیدلې (شرح مسلم : ۲/۳۳۳)۔
فَيَكْتُبُ عَمَلَهُ : په روایت د بزار کښې ورسره دادي (فیکتب بین عینیه)۔ یعني په تندې باندې ورته دا څیزونه اولیکي لکه خلق وائي دده په تندي کښې به ئې لیکلي وي، تندي ته نسبت کوي، اګرکه دا لیکل په تندي دماشومانو نه ښکاري پس د پیدائش نه، خو حدیث کښې دې منلې کیږي به۔ دارنګه ملائك ئې په خپله صحیفه کښې هم لیکي لکه په حدیث د حذیفه کښې په مسلم کتاب القدر کښې راغلي دي۔ نو څلور میاشتې پس دا کارونه کیږي روح په کښې اچولې شي، نو ددې نه دا فائده معلومه شوه چه که مخکښې دڅلورو میاشتو نه یو ماشوم پیدا شي په هغه به جنازه نه کیږي، نوم به ورله نشي کیښودې، دابه قیامت کښې نه راپاځي ځکه دا انسان شوې نه دې، روح په کښې نه دې اچولې شوې او څلور میاشتې اولس ورځو نه پس به دانسان احکام پرې جاري کیږي۔ فیکتب نه دا معلومیږي چه دا دهغه لوئې تقدیر نه پس وروکې تقدیر دې۔
فَوَ الَّذِي : نبي اکرم ﷺ داولنو خبرو تشریح نه کوي : ۱- ځکه چه هغه پس دپیدائش نه معلومیږي هر چاته دهغه عمل او رزق اوا جل معلومیږي چه کله مرشي چه دومره عمرئې وو۔ خو دشقاوت او سعادت پته نه لګي نو ددې تشریح کوي۔
۲- یا دا چه دهغه څیزونو په ذکر کولو کښې فائده نه ده مرتبه او په شقاوت او سعادت باندې

فائده دکامیابئ او ناکامیابئ مرتب ده نو ځکه دا بیانوی.

لَيَعْمَلُ : په بل روایت کښ دادی : (فیما یبدو للناس). یعني په ظاهره کښ به دجنتیانو عمل کوی اوزړه کښ به یا منافق وی یا به کافر وی، یا به ئې دا عملونه الله ته قبول نه وی ځکه دا به دالله د رضا مطابق نه وی، ډیر کرت مونږ عملونه کوو او فخر پرې کوو خو پته څه لګی چه دا د الله د رضا مطابق دی اوکه نه، داخبره سخته ده. لیکن (مایکون بینه وبینها الا ذراع) نه معلومیږی چه دا حقیقةً نیك اعمال دی او سړے حقیقةً مؤمن دے کافر یا منافق نه دے ځکه چه ډیر نیك اعمالو جنت ته یوګز فاصلے پورے نزدے کړے وی اود کافر منافق او ریاء کار اعمال برباد وی، انسان جنت ته بالکل نشی نزدے کولے. او الا ذراع : دا کنایه ده د قرب نه یعني جنت ته دے اعمالو ورنزدے کړے دے، خولیکن د بدبختئ په وجه به داسے یو بد عمل اوکړی چه الله ته به خوښ نه وی نوالله به ئې دجهنمیانو نه اوګرځوی.

فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ : نورامخکښ به شی په ده باندے هغه تقدیر لیکلے شوے، یعني غالب به شی پرے. نو بس فیعمل : دابه په خپله طبع او اختیار باندے بد عمل اوکړی نو دسعادت نه به محروم شی، ځکه الله لیکلے دے چه دابه بدبخته وی، غلط کار به کوی، نو ځکه ئې غلط کار اوکړو، او دا کار پرے الله په زوره نه دے کړے ځکه په دے کښ جبر او قدر بهتہ نشته، مجبوره کول په کښ نشته، نو دانسان عمل لره اعتبار دے د الله په کښ څه ظلم نشته صرف الله ته دا معلومه ده چه دا انسان به دا عمل کوی. اودا ئې اولیکل چه که دا عمل ئې اوکړو نو زه به ورته اُور ورکوم، نو ده چه په خپله خوښه اوکړو (سره ددے نه چه الله ترے منع کړے هم وو) نو ځکه ورته الله جهنم ورکوی.

فائده په کښ دا را اووتله چه انسان به په خپل نیك عمل باندے نه دهوکه کیږی او عجب او تکبر او اخلاق سیئه نه دے ځان ساتی، او بین الخوف والرجاء دے اوسیږی او په تقدیر دے راضی وی. دارنګه دچا په باره کښ به فیصله دجنت اود جهنم نشی کولے مخکښ دمرګ دهغه نه بلکه داسے به وائی چه دا انسان که په دے نیك عمل مړ شو نوجنت ته به ځی ان شاء الله، اوکه په بد عمل وفات شو نو جهنم ته به ځی.

فائده : حدیث کښ دی چه انسانان څلور قسمه دی : ۱- هغه چه ایمان کښ پیدا شی او ایمان کښ مړه شی، دا اعلیٰ درجه سعادت دے. ۲- هغه چه کفر کښ پیدا شی او کفر کښ مړه هم شی، دا اعلیٰ درجه شقاوت دے. ۳- هغه چه کفر کښ پیدا شی او ایمان کښ وفات شی. دا دویمه درجه سعادت دے. ٤- هغه چه ایمان کښ پیدا شی او په کفر کښ مړه شی. نو دا هم شقاوت دے. دا حدیث ډیر د ویرے حدیث دے. دے وجے نه نبی ﷺ به دا دعاء ډیره کوله : اللّٰه مصرف القلوب صرف قلوبنا علی طاعتك). دا دعاء مونږ اوتاسو دپاره ډیره ضروری ده. د فتنو دور دے. ددے دا مطلب نه دے چه ګنے هر نیك انسان آخر کښ خرابیږی بلکه کله کله (نعوذ بالله) اوشی.

غالباً عادت دالله تعالی دادے چه نیکان نه گمراه کوی اوبدانو ته دهدایت توفیق نه ورکوی دهغوی د عمل په وجه۔ عام طور سره بدان خلق نه ښه کیږی او ښه خلق نه بدان کیږی په آخر وخت کښې۔

۵- وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ اَهْلِ النَّارِ وَاِنَّهٗ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَيَعْمَلُ عَمَلَ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَاِنَّهٗ مِنْ اَهْلِ النَّارِ وَاِنَّمَاالْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ». متفق علیه

ترجمه: سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : بنده ددوزخیانو پشان کار کوی، لیکن هغه جنتی وی اود جنتیانو پشان کار کوی لیکن هغه دوزخی وی (ځکه چه دنجات اوعذاب) دارو مدار په آخیرنو اعمالو دے (بخاری، مسلم)۔

تعارف د سهل بن سعد ﷺ: دده نوم حزن وو، کنیه ئے ابو العباس ده، نبی اکرم ﷺ ورله داسلام راوړلو نه پس سهل نوم کیښود (ځکه دحزن په معنی کښې سختی پرته ده، اودسهل معنی ده نرم) نبی اکرم ﷺ چه وفات کیدو نودا دپنځلسو کالو په عمر وو۔ احادیث منقوله ترینه (۱۸۸) دی، په مدینه کښې آخری صحابی دا وفات شویدے په کال (۸۸ ھ) اود سلو کالو نه ئے عمر اوریدلے وو۔ دسعید بن المسیب نیکه دے۔ سعید المسیب فرمائی: زمونږ نیکه چه کله اسلام راوړو نو نبی علیه السلام ورته نوم بدلولو چه ته سهل شوے، هغه اووئیل: زه هغه نوم نه بدلوم چه ما له مور او پلار ایخے دے۔ نو سختی ئے اوکړه ددے وجه نه په مونږ کښې هم دغه سختی راغلے ده۔ دا حالت ئے په ابتداء کښې وو کله ئے چه اسلام په زړه کښې داخل شو بیا ئے دا نوم قبول کړو۔

تشریح: وَاِنَّمَاالْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ : یقیناً اعتبار داعمالو خاتمے لره دے۔ چه په انجام کښې ښه شوے نو ښه به ئے اوکه انجام کښې خراب شوے نو خراب به ئے، خو دے کښې د الله شان کریمی هم ورسره واوره چه کوم انسان مخکښې زندگی په نیك اعمالو کښې تیروی اکثر الله هغوی لره نه خرابوی، نه ئے ضائع کوی، او چاچه په ځوانئ کښې خوشے زندگی تیره کړے وی اکثر هغه نه ښه کیږی۔ خو دا کله کله داسے کیږی چه یو انسان نه آخر کښې دگمراهئ کار اوشی نودا دویرے احادیث دی۔ په دے کښې تیزی ده په دے خبره چه په طاعاتو باندے همیش والے کول اود گناهونو نه د اوقاتو حفاظت کول پکاردی، هسے نه چه دا ئے آخری عمل جوړ شی نو اور والا به اوګرځی۔

انما الاعمال : داجمله تتمه او نتیجه دما قبل ده، خواتیم ئے جمع راوړه ځکه چه دهر شخص خپله خپله خاتمه وی، یا دهر عمل خپله خپله خاتمه وی اول ظاهر دے۔

٦- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: دُعِيَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِلٰى جَنَازَةِ صَبِيٍّ مِنَ الْاَنْصَارِ

فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ! طُوْبٰى لِهٰذَا عُصْفُوْرٌ مِنْ عَصَافِيْرِ الْجَنَّةِ لَمْ يَعْمَلِ السُّوْءَ وَلَمْ يُدْرِكْهُ فَقَالَ: «اَوَغَيْرُ ذٰلِكِ يَا عَائِشَةُ! اِنَّ اللهَ خَلَقَ لِلْجَنَّةِ اَهْلًا خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِيْ اَصْلَابِ آبَائِهِمْ وَخَلَقَ لِلنَّارِ اَهْلًا خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِيْ اَصْلَابِ آبَائِهِمْ». رواه مسلم۔

ترجمه: بی بی عائشه رضی الله عنها فرمائی: دیو انصاری بچی جنازے دپاره رسول الله ﷺ! وبللے شو، ما اووئیل (ع) رسول الله! دے بچی دپاره خوشحالی ده، دے خو دجنت دمرغو نه یوه مرغۍ ده، ده خو نه څه بد کار کړیدے او نه بدۍ حد ته رسیدلے دے۔نبی کریم ﷺ اوفرمایل: اے عائشه! یا دے نه سیوا نور څه به وی، یعنی دجنتی کیدو یقین مکوه ځکه چه الله جنت د پاره مستحق خلق پیدا کړیدی کله چه هغوی د پلرونو په شاګانو کښ وو او د جهنم دپاره ئے هم مستحق خلق پیدا کړی دی کله چه هغوۍ دخپلو پلرونو ملا ګانو کښ وو۔ (مسلم)۔

تعارف دعائشه ام المؤمنین رضی الله عنها

ددے کنیت ام عبد الله دے کله چه دے شکایت اوکړو چه دنورو بیبیانو کنیت شته او زما نشته نو نبی اکرم ﷺ ورته اوفرمایل: (فانتِ ام عبد الله) ۔اوعبد الله ددے وراره وو، دمور نوم ئے ام رومان بنت عامر ده، افقه النساء علی الاطلاق وافضل ازواج النبی ﷺ، الا خدیجة، او دے کښ اختلاف شته چه کومه غوره ده خپل ځائے کښ به راشی۔ نبی اکرم ﷺ په شوال (لسم کال دنبوت باندے) دهجرت نه درے کاله وړاندے په مکه کښ ورسره کوېژدن کړے وه۔او په دویم کال دهجرت باندے په شوال کښ په مدینه کښ دنهه کالو په عمر باندے راواده کړے وه۔نهه کاله ئے دنبی اکرم ﷺ سره تیر کړل، اود (۱۸) کالو په عمر باندے ترینه نبی اکرم ﷺ وفات شو۔او عائشه په مدینه کښ په (۵۷ هـ) کښ په (۱۷) د رمضان لیلة الثلثاء باندے وفات شوه، اود شپے په بقیع کښ دفن شوه، ابو هریره پرے جنازه اوکړه، کله چه والی وو په مدینه باندے دجانبه دمروان نه۔تول نقل شوی احادیث ترینه (۱۲۱۰) دی، صحابو به ددے نه تپوسونه کول۔دا فقیهه عالمه زنانه وه رسول الله ﷺ ته ډیره محبوبه وه ځکه کمال پکښ ډیر وو۔

تشریح: مقصد الحدیث: (عدم المسارعة فی الحکم بدخول الجنة او النار لاحد) (چا دپاره د جنت او جهنم حکم کولو کښ جلتی نده پکار خاصکر په غیبی امورو کښ لکه دا د نبی علیه السلام عادت مبارك وو چه خلق به ئے په غیبی کارونو کښ د خبرو کولو نه منع کول)۔ دعی: فائده ذدے نه معلومیږی چه دجنازے دپاره عام اعلان ناروا دے (نهی رسول الله ﷺ عن النعی) بلکه نزدے کسانو ته خبر ورکول پکار دی، او مړے زر خښول پکار دی۔حذیفه بن الیمان فرمائی: زما په باره کښ چاته خبر مه ورکوئ، بس جنازه مے زر واخلئ هسے نه چه نعی ترینه جوړه

نشی، کہ څوك خبر وی رابہ شی۔ جنازہ : پہ فتحہ او کسرہ د جیم پہ معنی د ستر (پردے) او پورتہ کولو سرہ دہ ځکہ مړے هم پټولے شی او پورتہ کولے شی) ۔

جَنَازَةِ صَبِيٍّ : ماشومانو باندے جنازہ کول مستحب دی۔ او واجب نہ دی پہ دے وجہ نبی اکرم ﷺ پہ خپل ځوئے ابراهیم باندے جنازہ نہ دہ کړے، او جنازہ بہ پہ هر ماشوم کیږی اگرچہ دمور پہ خیټہ کښں مړ وی خو کلہ چہ روح پہ کښں اچول شوے وی۔ او فقہ حنفی کښں دی چہ : کہ ماشوم د پیدا کیدو پہ وخت آواز اوکړو نو جنازہ بہ پرے کیدے شی او کہ آوازئے اونہ کړو، مړ پیدا شو نو نہ بہ کیږی، نو د دوئ دے خبرے لہ اعتبار نشتہ، د دوی سرہ پہ دے باب کښں صحیح مرفوع حدیث نشتہ۔ او بل طرفتہ حدیث دے چہ دنبی اکرم ﷺ ارشاد دے (السقط یصلی علیہ) کذا فی ابی داود والترمذی والمشکاۃ (۱/۱۱۶) بسند صحیح۔ دامذهب دابن عمرؓ هم وو، احکام الجنائز للالبانی ص (۸۰) جامع الفقہ لابن القیم (۳/۴۵۱) تحفۃ الاحوذی (۲/۱۴۵) ۔

اَوَغَيْرُ ذٰلِكِ : ددے درے معنی دی : ۱ – (ای اتعتقدین ما قلت والحق غیر ذلك وهو عدم الجزم بکونہ من اهل الجنۃ، لان الجزم فیہ جزم فی والدیہ لانہ تبع لهما) ۔یعنی : تہ خو ددے وینا عقیدہ لرے خو حق ددے نہ سیوا دے چہ هغہ ددے دپارہ یقین نہ کول دی پہ جنتی کیدو باندے ځکہ بچے خو دمور پلار تابع وی نو دبچی دجنتی کیدو یقین دمور پلار یقینی جنتی کیدل دی، او د صحابہ کرامو نہ علاوہ دبل امتی دپارہ حکم کول پہ یقینی جنتی کیدو باندے صحیح نہ دی۔

۲ – او قُولی غیر ذلك یعنی ددے نہ سیوا نورے خبرے کوہ۔ ۳ – او بمعنی بل ای بل غیر ذلك اولٰی بلِك۔(یعنی ددے نہ علاوہ نورے خبرے تاسرہ مناسب دی او دے بارہ کښں یقینی خبرے مہ کوہ) بیا ددے عبارت مطلب دا نہ دے چہ اے عائشہ ! دمسلمانانو ماشومان بہ جنت تہ نہ ځی بلکہ دلتہ غرض د نبی علیہ السلام عائشہؓ منع کول دی ددے خبرے نہ چہ دچا دپارہ بہ پہ جلتئ سرہ حکم بدخول الجنۃ نہ کوے۔ نو پدے کښں منع دہ د جلتئ سرہ حکم کولو نہ د چا دپارہ پہ دخول د جنت۔ لکہ نبی اکرم ﷺ بہ ددے کار نہ ډیر کرتہ منع کولہ، یو صحابیۃؓ ام العلاء دعثمان بن مظعونؓ پہ بارہ کښں اووئیل چہ جنت دے مبارك شہ، (هنیئاً لك الجنۃ، مستدرك ۱۱/۱۹۵) نبی اکرم ﷺ منع کړہ چہ ماتہ هم ددخول الجنۃ پتہ نشتہ، تہ ولے داسے گواهی کوے۔ مطلب دا نہ دے چہ عثمانؓ گنے جنت تہ نہ ځی بلکہ هغے تہئے روستو اووئیل چہ دہ لہ اللہ اوچت جنت ورکړیدے مگر تاسو داخبرہ مہ کوئ۔

۲ – یا مطلب دا دے چہ دے کښں خبرے مہ کوئ او توقف کوئ چہ آیا ماشومان دمسلمانانو بہ جنت تہ ځی اوکہ نہ؟، لیکن دا مطلب ضعیف دے روستو تفصیل نہ معلومیږی۔

اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ لِلْجَنَّةِ اَهْلًا : **فائدہ عجیبہ : تقسیم الناس** : انسانان څو قسمہ دی

۱ – هغہ چہ ایمان کښں مړہ شی، نو دا جنت تہ ځی حتماً۔

۲ – هغہ چہ کفر کښں مړہ شی، نو اللہ قادر دے پہ مغفرت ددوئ باندے لیکن دهغہ عادت داسے نہ

دے بلکه وعید ئے دجهنم اود عدمِ مغفرت بیان کړیدے لکه فرمائی : ﴿ ان اللّٰہ لا یغفر ان یشرك به ﴾ (النساء الآیة: ۱۱۵)۔﴿ ان تعذبهم فانهم عبادك وان تغفر لهم فانك انت العزیز الحکیم ﴾ المائده : ۱۱۸)۔

۳- هغه ماشومان چه په وړوکوالی کښې مړه شي یائے مور مسلمانه وي اویائے پلار مسلمان وي او یا دواړه مسلمانان وي۔ نو دابه جنت ته داخلیږي۔ دلیل دادے چه حدیث کښې دی (کل مولود یولد علی الفطرة۔۔۔الحدیث) ۔ (هر بچے په اسلام او صحیح دین پیدا کیږي) ۲- دلیل : دمعراج په شپه ابراهیم علیه السلام سره اولاد المسلمین اولیدلے شو چه نبي جانب ته په جنت کښې ورسره ناست وو۔ ۳- دلیل : حدیث کښې دی (ما من عبد یموت له ثلاثة من الولد لم یبلغوا الحنث الا تلقوه من ابواب الجنة الثمانیة من ایها شاء دخل، (احمد ۱۸۴/٤ باسناد حسن) د چا چه درے ماشومان وفات شي نو هغه به ورله د اته دروازو نه راځي مور پلار به ځان سره جنت ته داخلوي۔ دا وجه ده امام احمدؒ فرمائی : لایختلف فیهم احد انهم فی الجنة) ۔(پدے کښې د هیچا اختلاف نشته چه دا جنتیان دی) او چا چه په دے کښې توقف کړیدے دهغه سره دلیل نشته۔

د مشرکانو ماشومان به آیا جنت ته ځي ؟

٤- څلورم قسم : اطفال المشرکین، یعنی دمشرکانو هغه ماشومان بچي چه په وړوکوالی کښې مړه شي، نو په دے کښې علامه ابن حجر په فتح الباري کښې لس اقوال ذکر کړیدي، او حافظ ابن القیمؒ په طریق الهجرتین ص (۳۸۷) کښې اته مذاهب بیان کړیدي :

۱- **اول قول** توقف دے، وهو روایة عن ابی حنیفة وهو قول بعض السلف : چه مونږ ته ددے علم نشته چه جنت ته به ځي اوکه جهنم ته، دلیل دادے چه صحیحینو کښې حدیث د ابن عباسؓ دے چه دنبي اکرم ﷺ نه داولاد المشرکین په باره کښې تپوس اوشو، نو وے فرمایل : (الله اعلم بما کانوا عاملین) نو نبي ﷺ توقف کړیدے مونږ به هم توقف کوو۔ لیکن مونږ دپاره توقف نشي کیدلے ځکه احادیثو کښې ظاهراً تعارض دے نو خامخا به یو طرفته حکم کوو۔ او هرچه دا دلیل دے نو دلته نبي ﷺ توقف نه دے کړے بلکه دلته ئے د دوئ دعمل علم الله ته اوسپارلو چه که ژوندي وے نو الله ته معلومه ده چه دوئ به څه عمل کولو (ای الله اعلم بما کانوا عاملین لو عاشوا) اودا مراد نه دے چه الله به دوئ ته په خپل علم جزاء ورکوي بلا عمل یعملونه (بغیر د څه عمل کولو د هغوی نه)۔

۲- **دویم قول** دیو جماعة د متکلمین واهل التفسیر دے او یو روایت د امام احمدؒ دے چه دا جهنمیان دي، ددے دلیل حدیث دخدیجة الکبریٰ دے لکه چه فصل ثالث کښې راځي (انها سالت رسول الله ﷺ عن ولدین ماتا لها فی الجاهلیة فقال : هما فی النار) وفیه (وان المشرکین اولادهم فی النار) (د خدیجے په جاهلیت کښې دوه بچي مړه وو نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمایل : دواړه اور کښې دی او د مشرکانو اولاد به اور کښې وي) لیکن دا قول هم مرجوح دے ځکه داحدیث امام احمدؒ نقل کړیدے

او سند ئے منقطع دے کما سیاتی۔ نو کوم احادیثو کښې چه صراحةً راغلي دي چه دا اهل النار دي نو دا ټول ضعیف دي۔ اوبعض احادیث مجمل دي، لکه چه رابه شي۔

۳- **دریم قول** دا دے چه: داجنتیان دي: ۱- دلیل: کومو احادیثو کښې چه دا دي چه دا به اُور والا وي هغه ضعیف دي، اوکوم احادیث چه صحیح دي هغه مجمل دي۔

۲- یا نبي اکرم ﷺ ته لا وحي نه وه شوې نو ځکه ئے علم الله ته سپارلے دے۔

۳- **دلیل**: کل مولود یولد علی الفطرة۔ ٤- **دلیل**: ﴿ لئلا یکون للناس علی الله حجة بعد الرسل ﴾ (الله ته څوك بهانه اونکړي چه ما شرك عمل ندے کړے ځنګه جهنم ته راغلم؟) ٥- **دلیل** ﴿ وما کنا معذبین حتی نبعث رسولاً ﴾ نو که جهنم ته ئے الله بوځي نو الله ته به بهانه کوي چه یا الله! تابه زه غټ کړے وے نو ما به نیك عمل کړے وے نو جنت ته به داخل شوے وے نو په الله باندے حجت قائمیږي۔

٦- **دلیل**: دابراهیم علیه السلام سره اولاد المشرکین والمسلمین لیدلے شوي وو په جنت کښې، کما یاتي في باب النوم۔دا مذهب راجح دے ذکره شیخ الاسلام في الفتاوی (٤/۳۰۲)۔

٤ – څلورم **مذهب** دا دے: چه بعض مفسرین وائي: دابه اصحاب الاعراف وي، ځکه داسے اعمال ئے هم نشته چه جنت ته ابتداءً داخل شي، اوګناهونه ئے هم نشته چه مستحق دجهنم شي، لیکن آخر کښې به جنت ته ځي۔

٥- **پنځم مذهب** دا دے: چه دوئ د الله دمشیئت لاندے دي که الله اوغواړي عذاب به ورکړي اوکه اوغواړي نو رحم به پرے اوکړي، یا به په بعضو رحم اوکړي او بعضو ته به عذاب ورکړي په محض اراده۔لیکن دا قول دقدریه او جبریه دے چه حکمت او تعلیل په شرع کښې نه مني۔ ٦- شپږم قول دادے: چه دوئ به دجنتیانو خادمان وي، لکه ځنګه چه ماشومان دنیا کښې په منزله د مملوك او خادم وي۔دلیل د دوئ حدیث د دارقطني دے (سالت ربی اللاهین من ذریة البشر ان لا یعذبهم فاعطانیهم فهم خدام اهل الجنة – یعني الصبیان) لیکن دا حدیث ضعیف دے بجمیع الطرق۔

۷- **اووم مذهب** دا دے: چه ددوئ حکم داسے دے لکه دپلارانو په دنیا او آخرت کښې نو لکه ځنګه چه دنیا کښې دپلارانو تابع وو دغه شان په آخرت کښې به هم دهغوئ تابع وي، نو که چرے پلارانو دماشومانو دمرګ نه بعد ایمان راوړے وي نو ماشومان به هم مؤمنان حسابیږي، نو ددے اود قول ثاني فرق دادے چه قول ثاني والا جهنمیان شماري، ځکه چه دوئ مسلمانان نه دي، اوتبعاً نه داخلیږي۔ دلیل حدیث الصحیحین دے (عن الصعب بن الجثامة قال: سئل رسول الله ﷺ عن اهل الدار من المشرکین یبیتون فیصیبون من نسائهم وذراریهم فقال هم منهم)۔ (ماشومان او زنانه تابع د مشرکانو دي) لیکن جواب دادے چه په حدیث کښې دا حکم نشته چه یابه عذاب ورکوي یا نه ورکوي، بلکه په دے کښې صرف داخبره ده چه دوئ دپلارانو تابع دي په حکم کښې اوچه دوي جهاد کښې مړه شي نو په قاتلینو باندے دیت او کفاره نشته۔ ۸ – اتم قول: وهو الراجح عند

ابـن تیـمیـه وابن القیم وابی الحسن الاشعری فی الابانة (مجموعة الفتاوی : ۳۰۳/٤) : چه دوئ بـانـدے بـه قـیـامـت کښې امتـحـان اوشـی، پیغمبر به ورته را اولیږل شی، نو که تابعداری درسول اوکـړی جنت ته به ځی او که خلاف اوکړی نو جهنم ته به ځی۔ اودا قول په باره د هر هغه کس کښې هم دے چه دعوت ورته نه وی رسیدلے، لکه چه مخکښې په مسئله د شاهق الجبل کښې تیر شو۔ اودا قـول تـطبیـق دتـهولـو احادیثو راولی۔ نو الله اعلم بما کانوا عاملین چه نبی اکرم ﷺ وئیلی دی نـو مطلب دادے چه قیامت کښې به دا راښکاره شی چه مستحق دعقاب دی او که دثواب پس دامتـحـان نـه۔ نـو دلته مجرد علمُ الله باندے فیصله نه ده بلکه په هغه علمُ الله باندے فیصله ده چه هغه به خارج ته راوباسی۔ او په دے سره تطبیق دصحیح احادیثو هم راغلو لږ فکر اوکړه۔

ددے **قول دلیل** هغه حدیث دے چه په مسند احمد (٤/٢٤)) او الصحیحه (۳٦۰۸٦) للالبانیؒ کښې دے چه (اربعة یحتجون یوم القیامة) او په دے کښې دادی چه : دوئ ته به رسول راشی ورته وائی به چه جهنم تـه داخـل شـئ۔ نـو کـه دهغه خبره ئے اومنله کامیاب به شی او اُور به پرے برداً وسلاماً شی، کما مر هذا الـحـدیث فی مسئلة شاهق الجبل۔ لیکن دلته علامه ابن عبد البرؒ اعتراض کړیدے کما فی طریق الهـجـرتیـن ص (٤۰۰) چه آخرت خو دار التکلیف نه دے نو په دوئ څنګه امتحان کوی ؟ ددے جواب ابـن الـقـیـمؒ تـفـصیلاً ورکړیدے، واشار الیه شیخ الاسلام فی فتاواه۔ چه قیامت دار التکلیف نه دے مګر کـلـه چه دار القرار یعنی جنت یا جهنم ته داخل شی نو بیا به تکلیفونه نه وی۔ او هر چه د قیامت ورځ ده نو هغه د امتحاناتو ډکه ده۔

اودلیـل پـه دے بـانـدے دا دے چـه حـدیث کښې راځی کما فی الصحیحین من حدیث ابی هریره چه هـغـه شـخـص چه آخری جنت ته داخلیږی هغه ته به الله اوفرمائی : مانه به نور سوالونه نه کوے، نو هـغـه بـه لوظ اوکړی چه نه به ئے کوم، لیکن بیا به هم په کښې خلاف اوکړی او نور سوالونه به کوی، الـلـه بـه ورته اوفرمائی : (ما اغدرك !) مـتـفـق عـلـیـه ، څـو مـره بـے لوظه ئے) نو دا امتحان دے (مشکاة : ۴۹۱/۲) بـاب الـشـفـاعـة۔ ۲- دارنـګه قیامت کښې به منافقینو ته په سجده کولو باندے حکم کیږی نو دا هم امتحان دے۔ ۳- دارنګه حدیث البخاری کښې دی چه عرصات القیامه کښې به الله مؤمنانو ته راښـکـاره شـی، او ورته اوبه وائی : زه ستاسو رب یم، دوئ به وائی : نعوذ بالله منك۔ نو دا هم امتحان دے۔ دارنـګ : فـتـعـرض عـلـیـه صـغـار ذنـوبـه والا روایت هم دے رواه مسلم، مسند احمد (۱۵۷/۵) (مشـکـوة : ٤۹۲/۲)۔ بـعـض عـلـمـاء فرمائی : داماشومان به ختمیږی، خاورے به شی لیکن داقول صحیح نه دے۔

۷- وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ الْجَنَّةِ » قَالُوْا: يَارَسُوْلَ اللهِ ! اَفَلَا نَتَّكِلُ عَلٰى كِتَابِنَا وَنَدَعُ الْعَمَلَ؟ قَالَ:

«اِعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ، اَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ وَاَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ ثُمَّ قَرَأَ: ﴿ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ﴾» الآية. متفق عليه.

ترجمه: او علی ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمایل: په تاسو کښې د هر سړی دپاره په جنت اودوزخ کښې ځائے لیکلے شویدے (یعنی دا معلومه شوے ده چه کوم خلق جنتیان دی او کوم خلق دوزخیان دی) صحابهٔ عرض اوکړو یارسول الله! آیا مونږ په خپل لیکلے شوی تقدیر باندے توکل کولو سره عمل پرے نه دو۔ رسول الله ﷺ اوفرمایل: تاسو عمل کوئ ځکه چه کوم سړے کوم کار دپاره پیدا شوے وی هغوئ ته په هغے باندے آسانتیا او توفیق ملاویږی۔ په دے وجه چه کوم سړے دنیك بختئ اهل وی الله تعالی هغه ته دنیك بختئ داعمالو توفیق ورکوی، او کوم سړے چه دبدبختئ لائق وی هغه ته دبدبختئ دعمل کولو موقع ورکړے کیږی، ددے نه پس نبی کریم ﷺ دا آیت ولوستلو (ترجمه): چاچه دالله په لار کښې څه ورکړو او پرهیزگاری ئے اوکړه، او ښه خبره (یعنی دین اسلام) ئے رښتیا اومنلو ددوئ دپاره به مونږ دآسانتیا ځائے (جنت) آسان کړو، لیکن چاچه شومتیا اوکړه اود نفس دخواهشاتو اوددنیا په رنګ روغن کښې ګیر شو اود آخرت دنعمتونو نه بے پروا شو او غوره خبره (دین اسلام) ئے دروغ اوګڼړلو، نو دهغه دپاره به ګران ځائے (ددوزخ لار) آسانه کړو۔۔۔تر آخره پورے۔(بخاری اومسلم)۔

تعارف دعلی ﷺ: امیر المؤمنین علی بن ابی طالب بن عبد المطلب ابو الحسن الهاشمی القرشی۔دنبی ﷺ دتره ځوئے او زوم دے، دفاطمہؓ خاوند دے، نبی ﷺ ورته ابو تراب کنیه ورکړیده، په ماشومانو کښې اول ده دلسو یا دپنځلسو کالو په عمر باندے اسلام راوړیدے۔احد العشرة المبشره دے، تولو غزواتو ته حاضر شویدے، په ډیرو غزاګانو کښې به د رسول الله ﷺ جنډه دده سره وه، صرف تبوك ته نه دے حاضر شوے، نبی ﷺ خپل اهل دپاره په کور کښې پاتے کړے وو۔اوده ته ئے اوفرمایل (انت منی بمنزلة هارون من موسی) په ټولو صحابوؓ کښې دده فضائل ډیر نقل دی۔ دعثمانؓ دشهادت نه پس په اتلسم (۱۸) دذی الحجه یوم الجمعه په کال (۳۵ هـ) کښې خلیفه مقرر شو۔مهاجرین او انصارو ورسره بیعت اوکړو، صرف څو کسان پاتے شو او په اهل الشام کښې معاویهؓ پاتے شو، دا وجه وه په صفین جنګ کښې ددے بیعت نه کولو په وجه ډیر نقصان اوشو۔نو دده په دور خلافت کښې ډیرے فتنے راپورته شوے لکه خوارجو په مسئله د تحکیم کښې دکفر فتوی په علیؓ باندے ورکړه، اود مسلمانانو اتفاق ئے خراب کړو، نو علیؓ ورسره جنګ اوکړو۔لیکن خوارجو دده دقتل دپاره عبد الرحمن بن ملجم المرادی تیار کړو، او هغه په کوفه کښې دجمعے په شپه دیارلسم (۱۳) رمضان په کال (۴۰ هـ) کښې علی ﷺ د (۶۳) کالو په

عمر باندے شهید کړو۔ دخلافت موده ئے څلور کاله او نهه میاشتے وه۔او علیؓ خوب اولیدلو چه نبي ﷺ ته وائی : زه دے فتنو ته پرینبودم ! نو نبي ﷺ ورته اوفرمایل : ما پسے راځه ! نو حسبا له قتل شو۔دده دخلافت دموده دکم والی په وجه دده په دور کښې ډیرے فتوحات هم نه دی شوی۔ دده نه ټول نقل شوی احادیث (۵۸۶) دی۔

تشریح : اَفَلَا نَتَّكِلُ عَلٰی كِتَابِنَا وَنَدَعُ الْعَمَلَ؟ : **سوال** : انسان به یا په تقدیر کښې جنتی لیکل شوے وی یا به جهنمی لیکل شوے وی نو عمل ته څه ضرورت دے ؟ لکه چه صحابوؓ هم داسوال کړیدے۔ددے دوه جوابه دی :

۱- **جواب** : تقدیر چه څوك منی هغه مؤمن دے اود عمل کولو امر هم مؤمن ته شویدے نو چه څوك تقدیر منی نو عمل به هم کوی، ځکه تقدیر هم الله لیکلے دے او امر په عمل هم الله کړیدے، نو څنګه یو منی او بل نه منی ! لیکن داجواب مؤمنانو له تسلی ورکوی، عام خلق په دے نه پو هیږی دا صرف تسلیم والو دپاره دے۔

۲- **جواب** دا دے چه عمل کول منافی دتقدیر سره نه دی ځکه چه الله تعالی د هر شی تقدیر بالاسباب کړیدے یعنی هر شے لیکل شویدے سره دسبب نه، او په اسبابو باندے ئے په بندګانو تطبیق کوی، نو که څوك ښه سبب اختیار کړی لکه نیك عمل کوی نو ښه جزاء ته به رسی چه جنت دے، اوکه بد اختیار کړی بده جزاء ته به رسی چه جهنم دے۔لکه مثلًا : دانسان دپاره الله خوئے لیکلے دے نو ددے سره ئے سبب هم لیکلے دے چه واده به کوی۔نو اوس که انسان اووائی چه که ما دپاره الله خوئے لیکلے وی نو که واده اوکړم او که اونه کړم نو الله به ئے راکوی، نو داخبره دتقدیر هم خلاف ده اود شریعت هم خلاف ده۔دارنګه بنده اووائی چه زما دپاره که خوراك په تقدیر کښې لیکلے شوے وی نو که زه کسب اوکړم اوکه اونه کړم نو الله به ئے راکوی، داخبره خطاء ده بلکه خامخا به عمل کوی او توکل به په تقدیر باندے نه کوی۔نو تقدیر معین شویدے په اعمالو باندے نوکه څوك ښه عمل کوی الله ئے جنت ته بوځی اوکه بد عمل کوی نو جهنم ورکوی۔دا وجه ده یو صحابی چه کله دا جواب واوریدلو نو عمل کښې ئے نور کوشش شروع کړو، دے دپاره چه الله مو ښه تقدیر طرفته اورسوی، او توکل ئے اونکړو چه عمل پریدی۔(کما فی شفاء الغلیل) دا ډیر ښه جواب دے،ځان پرے پو هول پکار دی۔

سوال : هر کله چه نبي ﷺ دا جواب ورکړو، نو بیا دا بار بار تپوسونه په مختلفو احادیثو کښې ولے شویدی ؟ **جواب** : صحابهؓ به نوی نوی راتلل اودا تپوسونه به ئے کول ځکه بار بار دا تپوس شویدے۔

۸- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:«اِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا اَدْرَكَ ذٰلِكَ لَا مَحَالَةَ فَزِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ وَزِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ وَالنَّفْسُ تَمَنّٰى وَتَشْتَهِيْ وَالْفَرْجُ

يُصَدِّقُ ذٰلِكَ وَيُكَذِّبُهُ». متفق عليه. وفي رواية لِمُسْلِمٍ قَالَ: «كُتِبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَصِيبُهُ مِنَ الزِّنَا مُدْرِكٌ ذٰلِكَ لَامَحَالَةَ، الْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ وَالْأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الْإِسْتِمَاعُ وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلَامُ وَالْيَدُ زِنَاهَا الْبَطْشُ وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الْخُطٰى وَالْقَلْبُ يَهْوٰى وَيَتَمَنّٰى وَيُصَدِّقُ ذٰلِكَ الْفَرْجُ وَيُكَذِّبُهُ».

ترجمه: ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه ددوارو جهانو سردار ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: دانسان په تقدیر کښې خومره حصه د زنا چه لیکلې ده هغه به ضرور دهغه نه عمل کښې راځي، دسترګو زنا خو (نامحرم طرفته) کتل دی اود ژبے زنا نامحرم سرې سره شهوت راپارونکے خبرے کول دی، اونفس آرزو او خواهش کوی او شرمګاه دهغے آرزو تصدیق کوی یا تکذیب (بخاری، مسلم)

او د مسلم یو روایت دے چه دسړی تقدیر کښې د زنا څومره حصه چه لیکلې شوے ده هغه به هغه ضرور عمل کښې راولی۔ د سترګو زنا (نامحرم طرفته) کتل دی، دغوږونو زنا (نامحرمے ښځے نه شهوت راپارونکے) خبرے آوریدل دی اود ژبے زنا (نامحرمے ښځے سره شهوت رااوچتونکی) خبرے کول دی اود لاسونو زنا (نامحرمه ښځه خرابے ارادے سره) مسه کول دی او د خپو زنا (بدکاریٔ طرفته) تلل دی، او زړه خواهش او آرزو کوی، او شرمګاه دهغے (آرزو) تصدیق یا تکذیب کوی۔

تشریح: اِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ: دلته دوه معنی دی:

۱ – ان الله اثبت فيه الشهوات والميل الى النساء)۔

(یعنی الله پکښې دا خواهشات او زنانو ته میلان اچولے دے) نو بعض کسان به دا شهوات غلط استعمالوی اوبعض به ئے صحیح استعمالوی لیکن دا تاویلی معنی ده۔ د باب التقدیر سره مناسب نه ده مګر په بعید تاویل۔

دا معنی ئے ځکه کړیده چه سوال رانشی چه بنی آدم کښې خو انبیاء وغیره هم داخل دی نو آیا هغوی باندے هم زنا لیکلے شی او هغوی به ئے ګنے خامخا کوی۔

۲– دویمه معنی: کتب په معنی دقدر دے:

ای ان الله قدّر اثبت في اللوح المحفوظ حظ ابن آدم من الزنا۔

(یعنی الله لوح محفوظ کښې د انسان حصه د زنا لیکلې ده) اوس سوال پیدا شو چه ابن آدم کښې خو پیغمبران هم داخل دی، ځکه ابن آدم لفظ هغوی ته هم شامل دے، نو آیا هغوی زنا کوی (العیاذ بالله) ؟۔

جواب: دا قضیه مهمله ده، محصوره نه ده، او مهمله په قوت دجزئیه کښې وی، ځکه په دے کښې بیان دکمیت د افرادو دموضوع کلًا یا بعضاً نه دے شوے، چه ټول بنیادمان مراد دی یا بعض بنیادمان، نو پیغمبران ترینه نه دی مراد۔ یعني دوی ترینه مستثنیٰ دی په استثناء عقلی سره او د نورو دلائلو په وجه چه هغه دلالت کوی په عصمت د انبیاء علیهم الصلاة والسلام باندے۔

بل سوال دا دے چہ ھرکلہ اللہ تعالی بندہ دپارہ زنا اولیکلہ او بیا ھغہ اوکړلہ نو ولے ئے رانیسی، دا خو پرے اللہ اوکړہ ؟ **جواب** : دلتہ ورسرہ یو قید دے : (ای اللّٰہ کتب علی ابن آدم حظہ باختیارہ) ۔ (یعنی اللہ پرے لیکلے دہ خو ددہ پہ اختیار) نو اللہ چہ انسان راګیروی نو ددہ د اختیار پہ وجہ، نہ دجبر پہ وجہ۔ یعنی دا بہ دا زنا پخپل اختیار سرہ کوی نو ځکہ مجرم دے۔

اَلْمَنْطِقُ : یعنی دښځو فاحشے خبرے بیانول۔ دلاس خپو، سترګو اوغوږونو زنا معلومہ دہ۔

وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذٰلِكَ : یعنی کلہ فرج زنا اوکړی اوکلہ اسباب برابر شی مګر بیا ھم زنا اونکړے شی۔

وَالنَّفْسُ تَمَنّٰى وَتَشْتَهِىْ : پہ دے کښې رد دے پہ قدریہ جبریہ باندے چہ انسان مجبور او مُلجأ نہ دے بلکہ دھغہ اشتهاء شتہ خو کلہ چہ کسب دمعصیت اوکړی نو اللہ ئے راګیروی او پہ نفس لیکلو باندے راګیرول نہ کوی۔

سوال : تمنی او اشتهاء داخو وسوسہ دہ اودا خو معاف دہ لکہ چہ مخکښې نہ معلومہ دہ نو دلتہ څنګہ دیتہ زنا وئیلے شی ؟۔

جواب : پہ دے باندے انسان ھلہ ګناھګار دے چہ کلہ دا اختیاری شی، او چہ کلہ غیر اختیاری تمنی او اشتهاء راځی نو دا معاف دی او علامہ داختیاری او غیر اختیاری دادہ چہ کہ ستا پہ بدن کښې ددے تمنی او سوچ پہ وجہ انتشار او حرکت پیدا شو نو دا اختیاری دے اوکہ حرکت پیدا نشی نو دا غیر اختیاری دہ۔

۹- وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ اَنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ مُزَيْنَةَ قَالَا يَارَسُوْلَ اللهِ! أَرَأَيْتَ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ الْيَوْمَ وَيَكْدَحُوْنَ فِيْهِ اَشَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضٰى فِيْهِمْ مِنْ قَدَرٍ سَبَقَ اَوْ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُوْنَ بِهٖ مِمَّا اَتَاهُمْ بِهٖ نَبِيُّهُمْ وَثَبَتَتِ الْحُجَّةُ عَلَيْهِمْ؟ فَقَالَ: «لَا! بَلْ شَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضٰى فِيْهِمْ، وَتَصْدِيْقُ ذٰلِكَ فِيْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ﴿وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوَاهَا﴾».

رواہ مسلم

ترجمہ : اوعمران بن حصین ﷺ نہ روایت دے چہ یو ځل د مزینہ قبیلے دوہ سړی (دنبی کریم ﷺ پہ خدمت کښې حاضر شول او) عرض ئے اوکړو یارسول اللہ ! مونږ تہ دا اوښایئے چہ نن (دنیا کښې) خلق عمل کوی اود اعمالو کوشش کښې لګیا دی آیا دا ھغہ شے دے چہ دھغے حکم شویدے او تقدیر پہ دے باندے جاری شویدے یا دا عمل دھغے احکامو نہ دے چہ آیندہ کیدونکی دی چہ ھغہ ددوئ نبی راوړی دی او پہ ھغے سرہ پہ دوئ باندے دلیل قائم شوے دے۔ نبی کریم ﷺ اوفرمایل : نہ، بلکہ دا ھغہ شے دے چہ دھغے فیصلہ شوے دہ او پہ تقدیر کښې لیکلے شوے دے او دھغے تصدیق دکتاب اللہ (قرآن کریم) دے آیت نہ کیږی چہ : ونفس وما سواھا فالھمھا فجورھا وتقواھا ترجمہ : قسم دے

دانسان په ځان او په هغې ذات چه هغه ئے جوړ کړیدے، او بیائے هغے ته دبدکارئ او پرهیزګارئ (دواړو) القاء (ښودنه) اوکړله۔ (مسلم)۔

تعارف د عمران بن حصین رضی الله عنه: دده کنیه ابو نجید ده، دخیبر په کال ئے اسلام راوړیدے، د بصرے اوسیدونکے وو، ملائکو به په ده باندے سلام اچولو، دا دده کرامت وو۔ لیکن کله چه ئے داغ اولګولو بیا به ئے پرے سلام نه اچولو، داپه دے کار ډیر خفه وو، لیکن یو ځل ترے شوے وو۔ بصره کښې اوسیدلو او هلته په کال (۵۲ ھ) کښې وفات شو۔ په صحابوؓ کښې فقیه وو، او په صحابو کښې دا هغه صحابی دے چه د بواسیر په مرض مبتلاوو۔ ټول منقول احادیث دده نه (۱۳۰) دی۔ دده پلار حصین هم صحابی دے۔

تشریح: اَنَّ رَجُلَیْنِ مِنْ مُزَیْنَةَ قَالَا : حاصل د سوال د دوئ دا دے چه یارسول الله! دا کوم خلق چه اعمال کوی او ښه کوششونه هم په کښې کوی، چه زه منله اوکړم داشے حاصل کړم محنت کوی۔ نو که دا الله پخوا (په تقدیر) کښې لیکلی وی نو دے محنت ته څه حاجت دے، اوکه الله پخوا نه وی لیکلی نو بیا به سړے کوشش کوی چه حاصل ئے کړی اوکه کوشش نه کوی نو نه به ئے حاصلوی۔

وَمَضٰی فِیْهِمْ مِنْ قَدَرٍ سَبَقَ : دا تشریح ده د قضی علیهم۔ مضی صیغه دماضی معلوم ده۔(ای نفذ فی حقهم) : یعنی ددوئ په حق کښې ئے تقدیر نافذ کړیدے په ازل کښې۔ قدر : موصوف اوسبق صیغه دماضی جمله صفت دے۔ یعنی هغه تقدیر چه دمخکښې نه شویدے چه هغے ته ازل وائی (او ازل دیته وائی چه د هغے اول نه وی) او من قدر سبق : دا من بیانیه دے دشئ دپاره، (یعنی شئ مقضی) هغه تقدیر سابقه دے۔ یا من اجلیه دے او تقدیر او قضاء جدا جدا دی، او من متعلق دے دقضی پورے (ای قضی علیهم لاجل قدر سبق)۔ یعنی دوئ باندے فیصله شویده په دے کار کښې دوجے د هغه تقدیر نه چه مخکښې شویدے۔نو تقدیر مخکښې دے په قضاء باندے کما مر۔

اَوْ فِیْمَا یَسْتَقْبِلُوْنَهٗ بِهٖ : صیغه دمعلوم ده یعنی اوکه دوئ عملونه کوی په هغه زمانه کښې چه دوئ مخامخ روان دی هغے ته۔ مما : بیان دے دما یعمل الناس۔یعنی هغه عملونو ته۔

مِمَّا اَتَاهُمْ بِهٖ نَبِیُّهُمْ وَثَبَتَتِ الْحُجَّةُ عَلَیْهِمْ؟ : چه دوئ ته ددوئ پیغمبرانو راوړیدی هغو ورته بیان کړیدی چه دا دا اعمال کوئ اوپه هغوی باندې حجت ثابت شویدے په هغه اعمالو کښې چه دا اعمال به کوئ مادرته بیان کړل حجت درباندے زما دطرفنه قائم شو دا لفظ ځکه وائی چه اعمال دوه قسمه دی :

۱ – هغه اعمال دنیویه دی، مباح دی چه ثواب اوعقاب پدے مرتب نه دے۔

۲ – هغه اعمال دی چه پیغمبر راوړیدی او امت ته ئے ښودلی دی که اودے نه کړل سزاء ده اوکه اودے کړل نو ثواب پرے مرتب دے، نو مونږ دهغه عمل په باره کښې تپوس کوو چه په هغے کښې سزاء اوثواب وی چه آیا دا الله پخوا لیکلی دی اوکه الله نه دی لیکلی، اوس ئے نوی کوی په هغه زمانه کښې چه دوئ ورته روان دی۔ او مباح اعمالو تپوس نه کوی، ځکه په هغے ثواب او

عقاب مرتب نه دے کامیابی اوناکامی پرے نه راځی هغه به په کښې طرداً راشي۔ فتدبر !! نو نبی ﷺ جواب ورکړو چه نه، بلکه دا کارونه چه انسانان کوی دا په تقدیر کښې فیصله شویدی، اود مخکښې نه په دوی مقرر دی، اوبیا ئے ددے تصدیق دقرآن نه بیان کړو، چه الله تعالی انسان ته دهغه نیك عملی او بد عملی ښودلے ده بعض په نیکه لاره روان شی نو معلومیږی چه دا انسان نیك بخت دے او بعض په بده لاره روان شی نو معلومه شوه چه دا بدبخت انسان دے۔ داد الهمها : نه معلومیږی چه دا دماضی صیغه ده یعنی دپخوا نه الله په ازل کښې انسان ته نیك عمل او بدعمل خودلے دے، اوکه تقدیر نه وے نوداسے به ئے وئیلے چه (ویلهمها فجورها) فتدبر !! (مرقاة)۔

---

۱۰ - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ! إِنِّيْ رَجُلٌ شَابٌّ وَأَنَا أَخَافُ عَلٰى نَفْسِيَ الْعَنَتَ وَلَا أَجِدُ مَا أَتَزَوَّجُ بِهِ النِّسَاءَ كَأَنَّهُ يَسْتَأْذِنُهُ فِي الْإِخْتِصَاءِ قَالَ: فَسَكَتَ عَنِّيْ ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَسَكَتَ عَنِّيْ ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَسَكَتَ عَنِّيْ ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ! جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لَاقٍ فَاخْتَصِ عَلٰى ذٰلِكَ أَوْذَرْ». رواه البخاريُّ.

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : ما عرض اوکړو یارسول الله ! زه یو ځلمے سړے یم او خپل نفس نه ویریږم چه بدکارئ طرفته مائل نشی او زما دومره وس طاقت نشته چه یوے ښځے سره واده اوکړم گویا ابو هریره رضی الله عنه خپل ځان دخصی کولو (خپل ځان دسړی توب قوت ختمولو) اجازت اوغوښتلو، ابو هریره وائی : رسول الله ﷺ دے آوریدو سره خاموش شو، ما دوباره داسے اووئیل، نبی کریم ﷺ څه اونه فرمایل : ما بیا دغسے عرض اوکړو، نو نبی کریم ﷺ اوفرمایل : اے ابو هریره ! ته چه څه سره ملاویدونکے ئے (هغه ستا په قسمت کښې لیکلے شویدی او) قلم اوچ شویدے نوته اختیار لرے، چه دخپل سړیتوب قوت ختم کړے یا نه کړے (بخاری)۔

تشریح : اَلْعَنَتَ : په فتحه دعین او نون سره فساد اوگناه او هلاکت اومشقت کښې داخلیدو ته وائی، دلته مراد د زنا په سبب په هلاکت کښې واقع کیدل دی۔

كَأَنَّهُ يَسْتَأْذِنُهُ فِي الْإِخْتِصَاءِ : دا د بعض راویانو کلام دے چه داخبرے ابو هریره څکه کوی چه زما دواده اسباب نه دی برابر نو ماله اجازت راکړه چه ځان نامرد کړم او په زنا کښې واقع نشم، اوداسے اجازت عثمان بن مظعون رضی الله عنه هم طلب کړیدے، لکه مشکوة (۲/۲) کښې راځی۔

جَفَّ الْقَلَمُ : (اوچ شویدے قلم دلیکلو نه) یعنی ستا په ژوند کښې چه ته دکومو اعمالو او کارونو سره ملاویږے هغه په تا باندے دمخکښې نه لیکلے شویدی فیصله شویده او قلم دهغے د لیکلو نه واپس اوچ شوے (بند شویدے) اوکومه سیاهی چه دقلم وه هغه اوچه شوے ده، نوی لیکل

نـه کیږي۔ تـورپشتي وائي : داکنایه ده دجریان القلم بالمقادیر اودهغې دا مضاء اود فراغ نه۔ (یعنی قلم پـه تـقـدیـر د څیـزونـو جاري شویدے او د هغې د لیکلو نه فراغت حاصل شویدے) طیبيؒ وائي : دلته اطلاق دلازم شویدے په ملزوم باندے ځکه فراغ مستلزم دے دقلم اوچیدلولره د سیاهي نه۔

فَاخْتَصِ عَلٰى ذٰلِكَ : دا صیغـه دامر ده د باب اختصاء نه یعنی ځان خصي کړه یا ئے پریده۔ ددے نـه مـعـلـومـه شـوه چـه تـقـدیر شته، مطلب دا چه که دا کار کوے اوکه نه کوے خو تقدیر به نافذ کیږي ځکـه ټـول کارونه په ازل کښې مقرر دي نو خصي کیدل او نه کیدل دواړه برابر دي څه چه مـقـرر وي هـغـه به واقع کیږي نو په اختصاء کښې فائده نشته۔ دلته (او) دتسویه دپاره دے۔ یعني دواړه کارونه برابر دي که ځان خصي کوے اوکه نه بهر حال تقدیر به ضرور واقع کیږي۔

حـاصـل د جواب را اووتو چه ستا په مقدر کښې چه څه کیدل لیکلے شوي وي هغه به پوره کیږي، الله دِے نـه کـړي که په بدکارئ کښې مبتلا کیدل ستا په تقدیر کښې لیکلے شوي وي نو دا بد کاري به ضرور تـا نـه صادریږي او که قضاء او قدر ستا پاکدامني او د گناه نه حفاظت لیکلے وي نو که ته ځان نامرد کړے او کـه ددے کـار نه منع شے علی کل حال ستا نفس تا نشي گمراه کولے او همدغه شان پاکدامن به ئے۔ نو پـدے حـدیـث کښې دے خبرے طرفتـه تنبیه او تهدید مقصود دے چه اسباب او تدبیر د تقدیر په مقابله کښې راوړل او د تقدیر د لیکلو نه بے پرواه کیدو سره د هغې نه تختیدل جائز نه دي۔

---

۱۱ – وَعَـنْ عَبْـدِاللهِ بْـنِ عَـمْـرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اِنَّ قُـلُـوْبَ بَـنِـيْ آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ اِصْبَعَيْنِ مِنْ اَصَابِعِ الرَّحْمٰنِ كَقَلْبٍ وَاحِدٍ يَصْرِفُهٗ كَيْفَ يَشَآءُ» ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ». رواه مسلم۔

ترجمه : او د عبد الله بن عمرو ؓ نـه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمایل : د ټولو انسانانو زړونه د الـلـه دگوتو نه ددوه گوتو مینځ کښې داسے دي ځنگه چه دیو انسان زړه دے، او هغه (خپلو گوتو سره) ځنگه چه غواړي زړونه اړوي راړوي، دے نه پس رسول الله ﷺ ددعا په طور دا اوفرمایل : اے زړونه اړونکیه راړونکیه ! زمونږ زړونه خپل اطاعت طرفته اوگرځوے۔ (مسلم)۔

تشریح : اِصْبَعَيْنِ : دالله صفات په دوه قسمه دي : ۱ – هغه چه معنی ئے معلومه وي په لغت دعـربـو کښې، لیـکـن حـقـیـقـت اوکـیـفـیـت ئـے الله ته سپارلے شویدے، ددے مثال لکه ید، اصبع وغیـره۔ اودا قسـم ډیر صـفـات دي۔ ۲ – هغه چه معنی لغوي اوکیفیت دواړه ئے مجهول وي لکه حـروف مـقـطـعـات دقرآن۔ په صفاتو الهیه ؤ کښې تاویل کول نا جائز دي، ځکه دا تحریف دے، او دے سره تعطیل د الله تعالی لازمیږي۔ کما سیاتي مراراً ان شاء الله۔

اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ ۔فـائـده : حـدیـث نـه د الـلـه تعالی قدرت اوملکیت معلوم شو چه ټول

زړونـه دهغـه پـه قبضـه کښې دی، نو انسانانو لره هغه ته التجاء پکار ده چه زمونږ زړونه طاعت طرفتـه واړوی، او اشاره ده دیتـه چـه هرکله نبی علیه السلام طاهر النفس انسان الله ته التجاء کوی نو مونږ له خو په طریق اولیٰ سره التجاء پکار ده نو غرض په دے کښې امت ته هدایت کول دی چه الله طرفته التجاء کوی۔

مـنـاسبت دحدیث د باب سره په یصرفه لفظ کښې دے۔ یعنی یصرفه علی وفق التقدیر۔ دتقدیر موافق ئے اړوی راړوی۔

۱۲ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :((مَا مِنْ مَوْلُوْدٍ اِلَّا یُوْلَدُ عَلَی الْفِطْرَةِ فَاَبَوَاهُ یُهَوِّدَانِهٖ اَوْ یُنَصِّرَانِهٖ اَوْیُمَجِّسَانِهٖ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِیْمَةُ بَهِیْمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّوْنَ فِیْهَا مِنْ جَدْعَاءَ ثُمَّ یَقُوْلُ: ﴿فِطْرَةَ اللهِ الَّتِیْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَیْهَا لَا تَبْدِیْلَ لِخَلْقِ اللهِ ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ﴾. متفق علیه۔

ترجمه : او ابـو هریره ﷺ نـه روایت دے چـه رسـول الـلـه ﷺ اوفرمائیل : کوم بچے چه پیدا کیږی هغه په فطرت پیدا کیږی (یعنی دحق دقبلولو په هغه کښې صلاحیت وی) بیا دهغه مور پلار هغه یهودی یا نصرانی جوړ کړی څنګه چه یو چارپایه (څناور) پوره چارپایه بچے راوړی آیا تاسو هغے کښې څه کمے بیـامـومئ، بیا نبی ﷺ دا آیت تلاوت کړو، ترجمه : دا دالله دهغے فطرت مـوافـق دے چـه پـه هـغـے الـلـه خلق پیدا کړیدی دالله خلقت کښې تغیر او تبدل نشته دا محکم دین دے۔ (بخاری او مسلم)۔

تشریح : یُوْلَدُ عَلَی الْفِطْرَةِ : دفطرت معانی : ۱ – په معنی داسلام او معرفت سره راځی اودا معـنـی قـرآن او سنت کښې زیاته مستعلمیږی لکه ابن القیمؒ دا دعوی کړیده۔ ۲ – التهیؤ والقابلیة للحق ای الاستعداد لقبول الحق۔ ۳ – مقدمات الاسلام (وهی خلوه عما یحثه علی الکفر) یعنی انسان خـالـی الـذهـن دے چه حق اوری نو زړئے قبلوی۔ ٤ – په معنی دعقل سلیم او فهم مستقیم سره راځی۔ خو اوله معنی دلته ظاهره ده، بیا دویمه معنی ظاهره ده۔

سوال : پـه دے حـدیـث کـښـی نبـی ﷺ فـرمـائـی : هر مولود (بچے) په فطرت اسلامی باندے پیدا کیږی۔ او بل حدیث کښې دی (الغلام الذی قتله الخضر قد طبع کافراً)۔ **جواب** : داحدیث په منزله دقاعده کـلـیـه دے او حـدیـث دغـلام مستثـنـیٰ دے ددے قاعدے نه۔ ۲ – خو اصح **جواب** دادے چه دقد طبع معنی دا نه ده چه پیدا شوے کافر وو بلکه پیدا شوے په فطرت باندے وو لیکن هغه بد بد اعمال کول نو الله پرے مهر اووهلو نو مهر زده کافر شو۔ نو معنی داشوه چه مهر زده کافر وو۔ فلا منافات۔

بَهِیْمَةً جَمْعَاءَ : یـعـنـی روغـه اوښه چه غوږ ئے نه وی پریکړے شوے۔ هَلْ تُحِسُّوْنَ فِیْهَا : بضم التـاء وکسـر الـحاء داحساس نه ماخوذ دے، لیدل، معلومول، جدعاء : غوږ پریکړے شوے۔ فِطْرَةَ

الله : دا دقرآن دآیت نه استشهاد دے۔ فطرةَ منصوب دے په فعل مقدر سره الزموا سره، بیا دلته منصوب بنزع الخافض دے ای کفطرة الله۔ جدعاء : غوږ پرے کړے شوے اوښه۔ نو حاصل دجواب دا شو چه لکه څنګه چه اوښه په وخت دپیدائش کښں روغه وی روستو ترے خلق غوږ وغیره پریکړی۔دغه شان ماشوم هم په فطرت باندے پیدا وی، بیا ئے مور پلار یهودی، نصرانی یا مجوسی کړی

● ۱۳ - وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی ﷺ قَالَ: قَامَ فِیْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِخَمْسِ کَلِمَاتٍ فَقَالَ: «اِنَّ اللهَ لَایَنَامُ وَلَایَنْبَغِیْ لَهٗ اَنْ یَّنَامَ یَخْفِضُ الْقِسْطَ وَیَرْفَعُهٗ، یُرْفَعُ اِلَیْهِ عَمَلُ اللَّیْلِ قَبْلَ عَمَلِ النَّهَارِ وَعَمَلُ النَّهَارِ قَبْلَ عَمَلِ اللَّیْلِ، حِجَابُهُ النُّوْرُ، لَوْکَشَفَهٗ لَاَحْرَقَتْ سُبُحَاتِ وَجْهِهٖ مَا انْتَهٰی اِلَیْهِ بَصَرُهٗ مِنْ خَلْقِهٖ. رواه مسلم.

ترجمه : او ابو موسی اشعری ﷺ نه روایت دے، یو ځل رسول الله ﷺ مونږ ته خطبه راکړله او پنځه خبرے ئے ارشاد اوفرمایلے : الله تعالی اوده کیږی نه اواوده کیدل دهغه دشان سره مناسب نه دی، هغه تله پورته کوی اوښکته کوی، دورځے دعمل نه مخکښں دشپے عمل اود شپے دعمل نه مخکښں دورځے عمل هغه ته پورته کولے شی، اود هغه حجاب (پرده) نُور دے، که هغه اوچته کړی نو دهغه دمخ پلوشے به دمخلوقاتو دنظر دحده پورے تول ځیزونه اوسوزوی۔(مسلم)۔

تشریح : محدثین فرمائی : داحدیث سید الاحادیث دے لکه آیة الکرسی چه سیدة الآیات ده وجه داده چه په دے حدیث کښں د الله صفات ذکر دی چه هغه دلالت کوی په کمال د الله تعالی۔

لاینام : دا صفت سلبی د الله دے او صفات سلبیه دوه قسم دی :

۱ - سلبیه محضه چه متضمن نه وی صفت ثبوتی او کمال لره۔ اودا الله دپاره نه دی ثابت، لکه دمتکلمینو دا وینا چه : لیس بجوهر ولا عرض ولا متبعض ولا مصور الخ۔ پدے کښں کمال نشته۔

۲ - دویم قسم هغه سلبیه صفات دی چه متضمن دی صفت ثبوتی لره لکه لاینام نو دا متضمن دے علم او قدرت د الله لره ولے نه اوده کیږی، (لکمال علمه وقدرته وعدم احتیاجه)۔ (ځکه هغه کامل علم او قدرت او لری حاجت ئے خوب ته نشته) نو دا صفات سلبیه د الله ډیر دی اوصفات ثبوتیه خو شمار نشته۔

فائده : دانبیاء علیهم السلام طریقه په صفاتو د الله تعالی کښں اثبات مفصل او نفی مجمل وه۔ په خلاف دطریقه دمتکلمینو نه۔ چه نفی مفصل او اثبات مجمل کوی۔ یَخْفِضُ الْقِسْطَ وَیَرْفَعُهٗ : قسط انصاف ته وائی دلت مراد یا میزان دے ځکه په میزان باندے د انصاف تقسیم کیږی، لکه روستو حدیث ابی هریره کښں د میزان لفظ راغلے دے۔

۲ - په دے کښں اشاره ده ﴿ کُلَّ یَوْمٍ هُوَ فِیْ شَاْنٍ ﴾ ته چه دخلقو په مابین کښں په عدل فیصله

کول۔ ۲- یا د قسط نه مراد رزق دے ځکه قسط حصے ته هم وائی او رزق د هر مخلوق حصه وی په هغه کښې زیاتوالے کموالے الله تعالی راولی موافق د خپل حکمت ۔ په حدیث کښې رد دے په قدریه ؤباندے۔ سُبُحَاتِ وَجْهِهٖ : جمع سُبُحَة ده پلوشه دمخ ته وائی یعنی تازه گی او انوار او جلال مراد دے یا محاسن مراد دی ځکه حسن دمخ چه کله اولیدلے شی نو خلق سبحان الله وائی۔

مَا انْتَهٰی اِلَیْهِ بَصَرُهٗ مِنْ خَلْقِهٖ : دلته د بصره ضمیر یا الله ته راجع دے اود الیه ضمیر (ما) ته راجع دے، او من خلقه بیان د (ما) دے یعنی که الله حجاب لرے کړی نو د الله دمخ پلوشے به هغه مخلوق اوسیزی کوم ته چه د الله نظر رسیږی چه هغه ټول مخلوق دے۔نو په دے کښې د الله د بصر احاطه په ټولو کائناتو ذکر ده ۔ ۲- یا د (بصره) ضمیر ما ته راجع دے او (من خلقه) بیان دما دے اود (الیه) ضمیر وجه ته راجع دے یعنی څوك چه الله تعالی ته اوګوری هغه به هلاك شی خو حجاب مانع دے دنظر کولو نه دالله ذات ته ۔ای ما انتهی بصره الی الله تعالی۔ یعنی کوم ځائے پورے چه ددے مخلوق نظر رسی الله ته۔

۱۴- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «یَدُ اللهِ مَلْاٰیٔ لَا تَغِیْضُهَا نَفَقَةٌ، سَحَّاءُ اللَّیْلَ وَالنَّهَارَ، اَرَاَیْتَ مَا اَنْفَقَ مُنْذُ خَلَقَ السَّمَاءَ وَالْاَرْضَ فَاِنَّهٗ لَمْ یَغِضْ مَا فِیْ یَدِهٖ وَکَانَ عَرْشُهٗ عَلَی الْمَاءِ وَبِیَدِهِ الْمِیْزَانُ یَخْفِضُ وَیَرْفَعُ». متفق علیه. وَفِیْ رِوَایَةٍ لِمُسْلِمٍ: «یَمِیْنُ اللهِ مَلْاٰی» - قَالَ ابْنُ نَمِیْرٍ: «مَلْاٰنُ، - سَحَّاءٌ لَا یَغِیْضُهَا شَیْءٌ اللَّیْلَ وَالنَّهَارَ»۔

ترجمه : او ابو هریره ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمایل : دالله تعالی لاس ډك دے، شپه اوورځ (هر وخت) خرچ کول هم هغے کښې څه کمے نه پیدا کوی، آیا تاسو نه وینئ چه دکله نه هغه زمکه او آسمان پیدا کړل او هرکله چه دهغه عرش (هم) په اوبو وو څومره خرچ ئے کړیدے، لیکن ددومره زیات خرچ کولو باوجود څه چه دهغه لاس کښې دی، هغے کښې کمے نه دے راغلے، اودهغه لاس کښې تله ده چه هغه پورته کوی او ښکته کوی۔ (بخاری، مسلم) اود مسلم روایت دے : د الله ښے لاس ډك دے اود ابن نمیرؒ روایت کښې دی : د الله لاس ډك دے همیشه ورکونکے دے (شپه او ورځ دخرچ کولو باوجود هغے کښې دڅه کمے نه راځی۔

تشریح : لَا تَغِیْضُهَا نَفَقَةٌ : یعنی نه ئے کموی نفقه۔دغاض یَغِیْضُ باب ضرب نه دے لازم او متعدی دواړه استعمالیږی۔ سَحَّاءٌ : د فعلاء وزن دے دسَحَّ یَسِحُّ بکسر السین نه مضاعف دی په معنی دبهیدلو سره یعنی ډیر بهیدونکی دی، سخاء کونکی دی همیشه دپاره۔ ځکه سحاء صیغه دمبالغه ده۔ اللَّیْلَ وَالنَّهَارَ : منصوب دے بناء بر ظرفیت دسحاء دپاره یعنی په شپه او ورځ کښې سخا کوی ۔ اَرَاَیْتَ مَا اَنْفَقَ مُنْذُ خَلَقَ السَّمَاءَ وَالْاَرْضَ : دکائناتو په پیدائش کی اختلاف

دے: ۱- فلاسفه وائی چه کائنات قدیم (همیشه) دی، نه ورله ابتداء شته اونه انتهاء شته۔ ځکه چه کائنات صادر ذی داللہ نه په طریقه دعلیت سره او معلول دعلت نه نه جدا کیږی، لکه څنګه چه اللہ همیشه دے دغه شان به کائنات هم همیشه وی۔ دارنګه کائنات مرکب دی دهیولیٰ او صورت نه اودا دواړه قدیم دی، نو کائنات هم قدیم شو، اود دوئ غرض دادے چه قیامت او فناء ددے عالم به نه کیږی، بلکه عالم به په اعتبار دانواعو او اجناسو سره همیشه وی، اګرچه باعتبار الاشخاص والاجزاء والجزئیات فانی کیږی، نو نوع دعالم دقدیم ده اګرکه جزئیات حادث دی۔

۲- دمسلمانانو عقیده دا ده چه مخلوق دخالق نه په طریقه دعلیت نه دے پیدا، بلکه بالاختیار پیدا دے۔ نو په دے کښې بیا مختلف دی چه آیا کائنات مخکښې وو که نه وو؟، نو په دے کښې اتفاق دے چه مخلوق داللہ نه پس دی، دهغه مساوی نه دی۔ بیا عام مسلمانان وائی چه مخلوق مخکښې معدوم وو، بیا مُحْدَث (پیدا) شو اودلیل په دے دا حدیث دے (مذ خلق السموات والارض) چه دخلق السماء والارض والعرش نه مخکښې مخلوق نه وو۔ ۲- دویم حدیث امام بخاری په باب بدء الخلق کښې نقل کړیدے چه (کان اللّٰه ولا شئ غیره) وفی روایة (ولا شئ معه) بعض سلف لکه ابن تیمیه او ابن القیم فرمائی: چه کائنات حادث دی داللہ نه اختیاراً، او ابتداءئے نه ده معلومه۔ دلیل دا ذکرکوی چه که مونږ اووایو چه اللہ موجود وو او مخلوق نه وی، نو تعطیل د اللہ به راشی، ځکه اللہ خالق وو او مخلوق نه وو، نو خالقیت څرنګ ثابت شی؟۔

۳- دلیل: هر هغه ذات چه حیوٰة اوعلم او اراده لری دا به ضرور فعل کوی، او افعال به ئے مخلوق کښې وی۔ لیکن بعض علماؤ رد کړیدے چه علامه ابن تیمیہؒ او ابن القیمؒ لره په دے مسئله کښې قول نه دی کول پکار، بلکه دا مسئله اللہ ته سپارل پکار دی، او اللہ دے خالق وی اومخلوق دے لا نه وی پیدا د اځه محاله نه ده لکه یو سړے عالم دے که چاته علم ښائی اوکه نه ښائی، لیکن هغوی دا قول ځکه کړیدے چه انسانانو ته داللہ لوئی والے اوښائی۔

مذ خلق: دا د هغه اهل السنة دلیل دے چه قائل دی په دے چه مخلوق مخکښې معدوم وو روسته پیدا شو۔ ددے تفصیل زمونږ په رساله تصحیح العقائد تعلیق شرح العقائد کښې اوګوره، دارنګه مجموعة الفتاوی۔

۱۵- وَعَنْهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ ذَرَارِیِّ الْمُشْرِكِیْنَ قَالَ: «اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِیْنَ» متفق علیه.

ترجمه: او ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول اللہ ﷺ نه دمشرکانو داولادو په باره تپوس اوشو (چه دمرګ نه پس به دوزخ ته ځی اوکه جنت ته) نبی ﷺ اوفرمایل: اللہ بهتر پو هیږی (که هغه ژوندی وے) نو هغوی به څه عمل کولو۔ (بخاری اومسلم)۔

ددے حدیث تشریح مخکښې تیره شویده۔

الفصل الثانی - دویم فصل

۱۶- عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللهُ الْقَلَمُ، فَقَالَ لَهُ: اُكْتُبْ! قَالَ: مَا اَكْتُبُ؟ قَالَ: اُكْتُبِ الْقَدَرَ فَكَتَبَ مَاكَانَ وَمَا هُوَ كَائِنٌ اِلَى الْاَبَدِ». رواه الترمذیُّ وقال هذا حدیث غریب اسناداً

ترجمه : عباده بن صامت ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : الله چه دتولونه مخکښ کوم څیز پیدا که، هغه قلم وو، بیا قلم ته دلیکلو حکم اوشو، قلم اووئیل : (اله العالمین) څه اولیکم۔ الله تعالی ورته اوفرمایل : تقدیر اولیکه، نوقلم هغه څیزونه اولیکل کوم چه (اوسه پورے) شوے دی او هغه څیزونه ئے اولیکل کوم چه آینده کیدونکی دی۔ امام ترمذی دا حدیث روایت کړیدے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث دسند په اعتبار سره غریب دے۔

تشریح : اِنَّ اَوَّلَ مَا خَلَقَ اللهُ الْقَلَمُ : دلته اولیت اضافی مراد دے یعنی په نسبت دنورو مخلوقاتو قلم مخکښ پیدا دے اود عرش وغیره نه روستو دے۔ ۲- په نسبت د هغه څه دے چه کوم دکتابت دقلم نه صادر شوے وی (ای قال له ذلك اول ما خلقه)، (یعنی دده د پیدائش په ابتدائی وخت کښ ئے ورته اووئیل) نو بناء په دے باندے (اول) منصوب علی الظرفیة دے۔ او بناء په اول باندے (اول) مبتداء ده او القلم ئے خبر دے۔ اودیته اشاره شویده په دے قول دابن قیّم کښ :

وکتابة القلم الشریف تعقبت ایجاده من غیر فصل زمان

فَكَتَبَ مَاكَانَ : ددے دوه ترجمے دی : ۱- ما کان قبل زمن النبی ﷺ وما هو کائن الی یوم القیامه)۔ (د زمانے د نبی علیه السلام نه مخکښ او تر قیامته پورے څیزونه ئے اولیکل) ۲- ماکان قبل خلق القلم، (هغه څیزونه ئے اولیکل کوم چه د قلم نه مخکښ پیدا وو) بنا په دے معنی باندے دا دلیل دے چه عرش، ماء او هواء مقدم دی په قلم باندے، او تقدیر دقلم دده د پیدائش نه روستو شروع شویدے۔ اِلَى الْاَبَدِ :

سوال : ابد خو غیر متناهی زمانے ته وائی او هغه خو معدوم دے نو معدوم څنګه اولیکلے شی۔

جواب : ۱- الله قادر دے په لیکلو دمعدوماتو باندے څکه معدومات دالله په علم کښ موجود دی۔ ۲- ابد نه مراد الی قیام الساعة دے لکه یو روایت کښ الی قیام الساعة راغلے دے، فلا اشکال۔

درجة الحدیث : اسناده حسن : اخرجه الترمذی (۲۱۵۵) وقال غریب من هذا الوجه واخرجه (۳۳۱۹) وقال هذا حدیث حسن غریب، دا حدیث پدے سند ضعیف دے، په دے کښ عبد الواحد بن سلیم المکی البصری ضعیف دے۔ مګر هغه پدے روایت متفرد نه دے۔ لهذا حسن درجه کښ دے څکه د ترمذی روایت نه سیوا په بل سند سره ابوداود او منذری ذکر کړے او سکوت ئے پرے کړیدے۔ دارنګه په دے معنی باندے حدیث د ابن عباس عند الطبرانی او د ابو هریره عند ابن عساکر اود معاویه بن قره عند ابن جریر هم راغلے دے۔ دا وجه ده چه په کتاب التفسیر د ترمذی کښ دے حدیث ته حسن صحیح غریب وئیلے

شویدے فی بعض النسخ عندنا۔ نو دا د تعدد الطرق والشواهد په وجه صحیح او حسن دے۔

۱۷- وَعَنْ مُسْلِمِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: سُئِلَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَنْ هٰذِهِ الْآيَةِ ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيٓ آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾ الآية قَالَ عُمَرُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يُسْأَلُ عَنْهَا. فَقَالَ: «إِنَّ اللهَ خَلَقَ آدَمَ ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ بِيَمِينِهِ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً فَقَالَ: خَلَقْتُ هٰؤُلَاءِ لِلْجَنَّةِ وَبِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَعْمَلُونَ ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً فَقَالَ: خَلَقْتُ هٰؤُلَاءِ لِلنَّارِ وَبِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ يَعْمَلُونَ» فَقَالَ رَجُلٌ مِنْهُمْ: فَفِيمَ الْعَمَلُ يَا رَسُولَ اللهِ! فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ اللهَ إِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلْجَنَّةِ اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَمُوتَ عَلٰى عَمَلٍ مِنْ أَعْمَالِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُدْخِلُهُ بِهِ الْجَنَّةَ وَإِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلنَّارِ اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتّٰى يَمُوتَ عَلٰى عَمَلٍ مِنْ أَعْمَالِ أَهْلِ النَّارِ فَيُدْخِلُهُ بِهِ النَّارَ». رواه مالك والترمذیٌ وابوداود

ترجمه : اود مسلم بن یسارؒ نه روایت دے چه عمر بن خطاب ؓ نه ددے آیت باره کښې تپوس اوشو : واذ اخذ ربك من بنی آدم من ظهورهم ذریتهم واشهدهم علی انفسهم الست بربکم قالوا بلی شهدنا ان تقولوا یوم القیامة انا کنا عن هذا غافلین) (پ : ۹ : ۱۱) ترجمه : او هرکله چه ستا رب دآدم (علیه السلام) دپشت نه دهغوی اولاد راوښکل (او پوهه ورکولو سره) هغوی نه ئے دهغوی متعلق اقرار واخستو چه آیا زه ستاسو رب نه یم نو تولو جواب وکړو، ولے نه، مونږ تول (ددے واقعے) گواه جوړیږو، دپاره ددے چه تاسو خلق دقیامت په ورځ دا اونه وائے چه مونږ خو دے (توحید) نه بیخی ناخبره وو، نو عمرؓ اووئیل : دے آیت باره کښې چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه : الله تعالی آدم (علیه السلام) پیدا کړو، بیا دهغه په شا ئے ښے لاس راښکلو او هغے نه ئے دهغه اولاد راوښکلو، او وے فرمایل : ما دوئ جنت دپاره پیدا کړل اود جنتیانو اعمال به کوی، بیا خپل ښے لاس ئے دآدم په شا راښکلو او هغے نه ئے دهغه اولاد راوښکلو او وے فرمایل : ما دوزخ دپاره دوئ پیدا کړل اود دوزخیانو په شان اعمال به کوی۔ دے آوریدو سره یو سړی اووئیل یارسول الله ! بیا دعمل څه ضرورت دے؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمایل : هرکله چه الله تعالی یو بنده جنت دپاره پیدا کوی نو هغه نه دجنتیانو په شان عمل صادروی، تردے چه دهغه بنده وفات دجنتیانو داعمالو په شان عمل باندے کیږی، نو هغه دهغے عمل په وجه جنت ته داخل کړی، او هرکله چه الله یو بنده داور دپاره پیدا کړی نو هغه داور والو د اعمالو په شان عمل کښې اولګوی تردے چه داور والو داعمالو په شان عمل باندے وفات شی نو دهغے په وجه ئے اُورته داخل کړی - (موطا مالك، ترمذی، ابوداود)۔

د مسلم ملاقات دعمر ؓ سره نه دے شوے نودا روایت منقطع دے، لیکن نور ډیر روایات ددے متابعات شته چه دا روایت قوی کوی، اوابو داود هغه ساقط راوی ذکر کړیدے وهو نعیم بن ربیعه۔

تشریح : وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيٓ آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ : په دے آیت کښ دوه قسمه توجیهات دی :

۱ - یو دمعتزلو ده، اودا مختار دابن القیم ؒ او ابن کثیر ؒ دے چه حقیقةً الله تعالی دا بچی دصلب آدم نه نه دی خارج کړی بلکه دا په طریقه د تمثیل وئیلے شویدی، او په دے باندے دلیل سیاق دآیت دے چه (من ظهورهم) او بنی آدم الفاظ ئے راوړیدی، او ظهر آدم لفظ نه دے وئیلے شوے۔ نو تفسیر دآیت داسے کوی چه مراد ددے نه فطرت اسلامی دے یعنی الله بنی آدم په فطرت باندے پیدا کړیدی او عهد ئے ترینه اخستے دے په خپل ربوبیت باندے په نصب ددلا ئل عقلیو سره او په خلق دآسمان اود زمکے او شپے او ورځے سره په دے وجه ددے په باره کښ به ترینه تپوس کوی دقیامت په ورځ اودوئ فرمائی چه دا حدیث او نور روایات ددے آیت تفسیر نشی کیدے ځکه چه دا روایات ضعیف او منقطع دی، او اکثر موقوف دی، کما فی ابن کثیر (۱/ ۲٦٤)۔

۲ - دویمه توجیه : ددے برعکس نورعلماء فرمائی : چه دا عهد او میثاق په عالم الارواح کښ حقیقةً شویدے چه الله تعالی دآدم دشا نه اولاد دسرو میږانو په شکل خارج کړل اوبښی او گس طرفته ئے ورته واچول اود خپل ربوبیت اقرارئے پرے اوکړو، اودوئ وائی چه دا روایات صحیح دی لکه دا رایه دشیخ البانی ؒ او صاحب المرعاة ده، وهو الاصح۔ او بنی آدم جمع او من ظهورهم جمع ئے په دے وجه ذکر کړیدی چه دآدم په شا کښ چه کوم اولاد وو، نو هغوی ئے دیو بل نه پیدا کړل نو ځکه جمع راغلے ده۔ اودا مجموعه دآدم دشا نه پیدا شو۔ داوجه ده علی ؓ، سهل بن عبد الله التستری ؒ او ذو النون مصری ؒ وغیره سلفو نه دا نقل دی چه مونږ ته دا لوظ اوعهد اوس هم یاد دے، نو دآیت تفسیر چه په صحیح روایت اوشی اگرکه موقوف ولے نه وی دا غوره دے دضائع کولو ددے روایت نه۔ لیکن زه وایم چه ددواړه تفسیرونه صحیح دی او چه حقیقت مراد شی نو هیڅ بعد او استحاله په کښ نشته، نودا حدیث تفسیر ددے آیت شو اودا احتمال هم شته چه اشاره شی فطرت او نصب ددلا ئلو ته والله تعالی اعلم کما فی بدائع التفسیر (۲/ ۲۸۰) وابن کثیر۔

فَفِيمَ الْعَمَلُ : سوال : صحابهٔ ؓ همیشه دپاره ولے همدغه سوال کوی؟ جواب : دا بیله مجمع ده، اوهغه صحابهٔ کرامو تپوس کړیدے کوم چه نه دی خبر او په مخکښنۍ مجمع کښ ندی شریك۔

حَتّٰى يَمُوتَ : فائده : په دے کښ اشاره ده چه څوك عمل صالح کوی اوپه دے حالت کښ مړ شی نوجنت ته به ځی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح بشواهده : اخرجه مالك فى الموطأ (۲/۸۹۸ رقم ۲) واحمد (۱/ ٤٤) وابوداود (۵/۷۹) رقم (٤۷۰۳) والترمذى (۳۰۷۵) فى تفسير سورة الاعراف وقال هذا حديث حسن وفى سنده مسلم بن يسار لم يسمع من عمر والمحذوف من البين نعيم بن ربيعة وثقه ابن حبان وقال الحافظ :

مقبول ای عند المتابعة وقد ذکر الحافظ ابن کثیر شواهد کثیرة لهذا الحدیث فی تفسیره۔

۱۸- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَفِيْ يَدِهٖ كِتَابَانِ فَقَالَ: «اَتَدْرُوْنَ مَا هٰذَانِ الْكِتَابَانِ؟» قُلْنَا: لَا! يَارَسُوْلَ اللهِ! اِلَّا اَنْ تُخْبِرَنَا فَقَالَ لِلَّذِيْ فِيْ يَدِهِ الْيُمْنٰى: «هٰذَا كِتَابٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ فِيْهِ اَسْمَاءُ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَاَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ ثُمَّ اُجْمِلَ عَلٰى آخِرِهِمْ فَلَايُزَادُ فِيْهِمْ وَلَايُنْقَصُ مِنْهُمْ اَبَداً» ثُمَّ قَالَ لِلَّذِيْ فِيْ شِمَالِهٖ: «هٰذَا كِتَابٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ فِيْهِ اَسْمَاءُ اَهْلِ النَّارِ وَاَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ ثُمَّ اُجْمِلَ عَلٰى آخِرِهِمْ فَلَايُزَادُ فِيْهِمْ وَلَايُنْقَصُ مِنْهُمْ اَبَداً» فَقَالَ اَصْحَابُهٗ: فَفِيْمَ الْعَمَلُ يَارَسُوْلَ اللهِ! اِنْ كَانَ اَمْرٌ قَدْ فُرِغَ مِنْهُ؟ فَقَالَ: «سَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا فَاِنَّ صَاحِبَ الْجَنَّةِ يُخْتَمُ لَهٗ بِعَمَلِ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَاِنْ عَمِلَ اَيَّ عَمَلٍ وَاِنَّ صَاحِبَ النَّارِ يُخْتَمُ لَهٗ بِعَمَلِ اَهْلِ النَّارِ وَاِنْ عَمِلَ اَيَّ عَمَلٍ» ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِيَدَيْهِ فَنَبَذَهُمَا ثُمَّ قَالَ: «فَرَغَ رَبُّكُمْ مِنَ الْعِبَادِ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ فِي السَّعِيْرِ». رواه الترمذی۔

ترجمه: او عبد الله بن عمرو ﷺ نه روایت دے چه یو ځل رسول الله ﷺ بهرته تشریف راوړو، لاس کښې ئے دوه کتابونه وو، صحابوؓ ته ئے اوفرمایل: پو هیږئ چه دا دوه کتابونه څه دی؟، (صحابهٔ وائی) مونږ عرض اوکړو، یارسول الله! مونږ ته څه معلومه ده، تاسو اوښائے (چه دا څه کتابونه دی) نبی کریم ﷺ دهغے کتاب باره کښې اوفرمایل کوم چه ښی لاس کښې وو: دا د الله له اړخه دے، دے کښې د جنتیانو، دهغوئ دپلرونو اودهغوئ دقام قبیلو نومونه لیکلے شوے دی بیا آخر کښې جمع (بندی) شوے ده اوس دے کښې نه کمے کیدے شی، نه زیاتے۔ دے نه پس ئے ګس لاس والا کتاب متعلق اوفرمایل: دا دالله دطرفه یو داسے کتاب دے چه دے کښې د دوزخیانو، دهغوئ دپلرونو او دهغوئ دقام قبیلو نومونه لیکلی دی بیا آخر کښې جمع بندی شوے ده، اوس دے کښې نه کمے کیدے شی نه زیاتے۔ دے آوریدو سره صحابوؓ عرض اوکړو یارسول الله! که دا څیز دمخکښې نه فیصلے شوے وی چه دجنت اودوزخ مدار دتقدیر په لیك باندے دے نو بیا دعمل څه ضرورت دے؟۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: ددین اوشریعت مطابق خپل اعمال په ښه شان مضبوط کړئ او (دالله تعالی) تقرب حاصل کړئ ځکه چه د جنتی خاتمه د اهل جنت په اعمالو وی اګرکه (ژوند کښې) هغه هر څنګه (نیك یا بد) عمل کړے وی اود دوزخی خاتمه ددوزخیانو په عمل وی اګرکه دهغه اعمال هر څنګه شوے وی۔ بیا رسول الله ﷺ خپلو دواړو لاسونو (مبارکو) سره اشاره اوکړه او کتابونه ئے کیخودل او وے فرمایل: ستاسو رب د بندګانو باره کښې دمخکښې نه دا فیصله کړے ده چه یو جنتی

جماعت دے او بل دوزخي جماعت دے۔(ترمذی)۔

تشریح : اَتَدْرُوْنَ : دا متوجه کولو دپاره بیانوی ورنه په دے خو هغوی واقعی نه پو هیدل ولے چه رسول الله ﷺ خو لا تشریح ورته نه وه کړے۔ مَا هٰذَانِ الْكِتَابَانِ؟ : په دے کښ دوه قوله دی : ۱- دلته مقصود تمثیل دے او حقیقةً د رسول الله ﷺ په لاس کښ کتابان نه ؤ موجود بلکه رسول الله ﷺ ددے معاملے دمنکشف کولو دپاره اشاره حسیه اوکړله دپاره دز یادت مبالغه فی الوقوع چه جنتیان او جهنمیان الله جدا جدا کړیدی۔ ۲-لیکن اصح دویم قول دے چه دا صاحب المرعاة مبارکفوریؒ غوره کړیدے چه دا حقیقةً کتابونه وو اودا د رسول الله ﷺ معجزه وه، او معجزے دغه شان دعقل نه ناشنا وی، چه الله ورته په دوه کتابونو کښ دتولو جنتیانو اوجهنمیانو پوره ریکارډ لیکلے دے او الله په دے قادر دے، په دے کښ دالله قدرت ته اشاره ده چه معمولی کتاب کښ دومره ډیر کارونه موجود دی۔ او اصل دا ده چه الفاظ شرعیه به په حقیقت باندے محمول وی، تردے چه قرینه صارفه دمجاز موجوده شی۔ بناء په دے توجیه (فنبذ هما) معنی دا ده چه عالم الغیب ته ئے گوذار کړل۔ اودا قول امام غزالیؒ هم غوره کړیدے کما فی کیمیاء سعادت، هغه وائی چه نبی ﷺ نه ددے کارنه علاوه نور ډیر عجائب اوغرائب حقیقةً ښکاره شویدی، نو په دے کښ څه استبعاد نشته۔ اوکه تمثیل مراد شی نو بیا معنی داده چه لاسونه ئے پریخودل، چه دا بیا بیاض محضه وو۔

مرجة الحديث : اسناده صحیح : رواه الترمذی فی القدر(۲۱٤۱) وقال : هذا حدیث حسن صحیح غریب واخرجه احمد (۲/۱٦۷) والنسائی وفی الباب عن ابن عمر عند البزار وابن جریر وابن عباس عند الدارقطنی وابن جریر۔

۱۹ - وَعَنْ اَبِیْ خُزَامَةَ عَنْ اَبِیْهِ قَالَ: قُلْتُ یَارَسُوْلَ اللهِ اَرَأَیْتَ رُقًی نَسْتَرْقِیْهَا وَدَوَاءً نَتَدَاوٰی بِهٖ وَتُقَاةً نَتَّقِیْهَا هَلْ تَرُدُّ مِنْ قَدَرِ اللهِ شَیْئاً ؟ قَالَ: «هِیَ مِنْ قَدَرِ اللهِ».رواه احمد والترمذیؒ و ابن ماجه.

ترجمه : اوابو خزامه دخپل پلار نه نقل کوی چه هغه اووئیل : ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو، یا رسول الله ! هغه دمونه چه مونږه ئے (دشفا دپاره) کوو او هغه دوایانے چه مونږ ئے (دصحت حاصلولو دپاره) استعمالوو، او هغه څیزونه چه هغے سره مونږ حفاظت حاصلوو (لکه ډهال، زغره اوداسے نور) دهغے باره کښ ماته خبر راکړه چه آیا دا تول څیزونه دالله په لیکلی تقدیر کښ څه اثر کولے شی۔؟ نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمایل : دا څیزونه هم دتقدیر دلیك مطابق دی۔(احمد، ترمذی ابن ماجه)۔

تعارف د ابوخُزامه : خزامه بن یَعْمُر، دا تابعی دے او مجهول راوی دے شاگرد دده صرف

یو دے اود یَعْمُر نه صرف یو روایت نقل دے په باب الرقی کښ، لیکن دده مؤید شته دے چه هغه حدیث دعمر دے، چه کله دشام علاقے ته داخلیدو چه په هغے کښ طاعون ګډ وو، نو مشوره ئے اوکړه نو ابو عبیده بن الجراحؓ ورته عرض اوکړو: تفر من قدر اللّٰه یا عمر ؟) اے عمر! دالله دتقدیر نه تښتے ؟ قال: نفر من قدر اللّٰه الی قدر اللّٰه) ۔ ورته ئے اوفرمائیل : مونږ د الله د تقدیر نه د الله تقدیر طرفته تښتو۔ (بخاري)۔(دا روایت اصل کښ د ابن ابی خزامه نه نقل دے)۔

تشریح : دجواب مطلب دا دے چه څنګه بیماري وغیره په تقدیر کښ لیکلے شوی دی دغسے دهغے علاج اود هغے نه دحفاظت اسباب هم دتقدیر دلیك مطابق دی، یعنی څنګه چه دیو سړی په تقدیر کښ څه بیماري لیکلے شوے وی نو هغے سره سره دا هم په تقدیر کښ لیکلے شوے وی چه دا بیمار به فلانی وخت دخپلے بیمارئ علاج کوی، اودا هم فیصله شوے وی چه هغے علاج معالجے سره به هغه ته فائده اوشی یانه۔ که فائده کیدل لیکلے وی نو فائده به ورته اوشی، که فائده کیدل نه وی لیکلے شوی نو فائده به ورته اونشی، په دے وجه که یو بیمار دخپل بیمارئ علاج اوکړو او هغه ته فائده اونشوه نو هغه له پو هیدل پکار دی چه تقدیر کښ شفاء نه ده لیکلے شوے۔ نو معلومه شوه چه بیمارئ کښ علاج کول یا خپل حفاظت دپاره دخارجي اسبابو استعمالول د تقدیر د لیك خلاف نه دی۔

رُقًی نَسْتَرْقِیْهَا : مسئله : په بل باندے دم اچول افضل دی کما فی حدیث مسلم، اوطلب کول ددم په دریو ځیزونو کښ جائز دی رواه احمد وابوداود والترمذی وابن ماجه مشکوٰة (۲/۳۹۰) : ۱– یو چه په چا باندے نظر (سترګے) لګیدلے وی۔ ۲– چه څوك مار لړم چیچلے وی، کما فی الحدیث: لا رقیة الامن عین او حمة ۔ ۳– نمله بیماري وی لکه کتاب الطب والرقی کښ راځی، مشکوٰة (۲/۳۹۰)۔ دے نه علاوه نورو ځایونو کښ دم طلب کول د توکل خلاف دی، وجه داده چه حدیث کښ دی نبی اکرم ﷺ فرمائی : (من استرقی فقد بریٔ من التوکل) ۔ دغه شان دم طلب کونکے به دهغه کسانو نه نه وی کوم چه بے حسابه بے کتابه جنت ته داخلیږی، ځکه دهغوی په صفاتو کښ یو صفت دادے چه (هم الذین لا یسترقون) دچانه دم اچول نه غواړی۔ کما فی حدیث الصحیحین۔

وَدَوَاءً نَتَدَاوٰی بِهٖ : فائده : هغه ادویات چه په درجه دظن کښ وی چه غالب ګمان دے چه انسان پرے جوړیږی نو دهغے استعمال جواز لری، اوکوم ادویات چه شکی وی، نو دهغے داستعمال نه ځان ساتل پکار دی۔ تقاه : اسباب دبچاؤ چه ځان پرے اوساتو لکه توره، ډهال، زغره، توپك طمانچه وغیره۔

فائده : اسباب اودوایانے استعمالول درے قسمه دی : ۱– یو هغه دی چه په هغے باندے یقین وی داثر کولو لکه خوراك، څښاك کول چه په دے باندے شریعت حکم کریدے ﴿ کلوا واشربوا﴾ ددے نه بغیر ژوند ګران دے۔ ۲– هغه اسباب او دوایانے چه دهغے تاثیر په درجه دظن کښ وی لکه

تہ پلك مشین نه ځان بچ كول چه په دے كښې غالب گمان دتاثیر وی، نوددے استعمالول په درجه دجواز كښې دی كه څوك ئے پریدی هم جائز ده اوكه څوك ئے استعمالوی نو حلال دی ورله۔ نبی اكرم ﷺ پخپله هم دوایانے استعمال كړیدی، كه د هغه د تابعداریٔ په نیت استعمال كړے شی نو اجر به هم په كښې وی۔ عائشهؓ نه چا تپوس اوكړو، تاځنگه طبیبی زده كړیده ؟ هغے اووئیل : نبی ﷺ چه به كله بیمار شو، خلقو به ورته دوایانے ښودلے، ماته به ئے حكم كولو چه دا جوړے كړه نو ما به زده كړے، ددے نه معلومیږی چه نبی ﷺ به ډیرے دوایانے استعمالولے۔

۳- هغه دوایانے چه په درجه دوَهم كښې وی، شكی وی چه آیا په دے سره صحت راځی اوكه نه، لكه بعض خلق د راتلونكی څیزونو نه سخت پرهیز كوی چه فلانے شے مه استعمالویٔ دا كار به اوشی نوددے دوائی نه ځان ساتل پكار دی۔

درجة الحديث : رواه الترمذی باسناد حسن۔واخرجه احمد (۴۲۱/۳) وابن ماجه فی السنة واخرجه الحاكم وصححه وضعفه الالبانی فی ضعیف الترمذی۔

۲۰- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ؓ قَالَ: خَرَجَ عَلَیْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَنَحْنُ نَتَنَازَعُ فِی الْقَدَرِ فَغَضِبَ حَتّٰی احْمَرَّ وَجْهُهٗ حَتّٰی كَاَنَّمَا فُقِیَٔ فِیْ وَجْنَتَیْهِ حَبُّ الرُّمَّانِ فَقَالَ: «اَبِهٰذَا اُمِرْتُمْ اَمْ بِهٰذَا اُرْسِلْتُ اِلَیْكُمْ ! اِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حِیْنَ تَنَازَعُوْا فِیْ هٰذَا الْاَمْرِ عَزَمْتُ عَلَیْكُمْ عَزَمْتُ عَلَیْكُمْ اَنْ لَا تَنَازَعُوْا فِیْهِ» رواه الترمذی

ترجمه : او ابو هریره نه روایت دے چه یو ځل مونږ دتقدیر په مسئله باندے بحث كولو چه رسول الله ﷺ تشریف راوړو (دے مسئله كښې مونږ نښتی لیدو سره) د نبی كریم ﷺ مخ مبارك دغصے نه سُور شو، اوداسے معلومیده گویا د آنار دانے ئے په اننگو مباركو نچوړ شوی دی دے حالت كښې) نبی ﷺ اوفرمایل : آیا تاسو ته ددے څیز حكم دركړے شوے دے، او كه دے دپاره زه تاسو ته (رسول جوړیدو سره) راغلے یم۔(پو هه شئ !) تاسو نه مخكښې خلق ځكه د هلاكت په كنده كښې غورځیدلی وو چه هغویٔ دے سلسله كښې نښتل خپله مشغله جوړه كړے وه، نو زه تاسو ته ددے خبرے قسم كوم او بیا قسم دركوم چه په دے مسئله بحث مكویٔ (ترمذی)۔

تشریح : فُقِیَٔ صیغه دمجهول ده ای شق وعصر(پریكړے شوی او نچوړ شوی)۔

فِیْ وَجْنَتَیْهِ : ای خدیه (دواړه اننگی)۔

فوائد : ۱- فائده : تقدیر كښې بحث كول په دوه قسمه دی : ۱- یو دا چه شك پیدا كوی اویا باطل اراده وی نو دا بحث كول گناه ده۔ ۲- هغه بحث دے چه انسان ځان خبروی لكه صحابوؓ چه دتقدیر باره كښې تپوسونه كړیدی یا علماء دهغے باره كښې بحث كوی نو دا جواز لری۔ ۲- فائده : تقدیر كښې باطل بحث كول سبب د هلاكت دامم سابقه دے۔ دا اسباب به په یو موقعه

راشي۔ ۳ – فائده: نبی علیه السلام ولے غصه شو یدے؟ نو وجه داده چه تقدیر دالله درازونو نه یو راز دے اود الله تعالی رازونه طلب کول منهی عنه دی۔ ۲ – دویم داچه څوك تقدیر کښ بحث کوی نو هغه باندے دا خطره ده چه یا به قدری شی اویا جبری۔ او بندګان خو صرف دشریعت په اوامرو قبلولو باندے مامور دی په غیر دطلب کولو داسرارو نه۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: رواه الترمذي (۲۱۳۳) وقال: غريب لا نعرفه الا من حديث صالح المري، وصالح المري ضعيف ضعفه ابن معين والدارقطني والبخاري۔ لكن يشهد له حديث عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده اخرجه احمد (۱۷۸/۲) وابن ماجه (۸۵) وقال في الزوائد: اسناده صحيح رجاله ثقات ويؤيده حديث ابن مسعود عند الطبراني۔

۲۱ – وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهُ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ۔

ترجمه: او ابن ماجه داسے روایت دعمرو بن شعیب نه نقل کریدے، هغه دخپل پلار نه او هغه دخپل نیکه نه روایت کریدے۔

تعارف د عمرو بن شعیب: دده نسب دا دے: عمرو بن شعیب بن محمد بن عبد الله بن عمرو بن العاص۔ دده کنیه ابو ابراهیم دے مدنی دے بیا په طائف کښ اوسیدلو، په کال (۱۱۸ هـ) کښ وفات شویدے۔ قاعده: عام سندونو کښ دا قانون دے چه دابیه اوجده ضمیر اول راوی ته راجع وی، او په دے سند کښ خلاف شویدے چه دلته د ابیه ضمیر شعیب ته راجع دے لیکن دجده ضمیر ده ته نه دے راجع، شعیب ته راجع دے، یعنی نیکه دشعیب چه هغه عبد الله بن عمرو بن العاص دے، اومینځ کښ دعمرو نیکه چه محمد دے غورزیدلے دے، ځکه سند الحدیث داسے دے: عن عمرو بن شعیب عن عبد الله بن عمرو بن العاص۔ نو داد عامے قاعدے نه خلاف شو هرکله چه دعامے قاعدے نه خلاف شو نو په دے وجه دعلماؤ په دے کښ اختلاف پیدا شو۔ چه دا سند څه درجه لری؟۔

دعمرو بن شعیب دروایت درجه: ۱– بعض علماؤ په اصح الاسانید کښ شمارلے دے ځکه چه شعیب دعبد الله بن عمرو الرسالة الصادقة موندلے وه چه هغه ئے دنبی علیه السلام نه لیکلے وه نو دهغے نه به ئے احادیث بیانول نودا ډیر صحیح سند دے کما فی الباعث الحثیث لابن کثیر۔

۲- قول ثانی: دابن حزم او ابن حبان دے چه دا سند چرته راشی دابه ضعیف وی وجه داده چه دلته عن جده کښ ضمیر عمرو ته راجع دے اود عمرو نیکه خو محمد دے اود هغه نه هیڅ حدیث نه دے نقل هغه امی دے نو داشعیب به نقل د نیکه نه کړے وی چه عبد الله بن عمرو دے، او حال دا چه شعیب دعبد الله سره نه دے ملاؤ شوے نودا روایت منقطع دے، ضعیف دے۔ **۳- قول:** دا سند حسن دے وهو قول الحافظ ابن حجر فی شرح النخبه۔ دلیل دا وائی چه شعیب دعبدالله سره ملاقات شویدے دوه حدیثونه پرے دلیل دی: ۱ – یو دا چه عبد الله یوه

ورځ شعیب ته اووئیل چه ورشه اس راونیسه اودا هلك وو۔ ۲- دویم دارقطنی، موطا اوبیهقی وغیره کښې راځی چه یو سړی په حج کښې د عبد الله بن عمروؓ نه تپوس اوکړو چه یو سړی په احرام کښې دښځې سره جماع اوکړې نو ددې څه حکم دے نو هغه ورته اشاره عبد الله بن عمرؓ طرفته اوکړه چه هغه مُلا له ورشه هغه نه ددے مسئلے تپوس اوکړه، نو دے سائل عبد الله بن عمرؓ نه پیژندلو، نوشعیب وائی زه ورسره لاړم عبد الله بن عمر مے ورته اوښودلو هغه ورته جواب ورکړو چه ستا حج باطل شو، نوددے نه معلومیږی چه شعیب دعبد الله بن عمرو سره ملاقات شوید ے۔وهو الصحیح وهو مذهب الامام البخاری والامام احمد بن حنبل وعلی بن المدینی واسحق بن راهویه وابی عبید۔ نو بناء په دے عن جده ضمیر شعیب ته راجع دے او ابیه ضمیر عمرو ته راجع دے خلاف القیاس، فتدبر !!

۲۲- وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ آدَمَ مِنْ قُبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيْعِ الْاَرْضِ فَجَاءَ بَنُوْ آدَمَ عَلٰى قَدَرِ الْاَرْضِ مِنْهُمُ الْاَحْمَرُ وَالْاَبْيَضُ وَالْاَسْوَدُ وَبَيْنَ ذٰلِكَ وَالسَّهْلُ وَالْحَزَنُ وَالْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ» .رواه احمد والترمذی وابوداود.

ترجمه : ابو موسی ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ نه مے واوریدل چه الله تعالی دآدم (علیه السلام) پیدائش دیو موټی خاورے نه کړیدے چه دهر ځائے د زمکے نه ئے اخستے وه، نو دآدم اولاد دهغے زمکے موافق پیدا شو۔انسانانو کښې بعضے سور، بعضے سپین، ځینے تور ځینے درمیانه رنګی، ځینے نرم خویه، ځینے تند خویه، بعضے پاك او بعضے ناپاك دی۔ (احمد، ترمذی، اوبوداود)۔

تشریح : مِنْ قُبْضَةٍ : په فتحه د قاف یو ځل موټے راخستل او په ضمه سره موټے راخستلو ته وائی(او هغه شے چه په موټی کښې راواخستے شی)، دا بیا اسم دے د قَبْضَة نه۔ اودا قبضه الله ملائکو ته امر کړے وو چه مختلف زمکونه خاوره راواخلی۔

مِنْ جَمِيْعِ الْاَرْضِ : اسرائیلی روایت کښې ورسره دا راځی چه الله ملائکو ته اووفرمایل : چه د زمکے نه خاوره دآدم دپیدائش دپاره راوړئ یو ملائك ئے را اولیګلو هغه چه راغے نو زمکے ژړلے خاوره ئے نه ورکوله چه بیا خوبه مونږ اور ته ځو بل ئے پسے اولیګلو تردے چه ملك الموت ئے پسے اولیګلو زمکے ژړل خو په زوره ئے ترینه خاوره راټوله کړه نو الله ملك الموت په انسانانو باندے مقرر کړو چه ته به ددوئ روحونه قبض کوے۔دا حدیث نه دے بلکه اسرائیلی روایت دے،خو دلته الله ته نسبت شویدے هغه دا کار په ملائکو کړیدے۔

عَلٰى قَدَرِ الْاَرْضِ : ددے لفظ مناسبت دے دتقدیر سره چه الله رب العزت چه دا انسان جوړولو نو بعض ئے دسرے خاورے نه بعض ئے دسپینے نه، بعض ئے دتورے نه نو اوس به دهغے مطابق پیدا

کیږی، هغې کښې مخالفت نشی کیدے چه یو سړی الله دسرې خاورې نه پیدا کړے دے هغه دِے اوس تور شی۔یا دِے خبیث طیب شی یا بالعکس شی۔احمر ابیض اسود درے واړه ذکر کړل ځکه دا اصول الالوان دی ددے نه نور رنګونه پیدا کیږی۔السهل والحزن: نرم خوئی والا او سخت خوئی والا، نرم بدن والا او قوی بدن والا۔الطیب والخبیث: پاك صفاتو والا، بد صفاتو والا، اوبعض مختلط وی۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح: رواه ابو داود واحمد (۴/۴۰) والترمذی (۲٦۴۲) باسناد حسن صحیح وصححه ابو الفرج الثقفی فی الفوائد (۱/۹۷) رقم۔

۲۳- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اِنَّ اللهَ خَلَقَ خَلْقَهٗ فِيْ ظُلْمَةٍ فَاَلْقٰى عَلَيْهِمْ مِنْ نُوْرِهٖ فَمَنْ اَصَابَهٗ مِنْ ذٰلِكَ النُّوْرِ اهْتَدٰى وَمَنْ اَخْطَاَهٗ ضَلَّ فَلِذٰلِكَ اَقُوْلُ: جَفَّ الْقَلَمُ عَلٰى عِلْمِ اللهِ». رواه احمد والترمذیُّ.

ترجمه: او عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائی: ما رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه الله تعالی خپل مخلوق (جن اوانس) تیاره کښې پیدا کړل او بیا ئے په هغوئ دخپل نور عکس اوغورځولو، په چا چه دهغې نور رنړا اولګیده، هغه په نیغه لار شو اوځوك چه دهغه (مقدس) شغلو نه محروم شو، هغه ګمراهئ کښې پریوتلو۔ځکه زه وایم چه تقدیر الهی باندے قلم اوچ شویدے (یعنی اوس تقدیر کښې تغیر اوتبدل ممکن نه دے)۔ (احمد، ترمذی)۔

تشریح: اِنَّ اللهَ خَلَقَ خَلْقَهٗ فِيْ ظُلْمَةٍ فَاَلْقٰى عَلَيْهِمْ مِنْ نُوْرِهٖ: په دے حدیث کښې دوه معانی دی:

۱- یوه معنی دا ده چه خلق نه مراد جن او انس پیدا کول دی په عالم الارواح کښې اوظلمت تیاره په عالم الارواح کښې وه۔او نور نه مراد یا فطرت او نور الایمان والمعرفة دے یا یو قسم رانړا ده چه الله ته دهغې علم دے معنی داده چه الله په عالم الارواح کښې مخلوقات پیدا کړل په تیاره کښې بیا ئے پرے دفطرت او معرفت رنړا واچوله نو چاته چه په عالم الارواح کښې رنړا رسیدلے وه نو هغه په دنیا کښې هم هغه رنړا حاصله کړه او چاته چه هلته نه وه رسیدلے نو په دنیا کښې هم ورته حاصله نشوه۔او په دے کښې ظلم نشته چه الله به ډیره رنړا ورکړے وے چه تولو حاصله کړے وے وجه داده چه الله په ټولو یو شان رنړا واچوله مګربعض مخلوقاتو کښې صلاحیت نه وو نو هغوی دهغه رنړا نه په عالم الارواح کښې انکار اوکړو نو ځکه په دنیا کښې ګمراه شو او په چا کښې چه صلاحیت وو هلته ئے رنړا قبوله کړه نو دنیا کښې هم ورته رنړا دایمان حاصله شوه۔ ددے معنی مناسبت دتقدیر سره واضح دے چه نور چا په عالم الارواح کښې حاصل کړیدے نو اس به هم ورته حاصلیږی اوکه چا نه دے حاصل کړے نو اوس به هم درنړا نه - چه قرآن اوسنت دی- محروم وی۔اوددے معنی تائید بل حدیث کښې راغلی دے چه (الارواح جنود مجندة فما تعارف منها

ائتلف ومنا تناکر اختلف)۔یعنی کومو روحونو چه په عالم الارواح کښې د یوبل سره تعلق وو نو دنیا کښې هم دیو بل سره تعلق لری او دکومو روحونو چه په عالم الارواح کښې دیو بل نه انکار کړے وی نو دنیا کښې هم دیوبل نه جدا کیږی۔

۲- دویمه معنی دا ده چه دخلق نه مراد دنیا کښې پیدائش دجن او انس دے او ظلمت نه مراد شهوات دنفس دی گنده خویونه او صفات دی (انه کان ظلوماً جهولاً) او نور نه مراد دقرآن او سنت رنړا او دلائل شرعیه دی، معنی داده چه الله تعالی په دنیا کښې انسانان پیریان پیدا کړل په تیاره دخواهشاتو او بدو صفاتو کښې بیائے ورته پس دغتهوالی نه نور دقرآن او سنت په واسطه درسولانو اولیږل نو چاچه دا رنړا حاصله کړه نو داپه هدایت شو او چا چه دا حاصله نه کړه نو گمراه شو۔ دامعنی ذهن ته ښه راځی مگر ددے معنی مناسبت بعید دے دتقدیر سره هغه دا چه چا دا رنړا حاصله کړه نو داپه دے وجه چه دده دپاره په تقدیر کښې دا لیکلے شوی وو چه ده ته به رسولان رنړا راوړی اودابه ئے قبلوی صلاحیت به په کښې موجود وی، او دے بل دپاره دا لیکل شوی وو چه ده کښې به صلاحیت نه وی نور به نه قبلوی، خوپه دے معنی باندے داسوال دے چه مخکښې حدیث تیر شویدے (کل مولود یولد علی الفطرة) هر انسان په فطرت او اسلام پیدا کیږی اونور دفطرت ورسره ملگرے وی نو د اول نه څنگه فطرت خراب شی۔

نودئے جواب دادے چه دفطرت معنی داده چه دے انسان کښې قابلیت ددے موجود دے چه دا هدایت حاصل کړی ددے استعداد لری چه که دا انسان فکر صحیح اوکړی او شواهد او آیات او دلائلو ته نظر اوکړی نو دا خود بخود هدایت ته رسیدلے شی، لکه دا معنی مخکښې تیره شوه، اوددے سره دا په تیارو دطبیعت اود نفس په خواهشاتو کښې پیدا شویدے اوددے حدیث مطلب دادے چه دا هدایت ته رسیدل اود بنده په زړه کښې نور د هدایت اچول دا د الله په توفیق او مشیئت او تقدیر سره وی او انسان په دے هدایت رسیدلو کښې مستقل نه دے یعنی چاته چه الله توفیق ورکړی دصحیح فکر نو هغه باندے دهدایت رنړا واچوی او چاته چه توفیق ورنه کړی نو هغه دگمراهئ په تیارو کښې گوذار کړو، اودا توفیق هم د الله په مشیئت او تقدیر کښې دے۔ نو په دے حدیث کښې اشاره ده چه دبنده تقدیر مخکښې نه شویدے د الله په مشئیت کښې دۓ او په حدیث الفطرت کښې سابقیت التقدیر نشته۔نودواړه حدیثونو کښې منافات نشته۔

جَفَّ الْقَلَمُ عَلٰى عِلْمِ اللهِ :په دے کښې جف معلوم اوجُف مجهول دواړه لوستلے شی یعنی اوچ شویدے قلم د الله په علم یعنی تقدیر باندے دعلم الله نه مراد هغه علم دے چه الله لیکلے دے په صورت دتقدیر کښې ددے مطلب دادے چه اوس په تقدیر اود الله په حکم ازلی کښې څه تغییر اوتبدیل نشتی راتلے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۲/۱۷۶ - ۱۹٦) والترمذی فی آواخرا لایمان وقال حدیث حسن واخرجه ابن حبان وقال : صحیح والحاکم وقال صحیح علی شرط الشیخین۔

۲٤- وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُكْثِرُ اَنْ يَّقُوْلَ: «يَامُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ» فَقُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ آمَنَّا بِكَ وَبِمَا جِئْتَ بِهٖ فَهَلْ تَخَافُ عَلَيْنَا ؟ فَقَالَ: «نَعَم ! اِنَّ الْقُلُوْبَ بَيْنَ اِصْبَعَيْنِ مِنْ اَصَابِعِ اللهِ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَآءُ» .رواه الترمذيُّ وابن ماجه.

ترجمه : انس ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ به اکثره دعا کوله : اے دزړونو ګرځونکیه ! زما زړه په خپل دین قائم لرے ! ما عرض اوکړو، یا رسول الله ! مونږ په تاسو او ستاسو په راوړی دین اوشریعت باندے موایمان راوړیدے، نو آیا (ددے دعاء وئیلو په وجه) تاسو زمونږ باره کښ ویریږئ (چه چرته مونږ ګمراه نه شو) نبی کریم ﷺ اوفرمایل : آؤ۔ بیشکه زړونه دالله دګوتو نه ددوه ګوتو مینځ کښ دی، هغه چه څنګه غواړی هغه اړوی راوړی۔ (ترمذی، ابن ماجه)۔

تشریح : يُكْثِرُ اَنْ يَّقُوْلَ : یکثر باب افعال دے (ای یکثر هذا القول) دا دعاء ئے دوه وجونه کوله : ۱- یو د تعبد او عبدیت د وجے نه چه نبی علیه السلام عبد دے د زړه په تثبت کښ الله ته محتاج دے لیکن دهغه په باره کښ دا خطره نه وی چه هغه به خطا شی زړه به ئے واوړی مګر بیا هم هغه خپله خطره کوی ځکه الله خودچانه نه یریږی خودومره ده چه الله دخپلو پیغمبرانو سره دا وعده کړیده چه هغه به جنتیان وی۔ ۲- دویمه وجه حدیث کښ خپله راغلے ده چه دا تعلیماً للامة وه چه زه دالله نه دعا کوم د زړه دتثبت نو تاسو به ئے خامخا کوئ ځکه زما د ګمراه کیدو خطره هم نشته او ستاسو د ګمراه کیدو خطره زیاته ده۔ نوبیا داحدیث دلیل شو په بله مسئله هغه دا چه نبی ﷺ دخپل زړه مالك نه دے چه هغه هدایت ته واړوی یا ګمراهی نه ئے اوساتی، نو مسئله دایمان ترینه ثابته شوه۔ مقلب القلوب دالله په صفاتو کښ دے زړونه اړونکے راړونکے، آمنا بك وبما جئت به : ددے خبرے مقصد دادے چه ته خو نه ګمراه کیږے ولے که پیغمبر په غلطه روان شی نو ټول امت به په غلطه روان وی، اودهغه دین نه کوم چه تاراوړیدے ستا زړه واوړی نو دمؤمنانو زړونه به خامخا اوړی او الله خو داسے نه کوی۔ نو معنی دا شوه چه ته خو نه ګمراه کیږے خو شاید چه مونږ ته تعلیم راکوے چه تاسو دا وایئ۔ اِصْبَعَيْنِ : دالله ګوتے شته خو څنګه چه دهغه دشان سره مناسب وی۔ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَآءُ : نودالله نه دعا ګانے ډیرے غواړئ نو فائده دا را اووتله چه (الدعاء ينفع من القدر) ، (دعا د تقدیر نه هم فائده کوی) الله به دے دګمراهئ نه بچ کوی ځکه احادیثو کښ وارد دی چه ددعاء په وجه تقدیر بدلیږی، دا دعاء یو سبب دے دتقدیر دبدلیدلو، فائده په کښ خامخا شته۔ لکه حدیث کښ دی : درے څیزونه الله تعالی ددعاء په وجه ورکوی : ۱- یا اجر ورکوی په آخرت کښ۔ ۲- یا غوښتلے څیز ورکوی، یعنی حاجت پوره کوی۔ ۳- یا مصیبت دفع کوی۔

فائده : دا وجه ده چه ددعاء په باره کښې دمتکلمینو درې قسمه آراء دی : ۱- بعض صوفیه وائی : دعاء کول هیڅ فائده نه ورکوی بلکه څه چه تقدیر کښې وی هغه به کیږی، دا غلطه خبره ده، دکتاب اوسنت خلاف ده داسې ده لکه دعمل پریښودل، او ځان تقدیر ته سپارل، کما فی الجواب الکافی (۲۷)۔ ۲- بعض خلق دعاء مؤثر حقیقی ګڼړی په تبدیل دتقدیر کښې، چه دعاء نه پس به خامخا تقدیر بدلیږی، نا جوړتیا به ضرور ښه کیږی، حاجت به ضرور پوره کیږی، داخبره هم خطاء ده ځکه چه دانسان عبادت عمل او دعاء مؤثر حقیقی نه ده ترڅو چه الله په کښې اثر وانه چوی۔ په الله باندې زور نشته۔

۳- دریم قول دا دې چه دا فی الجمله تاثیر لری یعنی په بعض اوقاتو کښې کله چه الله اوغواړی، دعاء قبوله کړی نو الله په کښې تاثیر اچوی۔ نودا په درجه دسبب کښې ده۔ لکه خوراك څکاك سبب دموړ والی دې۔ نو چاسره چه دا غم وی چه الله مو زړونه وانهړوی نو الله ئې خاتمه نه خرابوی زړه ئې نه اړوی نو یره پکار ده۔

مناسبت دحدیث دتقدیر سره دا دې چه یقلبها کیف یشاء بقضائه وقدره۔ (د تقدیر مطابق ئې اړوی راوړی)

درجة الحدیث : اسناده صحیح : رواه الترمذی فی القدر وقال : حدیث حسن صحیح وهو کما قال۔

۲۵- وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَثَلُ الْقَلْبِ کَرِیْشَةٍ بِاَرْضٍ فَلَاةٍ یُقَلِّبُهَا الرِّیَاحُ ظَهْرًا لِبَطْنٍ». رواهُ احمد.

ترجمه : ابو موسی ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمایل : د زړه مثال داسې دې لکه یو بڼرکه (وزر) چه یو میدان کښې پروت وی او هواګانې هغه دشان نه خیټې طرفته اود خیټې طرفنه شا طرفته الوځوی رالوځوی (احمد)۔

تشریح : مَثَلُ الْقَلْبِ کَرِیْشَةٍ بِاَرْضٍ فَلَاةٍ : دا قید ځکه لګوی چه په شاړه زمکه کښې هواګانې ډیرې لګی او په آبادیانو کښې هم هواء لګی مګر هغه بڼره نه اړوی۔ ظَهْرًا لِبَطْنٍ : یعنی ساعةً لظهر وساعةً لبطن۔ یعنی کله په شاکله په خیټه۔ نوزړکښې هم کله ایمان قوی وی کله ضعیف وی، کله خواهشات کله د الله یره راځی، اودا هم دالله په واك کښې دې که دا د بنده په واك او اختیار کښې وې نو همیشه به ئې کلك کړې وې نود الله نه به ئې غوښتنه نه کولې، نو الله ځان سره ساتلې دې چه بنده همیشه د الله نه دعاء غواړی او هغه ته زاری کوی۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : رواه احمد (۴/۴۰۸، ۴۱۹) بسند حسن واخرج نحوه البزار عن انس۔ مسند احمد کښې دا روایت دوه ځائې راغلې دې (۴/۴۱۹) کښې اوددې په سند کښې یزید راوی ضعیف دې۔او په (۴/۴۰۸) کښې دا راوی نشته بالکل صفا صحیح سند دې۔ دا وجه ده چه علامه البانی رحمه الله دکتاب السنة په تعلیق الظلال رقم (۲۷۲) او صحیح ابن ماجه رقم

(۸۸) کښې فرمائي : دا حديث صحيح دے۔

۲۶- وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «لَايُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى يُؤْمِنَ بِاَرْبَعٍ: يَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ بَعَثَنِيْ بِالْحَقِّ وَيُؤْمِنَ بِالْمَوْتِ وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ وَيُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ». رواه الترمذی وابن ماجه۔

ترجمه : علی ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمایل : هیڅ بنده هغه وخته پورے مؤمن کیدے نشی څو پورے چه هغه په څلور څیزونو ایمان رانه وړی : ۱- په دے خبره گواهی کول چه دالله نه سوا بل هیڅوك لا ئق دعبادت نشته۔ ۲- اوزه بیشکه د الله له اړخه رالیږلے شوے رسول یم او حق دین سره ئے دنیا ته رالیږلے یم۔ ۳- مرگ او مرگ نه پس (میدان حشر کښې) پاسیدلو باندے ایمان راوړی۔ ٤ - او تقدیر باندے ایمان راوړی۔

تشریح : وَيُؤْمِنَ بِالْمَوْتِ: **سوال** : مرگ خو مؤمن او کافر دواړه منی چه خامخا به راځی۔ متنبی وائی :

تخالف الناس حتی لا اتفاق لهم • الا علی شجب والخلف فی الشجب
فقیل تخلص نفس المرأ سالمة • وقیل تشرك نفس المرأ فی العطب

نو مرگ خو هرڅوك منی نودے باندے ایمان څنگه ضروری دے داخو محسوسی څیزونه دی، او په محسوساتو ایمان نه وی۔ څکه ایمان دغیبو سره تعلق ساتی۔ نو وجه دتخصیص څه ده ؟ جواب : دلته یوقید مراد دے چه (یؤمن بان الموت یاتیه الله) یعنی مرگ دالله په اختیار گنړی څکه چه ډیر کرت انسان به په گولئ باندے اولگی او مړ به نشی کما هو مشاهد۔ نو په دے کښې رد دے په طبعیینو باندے چه قائل دی په دے چه مرگ دمزاج دفساد په وجه راځی۔ ۲- یا دلته مراد دادے چه (یؤمن بفناء الدنیا) ۔ چه دا یقین ئے وی چه دنیا به فانی کیږی، آخرت به راځی اودهری کافر دا عقیده نه لری، هغوی عالَم قدیم (غیر فانی) گنړی، کما تقوله فلاسفة الیونان الملاعنة۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : رواه الترمذی (۲۱٤٥) باسناد صحیح۔ورجاله رجال الصحیح وابن ماجه فی القدر واخرجه الحاکم (۱/۳۲-۳۳) وصححه علی شرطهما ووافقه الذهبی۔

۲۷- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «صِنْفَانِ مِنْ اُمَّتِيْ لَيْسَ لَهُمَا فِي الْاِسْلَامِ نَصِيْبٌ: اَلْمُرْجِئَةُ وَالْقَدَرِيَّةُ». رواه الترمذی وقال : هذا حدیث غریب.

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : زما امت کښې دوه فرقے داسے دی چه دهغوئ په اسلام کښې هیڅ حصه نصیب نشته، او هغه

(مرجئه) او (قدریه) دی۔ ترمذی داحدیث نقل کړیدے او وئیلي ئے دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : صِنْفَانِ مِنْ اُمَّتِیْ لَیْسَ لَهُمَا فِی الْاِسْلَامِ نَصِیْبٌ: اَلْمُرْجِئَةُ وَالْقَدَرِیَّةُ :

تعارف المرجئة

مرجئه دارجاء نه ماخوذ دے ارجاء تاخیر ته وائی اومرجئه فرقے ته ځکه مرجئه وائی چه دوئ دا عقیده لري چه عمل لره اعتبار نشته نو عمل ئے روسته کړیدے دایمان نه، اعتبار ورله نه ورکوی، اووائی چه دایمان سره معصیت ضرر نه ورکوی لکه څنګه چه دکفر سره طاعت فائده نه ورکوی۔او په عمل بالمعاصی باندے عذاب نه منی۔ ۲- بعض وائی : مرجئه هغه جبریه دی چه قائل دی په دے چه انسان مجبور محض دے اودده فعل داسے دے لکه دجماداتو نه چه صادر وی، بنا په دے مرجئه ورته ځکه وائی چه دوئ دالله امر اونهی روسته کړیدی، اعتبار ورله نه ورکوی، او ارتکاب دکبائرو کوی۔ ۳- بعض وائی مرجئه هغه خلق دی چه ایمان عبارت ګڼړی دقول او تصدیق بلا عمل نه، فیؤخرون العمل عن القول والتصدیق ۔(د تصدیق او اقرار نه عمل جدا ګڼړی) خو اصل داده چه دا درے قولونه په اصل کښ درے قسمونه دی دمرجئه ؤ (کما فی کتاب المرجئه والقدریه للدکتور ناصر العقل)۔پدے کتاب کښے ډیر ښه بحث په دے دواړو ډلو باندے شویدے دزیادت وضاحت دپاره هغه مختصراً رانقل کولے شی۔

ناصر العقل صاحب فرمائی : په اصطلاح کښ د مرجئو په دوه ډلو باندے اطلاق کیږی : ۱- هغه قوم وو چه دعلی او عثمان معامله ئے روستو کړے وه او دابه ئے وئیل چه مونږ ته پته نشته چه په جنګ صفین کښے څوك په حق دے اوڅوك په باطل دے۔داخلق خو نن صبا ندی موجود۔ ۲- دویم قسم مرجئه هغه دی چه داعقیده لری : (الایمان قول بلاعمل) (ایمان صرف اقرار او تصدیق ته وائی بغیر د عمل نه) دیته مرجئة الفقهاء هم وائی دارنګه ایمان صرف دتصدیق او قول نه عبارت ګڼړی او عمل په ایمان کښے داخل نه منی (ای اخرجوا الاعمال عن مسمّی الایمان)۔ (اعمال ئے د مسمی د ایمان نه خارج کړیدی)۔ دارنګه هرهغه څوك چه داعقیده لری چه ایمان کښے زیادت او نقصان نه راځی نودا هم مرجئی دے انظر حلیة الاولیاء (۲۹/۷) ومجموعة الفتاوی (۵٦٦/۷، ۴۱/۱۳) دارنګه روستو بیا د ارجاء اطلاق په ډیرو فرقو باندے کیږی لکه جهمیه چه قائل دی پدے چه ایمان صرف معرفة الله ته وائی یا کرامیه چه وائی ایمان صرف القول باللسان (په ژبه اقرار) دے لکه روستو راځی ۔

۲- دویم قسم مرجئة الفقهاء مشهوره فرقه ده داراپیدا شویده د(۷۳ او ۸۳ سنه هـ) په مینځ کښے دقتادةؒ نه نقل دی فرمائی : (انما احدث الارجاء بعد هزیمة ابن الاشعث) او هزیمت (شکست) دابن الاشعث په سنه (۸۲ یا ۸۱) - کښ وو البدایة والنهایة (۳۵/۹) شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ فرمائی : بدعت دمرجئو په اواخر د زمانے دصحابو کښے په زمانه دعبد الملك بن مروان اوعبد

الله بن الزبیر کښې راپیدا شو (او عبد الملك په (۸٦ کښې وفات او ابن الزبیر په ۷۳ھ کښې شهید شویدې) داوجه ده پدې خلقو باندې صحابه او تابعینو انکارکړې دې لکه ابن عمر ابن عباس، جابر، واثله بن الاسقع رضی الله عنهم۔ منهاج السنة (۷/ ۲۳۱)

او دا بدعت چا راپیدا کړې دې نو پدې کښې **دوه قوله** دی:

۱– یوقول دا دې چه دا ذربن عبد الله المرهبی راپیدا کړې کوم چه (۹۹ھ) کښې وفات دې نیسابوری فرمائی ما د ابوعبدالله (امام احمدؒ) نه تپوس اوکړو: اول من تکلم فی الارجاء من هو؟ قال یقولون: اول من تکلم فیه ذرّ۔مسائل الامام احمد للنیسابوری (۲/ ۱٦۲) ۲– قول دادې چه اول راپیداکونکې د ارجاء حماد بن ابی سلیمان شیخ ابی حنیفةؒ من الکوفه۔انظر الفتاوی (۷/ ۲۹۷) (د امام ابوحنیفه استاذ حماد راپیدا کړیدې) لیکن صحیح خبره داده چه اول پیدا کونکې ذربن عبد اللهؒ دې او بیا زیادت او توسیع پکښې حماد بن ابی سلیمان کړې ده لکه ده په کښې دا خبره را اویستله چه ایمان زیادت او نقصان نه قبلوی او استثناء په ایمان کښې صحیح نه ده بیا ده نه داخبره دکوفې فقهاؤ واخسته او دلیل پدې باندې دادې چه ذر بن عبد الله په (۹۹ھ) کښې وفات دې او حماد په (۱۲۰ھـ) کښې نودویم داول نه دابدعت اخستې دې بیا کله چه عمروبن مرة المرادی المتوفی (۱۱٦ھ) پدې عقیده کښې داخل شو نو ډیر تخریب ئې اوکړو ده پدې عقیده کښې ډیر کردار اداء کړو او دده په سبب ارجاء په خلقو کښې خوره شوه الا من شاء الله ځکه چه دا په ظاهر کښې صالح او عابد وو خلق دده په صلاحیت او عبادت باندې دوکه شو اودده عقیده ئې خپله کړه کما فی شرح اللالکائی (۵/ ۱۰۷٤)۔

اصول المرجئه: دمرجئو څه خاص مستقله فرقه نشته بلکه داخواره دی په فقهاؤ او بعض افرادو دمحدثینو او جهمیه او بعض فرقو دمعتزله او خوارجو اوکرامیه اوصوفیه او اکثر اشاعرو او ماتریدو کښې ترنن زمانې پورې اگرچه ددوئ باقاعده اصول شته ۱– یو اصل: (اخراج العمل عن مسمی الایمان) (عمل د ایمان نه بهر گڼړی او ایمان صرف تصدیق ته یا تصدیق او اقرار دواړو ته وائی)۔ ۲– الایمان لایزید ولا ینقص ۳– وائی: په ایمان کښې استثناء (ان شاء الله وئیل) جائز نه دی: نو سړې به داسې نه وائی: انا مؤمن ان شاء الله۔ (ان شاء الله زه مومن یم) ځکه دا شك دې۔

اصناف المرجئه: مرجئه په پنځه قسمه دی: (۱) یوه هغه ډله ده چه عمل ئې مؤخر کړې دې دایمان نه او ایمان کښې دزیادت او نقصان قائل ندی پدې کښې ډیر خلق داخل دی اشاعره او ماتریدیه او امام ابوحنیفةؒ او ډیراتباع دهغه او بعض فقهاء او دې خلقو ته مرجئة الفقهاء وائی۔

(۲) المرجئة الغالیة: دوئ وائی ایمان صرف معرفة الله ته وائی اودایمان سره گناه ضرر نه ورکوی او دیته مرجئة الجهمیه وائی دوئ په ارجاء کښې دتولو نه مخکښې ډیره غلو کړیده انظر مقالات الاسلامیین (۱/ ۲۱٤)۔ (۳) په جهمیه و کښې یوه ډله دا وائی چه کبیره گناه والا او

فـرائـضـو پريخودونكى معامله آخرت ته روستو ده مونږ ورله نه دجنت حكم كوو او نه دجهنم او دا قـول ددے نـه پيدا شويدے چه دوى وائى د تصديق او معرفة الله سره عمل كول او نكول دواړه برابر دى هيڅ ضرر نـه شتـه په عـمـل پـريـخـودلو سره۔(۴) په جنګ صفين او جمل كښے چه دكـومـو صـحـابـو اختـلاف راغلے وو دهغوى معامله ئے روستو كړے ده يو ته هم حق او باطل نه وائـى۔ دا قسـم خـلـق پـه قـدريـه، مـعـتـزلـه او جـهـمـيه و كښى موجود وو۔ليكن ددے خلقو دارائے مـرجـوح ده ځـكه عـثمان ﷺ افـضـل دے دعلى ﷺ نـه عـنـد الـجـمـهـور او طائفه د على افضل ده دطائفه دمعاويه نه ليكن دے خلقو ته سلفو بد ندى وئيلى دى نو دا مذمومه ارجاء نه ده۔

۵- مرجئة الكراميه چه ايمان صرف د قو ل باللسان نه عبارت دے سلفو ديته هم مبتدعين وئيلى دى۔ ددے مسئلے تفصيل په كتاب القدريه والمرجئه للدكتور عبد الكريم ناصر العقل كښى اوګوره۔

عبـد الـكـريـم الـشـهـرستانى په الملل والنحل (۱۲۵/۱) كښى د ارجاء دوه معانى ذكر كړيدى ، يو بـمـعـنـى الـتـاخـيـر كما مر، ۲- دويم ارجاء بمعنى اعطاء الرجاء نو دوئ هم صرف دايمان رجاء (اميد) ساتى او عـمـل لره اعتبار نه وركوى، يقولون : لا تضر مع الايمان معصية كما لا تنفع مع الكفر طاعة ۔ (وائى : د ايمان سره ګناه كول ضرر نه رسوى او د كفر سره طاعت فائده نه وركوى)

بيـا دمـرجـئـه غـاليـهٔ په حكم كښى اختلاف دے : ۱- يو قول دا دے چه مرجئه غاليه كافر دى ځـكـه چـه عقيده ئے دكفر ده، نو (نصيب) لفظ چه په حديث كښى راغلے دے هغه په خپله معنى سـره دے۔ ۲- دويـم قـول دادے چـه دا كـافر نه دى بلكه بدعتيان دى، سيوا دجهميهٔ نه چه هغه كافر دى، ځكه چه دالله دصفاتو منكر دى۔يعنى مرجئه مجموعى طور سره كافر نه دى، نو بناء پـه دے د (ليـس لهما فى الاسلام نصيب) نه مراد نصيب كامل دے، يعنى پوره مسلمانان نه دى، وجه داده چه مرجئه فرقے دى، لكه شهرستانى ذكر كړيدى :

۱- يو مرجئه خوارج۔ ۲- مرجئه قدريه۔ ۳- مرجئه جبريه۔ ۴- مرجئه خالصه۔

اودلتـه په حديث كښى مرجئه جبريه مراد دى، دوئ چه دا عقيده اختيار كړيده نو كفرئے غرض نه دے، ليكن په بدعت كښى واقع شويدى بلا دليله۔

او قدريه هغه ډله ده چه دا عقيده لرى چه بنده خالق دے دخپلو افعالو او الله تقدير او قضاء نه دے كړے بلكه ابتداءً كار موجوديږى (يعنى دكار موجوديدلو نه مخكښى هغه الله په تقدير كښى نـه وى ليـكـلـے) نـو دوئ دتـقـديـر نه منكر شويدى ځكه ورته قدريه وائى۔دا تسميه بالضد ده۔ د بـعـض خلقو په نيز دا ډله هم كافر نه ده، بلكه مبتدعين دى، وجه داده چه دا حديث اوددے پشان نـور احـاديـث ضـعـيف دى، قـابـل داستدلال نه دى۔ليكن صاحب د المرعاة وائى په دے باب كښى صـحـاح او حسان او ضعاف احاديث ثابت دى، نو بناء په دے باندے ايمان بالقدر دضروريات الدين نـه دے او ركـن دے داركانو الايمان نه، نو ددے نه انكار بدعتِ مكفِره دے، وهو الراجح والله تعالى

أعلم۔

درجة الحديث : اختلاف دے چه دا روایت ثابت دے اوکه نه :

۱- سراج الدین القزوینی وئیلی دی چه دا روایت موضوعی دے۔ ۲- علامه ابن الحجر فرمائی : دا روایت په دوه طریقو سره امام ترمذی نقل کړیدے په اول طریق کښې علی بن نزار پلار او ځوئے دواړه ضعیف دی، او په دویم طریق کښې سلام بن ابی عمره راوی دے هغه هم ضعیف دے، لیکن دا حدیث حسن دے، د وجے دکثرة الطرق او تعدد الشواهد نه چه د ابو بکر صدیق او ابن عمر او جابر او معاذ رضی الله عنهم نه نقل دے اوکثرة الطرق دلیل دے چه ددے حدیث اصل شته دے نو درجه دحسن ته رسیږی، لکه مصابیح باندے علامه البانیؒ دمشکوة په آخر کښې یو مقدمه چه ذب المصابیح ئے کړیدے هغه دا حدیث حسن شمارلے دے۔ ۳- لیکن علامه علائیؒ فرمائی : والحق انه ضعیف لیس بحسن ولاموضوع کذا فی المرعاة۔(۱/۱۹۴)۔وقال الالبانی فی ضعیف الترمذی ص (۲۴۵) رقم (۴۶۳) ضعیف۔

۲۸- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «يَكُوْنُ فِيْ أُمَّتِيْ خَسْفٌ وَمَسْخٌ وَذٰلِكَ فِي الْمُكَذِّبِيْنَ بِالْقَدَرِ» رواهُ ابوداوٗد وَرَوَى التِّرمِذِيُّ نحوَهٗ.

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : ما درسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه زما امت کښې به (د الله دردناك عذاب) زمکه کښې غرقیدل اود صورتونو مسخ کیدل هم وی اودا عذاب به په هغے خلقو وی چه دتقدیر منکر دی (ابوداود) امام ترمذی هم دغسے روایت نقل کړیدے۔

تشریح : يَكُوْنُ فِيْ أُمَّتِيْ خَسْفٌ : **سوال** : حدیث کښې دی نبی ﷺ دالله نه دعاء غوښتے ده چه زما په امت باندے عذاب مه راوله او هغه الله قبوله کړیده۔او په دے حدیث کښې فرمائی چه زما په امت به عذاب دمسخ اوخسف راځی۔

جواب : ۱- د عذاب نه مراد استیصالی عذاب دے چه په ټول امت راشي، نودا ممنوع دے، اوهر چه خاص خاص عذابونه دی نودا راتلے شی لکه داسے ډیر واقع شویدی، خسف اومسخ خاص خاص راغلی دی، اوس هم شته که تاسو اوګورئ اخبارونو کښې اکثر مخونه دمشرانو (حکومت والو) مسخ شویدی، دښادوګانو غونتے جوړ شویدی۔او قذف بمباریٔ ته هم شامل دے۔البته عام عذاب نشی راتلے۔اودلته د خسف اومسخ نه حقیقی معنی مراد ده نه مسخ معنوی چه مسخ القلوب ده۔ ۲- دویم جواب دادے چه دا به قیامت ته نزدے وخت کښې واقع کیږی په شریر خلقو باندے به واقع کیږی۔

۳- یا حدیث بناء دے په تقدیر دشرط باندے یعنی که چرته مسخ او خسف په دے امت کښې واقع کیدے نو دا مکذبین بالقدر ددے عذاب مستحق او قابل وو۔دا جواب ضعیف دے۔

درجة الحدیث : اسناده حسن۔اخرجه احمد (۲/۱۰۸) وابوداود (۴۶۱۳)وسیاتی فی الفصل الثالث باسناد حسن صحیح غریب۔وقال الالبانی فی صحیح الترمذی (۲/۲۲۸) رقم (۱۲۵۷) : سنده حسن۔
تنبیه : دلته مصنف له داسے وئیل پکار وو : رواه الترمذی وروی ابوداود نحوه۔ ځکه داالفاظ دمشکوة د ترمذی روایت دے۔ ابوداود ددے پشان الفاظ وئیلی دی۔ نودا سهوه دمصنف ده۔

۲۹- وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:«اَلْقَدَرِيَّةُ مَجُوْسُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اِنْ مَرِضُوا فَلَا تَعُوْدُوْهُمْ وَاِنْ مَاتُوْا فَلَا تَشْهَدُوْهُمْ». رواه احمد وابوداود.

ترجمه : اود همدے ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمایل : قدریه (فرقه) ددے امت مجوس دی، که هغوئ ناجوړه شی نو تپوس له ئے مه ورځئ اوکه مړه شی نو دهغوئ جنازه کښ مه شریکیږی۔

تشریح : اَلْقَدَرِيَّةُ مَجُوْسُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ : وجه دا ده چه قدریه دا قول کوی چه عبد خالق دے د افعالو خپلو په خپله اراده او تقدیر باندے، نه په تقدیر دالله باندے، او وائی چه خیر دالله دطرفنه وی او شر د نفس دطرفنه وی، نو دوئ مشابه شو د مجوسو سره چه هغوئ قائل دی په دے چه دعالم دپاره دوه الهین دی، خالق الخیر یزدان یعنی الله دے، اوخالق الشر اَهْرَمَن یعنی شیطان دے۔ دا حدیث دلیل دے دهغه چا چه قدریه ته کافر وائی، ولے چه دوئ ئے په دے حدیث کښ دمجوسو سره مشابه کړیدی، او وجه دشبه اثنینیت داله دے۔ اودوئ داځکه وائی چه دوئ وائی که الله خالق دشر شی نو الله ته به نسبت دشر اوشی، او الله ته نسبت د شر قبیح دے ځکه حدیث کښ دی : (والشر لیس الیك) : (د شر نسبت الله ته نه کیږی)۔ په دے وجه دوه خالقان ئے اومنل۔ ددوئ په خلاف اهل الحق وائی چه یو کسب دے بل خلق دے، الله خالق الشر دے ځکه خلق دا کمال وی او کسب الشر قبیح دے او کاسب الشر نه دے بلکه دوئ (قدریه) لا دا وائی چه انسان په خلق کښ زیات دے دالله نه ځکه دا خالق الخیر والشر دواړه دے او الله صرف خالق الخیر دے۔اِنْ مَرِضُوْا فَلَاتَعُوْدُوْهُمْ : که بیماران شی نو بیمار پښتنه ئے ځکه مه کوئ چه دوئ په داسے بدعت کښ اخته شویدی چه کفر ته ئے رانښکلی دی، دلته ناشنا خبره ده چه دبدعتی بیمار پرسی نشے کولے اود کافر کولے شے، وجه دا ده چه دبدعتی نه شر خوریږی که ته تپوس له ورشے نو خلق هغه ښه سړے ګنړی، نو شر عام کیږی، خلق ورله بدعت بیا بد نه ګنړی اوکافر خو خلقو ته معلوم دے که ته ورشے نو خلق ستا داکار خوش اخلاقی ګنړی ځوك دکافر نه مسئلے نه تپوسی او دبدعتی په خبره خلق ګمراه کیږی۔فتدبر اودا وجه نه ده چه ګنے بدعتی دکافر نه هم بدتر دے۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود (۴۶۹۱) ورجاله ثقات لکنه منقطع ولکن وصله احمد (۲/۸۶۔۱۲۵) وسنده حسن، کماقال ابن حجر والعلائی لکثرة الطرق فی ابی داود وغیره۔انظر المرعاة : (۱/۱۹۶)۔وقال

الالبانی فی صحیح ابی داود رقم (٤٦٩١) سنده حسن لان له اربعة اسانید (الظلال رقم : ۳۲۸) وصححه الحاکم (۸٥/۱) علی شرط الشیخین۔

۳۰ - وَعَنْ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «لَا تُجَالِسُوْا اَهْلَ الْقَدَرِ وَلَا تُفَاتِحُوْهُمْ» رواه ابوداود۔

ترجمه : عمر ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : قدریه ؤ سره ناسته پاسته مه اختیاروئ اومه هغوئ خپل ثالث (فیصله کونکی) جوړوئ (ابوداود)۔

تشریح : وَلَا تُفَاتِحُوْهُمْ : ددے درے معنے دی : ۱- دا ماخوذ دے دفُتَاحَه نه او فتاحه فیصلے ته وائی یعنی دوئ ته فیصله مه وروړئ۔ ۲- یا دافتتاح نه دے یعنی خبرے ورسره مه شروع کوئ، یعنی ابتداءً پرے سلام مه اچوئ۔ ۳- یا هدیه مه وروړئ دوئ ته ! لیکن اوله معنی اصح ده، بعض وائی معنی داده چه تاسو ورسره ابتداء په مناظره اومجادله مه کوئ ځکه چه ستاسو ملګری به د دوی د خبرو په وجه په شك کښ واقع شی۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف : رواه ابو داود فی السنة وفی سنده حکیم بن شریك الهزلی وثقه ابن حبان وقواه وقال ابوحاتم : مجهول ۔دا حدیث دمخکنی حدیث مؤید دے او هغه ددے مؤید دے۔اګرچه خپل سند ئے ضعیف دے۔کذا فی کتاب السنه لابن ابی العاصم۔ظلال الجنة ص (١٤٥)۔

---

۳۱ - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ وَكُلُّ نَبِيٍّ يُجَابُ الزَّائِدُ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ وَالْمُكَذِّبُ بِقَدَرِ اللّٰهِ وَالْمُتَسَلِّطُ بِالْجَبَرُوْتِ لِيُعِزَّ مَنْ اَذَلَّهُ اللّٰهُ وَيُذِلَّ مَنْ اَعَزَّهُ اللّٰهُ وَالْمُسْتَحِلُّ لِحُرَمِ اللّٰهِ وَالْمُسْتَحِلُّ مِنْ عِتْرَتِيْ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَالتَّارِكُ لِسُنَّتِيْ». رواه البیهقیُّ ورزین فی کتابه۔

ترجمه : بی بی عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ ارشادفرمائیلے دے : شپږ سری داسے دی چه په هغوئ زه لعنت وایم او الله هم هغوئ لعنتی ګرځولی دی اود هر نبی دعاء قبلیږی : ۱- اول، کتاب الله کښ زیاتے کونکے۔ ۲- تقدیر الهی دروغ ګنړونکے۔ ۳- هغه سړے چه په زبردستئ غلبه موندلو په بناء داسے سړے معزز کړی چه الله هغه ذلیل کړے وی او هغه سړے ذلیل کړی چه الله د عزت او عظمت دولت سره پاللے وی ۔ ٤- هغه سړے چه حدود الله نه تجاوز کولو سره څه چه الله حرام کړے وی هغه حلال اوګنړی۔ ٥ - هغه چه زما داولاد نه هغه څیز (قتل) حلال اوګنړی چه الله حرام کړیدے۔ ٦- هغه سړے دے چه زما سنت پریدی۔(بیهقی، رزین)۔

تشریح : سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ : سوال : احادیثو کښ کله لعنت راځی لکه دا حدیث شو، اوکله دلعنت وئیلو نه منع راځی۔لکه مشکوٰة(٤١٥/٢) باب حفظ اللسان کښ حدیث دے (ان اللعانین لا

یکونون شهداء ولا شفعاء یوم القیامة ۔۔۔الحدیث) نو ددې څه توفیق او تطبیق دې؟ **جواب:** قانون دا دې چه یو لعنت کول دی په شخص معین باندې اوبل لعنت کول دی په عام مبهم (نوع) باندې نو په مبهم اونوع باندې لعنت وئیل جواز لري، لکه حدیث کښې دی (لعن الله السارق) یا لکه (لعن الله الفاسقین) چه دچا نوم نه اخلي، او په شخص معین لعنت وئیل هم دوه قسمه دی: یو هغه چه په کفر باندې مړ وي،نو ده باندې هم لعنت وئیل جواز لري، لکه صحیح بخاري (۱/۴۵۴) باب فضائل المدینه کښې دی، بلال په فرمائیل: (اللهم العن شیبة بن ربیعة وعتبة بن ربیعة کما اخرجونا من ارضنا الی ارض الوباء) اوبل چه ژوندې وي نو ده باندې لعنت وئیلو نه منع راغلې ده دهمیشه دپاره، لیکن کله کله په معین باندې هم نبي اکرم ﷺ لعنت وئیلې دې هغه په طریقه دشذوذ سره، انسان به ترې عادت نه جوړوي چه همیشه دپاره لعنتونه وائي۔لکه دا بحث دکتاب الایمان په اول فصل کښې دابو سعید الخدري په حدیث کښې تفصیلاً تیر شویدې ، هغې ته رجوع اوکړه۔

الزَّائِدُ فِيْ كِتَابِ اللهِ: لفظاً او معنی، لفظاً دا چه دالله کتاب کښې الفاظ زیات کړي معناً دا چه یو شې ضروري نه وي دائې فرض او ضروري کړي، یا یو شې ضروري وي او دا ئې غیرضروري ګڼړي، د الله په حکم کښې غلو کوي، عام غلو والا خلق زیادت في کتاب الله والا دي چه الله په دې امت باندې تابعداري صرف د یو نبي لازمه کړیده، نه دبل چا اودا څې دامام ابو حنیفةؒ وغیره تابعداري فرض ګڼړي، دارنګه وائي (اولوا الامر) نه مراد امام صاحب دې (فاسئلوا اهل الذکر) نه مراد مجتهدین اخستل او دهغوی دیو شخص پسې په هره مسئله کښې ورتلل غُلُو ده۔ دغه شان هر بدعت او ګمراهي خلق د قرآن نه ثابتوي، نو دا زیادت في کتاب الله دې بلکه قرآن کښې به هغه شان چلیږي څنګه چه دالله حکم دې، ضروري حکم به ضروري ګڼرې، مستحب به مستحب ګڼرې۔ **وَالْمُتَسَلِّطُ بِالْجَبَرُوْتِ:** هغه انسان چه مسلط دې په ظلم باندې په خلقو، دا هغه دې چه زورور دې الله ورله قدرت ورکړیدې، تهانه دار دې، اې سي، ډي سي دې، بې عزته خلقوته عزت ورکړي هغوی له مخکښې کار کوي او عزتمند خلق ذلیل کوي، لکه دې وخت کښې دا کار شروع دې چه نیکان خلق بې عزته کوي، ګیرې والا ورته سپك ښکاري او ټائي پتلون او برېښ ټائپ والا ورته عزتمند ښکاري۔

وَالْمُسْتَحِلُّ لِحُرَمِ اللهِ: دالله دحرم بې عزتي کونکې چه هلته بې حیائي کوي، قتل وقتال کوي۔ حرم کښې خلق تنګوي، غلا کوي داتول په کښې داخل دي۔ **وَالْمُسْتَحِلُّ مِنْ عِتْرَتِيْ مَا حَرَّمَ اللهُ:** قید لګوي څکه چه که هغه چرته قتل اوکړو، غلا ئې اوکړه نو قصاص او حد به پرې قائمیږي۔ ددې نه ما سیوا کښې د نبي ﷺ دنسل بې عزتي کونکې لعنتي دې دهر مسلمان بې عزتي حرامه ده خودا ډیره حرامه ده، څکه دمحبت دیني تقاضا دا ده چه دهغه داولادو سره محبت اوساتلې شي۔

وَالتَّارِكُ لِسُنَّتِيْ: سنت پریخودل۔ دسنت اطلاق کله په مقابل دقرآن کیږي لکه قرآن او

سنت۔ ۲- اوکله په معنی دعقیدے سره راځی مطلقاً لکه اهل السنة۔ ۳- هره خبره چه دهغے په کولو یانه کولو نبی ﷺ زور ورکړے وی لکه چه په اول دکتاب الاعتصام کښ به راشی۔بیا سنت پریښودل په دریے قسمه دی : ۱- نفرت او استخفاف ئے کوی، سپك ئے گنړی چه مسواك څه ته وائی، رفع الیدین څه ته وائی، اشارے دی، آمین ته رمبارے، براړے وائی، نودا انسان په دے کافر دے۔

۲- بل قول یا شخص په سنت باندے غوره کړل، لکه انسان وائی چه دا حدیث خو راغلے دے ښه صحیح دے خو ماته دامام صاحب خبره غوره ښکاری، د نبی فیصله خو دا ده لیکن نرخ دا وائی، خپله پښتو غوره کوی په سنت باندے نو دا انسان هم مسلمان نشی پاتے کیدے۔دا ډیره خطرناکه خبره ده، اود مسلمانانو دخولونو نه راوځی، ډیر احتیاط پکار دے سنت ته ځان تسلیمول پکار دی۔ورنه اعمال به ئے برباد شی۔

۳- دریم دا چه د تکاسل اود سستئ او مداهنت په طریقه ئے پریدی، وائی گیره پریښودل سنت دی خو څه اوکړو کمزوری یو، بهانے رامخکښ کوی، داحق، سنت نشم بیانولے ځکه خلق به مے د امامتئ نه اوباسی، مشری به مے ختمه شی، نودا کار فسق دے انسان په دے سره فاسق گرځی یوه حصه دلعنت ورته ورسیدلے ده۔ ٤- کله کله خلاف الاولیٰ کار کول او اولیٰ سنت پریښودل، دا هم التارك لسنتی کښ داخل دے، لکه رفع الیدین پریښودل دوپرے وغیره په وجه، اگرچه په ده باندے لعنت نشته مگر کله چه همیشه سنت طریقے پریدی نودا کس د وپرے مستحق دے۔

درجة الحديث : رواه البیهقی فی المدخل۔ دا حدیث په ترمذی (۲۱۵٤) کښ راغلے دے واعله بالارسال۔ نسائی، طبرانی، صحیح ابن حبان او المستدرك دحاکم کښ هم ذکر دے مگر مصنف وراندے حواله ورکړیده، دے باره کښ علماء وائی : (اَبعَدَ النُّجعَةَ)۔گیاه ئے په وراندے ځائے کښ طلب کړه، دلته په دے نزدے کتابونو باندے حواله پکار وه، ځکه چه دا ډیر صحیح دی په نسبت دهغه کتابونو۔ او حدیث صحیح دے ابن حبان او حاکم ورته صحیح الاسناد وئیلے دے۔(۳٦/۱) قال : ولا اعرف له علة، واقره الذهبی انتهی۔وقال الهیثمی فی المجمع : (۲۰٥/۷) رجاله ثقات قال الالبانی غیر ابن موهب وهو مختلف فیه ولعل الارجح انه حسن الحدیث وهو قول ابن عدی فیه فاسناده حسن لولا انه اعل بالارسال ظلال الجنة (۱۱/۱۹/۱ باب) ۔

۳۲- وَعَنْ مَطَرِ بْنِ عُكَامِسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا قَضَى اللهُ لِعَبْدٍ اَنْ يَّمُوْتَ بِاَرْضٍ جَعَلَ لَهٗ اِلَيْهَا حَاجَةً». رواهُ احمد و الترمذیُّ۔

ترجمه : مطر بن عکامس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایلو : هرکله چه الله تعالی دیو سړی مرگ یوه زمکه کښ مقرر کړے وی نو هغے زمکے طرفته دهغه حاجت هم پیدا کړی (چه هلته تلو باندے مجبوړ شی او هلته ورتلو سره دمرگ ښکار شی)۔ (احمد، ترمذی)۔

تشریح : مطر بن عکامس : دده په صحابی کیدو کښې اختلاف دے بعض وائی چه دا صحابی نه دے بلکه تابعی دے لیکن اصح داده چه دا صحابی دے دکوفیینو نه دے اوصرف دایو حدیث ترینه نقل دے۔ جَعَلَ لَهُ اِلَيْهَا حَاجَةً : یعنی تقدیر دمرگ چه په کومه زمکه شوے وی هغه نه بدلیږی۔

قیصه - دسلیمان علیه السلام په دور کښې یوشخص په یمن کښې وو، الله ملك الموت ته اوفرمائیل چه دے شخص نه په هندوستان کښې روح واخله، ملك الموت اووئیل : یا الله ! څنګه ئے ترینه واخلم داخو په یمن کښې دے نو ملك الموت دے سړی ته راغے اودا په لاره روان وو، نو رعب ئے پرے واچولو، نودا زر سلیمان علیه السلام ته راغلو چه دلته یو شخص دے ماته بدبد ګوری کیدے شی چه ملك الموت وی، ما چرته اولیږه، هغه په تخت کینولو او هندوستان ته ئے اولیګلو، کله چه تخت نه کوز شو، ملك الموت ترینه روح قبض کړو، دا اسرائیلی واقعه ده ددے حدیث تصدیق کوی۔

دا حدیث ددے آیت تائید کوی چه ﴿ وما تدری نفس بأی ارض تموت ﴾ انسان ته پته نشته چه په کومه زمکه به مری۔ نو تقدیر د مرګ او د ځائے نه بدلیږی۔انسان به دا نه وائی چه فلانی ځائے له تلے نه وے مړ به نه وے دا د تقدیر نه انکار دے۔

درجة الحدیث :اسناده صحیح : اخرجه احمد (۲۲۷/۵) والترمذی (۲۱٤٦) وقال : هذا حدیث حسن غریب واللفظ له۔ ثم قد اخرجه من حدیث ابی عزة (۲۱٤۷) وقال هذا حدیث صحیح۔

۳۳- وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ! ذَرَارِیُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ؟ قَالَ: «مِنْ آبَائِهِمْ ؟» فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ بِلَاعَمَلٍ؟ قَالَ: «اَللهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ » قُلْتُ: فَذَرَارِیُّ الْمُشْرِكِيْنَ؟ قَالَ:«مِنْ آبَائِهِمْ» قُلْتُ: بِلَا عَمَلٍ؟ قَالَ: اَللهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ» رواه ابوداود۔

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو یارسول الله ! (دجنت اودوزخ سلسله کښې) دمسلمان بچو څه حکم دے، نبی ﷺ اوفرمائیل : هغوئ د خپلو پلرونو تابع دی، (یعنی هغوی به خپلو پلرونو سره جنت کښې وی) ما عرض اوکړو، یارسول الله ! بغیر د څه عمل نه ؟، نبی ﷺ اوفرمایل : الله تعالی ښه پوهیږی چه هغه بچی څه کونکی وو، ما بیا تپوس اوکړو، ښه دمشرکانو داولاد باره کښې څه حکم دے؟، نبی ﷺ اوفرمایل : هغوئ هم دخپلو پلرونو تابع دی، ما (تعجب سره) تپوس اوکړو، بغیر د څه عمل نه؟، نبی ﷺ اوفرمایل : الله بهتر پوهیږی چه هغے بچو به څه کول۔(ابوداود)۔

تشریح : ذَرَارِیُّ الْمُؤْمِنِيْنَ : (یعنی ماحکمهم) (دمؤمنانو داولادو څه حکم دے) جنت ته به ځی اوکه جهنم ته۔دا هغه حدیث دے چه په دے کښې داخبره ده چه دمشرکانو اولاد به جهنم ته

ځی، په دے باره کښې دتولو محدثینو دا رائے ده چه نبی ﷺ دا خبره کړیده په خپل اجتهاد سره اود ﴿ والذین آمنوا واتبعتهم ذریتهم بایمان﴾ نه ئے معلومه کړیده (چه هرکله د مومنانو بچی د مور او پلار تابع دی په جنت ته داخلیدو کښې نود کفارو بچی به د هغوی تابع وی جهنم ته په داخلیدو کښې۔ عام اصول دشریعت نه ئے دا مسئله معلومه کړه، مگر روستو ورته وحی اوشوه لکه دنورو احادیثو نه معلومیږی چه دا به جنت ته ځی، اویا دا حدیث انسان ته مسئله دتوقف وربښائی چه په دۓ باره کښې خبرے نه دی کول پکار۔لیکن د توقف خبره دومره قوی نه ده لکه دا مسئله مخکښې ددے باب په حدیث نمبر (٦) کښې تفصیلا تیره شوه۔

اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ : ددے دوه معنی دی :

۱ – مشهوره معنیٰ داده چه که دویٔ ژوندی پاتے شوی وے نو دویٔ ته به دخپل اعمالو موافق جزاء اوسزاء ورکیدے شوے ۔(ای اللّٰہ اعلـم بما کانوا سیعملون لو احیاهم اللّٰه عز وجل) ۔ (یعنی که الله ژوندی ساتلی وے نو الله ته به پته وه چه دوی به څه عمل کولو؟) بنا په دے معنی دا حدیث قبل نزول الوحی وئیل شویدے، او روسته ورته وحی شویده چه دویٔ به جنت کښې وی۔لیکن صاحب دالکوکب الدری ص (۴۵/۲) وائی : وظاهر العبارة یابی عنه ۔ (ظاهر د الفاظو ددے تاویل نه انکار کوی) ځکه که دا مطلب وے نو نبی ﷺ به داسے وئیلی وے : (اللّٰه اعلم بحالهم)۔ (الله د دوی په حال ښه پوهیدو)

۲ – نو صحیح معنی دا ده چه دویٔ کله په فطرت باندے پیدا شو نو ددویٔ حال اسلام وو، ترڅو چه دویٔ ته څه عارض نه وو راپیښ شوے ۔والله اعـلـم بما کانوا به عاملین لو حیوا لکنهم لم یستبقوا حتـی یعتری علیهم عارض ینافی الفطرة) ۔یعنی الله ددویٔ په عمل باندے خبردار وو که دویٔ ژوندی پاتے شوی وے لیکن دویٔ ژوندی پاتے نشول ترڅو چه یوداسے عارض ورته راپیښ شوے چه هغه دفطرت منافی وے یعنی هرکله چه ددوی نه دفطرت منافی کارا ونشو نو دوی په خپل اصلی فطرت اسلام باندے باقی پاتے شو، نو بناء په دے معنی داحدیث موافق دے د هغه احادیثو سره چه کوم وارد دی په دے مضمون باندے چه اطفال المشرکین به جنت کښې وی، کما مر۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح : : رواه ابوداود (۴۷۱۲) وسکت علیه هو والمنذری واخرجه ایضاً احمد۔

---

۳۴ – وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اَلْوَائِدَةُ وَالْمَوْؤُدَةُ فِی النَّارِ ».رواه ابوداود.

ترجمه : ابن مسعود ﷜ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : ژوندیٔ بچے ښخونکے (ښځه) او ژوندیٔ ښخه کړے شوے جینیٔ دواړه به دوزخ کښې وی۔(ابوداود)۔

تشریح : اَلْوَائِدَةُ وَالْمَوْؤُدَةُ فِی النَّار : **سوال** : ښخونکے زنانه خو اورته داخلیدل ظاهر دی لیکن موؤده خو ماشومه ده نودے څه گناه کړیده چه اورته داخلیږی ؟ **جواب** : دلته توجیهات

دی : وائده هغه زنانه ده چه خادمه وی دبل چا اولاد ښخوی لکه دعربو دا عادت وو چه ماشومه به ئے په خادمانو باندے ښخوله۔او موؤده هغه زنانه (مور) ده چه دهغے دپاره ښخول کیدے شی یعنی مَوْؤُدَةٌ لَهَا)۔اوماشومه نه ده مراد، فلا اشکال۔

۲-جواب : وائده خود کفر په وجه اور ته داخله شوه او موؤده (ماشومه) دوالدینو تابع ده د تابعداریٔ په وجه نار ته داخلیږی نودا دلیل دے ددے چه اولاد المشرکین نار ته داخلیږی لیکن دا قسم احادیث قبل الوحی بدخول الجنة راغلی دی، روستو وحی شویده په لیلة المعراج کښ چه اولاد المشرکین جنت ته داخلیږی، یا به قیامت کښ پرے امتحان راشی که کامیاب شو جنت ته به ځی، او که ناکام شو اور ته به ځی۔ **۳- جواب** : دا حدیث وارد دے په یوه خاصه واقعه کښ چه دملیکه دوه ځامن رسول الله ﷺ ته راغلل اود مور په باره کښ ترینه تپوس اوکړو چه هغے به جینکۍ ښخولے نو نبی ﷺ دوحی په ذریعه اووئیل چه داماشومه هم دالله په تقدیر کښ کافره لیکل شویده، دابه هم نار ته داخلیږی، نو الف لام په الْمؤده کښ عهدی دی، نه استغراقی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه ابوداود (٤٧١٧) باسناد صحيح قاله العزيزی۔مرعاة : (١/٢٠٠)

الفصل الثالث

٣٥ - عَنْ اَبِی الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«اِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ فَرَغَ اِلٰی کُلِّ عَبْدٍ مِنْ خَلْقِهٖ مِنْ خَمْسٍ مِنْ اَجَلِهٖ وَعَمَلِهٖ وَمَضْجَعِهٖ وَاَثَرِهٖ وَرِزْقِهٖ». رواه احمد۔

ترجمه : ابودرداء ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : الله تعالی دخپل هر بنده متعلق پنځو خبرونه (تقدیر لیکلو سره) فارغ شویدے : ١- دهغه مرگ (چه کله به راځی) ٢ - دهغه (نیك یا بد) عمل ٣ - دهغه داوسیدو ځائے ٤ - دهغه دواپسیٔ ځائے ٥ - او د هغه رزق (احمد)۔

تشريح : **فَرَغَ** : په دے کښ قاعده دا ده چه داپه لام سره استعمالیږی اودلته الی لفظ سره استعمال شویدے نو : ١- وجه دا ده چه دا متضمن دے انتهاء لره ۔ای منتهیاً الی کل عبد ، یعنی تقدیر ئے فارغ شویدے او رسیدلے هر بنده ته۔ ٢ - یا په معنی دلام دے اوحروف جاره دیو بل په معنی کښ استعمالیږی۔ **اَجَلِهٖ** : یعنی موده دعمر دده۔ **وَعَمَلِهٖ** : یعنی که خیر وی اوکه شر۔ **وَمَضْجَعِهٖ** : ١ - (ای سکونه وقراره) یعنی چه دنیا کښ به په کوم ځائے کښ اوسی۔ ٢- ظاهر دا ده چه ددے نه مراد محل د قبر دے اوځائے دمرگ دے چه کوم ځائے به دده لګوی۔ **وَاَثَرِهٖ** : ١- ددے نه مراد حرکت او اضطراب (خوزیدل) دی۔ ٢ - یا قدمونه اخستل په زمکه چه څومره ځایونو کښ به گرځی۔ ٣ - یا اثر نه مراد هغه ثواب او عقاب دے چه ده ته حاصلیږی۔

درجة الحديث : رواه احمد (٧/١٩٥) قال الهيثمی : واحد اسنادَیْ اَحْمَدَ رجاله ثقات واخرج نحوه الطبرانی عن ابن مسعود وابن عساكر عن انس۔

۳۶- وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «مَنْ تَكَلَّمَ فِيْ شَيْءٍ مِنَ الْقَدَرِ سُئِلَ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيْهِ لَمْ يُسْأَلْ عَنْهُ». رواه ابن ماجه۔

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما دنبی کریم ﷺ نه واوریدل : څوك چه د تقدیر په مسئله کښې بحث مباحثه کوی قیامت کښې به ذهغه نه تپوس کیږی، او څوك چه په دے ایمان راوړلو سره خاموشی اختیار کړی هغه نه به تپوس نه کیږی۔(ابن ماجه)۔

تشریح : وَمَنْ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيْهِ لَمْ يُسْأَلْ عَنْهُ : سوال : داکارخو دهر عمل سره دے لکه چا کنځل اونکړل نو تپوس به ترینه نه کیږی، نو د تقدیر تخصیص ئے ولے اوکړو؟ جواب : دلته قید دے (سئل عنه توبیخاً) یعنی نه به ئے معاف کوی، اود لم یسئل معنی داده : الله به ورته دا نه وائی چه تقدیر کښې دے ولے خبرے نه دی کړی، نو په دے باب کښې ترك التكلم غوره دے د تكلم نه، ځکه په دے تكلم بالقدر باندے امر نه دے شوے، تردے چه بیا تپوس اوکړے شی دهغې په باره کښې۔لکه مخکښې حدیث تیر شویدے (ابهذا امرتم)۔۲- دمحدثینو جواب دادے چه دا حدیث ضعیف دے۔

درجة الحديث : رواه ابن ماجه (۸٤) باسناد ضعیف فیه یحیی بن عثمان التیمی وهو ضعیف جداً اتفاقاً۔لیکن معنی دحدیث صحیح ده، دنورو احادیثو نه ثابته ده۔

۳۷- وَعَنِ ابْنِ الدَّيْلَمِيِّ قَالَ: أَتَيْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ فَقُلْتُ لَهُ : قَدْ وَقَعَ فِيْ نَفْسِيْ شَيْءٌ مِنَ الْقَدَرِ فَحَدِّثْنِيْ لَعَلَّ اللهَ اَنْ يُذْهِبَهُ مِنْ قَلْبِيْ فَقَالَ: لَوْ اَنَّ اللهَ عَذَّبَ اَهْلَ سَمٰوَاتِهٖ وَاَهْلَ اَرْضِهٖ عَذَّبَهُمْ وَهُوَ غَيْرُ ظَالِمٍ لَهُمْ وَلَوْ رَحِمَهُمْ كَانَتْ رَحْمَتُهُ خَيْرًا لَهُمْ مِنْ اَعْمَالِهِمْ وَلَوْ اَنْفَقْتَ مِثْلَ اُحُدٍ ذَهَبًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ مَا قَبِلَهُ اللهُ مِنْكَ حَتّٰى تُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ وَتَعْلَمَ اَنَّ مَا اَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ وَاَنَّ مَا اَخْطَاَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيْبَكَ وَلَوْ مُتَّ عَلٰى غَيْرِ هٰذَا لَدَخَلْتَ النَّارَ قَالَ : ثُمَّ أَتَيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُوْدٍ فَقَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ. قَالَ : ثُمَّ أَتَيْتُ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ فَقَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ أَتَيْتُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ فَحَدَّثَنِيْ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ مِثْلَ ذٰلِكَ. رواه احمد وابوداود وابن ماجه۔

ترجمه : ابن دیلمیؒ فرمائی : زه دابی بن کعب ؓ په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مے اوکړو، زما زړه کښې دتقدیر باره کښې څه شبهات پیدا کیږی (چه هرکله تول څیزونه دتقدیر د لیك مطابق دی نو بیا دا ثواب یا عذاب ځنګه دے؟) نو تاسو راته داسے یو حدیث بیان کړئ چه دهغې په وجه شاید الله تعالیٰ زما زړه ددے شبهے (دګندګئ) نه پاك كړی، دے آوریدو سره هغه

اوفرمائیل : کہ اللہ تعالی آسمان والہ اوزمکے والہ عذاب کښې مبتلاکړی نو هغه په هغوئ هیڅ قسم ظلم کونکے نه دے (یعنی که زمکے او آسمان والو ته هر څومره عذاب ورکړی هغه ته ظالم نشی وئیلے) اوکه هغوئ خپل رحمت سره اوپالی نو دهغه رحمت به دهغوئ داعمالو نه یقیناً بهتر وی، اوکه ته دالله لار کښې داُحد دغره هومره سره زر خرچ کړے نو ستا دا (دخیر) عمل دالله په نیز دهغه وخته پورے قبول نه دے څو پورے چه ته تقدیر باندے کامل اعتقاد او یقین او نه ساتے، اوپه دے پوهه شه : څه چه تاته رسیدلی دی، هغه تانه خطا کیدونکے نه وو۔او کوم څیز چه درنه منع شویدے اوتاته نه دے رسیدلے نوپوهه شه چه هغه ستا په تقدیر کښې نه وو۔اوکه دے حالت کښې مړشے چه ددے خلاف دِے عقیده وی (یعنی تقدیر باندے کامل ایمان نه وی) نو یقنیاً دوزخ ته به ځے۔ابن دیلمی" فرمائی : دابی بن کعب" دے بیان آوریدو سره زه دعبد الله ابن مسعود" خدمت کښې حاضر شوم او هغه هم دا بیان اوکړو۔بیا حذیفه بن یمان" له ورغلم نو همدغسے ئے اووئیل، بیا زه زید بن ثابت" له ورغلم نو هغه هم دا قسم حدیث درسول الله ﷺ نه روایت کړو۔ (احمد، ابوداود، ابن ماجه)۔

تعارف د ابن دیلمی : دیلم د یوغر نوم دے دابن الدیلمی نوم ابو بسر عبد الله بن فیروز الدیلمی دے دضحاك بن فیروز وررور دے، دبیت المقدس اوسیدونکے دے ثقه تابعی دے، بعض وائی چه صحابی دے اودده پلار فیروز مشهور صحابی دے۔

تشریح : عَذَّبَ اَهْلَ سَمٰوٰاتِهٖ وَاَهْلَ اَرْضِهٖ عَذَّبَهُمْ وَهُوَ غَيْرُ ظَالِمٍ لَهُمْ :

مسئله : اخلاف الوعید کیدے شی اوکه نه : ۱ – معتزله وائی نشی کیدے یعنی که الله چاته دهمکی په عذاب ورکړی او بیا ئے معاف کړی دا نه دی جائز۔

۲ – اهل السنة وائی جائز دی اودا دهغه رحم او کرم دے، وهو الظاهر۔

مسئله کلامیه : داشاعرو مذهب دادے چه حسن او قبح شرعی دی، عقل لره په کښې دخل نشته اودلیل ئے دا حدیث دے چه الله آسمانونو او زمکو والو لره عذاب ورکړی، نو الله به په دے عذاب ورکولوکښې ظالم نه وی ځکه په دے کښې به ضرور حسن وی اگرچه عقل دا نشی معلومولے۔ اومعتزله وائی : حسن اوقبح داشیاؤ عقلی ده، عقل چه کوم شے حسن گنړی هغه به حسن وی اوکوم شے چه قبیح گنړی هغه به قبیح وی لیکن اصح داده چه حسن او قبح عقلی دی، البته د ثواب او عقاب دارو مدار په شرع باندے موقوف دے یعنی عقل مستقل نه دے په دے حسن او قبح کښې، ترڅو چه شرع وارده نشی دعقل په بناء عذاب او ثواب نشی ورکړے کیدلے۔ اودا گویا که محاکمه بین القولین ده۔کما فی مدارج السالکین (۲۳۲/۱) اودلته چه اهل السماوات والارض ته عذاب ورکول ذکر دی نو دا به ضرور دیو عمل په وجه ورکوی چه هغه ته معلوم دے اوبلا کسب اوعمل عذاب نه ورکوی ځکه الله ته ظالم نشی وئیلے چه گنے

بلا کسب عذاب ورکوی، اوددے تفصیل په مفتاح دار السعاده (۴۲۸/۲) کښ اوګوره۔

تعارف د ابی بن کعب ﷺ: انصاری خزرجی صحابی دے، نبی ﷺ ورته ابو المنذر کنیه ورکړیده، او عمر ورته ابو الطفیل۔ نبی ﷺ ورته سید الانصار او عمرؓ ورته سید المسلمین وئیلے دے، ده به هم نبی ﷺ لره وحی لیکله اودا په هغه شپږو کسانو کښ شامل دے کومو چه په دور نبوی کښ قرآن حفظ کړے وو، او مفتی دصحابو وو، او په صحابو کښ اقرأ هم لکتاب الله دے۔

عمر فاروقؓ به دده نه په مشکل واقعاتو کښ تپوسونه کول۔ نبی ﷺ ته الله وحی اوکړه چه اُبی باندے سورت لم یکن اووایه۔نبی ﷺ ابی بن کعبؓ ته اوفرمائیل: الله ماته وحی اوکړه چه زه په تاباندے دا سورت اولولم! ابی بن کعبؓ عرض اوکړو: الله زما نوم اخستے دے؟ نبی ﷺ اوفرمائیل: آو، نو دے په ژړا شو، دا دده فضیلت دے۔ ده نه (۱۶۴) حدیثونه نقل دی۔دده دوفات په سنه کښ ډیر اختلاف دے د(۱۹) نه تر (۳۳ هـ) پورے دوفات سنه ښودلے شویده۔

مَا قَبِلَهُ اللّٰهُ. **نادره**: دمؤمن نیک عمل دنیا او آخرت دواړو کښ فائده ورکوی، اود کافر نیک عمل صرف په دنیا کښ فائده ورکوی لکه حدیث کښ دی کما فی المشکوة (۴۳۹/۲) کتاب الرقاق: واما الکافر فیطعم بحسنات ما عمل بها لله فی الدنیا رواه مسلم۔(کافر د نیک اعمالو په وجه دنیا کښ خوراك کوی)

تعارف د زید بن ثابت ﷺ: دده اسم کنیت ابو سعید دے، د رسول الله ﷺ کاتب دے وحی به ئے لیکله، بدر ته نه دے حاضر شوے په دے وجه چه دا ماشوم وو، نبی ﷺ چه کله مدینے ته لاړو نودا د یوولس کالو په عمر وو، اول غزوه خندق ته حاضر شویدے، دابو بکر صدیقؓ په عهد خلافت کښ ئے قرآن جمع کړو او اوئے لیکلو، بیا ئے په زمانه دعثمانؓ کښ دمصحف نه نقل کړو، ده ته نبی ﷺ حکم اوکړو چه دیهودو ژبه زده کړه نو ده په پنځلس ورځو کښ یاده کړه نو د رسول الله ﷺ خطونه به ئے یهودو ته لیکل او چه کله به دیهودو خطونه راغلل نو هغه به ئے نبی ﷺ ته لوستل۔اودا په علم الفرائض (میراث) او قرآن باندے دتولو صحابوؓ نه ښه پوهیدو، او په صحابوؓ کښ مفتی وو۔کله چه دا وفات شو ابو هریرهؓ دده په باره کښ اوفرمائیل: مات الیوم حبر الامة۔ د امت لوئی عالم وفات شو، شاید ابن عباسؓ به الله دده په ځائے خلیفه کړی)۔دده نه (۹۲) احادیث نقل دی۔ په سنه (۴۵ هـ) یا (۵۵ هـ) کښ علی اختلاف الروایات وفات شویدے۔

فَحَدَّثَنِیْ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ: **فائده**: ابن الدیلمی په دے تولو صحابوؓ کرځیدلے او تولو همدغه جواب ورکړیدے لیکن تسلی نه ده شوے بیا کله چه زیدبن ثابتؓ ته راغلو هغه هم دغه جواب ورکړو، لیکن هغه ورته اووئیل چه ما د نبی ﷺ نه اوریدلی، نو بیا ئے تسلی اوشوه، وجه داده چه دمؤمن سړی تسلی په قرآن او احادیثو د رسول الله ﷺ باندے کیږی، نه په تا وئیلو ما وئیلو باندے۔دا وجه ده قرآن فرمائی ﴿ الا بذکر الله تطمئن القلوب ﴾ په دے کښ یوه معنی داده چه مؤمن سړی ته چه کله ذکر الله (قرآن اوحدیث) ذکر شی د هغه اطمئنان او تسلی راځی۔اودا

حدیث دلیل دے چه مؤمن لره صحیح حدیث ته ځان رسول پکار دی، ځکه دا سبب دنجات دے، نه د بل چا خبرے۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : رواه احمد (۱۸۲/۵) (۲۱٦٦۷) فی مسند زید بن ثابت وابوداود من طریق ابی سنان وثقه یحیی بن معین ۔وتکلم فیه الامام احمد ولکن للحدیث شواهد فی صحیح ابن حبان والطبرانی فی الکبیر فالحدیث صحیح۔

۳۸- وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ رَجُلًا اَتَی ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ: اِنَّ فُلَانًا یُقْرِأُ عَلَیْكَ السَّلَامَ فَقَالَ: اِنَّهٗ بَلَغَنِیْ اَنَّهٗ قَدْ اَحْدَثَ فَاِنْ کَانَ قَدْ اَحْدَثَ فَلَا تَقْرَؤْهُ مِنِّیَ السَّلَامَ فَاِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ یَقُوْلُ: «یَکُوْنُ فِیْ اُمَّتِیْ اَوْفِیْ هٰذِهِ الْاُمَّةِ خَسْفٌ وَمَسْخٌ اَوْقَذْفٌ فِیْ اَهْلِ الْقَدَرِ». رواه الترمذیُّ وابوداود وابن ماجه وقال الترمذیُّ : هذا حدیث حسن صحیح غریب.

ترجمه : نافع نه روایت دے چه یو سړے دابن عمر رضی الله عنه خدمت کښې حاضر شو هغه اووئیل : فلانی سړی تاسو ته سلام وئیلے دے، ابن عمر اوفرمائیل : ماته معلومه شویده چه هغه سړی دین کښې څه نوے خبره راوښکلے ده که واقعی هغه دین کښې څه نوے خبره پیدا کړے وی نو زما دطرفنه هغه ته (جواب کښې) سلام مه رسوه ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی : زما دامت نه (یا دے امت نه) د الله دردناك عذاب زمکه کښې غرقیدل اود صورت مسخ کیدل یا دکانړو باران به دتقدیر نه په انکار کونکو باندے وی۔(ترمذی، ابوداود، ابن ماجه)۔

تعارف دنافع رحمه الله : دا جلیل القدر تابعی دے دابن عمر غلام وو، سفراً او حضراً به ورسره گرځیدلو، دامام مالك استاذ دے، دابن عمر اکثر احادیث ده نقل کړیدی، امام بخاریؒ فرمائی : اصح الاسانید : مالك عن نافع عن ابن عمر دے۔امام مالك فرمائی : ماته چه کله نافع عن ابن عمر حدیث راورسیږی نو دا ما دپاره کافی ده، دبل چا نه اوریدلو ته مے ضرورت نشته، ځکه دا ډیر قوی سند دے، عبد الله بن عمرؓ به فرمائیل : (لقد منّ الله علینا بنافع) (الله مونږ سره د نافع په وجه ډیره ښیگړه اوکړه) په سنه (۱۱۷ هـ) کښې وفات شویدے۔

تشریح : یُقْرِأُ عَلَیْكَ السَّلَامَ : **مسئله بدیعه** : یو شخص تاته دبل چا سلام راوړی نو هغه ته دوه قسمه جواب ورکولے شی : ۱- وعلیه السلام فقط، لکه نبی ﷺ عائشه رضی الله عنها ته اوفرمائیل : جبرئیل په تا باندے سلام وائی، هغې اوفرمائیل : وعلیه السلام۔ ۲- وعلیك وعلیه السلام جواب هم ورکولے شی۔

مسئله مهمه : سلام اچول په چا شته اوپه چا نشته ؟

نو په احادیثو کښې په څلور پنځه کسانو باندے دسلام اچولو نه منع راغلے ده لکه :

۱- په مبتدع باندے لکه په دے حدیث کښې ابن عمرؓ فرمائیلی دی: چه زما د طرفنه په دے مبتدع باندے سلام مه اچوه، دارنګه حدیث کښې دی: (من وقر صاحب بدعة فقد اعان علی هدم الاسلام)۔ (د مبتدع اکرام کول د اسلام نړول دی)۔ ۲- په یهودی او نصرانی باندے سلام اچول ممنوع دی، لکه حدیث د صحیحینو کښې راځی: (لا تبتدؤا الیهود والنصاری بالسلام)۔ (یهود نصاراؤ باندے د سلام ابتداء مه کوئ)

۳- فاسقانو ګناه کبیره والو باندے سلام اچول ممنوع دی لکه حدیث الصحیحین کښې راځی: چه نبی ﷺ په کعب بن مالك، هلال بن امیه او مراره بن ربیعه خبرے او سلام اچول منع کړی وو، کله چه دا درے صحابه کرامؓ د غزوه تبوك نه بغیر د عذر نه پاتے شوی وو۔

دغه شان امام ابوداود باب تړلے: (باب ترك السلام علی اهل الاهواء)۔ (په خواهش پرستو باندے سلام پریخودل پکار دی) او بیا ئے حدیث د عمار بن یاسرؓ راوړیدے چه دا فرمائی چه زما لاسونه چاؤدلی وو، نو ما زعفران اومږل، کله چه نبی ﷺ خواته لاړم، سلام مے پرے واچولو نو هغه جواب رانکړو۔ البته کله چه دعوت ورکول مقصد وی فاسقانو ته نو بیا د اصلاح په نیت سلام اچول جواز لری، ځکه چه که ته سلام وانه چوے نو بیا ستا دعوت اثر نه کوی۔

٤- په حالت د بول وبراز او جماع کښې سلام اچول نه دی جائز۔ دلیل دادے چه نبی ﷺ بول کول ابو جهمؓ صحابی ورباندے سلام واچولو، هغه جواب ورنکړو، کله چه فارغ شو نو په دیوال ئے مسحه اوکړه او جواب ئے ورکړو، او ورته ئے اوفرمائیل: چه سلام دالله نوم دے ما بد اوګنړل چه زه په حالت د بولو کښې جواب درکړم۔ (ابوداود: ۵۳/۱) باب التیمم فی الحضر۔

۵- او په اجنبی (پردیو) زنانو باندے سلام اچولو کښې تفصیل دے که فتنه ترینه نه ولاړیده نو جائز دی، دلیل دادے چه اسماء رضی الله عنها فرمائی: مونږ زنانه په مسجد کښې ناست وو، نبی ﷺ تیریدلو په مونږ نو لاس ئے اوچت کړو او په مونږه ئے سلام واچولو (فاهوی الیهن بیده) او که فتنه ترینه پیدا کیدله نو بیا سلام اچول ممنوع دی۔ ددے ځایونو نه علاوه باقی ټولو ځایونو او حالتونو کښې په هر چا باندے سلام اچول جواز لری، ددے نه معلومه شوه چه په (درمختار) کښې ئے کوم (۲۱) ځایونه ذکر کړیدی چه په هغے کښې به سلام نه اچوی۔ نو هغے کښې اکثر ځایونه غلط دی، لکه هلته ئے وئیلی دی چه په مونځ کونکی، تلاوت کونکی، ذکر کونکی، قاضی فیصله کونکی، مدرس وغیره باندے سلام اچول ممنوع دی، نو د اخبره خطاء او بے دلیله ده۔ وجه داده چه احادیثو کښې دا ذکر دی چه په دغه ټولو حالتونو کښې سلام اچول شویدے، لکه ددے مسئلے تفصیل به په باب السلام مشکوٰة (۳۹۷/۲) کښې راشی۔ اودارنګه زیات تفصیل په فتاوی الدین الخالص (۲۲۸/۱) کښې کتلے شئ۔

درجة الحدیث: اسناده حسن: رواه ابو داود (والترمذی (۲۱۵۲) باسناد حسن صحیح۔ وقال

الترمذی : هذا حدیث حسن صحیح غریب۔

د حسن او صحیح او غریب جمع کولو اشکال : غرابت اوصحت خپلو کښې منافی نه دی۔ په یو حدیث کښې دواړه سره جمع کیدے شی البته صحت او حسن جمع کیدلو کښې اشکال شته دے او هغه دا چه حسن ښکته درجه ده دصحیح نه او صحیح اعلی درجه ده، نو دواړه په یو حدیث کښې جمع کول اثبات د قصور او نفی دقصور ده۔ خو ددے نه بے شماره جوابونه ورکړے شویدی، ددے تفصیل په المرعاة (۲۰۵/۱) کښې اوګوره۔ بعض دا دی :

۱- دا د امام ترمذیؒ خاص اصطلاح ده اودا صحت اوحسن راجع دے اسناد ته یعنی یو حدیث په دوه سندونو نقل وی یو حسن وی بل صحیح وی، نو دلته حسن صحیح جمع کوی، اشاره وی تعدد الطرق ته، لیکن داجواب ضعیف دے ځکه چه بعض داسے مواضع شته دے چه هلته صرف یو طریق سره ثابت وی نو هلته هم امام ترمذیؒ حسن صحیح وائی (لا نعرفه الا من هذا الوجه) هم ورسره وائی۔

۲- **جواب** : بعض وائی کله چه امام ترمذیؒ یواځے حسن ذکر کړی نودابه دصحیح نه لاندے درجه وی اوکله چه حسن اوصحیح دواړه جمع کړی نو بیا په حسن کښې قصور شرط نه دے ځکه مطلب دادے چه کله راوی صادق اوغیر متهم بالکذب وی نو حسن وی اوکله چه حافظ او مُتْقِن وی نو صحیح دے، نو کله چه صحیح اعلیٰ درجه ذکر شی نو په دے سره نفی دادنیٰ درجے نه راځی یعنی دا حدیث داسے راویانو نقل کړیدے چه حفاظ او متقنین هم دی نو صحیح شو او صادقین او غیر متهم بالکذب هم دی نو حسن شو، اوداسے خبره دمتقدمینو په کلام کښې موجود ده، چه دصحیح احادیثو په باره کښې وائی : هذا حدیث حسن۔ نو هر صحیح حسن دے پدے احتمال سره ولا عکس۔

۳- **جواب** : حسن او صحت باعتبار الزمانین والحالین دی یعنی دایو حدیث دیو شخص نه اوریدلے دے په حالت دمستور الحال کښې یا مشهور بالصدق والامانة وو، بیا دهغه حالت پورته شو عدالت ته نو بیا ترینه واوری، نو دواړه وصفین بیان کړی، اوله زمانه دحسن وه دویمه دصحت۔

۴- **جواب** : حسن لذاتهٖ اوصحیح لغیرهٖ دے یعنی په اعلیٰ درجات الحسن او ادنیٰ درجات الصحة کښې دے۔ ۵- **جواب** : دحسن نه مراد معنی لغوی ده، (ای ماتمیل الیه النفس وتستحسنه، ولایاباه القلب)۔ (یعنی چه نفس ورته میلان کوی او حسن ئے ګنړی او زړه ترے نفرت نه کوی) اود صحیح نه مراد اصطلاحی معنی ده۔ نومنافات نشته۔ ۶- یا داچه امام ترمذیؒ وائی : زه ورته حسن وایم بل څوك ورته صحیح وائی وبالعکس۔ نو دواړه مذهبینو ته اشاره کوی۔

---

۳۹ - وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: سَأَلَتْ خَدِيْجَةُ النَّبِيَّ ﷺ عَنْ وَلَدَيْنِ مَاتَا لَهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «هُمَا فِي النَّارِ». قَالَ : فَلَمَّا رَأَى الْكَرَاهَةَ فِي وَجْهِهَا قَالَ : لَوْرَأَيْتِ مَكَانَهُمَا

لَا بْغَضْتِهِمَا. قَالَتْ: يَارَسُوْلَ اللهِ! فَوَلَدِىْ مِنْكَ؟. قَالَ: «فِى الْجَنَّةِ». ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَوْلَادَهُمْ فِى الْجَنَّةِ وَاِنَّ الْمُشْرِكِيْنَ وَاَوْلَادَهُمْ فِى النَّارِ». ثُمَّ قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ﴿وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ﴾. رَوَاهُ اَحْمَدُ۔

ترجمه: علی ؓ نه روایت دے چه ام المؤمنین بی بی خدیجےؓ دنبی کریم ﷺ نه دخپلو دوه بچو باره کښ تپوس اوکړو چه دجاهلیت په زمانه کښ (داسلام نه مخکښ) مړه شوی وو (چه هغه جنتی دی که دوزخی؟) نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل: دواړه بچی دوزخ کښ دی۔ علی ؓ فرمائی: نبی کریم ﷺ چه دبی بی خدیجےؓ دمخ رنګ (دخپلو بچو باره کښ دے آوریدو سره بدل شوے اولیدلو یعنی هغه ئے غمژنه اولیدله) نو وے فرمایل: که تا دهغو بچو حال لیدلے وے (څنګه بدل عملئ به کوی) نو تاته به دهغه بچونه نفرت شویوے۔ بیا بی بی خدیجےؓ عرض اوکړو، یا رسول الله! بنه زما هغه اولاد چه تاسو نه مے پیدا شویدی (یعنی قاسم او عبد الله) نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: مومنان اود هغوئ اولاد جنت کښ دی او مشرکین او دهغوئ اولاد دوزخ کښ دی۔ دے نه پس نبی ﷺ دا آیت تلاوت کړو: والذین آمنوا واتبعتهم ذریتهم بایمان الحقنا بهم ذریتهم (القرآن) ترجمه: کومو خلقو چه ایمان راوړو اود هغوئ اولاد دهغوئ اطاعت اوکړو، نو مونږ به دهغوئ اولاد (جنت کښ) هغوئ سره ملاؤ کړو۔ (احمد)۔

تشریح: وَاَوْلَادَهُمْ فِى النَّارِ: ددے نه معلومیږی چه اولاد المشرکین به جهنم ته داخلیږی لیکن دا خو: ۱- یا په اجتهاد باندے بناء دے نبی ﷺ ته لا وحی نه وه شوے۔ ۲- یا دا حدیث ضعیف جداً او منقطع دے، فیه محمد بن عثمان مجهول۔

تنبیه: دا روایت مسند احمد کښ نشته بلکه دامام احمد ځوئے عبد الله په زیادات دمسند احمد کښ راوړیدے نو هغه ته نسبت کول پکار دی۔ کما عزاه الیه الهیثمی فی مجمع الزوائد (۲۱۷/۷)۔

درجة الحديث: اسناده ضعیف (رواه عبد الله بن احمد فی زوئد المسند (۱۳۴/۱) وفیه محمد بن عثمان قال الذهبی لایدری من هو۔ قال الشیخ عبد العزیز الراجحی ثم ان متنه منکر من قوله وان المشرکین واولادهم فی النار۔

۴۰- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ: «لَمَّا خَلَقَ اللهُ آدَمَ مَسَحَ ظَهْرَهُ فَسَقَطَ عَنْ ظَهْرِهِ كُلُّ نَسَمَةٍ هُوَ خَالِقُهَا مِنْ ذُرِّيَّتِهِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَجَعَلَ بَيْنَ عَيْنَىْ كُلِّ اِنْسَانٍ مِنْهُمْ وَبِيْصًا مِنْ نُوْرٍ ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلٰى آدَمَ فَقَالَ: اَىْ رَبِّ! مَنْ هٰؤُلَاءِ؟ قَالَ: «ذُرِّيَّتُكَ»، فَرَاٰى رَجُلًا مِنْهُمْ فَاَعْجَبَهُ وَبِيْصُ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ فَقَالَ اَىْ رَبِّ مَنْ هٰذَا؟ قَالَ: «دَاوٗدُ». فَقَالَ: اَىْ رَبِّ كَمْ جَعَلْتَ عُمْرَهُ؟ قَالَ: سِتِّيْنَ سَنَةً قَالَ: رَبِّ! زِدْهُ مِنْ عُمْرِىْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً. قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:

«فَلَمَّا انْقَضٰى عُمُرُ آدَمَ اِلَّا اَرْبَعِيْنَ جَاءَهٗ مَلَكُ الْمَوْتِ فَقَالَ آدَمُ: اَوَلَمْ يَبْقَ مِنْ عُمُرِيْ اَرْبَعُوْنَ سَنَةً. قَالَ: اَوَلَمْ تُعْطِهَا ابْنَكَ دَاوٗدَ فَجَحَدَ آدَمُ فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهٗ وَنَسِيَ آدَمُ فَاَكَلَ مِنَ الشَّجَرَةِ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهٗ وَخَطَأَ آدَمُ وَخَطَأَتْ ذُرِّيَّتُهٗ». رواه الترمذیؒ.

ترجمه : ابو هریره فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلي دی : هر کله چه الله آدم (علیه السلام) پیدا کړو نو د هغه په شا ئے لاس راخکلو نو د هغه د شا نه هر روح راووتو دکومو چه الله پیدا کونکے وو د هغه د اولادو نه تر قیامته پورے۔ او په هغوی کښې د هر انسان د دواړو سترګو ترمینځ ئے د رنړا یو چمك واچولو بیا ئے آدم ته پیش کړل، نو هغه اوونیل : اے ربه ! دا څوك دی ؟ الله اوفرمایل : ستا اولاد دی۔ نو آدم په هغوی کښې یو سړے اولیدو چه د دواړو سترګو ترمینځ پړق (چمك) هغه لره په تعجب کښې واچولو نو وے وئیل : اے ربه ! دا څوك دے ؟ الله اوفرمایل : داود (علیه السلام) ده اوونیل: اے ربه تا ده له څومره عمر مقرر کړیدے ؟ الله اوفرمایل : شپیته کاله۔ ده اوونیل : اے ربه زما د عمر نه ده له څلویښت کاله زیات کړه۔ رسول الله ﷺ اوفرمایل : هر کله چه د آدم علیه السلام عمر ختم شو مګر څلویښت کاله (پاتے شو) نو ملك الموت ورته راغلو (چه روح راکړه) آدم ورته اوفرمایل : آیا زما د عمر نه (ګنے) څلویښت کاله ندی پاتی؟۔ هغه ورته اوونیل : آیا تا هغه خپل ځوی داود (علیه السلام) ته ندی ورکړی؟۔ نو آدم (علیه السلام) انکار اوکړو نو ددے وجه نه د هغه اولادو هم انکار اوکړو۔ او آدم (علیه السلام د ونے په خوړلو کښې) هیره اوکړه او ونه ئے اوخوړه نو (ددے وجه نه) د هغه اولادو نه هم هیره کیږی او آدم (علیه السلام) خطاء اوکړه نو د هغه اولاد هم خطاء کوی۔ (ترمذیؒ)

مناسبة الحدیث : تقدیر کښې چه کومه زندګی او عمر انسان دپاره لیکلے شویده هغه چاته په هبه کولو سره نه بدلیږی ځکه الله آدم علیه السلام سره دا لوظ نه وو کړے چه ورله ورئے کړه او ماورله ورکړو، بلکه که خوښه دے وی ورئے کړه ځکه دا الله تقدیر کښې نه ده لیکلے۔

تشریح : مسح دظهر په دے حدیث کښې ذکر ده دا د متشابهاتو نه ده، په کیفیت ئے الله خبر دے، او معنی ئے واضحه ده ۔ كُلُّ نَسَمَةٍ : دنسمه اطلاق کله په روح باندے کیږی اوکله په ذی روح باندے ۔ وَبِيْصًا : چمك اورنړا ته وائی۔ مراد ترینه په دے مقام کښې ایمان دے باطنی رنړا په مخ ښکاره کیږی۔ فَرَاٰى رَجُلًا مِنْهُمْ : **سوال :** په دے کښې خو افضلیت د داؤد علیه السلام ثابت شو په نورو اولوا العزم انبیاؤ باندے سره ددے نه چه دا په اولوالعزم انبیاؤ کښې نه دے شمار؟۔

۱- **جواب :** دلته آدم علیه السلام یو طرفته اوکتل نو دائے ښائسته اولیدلو او بل طرفته ئے توجه اونکړه ورنه نور انبیاء به ئے هم ښائسته لیدلی وے۔ ۲ - لیکن ښه **جواب** دادے چه د

فضیلت جزئی دے چه هر نبی لره الله ورکړیدے اوددے وجه داده چه داؤد علیه السلام زیات عبادت کونکے وو لکه حدیث دمسلم (۳۶۶/۱) کښ دی: (کان اعبد البشر یصوم یوماً ویفطر یوماً) او عبادت په مخ کښ رنړا پیدا کوی، دا وجه ده علامه وحید عبد السلام بالی په (الصارم البتار) کښ لیکلی دی چه که یوه زنانه په خاوند باندے جادو کوی نو ډیر عبادت دے کوی چه ښائسته شي نو دخاوند توجه به ترینه بل طرفته نه اوړی، او دیته حلال جادو وائی۔ بعض وائی چه داود علیه السلام ورته ځکه ښائسته ښکاره شو چه دده مشابهت وو دآدم علیه السلام سره په دے کښ چه دابه هم دده نه بعد خلیفه وی۔ بل **سوال** دا دے چه: په دے حدیث کښ راځی چه آدم علیه السلام داؤد علیه السلام ته څلویښت کاله دخپل عمر نه ورکړل او بل حدیث په باب السلام (۴۰۰/۲) کښ راځی چه شپیته کاله ئے ورکړل، نو تعارض راغلو ددے څه تطبیق دے؟

جواب: دلته په دے حدیث کښ په راوی باندے په الفاظو دعدد کښ خلط راغلے دے۔ اصل کښ ئے څلویښت کاله ورکړیدی خو راوی ترینه شپیته کاله سهواً جوړ کړل۔

۲- **جواب**: ابتداء کښ ئے څلویښت ورکړل بیا ئے شل نور زیات ورکړل نو شپیته کاله ئے ورته ورکړل۔ قوله فجحد آدم: ددے نه دا مقوله ماخوذ ده چه: الولد سر ابیه۔ یعنی پلار کښ چه کوم خوئی وی هغه غالباً په اولاد کښ راځی۔ دارنګ په شکل او شباهت کښ ورسره مشابه وی۔ وَنَسِیَ آدَمُ: دلته نسیان راغلے دے او په ونه خوړلو کښ نسیان نه وو هلته نسی معنی ده ترک۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح: رواه الترمذی باسناد حسن صحیح۔ والحاکم فی المستدرك (۵۸۵/۲) وقال: صحیح علی شرط مسلم۔

۴۱- وَعَنْ اَبِی الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ: «خَلَقَ اللّٰهُ آدَمَ حِیْنَ خَلَقَهُ فَضَرَبَ کَتِفَهُ الْیُمْنٰی فَاَخْرَجَ ذُرِّیَّةً بَیْضَاءَ کَاَنَّهُمُ الذَّرُّ وَضَرَبَ کَتِفَهُ الْیُسْرٰی فَاَخْرَجَ ذُرِّیَّةً سَوْدَاءَ کَاَنَّهُمُ الْحُمَمُ فَقَالَ لِلَّذِیْ فِیْ یَمِیْنِهٖ لِلْجَنَّةِ وَلَا اُبَالِیْ وَقَالَ لِلَّذِیْ فِیْ کَفِّهِ الْیُسْرٰی اِلَی النَّارِ وَلَا اُبَالِیْ». رواه احمد۔

ترجمه: ابوردا ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: کوم وخت چه الله آدم علیه السلام پیدا کړو نو دهغه په ښئ اوږه ئے لاس راښکلو او هغے نه سپین اولاد راووتلو لکه چه هغه میږی وو۔ بیا ئے دهغه په ګسه اوږه لاس راښکلو او هغے نه تور اولاد راووتلو لکه چه سکاره وو۔ بیا الله دښی طرف اولادو باره کښ اوفرمائیل: چه دا جنتی دی او ماته ددے هیڅ پرواه نشته اود آدم علیه السلام دګسے اوږے واله اولادو باره کښ ئے اوفرمائیل: دا دوزخی دی اوماته ددے پرواه نشته (احمد)۔

تعارف دابی الدرداء ﷺ: دده نوم عویمر دے نبی ﷺ ورته حکیم الامة وئیلے دے۔ (بعض خلق اشرف علی تهانوی صاحب ته حکیم الامة وائی حال دا چه داسے وئیل مناسب نه دی دا

مبالغه ده) ابودرداءؓ په دنیا کښې ډیر زیات بے رغبته وو، ده به وئیل خلق مرګ بد ګڼړي زه ئے ښه ګڼړم۔ خلق بیماري او فقیري بده ګڼړي زه ئے ښه ګڼړم۔ د بدر په کال ئے اسلام قبول کړیدے او اُحُد ته حاضر شویدے او په هغے کښې ورته تکلیف ورکړے شویدے۔ نبي ﷺ ورته دجنګ اُحُد په ورځ اووئیل : (نعم الفارس عويمر) ۔یعني ابودرداء څومره ښه شهسوار دے !! دے په شام کښې اوسیدلو اودشام په دار الحکومت دمشق کښې په کال (۳۲ھ) کښې وفات شویدے۔او (۱۲۹) احادیث ترینه نقل شویدی۔ دعمر فاروقؓ په دور خلافت کښې د دمشق ښار قاضي پاتے شویدے او جمع د قرآن ئے هم کړیده۔

تشریح :حِيۡنَ خَلَقَهٗ : داعبارت د روستو سره لګی یعني حين خلقه فضرب (د پیدائش په وخت کښې ئے پرے لاس راخکلو) اود مخکښې سره نه دے متعلق ځکه بیا معنی واضحه نه راځي،کما هو ظاهر۔ كَاَنَّهُمُ الذَّرُّ : داسے واړه وو لکه د وړو میږانو پشان۔ وَقَالَ لِلَّذِىۡ : یعني اشاره ئے اوکړه۔ قال دلته په معنی داشارے سره دے، وَلَا اُبَالِىۡ : یعني زه هیڅ باك نه کوم هیڅ تکلیف راته نشته، نو ددے نه دا معلومه شوه چه په الله باندے څه شے فرض نه دے چه څوك جنت ته بوځي یا جهنم ته بوځي نو هغه ته به دظلم نسبت راشي، دا نه ده، بلکه الله رب العزت په خپلو افعالو کښې اختیار والا دے که څوك جنت ته داخلوي اوکه څوك جهنم ته،دا دهغه خوښه ده لیکن دومره ده چه دا د نور دین نه معلومه ده چه الله رب العزت په چا ظلم نه کوي بلکه دظلم اراده هم نه لري په بندګانو باندے رحم کوي، دسلو میاندو نه دهغه رحمت زیات دے۔خو دا کوم کسان چه الله ته معلوم دی چه دابه اورته ځي نو دا الله ته معلوم وو چه دابه بد عمله وي، غلطو عقیدو والا به وي،نو ځکه ئے پرے مخکښې نه فیصله (تقدیر) اوکړه چه دابه اورته ځي، اودا کارونه به په خپل اختیار کوي۔

خو په دے حدیث کښې دانسانانو دپاره دوه فائدے دي : ۱– یو دا چه انسانانو ته دالله کمال علم معلوم شي چه دا سے عالم دے چه دپخوا راسے په دے انسان پو هیدو چه دابه غلطه عقیده لري او بیا هغه شان اوشوه۔ ۲– بله فائده دا معلومیږي چه انسان اویریږي چه زه به د الله په کومه قبضه (موټي) کښې راغلے یم، آیا دجهنمیانو نه به حساب یم اوکه دجنتیانو نه؟۔نو انسان به نیك اعمالو کښې کوشش کوي، لکه چه صحابوؓ ته به داسے حدیثونه بیان شول نو هغوی به ددے نه دا فائده واخستله چه اوبه پریدل، غمژن به شو اوپه دے غمژن کیدو کښې فائده وي (فلا يامن مكر الله الا القوم الخاسرون) دکامیابئ سبب دے۔او نیك عمل کښې به ئے جلتي اوکړه او مونږ انسانان ترے د انکار فائده واخستله ! یا په الله باندے زرورتیا او بدعملي کول، الله باندے اعتراض کول۔ هائے افسوس !

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه احمد (٦/٤٤١) وقال الهيثمي : رواه احمد والبزار والطبراني ورجاله رجال الصحيح آهـ۔

۴۲- وَعَنْ اَبِیْ نَضْرَةَ اَنَّ رَجُلًا مِنْ اَصْحَابِ النَّبِیِّ ﷺ يُقَالُ لَهُ عَبْدُ اللهِ دَخَلَ عَلَيْهِ اَصْحَابُهٗ يَعُوْدُوْنَهٗ وَهُوَ يَبْكِیْ فَقَالُوْا لَهٗ : مَا يُبْكِيْكَ؟ اَلَمْ يَقُلْ لَكَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «خُذْ مِنْ شَارِبِكَ ثُمَّ اَقِرَّهٗ حَتّٰى تَلْقَانِیْ؟» قَالَ بَلٰی ! وَلٰكِنْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اِنَّ اللهَ قَبَضَ قَبْضَةً بِيَمِيْنِهٖ وَاُخْرٰی بِالْيَدِ الْاُخْرٰی وَقَالَ: هٰذِهٖ لِهٰذِهٖ وَهٰذِهٖ لِهٰذِهٖ وَلَا اُبَالِیْ وَلَا اَدْرِیْ فِیْ اَیِّ الْقُبْضَتَيْنِ اَنَا».رواه احمد.

ترجمه : ابو نضره وائی : دنبی کریم ﷺ په صحابو کښې یو سړے چه دهغه نوم ابو عبد الله وو، هغه ته دهغه دوستان تپوس له ورغلل نو هغویٔ اولیدل چه ابو عبد الله ژاړی هغوی ورته اووئیل : ته څه څیز په ژړا مجبور کړلے آیا تاته نبی ﷺ دا ارشاد نه وو فرمائیلے چه دخپلو شوندو (بریتو) ویښتــه اخلــه اوبــه دے قائم اوســه تردے چه تــه ماسره (جنت کښې) ملاقات اوکړے .ابو عبد الله اووئیل، آو۔لیکن ما د نبی ﷺ نه دا هم آوریدلی دی چه الله عز وجل د خپل ښی لاس موټی کښے یو جماعت واخستو او وے فرمایل : دا (یعنی دښی لاس) جماعت جنت دپاره دے او دګس لاس جماعت د دزوخ دپاره دے اوماته ددے هیڅ پرواه نشته (دے وئیلو سره) ابو عبد الله اوفرمائیل : زه نه پو هیږم چه زه کوم موټی کښې یم (یعنی ښی موټی کښې یم یا ګس موټی کښې یم) (احمد)۔

تعارف د ابو نضره رحمه الله : دده نوم منذر بن مالك البصری دے دتابعینو نه دے په کنیه باندے مشهور دے، په سنه (۱۰۸ هـ) کښې وفات شویدے۔

تشریح : ثُمَّ اَقِرَّهٗ: په فتحه دهمزه اوکسره دقاف اوتشدید دراء سره، همیشه والی ته وائی۔ یعنی بیا په دے بریتو وهلو باندے همیشه والے کوه۔ حَتّٰی تَلْقَانِیْ؟ : **فائده نادره** : – په صحابی باندے خوف الهی دومره غالب شوے وو چه بشارت ئے ترینه هیر کړو، هغه طرفته ئے توجه هم نه وه۔ ۲– دویم داچه صحابۍ به دا ګمان کولو چه کیدے شی زمونږ بشارت مشروط وی په څه شرطونو پورے چه هغه مونږ اداء نکړے شو، نو ځکه به ئے عمل کښې کوشش کولو۔ ۳ – دریم داچه د الله عظمت اوجلال ته به ئے کتل چه هسے نه جنت نه مو محروم نه کړی، ځکه په هغه باندے خو دچا زور نه چلیږی۔ ۴–د ایمان حلاوت ئے ځکلے وو چه خوف او رجاء ئے دواړه جمع کړی وو۔

فائده : ۱– مریض ته تسلی ورکول، دامید ورکولو والا آیتونه او حدیثونه لوستل او بشارتونه اود الله رحمت یادول پکار دی۔ ۲ – دلته صحابی دسابقے نه یریدلے دے چه الله به مونږ څنګه لیکلی یو۔ ۴ – دخلقو په مینځ کښې ژړل دهغه چا دپاره جواز لری چه ریاء کښې نه راځی اوهغه ته به ریا کار نشی وئیلے ځکه ریاء دزړه صفت دے، اودلته صحابی مکرم باندے دا ګمان نشی کیدے۔

خُذْ مِنْ شَارِبِكَ : **مسئله هامه** : **د بریتو وهلو کښې مستحب عمل کوم دے ؟**

بریت وهلو دپاره په احادیثو کښې شپږ قسمه الفاظ استعمالیږي:
۱- اخذ لکه په حدیث کښې دي: خذ من شاربك. ۲- الجز: لکه (جزوا الشوارب). په حدیث دمسلم کښې فی الطهاره (۲۶۰) کښې ذکر دي. ۳- قص الشوارب، لکه په روایت دترمذي کښې دي: ان رسول الله ﷺ کان یقص شاربه). ٤- النهك: لکه (انهکوا الشوارب). ٥- الاحفاء: لکه په روایت دبخاري کښې دي في کتاب اللباس: (خالفوا المشرکین وفروا اللحی واحفوا الشوارب).
٦- الحلق: لکه په روایت دنسائي کښې دي کما یاتي. - دبریت په وهلو اواخستلو کښې دعلماؤ اختلاف دے چه کوم بهتر دي:
۱- جمهور لکه ابو حنیفة، شافعي، احمد فرمائي: چه دستے نه وهل بهتر دي،
دلائل ئے دا دي: ۱-**دلیل**: احادیثو کښې لفظ داحفاء او نهك راغلے دے اوددے دواړو معنی ده دستے نه وهل چه دخرئیلو مشابه شي، اودا نور الفاظ به حمل وي په دے معنی باندے اود احفاء لفظ په صحیحینو کښې راغلے دے. ۲-**دلیل**: عمل داکثرو صحابوؓ په دے باندے وو چه احفاء به ئے کوله یعني دستے نه به ئے بریت وهل لکه الطحاوي (۳۰۸/۲) او زاد المعاد (۱۷۳/۱) کښې دصحابوؓ ئو مونه ذکر کړیدي لکه ابن عمر، ابو سعید الخدري، ابو اسید، جابر بن عبد الله، ابو هریره، رافع بن خدیج، ابن عباس، سهل بن سعد، انس بن مالك او سلمه بن اکوع - رضی الله عنهم - به احفاء کوله، او صحابه کرامؓ درسول الله ﷺ په سنت باندے ډیر ښه پو هیدل، نودا دلیل دے چه احفاء سنت طریقه ده. امام طحاوي دحدیث دمغیرةؓ (اقصه لك علی سواك) نه کوم چه راروان دے جواب کړیدے چه دلته درسول الله ﷺ سره بل څه مقراض (قینچي) وغیره نه وه نو ځکه ئے مسواك ذکر کړو، نو دادلیل ددے نه دے چه ګنے قصّ بهتر دے، دابن عمرؓ روایت داسے دے چه ابراهیم بن محمد بن حاطب فرمائي: رأیت ابن عمر یحفي شاربه کأنه ینتفه، کما في زاد المعاد (۱۷٤/۱).
۲- **دویم قول** دامام مالكؒ او محققینو دے چه قص بهتر دے یعني لګ بریت اخستل یعني کوم چه دشونډو دپاسه وي هغه اخستل بهتر دي اود ستے نه وهل او خرئیل مثله ګڼړي لکه چه دا د هغه نه د هغه شاګر ابن القاسم نقل کړیدي چه هغه فرمائي د بریتو د بیخ نه وهل او خرئیل زما په نزد مُثله ده. (احفاء الشارب وحلقه عندي مثلة کذا في الفتح (۲۸٥/۲) او فرمائي چه حدیث کښې کوم احفاء راغلے ده د هغے نه مراد (اطار) دے یعني د شونډے دپاسه ویښته اخستل مراد دي چه شونډه ښکاره شي اود بیخ نه اخستل مراد نه دي.
دلائل - ۱- **دلیل**: دا دے چه د قص الشارب په باره کښې ګڼړ احادیث راغلي دي نودا دلیل دے چه داسنت عمل دے، نه احفاء (دویخ نه بریت وهل).
۲- **دلیل**: په حدیث دابوداود، ترمذي او طحاوي کښې دمغیره بن شعبةؓ حدیث دے چه دا د نبي ﷺ سره میلمه شوے وو نو هغه ورته اوفرمائیل چه بریت دِے غټ شویدي (اقصه لك علی

سواك) (زه ئے درلـه په مسواك سره لنډوم) نو په دے کښ لفظ دقص راغلے دے دارنګه په مسواك باندے د بریتو سرونه قطع کیږی نه دبیخ نه۔ ۳- **دلیل** : نبی ﷺ یو سړی اولیدو چه بریت ئے غټ وو نو وے فرمائیل چه ماته قینچی اومسواك راوړئ نو کله چه راوړل شو نو مسواك ئے ورله په طرف دشونډو کیخودو اود بریتو سرونه ئے ورله واخستل کما فی تحفة الاحوذی (۱۱/٤) بروایة عائشة اورده فی مسند البزار۔ ٤- **دلیل** : حدیث الطبرانی فی الکبیر (٤/١) راوړیدے په روایت د عامر : ان عمر ؓ کان اذا غضب شدیداً فتل شاربه ونفخ۔وسنده صحیح۔ومثله فی زاد المعاد عن مالك۔

٥- **دلیل** : شیخ البانی په آداب الزفاف ص (١٣٧) کښ دشرحبیل بن مسلم الخولانی حدیث راوړیدے دا فرمائی : رأیت خمسة من اصحاب رسول الله ﷺ یقصون شواربهم وفی روایة : یعمون ویعفون لحاهم ویصفرونها : امامة الباهلی، وعبد الله بن بسر، وعتبة بن عبد السلمی، والحجاج بن عامر الشمالی، والمقدام بن معدیکرب الکندی کانوا یقصون شواربهم مع طرف الشفة۔(یعنی دوی به بریت لنډول)

٦-**دلیل** : دا حدیث دے : خذ من شاربك ای بعضه، من تبعیضیه دے۔اودے علماؤ په نیز چه کوم الفاظ د نهك او احفاء او جز راغلی دی نو د هغے مطلب دادے چه اطراف دشونډو به پریکوی اودا مطلب نه دے چه دستے نه به ئے اخلی، لکه امام نووی په المجموع (٢٨٧/١) او په شرح دمسلم (١٢٩/١) کښ فرمائی : (واما حد ما یقصه فالمختار انه یقص فی مایبدو من طرف الشفة ولا یحف من اصله، واما روایات احفوا الشوارب فمعناها احفوا ماطال علی الشفتین) ۔(هرچه حد د پریکولو د بریتو دے نو غوره دا ده چه د شونډے د طرف نه به ویخته پریکوی او د بیخ نه به بریت نه اخلی او هر چه روایات د احفاء دی نو د هغے معنی دا ده چه د شونډو په طرفونو چه کوم ویخته اوګده شویدی نو هغه د بیخ نه واخلئ)

لیکن اصح دا ده چه دا دواړه طریقے جواز لری : دستے نه وهل او سرونه اخستل، اګرچه افضل قص دے یو خو ډیر روایات په کښ راغلی دی، بله دا چه شارب ته ځکه شارب وائی چه دا دانسان سره څکل کوی، په اوبو کښ لګیږی اوکله چه دے سرونه واخستل شی نو بیا تاسره څکل نه کوی۔

۲ – بلـه وجه داده چه په دے کښ داتباع السنة سره سره زینت او ډول هم حاصلیږی، اودا قول دامام طبریؒ هم دے چه دواړه طریقے جواز لری، احادیث مرفوعه په کښ وارد دی۔او علامه قرطبیؒ وئیلی دی چه د زوړ او ځوان فرق شته دے چه بوډا دپاره احفاء او ځوان دپاره قص دے (١٢٤/٣)

او هرچه **حلق الشارب** (بریت خرئیل) دی نو په دے باره کښ صرف یو روایت امام نسائی په السنن الکبری (٦٥/١) کښ راوړیدے سند ئے داسے دے : اخبرنا محمد بن عبد الله بن یزید المقرئ المکی قال حدثنا سفیان عن الزهری عن سعید بن المسیب عن ابی هریرة عن النبی ﷺ قال : الفطرة خمس : الختان، وحلق العانة، ونتف الابط، وتقلیم الاظفار، وحلق الشارب ۔لیکن حافظ ابن حجر په فتح الباری (٢٨٥/١٠) کښ دے روایت ته شاذ وئیلے دے وجه دا ده چه د زهری دریے شاګردان دی : ١- سفیان لکه په دے روایت کښ۔ ٢- معمر۔ ٣- یونس۔ نو سفیان خلاف کړیدے دمعمر او یونس نه چه دحلق

الشارب لفظ ئے ذکر کړیدے او معمر او یونس قص الشارب لفظ ذکر کوی لکه دغه روایات نسائی هم راوړیدی او شاذ د اقسامو دضعیف نه یو قسم دے نو دا روایت ضعیف شو۔ نو دبریتو خرئیل سنت طریقه نه ده، داوجه ده چه امام مالك حلق ته بدعت وائی لکه فتح الباری (١٠/٢٨٥) کښ دی: هذه بدعة ظهرت فی الناس۔ (دا یو بدعت دے چه په خلقو کښ راښکاره شویدے)۔

٤٣- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «اَخَذَ اللهُ الْمِيْثَاقَ مِنْ ظَهْرِ آدَمَ بِنَعْمَانَ - يَعْنِيْ عَرَفَةَ- فَاَخْرَجَ مِنْ صُلْبِهٖ كُلَّ ذُرِّيَّةٍ ذَرَأَهَا، فَنَثَرَهُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ كَالذَّرِّ، ثُمَّ كَلَّمَهُمْ قُبُلاً، قَالَ: ﴿اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى! شَهِدْنَا اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غَافِلِيْنَ اَوْ تَقُوْلُوْا اِنَّمَا اَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِنْ بَعْدِهِمْ اَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ﴾. رواهُ احمد.

ترجمه: او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: نبی علیه السلام فرمایلی دی: الله د آدم (علیه السلام) د شا نه په نعمان علاقه کښ - چه دا عرفات ته نزدے ځائے دے - لوظ واخستو نو د هغه د شا نه ئے ټول اولاد چه الله ئے د پیدا کولو اراده کړے وه را اوویستل، او د آدم مخے ته ئے خواره کړل لکه د سرو میږانو پشان. بیا ئے هغوی سره مخامخ خبرے اوکړے ورته ئے اوفرمایل: (آیا زه ستاسو رب نه یم. هغوی اوویئیل: ولے نه! مونږ گواهی کوو (ستا په ربوبیت باندے) (بیا الله اوفرمایل دا گواهی ما ستاسو نه پدے وجه واخسته چه) تاسو د قیامت په ورځ دا اونه وایئ چه مونږ ددے نه غافل (ناخبره) وو یا تاسو دا اونه وایئ چه زمونږ پلارانو زمونږ نه مخکښ شرك کړے وو او مونږ د هغوی اولاد وو (د هغوی تابعداری مو کړے وه) نو آیا ته مونږ د باطل پرستو په عمل هلاکوے)۔

تشریح: حدیث دلیل دے چه انسان په شرك کولو کښ معذور نه دے، قیامت کښ مشرك دا بهانه نشی کولے چه مونږ غافل وو او گمراهان خو زمونږ پلاران وو، پدے وجه الله مخکښ نه انسانانو نه دا لوظونه اخستي دی چه شرك به نه کوئ او نبی علیه السلام او قرآن کریم دا لوظ مونږ ته بار بار یاد کړیدے۔ بِنَعْمَانَ: نعمان په فتحه د نون عرفات ته نزدے ځائے دے ۔ یعنی عرفه نه مراد عرفات ته نزدے ځائے دے دا نعمان یوه وادی ده په لاره د طائف کښ چه عرفات ته وتلے ده۔ ذَرَأَهَا: یعنی چه الله پیدا کول۔ فَنَثَرَهُمْ: یعنی خواره ئے کړل۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح: اخرجه احمد فی المسند (١/٢٧٢)

٤٤- وَعَنْ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ فِيْ قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْ آدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ

ذُرِّیَّتَهُمْ﴾ قَالَ: جَمَعَهُمْ فَجَعَلَهُمْ اَزْوَاجًا ثُمَّ صَوَّرَهُمْ فَاسْتَنْطَقَهُمْ فَتَكَلَّمُوْا ثُمَّ اَخَذَ عَلَيْهِمُ الْعَهْدَ وَالْمِيْثَاقَ وَاَشْهَدَهُمْ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا: بَلٰى! قَالَ: فَاِنِّیْ اُشْهِدُ عَلَيْكُمُ السَّمٰوَاتِ السَّبْعَ وَالْاَرَضِيْنَ السَّبْعَ وَاُشْهِدُ عَلَيْكُمْ اَبَاكُمْ آدَمَ اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَمْ نَعْلَمْ بِهٰذَا اِعْلَمُوْا اَنَّهُ لَا اِلٰهَ غَيْرِیْ وَلَا رَبَّ غَيْرِیْ وَلَا تُشْرِكُوْا بِیْ شَيْئًا اِنِّیْ سَاُرْسِلُ اِلَيْكُمْ رُسُلِیْ يُذَكِّرُوْنَكُمْ عَهْدِیْ وَمِيْثَاقِیْ وَاُنْزِلُ عَلَيْكُمْ كُتُبِیْ قَالُوْا: شَهِدْنَا بِاَنَّكَ رَبُّنَا وَاِلٰهُنَا لَا رَبَّ لَنَا غَيْرُكَ وَلَا اِلٰهَ لَنَا غَيْرُكَ فَاَقَرُّوْا بِذٰلِكَ وَرُفِعَ عَلَيْهِمْ آدَمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ فَرَاٰى الْغَنِیَّ وَالْفَقِيْرَ وَحَسَنَ الصُّوْرَةِ وَدُوْنَ ذٰلِكَ فَقَالَ رَبِّ! لَوْلَا سَوَّيْتَ بَيْنَ عِبَادِكَ؟ قَالَ: اِنِّیْ اَحْبَبْتُ اَنْ اُشْكَرَ وَرَاَى الْاَنْبِيَاءَ فِيْهِمْ مِثْلَ السُّرُجِ عَلَيْهِمُ النُّوْرُ خُصُّوْا بِمِيْثَاقٍ آخَرَ فِی الرِّسَالَةِ وَالنُّبُوَّةِ وَهُوَ قَوْلُهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى:﴿ وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّيْنَ مِيْثَاقَهُمْ﴾ اِلٰى قَوْلِهِ ﴿ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ﴾ كَانَ فِیْ تِلْكَ الْاَرْوَاحِ فَاَرْسَلَهُ اِلٰى مَرْيَمَ عَلَيْهَا السَّلَامُ فَحُدِّثَ عَنْ اُبَیٍّ اَنَّهُ دَخَلَ مِنْ فِيْهَا. رواه احمد.

ترجمه : ابی بن کعب ﷺ نه ددے آیت : واذ اخذ ربك من بنی آدم من ظهورهم ذریتهم ترجمه : هرکله چه ستا رب دآدم داولاد دشاګانو نه دهغوئ اولاد راوښکلو، تفسیر کښې فرمائی چه الله دآدم علیه السلام اولاد راجمع کړل او هغوئ ئے قِسم قسم اوګرځول (یعنی څوك ئے مالدار او څوك ئے غریب کړلو) بیا هغوئ ته ئے شکل اوصورت ورکړو، بیا ئے ورته ګویائی ورکړه او هغوئ ورسره خبرے اوکړے ، بیائے هغوئ په خپل ځان ګواهان کړل اوتپوس ئے ترے اوکړو چه زه ستاسو رب نه یم؟، دآدم اولاد اووئیل : بیشکه (ته زمونږ رب ئے) الله تعالی اوفرمائیل : زه اوه آسمانونه او اوه زمکے ستاسو مخکښے ګواه جوړوم اوستاسو پلار آدم هم ګواه جوړوم، ځکه چه دقیامت په ورځ تاسو داسے اونه وائے چه مونږ دے نه خبر نه وو (داوخت) تاسو په ښه شان پوهه شئ چه نه خو مانه سیوا با څوك لائق دعبادت شته او نه مانه سیوا بل رب شته، خبردار ! څوك ما سره شریك نه کړئ، ره تاسو ته عنقریب خپل رسولان درلیږم چه تاسو ته زما لوظ او وعده رایاده کړی اوپه تاسو خپل کتابونه نازلوم (دے آوریدو سره) دآدم اولاد اووئیل : مونږ ددے خبرے ګواهی ورکوو چه ته زمونږ رب ئے اوته زمونږ معبود ئے تانه سیوا نه خو زمونږ څوك رب شته اونه تانه علاوه زمونږ څوك معبود شته، نودآدم علیه السلام تول اولاد ددے اقرار اوکړو اوآدم علیه السلام دهغوئ دپاسه پورته کړے شو چه هغه دوی ته ئے کتل۔ آدم علیه السلام اولیدل چه دهغه په اولاد کښې مالدار هم دے او غریب هم دے، ښائسته هم په کښے دی اوبد

صورته هم۔ دے سره هغه سمدستی عرض اوکړو، ربه خپل ټول بندګان تا یوشان ولے جوړ نه کړل؟۔ الله تعالی اوفرمائیل : زه دا خوښوم چه زما بندګان زما شکر ادا کوی بیا آدم علیه السلام انبیاء علیهم السلام اولیدل چه دډیوو (چراغونو) په شان روښانه وو، نُور د هغوئ دپاسه وو، هغوئ نه خصوصیت سره د رسالت او نبوت عهد وپیمان واخستے شو لکه چه دالله تعالی قول دے : واذ اخذنا من النبیین میثاقهم ومنك ومن نوح وابراهیم وموسی وعیسی بن مریم (قرآن مجید) ترجمه : او هرکله چه مونږ د انبیاء علیهم السلام نه دهغوئ لوظ واخستلو او ستا (محمد ﷺ) نه او نوح او ابراهیم او موسی او عیسی بن مریم (علیهم السلام) نه، دهغے روحونو مینځ کښ عیسی علیه السلام هم وو، دهغه روح الله تعالی دجبرئیل علیه السلام په ذریعه بی بی مریم ته اولیګلو، ابی بن کعب رضی الله عنه بیان کوی چه دا روح بی بی مریم ته دهغے دخلے دطرفنه دهغے جسم ته داخل کړے شو۔(احمد)۔

تشریح : فَاسْتَنْطَقَهُمْ : ای طلب منهم النطق۔ یعنی اول ئے پکښ عقل واچولو بیا ئے ترے خبرے کول طلب کړل۔ فَرَأَی الْغَنِیَّ وَالْفَقِیْرَ : سوال : په عالم ارواح کښ دمالدار او فقیر څه پته اولګیده، هلته مال څه کوی، لهذا دغنی او فقیر امتیاز ئے څنګه اوکړو؟ (جواب) دادے چه د (فجعلهم ازواجاً) لفظ نه معلومیږی چه الله ډلے ډلے جدا کړیدی دمالدارو ډله جدا، دفقیرانو ډله جدا۔ دارنګه دشکلونو نه هم معلومیږی په تازه ګئ او خړوالی سره، مالدار دخوش عیشئ په وجه تازه او غریب د محتاجئ په وجه خړ معلومیدلو۔

اِنِّیْ اَحْبَبْتُ اَنْ اُشْکَرَ : مطلب دا دے چه که ټول انسانان یوشان پیدا وے ټول مالدار وے یا ټول غریبان وے نو د الله شکر به نه کیدلے ځکه چه دا څیزونه به نعمت نه شمارلے کیدے مګر کله چه یو انسان مالداروی او بل غریب وی نو مالدار غریب ته ګوری او په ځان باندے د الله نعمتونه یادوی، دارنګه غریب چه مالدار ته اوګوری نو د الله بندګی شروع کړی چه الله ترے راضی شی۔

خُصُّوْا بِمِیْثَاقٍ آخَرَ : د انبیاء کرامو نه دوه قسمه لوظونه اخستے شویدی یو د ربوبیت او توحید اقرار او بل د دین دعوت او تبلیغ کول۔

درجة الحدیث : دا حدیث هم دامام احمدؒ ځوئے عبد الله په زوائد دمسند احمد کښ نقل کړیدے عن شیخه محمد بن یعقوب الربالی لیکن دا مستور راوی دے، رجال ئے رجال الصحیح دی کذا قال الهیثمی فی المجمع (۷/۲۵) لیکن د نور شواهدو د وجے نه صحیح دے اودا حدیث موقوف بمنزلة المرفوع دے ځکه داسے خبرے د خپلے رائے نه نه وئیلے کیږی۔

۴۵- وَعَنْ اَبِی الدَّرْدَاءِ قَالَ: بَیْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ نَتَذَاکَرُ مَا یَکُوْنُ اِذْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «اِذَا سَمِعْتُمْ بِجَبَلٍ زَالَ عَنْ مَکَانِهٖ فَصَدِّقُوْهُ وَاِذَا سَمِعْتُمْ بِرَجُلٍ تَغَیَّرَ عَنْ خُلُقِهٖ فَلَا

تُصَدِّقُوْا بِهٖ فَاِنَّهٗ یَصِیْرُ اِلٰی مَا جُبِلَ عَلَیْهِ».رواه احمد.

ترجمه : ابودرداء ﷺ فرمائی : مونږ رسول الله ﷺ سره ناست وو۔ آینده واقع کیدونکو کارونو باندې مو خبرې کولې، رسول الله ﷺ زمونږ خبرې اوریدو سره اوفرمائیل : هرکله چه تاسو واورئ چه یو غر دخپل ځائے نه اخوا شویدے نو هغه رښتیا اوګڼئ لیکن هرکله چه تاسو دا واورئ چه دیو سړی اخلاق بدل شوی دی نو ددے تصدیق مه کوئ ځکه چه انسان هغے ځیز طرفته ځی چه په هغے سره هغه پیدا شویدے (احمد)۔

تشریح : وَاِذَا سَمِعْتُمْ بِرَجُلٍ تَغَیَّرَ عَنْ خُلُقِهٖ : په دے حدیث کښې اشکال دے هغه دا چه دے نه معلومیږی چه انسان خپل خوئی (اخلاق) نشی بدلولے سره ددے نه چه مونږ کوشش کوو ددے دپاره چه زمونږ اخلاق بدل شی، او نبی ﷺ هم فرمائیلی دی (انا زعیم بالجنة لمن حسن خلقه) رواه ابوداود فی السنة (۲/۳۱۳) کما فی المشکاة (۲/) ددے نه معلومیږی چه انسان اخلاق ښه کولے شی۔

جواب : ۱- بعض علماؤ لنډ جواب کړیدے چه داحدیث ضعیف دے نورو جوابا تو ته ضرورت نشته۔ امام احمدؒ نقل کړیدے په روایت دز هری دابودرداء نه اود زهری او ابو درداؓ ترمینځ انقطاع ده، د زهری د ابودرداء سره ملاقات نه دے شوے نو حدیث منقطع شو۔ ۲- **جواب** : که حدیث ثابت شی نو بیا توجیه دا ده چه اخلاق په دوه قسمه دی : ۱- جبلی۔ ۲- عادی، نو جبلی اخلاق (یعنی کوم خوئی خصلت باندے چه انسان پیدا دے) هغه نه بدلیږی۔ او عادی اخلاق کوم چه د انسان عادت ګرځیدلے وی د بد ماحول په وجه نودا قسم اخلاق بدلیدلے شی او په حدیث کښې اخلاق جبلیه مراد دی چه دا نه بدلیږی، فلا اشکال۔

۳- **جواب** : اخلاق په دوه قسمه دی : ۱- یو بد خوئی دستے نه ارتول۔ ۲- او بل دهغے فروع او څانګے او اجزاء بدلول دی۔ اود امعلومیږی ددے لفظ نه چه (فانه یصیر الی ما جبل علیه)۔ چه مثلاً یو انسان به دا کوشش کوی چه بد عمل به نه کوی ترلسو ورځو پورے نودلته بد خوئی بدل شو په دے معنی باندے چه فروع او څانګے اواجزاء ترینه کم شو آخر یو ورځ به ترینه بیا اوشی نو هغه بدخوئی ته واپس شو په کوم باندے چه پیدا وو۔ نو کوم احادیثو کښې چه ترغیب راغلے دے بدلولو دبدلو اخلاقو ته نو هغے نه مراد دادے چه ځانله کوشش کوه که درنه اوشی یو ورځ نو ګناهګار به شے خو بیا به زر توبه اوباسے نو بیا به دے الله معاف کړی۔ اطباء وائی : العادات طبیعة ثانیة۔ (عادت د انسان طبیعت ثانی وی)

٤- **جواب** : تقدیر په دوه قسمه دے یو تقدیر مبرم دے۔ ۲- بل تقدیر معلق دے، نو په تقدیر مبرم کښې تغیر او تبدیل نه راځی او هرچه تقدیر معلق دے نو که انسان اخلاق حسنه په ځان کښې پیدا کول غواړی نو په ده کښې پیدا کیدے شی، اوبد اخلاق بدلیږی ځکه چه الله داسے لیکلی دی که انسان کوشش اوکړی چه بد اخلاق بدل کړی نو بدل به شی اوکه کوشش اونکړی نو نه بدلیږی اومونږ چه کوشش کوو دبدلولو دبد اخلاقو نو هغه په نسبت ددے تقدیر

سره او په حدیث کښ خبره دتقدیر مبرم ده۔ ٤ – جواب : دلته دوه څیزونه دی یو ازاله ده او بل اماله۔ ازاله بالکلیه ممکن نه ده، او اماله دیته وائی چه شجاعت، صبر په صحیح ځائے کښ استعمالول اود بد ځائے نه جدا کول۔

٤٦ – وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! لَايَزَالُ يُصِيْبُكَ فِيْ كُلِّ عَامٍ وَجَعٌ مِنَ الشَّاةِ الْمَسْمُوْمَةِ الَّتِيْ اَكَلْتَ. قَالَ: مَااَصَابَنِيْ شَيْئٌ مِنْهَا اِلَّا وَهُوَ مَكْتُوْبٌ عَلَيَّ وَآدَمُ فِيْ طِيْنَتِهٖ. رواه ابن ماجه۔

ترجمه : ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دے چه هغے رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو، چه تاسو دکوم زهرجنے چیلئ غوښه خوړلے وه (چه خیبر کښ یو یے یهودنړے پرے خوړولے وه) هرکال تاسو ته دهغے په وجه تکلیف کیږی، نبی ﷺ اوفرمائیل : کوم څیز (تکلیف یا بیماری) چه ماته رسی هغه مادپاره هغه وخت لیکلے شوے ووکله چه آدم خاوره کښ دننه وو (یعنی زما تقدیر کښے دغسے لیکلے وو)۔(ابن ماجه)۔

تعارف دام سلمه رضی الله عنها : ددے نوم هند بنت ابی امیه دے کله چه ددے خاوند ابو سلمه مړ شو نو په څلورم کال نبی ﷺ ددے خِطبه (غوښتنه) اوکړه اونکاح ئے ورسره اوکړه، کله ئے چه نکاح کوله نو دے عرض اوکړو چه ماله غیرت راځی نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : زه به الله نه دعا اوغوارم چه الله تانه دا غیرت لرے کړی۔ په سنه (٦٢ هـ) کښ د (٨٤) کالو په عمر باندے وفات شوه او په بقیع کښ دفن شوه۔ اودا د تولو بیبیانو نه روسته وفات شویده په مدینه کښ۔ ددے نه تول (۳۷۸) حدیثونه نقل دی۔ رضی الله تعالی عنها۔

تشریح : الشَّاةِ الْمَسْمُوْمَةِ : یوروایت کښ دی چه نبی ﷺ هغه ښځه معاف کړه کومے چه پرے د زهرجنے چیلئ غوښه خوړلے وه۔ بل روایت کښ دی چه قتل ئے کړه، کما فی ابی داود۔ نو ددے تطبیق دادے چه نبی ﷺ اوله کښ معاف کړه، بیا چه بشر بن البراء بن معرور رضی الله عنه دهغے په ورکړو زهرو باندے شهید شو۔ نو قصاص ئے ترینه واخستو (الرحیق المختوم ص (۳۷٦)۔

وَآدَمُ فِيْ طِيْنَتِهٖ : یعنی آدم علیه السلام لا پیدا شوے هم نه وو۔ اودا کنایه دمخکښ والی د تقدیر ازلی نه۔ او په دے کښ تعیین دابتداء ددغه زمانے نشته ځکه تقدیر خو دآدم دپیدائش نه ډیر زیات مخکښ شویدے۔ خو د انسانانو په نسبت آدم د تولو نه مخکښ تیر شویدے په دے وجه ئے آدم ذکر کړو۔

درجة الحدیث : رواه ابن ماجه باسناد ضعیف فیه ابو بکر العنسی وهو ضعیف۔ البته معنی ئے دنورو حدیثونو نه ثابته ده۔ په صحیح بخاری کښ راځی نبی ﷺ اوفرمائیل: (وهذا اَوَانُ انقطاع اَبْهَرِیْ من ذلك السَّمِّ الذی اکلته بخیبر) (۲/) فی آخر المغازی۔ فتح الباری (۱۰/٤۰۰) والمشکوة باب وفاة النبی ﷺ۔

باب اثبات عذاب القبر

د عذاب قبر د اثبات بيان

مناسبت ددے باب دما قبل سره دادے چه عذاب القبر باندے ايمان لرل دواجباتو نه دی۔
دارنگه تقدير او د قبر حالات دمغيباتو نه دی۔ بيا عذاب القبر عنوان ئے ذکر کرو نه دنعيم القبر، سره ددے نه چه قبر کښ نعمتونه هم شته۔وجه داده چه قبر کښ عذاب ډير دے اونعمتونه قليل دی ځکه عذاب دکافرو اوګنا هګارو دپاره دے اودا ډير دی، او نعيم صرف دمؤمنانو دپاره دی، اودا قليل دی، نو دوجے دکثرت نه ئے عنوان دعذاب القبر ذکر کړو، او يو نوع ترهيب هم مراد دے چه اے خلقو ! قبر له تيارے پکار دے۔
۲ - دارنگه په هر مؤمن باندے وحشة القبر راځی اودا هم يو نوع عذاب دے۔نو عذاب القبر په هر شخص باندے شته دے ځکه په مؤمن باندے هم هيبت دملائکو او وحشت دقبر راځی اګرچه نعمتونه هم ورله شته، او وحشت ته هم عذاب وئيل کيږی۔ داوجه ده چه کله سعد بن معاذؓ وفات شو نبی ﷺ اوفرمائيل : (لونجا احد من عذاب القبر لنجا هذا) يعنی که څوك دعذاب قبر نه خلاصيدلے نو دابه خلاص شوے وے۔دارنگه ابو هريرةؓ په يو ماشوم جنازه اوکړله اودا دعاء ئے په کښ اوکړه : اللهم اعذه من عذاب القبر (المشكوة: ۱/۱٤۷)۔
۳ - دريمه وجه دا ده چه نعيم مشاكلةً او مقايسةً حذف شويدے اكتفاء داحد الضدين شويده په آخر سره، كما هو شائع في المحاورات، لکه پدے آيت کښ وئيلے شويدی : (سرابيل تقيكم الحر) اى والبرد)۔

۱ - **قاعده** : بيا عالم په درے قسمه دے : ۱- عالم الدنيا۔ ۲- عالم البرزخ۔ ۳- عالم الآخرة۔ دقبر نه مراد دلته عالم البرزخ دے۔په عالم الدنيا کښ بدن اصل دے او روح تابع دے په تکليف او نعمت کښ، په دے وجه په روح باندے احکام هم ندی مرتب۔او عالم البرزخ کښ روح اصل دے او بدن تابع دے، اوبرزخ ددنيا اود آخرت ترمينځه يوه پرده ده چه ددواړو سره ئے تعلق دے۔او عالم الآخرة دقيامت نه بعد شروع کيږی، او په بدن اوروح دواړو باندے عذاب او نعمتونه دواړه يو شان دی، لکه قرآن کريم کښ سوره حم السجده : (۳۱) کښ دی ﴿ ولكم فيها تشتهى انفسكم ولكم فيها ما تدعون ﴾ نو انفسكم بدن بشو، او ماتدعون روح شو۔
۲ - **قاعده** : عذاب القبر دايمان بالغيب سره تعلق لری، الله او رسول مونږ ته وئيلی دی چه په دے قبر کښ انسان دپاره عذاب هم شته او نعمتونه هم شته نو مؤمنان به دامنی، چون وچرا به نه کوی۔ پدے کښ شك کول يا انکار کول ځان هلاکول او عقيده خرابول دی۔

مسئله : عذاب قبر ثابت دے که نه ؟

۱- نو خوارج او بعض معتزله او ملاحده او زنادقه وائی چه عذابِ قبر مطلقاً نشته، دوئ سره په دے انکار باندے هیڅ دلیل نشته، سیوا داتباع الحِس نه، هغه دا چه دوئ وایو مونږ قبر اوکتلو، هیڅوك مونږ اونه لیدل چه په هغه عذاب وی او نعریے وهی، دارنګه وائی چه ډیر انسانان په دے قبر کښ نه ښخیږی بلکه دریاب کښ غرق شی یا په اُور اوسوزی یا ئے مرغان لیوان اوخوری نو ددوئ دپاره قبر ته داخلیدل را نغلل نو دقبر عذاب دکوم ځائے نه راغے ؟ دارنګه دوئ وائی چه قرآن کریم کښ عذابِ قبر نه دے راغلے، او احادیث خو دوئ اخبار آحاد ګنړی ظنی او ګمانی شے ورته ښکاری بلکه ګپ شپ ورته ښکاری۔

۲- ددوئ په خلاف دټولو مسلمانانو دا عقیده ده چه عذاب القبر ثابت دے، په دے وجه مصنف هم (باب اثبات عذاب القبر) عنوان کیخودو چه رد راشی په خوارجو وغیره باندے۔
علامه ابن ابی العزؒ په شرح د العقیدة الطحاویه ص (۳۱۹) کښ فرمائی :

(وقد تواترت الاخبار عن رسول الله ﷺ فی ثبوت عذاب القبر ونعیمه لمن کان اهلاً لذلك، وسؤال الملکین فیجب اعتقاد ثبوت ذلك والایمان به ولا تتکلم فی کیفیته اذ لیس للعقل وقوف علی کیفیته لکونه لا عهد له به فی هذه الدار والشرع لا یاتی بما تحیله العقول، ولکنه قد یاتی بما تحار فیه العقول الخ۔ وانظر شرح مسلم للنووی (۳۸۵/۲)۔ (د رسول الله ﷺ نه د عذاب قبر او نعمتونو د قبر په باره کښ احادیث متواتر راغلی دی د هغه چا دپاره چه اهل وی د دغه عذابونو او نعمتونو او د ملائکو سوال نو ددے په ثبوت باندے عقیده او ایمان لرل واجب دی او مونږ ددے په کیفیت کښ خبرے نشو کولے ځکه چه عقل ددے په کیفیت خبر نه دے ځکه چه پدے دنیا کښ د هغے څه معلومات نشی کیدے او شریعت هغه خبره نه بیانوی چه عقل ئے محال (ناممکن) ګنړی، اګرکه داسے کارونه راوړی چه عقلونه پکښ حیرانیږی الخ)۔

او د عذاب قبر په اثبات باندے ډیر دلائل دی :

۱- **اول دلیل :** قرآن کریم کښ څوارلس آیتونه داسے دی چه هغے نه عذابِ قبر ثابتیږی :

۱- صریح آیت په سوره مؤمن (٤٦) کښ دے دفرعونیانو په باره کښ الله تعالی فرمائی : ﴿ اَلنَّارُ یُعْرَضُوْنَ عَلَیْهَا غُدُوًّا وَّ عَشِیًّا﴾ ای فی القبر ۔ وجه دا ده چه روسته عذاب الآخرة ذکر کوی فرمائی : ﴿ویوم تقوم الساعة ادخلوا آل فرعون اشد العذاب﴾ **۲- آیت** : سوره انعام (۹۳) کښ دی ﴿ الیوم تجزون عذاب الهون بما کنتم تقولون علی الله غیر الحق ﴾ الآیه۔ د یوم نه مراد په عالم البرزخ کښ عذاب القبر دے۔ **۳- آیت** : سورة الطور (٤٧) کښ دی ﴿ وان للذین ظلموا عذابا دون ذلك﴾ ای فی البرزخ والقبر ۔ **٤- آیت** : سورة التوبه (۱۰۱) کښ دی : ﴿ سنعذبهم مرتین ثم یردون الی عذاب عظیم﴾ مرتین ای فی الدنیا وفی القبر۔ **٥- آیت** : ﴿یثبت الله الذین آمنوا بالقول الثابت فی الحیاة الدنیا وفی الآخرة ﴾۔(ابراهیم : ۲۷) ای فی القبر ۔د فی الآخرة نه مراد په قبر کښ دے۔لکه په اول

حديث کښې به راشي۔

۲ – **دویم دلیل** : بې شماره صحیح مرفوع احادیث دي چه حکیمي په معارج القبول (۱۰۲/۱) کښې او علامه سیوطيؒ په شرح الصدور فی احوال الموتی و اهل القبور کښې ذکر کړيدي۔ دلته هم راروان دي۔

د عذاب قبر دمنکرینو د شبهاتو جوابونه

او هرچه دا شبه دمنکرینو ده چه دوئ وائي مونږ عذابِ قبر نه دے لیدلے یا څوك غرق شي یا په اور اوسوزی یائے مرغان لیوان اوخوری نو هغه لره خو قبر نشته نو عذاب قبر دکومه شو۔ نودے اشکال :

۱ – **جواب** دا دے : چه مخکښې تیر شو چه دبرزخ معامله ددنیا دمعاملے نه جدا ده، چه په برزخ کښې روح اصل دے دیته اولاً عذاب ورکولے شي، اوبدن دهغے تابع دے لکه دنیا کښې ابتداءً عذاب بدن ته ورکولے شي دهغے نه پس سرایت کوي روح ته، او په برزخ کښې ابتداءً عذاب روح ته ورکولے شي دهغے نه بیا سرایت کوي بدن ته۔

ددے مثال دا دے : چه یونائم (اوده) شخص په خوب کښې ورته عذاب ورکولے کیږي یا نعمتونه ورکولے شي، دا عذاب او نعمت اولاً په روح جاري کیږي بدن دهغے تابع وي، کله کله داسے اوشي چه هغه عذاب او نعمت قوی وي نو دهغے آثار په بدن هم راښکاره شي، لکه ته خوب کښې اووینے چه تا څوك وهي نو چغه دے دخولے نه اووځي، نو اصل کښې هرڅه په روح تیر شو لیکن اثرئے په بدن هم ښکاره شو۔ دارنګه دده خواته ډیر خلق ناست وي اودا مُعَذَّب او مُنَعَّم وي، او خلق دده په دے عذاب او نعمت باندے نه پوهیږي، چه آیا ده ته خوب کښې عذاب ملاویږي اوکه راحت۔ دغه شان عذاب قبر او نعمتونه هم دي چه دنیا کښې انسانان هغه نشي معلومولے، لکه حدیث کښې دي (یسمعه کل شئ الا الانسان– وسیاتی) (صرف انسان دعذاب قبر په حال نه پوهیږي چه مړے نعرے سورے وهي، اودائے نه اوري باقي ټول حیوانات ئے اوري)۔

۲– **بل مثال** : نبی ﷺ ته به جبرئیل علیه السلام وحی راوړله په هغه به ډیر تکلیف وو، صحابهؓ به ورسره خوا کښې ناست وو، لیکن هغوی به په دے نه پوهیدل۔

۳ – یا یو شخص فکر کوي په یوه خوشحالئ کښې اودهغے نه لذت حاصلوي، اوته ورسره خواته ناست ئے اونه پوهیږے۔ ٤– دغه شان قرآن کښې دي چه ملائك کافرانو روح دکافرانو اخلي نو هغه وهي او چغے اوباسي او مونږ ورسره خواکښې ناست یو هغه نه اورو۔ ﴿ ولو تری اذ یتوفی الذین کفروا الملائکة یضربون وجوههم وادبارهم ﴾ (انفال : ۵۰) ۔ دارنګه قبرصرف دا معنی نه ده چه په دے کنده دخاورو کښې مړے خخ شي بلکه قبر په نیز دعامو مسلمانانو باندے عبارت دے ددے نه : (انقطاع الحیوة الدنیویة واستقرار البدن فی مکان من الامکنة من الارض) ۔(د دنیوی ژوند ختمیدل او د بدن په یو مکان د زمکه کښې قرارے نیول) لکه دا تعریف صاحب المرعاة

(۲۱۷/۱) ذکر کړیدے، اودلیل دے په دے باندے قرآن دے ﴿الم نجعل الارض کفاتاً، احیاءً و امواتاً﴾ (المرسلات : ۲۵)۔یعنی زمکه د مړو او ژوندو راجمع کونکے ده۔ نوکه انسان اوبو کښں مړ شی یا په غره کښں وی، یا په اور باندے اوسوزی زره زره شی، یا ئے لیوان مارغان اوخوری نو داټول په قبر کښں دی۔ اگرچه په کنده دخاورو کښں ښخ نه وی، **البته** : په عرف کښں قبر کندے ته وائی۔ نودا سوال نه پیدا کیږی چه غریق دپاره قبر نشته نو عذاب به هم نه وی۔کله کله انسان دغلط فهمئ په وجه دیو نص او حکم شرعی نه منکر شی، نو په دے وجه تدبر ته ضرورت دے اورجوع علماؤ ته پکار ده دپاره دفهم۔ دارنگه الله قادر دے چه دے زره زره شوی اجزاء د انسان ته عذاب ورکړی، اگرچه هرځائے کښں وی، اودا د ایمان سره تعلق لری، کما مر۔

بیا په کیفیت دعذاب کښں داهل السنة والجماعة **درے قوله دی** لکه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په فتاوی کښں ذکر کړیدی : ۱- یو قول دادے چه صرف بدن له عذاب دے، لیکن ددے قول قائلینو دپاره هیڅ دلیل نشته۔بلکه داحادیثو خلاف دے۔حدیث کښں دی (ان نسمة المؤمن طیر تعلق من الجنة) نسائی، مشکاة (۱۴۳/۱) ۔یعنی روح دمؤمن لره هم راحت هم وی۔اوکوم احادیثو کښں چه دقبر ذکر دے نود هغے نه مراد برزخ دے لکه حدیث البخاری (۱۷۲/۱)کښں دی : (انهم یکون علیها وانها لتعذب فی قبرها) دا زنانه خو لاپه جنازه کښں وه نو مراد دقبر نه برزخ دے۔

۲- **دویم قول** دا دے چه صرف روح له عذاب دے۔ددے قائلینو سره دلیل احادیث دی چه په هغے کښں نسبت دعذاب او نعمت روح ته شویدے لکه حدیث النسائی (ان نسمة المؤمن الخ) المشکاة (۱۴۳/۱)۔بله وجه داده چه ډیر مړی نه ښخیږی یابدن زره زره شی یا ئے حیوان اوخوری نو عذاب څنگه ورکړے شی؟۔

۳- **دریم قول** قول دا دے : وهو الراجح : چه روح او جسد دواړو ته عذاب او نعمت ورکولے شی۔ د روح په باره کښں خو صریحی احادیث دی، کما فی الموطا والنسائی (وان نسمة المؤمن طیر تعلق فی شجر الجنة (المشکاة : ۱۴۳/۱) ونحوه فی الصحیحة رقم (۹۹۵) دارنگه عام احادیثو کښں نسبت دعذاب دے قبرته شویدے لکه (ان هذه القبور مملوء ظلمةً) (دا قبرونه د تیارونه ډك دی) درانگه نبی ﷺ قبرونو خواکښں تیریدلو او قچر اوخوزیدله۔ دارنگه (لولا ان تدفنوا) روایت نه معلومیږی کوم چه روستو راروان دے۔عام احادیث اوگوره په هغے کښں دے قبر ته نسبت شویدے۔ او قبر چه مطلق ذکر شی مراد ترینه دا کنده وی که ته وائے بل ځائے مراد دے نو بیا قرینه صارفه (دلیل صارف) راوړه اودلیل یقینی راوړه۔فائده : ابن القیمؒ په القصیدة النونیه کښں ذکر کړیدی چه روح دعام مؤمن نه مارغه جوړیږی او هغه په باغیچو دجنت کښں څریږی۔اود شهید روح دشنو مارغانو په جڅورو کښں داخلیږی اوجنت کښں چکرے وهی وجه داده چه دشهید مرتبه اوچته ده نو دا دوه خوندونه حاصلوی یو دجسد اودویم دروح ۔

بذلوا الجسوم لربهم فاعاضهم ✽ اجسام تلك الطير بالاحسان

(دے شهیدانو د خپل رب دپاره بدنونه اولګول نو الله دوی ته د خپل احسان په وجه د دغه مارغانو بدنونه په بدله کښې ورکړل)۔

او عام مؤمن ته صرف یو خوند حاصلیږی چه دروح نه ئے مارغه جوړیږی۔ اود عذاب او نعمت دجسد په باره کښې دلائل دادی : ۱- احادیثو کښې لفظ دقبر راغلے دے او په عرف کښې قبر نه مراد دغه کنده دخاورو ده۔ ولے که دا مراد نشي نو په نبی ﷺ باندے فرض ده چه دهغے بیان اوکړی، نو دا دلیل دے چه بدن ته هم عذاب ورکولے شی۔ اود (انها لتعذب فی قبرها) نه جواب دادے چه تعذب مضارع ده په معنی دمستقبل سره یعنی آینده کښې به ورته عذاب ملاویږی، بدن ته چه کله قبرته لاړه شی۔

۲- جواب : مخکښې تیر شویدے چه قبر صرف دے معلومے کندے ته نه وائی بلکه انقطاع الحیوة الدنیا واستقرار البدن فی مکان من الامکنة) ته وائی۔ نودے بدن ته په همدغه حالت کښې هم عذاب ملاویږی، لکه څنګه چه روح ته ملاویږی اودلیل په دے باندے دا آیت دے ﴿ ولو ترىٰ اذ یتوفی الذین کفروا الملائکة یضربون وجوههم وادبارهم﴾ (الانفال ۵۰) ۔نو دلته بدن لره ملائك وهل ټکول ورکوی لیکن مونږ ته ددے پته نه لګیږی۔ ۲ - بل دلیل : حدیث دے (القبر روضة من ریاض الجنة او حفرة من حفر النار) قال الالبانی فی ضعیف الترمذی ص (۲۸۰) : اسناد الحدیث ضعیف جداً۔انظر الضعیفة (۴۹۹۵) ۔نو دلته هذا کښې اشاره شویده دے کندے ته اوپه دے کنده کښې خو بدن وی نوبدن لره هم عذاب شته لکه څنګه چه روح له شته۔

۳- دلیل : حدیث دمشکاة (۱/۱۴۵) کتاب الجنائز کښې راځی چه دمسجد نبوی یوه خادمه مړه شوه (یا خادم) کله چه دفن شوه نبی ﷺ روستو خبر شو نو وے فرمائیل : (دلونی علی قبرها، (قبره) ثم قال : ان هذه القبور مملوءة ظلمةً علی اهلها) مسلم، ابوداود (۳۲۰۳) احمد (۲/۲۸۸) ۔ نودلته په هذه کښې دے کندے ته اشاره شویده۔ ۴- دلیل : حدیث فصل ثانی کښې راځی : (فیقال للارض التئمی) نو زمکه چه جوختیږی نو دا په جسد باندے جوختیږی۔

بیا جسد لره په کومه طریقه عذاب دے ! نو په دے کښې درے اقوال دی :

۱- یو قول دا دے چه دروح دبدن سره یو کنکشن او تعلق وی کله چه روح لره عذاب ورکول کیږی نو بدن باندے هم وی۔ لکه د ټیلفون تار پشان لکه ریموټ کنټرول پشان تعلق لری۔ وکذا فی شرح العقیده الطحاویه ص (۳۹۹) اودا قول صاحب دروح المعانی علامه آلوسی غوره کړیدے۔ ۲- **شیخ الاسلام ابن تیمیه**ؒ فرمائی : بدن ته کله کله راځی۔

۳ - **دریم قول** دا دے چه روح لره جدا عذاب دے او بدن له جدا عذاب دے اونبی ﷺ صرف په اول کرت فرمائیلی دی چه روح راواپس کیږی۔ دوباره دروح واپس کیدو باره کښې حدیث نشته۔

تنبیه : د قبر عذاب او نعمت په باره کښې دوه قسمه کسان خبرې کولې شي : ۱- یو هغه کس چه مشاهده ئې کړې وي په خپله پرې تیر شوی وي، او بیا دنیا ته راغلې وي، اودا قسم څوک نشته۔
۲ - دویم هغه کس چه الله او رسول ورته خبر ورکړې وي چه عذاب دقبر او نعمت دقبر شته دې، نو مونږ له الله او رسول ﷺ خبر راکړیدې چه عذاب قبر او نعمت دقبر شته دې، ایمان پرې اولرئ نود انکار هیڅ گنجائش نه دې پاتې۔دا مسئله صرف دنظریاتو او عقلیاتو نه ده بلکه بعض جاهلان خلق په دې مسئله کښې گمراه شویدي او څوك چه دعذاب قبر قائل دی هغوی ته دکفر نسبت کوي۔حال دا چه دې کښې دکفر څه خبره ده !!

الفصل الاول

۱- عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «اَلْمُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ فِي الْقَبْرِ يَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ. وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ فَذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى : ﴿يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾ » وَفِيْ رِوَايَةٍ : عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: ﴿يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ﴾ نَزَلَتْ فِيْ عَذَابِ الْقَبْرِ يُقَالُ لَهُ مَنْ رَبُّكَ فَيَقُوْلُ: رَبِّيَ اللهُ وَنَبِيِّيْ مُحَمَّدٌ ﷺ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

ترجمه : براء بن عازب ﷺ نه روایت دې چه نبي ﷺ اوفرمائیل : هرکله چه قبر کښې مسلمان نه تپوس کیږي نو هغه گواهي ورکوي چه الله تعالی نه سیوا بل هیڅوك لائق دعبادت نشته اوبیشکه محمد (ﷺ) دالله رسول دې اودا مطلب دې ددې قول دالله تعالی : یثبت الله الذین آمنوا بالقول الثابت في الحیوة الدنیا وفي الآخرة (ترجمه) الله تعالی هغه خلق چه ایمان ئې راوړې ددنیا ژوند او آخرت کښې مضبوط اومحکم طریقې سره ثابت او قائم لري) او یو روایت کښې دي، نبي ﷺ اوفرمائیل : دا آیت : یثبت الله الذین آمنوا بالقول الثابت دعذاب قبر بیان کښې نازل شویدې (قبر کښې) دمړي نه تپوس کیږي چه ستا رب څوك دې هغه وائي زما رب الله دې او زما نبي محمد ﷺ دې۔ (بخاري اومسلم)۔

تعارف د براء بن عازب ﷺ : انصاري صحابي دې کنیه ئې ابو عماره المدني دې کوفه کښې اوسیدلو۔ د بدر په غزوه کښې وروکې وو نو بیا احد ته حاضر شویدې۔د نبي ﷺ سره پنځلس غزاگانو کښې شریك شویدې اود علي ﷺ سره جنگ جمل اوصفین ته حاضر شویدې۔کوفه کښې په سنه (۳۲ هـ) کښې وفات شویدې۔(۳۰۵) احادیث ترینه نقل دي۔

تشریح : **فائده عجیبه** : عام احادیثو کښې درې تپوسونه راځي : ۱-من ربك۔ ۲- مادینك۔ ۳- من نبيك۔په دې کښې دانشته چه دکوم امام په مذهب باندې وې۔صرف یو حدیث کښې راځي چه په مسند الفردوس کښې دیلمي راوړیدې کما في شرح الصدور ص (۴۹) چه قبر کښې

بـه دا تپوس هم وی (من امامك ؟) خو روستـه ورسره دا تفسیر راغلے دے چه (الامام هو القرآن)(یعنی ستا پیشوا (قرآن) کوم وو اود مذاهبو امامان نه دی مراد، نو دمذهب داامامانو په باره کښې به تپوس نه کیږی۔ ځکه دا خو څه الله مقرر کړی نه دی بلکه په څلورمه صدئ کښې خلقو جوړ کړیدی۔ لکه امام الشاه ولی الله الد هلوی په حجة الله البالغه (۱/ ۱۵۲) باب حکایة حال الناس قبل امائة الرابعة وبعد ها کښې لیکلی دی۔

یَشْهَدُ : **سوال** : احادیثو کښې درے تپوسونه راځی (من ربك، ما دینك، من نبیك) دلته صرف یو تپوس ولے راغلو ؟ **جواب** : دادے چه دا روایت بالمعنی دے، تول تپوسونه مراد دی ځکه چه یشهد ان لا اله الا الله نه مراد مکمل دین دے۔ یعنی لا اله الا الله دا مے دین دے او رب مے الله دے او محمد ﷺ مے رسول دے۔ ۲- **جواب** : دا تعدد په اعتبار داشخاصو د۔ د بعض اشخاصو نه یو قسم تپوس وی، اود بعضو نه بل قسم تپوس وی۔ ۳- یا دبعضِ خلقو نه تول تپوسونه کیږی اود بعضو نه دبعضو عقیدو په باره کښې تپوس کیږی کما فی شرح الصدور ص (۵۹)

یُثَبِّتُ اللّٰہُ الَّذِیْنَ آمَنُوْا : ۱- د ایمان یوه عظیمه فائده دا ده چه انسان په دنیا کښې د مصیبتونو اود وساوسو په مقابله کښې مضبوط طیږی۔ وَفِی الْآخِرَةِ : نه مراد قبر دے بنص هذا الحدیث، نو عذاب قبر دقرآن نه ثابت شو۔ نبی الاسلام ﷺ ئے تفسیر اوکړو۔

۲- وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ:«اِنَّ الْعَبْدَ اِذَا وُضِعَ فِیْ قَبْرِہٖ وَتَوَلّٰی عَنْهُ اَصْحَابُهٗ اِنَّهٗ لَیَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ اَتَاهُ مَلَكَانِ فَیُقْعِدَانِهٖ فَیَقُوْلَانِ: مَاكُنْتَ تَقُوْلُ فِیْ هٰذَا الرَّجُلِ لِمُحَمَّدٍ ﷺ: فَاَمَّا الْمُؤْمِنُ فَیَقُوْلُ اَشْهَدُ اَنَّهٗ عَبْدُ اللّٰہِ وَرَسُوْلُهٗ فَیُقَالُ لَهٗ اُنْظُرْ اِلٰی مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ قَدْ اَبْدَلَكَ اللّٰہُ بِهٖ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ فَیَرَاهُمَا جَمِیْعًا وَاَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَیُقَالُ لَهٗ: مَاكُنْتَ تَقُوْلُ فِیْ هٰذَا الرَّجُلِ فَیَقُوْلُ: لَا اَدْرِیْ، كُنْتُ اَقُوْلُ مَا یَقُوْلُ النَّاسُ فَیُقَالُ لَهٗ: لَا دَرَیْتَ وَلَا تَلَیْتَ وَیُضْرَبُ بِمَطَارِقَ مِنْ حَدِیْدٍ ضَرْبَةً فَیَصِیْحُ صَیْحَةً یَسْمَعُهَا مَنْ یَلِیْهِ غَیْرَ الثَّقَلَیْنِ». مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ وَلَفْظُهٗ لِلْبُخَارِیِّ.

ترجمه : انس ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : هرکله چه بنده قبر کښې کیښودلے شی اوعزیزان دوستان ترے واپس ځی نو هغه مړے دهغوئ دپیزار آواز آوری او هغه ته (قبر کښې) دوه ملائك راځی هغه کینوی اوتپوس ترے کوی چه تابه ددے سړی محمد ﷺ باره کښې څه وئیل؟۔ ددے جواب کښې مؤمن بنده وائی : زه ددے خبرے گواهی ورکوم چه دے (محمد ﷺ) بیشکه د الله بنده اود هغه رسول دے بیا هغے بنده ته وئیلے شی ته خپله تیکاونړه

دوزخ کښې اووینه چه الله بدله کړے ده او دهغے په بدله کښې ئے تاته جنت کښې ځائے درکړیدے نو هغه بنده دواړه ځایونه (جنت اودوزخ) اووینی، اوکوم مړے چه منافق یاکافر وی هغه نه هم داتپوس کیږی چه ددے سړی (محمد ﷺ) باره کښې به تاڅه وئیل۔ هغه ددے جواب کښې وائی : زه هیڅ نه پوهیږم څه چه به نورو خلقو وئیل هغه به ما هم وئیل، نو هغه ته وئیلے شی، نه تا عقل سره پیژندلے، او نه تا قرآن لوستے دے۔دے آوریدو سره هغه د اوسپنے په ګُرزونو وهلے شی اود هغه دچغو سورو آواز سیوا دپیریانو او انسانانو نه نزدے تول ځیزونه آوری۔(بخاری، مسلم) او الفاظ د بخاری دی۔

تشریح : اِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ : بیشکه دا مړے دخلقو دخپو کشارے آوری۔

مسئله د سماع الموتیٰ

مقدمه : دا مسئله ولے بیانیږی، دیته ضرورت څه دے ؟ نو ضرورت ورته دادے چه دمړو په اوریدلو باندے قائل اکثر داسے خلق دی چه دهغوی په وجه شرك ته یوه لاره پرانستلے کیږی، بیا خلق مړونه مددونه غواړی، هغوی باندے وسیلے کوی، هغه مړی الله ته پیش کوی، مقصود داسلام خرابیږی۔ نو په دے وجه بعض مشائخ زمونږ دارنګه هر هغه څوك چه د شرك ډیر زیات ردکوی اوددے خبرے غم ورسره وی، هغوی دمړو داوریدلو نه سخت خلاف دی، ځکه ددے نه شرك پیدا کیږی، صحیح داده چه قرآن او حدیث ته به کتلے شی، که هغے کښې ثابته وه نو صحیح ده اوکه نه وی ثابته نو بیائے رد پکار دے، مونږ ولے داسے اوکړو چه ځانله یوه قاعده جوړه کړو او بیا په قرآن اوحدیث کښې تاویلونه کوو۔الله او رسول ښه پوهیږی۔ دهغوئ په وینا کښې خیر دے، هغوی چه څه وئیلی وی هغے نه شرك نه ولاړیږی۔

نو په مسئله د سماع الموتی کښې درے اقوال دی : ۱- یو قول دعائشه رضی الله عنها دے چه مړی نه اوری، او هغے په ابن عمرؓ باندے رداوکړو دصحابوؓ په مخامخ۔نو اجماع شوه په نه اوریدلو باندے۔او دا قول دامام ابو حنیفةؒ هم دے ۔الکوکب الدری شرح الترمذی (۳۱۹/۱) (خو احناف ئے نه منی)۔او مغنی کښې دی چه دا روایت دامام احمدؒ هم دے۔ **دلائل عامه** : دیرش (۳۰) آیتونه دی۔ **بعضے دا دی** : ۱- انك لا تسمع الموتی (سورة النمل ۸۰، والروم ۸۲) ۲- وما انت بمسمع من فی القبور (سورة الفاطر : ۲۲)۔(ته کافرو ته اورول نشے کولے چه هغه په منزله د مړو دی) (اوته اورول نشے کولے هغه چا ته چه په قبرونو کښې دی) دا دلیل دے چه مړی نه اوری۔

۳- **عقلی دلیل** : ژوندے سړے ددیوال نه اخوا دڅه نه خبر نه وی، سره ددے نه چه دهغه حواس برحال وی، نو میت (مړے) خو ډیر کمزورے دے هغه به څنګه دچا خبره واوری ؟ ولے چه دهغه خو حواس هم زائل شویدی ! نو دمړو داوریدو دپاره دلیل پکار دے، ځکه نه اوریدل اصل دی، او اوریدل اثبات دحکم دے اودا دلیل غواړی۔

۲ - **دویم قول** : د بعض علماؤ دے : چه مړی اوریدل کولے شی۔

درے دلائل دی : ١- یو داحدیث د قرع النعال دے۔ ٢- دویم حدیث دقلیب بدر دے چه نبی ﷺ په بدر کښې مشرکین مکه کوهي ته وارتول او بیا ئے ورسره خبرے اوکړے۔
٣- دریم حدیث درد السلام دے چه مقبره باندے سلام واچول شي نو مړي جواب ورکوي۔ (ما من عبد یمر بقبر اخیه المؤمن کان یعرفه في الدنیا سلم علیه الا عرفه ورد علیه رواه ابوداود بسند صحیح۔ روح المعاني (٢١/٢١٩)۔قاله ابن القیم وشیخ الاسلام۔- **د اول نه جواب** امام بخاریؒ په کتاب المغازي (٥٨٦/٢) کښې د قتادهؒ نه نقل کړیدے چه هغه اوفرمائیل : (احیاهم الله حتی اسمعهم قوله، توبیخاً وتصغیراً ونقمةً، وحسرةً، وندماً) (یعني الله دغه مشرکان راژوندي کړل او د خپل نبي خبره ئے ورته زورنے او ذلیله کولو او سزاء او پښیمانتیا او افسوس په طور ور واوروله) یعني داد نبي ﷺ معجزه وه، او پدے کښې خاص ضمائر (انتم، او منهم) راغلي دي۔
٢ - دویم دا چه نبي ﷺ داسے نه دي فرمائیلي چه (ما الاحیاء باسمع من الاموات) بلکه (ما انتم باسمع منهم) ئے فرمائیلي دي۔ اودا الفاظ په خصوص باندے دلالت کوي نه په عموم باندے ځکه دغه خاص ضمائر دي۔نو دا دنبي ﷺ معجزه وه ددوئ دپاره۔ **٣ - دریم جواب :** عائشے رضی الله عنها ددے حدیث داسے تاویل اومعنی کړیده : (انهم الآن لیعلمون ان ما اقول لهم في الدنیا حق، ثم قرأت الآیة : وما انت بمسمع من في القبور - بخاري) یعني عائشهؓ دا آیت دلیل جوړکړو په دے باندے چه مړي نه اوري۔نو دحدیث ترجمه ئے داسے اوکړه چه دآیت معارضه نشي کیدے (یعني دوی ته اوس معلومه شوه چه ما ورته په دنیا کښې د توحید کومه خبره کوله هغه حقه وه- او دا مطلب نه دے چه اوس ئے اوري) نو یو تاویل دقتادهؒ شو چه دا د نبي علیه السلام معجزه وه ، او بل دعائشے شو۔
او دقرع النعال حدیث نه جواب : دادے چه په دے کښې سَماع نشته، یعني په دے کښې دا دلالت نشته چه مړي هره خبره اوري او پوهیږي پرے، بلکه دا کنایه ده دسرعت اتیان الملائکة نه، یعني ملائك ورته دومره زر راځي چه انسانان ترینه لا واپس شوي نه وي، بیا رارسیدلي وي۔ یعني که چرته آواز ئے اوریدلے نو دخپو آواز به ئے اوریدلے کما في الکوکب الدري شرح الترمذي۔ ٢ - **جواب** : دادے چه حدیث کښې دي چه قرع النعال اوري، اوپه بل ځائے کښې داوریدو مستقل دلیل پکار دے او هغه نشته۔
٣ – **دریم جواب** : قرع النعال مختص دے په اول کرت پورے چه کله مړے خخ شي او انسانان ترینه واپس کیږي۔نو دغه وخت کښې اوري۔او روسته نه اوري۔نو خاص شو په دے موقع پورے۔او حدیث د رد السلام علامه ابن عبد البر راوړیدے،او عبد الحق الاشبیلي فرمائیلي دي : اسناده صحیح عن ابن عباس مرفوعاً : (ما من احد یمر بقبر اخیه المؤمن کان یعرفه في الدنیا سلم علیه الا عرفه ورد علیه) لکه چه دا علامه محمود آلوسي په تفسیر روح المعاني (٥٧/٢١) کښې ذکر کړیدے – نو دهغے جواب دا دے چه خپله علامه آلوسيؒ فرمائي : حافظ ابن رجب په دے باندے

تعقیب کړیدے او فرمائیلی ئے دی چه عبد الحق ورته اګرچه صحیح وئیلی دی لیکن دا حدیث ضعیف دے بلکه منکر دے آه. بیا دعلامه آلوسیؒ ځوئے نعمان الآلوسی په خپل کتاب الآیات البینات فی عدم سماع الاموات علی مذهب الحنفیه السادات (۹۲) کښې دپلار عبارت ذکر کړیدے.

لاندے تعلیق کښې علامه البانیؒ فرمائی : دا روایت په اهوال القبور (۸۳/۲) کښې ذکر دے، وهو كما قال وقد بينت ذلك في الضعيفة (٤٤٩٣) نو ده هم تائید دابن رجبؒ کړیدے چه دا حدیث منکر دے. لیکن حافظ ابن تیمیهؒ او حافظ ابن القیمؒ دواړو ورته حسن حدیث وئیلے دے، نو بیا جواب دا دے چه دا سلام اوریدل او جواب ورکول مختص دی په دغه موقع پورے. نورو خبرو اوریدلو دپاره مستقل دلیل پکار دے.

صاحب د روح المعانی علامه آلوسیؒ بل جواب کړیدے هغه دا چه : که اومنو چه مړے اوری نو دکافر آواز خو بالکل نه اوری، وجه داده چه قرآن کښې دی ﴿ وَهُمْ عَنْ دُعَائِهِمْ غَافِلُوْنَ ﴾ احقاف : ٤) او ﴿ وَلَوْ سَمِعُوْا مَااسْتَجَابُوْا لَكُمْ ﴾ فاطر : ١٤).

٤- **دلیل** : حدیث اورده الحاکم وصححه والبیهقی عن ابی هریرة ان النبی ﷺ وقف علی مصعب بن عمیر وعلی اصحابه حین رجع من احد فقال : اشهد انکم احیاء عند الله، فزوروهم وسلموا علیهم، فوالذی نفسی بیده لا یسلم احد علیهم الا ردوا علیه الی یوم القیامة) روح المعانی (۵۵/۲۱).

جواب : دا دے چه تصحیح دحاکم نه ده معتبر. دا وجه ده چه علامه البانیؒ په تعلیق الآیات البینات ص (۹۱) کښې فرمائی : (ولذلك مال الذهبی الی انه موضوع وهوغلو، واعله الحافظ ابن رجب بالاضطراب والارسال وقد بینت ذلك فی الضعیفة (٥٢٢٠).

صاحب د روح المعانی نور جوابونه هم کړیدی. فمن شاء الوقوف علیه فلیراجعه.

راجع لتفصیل المسئلة الی کتب التفسیر وتفسیر احسن الکلام لشیخنا العلامة عبد السلام الرستمی حفظه الله. ۳- **دریم قول** : دا دے چه منصوص ځایونو کښې مړی اوری او غیر منصوص ځایونو کښې نه اوری. اودا تطبیقی قول دے، جمع بین الروایات په دے سره حاصلیږی، او ددے نه څه شرك هم نه لازمیږی ځکه چه مونږ ته کوم ځائے کښې نبی اکرم ﷺ اووئیل چه دلته کښې مړی، مونږ به ئے منو، او چه بل ځائے کښې اوفرمائی دلته نه اوری نو مونږ به ئے منو چه نه ئے اوری، او قیاسونه به نه کوو. او همدا قول دامام بخاری، ابن الهمام فی فتح القدیر، شیخ الاسلام ابن تیمیه، ابن القیم، علامه آلوسی او شاه انور شاه کشمیری رحمهم الله دے.

فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ : ددے حدیث تشریح فصل ثانی دویم حدیث کښې ده چه هلته فرمائی : (ما هذ الرجل الذی بعث فیکم) . نو الف لام په کښې عهدی دی. او بعض علماء دلته دا تشریح کوی چه نبی ﷺ مړی ته ښکاره کړی مینځ کښې پردے پورته کړے شی.

۲- یا ورته د هغه شکل صورت مثالیه راوړی. دوئ استدلال کوی د(هذا) نه چه دا دمحسوس

بالبصر دپاره راځي، لیکن دا خبره صحیح نه ده وجه داده چه (هذا) لکه څنګه چه دمحسوس بالبصر دپاره راځي نو دغه شان د معقول او معهود ذهنی دپاره هم راځي۔ او حدیث کښې ئے تشریح راغلې ده لکه مخکښې په (الذی بعث فیکم) سره تیر شو۔ دارنګه حدیث دمسند احمد او طبراني کښې دي : (ما تقول فی هذا الرجل ؟ قال : من ؟ قال : محمد، فیقول الخ)، نو که چرته نبي ﷺ ورته ښکاره کیدلے نو بیا په لفظ د (من) تپوس کولو څه معنی ده ! دا دلیل دے چه اشاره معهود فی الذهن ته ده۔ کذا فی المرعاة (۱/ ۲۲۰)۔

صاحب المرقاة فرمائي : (هذا بشری عظیمة ان صح ولکن لا نعلم فی ذلك حدیثاً صحیحاً مرویاً فی ذلك والقائل به انما استند لمجرد ان الاشارة لا تکون الا للحاضر، لکن یحتمل ان تکون اشارة الی ما فی الذهن فیکون مجازاً۔ (یعنی د نبي علیه السلام شکل ښکاره کول لوئی بشارت دے که چرے ثابت شي لیکن مونږ ته پدے کښې صحیح حدیث ندے معلوم او چا چه دا قول کړیدے نو هغه صرف دا دلیل نیولے دے چه هذا اشاره حاضر ته وي، لیکن احتمال شته چه اشاره دے ذهن ته وي نو دا مجاز دے)

لیکن مونږ وایو : (هذا) حقیقت دے او مشترك دے په مابین ددواړو معنو کښې نه دا چه مجاز دے په دویمه معنی کښې۔ نو د بریلیانو دحاضر ناظر کیدو استدلال باطل دے۔ دارنګه دا مقام دامتحان دے نو چه دنبي ﷺ شخص ورته نه ښکاري نو امتحان به ډیر قوي وي۔ دارنګه دغه صرف احتمالات دي، حدیث په کښې نشته چه ګنې پردے لرے کیږي یا صورت مثالیه راوړي۔

وَاَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ:

مسئله : په قبر کې تپوس دچا نه کیږي ؟

نو په دے کښې اختلاف دے : ۱- علامه ابن عبد البرؒ او سیوطیؒ نه نقل دي چه سوال دقبر دمؤمن نه کیږي اودهغه منافق نه کیږي چه ظاهره کښې منسوب الی الاسلام وي، پاتے شو کافر نو دهغه نه دا سوال نه کیږي چه (من ربك) وغیره، څکه دا سوال د امتیاز دپاره کیږي اوکافر خو هر چاته معلوم دے، نو دده امتیاز ته ضرورت نشته۔ او کومو حدیثونو کښې چه دکافر دسوال ذکر راغلے دے نو دهغے نه مراد منافق دے۔

۲- لیکن محققین علماء فرمائي چه دکافر نه هم سوال کیږي۔ دلیل په دے باندے دادے چه قرآن کښې د ﴿ یثبت الله الذین آمنوا فی الحیوة الدنیا وفی الآخرة ﴾ په مقابل کښې ﴿ ویضل الله الظالمین ﴾ راغلے دے [ابراهیم : ۲۷]۔ اوظالم منافق اوکافر دواړو ته شامل دے۔ دارنګه دے متفق علیه حدیث الباب کښې دمنافق تذکره جدا شویده اود کافر تذکره جدا شویده په واو العطف سره چه دا دمغایرت د تقاضا کوي، یو په بل نشي حمل کولے، فتدبر ! اوداسے ډیر احادیث دي چه مسند احمد، ابن حبان او حاکم ذکر کړیدي دلیل دے په دے چه دکافر نه هم په قبر کښې سوال جواب کیږي۔ وهو الحق۔

اود هغوی دعقلی دلیل نه جواب دادے چه سوال همیشه دامتیاز دپاره نه راځی بلکه کله غرض په کښې الزام دکافر اود هغه ملامته کول وی، یا اظهار دشرافت دنبی ﷺ مقصود وی چه په دے کښې د هغه تکریم او تعظیم دے په نسبت دنورو انبیاؤ علیهم السلام۔ انظر هذا التفصیل فی کتاب الروح لابن القیم۔

لَا دَرَيْتَ وَلَا تَلَيْتَ : ددے الفاظو دوه معنے دی : ۱- راجح معنی داده چه لادریت نه خپله پوهیدلے په نظر او استدلال عقلی سره، ولا تلیت اونه دے قرآن لوستلے وو چه د هغے نه دے دلیل نقلی زده کړے وے۔ اوددے معنی تائید فصل ثانی حدیث البراء کښې راځی (مایدریك فیقول : قرأت کتاب الله الخ)۔ چه تلیت د تلاوت نه دے په معنی دقرأت۔

۲- دویمه معنی : لا دریت په خپله هم نه پوهیدلے، ولا تلیت د تِلو نه ماخوذ دے تابعداریٔ ته وائی (یعنی نه دِے د هغه چا تابعداری کړیده چه هغه پوهیدلو، چه ته ئے هم پوهه کړے وے)۔ ځکه چه دانسان خپله څه نه وی زده نو بل نه به اوری، او ځان به حق ته رسوی۔

تنبیه : ددے حدیث نه بعض مقلدین لکه ملا علی قاریؒ په مرقاة کښې دتقلید ثابتولو کوشش کړیدے، چه دے منافق ته دا جواب ورکړے شو چه تا نه خپله علم زده کړے وو، او نه دِے د هغه چا تقلید کړیدے کوم چه پوهیدل په قرآن او سنت باندے۔ نو دا استدلال بعید او دمتشابه لفظ نه استدلال کول دی۔ نو دا استدلال خطاء دے، وجه داده چه مقلدین صرف تقلید دیو امام لازم ګنړی او په دے روایت کښې دا خبره ده چه دهر عالم چه په قرآن اوسنت پوهیدلو تابعداری به دِے کړے وے چه په قرآن اوسنت ئے پوهه کړے وے، نو په دے کښې د ابوحنیفةؒ او شافعیؒ تقلید دکوم ځائے نه لازم شو؟۔

۲- دویم دا چه : په دے حدیث کښې خو داخبره نشته چه تا دامام خبره ولے نه منله، د هغه تقلید دِے ولے نه کولو ځکه چه دامام خبره منل تقلید دے اوکله چه دلیل دقرآن او سنت درکړی نو بیا تقلید نه دے، بلکه تابعداری ده د هغه خبرے کوم چه قرآن اوسنت کښې ذکر ده، خو صرف عالم تاته بیان کړه، لاره ئے درته اوښودله نو دا عالم په منزله دلار ښودونکی شو چه دده په واسطه خپل مقصد ته اورسیدے چه هغه مقصد قرآن اوحدیث دے، اودا عالم مقصد نه دے بلکه دایو رنړا ده ستا مقصد ته درسیدو دپاره۔ ددے وجه نه د تلیت لفظ ئے استعمال کړو نه د تقلید ځکه تلو تابعداری ته وائی نه تقلید ته۔ فتدبر۔

۳- دریم دا چه : دا استدلال ځکه نه دے صحیح چه په دے حدیث کښې په خپله په دے استدلال باندے رد دے ځکه چه دا منافق مُقلِد وو، وجه داده چه دا وائی : (هاها لا ادری، کنت اقول کما یقول الناس) یعنی دخلقو دخبرو تقلید ئے کولو، اودلیل ئے نه طلب کولو دقرآن اوسنت۔ او احناف مقلدین خو وائی چه مقلد به تحقیق نه کوی، بلکه هغه به د امام خبره منی، دلیل ته ئے ضرورت نشته، ځکه دلیل غته غوښه ده او مقلد دخیټے بیمار دے، نو دلیل مقلد له بدیګی،

راست پرے نه راځي۔لکه یو مقلد ملا (محب الله بهاري) وائي : (واما المقلد فمستنده قول مجتهده لا ظنه ولا ظنه (مسلم الثبوت بشرح عبد الحق ص : ۱۵) ددے معنی داده چه دمقلد ددلیل سره څه کار دے، دده دلیل خو قول دمجتهد دے، دچرګ دمالګے څټولو سره څه کار دے۔نو دمنافق دا مذکوره خبره بعینه تقلید دے، چه د خلقو تابعداری بغیر ددلیل نه کړیده۔ هسے جقه او کثرت دخلقوئے لیدلے دے نو دده هم په کښې ورتوپ کړی دی، په خلقوئے حُسن ظن کړیدے۔

٤- څلورم دا چه : دلته د (من ربك) تپوس دے چه دا عقیده ده، اود مقلدینو په نیز هم په عقیده کښې تقلید نشته، ځکه چه کله دوئ نه تپوس اوکړے چه دا دومره آیتونه او حدیثونه د تقلید په رد کښې راغلي دی نو بیا تاسو ولے تقلیدکوئ نو دوئ زر دا اووائي چه مونږ خو په عقیده کښې تقلید نه کوو، او نه په منصوصي غیر متعارض مسائلو کښې تقلیدکوو، بلکه مونږ صرف اوصرف په متعارض نصوصو کښې تقلید کوو۔نو صفا وائي چه عقیده کښې تقلید نشته۔نو بیا دے ځائے نه مقلدین څنګه په دے عقیده کښې دتقلید قائل شو، او دا استدلال څنګه صحیح کیدے شی ؟ آیا په خپل ځان رد نه دے!!

(دتقلید درد دپاره زمونږ رساله - د تقلید حقیقت - دکتلو وړ ده) نو قرآن او سنت یے ځایه د باطلو خبرو داثبات دپاره استعمالول په هیڅ شان باندے جائز نه دی۔

اعجوبة : علامه ابن القیمؒ په حادي الارواح ص (۲۰۲) کښې دخپل استاذ شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نه یوه فائده نقل کړیده چه هغه فرمائي :

[لا یحتج مبطل بآیة او حدیث صحیح علی باطله الا وفی ذلك الدلیل ما یدل علی نقیض دعواه] **یعنی** هر باطل پرست چه دیو باطل څیز ثابتولو دپاره دیو آیت یا حدیث نه استدلال کوی، نو په دے آیت او حدیث کښې به په همده باندے رد وی) اودا بالکل قاعده کلیه ده، نو دلته هم په همدے حدیث کښې په تقلید باندے رد دے که چا سوچ اوکړو۔نو صحیح مفهوم او معنی ددے حدیث داده چه خپله هم نه پوهیدلے اود الله کتاب دِے هم نه دے لوستلے !! نو په دے کښې ترغیب دے خلقوته چه د الله کتاب راواخلئ تاوئیلی ما وئیلی پسے مه ځئ ګنے بیا به دها ها لا ادری نعرے وهئ۔

بِمَطَارِقِ : مطارق جمع د مِطرقة ده په معنی د ستهکی او ګرز او پلك سره۔

يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيْهِ : په حدیث دابوداود کښې دی کما یاتی قریباً چه (یسمعها مابین المشرق والمغرب۔اودلته وائي (یسمعها من یلیه) نو ددے تطبیق دادے چه د (من یلیه) نه مراد ګیر چاپیره تموله دنیا ده، او هلته هم دا معنی ده نو تعارض نشته۔

۲- یا دا چه تغییر فی الوحی دے چه اولاً وحی دا شوے وه چه نزدے حیوانات ئے اوری او روستو وحی دا اوشوه چه (یسمعها ما بین المشرق والمغرب)۔ ۳- **جواب** : انسانان تقسیم دی بعض کافران غلیظ دی، هغه به تیز وهی نو آواز به ئے مشرق او مغرب ته رسي او بعض کافر

غلیظ نه وی نو هغه به په آرام وهی چه چغه به ئے نزدے خلق اوری۔

٤- جواب: چا دا وئیلی دی چه هغه حدیث ضعیف دے لیکن دا جواب صحیح نه دے، بلکه دواړه حدیثونه صحیح دی۔

تنبیه: فرقه عثمانیه دا سوال کوی، چه تاسو وائے د رسول الله ﷺ په دور کښ دعذاب قبر د وجے نه دهغه اوښه اوخوزیدله او حرکت ئے اوکړو نو که عذاب قبر وی نو اوس ولے حیوانات چغے نه وهی اوحرکت نه کوی دعذاب قبر د وجے نه؟ ددے جواب دادے چه هغه درسول الله ﷺ معجزه وه په یو وخت کښ ښکاره شوه، داضروری نه ده چه اوس به هم حیوانات دغه شان حرکت کوی۔ ۲ - بله داچه دا عذاب قبر دایمان بالغیب مسئله ده، مونږ ته ددے خبر نبی ﷺ راکړیدے چه دا ثابت دے نو مونږ به دامنو برابره خبره ده که حیوانات حرکت کوی اوکه نه، ځکه که مونږ ته داحالت ښکاره شی، نو بیا خو ایمان بالغیب نشویلکه ایمان بالمشاهده شو۔ ۳ - بل داچه حیوانات ځکه حرکت نه کوی چه انسانان بیا پریشانه کیږی، زندگی نشی تیرولے، دارنګه مړی به بیا خلق نه خخوی۔دا وجه ده ابن القیمؒ فرمائی: کله چه الله اوغواړی بعض بندګانو ته دا حالت ښکاره کوی د هغه د کرامت دپاره۔

۳- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ اَحَدَكُمْ اِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ اِنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَاِنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ فَمِنْ اَهْلِ النَّارِ فَيُقَالُ: هٰذَا مَقْعَدُكَ حَتّٰى يَبْعَثَكَ اللهُ اِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». متفق علیه.

ترجمه: عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هرکله چه تاسو کښ څوك مری نو (قبر کښ دننه) صبا بیګاه هغه ته خپل ځائے پیش کولے شی، که هغه جنتی وی نو جنت کښ دهغه ځائے ورته خودلے شی اوکه دوزخی وی نو دوزخ کښ دهغه ځائے ورته خودلے شی او هغه ته وئیلے شی چه دا ستا دپاتے کیدو ځائے دے، ددے انتظار کوه تردے چه دقیامت په ورځ الله تعالی تا راپورته کړی او هغے ته دِے اورسوی۔(بخاری او مسلم)۔

تشریح: عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ: ذکر دغداة اوعشی او مراد ترینه هر وخت دے لکه دا په هره ژبه کښ دی، ذکر کیږی سحر ماښام او مراد ترینه هر وخت وی خو غداة او عشی ئے د قرآن دموافقت په وجه ذکر کړی ﴿اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا﴾ ورنه دمړو دپاره صبا بیګاه نشته۔

فَمِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ: ددے معنی داده (فالمعروض علیه مقعده من اهل الجنة) ۔ (نو پیش کولے شی په ده باندے ځائے د جنت والو نه)۔

فائده: دے حدیث نه یوه فائده دا معلومه شوه چه جنت او جهنم دمخکښ نه پیدا دی،ا وددے

پیدائش کښې ډیرے فائدے دی لکه د مشکاة دویم جلد کښې باب راغلے دے په دے باندے، بعض فائدے دلته راغلی دی، دجنت اوجهنم خوشبوئی او براس دنیا ته راځی، دارنګه قبر کښې ئے اثر دادے چه مؤمن ته پدے کښې دجنت نه کړکۍ کولاوېږی او کافر ته عذابونه اوبراس دهغے نه راځی۔ دارنګه دمؤمنانو او کافرانو ارواح ورته ورځی۔ بله دا چه یو شے پیدا شوے نه وی نو هغے ته څوك شوق هم نه کوی او دهغے نه ویره هم نه وی ځکه دمعدوم تمنی هم نه کیږی او ویره ترے هم نه کیږی، اوکله چه موجود وی نو شوق او ویره پیدا کیږی، اودا داهل السنة والجماعة رائے ده چه د مخکښې نه پیدا دی، نودا اعتراض ډیے څوك نه کوی چه دجنت او جهنم په پیدائش کښې څه فائده ده ؟ !۔

٤- وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ يَهُوْدِيَّةً دَخَلَتْ عَلَيْهَا فَذَكَرَتْ عَذَابَ الْقَبْرِ فَقَالَتْ لَهَا اَعَاذَكِ اللهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَسَأَلَتْ عَائِشَةُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَقَالَ: «نَعَمْ! عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ» قَالَتْ عَائِشَةُ: فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ بَعْدُ صَلّٰى صَلَاةً اِلَّا تَعَوَّذَ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ». متفق عليه.

ترجمه : عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه یوه یهودنړه ښځه هغے ته راغله هغے دقبر دعذاب ذکر اوکړو بیا هغے بی بی عائشے ؓ ته اووئیل : (اے عائشے) الله تعالی دِے تا دقبر دعذاب نه محفوظ کړی۔ بی بی عائشے ؓ رسول الله ﷺ نه دعذاب قبر باره کښې تپوس اوکړو، نبی ﷺ اوفرمائیل : آو، د قبر عذاب حق دے۔ عائشة ؓ فرمائی : دے واقعے نه پس ما هیڅ کله رسول الله ﷺ نه دے لیدلے چه یو مونځ ئے کړے وی اود قبر دعذاب نه ئے پناه نه وی غوختی۔(بخاری، مسلم)۔

تشریح : يَهُوْدِيَّةٌ : ١- فائده : دکافرے ښځے نه کله چه حیاناکه وی د مسلمانے ښځے ستر نه کول جائز دی، اګرچه قرآن کښې راغلی دی ﴿او نسائهن﴾ ځکه ددے نه مراد هغه ښځے دی چه حیاناکے دی، دلیل دادے چه دکافرو (یهودیه، نصرانیه) زنانو سره نکاح حلاله ده، نو چه تا ورسره نکاح اوکړه نو ستا مور او خور به کور کښې وی نود هغے نه پرده نه ده راغلے۔اوبے حیاء زنانه اګرکه مسلمانه ده خو زنانه به تر ... ه پرده کوی۔

سوال : په روایت دمسلم او احمد (٦/٨٩، ٢٣٢) کښې دی (كذبت يهود لا عذاب دون يوم القيامة) نو پدے روایت کښې خو انکار ذکر دے دعذاب القبر نه، او په روایت دعائشة ؓ کښې اقرار دے په عذاب القبر باندے، نو ددے څه تطبیق دے؟ **جواب** دا دے : چه ابتداء کښې وحی نه وه شوے نو نبی ﷺ اوفرمائیل : عذاب القبر دیهودو دپاره دے، اودے امت دپاره نشته بیا کله چه وحی ورته اوشوه چه ددے امت دپاره هم عذاب القبر شته نو بیا ئے اقرار اوکړو او صحابو ؓ ته ئے اوفرمائیل : (استعيذوا بالله من عذاب القبر) او نبی علیه السلام خپله هم دعذاب قبر نه پناه غوښتله۔ اوددے

وضاحت په روایت دمسند احمد کښې شوېدے (قالت عائشة : انما تفتن یهود، فلبثنا لیالی، ثم قال رسول الله ﷺ : هل شعرتِ انه اوحی الی انکم تفتنون فی القبور، قالت عائشة فسمعت رسول الله ﷺ یستعیذ من عذاب القبر) ۔ (عائشه فرمائی : یهودیانو به عذاب قبر وی نو څه موده پس رسول الله ﷺ اوفرمایل : اے عائشے ته پوهیږے چه ما ته وحی اوشوه چه تاسو (امت) ته به په قبر کښې عذاب درکولے شی، عائشهؓ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه د قبر د عذاب نه به ئے پناهي طلب کوله)۔ **۲- دویم جواب** : ابن حجرؒ دا کړیدے چه نبی ﷺ اولا دموحدینو دعذابِ قبر نه انکار کړے وو، بیا کله چه ورته وحی اوشوه چه داپه گناهگارو موحدینو باندے هم شته دچا دپاره چه د الله اراده شوے وی، نو بیا ئے اقرار اوکړو، دا وجه ده بیا ئے دعذاب قبر نه په خپله هم پناهي غوختله او امت ته ئے هم ددے تلقین ورکړیدے۔

اِلَّا تَعَوَّذَ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ : ۱- په مانځه کښې به ئے هم دعذاب قبر نه پناهي غوختله، او دا ملا علی القاری راجح راکړیده۔ اودا تعوذ په نیز دبعض علماؤ باندے واجب دے کما قال به ابن الحزم وطاؤس کما فی مسلم (۲/)۔اود طاؤسؒ واقعه په مسلم کښې ذکر ده چه ده خپل ځوئی ته دمانځه د دوباره کولو حکم اوفرمائیلو هرکله چه هغه په آخر دمانځه کښې دا دعاء پریښے وه (اللهم انی اعوذ بك من عذاب جهنم، واعوذ بك من عذاب القبر، واعوذ بك من فتنة المسیح الدجال، واعوذبك من فتنة المحیا والممات)۔ ۲ – او نبی ﷺ به خارج دمانځه نه هم دعذاب قبر نه پناه غوښتله۔

۵- وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ: بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ حَائِطٍ لِبَنِيْ النَّجَّارِ عَلٰى بَغْلَةٍ لَهُ وَنَحْنُ مَعَهُ اِذْحَادَتْ بِهٖ فَكَادَتْ تُلْقِيْهِ وَاِذَااَقْبُرٌ سِتَّةٌ اَوْخَمْسَةٌ فَقَالَ: «مَنْ يَّعْرِفُ اَصْحَابَ هٰذِهِ الْاَقْبُرِ» قَالَ رَجُلٌ اَنَا قَالَ: «فَمَتٰى مَاتُوْا؟» قَالَ: فِي الشِّرْكِ. قَالَ: اِنَّ هٰذِهِ الْاُمَّةَ تُبْتَلٰى فِيْ قُبُوْرِهَا فَلَوْلَا اَنْ لَا تَدَافَنُوْا لَدَعَوْتُ اللهَ اَنْ يُّسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِيْ اَسْمَعُ مِنْهُ ثُمَّ اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ. فَقَالَ: تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ قَالُوْا : نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. قَالَ:«تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَاظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ» قَالُوْا: نَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَاظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ. قَالَ: «تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ» قَالُوْا: نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ.رواه مسلم۔

ترجمه : زید بن ثابت ﷺ نه روایت دے، یوه ورځ رسول الله ﷺ د بنی نجار باغ کښې خپلے قچرے باندے سور وو او مونږ هم ورسره وو چه نا څاپی قچرے اودانگل او نزدے وه چه نبی ﷺ ئے غورځولے وے، ناڅاپه پنځه شپږ قبرونه په نظر راغلل۔نبی ﷺ ارشاد اوفرمایه : دا قبرونو والا څوك

پیژنی؟، یو سړی اوویل: زه ئې پیژنم۔ نبی ﷺ ترې تپوس اوکړو: دا کله مړه شوی دی (یعنی دکفر په حالت کښې مړه شوی دی اوکه دایمان سره دې دنیا نه رخصت شوی دی؟) هغې سړی عرض اوکړو، دوئ خو د شرك حالت کښې مړه شوی دی۔ نبی ﷺ اوفرمایل: دا اُمت خپلو قبرونو کښې ازمائیلې شي (یعنی دې خلقو ته قبرونو کښې عذاب ورکول کیږي) که ماته دا ویره نه وې چه تاسو به مړی ښخول پریدئ نو ما به ضرور الله نه غوختلی وې چه هغه تاسو ته هم دقبر دعذاب آواز واوروی، کوم چه زه آورم۔ دې نه پس نبی ﷺ مونږ طرفته متوجه شو او وې فرمائیل: داور دعذاب نه په الله پناه غواړئ، صحابوؓ اوویل: مونږ په الله سره دقبر دعذاب نه پناه غواړو۔ نبی ﷺ اوفرمائیل: دقبر دعذاب نه په الله پناه اوغواړئ، صحابوؓ عرض اوکړو: مونږ دقبر دعذاب نه په الله پناه غواړو۔ نبی ﷺ اوفرمائیل: ظاهری اوباطنی فتنو نه په الله سره پناه غواړئ!۔ صحابوؓ اوویل: مونږ ظاهری او باطنی فتنونه په الله پناه غواړو۔ بیا نبی ﷺ اوفرمایل: د دجال دفتنې نه په الله پناه اوغواړئ۔ صحابوؓ اوویل: مونږ ددجال دفتنې نه په الله پناه غواړو۔ (مسلم)۔

تشریح: بَغْلَةٍ: فائده: رسول الله ﷺ په قچر سورلی کړیده نو دقچر نسل پیدا کول جوازلری، او قچر ددې نه پیدا کیږی چه خر په اسپه باندې اوخیژی، لیکن دخواصو بندګانو دپاره دا کار ښه نه دې، نبی ﷺ ددې نه منع کړیده دخپلو اهل بیتو په باره کښې۔ اِذْحَادَتْ بِهٖ: دا دلیل دې په بشریت د رسول الله ﷺ باندې ځکه چه ځان نشی راټینګولې۔ نو یارسول الله مدد! وئیل شرك دې۔

وَاِذَااَقْبُرٌ سِتَّةٌ: دا نص صریح دې په دې چه په دې معلوم قبر کښې عذاب دې، بعض خلق برزخ یاده وی، مونږ وایو تاسو مونږ ته دبرزخ ځائې رااوښائې کوم ځائې دې؟ بلکه برزخ یوه پرده ده چه ددنیا اود آخرت ترمینځه وهلې شویده، اودا پرده بعینهٖ قبر دې۔

مَنْ یَّعْرِفُ اَصْحَابَ هٰذِهِ الْاَقْبُرِ: دا دلیل دې په نفی د علم الغیب د نبی ﷺ باندې، ولې چه ددې قبرونو والائې نه پیژندل ځکه ئې تپوس اوکړو۔

فَلَوْلَا اَنْ لَا تَدَافَنُوْا: په دې حدیث باندې یو **اشکال** ذهن ته راځی، هغه دا چه مخکښې تیر شو چه عذابِ قبر ددفن پورې خاص او موقوف نه دې، بلکه مړې چه هر ځائې قرارې اونیسی هغه ئې قبر شو، هلته به ورته عذاب اونعمت ملاویږی، نو دلته څنګه وائی چه که تاسو عذاب اوریدلې نو بیا به مو مړی نه دفن کولې، ددې نه خو معلومیږی چه عذاب ددفن پورې خاص دې۔

جواب: ۱- ددې مطلب دا دې چه که تاسو عذاب قبر اوریدلې نو تاسو ته به داسې خوف اودهشت اوتحیر لاحق کیدلې چه تاسو به بیهوشه اوبې عقله شوی وې اود دفن فرصت به مو نه موندلې۔ نو ترك دفن دخوف العذاب په وجه نه دې ځکه چه خوف العذاب په دفن کیدو پورې خاص نه دې هر ځائې کښې چه مړې وی عذاب قبر ورته لاحق کیدې شی، بلکه ترك دفن په سبب

دفوات العقل دے چه دومره بے هوشه بے خوده به ئے چه مړی ته به نزدے هم نه راتلے چه تجهیز او تکفین ورله اوکړئ او دفن ئے کړئ۔ ۲ – یا مراد دا دئے چه مقبرو کښ د زیارت دپاره خلق راجمع کیږی نو که چرته عذاب قبر اوریدل کیدے نو خلقو به مړی دخپلو کورونو نه وړاندے صحراء ګانو کښ ګوذارلے چه خلقو نه اوریدلے اود هغوی په عیب باندے به نه خبریدلے۔

۳ – یا مراد دا دے چه که تاسو عذاب قبر اوریدلے نو ستاسو حال به نفسی نفسی وے، نو بیا به مو دبل چا کارونه نه کولے تردے چه دفن به مو هم پریخے وے۔نه دا چه عذاب قبر خاص دے په دفن پورے،

فتدبر! الذی اسمع منه : دا د نبی ﷺ معجزه وه چه هغه ته به دقبر عذاب اوریدلے کیدو، بعض خلق وائی چه کشف سره فلانے دقبر اوریدل کوی، کشفونه په دین کښ څه حیثیت نه لری، صوفیه داخبرے ډیرے ذکر کوی، چه فلانے شخص صاحب کشف وو، دجهنم او جنت پته ورته لګیدله، اوفلانی شخص ته کشف اوشو، پیغمبر ورته دقبر نه لاس راښکاره کړو، او څادرئے ورکړو لکه قصیده برده والا ته ئے څادر ورکړو، دا غلطے خبرے دی۔البته داخبره شته چه کرامت داولیاؤ حق دے،کرامةً هغه ته یو شے الله ښکاره کړی چه هغه نور خلق نه وینی لکه عمر فاروق ته سریه (فوج) دساریه ښکاره شوه نو هغه ورته دمنبر نه آواز اوکړو: یا ساریة الجبل الجبل! هغوی هم واوریدلو کرامةً۔ خو صوفیه چه دا خبره کوی چه کشف یو علم دے چه انسان دا حاصل کړی نو بیا به هر وخت دلوح محفوظ نه اخذ کولے شی، او د قبرونو په احوالو به پوهیږی، داهسے بکواس دے۔لکه یو دیوبندی قصه ګو مُولا تقریر کښ وائی چه احمد علی لاهوری صاحبِ کشف وو، نو یوه ورځ ډیر خفه وو، یوشاګرد ترینه تپوس اوکړو چه دا ولے خفه ښکارے؟ هغه ورته اوویل : حال به درته اووایم۔ نو په سترګوئے ورته لاس راښکلو هغه چه اوکتل تول خلق خره او غوایان وو، نو هغه ډیر پریشانه شو، بیائے ورله په سترګو لاس راښکلو بیرته ترینه کشف ختم شو۔داهسے ډکوسلے دی۔البته کرامةً بعض ناشنا کار ښکاره کیدے شی دیو ولی نه خو دا په طریقه دعادت سره نه وی، چه بار بار به وی، اود ولی په اختیار کښ هم نه وی، ځکه کرامت امر خارق للعادة دے، اوکه دیو انسان کسب او عادت جوړ شی (لکه صوفیه) نودا به یا جادو وی، یا به د شیطان د طرفنه څه شے وی۔دصوفیو سره شیطان ډیر ملګرے کیږی ځکه خو ددوئ اکثر په خرافاتو سر وی۔په دے چه پوهه شوے نو دهر چا په تقریر به نه دهوکه کیږئ۔

تَعَوَّذُوْا بِاللهِ : دلته خاص واقعه کښ دا تعوذات راغلی دی، او په مانځه کښ نبی ﷺ په جدا الفاظو وئیلی دی،کما مر فی واقعة طاوس۔

الفصل الثانی

۶– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«اِذَا اُقْبِرَ الْمَیِّتُ اَتَاهُ مَلَکَانِ اَسْوَدَانِ اَزْرَقَانِ یُقَالُ لِاَحَدِهِمَا الْمُنْکَرُ وَلِلْآخَرِ النَّکِیْرُ فَیَقُوْلَانِ: مَاکُنْتَ تَقُوْلُ فِیْ هٰذَا الرَّجُلِ فَاِنْ کَانَ

مُؤْمِنًا فَيَقُوْلُ: هُوَ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ فَيَقُوْلَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ اَنَّكَ تَقُوْلُ هٰذَا، ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِيْنَ ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيْهِ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: نَمْ فَيَقُوْلُ: اَرْجِعُ اِلٰى اَهْلِيْ فَاُخْبِرُهُمْ فَيَقُوْلَانِ: نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوْسِ الَّذِيْ لَا يُوْقِظُهُ اِلَّا اَحَبُّ اَهْلِهِ اِلَيْهِ حَتّٰى يَبْعَثَهُ اللهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذٰلِكَ وَاِنْ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ: سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُوْلُوْنَ قَوْلًا فَقُلْتُ مِثْلَهُ لَا اَدْرِيْ فَيَقُوْلَانِ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ اَنَّكَ تَقُوْلُ ذٰلِكَ فَيُقَالُ لِلْاَرْضِ الْتَئِمِيْ عَلَيْهِ فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ فَتَخْتَلِفُ اَضْلَاعُهُ فَلَا يَزَالُ فِيْهَا مُعَذَّبًا حَتّٰى يَبْعَثَهُ اللهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذٰلِكَ» رواه الترمذی.

ترجمه : ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو، هرکله چه مړے قبر کښې کیخودے شي نو هغه ته دوه تور، شین سترګے ملائك راشي چه یو ته منکر اوبل ته نکیر وائي هغه دواړه دے مړي نه تپوس کوي چه تابه ددے سړي یعنی محمد ﷺ په حقله څه وئیلے، که هغه سړے مؤمن وي نو هغه وائي چه هغه دالله بنده اود هغه رالیږلے شوے (رسول) دے، اوزه ګواهي کوم چه الله نه سیوا بل څوك لائق دعبادت نشته او بیشکه محمد ﷺ د الله بنده اود هغه رسول دے۔دے آوریدو سره هغه دواړه ملائك وائي : مونږ پو هیدو چه ته به یقیناً داسے وائے۔دے نه پس دهغه قبر اوږدوالي او پلن والي کښې اویا اویا ګزه فراخولے او رڼا کولے شي او هغے مړي ته وئیلے شي : اُوده شه، مړے به وائي زهٔ غواړم چه خپل اهل وعیال ته واپس لاړشم چه هغوئ دخپل حال نه خبر کړم، ملائك به هغه ته وائي : ته دهغے ناوے پشان اُوده شه چه صرف هغه سړے ئې ویښولے شي چه دټولو نه ورته زیات محبوب وي (یعنی دهرچا ویښول ښه نه لري څکه چه هغه نه وحشت کیږي البته که محبوب ئې ویښوي نو ښه لري) تردے چه الله تعالی هغه دهغے ځائے نه راپاسوي۔اوکه هغه مړے منافق وي نو وائي : ماچه دخلقو نه څه آوریدلي وو هغه به مے وئیل لیکن زه (ددے دحقیقت نه) خبر نه یم (دمنافق دے جواب آوریدو سره) ملائك وائي : مونږ پو هیدو چه یقیناً ته به داسے وائے۔دے نه پس زمکے ته دیو ځائے کیدو حکم ورکولے شي، نو زمکه هغه مړي باندے داسے زور اوکړي چه دهغه ښئ پښتئ ګس طرفته اوګسه پښتئ ښي طرفته راوځي۔اودغسے همیشه عذاب کښې مبتلا وي تردے چه الله تعالیٰ دے دهغے ځائے نه اوچت کړي۔ (ترمذی)۔

تشریح : اِذَا اُقْبِرَ الْمَيِّتُ : کله چه مړے په قبر کښې ښخ کړے شي، دا قید اغلبی او اکثری دے عام طور سره مړي قبرونو کښې ښخیږي څکه ئې دا ذکر کړو، اوهرچه سوال جواب دقبر دے نودا دهر مړي نه کیږي که هر ځائے کښې وي۔ **سوال** : ملائك څنګه قبرته داخلیږي ؟ **جواب** : الله

ورله قدرت ورکړیدے او جسم ئے مانع دے لکه شیطان چه دانسان په رګونو کښ ګرځي راګرځي۔
سوال : دغه دوه ملائك دټولے دنیا مړو ته څنګه راځي ؟ جواب : ۱۔ دلته نوع مراد ده، صرف دغه دوه ملائك نه دي بلکه ددوئ پشان نور ډیر ملائك دي هغه ورته ورځي۔ ۲۔ یا الله ورله طاقت ورکړیدے، عقیده کښ قیاس نه چلیږي، اونه په کښ څنګه او ولے چلیږي۔ دعقیدے نوم دے منل اوغاړه کیخودل۔
قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ : ملائك داخبره ځکه کوي چه یا خو ورله الله علم ورکړي چه دا نیك بخت دے یا بدبخت۔ فلانے فلانے جواب به درکوي۔ ۲۔ یا دا چه دشکل اوصورت، نه ئے معلوموي چه د نیك بخت انسان په مخ کښ نُور د ایمان وي۔ اوروایت دابن حبان کښ ورسره دا هم راغلي دي چه مونځ روژه اوزکوٰة داټول اعمال دده خواته راشي نو ملائك ئے ددے نه معلومه کړي چه دا نیك بخت دے، صحیح جواب به ورکوي۔ بعض علماء وائي : مراد منکر نکیر نه کراماً کاتبین دي، ځکه الله رب العزت فرمائي : ﴿ نحن اولياؤكم في الحيوه الدنيا وفي الآخرة ﴾ [حم سجده : ۳۱] دارنګه فرمائي : ﴿ قل يتوفاكم ملك الموت الذى و كل بكم ﴾ [الم السجده : ۱۱] قرآن کښ کمال دا دے چه انسان ته داسے خبرے ورښائي کله چه په مقصد د قرآن پوهه شے، نو د الله کتاب په تفسیر سره لوستل ضروري دي۔ دغه شان په حدیث شریف کښ د (قد كنا نعلم) ماضي صیغه ذکر شویده۔ چه ددے معنی داده چه مونږ ته د پخوا نه ستا نیك عمل معلوم وو، کله به چه تا اوکړو او مونږ به اولیکلو۔ دے نه معلومیږي چه دا دوه ملائك کراماً کاتبین دي۔
اَسْوَدَانِ اَزْرَقَانِ : تور شکلونو، شنو سترګو والا، ډیر مهیب او مرعوبه شکل دے، په روایت دطبراني کښ ورسره دا الفاظ هم دي : (اعينهما مثل قدور النحاس وانيابهما مثل صياصي البقر) یعنی سترګے به ئے د تانبے دکټوئ پشان وي اوداړے به ئے دغوایانو د ښکرو پشان وي۔ المُنْكَرُ : دا دواړه ملائك مؤمن او کافر دواړو ته راځي اوکوم خلق چه وائي : کافر ته نکیر منکر راځي او مؤمن ته بشیر مبشر ملائك راځي نو داهسے خبره ده، هیڅ دلیل او ثبوت نه لري، د قصه ګو اوبے باکه خلقو خبره ده۔ نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوْسِ : نم بفتح النون دے والعروس بفتح العين ناوے ته وائي دا لفظ مشترك دے په مذکر او مؤنث دواړو ئے اطلاق کیږي بعض وائي مذکر دپاره عریس استعمالیږي۔
لَا يُوْقِظُهُ اِلَّا اَحَبُّ اَهْلِهِ : ناوے په دوه وختونو کښ راپاڅولے شي دخوب نه : ۱۔ یو دسحر په وخت کښ نوسحر کښ ئے هم خاوند راپاڅوي، او خاوند ورته په اولنو ورځو کښ خاصکر ډیر ګران وي۔ ۲۔ دویم دماسخوتن په وخت کښ چه ناوے کمرے ته مخکښ ننوتي وي اوخاوند ورپسے روستو ورننوځي هغه اوده وي، راپائے څوي خبرے اترے ورسره کوي، نو تابه هم هغه ذات راپاڅوي چه هغه تاته دهر چانه زیات محبوب دے چه هغه الله دے۔ نو ستا مثال داسے دے لکه دناوے اود الله مثال داسے دے لکه دخاوند (دا دپوهے دپاره، ورنه دالله مثال نشته)۔

سَمِعْتُ النَّاسَ : په اتفاق دعلماؤ سره تقلید په باب دعقیده کښې حرام دے، هغه عقیده نامنظوره ده الله ته چه په تقلید باندے بناء وی۔

فَيَقَالُ لِلْاَرْضِ الْتَئِمِيُ عَلَيْهِ : (ای اجتمعی وانضمی ای ضیقی علیه) (راتنګه شه په دے شخص باندے)۔اودا حقیقةً راتنګیدل دی اوپه مجاز باندے نه دے حمل چه تعذیب مراد شی۔بیا دا الفاظ صریح دلیل دے په دے چه په دے معلوم قبر کښې عذاب دے، نوددے نه انکار کول دنقل او عقل دواړونه انکار دے۔فتدبر!۔ **درجة الحديث** : اسناده حسن : رواه الترمذی (۱۰۷۱) وقال حدیث حسن غریب واخرجه ابن حبان فی صحیحه والطبرانی فی الاوسط واسناده صحیح۔

۷- وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ:« يَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ فَيَقُولُ: رَبِّيَ اللهُ فَيَقُوْلَانِ لَهُ مَادِيْنُكَ فَيَقُولُ: دِيْنِيَ الْإِسْلَامُ فَيَقُوْلَانِ مَاهٰذَا الرَّجُلُ الَّذِيْ بُعِثَ فِيْكُمْ فَيَقُوْلُ: هُوَ رَسُوْلُ اللهِ فَيَقُوْلَانِ لَهُ وَمَايُدْرِيْكَ فَيَقُوْلُ: قَرَأْتُ كِتَابَ اللهِ فَآمَنْتُ بِهٖ وَصَدَّقْتُ فَذٰلِكَ قَوْلُهُ:﴿ يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ﴾الآية قَالَ: فَيُنَادِيْ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ اَنْ صَدَقَ عَبْدِيْ فَافْرِشُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَأَلْبِسُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَافْتَحُوْا لَهُ بَابًا اِلَى الْجَنَّةِ فَيُفْتَحُ. قَالَ فَيَأْتِيْهِ مِنْ رَوْحِهَا وَطِيْبِهَا وَيُفْسَحُ لَهُ فِيْهَا مَدَّ بَصَرِهٖ وَاَمَّا الْكَافِرُ فَذَكَرَ مَوْتَهُ قَالَ: وَيُعَادُ رُوْحُهُ فِيْ جَسَدِهٖ وَيَأْتِيْهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُوْلَانِ مَنْ رَّبُّكَ فَيَقُوْلُ : هَاهْ هَاهْ! لَا اَدْرِيْ فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَا دِيْنُكَ فَيَقُوْلُ: هَاهْ هَاهْ لَا اَدْرِيْ، فَيَقُوْلَانِ: مَاهٰذَا الرَّجُلُ الَّذِيْ بُعِثَ فِيْكُمْ ؟ فَيَقُوْلُ: هَاه هَاه لَا اَدْرِيْ ! فَيُنَادِيْ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ اَنْ كَذَبَ فَافْرِشُوْهُ مِنَ النَّارِ وَاَلْبِسُوْهُ مِنَ النَّارِ وَافْتَحُوْا لَهُ بَابًا مِنَ النَّارِ قَالَ فَيَأْتِيْهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُوْمِهَا قَالَ وَيَضِيْقُ عَلَيْهِ قَبْرُهُ حَتّٰى تَخْتَلِفَ فِيْهِ اَضْلَاعُهُ ثُمَّ يُقَيَّضُ لَهُ اَعْمٰى اَصَمُّ مَعَهُ مِرْزَبَةٌ مِنْ حَدِيْدٍ لَوْضُرِبَ بِهَا جَبَلًا لَصَارَ تُرَابًا فَيَضْرِبُهُ بِهَا ضَرْبَةً يَسْمَعُهَا مَابَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اِلَّا الثَّقَلَيْنِ فَيَصِيْرُ تُرَابًا ثُمَّ يُعَادُ فِيْهِ الرُّوْحُ». رواهُ احمد.

ترجمه : براء بن عازب ؓ وائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : قبر کښې مړی له دوه ملائک راځی، هغه کینوی دهغه نه تپوس کوی ستا رب څوك دے، هغه جواب ورکوی، زما رب الله دے بیا ترے تپوس کوی : ستا دین کوم یو دے، هغه جواب ورکوی، زما دین اسلام دے بیا ترے ملائك تپوس کوی، کوم سړے چه د الله دطرف نه تاسوته رالیږلے شوے وو هغه څوك دے۔ هغه وائی هغه د الله رسول دے، بیا ترے ملائك تپوس کوی، دا تاته چا اوخودل، هغه وائی ما د الله

کتاب لوستلے او په هغے مے ایمان راوړے او هغه مے رښتینے گنړلے دے (یعنی څوك چه په کلام الله ایمان راوړی هغه به مخکښ په رسول الله ﷺ ایمان راوړی) نبی ﷺاوفرمائیل : دا مطلب دے دالله تعالی ددے قول : یثبت الله الذین آمنوا بالقول الثابت (الآیه) یعنی الله تعالی هغه خلق ثابت قدم لری چه ثابت خبره باندے ایمان راوړی (آخر آیت پورے)، نبی ﷺ فرمائی : دآسمان نه آواز کونکے (الله تعالی یا دهغه حکم سره ملائك) په زور وائی : زما بنده رښتیا اووئیل۔نو هغه دپاره دجنت فرش اوغوړوئ او هغه ته دجنت لباس واغوندوئ، او هغه دپاره جنت طرفته یوه دروازه پرانیزئ (نو هغه دپاره دجنت دروازه پرانستلے شی) نبی ﷺ اوفرمائیل : (دهغے دروازے نه) هغه ته دجنت هواگانے اوخوشبوئی راځی، اود نظر دحده پورے هغه ته قبر فراخولے شی۔پاتے شو کافر، نو نبی ﷺ دهغه دمرگ ذکر اوکړو او هغے نه پس ئے اوفرمائیل : بیا دهغه روح دهغه جسم کښ اچولے شی او هغه له دوه ملائك راځی، هغه کینوی تپوس ترے کوی ستا رب څوك دے، هغه وائی : هاه هاه ماته نه دے معلوم، بیا ترے تپوس کوی، ستا دین کوم یو دے، هغه وائی هاه هاه ماته نه دے معلوم، بیا ترے تپوس کوی، دا سړے څوك دے چه د الله دطرفنه تاسو ته رالیږلے شوے وو، هغه وائی هاه هاه ماته نه دے معلوم، بیا آسمان نه یو آواز کونکے آواز اوکړی : دے دروغژن دے، ده دپاره داور فرش اوغوړوئ، داور لباس ورته واچوئ۔ده دپاره د دوزخ طرفته یوه دروازه پرانیزئ۔ نبی ﷺ فرمائی : ددوزخ نه هغه ته گرمے هواگانے او تاؤ راځی او وے فرمائیل : دهغه قبر هغه دپاره تنگ کړے شی، تردے چه دیخوا پښتئ ئے اخوا او اخوا پښتئ ئے دیخوا راوځی۔بیا په هغه یو ړوند اوکوڼ ملائك مقرر کړے شی چه هغه سره د اوسپنے داسے گرز وی که په غرئے راخلاص کړی، نو هغه به هم خاورے شی او هغه ملائك ئے په هغے گرز داسے وهی چه دهغه دچغو سورو آواز مشرق نه مغرب پورے تمام مخلوقات آوری خو پیریان او انسانان ئے نه آوری، او هغے وهلو سره هغه مړے خاورے شی، دے نه پس هغه کښ بیا روح اچولے شی۔(احمد، ابو داود)۔

تشریح : داحدیث مخکښ هم تیر شویدے لیکن هلته دصحیحینو الفاظ دی اودلته دسننو الفاظ دی، دا هم صحیح حدیث دے۔ یَأْتِیهِ : کښ ضمیر میت (مړی) ته راجع دے دلته دنبی ﷺ بیان نیم راخستے شویدے ځکه اضمار قبل الذکر واقع شویدے۔ نبی ﷺ دمړی بیان شروع کړے وو۔ فَیُجْلِسَانِهِ : یجلسان او یقعدان په یوه معنی دی دلته، لکه چه مخکښ تیر شو اگرچه دجلوس او قعود ترمینځه لغةً فرق دے، جلوس دولاړے نه ناسته ده، او قعود دملاستے نه ناسته ده۔ الَّذِیْ بُعِثَ فِیْکُمْ : مونږ مخکښ وئیلی ووچه دا الفاظ تفسیر دے دما هذا الرجل دپاره لکه په حدیث د انس کښ تیر شو۔ او الذی فیکم ورسره زیات کړو اشاره ده دے ته چه هذا کښ اشاره محسوس مشاهد ته نه ده بلکه معلوم مراد دے کوم چه پتاسو کښ را لیګلے شوے وو۔

قَرَأْتُ كِتَابَ اللهِ : عام احاديثو كښې درے تپوسونه راځي اودلته څلور تپوسونه ذكر دي. خو دا څلورم تپوس امتحاني تپوس نه دے بلكه داد كاميابئ نه پس تپوس دے لكه يو سړے امتحان كښې كامياب شي نو هغه نه تپوس اوكړے شي چه دا څنګه كامياب شوے، هغه اووائي ما كوشش ډير كولو، څكه دا علماؤ په تپوسونو كښې نه دے شميرلے. كتاب الله : ددے نه دا فائده معلومه شوه چه چا قرآن وئيلے وي او په مقصد دقرآن پوهه وي نو هغه به په قبر كښې په آسانئ سره جواب وركوي. څكه چه قرآن انسان ته رب ښائي، دين ورښائي او محمدرسول الله ﷺ ورښائي دا د قرآن موضوعات دي، نو دا شخص د قرآن په موضوع او حاصل باندے پوهه شويدے څكه داسے وائي. نور خلق هم قرآن وائي خو دمقصد نه ئے خبر نه وي، چه الله ماته څه وائي، هغوي هسے دفضائلو په نيت وائي چه په يو لفظ سره لس نيكئ ملاويږي، صرف تلاوتونه كوي، يا صرف لفظي ترجمه كوي، خو دا مقصد به ترے راوباسے هله به ډير فائده مند وي.

فَيُنَادِيْ مُنَادٍ : ددے حديث نه دعقيدے ډير مسائل ثابت دي : ۱ - دالله دپاره صفت دكلام ثابت دے، اود الله خبرے دحرف او صوت نه مركبے دي، څكه ينادي كښې نداء (الصوت الرفيع) (اوچت آواز) ته وائي. قرآن كښې هم دي ﴿ وَإِذْ نَادٰى رَبُّكَ مُوْسٰى ﴾ .اوپه كوم كلام كښې چه حرف اوصوت نه وي نو هغے ته سوچ او فكر وائي. دمعتزلو نه متاثر متاخرين د الله تعالى دحرف اوصوت نه منكر دي !!.

۲ - الله بره دآسمانونو دپاسه فوق العرش دے. من السماء پرے دليل دے. په (مناد) كښې دويم احتمال دا هم كيدے شي چه دے آواز كونكي نه مراد ملائك وي، او عبدي : څكه وائي چه دالله كلام ئے رانقل كړيدے. خو ظاهر اول احتمال دے. او عبدي : كښې اضافت تشريفي دے چه زما بنده دے زما بندګي ئے كړيده. وَأَلْبِسُوْهُ : اوده ته جامے وراواغوندوئ دجنت نه، البسوا بفتح الهمزه من باب الافعال. وَافْتَحُوْا لَهٗ بَابًا اِلَى الْجَنَّةِ : دلته قبر كښې دروازه پرانستے كيږي او دلته دآسمان نه آواز قبر كښې كيږي، نودا د ايمان بالغيب سره تعلق لري، ظاهر كښې كه قبر اوسپړے نو نه به بستره، نه به دروازه وي.

مِنْ رَوْحِهَا : الروح بفتح الراء راحت ته وائي. خوشبوئي ته هم وائي. او وَطِيْبِهَا : ئے عطف تفسير دے. مَدَّ بَصَرِهٖ : په اندازه داوګدوالي دنظر دده. يا په مقدار د نظر دده. مد : مصدر دے اوګدوالي ته وائي. مضاف حذف دے. اى مقدار مد بصره او منصوب دے على المصدرية (اى يفسح له فسحاً مقدار مد بصره) . مخكښې مقدار اويا په اويا ؤ كښې تير شويدے (سبعين في سبعين) اودلته مد البصر دے نو دا شخص ډير قوي ايمان والا دے، او هغه شخص دده نه درجه كښې ښكته دے. نودده رڼا زياته ده او هغه دپاره رڼا صرف داويا ګزو په اندازه ده.

فَذَكَرَ مَوْتَهٗ : يعني نبي ﷺ د هغه دمرګ حالات ذكر كړل نو دلته راوي نه الفاظ هير شويدي، يا غرض ئے اختصار كول دي.

وَيُعَادُ رُوْحُهٗ فِيْ جَسَدِهٖ : دا هغه حديث دے چه په دے کښ دروح واپس کيدل بدن ته په قبر کښ اول کرت ثابت دی۔او بيا دحديث نه معلوميږی چه دا روح ترينه بيرته اوځی اوجنت ته ځی، هميشه دپاره روح په بدن کښ نه وی پروت په قبر کښ۔نوددے نه سماع الموتی نه ثابتيږی او نه ترے حياة المقبور ثابتيږی، ځکه دا اول کرت دے چه روح جسد ته راځی، دوباره راتلو دپاره مستقل دليل پکار دے۔

افسوس او صد افسوس ! ډاکټر مسعود عثمانی بانی فرقه حزب الله په يو کتاب (عذاب قبر ص : ۲٦) کښ ليکلی دی چه امام احمدؒ دا روايت راوړيدے په خپل کتاب مسند کښ، په دے باندے کافر شويدے ځکه چه دے او دده نه علاوه نور علماء ددے قائل دی چه روح جسم ته راواپس کيږی په قبر کښ۔اوددے نه خو شرك پيدا کيږی۔بيا ليکی چه بعض خلق دا فروعی مسئله ګنړی ليکن دا دشرك اود توحيد مسئله ده، او اګرچه اکثر علماء په دے قائل دی خو داشرك دے (الی آخر هفواته) ۔

مونږ جواب کوو : چه څه دليل دے تاسره په دے خبره چه يو شخص دا خبره اومنی چه روح جسد ته راځی دا مشرك دے، آيا درسول الله ﷺ دخبرے نه شرك پيدا کيږی؟ چه هغه فرمائيلی دی : (يعاد فيه الروح) !! دغه شان يو ژوندی سړی کښ روح شته اوهغه ته څوك سجدے کوی، نو آيا ته به دا نه منے چه ده کښ روح شته، ځکه چه ددے نه شرك ولاړيږی ! غلطی او بد قسمتی خو دخلقو ده چه دمړو نه امداد غواړی، ددے دبندولو دپاره به خو د نصوصو نه انکار نه کوے، که مړی کښ روح واپس هم شی نو بيا به هم دچا مدد نشی کولے۔داسے خبره پکار ده۔په عقل باندے نص رد کول صحيح نه دی۔اودا خبره په صحيح سند سره ثابته ده امام احمدؒ او امام ابوداودؒ راوړيدے۔ هاه هاه : په سکون دهاء سره ددے لغوی معنی هيڅ نشته صرف استعماليږی په وخت ددهشت او حيرانتيا کښ چه ژبه ئے بنده شی۔

مَا هٰذَا الرَّجُلُ : دير عوامو خلقو ته دنبی ﷺ نوم هم معلوم نه دے، اودا هم نه پيژنی چه عربی وو که عجمی، کوم ځائے پيدا شويدے، اوکه تايوه دينی مسئله اوکړه اود هغه دمزاج خلاف وه نو بيا وائی : دا مذهب نه منی، نو دامسئله ورله ښه ورځی او په دين نه پوهيږی، دارنګه دامام صاحبؒ نوم هم نه ورځی خو هسے پړے دکتاب اوسنت خلاف مئين دے۔ دا چا غلط پوهه کړيدی ! ان کذب : دے کښ ئے عبدی رانه وړو ځکه دا د الله شرعی بنده نه دے ځکه چه داالله بندګی ئے نه ده کړے اګرچه ګونی بنده ئے دے الله پيدا کړيدے۔دا خبره ئے خو په ظاهره کښ رشتينے ده چه لا ادری وائی او په هيڅ دين روان نه وو، نو ديته ئے دروغ په دے وجه وئيلی دی چه دين دنبی ﷺ په ټوله دنيا کښ مشهور دے الله ښه دپوهے طاقت ورکړے وو خو ځان ئے په زوره ناپوهه ساتلے وو۔د روتیئ درك ورته ښه معلوم وو خو پيغمبر اودين نه ئے ځان نه خبرولو۔يا دا چه ښه پوهيدلو په دے

دین باندے خو جحود او انکار دنبوت او ددے دین نه ئے کړے وو۔نو ځکه دروغژن دے۔حرها : بفتح الحاء مع تشدید الراء ګرمئ ته وائي ۔اوسمومها : ګرمے هواګانے۔

يُقَيَّضُ لَهُ اَعْمٰى : بیا مقرر شي دده دعذاب دپاره ړوند اوکوڼ ملائك، ړوند ورله ځکه مقرروی چه په هرځائے اووهی، چه هیڅ رحم ئے پرے رانشي، داسے به نه وائي چه دا ځائے خوږ نشي۔ اوکوڼ ځکه مقرر دے چه دهغه چغے سورے نه اوری نو ښه تیز ګوذار به ورکوی۔دا زبانیه ملائك دی۔ **مِرْزَبَة** : ګرز۔ **لَصَارَ تُرَاباً** : دابعیده نه ده چه غردګرز (پلك) په وجه خاورے شي ځکه دنیا کښ ددے مثالونه شته دے لکه اتم بم اوڼور کیماوی بمونه اوجدید ټیکنالوجئ کښ داسے آلات شته چه غرونه خاورے کوی اودا خو به د الله جوړ شوے ګرز وی۔نودا به څومره زورور وی، دنیا کښ انسان د بجلی کرن ته نشي حصاربدلے۔نو دالله عذابونه خو ډیر سخت دی۔

يَسْمَعُهَا : داچغه ددے سری۔۲- یا دا وهل ټکول به ټول خلق اوری۔ **مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ** : دوه معنے دی : ۱- من المشرق الی المغرب۔۲- یا ښی طرف او ګس طرف والا خلق که لرے وی اوکه نزدے وی۔نو بناء په دے د یسمعها من یلیه والا روایت سره ئے تعارض دے، نو بیا به هغه تفسیر ددے روایت اوکرځی، یعنی هغه څوك به ئے اوری چه مابین المشرق والمغرب وی او ور ته نزدے وی۔۲- یا دا چه هغه حدیث کښ قلت دے او دے حدیث کښ کثرت ذکر دے، نو هغه جدا وحی ده اودا روسته وحی شویده۔نودا حدیث دهغه حدیث منافی نه دے ځکه چه دمابین المشرق والمغرب نه طرفونه مراد دی، او ابتداء نه ده مراد دلته دا احتمال شته، اګرچه دا یقینی خبره نه ده۔ **اِلَّا الثَّقَلَيْنِ** :---- انسانان اوپیریان ئے ځکه نه اوری چه ددنیا ژوند بیا ګرانیږی۔

۲ - اوامتحان نه راځی ځکه بیا خو مشاهده شوه، ایمان بالغیب نشو۔ **فیعاد فیه الروح** : ۱- فیه ضمیر یابدن ته راجع دے یعنی په دے بدن کښ بل روح اچولے شي۔

۲- یا تراب ته راجع دے یعنی دغه خاورو کښ روح اچولے شي۔ دا هغه مجمل لفظ دے چه دوه احتماله لری، یو احتمال دا چه په هغه بدن کښ روح راواپس کیږی یعنی بار بار ورته روح راګرځی، لیکن نور احادیثو نه معلومیږی چه روح په جنت کښ دے اودلته وائي چه بار بار بدن کښ اچولے شي نوددے دویمه معنی ظاهره ښکاره کیږی، هغه دا چه دلته ضمیر تراب ته راجع دے یعنی دا خاورے چه اول کښ بدن وو په دے خاورو کښ یو خاص قسم روح اچولے شي غیر دهغه روح نه کوم چه اصل کښ وو (یعنی بقدر ما یحس بالتعذیب والالم) (د عذاب او درد د محسوسولو) په اندازه روح په کښ اچولے شي۔والله تعالی اعلم۔

درجة الحديث : اسناده صحیح : رواه احمد وابوداود فی السنة باسناد صحیح ورواه البیهقی وقال : صحیح الاسناد والحاکم وقال : صحیح علی شرط الشیخین فهو حدیث صحیح۔

۸ - وَعَنْ عُثْمَانَ اَنَّهُ كَانَ اِذَا وَقَفَ عَلٰى قَبْرٍ بَكٰى حَتّٰى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ فَقِيْلَ لَهُ تَذْكُرُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَفَلَا تَبْكِيْ وَتَبْكِيْ مِنْ هٰذَا فَقَالَ: اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «اِنَّ الْقَبْرَ اَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الْآخِـرَةِ فَاِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ اَيْسَرُ مِنْهُ وَاِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ اَشَدُّ مِنْهُ قَالَ: وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَارَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ اِلَّا وَالْقَبْرُ اَفْظَعُ مِنْهُ». رواهُ الترمذيُّ وابن ماجه وقال الترمذيُّ : هذا حديث غريب.

ترجمه : عثمان ﷺ باره کښې نقل دي چه کله به هغه يو قبر سره اودريدو (نود الله دخوف نه) دومره به ئې ژړل چه دهغه ږيره به (اوښکو سره) لونده شوه هغوئ ته اووئيلے شو چه تاسو کله دجنت اودوزخ ذکر کوئے، نو(دومره) نه ژاړئے اودلته اودريدو سره ژاړئے؟ جواب کښې هغوی اووئيل : رسول الله ارشاد فرمائيلے دے : دآخرت په منزلونو کښې قبر اولنے منزل دے چاچه دے منزل نه نجات اوموندو، هغه ته دے نه پس آساني ده۔ اوچاچه دے منزل نه نجات اونه موندو، هغه ته دے نه پس سخته گراني ده۔ عثمان ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ما هيڅ کله يو منظر د قبر نه زيات سخت نه دے ليدلے۔(ترمذی، ابن ماجه)۔

تشريح : حَتّٰى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ : يبل لازم اومتعدی دواړه دے يبل دموعه لحيته نو لحيته منصوب دے يا فاعل دے ديبل او يبل په ضمه دباء سره من حد نصر۔

۱- فائده : مقبره کښې ژړل دصحابوؓ سنت عمل دے زمونږ زړونه سخت دی په مقبره کښې هم غافل يو۔ ۲- زيارة القبور سنت عمل دے، زيارت دوه قسمه دے : ۱- بالقصد (چه اراده اوکړے د زيارت)۔ ۲- بالمرور عليها (غير ارادے په طريقه پرے ور تير شے)۔ تفصيل به ئے په خپل ځائے کښې راشي۔ دارنگه زيارت بدعيه وزيارت شرعيه۔ فلا تبکی : دلته ورسره دا قيد دے فلا تبکی کثيراً، (يعنی په هغه مقام ډير نه ژاړے) يا مثل هذا۔(يا ددے په شان ژړا نه کوئے) ځکه چه صحابوؓ به دقرآن دتلاوت په وخت هم ژړل۔ **سوال** : عثمانؓ لره خو دجنت بشارت ورکړے شوے وو نو څنګه ئے ژړل ؟

جواب : ۱- ددے جواب مخکښې تير شو چه هيبت دالله پرے غالب وو، بشارت ئے ترينه هير کړے وو۔ ۲- يائے دغه بشارت مشروط بالشروط گنړو۔ په دے وجه هغه به دا شعر لوستلو ۔

فـان تـنـج مـنـهـا تـنـج من ذی عـظـيـمـة ✱ والا فـانـي لا اخـالك نـاجـيـاً

ترجمه : که ددے مصيبت نه خلاص شوے نو ډير لوئی مصيبت نه دے خلاصے بياموندو، گنے زه دريانديے دخلاصي موندونکی گمان نه کووم۔ بله داچه : بشارت بالجنة دعذاب قبر سره منافی نه دے۔ دارنگه دا دليل درقة القلب دے لکه نبی ﷺ به هم ژړل۔ ژړا هميشه دعذاب دليل نه وی۔

تنبيه : په حاشيه دمشکوة باندے ددے ژړا وجه داسے ليکی چه : (او وصلت اليه آحاد فلم يفد اليقين) يعنی عثمانؓ ته به دغه بشارت په طريقه دخبر واحد سره رسيدلے وی، ابو بكرؓ، عمرؓ به

ورتـه وئیلـے وی چـه تـا لـره نبی ﷺ دجنت زیرے درکړیدے، نو دهغه به پرے یقین نه وی راغلے ځکـه چه دا خبر واحد دے، او خبر واحد خو مفید د یقین نه وی بلکه گمان پیدا کوی نو ځکه ئے په مقبره کښې ژړل۔

خو داخبـره خـالـص بـکـواس دے چه ده کړیدے۔ د علم نه وړاندے خبره ده ځکه صحابه کرامؓ کـښې دا مسـئـلـه نـه وه چـه خبـر واحـد مفید دیقین نه دے۔ دا خو روستو معتزله او عقل پرستو خلقو را پیدا کړه، او مقلدینو ددغه معتزلو نه داخبره په جوش وخروش سره واخستله اودخپلو عقائدو یوه حصه ئے اوگرځوله اود بخاری اود مسلم صحیح احادیث ئے پرے رد کړل۔

بـلـکـه عـثـمـانؓ ته خو نبی اکرم ﷺ مخامخ بشارت ورکړیدے (علی بلوی تصیبه) نـو عثمانؓ رسول الله ﷺ ته متوجه شو، عرض ئے اوکړو (والله المستعان) نو داخبره غلطه ده، د قلت تتبع او د قلت علم بالحدیث نه پیدا شویده او د معتزلو د تأثر نه پیدا شویده۔

فَإِنْ نَجَا مِنْهُ : یـعـنـی کـه قبر کښې خلاص شی نو روسته به هم نجات بیامومی اوکه دے کښې خـلاص نـه شـو نـو روسـتـه بـه هم نشی خلاصیدے، لیکن دے کښې هم لګ تفصیل دے اوهغه داچـه ځینـے انسانان داسے دی چه په قبر کښې ئے الله را اونیسی او روستو ئے معاف کوی، دقبر درانیـولـو پـه وجـه سره انسان تـه گـنـاهـونه معاف کو ی، لکه دابه روستو راشی چه دګناهونو دختمـولـو دپاره لـس اسباب دی، یـو دهـغـے نه دقبر عذاب دے، نودلته دقبر عذاب نه به دا مراد واخستے شی چه الله په دے قبر کښې داسے راګیر کړو چه بالکل ئے معاف نه کړو د اول نه تر آخره پـورے، نـودا بـه بیا کافر و ی، اوهرچه مؤمن دے نواول کښې ئے الله راګیر کړی خو آخر کښې پرے آسانی راولی معاف ئے کړی، نو دعثمانؓ په قول کښې به دا توجیه کولے شی۔

مَـا رَأَيْتُ مَنْظَراً قَطُّ إِلَّا وَالْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ : افـظـع دفظع من باب کرم نه دے سخت او شنیع اومنکر ته وائی (ای اشد واشنع وانکر من ذلك المنظر) یـعـنـی ما په دنیاکښې هیڅ یو ننداره داسے قبیحه نه ده لیدلے مگر قبر دهغے نه ډیر قبیح او ناکاره منظر او ننداره ده۔ که دا منظر ددنیا پورے خاص شی نـو بیا اعتـراض نـه واردیږی چـه مخکښې څنګه اووئیل چه (فما بعده اشد منه) ځکه دنیا کښې دقبـر نه لوئی ناکاره منظر نشته، او هرچه آخرت دے نو هغه خو ډیر زیات سخت ناکاره دے،کما قـالـه الـسـنـدی۔ اوکـه ددے مـنـظـر نه عام منظر واخستے شی که دنیا کښې وی اوکه آخرت کښې، یـعـنـی پـه دنـیـا او آخـرت کښې ما دقبر نه لوئی ناکاره منظر نه دے لیدلے نو بیا هم صحیح کیږی ځکـه چه قبر د جهته د وحشت او انفرادیت نه ډیر ناکاره او خوفزده ځائے دے۔او آخرت په اعتبار دعذاب سره اشد دے نو جهتونه دشدت جدا جدا شو نو سوال دفع شو۔

درجة الحدیث : اسناده حسن : رواه احمد (۱/۶۳۔۶۴) والترمذی (۲۳۰۸) باسناد حسن غریب کما فی النسخ الموجودة وابن ماجه (۴۲۶۷) ورواه الحاکم وقال : صحیح الاسناد۔

۹- وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ: اسْتَغْفِرُوا لِأَخِيكُمْ ثُمَّ سَلُوا لَهُ بِالتَّثْبِيتِ فَإِنَّهُ الآنَ يُسْأَلُ». رواه ابو داود.

ترجمه: او عثمان ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به چه دمړي د ښخولو نه فارغ شو، نو قبر سره به اودريدو، خلقو ته به ئے اوفرمائيل: خپل ورور دپاره استغفار اوكړئ (ښښنه اوغواړئ) اود هغه د ثابت قدمئ دعاء اوغواړئ (چه الله تعالى هغه ثابت قدم اوساتى) ځكه چه اوس هغه نه پوښتنه كيږى-(ابو داود)-

تشريح: **وَقَفَ عَلَيْهِ**: دوقوف نه مراد حصاريدل دى ددعاء دپاره، برابره خبره ده كه ولاړ وى كه ناست وى- په دے دعاء كښ رفع اليدين هم راغلى دى په مسند ابى عوانه كښ كذا فى فتح البارى (۱۲۱/۱۱) عن ابن مسعود- او مسلم (۳۳۱/۱) كښ د عائشے نه نقل دى: (ثم رفع يديه ثلاث مرات)- دريے ځل ئے لاسونه پورته كړل-

په مقبره كښ د مړى ښخولو نه پس د مړى سر او خپوته د سورت بقرے داول او آخر لوستلو شرعى حيثيت

مقبره كښ قرآن لوستل دوه قسمه دى: ۱- مطلق- ۲- يوم الدفن- مطلقاً قرآن په مقبره كښ لوستل بدعت دے د امام مالك ابو حنيفه، احمد په نيز -اود امام شافعىؒ نه هيڅ روايت نشته، ليكن هغه فرمائى: مړى ته ثواب دقرأت نه رسيږى-نو دده په نيز هم بدعت دے، كما فى اقتضاء الصراط المستقيم (۷۴۴/۲) ومقدمة رياض الصالحين (۳/۱) وشرح العقيدة الطحاويه- امام نووى په رياض الصالحين ص(۳۱۳) رقم (۹۴۷) كښ فرمائى: امام شافعى فرمائى: مستحب ده چه د مړى په خوا كښ څه حصه د قرآن اولوستے شى او كه ټول قرآن ختم كړى نو دا ډيره ښه ده)-

ليكن شيخ الاسلام ابن تيميةؒ فرمائى: دا د امام شافعىؒ نه نه دى ثابت، (اقتضاء)-بلكه دا د امام شافعى د شاګردانو قول دے او امام نووىؒ پدے نسبت كښ خطاء شويدے چه ددے د اصحابو قول ئے امام شافعى ته منسوب كړيدے- نو په مقبره كښ قرآن لوستل مكروه دى په نيز دائمه اربعه ؒ باندے-او صاحبين دجواز قائل دى كما فى حاشية نور الايضاح-

دلائل دا دى: ۱- يو دا چه هيڅ صحيح مرفوع حديث د نبى ﷺ نه يا موقوف حديث د صحابوؓ نه په دے باره كښ ثابت نه دے-اوكوم پنځه روايات چه آثار السنن والا راوړيدى هغه ټول موضوعى دى- ۲- دويم دا چه: په دے كښ تشبيه ده ديهودو اونصاراؤ سره چه هغوى به په مقبره كښ خپل كتاب لوستلو- ۳- دريم دا چه: صحيح مسلم او مشكوٰة كتاب الجنائز كښ د عائشه رضى الله عنها حديث دے چه دے دنبى ﷺ نه تپوس اوكړو چه مقبره كښ به زه څه

وايم ؟ نو نبی ﷺ ورته دعاء اوخودله، نه قرآن لوستل۔اودا مقام دبيان دے، او تاخير دبيان د وخت دحاجت نه جائز نه دے۔نو که مقبره کښې قرآن لوستل جائز وے، نو ضرور به ورته رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے وے۔

٤- دارنګه باب فضائل القرآن مشکوة (١٨٤/١) کښې حديث دے (لا تجعلوا بيوتكم مقابر، فان البيت الذى تقرأ فيه البقرة لا يدخله الشيطان) - ترجمه : دخپلو کورونو نه مقبرے مه جوړوئ (چه لکه څنګه چه په مقبره کښې قرآن نه لوستلے کيږی دغه شان په کورونو کښې ئے هم نه لولئ) څکه هغه کور چه سورة بقره په کښې لوستلے کيږی هغے ته شيطان نه داخليږی)۔

نو په دلالة النص سره معلومه شوه چه مقبره کښې قرآن لوستل نشته، څکه که مقبره کښې قرآن لوستل جائز وے نو بيا تشبيه نه صحيح کيږی۔ ٢- دريم قسم قرآن لوستل دی د مړی د خخولو نه پس د هغه سر او خپو ته نو : په دے کښې درے اقوال دی : ١- امام ابو حنيفه، مالك او يو روايتِ قويه دامام احمد نه دادے چه دا مکروه بلکه بدعت دے۔وجه داده چه قرأت مشابه دے دمانځه سره او مونځ د قبرونو په خوا کښې منهی عنه دے، نو دغه شان قراء ت نه هم منهی عنه شو څکه قراء ت جزء د مانځه دے۔کذا فی شرح العقيدة الطحاويه والاقتضاء۔

٢- د بعض احنافو او امام محمدؒ اويو روايت دامام احمدؒ نه دادے چه قرأت عند القبور جواز لري۔ **دليل** : ابن عمرؓ وصيت کړے وو چه وقت الدفن ابتداء د سورة البقرة اوخاتمه د هغے په ما باندے اولولئ۔ **الجواب** : دا دروايت ضعيف دے، فيه عبد الرحمن بن العلاء بن اللحلاج وهو لين الحديث ۔٢- **جواب** : په دے روايت کښې خودا نشته چه د قبر سر اوخپو ته د اودريدلو او دقرآن د لوستلو وصيت ئے کړيدے، بلکه دا د دفن کولو په وخت لوستل دی۔او بل روايت دابن عمرؓ نه موقوفاً بيهقی په السنن الکبری (٤/ ١٤) کښې راوړيدے (اذا مات احدكم فلا تحبسوه، واسرعوا الى قبره وليقرأ عند رأسه فاتحة البقرة وعند رجليه بخاتمة البقرة۔آهـ ۔ **جواب** : په دے روايت کښې ايوب بن نهيك دے اودا ضعيف دے۔او موقوف روايت کښې عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج ضعيف دے، کذا فی تعليق احکام الجنائز ص (١٩٢) وکنز العمال (٧٣٤/١٥)۔

٣- **دريم قول** : يو روايت د امام احمدؒ نه فقط دادے چه د دفن نه بعد قراء ت د قرآن على الفور جواز لری، او بعد الدفن على التراخی بدعت دے څکه چه سنت کښې نه دے راغلے۔دا خو اختلاف العلماء وو۔اوس به راشو احاديثو ته، نو په هيڅ صحيح حديث کښې قرأت داول البقره وآخرها بعد دفن الميت نه دے ثابت۔ شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په الاقتضاء (٧٤٤/٢) کښې فرمائی : وقال مالك : ما علمت احداً يفعل ذلك، فعلم ان الصحابة والتابعين ما كانوا يفعلونه ۔ (**امام مالك** فرمائی : ما ته دا نه ده معلومه چه يو صحابی هم دا عمل کړے وی، نو معلومه شوه چه صحابه کرام او تابعينو به دا کار نه کولو) بلکه مقلدين دِے دا د امام ابو حنيفه نه ثابت کړئ چه هغه پدے وصيت

کړے وي یا د هغه د مرګ نه پس په هغه پسے دا لوستے شویوي۔ اود سورة یٰسٓ لوستلو باره کښې چه کوم حدیث راغلے دے هغه موضوعي دے، لکه شیخ البانیؒ په سلسلة الاحادیث الضعیفه رقم (۱۲۹۱) کښې تفصیلًا دهغے رد کړیدے دارنګه په تعلیق الآیات البینات ص (۱۲۸) کښې۔ تفصیل دپاره رساله (قرائة اول البقرة وآخرها علی المیت بعد الدفن) دمولوي عتیق الله صاحب اوګوره۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : رواه ابوداود في الجنائز (۳۲۲۱) وسکت علیه هو والمنذری وقال العزیزی : اسناده صحیح و البیهقي في الکبریٰ (۵٦/٤) وصححه الحاکم ووافقه الذهبي علی ذلك۔

---

۱۰ – وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ: «لَیُسَلَّطُ عَلَی الْکَافِرِ فِیْ قَبْرِهٖ تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ تِنِّیْنًا تَنْهَسُهٗ وَتَلْدَغُهٗ حَتّٰی تَقُوْمَ السَّاعَةُ لَوْاَنَّ تِنِّیْنًا مِنْهَا نَفَخَ فِی الْاَرْضِ مَا اَنْبَتَتْ خَضِرًا» رواهُ الدارمِيُّ، وَرَوَی الترمذیُّ نحوه.وقال سبعون بدل «تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ».

ترجمه : ابو سعید ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په کافر دهغه په قبر کښې یو کم سل اژدها ګانے مسلط کولے شي چه هغه به دقیامته پورے چیچي او هغه اژدهاګانے داسے دي که دهغے نه یوه اژدها هم په زمکه پُوك وهي نو زمکه به د شینکي زرغونولو نه محرومه شي۔(دارمي) او ترمذي نه هم دا قسم روایت نقل دے۔لیکن په هغے کښې دیوکم سلو په ځائے داویا عدد منقول دے۔

تشریح : تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ تِنِّیْنًا : تنین هغه اژدها ته وائي چه دډیروالي دز هرو په وجه ئے دسر نه ویښته غورځیدلے وي۔وروی الترمذي نحوه وقال : سبعون : دلته په ظاهره کښې تعارض دے۔نو ددے دتطبیق دپاره بعضو دا وئیلي دي چه (۹۹) اژدها ګانے به دهغه کافر دپاره وي چه هغه متبوعین او داعیان دي دکفر۔او (۷۰) به دهغه کفارو دپاره وي چه دهغوی تابعدار وي په کفر کښې۔ ۲– دویم تطبیق داسے شویدے چه سبعون دعربو په نیز دکثرت دپاره ذکر کیږي، یعني ډیر ماران به په کافر باندے مسلط کیږي چه دهغه ډیرو تعیین په (۹۹) سره شویدے۔ ۳– یا دا چه دکفارو مختلف احوال دي، نو دبعضو دپاره (۹۹) اود بعضو دپاره (۷۰) ماران دي۔لیکن صحیح خبره داده چه د ترمذي روایت ضعیف جداً دے۔فیه عبید الله بن الولید الوصافي وهو واهٍ۔نو دتطبیق ضرورت نشته۔دتسعه وتسعون روایت صحیح دے، په همدے به عمل وي۔

فائده : تسعة وتسعون کښې ددے عدد حکمت څه دے؟ ، نو دا الله تعالی ته ښه معلوم دے، عقل په دے کښې کار نه کوي، بس دمؤمن دپاره ئے منل ضروري دي، اویا ئے حکمت دادے چه نهه نوي ئے ځکه ذکر کړل چه دے کافر د الله د (۹۹) نومونو نه انکار کړے وو، دهغے سره ئے شرك پیدا کړے وو نو الله ورله دهغے په مثل عذاب ورکوي۔ځکه چه جزاء من جنس العمل او

موافق العمل وی۔تنهسه وتلدغه : دلته دواړه په یوه معنی سره استعمال دی او په عام عربئ کښې ددې فرق دادې چه نهس په غابنونو چیچلو ته وائي او لدغ په لکئ چیچلو ته وئیلې شي نو دلته به ئې ماران په خوله باندې خوري او لړمانان په لکئ باندې۔ما انبتت خضراً : داد الله ایتم دې چه دومره اثر کوي چه ددې مار په پوکې کولو سره ددنیا هیڅ شینکې نه رازرغونیږي۔

درجة الحديث : اسناده حسن: رواه الدارمي وفي اسناده دراج ابو السمح عن ابي الهيثم وهو ضعيف في روايته عن ابي الهيثم لكن رواه ابن حبان (۳۹۲/۷) بتحقيق شعيب الارناووط بسند آخر ليس فيه ابوالهيثم بل فيه عن جداح ابن حجيرة وهذا اسناد حسن لان دراج في نفسه صدوق وكذا اخرجه الطبري في جامع البيان (۲۲۷/۱۶) باسناد آخر وروى موقوفا على ابي سعيد الخدري عند الطبري وابن كثير في التفسير فصار الحديث صحيحاً والحمد لله۔

الفصل الثالث

۱۱- عَنْ جَابِرٍ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اِلٰى سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ حِيْنَ تُوُفِّيَ فَلَمَّا صَلّٰى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَوُضِعَ فِيْ قَبْرِهٖ وَسُوِّيَ عَلَيْهِ سَبَّحَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَسَبَّحْنَا طَوِيْلًا ثُمَّ كَبَّرَ فَكَبَّرْنَا فَقِيْلَ يَارَسُوْلَ اللهِ! لِمَ سَبَّحْتَ ثُمَّ كَبَّرْتَ قَالَ: «لَقَدْ تَضَايَقَ عَلٰى هٰذَا الْعَبْدِ الصَّالِحِ قَبْرُهٗ حَتّٰى فَرَّجَهُ اللهُ عَنْهُ». رواه احمد.

ترجمه : جابر ﷺ نه روایت دې کله چه سعد بن معاذ وفات شو نو مونږ رسول الله ﷺ سره دهغه جنازې له ورغلو، رسول الله ﷺ چه کله دجنازې مونځ اوکړو، او هغه په قبر کښې کیښودې شو او خاوره پرې برابره کړې شوه، نو رسول الله ﷺ تسبیح (سبحان الله) اووئیله۔بیا مونږ هم ډیر ساعت تسبیح اووئیله، بیا رسول الله ﷺ الله اکبراووئیلو، مونږ هم تکبیر اووئیلو، بیا رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو، یارسول الله! تاسو تسبیح او بیا تکبیر ولې اووئیلو؟ وې فرمائیل : په دې صالح بنده دده قبر تنگ کړې شو، بیا الله زمونږ د تسبیح او تکبیر په وجه هغه فراخه کړو۔(احمد)۔

تشريح : سَبَّحَ : دلته تسبیح په دې خاص موقع کښې وئیلې شویده، هرځائې د مړي ښخولو نه پس تسبیح (سبحان الله) لوستل سنت نه دی، دا وجه ده صحابو تپوس کړیدې چه دا مو ولې اولوستله، ځکه چه دا دنبی علیه السلام عادت نه وو۔لقد تضایق : دلته دنبی علیه السلام معجزه ښکاره شویده چه قبر ورته منکشف شویدې۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه احمد باسناد فيه مقال، فيه محمود بن عبد الرحمن بن عمرو بن الجموح وهو مجهول، ولكن يؤيده الحديث الآتي۔

۱۲- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : هٰذَا الَّذِيْ تَحَرَّكَ لَهُ الْعَرْشُ وَفُتِحَتْ لَهٗ

اَبْوَابُ السَّمَاءِ وَشَهِدَهُ سَبْعُوْنَ اَلْفاً مِنَ الْمَلَائِكَةِ لَقَدْ ضَمَّ ضَمَّةً ثُمَّ فُرِّجَ عَنْهُ ». رواه النسائیُّ

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : دا (سعد بن معاذ) هغه سړے دے چه هغه دپاره عرش حرکت اوکړو (یعنی د هغه پاك روح چه آسمان ته اورسید نو عرش دخوشحالئ اظهار اوکړو) او هغه دپاره دآسمان دروازے پرانستے شوے اود هغه په جنازه کښې اویا زره ملائك حاضر شول، بیشکه د هغه قبر تنگ کړے شو بیا هغه تنگی لرے کړے شوه او د هغه قبر فراخه شو۔(نسائی)۔

تشریح : حدیث کښې مقصود د قبر هیبت شان بیانوی چه اوګوره په دومره عظیم شخصیت باندے داسے حالت راغلو نوزما او ستا به څه حال وی نو پدے کښې امت ته لویه یره پرته ده۔

هٰذَا الَّذِیْ تَحَرَّكَ لَهُ الْعَرْشُ : د عرش دخوزیدو وجه دا وه چه د هیبت په وجه خوزیدلے دے چه دومره لوئی صالح شخص وفات شو او عرش اگرچه جماد دے خو الله په کښې ادراك واچولو۔ ۲- یا شوقاً وکرامةً خوشحاله شویدے چه دده روح الله پورته راوخیژولو، دابه د (فما بکت علیهم السماء والارض) پشان وی چه آسمانونه اوزمکے د مومنانو پسے ژاړی۔ وشهده سبعون : منافقانو وئیلی وو دده جنازه ډیره سپکه ده، نبی علیه السلام اوفرمائیل : دا ملائکو اوچته کړیده څکه سپکه ده منافقانو دا څکه وئیل چه ده دبنو قریظه په باره کښې د قتل فیصله کړے وه نو هغوی دیهودو په قتل خفه وو، ده ته ئے غصه کیدله۔ لقد ضم : صیغه دمجهول ده۔(ای ضُمَّ القبر علیه ضُمَّةً) (قبر پرے رایو څائے او تنگ کړے شو)۔

سوال : سعد بن معاذ ؓ ولے قبر نیولے دے، سره ددے نه چه دا خو اوچت مؤمن او صحابی دے ؟ نو ددے بنه وجه دا ده : ۱ - چه ضغطة القبر (قبر تنگیدل) په هر مؤمن او کافر باندے شته دے لیکن کافر باندے همیشه وی او مؤمن باندے لږ ساعت وی۔ کله چه ابتداءً قبرته کوز کړے شی، څکه چه انسان باندے دقبر هیبت طاری وی۔ ناشنا مخلوق سره ملاؤ شی۔ اوددے وجه حکیم ترمذی داسے بیان کړیده چه هر شخص په دنیا کښې گناه کړے وی اگرچه مؤمن وی، نو زمکه ئے رانیسی د هغے جزاء ورکوی، اگرچه روسته د الله د رحمت په وجه ددے تنگسیا نه خلاص شی۔

۲- دویمه وجه چا دا بیان کړیده چه ده به دبول نه ډیر څان نه ساتلو لکه طبقات دابن سعد او دلائل النبوة د بیهقی (٤ جزء/ ٨٤) کښې ددے باره کښې روایت موجود دے۔ ۳- دریمه وجه چا دا ذکر کړیده چه قبر دمحبت د وجے نه رانیولے دے لیکن دا وجه صحیح نه ده څکه چه دلته نبی علیه السلام تکبیر وئیلے دے د تعجب د وجے نه۔ دغه شان دعاء ئے کړیده چه یا الله دا مصیبت ترے لرے کړه۔ په روایت دابن سعد او طبرانی اوسط (١٤/ ٣٥٩) کښې راځی : لونجا احد من ضغطة القبر لنجا سعد)۔وفی روایة عند السلسلة (لو نجا احد من عذاب القبر لنجا هذا) (لو نجا منه احد لنجا

سعد بن معاذ) - (موسوعة اطراف الحديث : ٦/٧٨٨)

(یعنی که یو تن د قبر د تنګئ نه نجات موندلے نو سعد به موندلے وے) خو دا په هر چا باندے شته او دا تنګی د قبر هم یو قسم عذاب دے ځکه ترے کله تعبیر کوی په عذاب القبر سره)۔

ثُمَّ فُرِّجَ عَنْهُ : ١- بیا پرے فراخی راغله او دا تنګی لرے شوه د الله په رحمت۔ ٢- یا دده د صلاحیت او نیك عملئ په وجه۔ ٣- یا په دعاء د نبی صلی الله علیه وسلم۔

درجة الحديث : اسناده صحيح على شرط مسلم : اخرجه النسائى (٢٨٩/١) الصحيحة (١٦٩٥)

١٣- وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ اَبِيْ بَكْرٍ قَالَتْ: قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خَطِيْبًا فَذَكَرَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ الَّتِيْ يُفْتَنُ فِيْهَا الْمَرْءُ فَلَمَّا ذَكَرَ ذٰلِكَ ضَجَّ الْمُسْلِمُوْنَ ضَجَّةً». رواه البخارى هكذا وزاد النسائىُّ: حَالَتْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ اَنْ اَفْهَمَ كَلَامَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَلَمَّا سَكَنَتْ ضَجَّتُهُمْ قُلْتُ لِرَجُلٍ قَرِيْبٍ مِنِّيْ اَىْ بَارَكَ اللهُ فِيْكَ مَاذَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ آخِرِ قَوْلِهٖ قَالَ: قَالَ: «قَدْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّكُمْ تُفْتَنُوْنَ فِي الْقُبُوْرِ قَرِيْبًا مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ».

ترجمه : اسماء بنت ابی بکرؓ نه روایت دے یوه ورځ رسول الله ﷺ خطبے دپاره اودریدلو اود قبر د فتنے ذکرئے اوفرمائیلو چه هغے کښ انسانان مبتلا کولے شی نو دهغے په ذکر سره مسلمانان په ژړا انګولا شو۔ دا روایت بخاری کریدے او نسائی دومره نور زیات بیان کریدے چه (دخوف اوویرے په وجه) دمسلمانانو دچغو سورو په سبب ما د نبی ﷺ الفاظ وانه وریدے شو، هرکله چه ژړا انګولا بنده شوه نو ما خپل نز دے ناست یو سړی نه تپوس اوکړو، الله دے تاته برکت درکړی (یعنی ستا علم او حلم کښ دے زیاتے اوشی) آخرکښ رسول الله ﷺ څه اوفرمائیل : هغے سړی اووئیل : نبی ﷺ اوفرمائیل : په ما دا وحی راغلے ده چه تاسو به قبرونو کښ فتنه کښ واچولے شئ (یعنی تاسو به ازمائیلے شئ) اودا ازمائش او امتحان به د دجال فتنے ته نزدے نزدے وی۔

تعارف داسماء رضی الله عنها : د ابو بکر صدیقؓ لور اود زبیر بن العوامؓ بی بی اود عبد الله بن الزبیرؓ مور ده۔ دیته ذات النطاقین وائی ځکه چه دے خپل نطاق (کمربند) دوه ټکرے کړے وو په هغه شپه چه ابو بکر او نبی ﷺ هجرت کولو اود هغوی سامان ئے پرے تړلے وو، اتلسمه مسلمانه ده، هجرت ئے مدینے ته کریدے په هغه وخت کښ حامله وه په عبد الله باندے۔ دخپل ځوئے عبد الله دقتل نه لس ورځے روسته په زمانه دحجاج کښ په مکه کښ سنه (٧٣ هـ) کښ وفات شویده۔ سل کاله عمرئے وو او یو غاښ ئے نه وو ختلے او ذهن کښ ئے څه خلل هم نه وو واقع شوے۔(٥٦) احادیث ترینه نقل دی۔ رضی الله عنها۔

تشریح : خَطِيْبًا : (اى بعد ما صلى صلاة الكسوف)، (د صلاة الكسوف مونځ نه پس ئے تقریر

اوکړو) دلیل دے چه صلاة الکسوف نه پس مختصره خطبه د ترهیب دخلقو دپاره سنت عمل دے۔ قَرِيبًا : دوه معنے دی : ۱- یو دا چه قریباً یعنی ددجال دفتنے هومره سخته ده۔ ۲- یا قریباً الی زمان فتنة المسیح الدجال (یعنی د دجال د فتنے د زمانے پورے به د قبر عذاب وی او د دجال د راتلو نه روسته به خلویښت کاله عذاب قبر نه وی۔(بخاری فی التفسیر) لکه دا خبره ابی بن کعب، حسن، مجاهد اوقتاده رحمهم الله ذکر کړیده۔ (تفسیر ابن کثیر (۵۷۴/۳)) سورة یس)۔

ضَجَّ الْمُسْلِمُونَ : دصحابو د زړه نرمی او ایمان ترینه معلوم شو چه د نبی ﷺ خبره داسے ګڼړی ګویا دسترګو مخامخ حال۔ ای : دا حرف نداء ده منادی ئے محذوف ده ای فلان.

فائده : دسړونه تعلیم زده کول جواز لری کله چه پرده وی۔

فائده ضروریه : اسباب النجاة من عذاب القبر :

دعذاب قبر نه دخلاصیدو یوڅو اسباب دی چه احادیثو کښ بعض صراحةً ذکر دی اوبعض د اصولو د دین نه معلومیږی استنباطاً : ۱- اول سبب : د بول (متیازو) نه ځان ساتل۔ ۲- شهادت فی سبیل الله : شهید باندے عذاب قبر نه وی۔ ۳- دجُمعے په ورځ باندے دمومن سړی مرګ سبب دے دنجاة دعذاب قبر نه یا دجُمعے په شپه۔ ۴- څلورم سبب : عذاب قبر همیشه یادول او دهغے نه ویریدل (اکثروا ذکر هاذم اللذات) ۵- پنځم سبب : دعذاب قبر نه پناه غوختل (لکه نبی ﷺ به فرمایل : اللهم انی اعوذ بك من عذاب القبر وفی روایه ومن فتنة القبر) ۶- شپږم سبب : کثرة ذکر الله عز وجل (الله ډیر یادول) (لیس شیٔ انجی من عذاب الله من ذکر الله). (د الله د عذابونو نه د الله د ذکر نه علاوه بل شے دومره خلاصونکے نه دے)

اسباب عذاب القبر : ۱- الغفلة عنه (د قبر او د هغے د عذابونو نه غفلت) .۲- عدم التنزه من البول (د متیازو نه ځان نه ساتل) .۳- الغیبة والنمیمة .(غیبت او چغلی کول)

۱۵- وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «إِذَا أُدْخِلَ الْمَيِّتُ الْقَبْرَ مُثِّلَتْ لَهُ الشَّمْسُ عِنْدَ غُرُوْبِهَا فَيَجْلِسُ يَمْسَحُ عَيْنَيْهِ وَيَقُوْلُ دَعُوْنِيْ أُصَلِّيْ». رواه ابن ماجه.

ترجمه : جابر رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل : هرکله چه مړے (مؤمن) قبر کښ دفن کړے شی نو هغه ته د نمر متشکل کړے شی د پریوتو په وخت کښ نو هغه مړے (قبر کښ) کینی لاسونو سره سترګے مږی او وائی ما پریدئ چه مونځ اوکړم .(ابن ماجه).

تشریح : مُثِّلَتْ لَهُ الشَّمْسُ عِنْدَ غُرُوْبِهَا : یعنی نمر ورته راښکاره شی یعنی داسے قبر ورته رڼرا وی لکه چه دمازیګر وخت دے زیړے نمر دے حقیقت کښ نمر نشته خو ده ته داسے رڼرا ښکاری، دا صرف دمومن دپاره کیږی۔اشاره ده چه مومن سړی باندے الله تعالیٰ په قبر کښ بد حال نه راولی۔

يَمْسَحُ عَيْنَيْهِ : دا اشاره ده دده راحت ته چه گویا دخوب نه راپاسیدو هیڅ عذاب پرې نه وو.
دَعُوْنِیْ اُصَلِّیْ : دا اشاره ده غلبې دهغه حالت ته چه په ده باندې په دنیا کښې وو، لکه یو سړې دمانځه پابند وی نو که غرمه اوده شی او بیا راپاسی نو زر هیبت کښې شی چه ګنې دسحر مونځ رانه اوشو، خو دنیا کښې چه دمانځه غم ورسره وی نو په قبر کښې هم ورسره دمانځه غم وی، نو ملائك ورته وائی چه اوس مونځونه ختم شویدی اوس اوده شه (بیا دا خبره یاد لرل پکار دی چه په قبر کښې مونځ کول ددې نه څه شرك نه لازمیږی، انبیاء علیهم السلام نه دا کار ثابتیږی تلذذاً، (خوند حاصلولو دپاره) لکه حدیث کښې دی : رأیت موسی یصلی فی قبره ، (ما موسی علیه السلام اولیدو چه په قبر کښې ئې مونځ کولو) یو صحابی په قبر کښې (تبارك الذی) سورت لوستلې وو، ثابت البنانی (د انس بن مالك شاګرد) چه کله قبر کښې خخیدلو نو هغه سجده اوکړه پس دمرګ نه، نو ددې نه بیا داهم نه معلومیږی چه مړې په قبر کښې داسې ژوندې وی لکه دنیا کښې، بلکه دا د برزخ په لحاظ ژوندی دی، ځکه دا تلذذی عبادات دی، تکلیفی نه دی.
بعض خلق وائی : انبیاء علیهم السلام په قبرونو کښې د دنیا دژوندون په شان ژوندی دی، مونږ وایو ټول مؤمنان، کفار وغیره ژوندی دی خو دا برزخی ژوند دې، دنیا ته نه راواپس کیږی چه تصرفات اوکړی، او په دغه ژوند کښې د چا مزی وی او په چا لمبې وی.
درجة الحديث : اسناده حسن : رواه ابن ماجه فی الزهد (٤٣٢٦) قال فی الزوائد : اسناده حسن وروی مثله عن ابی هريرة عند ابن حبان فی صحيحة والطبرانی فی الاوسط.

١٦- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ: ((اِنَّ الْمَيِّتَ يَصِيْرُ اِلَى الْقَبْرِ فَيُجْلَسُ الرَّجُلُ فِیْ قَبْرِهٖ غَيْرَ فَزِعٍ وَلَا مَشْغُوْبٍ ثُمَّ يُقَالُ لَهٗ: فِيْمَ كُنْتَ؟ فَيَقُوْلُ: كُنْتُ فِی الْاِسْلَامِ. فَيُقَالُ: مَا هٰذَا الرَّجُلُ؟ فَيَقُوْلُ: مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ جَاءَ نَا بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ عِنْدِ اللهِ فَصَدَّقْنَاهُ فَيُقَالُ لَهٗ هَلْ رَأَيْتَ اللهَ؟ فَيَقُوْلُ: مَا يَنْبَغِیْ لِاَحَدٍ اَنْ يَرَى اللهَ فَيُفَرَّجُ لَهٗ فُرْجَةٌ قِبَلَ النَّارِ فَيَنْظُرُ اِلَيْهِ يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا فَيُقَالُ لَهٗ اُنْظُرْ اِلٰى مَا وَقَاكَ اللهُ ثُمَّ يُفَرَّجُ لَهٗ فُرْجَةٌ قِبَلَ الْجَنَّةِ فَيَنْظُرُ اِلٰى زَهْرَتِهَا وَمَا فِيْهَا فَيُقَالُ لَهٗ: هٰذَا مَقْعَدُكَ عَلَى الْيَقِيْنِ كُنْتَ وَعَلَيْهِ مِتَّ وَعَلَيْهِ تُبْعَثُ اِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى وَيُجْلَسُ الرَّجُلُ السُّوْءُ فِیْ قَبْرِهٖ فَزِعًا مَشْغُوْبًا فَيُقَالُ لَهٗ: فِيْمَ كُنْتَ؟ فَيَقُوْلُ: لَا اَدْرِیْ فَيُقَالُ لَهٗ مَا هٰذَا الرَّجُلُ؟ فَيَقُوْلُ: سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُوْلُوْنَ قَوْلًا فَقُلْتُهٗ فَيُفَرَّجُ لَهٗ فُرْجَةٌ قِبَلَ الْجَنَّةِ فَيَنْظُرُ اِلٰى زَهْرَتِهَا وَمَا فِيْهَا فَيُقَالُ لَهٗ: اُنْظُرْ اِلٰى مَا صَرَفَ اللهُ عَنْكَ ثُمَّ يُفَرَّجُ لَهٗ فُرْجَةٌ اِلَى النَّارِ فَيَنْظُرُ اِلَيْهَا يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا فَيُقَالُ لَهٗ هٰذَا مَقْعَدُكَ عَلَى الشَّكِّ كُنْتَ وَعَلَيْهِ مِتَّ

وَعَلَيْهِ تُبْعَثُ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى» رواه ابن ماجه.

ترجمه : ابو هريره ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : هركله چه مړے قبر ته دننه اورسی (يعنی هغه دفن کړے شی) نو نيك بنده قبر کښې دننه راپاسی داسے کينی چه نه خو هغه خوف زده وی او نه ويريدلے۔ بيا هغه نه تپوس کيږی چه ته په کوم دين وے، هغه وائی زه په دين اسلام ووم، بيا هغه نه تپوس کيږی داسړے (محمد ﷺ) څوك دے؟، هغه وائی محمد (ﷺ) دالله رسول دے چه د الله دطرفنه مونږ ته ښکاره دليلونو سره راغلو او مونږ ئے تصديق اوکړو، بيا هغه نه تپوس کيږی آيا تا الله ليدلے دے؟، هغه جواب کښې وائی چه الله تعالی څوك نشی ليدلے، دے نه پس هغه دپاره يو روشن دان دوزخ طرفته پرانستے شی او هغه اخوا گوری (اود اُور لمبے ورته داسے په نظر راځی چه گويا هغه يو بل خوری) او هغه ته وئيلے شی دا څيز اوګوره چه الله تريے ته بچ کړے ئے بيا هغه دپاره يوه کړکۍ جنت طرفته پرانستلے شی هغه دجنت تروتازگی اود هغے څيزونه وينی بيا هغه ته وئيلے شی دا ستا ټيکاونړه ده ځکه چه ستا عقيده مضبوطه او په هغے ستا کامل يقين وو، او ددے يقين او اعتماد حالت کښې ته وفات شوے اوپدے حالت به ته (دقيامت په ورځ) پاسولے شے که الله اوغواړی۔ او بدکار بنده قبر کښې خوف زده او ويرے سره کينی، هغه نه تپوس کولے شی، ته په کوم دين وے؟ هغه وائی ما ته نه ده معلومه بيا تريے تپوس کيږی داسړے (محمد ﷺ) څوك وو؟ . هغه وائی ما چه دخلقو نه څه آوريدل هغه مے وئيل، دے نه پس هغه دپاره جنت طرفته يو روشن دان پرانستے شی چه هغے نه دجنت تروتازگی اود هغے څيزونه وينی، بيا هغه ته وئيلے شی دے څيز طرفته اوګوره چه الله تعالی تانه گرځولے دے، بيا هغه دپاره دوزخ طرفته يوه کړکۍ پرانستے شی او هغه وينی چه داُور شغلے يوه بله خوری او هغه ته وئيلے شی دا ستا ټيکاونړه ده۔ دهغے شك په سبب چه ته په کښې مبتلا وے اوپه هغے ته مړ شوے اوپه هغے به اوچتولے شے که الله تعالی اوغواړی.

تشريح : **فَيُجْلَسُ الرَّجُلُ** : صيغه دمضارع مجهول ده دباب افعال نه يا معلومه صيغه ده دمجردو نه او رجل نه مراد نيك سړے دے لکه دا په روايت دابن ماجه کښې ورسره ذکر دے.

غَيْرَ فَزِعٍ : منصوب دے بنا بر حاليت.

وَلَا مَشْغُوْبٍ : چه شور ورته نه وی شوے کله چه انسان نه يريږی او نه ورته شور کيږی نو هغه دير ښه دامتحان جواب ورکولے شی، بعضو نسخو کښې دا لفظ مشعوف دے دشعف نه ماخوذ دے هغه سختيے ويرے ته وائی چه زړه ختموی۔ فيم کنت : يعنی تا په کوم دين کښې ژوند تيرولو.

هَلْ رَاَيْتَ اللّٰهَ : يعنی تا الله ليدلے دے ،دا ورته ځکه وائی چه تصديق درسول الله ﷺ دا فرع د تصديق د الله ده، نو آيا تا الله ليدلے دے چه د هغه درسول تصديق کوے؟ .

مَا يَنْبَغِيْ : يعني الله په دنيا كښ ليدل دانسانانو دپاره مناسب نه دی، او هرچه قيامت دے جنت دے نو په هغے كښ به ئے مومنان او كفار وينی لكه چه دا د قرآن او احاديثو نه واضحه ده۔ يحطم بعضها بعضاً : چه ماتوی بعض بعضو لره، دا ورته څكه وربنائی چه دنعمتونو مزه ئے ډيره شی۔ بيا دے حديث كښ دا راغلل چه درؤية الله تپوس هم ترينه كيږی اونورو حديثونو كښ دا تپوس نشته، نو ددے جواب دادے چه انسانان مختلف دی، نو دهر چا نه جدا جدا تپوسونه كيږی، تولو نه يو شان تپوس نه كيږی، اودا بنه جواب دے، دويم جواب دادے چه درؤية الله رجع هم (من ربك) ته كيږی۔

وَعَلَيْهِ تُبْعَثُ : څكه دا قانون شرعی دے چه (يبعث العبد علی مامات عليه) .(انسان به په هغه حالت راپورته كولے شی په كوم چه وفات شوے وی)۔

فيقول لا ادری : يعنی ماته هيڅ دين نه دے معلوم چه زه په كوم دين اوم .كله چه انسان داسے حالت ته اورسی چه ژوند تيروی اود هيڅ نه خبر نه وی دخپل ژوند مقصد ورته معلوم نه وی نو علماء وائی دا انسان كافر دے۔د مسلمان زړه كښ خامخا څه نه څه دخير اراده وی .

٢- يا دلته گناهگار شخص مراد دے اولا ادری څكه وائی چه دهيبت دوجے نه ترينه دين هير شو۔ والظاهر هو الاول۔ الی الجنه : دا ورته څكه بنائی چه عذاب ئے زيات شی . اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰی : لفظ دتبرك دپاره وائی شك دپاره نه دے، او يا هرشے دالله په مشيئت كښ دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه ابن ماجه وقال فی الزوائد : اسناده صحيح ورواه النسائی فی التفسير وله شاهد من حديث البراء رواه ابوداود فی سننه وعن عائشة اخرجه احمد باسناد صحيح وذكره المنذری فی ترغيبه۔



باب الاعتصام بالكتاب والسنة

کتاب او سنت باندے منګولے لګول

کتاب نه مراد کتاب الله یعنی قرآن کریم دے او سنت نه مراد دنبی کریم ﷺ اقوال، افعال او احوال دی چه دهغے دمجموعے نوم (حدیث) دے۔ دے ته دین اوشریعت هم وائی۔

مناسبت ددے باب دما قبل سره : ١ – دادے چه مخکښ ایمان او فضائل دهغے بیان شو۔ اوس بیان دمصدر الایمان دے چه ایمان دکوم ځائے نه زده کړو نو هغه کتاب او سنت دی۔ نو ایمان د قرآن او سنت نه زده کیږی، نو کوم خلق چه دا وائی چه د قرآن نه ایمان نه زده کیږی غلط وائی۔

٢-مناسبت : مخکښ عذاب قبر بیان شو اوس دا بیانوی چه دعذاب قبر نه د خلاصیدو سبب دادے چه په قرآن اوسنت باندے انسان منګولے اولګوی۔

ددے **باب خلاصه** یو څو خبرے دی : ١- یو په کښ فضائل دتابعدارئ دقرآن اوسنت ذکر دی۔ ٢- دویم : بدعاقبت دهغه چاچه تابعداری دکتاب اوسنت نه کوی۔ ٣- دریم : دهر قسمه بدعاتو نه ځان ساتل۔(التحذیر من البدع والتعمقات فی الدین) ٤ – څلورم : الاکتفاء بالکتاب والسنة – یعنی قرآن اوسنت باندے کفایت کول، اودا کافی ګنړل په هر باب کښ اودیته رجوع کول۔ او د یو عالم د علماؤ تقلید نه کول، بلکه خالص د الله او د رسول تجرید المتابعت کول۔

تشریح : اعتصام دعصمت نه ماخوذ دے په معنی دمنګولے لګولو سره راځی ای التمسك ﴿واعتصموا بحبل الله﴾ آل عمران : ١٠٣) ۔ای تمسکوا۔ یعنی د قرآن او سنت په حقانیت باندے عقیده ساتل او څه چه په دے کښ ذکر دی په هغے باندے عمل کول اود بدعاتو نه ځان ساتلو ته اعتصام وائی۔ اودکتاب معنی لغوی جمع کول دی : کتب الابل فی الحظیرة ای اجتمعت ۔(اوښان په پنغاړی کښ جمع شو) ٢- دویم کتاب دکتب نه ماخوذ دے لیکلو ته وائی۔ اوقرآن ته ځکه کتاب وئیلے شی چه دا هم راجمع کړے شوے او لیکلے شویدے۔ او الکتاب معرف باللام چه په شریعت کښ مطلق ذکر شی مراد ترینه کتاب الله (قرآن کریم) وی لکه په نحو کښ چه ذکر شی مراد ترینه کتاب دسیبویه وی۔ اود کتاب الله بهتر تعریف هغه دے چه علامه شوکانیؒ په ارشاد الفحول ص (٦٣) کښ کړیدے فرمائی : (والاولی ان یقال : هو کلام الله المنزل علی محمد ﷺ المتلو المتواتر۔وهذا لا یرد علیه ما یرد علی سائر الحدود۔آه) ۔(دا د الله هغه کلام دے چه نازل شویدے په محمد ﷺ او تلاوت ئے کیدے شی، او متواتر دے، پدے تعریف باندے هیڅ اعتراض نه واردیږی نو دا بهتر دے)

والسنة : سنت په لغت دعربو کښ الطریقة المسلوکة (چلولے شوے لارے) ته وائی او په کتابونو دعلماؤ کښ ددے دپاره ګنړ اطلاقات دی : ١- یو سنت مقابل داحکامو راځی په معنی

داعتقادياتو سره۔ لکه کتاب السنة دامام احمد، کتاب السنة د امام لالکائی اوکتاب السنة د امام ابن ماجه، په دے کښې عقائد بیانوی۔ ۲ – دویم سنت مقابل دقرآن راځی، اودا دلته مراد دے۔

۳– دریم سنت: مقابل د فرضو راځی، لکه داشے فرض دے اودا بل سنت دے۔

٤– څلورم: سنة الرسول وسنة الصحابة ای طریقتهم :یعنی طریقه دنبی ﷺ اود صحابه کرامو، لیکن فرق دے په مابین ددے دواړو سنتونو کښې هغه داچه سنت د نبی ﷺ مطلقاً حجت اودلیل دے، اود صحابوؓ سنت مطلقاً حجت نه دے مګر کله چه موقوف بمنزلة المرفوع وی یا اجماع دصحابوؓ وی، یا من السنة لفظ استعمال کړی، یا ثواب مخصوص یا عقاب مخصوص بیان کړی، نو بیا اتفاقاً حجت دے۔او کله چه دصحابی اثر مخالف دسنت نبوی راشی، نو بیا اتفاقاً حجت نه دے۔او که نه مخالف وی اونه موافق بیا دا محل دنظر د علماؤ دے، چه روستو به ددے عنقریب بیان راشی۔ددے نه معلومه شوه چه داامامانو خبره خو هیڅ حجت نه دے په اُمت باندے، نو تقلید ته ضرورت نشته۔اودلته دسنت نه مراد افعال، اقوال، احوال او تقرایرات دنبی ﷺ دی۔ برابره خبره ده چه فرائض وی که سنن، واجبات وی که مستحبات دلته دے ټولو ته سنت وائی۔

الفصل الاول

۱– وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«مَنْ اَحْدَثَ فِیْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَیْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ» .متفق علیه.

ترجمه: عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه: چاچه زمونږ په دے دین کښې څه داسے نوے خبره راوښکله چه دے کښې نشته، نو هغه مردود دے۔(بخاری، مسلم)۔

تشریح: مَنْ اَحْدَثَ فِیْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَیْسَ مِنْهُ : چاچه پیدا کړو زمونږ په دے دین کښې هغه شے چه ددے دین نه نه وو نو دا به مردود وی۔اوس که بالکل نوے کارئے پیدا کړو، یا کمیت او کیفیت کښې ئے زیادت او کموالے اوکړو نو دواړه به مردود وی، نودا بدعت حقیقی او اضافی دواړو ته شامل دے۔فی امرنا: امر نه مراد دین دے لکه بل روایت کښې فی دیننا لفظ راغلے دے۔ هذا: ئے څکه ذکر کړو چه اسلام او دین اګرکه غیر محسوس دے مګر دکمال ظهور په وجه داسے ګرځیدلے دے لکه چه دے کښې زیادت او نقصان نشی کیدے۔فی امرنا کښې ئے (فی) راوړیدے فائده داده چه په دین کښې به دننه کار پیدا کول حرام وی، پاتے شو (للدین) چه ددین ترقی پرے راځی لکه ته ددعوت دپاره جهاز کښې ځے دے دپاره چه زر اورسے او نبی ﷺ خو جهاز کښې نه دے تلے مګر په دے کښې ددین ترقی ده نو دا جواز لری۔جهاز کښې تللو کښې څوك اجراو ثواب نه ګڼړی بلکه دا یوه ذریعه ده دتللو۔دغه شان محراب او تسبیح لاوډ سپیکر شو، چه دا ذریعه دمعلوموالی دمسجد اود ذکر الله او د آواز ډیرو خلقو ته رسولو ده۔ فی نفسه پدے کښې څه اجر نشته۔

فَهُوَ رَدٌّ : یعنی داکار هم رد دے اودا انسان هم مردود دے، دے نه معلومه شوه چه داسے اصطلاحات دین کښې پیدا کول نه دی پکار چه په خلقو ئے لازم ګڼړی. او که یو انسان د اجتهاد په خطائی سره یو عمل په دین کښې پیدا کړی، نو بیا به ئے خبره مردوده وی اګرکه سړی ته به اجر ملاویږی. امام نووی ددے حدیث عظمة شان بیانوی فرمائی : هذا الحدیث مما ینبغی ان یعتنی بحفظه واستعماله فی ابطال المنکرات واشاعة الاستدلال به فی رد جمیع البدع (شرح مسلم : ٧٧/٢) وکذا فی فتاوی الدین الخالص (٣٢/١) .(یعنی دا حدیث مناسب ده چه ددے د یادولو او د منکراتو په باطلو کښې ددے استعمالولو او په رد د تولو بدعاتو کښې پدے باندے عمومی استدلال کولو اهتمام اوکړے شی). هر قسم بدعت او منکر پدے سره باطلولے شی.

بیا بدعت په دوه قسمه دے : ١- یو بدعت لغوی. ٢- بل بدعت شرعی. بدعت لغوی دیته وائی چه نو ے شے پیدا کول، دینی وی او که دنیوی. امام نوویؒ فرمائی : البدعة کل شئ عُمِل علی غیر مثال سابق. (بدعت هر هغه شی ته وائی چه په غیر د مخکنی مثال (نمونے) نه (ابتداءً) جوړ شوے وی) او په دے کښې حسنه او سیئه دواړه کیدے شی. او بدعت شرعی دیته وائی چه په دین کښې نوے شے پیدا کړی، او ثواب ئے ګڼړی، نودا فقط یو قسم دے، په دے کښې حسنه اوسیئه نشته، بلکه بدعت شرعیه سیئه او ضلالت دے.

١- دلیل دا دے چه نبی اکرم ﷺ فرمائی : (کل بدعة ضلالة) یعنی هر بدعتِ شرعیه ګمراهی ده، نو حُسن په کښې دکوم ځائے نه راغلو ! **٢- دلیل** : که بدعت حسنه راشی نو مقصد به ئے دا شی چه دین نیمګړے دے ډیر کارونه ګنے داسے شته چه حسن وی اوشریعت نه دی بیان کړی، اوزه ئے پیدا کوم.نودا نسبت ګول دین ته حرام دی.

٣- دلیل : که بدعت کښې حسن پیدا شی نو دا حُسن به مونږ دچا په عقل تلو چه دا عمل حسن دے او که دا بل !! ٤- څلورم داچه : کومو علماؤ چه دبدعاتو مقابله کړیده لکه علامه شاطبیؒ فی الاعتصام- علامه عبد السلام القشیریؒ فی السنن والمبتدعات، نو هغوی دا تقسیم په بدعت کښې نه دے کړے.

لکه علامه ابن تیمیةؒ فرمائی : (کل بدعة ضلالة - فمن قال ان بعضها لیس بضلالة فقد خالف الحدیث) الفتاوی الکبری (٣٧١/١٠) السلوك وکذا (٣٦/٣) وفتاوی الدین الخالص (١٠٤/١) یعنی هر بدعت ګمراهی ده اوڅوك چه وائی بعض بدعت ګمراهی نه ده نو دے د صریح حدیث خلاف کوی.

اود عمر فاروقؓ نه چه دا نقل دی چه هغه اوفرمائیل : (نعمت البدعة هذه) هرکله ئے چه خلق په تراویحو باندے راجمع کړل نو وے فرمائیل : دا مے ډیر ښه ناشنا کار اوکړو.نو ددے نه مراد بدعت لغوی دے، نه شرعی، لکه دا ابن کثیر (١٦١/١) وغیره ذکر کړیدی ځکه چه بدعت شرعیه ټول سیئه وی هغے کښې حسنه نه وی.

اوکوم علماء چه د بدعاتو تقسیم کوی پنځه اقساموته نودا تقسیم علمی دے، نه شرعی، ځکه هغوی چه کوم مثالونه ذکر کړیدی لکه بناء المدارس، والرباطات، والعلوم الآلیة کالنحو والصرف، نو دا په حقیقت کښ بدعات نه دی، بلکه دا د قواعدکلیه شرعیه لاندے داخل دی ځکه چه دا للدین دی، فی الدین نه دی۔نحو صرف لوستل بدعت نه دے ځکه ﴿وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا﴾ قول الرسول ﷺ (من کذب علیّ) او قول د عمر فاروقؓ [تعلموا العربیة فانها من دینکم] پرے دلائل دی۔دا د قبیلے دمصالح مرسله ؤ نه دی، په دین کښ ورله اصل شته دے، اود بدعت شرعیه دپاره اصل نه وی، مسجد نبوی اولنئ مدرسه وه چه رسول الله ﷺ جوړه کړیده، دا اصل او بنیاد دے دپاره دمدارسو جوړولو۔غایة مافی الباب دا چه داکارونه بدعت لغوی دے نه شرعی، اولغویٰ بدعت بعض حسنه اوبعض سیئه کیدے شی۔ عمر ؓ فرمائی : (کل بدعة ضلالة، وان رآها الناس حسنة) رواه اللالکائی فی شرح اعتقاد اهل السنة، والوجیز ص (۱۹۹) والباعث علی انکار البدع والحوادث (۱۷) (هر بدعت گمراهی ده اگرکه خلق ئے ښه گڼړی) نو د عمر فاروق هم دا رایه ده چه هر بدعت گمراهی ده او په بدعت شرعی کښ حسنه نشته ټول سیئه ده)۔او دا خبره د عبد الله بن عمر نه هم نقل ده۔ (الابانة لابن بطة ۱/۳۳۹، وکتاب السنة لابن نصر المروزی (۲۷)

دا وجه ده چه کوم کسانو چه دا تقسیم ذکر کړیدے نو دا هم بدعت دے، لکه ضیاء النور ص (۲۳) کښ دمحمد بن اسمعیل الامیر قول ذکر دے چه ده اوفرمائیل :

(وما اظن هذا التقسیم – ای تقسیم البدعة الی الحسنة والسیئة – الا من جملة الابتداع) وکذا فی السنن والمبتدعات ص (۱۵)۔(دا تقسیم د بدعت حسنه او سیئه ته د جملے د بدعاتو نه دے)

بدعت شرعی په دوه قسمه دے : **۱- بدعت حقیقی** : او دا دیته وائی چه (ما لا اصل له فی الشرع) ۔ ۲- (واحداث امر لم یثبت علی عهد رسول الله ﷺ) ۔کذا قال النووی۔ (یعنی داسے یو څیز په دین کښ رامنځته کول چه دهغے په دین کښ هیڅ بنیاد نه وی، یا داسے یوکار پیدا کول چه درسول الله ﷺ په زمانه کښ نه وی)۔ **۲- دویم بدعت اضافی** دے : (وهو ما زیداو نقص فی عمل الشرع) ۔ یعنی کمیت اوکیفیت کښ نقصان او زیادت راوستل پیدا کول۔لکه دعاء کښ اعتداء کول، دمانځه کیفیت بدلول وغیره۔ فائده : دا حدیث دلیل دے په دے خبره باندے چه په باب دعباداتوکښ عدمِ نقل دشارع نه دلیل دے په عدم وجود د هغه کار باندے په شرع کښ، ځکه اصل په عباداتوکښ داده چه توقف به کولے شی ترڅو چه دلیل شرعی ثابت نشی۔اود ځانه به عبادت نشی جوړولے، اونه به عبادت له کیفیت دځانه ورکولے شی۔اوددے مسئلے پوره دلائل او نقول په فتاوی الدین الخالص (۳۱/۱) کښ کتل پکار دی۔

۲- وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اَمَّا بَعْدُ: فَاِنَّ خَيْرَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللهِ وَخَيْرَ الْهَدْىِ هَدْىُ مُحَمَّدٍ وَشَرَّ الْاُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ»، رواه مسلم.

ترجمه: جابر ﷺ وائی: رسول الله ﷺ یوه خطبه کښې اوفرمائیل: دے نه پس پوهیدل پکار دی چه دټولو نه بهتره خبره د الله کتاب دے د ټولو نه بهتره لاره د محمد (ﷺ) لاره ده او د ټولو نه بدترین څیز هغه دے چه هغه (دین کښې) نوے راوښکلے شوے وی او هر بدعت (خپل طرفنه دین کښې پیدا شوے نوے خبره) گمراهی ده۔ (مسلم)۔

تشریح: اَمَّا بَعْدُ: دخطبے ددے الفاظو تشریح په ابتداء دکتاب کښې تیره شویده۔

فَاِنَّ خَيْرَ الْحَدِيْثِ: دحدیث اطلاق په قرآن اوسنت دواړو باندے کیږی۔ ﴿ فلیاتوا بحدیث مثله﴾ قرآن په باره کښې وئیلے شویدے۔ که یوسړی قسم اوکړو چه ما د الله سره خبرے اوکړے او قرآن ئے لوستلے وی نو نه حانثیږی۔ وَخَيْرَ الْهَدْيِ: بفتح الهاء وسکون الدال طریقے اوسیرت ته وائی پدے کښې الف لام استغراقی دی ځکه خیر اسم تفضیل دے دا متعدد ته مضاف کیږی نو دا معنیً متعدد دے یعنی غوره په طریقو کښې طریقه درسول الله ﷺ ده۔ ۲ – دویم قرأت الْهُدٰی بضم الهاء وفتح الدال دے۔ هدایت ته وائی۔ خو اول قرأت مشهور او بهتر دے۔ اوشر منصوب هم دے عطف دے په خیر باندے کوم چه اسم دان دے یامرفوع دے مبتداء ده۔ اول غوره دے۔

وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ: دا هم منصوب دے عطف دے په خیر باندے، یا مرفوع دے مبتداء ده، په روایت د نسائی کښې ورسره: (وکل ضلالة فی النار) زیات دے۔ بیا بعض بدعات به مکفره وی نو انسان به همیشه په اُور وی۔ او بعض به په درجه دگناه کبیره کښې وی نو یو وقت داوقاتو کښې به داور نه را اوځی۔ حاصل داچه بدبختی جهنمی دے بیا ددے روایت مقصد دادے چه اکتفاء په قرآن او سنت باندے پکار ده چه د نبی ﷺ طریقه دهرچا په طریقه باندے غوره ده، نو دده په مقابله کښې دهیچا خبره منل نه دی پکار، ځکه که دبل چا خبره منل هم جائز منی نو بیا ددے خیریت څه مطلب دے؟ !!

۳– وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَبْغَضُ النَّاسِ اِلَى اللهِ ثَلٰثَةٌ: مُلْحِدٌ فِي الْحَرَمِ وَمُبْتَغٍ فِي الْاِسْلَامِ سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَمُطَّلِبُ دَمِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِغَيْرِ حَقٍّ لِيُهْرِيْقَ دَمَهٗ»، رواه البخاری۔

ترجمه: ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه: دالله تعالی په نزد د ټولو نه زیات غضب کړے شوی خلق درے دی: ۱ – حرم کښې کجروی کونکے ۲ – اسلام کښې دجاهلیت دزمانے طریقے لټونکے۔ ۳ – دیو مسلمان دناحقه وینے طلبگار چه د هغه وینه توئے کړے شی (بخاری)۔

تشریح: اَبْغَضُ النَّاسِ اِلَى اللهِ: بغض کول د الله تعالی صفت دے، دهغه دشان سره چه څنګه مناسب وی۔ مُلْحِدٌ فِي الْحَرَمِ: د الحاد ډیرصورتونه دی، مثلًا غلا کول، زنا کول، رهزنی کول،

احتکار الطعام (ذخیره اندوزی) کول (کما فی الحدیث)، دحرم نه خلق منع کول۔او حرم دوه قسمه دے، حرم مکی اوحرم مدنی۔اودلته دواړه مراد دی، او لوئی مصداق دالحاد بدعت دے، دا ډیر مبغوض ځکه دے چه ګناه په بازار کښ حرامه ده، پاتے لا په مسجد کښ او بیا لا په حرم کښ کول۔ وَمُبْتَغٍ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ : ددے مصداق رواجونه، استسقاء بالانواء (ستورو ته دباران نسبت کول) وأد البنات (لور خور ژوندۍ درګور کول)، لور خور خرڅول، دبدل نکاحونه کول، جینئ په میراث کښ اوړل، بے حیائی کول، دیو بل تابعداری کول په خلاف دشرع کښے۔دا ټول دجاهلیت والو کارونه دی۔ بیا وجه د تخصیص ددے درے کسانو څه ده چه الله ته ډیر مبغوض دی؟ نو هغه داده چه دے درے واړو دوه دوه ګناهونه راجمع کړیدی:

۱- یو الحاد کول، بل په حرم کښ کول دا ډیر قبیح دی۔ ۲- دویم شخص بدعت په اسلام کښ پیدا کړیدے بیا ئے دجاهلیت کار پیدا کړیدے۔ ۳- دریم شخص قتل النفس کړیدے بغیر دڅه غرض نه بلکه هسے دمسلمان وینه ئے توئے کړیده دخوند دپاره۔نودا لوئے قباحت دے۔په اول کښ قباحت باعتبار المحل دے، دویم کښ باعتبار الفاعل دے، دریم کښ باعتبار الفعل دے۔ فائده: په (مبتغ) او (مطلب) کښ ئے دے خبرے ته اشاره اوکړه چه یو انسان صرف اراده ددے کارونو اوکړی نو هغه ددے وعید مستحق دے نو پاتے لا هغه څوك چه حقیقةً دا کارونه اوکړی، هغه خو به خامخا ددے وعید مستحق وی۔

٤- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «كُلُّ اُمَّتِیْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ اَبٰى» قِيْلَ: وَمَنْ اَبٰى؟ قَالَ: «مَنْ اَطَاعَنِیْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِیْ فَقَدْ اَبٰى». رواه البخاری.

ترجمه: ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زما ټول امت به جنت ته داخل شی خو هغه څوك چه هغه انکار (اوسرکشی) اوکړه (جنت کښ به نه داخلیږی) تپوس اوشو، هغه څوك دے چه هغه انکار (اوسرکشی) اوکړه، نبی ﷺ اوفرمائیل: څوك چه زما اطاعت اوکړی هغه جنت ته داخل شو اوچا چه زما نافرمانی اوکړه نو هغه انکار (او سرکشی) اوکړه (بخاری)۔

تشریح: كُلُّ اُمَّتِیْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ : دامت نه مراد امة الاجابة (مؤمنان) او امة الدعوة (کفار) دواړه کیدے شی۔یعنی کافر او مسلمان دواړه به جنت ته داخلیږی خو د الا من ابی: نه مراد به دا وی چه هغه څوك چه زما ددین نه انکار اوکړی، (ای الا من ابی عن قبول ما جئت به)، (یعنی زما د راوړی دین نه قبلوی) نو دا کافر دے او کافر به جنت ته نه داخلیږی۔ ۲- دویمه معنی دا چه دلته دامت نه مراد امة الاجابة دے چه اسلام او دین ئے هسے منلے دے او بیا بدعات وغیره کښ اخته شویدے۔ دلته د(ابی) نه مراد که انکار عن قبول الدین واخلے نو په دے معنی باندے داسوال دے چه روستو صحابو دا سوال ولے کړیدے چه (قیل ومن ابی) چه چا انکار کړیدے؟ داخو صحابو

تـه معلومه وه چه ابو جهل، عتبه او شيبه او باقی مشرکين مکه انکار عن الحق کړيدے، نو آيا صحابه داسے بے ځايه دناپوهئ سوال کوی ؟ لهذا دے کښ دويمه معنی ظاهره ده۔ چه (من ابی) نه مراد (من ابی عن دخول الجنة) دے نواوس سوال کول صحيح دی چه آيا داسے څوك به هم وی چه دجنت داخليدو نه انکار اوکړی۔ لهذا اوس اشکال هم نشته، نو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل : چه دا ظاهری انکار نه دے مراد چه په خولے اووائی چه مونږ جنت ته نه ځو، اودداخليدو نه انکار اوکړی، بلکه من اطاعنی : څوك چه زما تابعداری کوی په اقوالو او افعالو او اعتقاداتو کښ۔ دَخَلَ الْجَنَّةَ : دده جنت خوښ دے، ځکه د نبی ﷺ تابعداری کوی۔ وَمَنْ عَصَانِیْ : څوك چه زما نافرمانی کوی په اعمالو کښ وی اوکه په اقوالو او اعتقاداتو کښ وی۔ بيا دا نافرمانی که دخواهشاتو په وجه وی اوکه په طريقه دانکار سره وی، اوکه دا تابعداری پريښودل د بل چا د وجے نه وی۔ دا ټول په عصيان کښ داخل دی۔ ای من عصانی: ١-اتباعاً للهوی۔ ٢-انکاراً واستنکافاً۔ ٣- من عصانی للغير ولتعظيم الامام۔ (يعنی نافرمانی د وجه د خواهشاتو د تابعداریٔ نه يا د وجه د انکار او نفرت نه او يا د بل څه وجه نه يا د يو امام د تعظيم د وجه نه) نو دا ټول په عصيان کښ داخل دی خو څوك په اوچته مرتبه دعصيان کښ دے اوڅوك هغے پسے درجه دعصيان کښ دے۔ غرض ددے حديث : الترغيب الی اطاعة الرسول ﷺ والنهی عن مخالفته۔ (ترغيب دے اطاعت د رسول ﷺ ته او منع د هغه د مخالفت نه) چه که د نبی ﷺ تابعداری مو اوکړه نو جنت ته به لاړ شئ او که تابعداری مو اونکړه نو اورته به داخل شئ۔ الغرض دا حديث په اتباع السنة کښ ډير اهميت لری۔

٥- وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: جَاءَ تْ مَلَائِكَةٌ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ وَهُوَ نَائِمٌ فَقَالُوْا: اِنَّ لِصَاحِبِكُمْ هٰذَا مَثَلًا فَاضْرِبُوْا لَهُ مَثَلًا قَالَ بعضهم: اِنَّهُ نَائِمٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ: اِنَّ الْعَيْنَ نَائِمَةٌ وَالْقَلْبَ يَقْظَانُ فَقَالُوْا : مَثَلُهُ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنٰى دَارًا وَجَعَلَ فِيْهَا مَأْدُبَةً وَبَعَثَ دَاعِيًا فَمَنْ اَجَابَ الدَّاعِيَ دَخَلَ الدَّارَ وَاَكَلَ مِنَ الْمَأْدُبَةِ وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّاعِيَ لَمْ يَدْخُلِ الدَّارَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنَ الْمَأْدُبَةِ فَقَالُوْا :اَوِّلُوْهَا لَهُ يَفْقَهْهَا. قَالَ بَعْضُهُمْ: اِنَّهُ نَائِمٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ: اِنَّ الْعَيْنَ نَائِمَةٌ وَالْقَلْبَ يَقْظَانُ فَقَالُوْا الدَّارُ الْجَنَّةُ وَالدَّاعِيْ مُحَمَّدٌ (ﷺ) فَمَنْ اَطَاعَ مُحَمَّدًا فَقَدْ اَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصٰى مُحَمَّدًا فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمُحَمَّدٌ فَرْقٌ بَيْنَ النَّاسِ». رواه البخاری.

ترجمه : جابر ﷺ فرمائی : څه ملائك نبی ﷺ ته هغه وخت راغلل چه هغه اوده وو، هغوئ خپلو کښ اووئيل : ستاسو ددے دوست يعنی نبی ﷺ متعلق يو مثال دے هغه ددوئ مخکښ

بیان کړئ، نورو ملائکو اووئیل : هغه خواُوده دے (نو بیانولو نه څه فائده) هغوئ کښې بعضو اووئیل : بیشکه سترگے ئے اودے دی اوزړه ئے بیدار دے، بیا هغوی اووئیل : ددوئ مثال دهغے سړی پشان دے چه هغه یو کور جوړکړو اود طعام خوړلو دپاره ئے دستر خوان خورکړو بیا دخلقو بللو دپاره ئے یو سړے اولیږلو چاچه دبلونکی خبره اومنله هغه به کور کښې داخل شی اوطعام به اوخوری، اوچا چه دبلونکی خبره قبو له نه کړه، هغه نه کورکښې داخل شو نه ئے طعام اوخوړ۔ دے آوریدو سره ملائکو خپلو کښې اووئیل : دا وضاحت سره بیان کړئ چه په دے پوهه شی، ځینو ملائکو اووئیل (بیانولو نه څه فائده) ځکه هغه خو اوده دے، نورو اووئیل : بیشکه سترگے ئے اودے دی لیکن زړه ئے ویښ دے۔ بیا ئے اووئیل : کور نه مراد جنت دے اوبلونکی نه مراد محمد ﷺ دے، چاچه دهغه فرمانبرداری اوکړه هغه دالله تعالی فرمانبرداری اوکړه او محمد ﷺ دخلقو مینځ کښې فرق کونکے دے۔(بخاری)۔

تشریح : لِصَاحِبِكُمْ هٰذَا : یعنی محمد ﷺ دپاره۔ فَاضْرِبُوْا لَهٗ : دده دپاره مثال بیان کړئ چه دائے واوری او امت ته ئے بیان کړی۔ اِنَّهٗ نَائِمٌ : یعنی بعض ملائکو بعضو ته اووئیل داخو اوده دے اواوده سړے په خبره نه پو هیږی نو دا مثل به څه فائده ورکړی؟، وَقَالَ بَعْضُهُمْ : یعنی پو هه ملائك په کښې اووئیل : اِنَّ الْعَیْنَ نَائِمَةٌ وَالْقَلْبُ یَقْظَانُ : د نبی ﷺ سترگے اُودے وی او زړه ئے ویښ وی (فیدرك البیان) : نو په خبره پو هیږی۔ غرض الحدیث : د نبی ﷺ په خبره او اتباع کښې د الله اطاعت دے اودهغه مخالفت د الله مخالفت دے، او خپل ځان هلاکول دی ځان د جنتُ او د عظیم نعمتونو نه محرومول دی۔ نو پدے کښې تیزی ورکول دی په اتباع الرسول ﷺ او رد دے په تقلید باندے په مخالفت د رسول الله ﷺ کښې۔

فوائدالحدیث الجزئیة : ١- نبی ﷺ ته به وحی په خوب کښې هم کیدله اوپه ویښه هم، دا په خوب کښې وحی شویده، او مثال ورته بیان شویدے دا د ټولو انبیاؤ طریقه ده چه دهغوئ سترگے اودے کیږی او زړونه ئے نه اوده کیږی، دا وجه ده چه احتلام به په ټولو انبیاؤ نه راتلو، ځکه زړه مستغرق اوده نه وی شیطان پرے تسلط نشی کولے۔او دعام انسانانو زړونه که اوده نشی او سترگے ئے اودے شی نودا خوب ورله فائده نه ورکوی۔ هله به فائده ورکوی چه زړه او سترگے دواړه اوده شی چه اندامونه په راحت او آرام کښې شی، او د انبیاء علیهم السلام دا خصوصیت دے چه هغوی ته صرف د سترگو په پټولو هم راحت ملاویږی۔

٢- لصاحبکم : صاحب نه مراد نبی ﷺ دے اودا دملائکو ملگرے هم دے اود انسانانو هم، د ملائکو صاحب ځکه دے چه هغوی ورسره د وحی تعلق ساتی، وحی ورله راوړی، اود انسانانو صاحب ځکه دے چه هغوی ته بیان کوی۔ ٣- نائم : دابه خبره نه اوری دلیل دے چه نبی ﷺ عالم الغیب نه دے بلکه خبره به په زړه اوری ځکه چه هغه ویښ دے۔ وَالْقَلْبُ : یا منصوب دے

عطف دے په العين باندے چه هغه اسم د اِنَ دے، او يا القلب مرفوع على الابتداء دے۔
٤- د قرآن اوحديث مثالونه دوه قسمه دی : ١- تشبيه المركب بالمركب۔ ٢- تشبيه المفرد بالمفرد۔ عام مثالونه په دے طريقه لګيږی چه تشبيه المركب بالمركب شی، يعنی مجموعی لحاظ سره تشبيه وی، دبيل بيل څيز او لفظ سره تشبيه نه وی (كما اختاره الزمخشری فی الكشاف وابن القيم فی البدائع) نو دلته مجموعی لحاظ سره تشبيه داسے ده چه يو سړے دے هغه كور جوړ كړو په هغے كښ ئے طعامونه تيار كړل اوخلقو ته ئے داعی او اُستاذے اوليګلو چه راشئ اودا طعامونه اوخورئ، چه خلق راشی نو مالك دكور هم خوشحاله شی اوچا چه دعوت منلے دے هغوی ته هم فائده اورسی، نو دغه شان مالك دكور الله تعالى دے، اوكورئے جنت تيار كړو، او مختلف نعمتونه ئے په كښ تيار كړل، نبی ﷺ ئے اوليګلو امت ته چه خلقو ته دراتلو دعوت وركړی۔ نو دا ئے حاصل شو۔ دغه شان دلته تشبيه المفرد بالمفرد هم جوړيدے شی خودا روايت روستو بيا راروان دے هلته ئے ښه تفصيل دے هغه دا چه درجل نه مراد الله تعالى دے (الله ته رجل نه وائی خودا صرف دمثال په طور تشبيه ده) ددار دوه مصداقه دی، دار اسلام ته وائی لكه روستو حديث كښ دی چه الدارالاسلام، اود مادبه نه مراد جنت دے۔ داسلام كورته به داخل شے نوجنت ته به لاړ شے او جنت بيا تول خوراكونه خوراكونه دی، ځكه ورته مادبه وئيلے شی۔
* دويم دا چه الدار جنت دے او مادبه هغه خوراكونه دی چه الله په جنت كښ تيار كړيدی اوداعی محمد رسول الله ﷺ دے، او مدعوين مونږ، امت انسانان او پيريان يو، نبی ﷺ مونږ رابللی دغه جنت ته چه مالك دكور رانه رضا شی چه الله تعالى دے۔ نو په دے كښ انسانان دوه قسمه دی : ١- بعض انسانان جاهلان وی هغوی ته داكور هم نه ښكاري او مالك ئے هم نه دے ليدلے نود داعی تكذيب اوكړی چه نه كور شته او نه مالك شته، داخبرے مونږ نه منو، مونږ دكاروبار او دوكاندارئ كار كسب نه مه اوباسه ! نو مالك دكور چه الله دے هغه هم غصه شی اودا انسانان هغه طعامونه دجنت هم اونه خوری، په عذابونو كښ اخته شی۔
٢- او كوم عاقلان انسانان چه وو هغوی ددے داعی (نبی ﷺ) په دعوت باندے لبيك اووئيلو دهغه خبره ئے اومنله چه آو، كور به يو ځائے كښ وی، مونږ به نه وی ليدلے نو دوئ جنت ته داخل شی، قِسما قِسم طِعامونه اوخوری۔ دكور مالك (الله) به هم ترينه رضاء شی، اودوئ ته به هم فائده اورسی۔ نودا تشبيه المفرد بالمفرد شوه۔ هر لفظ د هر لفظ سره اولګيدلو۔ مادبه : هغه طعام ته وائی چه تيار كړے شوے وی په دسترخوان پروت وی او خلق ورته رابللے شی، لاسونه ورته اووينځی، انتظار په كښ نه وی۔ اولوها : يعنی ددے تاويل ورته وركړئ يعنی تعبير ورته بيان كړئ۔ اوّلوا صيغه د امر ده د تاويل نه۔ دتاويل معنی ده : (الرجوع الى الحالة الاولى)۔ نو تاويل ته تاويل ځكه وائی چه دڅيز حقيقت او اصل معلوموی۔ بيا يو دمتاخرينو په نزد تاويل

دے هغه دیته وائی چه : صرف اللفظ عن ظاهره لشبهة) ۔ (یو لفظ د خپل ظاهری معنی نه اړول د وجه د یو ے شبهے نه) داتاویل بدعی تاویل دے، اوداسے تاویل چه دڅیز حقیقت پرے انسان معلوم کړی، نو داجائز دے۔ دلته د تاویل معنی ده حقیقت معلوم ول۔یعنی ددے مثال حقیقت ورته بیان کړئ۔ یفقهها : مجزوم دے جواب دامر دے یعنی چه پو هه شی پرے۔

وَالْقَلْبُ يَقْظَانُ : یعنی زړه ئے بیدار دے په بیان باندے پو هیږی څکه چه دانبیاؤ زړه ویښ وی، صرف سترګو کښ ئے خوب وی۔غرض دتمثیل دملائکو دادے چه سامعین دغفلت دخوب نه رابیدار کړی او تیزی ورکړی په اعتصام بالکتاب والسنة باندے، او اعراض اوکړی د بدعت او ضلالت نه څکه د نبی ﷺ په مخالفت کښ عصیان اوګمراهی ده، د جنت نه محرومه کیدل دی۔

فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ : څکه وائی چه الله مالك دکور دے او محمد رسول الله ﷺ ئے داعی رالیږلے دے، او څوك چه دده خبره نه منی نو ده دالله خبره اونه منله نو داعی ته به سرے ګوری او دکور والاته به هم ګوری۔

وَمُحَمَّدٌ فَرْقٌ بَيْنَ النَّاسِ : فرق مصدر دے بمعنی الفارق یا حمل دمصدر مبالغةً دے، یعنی محمد ﷺ دخلقو ترمینځ فرق پیدا کونکے دے، صالح اوطالح، مطیع او عاصی جدا کوی، دارنګه مومن او کافر جدا کوی، جهنمی او جنتی جدا کوی، دارنګه محمد ﷺ تابعداری چه چا اوکړه نو هغه دمشرکانو نه جدا شو۔ دارنګه پلار او زوی، خپل خپلوان د یو بل نه د نبی ﷺ په وجه جدا شو، دا وجه ده چه ابو جهل او ابو لهب به نبی ﷺ ته وئیل : (شتت شملنا وفرقت جمعنا) ۔ (تا زمونږ اتفاق او اتحاد ګډوډ او جدا جدا کړو) یا فرق : صیغه دماضی معلوم ده د باب تفعیل نه۔یعنی نبی ﷺ فرق راوستے دے دخلقو ترمینځه چه مؤمن ئے دکافرانو نه جدا کړیدے، حق او باطل ئے خلقو ته جدا جدا کړیدے۔

٦- وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: جَاءَ ثَلٰثَةُ رَهْطٍ اِلٰى اَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ يَسْأَلُوْنَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ ﷺ فَلَمَّا اُخْبِرُوْا بِهَا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوْهَا فَقَالُوْا: اَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ وَقَدْ غَفَرَ اللّٰهُ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَمَا تَاَخَّرَ فَقَالَ اَحَدُهُمْ اَمَّا اَنَا فَاُصَلِّى اللَّيْلَ اَبَدًا وَقَالَ الْآخَرُ: اَنَا اَصُوْمُ الدَّهْرَ اَبَدًا وَلَا اُفْطِرُ وَقَالَ الْآخَرُ: اِنِّيْ اَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا اَتَزَوَّجُ اَبَدًا فَجَاءَ النَّبِيُّ ﷺ اِلَيْهِمْ فَقَالَ: «اَنْتُمُ الَّذِيْنَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا اَمَا وَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَاَتْقَاكُمْ لَهٗ لٰكِنِّيْ اَصُوْمُ وَاُفْطِرُ وَاُصَلِّيْ وَاَرْقُدُ وَاَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ»، متفق علیه.

ترجمه : انسؓ وائی : درے سړی دنبی ﷺ دبیبیانو په خدمت کښ حاضر شول چه دهغوی نه د نبی ﷺ دعبادت حال اوپوښتی، هرکله چه دے خلقو ته دعبادت پوره حال اوښودلے شو، نو ګویا دوئ دا عمل (دنبی ﷺ) کم اوګڼړلو، نو خپلو کښ ئے اووئیل : دنبی ﷺ مقابله کښ مونږ څه

خیـز یـو، الـله تعالیٰ خو دهغوئ مخکني او روستني ټول ګناهونه معاف کړي دي، هغوئ کښې یـو اووئیـل : اوس بـه زه هـمیشـه ټـوله شپه مونځ کوم، دویم اووئیل : زه به دورځې همیشه روژه نیسـم او هیـڅ کـله بـه ئې نـه ماتوم، دریم اووئیل : زه به دښځونه جدا اوسم او هیڅ کله به نکاح نه کـوم (دوئ خپـلو کښې خبرې کولې چه) نبي ﷺ تشریف راوړلو، وې فرمائیل : تاسو خلقو داسې داسې وئیـلي دي، خبردار ! زه تـاسـو نـه زیات دالـلـه نـه ویـریـدونکې یم اوستاسو نه زیات تقویٰ اختیـارونـکې یـم، لیـکـن ددې بـاوجـود زه روژه هم نیسم، ماتوم ئې هم، دشپې مونځ هم کوم اوده کیـږم هـم، اوښـځـو سـره نـکـاح هـم کـوم (دا زما طریقه ده نو) کوم سړې چه زما دطریقې نه مخ اړوي، هغه څما نه نه دې (یعني زما دجماعت نه خارج دې) (بخاري، مسلم)۔

تشریح : دې حـدیـث کـښې هـم غرض ترغیب دې اتباع د رسول الله ﷺ ته چه نبي ﷺ څومره عبادت کړیدې هغومره به کوې اوکوم چه ئې پریښې دې هغه به پریدې۔ ترك دنبي ﷺ هم دلیل دې او عمل دنبي ﷺ هم دلیل دې، او عمل کښې دډیروالي اوکموالي چل به دنبي ﷺ نه زده کولې شي افـراط بـه نـه کـوې، دنبـي ﷺ نـه بـه ځان نه مخکښې کوې، که چا دنبي ﷺ نه ځان مخکښې کړو هـغـه بدعتي کیږي، اوکه روستو ترې پاتې شو نو هغه فاسق دې۔ نو دې حدیث کښې رد دې په بدعت باندې چه دنبي ﷺ نه مه مخکښې کیږئ، دهغه نه ځان ډیر لوئي بزرګ مه ګڼړئ۔

فـوائد الالفاظ : رَهْطٍ : اسم جـمـع ده، ددې اطـلاق ددریـو نـه ترلسو پورې کیږي، دلته ترینه ثـلاثـة انـفـار مـراد دي۔ اودا کسـان : ١- عليؓ۔ ٢- عبد الله بن عمرو بن العاصؓ۔ ٣- او عثمان بن مـظـعونؓ وو لکه په مرسل د سعید بن المسیب کښې په مصنف د عبد الرزاق کښې راغلي دي۔ یا ابـن مسعود، ابو هریره، عثمان بن مظعون ٣- یا سعد بن ابي وقاص، عثمان بن مظعون او علي بن ابي طالب وو۔ (فتح الباري ١/ ٣٢٠) کتاب البیوع و ١٤/ ٢٩٠) الترغیب في النکاح)

او تـفـاسیرو کښې لس کسان ذکر شویدي ددې آیت لاندې ﴿ یآیها الذین آمنوا لا تحرموا طیبات ما احل الله لکم ﴾ [المائدة : ٨٧] بـلال، ابـوبـکـر صـدیـق، مـقـداد بن الاسود او عمار ورسره زیات شـویـدي۔ او کـیـدې شي دا واقـعـات مختلفه وي۔ ۔اودوئ ته دا فکر د ډیروالي دعبادت ولې پیدا شو؟ نـو وجـه داده چه رسول الله ﷺ د دنیا زهد اوې رغبتي بیان کړه، اوددې سپکوالې ئې بیان کړو، اود آخـرت لـوئـي والې او هـغـې ته ورتګ بیان کړو چه دنیا به ختمیږي معمولي ژوندون دې، نو ددوئ په زړونو کښې سم واقع شو، دوئ اووئیل هرکله چه دنیا هسې هم ختمیږي نو ساز کار پکار دې چه د آخـرت لـه سم تیارې اوکړو، اودا دنیا پریدو، کله چه په زړه کښې صفائي پیدا شي نودانسان داسې حـالـت جـوړیږي، نودوئ اووئیـل چه دنبي ﷺ عبادتونه دوه قسمه دي یو ظاهر دي، بل باطن، ظاهر خو مونږ ته معلوم دي چه مسجد کښې مونځونه وغیره کوي۔

٢- خـو پـه کور کښې به څه اعمال کوي چه هغه معلوم کړو نو ځکه ئې دنبي ﷺ د بیبیانو نه

تپوسونه اوکړل۔ اِلٰی اَزْوَاجِ النَّبِیِّ ﷺ : **فائده** : تعلم الرجال من النساء جواز لری کله چه فتنه نه پیدا کیږی او د پردے نه اخوا وی۔ ۲ – د زنانه آواز عورت نه دے، بیبیانو دوئ ته جواب ورکړیدے۔ فَلَمَّا اُخْبِرُوْا بِهَا : کله چه د نبی ﷺ دعبادت خبر ورکړے شو چه نبی ﷺ نیمه شپه خوب کوی او نیمه شپه عبادت۔ یا دریمه حصه کښ عبادت کوی، (انك تقوم ادنی من ثلثی اللیل ونصفه وثلثه) او میاشت کښ کله روژه وی اوکله کوژه، کله ډیرے کله لګے روژے نیسی۔

كَاَنَّهُمْ تَقَالُّوْهَا : تقالوها په تشدید دلام سره جمع مذکر غائب ماضی دباب تفاعل ده دقلت نه ماخوذ دے، (ای عدوها قلیلة)۔ (کم ئے اوګنړلو) دا کلام دراوی دے یعنی راوی وائی چه ګویاکه دے صحابو دا عبادت دنبی ﷺ کم اوګنړلو، ځکه دوئ ګمان دا کولو چه داخو نبی دے توله شپه به ولاړ وی عبادت به کوی، اود بیبیانو خواله به هم نه ورځی او تول عمر به روژے نیسی، او تول غم او خفګان او ژړا به وی۔ **فائده** : نبی اکرم ﷺ ولے عبادت کم کولو؟ ددے وجه دا ده چه شفقةً علی الامة ځکه چه که ډیر عبادت او اوراد کوی نو بیا به ئے امت تابعداری کوی نو هغوی ته به مشقت او تکلیف شی اوس هم نبی ﷺ دومره عبادات کړیدی چه مونږ ئے نه کوو اونه ئے کولے شو، ځکه رسول الله ﷺ نیمه شپه یا دریمه حصه شپه یا دوه حصے دشپے عبادت او ذکر اذکار کولو۔ اود سورة البقره په مقدار به ئے سجده کوله، سورة الانعام او اعراف پورے به ئے په یو رکعت کښ قرائت کولو، او په آرام سره به ئے تلاوت کولو، په هر آیت کښ به اودریدلو او دعاګانے به ئے غوښتے۔ زمونږ دقاریانو پشان زر زر به ئے نه لوستلو، کله کله صحابو ؓ ورپسے هم داودریدو طاقت نه درلو، خو بیا هم دے کسانو ته کم ښکاره شویدے۔ ۲ – دویم حکمت دا دے چه نبی ﷺ ته کارونه دامت ورپه غاړه وو، یو شخص ته چه وړه غونډے ذمه واری په غاړه شی نو ډیر عبادات ترے پاتے وی، پاتے لا دا چه د ټول امت کارونه ورپه غاړه شی، او امت کښ به هر قسم خلق وو، مختلف کارونه به ئے وو په کثرت دعباداتو سره هغه ضائع کیږی۔ دا وجه ده امام غزالیؒ دعالم جدا اوراد لیکلی دی اود طالب جدا، او دعوامو دپاره جدا، نو دعوامو دپاره ئے اوراد ډیر لیکلی دی، اود علماؤ او طلباؤ دپاره لګ، ځکه چه ددوئ مشغله علمی زیاته وی، هغه ضائع کیږی چه دواړه کارونه حاصل شی۔ خو دے وقت کښ زمونږ ذکر اذکار هم نشته۔

فَقَالُوْا : دا د دوئ اعتذار دے د نبی ﷺ دپاره لیکن دا اعتذار ددوئ په ګمان دے ځکه چه عبادات خو ځانله ددے دپاره نه وی چه ګناهونه پرے معاف کیږی بلکه عبادت خالص حق دالله تعالی دے دهغه تعظیم دے۔ بله دا چه چاته الله ګناهونه معاف کړی وی هغه له خو ډیر عبادت پکار دے چه دالله شکر اداء کړی۔ نبی ﷺ به ډیر اوګد قیام کولو چه خپے مبارکے به ئے اوپړسیدلے عائشے ورته اوفرمایل یا رسول الله ﷺ ! تا ته خو الله بخنه کړیده نو ته ولے دومره عبادت کوے ؟ ورے فرمایل : (افلا اکون عبداً شکوراً) (آیا زه د الله شکر ګزار بنده نه جوړ یږم؟) نو په

عباداتو کښې ډیر نیتونه پکار دی : ۱ - دګناهونو معاف کیدل۔ ۲ - تزکیة النفس۔ ۳ - اولوئی نیت په کښې دالله تعالی دحق ادائیګی ساتل پکار دی۔

اَیْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ : ناشنا فائده : په این او مِن کښې قاعده داده چه مدخول داین ښکته درجې والا شي وی او مدخول دمِن اعلیٰ درجه شي وی، لکه خلق وائی : (این الترمذی من البخاری) ۔ ترمذی لاندې درجې والا ده دبخاری نه او بخاری پورته درجې والا ده۔ یا لکه متنبی وائی :

این الثلاثة من ثلاث خلاله * من حسنه وبهائه ومضائه۔

یعنی حسن ، مضاء او بهاء اعلی درجې والا دی دسیف، نصر او شمس نه۔ فتدبر۔ نو دلته معنی دا ده چه مونږ څومره ښکته درجې والا یو د نبی ﷺ نه او کله کله په معنی د بعد او وړاندې والې سره راځي لکه مقامات حریری کښې دی : (این انت من البیت الندر)

اَمَّا اَنَا فَاُصَلِّي اللَّيْلَ : * **مسئله : توله شپه عبادت کول څنګه دی ؟**

نو توله شپه عبادت کول په راجح قول کښې مکروه دی، ځکه چه نبی ﷺ په دې کسانو باندې رد کړیدې۔ سیوا درمضان دآخری لسو شپو نه چه په دې کښې به نبی ﷺ توله شپه عبادت کولو۔ (کان یحیی اللیل کله) **سوال** : دبعض سلفو نه توله شپه عبادت کول نقل دی لکه عثمان ﷺ دوترو په یو رکعت کښې په توله شپه کښې قرآن ختم کړې وو ۔ (ابن ابی شیبة ۶۸۳/۱ و ۵۰۲/۲) والبیهقی (۲۵/۳) والشعب (ج۱۹۹۳/۵) (الحلیة لابی نعیم ۷۵/۱) **جواب** : یو عمل دامت دې بل قول دنبی ﷺ دې۔ نو اعتبار به قول دنبی ﷺ لره وی۔ ځکه کیدې شي هغوی ته دا حدیث نه وی رسیدلې۔ یا بل څه وجه وی۔ چه دهغوی دا رایه وی چه اکثار فی العبادة مکروه نه دې۔

۲- **دویم دلیل دکراهت** : عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما نبی ﷺ توله شپه په عبادت نه دې لیدلې ترصبا پورې (صحیح مسلم ۲۵۶/۱) ۳ - دریم دا چه د تولې شپې نه مراد اکثره حصه دشپې ده، کما فی الدین الخالص (۴۹۷/۵) تفصیلاً۔ ۴ - څلورم دا چه : که توله شپه عبادت اوکړی نو بیا دسحر مونځ ترې پاتې کیږی، ځکه انسان کمزورې دې سُستیږی، دارنګه نور مهم کارونه اوحقوق خرابیږی۔

اَنَا اَصُوْمُ الدَّهْرَ اَبَدًا : همیشه روژه نیول څنګه دی ؟

احناف او ابن المنذر وائی : همیشه روژه نیول افضل دی۔

دلائل : ۱- نوح علیه السلام به همیشه روژې نیولې۔ جواب : دنوح علیه السلام دین زمونږ دپاره هله دین دې چه کله منع نه وی راغلې او دلته منع راغلې ده۔

۲- **دلیل** : دوئ احادیث النهی حمل کړیدی په هغه روژو باندې چه داخترونو روژې په کښې هم اونیسی۔ جواب : حدیث کښې دی (لاصام ولا افطر) (نه ئې روژې اونیولې او نه ئې روژه ماته کړه) کله چه ترې تپوس اوشو (کیف من صام الابد!) (څه حکم دې څوك چه همیشه روژې

اونیسی) اوددے مطلب دا دے چه نه ئے اجر اوشو اونه ئے گناه اوشوه۔داسے روژے په شریعت کښ چرته نشته۔اوڅوك چه ایام محرمه کښ روژه نیسی نو هغے ته دا (لاصام ولا افطر) نشی وئیلے بلکه هغه ته دا وئیلے شی چه ده حرام کار اوکړو۔غایة ما فی الباب دا چه ستاسو په نیز دے شخص مستحب هم اوکړو او حرام ئے هم اوکړو چه تول عمرئے روژے اونیولے سره د ایام مُحرّمه نه۔۲– دارنګه ایام التحریم مستثنیٰ دی بالشرع، قابل دصوم نه دی شرعاً۔ نو دا په منزله د شپے او د صیام الحیض دی۔ نوکه سائل عالم بالتحریم وی نودا په سوال کښ نه دے داخل، اوکه عالم بالتحریم نه وی نو جواب په (لاصام ولا افطر) سره ورکول مناسب نه دی۔کذا فی الفتح (۱۸۰/٤)۔

۳– دریم دلیل :حمزة الاسلمیؓ نبی ﷺ ته عرض اوکړو، یارسول الله ! (انی اسرد الصوم افاصوم فی السفر) (زه همیشه روژے نیسم آیا په سفر کښ ئے نیولے شم)؟ نو نبی ﷺ منع کړو۔**جواب** : دلته صوم فی السفر مراد دے، نه صوم الدهر۔۲ – دویم دا چه سرد الصوم دلالت نه کوی په صوم الدهر باندے، وجه داده چه حدیث کښ دنبی ﷺ په باره کښ راځی (قال اسامة بن زید : ان النبی ﷺ یسرد الصوم فیقال : لا یفطر) اخرجه احمد۔ (اسامه اوفرمایل : نبی علیه السلام به پرله پسے روژے نیولے ترے چه وئیلے به شو چه نه ئے ماتوی) او نبی اکرم ﷺ خو صوم الدهر نه نیولے، حال دا چه سرد ورله استعمال شویدے نو مراد کثرت دے۔

٤– څلورم دلیل : یو حدیث کښ دی (فان الحسنة بعشر امثالها، وذلك مثل صیام الدهر (بخاری) نوکه مشبه به حرام وے نو تشبیه به صحیح نه وے۔ **جواب** : تشبیه کښ دا لازمه نه ده چه حرامه دے نه وی بلکه نفس وضاحت مقصود وی، لکه تشبیه دخاورو سره ورکړے شی نو خاورے خوړل حرام دی او تشبیه ورسره ورکول صحیح دی۔

۲- **دویم قول دمحدثینو**ؒ، اهل ظواهرؒ، اسحقؒ، عمر فاروقؓ او عمرو بن میمونؒ دے، چه صوم الدهر مکروه دی۔ابن حزمؒ خو ورته حرام وائی۔ **دلائل دا دی** :

۱– یودا حدیث دے چه نبی ﷺ دلته رد کړیدے په دے کسانو باندے په صوم الدهر نیولو کښ، او فرمائیلی ئے دی (فمن رغب عن سنتی فلیس منی) یعنی داکار کول زما دسنتو نه اعراض دے۔

۲– دویم دلیل : (لا صام من صام الابد) کذا فی البخاری بشرح الفتح (۱۸۰/٤) وجه د استدلال علامه ابن العربی المالکیؒ داسے ذکر کړیده چه دا یا دعا د نبی ﷺ ده یا اخبار دے، که دعاء الشر شی نو هلاکت دے نو هغه چا له هلاکت دے چه دنبی ﷺ بنیرے ورته اورسیدلے۔اوکه اخبار شی نو هلاکت دے وی هغه چالره چه نبی ﷺ ترے اخبار ورکړو چه ده روژه نه ده نیولے۔

۳- دلیل : یو شخص صوم الدهر نیولو، عمر فاروقؓ ورته دُره اوچته اوکړه چه روژه ماته کړه گنے دا سر دِے وهم۔کذا فی فتح الباری (۱۸۰/٤)۔ **٤- دلیل** : فتح الباری کښ دی : (نهی رسول الله ﷺ عن صیام الدهر) **۵-دلیل** : حدیث البخاری : لا صام ولا افطر)۔ یعنی ثواب ورته نه

ملاویړی، نو دا تهدید دلیل دے په کراهت باندے۔ دغه شان نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : (لا افضل من ذلك) بخاری بشرح الفتح : ٤/١٧٩) یعنی دصیام داؤد علیه السلام نه غوره روژے نشته چه الصوم یوماً والفطر یوماً وے۔ یعنی تول عمر همیشه روژه صحیح نه ده۔

٦- **دلیل** : صوم الدهر انسان کمزورے کوی، نورو اعمالو ته دانسان شوق نه کیږی۔دا وجه ده ابن مسعودؓ ته چا اووئیل : (انك لتقل الصیام فقال : انی اخاف ان یضعفنی عن القرائة والقرائة احب الی من الصیام) کذافی الفتح۔

تنبیه : نذر دهمیشه روژو هم باطل دے ځکه چه همیشه روژے نیول باطل شو۔نوکه دهمیشه روژو نذرئے اوکړو نو د نذر کفاره به ورکړی۔ لَاَخْشَاكُمْ : په دے کښ قوت علمی ته اشاره ده اوپه اَتْقَاكُمْ کښ قوت عملی ته اشاره ده۔ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ : د رغب په صله کښ چه عن راشی په معنی داعراض سره وی اوکه فی راشی نو په مغنی دمینے وی۔ بیا اعراض دوه قسمه دے : ١- یو دا چه سپك ئے اوګنړی۔ ٢- یا ئے طبیعت بد اوګنړی سپکاوے غرض نه وی، نو دا هم اعراض دے۔لکه روستو حدیث کښ هم راروان دے۔

❁ **مسئلة الاکثار فی العبادة** : د نبی ﷺ نه درے قسمه عباداتونه نقل دی :

١- فعلی او عملی عبادتونه۔ ٢- قولی عبادات، چه هغه امت ته خودلی وی، اګرچه هغه په خپله نه وی کړی (دلته بعض خلق قول ته نه ګوری، فعل ته اوګوری نو خطاء شی)۔ ٣- اباحت عامه : چه نبی اکرم ﷺ په عباداتو کښ مطلق اجازه ورکړی وی نو اګرکه هغه نبی خپله نه وی کړی خو اجازت ئے ورکړے وی، نو انسان هغه کولے شی، مثلاً لکه نبی ﷺ دضحیٰ او اشراق مونځونه به کله نا کله کول، هر وخت ئے نه دی کړی، مګر امت ته ئے ترغیب ورکړیدے، چه نمر راوختلو نو مونځ کوئ تر زواله پورے، بیا چه کله د زوال وخت شی، نو دمانځه نه بند شئ، کله چه زوال اوشی نومونځ کوئ تردے چه نمر پریوځی اوکله چه نمر پریوځی نو بیا تر سحره پورے مونځونه کوئ۔ نو د نبی ﷺ خپله طریقه داده چه هغه به دورځے عام طور سره څلویښت رکعته نفل او سنت مونځ کولو، لیکن دڅلویښت رکعتو نه مونږ دپاره زیاتوالے جواز لری، ځکه هغه مونږ ته اجازت راکړیدے چه یو شخص د اشراق څلور رکعته، بیا دضحیٰ اته رکعته اوکړی۔وهکذا۔یانبی ﷺ به هره ورځ سل یا اویا ځله استغفار کولو، مونږ دپاره دهغے نه زیادت هم جواز لری، ځکه نبی ﷺ اجازت راکړیدے (یذکر الله علی کل احیانه) (التلخیص الحبیر)

مګر دکومو عباداتو نه چه منع راغلے ده هغه کول به نه وی جائز لکه تول شپه عبادت کول، پرله پسے تول عمر روژه نیول۔اود کوم عبادت نه چه منع نه وی راغلی نو هغه به جائز وی، لکه نبی ﷺ به په خپل ځانی ورځ ترمینځه روژه نه نیوله خو عبد الله بن عمروؓ ته ئے دا اجازت ورکړو چه دا بهترینے روژے د داود علیه السلام دی۔نو دا اباحت عامه شو، بعض خلق ماسخوتن

تراویح اته رکعته اوکړی بیا دشپے تهجد ناجائز ګنړی، او وائی چه نبی ﷺ ددے نه زیادت نه دے کړے۔ نو دا درست نه ده، ولے چه نبی ﷺ په دے باره کښ اجازتِ عامه ورکړیدے لکه فرمائیلی ئے دی: (صلاة الليل مثنى مثنى، فاذا خشي احدكم الصبح صلى ركعة واحدة توتر له ما قد صلى) بخاری (١٣٥/١) ومسلم (٢٥٧/١) دا ئے نه دی فرمائیلی چه صلاة الليل ثمان ركعات۔ فتدبر! نو په اته رکعتو باندے زیادت هم جائز دے اګرچه مسنون تراویح اته رکعته دی۔ ددے مسئلے تفصیل به په خپل ځائے کښ راشی ان شاء الله۔

دے باره کښ علامه عبد الحئ اللکهنوی هم ښه کتاب لیکلے دے (اقامة الحجة على ان الاكثار في العبادة ليس ببدعة) تفصيلًا الدين الخالص (٣٩٥/٥) اوګوره۔

فَلَا أَتَزَوَّجُ : ځکه چه نکاح انسان د ډیرو عباداتو نه پاتے کوی۔

فَجَاءَ النَّبِيُّ ﷺ إِلَيْهِمْ : دلته کښ واقعه مختصره ده چه نبی ﷺ کورته راغے، بیبیانو ورته ددے کسانو د قیصے خبر ورکړو او هغوی مسجد کښ وو، نو نبی ﷺ ورغلو اودوئ ته ئے اوفرمائیل: آیا تاسو هغه کسان ئے چه دا فلانئ فلانئ خبرے مو کړیدی۔

إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ : یعنی زه الله ستاسونه ښه پیژنم، او اتقاکم کښ قوت عملی ته اشاره ده ځکه چه تقویٰ کښ معنی دعمل پرته ده۔ اوعبادت چه ډیریږی نو دا په خشیت اوتقویٰ سره۔ اودا دواړه په ما کښ ډیر دی نو ستاسو عبادت مانه نشی زیاتیدلے۔ لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ : دلته نفلی روژے مراد دی یعنی زه کله روژے نیسم اوکله کوږه یم۔ ابن المنير فرمائی: ددے صحابوؓ داخیال وو چه هغه خوف چه باعث وی په عبادت باندے دابه (منحصر) صرف په خوف العقوبة کښ وی، او کله چه په دے پوهه شو چه نبی ﷺ خو بخښلے شویدے نو هغه کښ به خوف نه وی، نو په دے وجه کم عبادت کوی، نو نبی ﷺ پرے رد اوکړو، اودا ئے ورته بیان کړل چه خوف واجلال او عظمت دالله ډیر عظیم الشان دے دهغه ډیر عبادت نه چه منقطع وی۔ واصلی: نود نبی ﷺ تابعداری داده چه دشپے په څه حصه کښ اوده شی، او په څه حصه کښ عبادت اوکړی۔

وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ : زه ودونه هم کوم چه امت زما اقتداء اوکړی، اود انسان کمال دادے چه دحقوق الله هم ادائیګی اوکړی او دحقوق العباد هم۔

تنبیه: دے حدیث کښ په هغے خلقو رد دے چه دبدعتِ حسنه قائل دی، ځکه چه درے واړه صحابوؓ چه کوم څیزونه په ځان دلازم کولو اراده کړے وه هغه دعبادت د قِسم نه وو، لیکن دسنت طریقے خلاف اود هغے نه زیات وو۔ ځکه نبی کریم ﷺ هغه خوښ نه کړل او هغے نه ئے منع اوفرمائیله، نو صحیح دا ده چه کوم عبادت دنبی کریم ﷺ نه نقل وی اوځنګه چه ثابت وی هغسے ئے ادا کړی، هغے کښ دخپل طرفنه کمے زیاتے اونه کړی۔

٧- وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: صَنَعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ شَيْئًا فَرَخَّصَ فِيْهِ فَتَنَزَّهَ عَنْهُ قَوْمٌ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَخَطَبَ فَحَمِدَ اللهَ ثُمَّ قَالَ: مَا بَالُ اَقْوَامٍ يَتَنَزَّهُوْنَ عَنِ الشَّيْءِ اَصْنَعُهُ فَوَ اللهِ اِنِّيْ لَاَعْلَمُهُمْ بِاللهِ وَاَشَدُّهُمْ لَهُ خَشْيَةً ». متفق عليه.

ترجمه: عائشہؓ فرمائی: رسول الله ﷺ یو کار اوکه، او دهغې اجازت ئې ورکړو، لیکن بعضې خلقو هغې نه پرهیز اوکړو، بیا چه رسول الله ﷺ ته دا خبره اورسیدله، نو خطبه ئې اووئیله اود الله دحمد او ثنا نه پس ئې اوفرمائیل: دخلقو څه حال دے چه دهغې څیز نه ډډه کوی کوم چه زه کوم، قسم په الله زه د الله مرضی او نا مرضی دوئ نه زیات ښه پیژنم اوددوئ نه زیات الله نه یریږم۔(بخاری، مسلم)۔

تشریح: صَنَعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ شَيْئًا : ددے ډیر مصداقات دی: ١- یو دا چه رسول الله ﷺ په سفر کښې دمازیګر په وخت روژه ماته کړه، بعض کسانو ماته نه کړه، دا ورته ښه نه ښکاره کیدله، نو نبی ﷺ ارشاد اوفرمایه: (اولئك العصاة) یعنی همدغه کسان ګنهګار دی۔ اګرچه په سفر کښې روژه نیول جواز لری مګر دغه موقع کښې تابعداری پکار وه، یا دا چه روژه ماتول ددوئ طبیعت ښه نه ګنړلو، حال دا چه رسول الله ﷺ ماته کړه۔ ٢- یا نبی اکرم ﷺ دجنابت په حالت کښې په رمضان کښې صبا کولو کښې رخصت ورکړو، بعضو خلقو دا ښه اونه ګنړله۔ ٣- یا د روژه دار دپاره قُبلہ (خپله ښی ښکلول) جائز کړل، بعضِ خلقو تربے انکار اوکړو۔ ٤- یا دا چه ددے حدیث مصداق مخکښې حدیث دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: (فاتزوج النساء واقوم وارقد واصوم وافطر) نو بعض کسانو ددے نه په خپل اجتهاد سره انکار اوکړو۔ نو نبی ﷺ پرے رد اوکړو۔ اوددے په مصداق کښې هر هغه کار داخل دے چه رسول الله ﷺ کړے وی او خلق ترینه نفرت کوی، بے تهذیبی ورته ښکاری لکه څپلو سره مسجد کښې مونځ کول کله چه پاکے وی، یا دخوراك خورولو نه پس ګوتے څټل، یا په غاښونو سره غوښه شکول، په جورابو باندے مسح کول، یو رکعت وتر کول، جمع بین الصلاتین وغیره بے شماره مثالونه ددے مصداقات دی۔ نو مقصد الحدیث دادے چه رسول الله ﷺ نه په هیڅ کار کښې مخکښې کیدل جائز نه دی۔

فَرَخَّصَ فِيْهِ : زمونږ دین کښې دوه قسمه شیان دی: ١- عزیمت هم شته۔ ٢- رخصت هم شته دپاره دآسانئ۔ ﴿ وما جعل عليكم في الدين من حرج ﴾۔ او په دواړو باندے راتلل کول سنت طریقه ده، موقع او محل ته به کتلے شی، بعض وخت به په رخصت کښې خیر ډیر وی دعزیمت نه، او کله به عزیمت بهتر وی درخصت نه۔ ما بال اقوال: دنبی ﷺ ددعوت طریقه کله دا وه چه مخامخ خبره به ئې اوکړه دپاره د تنبیه ورکولو۔ او عامه طریقه ئې داوه چه عامه خبره به ئې کوله، دچا نوم به ئې نه اخستو، دے دپاره چه حکم عام شی اوخوك اونه شرمیږی، رسوا نشی۔

۸- وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ ﷺ قَالَ: قَدِمَ نَبِيُّ اللهِ الْمَدِيْنَةَ وَهُمْ يَأْبُرُوْنَ النَّخْلَ فَقَالَ: «مَا تَصْنَعُوْنَ؟» قَالُوْا: كُنَّا نَصْنَعُهُ. قَالَ: «لَعَلَّكُمْ لَوْلَمْ تَفْعَلُوْا كَانَ خَيْرًا». فَتَرَكُوْهُ فَنَقَصَتْ. قَالَ: فَذَكَرُوْا ذٰلِكَ لَهُ. فَقَالَ: «إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ إِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِنْ أَمْرِ دِيْنِكُمْ فَخُذُوْا بِهِ وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِنْ رَأْيِيْ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ». رواه مسلم.

ترجمه: رافع بن خدیجؓ بیان کوی چه کوم وخت دالله نبی ﷺ مدینے ته تشریف راوړلو، هغه وخت دمدینے خلقو دقجورو اونو کښ قلم لګولو۔ رسول الله ﷺ دے لیدلو سره اوفرمائیل: دا تاسو څه کوئ؟، اهل مدینه عرض اوکړو، موږ (د مخکښ نه) داسے کوو، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل: که تاسو داسے اونه کړئ نو شاید چه بهتر وی، خلقو دنبی ﷺ ارشاد آوریدلو سره هغه پریښودلو نو په هغے کال میوه کمه اوشوه۔را وی وائی: ددے تذکره نبی ﷺ ته اوشوه، نو نبی ﷺ اوفرمائیل: زه هم یو انسان یم هرکله چه زه تاسو ته داسے حکم درکړم چه ستاسو د دین وی نو هغه قبول کړئ او کله چه زه څه خبره عقل سره اوکړم نو تاسو پوهه شئ چه زه هم انسان یم۔ (مسلم)۔

تعارف د رافع بن خدیج ﷺ: اوسی انصاری صحابی، کنیه ئے ابوعبد الله ده، غزوه بدر کښ نبی ﷺ ته پیش شو خو هغه وړوکے اوګڼړلو، پاتے شو بیا اُحُد کښ دجنګ کولو اجازت ورته ملاؤ شو۔په جنګ کښ په غشی اولګیدو۔ نبی ﷺ ورته ارشاد اوفرمایه: (انا اشهد لك يوم القيامة) اوددغه زخم په وجه دعبد الملك بن مروان په دور خلافت کښ سنه (۷۳ھ) کښ په مدینه کښ د(۸۶) کالو په عمر باندے وفات شو۔تول (۷۸) احادیث ترینه نقل دی۔

تشریح: وَهُمْ يَأْبُرُوْنَ النَّخْلَ: د تابیر نه ماخوذ دے یا یابرون دے دنصر یا ضرب نه۔ابر یا تابیر دونے نر په ماده کښ داخلول، قلمی کول، قلم لګولو ته وائی دے دپاره چه اونه بهتره میوه اوکړی، اودا کار به دجاهلیت په دور کښ ډیر وو، نن صبا هم شته۔ كُنَّا نَصْنَعُهُ: دجواب حاصل دادے چه دا کار موږ دپخوا راسے کوو چه په دے سره کجورے زیاتیږی، غټے مزیدارے کیږی۔اوچه قلمی نه وی نو ورے ورے وی او لګے وی۔

لَعَلَّكُمْ: دا لفظ ئے ذکر کړو اشاره ده دیته چه داخبره د وحی په ذریعه نه وه بلکه دنبی ﷺ خپل اجتهاد وو، ددے وجه نه ئے لعل لفظ اووئیلو۔لَوْلَمْ تَفْعَلُوْا كَانَ خَيْرًا: نبی ﷺ اجتهاد اوکړو چه فاعل حقیقی دهر کار الله تعالی دے نو دا قلم لګول بے فائدے کار دے، ځکه چه څه تقدیر کښ وی هغه به کیږی، لیکن نبی ﷺ ددے خبرے نه په غفلت کښ شو چه د الله تعالی عادت جاری دے په دے چه تاثیر اچوی په خپل قدرت سره په بعض څیزونو کښ داسبابِ عادیهٔ په وجه سره۔

فوائد الحديث: ۱- حدیث کښ ذکر دکمال اتباع دصحابوؓ ده د رسول الله ﷺ په هر کار

کښې اګرکه دحِس اُو مشاهدې نه خلاف وي. ۲- اسباب استعمالول او په هغې باندې عمل کول جواز لري. ۳- رسول الله ﷺ بشر او انسان دې، عالم الغيب نه دې (انما انا بشر-اى لا اعلم المغيبات) .(په غيبو نه پوهيږم) ٤- دا دليل دې په دې چه رسول الله ﷺ هر کار په وحي نه کولو، بلکه بعض کارونه به ئې په خپل اجتهاد سره کول. چه کله به صحيح وو، دوحي مطابق به وو، هغه به دين اوګرځيدلو او کوم چه به خلاف وو نو الله به ورله تنبيه ورکړه.

٥- د رسول الله ﷺ تابعداري په امورو ددين کښې لازم ده. بيا د (ما استطعتم) په لفظ کښې اشاره ده ديته چه په ماموراتو کښې استطاعت شرط دې، نه په منهياتو کښې. فتدبر. ٦- که په يو دنيوي معامله کښې ديو خبرې تجربه نه وي نو په دې کښې د هغه هيڅ قِسم تنقيصِ شان نشته، ځکه هغه نبي الآخرة وو.

٩- وَعَنْ اَبِىْ مُوْسٰى قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «اِنَّمَا مَثَلِىْ وَمَثَلُ مَا بَعَثَنِىَ اللهُ بِهٖ كَمَثَلِ رَجُلٍ اَتٰى قَوْمًا فَقَالَ: يَا قَوْمِ اِنِّىْ رَاَيْتُ الْجَيْشَ بِعَيْنَىَّ وَاِنِّىْ اَنَا النَّذِيْرُ الْعُرْيَانُ فَالنَّجَاءَ النَّجَاءَ فَاَطَاعَهٗ طَائِفَةٌ مِنْ قَوْمِهٖ فَاَدْلَجُوْا فَانْطَلَقُوْا عَلٰى مَهَلِهِمْ فَنَجَوْا وَكَذَّبَتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ فَاَصْبَحُوْا مَكَانَهُمْ فَصَبَّحَهُمُ الْجَيْشُ فَاَهْلَكَهُمْ وَاجْتَاحَهُمْ فَذٰلِكَ مَثَلُ مَنْ اَطَاعَنِىْ وَاتَّبَعَ مَا جِئْتُ بِهٖ وَمَثَلُ مَنْ عَصَانِىْ وَكَذَّبَ مَا جِئْتُ بِهٖ مِنَ الْحَقِّ»، متفق عليه.

ترجمه: ابو موسى ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: زما او د هغې څيز مثال چه هغې سره زه الله رالیږلې یم (يعنى دين اوشريعت) د هغې سړي په شان دې چه يو قوم ته راغې ورته ئې اووئيل: اې قومه ما خپلو سترګو سره يو لښکر ليدلې دې اوزه بربنډ (بې غرضه) ويرونکې يم، نو تاسو خپل نجات تالاش کړئ. د هغې قوم يو جماعت د هغه فرمانبرداري اوکړه، اوسپه په شپه روان شو، رو او وتل او نجات ئې بيامندو، هغوئ کښې يو بې ډلې هغه دروغژن اوګڼړلو، او سحره پورې خپلو کورونو کښې وو، نو سحر کښې هغه لښکر راغې په هغوئ ئې حمله اوکړه او هلاك ئې کړل (تردې چه د هغوئ جرړې ئې پريکړې) او د هغوئ نسل ئې ختم کړو، نو دا مثال دې د هغې سړي چه زما خبره ئې اومنله او کوم احکام چه ما راوړي دی د هغې تابعداري ئې اوکړه، او د هغې سړي هم دا مثال دې چه هغه زما نافرماني اوکړه اوکومه حق خبره (دين او شريعت) چه ما راوړې دې د هغې تکذيب ئې اوکړو. (دروغ ئې اوګڼړو). (بخاري، مسلم).

تشريح: وَاِنِّىْ اَنَا النَّذِيْرُ الْعُرْيَانُ: دعربو عادت داوو چه يو سړي به دشمن اوليدو نو خلقو ته به ئې د هغې خبر ورکړو، نو دې دپاره چه تصديق ئې اوکړی ده به قميص پرتوګ اوويستلو. او کپړې خوزول به ئې شروع کړل، اشاره وه اخلاص اوصدق ته. نبي ﷺ خوداسې جامې نه دي ويستلي نو دا

كنايه ده په عربئ كښې د اخلاص نه. زه بربنډ ويره وركونكے يم يعنى مخلص يم په ويره وركولو كښې.

فَالنَّجَاءَ النَّجَاءَ : دا منصوب دے بنا بر اغراء يعنى اطلبوا النجاء، (تادى اوكړئ تادى). نجاء په معنى دتيز مزل سره منډے سره. يا بمعنى النجاة دے مصدر د نَجَا يَنْجُوْ نَجَاءً وَنَجَاةً. يعنى ځان خلاص كړئ!. اشاره ده ديته چه ددے لښكر مقابله هيڅوك نشى كولے. فَادَّلَجُوْا : شپے مزل شروع كړئ، فَانْطَلَقُوْا عَلٰى مَهَلِهِمْ : نوروان شى په آرام سره. مَهَل : بفتح الميم والهاء بمعنى السكينة والتأنّي. (آرام، تاخيراو نرمئ سره) فَصَبَّحَهُمْ : سحر وقت كښې پرے لښكر حمله اوكړى.
حاصل د مثال دا شو چه رسول الله ﷺ فرمائي : مخے ته لښكر يعنى قبر، حشر، جهنم راروان دے، لښكرے دالله راروانے دى، چا چه داخبره اومنله كامياب شو.
على مهلهم : كښې اشاره ده چه دجهنم او قبر او آخرت په ويره اوخوف كښې مطلب دا نه دے چه ته به ځان وژنے په عبادتونو باندے بلكه په مهل (آرام) سره به روان ئے څه عبادت به سحر كښې اوكړے، څه مازيگر څه دشپے نو الله به په دے اعمالو نجات دركړى. خو چه يو سړے بالكل پروت دے هيڅ عمل نه كوى نو هغه ته به څه نجات ملاؤ شى. نو ادلاج (دشپے مزل) ضرورى دے، نو دشپے دمزل نه مراد د الله عبادت كول دشپے دى. فَاَهْلَكَهُمْ : اوځوك چه د نبى ﷺ ددے خبرے تكذيب اوكړى نو لښكر پرے راشى اوهلاك ئے كړى، بيخكنى ورله اوكړى، د قبر او جهنم نه منكر شى اودين اونه منى نو دالله عذابونه به ورباندے راشى بيا به دځائے نه نشى پاڅيدے.

١٠- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَثَلِيْ كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّا اَضَاءَتْ مَاحَوْلَهَا جَعَلَ الْفَرَاشُ وَهٰذِهِ الدَّوَابُّ الَّتِيْ تَقَعُ فِي النَّارِ يَقَعْنَ فِيْهَا وَجَعَلَ يَحْجُزُهُنَّ وَيَغْلِبْنَهُ فَيَتَقَحَّمْنَ فِيْهَا فَاَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ وَاَنْتُمْ تَقَحَّمُوْنَ فِيْهَا». هٰذِهِ رِوَايَةُ الْبُخَارِيِّ، وَلِمُسْلِمٍ نَحْوَهَا وَقَالَ فِيْ آخِرِهَا. قَالَ: «فَذٰلِكَ مَثَلِيْ وَمَثَلُكُمْ اَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ هَلُمَّ عَنِ النَّارِ هَلُمَّ عَنِ النَّارِ فَتَغْلِبُوْنَنِيْ تَقَحَّمُوْنَ فِيْهَا»، متفق عليه.

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : زما مثال دهغے سړى په شان دے چه هغه اور بل كړو هركله چه اور گير چاپيره رنړا خوره كړه نو پتنگان او نور هغه ځناور چه اور كښې غورځيږى شروع شو چه اور كښې غورځيږى، او اور بلونكى سړى هغه منع كول شروع كړل، ليكن هغوئ نه منع كيږى بلكه دهغه په كوششونو غالب راځى او اور كښې غورځيږى، دغسے زه هم ستاسو ملاگانے نيسم او تاسو اور كښې غورځيدو نه منع كوم او تاسو اور كښې

غورځیږي. دا روایت دبخاري دے او مسلم کښې هم داسے روایت دے البته دمسلم دروایت آخري الفاظ دادي : نبي ﷺ اوفرمائیل : بالکل داسے مثال زما اوستاسو دے زه تاسو دملاګانو نه نیسم چه تاسو داور نه بچ کړم اودرته دا وایم چه دوزخ نه بچ شئ ما طرفته راځئ، لیکن تاسو په ما زورور کیږئ او اُور کښې پریوځئ. (بخاري، مسلم).

تشريح : جَعَلَ الْفَرَاشُ : بفتح الفاء پتنګان. يَقَعْنَ فِيهَا : یعنی دا حیوانات دخپل کم عقل توب نه اور ورته باغ ښکاره کیږي، پته ورته نه وي چه دے کښې هلاکت دے نو دا مثال دهغه چا هم دے چه هغوي جاهلان وي، هغوي ته دنیا او ددنیا خواهشات خواږه ښکاره کیږي چه دے کښې فائده ده خو چه هغے ته اودانګي نو اُور ته اورسي.

فَيَتَقَحَّمْنَ فِيهَا : د تقحم نه ماخوذ دے په معنی دګران کار کښې واقع کیدل. بل روایت دبخاري کښې يقتحمن دے من الاقتحام وهو الدخول . آخِذٌ : صیغه داسم فاعل ده، یا متکلم فعل مضارع ده. بِحُجَزِكُمْ : بفتح الحاء والجيم جمع دحُجْزَةٌ ده، بدے ته وائي کوم ځائے چه پرتوګ تړلے شي. عَنِ النَّارِ: ذکر د اور مراد ترینه هغه ګناهونه خواهشات دي چه سبب د اور دي.

فَتَغْلُبُونَنِيْ : بل روایت کښې تغلبوني نون مشدد دے اصل کښې تغلبونني وو. یعنی تاسو په ما باندے غالبه کیږئ زه مو نشم راټینګولے، ځکه رسول الله ﷺ صرف بیان کوي، هغه سره دا واک او اختیار نشته چه خلق په زوره دګناهونو نه بچ کړي، نو د نبي ﷺ دمخالفینو مثال په دے حدیث کښې ددوابو پشان دے، او شهوات اوخواهشاتو او آرازو پسے چه روان وي هغه اور دے اود نبي ﷺ صرف دعوت دے اود رسول الله ﷺ تابعداري داور نه د بچاؤ ذریعه او عقل مندي ده، صحیح رڼا ته تلل دي، ځکه اور کښې ځان واقع کول نه دي پکار، بلکه ددے اور نه فائده اخله چه هغه رڼا ده.

۱۰- وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «مَثَلُ مَا بَعَثَنِيَ اللّٰهُ بِهٖ مِنَ الْهُدٰى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ الْغَيْثِ اَصَابَ اَرْضًا فَكَانَتْ مِنْهَا طَائِفَةٌ طَيِّبَةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ فَاَنْبَتَتِ الْكَلَأَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيْرَ وَكَانَتْ مِنْهَا اَجَادِبُ اَمْسَكَتِ الْمَاءَ فَنَفَعَ اللّٰهُ بِهَا النَّاسَ فَشَرِبُوْا وَسَقَوْا وَزَرَعُوْا وَاَصَابَ مِنْهَا طَائِفَةً اُخْرٰى اِنَّمَا هِيَ قِيْعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً وَلَا تُنْبِتُ كَلَاءً فَذٰلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ وَنَفَعَهٗ مَا بَعَثَنِيَ اللّٰهُ بِهٖ فَعَلِمَ وَعَلَّمَ وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذٰلِكَ رَاْسًا وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللّٰهِ الَّذِيْ اُرْسِلْتُ بِهٖ» .متفق عليه.

ترجمه : ابو موسی ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : دهغے څیز مثال چه الله تعالی ماته راکولو سره پرے زه را اولیږلم (یعنی علم او هدایت) ددیر باران پشان دے چه په زمکه کیږي، نود زمکے ښے تکړے هغه قبول کړي (یعنی ځان کښې ئے جذب کړي) او هغے نه ډیر

زیات اوچ او شنه واښه پیدا شی۔اود زمکے یوه ټکړه داسے قحط زده (سخته) وی چه دهغے دپاسه اوبه جمع شوې الله دهغے نه هم خلقو ته نفع اورسوله خلقو هغه اوڅکلے او په نورو ئے اوڅکولے اوپتی (فصلونه) ئے پرے اوبه کړل۔اود باران دا اوبه دزمکے داسے ټکړے ته هم اورسیدے چه هغه بالکل صفا میدان وو، نه خو ئے اوبه ایسارے کړے اونه ئے واښه زرغون کړل۔نودا تول (مذکوره مثالونه) دهغے سړی مثال دے چه هغه دالله په دین پوهه شو او کوم څیز باندے چه الله تعالی زه رالیږلے یم هغه دهغے نه ئے نفع اوچته کړه، نو خپله ئے هم زده کړو او نورو ته ئے هم اوښودلو، اود هغے سړے مثال دے چه هغه دالله په دین پوهیدو باندے (دتکبر په وجه) سر هم اوچت نه کړو اود الله تعالی هدایت چه زما په ذریعه ئے رالیږلے وو قبول نه کړو۔(بخاری، مسلم)۔

تشریح : (ربط) : داحدیث هم د اعتصام بالکتاب والسنة سره لګیږی هغه دا چه رسول الله ﷺ چه کوم قرآن او حدیث راوړیدے دا دډیر باران په شان دے، دے نه بعض خلق فائده اخلی، بعض خلق نه اخلی، چاچه فائده واخسته نو دنیا او آخرت دواړو کښ به کامیاب شی او بل چاته به ترینه هم فائده اورسی، اوکه چا ترینه فائده وانخسته نو دا هسے ډاګه (شاړه) ده، بے فائدے۔نو دلته تشبیه دهغه انسانانو ورکړے شویده چه څوك د نبی اکرم ﷺ دحدیثو نه فائده اخلی او څوك ئے نه اخلی لکه تفصیل را وان دے۔

فوائد الحدیث : مِنَ الْهدیٰ وَالْعِلْمِ : دنبی ﷺ هر حدیث هدایت هم دے او علم هم۔علم اصل کښ هغه شئ ته وائی چه انسان الله ته اورسوی۔ دا علم حقیقی دے، اوکوم علم چه الله ته انسان نه رسوی، نو هغه هسے معلومات دے، دا معلومات دکافرو سره هم شته۔ د الله په نیز ددغه قِسم علم هیڅ فضیلت نشته۔څکه ئے دهدیٰ لفظ مقدم کړو چه هغه علم چه عین هدایت دے هغه فائده مند دے۔ کَمَثَلِ الْغَیْثِ : تشبیه ئے دباران سره ورکړیده، ددے ډیرے فائدے دی : ١ – یو دا چه باران هم دبره نه راغلے دے۔٢ – هیڅ یو شے ورسره مختلط نه دے، نو کتاب او سنت هم دبره نه راغلی دی، هیڅ شے ورسره مختلط نه دے۔

٣ – باران کښ صفائی وی، دا هم صفا دین دے دفطرت برابر، دزړه او دبدن دواړو دجوړلو دین دے، په خلاف دانسانانو دخبرونه چه هغه علم ارضی دے، نو کوم دین چه ارضی (زمینی) وی هغه دانسانانو روحونه نشی جوړولے، دانکتے دی۔ الکثیر : ٤ – کښ اشاره ده چه د قرآن اوحدیث فائده هرچاته رسیږی، که غریب وی که مالدار، طالب وی که مُلا، زنانه وی که نارینه ددے ټولو احکام په کښ شته دے داسے نه دے لکه نیمګړے باران چه بعضو ته اورسی او بعضو ته نه، دالله دا سماوی دین کامل دے۔څوك چه دا احادیث دنبی اکرم ﷺ ناقص ګڼړی، اوکتابونو کښ لیکی چه تاسو (متبعین دکتاب اوسنت) وائے چه قرآن او سنت کامل دی نو میبنه په قرآن

اوحدیث کښې کوم ځائې ذکر شویده ؟ نو وائی امامانو ته ضرورت دے۔ مونږ وایو امامانو ته حاجت شته خو داسے نشته لکه تاسو چه څنګه شارعان ګرځولی دی، بلکه دالله دین کامل دے، امامان خو به دا مسئله دځانه نشی کولے، بلکه ضرور به دا دحدیثونه ثابته وی، چه په کتاب اوسنت کښې یوه مسئله نه وی نو امامان هغه دکوم ځائے نه راویاسی۔ او هرکله چه کتاب اوسنت کښې شته نو کمال کتاب او سنت ته حاصل دے، او دوئ کمال تول قیاس ته منسوب کوی۔ نو زمونږ اود دوئ په منهج کښې دا فرق دے چه دوئ کتاب اوسنت ناقص او قیاس کامل ګنړی، او مونږ کتاب اوسنت کامل او قیاس ناقص ګنړو۔

قیاس مثبت دهیڅ مسئلے نه دے۔ اوبیا چه لا دکتاب او سنت په مقابله کښې وی نو هغه خو به خامخا باطل وی۔ دوئ چه په کومو مسئلو کښې دقیاس دعوی کوی مونږ سره په هغے باندے نصوص موجود دی۔ دوئ دپاره دعمر فاروق رضی الله عنه ددے ارشاد نه خوف پکار دے چه هغه فرمائی: (اهل الرأی اعداء السنن، اعیتهم الاحادیث ان یعوها فقالوا بالرأی فضلوا واضلوا) (الدارمی ٤٧/١رقم ١٢١) جامع بیان العلم وفضله (١٠٤١/٢رقم٢٠٠١).(شرح اعتقاد اهل السنة) ۔ (اهل رایه د سنت طریقو دشمنان دی، د احادیثو د یادولو نه ستړی ستومانه دی نو بس خپله رأیه خلقو ته وړاندے کوی) دا خبره بعینهٖ نن صبا موافقه شویده۔ چه یوه مسئله به ښه صفا قرآن او حدیث کښې راغلی وی خو دوی به پکښې د ملایانو خبرے نقل کوی او حدیثو کتاب نه به دا مسئله نه بیانوی پدے وجه ډیر کرت خطاء شی)

سوال: په مشبه به کښې درے قسمه زمکے ذکر دی: ١- قَبِلَتِ الْمَاءَ۔ ٢- اَمْسَکَتِ الْمَاءَ۔ ٣- قِیْعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً وَلَا تُنْبِتُ کَلَاءً)۔ اوپه مشبه کښې دوه شیان ذکر شو، یعنی دانسانانو دوه اقسام ذکر شو یو: ١- مَنْ فَقُهَ فِیْ دِیْنِ اللهِ ۔ ٢- من ابی ولم یرفع بذلك رأساً)۔ نو په ما بین دمشبه او مشبه بهٖ کښې ظاهراً مناسبت نه ښکاری، ددے څه تطبیق دے ؟

جواب: ددے د تطبیق دوه طریقے دی: ١- یو دا چه انسانانو کښې درے قسمه طبقے دی: ١- هغه چه علم هم کوی او ورسره عمل پرے هم کوی۔ ٢- هغه چه علم کوی مګر عمل پرے نه کوی، لکه فاسقان شو۔ ٣- هغه چه نه علم حاصلوی اونه عمل کوی، علم دین نه قبلوی۔ دا د منافقانو حال دے۔ نو په حدیث کښې اعلیٰ او ادنیٰ طبقے ذکر دی، او دفاسقانو حال حذف شویدے للتخویف (د یرولو) والرجاء (او امید ورکولو)۔ لکه دا د قرآن عامه طریقه ده، اعلیٰ ادنیٰ راوړی اوغالباً د فاسقانو حال حذف کوی۔

٢- دویمه طریقه راجح ده، هغه دا چه انسانان په باب د احادیثو کښې په درے قسمه دی:

١- **یو اصحاب الدرایة والروایة** (چه د دین په مسائلو هم پوهه وی او د هغے روایت هم نقل کوی) دی لکه امام بخاری، امام احمد، امام مالك، امام علی بن المدینی وغیره – رحمهم الله – چه روایت هم نقل کوی، حفاظ الحدیث دی، اوددے سره سره استنباط الاحکام هم کوی

داحادیثو نه، یعنی محدثین او مجتهدین دواړه دی۔نو ددوئ نه امت ته ډیره فائده رسیږی۔

۲ - دویم اصحاب الروایة، لا الدرایة دی یعنی هغه چه صرف روایت نقل کوی، حفاظ دی خو ملکه داستنباط په کښې نشته، لکه شعبة بن الحجاج، قتیبه بن سعید، مسدد او نور راویان دحدیث شول، په دوئ سره انسانانو ته فائده رسیږی چه امت ته ئے احادیث رارسولی دی، اگرچه مسائل ترے نه دی راویستلی، نودا دویمه درجه شوه۔

۳- دریم : لا اصحاب الروایة ولا اصحاب الدرایة : یعنی نه حفاظ الحدیث دی اونه مجتهدین دی۔ نو اول مثال داولے زمکے شو چه گیاه را اوتوکوی او دویم مثال ددویمے زمکے (اجادب) شو، اوبه ځان کښې ساتی۔او دریم دعوامو طبقه ده۔اودا طریقه ښه ده ځکه دلته لفظ د (فنفع الله بها الناس) راغلے دے، او الله دفاسق دلاس نه غالباً نفع نه اخلی۔ بناء په دے باندے په (من فقه) کښې دوه اولنئ طبقے داخل دی، اصحاب الروایة والدرایة۔او اصحاب الروایة فقط۔طیبه : متینه زمکه وی چه بوټی په کښې رازرغونیږی او باران قبلوی، نو ددے مؤمنانو تشبیه ددے زمکے سره ورکړے شوه ځکه زمکه کښې عاجزی ده نو دے خلقو کښې هم دکتاب اوسنت په وجه عاجزی را پیدا شویده۔ دارنگه زمکه کښې ډیرے فائدے دی اودا هم هغه علماء دی چه خلقو ته ډیرے فائدے ورکوی، خیرئے عام دے۔قبلت الماء : دوئ هم علم قبول کړو۔

اَلْکَلَاءَ وَالْعُشْبَ : دا دواړه گیاه ته وائی۔خو لگ شان فرق په کښې شته دے، کلاء بالهمزه اوچے اولمدے دواړه قِسمه گیاه ته وائی۔ اوکلابدون الهمزه صرف لوندے گیاه ته وائی۔العشب : بضم العین لمدے گیاه ته وائی، نو عطف د العشب په الکلاء باندے عطف الخاص علی العام دے، اشاره ده په کښې ډیر والی دگیاه گانو ته۔ (یعنی گیاه او واښه) نو دے علماؤ کښې هم ډیرے فائدے دی۔ اَجَادِبُ : جمع د اَجْدَب ده، هغه سخته زمکه چه اوبه جذب کوی اوگیاه نه را زرغونوی۔ یعنی قحط زده زمکه۔ دے کښې اشاره ده هغه چاته چه احادیث زده کړی خو خپله پرے عمل اونه کړی یعنی فاسقان وی خو بل ته ئے څه نه څه فائده اورسی۔خو دلته ښه داده چه دا دهغه علماؤ چه اصحاب الروایة دی مثال دے ځکه دے کښې د (فنفع الله بها الناس) لفظ راغلے دے، اود فاسقانو دخولے او لاس نه الله چاته ډیره فائده نه ورکوی غالباً، دا تجربه هم ده، چه یو انسان دهغه چانه قرآن او حدیث اووائی چه دهغه په دے باندے دسره دعمل اراده نشته نو دهغوی دخولے نه خبره نه یادیږی، اود کومو انسانانو چه دعمل اراده وی دهغوی دخولے نه خبره ښه یادیږی۔ذهن کښې ډیروخته پورے پرته وی، فائده ورکوی۔ فشربوا : خپله ئے هم اوڅکی او حیواناتو ته ئے هم ورکړی او فصلونه پرے هم اوکری۔یعنی هغوی ئے خپلو اولادو اوشاگردانو ته بیان کړی۔

قیعان : جمع د قاع ده هوار میدان ته وائی۔یعنی داسے سورے وی چه اوبه هم نه جمع کوی، او گیاه هم نه را زرغونوی۔دامثال دهغه فاسقانو عوامو دے چه دوکانداران دی او خپل کار کسب

پسے ورك دی، اود الله ددین هیڅ پرواه نه لری، اودا هغه حدیث دے چه امام محمد بن عبد الوهاب التمیمیؒ په مجموعة التوحید کښ ذکر کړیدے دتکفیر دهغه چا دپاره چه څوك دین نه زده کوی اونه په دین باندے عمل کوی تر مرګه پورے، اونه ئے د سره اراده شته، نو دهغه پاره ئے دا مثال دقیعان راوړیدے ځکه ټوله زندګیٔ ئے په غیر د الله دارادے نه تیره شویده۔ اودا قِسم انسانان نن صبا ډیر دی۔ او بناء په دے باندے (من فقه) کښ به اصحاب الدرایة والروایة دواړه طبقے داخل وی۔ ځکه دچا فقاهت زیات دے اود چا کم۔

فَقُهَ : د فِقْهے تعریفونه مخکښ تیر شویدی چه (معرفة سرّ الاشیاء)، (دمسئلے راز معلومولو ته وائی)۔ ۲– دارنګه (معرفة الشئ بدلیله) ته هم وائی۔(د الله اورسول ﷺ حکم پیژندل مع الدلیل ته وائی)۔ نوکه یو شخص ته یوه مسئله معلومه وی خو دلیل او راز ورته نه وی معلوم نو ده ته هسے ناقل دمسائلو وائی، فقیه ورته نه وئیلے کیږی۔ او زمونږ دمتاخرینو په اصطلاح کښ فقیه هغه چاته وائی چه ډیرے جزئیے یادے وی، ډیر فرضی او غیر فرضی صورتونه جوړولے شی۔ لیکن دا شرعی فقیه نه دے۔ بیا (فَقُهَ او نَفَعَهُ اوعَلَّمَ)کښ دریے حالتونو طرفته اشاره ده چه اول علم زده کول، بیا عمل کول او بیا ددے تعلیم کول۔ او علم کښ هم دا نیتونه کول پکار دی۔ نو دا فائده مند علم دے۔

۱۲– وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: تَلا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ﴿ هُو الَّذِیْ اَنْزَلَ عَلَیْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آیَاتٌ مُحْكَمَاتٌ﴾ وَقَرَأَ اِلٰی ﴿وَمَا یَذَّكَّرُ اِلَّا اُولُوا الْاَلْبَابِ﴾ قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:« فَاِذَا رَأَیْتَ » وَعِنْدَ مُسْلِمٍ:« رَأَیْتُمُ الَّذِیْنَ یَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ فَاُولٰئِكَ الَّذِیْنَ سَمَّاهُمُ اللهُ فَاحْذَرُوْهُمْ». متفق علیه.

ترجمه : عائشهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړو : هوا لذی انزل علیك الكتاب منه آیات محکمات تر وما یذکر الا اولوا الباب پورے ئے اولوستلو۔ عائشهؓ فرمائی : دے آیت لوستلو سره رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم وخت چه ته اووینے چه خلق هغے آیتونو پسے لړی کوم چه متشابه دی نو (تاسو پو هه شئ چه دا) هغه خلق دی چه دهغوئ نوم الله تعالی کجرو (یا ګمراه) ایښے دے نو دے خلقو نه بچ اوسئ (بخاری، مسلم)۔

تشریح : دا ډیر عجیب حدیث دے ددے موجوده دور سره هم ډیر ښه لګیږی۔ **فوائد الحدیث** : نبی ﷺ دا آیتونه اولوستل او بیائے ورله تفسیر اوکړو، اشاره ده دیته چه نبی ﷺ شارح او مفسر دقرآن دے۔ آیَاتٌ مُحْكَمَاتٌ او متشابهات : ددے پوره توضیح به په علم التفسیرکښ بیانیږی۔ مختصر دا چه آیات محکمات کښ راجح تفسیر دا دے چه ظاهرة المراد دی، چه احتمال دډیرو معنو نه لری، لکه اقیموا الصلاة، او ذلك الكتاب لاریب فیه ـ او متشابهات هغه دی

چه خفية المراد وي۔ ٢- يا هغه چه احتمال دګنړو وجوهو په کښې وي چه بعض معاني په کښې صحيح وي، دالله مراد وي، بعض غلطې وي د الله مراد نه وي۔ اهل الزيغ غلطه معنى اراده کوي، کوم چه د الله مراد نه وي، د قرآن او حديث نه خلاف وي۔ دمحکماتو سره تعارض راولي۔ لکه الله نهي او منع کوي چه ﴿ولا تدع من دون الله ما لا ينفعك ولا يضرك﴾ [يونس : ١٠٦]۔ او ﴿اياك نعبد واياك نستعين﴾ ۔ اهل الزيغ وائي ﴿فاستغاثه الذي من شيعته﴾ نه دے راغلې څه، وائي دغير الله نه مدد طلب کول جائز دي۔ دا متشابهات دي څکه موسى عليه السلام خو ژوندے وو د ژوندي نه مدد طلب کول خو جائز دي، نو دلته استغاثه مقيده ده۔ چرته چه د (نُور) لفظ راشي نو هلته استدلال کوي چه نبي ﷺ نور دے۔ او په محکماتو کښې دي چه ﴿انما انا بشر﴾ مونږ وايو (نُور) دے خو په صفت کښې يعني صفت ئے نُور دے قرآن او حديث ورله الله نُور ورکړيدي، اوذات ئے بشر دے داسے ډير مثالونه دي۔ دا آيات اودا حديث په ډيرو مسائلو کښې جاري کيږي۔

لکه دا د متاخرينو غلطه عقيده ده چه يو طرفته محکم حديث وي بل طرفته متشابه نو دوئ دمتشابه تعارض پيدا کړي دمحکم حديث سره۔ لکه ددے مثال يو دا واخله حديث دے (لا نكاح الا بولي) (د ولي نه بغير نکاح نه کيږي) دا واضح او صحيح حديث دے۔ او بل طرفته (الايم احق بنفسها من وليها) (بے واده زنانه د ولي نه په خپل ځان ډيره حقداره ده) متشابه حديث دے نو پکار داده چه ددے دويم حديث داسے معنى اوکړے شي چه راجع شي هغه اول محکم حديث ته، او تعارض ئے خپلو کښې ختم شي هغه دا چه زنانه به بلا ولي په نکاح ځان نشي ورکولے، خو ولي به هم د زنانه رضاء ته ګوري، زور به پرے نه کوي څکه دا ډيره حقداره ده۔

* اودلته شريعت دولي اود زنانه ددواړو دحق لحاظ ساتلے دے۔ ولي (پلار ورور وغيره) ته وائي : دا لور خور تا نشي شرمولے چه په خپله طبعه دکوم هلك سره نکاح اوکړي، بلکه تانه به اجازت غواړي۔ او بل طرفته جينئ ته وائي : ستا حق ستا پلار او ورور نشي غصب کولے چه ستا د رضا نه بغير دوئ تا چاله ورکړي۔ بلکه ستا رضا به ورسره خامخا ملګرے وي۔ نو اوګوره شريعت څومره خيال د دواړو طرفونو اوساتلو، اودا څومره دعدل اود انصاف فيصله ده!

* او بل طرفته د دوئ د جبر او ظلم دے فيصلے ته ګوره، جينئ ته وائي : ستا چه څه خوښه وي هغه کوه، دپلار او ورور پتا کښې هيڅ کار نشته، دخپله سره شوه۔ او پلار ورور ته وائي : ګديکه چه شرميږے لور خور دے په خپل سر نکاح اوکړه، تانه دے تپوس اونه کړي کنه هيڅ باك نشته !!

فَإِذَا رَأَيْتَ : دا تاء يا مفتوحه ده هر مخاطب ته خطاب دے لکه روستو فاحذروهم ئے جمع کړيدے۔ او يا تاء د تانيث ده عائشےؓ ته خطاب دے ليکن اوله معنى بهتره ده۔ سَمَّاهُمُ اللهُ : يعني الله مسمى کړيدي په اهل الزيغ او زائغينو سره په دے آيت کښې (في قلوبهم زيغ)۔

فَاحْذَرُوْهُمْ : ځان ترينه ساتئ، خبرے اترے ورسره مه کوئ، تعلق ورسره پريږدئ، دا مبتدعين

دی لائق دیے عزتئ دی ۔امام نوویؒ فرمائی : دا حدیث دلیل دیے په دیے چه د اهل بدعو مجالسو ته به نه ورځې کله چه دهغوی دعوت وی، پروګرام وی، دهغوی درس او تدریس او بیان ته به نه ورځې۔ولے که ورنزدیے شویے نو هغوی سره به داسے شبهات وی چه تابه ګمراه کړی۔فتنه کښې به دیے واچوی۔ او قرآن کښې هم دغه شان منع راغلے ده ﴿ واذا رأیت الذین یخوضون فی آیاتنا فاعرض عنهم ﴾ [الانعام:٦٨] ۔ افسوس چه بیا هم زمونږ مسلمانان او طالبان دمبتدعینو بیاناتو اود هغوی درسونو ته حاضریږی، د نبی ﷺ دیے امر ته اوګوریٔ (فاحذروهم) اوګمراهی ددیے خلقو په وجه ډیره خوریږی چه آیت اوحدیث وائی خو غلط مطلب ترینه اخلی۔خلق پریے دهوکه کوی۔

١٣- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ قَالَ: هَجَّرْتُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَوْمًا قَالَ فَسَمِعَ اَصْوَاتَ رَجُلَيْنِ اخْتَلَفَا فِيْ آيَةٍ فَخَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُعْرَفُ فِيْ وَجْهِهِ الْغَضَبُ فَقَالَ: «اِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِاخْتِلَافِهِمْ فِي الْكِتَابِ». رواه مسلم.

ترجمه : عبد الله بن عمروؓ فرمائی : زه د رسول الله ﷺ خدمت کښې غرمه کښې حاضر شوم، رسول الله ﷺ ددوو سړو آوازونه واوریدل چه یو متشابه آیت کښې ئے اختلاف کولو (یعنی دهغے معنی کښې ئے جګړے کولے) رسول الله ﷺ مونږ ته را اووتلو (هغه وخت) په مخ مبارك ئے دغصے آثار ښکاره وو۔نبی ﷺ اوفرمائیل : تاسو نه مخکښې خلق کتاب (الله) کښې داختلاف کولو په وجه هلاك شویے دی۔(مسلم)۔

تشریح : هَجَّرْتُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ : د تهجیر نه دمتکلم صیغه ده یعنی غرمه کښې نبی ﷺ ته راغلم۔تهجیر هاجره یعنی غرمه کښې راتللو ته وائی۔غرمه کښې وختی په دیے وجه راغلے دیے چه نبی ﷺ دحجرے نه دراوتلو سره لاندیے کړی چه دهغه اقوال او افعال اووینی۔

اخْتَلَفَا فِيْ آيَةٍ : ١- یعنی جګړه ئے وه په معنی دیو متشابه آیت کښې۔٢- یا دا چه په لفظ او قراءت دآیت کښې ئے اختلاف وو۔ یعرف : صیغه دمجهول ده یعنی معلومیدیے شوه۔

اِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ : مراد ترینه یهود او نصاری دی۔ بِاخْتِلَافِهِمْ فِي الْكِتَابِ : ددیے اختلاف نه مراد دادیے چه بعض وائی دا آیت قرآن دیے او دا نه دیے، او داسے اختلاف کول لکه یهود او نصاراؤ چه پیدا کړیے وو، چه خپل کتاب کښې به ئے بعض ځایونه منل او بعض نه۔ ٢ - یا اختلاف نه مراد تعارض پیدا کول دی په قرآن کښې ددیے دپاره چه خلق په شبهاتو اوشکونو کښې واچوی۔او هرچه هغه اختلاف دیے چه د اظهار الحق دپاره وی نو دا نه دیے مرا دبلکه دا ښه کار دیے، صحابوؓ به هم د اظهار الحق دپاره داسے اختلاف خپل مینځ کښې کولو۔ اختلاف القراء ات هم نه دیے مراد ځکه دا په حدیث سره ثابت دیے۔اختلاف فی الکتاب سبب دهلاکت په دیے وجه

دے چه دا د نبی ﷺ په دین کښ د تردد او د شك نښه ده، او د نبی ﷺ په موجودګئ کښ بے ادبی ده۔ امام نوویؒ فرمائی : مقصد د حدیث تحذیر (ویره) ورکول دی د هغه اختلاف نه چه انسان لره کفر او بدعت طرفته رسوی (شرح مسلم : ۳۳۹/۱) لکه اختلاف دیهود او نصارئ، او دد ے اختلاف مثال داسے دے لکه چه په نفس قرآن کښ اختلاف کول او یا په معنی دقرآن کښ چه په هغے کښ اجتهاد له دخل نه وی۔ ۳- او یا شك او شبهه پیدا کوی، او یا د یو بل سره فتنه او خصومت او بغض او کینه پیدا کوی نو دا منع دے۔

اسباب د هلاکت داهل کتابو داوو : ۱- الاختلاف علی الانبیاء۔ ۲- انما هلکوا حین قصوا کذا فی صحیح الجامع الصغیر۔ (قصے بیانول او په هغے عمل نه کول) ۔۳- وصل الشعر (بازاری ویخته په سر کښ کیخودل) لکه معاویهؓ په منبر باندے فرمائیلی وو چه ستاسو علماء څه شو چه تاسو مسئله اوکړی څکه پخوانی امتونه پدے وجه هلاك شو چه ښځو به ئے په سرونو پورے ویښته وغیره غوټه کول)۔ ٤- الاختلاف فی التقدیر۔ ٥- الاختلاف فی الکتاب۔ ٦- انما هلك من قبلکم بالغلو فی الدین۔ رواه الحاکم بسند صحیح عن ابن عباس مرفوعاً۔ (په دین کښ غلو او زیاتے کول)

٧- دفرض مانځه او سنتو په مابین کښے فرق نه راوستل او زر پاڅیدل لکه عمرفاروق ؓ یو سړے پدے کار کولو باندے رټلے وو او کینولو او دائے اووئیل چه پخوانی خلق پدے وجه هلاك شو چه د هغه دمونځونو ترمینځ فرق نه کولو د نبی علیه السلام سر تیټ وو نو د عمر ؓ پدے کارئے سر راپورته کړو او وے فرمائیل : اصاب الله بك یا احسن الله بك یاابن الخطاب یعنے الله ستا د لاس نه ښه کار واخستو۔ (وهذا الحدیث یأتی فی باب الذکر بعد الصلاة الفصل الثالث)۔

٨- د انبیاؤ نه تعنتی (عنادی) سوالونه کول او په هغوی اعتراض کول) کما فی حدیث ابی هریره عند ابن حبان (١٩٩)۔ ٩- حدیث کښ دی : (واتقوا الشح فان الشح قد اهلك من کان قبلکم رواه مسلم)۔(د بخل او بد نیتئ نه ځان بچ کړئ څکه پخوانی په شح سره هلاك شوی وو)۔

١٤- وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:اِنَّ اَعْظَمَ الْمُسْلِمِیْنَ فِی الْمُسْلِمِیْنَ جُرْمًا مَنْ سَأَلَ عَنْ شَیْئٍ لَمْ یُحَرِّمْ عَلَی النَّاسِ فَحُرِّمَ مِنْ اَجْلِ مَسْأَلَتِهٖ».متفق علیه.

ترجمه : سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : مسلمانانو کښ د تولو نه لوئی ګنهګار هغه سړے دے چه هغه دیو داسے څیز تپوس کړے وی چه هغه حرام نه وو، خو د هغه دتپوس په وجه هغه حرام شوے وی۔ (بخاری، مسلم)۔

تعارف د سعد بن ابی وقاص ؓ : دده دپلار نوم مالك بن وهیب دے، او د سعد کنیه ابو

اسحق الزهری القرشی دے۔ دا اووم مسلمان دے۔ د (۱۷) کالو په عمر ئے اسلام قبول کریدے، یو روایت کښې دی چه دے فرمائی: زه دریم مسلمان یم، او اول غشے مے په اسلام کښې ویشتلے دے۔ په عشره مبشره کښې داخل دے، اود شپږ کسیزے شورئ یو فرد دے۔ داسلام شهسوار دے۔ دعراق په فتح کښې دلښکر مشر وو۔ نبی اکرم ﷺ دده په حق کښې داکلمات فرمائیلی وو (فداك ابی وامی) یعنی زما مور پلار دے تا نه قربان شی۔ اکثر فارس دده په لاس فتح شویدے۔ دنبی ﷺ نه ئے مخکښې هجرت کریدے۔ دا مستجاب الدعوة انسان وو۔ دنبی ﷺ پهره دارهم وو۔ احادیث منقوله دده نه (۲۱۵) دی۔ خپله بنګله کښې د (۷۷) کالو په عمر وفات شویدے کومه ئے چه د مدینے نه لس میله وړاندے په عقیق مقام کښې جوړه کړے وه او بقیع کښې دفن کړے شو سنه (۵۵ هـ)۔

تشریح: اِنَّ اَعْظَمَ الْمُسْلِمِيْنَ فِي الْمُسْلِمِيْنَ جُرْمًا : **فائده**: داحدیث دخصوصیاتو دصحابوؓ نه دے څکه چه په هغه زمانه کښې تحلیل او تحریم راتلو په سوال د دوئ سره، روستو نشی راتلے۔ او مونږ دپاره په کښې فائده داشوه چه تشدد په بے ځایه مسئلو کښې نه دے پکار۔ دارنګه فرضی مسائلو نه ځان ساتل پکار دی۔ لکه صحابوؓ په تراویحو کښې تشدد کولو نو نبی اکرم ﷺ منع کړل۔ دارنګه نبی ﷺ فرمائی (ذرونی ما ترکتکم) دارنګه یو صحابی اقرع بن حابسؓ عرض اوکړو: آیا حج هر کال فرض دے؟ نبی ﷺ غصه شو، چه که هر کال فرض وے نو ما به درته وئیلی وے، ستا تپوس ته څه ضرورت دے۔ اودا حدیث (حدیث دسعدؓ) په منزله دده آیت دے ﴿ یآیها الذین آمنوا لا تسالوا عن اشیاء ﴾ [المائده: ۱۰۱]۔ یا دغه حدیث دده آیت نه ماخوذ دے۔

فائده: اقسام السؤال: امام شاطبیؒ په الموافقات کښې د سؤال لس اقسام لیکلی دی:

۱- سوال دهغه څیز چه په دین کښې فائده نه ورکوی۔ ۲- سؤال دهغه څیز چه کافی بیان ئے اوشی۔ ۳- سؤال دهغه څیز چه په هغه وخت کښې ئے ضرورت نه وی۔ ٤- سؤال د اغلوطات (غلطیانو) چه جواب ئے نه وی۔ ٥- سؤال دعلتونو داحکام شرعیهؤ چه په شرع کښې هغه ذکر نه وی۔ ٦- سؤال دهغه امورو چه تکلف پیدا کوی۔ ۷- سؤال په معارضه دکتاب اوسنت کښې پخپله رائے سره۔ ۸- سؤال دمتشابهاتو نه۔ ۹- سؤال دمشاجراتو دصحابه کرامو نه یعنی دهغوی دکورنی جنګونو ترمینځ کول)۔ ۱۰- سؤال په طریقه دتعنت (ضد) سره دپاره دچپ کولو دعالم۔ مثالونه ئے په ترتیب سره دا دی: د اول مثال په حدیث دعبد الله بن حذافهؓ کښې دے چه خپل پلار په باره کښې ئے دنبی علیه السلام نه اوکړو (من ابی ؟) متفق علیه۔

یا دهلال په باره کښې تپوس چه څه سبب دے چه هلال (سپوګمئ) نرے وی او بیا لوئیږی۔ د دویم سوال مثال: دحج په باره کښې د اقرع بن حابسؓ تپوس چه (افی کل عام ؟) د پنځم سوال مثال لکه سوال چه په حائضه زنانه ولے قضاء دمانځه نشته ؟ دشپږم مثال: دصاحب حوض نه

تپوس کول چه آیا ستا حوض ته درندگان راځي ؟ نو عمرؓ ورته اووئیل : داخبر مونږ ته مه راکوه۔ اود نورو مثالونه ډیر موجود دي۔ دا ټول سوالونه مکروه او خلاف شرع دي، او آیت (لا تسئلوا عن اشیاء) [المائده : ١٠٠] کښې داخل دي۔ کذا فی تفسیر احسن الکلام للشیخ ابی زکریا عبد السلام الرستمي جزء رابع (١٦٢)۔

لَمْ يُحَرَّمْ : مسئله نافعه : اصل په اشیاؤ کښې څه شے دے ؟

بعض وائي : اصل په اشیاء کښې مطلقاً اباحت دے۔ دا قول غلط دے بلکه په دے مقام کښې تفصیل دے هغه دا چه دلته درے قوله دي : ١- اول قول دادے چه اصل په ټولو اشیاؤ کښې حرمت دے مگر که دلیل راغلو دحل نو بیا به حلال وي، دا قول بے دلیله دے۔

٢- دویم قول داشاعرو دے چه اصل په اشیاؤ کښې توقف دے، تردے چه ددے په حرمت یا حِل باندے دلیل قائم شي۔ ٣- اصح قول دادے چه دلته تفصیل دے۔

هغه دا چه اشیاء په درے قسمه دي :

١- عبادات۔ ٢- معاملات، اطعمه، طهارات۔ ٣- فروج (زنانه)۔

* نو اصل په عباداتو کښې توقیف دے، ترڅو چه سمع دشارع نه اونشي نو مونږ به دځانه عبادت نه جوړ وو، قیاسونه په کښې نه چلیږي، لکه دا قاعده شیخ الاسلامؒ په مجموعة الفتاوی (٣٣٤/١) او شرح العقیدة الطحاویة اوکتاب الاعتصام کښې ذکر شویده۔ **دلیل** دا دے چه که اصل په عباداتو کښې توقیف نشي نو بیا به د یو رکعت په ځائے لس رکعته کول موجب دثواب وي په فرضو کښې۔ حال دا چه دا غلطه ده، دځانه عبادت جوړول دمبتدعینو کار دے (من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو رد) پرے دلیل دے۔

* دویم فروج (زنانه) دي اصل په دے کښې حرمت دے هر فرج حرام دے (الا ما احل الله ورسوله)۔ او الله او رسول ﷺ دانسان خپله ښځه او وینځه حلاله کړیده، په حرو (آزادو) کښې څلور افراد، او په وینځو کښې چه هر څومره وي۔

* او اصل په معاملاتو، اطعمه، طهاراتو، ماکولاتو اومشروباتو کښې اباحت او حلال والے دے، تردے چه دلیل دمنع اود حرمت قائم شي۔ نو هره معامله، خوراك، څښکاك، لباس وغیره استعمالول جائز دي مگر کوم نه چه منع راغلې وي هغه استعمالول به حرام وي۔ اودا د مفتی دپاره ډیره مفیده قاعده ده ډیر مسائل پرے حل کیږي او په رد دمبتدعینو کښې هم د تریاق حیثیت لري۔ څکه هغوی مثلاً وائي : دعاء ښه کار دے، نو بعد السنة په هیئت اجتماعي یې هم کوه۔ دے کښې منع نه ده راغلے۔ دارنګه وائي چه تاسو وائے هر شے په حدیث کښې راغلے دے نو تاسو چه رومال، څادر، گهړئ او توپئ اچوئ دا په کوم حدیث کښې راغلي دي۔ نو دا قاعده ددے جواب ورکوي چه اصل په عباداتو کښې توقیف دے، او په خوراك، څکاك اولباس وغیره

کښې اصل اباحت دے (کل ما شئت والبس ما شئت ما اخطاتك خصلتان، سرف ومخيلة الحديث)۔
(یعنی هر خوراك څکاك او لباس استعمالوه خو چه دوه شرطه په کښې وی: ۱- اسراف په کښې نه وی۔ ۲- تکبر په کښې نه وی۔
او دا قاعده په زاد المعاد (۵/۱۴۵)، المطالب العالية (۳/۷۲) فتاوی دیوبند (۱/۹۴) الروضة الندية (۲/۱۸۰) نيل الاوطار (۱/۶۷) مشکل الآثار للطحاوی (۲/۲۱۲) کتاب الارشاد للناصر السعدی ص (۹) عمدة الرعاية (۱/۷۵) رد المحتار (۳/۲۴۴) و (۱/۷۱) نیل المرام للصدیق حسن خان ص (۳) المرقاة (۱/۲۳۰) فتح الباری (۱۳/۲۲۷) کښې ذکر شویده - اودا قول دجمهورو احنافو او شوافعو دے، کذا فی رد المحتار (۳/۲۳۴)۔
دلائل په دے قاعده باندے دادی: ۱- څلور قرآنی آیتونه دی:
* ﴿هو الذی خلق لکم ما فی الارض جمیعاً﴾ (البقره: ۲۹) نو کوم څیزونه چه انسان ته فائده ورکوی او خبائث نه وی هغه دانسان دپاره حلال دی، ځکه دا څیزونه زمونږ دفائدے دپاره پیدا شویدی * ﴿وقد فصّل لکم ما حرّم علیکم الا ما اضطررتم الیه﴾ [الانعام: ۱۱۹] یعنی محرمات ټول بیان شویدی اوکوم څیزونه چه نه وی بیان شوی هغه حلال دی۔ * ﴿قل لا اجد فیما اوحی الی محرماً علی طاعم﴾ [الانعام: ۱۴۵] - نو که تحریم په یو څیز کښې نه وی راغلے نو هغه به حلال وی۔ * ﴿احل لکم الطیبات﴾ [المائده: ۴] والطیب ما لم یات تحریمه فی الشرع۔
۲- دویم قِسم دلائل احادیث دی: ۱- اول دا حدیث دے (ان اعظم المسلمين جرماً من سال عن شئ لم يحرم فحرم من اجل مسئلته) وجه داستدلال دا ده چه تحریم کله دتپوس په وجه راځی۔ نو ددے نه معلومه شوه چه د تپوس په وجه د تحریم نه مخکښې دغه څیز حلال وو۔ دغه شان که اصل په اشیاؤ کښې حرمت وے نو بیا د (لم یحرم) لفظ ذکر کولو ته ضرورت نه وو، نو دا دلیل دے چه اصل په اشیاء کښې اباحت دے، اود سوال په وجه حرمت راځی، اود هغے نه منع شویده دے دپاره چه اشیاء په خپل حال دحلت باندے باقی پاتے شی۔
۲- **دویم حدیث**: دابوداود دے (عن سلمان الفارسی قال: سئل رسول الله ﷺ عن شئ من السمن والجبن والفراء فقال: الحلال ما احل الله فی کتابه والحرام ما حرم الله فی کتابه وما سکت عنه فهو مما عفا عنه)۔ (د رسول الله ﷺ نه د غوړو، پنیر او پوستین باره کښې تپوس اوشو نو هغه اوفرمایل: حلال هغه دی چه الله په خپل کتاب کښې حلال کړیدی او حرام هغه دی چه الله په خپل کتاب کښې حرام کړیدی او د کوم نه چه الله غلے شویدے نو هغه ئے تاسو ته معاف کړیدی) دا دلیل دے چه دکوم څیزونو نه شریعت سکوت کړیدے، دهغے حرمت ئے نه وی بیان کړے نو هغه جائز دی۔ ۳- **دریم حدیث**: د ابوثعلبه الخشنیؓ په آخر ددے باب کښې ذکر دے، چه په دے کښې دا الفاظ دی: (وسکت عن اشیاء من غیر نسیان فلا تبحثوا عنها) رواه الدارقطنی۔
۴- **حدیث** دابن عباس دے په ابوداود باب الاطعمه کښې موقوفاً (وسکت عن اشیاء رحمةً لکم)

نو دا دلائل دلالت كوي په دے خبره چه اصل په اشياؤ كښ اباحت دے۔ اوبعضو خو لادا وئيلي دي چه په دے مسئله باندے اجماع شويده، چه اصل په اشياء كښ اباحت دے۔ددے مسئلے زيات تفصيل سره د اقوال العلماء نه په فتاوى الدين الخالص (٢٢٢/٢) كښ اوګورئ۔ وفيما ذكرنا كفاية وبالله التوفيق۔ په دے قاعده چه څوك پوهه شو، نو بے شماره مسئلے پرے حل كولے شي۔

١٥- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:((يَكُوْنُ فِيْ آخِرِ الزَّمَانِ دَجَّالُوْنَ كَذَّابُوْنَ يَأْتُوْنَكُمْ مِنَ الْاَحَادِيْثِ بِمَالَمْ تَسْمَعُوْا اَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ فَاِيَّاكُمْ وَاِيَّاهُمْ لَايُضِلُّوْنَكُمْ وَلَا يَفْتِنُوْنَكُمْ))، رواه مسلم.

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : آخره زمانه كښ به داسے فريب وركونكي او دروغژن خلق وي چه تاسو ته به داسے حديثونه راوړي چه نه به تاسو آوريدلي وي اونه ستاسو پلرونو، نود هغوئ نه بچ اوسئ او هغوئ دځپل ځان نه بچ كړئ چه هغوئ تاسو ګمراه نه كړي اونه مو فتنه كښ اوغورځوي (مسلم)۔

تشريح : يَكُوْنُ فِيْ آخِرِ الزَّمَانِ : دآخر الزمان نه مراد : ١- يا قريب الى يوم القيامة دے۔

٢- يا ما بعد وفات النبي ﷺ مراد دے، يعني زما د زمانے نه پس به دجالون او كذابون پيدا شي، دځانه به احاديث جوړوي، لكه روافض، معتزله، جهميه وغيره فرقے شوے۔اودا حديث دليل دے په دے چه په دين كښ سند لره ډير اعتبار دے، دا وجه ده چه عبد الله بن مبارك فرمائي : (الاسناد من الدين ولولا الاسناد لقال من قال ما قال) شرح مسلم : (١٢/١)۔ بِمَالَمْ تَسْمَعُوْا اَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ : په دے باندے سوال دے چه ظاهراً يو عامي سړي ته به ته د بخاري اومسلم يو حديث پيش كړے شي چه دا حديث به نه دده پلار اوريدلے وي او نه به دده خپله اوريدلے وي۔لكه اوس دور كښ ډير اميان چه كله ستا مسئله واوري هغه وائي چه دا خبره خو مونږ تراوسه نه ده اوريدلے۔ مونږ سپين ګيري شو، دا مسئله مو نه ده اوريدلے۔نو آيا دا حديث او مسئلے بيانونكے به دجال او كذاب وي څه ؟۔

جواب : دا دے چه دا خطاب صحابه كرامؓ او علماؤ ته دے، چه اے صحابوؓ، علماؤ ! تاسو ته به خلق داسے احاديث راوړي چه هغه به تاسو او ستاسو مشرانو نه وي اوريدلي، سره ددے نه چه ستاسو به د نبي ﷺ په احاديثو باندے عبور حاصل وي، اونه به مشرانو ته دا حديث معلوم وي، اونه به ئے په كتابونو كښ ليكلے وي۔نو دے حديث له به اعتبار نه وي، كه تانه وي اوريدلے نو ستا علم لره اعتبار نشته، بلكه د هغه شخص علم له به اعتبار وي چه دهغه په كتابونو د حديث باندے عبورحاصل وي، كتابونه ئے لټ په لټ كړي وي او په هيڅ يو كتاب كښ دا روايت نه وي، نو داسے روايت لره به اعتبار نه وي، نو دا حديث دليل شو په بله مسئله باندے هغه داچه

: كوم كتاب كښې يو حديث راغلو اود هغې سند او مخرج نه وو، نو هغه روايت لره به اعتبار نه وى (لكه دا مسئله مخكښې تيره شويده) په دې حديث به هر سړے ځان نه قياس كوى چه دا حديث خو ما نه دے اوريدلے،اودا فلانے مے نه دے اوريدلے، تا څومره علم كړيدے چه دا حديث دے په كښې نه دے اوريدلے او نور هرڅه دى په كښې اوريدلى دى۔نه !، دلته مخاطب صحابه كرامؓ دى چه هغوئ ټولو يو حديث نه وى اوريدلے نو هغه به څه حديث وى !!۔

مقصد الحديث : په قرآن او سنت باندے منګولے اولګوئ او ځان نه متكلفين مه جوړوئ۔

---

١٦ – وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ اَهْلُ الْكِتَابِ يَقْرَؤُوْنَ التَّوْرَاةَ بِالْعِبْرَانِيَّةِ وَيُفَسِّرُوْنَهَا بِالْعَرَبِيَّةِ لِاَهْلِ الْاِسْلَامِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«لَا تُصَدِّقُوْا اَهْلَ الْكِتَابِ وَلَا تُكَذِّبُوْهُمْ وَ﴿ قُوْلُوْا آمَنَّا بِاللهِ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْنَا﴾» الآية رواه البخاريُّ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه اهل كتابو به تورات عبرانئ ژبه كښې لوستلو (چه د يهوديانو ژبه ده) اومسلمانانو دپاره به ئے دهغې تفسير په عربئ ژبه كښې كولو، رسول الله ﷺ (دهغوئ دے عمل ليدو سره صحابه كرامؓ ته) اوفرمائيل : تاسو اهل كتاب مه رښتينے ګڼرئ، مه هغوئ دروغژن كوئ (صرف) دا وائے چه مونږ په الله او په هغه څيز چه په مونږ نازل شويدے ايمان راوړلو (آخر آيت پورے)۔ (بخارى)۔

تشريح : اَهْلُ الْكِتَابِ : دے نه مراد صرف يهود دى ځكه مدينه كښې نصارىٰ نه اوسيدل۔

وَيُفَسِّرُوْنَهَا بِالْعَرَبِيَّةِ : فائده : دا دليل دے چه ترجمه دكتاب الله جائز ده په بله ژبه كښې دضرورت د وجے نه اګركه دا ترجمه په فصاحت اوبلاغت كښې دغه كلام الله ته نشى رسيدلے كامله نه وى، د الله دكتاب پوره تعبير ګران دے۔

سوال : حديث كښې دى (حدثوا عن بنى اسرائيل ولاحرج) لكه د كتاب العلم اول حديث كښې راځى)۔ يعنى د بنى اسرائيلو نه خبرے نقل كول جواز لرى۔ اودے حديث كښې دى چه تصديق ئے هم مه كوئ او تكذيب ئے هم مه كوئ۔ دغه شان د تورات لوستلو نه عمر فاروقؓ منع كړے شو؟ جواب : يو واقعات دى او يو تفسير دكتاب الله دے، دواړو كښې فرق دے، دلته دا حديث په باره د تفسير كښې دے نو تفسير كښې تصديق اوتكذيب مه كوئ، او هرچه عامے قيصے دى نو هغه دهغوى نه نقل كول جائز دى۔ او دغه شان د علماؤ اقوال بے سند نقل كول دپاره د وعظ او نصيحت جواز لرى۔ ٢– يا اول منع راغلے ده بيا روسته اجازه راغله چه هغه قصص بيانوئ چه زمونږ ددين مطابق وى، دا وجه ده كعب الاحبارؒ به دجُمعے په ورځ د تورات نه وعظ كولو۔اود تورات لوستل په حيات د نبى ﷺ كښې منع وو، چه هسے نه چرته سنتِ تقريرى نشى۔اود عبادت دپاره لوستل منع دى، هسے مطالعه ئے

جائز ده ﴿قل فاتوا بالتوراة فاتلوها ان كنتم صادقين﴾ پرے دليل دے۔
•مقصد الحديث: اسلام مستغني دے د غير نه او د كتابونو د اهل كتاب او د هغوی د قصونه۔

١٧- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «كَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا اَنْ يُّحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ»، رواه مسلم.

ترجمه: او ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه: دانسان دروغ وئيلو دپاره دا كافي ده چه هغه كومه خبره واوری (بغير د تحقيق) ئے نقل كری۔ (مسلم)۔
تشريح: كَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا: تركيب: بالمرأ مفعول دے دكفی، باء زائد ده، كذباً تميز دے دنسبت دكفیٰ نه فاعل ته چه ان يحدث دے۔او ان يحدث بتاويل المصدر فاعل دپاره دكفی۔
فائده: په دے حديث كښ منع ده ددے نه چه هره خبره مه بيانوه، ځكه دا كافي دروغ دی، ولے كيدے شی چه ته به دروغ نه وائے خو تا چه دچا نه اوريدلی وی هغه به دروغژن وی نو تا چه دهغه نه خبره رانقل كره، نو خلق به تاته ددروغو نسبت كوی۔ته به دروغژن حسابيگے، نو حديث كښ ترغيب دے خبرو تللو ته، اودا كار په ديني او دنيوی تولو خبرو كښ كيږی۔دنيوی خبره باندے دے چه يقين نه وی راغلے هسے تاوئيلی ما وئيلی به نه بيانوے، او نن صبا دا دخلقو پيشه گرځيدلے ده، سياسی پرو پيگنډے، داخبارونو بے حقيقته خبرے، هسے گمانی خبرے خو مره بيانوی۔ډير كم خلق ددے نه بچ دی، عصمنا الله منها۔ اوديني مسائلو كښ چه دے يوه خبره تللے نه وی، مصدرُ دے نه وی معلوم كړے نو هغه مه بيانوه ځكه په الله او رسول ﷺ به دروغ جوړ كړے۔اول به دلائل دمسئلے معلوم كړے بيا به ئے بيانوے۔دلته دا حديث ددے دپاره روارېدے چه هر حديث به امت ته نه بيانوے، ورنه دروغژن به حساب شے، ترڅو چه تا راويان اود هغوی حال نه وی معلوم كړے۔داحديث مونږ ته دجرح او تعديل باب هم راښائی چه راوی اوتله صادق دے كه كاذب، كه صادق وی روايت ترے نقل كره اوكه كاذب وی مه ئے نقل كوه۔
اودا حديث ماخوذ دے ددے قول دالله نه چه ﴿وَلَا تَقْفُ مَالَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ﴾ [الاسراء: ٣٦] بے علمه خبره پسے مه روانيږه۔ او پدے كښ رد د تقليد هم دے ځكه تقليد د چا قول قبلول بغير د دليل نه نو بے دليله خبره پسے روانيدل هم حرام دی۔

١٨- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَا مِنْ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللهُ فِيْ اُمَّتِهٖ قَبْلِيْ اِلَّا كَانَ لَهٗ فِيْ اُمَّتِهٖ حَوَارِيُّوْنَ وَاَصْحَابٌ يَأْخُذُوْنَ بِسُنَّتِهٖ وَيَقْتَدُوْنَ بِاَمْرِهٖ ثُمَّ اِنَّهَا تَخْلُفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوْفٌ يَقُوْلُوْنَ مَالَا يَفْعَلُوْنَ وَيَفْعَلُوْنَ مَا لَا يُؤْمَرُوْنَ فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِيَدِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِلِسَانِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِقَلْبِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَيْسَ وَرَاءَ ذٰلِكَ مِنَ الْاِيْمَانِ

حَبَّةُ خَرْدِلٍ»، رواه مسلم.

ترجمه : ابن مسعود ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : مانه مخکښ يو قوم کښ الله هيڅ داسې نبي نه دې راليږلے چه دهغه مددګار اودوست دهغه قوم نه نه وي چه دهغې نبي طريقه اختياروي او دهغه داحکامو تابعداري کوي، بيا دهغې دوستانو مددګارانو نه پس داسې نالايق خلق پيدا شي چه خلقو ته داسې خبره کوي چه خپله ئې نه کوي او هغه کار کوي چه دهغې ورته حکم نه وي شوې (لکه چه دعلماءِ سُوء او اميرانو سردارانو طريقه ده) نو تاسو کښ چه کوم سړې دهغې خلقو سره خپل لاس سره جهاد کوي هغه مؤمن دې، او څوك چه هغوي سره خپلې ژبې سره جهاد کوي هغه مومن دې او کوم سړې چه په خپل زړه ورسره جهاد کوي هغه مؤمن دې او دهغه نه علاوه چه کوم سړې دهغوئ برخلاف دومره هم نشي وئيلې هغه کښ د اُورې (شړشم دانې) برابره هم ايمان نشته۔ (مسلم)۔

تشريح : مناسبت ددې حديث دکتاب الاعتصام سره په دې لفظ کښ دې چه (واصحاب ياخذون بسنته) دا د نبي اکرم ﷺ صحيح ملګري دي چه دهغه په سنتو عمل کوي او هغه څوك چه دا سنت ورانوي او خلقو ته غلط دعوت ورکوي، دهغې نه جوابونه کوي، نودا د نبي ﷺ مخالفين دي، د دوئ سره جهاد پکار دې بالمال واللسان۔ما من نبي : **سوال** : دلته نبي نکره ده چه په سياق دنفي کښ واقع ده عموم پيدا کوي، نو دلته وائي چه هيڅ يو نبي داسې نشته چه دهغه سره به ملګري نه وي۔او په روايت دبخاري اومسلم کښ دي چه داسې انبياء به هم قيامت کښ راشي چه يو تابعدار به هم ورسره نه وي۔(والنبي وليس معه احد) رياض الصالحين ص : (٥٣)۔نو په دې کښ ظاهراً تعارض ښکاري؟

جواب : مراد دنبي نه دلته رسول دې چه يو مستقل امت ته راليږل شوې وي۔نو دهغه به خامخا ملګري وي، او دکوم انبياء عليهم السلام چه يو ملګرې هم نه وي نو هغه داسې انبياء دي چه په تابعدارئ دبل نبي باندې راليږلے شويدي، هغه مخکښ نبي ته به ئې دعوت ورکولو، مستقل امت ته نه دي راليږل شوي۔اودا معلوميږي د اضافت دامت نه يعني چه امت ورته ورکړې شوې وي۔اودا ښه جواب دې۔

٢- **دويم جواب** : دا دې چه حديث کښ عموم دې خومحمول دې په هغه انبياء باندې چه ملګري ئې پيدا وي، او مقصود دا نه دې چه د انبياؤ ملګري نه دي پيدا، بلکه مقصود دادې چه د کومو انبياؤ عليهم السلام ملګري پيدا دي نو دهغوي نه بعد به بدعات پيدا شوي وي، لکه په آخره زمانه دصحابؓو کښ دخوارجو، روافضو، مرجئو بدعات پيدا شول۔ ٣ - يا د (ما من عامٍ الا وقد خص عنه البعض) (هر عام نه بعض افرادو تخصيص شوې وي) د قبيلې نه دې۔

حَوَّارِيُّوْنَ : جمع دحواريّ ده خالص مخلص ملګري ته وائي، اصل کښ دا د حور نه ماخوذ دې سخت سپينوالي ته وائي، بيا حواري دُوبيانو ته وئيلې شي کوم چه جامې رنګوي او وينځي ئې،

اود عیسٰی علیه السلام ملګری هم اول کښې دوبیان وو کله چه دعیسی علیه السلام ملګری شول نو دا نوم پرې غالب شو، بیا استعارةً هر هغه چا دپاره استعمالیږی چه دنبی مدد کوی اودهغه دهدایت پسې روان وی، مخلص ملګری وی چه زړه ئې صفا وی۔ بسنته : ددې نه مراد سنت فعلي دې اود (امره) نه مراد سنت قولی دې، اودا دلیل دې چه د نبی ﷺ ملګری به هغه وی چه دهغه په سنتو باندې عمل کوی، قیامت په ورځ به دهغه سره وی۔ ثم انها : دا ضمیر قصه ده مرجع نه غواړی، یعنی قیصه داده چه۔

تَخْلُفُ : یعنی پیدا به شی ددې نیکانو نه روسته۔ خُلُوْفٌ : جمع دخَلْف ده په سکون دلام سره لکه عدل وعُدول، ناکاره خلق او بدعمله اولاد ته وائی اوخَلَف بفتح الخاء واللام جمع ئې اخلاف راځی لکه دسلف جمع اسلاف راځی، نیکان اولاد او خلقو ته وائی۔ يَقُوْلُوْنَ مَالَايَفْعَلُوْنَ : دید عملئ نښه ئې داده چه نیکې نیکې خبرې کوی خو عمل پرې نه کوی۔ وَيَفْعَلُوْنَ مَا لَايُؤْمَرُوْنَ : دا مقصدی جمله ده د باب مناسبه ده، یعنی هغه مسائل او آراء او بدعات راوباسی چه دوئ ته پرې امر نه دې شوې، مونځونه، روژې، زکاة اونور عبادات په غلطه طریقه کوی، بدعتونه او رواجونه خلاف الشرع نکاحونه تړی، دې تولو باندې امر نه دې شوې اودوئ ئې دځان نه راوباسی، نو دوئ اصل کښې دین ورانوی ځکه ورسره جهاد راغلې دې اوخوك چه خپله عمل نه کوی او بدعات هم نه پیدا کوی نو دا دین نه خرابوی، خو ځان ته ضرر رسوی، نو ځکه ده سره جهاد نشته مګر صرف په ژبه۔

فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِيَدِهِ : جهاد په درې طریقو سره کیږی۔ ١ - بالید۔ ٢ - باللسان۔ ٣ - بالقلب۔ لکه داپه بل حدیث (من رأى منكم منكراً فليغيره بيده الخ) کښې هم راغلې دې۔ بیا ید ئې مقدم کړو، دیته ترقی من الاعلیٰ الی الادنیٰ وئیلې شی، اول جهاد په لاس، بیا په ژبه بیا په زړه۔ بيده : دا ترقی من الاعلیٰ الی الادنیٰ ده، او په اتفاق دعلماؤ سره دا ترتیب واجب نه دې چه اول به په لاس منع کوی بیا په ژبه بیا په زړه بد ګنړل، بلکه دا ترتیب دوجې دایمان نه دې یعنی کله به ایمان قوی وی نو انسان به په لاس سره منع کوی، کله به ایمان متوسط درجه کښې وی نو په ژبه به منع کوی، او کله به ادنیٰ درجه ایمان وی نو په زړه کښې به دا منکر بد ګنړی۔ نوکه یو شخص په لاس سره منع اوکړی نو دا اعلیٰ درجه مؤمن دې، اوکه دلاس په ځائې په ژبه منع اوکړی نو دا دویمه درجه مؤمن دې اوکه دژبې په ځائې په زړه کښې بد اوګنړی نو دا دریمه درجه مؤمن دې۔

وَلَيْسَ وَرَاءَ ذٰلِكَ : ددې لفظ عند المحدثین دوه معنې دی : ١ - یوه معنی داچه : نشته دې اخوا (سیوا) ددې دریمې درجې دایمان نه بله درجه یعنی څلورمه درجه نشته، یعنی دا آخری درجه دایمان ده۔ اودا معنی د بل حدیث من رأى منكم فليغيره بيده - الى اضعف الايمان - سره ښه لګی، او دا معنی د شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ ده چه په دې حدیث د (من رأى منكم منكراً..... الحديث) کښې ئې فرمائیلی دی : چه دلته په دې حدیث کښې درې طبقې دایمان دی یعنی درې

قسم رخصتونه دی په ایمان کښ اودا درے واړه په ثواب اودرجه کښ برابر دی اوداسے نه ده چه یوه اعلیٰ اوبله متوسط اوبله ادنیٰ درجے مراد دی ، بلکه درے واړه درجے په ثواب او درجه کښ برابر دی، اودلیل دا ذکر کوی چه په هغه حدیث کښ د(فان لم یستطع) لفظ راغلے دے یعنی ددے انسان طاقت نشته په اوله درجه باندے، او ددے مثال داسے دے لکه یو انسان په ولاړه باندے دمونځ کولو طاقت نه لری ، په ناسته به ئے اوکړی، که په ناسته طاقت نه لری نو په اشاره به ئے اوکړی، اود تولو درجه او ثواب یو شان دے مثلاً که په ولاړه ئے طاقت نه وی او په ناسته ئے اوکړی نو دا داسے دے لکه چه په ولاړه ئے کړے وی ، ده لره الله تعالی دولاړے دمونځ ثواب ورکوی، دغه شان که په ناسته طاقت نه لری او په اشاره ئے اوکړو نو ده له دناستے دمانځه ثواب ورکوی۔ نودغه شان دلته که په لاس دمنع کولو طاقت نه لری ، نو په ژبه دِ ے ئے منع کړی، دا داسے دے لکه په لاس ئے چه منع کړے وی، اوکه ژبے سره دمنع کولو طاقت ئے نه وو، نو زړه کښ دِے ئے بد اوګنړی، دا داسے دے لکه چه لاس او ژبے سره ئے منع کړے وی، ولے چه دده همدا طاقت دے۔او ﴿ لا یکلف الله نفساً الا وسعها ﴾ ۔ نو ده لره الله دومره اجر او ثواب ورکوی لکه په لاس سره ئے چه منع کړے وی۔ نود اضعف الایمان : معنی داده چه دا آخری درجه دایمان ده،اودا معنی نه ده چه دا ضعیفه درجه ده ۔نودا حمل شو په هغه ځا چه وسع ئے نه کیږی۔

۲- دویمه معنی دا ده لکه چه مخکښ هم ورته اشاره اوشوه چه : (ولیس وراء ذلك الخ) نه مراد دادے چه دا ضعیف او کمزورے او ادنیٰ درجه ایمان دے چه په زړه کښ ئے بد اوګنړی، ددے نه اخوا ایمان نشته، مثلاً د یو شخص وسع کیږی چه یو منکر په لاس سره ختم کړی، یا ئے په ژبے سره دختمولو وسع کیږی خو ذائے په زړه سره بد اوګنړی او ژبه استعمال نه کړی نودا کمزورے مؤمن دے، اوکه په زړه ئے هم بد اونه ګنړی، نوددے بد ګنړلو نه اخوا داوری ددانے هومره هم ایمان نشته، ځکه دا بیا محارم دالله حلال ګنړی، دا پرے راضی دے۔ بیا دبد ګنړلو معنی داده چه په اجمالی او اجتماعی طور سره ګناهونه بد ګنړی، چه دالله مخالفتونه کیږی، سودونه، رشوتونه، فسق و فجور، بے حیائی، کفرو شرك، ډاکے، دروغ دا تول بد اوګنړی، چه اووائی : زما تول ګناهونه بدے شی، یا کوم وخت کښ چه توجه پیدا شی نو ګناه بده ګنړی نو هله به مؤمن وی۔

اودا مطلب نه دے چه هره ګناه به بیله بیله زړه ته راولی، اود هغے رد به کوی او همیشه دپاره به دځان سره دا ورد کوی چه زما ګناهونه بدے شی، مثلاً ته په بازار کښ روان وے، ګانے بیله ګناه، فحاشی بے حیائی بیله ګناه ده، نوکه ته هره یوه زړه کښ راولے او په هغے فیصله کوے چه دا ګناه زه بده ګنړم اودا اودا بده ګنړم، نو بیا به مقصد ته اونه رسے، زړه به دِے تول دګناهونو په بد ګنړلو مشغول شی دذکر الله نه به غافل شے۔ ځکه ګناهونه ډیر دی، هریو ته چه توجه او فکر کوی او بدئے ګنړی نو زندګی به ئے ضائع شی- په اوله معنی باندے به (ذلك) اشاره شی درے واړو مرتبو اودرجو

دایمان ته په اعتبار دمذکوره سره ای وراء ذلك المذکور کله من مراتب الایمان، ای لیس وراء ما ذکرت من مراتب الایمان مرتبة قط (یعنی ددے مذکورتولو مرتبو د ایمان نه کوم چه ذکر شویے بله مرتبه نشته) – او په دویمه معنی باندے (ذلك) اشاره ده آخری درجے دایمان ته، (ای لیس وراء ذلك الایمان فی المرتبة الثالثة)۔(یعنی ددے ایمان نه اخوا په دریمه مرتبه کښ بله درجه د ایمان نشته)

مِنَ الْاِيْمَانِ حَبَّةُ خَرْدِلٍ : (ترکیب) لیس دپاره اسم حبة خردل دے او وراء ذلك ورله خبر دے، اومن الایمان صفت دحبة خردل دے۔ اصل کښ داسے دے : (ولیس حبة خردل من الایمان وراء ذلك)۔حبة خردل : داوری (غوښت) دانے ته وائی۔دا دقلت او کموالی دپاره عرب ذکرکوی، مراد ترینه نفی وی یعنی هیڅ ایمان ددے نه ما سیوا نشته۔

غرض الحدیث : دمبتدعینو سره جهاد پکار دے کوم چه غلط دعوتونه کوی، دسنتو مخالفین دی۔

---

١٩ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ دَعَا اِلٰی هُدًی کَانَ لَهٗ مِنَ الْاَجْرِ مِثْلُ اُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهٗ لَایَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَیْئًا وَمَنْ دَعَا اِلٰی ضَلَالَةٍ کَانَ عَلَیْهِ مِنَ الْاِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهٗ لَا یَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَیْئًا». رواه مسلم۔

ترجمه : ابو هریره ﷺ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړی چه څوك هدایت طرفته اوبللو هغه ته به دومره ثواب ملاویږی څومره چه هغه کس ته چه دهغه پیروی اختیار کړی، اودهغے پیروی کونکی ثواب کښ به هیڅ کمے هم نه کیږی، اوڅوك چه گمراهئ طرفته چاته دعوت ورکړی نو په هغه به هغومره گناه وی څومره چه په هغه باندے وی چه هغه دده اطاعت کوی اودهغه گناه کښ به هیڅ کمے نه کیږی۔(مسلم)۔

تشریح : مَنْ دَعَا اِلٰی هُدًی : دا حدیث معنی ده دهغه حدیث چه روستو راځی (من سن سنة حسنة) هدی لفظ عام دے قرآن ته هم وائی او دنبی ﷺ حدیث ته هم وائی یعنی دالله حکم اود رسول الله اتباع او طریقے طرفته دعوت ورکړی۔ مثل اجور : ددے نه معلومیږی چه په دعوت کښ مخکښ کیدل پکار دی چه ته دنیکئ دعوت ورکړے او ستا ملگری پیدا شی نو ستا دپاره ډیر لوئی اجر دے که لس ملگری وی لس اجرونه، اوکه زر وی زر اجرونه به وی۔ مثل آثام : جمع داثم ده، یعنی هر چاته به خپله گناه رسی داعی ته به خپله رسی او تابعدار ته به خپله۔نو داعی چه څومره خلق گمراه کړل دهغوی دگمراه کولو گناه به ده ته رسیږی اودتابعدارو گناهونه به هم نه کمیږی دده په وجه۔ دا حدیث ماخوذ دے ددے آیت کریمه نه چه ﴿ ولیحملن اثقالاً مع أثقالهم ﴾ [سورة العنکبوت : ١٣] او دغه شان دآیت ﴿ لیحملوا اوزارهم کاملة یوم القیامة ومن اوزار الذین

يضلونهم بغير علم، الا ساء ما يزرون ﴾ [النحل : ٢٥] نه۔

ایصال ثواب او اهداء القربات للنبی ﷺ :

١- مسئله : ددې حدیث نه بیا یوه مسئله معلومیږي هغه دا چه نبي ﷺ ته ایصال ثواب کول (اعمال بخښل) د هغه دپاره قرباني کول دا کار افضل او بهتر نه دی۔ دعدم فضیلت دوه وجې دي ✽ یوه دا چه رسول الله ﷺ امت ته ددې خبرې دعوت نه دې ورکړې چه زما دپاره اعمال کوئ او ماته ئې رابخښئ۔ او په دولسم دربیع الاول کښې چه خلق خیراتونه د نبي ﷺ دپاره کوی، دولسمه کوی دا صحیح طریقه نه ده۔

✽ دویمه وجه دا ده چه زمونږ د هر نیك عمل اجر نبي ﷺ ته خپله رسیږي، ځکه هغه داعی دې او په قرآن کریم کښې ارشاد دې ﴿ وان لك لاجراً غير ممنون ﴾ القلم : ٣) ۔ اې نبي ! ستا دپاره نه ختمیدونکې اجر دې، ځکه ته داعي ئې او دداعی اجر نه قطع کیږي بلکه جاري وي، ته به وفات ئې خو ستا اجر به لیکلې کیږي۔ داوجه ده کومو علماؤ چه دا حدیثونه راجمع کړیدي مونږ ه که په دې عمل کولو نو ددې اجر او ثواب به هغوی ته رسیږي، نو په دې حدیث کښې ترغیب شو صدقه جاریه طرفته چه هغه دانسان دمرګ نه پس انسان ته فائده اورسوی۔

فائده : ٢- ددعوت دپاره ډیرې طریقې کیدې شي : ١- کله دعوت باللسان وي په طریقه د وعظ او نصیحت سره۔ ٢- کله په درس او تدریس سره وي، چه شاګردانو ته دین ورزده کړي۔ ٣- کله په تصنیف او تالیف سره وي، (دا مرقاة لیکلې دي)۔ ٤- کله چاته خط کښې نیکه خبره اونصیحت اولیکي۔ ٥- کله په مدارس او معاهدو جوړولو سره وي۔ ٦- کله دعوت په ګرځیدلو سره وي چه خلقو پسې اوګرځې دین طرفته ئې رااوبلي، رابیدار ئې کړي۔ ٧- کله دکیسټو او کتابونو په ذریعه سره وي، چاله دیني کیسټ ورکړه، یا یو کتاب ورکړه هغه به ترې فائده واخلي دا هم ددعوت ښه ذریعه ده، ددعوت یوه طریقه نه ده بلکه ډیرې طریقې دي، په کومه طریقه چه دانسان وسع اوشي هغه دې کوي، دعوت چرته په یوه طریقه کښې منحصر نه دې، لکه بعض خلق دا وائي چه دعوت صرف په ګرځیدلو سره دې، (نکلو، نکلو) سره دې۔ او تعلیم او تعلم، درس او تدریس بالکل دعوت نه ګنړي، سره ددې نه چه دا د دعوت بهترینه طریقه ده، دچا دعقیدې اصلاح کول، ښه او بد عمل، شرعي او غیر شرعي کارونه ورته ښودل بهترین دعوت دې۔ اود نبي ﷺ دا ټول قِسم دعوتونه وو، لکه قرآن کښې ذکر دی ﴿و یعلمهم الکتاب والحکمة ویزکیهم ﴾ البقرة) ۔ لهذا دامت ددې ټولو عملونو ثواب خپله رسول الله ﷺ ته دداعي په صفت باندې رسیږي۔ نو هغه ته ایصال ثواب کولو (بخښلو) ته ضرورت نشته۔

٢٠- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : «بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيْبًا وَسَيَعُوْدُ غَرِيْبًا كَمَا بَدَأَ فَطُوْبٰى

لِلْغُرَبَاءِ»، رواه مسلم.

ترجمه : ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اسلام غُربت کښې شروع شو او آخر کښې به هم داسې شي نو غرباء دپاره خوشحالي ده۔(مسلم)۔

تشریح : بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا : په دے بدأ کښې دوه قرأته دی : ١- بدأ مهموزم اللام دے په معنی د ابتداء او شروع سره یعنی اسلام شروع شویدے غریب او مسافر، خلقو کښې ناشنا وو، لکه نبی ﷺ اوصحابوؓ چه به مونځ کولو کفارو به وئیل : داڅه کُناتي نیغ نیغ کوی لکه دا خبره ابو طالب خپل ځوئے علی ﷺ ته وئیلے وه چه دا تاسو څه کناتي نیغ نیغ کول کله چه هغه په یو خوړ کښې دمشرکانو نه پټ مونځ کولو۔ ٢- یا (بَدَا) ناقص دے دنصر نه مصدرئے بُدُوّ دے په معنی دظهور او ښکاره کیدو سره، یعنی راښکاره شویدے اسلام ناشنا۔دواړه قرأتونو سره نقل دے۔که د بدأ نه شي نو دا هم صَحیح ده ځکه چه مقابل کښې ئے (عود) ذکر شویدے اودا قرأت مشهور دے۔ امام نوویؒ وائي چه (بدو) نه شي نو دا ځکه صحیح دے چه دا باب لازم دے نو الاسلام ئے فاعل دے خو که د بدأ ابتداء په معنی شي نو په دے باندے بعض علماؤ دا اشکال کړیدے چه بدأ بمعنی الابتداء متعدی دے او دلته مفعول نشته آه۔په دے وجه بعض علماؤ قول ثانی ته ترجیح ورکړیده۔وسیعود کما بدأ : یعنی بیرته به ناشنا شي لکه څنګه چه اول کښې ناشنا وو۔اودا زمانه بعینه اوس راغلے ده که ته ددین په یوه مسئله او حدیث نبوی باندے عمل اوکړے خلق به درته په ناشنا تعجب سره ګوری،که رفع الیدین ډے اوکړل نو خلق به ډے بے دینه اوبے مذهبه ګنړی، اشارو والا به درته وائي، سره ددے نه چه دا د نبی ﷺ سنت عمل دے، که سُتره ډے مخے ته کیښوده نو خلق تعجب کوی او وائي ددے څه مقصد دے۔که توحید ډے بیان کړو، خلق به وائي بابا ګان نه منی، دین ډیر ناشنا شویدے اود ناشنا کیدو معنیٰ داده چه ډیر کم خلق به په صحیح دین باندے عمل کوی۔

فَطُوبَىٰ : دا یا جمله انشائیه دعائیه ده، اوطوبیٰ په معنی دخوشحالئ او ښائسته حالت اوژوند سره دے یعنی خوشحالي ډے وی او ښه ژوند او حال ډے وی دغرباؤ دپاره۔الله ډے ددوئ ژوند ښه کړی !، اوددوئ ډے الله تعالی ښه خوشحاله ساتي۔ ٢- یا دطوبی نه مراد جنت دے۔٣- یا جنت کښې یوه اونه ده۔ نو معنی داده چه جنت ډے وی، یا دجنت اونه ډے وی غرباؤ دپاره۔

لِلْغُرَبَاءِ : **غرباء کوم خلق دی ؟** --- ددے په تفسیر کښې ډیر اقوال دی :

١- ددے تفسیر خپله نبی اکرم ﷺ کړیدے لکه په حدیث د ترمذی کښې په روایت دعمرو بن عوف ﷺ کښې راغلي دی کوم چه روستو راروان دے (وهم الذين يصلحون ما افسد الناس من بعدى من سنتي) یعنی دنبی علیه السلام سنت خلقو وران کړی وی اودا خلق (غرباء) ئے جوړوی، چه دا خبره ورانه ده اودا بله صحیح ده۔لکه دا روستو کتاب العلم کښې په بل حدیث کښې راځي (يحمل

هـذا الـعـلـم مـن كـل خـلف عدوله، ينفون عنه تحريف الغالين وانتحال المبطلين وتاويل الجاهلين) اودا كـوشـش مونږ له پكار دي چه ددې حديث مصداق جوړ شو۔ ٢- دويم تفسير په حديث دترغيب اوتـرهـيـب او ضـعـيف ابن ماجه (٣٢٠) بسند صحيح كښ راغلے دے په روايت دابن مسعود ﷺ (هـم الـنـزاع من القبائل على غير ارحام بينهم لاقامة دين الاسلام) يـعـنـي دا (غرباء) هغه خلق دي چه دمختـلـفو قبيلو نه راجمع شوي وي داسلام دقائمولو دپاره، چه خپل مينځ كښ به ئے رشته هم نه وي، سيوا داسلام رشتے نه۔ ❁ لـكـه طالبان دعلمِ دين، چه دمختلفو قبيلو نه ددين زده كولو دپاره راجمع وي۔ ❁ يا لـكه اهل دعوت چه ددين ددعوت دپاره دمختلفو قبيلو نه راجمع شوي ❁ يا لكه مجاهدين چه دمختلفو قبيلو نه داسلام دقائمولو دپاره را جمع شوي وي۔بيا په دوئ كښ به تفاوت وي، څوك به ددين په لړه حصه راجمع وي او څوك به په اكثره حصه۔

٣- عـلامه سندهيؒ وغيره فرمائي: (هم اهل الحديث) يـعـنـي دغرباؤ نه مراداهل حديث دي، اهل حـديث د محدثينو په اصطلاح كښ هر هغه څاته وائي چه په قرآن او حديث باندے عمل كوي، نه دمبتـدعيـنـو پشان۔اهل الحديث داسے نوم دے لكه دا هل السنة پشان، ددے دواړو مصداق يو دے۔په ابتداء كښ دا دواړه نومونه يو وو۔لكه امام احمدؒ ته امام اهل السنة هم وائي او امام اهل الحديث هم۔ اوس اهـل الـحـديث خلقو خاص نوم گرځولے دے ديو تنظيم دپاره۔دلته دا هل الحديث نه عامه معنى مراد ده، يعنى هرهغه څوك چه په قرآن حديث عمل كوي، عقيده د قرآن اوسنت نه اخلي، په عقيده او احـكـامـو تـولـو كښ په قرآن اوحديث باندے عمل كوي۔(اودابه هر مسلمان وي) كه هغه هر ځائے كښ وي كه يو اميرئے وي اوكه نه وي، ددوئ امير او مشر نبى اكرم ﷺ دے۔

٤- د ابـن عـمرؓ نه مرفوعاً نقل دي: (الـغـربـاء هـم الفرارون بدينهم يجمعون الى عيسى بن مريم عليه السلام) اورده الامام احمد فى كتاب الزهد ص (٩٨) و (١٨٧) (يعنى دا هغه خلق دي چه دين خپل ځان سره تښتوي دفتنو نه ځان بچ كوي چه دين مو خراب نشي او عيسى بن مريم عليه السلام ته ورجمع كيږي)۔ ٥- دارنگه حديث كښ ددے تفسير دا هم راغلے دے (ناس قليل صالحون فى ناس كثير سوء، مَنْ يَعْصِيهِمْ اَكْثَرُ مِمَّنْ يُطِيْعُهُمْ) كما فى الصحيحة (١٥٣/٤) (يعنى دا هغه كم خلق دي چه نيكان خلق دي چه په ډيرو بد عمله خلقو كښ وي، اوددوئ مخالفين به زيات وي دموافقينو نه) دا هم ډير ښه تفسير دے، او صادق دے په اهل الحق باندے چه دوي هميشه كم وي فتدبر۔

٦- تـفـسـيـر پـه يوحديث كښ راغلے دے: الـغـربـاء الـذين يحيون سنتى)۔(كذا فى السلسلة الصحيحة رقم (١٢٧٣) و جامع بيان العلم وفضله (٩٩٦/٢)۔ (هغه خلق دي چه زما د سنتو سره رشتيني محبت لري)۔

٧- لـنډ تفسيرئے دادے چه (الـغـربـاء هم الذين يعملون بالاسلام وقت غربة الاسلام) يـعـنـي غرباء هـغـه خـلـق دي چـه پـه اسـلام بـانـدے دغربت او ناشنا والي په حالت كښ هم عمل كوي، په دے وخـت كښ په دين باندے عمل گران وي ځكه خلق پرے عمل نه كوي او ته ئے پرے كوے، خلق به

درته بد گوري، ناشنا به ورے گنړي، متشدد به درته واثي، اختلافات او شر شدت پيدا کونکے به درته واثي۔ کله به دا واثي : دا ريا کار دے۔دده دپاره خوشحالي څکه ده چه دا هغه زوړ دين راتازه کوي، دا ډير ښه عجيب حديث دے، که چا پرے سوچ اوکړو اودماغ ئے پرے خلاص شو۔

اودا هغه حديث دے چه علامه شاطبيؒ کتاب الاعتصام کښ راوړيدے، او ډير ښه تفصيل ئے ددے کړيدے فرمائي : چه بدعات دومره زيات شويدي چه که ته دهغے ترديد اوکړے نو خلق به واثي چه دا خو هيڅ نه منې، صحيح دين ئے ورك کړو او غلط دين ئے راوړ، لکه عبد الله بن مسعودؓ فرمائي : داسے زمانه به راشي چه (تكون السنة بدعة وتكون البدعة سنة) يعني دسنت نه به بدعت جوړ شي اود بدعت نه به سنت۔ دا زمانه بعينه په دے اوسني دور باندے تطبيق ده، اصلي دين خلقو ته نه دے معلوم، کوم چه قرآن او سنت کښ دے، اود کنز او شرح الوقايه او هدايه مسائل خلقو کښ رائج دي چه په دے کښ بے شماره داسے مسائل دي چه بے دليله دي قرآن او سنت کښ نشته، او کله دقرآن او سنت سره ټکراؤ وي۔

فائده : په غريباً کښ اشاره ده ديته چه اسلام باندے کلك پاتے کيدل اود اسلام مدد کول ديته محتاج دي چه انسان به د وطن نه شړلے کيږي، مسافر کيږي به، اود غربت په مشقتونو به صبر کوي، هجرت به په کښ راځي لکه څنگه چه په ابتداء داسلام کښ دا هرڅه موجود شوي وو۔

٢١- وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اِنَّ الْاِيْمَانَ لَيَأْرِزُ اِلَى الْمَدِيْنَةِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ اِلٰى جُحْرِهَا»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ اَبِيْ هُرَيْرَةَ: «ذَرُوْنِيْ مَا تَرَكْتُكُمْ فِيْ كِتَابِ الْمَنَاسِكِ وَحَدِيْثَيْ مُعَاوِيَةَ وَجَابِرٍ« لَايَزَالُ مِنْ اُمَّتِيْ وَلَايَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ اُمَّتِيْ فِيْ بَابِ ثَوَابِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اِنْ شَاءَ اللهُ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ايمان به مدينے طرفته داسے راغونډ شي څنگه چه مار خپل سوړے طرفته راغونډ شي (بخاري، مسلم) اود ابو هريرهؓ حديث : ذروني ما تركتكم : مونږ کتاب مناسك (حج) کښ ذکر کړو، اود معاويهؓ او جابرؓ دواړه حديثه : لايزال من امتي اولا يزال طائفة من امتي : به هم ددے امت دثواب باب کښ ان شاء الله تعالى ذکر کړو (يعني داحديثونه صاحب مصابيح دے باب کښ ذکر کړي وو ليکن مونږ هغه، هغے بابونو کښ ذکر کړي دي)۔

تشريح : اِنَّ الْاِيْمَانَ لَيَأْرِزُ اِلَى الْمَدِيْنَةِ : دا په کسره د راء دے د باب ضرب نه يا بفتح الراء دے دسمع نه، اى ياوى وينضم ويلتجئ)۔ يعني راتاويدو، رايو ځائے کيدو، پناهي حاصلولو ته واثي۔ دا روايت روستو په (٣٠ صفحه دمشکوة) کښ راځي۔ هلته دين لفظ دے۔ دمدينے نه مراد مدينه اود هغے ماحول يعني حجاز، مکے شام ټولو ته شامل دے۔

مدینې ته دایمان درا واپس کیدو نه څه مراد دے؟ ۱- نو ددے چا یوه معنی دا کړیده چه دایمان نه مراد حدود شرعیه دی، یعنی نن صبا حدود شرعیه په عامه دنیا کښې نشته، صرف مدینه کښې حدود شرعیه قائمیږی، لیکن دا معنی دلته کول لګ بعید دی، وجه داده چه دایمان اطلاق صرف په حدود شرعیه کول لګ بعید دی۔ دویمه وجه داده چه کیدے شی نوره دنیا کښې هم الله تعالی مسلمانانو ته اسلامی حکومت ورکړی او هغوی په یوه خِطه کښې حدود قائم کړی، دا امید د الله تعالیٰ نه شته دے۔ ۲- دویمه معنی دا ده چه ایمان حقیقی به په مدینه کښې ډیر وی، او نورو ځایونو کښې به هم وی خو کم به وی،او اوس دا زمانه راغلے ده ځکه مدینے والا (عرب) په صحیح دین باندے ښه پوهیږی په نسبت دنورے دنیا باندے، هغوی سره به هم دین وی خو داسے اصلی دین به ورسره نه وی، لکه څنګه چه عربو سره دے چه صفا کتاب او سنت پسے روان دی، چون چرا نه کوی۔ لیکن دا معنی هم دلته ظاهره نه ده ځکه دلته تشبیه دایمان د الحیة (مار) سره ورکړے شویده، او مار چه کله سوړے ته ننوځی نو بهر خوئے څه حصه نه پاتے کیږی۔ نو په دے کښې اصح معنی دریمه ده۔

۳- چه دا په آخری زمانه کښې مراد ده چه زمانه د دجال ده چه کله دجال راشی نو دهغے نه بعد به ایمان والا صرف په مدینه کښې وی عامه دنیا کښې به نه وی، یعنی ددجال دزمانے پسے چه قیامت قائمیږی نو ایمان والا به نوره دنیا کښې نه وی، لکه دا د بل حدیث نه معلومیږی (آخر قریة من قرى الاسلام خراباً المدينة) وحديث (امرت بقرية تأكل القرىٰ) انظر مشكاة باب حرم المدينة۔

بیا دمدینے نه مراد چار چاپیره کلی هم دی، مکه هم په کښې داخل ده، نو اعتراض نه واردیږی چه روستو حدیث کښې خو لفظ دحجاز دے۔ ۲- **یا جواب** دادے چه اول کښې به دین حجاز ته راجمع کیږی بیا به مدینے ته رانقل شی۔وسنذکر: دا جواب دسوال دے چه دلته په مصابیح کښې یو حدیث وو، نو اے خطیب! تا هغه حدیث په دے مقام کښې په مشکوٰة کښې ولے ذکر نه کړو، سره ددے نه چه تا خو دترتیب التزام کړیدے؟۔

جواب: هغه مے په کتاب المناسك کښې راوړیدے دهغه ځائے سره ډیر مناسب وو، مسئله دحج په کښې وه۔ هغه حدیث دا دے: ذرونی ما ترکتکم: نبی اکرم ﷺ فرمائی: ما پریدئ ترڅو چه ما تاسو پریښی یئ۔ ددے مطلب دادے (وقد مر ایضاً) چه ما یوه مسئله بیان کړه او ما دهغے تشریح اونکړه نو تاسو به تپوسونه نه کوئ چه دابه څنګه کوو۔ بلکه په هم هغه مطلق به عِمل کوئ۔ د بنی اسرائیلو غوا به ترینه نه جوړوئ، چه امرورته ؤشو په ذبح کولو باندے اوشو نو هغوی په تپوسونو تپوسونو ځانته ګرانه کړه، دیته ضرورت نه وو، چه دا تپوس اوکړی چه دا څه کار کوی، رنګ ئے څه دے، وړه ده که غټه، بلکه که هره غوائے چه ذبح کړے وے هغه کافی وه، نو نبی ﷺ چه درته اووائی دا عمل اوکړه نو تپوس مه کوه چه دا ولے داسے کوو، اوځنګه اوکړو، هروخت به ئے کوو، اوکه نه، هرکال

به ئے کوو اوکه صرف یو کال۔ لکه نبی ﷺ اوفرمائیل : الله په تاسو باندے حج فرض کړو نو تاسو حج اوکړئ۔ یو صحابي (اقرع بن حابسؓ) عرض اوکړو : دا هر کال فرض دے اوکه صرف یو پیره ؟ نبی ﷺ ورته توبیخاً او فرمائیل : که زه اوس اووایم چه هر کال فرض دے نو بیا به ئے اونه کړے شئ۔ دے سوال ته ضرورته نه وو، بلکه که هرکال فرض وے مابه دهغے بیان کړے وے ځکه رسول الله ﷺ خو دهمدے بیان دپاره رالیږل شویدے، کله چه هغه بیان اونه فرمائی، نو بیا چون وچرا نه دی کول پکار۔ دیته تشدد وائی په دے کښ رد دے په فرضی مسائلو باندے دکلما او حتیما وغیره طلاقو نه۔

وحدیثی معاویه وجابر : اودوه حدیثونه یو دجابر او بل معاویه به په باب ثواب هذه الامة کښ ذکر کړو چه دا آخری باب دمشکوٰة دے لیکن هلته ئے دجابر حدیث نه دے ذکر کړے وفاء دوعدے ئے نه ده کړے۔ هغه دا حدیث دے : (لا یزال طائفة من امتی ظاهرین علی الحق) یعنی یوه ډله به همیشه دپاره په حق باندے ولاړه وی تر قیامته پورے دابه نه ختمیږی۔ اودا د نبی ﷺ پیشن گوئی ده، دخوشحالئ حدیث دے (الحمد لله) چه قیامته پورے به یوه ډله وی۔ دډلے نه مراد تنظیم نه دے بلکه مراد ترینه مؤمنان دی، عرب وی که عجم، یو ځائے کښ راجمع وی اوکه جدا جدا ځائے کښ وی، په کتاب اوسنت به کلك ولاړ وی، اودابه ولے همیشه دپاره وی، وجه داده چه دالله حجت په بندگانو قائم وی، ولے که اوس حق پرست په دنیا کښ نه وی نو عوام خلق به الله ته وائی چه یا الله ! ځوك نه وو چه مونږ ته ئے حق ښودلے وے نو الله به ورته وائی چه ولے فلانی ځائے کښ فلانے شخص نه وو، فلانئ مدرسه نه وه، حق پرست علماء به ورته پیش کوی چه د دوئ نه به ډیر حق معلوم کړے وے !۔

٢٢ - وَعَنْ رَبِيعَةَ الْجُرَشِيِّ قَالَ: أُتِيَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ فَقِيلَ لَهُ: لِتَنَمْ عَيْنُكَ وَلْتَسْمَعْ أُذُنُكَ وَلْيَعْقِلْ قَلْبُكَ قَالَ: «فَنَامَتْ عَيْنَيَّ وَسَمِعَتْ أُذُنَايَ وَعَقَلَ قَلْبِي» قَالَ: فَقِيلَ لِي: سَيِّدٌ بَنٰى دَارًا فَصَنَعَ فِيهَا مَأْدُبَةً وَأَرْسَلَ دَاعِيًا فَمَنْ أَجَابَ الدَّاعِيَ دَخَلَ الدَّارَ وَأَكَلَ مِنَ الْمَأْدُبَةِ وَرَضِيَ عَنْهُ السَّيِّدُ وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّاعِيَ لَمْ يَدْخُلِ الدَّارَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنَ الْمَأْدُبَةِ وَسَخِطَ عَلَيْهِ السَّيِّدُ» قال: «فَاللهُ السَّيِّدُ وَمُحَمَّدٌ الدَّاعِيَ وَالدَّارُ الْإِسْلَامُ وَالْمَأْدُبَةُ الْجَنَّةُ». رواه الدارميُّ.

ترجمه : ربیعه الجرشی ؓ نه روایت دے چه د الله رسول ﷺ ته خوب کښ ملائك اوښودلے شو او ورته اووئیلے شو (یعنی ملائکو ورته اووئیل) پکار دی چه ستاسو سترگے اودے شی ستاسو غوږونه واوری اوستاسو زړه پوهه شی! نبی ﷺ اوفرمائیل : سترگے اودے شوے زما غوږونو واوریدل اوزما زړه پوهه شو۔ بیا نبی ﷺ اوفرمائیل : ماته اووئیلے شو (یعنی دمثال په طور ملائکو زما مخکښ بیان اوکړو) چه یو سردار کور جوړ کړو، طعام ئے تیار کړو، بیا یو بلونکے ئے اولیږلو (چه

خلق راوبلي) چاچه دبلونكي دعوت قبول كړو هغه كوركښ داخل شو اود طعام نه ئے اوخوړلو، او سردار ترے خوشحاله شو. اوچاچه دعوت قبول نه كړو، كور ته داخل نشو او خوراك ئے اونه كړو او سردار ترے ناراضه شو. نبي ﷺ اوفرمائيل : دے مثال كښ سردار نه مراد الله تعالىٰ دے، بلونكي نه مراد رسول الله ﷺ دے، دكور نه مراد اسلام دے اوطعام نه مراد جنت دے.(دارمي).

تعارف : دربيعة الجرشي ؓ : دده دپلار نوم ابو الفاز يا ابن الفاز ربيعه بن عمرو يا ربيعه بن الحارث الدمشقي الجرشي دے. (بفتح الجيم وفتح الراء) دده په صحابي كيدو كښ دعلماؤ اختلاف دے، اكثر علماء لكه امام بخاري في التاريخ، ابن عبد البر في الاستيعاب، ابن حبان او ابو نعيم، البغوي، ابن سعد وغيره په صحابوٌ كښ شمارلے دے، اوبعض علماء لكه ابو زرعه الدمشقي او دارقطني په تابعينو كښ شمارلے دے په مرج راهط كښ دضحاك بن قيس سره يو ځائے قتل شويدے په سنه (٦٤ هـ) كښ، ثقه راوي دے او فقيه هم دے، وثقه الدارقطني وغيره. دا يو حديث ترے نقل دے.

تشريح : أُتِيَ نَبِيُّ اللهِ : صيغه دمجهول ده يعني راتګ اوكړے شو د الله نبي ته يعني نبي عليه السلام ته خوب كښ يو شخص راغلو. لِتَنَمْ عَيْنُكَ : ستا سترګے دے اودے شي ددے عبارت مطلب دا دے چه په سترګو باندے بل څه ته مه ګوره او بل څه ته غوږ مه ګده،او زړه كښ نور خيالات مه راوله، يعني پوره ذهن او زړه، دِل اودماغ حاضر كړه چه په دے مثال باندے پوهه شے، اودا راتلونكے ملائك وو لكه ددے تشريح مخكښ تيره شويده. فَنَامَتْ عَيْنَيَّ : يعني زما سترګے اودے شوے يعني ستا خبره ئے اومنله زه متوجه يم. فَاللهُ السَّيِّدُ : په دے حديث كښ صرف دا يوه مسئله ده چه دسيد اطلاق په الله شويدے او دا صحيح دے اګرچه ددے اطلاق په نبي ﷺ باندے هم كيږي. الله ته چه سيد وائي نو دهغه دشان مناسب دے، الله په هر لحاظ سره سيد دے، دحلم او علم او عظمت په لحاظ سره، سِيادة د الله دهغه دشان مناسب وي اود بندګانو سيادت دادے چه په يو څو كسانو مشر وي، او الله په هر لحاظ مشر دے.

سوال : څه وجه ده چه په مخكښ تير شوي حديث دجابرؓ كښ دجنت تشبيه ددار سره وركړے شويده اودلته په دے حديث كښ د جنت تشبيه دمادبه (دستر خوان-طعام-) سره وركړے شوه؟.

جواب : اسلام سبب د دخول الجنة دے نو هلته ئے مسبب ذكر كړو چه جنت دے نو دار نه ئے جنت مراد كړو، ليكن كله چه جنت طرفته دعوت وركول هله پوره كيدل چه كله دعوت الى الاسلام راشي، نو اوس صحيح شو استعمال دهر واحد په مقام دآخر باندے، بيا كله چه دجنت نعمتونه اود هغے خوشحاليانے دا اصلي مقصد وو دجنت نه، نوپه دے وجه ئے جنت نه عين مادبه جوړه كړه دپاره دمبالغے.

درجة الحديث : اسناده صحيح لغيره: رواه الدارمي في اول سننه واخرجه الطبراني في الكبير قال

الحافظ: وسنده جید (قلت) ویؤیده حدیث البخاری المتقدم فی الفصل الاول۔

۲۳- وَعَنْ اَبِیْ رَافِعٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَااُلْفِیَنَّ اَحَدَکُمْ مُتَّکِئًا عَلٰی اَرِیْکَتِهٖ یَأْتِیْهِ الْاَمْرُ مِنْ اَمْرِیْ مِمَّا اَمَرْتُ بِهٖ اَوْ نَهَیْتُ عَنْهُ فَیَقُوْلُ لَا اَدْرِیْ مَا وَجَدْنَا فِیْ کِتَابِ اللهِ اتَّبَعْنَاهُ»، رواه احمد وابوداود والترمذیؒ وابن ماجه والبیهقیؒ فی دلائل النبوة.

ترجمه: ابو رافع ﷛ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زه دے تاسو کښې څوك په دے حال کښې بیانه مومم چه هغه خپل چپرکټ باندے تکیه لګولے وی او زما دهغے احکامو نه چه دهغے ما حکم کړیدے یا څه نه مے چه منع کړے ده څه حکم هغه ته اورسی او هغه (هغے آوریدو سره) دا اووائی چه ماته هیڅ معلوم نه دی، څه چه مونږ ته دالله کتاب کښې ملاؤ شی مونږ به دهغے اطاعت کوو۔(احمد، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه، بیهقی)۔

تعارف: دابو رافع ﷛: داد نبی ﷺ غلام وو، بیا ئے آزاد کړو۔ دده په نوم کښې اختلاف دے بهتر قول دادے چه دده نوم اسلم دے اودا په اصل کښې قبطی وو، دعباس رضی الله عنه غلام وو، هغه نبی ﷺ ته هبه کړو، بیا کله چه نبی اکرم ﷺ ته دا خوشخبری راغله چه عباسؓ ایمان راوړو نو هغه په دے خوشحالئ کښې آزاد کړو۔او عباسؓ د بدر نه مخکښې ایمان راوړے وو، خو د نبی ﷺ سره جنګ ته نه وو حاضر شوے۔ احادیث منقوله ترے (۶۸) دی۔ په ابتداء دخلافت د علی ﷛ کښې وفات شویدے۔

تشریح: اتَّبَعْنَاهُ: امام شافعیؒ فرمائی: سنت به حاکم وی په کتاب الله باندے ځکه دا شرح دقرآن ده، او دا جائز نه دی چه حدیث لره په کتاب الله باندے پیش کړے شی چه که دقرآن موافق وی نو عمل به کوو، اوکه مخالف وی نو پریدو به ئے ځکه صحیح حدیث دقرآن خلاف نه راځی۔

علامه سندهیؒ فرمائی: بعض اصولیانو دا خبره کړیده چه زیادت په کتاب الله باندے په خبر واحد سره جائز نه دے– دا خبره صورةً مشابه ده ددے منهی عنه سره کوم چه حدیث کښې راغلے ده۔ **فائده عظیمه**: زیادت دخبر واحد په کتاب الله والا قاعده اعلام الموقعین (۲/ ۳۱۱) او فتح الباری (/۵) کښې تفصیلاً سره درد نه ذکر شویده۔مونږ به ئے نزدے بیان کړو ان شاء الله۔اتبعناه: یعنی صرف د کتاب الله تابعداری به کوو او حدیث به نه منو۔

دا حدیث د نبی ﷺ دپیشن ګویانو نه یوه پیشن ګوئی ده، چه هغه دا پیشن ګوئی ورکړیده اوهم دغه شان واقع هم شوه، رسول الله ﷺ فرمائی: زه پتاسو کښې داسے څوك مونده نه کړم چه دحدیثو منکر وی یعنی داسے به پیدا کیږی۔دحدیثو منکرین دنبی ﷺ د زمانے نه روستو

اول معتزله وو۔ دوئ به دمسلمانانو بادشاهانو نه ویریدل نو داسے به ئے نشو وئیلے چه حدیث نه منو ځکه بیا خو بادشاهانو وژل، ځکه هغه خو اسلامی حکومتونه وو۔ اود دین په امورو کښې به ئے کار لرلو۔ نو دوئ ترینه غوږ نشو خوزولے، لیکن روستو دوئ په دے طریقه دحدیثو نه انکار اوکړو چه دا عقیده ئے را اویستله چه احادیث خو اخبار آحاد دی، ځکه په دے کښې احتمال دخطائی او ددروغو شته دے (صغریٰ)او هر هغه شے چه احتمال دخطاء او ددروغو په کښې وی نو هغه خو ظنی وی (کبریٰ) نو احادیث اخبار آحاد ظنی شو (نتیجه) او ﴿ إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ﴾ په ظنیاتو باندے عقیدے نه ثابتیږی ځکه عقیدے دپاره قوی دلیل پکار دے، نو قوی دلیل څه شے دے نو هغه عقل دے، ولے ځکه چه عقل کښې تغییر او تبدیل نه راځی او په دے نصوصو کښې خو احتمال د دروغو شته دے (العیاذ بالله)۔

او بله دا چه په دے کښې حذف او ایصال هم شته چه بعض الفاظ غورزیدلی وی او بعض دځانه زیات شوی وی، او په دے کښې احتمال دډیرو معنو هم وی، نو په دے طریقه ئے احادیث دمسلمانانو په ذهن کښې سپك ښکاره کړل۔نو د هغه وخت نه داخبره راخوره شوه – نو په دے کښې ډیر احناف، مالکیه او شوافع هم واقع شو،هغوی هم وائی چه دا اخبار آحاد ظنیات دی، روستو پسے نور خلق راغلل هغوی داحادیثو نه انکار اوکړو، په مصر کښې بعض خلق پیدا شو اودارنګه په هندوستان کښې، او په پاکستان کښې په پنجاب، کراچئ وغیره کښې پرویزیان، قادیانان،منکرین حدیث پیدا شو، دحدیثو د انکار هغوی دا طریقه جوړه کړیده چه په احادیثو کښې خو موضوعی هم شته، منکرت اودروغ هم خلقو وئیلی دی، او نبی ﷺ ته ئے نسبت کړیدے، نو دوئ هغه راواخلی او مسلمانان ته ئے پیش کړی، چه دا ستاسو حدیث دی، یا په تفسیرونو کښې چه کوم اسرائیلی روایات وی هغه خلقو ته پیش کوی په دے باندے حدیثونه بدناموی، لکه پرویز دقرآن تفسیر هم لیکلے دے په هغے کښې هر ځائے کښې په احادیثو رد کوی وائی چه دا حدیث هم تفسیرونو راوړیدے آیا دا هم څه حدیث دے۔ دیته هم خلق حدیث وائی۔ په (وی، سی آر، سی ډی) کښې هم بند دے، نو دوئ خلقو ته په دے طریقه دعوتونه ورکوی۔

ددوئ دعوت اوس ډیر شروع دے، خلق ئے هم په توجه سره اوری، اود هغوی د قرآن کریم درس هم په دے طریقه وی چه تول په کرسو باندے ناست وی، زنانه ورته مخکښې ناستے وی او نارینه روستو ناست وی، اود دوئ په دے جال کښې عام طور سره جاهل تعلیم یافته طبقه زیاته نخلی۔ دا د نبی ﷺ پیشن گوئی په دوئ باندے بالکل صادقه ده چه (متکئاً علی اریکته) داخو دهغوی مختصر معلومات وو۔

بیا په دوئ باندے اهل السنة ردونه هم کړیدی، خو انکار دحدیثونه په دوه طریقو سره کیږی: ١– یو دا چه بالکل ئے اونه منی۔ ٢– دویم دا چه شپاړس جوابونه ترے کوی، په حدیثونو درسول الله ﷺ

پسے ئے مذهبی قینچی راخستی وی، او هغے له آپریشن کوی، دے دپاره چه په مذهب باندے ئے فِټ کړی۔ دا هم دحدیثو نه یو نوع انکار دے، په ظاهره کښې اگرچه منی خو په معنیٰ کښې ئے انکار دے۔

فوائد الالفاظ : لَا اُلْفِيَنَّ : صیغه د واحد متکلم بانون تاکید ثقیله، دباب افعال نه په معنی دموندلو سره یعنی زه دِے په تاسو کښې څوك اونه مومم، یعنی په تاسو کښې دِے دا کارنه پیدا کیږی چه زه ئے په دے حال مونده نه کړم، دا نهی دمخاطب وی لکه خلق وائی : زه دِے تا دلته اونه وینم، یعنی ته دلته رانشې۔ عَلٰی اَرِیْکَتِهٖ : هو السریر المزین بالحلل والاثواب فی قبة او بیت ۔ (یعنی اریکه هغه ډولی او ښائسته پالنګ ته وائی چه په ګانړو او جامو باندے ډولی کړے شوے وی او په خیمه یا کوټه کښې پروت وی)۔ په دے کښې اشاره ده مالدارئ ته لکه روستو حدیث نه معلومیږی۔ شبعان : یعنی موړ وی مالداره وی۔ دا انکار دحدیثو دهغه چا کار دے چه مالداره ماړه وی، غټ خلق وی، دوئ اکثر داحادیثو منکر وی څکه چه د دوئ ژوند د احادیثو مخالف وی نو ددے وجه نه که څوك ورته احادیث پیش کوی نو دوی ترے انکار کوی۔ صاحب المرعاة وائی : په دے کښې اشاره ده هغه چاته چه په کور کښې په ډولئ کښې ناست وی، دعلم نه ئے ځان غافله کینولے وی، نو څکه دحدیثونه انکار کوی په خپل باطل ګمان دے دخبرے تحقیق نه کوی، بلکه چه زړه ئے څه منلی وی هغه کوی، د نبی ﷺ خبرو ته هیڅ نظر نه کوی، خواهش پرست وی۔ یَاْتِیْهِ الْاَمْرُ : دامر اطلاق په امر او نهی دواړو کیږی علی سبیل البدلیة څکه روستو ترے مما امرت اونهیت لفظ ذکر کوی۔

فَیَقُوْلُ لَا اَدْرِیْ : یعنی هل ثبت عن النبی ﷺ اولا ؟ (یعنی ماته پته نشته چه آیا دا نبی علیه السلام وئیلے دے او که نه ؟)۔ ۲- لا ادری نه پوهیږم چه دا حدیث به دصحابی نه روایت وی اوکه دمنافق نه۔ بیا راوی به خطاء شوے وی دروغ به ئے وئیلی وی اوکه رشتیا، نوشکونه پیدا کوی دانکار دپاره۔ لکه همدا شبهات د منکرین حدیث هم دی۔ مَا وَجَدْنَا فِیْ کِتَابِ اللّٰهِ اتَّبَعْنَاهُ : یعنی مونږ چه کتاب الله (قرآن) کښې څه اومومو دهغے تابعداری به کوو۔ دیته وائی : کلمة حق ارید بها الباطل) ۔ (ظاهر کښې خبره حقه کوی مګر مقصد ئے په کښې وران دے) غرض ئے دادے چه حدیث نه منو، ورنه دا خبره خو صحیح ده چه دقرآن تابعداری پکار ده، خو حدیث ردکول صحیح نه دی۔

عرض الحدیث علی کتاب الله مسئله خطاء ده :

اوس دلته دوه غلطے خبرے دی چه په متاخرینو علماؤ کښې مشهورے دی :

۱- عرض الحدیث علی کتاب الله، لکه نفحة العرب کښې هم دا باب شته، یعنی چه حدیث به په کتاب الله باندے پیش کولے شی، که ورسره موافق وی نو عمل به پرے کولے شی اوکه ترینه مخالف وی نو بیا به ئے نه منو، دا باب غلط دے، دقرآن اوسنت خلاف دے، دارنګه دے باره کښې چا دوه حدیثونه هم دځانه جوړ کړیدی لکه سلسلة الاحادیث الضعیفة (۵۹۰/۳) رقم

(١٤٠٠) کښې ذکر دی۔

یو دغې نه صاحب داصول الشاشی ص (٧٦) بحث السنة کښې راوړیدې، او هغه دادې : (تكثر لكم الاحاديث بعدی، فاذا روی لكم عنی حديث فاعرضوه علی كتاب الله، فما وافق فاقبلوه وما خالف فردوه) (تاسو ته به زما نه روستو ډیر احادیث راځي نو کله چه تاسو ته یو حدیث زما د طرفنه نقل شي نو هغه په کتاب الله باندې پیش کړئ، که ورسره موافق شي نو اومنئ او که مخالف وي نو رد ئې کړئ) دا هم موضوعي حدیث دې۔ دارنګه (الا ان رحى الاسلام دائرة، قيل : فكيف نصنع يا رسول الله قال : اعرضوا حديثي على الكتاب فما وافقه فهو منى وانا قلته) (الضعيفة ٥٩٠/٣) (خبردار د اسلام جرنده ګرځیدونکې ده اوويلې شو : مونږ څه اوکړې یا رسول الله ! وې فرمایل : زما حدیثونه په کتاب الله پیش کړئ که ورسره موافق وي نو دا به زما وي او ما به وئیلی وي) دا اوددې په شان روایتونه موضوعي او ضعیف جداً دی۔

امام عبد الرحمن بن مهدیؒ فرمائي : الزنادقة والخوارج وضعوا ذلك الحديث ـ (زنديقان او خوارجو دا حدیث وضع کړیدې) جامع بيان العلم وفضله (١٩٠/٢) سلسلة (٥٩١/٢) الاحكام في اصول الاحكام لابن حزم (٧٦/٢) ارشاد الفحول (٦٨/١) کښې ددې احادیثو بطلان اوګوره۔

او دا عنوان غلط دې چه سنت د رسول الله ﷺ به په قرآن کریم پیش کولې شي که موافق وي اخستلې به شي او که مخالف وي رد کولې به شي، ځکه سنت د دین اسلام دویمه پایه ده، داسې به نشي کولې چه سنت په قرآن پیش کړو بلکه سنتو دپاره دا ضروري ده چه صحیح، متصل سند سره به ثابت وي، موضوعي اوضعيف به نه وي، هرکله چه صحیح ثابت شي نو دا مستقل حکم دې دقرآن پشان۔لکه څنګه چه قرآن مصدر او ماخذ دې دپاره داثبات دعقائدو او احکامو، دغه شان حدیث نبوي ﷺ هم مصدر او ماخذ دې دپاره داثبات دعقائدو او احکامو۔نو بیا په قرآن باندې دسنت دپیش کولو څه معنی ؟۔

دا وجه ده امام شافعیؒ او یحیی بن ابی کثیرؒ نه نقل دی چه : (السنة قاضية على كتاب الله) ـ (یعنی سنت درسول الله ﷺ به حاکم وي په قرآن باندې) ځکه چه قرآن په باب داحکامو کښې مجمل دې، نو تفصیل به ئې نبي اکرم ﷺ کوي، دارنګه نبي ﷺ شارح دې دقرآن، اواحادیث شرح دقرآن ده، نو په شرح کښې به کله زیادت وي په قرآن باندې، په هغې باندې به هم عمل کولې شي، عقیده دیقین به پرې لرو دقرآن پشان، ولې چه قرآن هم سماوي وحی ده او حدیثِ نبوي ﷺ هم سماوي وحی ده، دومره ده چه یو وحی جلي ده او بله وحی خفي۔ نور په وحی کیدلو کښې دواړه شریك دی، نودیو په بل معنی باندې دپیش کولو څه معنی ده؟۔

امام اوزاعیؒ فرمائي : الكتاب احوج الى السنة من السنة الى الكتاب۔انظر لذلك ارشاد الفحول للشوكاني (٦٨/١)۔ (د الله کتاب ډیر محتاج دې سنت ته په نسبت د احتیاج د سنت کتاب الله ته) ځکه حدیث

تشریح د قرآن ده او ډیر کم کرت یو حدیث د بل حدیث تشریح وی)

بله وجه دا ده چه داخبره کول چه که حدیث د قرآن سره موافق شو نو قبول به وی ورنه قبول به نه وی دا ځکه خطاء ده چه که حدیث د قرآن موافق شو او کم زیاتے په کښې د قرآن نه رانغلو، نو بیا دحدیث زیاتی فائده څه شوه، دغه حکم خو هسے هم په قرآن کښې موجود شو، حدیث ته بیا څه ضرورت پاتے شو؟ نه ! بلکه حدیث مستقل مصدر دے دپاره داثبات دعقائد او احکامو. لکه حدیث به روستو راشی (الا ان اوتیت القرآن ومثله معنی) نو نبی کریم ﷺ ته د قرآن په شان احادیث هم مستقل وحی ملاؤ شویده. او هر یو کښې به جدا جدا احکام وی، کله به زیادت وی کله به تقیید د مطلق وی کله به تفسیر د اجمال وی. دا تول به منلے شی کله چه پدے باندے احادیث صحیح ثابت شی.

نو دغه مذکوره عنوان (دعرض الحدیث علی کتاب الله) چه چا قائم کړیدے دا ښکاره سهوه او واضح غفلت دے دمقصد دحدیث نبوی نه.

د احنافو په بعض اصولو بحث او زیادت په کتاب الله په خبر واحد سره جائز دے

دویمه مسئله په دے حدیث او راتلونکی حدیث کښې بیانیږی هغه بله قاعده ده چه احنافو علماؤ اینبے ده.

تنبیه : اصولِ فقه کښې چه کوم قواعد ذکر دی، دا علماؤ ذکر کړیدی، دالله او رسول قواعد نه دی، او امام ابوحنیفهؒ، ابو یوسف او محمدؒ هم نه دی اینبی، بلکه دا قواعد روستنو متاخرینو وضع کړیدی.

شاه ولی الله دهلویؒ په حجة الله البالغه (۱/ ۱۶۰) کښې فرمائی :

امام ابوحنیفهؒ نه (د احنافو په کتابونو کښې ذکر کړے شوی) دا اصول ثابت نه دی (ځکه په اصولو کښې دهغه څه کتاب نشته) بلکه هغوی جزئی مسائل وئیلی دی. روستنی فقهاء راغلل اود هغے دپاره ئے دلیل نه دے موندلے نو یوه قاعده ئے ورله جوړه کړیده. اوکه بالفرض دهغوی نه نقل هم شی نو انسانان دی، خطائی پرے راتلے شی، دخطاء نه خو محفوظ نه دی، پیغمبران نه دی).

په دغه مزعومه قواعدو کښې یوه قاعده داده چه (الخاص بین بنفسه لا یحتمل البیان) (کتاب الله کښې یو خاص لفظ راشی نو هغه د رسول الله ﷺ بیان ته ضرورت نه لری) دا قاعده داحادیثو د رسول الله ﷺ په خلاف کښې جوړه شویده.

بله قاعده د دوئ دهغه قواعدو نه داده چه (لا یجوز الزیادة بخبر الواحد علی کتاب الله) زیادت په کتاب الله باندے په خبر واحد سره جائز نه دے. اودلیل ورله دا ذکر کوی چه خبر واحد ظنی دے، اوکتاب الله یقینی دے، نوکه قرآن کښې یوه مسئله مطلقه راغله او حدیث کښې ورسره قید ذکر وو، نو په دے حدیث به عمل نه کوو، ځکه دا زیادت دے په کتاب الله باندے، ځکه کتاب الله مطلق دے که په دے حدیث سره مونږ دکتاب الله مطلق مقید کړو، نو په دے سره نسخ راځی

دکتاب الله ځکه چه مطلق مقید کول، یا مقید مطلق کول دا نسخ ده د دوئ په نیز، او نسخ دقرآن په خبر واحد سره نشی کیدے، ځکه چه قرآن یقینی دے او خبر واحد ظنی دے، نو په ظنی باندے یقینی نشی رفع کولے۔

دا خبره ذهن ته په ظاهر کښې خو ښه پریوځی مگر په حقیقت کښې د انجام په اعتبار سره په دے قاعده باندے داحادیثو لویه ذخیره ضائع شویده۔

* لکه مثلًا : قرآن کښې دی ﴿ وامهاتکم اللاتی ارضعنکم ﴾ (النساء : ٢٢) (او په تاسو حرام دی هغه میندے ستاسو چه تاسو له ئے تے (پئ) درکړیدی) (وائی دا مطلق دے یو ځل تے ورکول او دوه ځل او ډیرو تهولو ته شامل دے)، په دے سره حدیث دمسلم (لا تحرم المصة ولا المصتان الخ) (یو کرت د ماشوم تے راخکل یا دوه کرتو سره حرمت رضاعت نه ثابتیږی) رد شویدے۔

* دارنګه ﴿ حتی تنکح زوجاً غیره ﴾ (وائی دلته زنانه ته نسبت د نکاح شویدے نو هغه ځان له خپله نکاح کولے شی) نو پدے سره حدیث دبخاری (لا نکاح الا بولی) (بغیر د ولی نه نکاح نه کیږی) و حدیث (ایما امرأه نکحت بغیر اذن ولیها فنکاحها باطل باطل باطل) (کومے زنانه چه بغیر د ولی د اجازت نه نکاح اوکړه نکاح ئے باطله ده) رد شویدے، اوددے مثالونه په احادیثو کښې به په سلګونو راشی۔

نو دا قاعده غلطه ده، وجه دغلطئ داده چه دقرآن کریم اطلاق په خبر واحد سره نه منسوخ کیږی بلکه حدیث شرح دمطلق دکتاب الله ده، او مراد دے دکتاب الله۔ اودا چا وئیلی دی چه اخبار آحاد ظنی دی ؟ بلکه هر هغه حدیث چه په صحیح سند سره ثابت شی هغه یقینی دے، نو حدیث شرح د قرآن دے، **دلیل** پرے دا دے چه الله تعالی نبی اکرم ﷺ ته خطاب فرمائی ﴿لتبین للناس ما نزل الیهم ﴾ [النحل : ٤٥] یعنی اے نبی ! ته به دقرآن کریم بیان او تشریح کوے خلقو ته۔ نو شرح او متن دواړه به منلے شی۔قرآن کریم ﴿ ارضعنکم ﴾ اووئیلو، نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چه د رضاعت نه مراد دا دے چه یو ځل یا دوه ځلو سره رضاعت نه ثابتیږی، دا سے ئے اونه فرمائیل چه رضاعت د سره نشته چه نسخ راشی۔ بلکه دا تبیین او تشریح ئے اوکړه، نو دواړه مستقل حکمونه دی، عام احادیث زائد دی په کتاب الله باندے لکه روستو حدیث کښې راځی (الا انی اوتیت القرآن ومثله معه) ددے دا مطلب نه دے چه هر حدیث عین قرآن دے، ځکه چه صرف هغه حدیث چه د قرآن مطابق وی او څه حکم په کښې کم وزیات نه وی هغه اومنلے شی، نو بیا دے حدیثو ته څه حاجت شو، بیا خو اصل کښې خبره قرآن کښې شوه، نو شرح ته څه ضرورت شو، بلکه (مثله) معنی دا ده چه قرآن هم مستقل حکم دے، اوحدیث هم مستقل حکم دے، نو کله به په احادیثو کښې زیادت وی په قرآن باندے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه احمد (٨/٦) وابوداود في السنة (٤٦٠٥) باسناد صحيح قاله الالباني في صحيح ابي داود (٨٧١/٣) تعليق المشكاة (٥٧/١) وابن ماجه رقم (١٣) واسناده صحيح، والترمذي (٢٦٦٣) باسناد حسن ونحوه الحديث الآتي فهو مؤيد له۔

٢٤- وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيكَرِبَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اَلَا اِنِّیْ اُوْتِیْتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ اَلَا یُوْشِكُ رَجُلٌ شَبْعَانُ عَلٰی اَرِیْكَتِهٖ یَقُوْلُ عَلَیْكُمْ بِهٰذَا الْقُرْآنِ فَمَا وَجَدْتُّمْ فِیْهِ مِنْ حَلَالٍ فَاَحِلُّوْا وَمَا وَجَدْتُّمْ فِیْهِ مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوْهُ وَاِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُوْلُ اللهِ كَمَا حَرَّمَ اللهُ، اَلَا لَا یَحِلُّ لَكُمُ الْحِمَارُ الْاَهْلِیُّ وَلَا كُلُّ ذِیْ نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَلَا لُقْطَةُ مُعَاهِدٍ اِلَّا اَنْ یَسْتَغْنِیَ عَنْهَا صَاحِبُهَا وَمَنْ نَزَلَ بِقَوْمٍ فَعَلَیْهِمْ اَنْ یقروهُ فَاِنْ لَمْ یَقْرُوْهُ فَلَهٗ اَنْ یُعَقِّبَهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُ». رواهُ ابوداوٗد وَرَوَی الدارمِیُّ نحوَهٗ وكذا ابن ماجه الی قوله كَمَا حَرَّمَ اللهُ۔

ترجمه : مقدام بن معديكرب ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : خبردار ! ماته قرآن راكړے شويدے او هغے سره دهغے په شان شے (حديث هم راكړے شويدے) خبردار ! خپل پالنګ باندے پروت يوه خيته ډكے سړے به اووائی چه بس دا قرآن په ځان لازم اوګنړئ (يعنى صرف قرآن باندے ځان پوهه كړئ او په دے عمل كوئ) او كوم څيز چه تاسو قرآن كښ حلال بيامومئ هغه حلال اوګنړئ اوكوم څيز چه تاسو قرآن كښ حرام بيامومئ هغه حرام اوګنړئ حالانكه څه ته رسول الله ﷺ حرام فرمائيلى دى هغه دهغے څيز په شان دے كوم چه الله حرام كړيدے۔ خبردار ! ستاسو دپاره كورنے خر حلال نه دے اونه داړه ور درندګان (شلونكى ځناور) اونه ستاسو دپاره د معاهد (يعنى هغه قوم چه هغوئ سره معاهده شوے وى) لقطه (پريوتے شے) حلال دے، البته هغه لقطه حلاله ده چه دهغے مالك دهغے هيڅ پرواه نه كوى، او كوم سړے چه ديو قوم ميلمه وى په هغے قوم لازم دى چه دهغه ميلمستيا اوكړى كه هغوئ ميلمستيا اونه كړى نو هغے سړى له دا جائز دى چه هغه دميلمستيا په شان څه دهغوئ نه حاصل كړى (ابوداود) دارمى هم داسے روايت نقل كړيدے اودغسے ابن ماجه هم۔

تعارف د مقدام بن معديكرب ﷺ : سلسله نسب ئے داده : مقدام بن معديكرب الكندى ابو كريمه يا ابو يحيى ئے اسم كنيت دے۔ مشهور صحابى دے،شام كښ اوسيدلے دے، عام احاديث ئے هلته خواره دى، په سنه (٤٧ هـ) كښ د (٩١) كالو په عمر وفات شويدے، څلويښت (٤٠) احاديث ترينه نقل دى۔ ډير زيات شاګردان ئے لرل۔

تشريح : اَلَا اِنِّیْ اُوْتِیْتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ : يعنى ماته قرآن اود هغے پشان بل يو شے راكړے شويدے، چه هغے ته احاديث وائى، فرق دادے چه قرآن وحى جلى (ښكاره وحى ده) اوحديث وحى خفى (پټه وحى) ده۔ يعنى الله ورته پټه وحى كړيده، ددے معنى داده چه رسول الله ﷺ يوه خبره كړيده، الله پرے رد نه كړے، هغه پرے رضا دے نو دا وحى خفى شوه۔ معه : كښ اشاره ده ديته چه قرآن كريم سره به احاديث يو ځائے كولے شى، او احاديث غير (مغاير) دقرآن نه نه وى،

بلکه دواړه حکمونه ملګري دي۔ په دے کښ رد دے په هغه چا چه احاديثو له اعتبار نه ورکوی دقرآن سره۔ او دا هم معلوميږی چه احاديث د قرآن پشان يقينی دی، کله چه صحيح السند وی۔ لکه **امام بيهقی** رحمه الله فرمائی: په دے حديث کښ دوه معنے دی: ۱- يو دا چه نبی عليه السلام ته وحی باطنی (خفی) غيرِ متلو ورکړے شويده لکه څنګه چه ورته وحی ظاهر متلو ورکړے شويده۔ ۲- دويمه معنی دا ده چه نبی اکرم ﷺ ته کتاب الله ورکړے شويدے چه هغه وحی ده لوستلے کيږی، اوددے پشان بيان هم ورته ورکړے شويدے۔ يعنی هغه ته دا اجازت ورکړے شويدے چه بيان دقرآن کريم اوکړی، نو کله به تعميم ديوے خبرے کوی، اوکله به تخصيص ديوے خبرے کوی۔ (ددے نه هم معلومه شوه چه اخبار آحادو سره تخصيص او تعميم او تقييد کيدلے شی اودا نسخ دکتاب الله نه ده، بلکه بيان د ما هو المراد دکتاب الله دے، څکه دواړه شرع دی د الله، کله د قرآن په يو آيت کښ پوره بيان نه وی نو نبی ﷺ ته ئے پريښے وی، هغه بيا تفصيلی بيان کړے دے) او کله به نبی ﷺ زيادت کوی په قرآن باندے، نو هغه خبره به هم مشروع وی ؒ ومهچه په کتاب الله کښ نه وی ذکر شوی، نو دا به په وجوب دحکم اولزوم العمل کښ دوحی ظاهر متلو (قرآن) پشان وی۔

نوحاصل د معنی دا شو چه: (اوتيتُ القرآن واحکاماً ومواعظ وامثالاً تماثل القرآن فی کونها واجبة القبول او فی المقدار) ۔انتهی۔ (يعنی ما ته قرآن او احکام او مواعظ او مثالونه راکړے شويدی چه هغه مشابه دی د قرآن سره پدے کښ دواړه واجبة القبول دی او د دواړو مقدار او مرتبه يو شان (وحی) ده)۔ الا يوشِك: خبردار قريبه ده چه يو سړے به پيدا شی۔ علامه طيبیؒ يوه فائده ذکر کړيده هغه دا چه په دے حديث کښ الا حرف تنبيه ئے دوباره ذکر کړه، په دے کښ اشاره ده سخت توبيخ (زورنے) ته چه داد سختے لوئے غصے نه را پيدا شويده په هغه چا باندے چه سنت اوحديث پريدی، اودا وائی چه قرآن زمونږ دپاره کافی دے۔ نوڅه به وی حال دهغه چا چه خپلے رائے (مذهب) ته په حديث باندے ترجيح ورکوی؟ انتهیٰ۔ يعنی چه حديث ورته پيش کړے شی نو دهغے نه جوابونه کوی، او خپله رايه پرے اوچتوی، يا وائی زمونږ امام، مشر پرے ښه پوهيږی، مونږ له دهغه خبره کافی ده، مونږ په حديث نه پوهيږو لکه دا د مقلدينو طريقه وی دحديث په مقابله کښ۔ شَبْعَانُ: چه موړ به وی يعنی مالداره به وی۔ فائده ئے مخکښ تيره شوه۔ عَلٰی اَرِيْکَتِهٖ: يعنی په خپل کټ دناوے په پالنګ به ناست وی۔

يَقُوْلُ: يعنی خلقو ته به دا دعوت ورکوی چه: عَلَيْكُمْ بِهٰذَا الْقُرْآنِ: پتاسو لازم دی چه پدے قرآن عمل اوکړئ او حديثونو ته هيڅ ضرورت نشته، دائے ددعوت حاصل دے، صرف قرآن ته دعوت ورکوی څکه دے پرويزيانو (منکرين حديث) ځان ته اوس اهل القرآن نوم ايښے دے۔ وَاِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُوْلُ اللهِ: دا دنبی اکرم ﷺ وينا ده، يعنی خبردار! تاسو داسے انکار دحديث اونه کړئ

ځکه چه رسول الله ﷺ يو شے حرام کړی (په حديث باندے حرام شی) نو دا داسے دے لکه چه الله تعالی په قرآن کښې حرام کړيدے، دومره طاقت په کښې دے۔

دا حديث صريح رد دے په هغه (احنافو) خلقو چه خبر واحد سره نسخ اوتخصيص او تقييد جائز نه گڼړی۔فتدبر!۔

اَلَا لَا يَحِلُّ لَكُمُ الْحِمَارُ الْاَهْلِيُّ : ددے ځائے نه نبی اکرم ﷺ هغه څيزونه بيانوی چه هغه په حديثو باندے حرام شويدی، او قرآن کښې دهغے (صراحةً) ذکر نه وی۔اوداسے نور ډير مسائل هم شته لکه غلام احمد قاديانی ته چا اووئيل چه ته احاديث نه منے نو د شفعے مسئله چه د پاکستان قانون کښې هم شته او هر کافر مسلمان ئے منی، دا دقرآن نه ثابته کړه، نو هغه ډيره موده پورے قرآن اولټولو مگر هيڅ جواب ئے ورنکړے شو۔(فبهت الذين کفر)۔ دلته نبی اکرم ﷺ مثالونه ښائی : ١- لکه حمار اهلی (کورنے خر) حراميدل قرآن کريم کښې نه دی ذکر ﴿ والخيل والبغال والحمير لتركبوها و زينةً ﴾ (النحل : ٨) ئے وئيلی دی ليکن دحل اود حرمت هيڅ بحث ئے نه دے کړے صراحةً۔اگرچه هغوی د ﴿ احل لكم بهيمة الانعام ﴾ (المائده : ١) نه ثابتوی چه بهيمة الانعام هغه حيواناتو ته وائی چه دخيتے نه بيرته طعام راوباسی اوشخوند پرے وهی، نو دا حلال دی اوددے نه سيوا حرام دی او خر هم دا کار نه کوی نو حرام شو، ليکن داخبره خو په اس کښې هم جوړيږی پکار ده چه هغه هم حرام شی، نودا صرف اشارةً ثابت دے، صراحةً ئے ذکر نشته۔دارنگه بيا ډيے دحمار اهلی او صحرانی خر فرق اوکړی، داصرف په احاديثو کښې ثابت دے چه صحرانے خرحلال دے اوکورنے خر حرام دے۔ حمار اهلی : په غزوه دخيبر کښې حرام شويدے۔

وَلَا کُلُّ ذِیْ نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ : ٢- يعنی هر هغه حيوان حرام دے * چه ذی ناب وی، داړه لری، انياب غاښونه لری۔ * دارنگه درنده وی، ماتول کوی۔نودا دواړه شرطونه چه وی نو داحيوان به حرام وی۔که صرف ذی ناب وی خو سبع (درنده) نه وی لکه اوښ نودابه هم حلال وی اوکه يو داسے حيوان وی چه سبع وی خو ذی ناب نه وی لکه شکونړ چه دا ټانټے ماتوی اگرچه داړه نه لری، نو دابه هم حلال وی۔

بيا په دے مسئله کښې اختلاف دے چه ذی ناب من السباع حرام دے که نه ؟

١- نو د امام ابو حنيفةؒ، امام شافعیؒ، امام احمدؒ او جمهور علماء ورته مطلقاً حرام وائی۔

٢- **اود امام مالکؒ** نه دوه روايته دی : يودا چه دا بالکل جواز لری، دهغه په مذهب کښې زمرے، سور لندے، لومبړے وغيره جائز دی۔دويم روايت دکراهت دے، هغه په دے مسئله کښې قرآن ته رجوع کړيده چه ﴿ قل لا اجد فيما اوحی الی محرماً ﴾ الآيه، چه دلته صرف اوصرف دڅلور شيانو حرمت ذکر دے : الدم، لحم الخنزير، ما اهل لغير الله، الميتة۔او باقی څيزونه جائز شو۔خو داحديث امام مالکؒ ته نه دے رسيدلے، نو په دے وجه هغه دکراهت قول کړيدے، اودده دا

قول خطاء دے، ځکه چه مونږ وايو چه دا حديث زائد دے په كتاب الله باندے نو په قرآن هم عمل دے، چه دغه څلور شيان به حرام کنړو، او په حديث به هم عمل واجب وی چه دا څيزونه په کښې ذکر شويدی۔او په دغه مذکوره آيت کښې دوه تفسيرونه نور هم دی، چه هلته حرمت دجاهليت بيانوی چه مشرکانو به حلال گنړل او تول محرمات ذكر كول مقصد نه دی۔لكه د مشكوة په دويم جلد كتاب الاطعمة كښې به راشي)۔ بيا دحلال اود حرام حيوان په باره کښې نهه قواعد دی چه هغے سره حلال او حرام حيوانات معلوميږی، ددے بيان به هلته دويم جلد کښې راشي ان شاء الله۔يوه په کښې دغه مذکوره قاعده ده۔

وَلَا لُقَطَةُ مُعَاهِدٍ : لقطه ورك شوے څيز موندلو ته وائي۔لقطه دمسلمان او کافر دواړو اخستل حرام دی، خو معاهد (يعنی هغه کس چه دهغه اود مسلمان ترمينځه معاهده اولوظ شوے وی په امان وركولو هغه ته) دائے ځکه ذکر کړو چه يو سړے به يو څيز اومومي او اوبه وائی چه داخو دكافر مال دے زما دپاره حلال دے، نو نبی ﷺ دكافر مال هم منع کړو، چه دمسلمان خو لا پريده چه دكافر مال اوچتول هم حرام دی۔دلقطے ډير احکام دی، خپل ځائے کښې به راشي۔خو مختصر داچه موندلے شوے څيز به خالی نه وی يابه معمولی دلګو پيسو والا وی لکه يوه روپئ لس روپئ وغيره۔نو دهغے خوړل جواز لری، اويا به قيمتي مال وی (عرف ته به په دے باره کښې رجوع كولے شي) نو يو كاله پورے به اعلانونه کوی، که چرے كاله پورے مالك ملاؤ شو نو هغه ته به ئے حواله کړی، اوکه ملاؤ نشو نو يا خو دے دهغه دپاره صدقه کړی که د مسلمان لقطه وی، يا دِ خپله استعمال کړی که دكافر وی۔

اِلَّا اَنْ يَسْتَغْنِيَ عَنْهَا : استغناء په دے وجه وی چه شے معمولی وی هغه پسے نه گرځی، لگ او ډير شے به په عرف سره معلوميږی چه دا شے لگ دے اودا بل ډير، لکه قلم وغيره معمولی څيز دے عرفاً۔ فَلَهُ اَنْ يُعَقِّبَهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُ : يعقبهم دا لفظ يا مشدد دے په معنی دروستو راتلو سره يعنی يو قوم باندے ميلمه شي او هغوی ورله ميلمستيا ورنکړی نو ددے سړی دپاره جائز دی چه روستو راشي ددوئ پسے په مثل دميلمستوب خپل سره يعنی چه دهغوی نه په پته باندے دميلمستوب مناسب خوراك اوکړی۔

٢- يا دا مخفف دے دباب افعال نه دے په معنی دعقاب او بدله وركولو سره، يعنی چه عقاب او بدله ورکړی دا شخص هغوی ته دخپلے ميلمستيا۔قِرئ : په معنی دميلمستيا سره راځی د باب نصر نه۔ په دے مسئله کښې لگ وضاحت دا دے چه يوے باندے ته څوك لاړ شی هلته هوټل وغيره نشته، نو هغوی باندے ميلمه شو، مثلاً مسجد کښې ئے شپه راغله نو په هغه خلقو دا لازم دی چه دے شخص له ميلمستيا ورکړی،که هغه ئے همداسے اوږے تگے پريښودو نو هغه له جائز دی چه هغوی ته سزا ورکړی، هغه داسے چه دهغوی دباغ يا ډېتی وغيره نه دخپل

میلمستیا مطابق څه شے پټ کړي او هغه استعمال کړي، ځکه حدیث کښې راځي : هر مسلمان باندے لازم دي چه ددے سړي مدد اوکړي، اودده سره ملګري شي اوددے کلي والو نه ورله بدله واخلي، کما یاتي في باب الضیافة : حق علی المسلم ان یاخذ له حقه)۔

مسئلة ظریفة : بیا په دے قری او ضیافت کی اختلاف دے چه آیا دا حکم اوس هم شته اوکه نه ؟ نو : ١- امام مالكؒ، ابو حنیفةؒ، شافعيؒ فرمائي : ضیافت ورکول واجب نه دي۔اودا حکم په ابتداء داسلام کښې وو چه مسلمانان کم وو، اوس منسوخ دے۔ ٢- امام احمدؒ، امام بخاريؒ او اهل ظواهرؒ فرمائي : اوس هم دا حکم شته چه څوك میلمستیا درنکړي نو دهغے بدل ترینه انسان اخستلے شي۔ **دلائل دا دي** : ١- یو دا حدیث دے ٢- **دویم دلیل** : حدیث في باب الضیافة : (حق علی المسلم ان یاخذ له حقه) ۔٣- **دلیل** : ضیافت ورکول د واجباتو نه دي، لکه حدیث کښې دي (من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فیکرم ضیفه) او په واجب کښې خپل حق اخستے شي۔دیته مسئله دظفر بالحق هم وائي، لکه په کتاب البیوع کښې به راشي ان شاء الله۔

دجمهورو سره دلیل نه شته سیوا د جوابونو نه۔ ١- اول جواب داکوي چه دا احادیث منسوخ دي په هغه وخت کښې مسلمانان ډیر کم وو۔نو ځکه دا حکم وو۔لیکن دا جواب مردود دے ځکه نسخ دپاره ناسخ پکار دے اودلته ناسخ نشته، احتمال کافي نه دے۔

٢- دویم جواب دا کوي چه دا محمول دے په مضطر باندے، یو مسلمان داضطرار په حالت کښې وي نو هغه له داسے بدله اخستل جواز لري۔لیکن دا جواب هم ضعیف دے ځکه دلته لفظ دقِریٰ ذکر دے (اضطر) نه دے ذکر او په مضطر محمولول دلیل غواړي۔

٣- **دریم جواب** : داحکم خاص دے په اهل ذمه پورے چه په هغوی باندے شرط لګیدلے وو چه یو به جزیه (ټیکس) ورکوي او بل به مسلمانانو له میلمستوب ورکوي، لکه روءسته روایت نه معلومیږي۔جواب دا دے چه دا شرط دنبي اکرم ﷺ په زمانه کښې نه دے لګول شوے بلکه دا شرط عُمري دے، عمر فاروق رضي الله عنه دیرش شروط په اهل الذمه باندے لګولي وو، تفسیر بدائع التفسیر او قرطبي ذکر کړیدي په سورة التوبه کښې۔ بله وجه داده چه دلته (من نزل) لفظ عام دے اهل ذمه او غیر اهل ذمه ټولو ته شامل دے۔دارنګه (بقوم) لفظ عام دے مسلمانان او اهل ذمه دواړو ته شامل دے۔

٤- **دلیل** : جمهور وائي :په مسلمان باندے صرف زکوٰة، عشر فرض دے نه بل څه۔امام احمدؒ فرمائي : نور څه هم فرض دي لکه نفقة الاهل والضیافة وغیره۔

فائده : په اسلام کښې چه څوك د بخل نه خلاصیږي او دبخیل نوم ورته شرعاً نه وئیلے کیږي دهغے څو اسباب دي : ١- څوك چه زکوٰة اوعشر ورکوي۔ ٢ - نفقة الاهل والعیال اداء کوي۔ ٣- سائل ته څه ورکوي۔ ٤- ضیافت او میلمستیا ورکوي۔نو ده ته بخیل نشي وئیلے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه ابوداود في الاطعمة وفي السنة (٤٦٠٤) بسند صحيح، قاله الالباني في تعليق المشكاة (١/٥٨) والدارمي (١/١٤٤) ورواه الترمذي (٢٦٦٤) وابن ماجه (١٢) في العلم مختصراً باسناد حسن۔

٢٥- وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ: قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَالَ: « اَيَحْسَبُ اَحَدُكُمْ مُتَّكِئًا عَلٰى اَرِيْكَتِهٖ يَظُنُّ اَنَّ اللهَ لَمْ يُحَرِّمْ شَيْئاً اِلَّا مَا فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ اَلَا وَاِنِّيْ وَاللهِ قَدْ اَمَرْتُ وَوَعَظْتُ وَنَهَيْتُ عَنْ اَشْيَاءَ اِنَّهَا لَمِثْلَ الْقُرْآنِ اَوْ اَكْثَرُ وَاِنَّ اللهَ لَمْ يُحِلَّ لَكُمْ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ اَهْلِ الْكِتَابِ اِلَّا بِاِذْنٍ وَلَاضَرْبَ نِسَائِهِمْ وَلَا اَكْلَ ثِمَارِهِمْ اِذَا اَعْطَوْكُمُ الَّذِيْ عَلَيْهِمْ» رواهُ اَبُوْدَاوُدَ وَفِيْ اِسْنَادِهٖ اَشْعَثُ بْنُ شُعْبَةَ الْمِصِّيْصِيُّ قَدْ تُكُلِّمَ فِيْهِ.

ترجمه : عرباض بن ساريه ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ خطبے دپاره اودريدو ے فرمائيل : تاسو كښې څوك په خپل پالنګ تكيه لګولے دا خيال كوى چه الله هغه څيزونه حرام كړيدى كوم چه قرآن كښې ذكر دى خبردار ! قسم په الله بيشكه ما حكم وركړو، ما نصيحت اوكړو او ما څه څيزونونه منع كړل چه په مثل دقرآن دى بلكه زيات دى بيشكه الله دا ستاسو دپاره نه دى حلال كړى چه تاسو دا هل كتابو كورونو كښې داجازت نه بغير داخل شئ اونه ستاسو دپاره دهغوئ ښځے وهل حلال دى او نه تاسو دپاره دهغوئ ميوے خوړل حلال دى، هركله چه هغوئ خپله هغه څه ادا كړى چه دهغوئ په ذمه وو (ابوداود) اودده په سند كښې اشعث بن شعبه مصيصى دے چه دهغه باره كښې كلام شويدے چه هغه ثقه نه دے۔

تعارف : دعرباض بن ساريه ﷺ : دده كنيه ابو نجيح ده، مشهور صحابى دے دا هل الصفه نه، د شام اوسيدونكے دے، او هلته په سنه (٧٥ هـ) كښې وفات شويدے، دا دهغه بكائينو (ژړيدونكو) نه دے چه تبوك غزا ته تللو او اسباب ورسره نه وو، بيا ئے په دے وجه ژړل چه څه سامان او اسباب ورسره نشته چه غزا ته پرے لاړ شى۔ كوم چه په سورة توبه كښې په دے قول دالله تعالى كښې ذكر شويدى ﴿ ولا على الذين اذا ما اتوك لتحملهم ﴾ [التوبة : ٩٢]۔

احاديث منقوله دده نه (٣١) دى۔

تشريح : **قَامَ** : نبى اكرم ﷺ به كله تقرير او بيان په ولاړه كولو او كله په ناسته۔ **ولا ضرب نسائهم** : دهغوى زنانه وهل چه شابه روټئ پخه كړه وغيره دا كار حرام دے، يو خو اسلام كښې ظلم نشته۔ اودا ظلم دے۔ دويم په دے سره مجاهدين بدناميږى چه دا ظالمان دى۔ **اِذَا اَعْطَوْكُمْ** : يعنى جزيه او ميلمستوب يعنى هغوى درله حق دركوى نور زياتى ظلم به نكوئ۔ **لَمِثْلَ الْقُرْآنِ اَوْ اَكْثَرُ** : اى بل اكثر۔ احاديثو كښې احكام زيات دى دقرآن كريم نه۔ دا وجه ده چه

اصولیین وائی آیات الاحکام (۵۰۰) پنځه سوه دی، او احادیث الاحکام (۳۰۰۰) درې زره دی۔

فائده نفیسه : د (اواکثر) لفظ نه معلومیږي چه زیادت دخبر واحد په کتاب الله باندې جائز دې، ځکه قرآن مجمل دې په احادیثو کښې ئې بیان دې۔او احناف وائی : زیادت داخبار آحادو په کتاب الله باندې ناجائز دې ځکه دا نسخ دکتاب الله ده، اوکتاب الله متواتر دې او نسخ دمتواتر په خبر واحد سره نه ده جائز۔

ددې **جواب** ابن حجر عسقلانیؒ په فتح الباری (۲۱۵/۵) کښې ورکړیدې فرمائی : (واجیب بان النسخ رفع الحکم ولا رفع ههنا) یعنی په خبر واحد سره دنسخ صورت نه جوړیږي ځکه نسخ رفع الحکم ته وائی اودلته رفع نشته۔ بلکه خبر واحد بیان دې دمجمل لکه ﴿ واحل لکم ما وراء ذلکم ﴾ [النساء : ٢٤] نوددې تشریح نبی ﷺ اوکړه چه نکاح الشغار، نکاح المتعة وغیره حرام دی، نو دکتاب الله حکم هم باقی دې اود خبر واحد بیان هم معمول به دې۔

۲- دویم جواب : (وایضاً الناسخ والمنسوخ یجب ان یتواردا علی محل واحد، وهذا غیر متحقق فی الزیادة علی النص) یعنی په ناسخ او منسوخ کښې دا ضروری ده چه دواړه به په یو محل باندې وارد وی، اودلته په دې زیادت کښې دا نه دې موجود، ځکه رفع الحکم په یو محل کښې وی او ثبوت په بل محل کښې وی۔ نوپه زیادت دخبر واحد سره نسخ نه راځی بلکه دیته تخصیص الکتاب بالسنة وائی۔اوددې جواز خو احنافو هم منلې دې۔او خپله احنافو ددې قاعدې نه خلاف کړیدې په بې شماره مواضعو کښې چه تخصیص الکتاب بالسنة ئې کړیدې۔

هغه مواضع چه احنافو په کښې دخپلې قاعدې نه خلاف کړیدې بعض دا دی :

۱- اول موضع : آیت ﴿ واحل لکم ما وراء ذلکم ﴾ کښې دا حکم عام دې، احناف په کښې تخصیص کوی په خبر واحد سره په تحریم نکاح العمة مع بنت اخیها سره۔ چه ترور او وریره په یو نکاح کښې دجمع کولو په حرمت باندې قائل دی۔ **۲- موضع** : (قطع الرجل فی السرقة بعد قطع الید - (په غلا کښې د لاس پریکولو نه بعد په دویم ځل غلا کښې خپه پریکولو) باندې قائل دی، حال دا چه ﴿ فاقطعوا ایدیهما ﴾ راغلې دې۔ رِجل په کښې نه دې راغلې، بلکه رِجل په حدیث سره ثابت دې۔ **۳- موضع** : جواز الوضوء بنبیذ التمر وغیره باندې قول کول زیادت او تخصیص دې په کتاب الله باندې ځکه قرآن کښې ئې ﴿ فان لم تجدوا ماء ﴾ فرمائیلی دی۔او احناف وائی (فان لم تجدوا ماءً ولا نبیذاً) اودا په ضعیف حدیث ثابتوی، اوزیادت په خبر واحدِ ضعیفه سره په کتاب الله باندې کوی۔ ٤- (الوضوء من القهقهة)۔په قهقهه باندې اودس مات ګڼړی اودا په ضعیف بلکه موضوع حدیث باندې ثابتوی، دا زیادت دې په قرآن۔ **۵- الوضوء من القیئ۔ ۶-** المضمضة والاستنشاق فی الغسل دون الوضوء واجب) ، (مضمضه او استنشاق په غسل کښې واجب ګڼړی نه په اوداسه کښې) حال دا چه قرآن کښې مطلق دې۔

٧- استبراء المسبية۔قرآن کښې ﴿ ما ملكت ايمانكم ﴾ عام دے، چه استبراء د قيد کړے شوے وینځے په کښې نشته، نو احناف په حديث سره ددے کتاب الله تخصیص کوی۔

٨ – عدم قطع ما يسرع اليه الفساد (یعنی د هغه څیز په غلا کولو کښې لاس پریکول جائز نه ګنړی چه هغه زر خرابیږی) حال دا چه په قرآن کریم کښې ﴿ السارق والسارقة ﴾ لفظ عام دے لګ او ډیر هر څه ته شامل دے، که لږ وخت ساتلے شی اوکه ډیر وخت خو قطع په ضروری ده، او احناف وائی چه لګ شے ئے غلا کړو کوم چه زر خرابیږی نو هغے کښې قطع نشته، نو دا تخصیص دکتاب الله په حدیث سره کوی۔٩- شهادة المرأة الواحدة في الولادة ۔ (په ولادت کښې د یوے ښځے ګواهی قبلوی) حال دا چه قرآن کښې ﴿ شهيدين ﴾ دوه ګواهان ذکر دی۔ دا تخصيص دکتاب الله دے په خبر واحد سره۔ ١٠- لا قود الا بالسيف كما فى الحديث۔ (قصاص صرف په توره سره وژلو کښې دے) حال دا چه قرآن کښې قصاص عام دے په معنی دمثل سره دے، سیف په کښې نشته، دا تخصیص دے دکتاب الله په خبر واحد سره۔ ١١- احناف وائی : (لا جمعة الا فى مصر جامع) ۔ (جمعے مونځ صرف په جامع ښار کښې کیږی) حال دا چه قرآن عام ارشاد فرمائیلے دے ﴿ يا ايها الذين آمنوا اذا نودى للصلوة من يوم الجمعة ﴾ الجمعة : ٩)۔

١٢- احناف وائی : (لاتقطع الايدى فى الغزو) ۔حال دا چه قرآن عام دے ﴿ فاقطعوا ايديهما ﴾

١٣- احناف وائی : (لا يرث الكافر المسلم)۔ (کافر د مسلمان نه میراث نشی وړے) حال دا چه قرآن ﴿يوصيكم الله ﴾ عام دے۔ ١٤- احناف وائی : (لا يوكل السمك الطافى) ۔ (هغه ماهی چه د اوبو په سر باندے مړ پروت وی حرام دے) حال دا چه قرآن کښې ﴿ احل لكم صيد البحر ﴾ [المائدة : ٩٥] عام دے۔ ١٥- احناف وائی : (يحرم كل ذى ناب من السباع) ۔(هر داړه ور درنده حرام دے) حال دا چه قرآن کښې په ﴿ قل لا اجد فيما يوحى الى محرماً ﴾ [انعام : ١٤٥] کښې ددے هیڅ تذکره نشته، بلکه په حدیث سره ثابت دے، دا هم تخصیص بالخبر الواحد شو۔

١٦- لا يقتل الوالد بالولد) ، (پلار به د بچی په بدله کښې نشی قصاص کولے بلکه دیکښې دیت دے سره ددے نه چه قرآن عام حکم کړیدے (كتب عليكم القصاص فى القتلىٰ) (په وژلے شوو کښې قصاص فرض دے) دا پلار او بچو ته هم شامل دے۔

١٧- قاتل به دمقتول نه میراث نه اوړی، حال دا چه قرآن مطلق دے۔١٨- لايرث المسلم الكافر ولا الكافر المسلم (مسلمان د کافر نه او کافر د مسلمان نه میراث نشی وړے) دا زیادت دے په قرآن باندے۔١٩- نبی اکرم ﷺ بنت الابن ته دبنت سره سدس ورکړیدے دا هم زیادت دے۔ ٢٠- (تحريم المرأة على عمتها او على خالتها) (ترور او وریره، یا ترور او خورزه په یو نکاح کښې جمع کول زیادت دے په کتاب الله باندے)۔ داپه قرآن کښې نشته بلکه په حدیث سره ئے حرمت ثابت دے۔

٢١- دغه شان حديث خيار الشرط په بيع کښې چه درے ورځو پورے اختيار ورکړے شی ٢٢-

احاديث الشفعه (چه په قرآن کښې صراحةً نشته او په احاديثو سره ثابته ده دا زيادت دے په کتاب الله۔ ۲۳-حديث ميراث الجده (نيا ميراث (سدس) ورى دا په قرآن زيادت دے) ۲۴- حديث دتخيير الامه اذا اعتقت تحت زوجها، (کله چه يوه وينځه د يو خاوند په نکاح کښې وى او آزاده شى نو هغے له په احاديثو کښې اختيار ثابت دے چه خاوند سره پاتے کيږى او که ځان ترے خلاصوى) ۲۵- حديث منع الحائض من الصوم والصلاه، (حائضه زنانه به مونځ او روژه نه نيسى او د روژو قضاء به راوړى دا زيادت دے په کتاب الله) ۲۶- حديث دوجوب الكفارة على من جامع فى نهار رمضان،(کفاره واجب ده په هغه چا چه په ورځ د رمضان کښې جماع اوکړى دا په احاديثو ثابت ده)۲۷- احاديث د احداد المرأة المتوفى عنها زوجها (ښځے نه چه خاوند وفات شى نو احداد (غم) به کوى په خاوند باندے د خاوند د کور نه به بهر شپه نه کوى دا مسئلے زيادت دے په قرآن باندے قرآن کښې صرف عدت راغلے دے۔ ۲۸- حديث د الرجل يرث اخاه لابيه وامه دون اخيه لابيه (سړے د خپل سکه ورور نه ميراث وړے شى نه هغه ورور نه چه د پلار نه ئے وى) دا ټول زيادت دے په کتاب الله باندے۔

۲۹ - دغه شان حديث د : لا يقاد الولد بالولد سره دضعف نه جمهورو پرے استدلال کړيدے حال داچه دا زيادت دے په کتاب الله باندے۔ ۳۰- حديث د : اخذ الجزيه من المجوس (د مجوسو نه جزيه اخستل په احاديثو ثابت دى) ۔ ۳۱- حديث د : قطع السارق فى المره الثانيه (دويم ځل چه غلا اوکړى نو دوباره لاس پريکول قرآن کښې نه دى راغلى دا زائد دے په کتاب الله باندے)

۳۲ - حديث د : النهى عن الاقتصاص من الجرح قبل الاندمال۔ (د زخم د روغيدو نه مخکښې قصاص اخستو نه منع راغلے ده) دا زيادت دے۔

۳۳ - احاديث د : الحضانة (د طلاق شوے زنانه به د ماشوم تربيت کوى او يا به پلار بل څوک مقرر وى) ټول ائمه منى حال داچه قرآن کښې دا مسئله نشته بلکه صرف احاديثو کښې ده۔

۳۴-احناف وائى : متوفى عنها زوجها (چه خاوند ترے وفات شوے وى) به کور کښې عدت تيروى، دا هم زيادت دے په کتاب الله باندے۔

۳۵- احاديث البلوغ بالسن والاثبات۔(بلوغ په عمر يا په ويښتو زرغونيدو سر معلومول په احاديثو ثابت دى حال داچه قرآن کښې صرف احتلام ذکر دے۔ ۳۶ - الخراج بالضمان حديث ضعيف دے۔حال داچه په دے ضعيف حديث سره احنافو په کتاب الله باندے زيادت کړيدے۔ ۳۷ - حديث النهى عن بيع الكالئ بالكالئ باندے احناف عمل کوى، حال داچه دا زائد دے په قرآن باندے۔

نو که هر هغه سنت چه زائد على الكتاب دے هغه رد کړے شى نو داحاديثو او سنتو يوه لويه ذخيره به ضائع شى۔ كذا فى اعلام الموقعين (۲/۳۰۸) وفتح البارى (۵/۲۱۵) ۔

په دے مذکوره مواضعو کښې احنافو دخپلے دغه قاعدے نه خلاف کړيدے او خپل مذهب ئے

پریښې دي، او نسخ دکتاب الله ئې راوستې ده په خبر واحد سره۔ددې نه دامسئله ثابته شوه چه دوئ دا قاعده دځانه جوړه کړیده خود ساخته قاعده ده، اود رسول الله ﷺ هغه حدیثونه پرې قینچې کوی کوم چه د دوئ د رائې او مذهب نه خلاف وی۔ دا یو قسم حدیث دشمنی ده۔

تنبیه : بعض احناف دا جواب کوی چه دغه مذکوره ځایونوکښې دا اخبار مشهوره دی، او په دې سره زیادت په کتاب الله باندې جائز دې۔

جواب : دا خبره باطله ده، ځکه دا ټول مثالونه اخبار مشهوره نه دی، بلکه بعض موضوعی احادیث دی، اوبعض مقولات دی (لکه لا جمعة الا فی مصر جامع) دا د علی ﷺ مقوله ده،حدیث مرفوع نه دې۔ دغه شان (لا قود الا بالسیف) حدیث دخبر واحد کیدو سره سره ضعیف دې۔اود وضوء بالنبیذ، نقض الوضوء بالقئ، نقض الوضوء بالقهقهه احادیث دخبر واحد کیدو سره سره ضعیف اوموضوعی دی۔اود ترک قطع من سرق الخ خبر واحد دې۔بعض احناف ددې بعض احادیثو په باره کښې وائې چه دا احادیث مشهور لغوی دی، لکه په حاشیة دالهدایه کښې ئې وئیلی دی۔

بیا ئې **سوال** په خپله ذکر کړیدې چه مشهور لغوی خو موضوعی ته هم وائې، هغه هم په عوامو کښې شهرت لری، اوحال دا چه هغه هیڅ حقیقت نه لری۔نو بیا په دې خبره غلی شویدی، هیڅ جواب ئې نه دې کړې۔دغه ددوئ تحقیق دې !!

حال دا چه دا قاعده چه دوئ وائې چه مشهور حدیث باندې زیادت جائز دې نو ددې مشهور نه مراد مشهور اصطلاحی دې، نه مشهور لغوی۔او په دغه ځائې کښې چه حدیث مشهور لغوی شو نو د دوئ په نیز هم په دې باندې زیادت په کتاب الله ناجائز دې۔او ددې سره سره دوئ په دې مشهور لغوی باندې هم زیادت اوکړو۔نو دوئ ددې خبرې نه صریح غافل دی۔دخود ساخته خبرو نه په الله پورې پناه ! – دا مذکوره داسې اعتراضونه دی چه احنافو علماؤ خپله اعتراف کړیدې په دې باندې چه واقعی ددې جواب زمونږ سره نشته۔زیات تفصیل په اعلام الموقعین (٣٠٩/٢) کښې اوګوره۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف : رواه ابوداود (٣٠٥٠) وفیه اشعث بن شعبة قد تکلم فیه۔قال ابو زرعة وغیره : فیه لین وانظر ضعیف الجامع الصغیر (٢١٨٤) ۔علامه ابن حجرؒ فرمائی : ددې په سند کښې مقال دې لیکن معنی ئې صحیح ده، په حدیث دمقدام کښې معنی تیره شوه۔

---

٢٦ – وَعَنْهُ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُوْنُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ فَقَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ ! كَأَنَّ هٰذِهٖ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَأَوْصِنَا فَقَالَ: « أُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا فَإِنَّهُ مَنْ يَّعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِىْ فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيْرًا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِىْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ

تَمَسَّكُوا بِهَا وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتُ الْأُمُوْرِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ». رواه ابوداود والترمذی وابن ماجه اِلَّا اَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا الصَّلَاةَ۔

ترجمه : عرباض بن ساریه ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ ته مونځ راکړلو، بیا مونږ طرفته متوجه کیناستلو او ډیر مؤثر انداز کښې مونږ ته نصیحت اوکړو چه زمونږ د سترګو نه اوښکے جاری شوے اوزړونو کښې مو ویره پیدا شوه، یو سړی عرض اوکړو یا رسول الله ! (داسے معلومیږی چه) دا درخصتونکی آخری نصیحت دے نو مونږ ته وصیت اوفرمائے، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : زه تاسو ته نصیحت کوم چه الله نه ویریږئ او تاسو ته دمسلمان امیر (دحکم) آوریدو او په ځائے راوړلو وصیت کوم اګرکه هغه (امیر) حبشی غلام وی تاسو کښې چه څوك مانه پس ژوندی پاتے شی هغه به اختلاف بیاموړی، داسے حالت کښې په تاسو لازم دی چه زما اوزما دهدایت موندونکو خلفائے راشدینو طریقه لازم اونیسئ، او په هغے طریقه منګولے اولګوئ او هغه غاښونو سره مضبوطه اونیسئ او تاسو (دین کښې) نوے نوے خبرے پیدا کولو نه بچ اوسئ ځکه چه هر نوے خبره بدعت دے او هر بدعت ګمراهی ده (احمد، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه) خودے روایت کښې ترمذی او ابن ماجه دمونځ کولو ذکر نه دے کړے یعنی دهغوئ روایت کښې دحدیث الفاظ (صلی بنا رسول الله ﷺ) نه دی ذکر شوی بلکه حدیث (وعظنا موعظة) نه شروع کیږی۔

تشریح : ثُمَّ اَقْبَلَ عَلَيْنَا بَوَجْهِهٖ : (**فوائد**) : دے نه معلومه شوه چه مقتدیانو ته متوجه کیدل اومخامخ کیدل سنت طریقه ده۔او کوږ کیناستل هیڅ یو صریح روایت کښې نشته۔

امام بخاری فرمائی : : باب ليستقبل الامام الناس اذا سلم (١/١١٧) صرف یو روایت دے هغه،هم مجمل دے چه روستو به راشی ان شاء الله۔ ٢- دنبی اکرم ﷺ طریقه دسحر دمانځه نه پس بیان کول یا خوبونه اوریدل، یا ذکر اذکار کول وو۔انظر فتاوى الدين الخالص (٤/٤٤٦)۔

مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً : یعنی تاثیر ناك نصیحت ئے اوکړو، بلیغ معنی ده کامل او پوره یعنی مبالغے سره ئے انذار او تخویف بیان کړو، ذَرَفَتْ : بفتح الراء بیولو ته وائی، یعنی سترګو نه اوښکے اوبهیدلے ځکه چه دصحابه کرامو پاك زړونه وو، اود نبی اکرم ﷺ په اخلاص سره بیان وو، اوکله چه داسے حالت وی نو خامخا به ژړا وی۔

مُوَدِّعٍ : دتودیع نه مشتق دے رخصتولو ته وائی، یعنی دا بیان داسے ښکاره کیدو لکه چه یو شخص ددنیا نه رخصتیدونکے وی ځکه چه کله یو سړے رخصتیږی نو هغه ډیر تاکیدات کوی، دلته ورته نبی اکرم ﷺ اونه فرمائیل : چه زه درنه نه رخصتیږم بلکه دهغوی تائید ئے اوکړو، نوخلور وصیتونه ئے ورته اوکړل : ١- بو به اتفاق کولو باندے۔ ٢- په اتباع السنة

باندے۔۳– په تقویٰ باندے۔

٤– دبدعاتو نه ځان ساتلو باندے۔ دا ډیرمهم وصیتونه دی، تقویٰ الله دا د جوامع الکلم نه دے تول دین ته شامل دے، مامورات وی که منهیات.

وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ : یعنی د مسلمانانو د امیر او د بادشاه خبره آوریدل او منل ضروری دی، ترڅو پورے چه هغه په ګناه باندے حکم نهٔ وی کړے، برابره ده چه هغه عادل وی او که ظالم، خو کله چه په ګناه امروکړی نو بیائے تابعداری نشته ځکه چه لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق،

(د الله د نافرمانئ په صورت کښ د مخلوق خبره منل نهٔ وی) (مرعاة)

او دارنګه پدے کښ د سفر امیر هم داخلیږی۔

وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا : **سوال** : حدیث کښ راځی : (الائمة من قریش)۔یعنی خلیفه ګان او اسلامی بادشاهان به قریشیان وی، نو دعبد حبشی خلیفه کیدل څنګه صحیح کیږی، پتے لا دهغه خبره منل؟

جواب : یوخلافت دے، بل امارت دے، نو امارت دغیر قریشی هم صحیح دے، خو خلافت دغیر قریشی صحیح نه دے۔ دلیل دادے چه ابو موسی اشعری رضی الله عنه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ دیمن والی (ګورنر) وو، اودا قریشی نه وو۔ نو دده امارت (ګورنری) صحیح وه خو خلافت ئے صحیح نه دے۔

۲–جواب : دا بطور مثال دے دپاره دادنئ والی .اوبل روایت په دے باندے دلیل دے چه (كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ) یعنی اګرکه سر دهغه د وڅکے پشان دے، نودا تمثیل دے ځکه چه د وڅکے هومره سر خو د چا نه وی، نو معلومه شوه چه مثال غرض دے چه د ادنیٰ خلیفه خبره منل هم ضروری دی۔

۳– جواب : ددے نه مراد امیر متغلب دے، چه مستحق دخلافت خو نه وی لیکن په زوره په مسلمانانو باندے مسلط شی، او ځان خلیفه جوړ کړی، اسلامی قوانین نافذکړی نود هغه سره به اختلاف نشی کولے۔ دے دپاره چه فساد واقع نشی۔شرعی قانون دادے چه خلیفه دپاره لس شرطونه دی، یو شرط په هغے کښ قریشی کیدل دهغه دی، مګر که یو شخص په زوره حکومت اونیولو، نو دهغه اطاعت اوتابعداری هم واجب ده، اګرکه هغه به ګنهګار وی په دے خبره چه قریشی نه دے او حکومت او خلافت کوی۔امام بخاریؒ ددے حدیث نه استدلال کریدے په دے خبره باندے چه امامت دمبتدع او فاسق هم جائز دے۔

فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا : سین داستقبال قریب دپاره دے نو دنبی صلی الله علیه وسلم زمانے ته نژدے اختلافات دمعتزله او خوارجو را پیدا شو، دائمه کرامو اختلاف ترے نه دے مراد، لیکن روستو چه خلقو ترے عنادونه او تعصبونه جوړکړل، نودا هم په کښ داخل دی، چه ددے یو امام خبره به منو اوددے بل به نه منو، بلکه ددے نه به جوابونه کوو۔ نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی : زما امت به تقسیم شی دلو ته : (ستفترق امتی علی بضع وسبعین فرقة ، اعظمها فتنة علی امتی قوم یقیسون الامور برأیهم، فیحرمون الحلال ویحللون الحرام)۔ زما امت به څه دپاسه اویا ډلو کښ تقسیم شی ۔په دے تولو

ډلو کښې به دفتنے په اعتبار سره ډیره خطرناکه هغه ډله وی چه په دینی امورو کښې به رائے اوقیاس نه کار اخلی، نو حلال به حرام کړی او حرام به حلال کړی۔
دا حدیث حاکم په مستدرك (٤/٤٣٠) کښې راوړیدے، دارنګه ابن بطه هم په الابانة کښې راوړیدے کما فی مقدمة تعظیم السنة ص: (١٦)، باسناد صحیح)۔ دے حدیث کښې معتزله هم داخل دی، او خوارج اومتکلمین هم داخل دی چه په خپل رائے سره عقیدے جوړوی، او هغه جامد متاخرین فقهاء په کښې هم داخل دی چه هغوی هر ځائے خپل قیاس او رائے چلوی، هغے له هر ځائے ترجیح ورکوی۔ په ځائے ددے چه دکتاب او سنت علوم اوچت کړی رائے اوقیاس اوچتوی۔ په دے باندے اثبات داحکامو کوی۔
فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ : دوی ته ئے نسبت پدے وجه کړیدے چه دوی په سنت د پیغمبر باندے عمل کړیدے او دوی سنت اختیار کړیدے۔ نو ددے نه تقلید نه ثابتیږی، چه ګنے نبی علیه السلام ډیرے د بل چا په تابعداریٔ باندے هم حکم اوکړی، لکه تقی عثمان صاحب لیکی چه (اقتدوا باللذین من بعدی : ابی بکر وعمر) کښې امر دے په تابعداریٔ دغیر نبی باندے، نو د امام صاحب تقلید هم ضروری شو۔(درس ترمذی) - ددے جوابونه ز مونږ په رساله (التحقیق السدید) کښې تفصیلًا ذکر دی۔
مختصر دا چه : ١ - نبی علیه السلام خو دابو بکر او عمر رضی الله عنهما تابعداری خودلے ده، نه د امام صاحب، نو تاسو ولے د ابو بکر او عمر ﷺ په ډیرو مسائلو کښې خلاف کوئ، او امام صاحب پسے ځئ۔ پکار ده چه دابو بکر او عمر رضی الله عنهما خبره اومنل شی، اوتاسو دهغوی نه هم په ډیرو مسئلو کښې خلاف کوئ، لکه هغوی دحج تمتع قائل نه وو، او تاسو ئے قائل ئے۔اودا صحیح هم ده۔اوکه تاسو وائے چه مونږ ددلیل تابعداری کوو، اود ابو بکر او عمر رضی الله عنهما سره په دے مسئله کښې دلیل نشته بلکه دا ددے محترمینو اجتهادی رائے وه، نو بیا خو تقلید ثابت نشو، اودا خو بعینه ز مونږ واله خبره شوه چه مونږ وایو دچا تقلید نشته بلکه ددلیل تابعداری ضروری ده۔ چاپسے پټے سترګے ورتګ نشته، چه یره کیدے شی چه دلیل ورسره وی او کیدے شی چه دلیل ورسره نه هم وی۔دا (کیدے شی) ډیرے دمقلدینو مبارك شی۔
زمونږ دعوت دادے چه په هره مسئله کښې په دلیل د قرآن او سنت سره تابعداری اوکړئ، هرچا سره چه وی، هر مذهب والا سره چه وی، اویو امام مه خاص کوئ، چه دده تولے اومنئ، بلکه صحیح خبرے کوم چه ددلیل موافق وی هغه راواخله اوکوم چه قیاسات او رائے مخالف دقرآن اوسنت دی هغه رد کړئ اګرچه دهر چا خبره وی، خواه که صحابی وی، که تابعی۔
دا وجه ده زمونږ دعوت درسول الله ﷺ نه سیوا بل هیڅ یو امام طرفته نه دے لکه بعض خلق مونږ ته شافعیان وائی بعض حنبلیان، بلکه زمونږ دعوت قرآن او سنت طرفته دے، که

دهر امام سره وی، نو مونږ په امت کښې په سلهاؤ، هزارهاؤ امامان ددین منو، اودهغوی صحیح خبرې اخلو، اودیو امام پسې نه ورپسې کیږو۔ اودیته تقلید نه وائی لکه چه بعض خلق دا اعتراض کوی چه تاسو چه داامامانو او کتابونو خبره منئ دا هم تقلید دے۔ مونږ وایو امامان زمونږ ددین رهنمائی کونکی دی لیکن مقصود نه دی، بلکه دهغوی احسان به منو، او غلطے خبرے به ئے نه قبلوو۔ دهغوی هره خبره دین نه دے، بلکه که موافق دقرآن اوسنت سره وی مونږ ئے منو۔ اوکه ددے نه خلاف وی نو دغه امامانو خپله فرمائیلی دی چه په دیوال ئے اولئ، نو خپله نظریه فراخول پکار دی، الله به دانسان نه تپوس کوی چه ما خپل رسول داتباع دپاره در لیګلے وو، نه امام صاحب۔ بیا دامام خبره هم صراحةً نه ده معلومه بلکه دا تول د متاخرینو خبرے دی، هسے امام صاحب ته منسوبے خبرے عملی کړے شوی دی۔ که څوك اووائی چه آیا امامان هم غلطے خبرے کوی څه؟ جواب دا دے چه پدے د تول امت –سره د احنافو– اتفاق دے چه دا علماء، مجتهدین دی او هر مجتهد دپاره خطائی هم شته او رسائی هم، نو د هغوی غلطی اجتهادی وی هغوی قصداً غلطے خبرے نه کوی لیکن یا ورته حدیث نه وی رسیدلے یا ئے رایه جوړه شوی وی۔ او حدیث د هغے په خلاف وی لکه داسے ډیر مسائل شته چه خپل ځائے کښې به راشی۔ د تقلید د اثبات دپاره یو دلیل هم نشته بلکه کوم مقلدین چه د تقلید د اثبات دپاره دلائل وائی په هغے کښې یا د اقتداء، یا اتباع یا اجتهاد خبره ده او دا تول حق دی مګر تقلید باطل دے۔ جدیده اصطلاح کښې عرب خلق تقلید دوکے ته وائی لکه هغوی د خرید وفروخت څیزونو باندے لیکی: (التقلید ممنوع) وبالله التوفیق۔

● او هرچه ددے حدیث تشریح ده، نو په دے کښې څو توجیهات دی:

١– سنة الخلفاء عطف دے په (سنتی) باندے اومعنی دا ده چه دخلفاؤ هغه خبره منئ کوم چه ئے مانه زده کړیده څکه هغوی د نبی اکرم ﷺ په سنت باندے عمل کړیدے۔ اودا سنت ئے په عمل سره راښکاره کړیدے خلقو ته، دهغوی مستقل سنت نه دے، لکه حاشیه کښې وائی: (فانهم لم یعملوا الا بسنتی) ۔(څکه هغوی صرف زما په سنتو عمل کړیدے) او تخصیص دخلفاء راشدینو ؓ ئے اوکړو څکه چه زما په زمانه کښې به یو سنت طریقه مشهوره نه وی او دخلفاء راشدینو زمانه کښې به مشهوره شی نو تاسو به ورسره خلاف نه کوئ۔

٢– دویم سنة الخلفاء نه مراد فی امور الحرب دے یعنی دبادشاهئ او خلافت او انتظامی امورو کښې ورسره خلاف مه کوئ، داسے ورته مه وائے چه په جنګ کښې خوداسے تدبیر او انتظام نبی ﷺ نه دے کړے یا فلانی عهده خو فلانی صحابی ته نبی نه ده ورکړے ته ئے ولے ورکوے؟۔فتدبر!۔

٣– دریمه توجیه دا ده چه سنة الخلفاء نه مراد سنت فی الامور الاجتهادیة دے لکه نبی ﷺ معاذ ته فرمائیلی وو: بما تقضی؟ قال – اخیراً: احتهد برأی۔ نو که اجتهاد ددوئ دنصوصو سره برابر شو نو په سر سترګو به قبول وی اوکه مخالف شو، نو هغه به پریښودلے شی سره دقدر او

احترام د هغوی نه، او نص ته به رجوع کولے شی لکه په دے باندے دصحابوؓ عمل گواه دے چه خلفاؤ به کله دحق خلاف اجتهاداً خبره اوکړه نو نورو صحابوؓ به هغه غورځوله، اوروستو علماؤ هم غورځولے ده، اواحنافو هم غورځولے ده۔

ددے مثالونه دادی : (١) لکه مثلاً ابو بکر او عمر رضی الله تعالی عنهما به اضحیه (قربانی) نه کوله پدے وجه چه زما اقتداء اونکړے شی) کراهیة ان یقتدی بهما کمافی المحلی (٩/٦) اود ابن عباسؓ په نیز اضحیه په لحم باندے هم جائز ده، کذا فی المحلی (٦/) او احناف او باقی ټول امت ترینه خلاف کوی چه دچا وسع کیږی او قربانی نه کوی نو دا گنهگار دے۔

(٢) دارنگه خلیفه راشد عمر فاروق ﷺ به دجنب دپاره تیمم نا جائز گنړلو (صحیح بخاری کتاب العلم، ابوداود) حال دا چه احناف او غیر احناف ټول ددے خلاف کوی۔او وائی چه دجنب دپاره تیمم شته دے۔

(٣) دارنگ خلیفه راشد عثمان بن عفان ﷺ چه کله دجمعے اذان ثانی شروع کړو، نو ابن عمرؓ پرے رد اوکړو چه دا کار بدعت دے (لکه مصنف ابن ابی شیبه : ١٤٠/٢ کښ دی : الاذان الاول یوم الجمعة بدعة) ۔او همدا قول د امام حسن بصریؒ هم دے، کذا فی فتاوی الدین الخالص (٣٢٧/٣)۔ اوسره ددے نه چه دا اذان ثانی په بعض اوقاتو کښ جائز هم دے تشریح به ئے په باب الجمعه کښ راشی ان شاء الله۔

(٤) دغسے بلالؓ فرمائی : (ما ابالی لو ضحیت بدیك) المحلی (٩/٦) (زما هیڅ باك نشته چه زه په چرگ باندے قربانی اوکړم) ۔ (٥) دارنگه خلفاء راشدین ابو بکر، عمراو عثمان رضی الله تعالی عنهم دحج تمتع قائل نه وو۔کمافی البخاری وابی داود والترمذی (١٦٩/١) والطحاوی (٣٩٩/١)۔ اودوئ به فرمائیل : چه دعمرے دپاره به مستقل سفر کوئ، اود حج دپاره به مستقل سفر۔ دواړه به په یو سفر کښ نه جمع کوئ۔او بل طرفته خلیفه راشد علی، ابن عمر او ابن عباس رضی الله عنهم به تربے په دے مسئله کښ خلاف کولو، ابن عمرؓ نه چا ددے په باره کښ تپوس اوکړو چه ته ددے اجازت ورکوے حال دا چه ستا پلار عمر فاروقؓ به ددے نه منع کوله۔ نو هغه ورته ارشاد اوفرمایه : (ارأیت ان کان ابی نهی عنهما وصنعهما رسول الله ﷺ ، أمر أبی یتبع أم امر رسول الله ﷺ ؟ فقال الرجل : بل أمر رسول الله ﷺ ـفقال : لقد صنعهما رسول الله ﷺ) ۔ (خبر راکړه که زما پلار د حج تمتع نه منع کوی او رسول الله ﷺ کړی وی نو آیا د رسول الله ﷺ د امر تابعداری به کولے شی او که زما د پلار ؟ هغه سړی اووئیل : بلکه د رسول الله ﷺ د امر تابعداری به کولے شی۔ نو هغه اوفرمایل : دا خامخا رسول الله ﷺ کړیدی)۔

دا خبره ښکاره دلیل دے په دے باندے چه دنص په مقابله کښ د هیڅ عالم او بزرگ یا صحابی خبره نه منل کیږی۔ ولے چه صحابه کرامؓ دخلیفه راشد عمر فاروقؓ خبره پریدی، هرکله چه هغه

دحق خلاف وی۔ نو باقی مجتهدین چه دعمر فاروق رضی الله عنه نه ډیر لاندے درجه کښی دی، دهغوی خبره منل به څنګه دحق په مقابله کښی صحیح شی ؟ دا فیصله دِے مقلدین اوکړی !! دالله اود رسول خبره دغرونو نه هم درنه ده، ددوئ دخبرو په مقابله کښی دبل چا دخبرو منلو هیڅ قسم ګنجائش نشته۔اوصرف همدا اسلامی ذهنیت دے۔(٦) مثال : علی رضی الله عنه فرمائی : (لاجمعة ولاتشریق الا فی مصر جامع) (د جمعے مونځ او تشریق صرف په جامع ښار کښی وی) حال دا چه جمهور علماء دجواز قائل دی۔سیوا داحنافو نه۔

(٧) مثال : په اختاری لفظ باندے کله چه خپلے منکوحے ته اووئیلے شی طلاق رجعی واقع کیږی په نیز دخلیفه راشد علیؓ او زید بن ثابتؓ، او امام مالکؒ باندے۔او نورو علماؤ ترینه خلاف کړیدے، دلیل دادے چه نبی اکرم ﷺ خپلو ازواجو مطهراتو ته اختیار ورکړے وو، او یوه هم طلاقه نشوه۔(٨) مثال : خلیفه راشد عمر فاروقؓ په مس المرأة باندے اودس مات ګنړی، او همدا قول د امام شافعیؒ هم دے، عام علماء ، سره داحنافو نه ددے خلاف کوی۔ (٩) عثمان ﷺ به په سفر کښی څلور رکعاته پوره کول لکه باب صلوة المسافر کښی به راشی او ټول امت ترے خلاف کوی۔ او داسے مثالونه په رساله (احناف او خلفاء راشدین) کښی اوګورئ چه دوه سوه پورے رسیدلی دی۔

نو دا مثالونه دلیل دے په دے خبره چه که دخلفاؤ یا دعامو صحابه کرامو‌ؓ خبره په اجتهاد سره د سنة الرسول ﷺ خلاف وی، نو هغه به نه منل کیږی، اګرچه دغه مجتهدینو له به الله تعالی یو اجر هم ورکړے وی خو ته به دهغوئ په خطاء کښی د هغوی تابعداری نه کوے بلکه دنص اتباع به کوے۔نو په دے کښی رد دے په تقلید باندے، او دعوت دے کتاب الله او سنة الرسول ﷺ ته۔

فائده : علامه مبارکفوریؒ په المرعاة (١/٢٣٢) کښی نقل کړیدی چه د علامه شوکانیؒ نه دهغه په یو فتاوی کښی چه د (الفتح الربانی) په نوم ده– تپوس شویدے چه ددے حدیث څه مطلب دے ؟ نو جواب ئے ورکړیدے چه ددے معنی داده چه خلفاء راشدینوؓ به بعینهٖ په سنت د نبی ﷺ عمل کولو نوسنة الخلفاء نه بعینهٖ سنة الرسول ﷺ مراد شو، اوکه په کومو مسائلو کښی به هغوی ته حدیث نه وو معلوم نو هغوی به استنباط اواجتهاد کولو اودا استنباط هم بعینهٖ په حدیث دمعاذ کښی راغلے دے (اجتهد برأی) نوخلفاؤ هم اول قرآن او حدیث کښی اوکتله، که هغے کښی به ئے پیدا نکړه نو عمر فاروقؓ به ملګری راجمع کړل، سوچ او فکر به ئے اوکړو، مسئله به ورته واضحه شوه، نو دخلفاء راشدینوؓ اجتهاد به هم منلے شی کوم چه دنصوصو سره متعارض نه وی۔نو دے حدیث کښی دا مسئله ده چه اجتهادی امورو کښی ددوئ خبره منئ کله چه دنص خلاف نه وی، اوکه دنص خلاف وی بیا دهغوی خبره منل نشته۔انتهیٰ۔لکه مسئله دمیراث الجد مع الاخوة د عمر ﷺ په نیز شته اودا حقه مسئله ده، ددے دپاره یو ویشت وجے دی۔

فائده ثمینه : دصحابه کرامو‌ؓ او تابعینو اقوال حجت دے اوکه نه ؟

داخبره خو واضح ده چه د تابعینوؒ اقوال حجت نه دی ځکه که د تابعی قول حجت شی، نو بیا خو دده اتباع واجب شوه، اود هغی خلاف کول به حرام وی، حال دا چه په دی خبره باندی هیڅ عالم قائل نه دی، ځکه تابعین خو ډیر علماء دی، داسی مسائل ئی هم کړیدی چه د یو بل متضاد دی، نو بیا به د هر یو تابعی قول منلی کیږی، نو په یو بل باندی به رد کول صحیح نه وی۔ او روستو دپاره به دمخکنی خبره منل واجب وی، (وهو ظاهر البطلان) او دا خبره ښکاره باطله ده۔ ځکه روستنی تابعی دمخکنی تابعی نه په ګنړو مسائلو کښ خلاف کړیدی۔

او هر چه اقوال د صحابوؓ دی نو په دی کښ تشریح اوتفصیل دی۔

د دویٔ اقوال څو قسمه دی: ١- اول دا چه: صحابه کرام په یوه خبره اجماع اوکړی، مثلاً په دور خلافت کښ په یوه مسئله باندی اجماع شوی وی لکه دابو بکر یا عمر وغیره رضی الله عنهم په زمانه کښ اجماع شوی وی نو دابه بالاتفاق حجت وی۔ ددی خلاف کول به ناجائز وی۔

٢- دویم دا چه: یو صحابی داسی یوه خبره کړی وی چه په هغی باندی ترتب دثواب یا دعقاب شوی وی، نو دابه هم حجت وی، ځکه چه صحابی به ضرور داخبره دنبی اکرم ﷺ نه اوریدلی وی، ځکه هغوی خو دځانه د ثواب اود عقاب خبری نشی بیانولی، نو دا حدیث موقوف په حکم دحدیث مرفوع کښ ګرځی، لکه داسی اووائی: (من فعل كذا فله اجر كذا)۔ (چا چه فلانی عمل اوکړو د هغه دپاره دومره اجر وی)۔

٣- دریم دا چه: یو صحابی دماضی یا دمستقبل حالات بیان کړی، اود هغی نه اخبار ورکړی نو دابه هم قبلیږی، ځکه دا هم په حکم دمرفوع حدیث کښ دی۔

٤- یا یو صحابی دقرآن دیو آیت سبب النزول او شانِ ورود ذکر کړی، چه مثلاً دا آیت په فلانی وخت فلانی ځائے کښ نازل شویدی نودابه هم قبلیږی، اودده خبره په دی کښ حجت ده۔

٥- یا یو صحابی دا ذکر کړی چه: (من السنة كذا، او كانوا يفعلون اويقولون كذا) – (فلانی کار د سنت نه دی او صحابه کرامو به داسی کول او یا به داسی وئیل) نو دابه هم حجت وی ځکه سنت نه مراد سنة الرسول ﷺ دی ددویٔ په نیز لکه چه دا د انس بن مالك نه نقل شویدی: وهل يريدون بذلك الا سنة ابی القاسم ﷺ ۔(یعنی د صحابه کرامو د سنت نه مراد صرف د ابو القاسم ﷺ سنت وی نه د بل چا) دابه هم په حکم دمرفوع کښ وی۔(فتح الباری ١٦٨٥) عون المعبود (٢٦٥/٢) (طیبی) تحفة الاحوذی (٢٦٤/٢) ماجاء فی المطلقة مرقاة (٢٩٩/٥) باب المشی بالجنازة)

٦- یا یو صحابی داسی عمل اوکړی چه اجتهاد لره په هغی کښ دخل نه وی۔ لکه دعلی ﷺ مونځ شو په صلوة الکسوف کښ چه په هر رکعت کښ ئی ددوو رکوع نه زیاتی رکوع اوکړی، دا هم په حکم دمرفوع کښ دی ځکه صحابی دځانه عبادت نه جوړوی۔ ضرور به ئی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی وی یا به ئی دهغی په کولو لیدلی وی۔ اود علی ﷺ دا طریقه په سنت صحیحه کښ هم ثابت ده۔

٧- اوكه يو صحابي داسے قول اوكړي چه دهغه رائے وى اود نص نه خلاف نه وى، ليكن نص ورسره هم نه وى، نو دا حديث موقوف دے، يعنى دصحابي خبره ده، نو آيا دا په امت باندے حجت ده اوكه نه ؟ نو دامحل دنظر ده، ظاهره داده چه بعد التتبع ددلا ئلو نه به وايو چه دا اجتهاد دصحابي دے او په امت باندے حجت نه دے، ليكن كتل پكار دى چه صحابيؓ داخبره دكوم ځائے نه كړيده لكه رفع اليدين فى صلاة الجنازة۔او اذان ثانى دعثمانؓ هم ددے قبيلے نه دے۔

٩- دارنګه كه دنص خلاف وى نو بيا به هم دده خبره نامقبوله وى۔او حديث مرفوع ته به رجوع كولے شى۔لكه ددے مثالونه مخكښ تير شو، چه صحابۀ مرفوع حديث ته رجوع كړيده، اود خلفاؤ دغه خبره ئے پريښے ده، اود ډير تفصيل دپاره (فتاوى الدين الخالص : ٢/) ته رجوع اوكړئ۔

تَمَسَّكُوا بِهَا : يعنى په دے باندے منګولے اولګوئ چه څوك مو په رائے، يا قياس يا استحسان، يا عقلى دليل، يا ذوق، يا رواج، يا بدعت، يا سياست، يا خواهشاتو باندے ترينه وانهړوى، ځكه په دے سره انسان ته هدايت كيږى، اود اختلافاتو نه خلاصيږى، خلق وائى اتفاق په څه راځى ؟ نو داتفاق دپيدا كولو دپاره يوه ذريعه ده او هغه داچه ټول خلق په قرآن او حديث باندے راجمع شى او عقيده ئے يوه شى۔ بس خپله اتفاق پيدا كيږى، اختلاف خو په دے وجه دے چه دهر چا بيلے بيلے نظرئيے اورائے دى، هر سړے ځانته په حقه وائى، څوك چه داكوشش كوى چه ددے تنظيمونو يو ځائے ډالے اوكړى، نو دا نشى كولے ترڅو چه د قرآن او سنت صحيح تابعدار شوى نه وى، لكه قرآن كښ ﴿ واعتصموا بحبل الله ﴾ [آل عمران : ١٠٣] ئے وئيلے دے، داسے ئے نه دى وئيلى چه (واتحدوا واتفقوا) (متفق او متحد شئ) بلكه حبل الله قرآن او حديث باندے منګولے لګولو سره اتحاد راځى۔ومحدثات الامور : يعنى نوى نوى كارونه په دين كښ پيدا كولو نه ځان ساتئ، ځكه دا بدعات دى۔

لم يذكر الصلاة : يعنى ترمذى او ابن ماجه اوله حصه دحديث نه ده ذكر كړے چه هغے كښ دا الفاظ دى (صلى بنا رسول الله ﷺ) بلكه د (وعظنا) سره ئے حديث شروع كړيدے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه احمد (١٢٦/٣) وابوداود (٤٦٠٧) والترمذى فى العلم (٢٦٧٦)، وقال حديث حسن صحيح، وابن ماجه (١٦/١) فهو حديث صحيح لا علة فيه اصلاً۔وقال الالبانى : صححه جماعة منهم الضياء المقدسى فى اتباع السنن واجتناب البدع ق (٧٩/١) تعليق المشكاة (٥٨/١)۔

---

٢٧ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: خَطَّ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خَطًّا ثُمَّ قَالَ: « هٰذَا سَبِيْلُ اللهِ» ثُمَّ خَطَّ خُطُوْطًا عَنْ يَمِيْنِهٖ وَعَنْ شِمَالِهٖ وَقَالَ: «هٰذِهٖ سُبُلٌ عَلٰى كُلِّ مِنْهَا شَيْطَانٌ يَدْعُوْ اِلَيْهِ وَقَرَأَ: ﴿ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ﴾ الآية رواهُ احمد والنسائىُّ والدارمِىُّ.

ترجمه : عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ زمونږ دپوهولو دپاره یو نیغ خط راښکلو او وے فرمائیل : دا د الله لاره ده بیا نبی کریم ﷺ دهغے خط (کرښے) ښی او ګس اړخ ته (اووه نورے ورے اوکرے) کرښے راښکلے او وے فرمائیل : دا هم لارے دی چه هغے کښې هره یوه لار بانده شیطان ناست دے چه خپلے لارے طرفته بلنه کوی بیا نبی کریم ﷺ دا آیت اولوستلو : وان هذا صراطي مستقيماً فاتبعوه ولا تتبعوا السبل فتفرق بکم عن سبيله (ترجمه) : او بیشکه دا زما نیغه لار ده نو ددے پیروی کوئ اود نورو لارو پیروی مه کوئ چه سمے لارے نه مو تس نس نه کړی)۔ (احمد، نسائي، دارمي)۔

تشریح : خَطَّ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خَطًّا : **فائده** : نبی اکرم ﷺ صحابه کرام پو هول کله په خبره کله په عمل لکه ماشومانو ته چه انسان په بورډ لیکل کوی، دے دپاره چه مخاطب ښه پو هه شی دهغه په بیان کښې سادګی وه تکلفات په کښې نه وو، بیا دخط نه مراد شکل او رسم دے، ځکه چه رسول الله ﷺ خط کتابت نه کولو لکه الله تعالی فرمائی : ﴿ ولا تخطه بیمینك اذا لارتاب المبطلون ﴾ العنکبوت : ٤٨)۔

هٰذَا سَبِيْلُ اللهِ : یعنی د الله دلارے مثال دے عینِ د الله لار نه ده۔ شَيْطَانٌ يَدْعُوْ اِلَيْهِ : دا دلیل دے چه هر هغه څوك چه تا د نبی ﷺ دلارے نه اړوی نو دا به شیطان وی که دپیر په شکل وی، که دملا یا دامی په شکل۔ او هره لاره سیوا د نبی ﷺ د سنت نه دا دشیطان لاره ده، ګمراهی ده۔ نو پدے حدیث کښې تیزی او ترغیب ورکول دی په اتباع د سنت د رسول الله ﷺ او ددے نه ماسوا د نورو لارو مذهبونو طریقونه ځان ساتلو طرفته۔ ثم قرأ : یعنی دا حدیث د قرآن ددے آیت موافق دے اوددے تشریح ده : ﴿ وان هذا صراطي مستقيماً فاتبعوه ولا تتبعوا السبل فتفرق بكم عن سبيله﴾ ترجمه : دا قرآن زما نیغه لار ده، نو په دے باندے روان شئ، او په نورو لارو مه ځئ، هسے نه چه د(نیغے) لارے نه مو واړوی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه احمد (٤٣٥/١، ٤٦٥) والنسائي في الكبرىٰ والدارمي (٦٧/١) وعزاه المزي للنسائي في السنن الكبرىٰ كما في تحفة الاشراف (٢٥/٧) ترجمة ٩٢١٥، واخرجه الحاكم ايضاً وقال : صحيح وله شاهد من حديث جابر عند احمد، وابن ماجه والبزار۔

٢٨- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهٖ» رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ وَقَالَ النَّوَوِيُّ فِيْ اَرْبَعِيْنِهٖ : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ رُوِيْنَاهُ فِيْ كِتَابِ الْحُجَّةِ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ.

ترجمه : عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : تاسو کښې هیڅ سړے هغه وخته پورے پوره مؤمن کیدے نشی څو پورے چه دهغه خواهشات دهغے (دین او

شریعت) تابع نشی کوم چه ما (دالله دطرفنه) راوړیدے۔ دا حدیث په شرح السنه کښ روایت شویدے او امام نووی خپل څلویښت حدیثونو کښ لیکلے دے چه دا حدیث صحیح دے چه مونږ ته په کتاب الحجة کښ په صحیح سند سره روایت کړے شویدے۔

تشریح : لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ : ددے حدیث : ۱- یو مطلب د ادے چه دلته نفی داصل ایمان ده، یعنی بیخی دسره مؤمن کیدے نشی تردے چه دده خواهش دهغه دین تابع جوړ نشی کوم چه ما راوړیدے۔ یعنی په خپل خواهش باندے زما ددین تابع شی عقیدةً وعملاً۔ یعنی په اکراه او زور سره دادے دین ته نه دے راغلے، لکه دمنافقانو پشان چه دین ته په زوره او په ناخوښئ راغلی وی۔ لما : نه مراد په عقیده او عمل وی یعنی داد خپل زړه نه دهغه عقائدو او اعمالو تابعداری اوکړی کومے چه ما راوړیدی اوکه چا د زړه نه تابعداری اونکړه نو دا بیا کافر دے، مسلمان نه دے، هسے د ریاکارئ او منافقت په وجه د دین تابع کیږی۔ ۲- دویمه معنی داده چه : دلته نفی دکمال ایمان ده، یعنی هغه شخص کامل مؤمن نه دے چه خپل تول خواهشات ئے زما ددین تابع نه وی، خپل غم ښادی په خپل خواهش سره کوی اگرچه د نبی ﷺ د سنتو نه منکر هم نه دے، نودا بیا فاسق دے ،کافر نه دے خو کامل مؤمن هم نه دے۔ رُوِيْنَاهُ : صیغه دمجهول ده یعنی مونږ ته نقل شویدے په کتاب الحجة د ابو الفتح نصر بن ابراهیم المقدسی کښ یعنی صاحب دکتاب الحجة مونږ ته روایت کړیدے۔

تخريجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه البغوى فى شرح السنة (٢١٢/١) رقم (١٠٤) واخرجه الخطيب البغدادى بسنده فى تاريخ بغداد فى ترجمة احمد بن محمد الاسفرائينى (٢٢٣٩) وعزاه الهندى فى كنز العمال (٢١٧/١) للحكيم الترمذى وابى نصر السجزى فى الابانة وقال حسن غريب وفى اسناده نعيم بن حماد وهو ضعيف واعله الحافظ ابن رجب بغير هذه العلة متعقباً على النووى تصحيحه اياه (جامع العلوم والحكم) ولكن معنى الحديث صحيح۔ ثابت من احاديث اُخر۔

٢٩- وَعَنْ بِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ الْمُزَنِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ: «مَنْ اَحْيٰى سُنَّةً مِنْ سُنَّتِيْ قَدْ اُمِيْتَتْ بَعْدِيْ فَاِنَّ لَهٗ مِنَ الْاَجْرِ مِثْلُ اُجُوْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ اَنْ يَّنْقُصَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْئًا وَمَنِ ابْتَدَعَ بِدْعَةً ضَلَالَةً لَا يَرْضَاهَا اللهُ وَرَسُوْلُهٗ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْاِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ عَمِلَ بِهَا لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ اَوْزَارِهِمْ شَيْئًا »، رواهُ الترمذیُّ ورواهُ ابن ماجه عن كثير بن عبد اللهِ ابْنِ عَمْرٍو عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ۔

ترجمه : بلال بن حارث مزنی ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : چا چه زما یو داسے سنت ژوندے (یعنی رائج) کړو چه مانه روستو پریښودے شوے وو نو هغه ته به دومره ثواب ملاویږی څومره چه په هغے سنت عمل کونکو ته ملاویږی بغیر ددے نه چه هغے

سنت باندے دعمل کونکو ثواب کښ څه کمے اوکړے شي، او چا چه دگمراهۍ څه داسے نوے خبره (بدعت) راوښکلو چه هغے سره الله اود هغه رسول نه خوشحالیږی نو په هغه به دومره گناه وی څومره چه په هغے بدعت دعمل کونکو گناه وی، بغیر ددے نه چه د هغوی گناهونو کښ څه کمے اوکړے شي (ترمذی) اودا روایت ابن ماجه د کثیر بن عبد الله بن عمرو نه او هغه دخپل پلار نه او هغه دخپل نیکه نه روایت کړیدے۔

تعارف دبلال بن الحارث ﷺ: کنیه ئے ابو عبد الرحمن ده، اود اهل مدینه نه دے۔ دا اولنے هغه کس دے چه دمزینه قبیلے نه دملگرو سره نبی کریم ﷺ ته په رجب سنه (۵ هـ) کښ دایمان راوړلو دپاره راغے۔ دمدینے شاته اوسیدلو بیا بصرے ته منتقل شو، او په فتح مکه کښ دمزینه قبیلے جنډه ورسره وه۔

تشریح : مَنْ اَحْيٰى سُنَّةً : احیاء السنة (سنت ژوندی کول) دوه قسمه ده : ۱- یو دا چه قولًا بیان دسنت اوکړی۔ ۲- دویم : عملًا په عمل سره ئے خلقوته راښکاره کړی، لکه دغیر دینه خلقو، انگریزانو دعوتونه عملی وی، او عملی دعوت صحیح وی اوکه غلط ډیر تاثیر لری۔

مِنْ سُنَّتِيْ : یعنی دا سنت که په هره درجه کښ وی، برابره خبره ده چه که فرض وی او که مستحب وی اوکه واجب وی یعنی دینی طریقه۔ قَدْ اُمِيْتَتْ - : کومه چه مړه شوی وی، یعنی ختمه شوے وی دخلقو دعمل نه اوتے وی، دمړو سنتو را ژوندی کولو ډیر فضیلت دے په نسبت د ژوندی سنتو باندے عمل کولو سره، مرگ دسنتو دادے چه خلق پرے عمل نه کوی، او بدعت دهغے دپاسه شوے وی، رائے پرے غالبه شوے وی، او خلقو هغه سنت پریښے وی ۔ وَمَنِ ابْتَدَعَ بِدْعَةً : که بدعت عقیدوی وی که عملی وی، که قولی وی یوه رائے چاته ورکول فتویٰ ورکول۔

ضَلَالَةً : بعض وائی چه دا قید ځکه لگوی چه په دے سره بدعت حسنه نه احتراز دے، دا وجه خطاء ده، بلکه کل بدعة ضلالة دے، دے حدیث سره هغه مخکښ حدیث یو ځائے کړه په معنی به ئے پوهه شے، بدعت کښ حسنه نشته، بلکه ټول بدعات گمراهی ده۔نو دا قید ئے ولے اولگولو ؟ نو دیته قید لمزید القباحة وائی(یعنی دا خو ډیر قبیح کار دے چه یو انسان نوے کار هم پیدا کړی او بیا هغه گمراهی هم وی) لکه په آیت ﴿ یآیها الذین آمنوا لا تاکلو الربا اضعافاً مضاعفةً ﴾ کښ د اضعافاً مضاعفةً قید دزیادتِ قباحت دپاره دے، یعنی لکه ربا هم حرامه ده اوچه کله دوچنده اوډیره وی نو بیا خو به په طریقه اولیٰ سره حرامه وی نو دلته په دے حدیث کښ هم دا مطلب دے چه بدعت حرام کار دے خو چه گمراهی هم ده نو بیا خو ډیر قبیح دے۔

۲- یا دا صفت کاشفه دے دبدعت دپاره یعنی بدعت څه ته وائی گمراهی ته وائی، چه الله او رسول ته ناخوښ وی۔ ۳- یا په دے قید سره مقصد احتراز کول دی بدعت غیر شرعی یعنی بدعت لغوی نه، د دنیا په کارونو کښ یو نوے شے پیدا کول قبیح نه دی، او اسلام کښ بدعت

حسـنـه نشتـه، دا چه ځوك وائي هغه په اسلام باندے نه دے پوهه شوے ځکه چه ددے مقصد دا جـوړيـږي چه په اسلام کـښ ډيـر ښـه کـارونه وو، خو هغه نبي اکرم ﷺ نه دي بيان کړي، دين نيمـگـړے دے زه ئے پوره کوم، په دين باندے دا گمان غلط دے، کوم يو عمل داسے دے چه په هغے بانـدے انسان الله ته رسي او هغه نبي اکرم ﷺ نه وي بيان کړے، اوکومَ ئے چه نه دے بيان کړے اشارةً يا دلالةً نو هغه به دين نه وي۔ په حديث کښ ترغيب دے احياء السنة (سنت ژوندی) کولو تـه، او تـخويف دے په بدعت پيدا کولو باندے۔ نن وخت کښ سنت ژوندی کولو ته ډير ضرورت دے، دتقليد اورسم و رواج او بدعاتو په وجه سنت دخلقو دمعاشرے نه ورك شويدي۔

درجة الحديث : مـصـنـف عـليـه الـرحـمة دلتـه ديـو روايت نه دوه روايتونه جوړ کړيدي لکه چه روستـو فـرمائي، ورواه ابن ماجه عن کثير بن عبد الله بن عمرو عن ابيه عن جده، دده دا خيال دے چه دا يـو حـديـث پـه دوه سندو ثابت دے ددوه صحابو نه، يو دبلال بن الحارث المزنیؓ نه او بل دعمرو بن عـوف نـه چه دا د کثيـر بـن عبد الله نيکه دے، ليکن مصنفؒ په دے خيال کښ خطاء شويدے، ځکه چه دحـديـث مـدار صرف په عمرو بن عوف دے لکه چه ترمذي او ابن ماجه دواړو کښ ددے حديث راوي صـرف عـمـرو عوف دے، او بلال بن الحارثؓ راوي نه دے، بلکه بلال ته دا حديث نبي اکرم ﷺ فـرمـائيـلے دے او عـمـرو بن عوف نقل کړيدے، لکه امام ترمذي او ابن ماجه کښ الفاظ داسے دي : (ان الـنـبـي ﷺ قـال لبلال بن الحارث : اعلم قال اعلم يا رسول الله ! قال انه من احيى ـــ الحديث) وجه داده چه دبـلال بـن الـحـارثؓ نه صرف آته (٨) احاديث نقل دي، او په هغے کښ دا حديث نه دے ذکر شوے، نو مـعـلـومـه شوه چه مصنفؒ په نسبت ددے حديث کښ بلالؓ ته خطاء شويدے، بلکه دا روايت دعمرو بـن عـوف جدّ کثيـر بـن عبـد الـلـه دے، اوداخبره علامه عبد الغني النابلسيؒ کړيده په کتاب (ذخائر الـمـواريـث) کـښ چه مرعاة والا ترينه نقل کړيده۔ اودا حديث دکثير بن عبد الله په وجه ضعيف دے، ځـکـه دا ضعيف جداً او كذاب راوي دے، ليکن معنى ددے حديث صحيح ثابته ده، لکه مخکښ نه مـعـلـوميږي۔ دا وجه ده چه امام تـرمـذيؒ دے حـديـث ته حسن وئيلے دے دشواهدو په وجه چه نور شواهد په دے معنى باندے ډير دي، اوکله يو ضعيف حديث حسن گرځي دشواهدو په وجه۔ دا لا ځه کـوے ابـن خـزيـمـه پـه خپـل صحيح کښ دکثير بن عبد الله په روايت باندے احتجاج کوی، نودا هم دليـل دے چـه دا حـديـث حسـن درجـه کـښ دے، کـمـا ذکره المنذری فی الترغيب والمبارکفوری فی المرعاة (٢٦٨/١)۔اودا کلام په دے روستو حديث دعمرو بن عوف کښ هم موجود دے۔

٣٠- وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ الدِّيْنَ لَيَأْرِزُ اِلَى الْحِجَازِ كَمَا تَـأْرِزُ الْـحَيَّةُ اِلٰـى جُـحْـرِهَـا، وَلَيَعْقِلَنَّ الدِّيْنُ مِنَ الْحِجَازِ مَعْقِلَ الْاُرْوِيَّةِ مِنْ رَاْسِ الْجَبَلِ، اِنَّ

الَّذِیْنَ بَدَأَ غَرِیْبًا وَسَیَعُوْدُ کَمَا بَدَأَ، فَطُوْبٰی لِلْغُرَبَاءِ، وَهُمُ الَّذِیْنَ یُصْلِحُوْنَ مَا اَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِیْ مِنْ سُنَّتِیْ» رواه الترمذی.

ترجمه : عمرو بن عوفؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : بیشکه دین (اسلام) به حجاز (مکه او مدینه او ددے متعلقاتو) طرفته داسے راغونډیږی څنګه چه مار خپلے سوړے طرفته راغونډیږی، اودین به حجاز کښ داسے ځائے اونیسی څنګه چه ځنګلی چیلئ دغره په څوکه ځائے نیسی، اودین په شروع کښ غریب پیدا شوے وو او آخر کښ به دغسے شی څنګه چه په شروع کښ وو، نو غرباؤ ته دے خوشحالی وی، او غرباء هغه خلق دی چه دوئ زما هغه سنت درست کوی کوم چه زما دوفات نه پس خلقو خراب کړیدی (ترمذی)۔

تشریح : وَلَیَعْقِلَنَّ الدِّیْنُ : الدین فاعل دیعقلن دے، دا دعقل نه ماخوذ دے تړلو ته وائی، دلته ئے معنی ده ځائے نیول۔ مَعْقِلَ الْاُرْوِیَّةِ : معقل مصدر میمی دے بکسر القاف۔ اوریه : بضم الهمزه اوکسر ها وکسر الواو وتشدید الیاء، صحرائی بیزے ته وائی۔ یعنی دین به په حجاز کښ داسے ځائے اونیسی لکه غرځنئ بیزه چه په سر دغره کښ ځائے نیسی۔ ددے حدیث زیاته تشریح مخکښ تیره شویده۔ اوددے الفاظو مطلب دادے چه دین به هم دحجاز نه لاندے دنیا ته نه راکوزیږی لکه څنګه چه صحرائی بیزه دغره دسرنه ښکته نه راکوزیږی یعنی دین به حجاز کښ بند شی۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف والحدیث غالبه صحیح : رواه الترمذی (١٠٥/٢) وقال : حدیث صحیح۔ لیکن شیخ البانی په تعلیق المشکوة ص (٦٠) کښ فرمائی : وسند الحدیث واه جداً لکن الحدیث قد صح غالبه من وجوه اخری فالجملة الاولی منه ما اخرجه الشیخان من حدیث ابی هریرة ومسلم واحمد من حدیث ابن عمر وزاد الجملة الثالثة (ان الاسلام بدأ) دون قوله : فطوبی للغرباء۔ لکن رواه مسلم بهذه الزیادة من حدیث ابی هریرة ثم قال : واما الجملة الثانیة فلم اجد لها شاهداً۔

٣١- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍوؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَیَأْتِیَنَّ عَلٰی اُمَّتِیْ کَمَا اَتٰی عَلٰی بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ حَتّٰی اِنْ کَانَ مِنْهُمْ مَنْ اَتٰی اُمَّهٗ عَلَانِیَةً لَکَانَ فِیْ اُمَّتِیْ مَنْ یَّصْنَعُ ذٰلِكَ وَاِنَّ بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ تَفَرَّقَتْ عَلٰی ثِنْتَیْنِ وَسَبْعِیْنَ مِلَّةً وَتَفْتَرِقُ اُمَّتِیْ عَلٰی ثَلٰثٍ وَسَبْعِیْنَ مِلَّةً کُلُّهُمْ فِی النَّارِ اِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً » قَالُوْا: مَنْ هِیَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ: «مَا اَنَا عَلَیْهِ وَاَصْحَابِیْ». رواه الترمذی.

ترجمه : عبد الله بن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بیشکه زما امت بانددے یو داسے زمانه راتلونکے ده څنګه چه بنی اسرائیلو باندے راغلے وه، اودواړو کښ به داسے

یوشان والے وی څنګه چه دواړه پنړے بالکل برابرے او تیك وی، تردے چه که بنی اسرائیلو کښې چا خپلے مور سره په ښکاره طور سره زنا کړے وی نو زما امت کښې به هم داسے خلق وی چه داسے به کوی۔ او بنی اسرائیل دوه اویا ډلو کښې تقسیم شوی وو او زما امت به درے اویا فرقو کښې تقسیم شی، اوهغه ټولے فرقے به دوزخی وی، هغوی کښې به صرف یوه ډله جنتی وی، صحابوؓ عرض اوکړو، یارسول الله! جنتی فرقه به کومه یوه وی، نبی ﷺ اوفرمائیل: هغه چه په هغه دین باندے ولاړه وی په کوم دین چه زه اوزما صحابهؓ ولاړ وی (ترمذی)۔

تشریح: مقصد دحدیث: منع ده د اعمالو دیهود او نصاریٰ نه۔ **لَيَأْتِيَنَّ عَلٰى اُمَّتِىْ**: په روایت دصحیحینو کښې داسے دی: (لتتبعـن سنن من كان قبلكم حذوا النعل بالنعل)۔ دا د نبی ﷺ پیشن ګوئی ده چه دا امت به دنبی اسرائیلو پشان کارونه کوی۔لکه څنګه چه یوه څپلئ د بلے څپلئ سره برابره وی دغه شان دا امت به هم د بنی اسرائیلو سره په اعمالو کښې برابریږی، اودا بالکل رشتینے شویده۔ ۲- دویم په حدیث کښې منع غرض ده، یعنی اے امته! تاسو د بنی اسرائیلو د تابعدارئ نه ځان اوساتئ نور خلق به ئے کوی، هغه پریدئ نو په حدیث کښې وعید دے د اتباع د بنی اسرائیلو، لکه قرآن کریم کښې اوګوره څومره صفات چه دبنی اسرائیلو راغلی دی هغه ټول په دے امت کښې راغلی دی، تقلید الآباء، تقلید العلماء، قتل الانبیاء، تحریف په کتاب الله، الاشتراء بالآیات (په آیاتونو دنیا اخستل)۔

مَنْ اَتٰى اُمَّهٗ عَلَانِيَةً: یعنی خپلے مور سره ئے زنا کړی وی، اتیان کنایه ده د زنا، نه یا دنکاح نه، او په دے وخت کښې داکارونه شویدی او لګیا دے کیږی چه دمیرنے مور سره نکاح او زنا ګانے شویدی۔او کتابونه لا لیکی لکه قاضیخان کتاب الحدود ص (٤٠٧) کښې دی چه چا دمور سره زنا اوکړه، (وقال: علمت انها علی حرام، فلاحد عليه)۔(او دا وائی چه ما ته معلومه وه چه دا په ما باندے حرامه ده نو بیا هم په ده باندے حد نشته) نو داخبره هم ګویا کښې ددے حدیث یو مصداق جوړیږی۔

وَاِنَّ بَنِىْ اِسْرَائِيْلَ تَفَرَّقَتْ عَلٰى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ مِلَّةً: دا حدیث په مختلفو الفاظو سره راغلے دے اصل کښې حدیث داسے دے چه نصاریٰ په یو اویا (۷۱) فرقو کښې تقسیم شویدی، او یهود په دوه اویا (۷۲) ډلو کښې او دا امت به په درے اویا (۷۳) ډلو کښې تقسیمیږی، لیکن دلته حدیث کښې اختصار شویدے۔

وَتَفْتَرِقُ اُمَّتِىْ عَلٰى ثَلٰثٍ وَسَبْعِيْنَ مِلَّةً: دامت نه مراد امة الاجابة دے بعض وائی امة الاجابة (یعنی هغه خلق چه ځانته مسلمانان وائی) او امة الدعوة (کفار) دواړه مراد دی لیکن دا قول ضعیف دے وجه داده چه بیاخو فرق زیات دی د (۷۳) ډلو نه، بلکه اول قول راجح دے۔

سوال: امت اجابت کښې خو هم ډیرے ډلے دی چه د(۷۳) نه زیاتیږی۔لکه په کتاب الادیان والمذاهب المعاصرة کښې ئے د امت اجابت (۱۲۰) ډلے شمارلی دی، چه جدا جدا نظریات او عقیدے لری، اودلته وائی (۷۳) ډلے دی؟۔ **جواب**: ۱- حدیث کښې مراد د (۷۳) نه تکثیر بیانول

دی، او تحدید غرض نه دے۔لیکن دا جواب ضعیف دے، ځکه نبی اکرم ﷺ ثلاث وسبعین فرمائیلے دے، اود تکثیر دپاره فقط سبعین (۷۰) ذکر کیږی، نه (۷۳)، نو دلته تحدید غرض دے. ۲-**جواب** : درے اویا بیان شویدی او نفی د زیاتو نه ده شوے، نو ددے نه زیاتے هم پیدا کیدے شی .لیکن دا هم ضعیف دے .ځکه دلته په قرینه دیو اویا، دوه اویا سره بالتحدید درے اویا مراد دی۔ ۳- خو صحیح **جواب** چه دظاهر دحدیث سره موافق دے دادے چه دلته تحدید مراد دے چه زما په امت کښ به درے اویا ډلے جوړیږی نه کم او نه زیات. بیا په تعیین ددے فرقو کښ اختلاف دے: ۱- **عبد الکریم الشهرستانی**ؒ په الملل والنحل کښ فرمائیلی دی چه اصول الفرق (بنیادی ډلے) څلور دی : ۱- القدریه .۲ - الخوارج .۳ - الروافض والشیعه . ٤ - الصفاتیه .اود هرے یوے ډلے نه بیا ډیرے ډلے راوتی دی چه (۷۳) ته رسیږی.

۲- **شیخ عبد القادر الجیلانی**ؒ په غنیة الطالبین ص (۸۵) کښ فرمائی چه ددے (۷۳) فرقو اصول لس فرقے دی : ۱- اهل السنة.۲- الخوارج.۳- الشیعه۔ ٤- المعتزله۔٥- المرجئه۔ ٦- المشبهه۔۷- الجهمیه۔۸- الضراریه۔ ۹- النجاریه۔ ۱۰- الکلابیه.بیا په دے فرقو کښ فرقے دی۔

اهل السنة یوه فرقه ده .خوارج (۱۵) فرقے دی .معتزله (٦) فرقے دی .مرجئه (۱۲) فرقے دی۔جهمیه، نجاریه ضراریه او کلابیه یوه یوه فرقه ده .او مشبهه (۳) فرقے دی .نو دا ټول (۷۳) فرقے جوړیږی .او فرقه ناجیه په دوئ کښ اهل السنة والجماعة دی .چه دهغے عقائد او مذهب ئے مخکښ په دغه کتاب کښ ذکر کړیدے۔او دهرے فرقے ډیر نومونه ئے ذکر کړیدی، فلینظر هناك.

۳- **لیکن امام شاطبی**ؒ فرمائی : غوره قول دا دے چه تعیین ددے درے اویا فرقو اونه کړے شی، ځکه په دے تعیین باندے هیڅ دلیل نشته چه دا فلانئ فلانئ فرقے دی، بلکه ددے فرقو علامات اوخواص شته چه په هغے سره دا فرقے پیژندلے کیږی، پس په هر چا کښ چه دا علامات موجود شو، هغه به په دے فرقِ ضاله کښ داخل وی،اګرچه هر نوم لری۔بعض علامات تفصیلی دی چه هغه دکتاب اوسنت نه معلومیږی او بعض اجمالی دی.

اودا علامات په درے قسمه دی : ۱- اول : هر هغه فرقه چه دین خرابوی او عداوت او بغضاء او تدابر اوقطیعة الرحم پیدا کوی۔ ۲- دویم : دقرآن دمتشابهاتو تابعداری کوی، او محکمات پریدی، لکه خوارجو چه د تحکیم په ابطال باندے استشهاد کړے وو پدے قول د الله تعالیٰ : ﴿ ان الحکم الا لله ﴾ ۳- دریم : اتباع دخوا هشاتو کوی، اودا مخکښ کوی په ادله شرعیو باندے، او په رائے باندے اعتماد کوی، او عقل حاکم ګنړی په هر کار کښ، شریعت لره اعتبار نه ورکوی - نو ددے صفاتو والا به په دے (۷۲) فرقو کښ داخل وی. هرچه تفصیلی علامات دی نو هغه کتاب او سنت نه معلومیږی چه قرآن او سنت کوم شے حرام او بدعت ګرځولے دے هغه چه په کومه فرقه کښ موجود شو هغه به په دوه اویا ډلو کښ داخل وی .اوس دا صفات ټول یا بعض

په مقلدینو، او ددے زمانے په تنظیمونو والو کښې موجود دی۔

بیا دا اختلاف الفرق عقیدوی مراد دے که عملی؟

نو جمهور علماء وائی چه دا اختلاف عقیدوی مراد دے هره فرقه به د بلے نه په عقیده کښې مخالفه وی اود قرآن او سنت نه به ئے عقیده مخالفه وی- لیکن علامه شاطبیؒ په الاعتصام (۱۹۸/۲ - ۲۳۲) کښې په دے خبره رد کړیدے چه دا خبره تحکم بلا دلیل دے، بلکه اعتقاداً او عملاً دواړه اختلاف مراد دے۔دلیل دادے چه قرآن کښې دی ﴿ فَـاَمَّا الَّذِیۡنَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ زَیۡغٌ فَیَتَّبِعُوۡنَ مَا تَشَابَهَ مِنۡهُ ﴾ الآیة۔ په دے آیت کښې د (ما) لفظ عام دے چه اتباع المتشابه په عقائدو کښې وی اوکه په اعمالو کښې۔دغه شان ﴿ ان الذین فرقوا دینهم و کانوا شیعاً لست منهم فی شیئ ﴾ دے آیت کښې لفظ د (دین) عام دے عقائدو او اعمالو دواړو ته شامل دے۔دغه شان ﴿ وان هـذا صراطی مستقیماً فـاتبعـوه ولا تتبعوا السبل فتفرق بکم عن سبیله ﴾ کښې د (صراط) نه مراد عام دے عقائد هم صراط مستقیم دے او اعمال هم، بلکه صراط مستقیم نوم دے دعقیدے او عمل دواړو۔نو تخصیص په یو پورے جائز نه دے۔

او علامه شاطبیؒ فرمائی : ددے آیت نه مخکښې ﴿ قـل تعالوا ﴾ آیت کښې الله تعالی دیر حکمونه ذکر کړیدی : اول : نهی عن الشرك، بیا امر ببر الوالدین، بیا نهی د قتل الاولاد، بیا نهی د فواحش، بیا قتل النفس، بیا خوړل د مال الیتیم۔ بیا ئے آخر کښې اوفرمائیل : ﴿ وان هذا صراطی مستقیماً ﴾ یعنی دا مخکښې اصول الشریعة زما برابره لار ده، دے باندے روان شئ۔ نودا امور مذکوره عقائد نه دی بلکه اعمال دی، اودے باندے دصراط مستقیم حکم شویدے۔نو معلومه شوه چه دا تفرق عام دے عقائدو کښې وی اوکه اعمالو کښې، دغه شان په حدیث الخوارج کښې دی (یقرؤن القرآن لا یجاوزحناجرهم) دارنګه (یقتلون اهل الاسلام ویترکون اهل الاوثان) دا دلیل دے په دے خبره چه دغه مذکوره اختلاف د(۷۲) فرقو یوائے عقیدوی اختلاف پورے خاص نه دے بلکه عملی اختلاف ته هم شامل دے۔

علامه طرشوشیؒ فرمائی : صحابهؓ اوتابعینوؒ او تولو علماؤ اقوالو او افعالو ته بدعات وئیلی دی هرکله چه دشریعت نه خلاف وی لکه امام بخاری د ابودرداء ﷺ نه روایت کړیدے چه دے په غصه راداخل شو (فقلت له مالك ؟ فقال : واللّٰه ما اعرف من امر محمد ﷺ الا انهم یصلون جمیعاً) (نو بی بی ئے وائی : ما ورته اووئیل : څنګه غصه ئے؟ هغه اوفرمایل : قسم په الله زه (په خلقو کښې) د محمد (ﷺ) د دین نه هیڅ نه پیژم مګر دومره ده چه شریك مونځ کوی (صرف یو مونځ پاتے دے نور دین خلقو ضائع کړو) دغه شان ابن عمر ﷺ په مسجد کښې تثویب (آواز پورته کول) په الصلاة جامعة لفظ سره واوریدو نو وے فرمائیل : (هذه بدعة) بعضه فی الاعتصام (۲۰۰/۲) - اوکوم خلق چه داهل السنة والجماعة پشان عقیده اوعمل لری هغه به فرقه ناجیه

کښې داخل وی، اود اهل السنة تعریف د نبی اکرم ﷺ ددې ارشاد مبارك نه معلومیږی (ما انا علیه واصحابی) یعنی زما اوزما دصحابو پشان عقیده او عمل لری، دابه اهل السنة او فرق ناجیه وی۔ اګرچه دا نوم دصحابو په دور کښې نه وو، هر نوم چه وی خو چه د نبی اکرم ﷺ او دهغه دصحابو په نقش قدم باندې روان وی، هغه ناجی دې۔

بیا په دې کښې دائمه مجتهدینو فروعی اختلاف نه دې داخل ځکه دهغوی تولو مقصد په دین حنیف باندې عمل کول وو. لیکن بعض به خطاء وو په یوه خبره کښې او بعض به حق ته رسیدلی وو، بلکه دلته مراد هغه تفرق او اختلاف دې چه ډله بازئ او جماعتونه او تنظیمونه دیو بل په خلاف جوړ شی اود یو بل نه جدا شی، اود یو بل سره قطیعة الرحم اوې محبتی اوهجران او حسد پیدا کړی، او اعراض اوکړی دسنت نه او بدعات پیدا کړی، او یو بل ته ګمراه او فاسق اوکافر اووائی، نو دا اختلاف بیا مذموم دې، او داخل دې په دې حدیث کښې۔او دائمه مجتهدینو ترمینځ دا قسم اختلاف نه وو، بلکه دهغوی په مابین کښې به سره د اختلاف نه په مسائلو محبت، توقیر، اود یو بل احترام وو۔ لیکن روستنی مقلدین داشان نه دی، نو کوم خلق چه دضروریاتو ددین نه منکر وی، لکه شیعه ګان مرزائیان (قادیانان) او بریلویان وغیره دا تول په دې فرق ضاله کښې داخل دی .اود (ما انا علیه واصحابی) نه بهر دی.

كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً : ١- فائده : د (واحده) نه یوه فائده معلوم ده هغه دا چه حق په موضع الخلاف کښې یو وی، ځکه که حق هر فرقې سره شی نو بیا به ئې (الا واحدة) نه وئیلې، بله داچه په شریعت کښې اختلاف مطلقاً منع کړې شویدې ځکه شریعت داختلاف په مابین کښې حاکم دې ﴿فان تنازعتم فی شئ فردوه الی الله والرسول﴾ نوکه اوس په خپله په شریعت کښې اختلاف راشی نو بیا به د تنازع په وخت رجوع شریعت ته بې فائدې شی، فتدبر! کذا افاده العلامه الشاطبی فی الاعتصام (٢/٢٤٩).

٢- فائده : کلهم فی النار: تول به اور ته ځی خو دتولو درجات یو شان نه دی بلکه بعضې فرقې به په اور کښې همیشه دپاره وی لکه روافض وغیره، اوبعض دبدعت مکفره په درجه کښې دی لکه قدریه، معطله، جهمیه وغیره، دابه هم په اور کښې همیشه وی، او بعض دبدعت غیر مکفره په درجه کښې دی لکه عام بدعتیان شو، نودوئ به اور ته داخلیږی لیکن همیشه دپاره به په کښې نه وی، بلکه بیرته به ترې یو وقت د اوقاتو کښې راوځی، که د الله خوښه شوه۔ لکه دا مسلك د اهل السنة والجماعة دې۔

٣- فائده : د واحدة تخصیص او تفسیرئې اوکړو په (ما انا علیه واصحابی) سره: ١- دا خو یا بطور اختصار دې ځکه دبیل بیل شخص تفصیل ګران دې۔ ٢- دویم داچه پرده ئې اچولې ده په امت باندې، که تشخیص ئې کړې وې چه فلانئ فرقه ناجیه ده نو دهغې نه ما سیوا خلق به شرمیدلی وې، دا وجه ده

چه دفرق ضاله بيان ئے هم شخصاً نه دي كړے۔ ٣- دريم داچه: دلته مقصود صرف ناجين ذكر كول دي نه مُهلكين ځكه ناجين مقصود بالبيان دي، او دوي دپاره شرافت دے، او هغه نورے فرقے گمراه دي هغه ذكر كول نه دي پكار۔

فائده: د (ما انا عليه واصحابي) ذكر كولو فائده داده چه دے كښې اشاره ده چه فهم دكتاب او سنت واجب دے په فهم د سلف صالحينو، نه په فهم د متأخرينو۔ لكه دا اصول د اهل السنة والجماعة دي۔ دارنگه ويتبع غير سبيل المؤمنين كښې ورته هم اشاره ده.

مَا اَنَا عَلَيْهِ وَاَصْحَابِيْ : يعني زه چه په كومه لار او دين باندے روان يم عقيدةً، قولًا او عملًا، او زما صحابه چه په كومه طريق باندے روان وي۔ د رسول الله ﷺ چه كومه عقيده وه، په كومه طريقه ئے عمل وو، د الله په باره كښې اود هغه د اسماء او صفاتو په باره كښې ئے چه كومه طريقه وه، دقرآن په باره كښې ئے چه كومه عقيده وه، دارنگه داحكام شرعيه ؤ په باره كښې هغوي څنگه روان وو په هغه طريقه چه څوك چليږي بس دا فرقه ناجيه ده، اگركه دهغوي تنظيم نه وي، اگركه يو شخص وي، ده ته به فرقه ناجيه وئيلے شي۔ دنبي اكرم ﷺ او دصحابه كرامو دالله په باره كښې څه عقيده وه؟ الله ئے منلو، هغه ئے دعرش دپاسه گڼرلو، ټول صفات دهغه ئے بغير دتاويل نه منل۔ دهغه د صحابو نه هيڅ قسم تاويل نه دے ثابت، كه نه وي نو يو تاويل دے څوك دهغوي نه ثابت كړي؟ چه هغوي دالله داسماء او صفاتو باره كښې كړے وي۔ بلكه ديو تابعي نه دے څوك تاويل پيش كړي چه هغه كړے وي۔ دا وجه ده شيخ الاسلام ابن تيميه فرمائي: زما دبدعتيانو سره مناظره شوه، ما ورته اووئيل چه تاسو دسلفو قرون ثلثه كښې ديو تن نه تاويل نقل كړئ زه ددے خپلے عقيدے نه توبه اوباسم، درے مياشتے مهلت دے۔ درے مياشتے پس يو شخص هم جواب رانه وړو، سيوا ديو كس نه چه هغه اووئيل ما تاويل موندلے دے، نو ما ورته اووئيل چه تا به د مجاهدٌ قول موندلے وي ﴿فثم وجه الله﴾ كښې هغه معنى كوي: (فثم قبلة الله) ۔ ليكن دلته وجه دمتشابهاتو نه نه دے، بيا ئے دهغے تشريح كريده۔ انظر مجموعة الفتاوى (١٩٣/٣) المناظرة في العقيدة و١٥/٦)۔

دارنگه دصحابو څه خاص مذهب نه وو، بلكه قرآن او حديث دهر چا په خبره مخكښې كول دهغوي عادت اوطريقه وه، په هغوي كښې ابو بكريان، عمريان، عثمانين، علوين نه وو، نو څوك چه دا تنظيمونه جوړوي چه وائي زه شافعي يم، حنفي يم، مالكي يم دا بدعتي دے۔ صحابو كښې داسے فرقو والا نه وو، بلكه ددليل تابع وو .اوس دوئ ددے مذهبونو نه خالص ضد او عناد جوړ كړيدے۔ بيا په مبتدعينو كښې هغه څوك داخليږي چه سنت نه مني، اود بل چا قول او فعل پرے مقدم كوي، په سنتو كښې د امام دقول دپاره تاويلونه كوي، او يو شخص ټول سنت نبوي مني ليكن عمل كښې كمزورے وي په سنتو عمل نه كوي، جوابونه هم ترے نه كوي نو دا

شخص فاسق دے بدعتی نه دے۔ (دمبتدع او فاسق ترمینځ نسبت دِ عموم خصوص مطلق دے، هر بدعتی فاسق دے او هر فاسق بدعتی نه دے)۔

فائده : امام شاطبیؒ په الاعتصام (٢/٢٠٠) کښ لیکی چه دلته سوال دصحابوؓ د تعیین دفرقه ناجیه وو، چه دا کوم کسان دی، نو جواب داسے پکار وو چه (انا واصحابی، او مَنْ عَمِلَ مِثْلَ عَمَلِنَا) حال دا چه دلته په جواب کښ دتعیین الموصوف په ځائے تعیین دصفت اوشو۔ یعنی سوال کښ اووئیلے شو چه دا څوك دی، او جواب کښ اووئیلے شو چه دا هغه دین او طریقه ده چه زه او زما صحابه پرے روان دی، نو جواب دسوال مطابق نشو؟.

نوددے یوه **وجه** ئے دا ذکرکړیده چه عرب ددے مطابقت لحاظ نه کوی، کله چه معنی واضحه وی، اومقصد ترے حاصلیږی. ځکه چه دلته صحابوؓ کله دتعیین دفرقه ناجیه باره کښ تپوس اوکړو، نو نبی اکرم ﷺ ورته هغه صفت بیان کړو چه دهغے په وجه فرقه ناجیه ناجیه ګرځیدلے ده، چه هغه تابعداری دهغه دین اوطریقے ده چه زه او زما صحابهؓ پرے روان دی۔

٢- دویمه وجه دا ده : چه کله نبی اکرم ﷺ فرقے ذکر کړے او په هغے کښ یوه فرقه ناجیه ذکر کړه، نو د صحابوؓ سوال بعینه داعمالو دفرق ناجیه متعلق وو، نه د تعیین دفرق ناجیه متعلق۔ ځکه چه دهغوی په تعیین کښ څه فائده نشته چه دا فلانے فلانے دے، بلکه دلته مقصود اعمال او صفات دهغوی ذکر کول دی چه هغه په څه وجه ناجیه ګرځیدلے ده، نو اعتبارعمل لره دے، نه عامل لره. نو ګویا که دهغوی غرض داعمالو دفرق ناجیه متعلق وو، نو که داسے تپوس ئے کړے وے چه (ما وصفها،او ما عملها) (چه ددے صفات څه دی او عمل ئے څه دے؟) نو دا به ډیر ښه وے، لفظاً او معنی به دواړه مطابق شوی وے، دا وجه ده چه نبی اکرم ﷺ هم دا فهم کړه چه دصحابوؓ دتپوس غرض دا نه دے چه دا څوك دی، بلکه د دوئ صفات ذکر کول مقصود دی، نو ځکه ئے صفات دفرقے ناجیه ذکر کړل، او په دے کښ ضمناً اشاره ده چه ستاسو دحال سره مناسب دهغوی دصفاتو په باره کښ تپوس کول وو، خو تاسو دهغوی دذوات د تعیین کولو الفاظ استعمال کړل نو ځکه نبی اکرم ﷺ جواب دهغوی دحال مناسب ورکړو۔

٣- دریمه وجه دا ده چه هغوی چه دکوم څیز تپوس اوکړو نو هغه نه متعین کیدل ځکه چه نجات خو عام دے که مخکنی خلق وی که روستنی په هره زمانه کښ چه وی او هرمکان کښ چه وی، نو دا صفاتو والا به نجات او خلاصی والا وی۔ ضابطه ئے ورته ذکر کړه چه هر چاته او هرے زمانے ته شاملیږی .اوکه خاص اشخاص ذکر شوی وے، نو بیا به نجات دهغوی پورے خاص شوے وے، حال دا چه اهل النجاة خو به ترقیامته پورے موجود وی۔ فتدبر!

درجة الحديث : اسناده حسن : دا حدیث حسن دے ترمذی روایت کړیدے او په سند کښ ئے عبد الرحمن بن زیاد بن اسلم الافریقی دے دارقطنی ورته ضعیف وئیلی او حافظ وائی : ضعیف

في حفظه، ليكن يحيى بن القطان ئې توثيق كړيدې، بخاري وائي : هو مقارب الحديث .او ترمذي ورته حسن وئيلي دې د وجې دكثرت دشواهدو نه چه هغه شواهد مرعاة (١/٢٧٦) كښې ذكر كړيدي. حاكم (١/١٢٨) وائي : صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي وصححه الالباني في الصحيحة (١/٣٥٥) رقم (٢٠٣، ٢٠٤) وقال الحافظ في تخريج الكشاف ص (٦٣) واسناده حسن وارجع الى السلسلة الصحيحة وصحح مثله ابن تيمية في المسائل (٢/٢) والشاطبي في الاعتصام (٣/٣٨) . روستو دا حديث دمعاويةؓ ئې هم مؤيد دې .

٣٢- وَفِيْ رِوَايَةِ اَحْمَدَ وَاَبِيْ دَاوُدَ عَنْ مُعَاوِيَةَ: «ثِنْتَانِ وَسَبْعُوْنَ فِي النَّارِ وَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَهِيَ الْجَمَاعَةُ وَاِنَّهُ يَخْرُجُ فِيْ اُمَّتِيْ اَقْوَامٌ تَتَجَارٰى بِهِمْ تِلْكَ الْاَهْوَاءُ كَمَا يَتَجَارٰى الْكَلَبُ بِصَاحِبِهٖ لَايَبْقٰى مِنْهُ عِرْقٌ وَلَا مِفْصَلٌ اِلَّا دَخَلَهٗ».

ترجمه : اواحمد او ابوداود چه كوم روايت دمعاويه ﷺ نه نقل كړيدې دهغې الفاظ دادي : چه دوه اويا ډلې به دوزخ له ځي او يوه ډله به جنت له ځي او هغه جنتي ډله جماعت دې .او زما امت كښې به څو قومونه پيدا شي چه هغوئ كښې به خواهشات (يعنى عقائداو اعمالو كښې بدعات) داسې سرايت اوكړي څنګه چه ليوني سپې چيچلي سړي كښې زهر سرايت كوي، چه هيڅ رګ اوجوړ پاتې نشي مګر دغه زهر ورته داخليږي .

تعارف دمعاويه ﷺ : دده كنيه ابو عبد الرحمن الاموي ده، دابو سفيان صخر بن حرب ځوئې دې .دفتح مكه په كال ئې ايمان قبول كړيدې .بعض وائي مخكښې ئې ايمان راوړيدې، درسول الله ﷺ په مبارك دور كښې دوحي كاتب دې، دعمر فاروقؓ په دور خلافت كښې دشام ګورنر مقرر شو، او څلويښت كاله ئې ګورنري اوكړه، بيا په همدې ګورنرئ كښې وفات هم شو.په صحابوؓ كښې لوئي سياست دان درې كسان وو. ١- عمرو بن العاصؓ .٢- معاويهؓ او ٣- مغيره بن شعبهؓ .دملك په تدبير او نظم ونسق باندې ډير ښه پوهيدلو.احاديث منقوله دده نه (١٣٠) دي، په سنه (٦٠ هـ) كښې د رجب په مياشت كښې د (٨٠) كالو په عمر باندې وفات شو ﷺ .

تشريح : تَتَجَارٰى :(اى تدخل) يعنى ورداخليږي به هغوى كښې. اَلْاَهْوَاءُ : ددې دوه اطلاقه دي : ١- خواهشاتِ نفسانيه .٢- يا بدعات، او دلته همدا مراد دي. اَلْكَلَبُ : چيچل دليوني سپي ته وائي . **د ليوني سپي علامات دا دي :** ١- سترګې ئې سرې وي .٢- لكئ دخپو ترمينځه نبناسي.٣- كله چه انسان اووينى حمله پرې كوي. ٤-كوم انسان چه اوچيچي په هغه كښې داسې زهر خواره كړي چه دهغې په سبب هغه ليونې شي او بيا مړ شي، كما في الترغيب

والترهيب للحافظ المنذري (١/٨٤)۔ **بيا** په دے حديث كښ دخواهش پرست او مبتدع تشبيه وركړے شويده دليونى سپى سره لكه څنګه چه دليونى سپى ليونتوب په ټول بدن كښ خور وى، او چه څوك اووچيچى هغه هم ليونے كيږى، دا بيمارى ورته منتقل كوى، تردے چه ددے نه مړ شى۔ نو دغه شان بدعتى باندے هم خواهشاتو غلبه كړے وى نو په خپله ګمراه وى بل پسے هم ګرځى، هغه ته هم ددے ګمراهۍ دعوت وركوى، دے دپاره چه دا خپل زهر وريكښ خواره كړى، اود هلاكت كندے ته ئے اورسوى۔

٢- دغه شان لكه څنګه چه دليونى سپى زهر دانسان په بدن كښ زر تاثير كوى، نو دا سے مبتدع هم دے چه كله دخپل بدعت دعوت انسان ته وركړى، نو يا خوئے دخپل ځان ملګرے كړى، اوكه ملګرے نشى نو په زړه كښ ورته دشك مرض واچوى چه بيا نه پوهيږى چه كوم حق دے او كوم باطل؟، لكه عوام دمبتدعينو په تاثير كښ راشى نو كله چه ورته حق بيان كړے شى بيا وائى مونږ نه پوهيږو، دا يو ملا يو څه وائى اودا بل ملا بل څه وائى چه كوم اومنو۔ دا ځكه چه مبتدع په كښ خپل زهر خواره كړى وى۔ دا وجه ده نور ګناهونه دومره زر تاثير نه كوى په انسان كښ، لكه بدعت چه څومره زر تاثير لرى۔ دارنګه دا زهر په مبتدع او مقلد كښ خواره شوى وى هر رګ كښ ننوتى وى۔ نوكه دبدعتى په يو مجلس كښ كيناستے زهر به دركښ خواره كړى په خلاف دنورو ګناهونو نه چه هغه په طول صحبت سره په انسان كښ تاثير كوى۔

حاصل دحديث د ادے چه دبدعتى په خوله كښ بدعت اغړلے شويدے بالكل ترے نشى جدا كيدلے لكه څنګه چه زهر دليونى سپى په چيچلى شوى انسان كښ ننوتى وى، او بيرته ترے نشى وتلے۔

وَهِيَ الْجَمَاعَةُ : دجماعت نه مراد څوك دصحابو جماعت اخلى۔ ٢- صاحب المرقاة وائى : وهى اهل الفقه والعلم الذين اجتمعوا على اتباع آثاره ﷺ فى القطمير والنقير ولم يبتدعوا بالتحريف والتغيير) . (يعنى دا هغه د علم او پوهے والا خلق دى چه د رسول الله ﷺ د آثارو (سنتو) تابعدارى كوى په وړو وړو خبرو كښ ـ او په تحريف او تغيير سره بدعت نه پيدا كوى) يعنى مبتدعين نه وى، دنبى اكرم ﷺ په سنتو كښ تحريف او تغيير نه كوى، دا خلق الجماعة كښ داخل دى ـ اوددے اولنے مصداق صحابةؓ دى .

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه احمد (١٠٢/٤) ابوداود فى السنة (٤٥٩٧) وسكت عليه هو والمنذرى والحاكم بسند صحيح .

٣٣- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ اللهَ لَايَجْمَعُ أُمَّتِيْ -أَوْقَالَ: أُمَّةَ مُحَمَّدٍ- عَلٰى ضَلَالَةٍ، وَيَدُ اللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ وَمَنْ شَذَّ شَذَّ فِي النَّارِ» . رواه الترمذى .

ترجمه : ابن عمر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه : الله تعالى زما امت (يا امت

محمدیه) په ګمراهئ نه جمع کوی، اود الله تعالی لاس په جماعت دے څوك چه دجماعت نه جدا شو هغه به تنها (دجنتیانو دجماعت نه جدا کیدو سره) دوزخ کښې اوغورځولے شی (ترمذی).

تشریح : اِنَّ اللهَ لَا يَجْمَعُ اُمَّتِیْ عَلٰی ضَلَالَةٍ : باب افعال دے داجماع نه ماخوذ دے یا مجرد دی من باب فتح .یعنی ټول امت به ګمراهئ باندے الله تعالی نه راجمع کوی بلکه بعض خلق به هدایت باندے هم روان وی، اګرچه اکثر خلق به ګمراه وی۔ ید الله علی الجماعه .دالله لاس په ډله باندے وی، دالله ید شته هغه به منلے شی۔

دقیقه نکته : کله چه یدنه مراد صفت حقیقی (لاس) وی نو هلته ورسره قرینه دسیاق او سباق وی چه ددے نه دا مراد ے لکه : طی شوه په دے آیت کښې ﴿ والسموات مطویات بیمینه ﴾ اویا لکه تثنیت شو په ﴿ بل یداه مبسوطتان ﴾ کښې۔ دارنګه لفظ د قبض شو په [ان الله یقبض السموات بیده] کښې نو دا طی، قبض اوتثنیت علامه ددے ده چه دلته ید حقیقی (لاس) مراد دے، اوکله چه دا نه وی نو ید په عربئ ژبه کښې په معنی دطاقت سره هم استعمال شویدے لکه (لا یدان لاحد علی هذا) اویالکه دلته شو چه (علی الجماعة) قرینه ده چه ددے نه مراد مدد او رحمت دے۔ اودا تاویل نه دے، ځکه په دے کښې اختلاف نشته چه ید په عربئ ژبه کښې دطاقت او مدد په معنی سره استعمالیږی .لیکن د الله تعالی په صفاتو کښې چه استعمال شویدے چه (بل یداه مبسوطتان ﴾ دارنګه (خلقك بیده) کښې۔ نو ددے نه مراد به خامخا صفت حقیقی دالله تعالی وی څنګه چه د هغه دشان سره مناسب وی.

معنی دحدیث دا ده چه دالله امداد او نصرت دجماعت سره وی۔ اشاره ده اتحاد او اتفاق ته چه مسلمانان دے خپل مینځ کښې اختلافات نه کوی، ورنه د الله مدد به ترے لرے شی، کفار به پرے غلبه اوکړی۔ وَمَنْ شَذَّ شَذَّ فِی النَّارِ : په دواړو ځایونو کښې صیغه دمعلوم ده، اودا باب لازم دے، مجهول ترے نه راځی، مګر کله چه (به) لفظ مقدر کړے شی، نو بیا به شُذ مجهول وائی۔ خو اول قول غوره دے. شذ په معنی د انفرد سره دے یعنی څوك چه د جماعت نه یواځے او جدا شو نو اورته به هم یواځے ځی، دلته دشذوذ نه مراد دا دے چه اسلام کښې یواځے بدعات او خرافات پیدا کوی چه هغے ته چا سبقت نه وی کړے، داسے اختلافات پیدا کوی چه دمسلمانانو وحدت ته ضرر رسوی، لکه شذوذ دروافضو او خوارجو او معتزلو۔ او شذوذ داجتهاد فی الاحکام نه دے مراد چه شاذ اجتهاد اوکړی لکه داسے شاذ مسائل دډیرو علماؤ نه ثابت دی هغے ته تفردات وائی۔

وَیَدُ اللهِ عَلَی الْجَمَاعَةِ :

بحث الاجماع : ددے حدیث نه علماء اجماع ثابتوی اګرکه حدیث سنداً کمزورے دے لیکن دا په متعددو طرقو سره نقل دے شوا هدورله شته دے۔داجماع دثبوت دپاره نور آیتونه هم شته کوم چه امام شافعیؒ پیش کړیدی : ١- ﴿ وکذلك جعلناكم امة وسطاً ﴾ [البقره :] ١٤٣ .٢-

﴿ومن یشاقق الرسول من بعد ما تبین له الهدی ویتبع غیر سبیل المؤمنین﴾ [النساء: ۱۱۵] ـ لیکن د اجماع په باره کښې ډیر خلق په غلط فهمئ کښې پراته دی، اجماع غلطه اوبے ځایه پیش کوی۔

نو مختصراً وضاحت د اجماع دا دے چه اجماع په دوه قسمه ده :

۱ - اجماع الصحابة۔ ۲ - اجماع علماء الامة۔

نو اجماع الصحابة حجت دے خو بشروطِ : **۱- اول شرط** دا دے چه ددوئ اجماع به یقینی معلومه وی۔ اودا گران شرط دے ځکه د تولو صحابو راجمع کیدل متعذر دی، وجه داده چه تول صحابه خو په مدینه او مکه کښې نه اوسیدل بلکه مختلف اماکنو او علاقو کښې خواره شوی وو، څوك شام څوك عراق او څوك کوفه او څوك بصره وغیره کښې اوسیدل۔ د هغوی اقوال منضبط هم نه وو، چابه نه لیکل چه فلانے دابیے وائی۔ لیکن بعض صحابو اجماع اوکړه اونورو صحابه به ددیے خلاف اونه کړو، نودابه حجت شوه۔ اوکه د یو صحابی مثلاً ابن مسعود ﷺ قول مونږ ته نقل شی نو مونږ دیته دا نشو وئیلے چه دا اجماع دصحابو ده ځکه چه دا څه پته ده چه د ابن مسعودؓ دا قول تولو صحابو ته رسیدلے دے، او هغوی ورسره اتفاق کړیدے بلکه صحابهؓ خو مختلف ځایونو کښې وو چه ډیر احادیث دنبی اکرم ﷺ اکثرو صحابه کرامؓ ته نه وو رسیدلی، پاتے لا دصحابو اقوال یو بل ته رسیدل داخو مشکل دی، بیا خو پکار ده چه هرحدیث ته اجماع اووئیلے شی ځکه یو صحابی نه نقل شو او مخالف ئے نشته۔

۲- دویم شرط دا دے چه دا اجماع به دنصوص شرعیو نه خلاف نه وی۔

۳- دریم شرط : ماخذ د اجماع به موجود وی د قرآن اوحدیث نه چه مونږ دا اجماع ځکه کوو چه ماخذ ئے فلانے آیت یا حدیث دے۔ کوم علماء چه ماخذ ضروری نه گنړی دا غلط ده، ځکه ددیے بیا معنی دا جوړیږی چه دامت د رسول الله ﷺ دپاره دا جائز دی چه په دین کښې د ځانه خبرے جوړے کړی۔ داجماع امت صحیح معنی داده چه یوه مسئله قرآن اوحدیث کښې راغلے وی اود تولو علماؤ ذهن ورته رسیدلے دے چه همداسے ده، بله نه ده، دا اجماعی مسئله شوه۔ اختلافی مسئله دیته وائی چه دا مسئله قرآن اوحدیث کښې راغلے ده خو دبعض خلقو ذهن ئے داسے منی اود بعضو ذهن ئے داسے منی، بعض ئے یو شان تصورکوی بعض ئے بل شان۔ بعض ترے یو معنی اخلی بعض ترے بله معنی۔ لکه وترو ته واجب اووایو، که سنت ؟ نو بعض ورته واجب وائی او بعض سنت۔ دواړه دلائل ذکر کوی۔ نود اجماع فائده به دا وی چه یوه مسئله به د تول امت دذهن مطابق وی لکه د ماښام مونځ درے رکعاته فرض دے، په دے باندے د تول امت اتفاق دے، نو که اوس څوك اختلاف پیدا کوی هغه لره به اعتبار نه وی، ځکه چه دا د تول امت دذهن او فهم خلاف کوی کوم چه نا جائز دے .

۴- شرط : ناقلین د اجماع به موجود وی، او صادق به وی۔ ځکه بلا سنده دعوئ د اجماع

معتبر نه ده۔ داجماع په باره کښې شل ابحاث دی، ددے دپاره ارشاد الفحول د شوکانیؒ کتل پکار دی۔ ٢- او دعلماء امت د اجماع دعویٰ څوك نشي کولے، ځکه چه داسے څوك نشته چه په ټول علماءِ امت باندے گرځیدلے وی اود ټولو رائے ئے په یوه مسئله کښې معلومه کړے وی، اوکه گرځیدلے وی نو بیا خبر واحد دے، که یو کس وی اوکه ډیر کسان وی، نو سند پکار دے چه کوم علماء دټول امت علماؤ پسے گرځیدلی دی۔ داوجه ده چه امام احمدؒ فرمائی : (من ادعى الاجماع فهو كاذب، وما يدريك انهم لم يختلفوا) (مجموع الفتاوى ٢٧١/١٩، ١٣٦/٣٣ رسالة في الحلف بالطلاق) .(چا چه د اجماع دعوه اوکړه هغه دروغجن دے ځکه تا ته څه پته ده چه علماؤ به اختلاف نه وی کړے) او نن صبا داجماع دعوے چه خلق کوی نو هغه په دے معنی باندے دی (عدم العلم بالمخالف) یعنی چه د یو عالم خبره ورته معلومه وی او بیا وائی زه په دے مسئله کښې دده مخالف نه وینم، نو دا اجماع شوه، او حال داچه دا خو اجماع نشي کیدے، ځکه که عدم العلم بالمخالف دلیل داجماع شي نو بیا خو په هره مسئله اوهر حدیث باندے اجماع کیدے شي بلکه داسے وئیل پکار دی چه دا مسئله گویا اتفاقی به وی، (ولا اعلم فيه مخالفاً) (او ماته پکښې مخالف ندے معلوم) اوقطعاً به داسے نه وائی چه (وعليه الاجماع) (پدے خبره اجماع ده)۔او زیات تفصیل په ارشاد الفحول للشوکانیؒ کښې کتلے شي۔

درجة الحديث : دا حدیث ترمذی روایت کړیدے سنداً ضعیف دے په سند کښې ئے سليمان بن سفيان التميمي المدني ضعيف راوی دے .قال البخاري : منكر الحديث.لیکن شواهد ئے ډیر زیات دی، حافظ په تلخیص کښې او حاکم په مستدرك کښې ذکر کړیدی چه هغه دلالت کوی په دے خبره چه ددے حدیث دپاره اصل او بنیاد شته دے۔او د اولے جملے دپاره شاهد حدیث د ابن عباس شته اخرجه الترمذي والحاكم وغيرهما بسند صحيح۔

٣٤- وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِتَّبِعُوْا السَّوَادَ الْاَعْظَمَ فَاِنَّهُ مَنْ شَذَّ شَذَّ فِي النَّارِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ مِنْ حَدِيْثِ اَنَسٍ وَابْنُ اَبِيْ عَاصِمٍ فِيْ كِتَابِ السُّنَّةِ.

ترجمه : د ابن عمر ﷺ نه روایت دے، نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمایه: دلوئی جماعت پیروی کوئ، ځکه چه څوك د جماعت نه جدا شو هغه به تنها اور کښې غورځولے شي (ابن ماجه، ابن ابي عاصم كتاب السنه).

تشريح : اِتَّبِعُوْا السَّوَادَ الْاَعْظَمَ : ددینه مراد دا دے چه د هغه دین تابعداری اوکړئ چه په هغے باندے اکثر مسلمانان روان وی۔ د سواد اعظم اود جماعة دوه اطلاقه دی : ١- کله چه په باب الامارة کښې ذکر شي نو مراد ترینه خلیفه دمسلمانانو وی چه په یوه کلمه راغونډ وی، ځکه بیا بغاوت جوړیږی۔ نو ددے نه دجماعة المسلمين الباكستانية رجسټرډ فرقے والا استدلال صحيح

نه دے۔ چه هغوی وائی مونږ جماعة المسلمين يو، زمونږ سره ملګری شئ اوكه څوك مونږ سره ملګری نشی نو هغه به كافر وی۔

۲- او چه كله په باب الاعتصام بالسنة كښ ذكر شی نو مراد ترے عقيده وی۔ يعنی ما انا عليه واصحابی .په دے وجه عبد الله بن مسعودؓ فرمائی : (الجماعة ما وافق الحق وان كنت وحدك) - اللالكائی، والوجيز ص (٣٠) (جماعة هغه ته وائی چه د حق موافق وی اګركه ته يواځے ئے نو هم ته جماعة ئے) لكه ابراهيم عليه السلام باره كښ الله فرمائی ﴿ان ابراهيم كانَ امة﴾ (ابراهيم عليه السلام امت وو)۔ نود سواد اعظم مصداق ما انا عليه واصحابی (هغه دين چه نبی او صحابه كرام په هغے روان وی) نو هر هغه څوك به جماعة المسلمين او سواد اعظم كښ داخل وی چه د هغه عقيده د نبی كريم ﷺ او د صحابه كرامو په شان وی او اعمال ئے هم د هغوی په شان وی۔

فائده :— د اهل السنة والجماعة صفات او علامات كوم كوم دی ؟

د اهل السنة والجماعة بے شماره نښے او علامات دی چه د هغے نه بعضے دادی كه غور اوكړے شی نو معلوم به شی چه صحيح اهل السنة والجماعة څوك دی ؟

١- انهم اهل الوسط والاعتدال بين الافراط والتفريط وبين الغلو والجفاء، سواء كان فی باب العقيدة والاحكام او السلوك، فهم وسط بين فرق الامة كما ان الامة وسط بين الملل.

(اهل السنة والجماعة په عقائد، احكامو او طرز زندګئ كښ دتمامو فرقو په نسبت د افراط او تفريط ترمينځه په بهترينه لاره روان خلق دی).

٢-اقتصارهم فی التلقی علی الكتاب والسنة والاهتمام بهما والتسليم لنصوصهما وفهمهما علی مقتضی منهج السلف . (صرف قرآن او حديث نه استفاده كوی او ددے دواړو اهتمام اودے دواړو ته ګردن نهاد وی، اود قرآن اوحديث فهم دصحابه كرامؓ دمنهج مطابق حاصلوی).

٣- ليس لهم امام معظم ياخذون كلامه كله ويدعون ما خالفه الا رسول اللّٰه وهم اعلم الناس باحواله وباقواله وافعاله لذلك هم اشد الناس حبا للسنة واحرصهم علی اتباعها واكثرهم موالاة لاهلها .

(ددوئ څه داسے خاص امام نشته چه د هغه ټولے خبرے دوئ قبلوی اود هغه خلاف ټولے خبرے رد كوی سيوا درسول الله ﷺ نه كوم چه د دوئ امام دے اودوئ د هغه په احوالو، اقوالو او افعالو باندے د هرچانه ښه پوهيږی .لهذا دا اهل السنة والجماعه د ټولو خلقو په نسبت د سنت نبوی سخته مينه كوی او د هغے په تابعدارئ باندے ډير حرص لری او د سنت د تابعدارو سره ډيره محبت كونكی وی)۔

٤- تركهم الخصومات فی الدين ومجانبة اهلها وترك الجدال والمراء فی مسائل الحلال والحرام ودخولهم فی الدين كله. (اهل السنة والجماعة په دين كښ بغير دضرورت نه چاسره جګړے نه كوی او په تمام دين باندے عمل كوی)۔

٥- رفضهم التاويل، استسلامهم للشرع مع تقديمهم النقل على العقل واخضاع الثاني للاول.
(اهل السنة تاويل گوذاروی او شریعت ته تسلیمیږی، او نقل په عقل باندے مقدم کوی، او عقل تابع د نقل گنړی). ٦- جمعهم بين النصوص في المسالة الواحدة وردهم المتشابه الى المحكم.
(په یوه مسئله کښ وارد شوی مختلف نصوصو ترمینځه تطبیق کوی او متشابه محکم ته واپس کوی. په آیتونو او حدیثونو کښ تعارض نه پیدا کوی څنګه چه د اهل زیغ طور او طریقه ده).
٧- انهم القدوة الصالحون الذين يرشدون الى الحق ويرشدون الى الصراط المستقيم بثباتهم على الحق وعدم تقلبهم واتفاقهم على امر العقيدة وجمعهم بين العلم والعبادة وبين التوكل على الله والاخذ بالاسباب وبين التوسع في الدنيا والزهد فيها وبين الخوف والرجاء وبين الحب والبغض، وبين الرحمة واللين والشدة والغلظة وعدم اختلافهم مع اختلاف الزمان والمكان.
(دوئ حق طرفته دعوت ورکوی او په دے باندے استقامت اختیاروی. د عقائدو په مسئله کښ متفق وی، دعلم او عمل داجتماع قائل دی اودے عملی اظهار کوی، دتوکل او اسبابو ترمینځ جمع والے، ددنیا دفراخئ اوز هد ترمینځ جمع والے، دخوف اورجاء، دمحبت اوبغض، درحمت اونرمئ او سدت او سختئ ترمینځ جمع والے راولی. دزمان اومکان گردش په دوئ باندے اثر انداز کیږی نه).
٨- انهم لا يتسمون بغير الاسلام والسنة والجماعة.
(دوئ صرف داسلام اود سنت او جماعت په نوم سره پیژندلے کیږی).
٩- حصهم على نشر العقيدة الصحيحة والدين القويم وتعليمهم الناس ارشادهم والنصيحة لهم والاهتمام بامورهم). (دوئ په صحیح عقیده او روغ دین باندے یو بل ته تیزی ورکوی، خلقو ته دا ښائی اود هغوئ خیر خواهی کوی اودهغوی ددے کارونو اهتمام کوی).
١٠- انهم اعظم الناس صبراً على اقوالهم ومعتقداهم ودعوتهم.
(دوئ په خپله خبره، عقیده او دعوت باندے د هرقسمه سختئ او تکلیف باوجود مضبوط ولاړ وی، د چا دویرے او پروپیګنډے په وجه دا نه پرېدی).
١١- محبة بعضهم لبعض وترحم بعضهم على بعض وتعاونهم فى ماينهم وتكميل بعضهم بعضا ولا يوالون ولا يعادون الا على الدين. (یو بل سره مینه محبت او رحم سره پیش راځی اود یو بل مدد کوی اودیو بل دتکمیل کوشش کوی، اودوستی او دشمنی صرف ددین په بنیاد باندے کوی).
١٢- حرصهم على الجماعة والالفة ودعوتهم اليها وحث الناس عليها ونبذهم الاختلاف والفرقة وتحذير الناس منها. (دمسلمانانو ترمینځه داتفاق او اتحاد کوشش کوی، دے طرفته دعوت ورکوی اود خپل اختلاف او فرقه بازئ نه خلق منع کوی).
١٣- عصمهم الله من تكفير بعضهم بعضا ويحكمون على غيرهم بعلم وعدل.
(الله تعالی دوئ لره دحق پرستو خلقو د تکفیر نه بچ ساتلی دی، او په نورو باندے هم په علم او عدل

سره فیصله کوی - او دیے ځایه دکفر فتویے نه ورکوی، لکه چه د بعضے جاهلانو خلقو کار دیے)۔
۱۴ - وبالجملة فهم احسن الناس اخلاقاً واحرصهم على زكاة انفسهم بطاعة الله واوسعهم رفقا وابعدهم نظراً وارحبهم بالخلاف صدراً واعلمهم بآدابه واصوله .
(لنډه دا چه اهل السنة والجماعة د ټولو خلقونه د بهترین اخلاقو حامل، د نفس تزکیه کونکی اوژور نظر لرونکی، او اختلافی مسائلو کښې فراخه سینه لرونکی دی .اود اختلاف د اصولو او آدابو نه ډیر زیات واقف دی)۔
(الوجیز ص ۲۱ - انظر حقيقة التقليد واقسام المقلدين من منشورات المكتبة المحمدية) .
درجة الحديث : اسناد الحديث ضعيف قال البوصيري فی زوائد ابن ماجه : فيه ابو خلف الاعمی واسمه حازم بن عطاء وهو ضعيف ولكن معناه معلوم مما سبق . **دا روایت ابن ماجه کښې په دیے الفاظو دیے** : ان امتی لا تجتمع على ضلالة فاذا رأيتم اختلافاً فعليكم بالسواد الاعظم .

۳۵- وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَا بُنَیَّ! اِنْ قَدَرْتَ اَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِیَ وَلَيْسَ فِیْ قَلْبِكَ غِشٌّ لِاَحَدٍ فَافْعَلْ» ثُمَّ قَالَ: «يَا بُنَیَّ! وَذٰلِكَ مِنْ سُنَّتِیْ وَمَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ كَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ» رواه الترمذی .

ترجمه : انس رضی الله عنه فرمائی، رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : اے زما ځویه ! که ته په دیے قدرت لریے چه سحر نه ماښامه پوریے دیے حال کښې تیر کړیے چه ستا زړه کښې هیچا سره کینه نه وی نو داسیے اوکړه، بیا ئے اوفرمائیل : اے زما ځویه ! دا زما سنت دی، څوك چه زما سنت محبوب ګڼړی هغه زه محبوب اوګڼړلم، او چا چه زه محبوب اوګڼړلم هغه به ما سره جنت کښې وی (ترمذی)۔
تشریح : يَا بُنَیَّ! : پردی هلك ته بُنَیَّ لفظ وئیل جواز لری، دا د شفقت لفظ دیے۔ اِنْ قَدَرْتَ : ځکه وائی چه که دقدرت نه بهره وی نو بیا خو انسان مکلف نه دیے، او په دیے کښې اشاره ده ترغیب ته چه ځان کښې ددیے خبریے قدرت پیدا کړه۔ اَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِیَ : ددیے نه مراد همیش والے دیے په دیے حالت باندیے۔ غِشٌّ لِاَحَدٍ : غش په مقابله دنصیحت کښې راځی (وهو عدم ارادة الخير للغير ـ والنصح هو ارادة الخير للمنصوح له)۔ (غش دیته وائی چه د چا دپاره د خیر اراده نه لری او نصح (خیر خواهی) دیته وائی چه د بل دپاره اراده د خیر لری) غش په معنی د خیانة هم راځی۔ کان معی : دمعیت دا معنی نه ده چه د نبی ﷺ سره به په درجه کښې شریك وی، بلکه دا معیت فی الدخول دیے، چه جنت ته دواړه داخل شو نو معیت راغلے، حدیث کښې ترغیب دیے محبت ته دسنتو سره۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه الترمذی (۲۶۷۸) باسناد حسن غريب ـ ولكن فی سنده علی

بن زيد بن جدعان وهو ضعيف والظاهر ان الترمذی حسنه لشواهده۔

۳۶- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِیْ عِنْدَ فَسَادِ اُمَّتِیْ فَلَهٗ اَجْرُ مِائَةِ شَهِیْدٍ». رَوَاهُ الْبَیْهَقِیُّ فِیْ كِتَابِ الزُّهْدِ لَهٗ مِنْ حَدِیْثِ ابْنِ عَبَّاسٍ۔

ترجمه : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : زما دامت دخرابيدو په وخت کښ چه څوك زما سنت راټينګ کړی هغه ته به دسلو شهيدانو ثواب ملاويږی، بيهقی دا روايت خپل کتاب زهد کښ دابن عباسؓ نه نقل کړيدے۔

تشريح : مَنْ تَمَسَّكَ : تمسك منګولے لګول اوعمل کولو ته وائی ـ عِنْدَ فَسَادِ اُمَّتِیْ : يعنی کله چه امت ګډوډ وی يعنی په سنتو باندے عمل نکوی، جهالت پرے غالب وی او بدعات هم عام وی، ای عند غلبة البدعة والجهل (مرقات) اودغه سنت خلق بد ګڼړی اودے پرے عمل کوی نو ده له به دسلو شهيدانو اجر ورکولے شی۔

درجة الحديث : رواه : دلته بياض (ځائے خالی) دے ځکه صاحب المشکوٰة دا حديث په کتابونو دحديثو کښ نه دے موندلے نو ځکه ئے دا ځائے خالی پريښے دے، دا روايت بيهقی په کتاب الزهد کښ راوړيدے او ابن عدی په الکامل (۲/ ۹۰) کښ او منذری په الترغيب (۱/ ۴۱) کښ راوړيدے، شيخ البانیؒ په سلسلة الاحاديث الضعيفه (۱/ ۴۹۷) کښ راوړيدے۔ خو دا روايت ضعيف جداً دے، حسن بن قتيبه الخزاعی المدائنی په کښ متروك الحديث راوی دے، قاله الدارقطنی قال ابو حاتم ضعيف، وقال الازدی : واهی الحديث، كذا فی لسان الميزان (۲/ ۲۴۶) بل روايت په دے معنی باندے په الطبرانی اوسط (۲/ ۳۱/ ۵۷۴۶) او ابو نعيم فی الحليه (۸/ ۲۰۰) کښے دے هغے کښ (فله اجر شهيد) دے هغه صرف ضعيف روايت دے (لان فيه عبد العزيز بن ابی رواد وفيه ضعف)(الضعيفة ۱/ ۴۹۷/ رقم۳۲۷) که دا روايت چرته ثابت شی نو بيا دے شخص ته دشهيد اجر ولے ملاويږی، ځکه چه شهيد کله اولګی نو داسے وی لکه ميږے چه تڼك ورکړی اودا انسان چه په سنتو عمل کوی نو ده ته هره ورځ دمبتدعينو دلاسه نوے نوے خبرے کيږی تهمتونه، کنځلے ورته کيږی، نو زړه ته ئے درد رسيږی، او جراحة السنان لها التيام ولا يلتام ما جرح اللسان، دژبے زخم سخت وی د نيزے د زخم نه۔

نو حديث اګرچه ضعيف دے خو معنی ئے صحيح ده، ځکه چه سنت عملی کولو کښ ډير اجر اوثواب دے، د الله د رحمت نه بعيده نه ده خو داصول الحديث مطابق ضعيف دے۔ ويغنی عنه حديث العرباض بن ساريه (عليكم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدين الخ) وحديث (ان من ورائكم ايام الصبر المتمسك فيهن يومئذ بما انتم عليه اجر خمسين منكم ......الحديث الصحيحة (۴۹۴)۔

٣٧- وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ حِينَ اَتَاهُ عُمَرُ فَقَالَ: اِنَّا نَسْمَعُ اَحَادِيْثَ مِنْ يَهُوْدَ تُعْجِبُنَا اَفَتَرٰى اَنْ نَكْتُبَ بَعْضَهَا؟ فَقَالَ: «اَمُتَهَوِّكُوْنَ اَنْتُمْ كَمَا تَهَوَّكَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى لَقَدْ جِئْتُكُمْ بِهَا بَيْضَاءَ نَقِيَّةً وَلَوْ كَانَ مُوْسٰى حَيًّا مَا وَسِعَهُ اِلَّا اتِّبَاعِيْ». رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ۔

ترجمه: جابر ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت کوی چه څه وخت عمر فاروقؓ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو، يارسول الله! مونږ د يهودو حديثونه اورو او هغه مونږ ته ښه معلوميږی نو آيا تاسو اجازت راکوئ چه مونږ هغې نه بعضې اوليکو، نبی ﷺ ورته اوفرمائيل: آيا تاسو هم داسې حيران ئې څنګه چه يهود او نصارئ حيران دی (پوهه شئ چه) ما تاسو ته صاف او روښانه شريعت راوړيدې که موسی ژوندې وې نو هغه له به نه وې جائز مګر صرف زما تابعداری (يعنی زما په پيروئ به مجبور وو)۔

تشريح: اَفَتَرٰى اَنْ نَكْتُبَ بَعْضَهَا؟ : دعمر فاروقؓ سره دا کار دوه ځله شويدې يو په دې موقعه، چه ده ديهودو او نصاری دخبرو ليکلو اجازت اوغوښتلو۔ ٢ - دويم روستو فصل ثالث کښې حديث راځی چه عمر فاروق ﷺ د تورات تلاوت شروع کړو، نبی اکرم ﷺ ورته غصه شو، دا وجه ده چه عمر فاروقؓ دا تعليم زده کړې وو چه چا دقرآن او حديث په ځائې بل کتاب وئيلو هغه له به ئې سزا ورکوله، لکه په کنز العمال اوکتاب ابن عبد البر او حيوه الصحابه (١٧٠/٣) کښې يو روايت دې چه عمر بن الخطابؓ يو سړې اووهلو کله چه هغه ددانيال عليه السلام کتاب دده په وړاندې اولوستلو، اودائې چرته موندلې وو، ورته ئې اووئيل: (انما اهلك من كان قبلكم بانهم اقبلوا على كتب علمائهم واساقفهم وتركوا التوراة والانجيل حتى درسا وذهب مافيها من العلم) كذا في الكنز (٩٥/١) اودا تعليم عمر فاروقؓ ددې حديث نه زده کړيدې۔نو دعمر فاروق ﷺ په دې روايت کښې فکر اوکړه چه دالله کتاب انسان پريدی، اود مُليانو کتابونو ته متوجه شی اود الله دکتاب علوم اومعارف او رازونه ترې پاتې شی، دده به څه حال وی؟ اودا په دې زمانه کښې دامت ډيرو مُليانو داکار کړيدې او کوی ئې چه دشامی نه تاويږی راتاويږی، دا ورته ښه ياده وی ليکن دقرآن په ترجمه نه پوهيږی، داحاديثونه ورله مسئله نه ورځی۔ **ليکن سوال** دادې چه ددې حديث باوجود علماء الامة تورات او انجيل کتلی دی او تفاسيرو کښې ترې نقل هم کوی، دا خلاف ولې کوی ؟۔

جواب: دا منع د هغه وخت پورې خاص وه، ددې دپاره چه سنت تقريری جوړ نشی، بيا به خلقو قرآن او حديث پريښې وې اود يهود اونصاراؤ قيصو پسې به روان شوی وې، شيطان داکار کوی چه بې مقصده خبرو کښې انسان ډير مصروف کوی لکه منطق او فلسفه کښې طالبان ډير وخت تيروی، او په حديثو باندې ورمنډه کړی هسې پرې تير قدرته شی۔نوځکه نبی ﷺ منع

اوکړه، چه سنت تقريري جوړ نشي۔

۲- **جواب** : نبي اکرم ﷺ روسته اجازت ورکړيدے په دے قول خپل سره چه (حدثوا عن بني اسرائيل ولاحرج) خوکله چه زمونږ دين سره موافق وي۔ ۳- دارنګه يو مطالعه ده او يو دکتاب لوستل دي په نيت د عبادت، اول روا، دويم ناروا۔ او دليل پدے باندے دا قول د الله تعالىٰ دے : ﴿قل فاتوا بالتوراة فاتلوها ان كنتم صادقين﴾ (تورات راوړئ وے لولئ که رشتينے يئ) دارنګه حديث کښ دي چه په يهودو کښ کومے زنانه زنا کړے وه، نو دوئ د فيصلے دپاره رسول الله ﷺ ته راغلل، نبي ﷺ پرے د رجم حکم اوکړو، نو يهوديان ددے نه منکر شو او وے وئيل چه په تورات کښ رجم نشته، نو نبي اکرم ﷺ ورته اوفرمائيل چه تورات راوړئ، تورات ئے چه راوړو او يو يهودي (عبد الله بن صوريا) لوستل شروع کړل نو آيت درجم باندے ئے لاس کينبودو، هغه پټ کړو، مخکښ روستوئے لوستلو، نو عبد الله بن سلام ؓ ورته اوفرمايل : (ارفع يدك) لاس اوچت کړه، هغه چه لاس اوچت کړو (فاذا آية الرجم تلوح) نو آيت د رجم په کښ راښکاره شو، نو حديث کښ هم تورات راوړے شويدے او د نبي اکرم ﷺ په وړاندے لوستلے شويدے۔نو هسے مطالعه کول ئے جائز شو۔

تَهَوَّكت: تهوك په معنی د تحير او حيرانتيا سره دے۔

لَقَدْ جِئْتُكُمْ بِهَا : دا ضمير ملة ته راجع دے اګرچه هغه مخکښ نه دے ذکر خو حکماً ذکر دے چه خبره ددين شروع ده۔ بَيْضَاءَ : سپين دے يعني واضح دے مشکل نه دے، نَقِيَّةً : صاف دے دشرك او شبهاتو نه۔ وَلَوْ كَانَ مُوسٰى حَيًّا : اى الآن، (يعني اوس) دے لفظ کښ ډيرے فائدے دي : ۱- يو دا چه هرکله موسى عليه السلام ژوندے نه دے او يهود حيران شوی هم دي، نو دحيران نه څنګه دين زده کوئ، دارنګه که نبي راغلے وے هغه به زما تابعداري کولے، نو دحيرانانو نه تاسو څنګه زده کوئ۔

۲- **دا دليل** دے په موت الانبياء باندے چه موسى عليه السلام مړ دے، څکه دلته (لو) راغلے دے، يعني بالفرض والتقدير که موسى ژوندے وے نو زما تابعداري به ئے کولے، خو زما تابعداري اوس نه کوی څکه چه مړ دے۔ د پيغمبرانو عليهم السلام وفات چه څوك نه مني، هغه په قرآن او حديث نه پوهيږي، اويا مکابره کوی۔انبيائے کرام په دنيا کښ ژوندی نه دي، البته دبرزخ په لحاظ ژوندی دي، هغوی له برزخي حيات ثابت دے ليکن دنيوی حيات نه دے ثابت۔

۳- صحيح روايت په دے الفاظو دے چه صرف موسىٰ په کښ راغلے دے، لکه دا روايت شو۔او بعض رواياتو کښ (لو كان موسى وعيسى حيين) راغلے دے لکه حافظ ابن کثير په تفسير کښ دوه ځله راوړيدے يو ځل سورة آل عمران (۱/) کښ دويم ځل په تفسير دسورة الكهف کښ۔دابن کثير دا طريقه ده چه حواله ورکوی، ليکن دلته ئے حواله نه ده ورکړے بلکه داسے ئے وئيلی دی چه (وفي بعض الاحاديث) په دے وجه محققين علماء فرمائي چه دا حديث په ابن کثير کښ چا دس کړيدے، عيسى لفظ په کښ صحيح نه دے۔ او بل دا چه دا خلاف دے دهغه احاديثو

متواترو نه چه دلالت کوی په حیاة دعیسی علیه السلام او بیا دهغه په آخره زمانه کښ په نزول باندے۔اودا روایت شرح فقه اکبر ص (۱۱۲) کښ هم راغلے دے په دے لفظ باندے (وفی بعض الآثار: لوکان موسی وعیسی حیین) لیکن دے کښ هم سند نشته، شاید چه دے کښ هم دس شوے وی۔ داپه هیڅ کتاب دحدیثو کښ نشته۔کذا فی فتاوی الدین الخالص (۲۴/۳)۔

٤- مَا وَسِعَهُ اِلَّا اتِّبَاعِیْ: دے سره بل روایت کښ دا الفاظ زیات دی کما یاتی فی ص (۳۲) [لو بدا لکم موسی حیاً فاتبعتموه وترکتمونی لضللتم] (که تاسو ته موسی ژوندے راښکاره شی او تاسو د هغه تابعداری اوکړئ او ما پریدئ نو خامخا به گمراه شئ) نو ددے الفاظو نه دا معلومیږی چه درسول الله ﷺ د تابعداریٔ په مقابله کښ دیو نبی تابعداری کول سبب دگمراهیٔ دے۔که خلق درسول الله ﷺ تابعداری پریدی اود موسی علیه السلام پسے روان شی نو دویٔ به گمراه وی۔نو دیو عالم – امام ابو حنیفهؒ، شافعیؒ، مالكؒ، احمدؒ وغیره – تابعداری کول چه کله دهغوی سره دلیل شرعی نه وی په مقابله دنص کښ به خامخا گمراهی وی۔نو درسول الله ﷺ دحدیث په مقابله کښ په دے امامانو کښ دیو امام تابعداری کول سبب دگمراهیٔ دے۔نودے حدیث کښ صریح رد دے په تقلید اومقلدینو باندے۔

درجة الحديث: اسناده حسن: رواه احمد (۳۸۷/۳) والبیهقی فی شعب الایمان وفی سنده مجالد بن سعید الهمدانی وفیه مقال لکن الحدیث صحیح لکثرة شواهده من غیر روایة مجالد کما عند احمد من روایة ابن عباس وفی ابن ماجه، وعن جابر عند ابن حبان۔انظر المرعاة (۲۸۲/۲)۔وقال الالبانی: عندی حسن لان له طرقا کثیرة عند اللالکائی والهروی وغیرهما۔تعلیق المشکاة (۶۳/۱)

۳۸- وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ اَکَلَ طَیِّبًا وَعَمِلَ فِیْ سُنَّةٍ وَاَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ» فَقَالَ رَجُلٌ یَارَسُوْلَ اللهِ! اِنَّ هٰذَا الْیَوْمَ کَثِیْرٌ قَالَ: «وَسَیَکُوْنُ فِیْ قُرُوْنٍ بَعْدِیْ». رواه الترمذیُّ.

ترجمه: ابو سعید خدریؓ وائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چاچه پاکیزه خوراك اوخوړ، په سنت طریقه ئے عمل اوکړو اود هغه د زیاتو (اوتکلیفونو) نه خلق په امن کښ شو، نو هغه به جنت ته داخلیږی، یو سړی عرض اوکړو یارسول الله! داسے خلق خو نن سبا ډیر دی، نبی ﷺ اوفرمائیل: مانه پس به هم داسے خلق وی۔(ترمذی)۔

تشریح: مَنْ اَکَلَ طَیِّبًا: طیب هغه مال ته وائی: ما اخذ علی وجهه)۔چه په صحیح او حلاله طریقه سره حاصل شوے وی، حلال او طیب یو شے دے کله چه جدا جدا ذکر شی اوچه کله یو ځائے ذکر شی نو فرق به کولے شی، حلال به هغے ته وائی چه په شرعی طریقه سره گټلے شوے

وي، اوطيب به هغه وي چه (مَااَغذیٰ وَاَنْمٰی) (يعني چه انسان ته غذاء وركوي او فائده وركوي) جزء دبدن جوړيږي. وَعَمِلَ فِيْ سُنَّةٍ : في ظرفيه راوړلو كښې فائده داده چه دا ټوله زندګي په سنت كښې تيروي، يعني دننه په كښې ژوند تيروي، دسنتو نه په هيڅ حالت كښې نه بهر كيږي، دده مونځ، روژه، زكوٰة غرض ټول عبادات دسنت مطابق وي.

بَوَائِقَهٗ : جمع د بائقة، داهيه او مصيبت ته وائي دلته مراد شرور او ضررونه دي، يعني چا باندې ظلم نه كوي، غش او خيانت خلقو سره نه كوي، بې ضرره انسان دې. دخل الجنه : يعني دا به اول ځل جنت ته داخليږي او مستحق د جنت دې چه اول كرته ورته داخل شي يعني دابه دسابقينو نه حساب وي، يا مراد دا دې چه بې عذابه به ورته داخليږي پاتې شو هغه خلق چه په سنت عمل نه كوي او ايمان په كښې وي نو دابه هم جنت ته داخليږي مګر كله ئې چه الله معاف نه كړي نو عذاب به ورته وركولې شي، بيا به جنت ته داخليږي.نو دَخَلَ الْجَنَّةَ كښې نفي د هغوي نشته.فتدبر!.

وَسَيَكُوْنُ فِيْ قُرُوْنٍ : په صحابو كښې داسې خلق ډير موجود وو، نو نبي عليه السلام بلـه خوشخبري وركړه چه روستو به هم داسې صفاتو والا خلق ډير وي لكه بل صحيح حديث كښې دي : (فی کل قرن سابقون) السلسلة الصحيحة (۵/۷) رقم (۲۰۰۱) واخرجه ابو نعيم فی الحلية (۸/۱) وقال : هذا اسناد جيد. (يعني په هره پيړئ (صدئ) كښې نيكو ته مخكښې كيدونكي خلق موجود دي).

فائده : په دې حديث كښې درې څيزونه سبب ددخول الجنة ښودلې شويدي :

۱ – اكل الحلال (حلال خوري). ۲ – عمل دسنت مطابق كول. ۳– خلقو ته ضرر نه رسول.په دې كښې اشاره ده تخليه او تحليه ته يعني درذائلو او عيبونو نه ځان ساتل او په سنتو اوښو صفاتو ځان ښائسته كول، او اشاره شوه صفائي دظاهر اود باطن ته اودهمدې نه دين جوړ شويدې. بيا عمل بالسنة (نيك عمل) دا مقصد اصلي دې او حلال خوراك سره توفيق نيك عمل طرفته ملاويږي، دا وجه ده چه هغه ئې مخكښې ذكر كړو. لكه قرآن كريم كښې هم دغه شان حكم انبياء او مومنانو ته شويدې. ﴿يا ايها الرسل كلوا من الطيبات واعملوا صالحاً﴾ ﴿يا ايها الذين آمنوا كلوا من طيبات ما رزقناكم واشكروا لله ان كنتم اياه تعبدون﴾) دواړه ئې جمع كړل اشاره ده چه حلال خوري مدد كونكې ده په نيك عمل كولو باندې. په حرام خورئ سره انسان ته دنيك عمل توفيق نه ملاويږي، لكه علماء فرمائي : كل جسد غذی بالحرام عصی شاء ام ابیٰ) هر هغه بدن چه حرام خوري دا به د الله مخالفت كوي برابره ده دده خوښه وي او كه نه ؟ ده نه به ضرور ګناه كيږي. او څوك چه حلال خوري نو هغه به د الله تابعدار او فرمانبرداري كوي برابره ده كه دا ئې غواړي او كه نه ؟.

اوخلقو ته ضرر رسولو كښې نيك عمل بربادېږي، انسان نه مفلس جوړوي، كله چه ضرر په كښې نه وي نو بيا عمل قبليږي.

درجة الحديث : اسناده ضعيف ومعناه صحيح : رواه الترمذی وفی سنده رجل مجهول اسمه ابو

بشر كما قال الحافظ فی التقريب ولكن الحديث صحيح اخرجه الحاكم (٤/١٠٤) وقال: صحيح الاسناد ووافقه الذهبی ولكن وهما فی تصحيحه فان فی سنده ابابشر مجهول لم يعرفه البخاری۔ (البانی)

٣٩- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اِنَّكُمْ فِیْ زَمَانٍ مَنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَمَا اُمِرَ بِهٖ هَلَكَ، ثُمَّ يَاْتِیْ زَمَانٌ مَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ بِعُشْرِ مَا اُمِرَبِهٖ نَجَا». رواه الترمذیّ.

ترجمه: ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه: تاسو يوه داسے زمانه كښې ئے كه تاسو كښې يو سړے دهغے احكامو لسمه حصه هم پريږدی كوم چه ورته وركړے شوی دی نو هغه به هلاك شی ليكن يوه داسے زمانه به راشی كه يو سړے ددے احكامو لسمه حصه باندے هم عمل اوكړی نو نجات به بياموومی (ترمذی)۔

تشريح: مَنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَمَا اُمِرَ بِهٖ: دے حديث كښې درے معانی دی دوه غلطی او يوه صحيح ده: ١- اوله معنی داده چه د (ما امر) نه مراد عام دين دے عام احكام دی، يعنی تاسو (اے صحابو) كه چرته ددين لسمه حصه پريدئ هغه درنه پاتے شی نو هلاك به شئ، او روستو زمانے خلق چه لسمه حصه ددين باندے عمل اوكړی نو هغوی به نجات بياموومی۔ دا معنی غلطه ده، وجه دغلطئ داده چه مونځ روژه، زكاة وغيره لكه څنګه چه په صحابو باندے فرض وو، نو دغه شان په باقی ټول امت باندے هم فرض دی، دا فرق نشته چه كه دآخرے زمانے خلقو په لسو مونځونو كښې يو مونځ اوكړو نو نجات به اوموومی اوصحابوؓ كه نهه مونځونه اوكړل او يو ترے پاتے شو نو هلاك به وی، يا د زكوة لس روپو كښې واخله، دا په اتفاق دمسلمانانو مراد نه دے، څكه چه نيكان بدان ټول په دے احكامو كښې يو شان دی۔

٢- **دويمه معنی** چا داكړے چه د (ما امربه) نه مندوبات مستحبات او نوافل مراد دی، يعنی كه تاسو لسمه حصه دمندوباتو پريښودله نو نقصان كښې به پريوځئ، او روستو زمانه كښې كه خلقو يو حصه مندوبات راؤنيول او نهه حصه ئے پريښودل نو نجات به اوموومی۔ خو دا معنی هم كمزورے ده، وجه دكمزورئ داده چه په ترك دمندوباتو سره خو څوك هلاكيږی نه، اودلته وائی (هلك) دا هلاك شو۔ بلكه صرف د اوچتے مرتبے نه به ښكته مرتبے ته راكوز شی، هلاكت په كښې نه وی۔

٣- **دريمه** اوصحيح معنی داده چه داد امر بالمعروف اونهی عن المنكر سره متعلق دے، يعنی ستاسو په زمانه كښې خير ډير دے، نو كه چا په تاسو كښې لسمه حصه دعوت (امر بالمعروف او نهی عن المنكر) پريښودلو هلاك به شی، څكه شر والا كم دی، او خير والا ډير دی، او بيا هم تاسو دشر والا نه منع كوئ، نو كه په لسو منكراتو كښې دوئ ديو منكر رد اونكړو او په نهو ئے اوكړو نو ذمه واری به ئے فارغه نه وی۔ په خلاف د روستو زمانے خلقو نه چه خير په كښې

کم وي او شر په کښې غالب وي نو که چا لسمه حصه دعوت اوکړو، نو دده ذمه واري پوره شوه، اګرچه نهه حصې تړې پاتې شي ځکه شر به غالب وي، دعوت به ګران وي، حالات به ناسازګار وي، لکه نن زمانه شوه. دا صحيح معنی ده. خو په دې باندې **سوال** دې چه د باب سره به مناسبت څه وي ؟ ظاهر کښې خو مناسبت نه ښکاري. نو ددې **جواب** دا دې چه مناسبت دادې چه په دې حديث کښې دا بيانوي چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر به دکتاب او سنت نه کولې شي. د بل کتاب نه به نشي کولې. دفضائل اعمال وصدقات وغيره کتابونو نه به دعوت او تبليغ نه کوي، ځکه چه په دې کتاب کښې اکثر خرافات او يې ځايه قيصې چه په هغې باندې دامت اصلاح نشي کيدې– ذکر شوي دي، بلکه لا واقع شوي به هم نه وي، ځکه چه په دې کتاب کښې د غير الله نه مدد غوښتې شويدې، لکه سري يو سړي له اوښه ورکړيده، او بيائې ورله ذبح کړيده،او بله ئې ورکړيده، اوداسې قيصې دصوفيه ؤ ليکلې شويدي چه هغې باندې څوك عمل نشي کولې، اونه به دا واقع وي، لکه سري سقطي صاحب اته نوي (۹۸) کاله نه دې اوده شوې، سيوا دمرض الوفات نه. د يو بل صوفي په باره کښې وائي چه يو کال پورې چا په مسجد حرام کښې په ناسته نه دې ليدلې.د بل يو کس متعلق وائي چه پنځلس ورځو پورې ئې اودس نه وو مات کړې.په دې قيصو امت هسې هم عمل نشي کولې ددې بيانولو ته څه ضرورت دې!.صفا دکتاب او سنت نه بيان پکار دې په دې سره دامت اصلاح کيږي، صفا دين شته دې، دې قيصو ته څه ضرورت دې ؟.

فائده : بيا دا حديث متعلق دې داعمالو سره نه دزمانې سره، ددې حديث نه بعض خلق سه روزه ثابتوي، سه روزه اوچله په کتاب او سنت کښې نشته، خو بدعت هم نه دې ځکه چه دا د امور انتظاميه ؤ دقبيلې نه دې، لکه مدرسه خلق شروع کوي په شوال کښې او ختموي ئې په شعبان کښې. دا يو ترتيب ددعوت دې، مګر دابه بدعت **هله** جوړيږي چه انسان دا ثواب اوګنړي، او زيادت او کموالې پرې ناروا اوګنړي چه سه روزه کښې نيمه ورځ کم کړي، اودا ورته بد ګوري، نو دا بيا بدعت دې (او اوس دعوامو همدا ذهن جوړ شويدې) نو ددې حديث نه استدلال په سه روزه باندې نه دې صحيح چه په مياشت کښې درې ورځې ورکړي وائي دا لسمه حصه ده، نو چه مياشت کښې سه روزه لګوي، ذمه واري به ئې پوره کيږي.دا استدلال ځکه نه دې صحيح چه دلته داعمالو خبره ده، دوخت خبره نه ده، يعني لس منکراتو کښې تا يو منع کړو نو ذمه به پوره شي. بيا په دې حديث کښې ددعوت خبره ده، نو په دې باندې ځان پوهول پکار دي چه دعوت دامر بالمعروف او نهي عن المنکر دواړو نوم دې.زمونږ بعض ملګري ددعوت فضائل بيانوي او بيا د يو څو بعضې معروفاتو دعوت کوي، او په دې باندې دټول دعوت فضائل او خيرات محمولوي، ددې مثال داسې دې چه يو سړې دټول اسلام فضيلتونه بيانوي او مينځ کښې داسلام

په یو وړوکی شان عمل باندې عمل کوی۔اودا وائی چه داسلام کوم خیرات او ښیګړې دی هغه به ماته ملاؤ شي۔داسې هیڅ کله نه ده، دا نقصان دې، بلکه د امر بالمعروف اودعوت چه کوم خیرونه او فائدې دی په قرآن او حدیث کښ، نو هغه په دې لګ دعوت باندې نه راځی، هغه به پوره دعوت باندې حاصلیږی (پدې باندې ذهن خلاصول پکار دی)۔

مونږ چه دا نشاندهی کوو نو پدې وجه چه د تبلیغ والوورونه نیکان خلق دی او د دین غم ورسره دې خو دومره ده چه دې نیکانو باندې د خلقو ښه ګمان دې اوددې ښه ګمان په وجه دین ته نقصان رسی، ځکه دوئ چه هرعمل کوی خلق ئې دین ګڼړی، نو هغه کارونه چه دین کښ نه وی، خلق ئې دین ګنړل شروع کړی۔دابه معیار حق اوګرځی، لکه چه نن ګرځیدلی دی، که یو کار په رائیونډ کښ کیدو هغه به دین وی، اوکه هلته نه کیدو هغه خلق دین نه ګنړی، دمثال پطور خلق درسِ قرآن، جهاد دا هسې چتهي کارونه ګنړی، او وائی چه په دې اصلاح نه کیږی که دا داصلاح کتاب وې نو رائیونډ کښ به بیانیدلې، لکه چه دا بکواس ډیرو کسانو کړې او کوی ئې۔ اوددې نه به آینده زمانه کښ لوئی فساد جوړ شی لکه دصوفیه ؤ تاریخ اوګوره! واضحه دې وی چه زمونږ دهیچا سره ذاتی دشمنی نشته، بلکه دبدعت سره مو دشمنی ده، په دین خفه کیږو۔ بعض ملګری د دوئ تهجد او ذکر اذکاروته ګوری، دا ښه خبره ده مسلمان له پکار ده چه دا اوکړی، لیکن ددې سره سره چه کوم بدعات او خرافات او موضوعی حدیثونه اوغلط اصطلاحات په امت کښ خوریږی، دیته هم کتل پکار دی، خو په دې هغه څوك پو هیږی چه د دین بصیرت ورسره وی۔

درجة الحدیث : اسناده حسن : رواه الترمذی وفی سنده نعیم بن حماد وهو صدوق یخطیٔ کثیراً، کما فی التقریب (۵٦٤) ، لکن فی معنی الحدیث روایة فی مسند احمد وکذا فی حدیث صحیح عن ابی ذر مرفوعاً : انکم الیوم فی زمان کثیر علماؤه قلیل خطباؤه، من ترك عشر ما یعرف فقد هوی وسیاتی من بعد زمان کثیر خطباؤه، قلیل علماؤه من استمسك بعشر ما یعرف فقد نجا۔ انظر السلسلة (٦/٤٠).

---

٤٠ - وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ((مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًی کَانُوْا عَلَیْهِ اِلَّا اُوْتُوا الْجَدَلَ ثُمَّ قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ هٰذِهِ الْآیَةَ ﴿مَاضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ﴾)). رواه احمد والترمذی وابن ماجه.

ترجمه : ابو امامه ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : نه دې ګمراه شوې یو قوم پس د هغه نه چه دوی په هدایت موندلو او هدایت باندې قائم پاتې وی مګر (هغه وخت چه دوی ته جګړې ورکړې شی۔ (جګړې شروع کړی) بیا نبی ﷺ دا آیت اولوستلو : ماضربوه لك

الا جدلا، بل هم قوم خصمون)۔ ترجمه : هغوی ستا دپاره مثال نه بیانوی مگر جګړې دپاره بلکه دا جګړمار قوم دے (احمد، ترمذی، ابن ماجه).

تشریح : اِلَّا اُوْتُوا الْجَدَلَ : یعنی د یو قوم دګمراهۍ سبب دادے چه هغوی ته جګړے ورکړے شي (ورنصیب شی) یعنی کله چه ورته دحق خبره بیانیږی هغوی وائی داخو نه منو، زمونږ مشرانو اکابرو داسے نه دی وئیلی، عناد کوی تعصب کوی، زمونږ مذهب کښ داخبره نه ده راغلے ځکه ئے نشم منلے، زمونږ استاذانو شیخانو به داسے نه وئیل، په حق کښ تاویل کوی، نو دا دګمراهۍ سبب دے۔ ﴿ ماضربوه لك الا جدلاً ﴾ نو په دے آیت کښ الله تعالی سبب دګمراهۍ ډیر بحثونه اوجګړے ذکر کړیدی، خو ډیر بحثونه دوه قسمه دی : ۱- یو دحق دثابتولو دپاره چه یو سړے حق نه منی اوته ئے ورته په دلائلو ثابتوے نودا نه دے منع بلکه قرآن کښ دی : ﴿وجادلهم بالتی هی احسن ﴾ [النحل : ۲۵] .یعنی خلقو سره په ښائسته طریقه بحث مباحثه کوه (که ضرورت پیښ شی)۔

۲- دویم مجادله اوجدال دحق نه منلو دپاره، چه تاته حق پیش شی اوته هغے کښ بحث کوے، انکار کوے، خامخا دهغے په رد کښ څه وائے۔دحق د نه منلو په سلسله کښ مشران، استاذان او مذهب مخکښ کول او په خپل باطل باندے کلك پاتے کیدل، هغے ته دعوت ورکول دا ځکه سبب دګمراهۍ دے چه ته داعی دګمراهۍ شوے، اوداعی دګمراهۍ ته الله تعالی غالباً هدایت نه کوی، هدایت خالی الذهن او منیب شخص ته کیږی، نو دے حدیث کښ دعوت دے دیته چه حق ته لبیك وائے، دحدیث نه جوابونه دمذهب دپاره مه کوۍ، ورنه ګمراه به شۍ۔

فائده : په دے مذکوره آیت کښ دمکے په مشرکانو باندے رد دے هغه داچه مشرکانو دنبی اکرم ﷺ دپاره مثال اواعتراض پیش کړو، چه کله نبی اکرم ﷺ دا آیت اولوستلو ﴿ انکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم انتم لها واردون ﴾[الانبیاء : ۹۸] نو عبد الله بن زبعریٰ - چه اوله کښ مشرك وو، بیا ئے روسته ایمان راوړو- ده اعتراض اوکړو چه په آیت کښ د (ما) لفظ عام دے، عیسی علیه السلام ته هم شامل دے، هغه به هم اُورته داخلیږی، حال داچه ته خو د هغه صفت کوے، هغه ته نبی وائے، نو ستا قول کښ تعارض دے۔ اوده مشرکانو ته اووئیل چه راشۍ دلیل مے پیدا کړو، نوجګړے ئے شروع کړے۔نو اوګوره ده په حق کښ تعارض پیدا کړو، نو الله فرمائی دوئ ستا دپاره مثال بیانوی دجګړے په نیت، یو جګړه کول دی او یو حق ثابتول دی، حق ثابتولو کښ دسره جګړه نه راځی، راشه غور کیده، واوره که پو هه نشوے بیا تپوس اوکړه ځان پو هه کړه۔

جواب : ددے شخص دا سوال غلط وو : ۱- وجه داده چه (ما) دغیر ذوی العقول دپاره راځی، دلته په (ما تعبدون) کښ بتان مراد دی. ۲- دویم داچه ده روستو آیت ته اونه کتل نیمه خبره ئے راواخسته، روستو ئے ورسره استثناء اونه لیده چه ﴿ ان الذین سبقت لهم منا الحسنی اولئك عنها

مبعدون ﴾ [انبياء : ۱۰۰] ددې داسې مثال دې چه يو انسان د ﴿والعصر ان الانسان لفي خسر﴾ نه استدلال اونيسي په دې چه ټول خلق تاوانيان دي، پيغمبر ته ئې هم تاواني اووئيلو. او روستو ﴿الا الذين آمنوا وعملوا الصالحات﴾ ته نه ګوري. چه پيغمبران او نيکان خلق خو ددې نه مستثنىٰ دي، هغوي تاوانيان نه دي. دوئ نه علاوه نور خلق تاوانيان دي. نو په نيمګړې خبرې نقل کولو کښې دا آفت وي.

سوال : دا آيت ددې دپاره په مثال کښې پيش کول چه هدايت نه پس جدال کول سبب دګمراهئ دې، صحيح نه ښکاري، ځکه چه قريشِ مکه خو دهدايت والا نه وو، چه د جدل اوجګړې په وجه ګمراه شول ؟ **جواب** : کفار مکه قادر وو په هدايت باندې ځکه چه براهين ساطعه ورته ښکاره شوي وو، نو ګويا که دوئ هدايت والا جوړيدل که په دې کښې ئې فکر کړې وې، نو دوئ داسې شو لکه هدايت والا چه وي خو ليکن کله چه ئې جګړې دحق سره شروع کړې اودلائل ئې اونه منل نو په خپله ګمراهئ باندې الله تعالى د دوئ ددې بد عمل په وجه مضبوط کړل، که جګړې ئې نه وې کړې نو ممکنه وه چه هدايت ورته شوې وې، لکه چه ابن الزبعرىٰ روستو دخپلو جګړو نه توبه اوويستله اوحق کښې ئې سوچ اوکړو، نو هدايت ورته ملاؤ شو او مسلمان شو.

غرض الحديث : دا حديث ئې دلته ددې دپاره راوړيدې چه قرآن او حديث درته کله پيش کړې شي - او صحيح معنى وه ځکه هرې معنى ته تسليميدل هم نشته چه غلطه معنى اخلي - نو بيا به هغه قبلوې اود چا دپاره به ترې جوابونه نه کوې، جګړې په کښې مه کوه، خامخا په کښې څه مه وايه، بلکه لبيك ورته وايه. لکه همدا دمسلمان صفت دې (اذا دعوا الى الله ورسوله ليحكم بينهم ان يقولوا سمعنا واطعنا) [النور : ۵۱] . (کله چه مومنان الله او رسول طرفته دعوت کړې شي چه هغه ورله فيصله اوکړي نو دوي خبره اوري او هغه قبلوي)

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه احمد (۲۵۲/۵) (۲۵۶) والترمذى فى التفسير (۳۲۵۳) وقال : حديث حسن صحيح وابن ماجه (۴۸) والحاكم وصححه ووافقه الذهبي على ذلك. وقال الالبانى : وسنده صحيح، تعليق المشكاة (۶۴/۱) .

---

۴۱ - وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ: « لَاتُشَدِّدُوْا عَلٰى اَنْفُسِكُمْ فَيُشَدِّدُ اللهُ عَلَيْكُمْ فَاِنَّ قَوْمًا شَدَّدُوْا عَلٰى اَنْفُسِهِمْ فَشَدَّدَ اللهُ عَلَيْهِمْ فَتِلْكَ بَقَايَاهُمْ فِى الصَّوَامِعِ وَالدِّيَارِ: ﴿رَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ﴾». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : انس ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تاسو په خپل ځانونو سختئ مه کوئ ځکه چه بيا به الله هم په تاسو سختي کوي، يو قوم (يعنى بنى اسرائيلو) په خپل ځانونو

سختی اوکړه الله هم په هغوی سختی اوکړه، نن چه کوم ګیرجو اودیارو کښې موندې شی دا ددې خلقو پیدا کړې رهبانیت (پیری مریدی) ده، مونږ په دوئ باندې مقرر کړې نه ده۔ (ابوداود).

تشریح : (غرض الحدیث) : په قرآن او حدیث کښې چه کومې خبرې راغلی دی بس په همدې باندې عمل پکار دې، او په ځان باندې تشددات نه دی راوستل پکار، او په اعمالو کښې درمیانه روی اختیارول پکار دی، دا حدیث هم په دوه طریقو لګی :

١ – یودا چه دا صرف د صحابوؓ دزمانې سره متعلق دې، یعنی هغوی ته خطاب دې چه تاسو په خپلو ځانونو باندې سختی مه راولیئ لکه تول شپه مونځ کول (لکه چه هغوی په ځان باندې په عبادت کښې دمینې محبت دوجې نه دا تشدد کړې وو) یا صوم الدهر نیول، او تزوج او نکاح نه کول، دا مه کوئ۔ (فیشدد الله علیکم بان یفرضه علیکم) .(یعنی الله به ئې درباندې فرض کړی) چه هر کله تاسو ئې طاقت لرئ نو زه فرض شو۔ بیا به ئې نشئ کولې، لکه بنی اسرائیلو ځان باندې سختی راوستله او بیا ئې عمل نشو کولې، جهاد ئې اوغوښتو کله چه فرض شو نو بیائې بزدلی اختیار کړه، نو منع راغله ددې دپاره چه په امت باندې دا کارونه فرض نشی۔ بیا به طاقت نه لری ځکه چه په هغه زمانه (دصحابوؓ) کښې وحی راتلله نو دفرض کیدو امکان وو، لهذا ددې نه منع اوشوه، نو دا د هغوئ ددور سره اولګیدو . ٢ – دویمه معنی داچه : دا عام دې تول امت سره لګی، معنی داده چه (لا تشددوا علی انفسکم بایجاب الاعمال الشاقة بالنذر) یعنی ځان باندې دګرانو اعمالو دنذرکولو په وجه سختی او تشدد مه کوئ، لکه ځان باندې دا نذر کړی چه په ما دې صوم الدهر (توله عمر روژه) نذر وی، او توله شپه عبادت دې نذر وی.

فَيُشَدِّدُ اللهُ عَلَيْكُمْ : الله به پتاسو باندې سختی راولی۔ سختی داده چه تاسو به په شدت اوتکلیف کښې واقع شئ نو دغه عملونه به درنه پاتې شی، سرته به ئې اونه رسوئ، الله به توفیق درنه کړی، ځکه چه د الله سختی نه ده خوښه۔ داسې هم نه ده چه دعمل سره دې شوق پیدا شې نو په هغې کښې ځان وژنې۔ او داسې هم نه ده چه داعمالِ صالحه ؤ ترغیبات اورې او هغه شاته ګوذارې، بلکه درمیانه روی دالله خوښه ده۔ ددنیا زهد واوری نو بالکل نه حرامو ته نزدې کیږی اونه حلالو ته (حلال ورسره هم پریدی) داسې نه ده پکار۔ دغه شان دومره دنیا پرست شی چه حلالو اوحرامو ته نه ګوری بس حاصلوی ئې، دا تمییز نه کوی چه داحلال دې که حرام۔ داسې نه ده پکار۔ په علم او درس او تدریس کښې هم درمیانه روی اختیارول پکار دی، هغه به بیا سرته اونه رسوی، تقدیری مصیبتونه به راشی۔

فان **فَإِنَّ قَوْمًا شَدَّدُوا** : یعنی بنی اسرائیلو کښې څه خلقو په ځان باندې سختی راوسته په ګرانو اعمالو سره نو الله پرې سختی راوسته چه دهغې دسرته رسولو نه عاجز شول۔ **فَتِلْكَ** : اشاره ده څه خاص جماعت ته چه په ذهن دمتکلم کښې وو، یعنی صرف معدودې چند کسان په دې

باندے کلک پاتے شول۔ فِي الصَّوَامِعِ : جمع دصومعة ده بفتح الصاد والمیم، عبادت خانه دپیرانو دعیسایانو۔ وَالدِّيَارِ : جمع د دَيْرٌ بفتح الدال ده، گیرجه دیهودیانو۔

رَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ : دے آیت کښې دوه تفسیرونه دی ۔علم التفسیر کښې ذکر کیږی۔ ۱- **یو مشهور تفسیر** په کښې دا دے چه الله په دے نصاراؤ باندے رهبانیت نه وو مقرر کړے، چه تاسو گوتونو کښې کینئ خو دوئ په خپلو ځانونو باندے دځانه مقرر کړو، دوئ اووئیل : مونږ دعبادت دپاره په گوتونو کښې کینو اودنیا هرڅه پریدو۔نو چه هرڅه ئے پریښودل او په گوتونو کښې کیناستل نو دا ئے هم پوره نه کړو، نو عبادتِ مبتدعه ئے هم جوړ کړو، او بیا ئے په هغے باندے پوره والے هم اونه کړو۔نو الله تعالی په دے باندے دوئ ته زجر او توبیخ ورکوی چه یو طرفته مو دځانه دعبادت یو طریقه راوخکله او بل طرفته مو هغه هم پوره طور اداء نه کړه۔که یو عبادت مبتدعه یو سړے جوړ کړی نو پوره والے خو دے بیا پرے اوکړی ولے چه دا خو هغه ته دین ښکاری دهغے رعایت دے اوکړی، بیا ولے دین پریدی ؟ ددے مثال دا دے لکه دعاء بعد السنة هیئت اجتماعی سره په شریعت کښې بدعت دے، خو یو سړی جوړه کړه، نوپکار داده چه انسان ئے په توجه سره خو اوکړی، بدعت هم جوړوے او بیا لحاظ ئے هم نه کوے، مقتدیانو ته په کښې گورے۔ نو دا دوه نقصانه دی۔ دلته به دبدعت نه مراد بدعت حقیقی واخلے۔ یعنی نوے کارئے په دین کښې راپیدا کړو۔

۲- **دویم تفسیر ضعیف** دے چه بدعت اضافی واخستے شی، یعنی الله پرے رهبانیت لیکلے وو، خو دوئ په کښې زیادت پیدا کړو، کوم چه الله په کښې نه وومقرر کړے په دغه طریقه۔مگر الله پرے رهبانیت ددے دپاره لیکلے وو چه دالله رضا به لټوئ خودوئ په کښې د الله رضا اونه لټوله، بلکه دنیا پرستی ئے شروع کړه، د ښځو اوماشومانو سره ئے په کښې تعلقات شروع کړل۔اوله معنی واضحه ده۔

نو غرض دحدیث دادے چه درمیانه روی په اعمالو کښې پکار ده .لکه بیهقی سنن کبری(۱۸/۳) کښې حدیث راځی چه یوه زنانه راغله دهغے خوله بنت طویط نوم وو، عائشے رضی الله عنها اوفرمائیل : یارسول الله ! دا زنانه پیږنے دا هغه زنانه ده چه توله شپه مونځ کوی۔ نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل : (مه فان الله لایمل حتی تملوا) داکار مه کوئ ځکه الله نه ستړے کیږی داجر ورکولو نه تردے چه تاسو ستړی شئ، عمل به پریدئ نو بیا به اجر هم نه ملاویږی۔ بلکه درمیانه چلیږئ ! او ددے په شان حدیث په صحیحینو کښې راغلے دے کما فی ریاض الصالحین ص (۵۷) :(علیکم بما تطیقون فان الله لا یمل الله حتی تملوا) (خذوا من الاعمال تطیقون) (مسلم) . (د خپل وسع مطابق اعمال ځان له مقرر کړئ)

درجة الحدیث : اسناده ضعیف او حسن : رواه ابوداود (٤٩٠٤) وفیه رجل مجهول اسمه سعید بن عبد الرحمن بن ابی العمیاء وثقه ابن حبان وقال الحافظ فی التقریب : مقبول .ددے حدیث بل متابع هم موجود دے کما فی مسند ابی یعلی، خو په هغے کښې هم دغه راوی دے معنی دحدیث دنورو صحیح احادیثو نه معلومه ده .او عند ابن حجر حسن دے ځکه هغه چه کوم راوی ته مقبول

اووائی معنی داوی چه عند المتابعة مقبول دے اودلته متابعات ډیر شته دے۔

---

٤٢ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «نَزَلَ الْقُرْآنُ عَلٰی خَمْسَةِ اَوْجُهٍ حَلَالٌ وَحَرَامٌ وَمُحْکَمٌ وَمُتَشَابِهٌ وَاَمْثَالٌ فَاَحِلُّوْا الْحَلَالَ وَحَرِّمُوْا الْحَرَامَ وَاعْمَلُوْا بِالْمُحْکَمِ وَآمِنُوْا بِالْمُتَشَابِهِ وَاعْتَبِرُوْا بِالْاَمْثَالِ» هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِیْحِ وَرَوَی الْبَیْهَقِیُّ فِیْ شُعَبِ الْاِیْمَانِ وَلَفْظُهٗ: «فَاعْمَلُوْا بِالْحَلَالِ وَاجْتَنِبُوْا الْحَرَامَ وَاتَّبِعُوْا الْمُحْکَمَ». ________

ترجمه : ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : قرآن کریم په پنځه خیزونو باندے نازل شویدے : ١– حلال۔ ٢– حرام ٣– محکم ٤– متشابه ٥– امثال۔ نو تاسو حلال، حلال ګنړئ، حرام حرام ګنړئ، محکم باندے عمل کوئ، متشابه باندے ایمان راوړئ او امثال (قیصو) نه عبرت حاصلوئ، دا الفاظ دمصابیح دی او بیهقی چه کوم روایت شعب الایمان کښ نقل کړیدے دهغے الفاظ دا دی : نو حلال باندے عمل کوئ، حرام نه بچ اوسئ اود محکم پیروی کوئ۔

تشریح : وَمُحْکَمٌ : یعنی ظاهر المراد (چه مراد ئے ښکاره وی) لکه ﴿ اقیموا الصلاة وآتوا الزکوة﴾ ﴿ان الله علی کل شئ قدیر﴾ دا ډیر دی۔ وَمُتَشَابِهٌ : قرآن کښ **متشابهات** یو څو قسمه دی :

١– **یو** حروف مقطعات دی، چه ددے معنی هم نه ده معلومه اوکیفیت ئے هم الله ته سپارلے شویدے۔ صرف دومره علم شته چه دا د قرآن کریم دعظمت دپاره نازل شویدی، نور حقیقت ئے الله ته معلوم دے۔ ٢– **دویم** دالله تعالی صفت لکه : ید الله، جاء ربك، استویٰ علی العرش .دا متشابهات دی په اعتبار دکیفیت سره، نه په اعتبار دمعنی سره، نو دظاهری معنی په لحاظ محکم دی، معنی به ئے کولے شی چه ید نه مرا دلاس دے، استویٰ نه مراد برابریدل او پورته کیدل دی، نزول معنی راکوزیدل، جاء معنی راتلل، خو څنګه دی ؟ نو ددے کیفیت الله ته معلوم دے۔نو څوك چه دا وائی چه ددے صفاتو (ید، استواء، نزول، مجئ وغیره) لفظی معنی به هم نه کوے، بلکه ددے ترجمه به هم الله ته سپارے (تفویض به کوے) اووائی : دا د سلفو مذهب دے نو دا غلط فهمی ده۔سلف داسے مفوضه نه وو۔ ٣– **دریم** هغه دی چه احتمال دډیرو معانیو لری، بعض معنی صریح او مراد وی او بعض بعید او مراد نه وی۔ وَاَمْثَالٌ : ١– امثال یا خو مثالونو ته وائی لکه قرآن کښ ډیر قسم مثالونه ذکر دی (مثلهم) او (مثل الذین کفروا) وغیره.

٢– دویم دا چه امثال بمعنی القصص (قیصو) دی، څکه چه الله تعالی دا واقعات دمثال پطور ذکر کړیدی چه چا د اقوام مکذبه ؤ پشان کار اوکړو نو داسے به ورسره کیږی، اوداسے نور۔

هذا لفظ المصابیح : په دے کښ یو نوع اعتراض دے په صاحب المصابیح باندے چه دا روایت

په شعب الایمان دالبیهقی کښې په جدا الفاظو سره ذکر دے اودا د هغے حدیث دے، نو هغه شان راوړل پکار وو، خو دا الفاظ قریب قریب دی په دے وجه صاحب المصابیح روایت بالمعنی کړیدے، فتدبر وانظر فی الکتاب.

درجة الحدیث : اسناده ضعیف جداً : اخرجه البیهقی فی الشعب (۲۳۹۲) قال الالبانی فی تعلیق المشکاة (۱/ ٦٤) : وسنده ضعیف جداً فیه معارك بن عباد عن عبد الله بن سعید المقبری ومعارك ضعیف وشیخه واہٍ متهم. ورواه الهروی فی ذم الکلام (۲/ ٦۲) من هذا الوجه وله شاهد عنده من حدیث ابن مسعود نحوه لکنه ضعیف جداً ایضا فیه المقدام بن داود لیس بثقة.

٤٣- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلْاَمْرُ ثَلٰثَةٌ اَمْرٌ بَيِّنٌ رُشْدُهٗ فَاتَّبِعْهُ وَاَمْرٌ بَيِّنٌ غَيُّهٗ فَاجْتَنِبْهُ وَاَمْرٌ اُخْتُلِفَ فِيْهِ فَكِلْهُ اِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ»، رواه اَحْمَدُ.

ترجمه : ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : څیزونه په درے قسمه دی : ۱- هغه څیز چه د هغے هدایت کیدل ظاهر دی د هغے پیروی کوئ. ۲- هغه څیز چه د هغے ګمراهی کیدل ښکاره دی هغے نه بچ اوسئ. ۳- هغه څیز چه په هغے کښې اختلاف واقع شویدے هغه الله ته حواله کړئ (احمد).

تشریح : **اَلْاَمْرُ ثَلٰثَةٌ** : امر نه مراد امر ددین دے یعنی خبرے او کارونه په دین کښې درے قسمه دی. **اَمْرٌ بَيِّنٌ رُشْدُهٗ** : یو څیز داسے دے چه د هغے هدایت کیدل ښکاره دی، حقانیت ئے هرچاته معلوم دے لکه مونځ، روژه، زکوة، علم، مسلمان سره احسان، ذکر اذکار ښه شے دے، داخبرے زنانو ته هم معلوم وی. **وَاَمْرٌ بَيِّنٌ غَيُّهٗ** : بل داسے خبره ده چه د هغے ګمراهی او باطل کیدل هر چاته ښکاره دی لکه ظلم، غلا، بدعملی، شرك اوداسے نور. چه ددے قباحت اوخراب والے هرخوك پیژنی. **وَاَمْرٌ اُخْتُلِفَ فِيْهِ** : یعنی دریم څیز داسے دے چه په هغے کښې اختلاف شویدے.

۱- دا اختلاف خو یا د ادله (دلائلو) په وجه سره پیدا شویدے لکه یو دلیل تقاضا ددے کوی چه دا څیز اوکړه، بل دلیل تقاضا ددے کوی چه دا مه کوه، په حقیقت کښې به داشے یا حلال وی یا حرام خو صرف تاته خفاء راغلے ده، دلائل درته متعارض ښکاره شو.

فَكِلْهُ اِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ : الله تعالی ته ئے اوسپاره، ځکه چه هره خبره باندے ډے ته پو هه نشے، داضروری نه ده چه په هره مسئله ډے ستا ذهن خلاص شی، چه په کومه خبره ته پس دکوشش نه هم پو هه نشوے نو هغه الله تعالی سپاره. ۲- یا دا اختلاف د وجے داختلاف دعلماؤ نه دے، یو عالم ورته حلال وائی بل ورته حرام وائی، او ستا په یو طرف هم تسلی نه کیږی، نو الله تعالی ته ئے اوسپاره. دا بیا اختلاف فی العقائد ته هم شامل دے، یعنی خلقو په یوه عقیدوی مسئله

کښې اختلاف اوکړو، مثلًا يو حديث کښې راغلل چه انبياء عليهم السلام يو لاکه څليرشت زره دی، او بل حديث کښې راغلل چه ددې نه زيات دی، نوددې علم الله ته اوسپاره اوداسې اووايه چه مونږ په ټولو ايمان لرو که هر څومره وی۔ دارنګه اختلاف فی الاعمال ته هم شامل دې، يعنی په داسې عمل کښې اختلاف راغلو چه ستا ورته ضرورت نشته نو بس پريده .داسې حلال اوحرام مسئله وی چه ته هغه پريبنودې شې، دهغې په ځائې بل کار کولې شې، لکه ديو څيز په باره کښې دا شك راغلو چه دا به حرام وی که حلال، نو هغه پريده، الله ته ئې اوسپاره۔

اودا حديث دهغه مسائلو په باره کښې نه دې چه منصوصي وی، مثلًا په مانځه کښې اختلاف پيدا شو چه فاتحه وئيل پکار دی که نه، تکبير تحريمه کښې لاس اوچتول شته که نه، آمين وئيل جهراً شته اوکه نه، وغيره۔ نو دا مسائل به الله ته نه سپارې بلکه تحقيق به کوې، حق به معلوموې، ځکه ديته ستا ضرورت دې، دا الله دې دپاره راليګلی دی چه عمل پرې اوکړې۔نو دلته د (امر) نه مراد هغه امر دې چه ستا ضرورت ورته نشته، ★- يا دعقيدې سره تعلق لری نو په هغې کښې به اجمالی عقيده کافی وی کما مر المثال۔

★-يا داچه په امور القيامة کښې په يو امر باندې پو هه نشوې مثلا نبی ﷺ يوه علامه دقيامت بيان کړی وی خوته پرې پو هه نشې دهغې مصداق درته معلوم نشو، نو انکار ترې مه کوه بلکه الله تعالی ته ئې اوسپاره۔ يا د قرآن کريم يو آيت وو، څوك ئې يو شان معنی کوی څوك ئې بل شان معنی کوی، اوته پرې پو هه نشوې نو الله ته ئې اوسپاره۔نو دلته دا مراد نه دې چه ګنې اختلافی مسئلې مه چيړه دا صحيح خبره نه ده ځکه چه خلقو خو ټول دين کښې اختلاف کړيدې نو هغه به هم نه چيړې، بعض علماء وائی ددې تفسير دفصل ثالث په آخری حديث دابی ثعلبة کښې راغلې دې چه (وسکت عن اشياء من غير نسيان فلا تبحثوا عنها) فتدبر!۔

درجة الحديث : رواه احمد۔ دلته دا امام احمد نه دې نقل کړې بلکه دا احمد بن منيع دې کما عزاه السيوطی فی الجامع الکبير (۳۲۳/۱) ليکن دهغې په اول کښې داسې الفاظ دی: ان عيسی عليه السلام قال: انما الامور ثلاثة ...وکذا اورده الهيثمی فی المجمع (۱۵۸/۱) من رواية الطبرانی فقط، وقال: رجاله موثقون وفيه نظر فانه من رواية ابی المقدام واسمه هشام بن زياد وهو متروك کما قال الحافظ فی التقريب.ومن طريقه رواه الهروی فی ذم الکلام (۶۰/۲) .دا روايت اګرکه ضعيف دې ليکن دا اسرائيلی روايت دې دعيسی عليه السلام وينا ده.اود: حدثوا عن بنی اسرائيل ولا حرج – حديث په بناء باندې ددې حديث بيانول جواز لری ليکن نبی عليه السلام ته نسبت نه دې پکار۔

الفصل الثالث

۴۴ – عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :((اِنَّ الشَّيْطَانَ ذِئْبُ الْإِنْسَانِ كَذِئْبِ الْغَنَمِ يَأْخُذُ الشَّاذَّةَ وَالْقَاصِيَةَ وَالنَّاحِيَةَ وَاِيَّاكُمْ وَالشِّعَابَ وَعَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَالْعَامَّةِ)).رواه احمد.

ترجمه: معاذ بن جبل ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه: شیطان دانسان شرمخ دے ښنګه چه دچیلئ شرمخ وی کومه چیلئ چه درمے نه تښتیدلے وی یا لرے ترے تلے وی یا درمے په غاړه وی، هغه رانیسی، تاسو دغر کنډونو (یعنی ګمراهئ او اختلاف) نه لرے اوسئ او جماعت او مجمع سره ملګرتیا لرئ (احمد).

تشریح: یَأْخُذُ الشَّاذَّةَ وَالْقَاصِيَةَ: یعنی شرمخ هغه ګډه بیزه رانیسی چه نفرت کونکے وی دخپلو ملګرونه، او هغه وړاندے ګډه بیزه، او په طرف باندے روانه ګډه بیزه. یعنی شرمخ په سلامته رمه باندے نه وردانګی بلکه یواځے شوے ګډه بیزه ماتوی. نو حدیث کښ منع ده دافتراق نه. بیا درے مثاله ئے راوړل ځکه چه ګډے بیزے درے قسمه دی. ۱- یو شاذه ده دا هغه ګډه بیزه ده چه دنفرت په وجه دنورو ګډو بیزو نه بیله شوے وی، په دے کښ اشاره ده چه کوم کس دجماعت دمسلمانانو نه نفرت اوکړی او هغه بد اوګنړی نو دابه ګمراه کیږی اود ګمراهانو ښکار به شی. ۲- دویم قاصیه هغه ګډه بیزه ده چه دګیاه دحرص په وجه درمے (ګلے) نه وړاندے (جدا) شوے وی، په دے کښ اشاره ده چه څوک ددنیا دلالچ او ریاست او دنیا پرستئ په وجه دجماعت دمسلمانانو نه جدا شی هغه به هم هلاکیږی. ۳- ناحیه: هغه ګډه بیزه ده چه د سُستوالی په وجه درمے نه یو طرفته شوی وی. په دے کښ اشاره ده چه څوک دسُستوالی په وجه دمسلمانانو نه یو طرفته شی، شیطان به ئے ښکار کړی، نو په دے حدیث کښ رد دے په هغه تنظیمونو باندے چه دمسلمانانو ترمینځه افتراق اوجدائی ئے پیدا کړے وی لکه اوسنی تنظیمونه سراسر ظلم او افتراق دے، ضد او کینے دی، دحق دشمنی ده، دعامو مسلمانانو نه جدا کیدل نه دی پکار چه ځانله تنظیم جوړ کړی.

دمسلمانانو نه جدا کیدونکی خلق درے قسمه دی: ۱- مسلمانان ورته بد ښکاری لکه ډیر خلق وائی زما علماء ډیر بد ے شی. ۲- دحرص په وجه. ۳- دسستوالی په وجه چه دمسلمانانو عقیده نه زده کوی، نودابه ګمراهئ کښ واقع کیږی. انظر کتاب الحزبية.

وَإِيَّاكُمْ وَالشِّعَابَ: ځان اوساتئ دکندو او درو نه. شعاب بکسر الشین جمع د شِعب بکسر الشین، کنده، کنډو، درے ته ... ی، اودا هغه مایل ځایونه دی چه ددرندګانو او حیواناتو اوقطاع الطریق او پیریانو جالے وی. یا جمع د شُعبة ده الفرقة من الشئ). یعنی ځان اوساتئ دفرقو فرقو کیدو نه. په دے حدیث کښ رد دے په تنظیمونو اوپارتیانو باندے.

وَعَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَالْعَامَّةِ: یعنی دمسلمانانو دخلافت اوجماعت نه جدائی مه اختیاروئ بلکه عوام مسلمانان چه په کوم دین باندے ولاړ دی په هغے پسے روان شئ او د اکثرو خلقو عقیدے نه بیزاری مه کوئ. مراد ددے نه هغه دین دے چه صحابهؓ او نورو مؤمنان پرے روان وی، جاهلان عوام نه دی مراد.

درجة الحدیث : رواه احمد (۲۴۳/۵) باسناد ضعیف فیه رجل لم یسم وعمر بن ابراهیم عن قتادة ضعیف. واخرجه بسند آخر فی (۲۳۳) ولیس فیه ضعیف فالحدیث صحیح والحمد لله.

۴۵- وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهٖ». رواه احمد وابوداود.

ترجمه : ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړے چه دجماعت نه لیشت برابر هم (یعنی لږ قدرے هم) جدا شو هغه داسلام پټئ دخپل څټ نه اوښکله۔

تشریح : مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا : ۱- دجماعت نه مراد یا خلافت دے. ۲- یا مراد عقیده دمسلمانانو ده کما مر۔ څوك چه ددے عقیدے او خلافت نه یوه لیشت جدا شو نو ده داسلام رسئ دخپل څټ نه اوویستله۔ بیا ددے دا معنی نه ده (باتفاق المسلمین) چه دا کافر دے کافر به په هغه وخت کښ وی چه دمسلمانانو عقیده پریدی، دمسلمانانو عقیده دتوحید وی، رسول الله ﷺ بشر او انسان ګنړی، اودے عقیده دشرك لری، رسول الله ﷺ انسان نه ګنړی، نودا بیا مسلمان نه دے البته یو د مسلمانانو دخلافت نه وتل دی، نو په دے سره انسان نه کافر کیږی، بلکه دیته باغی وئیلے شی، باغی ګناه کبیره کونکے دے۔ پوره عمل په اسلام نشی کولے، ځکه چه په اسلام باندے پوره عمل هله کیږی چه خلافت دمسلمانانو موجود وی، اوانسان دهغے دلاندے اوسیږی۔ شبراً : یعنی په معمولی څیز سره دمسلمانانو نه جداکیږی، بدعت راپیدا کوی د خلیفة المسلمین تابعداری نه کوی۔

فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ : رِبقه بکسر الراء وسکون الباء، درسئ (پړی) هغه کړئ ته وائی چه د حیوان په مرئ کښ اچولے شی۔ یا ورته په لاس کښ اچولے شی۔ دے دپاره چه هغه راټینګ کړی، دلته په طریقه داستعاره سره داسلام دپاره استعمال شویده۔ رسئ داسلام یعنی هغه شے چه مسلمان پرے ځان تړی چه هغه حدود، احکام، اوامر اونواهی دی۔ **علامه طیبی** رحمه الله لیکی : ربقه (رسئ) ئے ځکه ذکر کړه چه په دے کښ دانسان انقیاداو استسلام ته اشاره ده دپاره داحکامو شرعیه ؤ، نو څوك چه دا اوباسی هغه احکامو شرعیه ؤ ته ځان تسلیم نه کړو۔

علامه خطابی رحمه الله فرمائی : څوك چه دجماعت داامام رسئ دځانه لرے کړی اومسلمانانو نه جدا شی په اتفاقی امورو کښ، نو دا انسان به ګمره او هلاك شی لکه دهغه حیوان پشان چه پرے ئے غاړه کښ وی نو هغه محفوظ وی دهلاکت او ضائع کیدو نه اوکله چه پرے ترے لرے کړے شی نو هغه دهلاکت او ضائع کیدونه په امن کښ نه دے۔

فائده : صاحب المرعاة (۲۸۹/۱) فرمائی : په دے حدیث باندے بعض علماؤ په حجیّت داجماع باندے استدلال کړیدے چه اجماع حجت شرعیه دے، لیکن دا محل دنظر دے، ځکه چه

په دے روایت کښې صرف دا خبره ده چه دجماعت نه مه جدا کیږئ پاتے شوه دا خبره چه اجماع حجت شرعیه دے اوکه نه، نو دا بحث په کښې نشته، یعني داخ بره په کښې نشته چه مسلمانانو په کوم څیز اتفاق اوکړو هغه به حجت شرعي وي۔ فتامل انتهیٰ۔ لیکن که داجماع حجت ددے حدیث نه ثابت نشي نو دنورو دلائلو نه ئے حجت کیدل واضح دی .کما مر۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه ابو داود واحمد (۵/۱۹۰) وفي اسنادهما خالد بن وهبان وهو مجهول لكن للحديث شاهد عن الحارث الاشعري عند الترمذي واحمد واسناده صحيح، وقال الترمذي حديث حسن صحيح وصححه الحاكم في المستدرك (۱/۲۲۲) على شرطهما ووافقه الذهبي، ووصححه ابن خزيمة وابن حبان في صحيحيهما وعن حذيفة عند النسائي وقال الشيخ الالباني في تعليق المشكاة (۱/۶۵) لكن الحديث صحيح فان له شواهد كثيرة ۔

۴۶ – وَعَنْ مَالِكِ بْنِ اَنَسٍ مُرْسَلًا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «تَرَكْتُ فِيْكُمْ اَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابَ اللهِ وَسُنَّةَ رَسُوْلِهٖ». رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأْ.

ترجمه : دمالك بن انسؒ مرسلًا روایت کوی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : ماستاسو مینځ کښې دوه څیزونه پریښے دی، څو پورے چه تاسو هغه مضبوط نیولے وی نو هیڅ کله به ګمراه نشئ، هغه کتاب الله (قرآن مجید) او سنت درسول الله ﷺ دی .(موطا)۔

تشریح : دامام مالكؒ تعارف په مقدمه کښې تیر شویدے۔

مرسلًا : دے حدیث ته مرسل وئیل مناسب نه دی ځکه چه مرسل عند اهل المصطلح دیته وائی چه تابعي اووائی : قال رسول الله ﷺ كذا، او فعل كذا) ۔یعنی دتابعي قول ته چه درسول الله ﷺ نه ئے نقل کوی مرسل وائی او امام مالك تابعي نه دے بلکه تبع التابعي دے، نو دے حدیث ته منقطع اومعضل او معلق وئیلے کیږی ځکه مینځ کښې واسطه تابعي غورزیدلے دے۔نو دیته داسے وئیل پکار دی چه عن مالك معضلًا او معلقاً۔اودا روایت په موطا الامام مالك کښې داسے دے : (مالك بلغه : ان رسول الله ﷺ قال : تركت فيكم امرين ---الحديث) لیکن دلته مصنف عمل کړیدے په مذهب داهل الفقه واصول الفقه باندے چه هغوی دے تولو ته مجازاً مرسل وائی۔

تَرَكْتُ فِيْكُمْ : ترکت د ترکة نه ماخوذ دے دمړی نه پاتے شوی مال ته وائی نو قرآن او حدیث د رسول الله ﷺ میراث دے چاچه دا واخستو نو دا د رسول الله ﷺ رشتینے میراث خور شو، او چا چه ددے نه ما سیوا څیزونو پسے روان شو، نو دا د نبی اکرم ﷺ رشتینے میراث خور نه دے، رشتینے حلالی نه دے۔حلالی هغه ځوك دے چه دخپل پلار میراث راتینګ کړی، اوچه کله دخپل پلار میراث ضائع کړی هغه حلالی نه دے، دنیاوی علوم زده کوی، سائنس، جغرافیه،

فلسفه، منطق او انګلش زده کوی او د الله کتاب او د رسول الله ﷺ سنت ئے شاته ارتولی دی، دا څرته حلالی کیدلے شی ؟۔

اَمْرَيْنِ : په روایت د حاکم (۹۳/۱) کښې د ابو هریره ؓ په روایت کښې (شیئین) لفظ ذکر دے۔ قرآن او حدیث باندے دامرین اطلاق کیږی لکه تول دین ته هم امر وائی۔ لَنْ تَضِلُّوْا : ددے دوه څیزونو د مضبوط نیولو فائده بیانوی۔ بیا دا حدیث ماخوذ دے ددے آیت نه ﴿ فمن اتبع هدای فلا یضل ولا یشقی ﴾ [طه :۱۲۳] کما سیاتی۔ مَا تَمَسَّكْتُمْ : منګولے لګول قولاً او عملاً او اعتقاداً۔ كِتَابَ اللهِ وَسُنَّةَ رَسُوْلِهِ : ۱- دا دواړه یا منصوب دی بدل دے دامرین نه۔

۲ - یا مرفوع علی الخبریة دی، مبتداء ئے حذف ده، (ای هما کتاب الله وسنة رسوله)۔

فائده : ددے حدیث نه معلومه شوه چه قرآن او سنت حجت دے، قابل د تمسك دی، پاتے شو داجماع ډیرے دعوے کول هغه حجت نه دے، مګر په بعض اوقاتو کښې لکه ددے تفصیل تیر شویدے۔ او هرڅه اقوال د علماؤ دی، نو هغه بالاتفاق حجت نه دے، صرف دا دوه څیزونه قابل د تمسك دی۔ که هغه اقوال د کتاب او سنت موافق وو، عمل به پرے کولے شی او که موافق نه وو نو پریښودلے به شی۔ ډیر خلق دا وائی چه دا فلانئ مسئله قرآن او حدیث کښې نشته، ددے نقصان ثابتوی چه قرآن او حدیث ناقص دی۔ لیکن دا ډیره ناکاره خبره ده، ځکه چه ستاسو به تجربه وی چه دا اقوالو د علماؤ د پاره خلق دلیل د قرآن او احادیثو نه پیش کوی چه مثلاً امام ابو حنیفهؒ دا خبره کړیده دلیل ورله حدیث کښې ګورو۔ که پیدا شو نو ښه ده او که پیدا نشو نو پاتے به وی۔ او هیڅرے چا دا نه دی کړی چه یو انسان د حدیث منلو د پاره د یو امام قول اوګوری چه که د یو امام قول پیدا شو نو دا حدیث به منو او که پیدا نشو نو نه به ئے منو بلکه اقوال العلماء محتاج دی احادیثو ته، نه بالعکس۔

رواه فی الموطا : د مصنف په دے عبارت کښې هم مسامحه ده ځکه چه په ظاهره دا عبارت صحیح نه ښکاری ولے چه ددے معنی دا جوړیږی چه دا حدیث امام مالك روایت کړیدے دامام مالك نه۔ بلکه مصنف له داسے وئیل پکار وو چه : هکذا فی الموطا ځکه رواه لفظ هغه ځائے استعمالیږی چه سند ذکر کړی او دلته هغه (بلغه) لفظ ذکر کړیدے۔

فائده : الموطا صیغه داسم مفعول ده، په همزے سره دے یا په الف سره، ددے دوه معنی : ۱- یو معنی هغه کتاب چه په هغه باندے اتفاق کړے شویدے۔ امام مالك چه کله دا کتاب اولیکلو علماؤ ته ئے پیش کړو هغوی ورسره موافقت اوکړو، دا په صورت د قرائة الهمزه کښې۔ ۲- دویمه معنی : مُسَهَّل یعنی آسان کړے شوے، نرم کړے شوے، تیار کړے شوے۔ او په دے کتاب سره احادیث آسان کړے شویدی، او دا په صورت د الف لوستلو کښې دے۔

درجة الحدیث : اسناده حسن: اخرجه مالك فی الموطأ (۸۹۹/۲) : دا حدیث د بلاغاتو د امام

مالك نه دے اگرچه دلته معضل حديث دے خو اسناد الحديث متصل دے كما ذكره البيهقي في شعب الايمان والحاكم في صحيحه عن ابي هريرة وقريب من هذا في مسلم (۲/) وللحديث شاهد من حديث ابن عباس باسناد حسن اخرجه الحاكم في المستدرك وصححه الالباني في صحيح الترغيب (۱۰/۱) وله شاهد قوي بلفظ: اني قد تركت فيكم ما ان اخذتم به لن تضلوا كتاب الله وعترتي وسنده صحيح ترمذي (۳۰۸/۲ طبراني (۲۶۸).

۴۷- وَعَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ الثُّمَالِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَا اَحْدَثَ قَوْمٌ بِدْعَةً اِلَّا رُفِعَ مِثْلُهَا مِنَ السُّنَّةِ فَتَمَسُّكٌ بِسُنَّةٍ خَيْرٌ مِنْ اِحْدَاثِ بِدْعَةٍ». رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه : غضيف بن الحارث الثمالي رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : هركله چه يو قوم (دين كښې) څه نوے خبره راوكاږي (يعني بدعت راوباسي) نو دهغے په مثل يو سنت اوچتولے شي نو سنت مضبوط نيول دنوے خبرے (بدعت) راوښكلو نه بهتر دے (احمد).

تعارف د غضيب بن حارث : غضيف تصغير دے بعض په كښې غطيف وائي خو اول قول اصح دے۔دده كنيه ابو اسماء ده، دثماله قبيلے نه دے، دحمص اوسيدونكے دے په صحابي كيدو كښې ئے اختلاف دے۔امام بخاريؒ، ترمذيؒ، طبرانيؒ وغيره علماؤ په نيز صحابي دے، او بعض علماء ورته تابعي وائي۔خو حافظ فرمائي چه غطيف بن الحارث من ثقات التابعين دے،او غضيف بن الحارث صحابي دے۔په بضع وسبعين (۷۷)كښې وفات شويدے۔

تشريح : مَا اَحْدَثَ قَوْمٌ بِدْعَةً اِلَّا رُفِعَ مِثْلُهَا مِنَ السُّنَّةِ : مثليت په كيفيت،كميت اومرتبه كښې مراد دے يعني څومره مقدار چه بدعت پيدا شي په كوم كيفيت چه پيدا شي، څومره مرتبه كښې چه وي، نو هغه هومره سنت طريقه پورته كيږي ځكه دا قانون دے چه جزاء من جنس العمل وي۔ مثل كښې اشاره ده ديته چه بدعت پيدا كولو سره سنت ختميږي نو دارنګه دسنت په قائمولو سره به بدعت ختميږي، ځكه ئے بدعت مثل دسنت اوګرځولو۔

فَتَمَسُّكٌ بِسُنَّةٍ خَيْرٌ مِنْ اِحْدَاثِ بِدْعَةٍ : خير صيغه داسم تفضيل ده په معنى تفضيلي سره دلته نه دے، بلكه په نفس معنى فعلي كښې استعمال دے لكه ﴿ وهو اهون عليه ﴾ يا لكه ﴿وان تصوموا خير لكم﴾ دلته خير په مقابله دشر كښې دے، ددے دا معنى نه ده چه روژے نيسئ نو دا درله ډيره غوره ده او كه نه نيسئ نو دے كښې هم نفس غوره والے شته۔نو دلته معنى داده چه د نبي اكرم ﷺ په سنتو منكولے لګول دا خير او غوره دي د پيدا كولو دبدعت نه، اود بدعت په پيدا كولو كښې شر دے ځكه سنت شته نو بدعت پيدا كولو ته څه ضرورت دے؟ څوك چه دا معنى كوي (كما في حاشية المشكوٰة) چه (فتمسك بسنة صغيرة خير من احداث بدعة كبيرة وان كانت حسنة)۔ يعني، مثلاً بيت

الخلاء ته په سنت طريقه ننوتل دا ډير غوره دی ددې نه چه انسان لوئی بدعتِ حسنه جوړ کړی لکه رباط یا مدرسه وغيره جوړه کړی۔ دا معنی صحیح نه ده ځکه چه بدعت شرعي کښې حسنه نشته، بلکه بدعت سراسر تول سیئه او ضلالت دی، كما مر فی اول هذا الباب۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه احمد (٤/١٠٥) وفی سنده ابو بكر بن عبد الله بن ابی مريم الغنانی وهو ضعيف ۔ليكن ددې شواهد موجود دی عن ابی هريره عند الرافعي وابن مسعود عند الديلمي وابن عباس عند الطبرانی فی الكبير فهو صحيح لشواهده۔

---

٤٨ - وَعَنْ حَسَّانٍ قَالَ: مَا ابْتَدَعَ قَوْمٌ بِدْعَةً فِيْ دِيْنِهِمْ اِلَّا نَزَعَ اللّٰهُ مِثْلَهَا مِنَ السُّنَّةِ ثُمَّ لَا يُعِيْدُهَا اِلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». رواه الدارمی.

ترجمه : حسانؒ فرمائی : هرکله چه یو قوم خپل دین کښې نوې خبره (بدعت) راوکاږی نو الله تعالی دهغه دسنت نه دهغې مثل اوباسی (يعنى هركله چه څه بدعت پيدا کيږی، نو دهغې په مثل سنت دنيا نه اوچتولې شی) او بيا هغه سنت قيامته پورې هغوی ته نه واپس کيږی۔ (دارمی)۔

تعارف د حسان بن عطية المحاربي رحمه الله : كنيه ئې ابو بكر دې دشام دمشق اوسيدونكے دې د ثقات التابعين نه دې، دا هغه مشهور حسان بن ثابت صحابی نه دې۔ حافظ په التقريب (١٥٨) كښې فرمائی : ثقه فقيه عابد، مات بعد العشرين ومائة۔ او دا د خپلے زمانے د افاضلو نه دې۔

دا حديث اثر دتابعي دې۔

تشريح : مَا ابْتَدَعَ قَوْمٌ بِدْعَةً فِيْ دِيْنِهِمْ : ددې نه معلوميږی چه بدعت شرعي يعنى په دين كښې بدعت پيدا كول قبيح دى، نه بدعت لغوى يا للدين كما مر تشريحه۔ مِثْلَهَا : اى فى العدد وفى القدر لا يعيدها : ددې وجه داده چه سنت دا په خپل ځائے كښې ښخ او نال وو، خو كله چه زائل او اونړلے شو نو بيرته هغه شان راواپس كيدل ئې ممكن نه دی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الدارمي (١/٥٨)

---

٤٩ - وَعَنْ اِبْرَاهِيْمَ بْنِ مَيْسَرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ اَعَانَ عَلٰى هَدْمِ الْاِسْلَامِ». رواهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ مُرْسَلًا.

ترجمه : ابراهيم بن ميسرةؒ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چاچه ديو بدعتی تعظيم اوكړو، هغه داسلام (بنياد) غورځولو كښې مدد اوكړو۔(بيهقی)۔

تعارف د ابراهيم بن ميسرة الطائفی دمكے اوسيدونكے دې، ثبت حافظ من صغار التابعين،

شپیته حدیثونه ترې نقل دي، تقریباً (۱۳۲ ھ) کښې وفات شویدے قاله البخاري۔

تشریح : مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ : د بدعتي توقير دا دے چه ځائے ورکړي، مدرسه کښې ئے مدرس کړي، سلام پرے اچوي، امام ئے مقرر کړي ۔ هَدْمِ الْإِسْلَام : دے سره اسلام نړېږي وجه ئے دا ده : ۱ – چه الاسلام کښې الف لام عهدي يا عوضي دي، (اى على هدم اسلام نفسه)، خپل اسلام ئے خراب کړو، ځکه د الله د دشمن احترام ئے اوکړو۔ ۲ – اوکه الف لام استغراقي واخستے شي نو بيا وجه داده چه په توقير او احترام دمبتدع کښې خلق هغه طرفته متوجه کيږي، هغه به لوئى عالم ګنړي، خلق به استدلال کوي، چه دا ښه سړے دے ځکه ورله خلق او فلانے عزت کوي، نو خلق به دهغه نه مسئلے تپوسي، او هغه به غلطے فتوے ورکوي، بدعات به ورته بيانوي، نو خلق به غلط دين زده کړي نو اسلام اونړيدو (ستا هم او دهغه هم) نو په دے کښې منع ده دذرائع نه ځکه چه ته ذريعه داسلام بربادولو اوګرځيدلے۔

درجة الحديث : رواه البيهقي في شعب الايمان مرسلاً ۔ دا روايت اګرچه ضعيف السند دے مرسل دے مګر معنى ئے صحيح ده، داسے اقوال دډيرو صحابوؓ او تابعينوؒ نه نقل دي، كما في الاعتصام للشاطبي وضياء النور ص (۷) نو ددے روايت تصديق په کښې ښکاري۔

۵۰– وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَنْ تَعَلَّمَ كِتَابَ اللهِ ثُمَّ اتَّبَعَ مَا فِيهِ هَدَاهُ اللهُ مِنَ الضَّلَالَةِ فِي الدُّنْيَا وَوَقَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ سُوْءَ الْحِسَابِ. وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: مَنِ اقْتَدٰى بِكِتَابِ اللهِ لَا يَضِلُّ فِي الدُّنْيَا وَلَا يَشْقٰى فِي الْآخِرَةِ، ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ ﴿فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَایَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى﴾. رَوَاهُ رَزِيْنٌ.

ترجمه : ابن عباس ﷺ فرمائي : کوم سړي چه دکتاب الله علم حاصل کړو بيا دهغے څيز پيروي ئے اوکړه چه کتاب الله کښې وي، نو الله تعالى به هغه دنيا کښې دګمراهئ نه لرے کولو سره په هدايت اولګوي (يعنى هغه به دهدايت په لار ثابت قدم لري اود ګمراهئ نه به ئے بچ کړي) اود قيامت په ورځ به هغه دخراب حساب نه بچ کړي (يعنى په هغه به نيوکه نه وي) او يو روايت کښې دي : کوم سړي چه دکتاب الله پيروي اوکړه نه به هغه دنيا کښې ګمراه شي اونه به آخرت کښې بدبخت شي، بيا ئے دا آيت اولوستلو : فمن اتبع الآيه ترجمه : کوم سړي چه زما دهدايت (قرآن) پيروي اوکړه، نه به هغه (دنيا کښې) ګمراه شي اونه به (آخرت کښې) بدبخت شي۔(رزين)۔

تشریح : مَنْ تَعَلَّمَ : دا استنباط من القرآن دے لکه روستو ورته اشاره کوي، په دے حديث کښې د بدبختئ اوګمراهئ نه د بچ کيدو سبب قرآن او حديث ښودلے شويدے۔ مَنِ اقْتَدٰى بِكِتَابِ اللهِ : دے نه معلوميږي چه سعادة الدارين موقوف دے په اقتداء دکتاب الله او اقتداء

دکتاب موقوف دے په معرفة السنة والاقتداء باندے، نو دواړه د يو بل سره متلازمان دی، دوه پائے (خپے) ددين دی، دحديث نه انکار د قرآن نه انکار دے۔

درجة الحديث : رواه رزين واخرجه ابن ابی شيبة (۱۲۰/۶) والحاکم وقال : صحيح الاسناد واقره الذهبی فی التلخيص۔

۵۱- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا صِرَاطًا مُسْتَقِيْمًا وَعَنْ جَنْبَتَيِ الصِّرَاطِ سُوْرَانِ فِيْهِمَا اَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ وَعَلَى الْاَبْوَابِ سُتُوْرٌ مُرْخَاةٌ وَعِنْدَ رَاْسِ الصِّرَاطِ دَاعٍ يَقُوْلُ: اسْتَقِيْمُوْا عَلَى الصِّرَاطِ وَلَا تَعُوْجُوْا وَفَوْقَ ذٰلِكَ دَاعٍ يَدْعُوْ كُلَّمَا هَمَّ عَبْدٌ اَنْ يَفْتَحَ شَيْئًا مِنْ تِلْكَ الْاَبْوَابِ قَالَ: وَيْحَكَ لَا تَفْتَحْهُ فَاِنَّكَ اِنْ تَفْتَحْهُ تَلِجْهُ ثُمَّ فَسَّرَهُ فَاَخْبَرَ: اَنَّ الصِّرَاطَ هُوَ الْاِسْلَامُ وَاَنَّ الْاَبْوَابَ الْمُفَتَّحَةَ مَحَارِمُ اللهِ وَاَنَّ السُّتُوْرَ الْمُرْخَاةَ حُدُوْدُ اللهِ وَاَنَّ الدَّاعِيَ عَلٰى رَاْسِ الصِّرَاطِ هُوَ الْقُرْآنُ وَاَنَّ الدَّاعِيَ مِنْ فَوْقِهٖ هُوَ وَاعِظُ اللهِ فِيْ قَلْبِ كُلِّ مُؤْمِنٍ». رَوَاهُ رَزِيْنٌ وَرَوَاهُ اَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ وَكَذَا التِّرْمِذِيُّ عَنْهُ اِلَّا اَنَّهٗ ذَكَرَ اَخْصَرَ مِنْهُ.

ترجمه : ابن مسعود ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله تعالى يو مثال بيان فرمائيلے دے (هغه دا چه) يوه نيغه لاره ده اودهغے دواړو طرفونو ته ديوالونه دی، هغے ديوالونو کښې پرانستلے دروازے دی، په دروازو پردے پرتے دی، اود لارے په سر يو بلونکے ولاړ دے چه بلنه کوی وائی : په نيغه لار راځئ په غلطه لار مه ځئ، دهغے بلونکی دپاسه (يعنی دهغه نه مخکښې ولاړ) يو دويم بلونکے دے هرکله چه يو بنده دهغے دروازو نه يوه دروازه پرانستل غواړی نو هغه دويم بلونکے وائی : په تا افسوس دے دا مه پرانيزه که ته دا پرانيزے نودے کښې به داخل شے (نو هلته به په سخت تکليف کښې ئے) بيا نبی ﷺ ددے مثال وضاحت اوکړو او وے فرمائيل : نيغے لارے نه مراد اسلام دے (چه دهغے اختيارولو سره جنت ته رسی) او پرانستو لارونه مراد هغه څيزونه دی کوم چه الله تعالى حرام کړيدی (چه دهغے اختيارول د تکميل اسلام خلاف دی) او په دروازو د پرتو پردو نه مراد د الله تعالى قائم کړی حدود دی، او د لارے په سر چه کوم بلونکے ولاړ دے هغے نه مراد د الله قرآن دے او هغه بلونکے چه دده نه بره دے هغے نه مراد يو نصيحت کونکے ملائك دے۔ چه دهر مؤمن زړه کښې دے۔(رزين، احمد) او بيهقی دا روايت شعب الايمان کښې دنواس بن سمعانؓ نه نقل کړيدے اوترمذی هم دهغه نه روايت کړيدے خو ترمذی اختصار سره بيان کړيدے۔

تشريح : ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا : حاصل دمثال دا دے چه يوه نيغه لاره (لکه کوڅه) کښې دوه

دیوالونه وی هغے کښې دروازے وی، پردے پرے پرے رازوړندے وی، اود لارے په سر کښې دوه داعیان (بلونکی) ولاړ وی، یو نزدے دے هغه وائی: نیغ راځئ، وړاندے داعی وائی: اخوا دیخوا مه کیږئ اودا دروازه مه پرانیزئ۔ دا مثال شو، اوس ددے دپاره ممثل پکار دے، نو نبی اکرم ﷺ دهغے مثال بیان کړو چه نیغه لاره اسلام دے، او پرانستے دروازے د الله تعالی محارم (گناهونه) دی، او پردے چه رازوړندے شویدی، هغه حدود الله دی، لکه چا غلا اوکړه لاس به ترے قطع کیږی، زنا بعد الاحصان کښې رجم دے وغیره۔(اوس مونږ ته محارم پرانستی دی او پردے (حدود) پرے نشته، نو ځکه خلق زړور دی په گناهونو باندے، ځوك منع کونکے نشته) اودا هله کیږی چه کله اسلامی حکومتونه وی، ستانه به ئے گناهونه پټ کړی وی، بے غمه بے گناه ژوند به تیروی) دحدود نه مراد زواجر شرعیه دی نه پولے، اوداعی قرآن دے چه دلارے په سر ولاړ دے ،الحمد لله اوس هم دا داعی شته لیکن چه د قرآن درسونه نه وی نو هغه گونگ وی، مونږ هغه داعی چاړا کړیدے مونږ ته به څه دعوت راکړی چه کله مونږ هغه په لاس کښې نه اخلو دهغے په آواز ځان نه پو هه کوو۔ددے داعی گویا کول پکار دی) او هغه لرے داعی چه دقرآن نه مخکښې دے هغه په زړه دمؤمن کښې ایمان دے، یا ملائك مُلهِم دے چه انسان ته الهام دخیر کوی۔لیکن اول بهتر دے چه ایمان انسان ته دخیر دعوت ورکوی۔نو یو داعی قرآن دے بل داعی ایمان دے خو بیا دا ایمان هم د قرآن نه پیدا کیږی چه کله انسان قرآن واخلی دهغے درس کوی، نو ایمان به ئے تازه کیږی، دواړه داعیان وی نو ایمان به مضبوط وی، اوکله چه قرآن نه وی نو دا دویم داعی چه ا یمان دے دابه هم خراب شی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه احمد (۱۸۲/٤) والحاكم (۷۳/۱) وقال : صحيح على شرط مسلم ولا اعرف له علة، ووافقه الذهبي۔وقال الالباني : وهو كما قالا ۔ او ترمذی (۱٤۰/۲) چه ورته غریب وئیلے دے نو هغه ئے صرف خپلے طریقے ته وئیلے دے وهی احدی طریقی المسند۔

۵۲۔ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ : مَنْ كَانَ مُسْتَنًّا، فَلْيَسْتَنَّ بِمَنْ قَدْ مَاتَ فَاِنَّ الْحَيَّ لاَ تُؤْمَنُ عَلَيْهِ الْفِتْنَةُ اُولٰئِكَ اَصْحَابُ مُحَمَّدٍ ﷺ كَانُوْا اَفْضَلَ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَبَرَّهَا قُلُوْبًا وَاَعْمَقَهَا عِلْمًا وَاَقَلَّهَا تَكَلُّفًا اِخْتَارَهُمُ اللّٰهُ لِصُحْبَةِ نَبِيِّهٖ وَلِاَقَامَةِ دِيْنِهٖ فَاعْرِفُوْا لَهُمْ فَضْلَهُمْ وَاتَّبِعُوْهُمْ عَلٰى آثَارِهِمْ وَتَمَسَّكُوْا بِمَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ اَخْلَاقِهِمْ وَسِيَرِهِمْ فَاِنَّهُمْ كَانُوْا عَلَى الْهُدَى الْمُسْتَقِيْمِ. رَوَاهُ رَزِيْنٌ.

ترجمه : ابن مسعودؓ فرمائی : کوم سړے چه دیو بے طریقے پیروی کول غواړی نو هغه له پکار دی چه دهغے خلقو لار اختیار کړی کوم چه مړه شوی دی ځکه چه ژوندے سړے (دین کښې)

دفـتنـې نه محفوظ نه وي، او كوم خلق چه مړه شوي دي (اود هغوي پيروي كول پكار دي) هغه د محمد ﷺ صحابه كرامؓ دي چه ددې امت بهترين خلق وو۔دزړه په اعتبار سره انتهائي نيك، د علـم په اعتبار سره انتهائي كامل، او ډير كم تكلف كونكي وو۔الله تعالى هغوي دخپل نبي د ملگرتيـا اود خپـل ديـن قـائـمـولو دپاره منتخب كړي وو، نو تاسو دهغوئ بزرگي اوپيژنئ او د هغوئ آداب او اخلاق اختيار كړئ ځكه چه هغه خلق دهدايت په نيغه لاره روان وو۔

تشريح : غـرض الـحديث : عبد الله بن مسعود ؓ په دې حديث كښې ترغيب وركوي اتباع دصحابوؓ ته چه اې خلقو ! ددې ژوندو پسې مه ځئ، مړو پسې لاړ شئ (يعنى صحابوؓ پسې) ځكه هغوي گمراه نه وو، په سمه لاړ روان وو، اوپه ژوندو باندې خطره د فتنې شته دې، نو قرآن او سنت اواتباع دصحابوؓاوكړئ۔خو دا اتباع دصحابوؓ په هغه څه كښې ده چه د قرآن او سنت نه خلاف نه وي، په دې كښې تابعداري پكار ده، ځكه دهغوي كار دقرآن او سنت تابعداري وه، هغوي نه دعمل طريقه زده كيږي۔دا هغه مؤمنان دي چه په ﴿ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ كښې ذكر دي۔په دې خبره باندې ذهن خلاصول پكار دي چه څوك اووائي چه هركله قرآن او سنت موجود دي نو بيا دصحابو تابعدارئ ته څه ضرورت دې؟، جواب دادې چه صحابهؓ عملي نمونه دقرآن او حديث ده، نو په قرآن او حديث تر هغه وخته پورې انسان نه پو هيږي چه عملي نمونې ته ئې كتلي نه وي، بلـه دا چه په قرآن او احاديثو كښې دصحابوؓ تابعداري ذكر كيږي لكه (ما انا عليه واصحابي) يا لكه دغه آيت شو۔ وجه داده چه په اسلام باندې عمل په فهم د صحابه كرامو كولې شي، يعنى صحابوؓ چه دقرآن او حديث نه كومه معنى فهم كړيده هم هغه معنى به مراد وي، دهغې موافق بـه عـمـل كـولې شي۔دهغوي نه به ځان نه مخكښې كوئ۔داسې نه ده پكار مثلًا يوځائې كښې لفظ دكفر راغلو صحابوؓ دهغې نه گناه كبيره اخستې ده، اومونږ ورنه خلاف الاولى واخلـو، دا هـم خطـاء ده، داخبره ددې دپاره كوو چه دې وخت كښې بعض جماعتونه لكه جماعة المسلمين په نوم يو تنظيم د قرآن او سنت فهم په خپله طبع كوي، دسلفوؒ فهم ته نه گوري۔

مُسْتَنًّا : صيغه داسم فاعل ده دباب استنان نه، اقتداء او تابعدارئ ته وائي۔ **فَلْيَسْتَنَّ :** په دې كښې ترغيب مُليانو تـه نـه دې وركړې شوې بلكـه دصحابه كرامؓ تابعدارئ ته ئې ترغيب وركړيدې او ددې طريقه ئې هم په آخره كښې ښودلې ده۔

لا تُؤْمَنُ عَلَيْهِ الْفِتْنَةُ: تـومـن صيغـه دمجهول ده۔الفتنة : نائب فاعل يعنى په ژوندي باندې اعتماد نشي كيدې دفتنې او گمراهئ نه، كيدې شي چه هغه گمراه شي او ته به ورپسې روان ئې نو تـه بـه هـم گمراه شې، نو د ژوندي سړي تابعداري داسې مه كوئ چه هغه هرڅه كوي، هغه ته هم كوې، او چه هغه هرڅه اووئيل بس هغه ښه دي، لكه د تنظيمونو او پارټيو والو دا كار دې چه ديو مشر پسې به روان وي چه هغه څه اووئيل هغه دكانړي كرښه گنړي، اوكه هغه په خطاء

وی، نو دهغه دپاره بیا جوابونه او بهانې کوی چه ده داکار په دې وجه او حکمت اوکړو، اوحال داچه هغه په گمراهئ وی۔

اَبَرَّهَا قُلُوْبًا : ډیر نیك زړونو والا وو، اخلاصی زړونو والا وو۔ وَاَعْمَقَهَا عِلْمًا : دهر چانه ډیر ژور علم والا وو، صحابوؓ له الله تعالی ډیر علمونه ورکړی وو، داسې نه ده لکه چه تفتازانی وغیره وائی چه په دقائق دعلم ریاضی باندې په هله آسانه نه پوهیدل۔

وَاَقَلَّهَا تَكَلُّفًا : دهرچا نه په تکلف کښې هم کم وو۔ددین په باب کښې هم دهغوی چون وچرا نه وه یاده، بس لنډه واضحه خبره به ئې کوله، تاویلونه وغیره ئې نه وو زده، نه په کښې مذاهب وو، چه ابو بکرؓ په کښې دا وائی اود نبی ﷺ دا رائې وه۔

۲- او د دنیا په باره کښې ئې هم تکلفات نه کول، لباس ئې ساده وو وضع رفع کښې سادگی او بې تکلفی وه، میلمستوب به ئې ساده وو۔ وَسِيَرِهِمْ : بکسر السین وفتح الیاء جمع د سیرة ده عادت اوخوئی اوطریقې ته وائی كَانُوْا عَلَى الْهُدٰى الْمُسْتَقِيْمِ : ځکه چه دوی د رسول کریم ﷺ اَتباع (تابعدار) وو۔ نو هدی مستقیم اِتباع د رسول الله ﷺ ده، اوڅوك چه د رسول الله ﷺ پسې روان شی هغه په هدایت وی، نو دهدایت والاؤ پسې تګ پکار دې ځکه چه دا زمونږ دپاره داسې دې لکه چوربانی، شونتیئ او لیتکی پشان چه ددې نه به فائده اخلې او مقصود به ډې بل وی، هغې ته به ځان رسوې، نو زمونږ مقصود دمحمد رسول الله ﷺ تابعداری ده نو دعلماؤ نه به رڼړا اخلو داپه منزله دشونتیئ دی، ددې رڼړا نه به فائده اخلو او مقصود ته به پرې ځان رسوو، دا به مقصود نه گرځوو۔ دمقلدینو سره زمونږ په دې خبره ورانه ده چه دوئ همدغه علماء مقصد گرځولی دی که دهغوی نه بالفرض سکاره جوړ شو نو هم دهغوی پسې انبنتی وی اونبی اکرم ﷺ چه مقصود دې هغه (رڼړا) ترې پاتې ده، اوبیا دیوې رڼړا تابعداری کوی، د تولو هم نه، مونږ وایو د تولو رڼړا گانو نه فائده اخله اومقصود ته پرې ځان رسوه۔ پدې حدیث کښې رد دې په مقلدینو چه هغوی دعوت تقلید د علماؤ ته ورکوی چه امام ابوحنیفه یا شافعی پسې روان شئ او عبد الله بن مسعود فرمائی : صحابو پسې روان شئ نو څوك چه تقلید ته دعوت ورکوی هغه ددې جلیل القدر صحابی په ضد روان دې۔

درجة الحديث : اسناده منقطع : رواه رزين واخرج الطبراني في الكبير عن ابن مسعود (اتبعوا ولا تبتدعوا فقد كفيتم) قال الهيثمي رجاله رجال الصحيح۔

۵۳- وَعَنْ جَابِرٍ :اَنَّ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ اَتٰى رَسُوْلَ اللهِ ﷺ بِنُسْخَةٍ مِنَ التَّوْرَاةِ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ ! هٰذِهٖ نُسْخَةٌ مِنَ التَّوْرَاةِ فَسَكَتَ فَجَعَلَ يَقْرَأُ وَوَجْهُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ يَتَغَيَّرُ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ : ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ مَا تَرٰى مَا بِوَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَنَظَرَ عُمَرُ اِلٰى وَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ :

اَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ غَضَبِ اللهِ وَغَضَبِ رَسُوْلِهٖ، رَضِیْنَا بِاللهِ رَبًّا وَبِالْاِسْلَامِ دِیْنًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِیًّا، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «وَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِیَدِهٖ لَوْ بَدَا لَکُمْ مُوْسٰی فَاتَّبَعْتُمُوْهُ وَتَرَکْتُمُوْنِیْ لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِیْلِ وَلَوْ کَانَ مُوْسٰی حَیًّا وَاَدْرَکَ نُبُوَّتِیْ لَاتَّبَعَنِیْ». رواه الدارمی.

ترجمه : جابرؓ نه روایت دے چه یو ځل عمر بن خطاب ﷺ رسول الله ﷺ ته دتورات یوه نسخه راوړله او عرض ئے اوکړو، یارسول الله ! دا د تورات نسخه ده، نبی ﷺ خاموش وو، بیا عمر ﷺ تورات لوستل شروع کړل، اخوا (دغصے نه) درسول الله ﷺ مخ مبارك متغیر کیدلو (دے لیدو سره) ابو بکر ﷺ اووئیل : اے عمر ! ورك کونکے ښځے دِے تا ورك کړی، آیا ته درسول الله ﷺ مخ مبارك (متغیر کیدونکے) نه وینے ! عمر ﷺ (دنبی ﷺ په مخ مبارك دغصے آثار لیدو سره) اووئیل : زه د الله دغضب نه او دهغه درسول دغصے نه پناه غواړم، مونږ دالله په رب کیدو، داسلام په دین کیدو اود محمد ﷺ په نبی کیدو راضی یو۔ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : قسم دے په هغه ذات چه دهغه په لاس کښ دمحمد (ﷺ) ساه ده، که موسی (علیه السلام) ستاسو مینځ کښ راښکاره شوے وے، او تاسو دهغه پیروی کړے وے او زه مو پریښے وے (نو ددے په نتیجه کښ به تاسو دنیغے لارے نه گمراه شوی وے، حالانکه که موسی (علیه السلام) ژوندے وے او زما د پیغمبری زمانه ئے موندلے وے نو هغه به هم (یقیناً) زما تابعداری کولے۔(دارمی)۔

تشریح : بِنُسْخَةٍ مِنَ التَّوْرَاةِ : نسخه لیکلے شوی کتاب ته وائی۔

فائده : آیا په تورات کښ د نبی اکرم ﷺ په زمانه کښ تحریف شویدے اوکه نه ؟

۱ – د ابن عباسؓ دا رائے وه چه تورات غیر محرف کتاب دے اویهودو تحریف معنوی کړیدے۔ صحیح البخاری (۲/) بشرح الفتح (۵/ ٤ ۵ ۰) کښ دی چه هغه به فرمائیل : د الله کتاب کښ تحریف لفظی نشی کیدے۔ ولیس احد یزیل لفظ کتاب الله من کتب الله عز وجل ولکنهم یحرفونه : یتاولونه علی غیر تاویله (بخاری کتاب التوحید) وکذا فی البدایة والنهایة لابن کثیر (۱/ ۱۳۷)

۲– لیکن صحیح خبره دا ده چه ابن عباسؓ ته ددے نسبت ضعیف دے، وجه دضعف دا ده چه د بخاری په عبارت کښ دوه احتماله دی۔یو دا چه دا الفاظ دابن عباسؓ دی۔ ۲ – دویم دا چه دا الفاظ د بخاری دی، خو روستو دابن عباس د قول سره ئے لګولی دی۔اود ابن عباسؓ خپل الفاظ صرف د (مایلفظ من قول) ترجمه په یکتب الخیر والشر سره کړیده (الفتح)۔ او ابن کثیر اول احتمال غوره کړے دے۔ هغه فرمائی : هذا هو المذهب وهو القول بان التبدیل انما وقع فی معانیها لا فی الفاظها واقر علیه ولم یرده وحکاه العلامة الرازی فی تفسیره عن اکثر المتکلمین (۱/ ۱۳۷) (یعنی یو مذهب دا دے چه تبدیل صرف په معنی کښ واقع شویدے نه په الفاظو کښ او ددے مذهب ئے رد نه دے کړے او دا مذهب

علامه رازی په تفسیر کبیر کښې د اکثر متکلمینو نه نقل کړیدے) لیکن ابن کثیر پخپله په (۱/۳۲۲)
کښې دابن عباسؓ او ابن مسعودؓ قول ذکر کوی چه دا خلق د اهل کتابونه څنګه تپوسونه کوی حال
دا چه ستاسو قرآن کښې هیڅ ګډون نشته او الله تا سو ته فرمائیلی دی چه (ان اهل الکتاب بدلوا کتاب اللّٰه
وغیروه و کتبوا بایدیهم الکتاب وقالوا من عند اللّٰه الخ) یعنی الله فرمائی : هغوی د الله کتاب کښې تغییر او
تبدیل کړے دے او په خپل لاس به ئے کتاب اولیکلو او بیا به ئے وئیل دا د الله د طرفنه دے۔

۲- **قول دجمهورو** دے چه هر قسم تحریف د الله په کتاب کښې خلقو کړیدے لفظی وی که
معنوی۔ ۳ - دریم تحقیقی قول دادے چه تحریف په تورات کښې شویدے خو دا لازمه نه ده چه
په هره نسخه دتورات کښې تحریف شوے وی، داسے کیدے شی چه روغه نسخه دتورات په
مکتبو کښې یا دیهودو سره موجوده وی چه تحریف نه محفوظه وی۔

او مشهورو نسخو کښې تحریف موجود دے، اګرکه ټول محرّف نه دے خو بعض مواضع په
کښې محرف دی۔ دا وجه ده چه د نبی اکرم ﷺ په زمانه کښې دا کتاب راخستے کیدو او نبی ﷺ
به دیهودو نه راغوختلو ﴿ قل فاتوا بالتوراة ﴾ او نبی اکرم ﷺ به فرمائیل : دا د الله کتاب دے هغه
ورته دالله کتاب فرمائیلے دے، او دے حدیث کښې ئے هم ورته داسے اونه فرمائیل چه لرے کړه دا محرف
کتاب دے، بلکه دبلے وجے نه ئے غصه کړیده۔ او هغه دا چه د رسول الله ﷺ د راتګ نه پس پخوانی
دینونه منسوخ شو نو که د نبی په مخامخ څوك هغه لولی نو دا به سنت تقریری جوړ شی خلق به
بیا تورات او انجیل لولی نو قرآن به ترے پاتے شی او په منسوخ دین به عمل شروع شی۔

فَقَالَ اَبُوْبَكْر: دا په مزاج د نبی اکرم ﷺ پو هه شو۔ ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ : جمع د ثاکل او ثاکلة ده
یعنی میندے اوخویندے او لونړه دِے درباندے بورے شی۔ تا دِے ورك کړی، نه دِے مړ شے) دا د
عربو عادتی خبرے دی، حقیقت ئے مراد نه وی۔ وَغَضَبِ رَسُوْلِهٖ : ځکه چه د نبی ﷺ دغضب
دوجے نه الله په غضب کیږی، الله لره هم غضب شته او رسول الله ﷺ له هم شته لیکن د هر
یو غضب دخپل شان مطابق دے۔

رَضِيْنَا بِاللّٰهِ رَبًّا : دا ئے عذر اوکړو، ددے نه معلومیږی چه د نبی اکرم ﷺ په زمانه کښې تورات
لوستل صحیح نه وو، ځکه دهغے نه بیا سنت تقریری جوړیدو، که چرے نبی ﷺ پرے سکوت
اوفرمائی۔ بیا به دا هرڅوك لولی نو خلق به تورات ته متوجه شی، قرآن به پاتے شی۔ او روستو د
وفات درسول الله ﷺ نه د (حدثوا عن بنی اسرائیل ولا حرج) دوجے نه علماؤ تورات کتلے دے ځکه
سنت تقریری ترے اوس نه جوړیږی۔ لیکن عوامو له ئے کتل نه دی پکار هسے نه چه دهغے محبت ئے
زړه کښې دیر واقع شی چه ددے وجے نه قرآن پرے نړدی، نو دعلماؤ دپاره ئے د رد داهل الکتاب دپاره
کتل جواز لری، په دے شرط چه کتاب او سنت باندے به ئے نه غالب کوی چه هره ورځ ئے ګوری۔

لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيْلِ : دا صریح دے په دے خبره چه دپخوانو انبیاؤ په اعمالو به انسان

استدلال نه کوی، چه یره موسی علیه السلام چله په غره کښې ویستلی ده مونږ ئے هم اویاسو، دابه جائز نه وی ځکه زمونږ نبی ﷺ دا کار نه دے کړے، د پخوانو پیغمبرانو علیهم السلام په اعمالو به هله استدلال جائز وی چه زمونږ شریعت ئے رانقل کړی اورد پرے اونه کړی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه الدارمي ص (٩٥) واخرجه ايضا ابن حبان في صحيحه باسناد صحيح ورواه احمد باسناد حسن كما في تعليق سنن الدارمي

٥٤- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ((كَلَامِيْ لَايَنْسَخُ كَلَامَ اللهِ وَكَلَامُ اللهِ يَنْسَخُ كَلَامِيْ وَكَلَامُ اللهِ يَنْسَخُ بَعْضُهُ بَعْضًا)).

ترجمه : او جابر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : زما کلام، کلام الله نه منسوخ کوی، او کلام الله زما کلام منسوخ کوی، اود کلام الله بعضے حصه بعضے منسوخ کوی۔

درجة الحديث : اسناده موضوع : رواه الدارقطني في السنن (١٤٥/٤) باسناد ضعيف فيه محمد بن داؤد القنطري قال الذهبي في ميزان الاعتدال : حدث بحديثين باطلين الاول هذا الحديث والثاني ابو بكر وعمر خير الاولين ـ الحديث، وكلاهما موضوع ـ انتهى۔

٥٥- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ((اِنَّ اَحَادِيْثَنَا يَنْسَخُ بَعْضُهَا بَعْضًا كَنَسْخِ الْقُرْآنِ)).

ترجمه : ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : زمونږ بعضے احادیث بعضے نورو لره داسے منسوخ کوی څنګه چه (دقرآن بعضے حصه) قرآن منسوخ کوی۔

تشريح : د نسخ لغوی او اصطلاحی تعریف :

نسخ په لغت کښې ازاله او رفع ته وائی (يقال : نسخت الشمس الظل اذا ازالته) ـ (وئیلے شی نسخت الشمس الظل یعنی نمر سوری لره زائل کړو) او اصطلاح دشریعت کښې نسخ عبارت دے د: (ازالة حكم شرعي سابق بناسخ متاخر عنه مساوٍ له او اقوى منه) ـ (مخکنی حکم شرعی زائل کول په یو ناسخ حکم سره چه روستو وی، برابره ده مساوی ورسره او که قوی وی د هغے نه) اود متقدمینو په نیز تقیید المطلق او اطلاق المقيد نسخ ده، او دغه شان تخصیص د عام او تخفیف هم نسخ ده د دوی په نیز۔

بنه تعریف ئے دا دے (بيان مدة انتهاء الحكم العملي الجامع للشروط) یعنے دعملی حکم د ختمیدلو موده بیانولو ته نسخ وائی) كذا قاله الشيخ رحمة الله الكيرانوى في اظهار الحق (٥٠٩/٢) وجه دښه والی داده چه نسخ صرف په احکام عملیو کښې راتلے شی په قصص او امور قطعیه و کښے نشی راتلے لکه وجود د الله دارنګه امور حسیه و کښے هم نشی راتلے لکه ضوء

النهار او ظلمة اللیل (رنړا د ورځ او تیاره د شپې) او نه په دعاګانو او نه په هغه امورو باندې چه په اعتبار دذات سره په انسان لازم وي لکه (آمنوا ، ولاتشرکوا)، دارنګه په هغه احکامو کښې هم نشي راتلې چه هغه مؤید او همیشه وي ولکه ﴿ ولا تقبلوا لهم شهادةً ابداً ﴾ او نه په هغه احکامو کښې چه هغه موقت وي په وقت معین سره نو قبل الوقت المعین نسخ نشي راتلې لکه ﴿ فاعفوا واصفحوا حتی یاتی الله بامره ﴾ - بلکه نسخ صرف په هغه احکامو کښې راځي چه عملي وي او احتمال د وجود او عدم لري غیر مؤقت او غیر مؤید وي چه دیته احکام مطلقه وائي۔ **بیا** د نسخ دا معنی نه ده چه الله اول امر او نهي او کړي او عاقبت ئې ورته نه وي معلوم او بیا روستو ورته یوه رایه معلومه شي نو اول حکم منسوخ کړي تردې چه جهل لازم شي بلکه د نسخ معنی داده چه الله تعالی ته دا معلومه ده چه داحکم به باقي وي په مکلفینو باندې د فلانی وقت پورې او بیا به منسوخ کیږي نو کله چه هغه فلانې وقت راشي نو بل حکم رااولیږي چه دهغې نه نقصان او یا زیادت ښکاره شي یا بالکل رفع کیدل معلوم شي نو دا په حقیقت کښې بیان دختمیدلو داول حکم دې لیکن چونکه مونږ ته هغه وقت نه وو ذکر شوې نو کله چه دویم حکم راشي نو زمونږ دا خیال راشي چه ګنې حکم بدل شو ددې مثال بلاتشبیه داسې دې چه ته یو خادم ته یو حکم اوکړې چه دا کار به کوې او ستا نیت کښې داوي چه دا به یو کال پورې خدمت کوي او کال پس به بل خدمت ورته حواله کوم لیکن تا هغه ته دا نیت ندې ښکاره کړې نو کله چه کال راشي ته دا په بل کار اولګوې نو دا په ظاهر کښې دخادم په نیز او دهر چا په نیز تغییر دې لیکن درحقیقت دا تغییر نه دې دارنګه لکه څنګه چه په موسمونو بدلیدو کښې حکمتونه او مصلحتونه دي په ورځ او شپه بدلولو کښې حکمتونه دي، دخلقو په حالاتو بدلولو کښې دصحت او مرض او فقر او مالدارئ کښې حکمتونه دي کله به مونږ ته ښکاري کله نه ، نو دغه شان په احکام شرعیه بدلولو کښې هم مصلحتونه دي په نظر سره حال دمکلفین او زمانې او مکان سره ۔

او ددې مثال د یو هوښیار طبیب دې چه حالت دمریض نه خبروي چه نن ورله دا دوائي ښه ده صبا له چه مرض زیات شو بله دوائي ورکوي نو دې طبیب ته خلق دعقلمندئ نسبت کوي نه دجهالت نو د الله د حکم په باره کښې څنګه دا خیال اوکړې شي چه العیاذ بالله هغه ددې کارونو په عاقبت خبردار نه دې۔

شروط النسخ : د نسخ دپاره دا شرط دې چه ۱- زمانه به یوه نه وي چه په یو وخت کښې ناسخ او منسوخ دواړه حکمونه راشي، دانشي کیدې۔ ۲- دارنګه جهت دنسخ به یو نه وي بلکه ناسخ به دیو جهت نه وي او منسوخ حکم به دبل جهت نه وي۔ ۳ - مکلف به یو نه وي خودا شرط لازمي نه دې بلکه کله په یو مکلف باندې دناسخ او منسوخ دواړه حکمونه راتلې شي۔

فوائد النسخ : په علم التفسیر کښې دنسخ ډیر فوائد بیانیږي بعض دهغې نه دا دي :

۱- عموم علم الله تعالی : چه الله ته هره زمانه او دانسانانو احوال معلوم دي ځکه ورته په

يو وخت كښې يو شان حکم کوي چه د هغوي دحال او وسع موافق وي او په بل وخت کښې ورته بل حکم کوي تول حکمونه په ابتدائي دور کښې نه کوي بلکه علی حسب الحکمة دموقع او وخت او دحال مناسب حکم راليږي لکه پدې باندې د شرابو دريې درجو سره حرامیدل دلالت کوي۔ ٢- **قدرة الله التامة** : الله پدې قادر دې چه خپل راليږلې حکم منسوخ کړي او هغه د هيچا نه شرم نه محسوس کوي په خلاف دانسانانو نه چه هغه مخکښې يوه خبره اوکړي هغه بيرته نشي ماتولې ځکه دا پدې کار قادر نه دې شرم محسوس کوي دپيغور نه يريږي۔

٣- **الترحم على العباد** : چه ټول احکام ورته په يکدم نه متوجه کوي بلکه په ابتداء داسلام کښې دانسانانو دطبعيتونو او عادتونو مطابق وخت په وخت احکام راليږل۔

٤- **کمال المالکية** : الله مالك دې دانسانانو او انسانان د هغه غلامان دي غلام په مالك باندې دا اعتراض نشي کولې چه دا حکم راته ولې کوې اودا بل راته ولې کوې بلکه مالك خپل غلام په يو وخت کښې په يو کار لګوي په بل وخت کښې په بل کار لګوي د يو حکمت په وجه نو دانسانانو حق نشته چه په الله باندې اعتراض اوکړي چه هغه ولې نسخ کوي لکه يهود او نصارئ دا اعتراض کوي دا فوائد د (ماننسخ من آية) او (الم تعلم ان الله على كل شئ قدير الم تعلم ان الله له ملك السموات والارض) آيتونو نه مستنبط شويدي۔ وبالله التوفيق۔

صور النسخ : څه اتفاقي دي او څه اختلافي۔ دنسخ دپاره څو صورتونه دي :

١- **نسخ القرآن بالقرآن**۔ په دې کښې د هيچا اختلاف نشته، سيوا دمعتزله نه۔

٢- **نسخ الحديث المتواتر** بالحديث المتواتر، والآحاد بالآحاد، دا هم جائز ده۔

٣ - **نسخ د حديث** په کتاب الله سره ، لکه نسخ د توجه بيت المقدس ته سنت ثابته وه او قرآن منسوخ کړه۔ دغه شان ﴿ احل لكم ليلة الصيام الرفث ﴾ [البقرة: ١٨٧] (د روژو په شپه کښې تحريم دمباشرت په سنت سره راغلې وو، او په قرآن سره منسوخ شو۔ يا لکه فديه اخستل دأسارئ د بدر نه په حديث سره اوشو، او قرآن سره منسوخ شوه چه کفار قتلول پکار دي۔ په دې مسئله کښې بيا تفصيل شته دې۔ ٤- **نسخ د قرآن** او سنت متواتره په خبر واحد صحيح سره۔ دا عند الاحناف نا جائز دې، ځکه د دوئ په نيز خبر واحد ظني دې او کتاب قطعي دې، او ظني ناسخ نشي جوړيدلې دپاره د قطعي، البته دوئ نسخ دکتاب الله په خبر مشهور او متواتر سره جائز ګڼړي۔ **او جمهور علماء** فرمائي : چه خبر واحد صحيح باندې هم نسخ دکتاب الله جائز ده، ځکه چه دا کله صحيح ثابت شي نو دا قطعي دې، نه ظني، خصوصاً چه کله محتف بالقرائن وي، لکه مکانة الصحيحين، وکتاب الاحکام لابن حزم، والباعث الحثيث) اوګوره او دا بحث په اول حديث ددې کتاب کښې تير شو)۔ دارنګه دوام دحکم دکتاب الله هم ظني دې چه آيا ترقيامته پورې به دا حکم وي او که نه منسوخ کيږي به، خودا په زمانه د نبي ﷺ کښې وو، نو په

خبر واحد بانديے دغه ظني منسوخ كيدےشي ځكه مساوات راغلو چه ظني عندكم ناسخ دحكم ظني شو، اگرچه دلالت دحكم دكتاب الله قطعي دے۔او هرچه ددے مثال دے نو (لاوصية لوارث) حديث خبر واحد ناسخ ددے آيت دے چه ﴿ كتب عليكم اذا حضرا حدكم الموت ان ترك خيرا الوصية للوالدين ﴾ [البقرة:۱۸۰] او هرچه مسئله د زيادت دخبر واحد ده په كتاب الله بانديے، نو هغه جدا مسئله ده، مخكښ تيره شويده۔اوكه بالفرض دا حديث ثابت هم شي نو مراد دادے چه كلامي يعني هغه كلام چه په اجتهاد سره مانه صادر شوے وي، نه په وحي سره هغه نسخ نه راولي۔يعني زما اجتهادي خبره نسخ د قرآن نه راولي۔خو اصح داده چه دا دواړه حديثونه ضعيف جداً دي۔

درجة الحديث : اسناده موضوع او ضعيف جداً : رواه الدارقطني (۱۸٤/٤) والديلمي باسناد ضعيف فيه محمد بن الحارث بن زياد بن الربيع عن محمد بن عبد الرحمن بن البيلماني و كلاهما ضعيفان قال ابن معين : ابن الحارث ليس بشيئ وقال الفلاس : يروى عن البيلماني احاديث منكرةً وهو متروك الحديث قال ابن حبان : حدث عن ابيه شبيهاً بمأتي حديث كلها موضوعة۔

۵۶- وَعَنْ اَبِیْ ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«اِنَّ اللهَ فَرَضَ فَرَائِضَ فَلَا تُضَيِّعُوْهَا وَحَرَّمَ حُرُمَاتٍ فَلَا تَنْتَهِكُوْهَا وَحَدَّ حُدُوْدًا فَلَا تَعْتَدُوْهَا وَسَكَتَ عَنْ اَشْيَاءَ مِنْ غَيْرِ نِسْيَانٍ فَلَا تَبْحَثُوْا عَنْهَا»، رَوَى الْاَحَادِيْثَ الثَّلٰثَةَ الدَّارِقُطْنِيُّ.

ترجمه : ابو ثعلبه خشني ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله تعالى څه فرائض فرض كړيدي نو تاسو هغه مه ضائع كوئ (يعني هغه مه پريدئ، دهغے شرائط او اركان مه ترك كوئ يا دا چه هغه فرائضو كښ نمائش او ريا او شك شبهه او غرور اوتكبر مه كوئ) اوڅه څيزونه الله تعالىٰ حرام كړي دي (يعني دهغے كول ئے گناه گرځولے ده) نو تاسو هغے ته نږدے مه ورځئ، او څو حدود ئے مقرر كړيدي (مثلًا قصاص وغيره) نو تاسو هغے نه تجاوز مه كوئ (يعني هغے كښ دخپل طرفنه كمے زياتے مه كوئ) اود څو څيزونو باره كښ ئے په غير دهيرے نه (بلكه قصداً) سكوت فرمائيلے دے (يعني څو څيزونه داسے دي چه هغے باره كښ وضاحت نه دے شوے چه هغه حرام دي يا حلال) نو هغے څيزونوكښ تاسو (دخپل طرفنه) بحث مه كوئ۔مذكوره درے واړه حديثونه دارقطني روايت كړيدي۔

تعارف دابو ثعلبه ﷺ : دا مشهور صحابي دے چه په كنيه سره مشهور دے، دخشين قبيلے نه دے چه دا يوه وړه قبيله ده په قضاعه قبيله كښ، دده په خپل نوم كښ ډير اختلاف دے (انظر الاصابة والتقريب) اودا دهغه صحابو نه دے چه بيعة تحت الشجره كښ شامل وو۔

دعلي لو معاويه رضي الله عنهما په قتال کښ په دواړو کښ د هيچا ملګرتيا ئے نه ده کړے۔ اودے نبي اکرم ﷺ خپل قوم ته اوليګلو، هغوی تولو ايمان راوړو۔شام کښ اوسيدلو۔احاديث منقوله دده نه (۴۰) روايات دی۔ دسجدے په حالت کښ په سنه (۷۵ھ) کښ وفات شويدے۔

تشريح : إِنَّ اللهَ فَرَضَ فَرَائِضَ : يعني مقرر کړيدی الله تعالی پتاسو فرضونه، يعني احکام لکه مونځ، روژه، زکوة وغيره۔فرائض : جمع دفريضة ده په معنی دمَفْرُوضَة سره فرض کړے شوی حکم ته وائی، اوتاء په کښ دنقل الوصفية عن الاسمية ده۔حرمات : بعض دعزت څيزونه لکه دمور اوخور سره نکاح کول، پردئ زنانه، پردے مال۔

فَلَا تَنْتَهِكُوهَا : انتهاك اصل کښ ديته وائي چه ديو شئ نه پرده لرے کړے شی يعنی دا مه بے پردے کوئ، بے عزتی ئے مه کوئ۔حد حدوداً : څه حدود او پُلے ئے ايښے دی لکه څلورو ښځو نه زيات مه کوئ۔حد په لغت کښ منع او فصل بين الشيئين ته وائي يعني پوله۔

اود فقهاؤ په اصطلاح کښ دحدودو درے معانی دی : ۱- **المحارم** والمعاصی (حرام څيزونه او ګناهونه) لکه ﴿ تلك حدود الله فلا تقربوها ﴾ [البقره : ۱۸۷] آيت کښ دا معنی مراد ده۔ ۲- **العقوبات** : هغه سزاګانے چه خلق منع کوی دارتکاب المحارم والمعاصی (کولو د حرامو او ګناهونو) نه، لکه وئيلے شی : حد الزنا، حد السرقة۔۳- هغه احکامو ته هم حدود وائی چه دهغے دکولو اجازت شريعت ورکړے وی برابره خبره ده که په طريقے دوجوب سره وی، يا ندب اواباحت سره لکه په دے آيت ﴿ تلك حدود الله فلا تعتدوها ﴾ [البقره : ۲۲۹] کښ دا معنی مراد ده۔تجاوز د احکامو نه دادے چه د الله داجازت نه په کښ زيادت اوکړے شی چه ارتکاب دمنهی عنه اوشی۔ دالله دپولے نه تيروتل عدوان دے۔

ددے حدود نه مراد لکه په نکاح کښ څلور ښځے مقرر کړيدی، په صحبت کښ خاص ځائے مقرر کړيدے، د ښځے او خاوند دجدائی صحيح طريقه طلاق ئے مقرر کړيدی، نه درے طلاقه په يو ځائے ورکول يا درے نه زيات ورکول۔دلته دريمه معنی مراد ده۔ فَلَا تَبْحَثُوا عَنْهَا : يعنی دهغے په باره کښ دا بحث مه کوئ چه دا حلال دی که حرام، بلکه هغه استعمالوئ، دبحث نه مراد دا دے چه هغه ستاسو دپاره مباح دی بحث ته ضرورت نشته، دامطلب نه دے چه بحث مه کوئ يعنی ګوتے مه وروړئ، په اتفاق دعلماؤ سره دا معنی نه ده مراد، بلکه اباحت مراد دے۔

او په دے بحث منهی عنه کښ دمجتهدينو بحث کول په معرفت داحکامو شرعيو کښ اوصحيح قياس کول او دلالات النصوص معلومول نه دی داخل بلکه دا کار دمجتهد دپاره ضروری دے، ددے نه منع نشته۔

دا حديث هم دليل دے په دے مسئله چه اصل په اشياؤ کښ اباحت دے عام څيزونه چه په دنيا کښ دی هغه استعمالوه، هغه پاك دی حلال دی، ترڅو چه هغه په حرامو کښ نه وی داخل

شوی۔ عامے جامے لباسونه، کسبونه، خوراکی مواد، غرونو کښې ګیاګانے حیوانات مارغان په دے تولو کښې اصل اباحت دے ترڅو چه په دے څیزونو کښې منع نه وی راغلے ددے استعمالول جائز دی۔ ددے مسئلے تفصیل مخکښې تیر شویدے۔دا ډیره مفیده قاعده ده دمفتی اوعالم دپاره او څوك چه د دلیل تابع وی هغه له دا قاعده فائده ورکوی، چه دډیرو څیزونو باره کښې تاته تپوس اوشی چه آیا داسے تویږئ، جامے نبی ﷺ اغوستی دی، نو ته به ورته جواب اوکړے په دے قاعده چه حرمت ئے نه وی راغلے هغه تول حلال دی، اودا قاعده قرآن اوسنت اینبے ده۔

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه الدارقطني (٤/١٨٣، ١٨٤)و في اسناده انقطاع بين مكحول وابى ثعلبة الا ان الامام النووى حسنه في اربعينه و ابوبكر السمعاني في اماليه وفي معناه حديث ابى الدرداء كما في مسند البزار والحاكم، قال البزار : اسناده صالح : وقال الحاكم : صحيح الاسناد ۔وقال ابن رجب في جامع العلوم والحكم (٢/١٥٠) هذا الحديث من رواية مكحول عن ابى ثعلبة الخشني وله علتان : احداهما : ان مكحولاً لم يصح له السماع عن ابى ثعلبة كذلك قال ابو مسهر الدمشقي وابو نعيم الحافظ وغيرهما ۔والثانية : انه اختلف في رفعه ووقفه على ابى ثعلبة ، لكن قال الدارقطني : الاشبه بالصواب المرفوع ۔قال : وهو الاشهر وقد روى معنى هذا الحديث مرفوعاً من وجوه اخر خرجه البزار في مسنده من حديث ابى الدرداء ثم ذكره ۔وقال في تعليق المطالب العالية (٧٢/٣) : قال الهيثمي (١/١٧١) : رواه الطبراني ورجاله رجال الصحيح آه ۔فالحديث بحمد الله حسن او صحيح۔



كتاب العلم

په دے كتاب كښې به فضائل دعلم او تعليم، فضائل دعلماؤ او طلاب العلم بيانوى۔ دلته دوه بحثونه دى: ۱- مناسبت ددے كتاب دما قبل سره۔ ۲- تعريف دعلم۔

مناسبت خو دا دے چه هركله ترغيب وركړے شو اتباع دكتاب او سنت ته، نو اتباع او عمل فرع دعلم دى، نو اوس علم بيانوى۔ او كتاب العلم ئے مقدم نه كړو په كتاب الايمان باندے ځكه ايمان اجمالى مقدم دے په علم باندے (لان الايمان اول واجب على المكلف)۔ (ځكه ايمان اول واجب دے په مكلف باندے) دے وجے نه حديث كښې دى: (تعلمنا الايمان ثم تعلمنا القرآن)۔ (اول مونږ ايمان زده كړو بيا قرآنُ) بيا ددے نه روستو كتاب الصلاة وغيره راوړى ځكه اتباع دكتاب او سنت به په احكامو كښې وى اودا علم غواړى، نو كتاب العلم ئے دكتاب الصلاة نه ځكه مقدم راوړو۔

۲- **دويم بحث**: **تعريف العلم**: علم په لغت كښې دانستن (پوهے) ته وائى، او په اصطلاح د مناطقو كښې: ۱- ادراك الصورة الحاصلة في الذهن۔ (ذهن كښې يو صورت حاصلول) ۲- حصول صورة الشئ في العقل۔ ۳- الحاضر عند المدرك۔ (ذهن كښې چه كوم شے حاضر شى)۔ ٤- الحاله الانجلائية (د يو شى د حاصلولو په وجه چه ذهن كښې كومه رنړا راځى هغے ته علم وائى) تقريباً دولس تعريفات دى۔ ليكن دا تعريفونه شرعى نه دى، ځكه سحر، نجوم، موسيقى وغيره په كښې داخليږى چه دا شرعى علوم نه دى، بلكه دلته تعريف دعلم شرعى كيږى ځكه فضائل ددے علم راغلى دى۔ نو ددے مناسبت سره **علمونه درے قسمه دى**: ۱- يو العلم الممدوح على الاطلاق، لكه علم دقرآن اود سنت۔ ۲- العلم المذموم على الاطلاق، لكه علم دسحر، نجوم، موسيقى وغيره علوم دكفارو لكه ديته اشاره ده په دے آيت كښې ﴿ ويتعلمون ما يضرهم ولا ينفعهم ﴾ [البقره: ۱۰۲]، او هغه علمونه چه عقيده خرابوى لكه علم كلام، فلسفه اومنطق كله چه پرے انسان عقيده لړى، او د رد دپاره زده كول ئے جائز دى۔

۳- **ممدوح في حالٍ**، ومذموم في حالٍ (يو حال كښې مذموم وى او په بعض احوالو كښې ممدوح وى)، لكه علم الصناعات كالحياكة والخياطة (لكه علم كاريگرى او كاروبار لكه جولاگرى، درزى توب وغيره)۔ اودلته فضائل دعلم ممدوح على الاطلاق بيانيږى۔ ددے وجے نه نبى اكرم ﷺ خپل علم كم گڼړلے دے په امورو دنيويه كښې لكه مخكښې تير شويدى په حديث د تابير النخل كښې (انتم اعلم بامور دنياكم) نو دداسے علم په تعريف كښې تعابير دى چه رجع ئے يو څيز ته كيږى: ۱- كتاب الجامع لطلب العلم الشريف ص (۱۵) كښې داسے **تعريف** كوى: (هو

العلم المنزل من السماء الى الارض الموحىٰ من الله تعالى الى نبيه ﷺ من الكتاب والسنة ثم ما يتفرع عليهما من العلوم الشرعية)۔(دا هغه علم دے چه د آسمان نه زمکے ته نازل شوے دے اود الله د طرفنه ئے وحي شوے ده خپل نبي ته په صورت د كتاب او سنت كښ او هغه چه ددے دواړو نه كوم علوم شرعيه راوتي دي)۔ ٢- **حافظ** فرمائي : (ثم المراد من العلم العلم الشرعي الذي يفيد معرفة ما يجب على المكلف من امر دينه في عبادته ومعاملاته والعلم بالله وصفاته وما يجب من القيام بامره وتنزيهه عن النقائص ومدار ذلك على التفسير والحديث والفقه) – (فتح الباري : ١/١٤١) ۔ (مراد د علم نه شرعي علم دے هغه چه په هغے سره پيژندلے شي هغه شے چه واجب وي په مكلف باندے د كارونو د دين نه په عبادات او معاملاتو كښ او علم په الله او د هغه په صفاتو او د هغه د اوامرو او د هغه ځيزونو علم چه په هغے سره د الله صفائي بيانولے شي د نقصانونو نه او ددے علم دارومدار په تفسير، حديث او فقه دے)۔

٣- **امام مالك** فرمائي : (ليس العلم بكثرة المسائل ولا بكثرة الروايات، انما العلم نور يقذفه الله في قلب العبد المؤمن) يعني علم ديته نه وائي چه انسان ته ډير مسائل او روايات معلوم شي بلكه علم شرعي نور اورنړا ده چه الله تعالى ئے دمؤمن په زړه كښ اچوي چه دے سره ضرر او نفع، خير اوشر اوپيژني، اوبيا به ورسره عمل كوي، عمل ورسره مراد دے اگرچه ذكر نه دے، نودا هم لگ ناقص دے۔دا وجه ده چه كافر ته عالم شرعي نشي وئيلے بلكه مُلا ورته وئيلے شي (جامع بيان العلم وفضله)۔

٤- **عبد الله بن مسعود** ﷺ فرمائي : (كفى بخشية الله علماً) كوم انسان كښ چه خشيت وي دالله نه، هغه عالم دے (وكفى بالاغترار بالله جهلاً) كوم شخص چه په الله باندے دهوكه شو هغه پوره جاهل دے (شعب الايمان للبيهقي : ١/٤٧٢) او ابن مسعود دا هم فرمائيلي دي : رأس الحكمة مخافة الله۔ (د ټولو علمونو او حكمتونو سر او سرچشمه د الله نه يره ده)۔

٥- **مرقاة** كښ تعريف نقل كوي (العلم نور في قلب المؤمن مقتبس من مصابيح مشكاة النبوة من الاقوال المحمدية والافعال الاحمدية والاحوال المحمودة يهتدى به الى الله وصفاته وافعاله واحكامه) (علم د مومن په زړه كښ هغه رنړا ده چه د نبوت د طاقچے د ډيوے نه اخستے شويده چه هغه (ډيوے) د محمد (ﷺ) اقوال دي او د هغه افعال دي او بهترين احوال دي چه په هغے سره انسان الله او د هغه صفاتو او افعالو او احكامو ته رسيږي)۔

دا بيا منقسم دے دوه قسمونو ته : يو علم كسبي دے چه په كسب دعبد سره حاصليږي۔دويم : علم لدُني دے چه الله ئے انسان ته هبه كړي، دابه يا وحي وي، يا به الهام وي، يا به فراست وي۔

٦- **امام شاطبي** په الموافقات ص (٦١) كښ داسے رقمطراز دے : (العلم الذي هو العلم المعتبر شرعاً : اعني الذي مدح الله ورسوله اهله على الاطلاق : هو العلم الباعث على العمل الذي لا يخلي صاحبه جارياً مع هواه كيفما كان، بل هو المقيد لصاحبه بمقتضاه الحامل له على قوانينه طوعاً او كرهاً)

يعنى دالله او رسول په نزد معتبر او ممدوح علم هغه دے چه انسان په عمل کولو باعث کړی او خواهشاتو ته ئے پرے نه گدی بلکه هغه د الله په احکامو او قوانينو رابند کړی مجبوراً يا په خوشحالئ سره)۔ او دغه شان قول دشيخ الاسلام ابن تيميةً نه هم په مجموع الفتاوی (۹۲/٤) کښ نقل دے – بيا علم ممدوح په يو څو قسمه دے : ۱– علم بالله وصفاته۔ ۲– علم باحکام الله۔ ۳ – علم القلوب، دا دخواصو علوم دی۔

الفصل الاول

۱ – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «بَلِّغُوْا عَنِّيْ وَلَوْ آيَةً وَحَدِّثُوْا عَنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَلَا حَرَجَ وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ»، رواه البخاری۔

ترجمه : عبد الله بن عمرو رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه : زما د طرفنه اورسوئ اگر که يو آيت وی، او بنی اسرائيلو نه قيصے بيانوئ دا گناه نه ده، او کوم سړے چه قصداً ما طرفته دروغ خبره منسوب کړی هغه له پکار دی چه خپله ټيکاونړه دوزخ کښ تلاش کړی۔(بخاری)۔

تشريح : بَلِّغُوْا عَنِّيْ وَلَوْ آيَةً : په دے حديث کښ درے جملے دی : ۱– اوله جمله دغه ده، اومناسبت ئے دکتاب العلم سره دادے چه تبليغ کول روستو دعلم نه وی۔ بيا دا په اصل کښ داسے جمله ده : (بلغوا القرآن عنی ولو آية) ۔ (زما د طرفنه قرآن اورسوئ اگر که يو آيت وی) بيا قرآن ئے خاص کړو په تبليغ سره څکه : ۱– چه قلوب العباد اميل الی تعلمه (د بندگانو زړونه ددے زده کولو ته ډير مائل دی)، دا دخير او برکت نه ډک دے۔ ۲– دويم دا چه دقرآن د حفاظت ذمه الله تعالی اخستے ده، نو هرکله چه دده تبليغ واجب دے نو د احاديثو تبليغ او زده کړه خو به په طريقه اولیٰ سره واجب وی، چه دهغے دحفاظت ذمه هم نه ده اخستے شوے۔ ۳ – دريم دا چه لکه څنگه چه دقرآن په تبليغ باندے په دے حديث کښ امر شويدے دغه شان داحاديثو په تبليغ باندے هم په بل حديث کښ امر شويدے، کما فی سلسلة الاحاديث۔ ۵ – بلغوا عنی ولو حديثاً۔

* بعض وائی : د آيت نه مراد هر مفيد کلام دے نو امر بالتبليغ په دے حديث کښ قرآن اوحديث دواړو ته شامل دے۔ بلغوا کښ اشاره ده : ۱– دے خبرے ته چه د ثقه او عادل راويانو متصل السند حديث وړاندے اورسوئ، او بعينه هم هغه الفاظ اورسوئ کوم مو چه اوريدلی دی په غير دتغيير اود تبديل نه ئے اورسوئ۔اودا اشاره دتبليغ دمعنی نه معلوميږی څکه دتبليغ معنی ده : (انهاء الشئ الی غايته)۔يعنی يو څيز آخر ته رسول په پوره طريقه سره۔

۲– تبليغ د قرآن واجب دے۔ ولو آية : کښ اشاره ده ديته چه دقرآن او حديث نه به تبليغ کيږی، نصاب تبليغ به دا دواړه وی، تا وئيلی ما وئيلی نه به تبليغ نه کوی، په دے کښ هدايت نشته۔

۲– دويمه جمله : وَحَدِّثُوْا عَنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَلَا حَرَجَ : **سوال** : دنبی اکرم ﷺ مخامخ عمر

فاروق ﷺ د تورات تلاوت اوکړو، هغه غصه شو دپاره د انکار په هغه باندې، نو دلته څنګه اجازت ورکوی؟ ۱- **جواب** : هغه حديث محمول دے په احکامو دتوراتو باندے ځکه بيا سنت تقريری جوړيدو، اودا حديث محمول دے په وعظونو دتورات باندے۔

۲- **جواب** : هغه منع په صدر الاسلام کښ په حياة د رسول ﷺ کښ وه، او حکمت په کښ دا وو چه چرته دا سنت تقريری جوړ نشی، اودا اجازت روستو ملاؤ شويدے، خودا اجازت هم په هغه اسرائيلی خبرو بيانولو کښ دے چه زمونږ ددين موافق وی۔ ۳- **دريم جواب** په مخکښ (ولو کان موسی حيا) حديث کښ تير شو (چه يو مطالعه دکتاب وی، اويو تلاوت دکتاب په نيت د عبادت دے۔ اول جائز دويم ناجائز۔ دليل په دے باندے آيت ﴿ قل فاتوا بالتوراة فاتلوها ﴾ او حديث (فاذا آية الرجم تلوح) دے۔ ولا حرج : ۱- په دے سره اباحت ثابت شو ځکه حدثوا امر دے او امر للوجوب دے، نو آيا دا بيانول داسرائيلی خبرے به واجب وی ؟ نو په دے سره ئے دا ثابته کړه چه بيانول ئے نه واجب دی اونه په کښ څه حرج شته۔

۲- دويم په دے سره معلومه شوه چه د بنی اسرائيلو دخبرے دپاره که سندنه وی نو هم خيردے، سند په کښ ضروری نه دے، خو ليکن هغه خبرے مراد دی چه سو چه دروغ نه وی، ځکه چه دا بيا په حديث د (کفی بالمرأ کذبا ان يحدث بکل ما سمع) کښ داخليږی، لکه واقعه د عُوج بن عُنق شوه په تفسير خازن سورة المائده کښ چه دده (۳۳) سوه ګزه بستره وه په هغې به څملاستو، سرئے دآسمان نه لګيدو، تيټ تيټ به روان وو، نمر ته به ئے پخلے کولو۔ دا بے بنياده خبرے او ډکوسلے دی بلکه دغه اسرائيلی خبرے به هله نقل کولے شی چه زمونږ ددين سره موافق وی۔

مناسبت ددے جملے دا دے چه دبنی اسرائيلو خبرے يادول هم علم دے کله چه صحيح وی۔ دا اجازت ولے ورکړے شويدے وجه داده چه کله يوه واقعه په قرآن اوحديث کښ مختصره ذکر شی نوته اسرائيلی واقعه ذکر کړے په دے سره څه نه څه په ذهن کښ فراخی راشی۔ اوس په دے کښ آيا هغه آثار دعلماؤ داخل دی چه د هغے سند نه وی ؟

جواب : آو، دعلماؤد آثارو دپاره هم دومره مضبوط سند ته ضرورت نشته کله چه وعظی خبرے ترے نقل وی لکه حلية الاولياء، صفوة الصفوة، سير اعلام النبلاء کښں دی۔ ځکه دا خو هسے هم حجت نه دی البته چه کله ته يو عالم ته ديو حکم نسبت کوے چه هغه داسے مسئله کړيده نو بيا به سند پيش کول ضروری وی۔

۳- دريمه جمله : وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ : دا حديث متواتر لفظی او معنوی دے د (۹۸) صحابو نه نقل دے، چه هغه ابن الجوزی په خپل الموضوعات (۱/۵۵) کښں جمع کړيدی۔ عَلَيَّ : دعلی دا معنی نه ده چه څوك په ما باندے زما دضرر دپاره دروغ جوړ کړی نو اور والا دے اوکه څوك زما دفائدے دپاره دروغ جوړوی نو خير دے لکه بعض صوفيه

اوکرامیه ؤ به دا وئیل چه په ترغیب او ترهیب کښې دروغ په نبی ﷺ باندے جوړول بنه کار دے، دابه ئے وئیل (فانا نکذب له، ولا نکذب علیه) یعنی مونږ د نبی ﷺ دفائدے دپاره دروغ جوړوو، د نبی ﷺ په خلاف دروغ نه جوړوو)۔ دا خبره ددوئ غلطه ده، بلکه دواړه قسمه دروغ جوړولو دا سزا ده چه ځان لـه دے په اور کښې ځائے تیار کړی۔ ځکه ددے مطلب بیا داجوړیږی چه په قرآن اوصحیح سنت کښې داعمالو فضائل نشته، رسول الله ﷺ نه دی بیان کړی، دهغه دین ناقص دے مونږ هغه پوره کوو۔ حال دا چه زمونږ دین کامل دے، په دے کښې فضائل او مسائل او اعتقادیات ټول کامل مکمل دی دهدایت دپاره۔ نو د (علیّ) معنی دا ده چه ماته نسبت د دروغو اوکړی، برابره خبره ده که ددین په کښې فائده وی اوکه نقصان دواړه حرام دی، ستا په گمان به په دے سره په دین کښې فائده ښکاری، مگر ستا الفاظ اود پیغمبر ﷺ الفاظو کښې ډیر لوئے فرق دے، خلق به ددین نه متنفر کړے، لکه صوفیه ؤ داسے موضوعی حدیثونه جوړ کړیدی چه خلق ئے ددین نه متنفر کړیدی، غیر دین خلق هغه حدیثونه مسلمانانو ته پیش کوی چه دا ستاسو دین دے ؟ اودلیل په دے عموم باندے (چه هر څنگه نسبت ددروغو نبی اکرم ﷺ ته ناجائز دے) روستو راروان دویم حدیث دمسلم دے (من حدث عنی بحدیث یری انه کذبٍ فهو احد الکذابین) نو دلته لفظ د (عنی) راغلے دے یعنی چه زما د طرفنه هر یو حدیث بیانوی او ما نه وی وئیلے نو دروغجن دے۔فتدبر۔

فائده : دروغ وئیل دوه قسمه دی : ۱ – یو کذب علی الرسول۔ ۲ – دویم کذب علی الناس (په خلقو دروغ وئیل) دے دواړو کښې فرق دادے چه څوك په رسول الله ﷺ باندے دروغ تړی دهغه حدیث ته موضوع حدیث وائی، او څوك چه په خلقو دروغ وائی مگر په حدیث کښې دروغ نه وائی دهغه حدیث ته متروك (پریښودلے شوے) حدیث وائی چه متهم بالکذب راوی په کښې وی۔انظر شرح النخبه ص (۸۳)۔

متعمداً : په دے قید سره احتراز دے دخطاء نه ځکه په خطاء باندے مؤاخذه نشته، ددے قید فائده داشوه چه څوك قصداً دروغ په رسول الله ﷺ نه وائی بلکه خطاء شی په کښې نو په دے باندے ئے الله نه رانیسی۔دلیل په دے دا حدیث دے چه (والذی یتعتع فیه وهو علیه شاق فله اجران – الحدیث متفق علیه) یعنی څوك چه قرآن لولی اوژبه ئے په کښې نښلی نو خامخا به ئے غلط وائی، عربی گرانه ژبه ده نو هغه باندے گناه نشته بلکه دوه اجره ورته الله ورکوی۔ددے نه بعض علماؤ دا فائده معلومه کړیده چه علوم عربیه (نحو، صرف، لغت وغیره) زده کول واجب دی، ولے چه یو سړے نحو او صرف اونه لولی اود حدیث الفاظ وائی نودابه ئے غلط لولی، نوگویا ده قصداً دروغ اووئیل ځکه چه ده دا وسع کیدله چه داسے قواعد زده کړی چه دهغے په وجه عبارت صحیح لوستلے شی خو هرکله چه قصداً هغه نه زده کوی نوگویا دا قصداً دروغ وئیل شو۔ لیکن ددے دا مطلب هم نه دے چه عوام خلق ترڅو پورے نحو او صرف اونه لولی نو حدیث به

نه وائي، بلکه دعوامو دپاره داکافي ده چه دعلماؤ نه صحيح تلفظ زده کړي۔ اوکه بيا هم يو انسان دنحو صرف قواعد زده کړي اوعبارت کښې يو لفظ نيم غلط وائي، لازم نه متعدي جوړ کړي، مجرد نه مزيدجوړ کړي وغيره نودابه ګنهګار نه وي، ځکه هر سړي ته خو دا قواعد مستحضر نه وي۔
فائده : دا حديث جواب دے دهغه چا داعتراض چه وائي نحو صرف قرآن او حديث کښې کوم ځائے راغلي دي چه تاسو دا لولئ۔ددے ډير جوابونه دي خو يو جواب او دليل په دے حديث کښې دے۔
(فليتبوأ مقعده من النار): ١- اى فليتخذ لنفسه منزلاً فى النار۔ (ځان له په اور کښې ځائے اونيسي) د تبوأ نه ماخوذ دے (تبوأ الدار اذا اتخذها مسكناً۔ يعني ځان دپاره دے ځائے دناستے داور نه تيار کړي۔ دا جمله انشائيه ده په معنى دخبريه سره (انشائيه لفظاً، خبريه معنىً) يعني تيار شويدے ده دپاره ځائے په اور کښې۔
٢- اصح دا ده چه دلته امر په خپله معنى سره دے (لفظاً او معنى دواړه جمله انشائيه ده) اودا امر دپاره دتهکم او اهانت دے، لکه په هره ژبه کښې دا وئيلے شي چه که وهل دے خوښ وي نو داکار اوکړه، دے کښې وعيد او زورنه غرض وي. دلته هم معنى داده چه که په نبي ﷺ باندے دروغ وائے نو ځان له په اور کښې ځائے تيارکړه۔ نو ددے حديث نه معلومه شوه چه په رسول الله ﷺ باندے دروغ جوړول ګناه کبيره ده، سبب ددخول النار دے۔
ددے الفاظو ظاهر دادے چه دا شخص به هميشه په عذاب کښې پروت وي، ليکن د نورو دلائلو نه معلومه شويده چه پداسے وعيدونو کښې مکث طويل (ډيره موده حصاريدل) مراد وي۔او هميشه دپاره به په کښې نه وي كما مر تحقيق ذلك۔
مناسبة الحديث بالباب : د بني اسرائيلو قيصے نقل کول دنصيحت دپاره دا هم يو نوع علم دے، اويل طرفته دا په علم کښې نه داخليږي چه انسان دځانه حديثونه جوړ کړي او بيا وائي زه لوئي عالم يم، بلکه دا التبه عذاب دے، دا دروغ دي (فمن ولّد الروايات المكذوبة وجعل نفسه راوياً فهو ليس بعالم) نوکوم شخص چه عوامو ته غرائب او باطلے قيصے نقل کوي دے دپاره چه عوامو ته خپله مُلائي ښکاره کړي، دابه عالم نه وي بلکه دروغژن دے لوئي مجرم دے۔
نکته عجيبه : دصحيح بخاري په تولو حديثونو کښې دا هغه حديث دے چه ددے حديث په راويانو کښې هغه تول صحابه کرام رضى الله عنهم هم دي چه هغوی ته نبي اکرم ﷺ په يو مجلس کښې دجنت زيرے ورکړے وو چه هغوئ ته عشره مبشره وائي۔نور حديثونه داسے نشته چه دا تول صحابه په کښې جمع شوي وي (مرقاة : ١/٢٦٦)۔

٢- وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ وَالْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «مَنْ حَدَّثَ عَنِّي بِحَدِيثٍ يَرَى أَنَّهُ كِذْبٌ فَهُوَ أَحَدُ الْكَاذِبِينَ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: سمره بن جندب او مغيره بن شعبه رضي الله عنهما نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه: چا چه زما دطرفنه يو حديث بيان کړو چه دده دا خيال وو چه دا دروغ دى نو دے په دروغژنو سرو کښ يو دروغژن دے۔(مسلم)۔

تعارف د سمره بن جندب رضي الله عنه: دا حليف الانصار دے، دے دمکثرينو صحابو نه دے (چاچه نه چه ډير احاديث نقل دى) دده احاديث منقوله تقريباً (١٢٣) دى، د بصرے اوسيدونکے دے، دبصرے او کوفے شپږ شپږ مياشتے گورنرهم مقرر شويدے، بيا چه کله زياد وفات شو نو په بصره باندے گورنر مقرر شو، بيا معاويةؓ دى و کال دپاره په گورنرئ باندے باقي اوساتلو، اود حروريه طائفے سخت مخالف وو، دده په مناقبو کښ دا هم دى چه ده او ابو هريره او ابو محذوره رضي الله عنهم ته نبي اکرم ﷺ فرمائيلي وو چه آخرى کس چه په تاسو کښ مرى هغه به په اُور کښ وى۔ نودد ے اشخاصو به ديو بل انتظار کولو آخر دا چه ابو محذورهؓ اول وفات شو، بيا ابو هريرهؓ به وئيل چه زه مخکښ مړ شم دابه ډير ښه وى ، دغسے اوشوه چه ابو هريره ﷺ وفات شو، سمره بن جندبؓ پاتے شو، نو ده باندے دړچيدلو (گوزن، رعشه) بيمارى راغله چه بدن به ئے رپيدلو، نودابه په يوه غټه کټوئ باندے کيناستو دے دپاره چه بدن ئے گرم وى، نو آخر يوه ورځ په کښ پريوتلو او مړ شو۔ نو دا هغه خبره دنبي اکرم ﷺ وه چه په تاسو کښ څوک په آخر کښ مرى هغه به په اُور کښ وى يعنى په اُور به مرى۔ کذا فى سير اعلام النبلاء۔ فمات رضي الله عنه بالبصرة فى خلافة معاويه سنه (٥٨ هـ)۔

تعارف د مغيرة بن شعبة ﷺ: دده کنيه ابو عيسى ده، دخندق په کال ئے ايمان قبول کړيدے او حديبيه او روستنو جهادونو کښ ئے حصه اخستے ده، لکه يمامه، فتوح الشام والقادسيه۔ دعمر فاروق او عثمان رضي الله عنهما په دور خلافت کښ دبصرے او کوفے گورنر مقرر شويدے، اودا په صحابوؓ کښ سياسى صحابى وو۔ دجنگ اوسياست په تدابيرو ډير ښه پوهيدلو۔ کان من دهاه العرب (دا د عربو د چالاکو او هوښيار خلقو نه وو ــ قاله الشعبى والزهرى)۔ قبيصه بن جابر چه دمغيرهؓ شاگرد دے فرمائي چه مغيرهؓ دومره تدبير او مهارت والا شخص وو، که يو ښار وى او دهغے اووه دروازے وى، او دهغے نه هيڅ يو انسان نشى وتلے مگر په يوه حيله اومکر سره نو مغيرهؓ به دهرے دروازے نه په حيله او چل سره وتلے دومره هوښيار۔ په سنه (٥٠ هـ) کښ وفات شويدے۔

تشريح: يَرٰى : **فائده**: قانون دا دے چه دا صيغه کله دمعلوم شى بفتح الياء نو په معنى ديقين سره راځى (يرى اى اَيْقَنَ، اِسْتَيْقَنَ)۔ اوکله چه مجهول صيغه وى نو په معنى دظنِ معلوم سره راځى، لکه يظن، ځکه چه دا باب متعدى کيږى دوه مفعولينو ته نو ددے مجهول هم په معنى دظن معلوم سره راتلے شى۔ اوس که معلوم شى په معنى ديقين سره نو چه کله يقين وى چه دا حديث چا دروغ وئيلے دے، د نبي ﷺ حديث نه دے نو ددے حديث ذکر کونکے هم دروغژن

شو، د احد الكاذبين نه شو، ځكه يو جوړونكے ددے دروغژن دے او ددے بيانونكے او ذكر كونكے هم دروغژن حسابيږي، نو ناقل شريك دے دقائل سره په دروغو كښ۔ اوكه صيغه دمجهول شي يعنې داګمان او شك وي چه كيدے شي دا به د نبي ﷺ حديث وي اوكيدے شي چه د رسول الله ﷺ حديث نه وي، نو **په دے كښې اختلاف دے** چه داسے حديث نقل كول څنګه دي ؟ :

۱ – بعض علماء وائي چه دا نقل كول جواز لري۔ ۲ – ليكن حافظ ابن حجرؒ رمائي چه راجح داده چه دداسے حديث نقل كول هم ګناه ده، ځكه زمونږ دين صفا دے (ليلها كنهارها) نو په دے كښ شكي او ظني خبرے نه چليږي، نو كوم حديث باندے چه ستا ګمان وي چه دابه د رسول الله ﷺ حديث نه وي ځكه چه تاته ئے سند معلوم دے چه راويان په كښ ضعيف دي (بلا دليل ګمان لره هم اعتبار نشته) خوكه هغه حديث درته ښه ښكاري نو د هغے ښه طريقه داده چه هغه رسول الله ﷺ ته هم مه منسوب كوه چه نبي اكرم ﷺ داسے فرمائي، اورد كوه ئے هم مه، بلكه علماء الحديث فرمائي چه انسان دِے داسے الفاظ استعمالوي چه (روى عن بعض السلف) ۔(د بعض سلفونه نقل دي) نو خبره به هم ضائعه نشي د يو عالم خبره خو به وي په درجه دتائيد كښ به ذكر كولے شي، يا دِے داسے اووئيلے شي چه داصولو ددين نه داسے مسئله معلوميږي، خوكله چه هغه خبره ددين مخالفه نه وي يا فضيلت په كښ ذكر شوے وو، خلق خوبه ترے فائده واخلي، اګركه د عالم اود رسول الله ﷺ په وينا كښ دزمكے او آسمان فرق دے چه داسے اووئيلے شي چه رسول الله ﷺ داسے فرمائي نو هغه خبره يقيني وي، اوچه داسے اووے چه بعض سلفو وئيلي دي نو هغه خبره دومره طاقت په كښ نه وي خو ددے حديث دمفهوم نه دامعلوميږي چه كوم راوي ته دا پته نه وي يا ئے ګمان نه وي چه دا روايت ضعيف دے او خلقو ته ئے نقل كوي په دے ګمان چه دابه صحيح وي، او په واقع كښ هغه ضعيف وي دنورو علماؤ په نيز باندے، نو دا شخص په دے وعيد كښ نه داخليږي، او هيڅ ګناهګار نه دے، بلكه كيدے شي چه الله ورته اجر هم وركړي۔ فهو احد الكاذبين : په دے لفظ كښ دوه احتماله دي :

۱ – يا دا چه دا صيغه د تثنيه ده بفتح الباء يعني دا شخص به يو ددوو دروغژنو نه حساب وي، يو دروغ جوړونكے دے، او بل بيانونكے۔ ۲ – يا دا صيغه دجمع سالم ده بكسر الباء، دا هله چه كله جوړونكے يو وي، او ناقلان ئے ډير وي، يعني ستا استاذ اود هغه استاذ او دهغه بره راوي استاذ وغيره، يعني دا شخص چه دموضوعي حديثونو اشاعت كوي، دابه دهغه دروغژنو راويانو نه حسابيږي كوم چه رسول الله ﷺ باندے دروغ وائي۔ دواړه قرأتونه جواز لري۔

فائده : په دے حديث كښ ډير سخت وعيد دے دهغه چا دپاره چه موضوعي او ضعيف حديثونه بيانوي، بعض خلق دا وائي چه ضعيف حديثونه په فضائلو كښ بيانول جوازلري، لكه چه دا ډير مشهوره ده، ليكن دا خبره پيژندل پكار دي چه ضعيف حديث باندے عمل كول

جائز نه دی مګر په څلورو شرطونو سره:

په ضعیف حدیث دعمل کولو شرطونه:

۱ – ان لا یکون موضوعاً: په موضوع حدیث باندې عمل بالاتفاق جائز نه دې، کما فی القول البدیع ص (۲۵۶)۔ ۲ – ان یعرف العامل به کونه ضعیفاً: یعنی عمل کونکی ته به ددې ضعف معمولی وی۔دابه پیژنی چه دا حدیث ضعیف دې۔

۳ – عمل به پرې ډیر نه مشهوروی۔

٤ – ان لا یکون شدید الضعف (القول البدیع ص: ۲۵۵)۔اوګوره تمام المنه ص (۳٦) مرقاة (۸۳/۲)، جامع الصغیر، مقدمه قواعد التحدیث ص (۹٤) فتاوی الدین الخالص (۳۱/٤)۔

۳– وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ يُّرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَإِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَاللهُ يُعْطِيْ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: معاویه ﷛ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم سړی دپاره چه الله تعالی دخیر (او ښیګړې) اراده اوکړی، نو هغه ته ددین پوهه ورکړی، اوزه (علم) تقسیمونکې یم، ورکونکې خو الله تعالی دې (بخاری، مسلم)۔

تشریح: مَنْ يُّرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا: چاته چه الله په دین پوهه ورکړی نوده ته ئې دخیر اراده اوکړه، دې کښې ولې دخیر اراده ده؟، نو وجه داده چه کوم انسان په دین پوهه شو نو په دې باندې به عمل کوی او ددې تعلیم به کوی، اودین باندې عمل کول اود هغې تعلیم کول دا خیر دِ خیر دې، تول خیر خیر دې، ددنیا خیرهم دې اود آخرت خیر هم دې، او عمل چه سبب ددخول الجنة دې دا بغیر دعلم بالدین نه نشی کیدلې لکه امام بخاری باب قائم کړیدې باب العلم قبل القول والعمل الخ (۱٦/۱)۔ نودې انسان باندې الله دخیر ارداه کړیده چه دخپل قانون پوهه ئې ورته ورکړه۔

يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ: بیائې لفظ دیفقه دفقاهت ذکر کړو، نه لفظ دعلم، ځکه چه علم نفس پوهې ته وائی اوفقاهت علم دې په اسرارو او رازونو ددین باندې، دارنګه یو شې پیژندل په دلیل سره، دا ډیر لوئې نعمت دې اودا په دې طریقه حاصلیږی: ۱– چه څوک کتاب او سنت بار بار لولی اود عمل په نیت ئې وائی نو الله ئې انسان ته ورنصیب کوی۔ ۲– دارنګه فقاهت حاصلیږی په کتلو دهغه کتابونو سره چه په اسرار الدین کښې لیکلې شوی دی، لکه کتابونه دامام ابن القیمؒ او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ دارنګه احیاء العلوم دامام غزالی، اود شاه ولی الله کتاب حجة الله البالغة هم په دې موضوع باندې لیکلې شویدی، اګرچه په دې دواړو کتابونو کښې دتصوف ځینې داسې خبرې هم شته، چه په دې سره دجادې دحق نه بهر وتلې دی۔

فائده: فقه صرف کنز، هدایه، منیه او شرح وقایه وغیره ته نه وائی، بلکه دفقه معنی دا هم ده

چه (معرفة الحكم بدليله ومع سره وحكمته) يعنى مسئله سره ددليل، راز او حكمت نه پيژندل۔ دغه مذكوره كتابونو والا صرف جامعين دي دمسائلو او جزئياتو، نوكه دليل درته دهرے مسئلے نه وو معلوم نو تاته فقيه نشي وئيلے، دجزئياتو مُلا به درته وئيلے شي۔

حسن بصرى نه نقل دى چه ده ته چا اووئيل چه (هكذا يقول فقهاؤنا) ،(دا شان زمونږ فقهاء وائى، نو هغه پرے رد اوكړو چه آيا تا چرته فقيه ليدلے دے، هسے خلقو ته فقهاء وائے ! فقيه خو ديته وائى (الفقيه هو البصير بدينه المواظب على طاعة ربه الزاهد فى الدنيا الراغب فى الآخرة) (چه په دين كښې بصيرت لرى او د خپل رب په طاعت باندے هميش والے كونكے وى او په دنيا كښې بے رغبته او د آخرت سره مينه كونكے وى)۔

صاحب المرعاة (٣٠٤/١) فرمائى : د فقه عامه معنى كول اولى دى (وهو العلم الذى يورث الخشية فى القلب ويظهر اثره فى الجوارح ويترتب عليه الانذار كما يشير اليه قوله تعالى ﴿فلولا نفر من كل فرقة منهم طائفة ليتفقهوا فى الدين﴾ الآيه۔(فقه هغه علم دے چه زړه كښې د هغے په وجه خشيت پيدا شي او د هغے اثر په اندامونو ښكاره شي او په هغے باندے انذار (خلقو ته يره وركول) مرتب شي لكه چه ديته اشاره ده پدے آيت كښې : ولے نه وځى د هرے غټے ډلے نه يوه وړه ډله دے دپاره چه په دين مكمل پوهه حاصل كړى او كله چه راواپس شي نو په هغے سره خلق اوويروى) دا تعريف ځكه اولى دے ، دے دپاره چه هر علم دعلوم الدين ته شامل شي۔ خو نن صبا اصطلاحات شرعيه خلقو خراب كړيدى چه څوك فقيه يا فقه لفظ ياد كړى نو دخلقو دا گمان راځى چه فقيه هغه مُلا دے چه په مسائل شرعيه باندے پوهيږى او فقه كنز او منيه ته وائى، اگركه دحديثو دعلومو نه عارى وى، صحيح او ضعيف نه پيژنى، اقوال الرجال ته مرفوع حديث وائى۔او محدث به صرف هغه چاته وائى چه حديث نقل كوى اود حديثونو معانى ورته زده وى، حال دا چه فقه شرعاً دا معنى نه ده، بلكه هغه معنى ده كومه چه مخكښې ذكر شوه۔ اصطلاحات شرعيه بدلولو سره ډير نقصان پيدا كيږى، ددين اصلى تصور دخلقو نه اوځى۔ بيا په روايت دطبرانى كښې ورسره دا الفاظ هم راغلى دى (ويلهمه رشده) يعنى الله تعالى ورته الهام دهدايت او استقامت على طريق الحق اوكړى، په زړه كښې ورته دهدايت خبرے اچوى چه په دے خبره عمل پكار دے په دے پكار دے سره دپوهے نه په دين باندے، نو معلوميږى چه الله تعالى تادپاره دخير او ښيگړے اراده كړيده، دا ډير اوچت فضيلت دے، دا وجه ده چه نبى اكرم ﷺ دعمران بن حصين پلار (حصين) ته دا دعاء ښودلے ده چه داسے وايه (اللهم الهمنى رشدى وأعذنى من شر نفسى) كما سياتى فى كتاب الدعوات۔

وَاِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَاللهُ يُعْطِى : دا الفاظ دلته هم راغلى او په باب دتقسيم دغنيمتونو كښې هم راغلى دى چه دغنيمتونو سره اولگى نو دے كښې معنى داده چه زه مالونه تقسيموم او الله ئے

ورکوی، یعنی زه ئے د الله په امر سره تقسیموم چه هغه وائی فلانی له ډیر ورکړه او فلانی له کم، اودا زه په خپل خواهش سره نه تقسیموم، بلکه داالله په امر باندے ورکوم. نودا اعتراض به په مانه وی چه نبی ﷺ دخپلوانو او مهاجرینو لحاظ کوی، بلکه دا اعتراض به په اصل کښ په الله باندے گنړلے کیږی (کوم چه جائز نه دے). ۲- اوچه علم سره اولگی لکه دلته نو د مخکښ سره به مناسبت واضح وی.

وانما انا قاسم : زه تقسیمونکے دعلم یم اودهغے بیانونکے یم، والله یعطی : او الله ورکوی دا علم چاته چه اوغواړی، چاله ډیر او چاله کم فهم ددین ورکړی، لکه مثلاً استاذ حدیث بیان کړی نو بعض شاگردانو ته الله داسے استعداد ورکړے وی چه هغه ټول درس راگیر کړی په خپل حفظ کښ، په ټوله خبره پوهه شی دهغے په حقیقت هم پوهه شی اود هغے په اشاراتو هم، چه په دے کښ فلانئ فلانئ خبرے ته اشاره اوشوه. او بعض شاگردان نیم راگیر کړی، بعض دریمه حصه راگیره کړی په خپل علم کښ اوبعض په هیڅ هم پوهه نشی، ورکړه داالله په لاس کښ ده. دے لوښو کښ الله تعالی فرقونه پیدا کړیدی چه بعض لوښی قوی وی بعض کمزوری. بعض داسے لوښی وی چه داستاذ د بیان نه هم په هغے کښ ډیر استعداد وی دهغه لوښے بیا هم خالی وی، زیات غواړی، نو استاذ یو شان ټولو شاگردانو ته بیان کوی، خو الله چاته ډیره پوهه ورکړی چاته کمه، نو قاسم دعلم به انسان وی خو علم ورکونکے الله تعالی دے، نوددے نه دا فائده معلومه شوه چه یو شخص به استاذ ته هم کینی او بیابه د الله نه دهغے دحاصلولو دپاره دعاء کوی نو هله به ورته علم نصیب کیږی، او په دے طریقه سره ډیر زر الله تعالی علم درکوی.

٤- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلنَّاسُ مَعَادِنٌ كَمَعَادِنِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوْا». رواهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابو هریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : خلق کانونه دی څنگه چه دسرو زرو او چاندئ کانونه وی، کوم خلق چه دجاهلیت په زمانه کښ بهتر وو هغوئ اسلام کښ هم بهتر دی کله چه هغوئ پوهه حاصله کړی. (مسلم).

تشریح : دا حدیث اصل کښ جواب دسوال کښ واقع شویدے چه صحابو ؓ تپوس کړے وو چه یارسول الله ! څوك غوره انسان دے، لکه داحدیث په به په مشکاة (٤١٧/٢) باب العصبية کښ بیا راځی، نو نبی اکرم ﷺ ورته اوفرمائیل : اتقاهم : په دوئ کښ چه زیات متقی وی هغه غوره دے، صحابو ؓ عرض اوکړو، ددے تپوس نه کوو، دا مونږ ته معلومه ده، بیا نبی ﷺ ارشاد اوفرمایه : الكريم بن الكريم بن الكريم يوسف بن يعقوب بن اسحق بن ابراهيم) یعنی

يوسف عليه السلام غوره انسان دے۔ صحابوؓ بيا عرض اوكړو، ددے په باره كښې هم تپوس نه كوو، نبي اكرم ﷺ ارشاد اوفرمايه: (فعن معادن العرب تسئلوني) دعربو دقبيلو په باره كښې تپوس كوئ؟ هغوى عرض اوكړو: آو، نبي اكرم ﷺ اوفرمائيل: (خيارهم في الجاهلية خيارهم في الاسلام، اذا فقهوا) يعنى په اسلام كښې هغه څوك غوره شخص دے چه په جاهليت كښې غوره وو، هركله چه په دين باندے پوهه شي۔ خودلته دا بيا بيل حديث دے چه (الناس معادن) بيله قاعده ده۔

اَلنَّاسُ مَعَادِنٌ كَمَعَادِنِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ: معادن جمع د مَعْدِن ده، كان ته وائي يعنى هغه سره او سپين چه په غرونو كښې دننه پراته وي، دا دعدن بالمكان نه ماخوذ دے په يو ځائے كښې اوسيدل او استقرار (قرارے) نيول، او كانونه هم په غرهٔ كښې مستقر پراته وي۔ الناس: مبتداء ده او معادن دهغے خبر دے، اوخبر حمل وي په مبتداء باندے اودلته ظاهر كښې حمل صحيح نه دے ځكه انسانان خو كانونه نه دي نو دصحت دحمل وجه داده چه دا بناء دے په تشبيه باندے، (الناس كمعادن، اى متفاوتون كالمعادن)، (خلق دكانونو په شان متفاوت او مختلف دي په صفاتو كښې) لكه دزيد اسد پشان په كښې ادات دتشبيه حذف شويدى اودا تشبيه بليغه وي۔ بيا به كمعادن الذهب والفضه بدل جوړيږى دمعادن نه۔ بيا دانسانانو تشبيه ئے دمعادن الذهب والفضه سره ولے وركړه؟ نو ددے وجه دا ده چه معادن (كانونو) كښې مختلف استعدادونه وي، بعض هغه كانونه وي چه په هغے كښې استعداد دسرو او سپينو زرو پروت وي، بعض هغه وي چه هغے كښې جواهرات ياقوت، زمرد، مرجان، ملغلرے وغيره وي، بعضو كښې اوسپنه وي، بعضو كښې تانبه وي، بعضو كښې هرتال وي، بعضو كښې پاره وي، بعضو كښې چونه، ځينو كښې كوئله، ځينو كښې رانجه، چا كښې سيمنټ او چا كښې خاوره وي۔ دغه شان انسانان هم الله تعالى مختلف استعدادونو والا پيدا كړيدى بعض دومره قوى وي چه هغوى كښې ډير خير جمع كيدے شي، سراسر خير خير وي، لكه انبياء، اولياء اوصالحين، او بعضو كښې لګ خير وي، ځينو انسانانو په طبيعتونو كښې دومره ډير شر غالب وي چه كه قرآن اوسنت په يادو ياد كړي اود خولے نه هميشه د قرآن خبرے راوځي خو هغه كښې خير نه وي، شرى انسان وي، نو هغه نه جوړيږى، لكه د:

اذا كان الطباع طباع سوء • فلا ادب يفيد ولا أديب

مصداق ګرځيدلے وي۔ دغه شان بعض انسانانو باندے د الله اود رسول خبرے ډير تاثيركوى، او بعضو باندے دومره تاثير نه لرى، لكه بعض كانونه ډير ښه تاثير قبول كړے وي، نو سره او سپين او جواهرات ترے جوړ شوى وي اوبعض هسے خاورے وي۔

بيا دذهب او فضه (سرو سپينو) تخصيص ئے ولے اوكړو؟

نوددے ډير وجوهات اوحكمتونه دي: ١ - اوله وجه: داچه دا اصول الاموال دي، دټولو مالونو بنياد او جرړے دي، ځكه په نوټونو كښې چه زيادت اوكموالے او طاقت پيدا كيږى نو دا دسرو او

سپينو د ډير والي او کموالي په وجه پيدا کيږي، په کوم ملك کښې چه دا زيات وي نو د هغه ملك نوټ (سکه) هم قيمتي وي، او کوم ملك کښې چه دا کم وي نو د هغه نوټ (سکه) هم ښکته وي، دارنګه انسانان هم د ټول مخلوقاتو اصل او بنياد دے، دوئ اصول المخلوقات دي۔

٢- دويمه وجه : ذهب او فضه موضع توقيع السلطان دي (دبادشاه دټاپے ځائے دے) په دے وجه هغه قيمتي وي، په هغے باندے نور څيزونه حاصليږي، نو دغه شان قلوب الناس دا هم موضع توقيع الله دے، په زړونو کښې الله تعالى ټاپه وهي، په هغے کښې رحمت نازلوي،عظمة الرب په کښې راځي، الله تعالى ئے دځان سره ربط پيدا کوي، او څنګه ئے چه خوښه شي اړوي راړوي تصرفات په کښې کوي۔

٣-دريمه وجه : لکه څنګه چه سره او سپين اعز الاموال دي، دغه شان انسانان اعز الحيوانات دي۔ په ټولو مخلوقاتو کښې انسانان عزتمند دي لکه الله تعالى فرمائي : ﴿ ولقد کرمنا بني آدم ﴾ [اسراء : ٧٠] ترجمه: په دے خبره کښې هيڅ شك نشته چه انسان له مونږ عزت ورکړيدے۔

٤- وجه : سره او سپين چه کله په خاورو کښې وي نو بے قيمته ښکاري خو چه کله صفا شي او په اُور باندے اوسوزولے شي نو د ډول ډول ډهال سامان ترے جوړيږي، دغه شان انسانان چه په شرك او کفر اوګناهونو کښې پراته وي، بد اخلاق او بد اعمال په کښې موجود وي نو د الله په نيز څه حيثيت اومرتبه نه لري، خو کله چه رياضت او مجاهده او کوشش اوکړي، اود ګناهونو او شرك او کفر نه ځان اوساتي او ځان په عباداتو آموخته کړي، خواهشات او سيزي، تکليفونه برداشت کړي نو صفا شي او حيثيت اومرتبه پيدا کړي، ښائسته ښکاري، مخ کښې ئے رنړا پيدا شي، دهغه کيناستل پاڅيدل ډولي وي، نو دغه شان ځانونه جوړول پکار دي، دا علم اکثرو انسانانو ته نه دے زده۔ ٥- دارنګ لکه څنګه چه سره سپين په اور کښې دے دپاره داخلولے شي چه صفا شي اود هغے نه ګانړه (کالے) جوړ شي نو دغه شان انسانان هم خپل نفسونه په رياضات او مجاهداتو سره په مختلف عباداتونو کښې داخلولے شي دے دپاره چه پاك او صفا شي۔

٦- لکه څنګه چه ذهب او فضه څومره په اور باندے زيات اوسوزلے شي نو صفائي په کښې زياتيږي، دغه شان انسان هم چه څومره په رياضتو او اعمالوکښې کوشش کوي هغومره د باطن صفائي به ئے زياتيږي۔ ٧- ذهب او فضه پورے دالله حق (زکوٰة) متعلق کيږي نه په نورو جواهرو پورے۔دغه شان د الله حق (عبادت) په انسان پورے متعلق کيږي (اصالةً)۔

خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوْا : ددے عبارت معنى داده چه کوم انسانان په جاهليت کښې غوره وو، ښه صفات ئے لرل، نو په اسلام کښې به هم هغوي غوره وي، په دے شرط چه هغوي کښې د دين پوهه راشي، اوکه ددين پوهه په کښې رانغله نو بيابه غوره نه وي، بيا به هغه مسلمانان غوره وي چه په جاهليت کښې غوره نه وو، او په اسلام کښې په هغوي کښې په دين باندے پوهه راغله۔ خيارهم في الجاهلية: بعض جاهليت والاؤ کښې هم ډير ښه صفات وو،

لکه جود، سخاء، حیاء، همدردي، رشتیا وئیل، شجاعت بهادري، وعده پوره کول، وفاء، میلمه دوستي، ګیره نه خرئیل، مینه محبت کول اوداسې نور ښه خصلتونه. نو هغه څوك چه په جاهلیت کښ غوره وو د دوجې د ښائسته صفاتونه، نو هغه به په اسلام کښ هم غوره وي، ځکه چه اسلام هم ښه صفاتو او ښه اخلاقو ته دعوت ورکړیدې، بلکه اسلام دښه صفاتو منبع او سرچشمه ده.

اذا فقهوا : دابه هله غوره کیږي په اسلام کښ چه په دین باندې ځان پوهه کړي، که یو سړي کښ ښه صفات وي خو په دین نه پوهیږي، نو په دې اخلاقو او ښو صفاتو باندې الله ده لره اجر او ثواب نه ورکوي. ښه صفاتو باندې انسان ته اجر هله ملاویږي چه دا ددین دوجې نه کوي، که یو سړې دخلقو سره ښه اخلاق کوي، اود الله رضا او نیت او اراده ئې دسره په زړه کښ نه وي، نو ده ته په دې باندې اجر نه ملاویږي، ځکه ده کښ ددې ښه صفاتو استعداد اچولې شویدې اود الله دوجې نه ئې نه استعمالوي، په دې وجه اجر ورته نه ملاویږي ځکه چه احتساب دعمل په کښ نشته.

شروط قبول العمل

او هر عمل چه قبلیږي او اجر پرې ملاویږي ددې دپاره دولس شرطونه دي :

١ – یو په کښ احتساب دې یعني عمل به ثواب ګنړي، دالله د رضا دپاره به ئې کوي، چه ماله الله په دې اخلاقو په دې احسان پدې تعلقاتو اجر راکوي، ځکه ئې کوم، اوکه غیر شعوري طریقه سره عمل اوکړې شي نو ده ته اجر نه ملاویږي، نور شرائط دادي :

٢ – انسان کښ به ایمان وي، اخلاص به وي، ریاء به نه کوي، دمخلوق د وجې نه به عمل نه کوي. ٣ – احسان به په کښ وي. ٤ – اتباع السنة. د رسول الله ﷺ طریقه به وي.

٥ – صدق به په کښ وي، دصدق او اخلاص فرق دادې چه صدق وئیلې شي توحید الارادة ته، یعني عمل کښ صرف یو نیت کول چه زه مثلاً دفلاني مریض تپوس له ځم بل هیڅ نیت نه لرم، دچکر اراده مې نه ده. او اخلاص توحید المراد ته وائي، چه ډیر نیتونه هم دیو کار دپاره کولې شي لکه دملګري ملاقات ته ځې نو یو دمسلمان ملاقات نیت اوکړه، بل د سیر في الارض، بل د راحة البدن، بل ددعوت وغیره. او په دې ټولو کښ دِ غرض دالله رضا کول وي. ٦ – التذلل : ځان عاجز او ذلیل کول الله ته په عمل کښ، او غفلت نه کول. ٧ – المحبة مع الله : دلیل پدې باندې تعریف د عبادت دې چه هغه انتهائي تذلل ته وائي چه سره د انتهائي محبت نه وي). ٨ – د الله د آیاتونو نه متأثر کیدل نه د خلقو نه. ٩ – الادب (ادب سره کول)

١٠ – الخوف. (یره سره کول) ١١ – الرجاء (امید سره کول). ١٢ – اود عمل دبقاء شرط دادې چه اداء حقوق العباد به وي. نو (اذا فقهوا) ئې ددې دپاره ذکر کړو چه کله په دین پوهه شو نو بیا به صفات او اخلاق دالله درضاء دپاره استعمالوي. په دې لفظ کښ (فقهوا) بضم القاف من باب کرم نه هم وئیلې شي، او بکسر القاف من باب سمع هم وئیلې شي کما مر.

فائده: ددے قید بله فائده داده چه ددے نه معلومه شوه چه په جاهلیت کښې چه کوم تفاوت معتبر وو هغه اسلام ختم کړو، ځکه چه په جاهلیت کښې تفاوت په اعتبار دنسب سره معتبر وو۔او اسلام کښې تفاوت په اعتبار دښائسته اخلاقو او ښائسته صفاتو معتبر دے، نو چه اسلام کښې دے ښائسته اخلاق او ښائسته صفات حاصل کړل نو ته شریف النسب هم شوے لکه ځنګه چه شریف الحسب هم ئے۔نو کله چه انسان په علم اوحکمت باندے ښائسته شی نو ددے سره ده ته شرافت داصلی نسب حاصل شو، نودواړه شرافتونه په کښې راجمع شو۔نو دا حدیث دلیل دے په دے چه دلاندے مرتبے اونسب والا انسان چه عالم وی دا ډیر پورته دے دهغه شریف النسب نه چه جاهل وی، نو علم اوحکمت هر ښکته انسان پورته کوی۔ (گنجینۂ زر پیش علم وہنر چیزے نیست)۔ فالعلم یرفع کل من لم یرفع (علم هر ځکته انسان پورته کوی)(مرعاة)۔

یو شاعر څه ښه وئیلی دی ۔

علیك بتقوی الله فی کل حالة ● ولا تترك التقوی اتکالاً علی النسب

فقد رفع الاسلامُ سلمان فارس ● وقد وضع الشركُ الشریف ابا لهب

٥- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:«لَاحَسَدَ اِلَّا فِيْ اثْنَيْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَسَلَّطَهُ عَلٰى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ الْحِكْمَةَ فَهُوَ يَقْضِيْ بِهَا وَيُعَلِّمُهَا». متفق عليه.

ترجمه: ابن مسعود ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: حسد جائز نه دے مګر په دوه څیزونو کښې: ١- یو هغه سړے چه الله ورله ماله ورکړو او بیا ئے ورله په ښو ځایونو کښې دخرچ کولو توفیق ورکړو۔ ٢- هغه سړے چه الله ورله علم ورکه او هغه دهغے علم مطابق حکم کوی او نوروته ئے هم ښائی۔(بخاری، مسلم)۔

تشریح : لَاحَسَدَ اِلَّا فِيْ اثْنَيْنِ : بل روایت کښې (فی اثنتین) راغلے دے (ای فی خصلتین) دا جمله خبریه په معنی دجمله انشائیه سره ده یعنی حسد مه کوئ مګر په دے دوه څیزونو کښې ئے اوکړئ، ترغیب ئے ورکړیدے- بیا دحسد معنی ده لغةً کینه کول، اصطلاح کښې (تمنی زوال النعمة عن الغیر سواء حصل له ام لا، وسواء کان نعمة دین او دنیا، (قاله النووی فی ریاض الصالحین : ٤٦٦) (دا تمنی کول چه الله د فلانی نه دا نعمت واخلی، ماته حاصلیږی اوکه نه او دنیوی نعمت وی او که دینی) ۔دلته په اتفاق دعلماؤ سره دا معنی نه ده مراد، ځکه په دے معنی باندے حسد په هیڅ شئ کښې نه دے جائز، نو تخصیص ددوو څیزونو صحیح نه دے۔

٢- بلکه دلته دحسد یوه بله نوع مراد ده چه هغے ته غبطه وائی، یعنی بل چاته په یو نعمت کښې پسخیدل، اودا دیته وائی چه (تمنی حصول مثل نعمة الغیر)، (یعنی دبل چا دنعمت پشان

نعمت غوښتل چه دهغه نه هم زائل نشي، او مالره هم راکړے شي دهغه پشان۔اودليل په دے باندے حديث دابو هريره ﷺ دے لکه بخاري کښې دی : په هغے کښې دا الفاظ زيات دی (قال رجل : ليتني اوتيت مثل ما أوتي فلان فعملت مثل ما يعمل) يعني آرمان دے چه ماته دفلانی پشان مال وغيره راکړے شوے وے چه ما هم دهغه پشان عمل کړے وے، خو دلته دا دوه څيزونه چونکه سبب دحسد دی نو په دے وجه ئے تعبير په حسد سره اوکړو، اګرچه مراد دلته غبطه ده۔

حصول النجدة — فی مسئلة الغبطة

فائده : بيا حسد په هر شئ کښې منع دے، نبي اکرم ﷺ ارشاد فرمائيلے دے : (لا تحاسدوا۔۔۔) الحديث متفق عليه)۔ديو بل سره حسد مه کوئ۔او هرچه غبطه ده نو آيا دا په نورو څيزونو کښې هم جائز ده اوکه نه ؟ نو په دے کښې اختلاف دعلماؤ دے :

١ – بعض مفسرين لکه علامه بيضاوی وغيره وائي چه غبطه ددے څيزونو نه ما سيوا په نورو څيزونو کښې نه ده جائز۔ • **يو دليل** دا دے چه دلته نبي اکرم ﷺ حصر او تخصيص دغبطه کړيدے صرف په دوه څيزونو کښې په نفي او اثبات سره، دا دليل دے چه په نورو څيزونو کښې غبطه جائز نه ده، که چرته جائز وے نو نبي اکرم ﷺ به حصر دغبطے په دے دوه څيزونو نه کولے۔ • **دويم دليل** : دقرآن کريم آيت دے ﴿ قال الذين يريدون الحيوة الدنيا يا ليت لنا مثل ما أوتي قارون ﴾ [سورة القصص : ٧٩] (آرمان دے چه زمونږ دپاره دقارون په شان مال وے) هغوی داسے نه وئيل چه د قارون نه دِے مال زائل شي او مونږ ته دِے راکړے شي بلکه دهغه پشان مال ئے غوښتو۔نو هغوی دا غبطه اوکړه، الله تعالی پدے رد اوکړو چه دا د دنيا پرستو خلقو کار دے چه اراده د دنيا کوی۔او اهل العلم هم پدے رد اوکړو پدے قول سره : ﴿ وقال الذين أوتوا العلم ويلكم ثواب الله خير لمن آمن وعمل صالحاً ولا يلقاها الا الصابرون ﴾ [القصص : ٨٠] ۔ (چه د الله ثواب په آخرت کښې غوره دے د ايمان او عمل صالح والو دپاره)

٢– **دويم قول دعلماؤ** دادے چه په نورو څيزونو کښې هم غبطه (چاته پسخيدل) جواز لري۔اودلته چه تخصيص ددے دوه څيزونو شويدے نو دا د وجے دافضليت نه شويدے، يعني افضله غبطه صرف په دے دوه څيزونو کښې ده۔ او تقدير دعبارت داسے دے چه (لا غبطة اولیٰ وافضل الا في اثنين) نو دا تخصيص باعتبار الافضلية والاعظمية دے، نو دنورو څيزونو دغبطے نه منع نه ده راغلے۔دا غبطه غوره ده، او نور څيزونو کښې به غبطه کله غوره وی او کله به نه وی دهغے پته نه لګی، دا داکثرو علماؤ قول دے، دوئ ددے حديث نه همدا فهم کړيدی۔ددے مثال داسے دے لکه په حديث کښې دی (لارقية الا من عين او حمة) يعني لارقية اولیٰ الا من عين او حمة ۔ (يعني دم اچول د سترګو د لګيدو او زهرو په صورت کښې غوره دی) ٣– دے کښې تحقيقي قول دادے چه دا غبطه په نورو څيزونو کښې يا به ددين دوجے نه وی، اويا به ددين د وجے نه نه وی، نو

كه د دين دوجے نه وى اوددين دپاره وى، نو هغه جائز ده، ځكه علت ددواړو مشترك دے، په دے حديث كښې ددے دوه څيزونو دغبطے علت ددين دوجے نه دے، نوكه نورو څيزونو كښې ته ددين د وجے نه اوپسخيدلے نو دابه هم جائز وى، **اودلائل** په دے باندے ډير دى. ١- روستو كتاب الجنائز كښې به راشى چه عبد الله بن مسعود ﷺ دبيمارئ آرمان كړے وو په حالت دځوانئ كښې چه اجر مے زيات شوے وے. ٢- صحيح بخارى (٢/١) كښې راځى ورقه بن نوفل دنبى اكرم ﷺ دنبوت په باره كښې آرمان دځوانئ كړے وو، وئيلى وو: (يا ليتنى كنت فيها جذعاً) يعنى آرمان دے چه زه ستا دنبوت په دور كښې ځوان وے چه ته به نبى جوړ كړے شے، ما به تاسره ډير مدد كړے وے.

٣- عبد الله بن عباس ﷺ آرمان اوكړو چه آرمان دے زما سترګے نه وے ړندے شوے مابه تاسو ته هغه اُونه اودهغے ځائے درښودلے وے كومه چه عمرﷺ وهلے ده.

٤- حديث د ترمذى كښې دى (ان اغبط اوليائى عندى لمؤمن خفيف الحاذ ـ ـ).

٥- حديث د ترمذى بسند صحيح كښې دى (قال الله عز وجل: المتحابون فى جلالى لهم منابر من نور يغبطهم النبيون والشهداء) رياض الصالحين (١٥٦). ٦- فاطمه بنت قيسؓ اوفرمائيل: واغتبطت (بخارى: ٢/) مسلم (٤٨٤/١) يعنى داسامه بن زيد دنكاح په وجه ماته پسخيدل اوشو. ٧- ابن مسعود ﷺ اوفرمائيل: (ياليتنى قلت ما قاله المقداد بن الاسود يوم بدر) كما مر. اوكه تمنى ددنيا دڅيزونو وى (ددين دوجے نه نه وى) نو دا تمنى به هم مباح وى، لكه تمنى ديو ګاړى، موټر وغيره، ځكه چه دا كار مباح دے. اوكه تمنى دګناه وى نو دا حرامه او مذمومه ده، كما فى حديث ابى كبشة: الدنيا لاربعة. يو په كښې هغه شخص دے چه نه ورته مال وركړے شوے وى نه علم، اودے وائى چه (لو ان لى مالاً لعملت فيه بعمل فلان، فهو بنيته فوزرهما سواء) رواه الترمذى باسناد حسن صحيح، كذا فى رياض الصالحين ص (٢١٢)، نو غلط نيت سره غبطه كولو كښې ګناه ده، نو پسخيدل ګناه ته ګناه شوه. اودخير په كار كښې غبطه كولو سره هم اجر ملاويږى، لكه همدغه حديث د ابو كبشه عند الترمذى) كښې دويم شخص دا ښودلے شويدے چه مال ورسره نه وى خو ارمان كوى چه ما سره مال وے نو ما به د فلانى په شان نيك اعمال كولے. (فاجرهما سواء) نو په نيت باندے الله تعالى اجر وركوى. اوكه ددنيا پرستئ دوجے نه وى هم صحيح نه ده لكه تمنى دهغه كسانو چه دقارون پشان مال ئے غوښتو او دينداري پكښې نه وه فتدبر!. نو حاصل دا چه غبطه په نورو څيزونو كښې جائز ده، خوددے دپاره شرطونه دى، كه دهغے رعايت اوكړے شى نو **دا غبطه** به ان شاء الله **جائزه وى**. ١- يو شرط دا دے چه په الله باندے به اعتراض نه كوى چه زه ددے فلانى نه ډير قابل يم ما لره به ئے دا نعمت راكړے وے.

٢- مفضى الى الحسد به نه وى چه بيا د هغه صاحبِ نعمت سره حسد شروع كړى.

٣- په دے غبطه كښې به د دنيا سره محبت نه وى يعنى دنيا پرست به نه جوړيږى، ځكه الله خپل نبى او هر مؤمن منع كړيدے ﴿ ولا تمدن عينيك الى ما متعنا به ازواجاً منهم ﴾ [طه: ١٣١]

ددنيا سامانو نو ته به نظر نه اړوي ددنيا پرستئ د وجې نه.

٤- دا غبطه به په امر جائزه كښې وي او په امور خسيسه او گناهونو كښې به نه وي، بلكه په امورو جليله كښې لكه جود، علم مع العمل كښې غبطه پكار ده.

فَسَلَّطَهُ عَلٰى هَلَكَتِهِ : يعنى مسلط كول ئې ذكر كړل اشاره ده ديته چه دا غالب دے په شح او بخل باندے ځان ئې په بخل باندے غالب كړيدے، او هلاكت لفظ ئې ذكر كړو اشاره ده ډير انفاق ته چه دا بالكل هيڅ ځان سره نه پريدى. فِي الْحَقِّ : لفظ ئې ذكر كړو، اشاره ده چه مال په ناحق ځائے كښې لگول دحق په مقابله كښې لگول يا اسراف سره بے ځايه لگول داگناه ده، اوديته پسخيدل هم جائز نه دى، انسان به بيا هغه سره په گناه كښې شريك وى او په حق كښې په طاعاتو اوجهادونو وغيره ؤ كښې لگول بهتر عمل دے اوديته پسخيدل پكار دى.

وَرَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ الْحِكْمَةَ : حكمت رازونه داحكام شرعيه ؤ، علم دين، قرآن يا سنت يا اتقان فى الامور، اتقان العلم والعمل، دا ټول تفسيرونه ئې شويدى.

فَهُوَ يَقْضِىْ بِهَا : قضاء فيصلے ته هم وائى او عمل ته هم وائى يعنى په دے علم دين باندے عمل كوى. وَيُعَلِّمُهَا : او بل چاته ئې تعليم وركوى نودا انسان دكمال والا دے چه علم هم ورسره وى او عمل هم پرے كوى، او بيا هغه بل چاته ښائى اوهمدا مقصد دعلم هم دے. دا حديث په فضائل القرآن كښې په دے الفاظو دے (ورجل آتاه الله القرآن فهو يقوم به آناء الليل وآناء النهار) يعنى د شپے پرے عمل كوى اود ورځے ئې خلقو ته بيانوى، نو دے انسان سره حسد پكار دے، ليكن ددے حسد سره دا ضرورى ده چه ددے سره سره به كوشش دهغه عمل كوى، كه انسان هسے پروت وى او حسدونه كوى نو دابه دومره فائده اونه لرى، اگركه په دے نيت هم ورته اجر ملاويږى، نو چه وسع ئې كيږى دهغه سړى اتباع به كوى، لكه دا د بل روايت نه معلوميږى چه (فاتبعه) : دا پسخيدونكے انسان دهغه صاحب نعمت تابعدارى اوكړى په دے كار كښې دهغه پشان كار اوكړى اود الله د رضاء په نيت نه دمقابلے په نيت.

٦- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اِذَا مَاتَ الْاِنْسَانُ اِنْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ اِلَّا مِنْ ثَلٰثٍ اِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ اَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ اَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْ لَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : هركله چه انسان مړ شى نو دهغه دعمل سلسله هغه نه بنده شى، خو ددرے څيزونو د ثواب سلسله باقى وى : ١- صدقه جاريه. ٢- علم چه دهغے نه نفع حاصليږى. ٣- نيك عمله اولاد چه مرگ نه پس هغه دپاره دعاء كوى. (مسلم).

تشريح : اِذَا مَاتَ الْاِنْسَانُ : **فوائد الحديث** : ١- د انسان زندگى ډيره كمه ده قليل العمر دے انسان لره دا پكار ده چه دخپل مرگ نه پس هم ځان دپاره داسے نيكى پريدى چه قيامت پورے ده

تـه اجـر رسیږي، نو ددے نبي اکرم ﷺ دلته دوه درے طریقے ښودلي دي : ١- یو دا چه یوه صدقه جاریـه اوکړي، مثلاً مسجد جوړ کړي، مدرسه جوړه کړي، کوهے اوباسي، مسجد کښې پنکهې اولګوي، ډیر صورتونه جوړیدے شي۔ ٢- علم ینتفع به هم ډیر صورتونه جوړیدے شي۔

* یودا چه درس تدریس اوکړي، شاګردان پیدا کړي، لکه دپخوانو محدثینو شاګردان پیدا شو تـردے چه مونږ ته خبره را اورسیده، زمونږ نه چه روستو کوم خلق راروان دے۔ ددے ټولو فائده به هغه پخوانو محدثینو ته هم رسي چه مونږ ته ئے دا دین را اورسولو، نو په طریقه د تلمذ او شاګردئ۔ * یا علم ینتفع به بالتالیف، یو تالیف او تصنیف دکتاب اوکړي لکه صاحب مشکوٰة دا کتاب اولیکلو، خواري به ئے کړي وي، اوس مونږه ئے لولو ټول خلق ئے لولي، ددے ټول اجر به ورته الله رسوي، خو چه کله دا په صحیح نیت وي، فخر او تکبر یا شهرت دپاره نه وي۔

* یا یـو انسان یـو عـالم یا طالب له دیني کتابونه واخلي، قرآنونه مسجد له واخلي، خلق ترے فائده اخلي کتب خانه جوړه کړي۔

٣- اَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ : نیك بچے وي چه ده ته دعاء ګانے کوي، دبل چا د عاء ګانے هم دده دپاره قبلیږي اجر ورته ملاویږي لیکن د نیك بچي اجر ده ته ولے ملاویږي ددے وجه داده چه دے بچي کښې صلاحیت ده پیدا کړیدے بالتربیة الصالحة (چه نیك تربیت ئے ورله کړیدے) دے سبق ته کینولے دے ادب ئے ورکړیدے نو ګویا کښې دا دده خپل عمل دے (ان اولادکم من کسبکم) (اولاد ستاسو کسب دے) خاصکر چه ده په کښې صلاحیت پیدا کړیدے۔

١- **فائده** : نو دے نه دا معلومه شوه چه واده کول پکار دي چه ددے نه اولاد پیدا شي اودا ئے تربیت اوکړي، نیکان ترے جوړ کړي چه هغه بیا مور پلار دپاره دعاګانے غواړي، نو بچي هم یو قیمتي نعمت دے، خو چه کله ئے ښه تربیت اوشي، پو ډریان نه وي۔

٢- **فائده** : دارنګه په (یدعوله) کښې اشاره ده ترغیب ورکولو ته چه ځوي له پکار دي چه پلار دپاره دعاګانے اوغواړي اګرچه د بل چا دعاء هم وررسي مګر هغه پرے لازمه نه ده او په ځوي باندے لازم ده۔ نو فائده دحدیث دا شوه چه په دے حدیث کښې ترغیب دے ډیر اعمال صالحه ؤ ته مخکښې د مرګ نه۔ ٢- ترغیب دے صدقه جاریه او وقف ته۔

٣- مناسبت د باب سره دا دے چه (او علم ینتفع به) د علم فائده پس دمرګ نه هم ملاویږي۔

٤- **سوال** : دے حدیث کښې دي چه پس دمرګ نه دانسان ټول اعمال ختم شو مګر صرف درے اعمال (څیزونه) نه ختمیږي، نو دلته حصر او تخصیص ددرے څیزونو اوشو، حال دا دے چه نور احادیثو کښې نور څیزونه هم راغلي دي چه هغه هم نه منقطع کیږي، لکه دوه صفحے روستـه ص (٣٦) فصل ثالث کښې دابو هریره ﷺ (٥٩) حدیث دے په هغے کښې ډیر څیزونه ذکر دي، خو څه کـه ټول پـه صدقـه جاریـه کښې داخلوے نو بل حدیث په مشکاة (٢/٣٢٩) کتاب

الجهاد کښې راځي چه د انسان عمل پس د مرګ نه ختمیږي: الا المرابط فی سبیل الله فانه ینمو له الی یوم القیامة) وکذا فی الترغیب والترهیب للمنذری (١/١٩٩) کتاب العلم)۔ دمجاهد مرابط عمل ترقیامته پورې جاري وي۔نوحصر په درې څیزونو کښې صحیح نه شو؟۔

جواب: ١- په دې حدیث کښې حصر غرض نه دې بلکه دا درې څیزونه صرف په یو مجلس کښې ذکر شویدي دپاره د ترغیب، او په دې کښې ئې نفي دنورو څیزونو نه ده کړې، اودا کار په احادیثو کښې ډیر زیات کیږي نودلته وائي دادرې څیزونه به نه منقطع کیږي پاتې شو نور څیزونه نوآیا هغه به منقطع کیږي اوکه نه، نوکه نورحدیثونو کښې راغلل چه هغه هم نه منقطع کیږي نو هغه به هم منلې شي لکه مرابط فی سبیل الله شو اوکه رانغلل نو بیا به نه وي۔

٢- جواب: دلته درې ؤ کښې حصر مقصود دې اودا درې اعمال قاعده کلیه ده اوباقي څیزونه ددې افراد دي، او بلا تکلف په کښې داخلیږي نو مرابط داخل دې په صدقه جاریه کښې ځکه غرض په صدقه جاریه کښې دادې چه خلقو ته فائده اورسي، او مرابطه کښې هم مسلمانانو ته فائده رسول دي، چه کفار پرې غلبه او محاصره اونه کړي، داسلامي سرحداتو حفاظت کول وي۔وهو الراجح الظاهر۔

٥- بله فائده دې حدیث کښې داده چه انسان پس د مرګ نه عمل نشي کولې، عمل ئې په مرګ سره ختمیږي، دا دلیل دې چه انسان چه مړ شي نو هغه بیا د دنیا د ژوند په شان ژوندې نه وي، روح ئې دنیا ته بیرته نشي راتلې، برابره خبره ده که ولي وي اوکه نبي، نودا رد شو په مشرکانو باندې چه وائي د مړو روحونه دنیا ته راځي اودبلې په سر باندې ناست وي اوخلقو سره مددونه کوي۔بعض جاهلان وائي انبیاء او اولیاء داسې ژوندي دي لکه زمونږ ددنیاوي ژوند پشان، او قبرونوکښې مونځونه کوي او خلقو سره مددونه کوي، دا غلطه خبره ده، د قرآن او سنت خلاف عقیده ده، ځکه دلته اذا مات الانسان عام دې، ولي او پیغمبر اود دوئ نه علاوه باقي نورو تولو خلقو ته هم شامل دې، دومره ده چه دانبیاء کرامو علیهم السلام صدقه جاریه باقي پاتې ده ځکه هغوی مونږ ته دین رارسولې دې نو هغوی (من سن سنه حسنة) والا دي (اودا سنة حسنة هم صدقه جاریه کښې داخل ده)۔

بلوغ الصواب – فی مسئلة ایصال الثواب

بیا په دې حدیث کښې مسئله دایصال الثواب بیانیږي یعنی چه عمل انسان ځان له اوکړي اوبیا دهغې ثواب بل چاته اوبخښي آیا دا ثواب هغه ته رسیږي اوکه نه، اوکه چاته رسي او چاته نه رسي، اوکوم اعمال رسي اوکوم نه رسي ؟ نو په دې کښې ډیر تفصیل دې خو مختصره نقشه ئې داده چه عبادات ډیر قسمونه دي:

١- **اول قسم دعاء** ده، دعاء اوددې ثواب بخښل هر چاته رسي، مړو اوژوندو تولو ته فائده

ورکوی، لکه جنازه کښې مونږ دعاء مړی ته کوو، نو فائده ئې هغه ته رسی، اګرکه دا دعاء زمونږ عبادت دے مونږ ته پرے اجر ملاویږی، خو چه بل ته دعاء اوکړے نو فائده ئې هغه ته هم رسی، اګرکه څوك دعاء کښې داسے نه وائی چه اے الله ددے دعاء ثواب فلانی ته ورکړه، بلکه اجر تاته ملاؤ شو او فائده به هغه ته هم رسی، لکه حدیث کښې دی : (الدعاء لاخیه بظهر الغیب مستجاب) (غیبانه دعاء ډیره زر قبلیږی) اوداخبره دټول امت اتفاقی او اجماعی ده، ډیر احادیث پرے دلیل دے۔

۲ - دویم قسم عبادات بدنیه او مالیه دي : نو په دے کښې اختلاف دعلماؤ دے :

۱ - د جمهور علماؤ رائے داده چه اهداء الاعمال والعبادات جائز دی بیا د دوئ په خپل مینځ کښې اختلاف دے چه دکومو اعمالو اهداء جائز ده ؟ نو په دے کښې داکثرو علماؤ رائے داده چه عبادت مالیه هبه کولے شی او عبادات بدنیه نشی هبه کولے، ځکه په دے باره کښې څه نص نه دے موجود، لکه چه دا رائے دامام شافعیؒ ده، علامه ابن کثیرؒ په تفسیر د سورة النجم ﴿ وان لیس للانسان الا ما سعی ﴾ آیت کښې ذکر کړیدے : (ومن هذه الآیة الکریمة استنبط الشافعیؒ ومن وافقه ان القرائة لا یصل ثوابها الی الموتی لانه لیس من عملهم ولا کسبهم وهذا لم یندب الیه رسول الله ﷺ أمته ولا حثهم علیه ولا ارشدهم الیه بنص ولا ایماء ولم ینقل ذلك عن أحد من الصحابة ولو کان خیراً لسبقونا الیه الخ)۔(۲۵۸/٤) (او ددے آیت کریمه نه امام شافعی او د هغه موافقینو دا مستنبط کړیده چه د قرائت ثواب مړو ته نه رسیږی، ځکه دا د هغوی خپل عمل او کسب نه دے او دے ثوابونو بخلو ته رسول الله ﷺ دعوت نه دے ورکړے او نه ئې امت ته ددے ترغیب ورکړے دے نه په نص سره او نه په اشارے سره او دا د یو تن د صحابه کرامو نه هم ندے نقل او که دا کار خیر وے نو هغوی به د نورو امت نه دیته مخکښې والے کړے وے) نو مړو ته مونځونه او تلاوت د قرآن وغیره بدنی عبادات بخښل جائز نه دی چه بعض جاهلان دعائشهؓ بی بی دپاره هر مازیګر دوه رکعاته کوی دا په دین کښې نشته۔او په عبادات بدنیه کښې صرف دبعض اعمالو د هبه کولو جواز راغلے دے لکه صوم دمور پلار دطرفنه پس مرګ دهغوی نه چه په هغوی باندے قضاء پاتے وی، حج د بل دطرفنه، اوصدقه ځکه دا نیابت دے ایصال ثواب نه دے۔ هر چه صدقه ده نو دا هم صرف مور پلار ته بخښل راغلی دی، دلیل په دے باندے حدیث دسعدؓ دے چه ده عرض اوکړو : یا رسول الله ! زما مور وفات شوه اواراده دخیرئے وه که ژوندئ وے، نو آیا زه دهغے دطرفنه صدقه اوکړم، نبی اکرم ﷺ ورته اجازت اوکړو، نو هغه بیا دهغے دپاره کوهے اوکنستلو اونوم ئې ورته کیښود (هذه بئر لام سعد) کما فی مسند احمد (۲۸۵/۵) (دا کوهے د سعد د مور) صدقه خو اجماعی ده لکه حافظ ابن القیم په کتاب الروح ص (۱۱۹) کښې ذکر کړیده، اود صوم په باره کښې حدیث دے لکه بخاری (۲۶۱/۱) ومسلم (۳۶۲/۱) کښې په روایت د عائشه (من مات وعلیه صیام صام عنه ولیه) یعنی چا باندے چه روژے وی او هغه مړ شی نو دهغه دطرفنه به دهغه

وارثان روژے اونیسی، نو دلته روژه دبل چا دطرفنه نیول شویده۔

د حج په باره کښې روایت دابن عباس ﷺ دے لکه بخاری (۲۴۹/۱) کښې دی : یوه زنانه راغله عرض ئے اوکړو یا رسول الله ! مور مے نذرکړیدے خو هغه وفات شوه آیا زه دهغے دطرفنه حج کولے شم ؟ نبی اکرم ﷺ ورته اوفرمائیل : (حجی عنها) (دهغے دطرفنه حج اوکړه) بل روایت کښې دی یو سړی عرض اوکړو، یارسول الله ! پلار مے ضعیف دے زه دهغه دطرفنه حج اوکړم، نبی اکرم ﷺ ورته اجازت ورکړو، کما یاتی فی المشکٰوة (۲۲۱/۱) ددے په باره کښې ډیر احادیث دی، اوهر چه دقربانئ په باره کښې روایت دے چه نبی ﷺ دټول امت دطرفنه په یوګډ سره قربانی اوکړله، (وقال : اللهم ان هذا عنی وعمن لم یضح من امتی) رواه احمد (۳۵۶/۲) والترمذی (۲۷۵/۱) والحدیث صحیح کما فی ارواء الغلیل (۳۴۹/٤) واخرجه الحاکم (۲۲۹/٤) والبیهقی (۲٦٤/۹)۔

نو ددے حدیث **جواب ۱**: دا دے چه دا د نبی اکرم ﷺ خصوصیت دے لکه حافظ ابن حجر وئیلی دی او البانی په ارواء (۳۴۹/٤) کښې ـ دنور امت دپاره دا نه دی جائز چه هغوئ دآینده امت دپاره په یوګډ سره قربانی اوکړی او هغه صحیح کړے شی۔دا وجه ده چه صحابوؓ هم دا کار نه دے کړے۔ اوهر چه حدیث دعلی ﷺ دے چه دوه ګډان ئے ذبح کړل او بیا ئے اووئیل (ان رسول الله ﷺ اوصانی ان أضحی عنه فانا اضحی عنه) اخرجه ابوداود (۲۹/۲) والترمذی (۲۷۵/۱) وسیاتی فی المشکوة (۱۲۸/۱) نو ددے **جواب** دا دے چه دا حدیث ضعیف السند دے، ځکه په سند کښې ابو الحسناء مجهول راوی دے کما فی التقریب (٦۳۳) ووثقه ابن معین ـضعیف ابی داود (۲۷۲) ۲- خو که صحیح شی نودا امر صرف علی ﷺ پورے خاص دے، دنورو صحابوؓ نه نه دی نقل چه هغوی دنبی اکرم ﷺ دپاره قربانی کړے وی۔ددے علماؤ په نیز هم تلاوت اومونځ نشی بخښلے۔

۱- **القول الثانی** : دویم قول دمحققینو علماؤ دے، دوئ فرمائی : داعمالو ثوابونه بخښل هیڅ چا ته بالکل جائز نه دی، برابره خبره ده که بدنی اعمال وی اوکه مالی وی، مګر مور پلار ته د تولو اعمالو ثواب رسیږی، اودا قول دعلامه شوکانیؒ په السیل الجرار کښې اود عز بن عبد السلام دے د هغه په فتاویٰ (۲٤/۲) کښې اود صدیق حسن خان دے په تفسیر فتح البیان کښې په آخر د سورة یس کښې، او صاحب د تفسیر المنار (۲۷۰/۸) اوالزبیدی په شرح داحیاء (۲٦۹/۱۰) کښې نقل کړیدی چه دا قول دامام شافعیؒ هم دے اود یو جماعت داحنافو هم دے، او البانیؒ په احکام الجنائز کښې راوړیدے۔ **دلائل** : اول جوابونه کوی : چه حج او صوم دبل چا دطرفنه اداء کول دا اهداء او بخښل دعمل نه دی، بلکه دا دهغوی دطرفنه قرض اداء کول دی په هغوی باندے واجب پاتے دی دهغې نیابت ته اوکړے، ځکه اهداء الاعمال خو په اعمال مستحبه کښې راځي، چه په هغه باندے هیڅ واجب نه وی، اوته په خپله خوښه ثوابونه داعمالو هغه ته بخښیے، نو دا په دین کښې نشته، او نیابت په بعض اعمالو کښې جائز دے، نو دا دوه صورتونه دحج

او صوم د موضع النزاع نه خارج دي۔ دا خو تول منی چه نيابت په بعض اعمالو کښې عند العجز جائز دے، او په دغه احاديثو کښې همدا نيابت ذکر دے، او دليل په دے باندے دادے چه هغه احاديثو کښې نبي ﷺ روستو داسے فرمائيلي دي: (أرأيت لو كان على امك دين اكنت قاضيه، اقضوا الله فالله أحق بالقضاء) كما في البخاري (۲۴۹/۱) وقد مر ۔ نو دلته ئے دا ذکر کړل چه دا د الله قرض دے د هغه د طرفنه ئے اداء کول جواز لري۔ او هر چه صدقه ده نو دا صرف د مور پلار د پاره ذکر کړے شويده، عام احاديثو کښې مور پلار ذکر کيږي، ورور يا خور وغيره نور خپل پردي د پاره نه ده ذکر۔

۱– **دليل**: آيت د سورة النجم دے ﴿ وأن ليس للانسان الا ما سعى ﴾ يعني دانسان سعي او کوشش به صرف ده ته فائده ورکوي، نه بل چاته، او هر چه اولاد دي نو دا هم د مور پلار سعي او کسب دے لکه مخکښې حديث تير شو (ان اولادكم من كسبكم) الترمذي) نو اولاد خپله سعي ده په نص د حديث سره۔ ۲– **دليل**: دا حديث دے (اذا مات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاثة) رواه مسلم في الوصايا) ۔ دلته حصر شويدے چه مړو ته هيڅ اعمال نه رسيږي سيوا د دے درے څيزونو نه چه د دے ثواب ورته رسيږي، اوس که د بل چا عمل ورته وررسيدلے نو داسے به ئے هم وئيلي وے چه (او ثواب الاعمال اللتي تُهدئ اليه)۔ (يا ثواب د هغه اعمالو چه هديه کولے شي هغه ته)۔

۳– **دليل**: که ثواب مړو ته بخښل جائز وے نو پکار ده چه بيا ژوندو ته هم جائز شي لکه نن صبا عوام اوس دا کار هم کوي چه طوافونه د ژوندو د پاره کوي، خلقو په کښې ډيره توسع او فراخي کړيده او دين کښې نه ده راغلے۔ ۴– **دليل**: که ثواب هديه کول جائز وے نو پکار ده چه بيا نيم يا څلورمه حصه يا دريمه حصه عمل بخښل کيدے، حال دا چه دا خو نشي کيدے نو معلومه شوه چه دا اهداء الاعمال صحيح نه ده۔

۵– **دليل**: بل قوي دليل دا هم دے چه که دا کار خير وے نو نبي اکرم ﷺ د خير ښودلو د پاره راليګلے شويدے هغه به د دے ترغيب امت ته ورکړے وے، او صحابوؓ به دا کار کولے، ليکن هر کله چه نبي اکرم ﷺ د دے ترغيب نه دے ورکړے او نه صحابه کرامو ؓ په دے عمل کړيدے (صحيح احاديثو کښې نشته) نو دا ايصال ثواب د خير کار نه ښکاري۔ او کوم علماء چه د اجماع دعویٰ کوي نو دا حقيقي اجماع نه ده، بلکه قول د اکثرو علماؤ دے، ځکه چه مخالف کښې ئے محققين هم موجود دي۔

عمومي دلائل: د دے باره کښې عمومات هم ډير دي۔

۱– ﴿ ومن تزكى فانما يتزكى لنفسه ﴾ ـ فاطر: ۱۸) ـ ۲ – ﴿ لها ما كسبت وعليها ما اكتسبت ﴾ البقرة: ۲۸۵) ۔ نيکي د هر انسان د خپل ځان ده۔ نو په دے کښې نص صريح پکار دے او هغه نشته۔ په آراء او قياسونو سره عبادت نه ثابتيږي، او دا خو مهم عبادت دے په دے کښې قياس کار نه ورکوي، ځکه قياس خو د ضرورت د وجے نه وي، او باب د قربات (عباداتو) کښې به په نصوصو باندے اقتصار کيدے شي۔ (ابن کثير سورة النجم) بله وجه دا ده چه مبتدعينو دا مسئله ډيره

فراخه کړیده، د قرآن ختمونه کوی په هیئة اجتماعیه باندے او مروته ئے ثوابونه بخښی او اجرت پرے اخلی، د پیسو گټلو ذریعه ئے ترے جوړه کړیده ، دا ختمونه په دین کښ نه دی ثابت، صرف ددے مسئلے نه راپیدا شویدی، شیخ عبد القادر جیلانی ته ثواب داعمالو بخښی په دے نیت چه دابه زمونږ په مال کښ برکت واچوی، ځکه ده دیوولسو کالو غرقه بیړئ راویستے ده، نود سد الذرائع په وجه هم دا قول بهتر دے چه داکار صحیح نه دے چه اعمال بل چاته اوبخښلے شی اگرچه د ائمه اربعه ؒ هم دا قول دے چه صدقه دمور پلار نه ماسیوا هرچاته بخښلے شی، اوعلامه قرطبیؒ وائی چه په دے باندے اجماع ده لیکن د اجماع خبره صحیح نه ده، کما عرفت۔ اودا هغه مسئله ده چه د ائمه اربعه ؒ قول په کښ ضعیف دے او محققین علماء په کښ حق بجانب دی، چه صدقه هم خاص ده دمور پلار دپاره، بل چاته ددے دبخښلو ثبوت نشته، احادیثو کښ تخصیص دمور پلار راغلے دے، قیاسونه به نشی کولے۔ددے مسئلے ښه تفصیل په السنن والمبتدعات ص (۱۰٤ – ۱۱٦) المغنی لابن قدامه (۲۲٦/۲) شرح مسلم (۱۲۱/۱) کتاب الروح لابن القیم ص (۱۳۳) فتاوی الدین الخالص (۱٥۰/۲) نیل الاوطار (۱٤۰/٤) او مذکوره تفاسیرو کښ مسطور دے۔

۷- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلٰى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَاكَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ اَخِيْهِ الْمُسْلِمِ وَمَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَلْتَمِسُ فِيْهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهٖ طَرِيْقًا اِلَى الْجَنَّةِ وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِيْ بَيْتٍ مِنْ بُيُوْتِ اللهِ يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللهِ وَيَتَدَارَسُوْنَهُ بَيْنَهُمْ اِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيْمَنْ عِنْدَهُ وَمَنْ بَطَّأَ بِهٖ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهٖ نَسَبُهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : اودهمدے ابو هریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړے چه ددنیا سختو اوتنگو کښ د یو مسلمان یوه سختی اوتنگی لرے کړی نو الله تعالی به دقیامت په ورځ د هغه سختی اوتنگی لرے کړی، اوچاچه د یو تنگ دست سره آسانی اوکړه، الله به په دنیا او آخرت کښ دده سره آسانی اوکړی۔او چاچه په یو مسلمان باندے پرده واچوله (د هغه عیب ئے پټ کړو) الله تعالی به دنیا او آخرت کښ په هغه پرده واچوی۔او الله تعالی هغه وخته پورے دیو سړی مدد کوی څو پورے چه هغه دخپل مسلمان ورور په مدد کښ وی، او کوم سړے چه دعلم په طلب کښ په یوه لاره ځی نو الله تعالی به هغه ته دجنت لار آسانوی، او هرکله چه

یو جماعت د الله کور (مسجد یامدرسه) کښې قرآن لولي او بل ته ئې ښائي نو په هغوئ باندې (د الله له اړخه) سکینه نازلیږي، د الله رحمت په هغوئ راخوریږي او ملائك ترې چاپیره کیږي، او الله تعالیٰ ددغه ډلې ذکر په هغه ډله (دملائکو) کښې کوي چه هغه سره دي او چا لره چه عمل روستو پاتې کړو، نو هغه لره به نسب مخکښې بو نه ځي. (مسلم).

تشریح : مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ : تنفیس : تخفیف او نرم والي راوستلو ته وائي او تفریح ددې نه زیات وي، چه بالکل ئې زائله کړي دلته په معنی ازالې او لرې کولو سره دې. په دې حدیث کښې مسئله دجزاء من جنس العمل ده، دا لویه قاعده ده په شریعت کښې. کربه : دلته تنوین د تحقیر دپاره دې یعنی معمولي شان مصیبت، او روستو کربةً کښې تنوین د تعظیم دپاره دې، یعنی غټ مصیبت. نو معنی دا شوه : چا چه دیو مؤمن نه وړوکې شان تکلیف او مصیبت او پریشاني لرې کړه الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ دده نه لوئې مصیبت او تکلیف لرې کړي. عن مؤمن : دکافر نه چه تکلیف لرې کړې هم اجر شته خو چه مؤمن نه ئې لرې کړي په دې کښې ډیر اجر دې.

بیا دمؤمن نه تکلیف لرې کولو ډیر شکلونه دي : ۱- یو مصیبت کښې تسلي ورکړي. ۲- یوه لاره چه هغه ته نه وي معلومه ورواوښائي. ۳- یو کار او کسب نه ورځي هغه ورته ور اوښائي. ٤- دهغه نه مصیبت په بله طریقه واړوي، پیتې (بوج) ورسره یوسي، حاجت ورله پوره کړي.

وَمَنْ يَسَّرَ عَلٰى مُعَسِّرٍ : او چا چه آساني راوسته په یو تنګدست (فقیر) انسان باندې. معسر : اسم مفعول دې د باب تفعیل نه هغه انسان ته وائي چه په هغه باندې تنګوالې راغلې دې دمال د ظرفنه، غریب شویدې، نو ده باندې دآساني راوستلو ډیر صورتونه دي : ۱- یو دا چه قرض ورته معاف کړي. ۲- یا ورته د قرض څه حصه معاف کړي. ۳- یا ورته انتظار اوکړي چه نن ئې مه راکوه لس ورځې پس به ئې راکړې، لس ورځې پس ورسره ملاؤ شې چه نن ئې مه راکوه، یو څو ورځې پس به ئې راکړې کله چه درسره پیدا شوې.

وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا : چا چه مؤمن باندې پرده وا چوله یعنی دا سې یو عیب ئې ورله پټ کړو چه دهغې پټول پکار دي لکه یو ځائې کښې ئې عورت ښکاره شو، یائې دخولې نه یوه غلطه خبره اووتله او تاخلقو ته بیان نکړه، یا ترې هوا خارجه شوه، یا یوه ګناه ترې اوشوه تاپټه اوساتله، البته دهغه مسلمان ګناه به ښکاره کولې چه هغه ظالم وي، پردې مال غلا کوي، قتل کوي، فساد في الارض کوي. وَاللّٰهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ : الله چه دانسان په مدد کښې اولګیدو نو هغه به ضرور پوره کیږي او ته چه دیو بنده په مدد کښې اولګیدې نو پته نه لګي چه هغه به پوره کیږي یا نه، نو که دالله مدد غواړې نو دمسلمانانو سره ډې مدد کوي، دهغوی پکار ډې راشي.

وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا : ددې سلوك الطريق دوه معاني دي : ۱- یو دا چه دطریق نه مراد ظاهري لاره کوڅه ده، او روستو طریق نه هم ظاهري لاره مراد ده، یعنی څوك چه په یوه لاره

کوځه باندې دعلم طلب کولو دپاره روان شي ځان پرې مدرسې ته رسوي، نو الله تعالى به ده ته دقیامت په ورځ دجنت لاره په آسانۍ سره اوښائي، نو په دې حدیث کښې لوئې فضیلت دعلم دې چه په دې باندې جنت ملاویږي، اوخلق دا سپکه او معمولي خبره ګنړي، نوددې دپاره نیت کول پکار دي چه په دې علم باندې مونږ ته الله جنت راکړي. نو پدې کښې تصحیح د نیت د طالب العلم ده.

۲ – دویم معنی دا چه طریق نه مراد طریق معنوی دې، او سهولت نه هم سهولت دطریق معنوی دې، معنی داده چه څوك روان شي یعنی اختیار کړي یوه طریقه او ترتیب چه په هغې طریقې سره علم طلب کوي، اګرچه په لاره روان نه دې، کور کښې ناست دې مدرسه کښې ناست دې، کتاب مطالعه کوي، درس او تدریس کوي، تالیف او تصنیف کوي خو چه دعلم حاصلولو دپاره وي. سَهَّلَ اللّٰهُ لَهٗ بِهٖ طَرِيْقًا : نو ده ته به الله تعالى لاره دجنت آسانه کړي، یعنی الله به ورته توفیق دعمل ورکړي په دې علم باندې، یعنی دا به سبب شي دپاره ددخول الجنة نو دطریق (لارې) نه مراد طریق معنوی دې چه هغه عمل دې په علم باندې.

وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِيْ بَيْتٍ : دقوم نه مراد یواځې لوئې جماعت نه دې، کلې نه دې بلکه که دوه کسان هم وي هغې ته شاملیږي. مِنْ بُيُوْتِ اللّٰهِ : مراد ترې مساجداو مدارس دي، بیا قرآن کریم لوستل په کور کښې هم اجر دې لیکن مسجد کښې درس دقرآن او حدیث پکار دې، ځکه چه دا افضل مکان دې دملائکو ماحول دې، ځکه ئې دالفاظ زیات کړل چه (من بیوت الله) دې کښې برکات وي.

يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللّٰهِ : صاحب المرقاة لیکي چه دتلاوت نه مراد یواځې تلاوت مجرده باللسان نه دې، بلکه مع فهم المعنی (چه په معنی باندې ئې هم پوهیږي)، مع التوجه الشدید (زیاته توجه به ئې وي په کښې الله ته)، او بیا په دې یتلون کتاب الله کښې تصحیح دالفاظو داخل ده، چه الفاظ به صحیح وائي. ۲ – د معنی لحاظ به هم کوي. ۳ – دهغې د احکامو تفسیر کول. ٤ – هغې نه اسرار او حِکم راویستل دا ټول په کښې داخل دي. د قرآن کریم درسونه اوس دعرب اوعجمونه ختم شویدي، البته دلته دصوبه سرحد په بعض علاقو کښې ددې اهتمام کیږي. عربو کښې دحدیثو چرچه ډیره ده. په دې حدیث کښې ترغیب دې قرآن لوستلو ته، بیا دقرآن په ضمن کښې احادیثو ته هم شامل دې ځکه چه دا د قرآن شرح ده.

وَيَتَدَارَسُوْنَهٗ : تدارس دیته وائي چه یو کس ئې لولي او نور ورته غوږ کیدي، بعض وائي دا تدارس ټول انواعو دبیان ته شامل دې، لکه تفسیر، تلاوت، تعلیم او تعلم، دقائق او رازونه بیانول، تقریر او وعظ و نصیحت کول. السَّكِيْنَةُ : علماؤ ددې ډیر مصداقات بیان کړیدي :

۱ – بعض وائي ددې نه مراد اکرام دې یعنی دالله په نیز دا خلق داکرام او قدر وړ دي، الله ورته په اوچته سترګه ګوري. ۲ – بعض وائي دې نه مراد ملائك دي. لیکن داغوره نه دې ځکه چه ملائك روستو ذکر دي. ۳ – امام نوويؒ فرمائي : دایو شے دې دمخلوقاتو د الله نه چه په دې کښې

اطمینان او رحمت وي، او ملائك ورسره وي۔

٤- بعض وائي سکینه نه مراد خاص رڼا ده چه د قرآن په وخت کښې نازلیږي، لکه فضائل القرآن کښې به دا الفاظ راشي چه (تلك السكينة تنزلت للقرآن) ٥- لیکن ظاهره داده چه سکینه سکون القلب او اطمینان ته وائي کله چه انسان قرآن او حدیث لولي نو زړه کښې ئې یو اطمینان او آرام وي، لکه دا تجربه هم ده چه انسان دقرآن او حدیث درس کښې ناست وي نو زړه یو شان وي اوچه پاڅیږي نو بل شان وي، او چه بازار کښې وي نو بل شان وي۔ د انسان نه غم هیر شي۔

وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ : ملائك ترې گیره اچوي، چاپیره کیږي ترینه۔ وذكرهم الله فیمن عنده : الله ئې دهغه ملائکو په مجلس کښې یادوي چه دالله سره دي، وائي اوگورئ زما بندگانو ته ! چه زما کتاب لولي، دا څلور نعمتونه ورکولې شي۔ یو بل حدیث کښې پنځم نعمت هم ذکر شویدې هغه دا چه کله دوئ پاڅیږي نو ملائك ورته وائي (قوموا مغفوراً لكم، قد بدلت سيئاتكم حسنات) یعنی په داسې حال کښې پاڅیږئ چه تاسو ته بخښنه اوکړې شوه اوستاسو گناهونه په نیکیو باندې بدل کړې شو۔ دا ډیر لوئی منقبت او فضیلت دې۔ روستو باب الاذکار کښې به حدیث دمسلم راشي چه لوئی فضیلت دا هم دې چه دا انسانان چه څه دالله نه غواړي هغه ورله ورکوي، دا ئې وعده ده، په دې کښې ملائك وائي چه یا الله ! په دې خلقو کښې یو شخص دخپل غرض دپاره دې مجلس ته راغلې وو، نو الله ورته اوفرمائي : هغه مې هم اوبخښلو څکه (هم القوم لا يشقى بهم جليسهم) - (دا داسې خلق دي چه دوئ سره ناست شخص هم بې برخې کیږي نه)۔ نود قرآن او حدیث درس ته ډیر په توجه او انتهائي شوق سره کیناستل پکار دي، دا یو یو خیر ددنیا او ما فیها نه غوره دې۔لمن قدر قدره (که څوك ئې قدر پیژني)۔

وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ : اوهغه څوك چه روستو پاتې کړو ده لره عمل دده د اوچتو مرتبو حاصلولو نه، نو په جلتئ به بونه څي ده لره نسب دده۔یعني یو سړې ډیر نسب دار مالدار دې، نو په دې باندې دا نیك بخت کیږي نه، اوچته درجه نشي گټلې، دا درجه عُلیا په عمل گټلې شي، مناسبت ددې جملې دادې چه عمل پیدا کیږي دقرآن اوعلم نه، نو که یو شخص قرآن نه وائي نو هغه ته به علم نه حاصلیږي، او چه علم ورته حاصل نشو، نو عمل به اونکړي اوچه عمل اونکړي نو اوچتې درجې ته نشي رسیدلې، اگرچه بنه نسب والا وي، نو دا دې دا گمان نه کوي چه زه به اوچته مرتبه په نسب سره حاصله کړم۔اودا زمونږ د شریعت اصول دي چه په مالداري، نسب، لسانیت او قومیت باندې اوچته درجه اومرتبه نشي گټلې، دا ددنیا څیزونه دي، شریعت کښې علم لره اعتبار دې، بلکه دالله په نیز باندې داوچتې مرتبې او فضیلت حاصلولو معیار تقوی ده ﴿ ان اکرمکم عند الله اتقاکم ﴾۔

تَرْجُو النَّجَاةَ وَلَمْ تَسْلُكْ مَسَالِكَهَا ان السفينةَ لا تجري على اليَبَسِ

چه يو انسان د نجات اراده لري نو هغه به د هغې اسباب اختياروي چه هغه عملونه دي۔ کشتۍ په اوچه نه روانيږي، هغې دپاره اوبه پکار دي۔

۸- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« اِنَّ اَوَّلَ النَّاسِ يُقْضٰى عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ فَـأُتِيَ بِهٖ فَعَرَّفَهٗ نِعْمَتَهٗ فَعَرَفَهَا فَقَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا قَالَ قَاتَلْتُ فِيْكَ حَتّٰى اسْتُشْهِدْتُ قَالَ : كَـذَبْـتَ وَلٰـكِـنَّـكَ قَـاتَـلْـتَ لَاَنْ يُّقَالَ: جَرِيْئٌ فَقَدْ قِيْلَ: ثُمَّ اُمِرَ بِهٖ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهٖ حَتّٰى اُلْقِيَ فِي الـنَّـارِ وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهٗ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ فَأُتِيَ بِهٖ فَعَرَّفَهٗ نِعَمَهٗ فَعَرَفَهَا قَالَ: فَمَا عَـمِلْتَ فِيْهَا .قَالَ: تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهٗ وَقَرَأْتُ فِيْكَ الْقُرْآنَ قَالَ: كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِـلْـمَ لِيُـقَـالَ اَنَّكَ عَـالِـمٌ وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ هُوَ قَارِئٌ فَقَدْ قِيْلَ ثُمَّ اُمِرَ بِهٖ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِـهٖ حَتّٰـى اُلْـقِـيَ فِـي الـنَّـارِ وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ وَاَعْطَاهُ مِنْ اَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهٖ فَأُتِيَ بِهٖ فَـعَـرَّفَهٗ نِعَمَهٗ فَعَرَفَهَا قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا؟ قَالَ: مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيْلٍ تُحِبُّ اَنْ يُّنْفَقَ فِيْهَا اِلَّا اَنْـفَـقْـتُ فِيْهَـا لَكَ. قَـالَ: كَـذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ هُوَ جَوَادٌ فَقَدْ قِيْلَ ثُمَّ اُمِرَبِهٖ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ثُمَّ اُلْقِيَ فِي النَّارِ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

ترجمه : او ابـو هـريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : دقيامت په ورځ به دټولو خـلـقو نه اولنۍ سرے چه په هغه به (دصحيح نيت پرينښودلو) فيصله کولے شي هغه کس به وی چـه (دنيا کښې) شهيد کړے شوے وو (ميدان حشر کښې به) هغه پيش کړے شي او الله تعالى به هغـه تـه خـپـل (ورکړی) نـعـمـتـونـه راياد کړی چـه هغه ته به ياد شي، بيا به الله تعالى هغه ته اوفـرمـائـي : تـا ددے نـعـمـتـونو په شکر کښې څه کار اوکړو؟ (يعنی الله به هغه ته خپل نعمتونه ښـودلو سره بطور الزام اوفرمائي چه تا ددے نعمتونو په شکرانه کښې څه اعمال اوکړل ؟) هغه به اووا ئي : مـا سـتـا لار کـښې جـنـګ اوکـه، تـردے چـه شـهيد شوم، الله تعالى به ورته اوفرمائي : ته دروغژن يې ځـکـه چه ته دے دپاره جنګيدلے وے، چه تاته بهادر اوويلے شي نو تاته بهادر اوويلے شـو او سـتـا اصـل مـقـصد دخلقو نه حاصل شو (اوس ما نه څه غواړے) بيا به حکم اوشي چه دے پـرمـخـے راکـاږئ تـردے چـه اُور کـښې اوغـورځولے شي۔ بيا (دويم) به هغه سرے وی چه هغه علم حـاصـل کـه، نوروته تعليم ورکه او قرآن يې اولوستلو، هغه به هم (دالله په حضور کښې) راوستے شـي، الـلـه بـه ورتـه خپل ورکړی نعمتونه راياد کړی چه هغه ته به ياد شي بيا به ترے الله تپوس اوکـړی چـه تا ددے نعمتونو شکر کښې څه اعمال اوکړل؟۔ هغه به وائي ما علم حاصل که او نورو تـه مـے اوښـودلـو اوستا دپاره مے قرآن اوويلو۔ الله تعالى به ورته اوفرمائي : ته دروغژن يې تاعلم صـرف دے دپاره حاصل که چه خلق درته عالم اووائي او قرآن دے دپاره زده که چه خلق درته قاري

اووائی نو (عالم او قاری) درته اووئیلے شو۔ بیا به حکم اوشی چه دے پرمخے راکاږئ تردے چه اور کښ به واچولے شی۔ بیا به (دریم) هغه سړے وی چه الله ورله (په معیشت کښ) فراخی ورکړیده او هر قسم مال ئے ورله ورکړیدے هغه به هم (دالله مخے ته) راوستے شی الله تعالی به هغه ته خپل ورکړی نعمتونه رایاد کړی چه هغه ته به یاد شی بیا به ورته الله اوفرمائی: چه تاددے نعمتونو شکر کښ څه اعمال اوکړل؟۔ هغه به وائی: ما هیڅ داسے لار پریے نښوده چه هغے کښ ته خرچ کول خوښوے اوستا دخوشحالولو دپاره ما هغے کښ خرچ نه وی کړے۔ الله تعالی به ورته اوفرمائی: ته دروغ وائے۔تا خرچ ځکه کولو چه تاته سخی اووئیلے شی او سخی درته اووئیلے شو، بیا به حکم اوشی دے پرمخے راکاږئ تردے چه اور کښ به واچولے شی۔ (مسلم)۔

تشریح: **اِنَّ اَوَّلَ النَّاسِ یُقْضٰی عَلَیْهِ**: یعنی اول هغه خلق چه دقیامت په ورځ په هغوی اورته دداخلیدلو فیصله کولے شی یعنی اول جهنم ته بوتللے شی لکه حدیث د ترمذی (۶۳/۲) فی الزهد کښ دی (اولئك الثلثة اول الخلق تسعر بهم النار) دا ولے د تهولو نه وړاندے جهنم ته داخلولے شی؟ نو وجه دا ده چه دے درے کسانو ته لوئی نعمتونه ورکړے شویدی اودا ئے بے ځایه استعمال کړل سوځکه په مسلمانانو کښ اول دوی اورته داخلوی۔ دا کافر نه دی بلکه مسلمانان دی خو ګنهګار او مجرمان دی، ریاء کار دی، که نه وی نو مشرکان به دتهولو نه مخکښ اور ته داخلیږی۔

فَعَرَّفَهُ نِعْمَتَهُ: عرف د باب تفعیل نه یعنی الله به ورته خپل نعمت وراوښائی، پدے مقام کښ نعمته مفرد دے مراد ترینه جنس دے تهول نعمتونه مراد دی او روستو دوه ځایونو کښ صیغه د جمع ده۔ **فَمَا عَمِلْتَ فِیْهَا**: دا دلیل دے چه دنعمت په مقابله کښ به شکر کوی لکه قرآن کښ دی ﴿وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ یَشْکُرُوْنَ﴾ [ابراهیم: ۳۷] **کَذَبْتَ**: یعنی په (فیك) لفظ ذکر کولو کښ دے دروغ اووئیل نورے خبرے رشتیا دی۔

حَتّٰی اُلْقِیَ فِی النَّارِ: التبه به اُورته ګذار شی۔ **وَقَرَأَ الْقُرْآنَ**: دائے جدا ذکر کړو داتخصیص بعد التعمیم دے اشاره ده چه تعلیم اوتعلم دا دقرآن نه نه دے مشغول کړے۔ اودا هغه حدیث دے چه ابو هریره ﷺ شاګردانوته بیانولو نو درے ځله پریے بے هوشی راغله، معاویه ﷺ چه کله ګورنر وو هغه ته ئے دا بیان کړو نو هغه اووئیل استشهاداً: الله تعالی رشتیا وئیلی دی ﴿من کان یرید الحیوة الدنیا وزینتها نوف الیهم اعمالهم وهم فیها لا یبخسون، اولئك الذین لیس لهم فی الآخرة الا النار وحبط ما صنعوا فیها وباطل ما کانوا یعملون﴾ [هود: ۱۶] (ترجمه) څوك چه (په خپل عمل سره) ددنیا اود هغے دډول ډهال اراده کوی نو مونږ به هغوی ته دهغوی داعمالو پوره بدله ورکړو په دے دنیا کښ چه دوئ ته به په دے کښ څه کمے نه کیږی، دا هغه خلق دی چه په آخرت کښ ددوئ دپاره داور نه علاوه بل هیڅ هم نشته، او دوئ چه کوم (نیك اعمال) په دنیا کښ کړیدی هغه برباد شو، او کوم (بد اعمال) چه دوئ کول هغه بیکاره شول)۔دے درے کسانو هم ددنیا دپاره

عمل اوكړو او هغه ورته الله وركړو، او آخرت كښې ورته هيڅ برخه ورنكړے شوه، بلكه التـه جهنم ته ګذار شو، دا حديث دليل دے په دے چه بے اخلاصه عمل الله ته قبول نه دے۔

٩- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ اللهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ الْعِبَادِ وَلٰكِنْ يَّقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ حَتّٰى اِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُؤُوْسًا جُهَّالًا فَسُئِلُوْا فَاَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوْا وَاَضَلُّوْا»، متفق عليه.

ترجمه : عبد الله بن عمرو ﷛ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله تعالى به علم (آخرى زمانه كښې) داسے نه اوچتوى چه دخلقو (دزړه او دماغ) نه ئے اوكاږى، بلكه علم به اوچت كړى په مړه كولو د علماؤ تردے چه هيڅوك عالم به باقى پريے نه ګدى نو خلق به جاهلان خپل پيشوا جوړ كړى هغوئ نه به دمسئلو تپوس كوى او هغوى به بغير دعلم نه فتوىٰ وركوى نو خپله به هم ګمراه شى او نور خلق به هم ګمراه كړى۔ (بخارى، مسلم)۔

تشريح : اِنَّ اللهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا : دا دقيامت نه مخكښې مراد دے ورنه قيامت ته نزدے به داكار كيږى چه يو انسان تـه بـه قـرآن زده وى، سحر چه راپاځيږى نو هغه ټول به ترے هير شوے وى۔ انتزاعاً مفعول مطلق دے د يقبض من غير لفظه۔ وَلٰكِنْ يَّقْبِضُ الْعِلْمَ : يعنى په وژلو دعلماؤ سره به علم اخلى اګركه كتابونو كښې به علم موجود وى خو هرڅوك كتاب چرته ګورى، اوهرڅوك په كتاب چرتـه پـو هيږى، او هرڅوك دكتاب نه اخذ چرته كولے شى، اوبيا ئے يادولے چرته شى، دا خو خاص خاص كسانو ته ياد وى، نو په دے كښې ترغيب دے ديته چه تاسو دعلماؤ د وفات نـه مخكښې دهغوى نه فائده واخلئ، كوم علماء چه په دين پو هيږى، هرملا نه، ولے كه هغه مړه شى نو قرآن او حديث اودين به دچانه يادوئ، نو ترغيب دے چه دصحابوؓ او تابعينوؒ نه علم زده كړئ۔ حتىٰ اذا لم يبق : باب افعال دے ضمير په كښې الله ته راجع دے۔

اِتَّخَذَ النَّاسُ رُؤُوْسًا جُهَّالًا : رؤس نـه مـراد مشران كبراء اواكابر دى، او نن صبا همدا علامه د قيامت موجود شويده، چه صحيح علم والا غالباً ختم شويدى، هغه علماء چه په كتاب اوسنت باندے پو هيږى، هسے علماء خو ډير دى چه دكنز اود منيه شرح ليكى دا پوره علم شرعى نه دے، ليـكـن د قـرآن او سـنـت صـحـيـح پـو هے والا نه ښكارى (الا من رحم ربك)۔ ٢ – يادرؤس نه مراد رؤساء او مشران دحـكـومـت دى چه ګـورنر اوبادشاه او صدر به په هيڅ نه پو هيږى، جاهلان به خلقو مشران جوړ كړى وى، چه په نحمده ونصلى على رسوله الكريم باندے هم نه پو هيږى، بسم الله هم سمه نه ورځى، دا لا څه كے چه دمسجد امامان په څه نه پو هيږى، دارنګه مفتيان به

او امي او ملا تول ترے فتوئ ورکولے شي چه ترجمه ئے اوشي۔ دکتاب او سنت نه صحيح فتوئ ډيره ګرانه ده، چه په هره مسئله کښې هغے ته رجوع کوے، الا من يسره الله عليه۔

فَضَلُّوْا وَاَضَلُّوْا : **سوال** : روسته حديث کښې راروان دی : کان اثمه على من افتاه۔ يعني که چا غلطه فتوئ ورکړه نو هغه مفتيان به ګنهګار وی، اودلته فرمائي دواړه ګمراه دی۔ نو ددے په جواب کښې يوه **فائده نادره** معلوميږی، هغه داچه دلته دوه قسمه ذمه واريانے دی : ۱- يو دعالم۔ ۲- بل دامي۔ دعالم ذمه واری داده چه دحق طلب او کوشش اوکړی، قرآن اوسنت تالاش کړی اوځان ورته اورسوی، تعصب به نه کوی په دے کښې به دچانه ويريږی نه، دچا لحاظ به نه ساتی، داد عالم ذمه واری نه ده چه دابه ديو مذهب نه فتوی ورکوی، د مذهب تائيد به کوی اود هغے دپاره به کوشش کوی چه دا په خلقو کښې رائج شي او خلق ددے نه وانهوړی، لکه دے وخت کښې مليانو داخپله ذمه واری پريښے ده، دليل نه ګوری خو چه فقهاؤ څه ليکلی وی هغه رانقل کوی۔ اود امي ذمه واری داده چه (الاعلم فالاعلم) (لوئی عالم) طلب کړی، اود هغه نه حق معلوم کړی په تپوس سره، هسے دجمات امام نه به تپوس نه کوی، نو په دے حديث کښې داخبره ده چه دے اشخاصو دواړه ذمه داريانے نه دی اداء کړی، نو ځکه دواړه ضلوا او أضلوا دی۔ او هغه حديث کښې دعالم ذمه نه ده اداء شوے چه ده ځان حق ته نه دے رسولے، طلب ئے نه دے کړے، اوامي خپل طلب کړيدے چه اعلم لره ورغلے دے، مسئله ئے ترے تپوسلے ده۔

فائده : په دے حديث کښې صريح رد دے په تقليد باندے چه امي به هم تقليد نه کوی، وجه داده چه دامي ذمه واری داده چه اعلم فالاعلم لره به ځي او تپوس به ترے دقرآن او سنت کوی۔ او هر نفس مُلا لره به نه ورځي کوم چه په قرآن اوسنت نه پوهيږی اود خپلے رائے يا دمُليانو رائے ورته بيانوی۔ نو هرکله چه اعلم (دده په نظر کښې دتولو نه زيات عالم) ورته دقرآن او سنت مسئله بيان کړله نو ده ددليل تابعداری اوکړله تقليد په کښې رانغلو، اوکه امي د اعلم نه تپوس اونکړو او هسے مُلا له ورغے او هغه ورته د قرآن او سنت نه فتوئ ورنکړه، خپله رائے يا دمُليانو رائے ورته بيان کړله، او امي هغه خبره اومنله، تقليد ئے دهغه اوکړو، نو دا امي سرے ګنهګار دے ځکه ده هم خپله ذمه واری پوره نه کړله۔

۱۰- وَعَنْ شَقِيْقٍ قَالَ: كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ يُذَكِّرُ النَّاسَ فِيْ كُلِّ خَمْسٍ فَقَالَ لَهٗ رَجُلٌ يَااَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ! لَوَدِدْتُ اَنَّكَ ذَكَّرْتَنَا فِيْ كُلِّ يَوْمٍ. قَالَ: اَمَا اِنَّهٗ يَمْنَعُنِيْ مِنْ ذٰلِكَ اَنِّيْ اَكْرَهُ اَنْ اُمِلَّكُمْ وَاِنِّيْ اَتَخَوَّلُكُمْ بِالْمَوْعِظَةِ كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَتَخَوَّلُنَا بِهَا مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا». متفق عليه.

ترجمه: شقيق نه روايت دے چه عبد الله بن مسعود ﷺ به دهر زيارت په ورځ «خلقو مخکښې

وعظ نصیحت کولو (یو ورځ) یو سړي عرض اوکه اے ابو عبد الرحمن ! زما دا خواهش دے چه تاسو مونږ ته روزانه وعظ کوئ، عبد الله بن مسعودؓ ورته اوفرمائیل : زه داسے څکه نه کوم چه دے سره به تاسو تنګ شئ، زه دنصیحت معامله کښې ستاسو خبر ګیری داسے کوم څنګه چه مونږ ته به دنصحیت معامله کښې رسول الله ﷺ خبر ګیری کوله، او زمونږ دتنګ کیدو خیال به ئے ساتلو۔ (بخاري، مسلم)۔

تعارف شقیق بن سلمه کنیه ئے ابو وائل الاسدی دے دعبد الله بن مسعودؓ خصوصی شاګرد دے، ډیر حدیثونه ترے نقل دی، دعمر بن عبد العزیز په دور خلافت کښې وفات شویدے دعمر بن الخطابؓ نه ئے هم احادیث اوریدلی دی۔

تشریح : يَتَخَوَّلُنَا بِهَا : دتخول نه ماخوذ دے حسن الرعایه او تعهد (خیال ساتلو) ته وائی یعنی نبی علیه السلام به زمونږ لحاظ ساتلو په وعظ کولو سره، وعظ به ئے کله کله کولو۔ مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا : دوېرے دستړی والی او ساډوبئ نه په مونږ باندے۔ څکه چه کله وعظ نصیحت همیشه هره ورځ کیږی نو خلق تنګیږی او نبی علیه السلام دا نه غوختل چه خپل صحابه په ډیرو بیانونو تنګ کړی۔

فوائد الحدیث : ۱- عبد الله بن مسعودؓ به هر زیات ورځ بیان کولو داسنت عمل دے چه هفته کښې یو کرت بیان اوکړے شی دتذکیر اود ایمان دتازګئ اود ملګرو داصلاح په نیت، نبی اکرم ﷺ به هم په هفته کښې یو کرت بیان کولو، خودا دګشت صورت نه دے لکه بعض خلق وائی، اګرچه ګشت حرام نه دے چه خلقو پسے اوګرځے او مسجد ته ئے راولے، دا په بدعت کښې نه داخلیږی، خودا خبره ورسره غلطه ده چه دا وائی : دا ګشت دیو لاکه څلیرېشت زره پیغمبرانو طریقه وه۔ نو دعوامو په ذهن کښې دا واقع شی چه دا کسان چه څنګه ګشت کوی دا بعینهٖ دپیغمبرانو طریقه ده، حال دا چه دا یوه نوے طریقه ده، دنبی اکرم ﷺ طریقه نه ده، خو چه کله دا څوك لازمه او ضروری نه ګڼړی نو بدعت کښې نه داخلیږی، اوکه ددے نه سیوا په بله طریقه باندے دعوت کول بد ګڼړی نو بیا به دا خامخا بدعت کښې داخل وی۔ دا انصافی نظر دے۔

۲- عبد الله بن مسعودؓ ولے د . مه سړی خبره اونه منله ؟ وجه دا ده چه داکثریت لحاظ به کولے شی په بیان کښې، د لګو کسانو لحاظ به نکوی، څکه چه بیان کښې خو ډیر شوقیان خلق وی، دهغه شوق وی چه همیشه بیان دے کیږی، هفته کښې ددرے بیانونو نه زیات صحیح نه دی، لکه روستو به راشی۔ ۳- بیا دلته سوال دے چه هرکله یوبیان سنت شو نو بیا دقرآن درس اود کتابونو درس ولے هره ورځ کیږی ؟ نو ددے جواب دادے چه یو د تعلیم صورت دے- بل دوعظ صورت دے۔ په وعظ او نصیحت کښې څه تعلیم غرض نه وی، بلکه په دے کښې زړه نرمول، آخرت ته توجه پیداکول، عملونو ته ترغیب ورکول غرض وی، دا هر ورځ نه دی کول پکار

ځکه په دے سره خلق تنګیږی۔او هر چه تعلیم او تدریس دے نو په دے کښ دعلم ډیرول غرض وی، لکه دصحابوؓ طریقه همداسے وه چه دعلم طلب ئے هر وخت کړیدے۔
٢- بل دا چه تعلیم ته هغه څوك کینی چه تول خپله طلبګار وی، طالبان وی، همدے پسے را مسافر شوی وی، او وعظ اونصیحت ته به ته خلق را دعوت کوے، په زوره به ئے کینوے، دا وجه ده چه که دکتاب درس قضاء شی طالبان پریشانه وی، چه استاذ باندے څه چل اوشو، او اعتراض هم کوی۔او په وعظ او نصیحت کښ خلق تنګیږی۔نو وعظ اونصیحت خلق کم غواړی، او تعلیم اوتدریس خلق ډیر غواړی۔داول په زیاتیدو تنګیږی اود ثانی په زیاتیدو نه تنګیږی بلکه خوشحالیږی۔
٤- مناسبة الحدیث دکتاب العلم سره دادے چه کله علم بیانوے په طریقه دوعظ سره نو ډیره مبالغه په کښ مه کوه چه خلق پرے تنګ نه کړے، صرف یو کرت هفته کښ کوه۔

١١- وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ اَعَادَهَا ثَلَاثاً حَتّٰى تُفْهَمَ عَنْهُ وَاِذَا اَتٰى عَلٰى قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلٰثًا». رواه البخاريُّ.

ترجمه : انس ﷺ نه روایت دے چه نبی ﷺ چه به کله څه خبره کوله نو درے ځله به ئے کوله تردے چه خلق به په هغے په ښه شان پوهه شو، اوکله به چه نبی ﷺ یو جماعت ته راغلو اود سلام اراده به ئے فرمائیله نو درے ځله به ئے سلام کولو۔(بخاری)۔
تشریح : كَانَ النَّبِيُّ اذا تكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ : دلته کان ددوام دپاره نه دے بلکه دنفس ربط دپاره دے ځکه چه نبی اکرم ﷺ به همیشه دا کار نه کولو چه یوه خبره درے ځله اوکړی، بلکه کله چه به یوه خبره مهتم بالشان (ضروری) وه نو هغه به ئے درے ځله کوله دے دپاره چه ذهن کښ ښه کینی۔٢- مناسبة الحدیث دادے چه عالم له پکار دی چه یوه خبره مهتم بالشان وی نو درے ځله دے اوکړی چه ذهن کښ ښه واقع شی، اودا تجربه هم ده چه امیان خلق په اول ځل باندے نه پوهیږی، ښه به ئے متوجه کوے په قلاره، دا وجه ده امیان دهغه مقررینو په تقریر باندے نه پوهیږی چه دجذباتو نه کار اخلی، چغے په کښ وهی، هغوی به په ساده ساده خبرو پوهه کوے، باربار۔
فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلٰثًا : یعنی اراده دسلام به ئے اوکړه، نو سلم علیهم ثلاثاً : درے سلامه به ئے پرے واچول، ددے : ١- یو صورت دادے چه لوئی مسجد یا لوئی مجلس وی نو انسان به په اولنو خلقو هم سلام اچوی، بیا په مینځنو بیا په اخیرنو باندے۔٢- دویم صورت دادے چه سلامونه درے قسمه دی : ١- یو سلام الاستیذان (داجازت غوښتلو دپاره سلام چه السلام علیکم أادخل ؟۔ ٢- بیا چه داخل شی نو السلام علیکم به اووائی۔دیته سلام اللقاء وائی۔٣- بیا چه کله رخصتیږی نو سلام الوداع به کوی۔

١٢- وَعَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدِ الْاَنْصَارِيِّ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: اِنَّهُ اُبْدِعَ بِيْ

فَاحْمِلْنِيْ! فَقَالَ: «مَا عِنْدِيْ» فَقَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ! اَنَا اَدُلُّهٗ عَلٰى مَنْ يَّحْمِلُهٗ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ دَلَّ عَلٰى خَيْرٍ فَلَهٗ مِثْلُ اَجْرِ فَاعِلِهٖ». رواه مسلم

ترجمه: ابو مسعود ﷺ نه روایت دے چه یو سړے دنبی ﷺ خدمت کښ حاضر شو او عرض ئے اوکړو، زما سورلئ دتلو نه عاجزه شو ے ده تاسو ماته سورلئ راکړئ! رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: ما سره څه سورلی نشته (چه تاته ئے درکړم) یو سړی عرض اوکړو، یارسول الله! زه ده ته داسے سړے ښایم چه ده ته به سورلی ورکړی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم سړے چه د چا خیر طرفته رهنمائی اوکړی نو هغه ته به هم هغومره ثواب ورکړے کیږی څومره چه هغے خیر (نیکئ) باندے عمل کونکی ته۔(مسلم)۔

تعارف د ابو مسعود الانصاری ﷺ: دده نوم عقبه بن عمرو بن ثعلبة البدری الصحابی الجلیل دے۔ په کنیه باندے مشهور دے، لیلة العقبه او اُحد وغیره غزاگانو ته حاضر شویدے، اود کوفے اوسیدونکے دے، اود علی ﷺ دملګرو نه دے، بدر ته په حاضریدو کښ ئے اختلاف دے، بعض فرمائی چه دبدر خوا کښ اوبه وے هلته اوسیدو نو ځکه ورته بدری وائی، او بدر ته نه دے حاضر شوے۔او امام بخاریؒ فرمائی چه دا غزوه بدرته حاضر شویدے وهو الصحیح لکثرة الاحادیث فیه۔(١٠٢) حدیثونه دده نه نقل دی۔په مدینه یا کوفه کښ د (٤٠) هجری نه پس وفات شویدے۔

تشریح: اِنَّهٗ اُبْدِعَ بِیْ: ددے مجهول صیغه استعمالیږی نه معلوم (ابدع با لرحل اذا کللت رکابه او عطبت وبقی منقطعاً به) ۔(ابدع لفظ په هغه وخت کښ استعمالیږی چه کله د سړی سورلی هلاکه شی او د هغے په وجه په لاره کښ بے سورلی پاتے شی) بیا دا کله ددے دپاره استعمالیږی چه سورلئ وی خو کمزورے وی، مانده وی۔اوکله ددے دپاره استعمالیږی چه سورلئ بالکل مړه وی۔ماعندی: دلیل دے په نفی دشرك باندے چه نبی علیه السلام چاله په ژوند کښ څه نشی ورکولے پاتے لاپس دمرګ نه۔ رد دے په بریلیانو باندے۔ مَنْ دَلَّ عَلٰى خَيْرٍ : دا جوامع الکلم دی ځکه عامه خبره ذکر کوی چه شامله شی علم اوعمل دواړو ته، دا وجه ده داسے ئے اونه فرمائیل: (من دل علی من انفق) ۔نو مناسبت ئے دا شو چه څوك دعلم ښودنه اوکړی نو دهغه متعلم اجربه هم ورته ملاویږی۔

١٣- وَعَنْ جَرِيْرٍ ﷺ قَالَ: كُنَّا فِيْ صَدْرِ النَّهَارِ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَجَاءَهٗ قَوْمٌ عُرَاةٌ مُجْتَابِيْ النِّمَارِ اَوِ الْعَبَاءِ مُتَقَلِّدِيْ السُّيُوْفِ، عَامَّتُهُمْ مِنْ مُضَرَ بَلْ كُلُّهُمْ مِنْ مُضَرَ، فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ لِمَا رَاٰى بِهِمْ مِنَ الْفَاقَةِ فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ فَاَمَرَ بِلَالًا فَاَذَّنَ وَاَقَامَ فَصَلّٰى ثُمَّ خَطَبَ. فَقَالَ: ﴿يَا اَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ﴾ اِلٰى آخِرِ الْآيَةِ ﴿اِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا﴾ وَالْآيَةَ الَّتِيْ فِيْ آخِرِ الْحَشْرِ: ﴿اِتَّقُوا اللهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾

تَصَدَّقَ رَجُلٌ مِنْ دِيْنَارِهٖ مِنْ دِرْهَمِهٖ مِنْ ثَوْبِهٖ مِنْ صَاعِ بُرِّهٖ مِنْ صَاعِ تَمْرِهٖ حَتّٰى قَالَ: «وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ» قَالَ: فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْاَنْصَارِ بِصُرَّةٍ كَادَتْ كَفُّهٗ تَعْجِزُ عَنْهَا بَلْ قَدْ عَجَزَتْ ثُمَّ تَتَابَعَ النَّاسُ حَتّٰى رَاَيْتُ كَوْمَيْنِ مِنْ طَعَامٍ وَثِيَابٍ حَتّٰى رَاَيْتُ وَجْهَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَتَهَلَّلُ كَاَنَّهٗ مُذْهَبَةٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «مَنْ سَنَّ فِي الْاِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهٗ اَجْرُهَا وَاَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهٖ مِنْ غَيْرِ اَنْ يُّنْقَصَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْءٌ وَمَنْ سَنَّ فِي الْاِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهٖ مِنْ غَيْرِ اَنْ يُّنْقَصَ مِنْ اَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ» رواهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: جرير ﷺ نه روايت دے چه (يوه ورځ) مونږ دورځے په ابتدائی حصه درسول الله ﷺ خدمت کښ حاضر وو، يو قوم رسول الله ﷺ ته راغے چه بربنډ بدني وو، عبا يا کمبل ئے اچولے وے او غاړه کښ ئے تورے زوړندے وے، هغوئ کښ اکثر خلق بلکه ټول دمضر قبيلے خلق وو، په هغوئ د لوږے اثر ليدو سره درسول الله ﷺ مخ (مبارك) متغير شو، نبی ﷺ هغوئ دپاره دخوراك په تالاش کښ کورته تشريف يوړلو (خو کور کښ څه بيانه مونديے شو) نو واپس راغے، بلال ؓ ته ئے (داذان کولو) حکم اوکړو هغه اذان اوکړو او اقامت ئے اوکړو او (دجمعے يا ماسپخين) مونځ اوشو، بيا نبی ﷺ خطبه ورکړه اودا آيت ئے اولوستلو : يا أيها الناس اتقوا ربكم الذى خلقكم من نفس واحدة الآيه.اے خلقو ! دخپل رب نه اويريږئ چه هغه تاسو ديو نفس (آدم) نه پيدا کړی ئے، پوره آيت ئے اولوستلو چه دهغے آخری حصه داده : يقيناً الله تعالى ستاسو نگهبان دے.او بيا دا آيت ئے اولوستلو چه د سورة حشر په آخر کښ دے : ولتنظر نفس ما قدمت لغد الآيه.اے ايمان والو ! الله نه اويريږئ او هر سړے دے اوگوری چه صبا (قيامت) دپاره هغه څه ذخيره ليږلے ده. بيا ئے اوفرمائيل : خيرات دے اوکړی سړے دخپلے اشرفئ، دخپلے روپئ نه، دخپلو کپړو نه، دخپلو غنمو د پيمانے نه، دخپلو کجورو د پيمانے نه، تردے چه نبی ﷺ اوفرمائيل : خيرات دے اوکړی اگرکه دکجورے ټکړه ولے نه وی.راوی وائی يو انصاری سړی (دروپو او اشرفو نه ډکه) يوه تهيلئ راوړه چه دهغے وزن سره دهغه لاس سترے کيدو ته نږدے وو، بلکه سترے شوے وو، بيا خلقو پرله پسے څيزونه راوړل شروع کړل، تردے چه ما ډهيرے دغلے اوکپړو (جمع شوے) اوليدلو، بيا ما اوليدل چه درسول الله ﷺ مخ (مبارك) دخوشحالئ په وجه دسپينے وريځے په شان ځليدو.بيا نبی ﷺ اوفرمائيل :کوم سړے چه اسلام کښ څه نيکه طريقه خوره کړی نو هغه ته به دهغے هم ثواب حاصليږی او ثواب د هغه چا هم چه دهغه نه پس پرے عمل اوکړی، ليکن دعمل کونکی ثواب کښ به هيڅ کمے نه کيږی، اوکوم سړی چه اسلام کښ خرابه طريقه خوره کړه نو دهغے به ورته هم گناه وی اودهغے سړی هم چه هغے نه پس په هغے عمل کوی، ليکن دعمل کونکی گناه کښ به هيڅ کمے نه کيږی.(مسلم).

تعارف دجریر ﷺ : دده سلسله نسب جریر بن عبد الله بن جابر البجلی القسری دے۔ په لسم کال ئے ایمان قبول کړیدے دیمن او سیدونکے دے، اود نبی اکرم ﷺ ده دپاره څادر خور کړو چه دا پرے کینی۔ دارنګه ذی الخلصه بُت نړولو دپاره ئے لیږلو، په اس نشو تینګیدے نو نبی اکرم ﷺ ورله په سینه کښ ګذار ورکړو او وے فرمائیل : (اللهم ثبته واجعله هادیاً مهدیاً)۔ (اے دا مضبوط کړه او هدایت کونکے هدایت کړے شوے ئے اوګرزوے) دے وائی بیا هیچرته داس نه نه یم پریوتے۔ دے فرمائی : نبی اکرم ﷺ زه هیڅ کله په دروازه کښ نه یم منع کړے، اوکله چه هم زه ورغلے یم نو ماته ئے خندلی دی۔ وجه داده چه دا ډیر زیات ښائسته وو۔ دے وجے نه دده لقب دے (یوسف هذه الامة) ددے امت یوسف دے۔ جبرئیل علیه السلام به اکثر دده په شکل راتلو۔ فتح دمدائن او قادسیه ته حاضر شویدے۔ دده نه تول (۱۰۰) سل حدیثونه نقل دی۔ په (۵۱) هجری کښ وفات شویدے۔

تشریح : قَوْمٌ عُرَاةٌ : دوئ بالکل بربنډ نه وو بلکه ډیرے جامے ورسره نه وے ځکه مجتابی النمار پرے دلیل دے، یعنی شړئ ګانے ئے اغوستے وے، نور څادرونه، توپئ وغیره ورسره نه وے۔ انمار : جمع د نمرة ده بفتح النون وکسر المیم، هغه شړئ چه په هغے کښ برګے پټے وی دپړانګ دڅرمنے پشان، دوړئ نه جوړے شوے وی۔ صحابوؓ به پرے بدن پټولو۔

مُجْتَابِیْ النِّمَارِ : (ای لابسی النمار قد قطعوها فی رؤسهم)۔ (شړئ ګانے ئے اچولے وے چه د سر د طرفه ئے پریکړے وے یعنی لنډے وے) یو دے څادر هغه دجامو دپاسه استعمالیږی دهغے په استعمال کښ اختلاف دے لکه مشکاة جلد ثانی کښ به راشی ان شاء الله۔ فَتَمَعَّرَ : (بدل شو مخ د رسول الله ﷺ) د مسلمان په خفګان خفه کیدل دمسلمان کار دے، ورنه بیا انسان په منافقت کښ داخلیږی ﴿ان تمسسکم حسنة تسؤهم﴾ الآیة [آلعمران : ۱۲]

فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ : ۱ - دا کنایه ده د اضطراب او پریشانئ نه۔ ۲ - یا کورته دے دپاره ننوتلو چه څه خوراك بیاموږمی هغه به دے میلمنو ته راوباسی لیکن تش راووتو۔ دے نه دا فائده معلومه شوه چه امیر له پکار دی چه اول دخپل جیبه انفاق اوکړی خوکه هغه غریب وی نو بیا دِے بل ته ددے ترغیب ورکړی۔

یَا اَیُّهَا النَّاسُ : دے آیتونو لوستلو کښ غرض ترغیب ورکول دی تقویٰ ته چه په دے سره زړه نرم شی چه انفاق ته تیار شی۔ دارنګه آیت کښ اشاره ده ایثار او مواخات ته چه تاسو د یو نفس نه پیدا ئے نو اے صحابو دا میلمانه ستاسو ورورنه دی، او ورور دوړور سره احسان کوی نو تاسو هم دا خلق ماړه کړئ، احسان ورسره اوکړئ۔

تَصَدَّقَ رَجُلٌ : داجمله لفظاً خبریه ده، معنیً انشائیه ده، اصل کښ لیتصدق رجل دے، اودلته خبریه کښ مبالغه ده، چه دا کار ګویا کښ شویدے۔

مسئله : مسجد کښې سوال کول دوه قسمه دي :

١- يو دېـل چا دپاره کول، نودا سنت طريقه ده کله چه ځان پرې سپک نه کړي، مثلًا دمسجد امام عـوامو ته دسوالگر دپاره اووائي چه دا شخص غريب مسکين دے امداد ورسره اوکړئ، نودا کـار سنت عـمل دے، نبي اکرم ﷺ هم داسے کړيدي. ٢- دويم دخپل ځان دپاره سوال کول. نودا په دريے شرطونو سره جواز لري : ١- اول دا چه دروغ به نه وائي، او په واقع کښې به دغسے غريب او محتاجه وي څنگه چه په خوله وائي. ٢ - ان لايرفع صوته في المسجد (مسجد کښې به چغې نه وهي) ٣ - چاته به ضرر نه رسوي. ٤- دخلقو په څټونو به خپے نه اړوي. بيا هرکله چه سوال په دے شـرطـونـو سره جـائـز شـو، نـو ورکـونـکـي دپاره هم جائز دي چه څه ورکړي بلکه دا سنت او مستـحب عمل دے، بغير دڅه شرطونو نه. اوهرچه داخبره دشامي مُلا ده چه چا په مسجد کښې سوالگر ته يوه روپۍ خيراتي ورکړه نو. اويا روپۍ به نورے ورکوي چه دهغے دگناه نه خلاص شي (٥٥٤/١) نـوداخبـره غـلـطه ده، وجه دغلطۍ داده چه دنبي اکرم ﷺ زمانه کښې داکار شويدے.

١- د البيهقي (١٩٩/٤) په روايت کښې راځي چه نبي اکرم ﷺ يوه ورځ تپوس اوکړو، نن ورځ چا مسکـيـن بانـدے نفقه کړيده ؟ ابو بکر صديق ؓ عرض اوکړو: ما، (وقف مسكين في المسجد فسال فاخذت كسرة في يد عبد الرحمن فاعطيته) يـعـنـي مسجد ته يو مسکين راغلو، سوال ئے اوکـړو، ما د (خپل ځوئے) عبد الرحمن دلاس نه يوه قطره روټۍ واخستـه او هغه له مے ورکړه. ٢- عـلامـه قـرطبيؒ په تفسير دسورة المائده آيت (٥٥) [ويؤتون الزكوة وهم راكعون] کـښې حديث راوړي چه دا آيت د علي ﷺ په باره کښې نازل شويدے (اعطى السائل و هو في الصلاة) (مانځه کښې ئے صدقه اوکړه) ٣- دغه شان صحابوؓ به په مسجد کښې کجورے زوړندولے دپاره دفقيرانو، لکه ابوداود (٢٣٤/١) کـښې دي : يـو صـحـابيؓ خشف (ردی) کجورے راوړے، نبي اکرم ﷺ په امسا اووهلے اووے فرمائيل : (ان صاحب هذا ياكل الخشف يوم القيامة) .(ددے کجورو مالك به دقيامت په ورځ ردي کجورے خوري). ٤- دارنگه دمعن بن يزيد اودهغه دپلار واقعه مشهور ده .لکه په صـحيـحـيـنـو کښې دي : چه په مسجد کښې ئے صدقه کيښودله نو زوی ئے راواخستـه، پلار ورته اووئيـل : مـا خو پتا بانـدے صدقه نه کوله، تاولے دا راواخستـه. ددواړو جگړه شوه ، نبي اکرم ﷺ ته راغلل، ورته ئے اوفرمائيل : (لك ما نويت يا يزيد، ولك ما اخذت يا معن) (ستا د نيت موافق اجر اوشـو اے يزيـد او اخستے مـال ستـا شـو اے مـعـن) په دے بـانـدے علامه سيوطي کتاب ليکلے (العسجد في الانفاق على سؤال المسجد) فتاوى الدين الخالص (٣٩٢/٣) اوگوره.

اوس دا **سوال** پيـدا کيږي چه بيا دے علماؤ (شامي وغيره) ولے ورته نا جائز وئيلي دي؟، نو وجه داده چه دے عـلـمـاؤ دا خبره تـقـليـدي انداز کښې کړيده، صحت او خطاء ته ئے نه دي کتلي، لکه شامي په مجموعة الرسائل (١٠/١) کښې وائي : (وقد يتفق الخطاء في عشرين كتاباً من كتب

الفقه) .یعنی کله داسے اوشی چه (دتقلید په وجه) د فقهے په شلوکتابونو کښې هم غلطی راشی۔ ځکه دیو بل نه تقلیدی انداز کښې نقل کوی۔

كَوُمَيْنِ : د کاف ضمه ده او فتحه په کښې اولیٰ ده۔ ډیره کیږ ته وائی۔

كَـأَنَّهٗ مُذْهَبَةٌ : د میم ضمه ده او د دال سکون او د هاء فتحه ده۔ هغه سپین زرو ته وائی چه دسرو زرو اوبه ورکړے شوی وی، یا هغه پانړه (صحیفه) چه د سرو زرو اوبه ورکړے شوے وی .مراد ترے رنړائی، صفائی او چمك دمخ دنبی علیه السلام دے۔

مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً : ددے نه بعض کسانو بدعت حسنه ثابت کړیدے، لیکن بل حدیث ددے تفسیر کړیدے (من دعا الی هدی کان له من الاجر مثل اجور من تبعه لا ینقص ذلك من اجورهم شیئاً) مسلم (۱: رقم : ۲٦۷٤) ریاض الصالحین ص (۹۰) نو سَنَّ په معنی د دَعَا (دعوت) سره دے .۲– دویمه معنی (من اظهر فی الاسلام بالعمل سنة حسنة) .(چا چه په اسلام کښې یوه ښائسته طریقه په عمل کولو سره ښکاره کړه) ځکه اسلام کښې خو انفاق کول دمخکښې نه هم مشروع دی نوے کار نه دے،خو په عمل سره ښکاره کول پکار دی، لکه صحابی اظهار په عمل سره اوکړو، مخکښې نه انفاق ثابت وو۔نو شان ورود دحدیث ته نظر کول پکار دی۔

وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً : دلته دسن معنی ده په اسلام کښې چا ناکاره لاره راویسته ځکه اسلام کښې خو مخکښې نه ناکاره لاره نشته، که هغه دینی بدعت جوړ کړی یا گناه ښکاره کړی۔سنت سیئه بدے لارے ته وائی لکه ټی، وی .وی سی آر، سنیما پیدا کړی ،یا داسے اسباب ئے پیدا کړل چه دهغے دوجے نه خلق گمراه کیږی گمراه کُن کتاب ئے اولیکلو، قبرئے دخلقو د راتلو دپاره جوړکړو، نو ده باندے به دنورو خلقو گناهونه واچولے شی اودا حدیث دقرآن نه ماخوذ دے ﴿ولیحملن اثقالهم واثقالاً مع اثقالهم و لیسئلن یوم القیامة عما کانوا یفترون﴾ [العنکبوت] .(او دوی به پورته کوی خپل بوجونه او د بل چا بوجونه د خپلو بوجونو سره او د قیامت په ورځ به ترے د دروغو جوړولو باره کښې تپوس اوکړے شی)

١٤– وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« لَاتُـقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا اِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمِ الْاَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا لِاَنَّهٗ اَوَّلُ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ » .متفق علیه.وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ مُعَاوِيَةَ : لَا يَزَالُ مِنْ اُمَّتِیْ فِیْ بَابِ ثَوَابِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى.

ترجمه : ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړے چه دظلم په طریقه قتلولے شی نو دهغه دخون یوه حصه دآدم علیه السلام ورمبنی ځوئے (قابیل) باندے وی ځکه چه هغه ړومبنے سړے دے چه دقتل طریقه ئے راوښکله۔(بخاری، مسلم) اود معاویهؓ هغه حدیث چه دهغے ابتداء داده : لا یزال امتی، مونږ به ئے ان شاء الله باب : ثواب هذه الامة کښې بیان کړو.

تشریح : لَاتُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا : ظلماً قید ځکه لګوی چه حداً او قصاصاً نفس وژل عین عبادت دے ګناه په کښې نشته. الْاَوَّلِ : مجرور دے بدل دے دابن آدم نه، دا حدیث دلیل دے چه قرآن کښې ﴿ واتل علیهم نبأ ابنی آدم اذ قربا قرباناً ﴾ [المائده : ٢٥] ددے نه حقیقی ځامن دآدم علیه السلام مراد دی، اوکوم مفسرین چه وائی چه دا دوه کسان دبنی اسرائیلو مراد دی ځکه چه مخکښې روستو د بنی اسرائیلو واقعات دی، نو دا خبره صحیح نه ده، بلکه هلته دآدم علیه السلام د ځامنو واقعه ئے د نقض عهد دپاره مثال راوړیدے فتدبر، وارجع الی التفسیر. د آدم علیه السلام په شریعت کښې به د خور او ورور نکاح جائز وه او حواء له به الله په یوه خیټه کښې یو لور او یو ځوی پیدا کولو نو په کومه خیټه کښې به چه جینۍ وه نو هغه به د بلے خیټے هلك اخستله نو پدے کښې د هابیل سره شریکه جینۍ بدرنګه وه او د قابیل سره پیدا شوے جینۍ ښائسته وه نو قابیل انکار اوکړو چه زه دا خور تا ته نه درکوم ځکه دا ښائسته ده او ستا خور بدرنګه ده نو آدم علیه السلام ورته اوفرمایل : فیصله دا ده چه یوه قربانی وړاندے کړئ که د چا قبوله شوه نو خبره به د هغه وی الی آخر القصه (ابن کثیر) نو قابیل په هابیل ظلم اوکړو او د هغه قتل ته تیار شو. او په دے سلسله کښې ئے هغه قتل کړو.

الفصل الثانی

١٥ - عَنْ كَثِيرِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا مَعَ اَبِي الدَّرْدَاءِ فِيْ مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا اَبَا الدَّرْدَاءِ ! اِنِّيْ جِئْتُكَ مِنْ مَدِيْنَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لِحَدِيْثٍ بَلَغَنِيْ اَنَّكَ تُحَدِّثُهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مَا جِئْتُ لِحَاجَةٍ قَالَ: فَاِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ:« مَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَطْلُبُ فِيْهِ عِلْمًا سَلَكَ اللّٰهُ بِهٖ طَرِيْقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ وَاِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ اَجْنِحَتَهَا رِضًى لِطَالِبِ الْعِلْمِ وَاِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ وَالْحِيْتَانُ فِيْ جَوْفِ الْمَاءِ وَاِنَّ فَضْلَ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلٰى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ، وَاِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَاءِ وَاِنَّ الْاَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوْا دِيْنَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَاِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ اَخَذَهٗ اَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ ». رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَسَمَّاهُ التِّرْمِذِيُّ قَيْسَ بْنَ كَثِيْرٍ.

ترجمه : کثیر بن قیس وائی زه (یو صحابی) ابو درداء رضی الله عنه سره ددمشق په مسجد کښې ناست ووم چه هغه ته یو سړے راغے هغه اووئیل : زه درسول الله ﷺ دښار نه تاسو ته یو حدیث دپاره راغلے یم، دهغے باره کښې ماته معلومه شویده چه هغه تاسو درسول الله ﷺ نه نقل کوئ، تاسو ته زهٔ دراتلو دے نه علاوه بل هیڅ غرض نشته (دے آوریدو سره) ابو درداء رضی الله عنه اوفرمائیل : ما د

رسول الله ﷺ نه دا آوریدلی دی چه کوم سړے یوه لار (لنډه وی یا اوږده) علم دین حاصلولو دپاره اختیاروی نو الله تعالی هغه د جنت په لار بوځی او ملائك دطالب علم د رضامندئ دپاره خپلے وزرے خوروی، او عالم دپاره هرهغه څیز چه آسمانونو کښ دننه وی (یعنے ملائك) او هغه چه د زمکے دپاسه دی (یعنی جن او انس) او کبان چه اوبو کښ دننه دی دمغفرت دعاء کوی، او عابد باندے عالم ته داسے فضیلت حاصل دے څنګه چه دڅوارلسمے سپوږمۍ تولو ستورو باندے فضیلت لری، او عالمان دانبیاؤ وارثان دی، انبیاؤ وراثت کښ روپۍ او اشرفۍ نه دی پریښی، دهغوی میراث خو علم دے چاچه علم حاصل کړو هغه کامله برخه بیامونده (احمد، ترمذی، ابوداود، ابن ماجه) او ترمذی دراوی نوم قیس بن کثیر ذکر کړیدے (لیکن صحیح کثیر بن قیس دے څنګه چه صاحب دمشکوٰة نقل کړیدے).

تعارف : دکثیر بن قیس : بعض وائی قیس بن کثیر دے، خو اول صحیح دے، دا داوساط التابعین نه دے، اوعند البعض ضعیف راوی دے، او امام ابن حبان دده توثیق کړیدے .دشام اوسیدونکے دے، اودا حدیث په سند د ترمذی سره منقطع دے بین عاصم بن رجاء وکثیر بن قیس، واسطه ئے مینځ کښ داؤد بن جمیل حذف شویدے، لیکن امام احمد متصل هم ذکر کړیدے، اودا راوی اګرچه ضعیف دے لیکن دا روایت ئے مقبول دے.

تشریح : جِئْتُكَ مِنْ مَدِيْنَةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ : دا څکه ذکر کوی چه مدینے ډیرے دی، مدینة منصور وغیره۔نو په دے سره تعیین کوی۔ لِحَدِيْثٍ : **فائده** : دصحابوؓ همت ته اوګورئ چه دیو حدیث دپاره دومره اوږد سفر کوی، یو میاشت مزل کوی، دا سفر لطلب العلم دے، تحقیقی علم چه طلب کوے نو ضرور به سفر کوے، بیا علم ډیر وی اوکه لګ خو سفر کول پسے انسان کولے شی دلته یو حدیث دپاره سفر شویدے دا ظاهر کښ انسان ته ضائع ښکاری چه دومره وخت خرابول دی، خو لیکن دا ضائع کیدل نه دی څکه چه هرکله دده دا حدیث اوریدلے وی نو څومره ښه به ئے یاد کړے وی، او څنګه ښه عمل به ئے پرے کړے وی، څکه چه انسان یو حدیث پسے دومره سخته تیره کړی بیا عمل کښ ضرور راځی، اودا دعامو صحابه کرامو طریقه وه۔بل روایت کښ داسے هم راغلی دی چه عقبه بن عامرؓ دمدینے نه مصرته سفر کړے وو د یو حدیث پسے چه فضاله بن عبیدؓ ته یاد وو۔

٢ – دارنګه بیا فضاله بن عبیدؓ دمدینے نه مصر ته سفر کړے وو دعقبه بن عامرؓ نه ئے حدیث اوریدلو۔٣– مشکاة جلد (٢) کښ راځی چه عقبه بن الحارث دمکے مکرمے نه مدینے طیبے ته سفر کړے وو دیو مسئلے پسے چه ده یو جینئ سره نکاح کوله او یلے ښځے ورته اووئیل تاسو دواړو له ما تے درکړے دے۔ (بخاری) ٤– او جابر بن عبد الله یو میاشت سفر (شام ته) د یو حدیث پسے اوکړو چه عبد الله بن انیس ته یاد وو۔ (بخاری) (احمد) ٥– او ابو ایوب انصاری عقبه بن

عامر پسے مصر ته لاړو د یو حدیث دپاره۔ ٦- او عقبه بن عامر مسلمه بن مخلد پسے مصر ته راغلو د یو حدیث په باره کښې چه هغه په مصر امیر وو۔ (احیاء العلوم ۱۹۷/۳)

۷- سیرت کښې راځي چه عبد الله بن مسعودؓ باندے به چه کله په یوه مسئله کښې اشکال راغلے نو دکوفے نه به ئے مدینے طیبے ته سفر کولو هلته به ئے دصحابوؓ نه زده کړه، بیا به تللو۔

۸- او سعید بن المسیب به د یو حدیث د طلب کولو دپاره ډیرے ورځے سفر کولو۔ ۹- امام شعبي فرمائي : که یو سړے د شام نه آخري سر د یمن ته د یوے کلمے دپاره سفر اوکړي چه هغه ده ته هدایت کوي یا ئے د هلاکت نه بچ کوي نو دده سفر به ضائع نه وي (احیاء)

داسے واقعات (جامع بیان العلم وفضله او احیاء العلوم د غزالي کښې ډیر زیات دي، خلقو به ددین د یوے یوے مسئله دپاره دومره سختے تنگے تیرولے ځکه هغوي سره ددین اهمیت وو، اوس خو تیارے پرتے دي، څوك ورله خواته نه ورځي۔ لحدیث بلغني : فائده دے کښې بیا دوه احتماله دي : ۱- یو دا چه داحدیث خو ده ته یاد دے لیکن اوس ئے مسند کوي، سند عالي طلب کوي، چه دده نه ئے واورم، ده به د نبي ﷺ نه بالذات اوریدلے وي، نو سلسله به لنډه شي۔ ۲- یا دا چه حدیث ئے اجمالاً اوریدلے دے چه دنبي ﷺ یو حدیث دده سره شته دے خو بالضبط و رته یاد نه دے چه کوم حدیث دے، اوس ئے ترے یادوي۔

نو دا اوس کوم حدیث دے نو دے کښې دوه احتماله دي : ۱- یو دا چه همدا حدیث دے کوم چه ورته بیانوي، نو حسن اتفاق اوشو چه حدیث هم په فضیلة العلم کښې دے اودا هم دعلم دپاره راغلے دے۔ ۲- دویم قول دا دے چه دلته دا استاذ ورته دده دعلم فضائل بیانوي چه ډیر اوچت عمل دے کړیدے چه دعلم دطلب دپاره راروان شوے ئے، او بیا روسته ورته هغه مطلوبه حدیث بیانوي چه هغه حدیث په باب دآخرت کښې دے چه (یدنی المؤمن فیضع علیه کنفه) بخاري (۳۳۰/۱) ریاض الصالحین ص (۱۷٤) کما في المجلد الثاني) چه الله به مؤمن ځان ته نزدے کړي او پټ به ئے کړي په خپل طرف کښې او بیا به ورسره خبرے کوي چه اے بنده ! تا دا فلانے فلانے گناه ولے کړیده، بنده به اقرار اوکړي، الله به ورته اوفرمائي : دا ټول مے درته معاف کړل الخ۔ او دا احتمال اقرب او اول احتمال اغرب دے۔

وَاِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ اَجْنِحَتَهَا : دملائکو وزرے کینبودل دوه معنے لري :

۱- یوه معنی مجازي ده، چه ملائك تواضع کوي طالب العلم ته هغه دده په خدمت کښې لگیا دي، الهام دخیر ورته کوي، لارے ورته ښائي، دهغه توقیر او تعظیم کوي، او د هغه ددے علم سره محبت لري، او د علم په کارونو او کوششونو کښې ورته آساني پیدا کوي، او ملائك داسے خیر خواه مخلوق دے چه انسان ته فائده ورکوي او د انسان نه څه نه غواړي ټول زمونږ په حاجتونو کښې لگیا دي، دنیا کښې هم او آخرت کښې هم جنتیانو ته به نعمتونه وړي راوړي۔ نو دا

مجازی معنی شوه، دا کنایه ده د رحمت او شفقت نه۔ دے مجازی معنی ته ضرورت نشته۔ ٢- حقیقی معنی ښه ده چه ملائك په واقع کښې خپلے وزرے طالب العلم ته خوروی، طالب العلم سره په طلب دعلم کښې امداد کوی، په دے معنی کښې عقلًا اوشرعاً هیڅ مانع نشته۔ (تحفة الاحوذی :٣٧٦/٧) مونږ او تاسو ته به نه ښکاری، خو نبی ﷺ فرمائی چه ملائك وزرے خوروی، نو مونږ به ئے منو۔ ددے حدیث متعلق یوه واقعه کښې راځی چه امام نوویؒ هم لیکلے ده او تعظیم السنة کتاب کښې هم لیکلے شویده : **امام طبرانی** فرمائی ما د ابن یحیی الساجی نه واوریدل چه هغه فرمایل : مونږ په بصره کښې د یو محدث کورته روان وو د حدیثو د اوریدلو دپاره او زمونږ سره یو ماجن (کم عقل) بے عمله طالب روان وو، دے معتزلی وو، نو هغه معتزلی طالب ددے حدیث پسے ګپ شپ اوویشتو، او د مسخرے په طورئے اوویئیل : (ارفعوا ارجلکم عن اجنحة الملائکة ولا تکسروها) یعنی دملائکو دوزرو نه خپے اوچتے کړے هسے نه چه ماتے ئے کړئ۔ نو لږ چه مخکښې لاړو، یوه کنده کښې پریوتلو او خپه ئے ماته شوه۔ بل روایت کښې دی چه دواړه خپے ئے شلے شوے۔ نو خلقو ورته اوویئیل چه دا جزاء ده ستا دهغه استهزاء چه تا دسنت پورے اوکړه۔ (مرقاة)۔

حافظ ابن قیم د احمد بن شعیب نه نقل کړیدی فرمائی چه مونږ په بصره کښې د بعض محدثینو په مجلس کښې ناست وو چه هغه داحادیث بیان کړو نو یو معتزلی شخص ددے پورے توقے شروع کړے او دائے اوویئیل : زه به صبا په دے خپلو څپلو باندے د ملائکو وزرے وهم، نو هغه دغسے اوکړل چه په څپلو کښې روان شو۔ نو الله ورله خپے اوچے کړے او چینجی پکښې اوشو۔

رِضًى لِطَالِبِ الْعِلْمِ : ١- رضاً په کسره د راء سره مفعول له دے په معنی د اراده د رضاء (یعنی اراده لری ملائك د رضا کولو او خوشحالولو د طالب العلم ځکه ورته وزرے اړدی) ۔ یا لاجل الرضاء یعنی په دے وجه چه خوشحاله وی، راضی وی په کار دطالب العلم باندے۔ ٢- یا حال دے یعنی راضین۔ (پداسے حال کښې وزرے خوری چه راضی دی)۔

وَاِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ : ځکه دعلم فائده دومره عامه ده چه دا فائده زمکے او آسمانونو او ماهیانو او انسانانو ټولو ته رسیږی ځکه چه د هر شئ مصلحت اومنفعت دعلم پورے تعلق لری۔ اودا بخښنه ورله ځکه غواړی چه دعالم دعلم دوجے نه دین آباد دے اوددین دوجے نه دنیا آباده ده، اود دنیا دوجود دوجے نه دا ځیزونه آباد دی، دین چه کله ددنیا نه ختم شو نو دنیا به ورانیږی، نو ماهیان او ټول مخلوق ته چه فائده رسی نو دا د دین د بیانولو دوجے نه، نو ګویا که عالم محسن دے په ټولو مخلوقاتو باندے، او د منعم شکر واجب وی۔ بیا دعالم نه مراد عالم ددین اود شریعت دے، الله والا دے، هر علم والا چه صاحب عِمامه وی نه دے مراد، سائنس دانان، فلاسفه او اصحاب صنعت وحرفت هم علماء دی خو هغه علماء الدنیا دی، نه علماء الدین والآخرة ۔ **ابوحاتم** رحمه الله فرمائی : فی هذا الحدیث بیان واضح ان العلماء الذین لهم الفضل الذی

ذکر، هُمُ الذین یعلمون علم النبی ﷺ دون غیره من سائر العلوم الا تراه یقول: العلماء ورثة الانبیاء والانبیاء لم یورثوا الا العلم وعلم نبینا ﷺ فمن تعری عن معرفتها لم یکن من ورثة الانبیاء. صحیح ابن حبان کتاب العلم (۱/۲۹۱) رقم (۸۸). (پدې حدیث کښې واضح بیان دې چه هغه علماء چه د هغوی دا فضیلت ذکر شویدې دا هغه خلق دی چه صرف د نبی ﷺ د دین تعلیم ورکوی نه د نورو علومو ځکه چه د رسول الله ﷺ دې ارشاد ته نه ګورې چه ورثة الانبیاء ئې وئیلی دی او انبیاؤ خو په میراث کښې صرف علم پریخودې دې نو څوك چه د انبیاؤ د علومو د معرفت نه عاری (خالی) وی نو هغه د انبیاؤ په وارثانو کښې ندې شمار) (صحیح ابن حبان).

وَالْحِیْتَانُ : جمع د حوت ده، دا ئې جدا ولې ذکر کړل؟ وجه دا ده چه دفع د وهم ده چه من فی الارض به نه وی شامل دریاب ته یا تعمیم بعد التعمیم دې پدې شان چه د حیتان نه مراد ټول دریابی حیوانات دی او دا عالم د عالم البر (اوچې) نه زیات دې، ځکه دا مشهوره ده چه عالم د اوچې څلور سوه عالمه دې او عالم د بحر شپږ سوه عالمه دې.

بیا استغفار غوښتل په دې طریقه دی چه الله تعالی دې ځیزونو ته الهام کوی چه عالم دپاره استغفار اوغواړی. **فَضْلَ الْعَالِمِ** : دعالم نه مراد دلته هغه عالم دې چه داعی وی، دا وجه ده په مقابله دعابد کښې ئې راوړیدې. **کَفَضْلِ الْقَمَرِ** : عبادت کښې هم رڼا شته خو دستورو په مقدار او علم کښې دومره زیاته رڼا ده لکه د څوارلسمې سپوږمۍ پشان. **فَمَنْ اَخَذَهُ اَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ** : یعنی علم چه چا زده کړو نو هغه دنبوت پوره برخه حاصله کړه، اودیته ذو حظ عظیم هم وائی ﴿وما یلقّٰها الّا ذو حظٍّ عظیم﴾.

درجة الحدیث : اسناده حسن او صحیح : رواه احمد(۵/۱۹۶) والدارمی (۱/۹۸) والترمذی (۲۶۸۲) وسند الترمذی منقطع بین عاصم بن رجاء وقیس بن کثیر لعدم ذکر واسطة داود بن جمیل بینهما وهو ضعیف وکذا کثیر بن قیس. ولکنه صحیح بطریق آخر: قال فی تعلیق صحیح ابن حبان (۱/۲۹۰) : واخرجه ابوداود (۳۶۴۲) من طریق محمد بن الوزیر الدمشقی حدثنا الولید قال: لقیت شبیب بن شیبة فحدثنی عن عثمان بن ابی سودة عن ابی الدرداء وهذا سند حسن فی الشواهد فیتقوی الحدیث به. وجملة: (وان العلماء ورثة الانبیاء هم ورثة الانبیاء) (ورثوا العلم من اخذه اخذ بحظ وافر) (ومن سلك طریقاً) اوردها البخاری فی کتاب العلم من صحیحه اه. وقال الشیخ الالبانی فی تعلیق المشکاة : واسناده صحیح وحسنه فی فتح الباری (۱/۱۶۰).

۱۶- وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ الْبَاهِلِیِّ قَالَ: ذُکِرَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ رَجُلَانِ اَحَدُهُمَا عَابِدٌ وَالْآخَرُ عَالِمٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِکَتَهُ وَاَهْلَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ حَتّٰی النَّمْلَةَ فِیْ جُحْرِهَا وَحَتّٰی الْحُوْتَ لَیُصَلُّوْنَ عَلٰی مُعَلِّمِ النَّاسِ الْخَیْرَ». رواهُ التِّرْمِذِیُّ.

ترجمه : ابو امامه باهلی ﷺ نه روایت دې چه درسول الله ﷺ په مخکښې ددوه سړو ذکر

اوکړے شو، هغوئ کښې یو عابد اوبل عالم وو (یعنی نبی کریم ﷺ نه تپوس اوشو چه دے دواړو کښې کوم یو افضل دے؟) رسول الله ﷺ اوفرمائیل : عالم له په عابد باندے داسے فضیلت دے څنګه چه زما فضیلت په هغه سړی دے چه تاسو کښې د ادنیٰ مرتبے والا وی۔ بیا دے نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بیشکه الله تعالی، د هغه ملائك اود آسمانونو او زمکے ټول مخلوقات، تردے چه میږی په خپلو سوړو کښې اوکبان (اوبو کښې) هغې سړی دپاره دعاء غواړی چه هغه خلقو ته خیر ښیګړه (یعنی دینی علم) ښائی۔(ترمذی)۔

تشریح : باهله یو قوم دے چه ابو امامه ئے سردار او مشر وو، خپل قوم ته منسوب دے.

رَجُلَانِ : ۱- دا خو یا فرضی دوه کسان ذکر شویدی بطریق " مثال چه یو سړے عالم وی او بل سړے عابد، کوم یو غوره دے؟ ۲- ظاهره دا ده چه دا دوه سړی په خارج کښې موجود وو لکه روستو فصل ثالث کښې دویم حدیث دحسن بصری دلیل دے چه دا دواړه په بنی اسرائیلو کښې موجود وو۔احدهما عابد : بیا دا ضروری ده چه عابد هم دومره عالم وی چه خپل عبادت باندے پو هیږی څه ناڅه علم به ورسره وی، خو دا مقابله دعالم سره چه واقع شویده نو عابد نه مراد هغه عابد دے چه په خپل عبادت باندے ډیر هیږی اوځانله عابد دے، او عالم نه مراد هغه دے چه ډیر عبادتونه نه کوی صرف فرائض اداء کوی، زیاتی نوافل نه کوی، اکثر وخت ئے علم ته ورکړیدے۔ اودا مطلب نه دے چه عالم به عبادت نه کوی، ورنه که یو عالم فرائض نه اداء کوی دا هیچرے دعابد نه غوره کیدے نشی بلکه ده ته عالم وئیل هم نه دی جائز۔خو که اوس یو سړے عابد دے اومنګلګ ئے غاړے ته اچولے دے او په جهالت باندے روان دے عقیده ئے خرابه ده نو دغه عبادت د الله په نیز عبادت نه دے، بلکه دا هسے خرافات دی، دلته دعابد نه مراد هغه دے چه عقیده ئے صحیح وی مومن وی لیکن دومره ده چه عملونه کوی روژے نفلونه خیراتونه کوی او ځانله ئے کوی، اکثر وخت ئے په عبادت کښې لګیدلے دے نه په علم کښې، لکه ددے خبرے دلیل په هغه روستو حدیث کښې موجود دے، انظر وتدبر۔

عَلٰى اَدْنَاكُمْ : دا خطاب خو یا صحابوؓ ته دے یعنی لکه دپیغمبر فضیلت په یو ادنی صحابی باندے۔ ۲- اوکه ټول امت ته خطاب شی نو بیا ډیره مبالغه ده، لکه دپیغمبر ﷺ فضیلت په یو ادنی امتی باندے، بیا دزمکے او آسمان فرق شو، مونږ دادناکم مثال یو ۔او ددے وجه داده چه عالم مشابهت دے دنبی سره څکه حق بیانول دالله اود رسول خبرے بیانول اودیته دعوت ورکول د پیغمبر سره مشابهت دے۔ حَتَّى النَّمْلَةَ : دے کښې درے ترکیبه جائز دی لکه د (اکلت السمکة حتی رأسها) پشان. ۱- النملة منصوب دے څکه حتی عاطفه ده. ۲- مجرور دے څکه حتی جاره ده. ۳- مرفوع دے حتی ابتدائیه ده، (ای حتی النملةُ مُصَلِّيَةٌ). (تردے چه میږئ هم دعا غواړی)۔

مُعَلِّمِ النَّاسِ الْخَيْرَ : دا دلیل دے چه دعالم نه مراد هغه عالم دے چه خلقو ته دین او خیر

بیانوی، اودده ځکه دومره فضیلت دے چه دده فائده او نفع متعدی ده، دده په وجه دین آباد دے کما مر۔اونفع دعبادت دهر انسان دځپل ځان پورے متعلق او بنده ده۔

درجة الحديث: رواه الترمذی باسناد حسن صحیح. کما نقل البعض عنه واشار الالبانی الی تحسینه فی تعلیق المشکاة (۱/۷٤).

۱۷ – وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ مَكْحُوْلٍ مُرْسَلًا وَلَمْ يَذْكُرْ رَجُلَانِ وَقَالَ: «فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِيْ عَلٰى اَدْنَاكُمْ» ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الآيَةَ: ﴿اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾ وَسَرَدَ الْحَدِيْثَ اِلٰى آخِرِهٖ.

ترجمه: او دارمی دا روایت د مکحول نه مرسل طریقے سره روایت کړے دے چه هغے کښ دلفظ رجلان ذکر نشته .او وئیلے ئے دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : (دعالم په عابد باندے) داسے فضیلت دے څنګه چه زما په تاسو کښ په یو ادنیٰ سړی باندے دے۔بیا نبی کریم ﷺ دا آیت اولوستلو : انما یخشی الله من عباده العلماء۔ ترجمه : دالله په بندګانو کښ دالله نه علماء ویریږی۔ بیا پوره حدیث آخره پورے ئے دغسے بیان کړیدے۔

تعارف د مکحول رحمه الله : کنیه ئے ابو عبد الله یا ابو مسلم یا ابو ایوب ده، په شام کښ ددمشق اوسیدونکے دے، بعض وائی چه دا د کابل په قیدیانو کښ نیول شوے وو، اصل کښ دکابل دے، بیا مصر ته راوستے شو او هلته بیا آزاد کړے شو، نو دعلم طلب ئے شروع کړو .مصر، شام، عراق او مدینے ته ئے سفر اوکړو، او جید عالم ترے جوړ شو۔ دا وائی : زه په مصر کښ آزاد کړے شوم نو هلته چه څه علماء وو، ما دهغوی نه علم زده کړو بیا دهغے نه پس عراق ته راغلم بیا مدینے ته بیا شام ته او یو عالم مے پرے نه ښود .دے دامام اوزاعیؒ استاذ دے، ثقه فقیه دے خو ارسال ډیر کوی۔د آواخر التابعین نه دے، ډیر علمونه ئے راجمع کړی وو، دا په خپل دورکښ مفتی هم وو، کله به ئے چه فتوی ورکوله نو دا ئے طریقه وه چه (لا حول ولا قوة الا بالله) به ئے مخکښ لوستله۔ د (۱۱۰) سنه هجری نه مخکښ وفات شویدے۔

تشریح : ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الآيَةَ۔ دآیت او د حدیث مناسبت دادے چه په دے آیت سره دعلم دفضیلت علت بیانوی او استشهاد کوی، چه علم په انسان کښ خشیت پیدا کوی ځکه چه دعالم معرفت زیات وی، دهغه جلال او کبریاء او اسماء او صفات ورته معلوم وی، اوکله چه خشیت راشی نو په دے سره انسان کښ تقویٰ پیدا کیږی، او تقویٰ سبب دکرامت او افضلیت دے۔ الله تعالی فرمائی : ﴿ان اکرمکم عند الله اتقاکم﴾.(الحجرات : ۱۳) ۔نو په دے کښ اشاره شوه دیته چه دچا علم په هغه کښ تقویٰ او خشیت پیدا نه کړی دا جاهل دے۔

سوال : آیت کښ انما دحصر دپاره دے نو معنی دا ده چه صرف اوصرف علماء د الله نه ویریږی

نه بل څوك، حال دا چه ډير عوام مسلمانان شته چه د الله نه يريږی او علم ورسره نشته نو ددے حصرڅه مطلب دے؟ **جواب** : ۱- په دے كښ غرض ترغيب دے علماؤ ته چه دالله نه يره اوكړی ځكه چه دوئ لره ئے علم وركړيدے نو ستاسو د شان سره خشيت پكار دے كه نور څوك يريږی اوكه نه خو تاسو به خامخا يريږئ. ۳- بنه **جواب** هغه دے چه زمونږ مشائخ ئے بيانوی چه عالم په دريے قسمه دے. ۱- عالم بالله. ۲-عالم بامر الله يعنی چه دين ورته معلوم وی احكامو او مسائلوكښ مهارت لری. ۳ - عالم بالله وبامر الله (چه الله هم پيژنی او احكام هم). نو هر هغه څوك چه د الله نه يريږی هغه به عالم وی، كه احكام ورته معلوم وی اوكه نه خو په الله باندے عالم دے ځكه ترے يريږی. نو آيت كښ اشكال نشته، فتفكر وارجع الى التفسير. او دا تقسيم د عالم په روايت د دارمی (۸۶) كښ د سفيان نه نقل شويدے.

درجة الحديث : رواه الدارمی (۸۸/۱) وهو مرسل حسن. ثم رواه الدارمی (۹۷/۱) عن الحسن مرفوعاً وهو اتم من لفظ الترمذی دون قوله ثم قال ان الله وملائكته ......) وسنده الى الحسن صحيح.

۱۸- وَعَنْ اَبِیْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ النَّاسَ لَكُمْ تَبَعٌ وَاِنَّ رِجَالًا يَأْتُوْنَكُمْ مِنْ اَقْطَارِ الْاَرْضِ يَتَفَقَّهُوْنَ فِی الدِّيْنِ اِذَا اَتَوْكُمْ فَاسْتَوْصُوْا بِهِمْ خَيْرًا». رَوَاهُ التِرمذیُّ.

ترجمه : ابو سعيد خدری ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: خلق ستاسو (دصحابوؓ) تابع دی، اوډير خلق به ددين علم زده كولو دپاره به دعالم د اطرافو نه تاسو ته راځی، نو هغوئ سره دخير ښيګړے معامله كوئ.(ترمذی).

تشريح : تَبَعٌ : په فتحه د تاء او باء سره جمع دتابع ده، لكه خَدَم او خادم، يعنی اے صحابو! خلق به ستاسو د افعالو او اقوالو تابعداری كوی، اوخلق به تاسو ته ددين د زده كړے دپاره راځی نو هغوی سره به بد اخلاقی نه كوئ چه څه داخله نشته بلكه دين به ورته زده كوئ، او دا خطاب مونږ ته هم متوجه دے، اخلاق د نور دين نه هم معلوم دی، نو پدے كښ د طالب العلم په باره كښ وصيت شويدے چه دوی سره به احسانات كوئ او دين به ورته زده كوئ، او په دوی باندے به تكبر نه كوئ.

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه الترمذی فی كتاب العلم باسناد ضعيف فيه ابو هارون العبدی قال البخاری لا يحل روايته وقال ابن حبان : هو متروك الحديث، ومنهم من كذبه. ولكن قال ابوالاشبال فی تعليق جامع بيان العلم وفضله ص (۵۷۹/۱) طبع دارابن الجوزی : ان للحديث اربع طرق اولها ۱ - ابوهارون العبدی عنه ۲-ليث بن ابی سليم عن شهربن حوشب ۳- سعيد بن سليمان الواسطی ٤- عن ابی سعيد اخرجه الرامهرمزی ص (۲۳) بسند فيه متهم وايضا قال ان لهذا الحديث شاهدين من حديث ابی هريرة وجابر فالاول

فیه وضاع وفی الثانی متروك ثم قال فالحدیث بمجموع طرقه عن ابی سعید الخدری خاصة الثالثة یرتفع من حضیض الضعف الی اوج الحسن ولهذا قال العلائی فی بغیة الملتمس ص (٢٨) اسناده لاباس به انتهیٰ فالحدیث بحمد الله حسن.وفی معنی الحدیث روایة ابن مسعود فی الصحیحة (١/٥٠٢) رقم (٢٨٠).

١٩- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلْكَلِمَةُ الْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْحَكِیْمِ فَحَیْثُ وَجَدَهَا فَهُوَ اَحَقُّ بِهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِیُّ: هٰذَا حَدِیْثٌ غَرِیْبٌ وَاِبْرَاهِیْمُ بْنُ فَضْلِ الرَّاوِیُّ یُضَعَّفُ فِی الْحَدِیْثِ.

ترجمه: ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دین کښ فائده ورکونکے خبره د دانشمند (هوښیار) سړی ورك شوے (مطلوب) څیز دے، نو هغه چه چرته دا بیاموِمی ددے مستحق دے (ترمذی، ابن ماجه). او ترمذی وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے اودے حدیث کښ یو راوی ابراهیم بن فضل دے چه (په روایت دحدیث کښ) ضعیف ګنړلے شی۔

تشریح: اَلْكَلِمَةُ الْحِكْمَةُ: په اصل کښ داسے وو: (ای الکلمة ذات الحکمة والمشتملة علیها)، (هغه کلمه چه په حکمت باندے مشتمله ده) او حمل د حکمت په کلمه باندے حمل مبالغةً دے، لکه د رجل عدل پشان، بل روایت د ابن ماجه (٤٦٩) کښ دی: (کلمة الحکمة ضالة المؤمن)۔ داروایت اګرچه ضعیف دے لیکن خبره ئے ډیره مزیداره ده دنور دین نه معلومه ده، چه حکمت دمؤمن ورك شوے څیز دے هغے پسے به هر چرته ګرځی اودهغے طلب به کوی. حکمت څه ته وائی: (کل کلمة وعظتك اونهتك او اَمَرَتْكَ بِمَكْرُمَةٍ). هر هغه خبره چه تا ته نصیحت اوکړی یا ډے منع کړی دبدئ نه یا په یو ښه خوئی باندے درته حکم اوکړی دیته حکمت وائی۔

١- یو مطلب په کښ ترغیب دے دیته چه دحکمت خبرو پسے ګرځئ، دهغے طلب کوئ۔

٢- دویم په دے کښ یوے قاعدے ته اشاره ده چه: (انظر الی ما قال، ولا تنظر الی من قال) یعنی د حکمت خبره چه هرچاسره وی هغه طلب کوه۔ یعنی دحکمت خبرے دهرچا نه زده کوه، ویونکی انسان ته مه ګوره چه دا څوك دے اعلیٰ دے که ادنیٰ خو خبرے ته ګوره چه څومره وزن لری، اودا ډیره مفیده اود انصاف نه ډکه قاعده ده، که څوك پرے پوهه شو، اوهغه داچه سیوا د نبی ﷺ نه به نورو سړو ته نه ګورے، بلکه د هغه خبرے ته به ګورے، چه کوم قیمت لری۔ ډیر کرته یو لوئی سړے به وی داسے غلطه خبره به اوکړی چه هغه به یو ماشوم هم اونه کړی، نو دهغه خبره به صرف په دے وجه نه منے چه دا غټ سړے دے اګرکه خبره ئے غلطه ده۔یو امام او مجتهد به وی، لیکن اجتهاد کښ به خطاء شوے وی، مسئله به ئے بیانه کړی وی نو دهغه خبره به نه منے، او ډیر کرت یو انسان به غیرمجتهد وی خو صحیح مسئله به ئے بیانه کړی وی نو دده خبره به اخلے ځکه ته د اشخاصو تابع نه ئے دخبرو تابع ئے، اوددے مثالونه به په مسائلو کښ

راشي چه ډیرو مسائلو کښې به دصاحبینو خبره قوي وي دامام صاحبؒ دخبرو نه، اګر چه مرتبه د امام دهغوئ نه بره ده، نو انسان به داسې نه وائي چه امام صاحب خو تابعي دے او بزرګ دے دهغه خبره څنګه کمزورې ده، مونږ وايو دهغه بزرګي او مرتبه په خپل ځائے ده، او دیني مسائل بیانول په خپل ځائے دي. په دے اصولو زده کولو سره انسان دهرقسمه خرافاتو نه خلاصیږي، دے کښې غور او فکر پکار دے. ۳ – دریم مطلب داهم دے چه حکمت باندې تالره عمل ډیر پکار دے ځکه چه ستا نه ورك شوی شے دے دخپل ورك شوي څیز نه فائده واخله۔ (ای فهو احق بالعمل بها واتباعها. (یعني دے په هغې باندې دعمل کولو او د هغې تابعداري کولو کښې ډیر مستحق دے)۔

درجة الحدیث : رواه الترمذی باسناد ضعیف فیه ابراهیم بن الفضل وهو ضعیف الحدیث قال فی التقریب ابراهیم بن الفضل متروك وقال البخاری وابو حاتم والنسائی : منکر الحدیث. والحدیث اخرجه ابن عساکر عن علی والعسکری فی الامثال عن ابی هریرة بلفظ : کلمة الحکیم ضالة کل حکیم فاذ وجدها فهو احق بها .

نو داحدیث اګرچه ضعیف دے خو معنی ئے ددین نه معلومیږي نو انسان به ئے په داسې طریقه نقل کوي چه دا دبعض سلفو قول دے یا ددین داصولو نه داسې معلومیږي .او رسول الله ﷺ ته به ئے نسبت نه کوي. ——————

۲۰– وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «فَقِيْـهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه. ——————

ترجمه : ابن عباس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي : یو فقیه (عالم دین) شیطان باندې دزرو عابدانو نه زیات سخت دے .(ترمذي،ابن ماجه)۔

تشریح : فَقِيْهٌ وَاحِدٌ : دفقه معاني مخکښې تیرې شویدي په څلورم حدیث کښې۔ بیا فقیه عالم ځکه په شیطان باندې سخت دے : ۱– چه شیطان عالم لره زر نشي ګمراه کولے هغه ته دشیطان لارې او تدبیرونه معلوم وي، او عابد زر ګمراه کولے شي یو غیبي آواز ورته شیطان اوکړي نو ځان ته ئے طمع پیدا شي نو عقیده ئے خرابه شي .۲ – دویم داچه دعابد عبادت غیر متعدي دے دخپل ځان ګټه ده نو شیطان ته دومره ضرر نه رسوي، اود عالم په وجه دنورو خلقو حالت جوړیږي دین په کښې راځي نو دشیطان دعوت خرابیږي اود یو چا دعوت خرابول او رکاوټ په کښې پیدا کول په هغه باندې ډیر سخت لګي۔

تنبیه : داحدیث ابن عباس ؓ په یوه موقعه کښې وئیلے دے۔ مجاهد فرمائي : زه او عطاء او طاووس اوعکرمه په یو مجلس کښې ناست وو ابن عباس په مانځه ولاړ وو، په دے کښې یو سړے راغلو تپوس ئے اوکړو چه یو مفتي په تاسو کښې شته مونږ ورته اووئیل : تپوس کوه ! هغه وئیل : زه چه کله بول اوکړم نو دهغې نه روسته مانه مني خارجه شي آیا په دے کښې په ما باندې غسل شته ؟ (جریان بیماري پرې وه) . هغوي جواب ورکړو : آو، غسل شته دے۔ هغه شخص

روان شو او چغې ئې وهلې چه زما خو دين خراب شو. ابن عباس ﷺ مونځ په جلتئ سره پوره کړو، اود سلام نه پس ئې عکرمةً ته اوفرمائيل: سړے راواپس کړه، هغه ئې ورته راوستو، بيا شاګردانو ته متوجه شو چه تاسو دا فتوىٰ دکتاب الله، يا دسنت رسول الله يا داقوال الصحابه نه ورکړه؟ هغوى اووئيل نه، مونږ د خپلې رائې نه فتوىٰ وکړه، نو ابن عباسؓ اوفرمائيل: دا وجه ده چه نبى اکرم ﷺ فرمائيلى دى: (فقيه واحد اشد على الشيطان من الف عابد) يو فقيه په شيطان باندے د زرو عابدانو نه سخت وى. بيا هغه سړى ته متوجه شو، ورته ئې او وئيل: په دے اوبو وتلو کښې ستا شهوت وى؟ هغه وئيل نه، آيا سستوالے محسوس وے؟ هغه اووئيل نه، نو ورته ئې اوفرمائيل: (انما هذه بردة يجزيك منها الوضوء) يعنى صرف اودس کافى دے. كذا فى حياة الصحابة (١٦٦/٣) نقلاً عن كنز العمال (٤٨٥/٩) بسند حسن. نو په دے حديث کښې ترغيب دے چه تاسو دعبادت سره سره علم زده کړئ، دغه شان په غير د علم نه عبادت کښې نور اورنړا نه وى.

درجة الحديث: اسناده حسن: رواه الترمذى (٢٦٨١) وابن ماجه (٢٢٢) باسناد ضعيف منكر، تفرد به روح بن جناح وهو ضعيف متهم اتهمه ابن حبان وهذا الحديث له طرق كلها ضعيف الا ان صاحب المقاصد الحسنة (السخاوى) قال: اسانيده ضعيفة لكنه يتقوى بعضها بعضا. نو په درجه دحسن کښې دے معنى ئې هم جوړه ده.

٢١- وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ وَمُسْلِمَةٍ وَوَاضِعُ الْعِلْمِ عِنْدَ غَيْرِ اَهْلِهٖ كَمُقَلِّدِ الْخَنَازِيْرِ الْجَوْهَرَ وَاللُّؤْلُؤَ وَالذَّهَبَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه. وَرَوَى الْبَيْهَقِىُّ فِىْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ اِلٰى قَوْلِهٖ «مُسْلِمٍ». وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ مَتْنُهٗ مَشْهُوْرٌ وَاِسْنَادُهٗ ضَعِيْفٌ وَ قَدْ رُوِىَ مِنْ اَوْجُهٍ كُلُّهَا ضَعِيْفٌ.

ترجمه: انسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: علم حاصلول هر مسلمان سړى او ښځې باندے فرض دى، او نا اهل ته علم ښودل داسے دى لکه يو سړے چه دخنزير غاړه کښې دجوا هراتو ملغلرو او دسرو زرو هار واچوى (ابن ماجه) او بيهقى دا روايت شعب الايمان کښې لفظ (مسلم) پورے نقل کړيدے او وئيلى ئې دى چه ددے حديث متن مشهور دے مختلفو طريقو سره بيان شويدے او هغه ټول ضعيف دى.

تشريح: طَلَبُ الْعِلْمِ: علم دوه قسمه دے: ١- يو هغه علم دے چه انسان دپاره ضرورى دے لکه ايمان زده کول اوفرائض زده کول، مونځ روژه، زکاة حج وغيره، دا علم فرض عين دے په سړى او ښځه دواړو باندے على كل مسلم کښې دواړه داخل دى. دا به زده کوى چه د نبى ﷺ په باره کښې څنګه عقيده اولرو، دا عرب وو که عجم، انسان وو که نور اوکه ملك وو، دهغه نه ماسيوا د بل چا تابعدارى فرض ده اوکه نه؟ هغه په غيبو پوهيدو که نه، الله سره شريکان نشته، اولياؤ لره الله کرامت

ورکریدے نو داپه کومه درجه کښې دے؟، ددے تهولو خبرونه ځان خبرول فرض دی، دارنګه دمانځه روژے وغیره احکام پیژندل، د قبر او حشر احکامو باندے ځان پوهول۔

۲- دویم تبحر فی العلم : دعلم باریکات معلومول، زیاتی مسائل زده کول، پردیٔ مسئلے معلومول نو دا فرض کفائی دے، کلی کښې چه یو عالم دا مسئلے زده کړی نودا کافی دی، نور خلق به دهغه نه مسائل زده کوی۔ کله چه هغه مړ کیدو الله به بل پیدا کړی، الله خپل دین نه ضائع کوی۔ دلته دعلم نه اول قسم علم مراد دے علم الفرائض والعقائد۔ علی کُل مسلم : ددے ځائے پورے دا حدیث په پنځوس سندونو سره نقل دے کما قال العراقی، او صحیح دے۔ او باقی الفاظ ضعیف دی۔ په ضعیف اسانیدو سره نقل دی۔ او مُسْلِمَةٍ لفظ چه کوم روایت کښې دے هغه هم ضعیف بلکه موضوع دے ځکه بنځه دسړی تابع وی په داسے مواقعو کښې۔ کذا قال السخاوی فی المقاصد الحسنه والالبانی فی تعلیق المشکوٰة (۷۶/۱)۔

وَوَاضِعُ الْعِلْمِ عِنْدَ غَيْرِ اَهْلِهٖ : د نا اهله نه مراد هغه دے چه علم دین ددنیا دپاره طلب کوی دقرآن ترجمه په دے نیت کوی چه امتحان کښې کامیاب شی اوډګری حاصله کړی دهدایت په نیت ئے نه زده کوی ۔ ۲- یو شخص ددے دپاره علم طلب کوی چه زه قاضی او مفتی جوړ شم نو پیسے به ګټم، تنخواه به اخلم۔

اشکال : په دے حدیث کښې داخبره ده چه علم نا اهله خلقو ته بیانول جائز نه دی، او بل طرفته دسلف علماؤ نه لکه حبیب بن ابی ثابت او سفیان اومعمر، سماك بن حرب، حسین بن علی الجعفی اوشریك وغیره -رحمهم الله- نه نقل دی چه دویٔ به فرمائیل : علم هر چاته ښائے ځکه چه علم کښې یو کشش دے سړے آخرت اونیکیٔ طرفته راکاږی، (ینفع من نفع ویضر من ضر)۔ (چاته به فائده ورکړی او چا ته به ضرر ورکړی)۔ خصوصاً سماك بن حربؒ، سفیان الثوریؒ او معمرؒ به وئیل : مونږ علم زده کولو او زمونږ پرے دالله رضا مقصد نه وه، لیکن کله چه مونږ علم حاصل کړو نو مونږ ئے دمضراتو نه اوساتلو اوفوائدو طرفته ئے مائل کړو۔ دویٔ به وئیل :

(طلبنا العلم للدنیا فابی الا ان یجرنا الی الله) ۔ مونږ علم دے دپاره زده کولو چه دبادشاهانو په دربار کښې به کینو بادشاه به راله ملاقات له راځی دغښ علماؤ پشان خلق به راله احترام کوی۔ بس دے علم مونږ الله تعالی طرفته رابښکلو۔ (کذا فی الجامع لاخلاق الراوی وآداب السامع : ۳۲۷/۱) نو دے نه معلومه شوه چه نا اهل ته به هم علم ښودلے شی؟۔

ددے اشکال **جواب** داسے کیدے شی چه نا اهله خلق دوه قسمه دی، ۱- یو هغه دی چه دهغوی نیت خراب وی، په زده کولو دعلم کښې غرض ئے فساد وی، بدعت رائج کول وی، دحق پرستو مخه نیول وی، لکه په دغه مذکوره کتاب کښې هغه خلق ذکر کړیدی چه هغوی ته علم ښودل حرام وی، لکه : ۱- اهل البدع۔ ۲- مکذبین بالحدیث (منکرین حدیث)۔ ۳- اصحاب

الرأي چه دحديث په مقابله کښ رائے استعمالوي هغوی ته هم علم ښودل حرام دی۔
٤- سلاطين او بادشاهانو ته نه دی ښودل پکار، کوم سلاطين چه دحديثو گستاخي کوی۔
۵- هغه کسان چه علی سبيل المباهاة والفخر حديث زده کوی۔ (۳۳۷/۱) **۲- اودويم قسم** هغه نا اهله دی چه علم کښ ئے هيڅ نيت نه وی ، هسے دخوند دپاره ئے زده کوی، اودا غرض ئے نه وی چه مونږ به ددين خدمت کوو، نو داسے قسم خلقو ته علم ښودل پکاردی، کيدے شی چه علم ورته هدايت اوکړی او نيت ئے برابر شی لکه بعض سلفو چه بے نيت علم زده کړو بيا ئے نيت دعلم په سبب صحيح شو کما مر۔اويا دا حديث ضعيف دے نو تطبيق ته ضرورت نشته۔او دا تطبيق به دعلماؤ قول حساب شی۔ کَمُقَلِّدِ الْخَنَازِيْرِ: مقلِد صيغه داسم فاعل ده، دقلاده نه ماخوذ دے پړے غاړے ته اچونکے۔مقلِد ته مقلِد ځکه وائی :۱- چه ده هم پړے خپل غاړے ته اچولے دے او مقلَد (بصيغة المفعول) ته ئے لاس کښ ورکړيدے چه ما راکاږه، ته چه څه وائے هغه به منم، ما چه کومه کنده کښ غورځوے زه تابعداريم، تانه دليل نه غواړم چه ولے مے غورزوے !!
۲- علامه شوکانی فرمائی : مقلِد ورته ځکه وائی چه ده پړے اچولے دے دخپل امام په غاړه کښ اوځان ئے وربورے تړلے دے، نو ده هم خپله تولـه تابعداری دامام په غاړه کښ اچولے ده۔بعض مُليان وائی چه دا خود تقليد لغوی معنی ده او اصطلاحی معنی ئے ده اتباع دقول دغير۔او دا معنی لغوی نه ده مراد په معنی اصطلاحی کښ۔نو داخبره ددوئ غلطه ده، بلکه دا قانون دے چه معنی اصطلاحی يامعنی منقول اليه کښ ضرور معنی لغوی مراده وی، لکه صلاة په لغت کښ بقول بعض تحريك الصلوين (د کناتو هډوکی خوزولو) ته وائی اودا معنی په ارکان مخصوصه ؤکښ ماخوذ ده، ولے که يو سړے مونځ اوکړی او کوناتی ئے په کښ اونه خوزول بالکل نيغ اودريدو نو دده مونځ نه کيږی، نو تقليد ته هم تقليد ځکه وائی چه دچا د قول پسے ورتلل او غاړه کښ پړے اچول اوذمه واری بل چاله په لاس کښ ورکول، نو حاصل معنی دتقليد (کوم چه نن صبا موجود دے) داده چه په خپل غاړه کښ پړے اچول، او بل چاله په لاس کښ ورکول، چه دا پړے واخله اوما راکاږه چه کوم طرفته مے راکاږے، زه به ستا د هر خطاء اورسا تابعداريم،اوکه ستا قول په مقابله دقرآن او حديث کښ راغے نو زه به دهغے تاويلونه کوم، لکه دا تول مقلدين شارحين دا کار کوی، چه حديث راشی نو د امام د قول دپاره ئے ورانوی، دهغه دقول سره ئے په زوره موافق کوی، دامام خبره د حديث دپاره نه ورانوی۔
اوتقليد په اتفاق دعلماؤ سره علم نه دے بلکه سراسر جهالت دے، لکه علامه قرطبی په تفسير(۲۱۲/۲) کښ ليکلی دی۔او مقلد ته فقيه هم نشی وئيلے، لکه مسلم الثبوت کښ دی (ولا يقال على المقلد لقصوره عن الاجتهاد) ۔ (مقلد ته فقيه نشی وئيلے ځکه چه دا خو د اجتهاد د درجے نه قاصر دے)۔ اعلام الموقعين (۲۰٦/۲) کښ دی :

(اجمع اهل العلم على ان المقلد ليس معدوداً من اهل العلم، وان العلم معرفة الحق بدليله) ۔ (**قول اهل علمو پدې اتفاق دې چه مقلد د علماؤ په ډله کښې شمار نه دے ځکه علم په دليل سره حق پيژندلو ته وائي**) **امام طحاويؒ** فرمائي : (لا يقلد الا غبي او عصبي) (**يعني تقليد هغه څوك كوي چه غبي او تنبل وي، او يا هغه شخص وي چه دماغ او اعصابو ئے كار پريښے وي**)۔

زمخشري وائي : (ان كان للضلال ام فالتقليد امه) (**يعني كه دگمراهئ مور وي نو هغه به تقليد وي**)۔ **عز الدينؒ اجماع نقل كريده په دے چه** : (على انه لا يسمى المقلد عالماً) انظر الروضة الندية كتاب القضاء للصديق حسن خان القنوجي (۲۴۷/۲) وانظر كتابنا: حقيقة التقليد واقسام المقلدين ۔ (**مقلد ته عالم نشي وئيلے**) **نو د علم طلبگارو له پكار دي چه د هرے مسئلے تحقيق اوكړي دے دپاره چه په بصيرت باندے روان شي نه دا چه ځان په زوره جاهل كړي، او د يو مذهب پابند شي**)۔

فائده : كوم خلق چه په علم عمل نه كوي نو دهغوي تشبيه ددرے قسم حيواناتو سره وركړے شويده : ۱- دسپي سره كما في سورة الاعراف۔ ۲- د خره سره كما في سورة الجمعه۔ ۳- اود خنزير سره لكه په دے روايت كښې۔

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه البيهقي في شعب الايمان باسناد ضعيف۔قال الشيخ الالباني في تعليق المشكاة (۷۶/۱) واعلم ان السيوطي قد جمع هذه الطرق حتى اوصلها الى الخمسين وحكم من اجلها على الحديث بالصحة وقال : سئل الشيخ محي الدين النووي عن هذا الحديث فقال : انه ضعيف سنداً وان كان صحيحاً اى معنىً وقال تلميذه جمال الدين المزي (هذا الحديث روى من طرق تبلغ رتبة الحسن) وهو كما قال : فانى رأيت له خمسين طريقاً وقد جمعتها في جزء آهـ وحكى العراقي صحته عن بعض الائمة وحسنه غير واحد والله اعلم

۲۲- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ((خَصْلَتَانِ لَاتَجْتَمِعَانِ فِيْ مُنَافِقٍ: حُسْنُ سَمْتٍ وَلَا فِقْهٌ فِي الدِّيْنِ)). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : دوه خلصتونه (خويونه) داسے دي چه منافق كښې نه جمع كيږي : ۱ - يو نيك خوئي۔ ۲- دويم ديني پوهه۔(ترمذي)۔

تشريح : خَصْلَتَانِ لَاتَجْتَمِعَانِ فِيْ مُنَافِقٍ : په دے كښې لا يجتمعان هم صحيح دے ځكه خصلة مصدر ذو التاء دے ضمير دمذكر اود مونث دواړو ورته راجع كيدے شي۔

۲- لايجتمعان هم راغلے دے۔د لايجتمعان معنى داده چه منافق كښې دا دواړه په يو ځائے نشي راجمع كيدے ځكه چه دا دواړه ښائسته ديني صفات دي او منافق كښې دانه وي، اگرچه بيل بيل په كښې راتلے شي په طريقه دمانعة الجمع سره، خلو ئے جائز ده خو جمع ئے جائز نه ده، اودا مطلب نه دے چه په كښې يو راغلو نو هغه به منافق نه وي بيا په دے حديث كښې تيزي وركول دي مومن ته چه ته دا صفات په ځان كښې ضرور راوله چه دمنافقت نه خلاص شے ځكه چه منافق

ددے دواړو صفاتو نه عاري دے او منافق نه منافق اعتقادي اوعملي دواړه مراد کيدے شي۔
حُسْنُ سَمْتٍ : سمت، دل، هَدْي، طريقه او ښائسته سيرت او اخلاق يو شے دے۔ يعني په ښائسته طريقے سره کيناستل پاڅيدل، خبرے اترے کول، او وقارکول دجاهلانو پشان بے ځايه کيناستل پاڅ... نه کول۔ دهغو پشان جګړے نه کول دخلقو سره او دصالحينو پشان هيئت جوړول، دے ته تولو ته سمت وائي۔ **وَلَا فِقْهٌ فِي الدِّيْنِ** : په دين باندے پوهه۔ دکه م انسان چه فقاهت في الدين وي او سمت ئے خراب وي نو دا مطلب نه دے چه دا به منافق وي بلکه دا دواړه منافق کښ نشي راتلے کله کله به ديو انسان حسن سمت وي خو فقاهت في الدين به نه لري لکه ډير کفار خوش اخلاقه وي بعض فاسقان هم داسے وي نو هغه نه دي مراد۔ نو په دے کښ ترغيب دے فقيه او عالم ته چه سيرت ډے برابر کړي او حسن سمت والا ته وائي چه فقاهت في الدين پيدا کړه۔ددے په مقابله کښ بل حديث کتاب الزکوة کښ راځي : (خصلتان لاتجتمعان في مؤمن : البخل وسوء الخلق) (يعني دوه خويونه دي چه په مؤمن کښ نه جمع کيږي : کنجوسي او بداخلاقي)۔ دا د توکل هم خلاف ده اود بد اخلاقئ دوجے نه ايمان ختميږي۔

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه الترمذي باسناد فيه خلف بن ايوب العامري ضعفه ابن معين ووثقه ابن حبان۔ولكن الحديث صحيح بمجموع الطرق كما في صحيح الجامع الصغير للالباني (۱/ رقم (۳۲۲۹) وتفصيله في السلسلة الصحيحة (۱/۲/۵۰) رقم (۲۷۸) وله شاهد مرسل عن محمد بن عبد الله بن سلام، اخرجه عبد الله بن المبارك في الزهد ص : ۱۵۵)۔

۲۳- وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ خَرَجَ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى يَرْجِعَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : انس ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : کوم سړے چه کور نه علم حاصلولو دپاره اووتلو، هغه چه څو پورے کورته واپس راشي د الله لارکښ دے۔(ترمذي، دارمي)۔

تشريح : **فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ** : طالب العلم دالله په لاره کښ دے، دده ميټر کهلاؤ دے، که داخوب کوي، که خوراك څښكاك كوي که کتاب مطالعه کوي که تکرار ددرس کوي دا ټول ئے عبادت کښ حساب دي، سراسر اجر اجر، اوکه دا مړ شي نو شهيدانو کښ به حساب وي، اوداحال دجهاد اود دعوت هم دے، بيا داحديث دليل دے چه دالله لاره يوه نه ده ځانله دعوت ته نه وائي بلکه طلب دعلم شرعي، جهاد ته وتل او حديث دترغيب او ترهيب کښ دي چه څوك دحلال تجارت دپاره په ښه نيت اووځي هغه هم دالله په لاره کښ داخل دے ټولے دالله لارے دي خو بيا چه کومه زياته مهمه ده اوموقعه دکوم وه نو هغے کښ به ځان استعمالوي، مثلاً موقعه د جهاد ده نو جهاد اوموقع دعلم ده نو علم اوداسے نور۔

درجة الحديث : رواه الترمذي (۲٦٤٧) باسناد حسن غريب والدارمي (۱۳۹/۱) وضعفه الالباني في ضعيف الجامع الصغير (۵۵۷۰) والضعيفة (۲۰۳۷)۔

۲٤ - وَعَنْ سَخْبَرَةَ الْاَزْدِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضٰى». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ ضَعِيْفُ الْاِسْنَادِ وَاَبُوْدَاوٗدَ الرَّاوِيُّ يُضَعَّفُ.

ترجمه : سخبره ازدیؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړے چه علم طلب کوی نو هغه دهغه تیرشوو (صغیره او کبیره) ګناهونو دپاره کفاره کیږی (ترمذی، دارمی) او امام ترمذی فرمائیلی دی : داحدیث ضعیف الا سناد ۔ے ولے چه ددے یو راوی ابوداود ضعیف شمارلے شی۔

تعارف: دسخبره ﷺ : بعض وائی دا تابعی دے اصح داده چه دا صحابی دے دوه حدیثونه ترے نقل دی۔

تشریح : كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضٰى : طلب دعلم دپاره چه څوك اوځی نو دابه ئے کفاره دتهولو تیر شوو ګناهونو شی، دګناهونو نه واړه او غټ دواړه مراد دی، لکه دابه په کتاب الطهارة کښ راشی جه داسے حدیثونه راشی نو دے کښ به کبیره ګناهونه هم داخل وی ځکه کبیره ځانله په توبه نه معاف کیږی بلکه لس اسباب دی ددے دمعافئ دپاره کما یاتی فی موضعه – لیکن دا حدیث نه دے ثابت۔دا حدیث تبلیغیان په بل طرز بیانوی چه څوك په لاره د الله کښ ددعوت دپاره اوځی نو په ړومبنی قدم ورته الله تهول ګناهونه معاف کړی، ددے روایت معنی کوی۔لیکن یوخو دلته طلب العلم لفظ دے اوبل دا چه دا حدیث نه دے ثابت، ضعیف جداً روایت دے۔نو ددے روایت بیانول نه دی پکار۔

درجة الحديث : اسناده موضوع : رواه الترمذي وقال : هذا حديث ضعيف الاسناد فيه ابوداود الاعمى اسمه نفيع او نافع۔(وهو كذاب) قال الحافظ : متروك وكذبه ابن معين (انظر ضعيف الترمذي رقم (۲۷۹۹) وَضَعَّفَهُ الالباني في الضعيفة (۵۵/۵) ۔ **اوبل شاهد او متابع ئے هم نشته اګرچه معنی دحدیث د اسلام خلاف نه ده ځکه دعلم نور ډیر فضیلتونه شته دے۔**

۲۵- وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَنْ يَّشْبَعَ الْمُؤْمِنُ مِنْ خَيْرٍ يَسْمَعُهٗ حَتّٰى يَكُوْنَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةُ». رواه الترمذيُّ.

ترجمه : ابو سعید خدریؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : مؤمن په خیر (علم) نه مړیږی، هغه هغے له آوری (یعنی حاصلوی ئے) تردے چه دهغه رسیدل جنت ته اوشی۔ (ترمذی)۔

تشریح : لَنْ يَّشْبَعَ الْمُؤْمِنُ مِنْ خَيْرٍ : خیر نه مراد د قرآن او حدیث خبرے دی اومومن سړے به ددے داوریدلو نه نه مړیږی که مُلا دے که طالب دے اوکه امی دے تهول دے خبروته محتاج دی۔

ددې مفهوم دادې چه (اما غیر المؤمن فیشبع من خیر)۔ یعنې غیر مومن وی هغه دخیر نه موړ وی) نو ګویا که څوك چه دخیر نه ځان موړ ګنړی هغه کښې ایمان نشته۔ ددین نه بې پرواهی کول بې ایمانی ده۔ يَسْمَعُهُ حَتّٰى يَكُوْنَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةُ: الجنة یا منصوب دې خبر د یکون یا مرفوع دې اسم د یکون دې۔ حدیث دلیل دې په دې چه ترمرګه پورې به دعلم طلب کوی، دا وجه ده موسی علیه السلام پس دنبوت نه دخضر علیه السلام نه دعلم طلب کولو دپاره تلې دې۔ نو مومن به دخیر خبرې اوری تردې چه آخر کښې به ئې جنت ته اورسوی۔

درجة الحديث: رواه الترمذی (۲۶۸۶) باسناد حسن غریب وفی الاسناد دراج عن ابی الهیثم وهو ضعیف وخاصة فی روایته عنه۔

۲۶- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:«مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ اُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلَجَامٍ مِنْ نَارٍ». رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالتِرْمِذِيُّ وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ عَنْ اَنَسٍ.

ترجمه: ابو هریرهؓ نه روایت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم سړی نه چه دعلم څه داسې خبره اوتپوسلې شي، چه هغه ته معلومه وی خو هغه پټه کړه (یعنی وې نه خودله) نود قیامت په ورځ به دهغه خُله کښې داُور واګې واچولې شي (احمد، ابوداود، ترمذی) او ابن ماجه دا حدیث دانسؓ نه روایت کړیدې۔

تشریح: مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ: دسؤال دوه معنی دی: ۱- یو سوال بمعنی الاحتیاج یعنی هغه څوك چه ده ته احتیاج د خلقو راغلو دیو علم اودینی مسئلې په باره کښې اودائې پټه کړی۔ هغوی ته ئې بیان نه کړی چه دابیان کړی چه دا مسئله حقه ده اودا بله باطله ده اودا فلانې په حق دې او فلانې په باطل، بلکه دا ویریږی یا لالچ د وجې نه ئې نه بیانوی، چه خلق راباندې فتوی اونه کړی، نو که تاته ددینی مسئلې دبیانولو حاجت وی او ته ئې نه بیانوې نو ته به ګنهګاریې۔

۲- دویم داچه سؤال په معنی دتپوس دې په ژبه۔ علم نه مراد معلوم دې یعنی د یو معلوم شي په باره کښې تپوس اوکړې شي ځکه علم بعینه تپوس نه وی بلکه تپوس دیو معلوم شي کیږی خو دې کښې به یو قیداولګوې چه علم به ضروری وی او دینی کارونو سره به تعلق لری که غیر ضروری علم وی دهغې پټول ګناه نه ده۔ لکه یو سړې تانه تپوس اوکړی چه دآدم علیه السلام نکاح چا کړې وه، دابراهیم علیه السلام ګډ چا اوخوړ، وغیره، یا د دنیوی یوه خبره درنه تپوسی۔ نوددې جواب ورکول څه ضروری نه دی۔

ثُمَّ كَتَمَهُ: دا کتمان په دوه طریقو دې یو دا چه په جواب ورنکړی دارنګه کتاب ترې منع کړی۔

اُلْجِمَ: ځکه جزاء من جنس العمل وی، ده خوله پټه کړې وه الله ورله خوله په واګو سره پټیږی۔

درجة الحديث: اسناده صحیح: رواه احمد (۲/۲۶۳،۳۰۵) وابو داود (۳۶۵۸) والترمذی

(۲٦٤۹) وقال: حدیث حسن واخرجه الحاکم وقال: صحیح علی شرط الشیخین۔وقال الالبانی فی تعلیق المشکاۃ (۱/۷۷): واسنادہ صحیح وقد اعل بالانقطاع ولیس بشئ۔

۲۷- وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ اَوْلِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ اَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوْهَ النَّاسِ اِلَيْهِ اَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ».رواه التِّرْمِذِيُّ وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ.

ترجمه: کعب بن مالكؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم سړی چه علم دے غرض سره حاصل کړو چه دهغے په ذریعه علماؤ باندے فخر اوکړی، بیوقوفانو سره جګړے اوکړی او د خلقو مخونه ځان طرفته متوجه کړی، نو الله تعالی به هغه جهنم ته داخل کړی (ترمذی) او ابن ماجه دا حدیث دابن عمرؓ نه روایت کړیدے۔

تعارف: دکعب بن مالك رضی الله عنه: الانصاری المدنی الشاعر، دالله لوئی ولی دے داد هغه درے کسانو نه دے کوم چه دتبوك غزا نه پاتے شوی وو۔او الله ئے په قرآن کښ توبه نازل کړه د نبی اکرم ﷺ شاعر دے دمشرکینو هجو به ئے کوله (۸۰) حدیثونه ترے نقل دی۔ په سنه (۵۰ هـ) کښ د (۷۷) کالو په عمر وفات شو، په آخر عمر کښ ړوندشوے وو۔

تشریح: لِيُجَارِيَ: مجارات دچاسره شریك په یوه لاره تللو ته وائی چه دا وائی دا فلانے عالم په دے لاره روان دے زه هم په دے لاره ځم، دهغه سره مقابله کول ئے غرض وی، چه دده څومره اکرام کیږی چه زما هم هغه شان اکرام اوکړے شی۔دارنګه دعلماؤ سره مناظرے اوجګړے ددے دپاره کوی چه خلقو ته خپل علم ښکاره کړی، علماء په خپل عمل تنګ کړی، دهغوی نه داسے تپوسونه کوی غرض ئے داوی چه هغوی په خبرو کښ بند کړی او وے شرموی دخلقو په مینځ کښ۔ دا لوئی عیب دے۔دارنګه دے کښ دا هم داخل دے چه دعلماؤ په عبارتونو باندے بلا ضرورته اوبے فائدے اعتراضونه کوی چه غرض ئے په کښ دهغه بدنامول اوځان اوچت ښکاره کول وی، اوداسے وائی چه فلانے خوزما په مخکښ عبارت هم نشی وئیلے، داټول دتکبر الفاظ اوکارونه دی، ځکه ئے دومره لویه سزا ده، چه هغه اور دے۔

اَوْلِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ: کم عقل ضعیف العقول انسانانو سره جګړے کولو دپاره علم زده کوی، دجاهلانو په عذابولو دپاره علم زده کوی۔ ۲- یا دمراء نه ماخوذ دے شك کښ اچول، یعنی جاهلان په شکونو کښ اچوی۔ ۳- **اَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوْهَ النَّاسِ اِلَيْهِ:** یعنی دے دپاره علم زده کوی چه دخلقو مخونه ځانته راواړوی چه دهغوی نه مالونه اومرتبے حاصلے کړی، اوطالبان اوعوام دخادمانو پشان ځان دپاره اوګرځوی۔ لکه ډیر باطل پرست عوامو او طالبانو ته خپل علم ښکاره کوی چه زه دومره قابل یم چه ماسره څوك مناظره نشی کولے، دے دپاره چه عوامو په

نظر کښې دا لوئی ښکاره شي اوطالبان پرې رامات شي، اودهغوی نه ددنيا مقاصد پوره کړي۔ دا درې واړه قسمه خلق به الله پرمخې اورته ګذار کړي۔او هرچه هغه شخص دې چه ددې دپاره علم زده کوی، يا تقرير ښه زده کوی ددې دپاره چه زه ښه قابل شم چه عوام مانه استفاده اوکړي اومانه دين زده کړي، او الله مانه ددين خدمت واخلي نودا چرې هم په دې وعيد کښې نه دې داخل بلکه داخو اصلي مقصد دعلم دې خو په دې باب کښې نيت برابرول ډير ګران دي، ډير خلق منطق علم زده کوی په دې نيت چه چالاکي زده کړو څوك به راسره مناظره نشي کولې، اکثر دا علوم آليه انسان ياد کړي نو يو قسم تکبر انسان کښې راشي، اودا ډير غلط کار دې، نيت صحيح کول پکار دي، او قرآن اوحديث انسان کښې تواضع پيدا کوی، اودا باطل پرست نه په علوم آليه سم پوهيږي اونه په قرآن او حديث، هسې متکبرين دي۔

درجة الحديث : اسناده حسن بشواهده : رواه الترمذی (٢٦٥٤) باسناد فيه اسحق بن يحيي بن طلحة وهو متكلم فيه من قبل حفظه۔ليکن په الحاکم او بيهقي کښې ددې حديث شاهد موجود دې نو په درجه دحسن کښې ګرځي۔او په دې باب کښې ډير احاديث موقوف شته دې تراها فی الکنز (٥/٢١٤) ومجمع الزوائد والدارمی ص (٩٦) عن مکحول وعبد الله بن مسعود : من طلب العلم لاربع دخل النار او نحو هذه الکلمة : ليباهی به العلماء، او ليماری به السفهاء، او ليصرف به وجوه الناس اليه، او لياخذ به من الامراء)۔و کذلك روايات کثيرة فی جامع بيان العلم وفضله (١/٦٥٤) عن جابر وابن مسعود وابی قلابة وقد حسنه العلامة الالبانی فی صحيح الجامع (٦٣٨٣) وصحح فی صحيح الترغيب والترهيب للمنذری ص (١١٨) رقم (١٠٢، ١٠٣، ١٠٤) رواية ابن عمر مرفوعاً بلفظ: من طلب العلم ليباهی به العلماء ويماری به السفهاء او ليصرف به وجوه الناس اليه فهو فی النار (روه ابن ماجه) فالحديث بحمد الله صحيح۔ وصحح مثله برواية ابی هريرة۔

٢٨- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:« مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغٰى بِهٖ وَجْهُ اللهِ لَا يَتَعَلَّمُهٗ اِلَّا لِيُصِيْبَ بِهٖ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَعْنِیْ رِيْحَهَا» رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه : ابو هريرةؓ نه روايت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چاچه هغه علم چه هغې سره د الله تعالی مخ طلب کيږي دې غرض سره زده کړو چه دهغې په ذريعه ددنيا سامان حاصل کړي، نو دقيامت په ورځ به دجنت خوشبوئی قدرې هم اوې نه مومي۔ (احمد، ابوداود، ابن ماجه)۔

تشريح : عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغٰى بِهٖ وَجْهُ اللهِ : دا قيد ورسره څکه لګوی چه ددې نه مراد علم شرعي دې يعني هغه علم چه دالله مخ پرې طلب کولې شي او دهغه رضا پرې لټولې شي، اوڅوك ئې ددنيا دپاره طلب کړي نو دا سزا ئې ده چه دجنت خوشبوئی به نه مونده کوی اوپه دې کښې احتراز دې دهغه علوم دنيويه نه چه ددنيا دپاره زده کيږي مثلاً د طب، ډاکټرئ اود انجنيرئ اونور

عصري علوم په دے نيت زده کوي چه دنيا به راته ملاؤ شي نو په دے کښې ګناه نشته۔ ليصيب به عرضاً من الدنيا : چه حاصل کړي په دے علم سره سامان ددنيا۔ عرض لفظ عام دے شامل دے تدريس ته هم چه په دے نيت علم زده کوي چه زه به مدرس شم او خلق به راله تنخواه راکوي۔ دارنګه دقضاوت او امامت په نيت چه تنخواه پرے واخلي، ياد يو مشرئ او مسند حاصلولو دپاره چه سند واخلي او ډګري واخلي، سکول کښې به استاذ شم ډبله تنخواه به راته ملاويږي، داډير سخت نقصانات دي، شيخ القرآن مولانا محمد طاهر باندے دے الله تعالى رحم اوکړي، هغه به وفاق (المدارس) ته نفاق وئيلو چه په دے سره خلق منافقان کيږي، دين دسند دپاره زده کوي، نه دعمل دپاره۔ اودا ئے صحيح وئيلي دي همدغه شان ده، اکثر خلق ئے سکول کښې داستاذئ په نيت حاصلوي۔

عَرْفَ : په فتحه د عين او سکون د راء سره خوشبوئي ته وائي، دا عبارت ظاهر کښې دليل دے چه جنت به داسے شخص حرام دے نو مقصود به داوي چه اولني سابقين ناجينو کښې به نه داخليږي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه احمد (۳۳۸/۲) وابوداود (۳٦٦٤) وابن ماجه (۲۵۲) باسناد صحيح وصححه الحاكم (۸۵/۱) مع موافقة الذهبي- وابن حبان۔ وقال الالباني في تعليق اقتضاء العلم للخطيب البغدادي ص (۱۹٤) : اسناده صحيح وله شواهد اخرى في الترغيب (٦۸/۱) وقال ابو الاشبال في تعليق جامع بيان العلم وفضله لابن عبدالبر (٦۵۹/۱) حديث صحيح۔

۲۹- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :((نَضَّرَ اللهُ عَبْدًا سَمِعَ مَقَالَتِيْ فَحَفِظَهَا وَوَعَاهَا وَاَدَّاهَا فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ غَيْرُ فَقِيْهٍ وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ اِلٰى مَنْ هُوَ اَفْقَهُ مِنْهُ. ثَلٰثٌ لَا يُغِلُّ عَلَيْهِنَّ قَلْبُ مُسْلِمٍ:اِخْلَاصُ الْعَمَلِ لِلّٰهِ وَالنَّصِيْحَةُ لِلْمُسْلِمِيْنَ وَلُزُوْمُ جَمَاعَتِهِمْ فَاِنَّ دَعْوَتَهُمْ تُحِيْطُ مِنْ وَرَائِهِمْ)).رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَدْخَلِ وَرَوَاهُ اَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ اِلَّا اَنَّ التِّرْمِذِيَّ وَاَبَا دَاوُدَ لَمْ يَذْكُرَا: ((ثَلٰثٌ لَايُغِلُّ عَلَيْهِنَّ))اِلٰى آخِرِهٖ.

ترجمه : ابن مسعودؓ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله تعالى دے هغه بنده تروتازه لري (يعني قدر او مرتبه ډے ز ياته کړي او دين او دنيا کښې ډے خوشحال لري) چه هغه زما څه خبره واوريده هغه ئے ياده اوساتله او څنګه چه ئے آوريدلے وه هغسے ئے خلقو ته اورسوله، څکه چه بعضے بارونکے دفقهے پوهه نه وي او بعضے به پورته کونکے د پوهے وي هغے خلقو ته چه هغوئ به دده نه زيات پوهه وي، اودرے څيزونه داسے دي چه هغے کښې دمسلمان زړه خيانت نه کوي : ۱- يوخو عمل خاص طور سره الله دپاره کول۔ ۲- مسلمانانو سره نيکي کول۔ ۳- اودريم دمسلمانانو جماعت لازم نيول، چه دجماعت دعا ترے ګير چاپيره وي۔ (شافعي، بيهقي

في المدخل) او امام احمد، ترمذي، ابن ماجه اودارمي دا حديث د زيد بن ثابتؓ نه روايت کړيدے البته ترمذي او ابوداود: دريے څيزونه دي چه په هغے باندے دمسلمان زړه خيانت نه کوي ـــ تر آخره نه دے ذکر کړے۔

تشريح: نَضَّرَ اللّٰهُ : دا جمله دعائيه ده اود رسول الله ﷺ دعا ده اود هغه دعاء قبليدو والا ده۔ ارشاد رباني دے ﴿ لاتجعلوا دعاء الرسول بينكم كدعاء بعضكم بعضاً ﴾ [النور : ٥٣] د نبي ﷺ دعاء به دنورو خلقو ددعاء پشان نه ګنړے، دا وجه ده چه سفيان بن عيينهؒ فرمائي : دا پيغمبري دعاء ده په محدثينو لګيدلے ده (لا تجد رجلاً من اهل الحديث الا وفي وجهه نضرة) دهر محدث اوصاحب حديث په مخ کښ به خامخا رڼړا اوتازګي وي، په نسبت دهغه چا چه هغه نور عِلوم لکه منطق فلسفه وغيره سره واسطه لري۔ بيا چه څومره حديث سره تعلق زيات وي نو رڼړا به زياته وي۔

نضر : ديته وائي چه يو باغ کښ ګلونه اوشينکئ راوټوکيږي تازه شي۔ عَبْدًا : دلته عام دے شامل دے حر او عبد نارينه اوزنانه ټولو ته۔

سَمِعَ مَقَالَتِيْ : دے نه دا فائده معلوميږي چه روايت باللفظ نقل کول افضل دي، اوروايت بالمعنی نقل کول جواز لري، بعض علماء لا دا وائي چه روايت باللفظ نقل کول واجب دي اوروايت بالمعنی ناجائز دے، لکه دا امام ابوحنيفهؒ ته منسوب دي په بعض کتابونو کښ۔ابن القيمؒ په اعلام الموقعين کښ ضمناً غوندے رد کړيدے چه بعض علماء دي په حديثو کښ روايت بالمعنی نه مني، او قرآن په معنی باندے نقل کول جائز ګنړي، يعني قرائت په فارسئ کښ لوستلو ته جائز وائي۔ دا څومره صريح تعارض دے، جمع بين الافراط والتفريط ده۔نو کيدے شي چه په دے کښ د امام ابوحنيفهؒ قول ته اشاره وي۔

ليکن جمهور علماء فرمائي چه روايت بالمعنی جائز دے۔دروايت بالمعنی معنی داده چه د رسول الله ﷺ الفاظ بعينه نقل نه کړي بلکه دهغے مطلب نقل کړي او عام احاديث په دے طريقه دي، لګ لګ حديثونه د نبي ﷺ په الفاظو نقل شويدي لکه مشکوة (٢/٢٩٤) کښ به راشي چه واثله بن الاسقعؓ ته چا اووئيل : مونږ ته داسے حديث بيان کړه چه بعينه د رسول الله ﷺ الفاظ وي، په هغے کښ زيادت او نقصان نه وي، نو هغه غصه شو او وے فرمائيل : قرآن ستاسو مخکښ ليکلے شوے موجود دے او تاسو په هغے کښ خطاء کيږئ او حديث لا ليکلے شوے هم نه دي نو آيا مونږ به په هغے کښ نه خطاء کيږو ! صهيبؓ ته اووئيلے شو چه داسے حديث بيان کړه چه بعينه د رسول الله ﷺ الفاظ وي، هغه اوفرمائيل : که روايت بالمعنی غواړے نو هغه به درته اوکړو، روايت بالمعنی دا مطلب چه په منبر باندے تقرير اوکړي نو تاته دهغه الفاظ زده نه وي خو ته دهغے مطلب په خپلو الفاظو کښ نقل کړے چه دا خبره ئے اوکړه، دا خبره ئے اوکړه، که روايت بالمعنی جائز نشي نو بيا به ډير احاديث ضائع شي بلکه عام احاديث

دصحابه کرامؓ دذهن مطابق تعبير دے چه رسول الله ﷺ داسے اوکړل، داسے ئے اوفرمائيل، دا د صحابي تعبير وي اودا هم زمونږ دپاره دين دے۔

فَحَفِظَهَا : دحديثو يادول پکار دي، احاديث خو ډير دي خو مهم مهم يا يو مختصر دحديثو کتاب يادول ضروري دي چه دا فضيلت درته حاصل شي، اودا يادول به دعمل اودعوت دپاره وي، او په دے کښې درے درجے بيان شوي دي: ۱ - حديث يادول ۲ - بيا پرے عمل کول دا (وعي) ده، ۳-او بيا ددے دعوت کول۔

وَوَعَاهَا : وعاها بالعمل (يعني په عمل سره ئے ياد کړي ځکه چه انسان ته خبره چه يادېږي نو هله چه عمل کښې راولي۔ ۲- اي داوم علی حفظها : د هغې هميشه يادول، باربار ئے تکرار کوي)

فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ غَيْرُ فَقِيْهٍ : دا دليل د(اداها) بيانوي چه احاديث بل ته ځکه بيانول غواړي چه ډير کرت يو پورته کونکے دفقه اوعلم به داسے وي چه هغه به خپله فقيه نه وي۔ غير مجرور دے صفت دحامل دے يا مرفوع دے خبر دهو محذوف دے، اي هو غير فقيه، يعني يو انسان ته به احاديث زده وي خو هغه به ترے فقه او احکام او اسرار نشي راويستلے اګرکه په دے حفظ به ورته اجر ملاوېږي۔

وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ اِلٰى مَنْ هُوَ اَفْقَهُ مِنْهُ. : او ډير کرت يو وړونکے او بارونکے دفقه اوعلم به وي هغه ځاته چه هغه به دده نه زيات پو هېږي لکه ماته يوه خبره يو حديث زده دے اود هغے نه ما رازونه را اونه ويستل اوتاته مے بيان کړو تا لره الله ډير ذکاوت درکړيدے او تقویٰ دِے ډيره ده نو ته به دهغه حديث نه ډير احکام او رازونه او فوائد راوباسے نو مالره پکار دي چه تاته بيان کړم او بيا تالره پکار دي چه ته ئے بل ته بيان کړے کيدے شي چه ستانه ستا شاګرد ترے ډير فوائدراوباسي۔

نودا دليل دے په دے خبره چه دا ضروري نه ده چه هميشه به استاذ ډير پو هه وي او شاګرد به نه پو هېږي ډير کرت شاګرد د استاذ نه ښه پو هېږي لکه دا دتجربے نه معلومه ده په بعض وخت کښې استاذ به په يو ځائے نه وي پو هه، اوشاګرد به پو هه شوے وي۔بخاري (۱/ ۲۱) کښې دي: محمد بن سيرينؒ فرمائي : (صدق رسول الله ﷺ) رسول الله ﷺ رشتيا وئيلي دي : ډير کرت مونږ ته داسے خلقو دين بيان کړو چه هغوي پرے دومره نه پو هيدل، او مونږ پرے ښه پو هه شو۔دارنګه مونږ شاګردانو ته احاديث اووئيل مونږ ترے دومره رازونه رااونه ويستل لکه چه هغوي ترے څومره ډير فوائد راويستل۔نو ددے نه بله فائده هم معلومه شوه (په فائده کښې فائده) او هغه دا چه دا لازمه نه ده چه هميشه دِے سلف په دين ښه پو هېږي او خلف دِے بالکل په دين نه پو هېږي دوي به تقليد کوي بلکه ددے امت داسے مثال دے لکه دباران پشان، داول اود آخر پته ئے نه لګي چه کوم يو کښې خيريت او ډيره نفع ده۔ (داحديث به راشي) اګرچه سلفو کښې تقویٰ، لِلّٰهيت، ذکاوت او خيريت والا خلق ډير زيات وو، او روستو زمانو کښې به هم تقویٰ او خير والا خلق موجود وي په دين به پو هېږي، داسے نه ده لکه چه شامي (۱/ ۳۹۶) ليکي چه

دخلورمے صدئ نه بعد قياس او اجتهاد ختم شويدے، روستو څوك يوه مسئله په بله نشي قياس كولے، اجتهاد دروازه ئے بنده كړه.لكه وائي : (على ان القياس بعد الاربع مائة منقطع فليس لاحد بعدها ان يقيس مسئلة على مسئلة كما ذكره ابن نجيم في رسائله آه.

مالكيان وائي په ابن القاسم باندے بنده شويده.شوافع وائي په ربيع بن سليمان باندے ختم شويدے.داخبرے غلطے دي، اجتهاد نه دے بند، دقيامت دورځے پورے به اجتهاد جاري وي، مجتهدين علماء به وي، اوس هم شته، ځكه دا علماء حجت دے په امت باندے كه دا نه وي نو عوامو باندے د الله حجت نه قائميږي، عوام به وائي يا الله ! څوك دعلم خاوندان نه وو چه ستا دين ئے مونږ ته راښودلے وے، مونږ ترے زده كړے وے. ولے چه مقلدينو ته علماء نه وئيلے كيږي، ځكه مخكښ تير شو چه تقليد جهل دے، نه علم دے اونه علم ته لاره ده (القرطبي) بله دا چه د اجتهاد يو څو شرطونه دي كه هغه په هره زمانه كښ موجود شي نو اجتهاد به وي، لكه تقوئ، عدالت، ذهانت، علوم عربيه باندے پوهيدل، كثرت مزاوله دكتاب، اوسنت او نوروكتب شرعيه سره په انسان كښ اجتهادي شان پيدا كيږي. دا يواځے دسلفو پورے خاص نه دے، داخو رحمت دے، ددے بندول مناسب نه دي.

د اجتهاد معنى ده : په دين كښ كوشش كول او مسئلے معلومول دقرآن او حديث نه.

په دے باره كښ علامه سيوطيؒ يو كتاب ليكلے دے :

(الرد على من اخلد الى الارض، وجهل ان الاجتهاد في كل عصر فرض).

سيوطي ديته اشاره كوي چه زه مجتهد مطلق يم، داسے مسئله نشته چه ماته په هغے كښ اختلاف دعلماؤ نه وي معلوم، او راجح او مرجوح معلوم نه وي، كه عقيده كښ وي كه احكامو كښ. وجه داده دے وائي چه زه حرم ته تلے ووم اود زمزم اوبه مے ډيرے اوڅكلے په دے نيت چه په ټولو علومو كښ ماهرشم، نو هر علم راته ياد دے، سيوا دعلم حساب او رياضي نه.نو زه ده (۹) نهمے صدئ مجتهد يم. او واقعي ده چه مجتهد وو، ليكن متساهل وو په نقل داحاديثو كښ، نو دا خبره خطاء شوه چه اجتهاد بند دے، او روستني به دمخكنو تقليد كوي.نه، بلكه دپخوانو نه به رنړا اخلي. اوډيرے داسے مسئلے شته چه دمخكنو نه پاتے شويدي لكه دا هم يوه قاعده ده، (كم ترك الاول للآخر) نو ددے روايت نه دا معلومه شوه چه تابعينو كښ دے يو كس په دين باندے دومره نه وي پوهه او اوس يا آينده دے هغه په دين باندے ښه پوهه وي.

ثَلٰثٌ لَا يُغِلُّ عَلَيْهِنَّ : دے كښ درے قراءته دي : ۱- دباب ضرب نه غل يغِل مصدرئے غِل بكسر العين، حِقد اوكينے ته وائي. ۲- باب افعال دے اغل يُغِل په معنى دخيانت سره استعماليږي، يقال : اغل في المغنم اذا خان. ۳- دباب نصر نه دغلول نه ماخوذ دے ﴿ ومن يغلل يأت بما غل يوم القيامة ﴾ آلعمران ۱٦۱) . بناء بر اول معنى دا ده چه درے خصلتونه دي چه

دمؤمن زړه دهغې سره کینه نه کوي، بلکه هغه طلب کوي. او بناء بر ثاني اوثالث معنی داده چه زړه :مسلمان په هغه درې څيزونو باندې خيانت نه کوي چه هغه گذا رکړي، زړه کښې ورله ځائے نه ورکوي او ځانته مسلمان وائي، بلکه دا څيز ونه به ضرور دهغه په زړه کښې وي.

اِخْلَاصُ الْعَمَلِ لِلّٰهِ : مسلمان دا کینه نه ساتي چه عمل دالله دپاره خالص کول نه دي پکار. دارنګه داخيانت هم نه کوي، چه ځان به ظاهر کښې مخلص ښکاره کړي او زړه کښې ئے اخلاص نه وي، بلکه هغه کوشش کوي چه دده په عمل کښې اخلاص پيدا شي اودالله په دربار کښې ذليل نشي.

وَالنَّصِيْحَةُ لِلْمُسْلِمِيْنَ : خير خواهي دمسلمانانو دپاره ديته وائي چه دبل دپاره دخير اراده لري، چه الله خلقو ته ديني او دنيوي او معاشي فائده اورسوي. چاچه په زړه کښې مسلمانانو ته خير خواهي نه وي هغه مسلمان نه دے ځکه چه الدين النصيحة (دين دخير خواهي نوم دے).

وَلُزُوْمُ جَمَاعَتِهِمْ : دجماعت دوه تفسيرونه مخکښې تير شوي (۱- يو دا چه کله دمسلمانانو خلافت اوپادشاهي وي نو دهغوي سره به ملګرے کيږي بغاوت به نه کوي. ۲- دويم ظاهره معنی ده، وهو موافقة المسلمين في الاعتقاد والعمل الصالح من صلاة الجمعة والجماعة وغير ذلك (مرقاة) يعني دمسلمانانو سره په عقيده او نيك اعمالو کښې موافقت کوي لکه د جمعې او جمعو مونځونو ته حاضريږي) او د دوي نه يواځې والے نه کوي). فَاِنَّ دَعْوَتَهُمْ تُحِيْطُ مِنْ وَرَائِهِمْ : دا حکمت د لزوم الجماعة بيانوي، ځکه به ملګرتيا کوي چه دمسلمانانو دعوت اودعاګانې راګيروي هغه چالره چه ددوئ نه اخوا وي، (من) موصوله دے يا جاره دے نو دمسلمانانو نه چه وړاندې کوم مسلمانان پراته دي نو ددوئ په دعاګانو او دعوت کښې راګير دي، نو هرکله چه تاد مسلمانانو ډله لازمه اونه نيوله نو دهغوي په دعاء او دعوت کښې به داخل نشې. لان دعوة المسلمين قد احاطت بهم فتحرسهم عن كيد الشيطان وعن الضلال (مرقاه) (ځکه چه ته دمسلمانانو ډلے نه اووتلے نو تاته به دعوت نه کيږي نو شيطان به درباندې مسلط شي اوګمراه به دې کړي). دارنګه دمسلمانانو ددعاګانو برکت وي، (فلا ينبغي لاحد ان يجعل نفسه محروماً من بركتهم (مرعاة ۳۲۸/۱). (نو دا مناسب نه دي چه انسان ځان د هغوي د برکاتو نه محروم کړي).

فائده : حافظ ابن حجر فرمائي : د ثلاث لا يغل مناسبت د ما قبل سره دا دے چه هرکله نبي ﷺ د هغه داحاديثو اوريدونکي ته دهغې په يادولو او اداء کولو، بل ته رسولو تيزي اوترغيب ورکړو، نو آخر کښې ئے ورته داخصلتونه ذکر کړل چه دا درې خصلتونه ځان کښې راوله، دابه دے په تبليغ ددين باندې تيز کړي.

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه الشافعي في كتاب الرسالة ص (۱۰۶) وفي مسنده ص (۸۲) ورواه ابن ماجه (۲۳۲) عن محمد بن جعفر والترمذي (۲۶۵۷) واحمد (۴۳۷/۱) وابن حبان (۶۶، ۶۷، ۶۹) وابو يعلى (۵۱۲۶) من طريق سماك بن حرب. قال الترمذي : حديث حسن صحيح. وقال ابو نعيم : رواه عن سماك

عدة وهو صحيح ثابت وصحح الحافظ ابن الحجر اسناده و كذا قال الشيخ ناصر الدين الالباني فی صحيح الترغيب ص (۱۱٤) : وجملة القول ان الحديث صحيح ثابت عن ابن مسعود والله اعلم كذا فی تعليق جامع بيان العلم وفضله (۱/۱۸۵) رقم (۱۸۹، ۱۹۰)۔

۳۰- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «نَضَّرَ اللهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا شَيْئًا فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَهُ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ اَوْعٰى لَهُ مِنْ سَامِعٍ».رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ.

ترجمه : ابن مسعودؓ فرمائی : ما درسول الله ﷺ نه واوریدل چه الله تعالی دِے هغه سړے تازه لری چه زما څه خبره ئے واوریده اوځنګه ئے چه آوریدلے وه هغسے ئے اورسوله، ډیر کرته هغه خلق چاته چه رسولے شی د (اول) آوریدونکی نه زیات یاد لرونکے وی (ترمذی، ابن ماجه) اودارمی دا حدیث دابودرداءؓ نه روایت کړیدے۔

تشریح : سَمِعَ مِنَّا شَيْئًا : په روایت دابن ماجه کښ حدیثاً لفظ دے۔او شیئاً لفظ اقوالو او افعالو دواړو ته شامل دے چه دنبی علیه السلام یا دصحابو نه صادر شوی وی، اودلیل په دے باندے لفظ د (منا) دے چه دلالت کوی په جمع باندے (طیبیؒ) او سمع د افعالو هم کیږی ځکه چه دا اوریدلے شی دصحابو نه چه نبی علیه السلام دا کار اوکړو۔ ۲ - یا د سمع نه مراد علم دے چه شامل دے فعل او قول او اخلاقو ته خو سمع ئے ذکر کړه ځکه چه مدار دعلم غالباً په سمع باندے دے (مرقاة) كَمَا سَمِعَهُ : یعنی څنګه ئے چه اوریدلے وی هغه شان ئے بیان کړی، تحریف او تغیر، زیادت او نقصان په کښ اونه کړی۔یا هغه الفاظ نقل کړی اویا دهغے بعینه معنی نقل کړی نو روایت بالمعنی ته هم شامل دے۔بیائے نضر (تازګی) ذکر کړو اشاره ده دیته چه جزاء من جنس العمل وی۔دے طالب العلم علم او حدیث تازه کړو نو دهغه دحال مناسبه دعائے ورته اوکړه۔ او په دے کښ فضیلت او درجه دطلاب الحدیث ده چه نبی علیه السلام ورته خصوصی دعاء کړیده چه نور امت ورسره نه دے شریك۔

فَرُبَّ مُبَلَّغٍ اَوْعٰى لَهُ مِنْ سَامِعٍ : مبلغ صیغه د اسم مفعول ده، مراد ترے منقول الیه دے۔یعنی هغه شخص چه هغه ته حدیث نقل کړے شی۔ سامع نه مراد اول اوریدونکے یعنی استاذ دے یعنی ډیر کرت هغه کس (شاګرد) چه هغه ته دحدیثو تبلیغ کیدے شی هغه به ډیر یادونکے وی دے حدیث لره د اول اوریدونکی (استاذ) نه۔

فائده : اوعی له کښ اشاره ده اجتهاد ته چه دحدیث یو ظاهری لفظی معنی ده او بل په حدیث کښ رازونه، نو (اوعی له) کښ اشاره ده هغه رازونو ته چه انسان ته به هغه نه وی معلوم اوهغه نه روستو شاګردانو ته به معلومیږی، نو دحدیث لفظی معنی معلومول علم دے

اودهغې په رازونو پوهیدل فقه ده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه الترمذی (۲٦۵۷) وابن ماجه (۲۳۲) وقال الترمذی : حدیث حسن صحيح واخرجه احمد وابن حبان ايضا وقال المناوی : اسناده صحيح۔ کذا فی المرعاة (۳۲۹/۱) وقال فی تعليق جامع بيان العلم وفضله : والحديث صحيح۔ ورواية الدارمی (۷۵/۱) اسناده صحيح۔

۳۱- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِتَّقُوا الْحَدِيْثَ عَنِّيْ إِلَّا مَا عَلِمْتُمْ فَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَه عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَجَابِرٍ وَلَمْ يَذْكُرْ: «اِتَّقُوا الْحَدِيْثَ عَنِّيْ إِلَّا مَاعَلِمْتُمْ».

ترجمه : ابن عباس ؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : زما دطرفنه حدیث بیانولو نه بچ شئ خو هغه حدیث بیانوئ چه هغه تاسو رښتینے اوګنړئ، او کوم سړی چه قصداً په ما دروغ اووئیل هغه له پکار دی چه دوزخ کښې ځان له خپل ځائے تلاش کړی (ترمذی) او ابن ماجه دا حدیث دابن مسعود نه روایت کړے دے او (دحدیث دمخکښې جزء) زما دطرفنه حدیث بیانولو نه بچ اوسئ مګر دا چه تاسو ته معلوم وی، ئې نه دے ذکر کړیدے۔

تشریح : اِتَّقُوا الْحَدِيْثَ عَنِّيْ إِلَّا مَا عَلِمْتُمْ : یعنی مانه روایت دحدیثو مه کوئ مګر هغه چه تاسو ته یقیناً یا ظن غالب سره معلومه وی چه دابه د نبی ﷺ وینا وی۔ علم دلته ظن غالب ته هم شامل دے ځکه چه ظن غالب په شهادت کښې معتبر دے چه هغه لا ډیر سخت حکم دے نو په روایت کښې به په طریق اولیٰ معتبر وی، دارنګه په شهادت کښې اعتماد علی الخط جائز نه وی او په روایت کښې اعتماد علی الخط عند الجمهور جائز دے۔ (تفصیل ددے مخکښې تیر شویدے) مقصد دحدیث او مناسبت ئې دادے چه (په علم او په نقل د حدیث کښې احتیاط کول پکار دی) دعلم دتقاضا نه داخلاف ده چه څوک په علم کښې دروغ وائی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف وبسند آخر صحيح : رواه الترمذی (۲۹۵۱) فی اول التفسير وقال : حديث حسن ولكن اسناده ضعيف فيه سفيان بن وكيع صدوق ربما يهم ولكن اخرجه احمد وابن ابی شيبة بسند صحيح كما قال ابن القطان ونقله المناوی فی فيض القدير۔ وانما حسنه الترمذی لكثرة طرقه۔

۳۲- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهٖ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ». وَفِيْ رِوَايَةٍ: «مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِغَيْرِ عِلْمٍ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ابن عباس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چا چه قرآن کښې دخپل

عقل نه څه اووئيل هغه له پکار دي چه خپل داوسيدو ځائے په دوزخ کښې تالاش کړي۔ اود يو روايت الفاظ دا دي: چه کوم سړي بغير دعلم نه قرآن کښې څه اووئيل هغه له پکار دي چه خپل اوسيدو ځائے په دوزخ کښې تالاش کړي۔ (ترمذي)۔

تشريح: مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ: بغير علم: دا روايت تفسير دبرأيه شو او حديث بعض د بعضو تفسير وي۔ په قرآن کښې دځان نه خبرے ځکه نه دي پکار چه دا په الله باندے دروغ وئيل دي، دا وجه ده امام شعبيؒ وغيره وائي: (اتقوا التفسير فانما هو الرواية عن الله) يعني په تفسير کښې ډير زيات احتياط کوئ ولے چه دا د الله تعالى نه روايت کول دي۔ په نبي ﷺ باندے دروغ وئيل انسان جهنم ته رسوي، نو په الله باندے دروغ وئيل به انسان جهنم ته ولے نه داخلوي۔ دارنګه ابوبکر صديق ﷺ نه د (أَبًّا) لفظ د معنى تپوس اوکړے شو چه دا کوم قسم ګياه ده؟، نو هغه ورته په جواب کښې اووئيل: (أَيُّ أَرضٍ تُقِلّني وأيُّ سماءٍ تُظِلُّنِيُ، اذا قلت في كتاب الله ما لا اعلم) كما في تاريخ الخلفاء للسيوطي: ۸٦) شعب الايمان (٤٢٤)۔ د أباً معنى هر لغوي ته معلومه ده چه ګياه ته وائي، خو تعيين ئے دځانه کول رائے ده۔

قرآن کريم کښې خبرے کول دوه قسمه دي: ۱- يو بغير علم: چه سړے جاهل وي او قرآن کښې دځانه خبرے کوي، داپه دوه طريقو سره کيږي: ۱- يو (لاثبات عقيدته الفاسدة)، خپله رايه اوغلطه دعوى ثابتولو دپاره۔ ۲- دويم دا چه تدريس او بيان کښې د الله په کتاب کښې دځانه تشريح کوي، اګرکه دده دخير اراده وي خو بيا هم داکار جائز نه دے ځکه انسان جاهل دے کيدے شي چه داسے خبره اوکړي چه هغے کښې د الله بے ادبي وي، نو ګنهګار به شي لکه روستو حديث کښې راځي (من قال في القرآن برأيه فاصاب فقد اخطا) ځکه چه دده صحيح خبرے کول داړانده غرګے دے چه هسے توکلي سم اولګيږي، (رمية من غير رام) طريقے سره دے، دده علم نشته چه دا خبره صحيح ده اوکه غلطه ده۔ ۳- يا قرآن کريم کښې دخپل شهرت په غرض دځانه خبرے کوي بلاعلمه خلقو ته ځان عالم ښکاره کوي، دا هم په دے قسم کښې داخل دے۔

۲- دويم قرآن کريم کښې خبرے کول دي سره دعلم اوپوهے نه، نو دا په دوه قسمه دي:

۱- يو په علم منقول سره چه نبي اکرم ﷺ نه يو تفسير نقل دے يا صحابي يا تابعينو نه نقل دے اوته هغه کوے نو داصحيح ده۔ ۲- تفسير غير منقول سره چه هغے ته تاويل وائي نو دا هم انسان کولے شي خودے کښې شرط دادے چه: (يكون الرجل عالماً باللغة العربية وعلومها) (انسان به په لغتِ عربيۍ اود هغے په علومو کښې ماهر وي) دلغت عربي مطابق معنى به کوي۔ لکه يو لفظ دے چه د هغے تفسير دنبي ﷺ اود صحابو نه نه دے نقل نو انسان به لغت ته رجوع کوي، نو په لغت باندے انسان قرآن حل کولے شي، لکه اسرار دقرآن بيانول، دلغت مطابق معنى کول اګرکه ددے خبرے نقل نشته خو دا جائز دي ځکه چه ديته علم القرآن وائي، لکه مثلاً قرآن کښې تدبر او فکر کول اود هغے نه اسرار او رازونه او جزئي مسائل مستنبط کول او فوائد بيانول، دا

بنه کار دے بلکه مطلوب دے (كما قاله الماوردی)۔
دیته قرآن کښې ترغيب ورکړے شويدے ﴿ افلا يتدبرون القرآن﴾ ﴿افلم يدبروا القول﴾ ﴿كتاب انزلناه اليك ليدبروا آياته ﴾ ﴿ لعلهم يتفكرون ﴾ دارنګه عبد الله بن عباس په باره کښې نبی اکرم ﷺ دعاء کړے وه (اللهم فقهه فی الدين) وفی رواية (وعلمه التاويل) (اے الله ده ته په دین پو هه ورکړے او د تفسير خودنه ورته اوکړے) ددے نه معلوميږی چه ابن عباسؓ به دنورو صحابو په نسبت په قرآن زيات پو هيدلو، اود فقاهت منقول نه وو چه ګنے ابن عباسؓ ته ډير روايات معلوم وو او نوروته کم، نه، بلکه ده ته الله تعالی يو ذکاوت ورکړے وو په تدبر سره به ئے استنباط کولو۔ د علی ؓ نه نقل دی : (الا فهماً اوتيه رجل فی كتاب الله) کله چه بعض کسانو ترے تپوس اوکړو چه تاسو ته پيغمبر ﷺ څه خاص خبرے کړيدی ؟ هغه اوفرمائيل : (ما خصنا بشئ) مونږ ته ئے څه خاص څيز نه دے ښودلے، بلکه فهم دکتاب الله دے چه الله ئے چاته ورکړی نو هغه مونږ بيانوو۔دا وجه ده چه سلفؒ هم دا کار کولو۔
علامه ابن کثيرؒ فرمائی : چه د قرآن کريم تفسير په يو څو طريقو سره کيږی : ۱- تفسير القرآن بالقرآن۔ ۲ - تفسير القرآن بالاحاديث النبوية۔ ۳ - تفسير القرآن باقوال الصحابة۔ ۴- تفسير القرآن باقوال التابعين۔ ۵ - تفسير القرآن باللغة العربية۔ نودلته په دے حديث کښې چه منع د قول فی القرآن نه راغلے ده نو ددے نه مراد هغه قول دے چه بے علمه وی، دخپلے باطلے رائے او مذهب ثابتولو دپاره وی، يا په لا علمئ سره دقرآن بيانول وی۔ انظر مقدمة تفسير الخازن وابن کثير والماوردی لتفصيل ذلك۔
نو دلته مقصود دا دے چه قرآن کښې داسے خبرے کول چه هغه په نقل بناء وی او دا ئے په عقل سره په کښې خبرے کوی لکه اسباب النزول، ناسخ او منسوخ او متعلقات د قصو او احکامو نو پدے کښې په خپل عقل سره خبرے کول غلط دی او هرڅ ۔رازونه او جزئی فوائد راويستل نو دا په عقل باندے بناء دی او قرآن ديته دعوت ورکړيدے نو هغه منع نه دی هغے ته فهم القرآن وائی۔
درجة الحديث : رواه الترمذی (باسناد حسن صحيح، واسناده صحيح۔و ضعفه الالبانی ولكن الاصح ان الحديث حسن او صحيح فان فی سنده عبد الاعلی وهو صدوق يهم ولذا حسنه الترمذی۔وله شاهد ۔ اعلام الموقعين ۱/۵۹)

۳۳- وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : جندبؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چاچه قرآن کښې خپلے رائے نه څه اووئيل او هغه په حقيقت او واقع کښې مطابق هم وی نو بيا هم هغه غلطی اوکړه (ترمذی، ابوداود)۔
تعارف : دجندب رضی الله عنه : جندب بن عبد الله البجلی ابو عبد الله ئے کنيه ده، اولا

کوفه کښې اوسیدلو بیا بصرے ته نقل شو، صحابی دے دنبی اکرم ﷺ سره ئے لګه زمانه تیره کړیده (٤٣) احادیث ترے نقل دی۔دابن الزبیرؓ دفتنے او آزمایش په دور کښې وفات شویدے۔

تشریح : مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ : یعنی چا چه قرآن کښې په خپله رائے (بے علمئ) سره خبرے اوکړے اودا حق ته اورسیدو (بحسب الاتفاق) اتفاقی طور سره۔ فقد اخطا : یقیناً چه ده غلطی اوکړه په اعتبار دحکم شرعی سره ځکه حکم شرعی دا دے چه بغیردعلم نه به قرآن کښې خبرے نه کوی۔ ده بلا علمه خبرے اوکړے خو حق ئے دخولے نه راوختلو، امی سړے دے فتویٰ ئے صحیح اوختله، هلکه دایوه مسئله خو صحیح اوختله خو لس اوشل به نورے غلطے وی، نوددے یوے صحیح خبرے دپاره شل غلطو خبرو کښې واقع کیدل نارو ا دی۔

نو دے حدیث کښې هم منع ده دبے علمئ سره د تفسیر کولو نه، نو که یو انسان تفسیر نه مطالعه کوی یاد نحو اوصرف وغیره علوم عربیه نه خبر نه وی نو سمدست استاذی او ترجمے کول صحیح نه دی۔ بعض خلق ډیر زړور وی، امی سړے وی، قرآن غلط وائی، دعربیت مطابق معنی نه کوی، داکار صحیح نه دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف ومعناه صحيح : رواه الترمذی (۲۹۵۲) وابوداود (۳۶۵۲) باسناد فيه سهيل بن ابی حزم تكلم فيها احمد والنسائی والبخاری وغيرهم وقال الحافظ : ضعيف۔انظر التقريب ص (۲۵۹)۔

٣٤- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «اَلْمِرَاءُ فِي الْقُرْآنِ كُفْرٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : ابو هریره ﷛ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : قرآن کښې جګړه کول کفر دے۔(احمد، ابوداود)۔

تشریح : اَلْمِرَاءُ فِي الْقُرْآنِ كُفْرٌ : جګړه کول په قرآن کښې کفر دے، ځکه چه دا داتفاق او اتحاد کتاب دے دجګړو کتاب نه دے۔ دمراء دوه معنے دی :

۱- که شك مراد شی نو بیا خو خبره واضح ده چه څوك په قرآن کښې شك اوکړی نو هغه به کافر وی مثلًا دا شك اوکړی چه قرآن به د الله کلام وی اوکه نه، یا دا فلانے آیت به دقرآن نه وی اوکه نه۔ ۲- یا انکار کوی د نورو قرأتونو نه سره ددے نه چه مختلف الفاظ او قرأتونه نقل دی، نودا تول په کفر کښې داخلیږی، ځکه چه قرآن باندے دکلام الله یقین نه کول، یا بعض قرآن یا بعض قرأتونو نه انکار کول کفر دے۔او ابن مسعود ﷛ چه داخبره کړیده چه معوذتین (آخری دوه سورتونه) دقرآن نه نه دی بلکه دا دمونه الله نازل کړیدی۔نو دهغے مطلب دا نه دے چه هغه دمعوذتین نه انکار کړیدے بلکه دهغے مقصد په حاشیه دبخاری (۷٤٤/۲) کښې دا بیان شویدے چه ابن مسعودؓ به په خپل مصحف کښې دا دواړه سورتونه نه لیکل لکه داخبره ابوبکر الباقلانی ذکر کړیده۔ اودا مطلب نه دے

چه هغه ددے قرآنیت نه منکر وو نو دخلاصة الفتاویٰ (۳۸۸/۳) والا داخبره غلطه شوه چه هغه وائی : څوك چه دمعوذتین نه انکار اوکړی، نه کافر کیږی او استدلال ئے کړیدے په دے قول دابن مسعودؓ باندے۔بیا جدال په قرآن کښ په دوه قسمه دے :

۱- یو داسے جدال کول چه ټکراؤ او اختلاف پیدا کول د یو آیت بل آیت سره، لکه مثلاً یو شخص اووائی : (ختم اللّٰه علی قلوبهم) ۔ یو مجرم اووائی چه هرکله الله مهر اووهلو نو بیا ورله عذاب ولے ورکوی، داخو ظلم دے، او الله خو خپله فرمائی ﴿ وما اللّٰه یرید ظلماً للعباد ﴾ نو دا تعارض پیدا کوی د انکار دپاره۔ ۲- یا لکه عبد الله بن زبعریٰ چه داسلام راوړو نه وړاندے په ﴿انکم وما تعبدون من دون اللّٰه حصب جهنم ﴾ کښ ټکراؤ پیدا کولو چه عیسیٰ علیه السلام به هم جهنم ته ځی اوحال داچه ته خو هغه رسول ګڼړے، او د هغه هم عبادت شویدے کما مرت القصه۔اودا کار ددے دپاره کوی چه تکذیب ئے اوکړی نوداجدال صریح کفر دے۔ ۲- دویم جدال کول دی دمختلف احکامو ثابتولو دپاره لکه بعض علماء د یو آیت نه یوه مسئله ثابتوی بعض بله مسئله ثابتوی، نودا اختلاف اوجدال حقیقةً نه دے بلکه دا قسم (مباح) جدال په صحابوؓ کښ هم موجود وو، دا په دے حدیث کښ نه دے داخل لکه ﴿ اولامستم النساء ﴾ کښ به عمرؓ د لمس نه مس بالید اخستو او په دے سره به ئے اودس مات ګڼړلو، نورو صحابوؓ به ترے جماع مراد کوله وهو الصحیح۔ ۲- دارنګه ﴿ وایدکم الی المرافق ﴾ کښ اختلاف راغے چه دا مرافق وینځل به داخل وی په لاس کښ اوکه نه۔ ۳ - ﴿حتی یطهرن ﴾ کښ قبل الغسل جماع دحائضے سره جائز ده اوکه نه، آیا داغایه ده اوکه ﴿ فاذا تطهرن ﴾ غایه ده۔ احناف اول قول اخلی۔اوراجح دویم قول دے۔داکفر نه دے بلکه راجح باندے به عمل وی۔

۳- بل جدال پدے طریقه دے چه څوك یوه طریقے سره قراءت کوی نو بلے طریقے ته په جهالت سره غلطه وائی یا خپل قراءت ته بهتر وی د بل چا په قراءت نو دا کفر نه دے بلکه ګناه ده او کفرئے ورته پدے وجه وئیلے دے چه د عاقبت نه ئے یره کیدے شی چه انسان به کفر ته ورسوی۔

درجة الحدیث : رواه احمد وابوداود فی السنة قال الالبانی : حدیث حسن صحیح فی صحیح ابی داود (۸۷۰) رقم (۳۸٤۷) وصحیح الجامع رقم (٦٦٨٧) وقال فی تعلیق المشکاة ص (۷۹) : واسناده حسن وصححه الحاکم ووافقه الذهبی وهو صحیح باعتبار ان له شواهد صحیحة اوردتها فی التعلیق علی المعجم الصغیر للطبرانی آه۔

۳۵- وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ: سَمِعَ النَّبِيُّ ﷺ قَوْمًا يَتَدَارَؤُوْنَ فِي الْقُرْآنِ فَقَالَ: «اِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِهٰذَا ضَرَبُوْا كِتَابَ اللّٰهِ بَعْضَهٗ بِبَعْضٍ وَاِنَّما نَزَلَ كِتَابُ اللّٰهِ يُصَدِّقُ بَعْضُهٗ بَعْضًا فَلَا تُكَذِّبُوْا بَعْضَهٗ بَعْضًا فَمَا عَلِمْتُمْ مِنْهُ فَقُوْلُوْا بِهٖ وَمَا جَهِلْتُمْ

فَكِلُوْهُ اِلٰى عَالِمِهٖ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه : عمروبن شعیبؒ د خپل پلار نه اوهغه دخپل نیکه نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ د یو قوم باره کښ واوریدل چه هغوئ خپلو کښ د قرآن باره کښ بحث او جګړے کوی نو نبی ﷺ اوفرمائیل : بیشکه تاسو نه مخکښ خلق په دے وجه هلاك شول چه هغوئ دکتاب الله بعضے حصه په بعضے اووهله (یعنی آیت کښ ئے تضاد او اختلاف ثابت کړو چه فلانے آیت ددے آیت مخالف دے اودا آیت دفلانی آیت مخالف دے) او بیشکه دکتاب الله یوه حصه دبلے حصے تصدیق کوی، نو تاسو د قرآن یوه حصه د بلے حصے سره مه دروغ کوئ، او ددے باره کښ چه څومره تاسو پیژنئ هغه بیانوئ اوکومه چه نه پیژنئ هغه په هغے باندے پوهیدونکی طرفته اوسپارئ (احمد، ابن ماجه)۔

تشریح : يَتَدَارَؤُوْنَ : جګړے کولے په قرآن کښ اوتدارء په هغه زمانه کښ په قرأتونو کښ وو، یو شخص به غِشَاوَة لوستلو، بل به غَشْوَة۔ یو به مَالِكِ یوم الدین لوستلو، بل به مَلِكِ یوم الدین لوستلو۔ په دے به ئے جګړه شوه، نبی اکرم ﷺ به په دے کار خفه کیدلو ځکه په دے کښ تکذیب دقرآن راځی، بلکه ټول جائز دی څوك ئے چه څنګه لولی، لکه عمر فاروقؓ هشام بن حکیم بن حزام د ګریوان نه نیولے وو، چه ته ولے سورة فرقان بعض آیتونه داسے لولے ؟ هغه وئیل : دا نبی ﷺ ما ته لوستلے دے، جګړه نبی ﷺ ته راغله هغه په دواړو باندے اولوستلو نو دواړو ته ئے اووئیل چه دواړه صحیح دی،(المسند الجامع) نو کوم شے چه جائز وی په هغے کښ به اختلاف نه کوی، دا تعصب دے چه دوه جائز کارونو کښ انسان یو اومنی اوبل باندے رد کوی (لکه دا کار مقلدین ډیر کوی) دا خو دصحابوؓ زمانه کښ وو، او روستو دورونو کښ بیا خلقو ډیر اختلافات قرآن کښ کړیدی۔ بعضو دا د الله تعالی کلام نه ګڼړلو، مخلوق ئے ګڼړلو، او بعضو به دمعنی په لحاظ جګړے کولے، غلط استدلالات به ئے ترے کول۔

اِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ : دوه اسباب دهلاکت دامم سابقو مخکښ تیر شویدی :

۱- یو تقدیر کښ بحث کول۔ ۲- دویم د پیغمبرانو خلاف کښ اوریدل۔ ۳- دریم اختلاف فی الکتاب۔ ضربوا کتاب الله بعضه : یعنی د یو بل سره ئے ټکراؤ پیدا کولو، اودخپل غرض نه به چه خلاف وو هغه به ئے رد کولو۔ ۳- یا معنی داده چه بعض نه مراد صحیح معنی ده، اوبعض نه غلطه دخپل خواهش معنی مراد ده، (یعنی صرفوا المعنی المراد الی المعنی الذی ارادوا منه)۔(غلطه معنی به ئے واخسته اوصحیح معنی به ئے پریښوده)، لکه دا کار په دے امت کښ ډیر دے۔

فَكِلُوْهُ اِلٰى عَالِمِهٖ : دعالم نه مراد : ۱- یا الله دے، چه هغه دخپل کتاب په مقصد ښه پوهیږی، نو دا ضروری نه ده چه ته دے په هر آیت باندے پوهه شے، اودهغے مقصد ته ځان رسول فرض نه دی، پس د هغے نه چه ته قرآن اومنے چه دا د الله کتاب دے اوهغه چه څه اراده کړیده

هغه حق دے۔ایمان کښې دا ضروری نه ده چه ته دِے په هره خبره تفصيلاً پو هه شے بلکه الله او رسول چه څه وئيلی دی په هغے باندے اجمالاً چه پو هه شے نو کافی ده، ډیرے خبرے داسے دی چه علماء دهغے په حقیقت نه پو هیږی۔ ددے معنی اومصداق هغه آيتونه دی چه متشابهات دی دهغے علم صرف الله تعالی ته دے بل هيچا ته نشته۔

۲- يا دعالم نه مراد عالم القرآن دے يعنی شيخ القرآن ته ئے اوسپاره دځانه معنی مه کوه، هغه ته ئے يوسه هغه به دِے پرے پو هه کړی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه احمد فی المسند (۲/۱۹۵، ۱۹۶) قال الالبانی فی تعليق المشکاة : وسنده حسن وكذا ظلال الجنة ص (۴۰۶) وقال فی تعليق شرح السنة ص (۲۱۳) هذا اسناد صحيح و رجاله ثقات والسيوطی فی الدر المنثور (۲/۶) (وابن ماجه باسناد حسن او صحيح للخلاف المشهور فی حديث عمرو بن شعيب۔

۳۶- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلٰى سَبْعَةِ اَحْرُفٍ لِكُلِّ آيَةٍ مِنْهَا ظَهْرٌ وَبَطْنٌ وَلِكُلِّ حَدٍّ مُطَّلَعٌ». رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : ابن مسعود ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : قرآن كريم په اوه طريقو (دعربو په اووه ژبو) نازل شويدے، هغے کښې هر آيت ظاهر او باطن لری او هر حد دپاره يو ځائے دخبريدو شته دے۔

تشريح : اُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلٰى سَبْعَةِ اَحْرُفٍ : **تنبيه** : دا حديث دمشکلاتو نه دے لکه قرآن کريم کښې چه بعض آيتونه مشکل وی۔دا وجه ده چه بعض علماء لکه ابن العربیؒ وائی: (هذاالحديث لا يدری معناه)۔ (يعنی ددے حديث په معنی باندے هيڅوك نه پو هيږی)۔

علامه سيوطیؒ په اتقان ص (۴۵) کښې د ابن سَعْدان النحوی نه نقل کوی هغه وائی چه ددے حديث په مطلب باندے څوك نه پو هيږی۔بلکه دا د متشابهاتو نه دے۔ليکن دا قول ضعيف دے وجه داده چه بيا نبی ﷺ ولے امت ته بيانولو؟ بلکه ددے به داسے صحيح مطلب بيان شی چه هغه به ددين سره برابر وی۔

بيا سيوطیؒ او ابن حبانؒ وائی : چه ددے الفاظو په تفسير کښې (۳۵) يا څلويښت اقوال دی۔ حافظ په الفتح (۹/۲۲) کښې فرمائی : (واکثرها غير مختارة) (په دے اقوالو کښې زياتره مرجوح دی) راجح اقوال دوه درے دی۔ ۱- امام بغویؒ په شرح السنة (۴/۴۴) کښې وائی : اظهر داقوالو او صحيح او د ظاهر الحديث موافق دا قول دے چه ددے نه مراد اووه لغات دی دعربو۔يوه عربی ده ليکن خپل مينځ کښې لګ لګ فرق لری، لکه يوه پښتو ده خو افريديان ئے يو شان وائی، بونيريان ئے بل شان وائی، سواتيان بل شان وائی، افغانان ئے بل شان وائی او ښاريان ئے بل شان وائی۔ دغه شان عربی ده چه هغه لغات هم اووه دی :

۱- دقریشو۔ ۲- د ثقیف۔ ۳- دهوازن۔ ٤- دهذیل۔ ۵- د بنو طی۔ ٦- د بنو تمیم۔ ۷- د اهل الیمن۔ قرآن په دے لغاتو لوستو کښې الله تعالی اجازت ورکړے وو چه تاسو ئے په دے لغاتو لوستلے شئ، اصل کښې خو په لغت دقریشو باندے نازل شویدے خو اجازت دنورو لغاتو ئے هم ورکړے وو دپاره دآسانئ۔ چه بعض په کښې ادغام، اظهار، اماله، تفخیم، اشمام، اتمام، تلیین وغیره کوی او بعض ئے نه کوی۔ (دا قول د امام الزهری وابی عبید دے)۔

۲- **دویم قول** دا دے چه سبعة احرف نه مراد د اختلافِ قراء ات اووه انواع مراد دی لکه : ۱- صیغ اسماء۔ ۲- صیغ افعال۔ ۳- اختلاف اعراب۔ ٤- زیادت نقصان۔ ۵- تقدیم وتاخیر۔ ٦- الفاظ مترادفه۔ ۷- صفات حروف۔

۳- **بعض** وائی : سبعة احرف نه مراد اووه قرأتونه دی د قراء سبعه ؤ۔ لکه : قرأت ۱- دعبد الله بن عامر الیحصبی متوفی (۱۱۸ ھ) ۲- قرائت دعبد الله بن کثیر الداری (ت ۱۲۰ ھ) ۳- عاصم بن بهدله ابی النجود (ت۱۲۷ ھ) ٤- ابو عمرو بن العلاء (ت ۱۵٤ ھ) ۵- حمزة بن حبیب الزیات (ت۱۵٦ ھ) ٦- ابو عبدالرحمن نافع بن عبد الرحمن بن ابی نعیم (۱٦۹ ھ) ۷- علی بن حمزة الکسائی (ت۱۸۹ ھ) وغیره۔ چه دوئ دا قرأتونه اصل کښې دنبی اکرم ﷺ نه نقل کړیدی، خو د دوئ قراآت مشهور شویدی۔

بیا سیوطیؒ په الاتقان کښې وائی چه دا اووه قرأتونه اوس یو قرأت دے اودا د قریشو په لغت کښې داخل او مندرج دی۔ اوشپږ قرأتونه هغه جدا دی هغه اوس ورك شویدی خو که هغه تول موجود وے نو بیا خو به ډیر عجیب کار وے۔ خو د قرآن کمال ته اوګوره چه که اووه لغات اخلے اوکه اووه قرأتونه اخلے په دواړو صورتونو کښې قرآن معجز دے، فصاحت او بلاغت ئے برقرار دے۔

بیا ددے اووه قرأتونو او لغاتو څه مطلب دے آیا په هر لفظ کښې اووه قرأتونه دی ؟ نو په دے کښې ظاهر مطلب دا دے چه په قرآن کښې د الحمد نه واخله تر والناس پورے دا قرأتونه او لغات جاری کیږی، دا مطلب نه دے چه په هر لفظ کښې به اووه لغات او قرأتونه وی، بلکه په بعض لفظ کښې دوه قرأتونه وی، بعضو کښې درے قرأتونه وی، بعضو کښې څلور یا پنځه وی، بعضو کښې به اووه واړه جاری کیږی۔

لکه الحمد کښې درے قرأته لوستلے شی، الحمدُ۔ خو مرفوع مشهور دے۔ او دوه (منصوب او مجرور) په کښې غیر مشهور او شاذ دی۔ دارنګه مالك کښې دوه قرأتونه مشهور دی، مَلِك، مَالِك۔ او غیر مشهور په کښې مَلَّاكِ (بصیغة المبالغه) او مَلْكِ (بسکون اللام) دارنګه غیر المغضوب علیهم ولا الضالین، دویم والضالین (بغیر اللام) یا لکه غِشَاوَة او غَشْوَة۔ یا لکه اف کښې اووه دی، ﴿لقد کان لسبا﴾ کښې سَبَاءٍ، سَبَأُ، سَبَاء، سَبًّا، سَبِيْ، سَبَايِ۔ نو کله به د یو قوم لغت استعمالوی او کله د بل قوم لکه پښتو کښې یو جام دے، څوك ورته کتورے وائی څوك ورته جام۔

روتې ته څوك روتې او څوك ورته ډوډۍ او څوك تكالـه وائي. يا د چينې او بوره او خوږه الفاظ شو. دارنګه كله كله په صيغو دخطاب او غيبت كښې فرق وي، لكه يعملون او تعلمون دا دواړه قولين راجح دي. امام زهريؒ فرمائي: دا حروف صرف په هغه كلماتو كښې جاري كيږي چه په هغې سره اختلاف په حكم كښې نه راځي په حلال او حرام كښې بلكه په ما سيوا د احكامو كښې به جاري كيږي.

٤- ضعيفه معنى دا ده چه ددې هيڅ معنى نشته، او د متشابهاتو نه دې.

٥ - بعض وائي ددې نه مراد اقاليم سبعه دي، اووه بر اعظم مراد دي يعنى په اووه برّ اعظمونو باندې قرآن نازل شويدې، دا معنى اخستل هم صحيح نه دي ځكه دې كښې يو فائده نشته، بلكه دا چه احرف لفظ د برّ اعظم په معنى باندې استعمالول دعربۍ ژبې نه خلاف دي.

٦- **بل قول** دا دې چه سبعة احرف نه مراد اووه مضامين د قرآن دي، لكه وعد او عيد، حرام، حلال، مواعظ، امثال او احتجاج (استدلال)، بعض وائي: امر، نهي، حظر، اباحت، اخبار دراتلونكې زمانې، امثال او قصص مراد دي. وجه دضعف دا ده چه په قرآن كښې ددې نه زيات احكام او علوم شته دې. ٧- **بعض** وائي: ددې نه په تلاوت باندې د نطق (تلفظ) كيفيت مراد دې چه ادغام واظهار، وتفخيم وترقيق، واماله واتباع، ومد وقصر، وتشديد وتخفيف، وتليين وتحقيق دې. **بيا** په دې كښې اختلاف دې چه مصاحفِ عثمانيه په ټولو حروفو باندې مشتمل دي او كه نه، په دې كښې دوه قوله دي: ١- د فقهاءِ قراء او متكلمينو رائې ده چه دا ټول به ضرور لولې، او هيڅ يو حرف به نشي ترك كولې. ٢- **قول ثاني** جمهورو سلفو او خلفو دې، چه په مصحف عثماني كښې صرف يو قرائت جاري كيږي وجه دا ده چه عثمان ﷺ اوفرمائيل: چه كله ستاسو اختلاف راشي نو په قرائت د قريشو ئې لولئ، نو نور قرأتونه په كښې نشي كولې او هغه نور قرأتونه د آسانۍ دپاره وو په امت باندې ليكن ددفع د اختلاف په وجه عثمانؓ په يو قرأت راجمع كړل په اجماع دصحابوؓ سره، او نورو قرأتونو ته حاجت نه وو، نو هغه ئې ترك كړل، او همدا مونږ ته په تواتر سره رانقل دې، نه نور قرأتونه، نو بس اوس ددې په خلاف قرائت كول به جائز نه وي. امام بغويؒ شرح السنة (٤٥/٣) كښې ليكي چه دا اختلاف ددې آيت لاندې نه دې داخل چه الله تعالى فرمائي: ﴿ ولو كان من عند غير الله لوجدوا فيه اختلافاً كثيراً ﴾ ځكه چه ددې حروف سبعه نه مراد دا نه دې چه هر فريق څه خوښه وي په خپل قرأت دې ولولي په غير دتوقيف نه بلكه دا ټول حروف صحيح بخاري كښې هم راغلي دي منصوصي دي، دځانه ئې څوك په خپل قرأت نشي لوستلې.

حكمة نزول القرآن بسبعة احرف :

په ابتداء دنزول قرآن كښې خلق د اسلوب قرآن نه ناواقف وو، دمختلفو علاقو او مختلفو قبيلو خلقو واړه زاړه، بانديچي او ناخوانده، زنانه وغيره ټول په يو اسلوب باندې روانولو كښې حرج وو. په دې وجه نبي كريم ﷺ د الله نه غوښتنه اوكړه چه زما امت ته به داكار ګران وي په

هغوی کښې هرقسم خلق شته، نو الله ورته اجازت ورکړو د اووه الفاظو سره د لوستلو۔ بیا کله چه خلق اسلوب قرآني سره آموخته شو نو آخیری دور کښې جبرئیل علیه السلام نبی علیه السلام سره د قرآن د دور په وخت ډیر قرائتونه منسوخ شو، اوکوم قرأتونه چه پاتې شول نو هغه اوس هم جاری دی۔ ۲- اظهار صدق الرسول : یو حکمت دا هم دے چه نبی علیه السلام چه کوم کتاب خلقو ته پیش کړے دے نو دا پکښې رشتینے دے ولے چه د یو ناخوانده دخولے نه داسے کتاب وئیلے شوید ے چه که هغه دعربو په مشهورو لغاتو کښې په هرلغت اولوستے شی نو د هغے اعجاز باقي دے انسانان د هغه دمقابلے نه عاجزدی نو دا دلیل دے چه دا نبی رشتینے دے، ۳- نو دریم حکمت اعجاز القران هم معلوم شو۔

لِكُلِّ آيَةٍ مِنهَا ظَهْرٌ وَبَطْنٌ : ددے نه مخکښې جمله دحدیث صحیح ده اودا الفاظ دحدیث حسن درجه کښې دی، بلکه مجمع الزوائد (۱۵۳/۷) کښې هیثمی فرمائی : رواه البزار وابو یعلی والطبرانی فی الاوسط ورجال احدهما ثقات۔ کذا فی شرح السنة (۲۱٤/۱) موقوفاً اومرسلاً راغلے دے په روایت دطبرانی کښې داسے دی چه لکل حرف منها ظهر وبطن)۔ بیا دظهر او بطن څو معنے دی :

۱- دظهر او بطن نه مراد لفظ او معنی ده۔ لیکن دا قول ضعیف دے ولے چه دا خو د هر لغت دپاره وی نو په دے کښې څه فائده نشته۔ خصوصیت دقرآن څه دے۔

۲- ظهر (المعنی الذی یتبادر من اللفظ لمن کان عارفاً باللغة ای ما یحصل بالتفسیر) (هغه معنی ده چه زر ذهن ته راځی د هر هغه چا چه په لغت عربی باندے پو هیږی، لکه ان الله علی کل شئ قدیر)۔ او د بطن نه مراد (ما یحصل بالتاویل) (هغه معنی ده چه زر ذهن ته نه حاصلیږی بلکه په تاویل سره حاصلیږی) نو اول تفسیر شو، او ثانی تاویل۔ ۳- یا د ظهر نه مراد ایمان راوړل دی په آیت باندے اود بطن نه مراد عمل کول دی په آیت باندے۔ ٤- یا دظهر نه مراد قرائت اوتلاوت دے اود بطن نه مراد فهم او تدبر دے په هغے کښې۔ ۵- یا دظهر نه مراد معانی ظاهره د اهل الشرع دی، اود بطن نه مراد معانی باطنه د اهل باطن (صوفیه) دی، دے قسم اشاراتو ته بطن وائی لکه قرآن کښې (اذبحوا بقرة) راغلے دے نو دے کښې دیته اشاره ده چه غوا نه مراد نفس دے (اګرکه دغوا ذبح هم منی) چه کله انسان خپل نفس ذبح کړی دخوا هشاتو نه نو دا به کمال ته اورسی لکه څنګه چه بنی اسرائیل دغوا په ذبح کولو کمال ته اورسیدل۔ لیکن دا تفسیر هم ضعیف دے وجه داده چه صوفیه خو د رسول الله په دور کښې نه وو چه نبی ﷺ د دوئ طریقے ته اشاره کوی، صوفیه نوم په کښې ندے اخستل شوے بلکه داسے وئیل پکار دی چه د قرآن کریم څوک داسے اسرار او باریکات راوباسی نو دیته په دے حدیث کښې اشاره وی خو دامعنی هم بعید ده څکه داسے مطلبونه بیانول چه رسول الله ﷺ ورته اشاره نه وی کړی بعید دی۔ ٦- یا دظهر نه مراد هغه معنی ده چه د لفظ په اوریدو سره معلومیږی، او بطن نه هغه معنی ده چه ...

علماء اصول ئے دلالةً یا اشارةً یا اقتضاءً راویاسی، کذا قاله التهانوی۔ ۷- بنه مطلب شاه ولی الله دهلویؒ بیان کړیدے چه (الظهر ماسیق الکلام له من صفات الله وآیاته واحکامه وقصصه والاحتجاج علی الکفار والمواعظ بالجنة والنار) (یعنی ظهر هغه دے چه ستا علم راشی په نفس هغه شی باندے چه کلام دهغے دپاره ذکر شویدے لکه قصه، مثال، احکام، صفاتو د الله دپاره چه کوم کلام چلولے شویدے هغه باندے علم راوستل ظهر دے۔ اوبطن په صفاتو د الله کښې تفکر کول دی، او په نعمتونو او احساناتو او احکامو دهغه کښې۔ (ای الاعتبار بتلك الآیات) (یعنی د دغه آیتونو نه عبرت اخستل) چه دغسے کارونه به الله زمونږ سره هم اوکړی کوم چه پخوانو مکذبینو سره ئے اوکړل، کله چه مونږ ورانے اوتکذیب شروع کړو۔ دارنګه یو انسان که هر څو مره کمزورے وی، یواځے وی خو په حق باندے ولاړ وی نو الله به ئے غالبه کوی، اوګوره واقعه دموسی علیه السلام ته۔

فائده : ددے نه دا فائده معلومه شوه چه هر یو شے اوخبره کښې نقل ضروری نه دے چه ته دقرآن نه یوه مسئله مستنبطه کړے، نو دا ضروری نه ده چه ته به پرے حدیث ذکر کوے، لکه چه بعض خلق دا ډیر وائی چه ته دقرآن نه یو حکمت معلوم کړے هغه به وائی په دے څه دلیل دے حدیث پیش کړه څکه چه قرآن کښې اشارات هم شته دهغے نه هم استدلال کیدے شی خودا هله چه د اصولو د شریعت خلاف نه وی اود عربئ ژبے موافق وی هغه ئے تائید کوی نو هله به دا خبره صحیح شمارلے شی۔

وَلِكُلِّ حَدٍّ مُطَّلَعٌ : د حد معانی دی : ۱- حد په معنی دطرف او نهایت سره راځی، اومطلع هغه اوچت ځائے ته وائی چه انسان هغے ته اوخیژی، او دبره نه لاندے یو شے معلوم کړی۔ یعنی ځائے دخبریدو او اطلاع (راښکاره کیدو)، نو معنی دا شوه چه دِ هر ظهر او بطن دقرآن دپاره طرف او نهایت اومنتهیٰ شته دے چه دهغے په وجه دا ظهر اوبطن معلومیږی۔ د ظهر د قرآن دپاره مطلع (ډیرکئ – ځائے د راکاره کیدو او خبریدو) علم لغت، نحو، صرف او بلاغت اوعلم دشان نزول اوناسخ او منسوخ او هغه علوم دی چه ظاهری معنی د قرآن سره تعلق لری، او د بطن طرف دپاره مطلع ریاضات اومجاهدات د نفس دی، عبادتونه ډیرکول، ګناهونو نه ځان ساتل، نیکو طرفته شوق لرل، چه په هغے سره تزکیه د نفس حاصل شی، او باطن ته انسان اورسیږی۔

۲- **دویمه** معنی دحد احکام شرعیه دی، یعنی د هر حکم شرعی دپاره ځائے دخبریدو شته په قرآن کښې۔ (ای مطلع من ذلك الظهر والبطن) ، چه په هغے باندے نبی اکرم ﷺ په مکمل طریقه پو هیدلو اوهغه بیا دهغه احکامو تشریح کړیده۔ یعنی بعض احکام شرعیه دظاهر د قرآن نه معلومیږی اوبعض د باطن نه معلومیږی۔ نو ددے په وجه انسان باندے الله تعالی علوم او رازونه را پرانیزی۔ ﴿والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا﴾ [العنکبوت : ٦٩]۔

۳- دریمه معنی دحد حقیقت دے : یعنی د هر حقیقت که دظاهر نه ځان خبروے اوکه دباطن نه د قرآن دپاره ځائے دمعلومولو شته چه هغه احادیث دنبی اکرم ﷺ دی یعنی که

یو انسان په یو حقیقت ظاهری یا باطنی د قرآن باندے پو هه نشی نو احادیثو ته دِے رجوع اوکړی، نو پو هه به پرے به شی۔ یا لغت ته دِے رجوع اوکړی، یا دِے د اسرارو کتابو نه اوګوری۔ علماؤنه دِے په تپوس سره استفاده اوکړی۔

درجة الحدیث : اسناده حسن : اخرجه ابن حبان (۷۵) والطبرانی فی الکبیر (۱۰۰۹۰) والبزار (۲۳۱۲) من طریقین عن ابی بکر بن ابی اویس عن سلیمان بن بلال عن محمد بن عجلان عن ابی اسحاق الهمدانی عن ابی الاحوص به۔ ونسبه الهیثمی فی الجمع (۱۵۲/۷) للبزار وابی یعلی والطبرانی فی الاوسط وقال رجال احدهما ثقات۔

۳۷- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اَلْعِلْمُ ثَلٰثَةٌ :آيَةٌ مُحْكَمَةٌ اَوْ سُنَّةٌ قَائِمَةٌ اَوْ فَرِيْضَةٌ عَادِلَةٌ وَمَا كَانَ سِوٰى ذٰلِكَ فَهُوَ فَضْلٌ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه : عبد الله بن عمروؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : علمونه درے دی :۱- آیت محکم (مضبوط)۔ ۲- سنت قائمه۔ ۳- فریضه عادله، اودے نه علاوه چه څه دی هغه زیاتی دی۔(ابو داود، ابن ماجه)۔

تشریح : اَلْعِلْمُ ثَلٰثَةٌ : یعنی هغه علم چه اصل دے په علومو دینیه کښې په درے قسمه دے : یو آیت محکمه دے یعنی هغه آیت چه غیر منسوخ وی، یا په کښې یو احتمال وی، نو ددے نه مراد دکتاب الله هغه احکام او آیتونه دی چه منسوخ نه دی۔ سنت قائمه نه مراد هغه سنت دی چه صحیح ثابت وی په اعتبار دسند سره یا هغه چه منسوخ نه وی۔ او فریضه عادله نه مراد هغه احکام دمیراث دی چه په هغے سره عدل راځی په تقسیم د ترکاتو کښې په مابین د ورثو کښې، یعنی ظلم وغیره په کښې نه وی، نو په دے کښې ترغیب دے دیته چه تاسو علم المیراث زده کړئ چه تقسیم دمیراث په عدل سره کوئ۔ اودا معنی غوره ده۔ دامام ابوداود دطرز نه هم دا معلومیږی چه هغه دا حدیث په کتاب الفرائض کښې ذکر کړیدے۔

دارنګه ابن ماجه دا روایت په باب اجتناب الرأی والقیاس کښې ذکر کړیدے، اشاره کوی رد ته په هغه چا چه دا حدیث ئے په احکام مستنبطه ؤ باندے حمل کړیدے۔ بعض خلقو دلته د فریضة عادلة نه هغه مسئله مراد کړیده چه په قیاس او اجماع سره ثابته شی، اودا معنی ئے کړیده چه احکام مستنبطه بالقیاس چه عادله (برابر) وی دکتاب او سنت سره۔ لیکن دا صحیح نه ده وجه داده چه کومه مسئله په قیاس سره ثابته شی هغه د قرآن او سنت عدیله نشی کیدے حتیٰ چه عمل په دے باندے داسے واجب شی لکه څنګه چه په قرآن او سنت باندے واجب دے بلکه قیاس او اجتهاد د یو ضرورت په وخت کیږی او عمل پرے دمجتهد دپاره ضروری دے او په تول امت باندے دمجتهد په قیاس او اجتهاد باندے عمل کول واجب نه دی، بیا خو مثلًا په صاحبینو

باندے د امام صاحب قیاس باندے عمل کول واجب وو، ولے ئے خلاف کولو؟۔
وَمَا كَانَ سِوٰى ذٰلِكَ فَهُوَ فَضْلٌ : یعنی ماسیوا ددے درے علومو نه زیاتی شے دے واجب او فرض نه دے لکه د منطق، فلسفه، علم الشعر، علم الانساب، علم التاریخ والسلاطین دا زیاتی کار دے یو روایت ضعیفه کښ راځی تخریج احیاء علوم الدین (١/ ٨٠) والاحیاء (١/ ٦١) کښ علامه غزالی راوړیدے چه مسجد نبوی کښ یو سړی ته خلق راجمع وو، نبی علیه السلام تپوس اوکړو چه دا څه چل دے، هغوی اووئیل : دا یو علامه دے، نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل : علامه څه ته وائی؟ هغوی اووئیل : دا یو سړے دے چه په شعر هم پوهیږی او په تاریخ او نسبونو باندے هم پوهیږی، دجاهلیت والو ټولو خبرو باندے پوهیږی۔ نو هغه اوفرمائیل : (والله اعلم) (هذا علم لا ینفع وجهل لا یضر) (یعنی په دے علم کښ ده لره فائده نشته اوددے نه په ناخبرتیا کښ دومره ضرر نشته)۔ یو د پیغمبرانو علیهم السلام سیرت اوتاریخ دے دهغے کتل سراسر فائده ده، دے نه مراد هسے دبادشاهانو تاریخ وغیره دے۔ اود شیطان کار هم دا دے چه انسان په بے ځایه بے فائدے علمونو کښ لګوی، منطق او فلسفه کښ ټوله زندګی تیره کړی، بیا په قرآن او حدیث نه پوهیږی او امیان ترے دهغه علم تپوس نه کوی کوم چه هغوی ته یاد دے او په دے علمونو هم دومره نه وی پوهه، صرف دروړو پیسو دګټلو ذریعه ئے جوړه کړے وی، هسے وخت ئے ضائع شی، قیمتی زندګی ورله په معمولی کارونو کښ اولګوی۔او شیطان په علماء اوطلباؤ ډیر کوشش کوی، ددے نه ډیر ضرر خوریږی، لکه څنګه چه ترے خیر ډیر خوریږی۔دارنګه عوام تعلیم یافته خلق په بے ځایه کتابونو کتلو کښ مصروف کړی لکه مجلات، میګزین اخبارونه، ناولے، ډائجسټے وغیره د فلمی اداکارو قصے ګوری، تاویلی ماویلی باندے ورله شیطان عمر تباه کړی، ددے وختونو تپوس به الله کوی هر انسان دِے ځان له جواب تیار کړی۔ والله المستعان۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف : رواه ابوداود (٢٨٨٥) وابن ماجه (٥٤) والحاکم (٤/ ٣٣٢) باسناد فیه عبد الرحمن بن زیاد بن انعم الافریقی قد تکلم فیه وکان البخاری یقوی امره یقول : هو مقارب الحدیث، وایضاً فی سنده عبد الرحمن بن رافع التنوخی وفیه شئ غمزه البخاری وابن ابی حاتم۔وانظر تفصیله فی تعلیق شرح السنة (٢/ ٢٣٢)۔

٣٨- وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْاَشْجَعِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«لَايَقُصُّ اِلَّا اَمِيْرٌ اَوْ مَأْمُوْرٌ اَوْ مُخْتَالٌ».رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ وَفِيْ رِوَايَتِهٖ «اَوْ مُرَاءٍ» بَدَلَ «اَوْمُخْتَالٌ».

ترجمه : عوف بن مالك اشجعی ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بیان صرف درے سړی

کړی. ١ - حاکم. ٢ - محکوم. ٣ - یا تکبر کونکے (ابوداود) اودارمی دا حدیث دعمرو بن شعیب نه روایت کړیدے اود دارمی روایت کښ دلفظ مختال (تکبر کونکی) په ځائے اومراء (ریا کار) دے۔

تعارف : دعوف ﷺ : مشهور صحابی دے فتح دمکے نه حاضر شویدے اوده سره د اشجع قبیلے جنډه وه په فتح دمکه کښ۔ دمشق کښ اوسیدلے دے، او په خلافت دعبد الملك بن مروان کښ په سنه (٧٣) کښ وفات شویدے۔ ټول (٦٧) احادیث ترے نقل دی۔

تشریح : لَایَقُصُّ اِلَّا اَمِیْرٌ اَوْ مَاْمُوْرٌ اَوْ مُخْتَالٌ : دا خو یا په عام اوقاتو کښ مراد دے چه امیر موجود وی اوبل شخص تقریر او بیان کوی بے اجازته۔نو دا منع دے۔اوکه بیا هم بے اجازے بیان کوی نو دابه متکبر وی. ٢ - یا دے دجهاد په موقعه وتلے وی نو د امیر په مشوره به وعظ او هر کار کوی، ورنه بیا به متکبرانو کښ شمار وی خودا خبره په هغه وخت کښ مراد ده چه کله د مسلمانانو مسجد یا مدرسه وغیره وی او یو انسان په کښ بے اجازته تقریرونه کوی لکه یو مدرسه کښ یو تن بغیر د اجازت دمهتمم او ناظم نه طالبان نه راغونډ کړی او بیان ورته کوی۔ امام غزالیؒ لیکی چه په ډیرو بیانونو کښ هم انسان کښ تکبر پیدا کیږی داهم دکرسئ او طلب الریاسه نه ډیر خوند لری، په دے وجه حتی الوسع دبیانونو نه ځان ساتل پکار دی۔

ددے مطلب دا نه دے چه یو انسان به دعوت نه کوی، نه بلکه کله چه ستا نه بنه علماء موجود وی او تاته دومره ضرورت نه وی نو حتی الوسع دبیان نه ځان ساته، انسان کښ تکبر پیدا کوی، اوکه دعوت موقع وی نو بیا خو ورته نیت صفا کړه، اوبے غمه دعوت چلوه، او بیا ددے حدیث نه دا نه معلومیږی چه انسان به دهیچا په مسجد او مدرسه یا بل کوم ځائے کښ دحق دعوت نه کوی۔بلکه کوی به ئے خو دهغه په اجازت سره لکه مثلاً دیو بریلی او بدعتی مسجد دے هغه خو تاته هیڅکله اجازت نه درکوی بلکه غلطو عقیدو والو ته دبیان کولو اجازت ورکوی نو آیا ته به هلته بیان نه کوے، نه بلکه هلته به دنهی عن المنکر په درجه کښ بے اجازته بیان کوے، تاته شریعت اجازت درکوی چه هر ځائے نهی عن المنکر کوه، دحق دعوت کوه، نو باطل پرست داحدیث په خپل استدلال کښ نشی پیش کولے لګ سوچ پرے اوکړه، غلط مصداق دحدیث به نه بیانوے۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود (٣٦٦٥) باسناد فیه عباد بن عباد الخواص قال المنذری فیه مقال ولکن وثقه ابن معین والعجلی والفسوی (مرعاة)، واخرجه الطبرانی فی الکبیر۔عن عبادة بن الصامت۔ ورواه الدارمی باسناد حسن وابن ماجه فی آخر کتاب العلم۔قال الشیخ الالبانی فی صحیح ابن ماجه (١/٦٩٥) رقم (٣١١٣) : حسن صحیح وقال فی تعلیق المشکاة (١/٨٠) : سنده محتمل للتحسین لکن الحدیث صحیح فان له فی المسند (٦/٢٢) (٢٧) (٢٨) (٢٩) طرقا اخری بعضها صحیح.

---

٣٩ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : مَنْ اُفْتِیَ بِغَیْرِ عِلْمٍ کَانَ اِثْمُهٗ عَلٰی مَنْ اَفْتَاهُ،

وَمَنْ اَشَارَعَلٰی اَخِیْهِ بِاَمْرٍ یَعْلَمُ اَنَّ الرُّشْدَ فِیْ غَیْرِهٖ فَقَدْ خَانَهٗ». رواه ابوداؤد.

ترجمه : ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړی ته چه بغیر دعلم نه فتویٰ ورکړے شوه نو دهغے ګناه به په هغے سړی وی چه هغه ورته غلطه فتویٰ ورکړے ده، او کوم سړی چه خپل یو (مسلمان) ورور ته دداسے کار باره کښې مشوره ورکړه چه دهغے متعلق هغه پوهیږی چه دهغه خیر دهغے نه سیوا په بل څه کښې دے نو هغه ورسره خیانت اوکړو۔ (ابوداود)

تشریح : مَنْ اُفْتِیَ بِغَیْرِ عِلْمٍ (ای بغیر علم المفتی) (یعنی مفتی علم نه لرلو بے تحقیقه وو)

کَانَ اِثْمُهٗ عَلٰی مَنْ اَفْتَاهُ : یعنی مفتی به ګناهګار وی چه بے علمه فتوی ورکوی۔بیا دلته وائی چه مفتی ګناهګار دے اومخکښې حدیث نمبر (١٠) کښې تیر شو چه (فضلوا وأضلوا) مفتی او سائل دواړه ګمراه دی، نو ددے جواب مخکښې ذکر شویدے چه دلته امی او سائل خپل طلب کړیدے چه ته ورته ښه پوهه ښکاره شوے ئے او تانه ئے تپوس کړیدے خو تاخپل کوشش په طلب دحق جواب کښې اونه کړو وتاذمه واری اداء نه کړه، نو ته ګنهګار شوے، امی خپله ذمه واری ادا کړیده، چه هغه د الاعلم فالاعلم نه تپوس کړیدے۔او (فضلوا وأضلوا) په هغه وخت کښې دے چه عوام را الګیدلی وی اوجاهل مُلائے خپل مشر مقرر کړے وی، او وائی چه بس دا زمونږ ملادے دتولو نه ښه پوهیږی نو زمونږ بل چاته ضرورت نشته لکه داکار نن صبا ډیر زیات دے چه د خپل جُمات استاذ نه تپوس کوی، بل ملا ورته هیڅ نه ښکاری اګرچه حق ورسره وی او ښه پوهه وی۔

وَمَنْ اَشَارَعَلٰی اَخِیْهِ بِاَمْرٍ : یعنی چاچه چاته غلطه مشوره ورکړه چه ښه پوهیدلو چه خیر ددے نه سیوا په بله خبره کښې دے، نو دا ددے مسلمان سره خیانت کونکے دے لکه مثلاً یوتن دچا نه مشوره طلب کړی چه زه دے فلانئ مدرسه کښې سبق اووایم که نه ؟ او هغه ورته غلطه مشوره ورکړی چه مه ورځه، وهابیان دی۔ دارنګه یو سړی درته اووئیل زه دا فلانے کسب شروع کوم دا به څنګه وی، ته ورته اووائے چه دا کار مه کوه، دے کښې ډیر تکلیف دے اوتاوان په کښې ډیر دے، غرض ئے دا وی چه که چرته دا کار شروع کړی، نو زما کاروبار به خراب شی، دا کار ډیر انسانانو کښې دے دا ډیر ناروا کار دے۔ دا رنګه د نکاح کولو تپوس درنه څوك اوکړی چه فلانی ځائے کښې نکاح اوکړم اوکه نه؟، تاته ښه معلومه وی چه دا ځائے ښه دے خو دحسد د وجے نه ته ورته دهغے نقصان بیان کړے نو دا خیانت دے څکه حدیث کښې دی (المستشار مؤتمن) مشوره چه درنه طلب شوه نو ته آمین (امانتدار) اوګڼړلے شوے۔(من غش فلیس منا)۔

درجة الحدیث : اسناده حسن : رواه ابوداود فی العلم (٣٦٥٧) وسکت علیه هو والمنذری واخرجه احمد والحاکم ـوقال الشیخ الالبانی فی تعلیق المشکاة (١/٨١) وسنده حسن ورواه الدارمی (١/٥٧) آه ـواورده ابن عبد البر فی جامع بیان العلم وفضله (٢/٨٦٠) رقم (١٦٢٥) قال ابو الا شبال فی

تعليقه : وسنده حسن ثم ذكر تفصيله فراجع اليه۔

٤٠ - وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: اِنَّ النَّبِيَّ ﷺ :«نَهٰى عَنِ الْاُغْلُوْطَاتِ». رواه ابوداود.

ترجمه : معاويه رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ دمغالطه ورکولو نه منع فرمائيلے ده۔(ابوداود)۔

تشريح : نَهٰى عَنِ الْاُغْلُوْطَاتِ : اغلوطات جمع داغلوطة ده هغه تپوس او مسئلے ته وائی چه خلق پرےغلطولے شی، هسے دخلقو بندول ئے غرض وی، عمل کول ئے غرض نه وی، يعنی د مسلمانانو نه داسے تپوسونه کول چه هغوی په کښ بند شی او وشرميږی۔ ددے نه ځکه منع راغلے ده چه يو څو په دے کښ ايذاء المسؤل او اظهار فضل السائل دے (تپوس کړے شوی انسان ته تکليف رسول او خپل فضيلت ښکاره کول دی) (مرقاة) ځکه چه تا هغه (تپوس کړے شوے) دخلقو په مينځ کښ غلے کړو، اُودے شرمولو او تاخپل علم راښکاره کړو چه زه دومره اوچت سړے يم چه ما اعتراض اوکړو اوچا راله جواب رانه کړے شو۔ بلكه داچه په دے سره تعمقاتو طرفته لاره پرانستے کيږی کوم چه شريعت منع کړيدی، دارنګه دپاره ددے چه خلق په باب د اجتهاد کښ بلا ضرورته داخل نشی، تردے چه کله ضرورت ديوے مسئلے راپيدا شی نو الله تعالی به خلقوته په هغه وخت خپل علم ورکړی اود مخکښ نه مسائل تيارول په اجتهاد سره د فرضی صورتونو په شکل دا سبب دخطايئ اوګمراهئ ګرځی، ځکه يابه هغه اجتهاد مطابق وی دهغه مقام سره يابه نه وی، نو په دے کښ هسے دخپل نفس کړول دی، فائده ئے نشته بلکه دهر وخت سره خپل خپل مسائل حل کول پکار دی۔ دهغه مسئلے تپوس کول جواز لری چه د انسان ورته ضرورت وی، بلا ضرورته مسئلے به نه تپوسلے کيږی۔

دا وجه ده چه عمر رضی الله عنه به دسائل نه تپوس کولو چه آيا دا کار واقع شويدے کوم چه ته تپوسے او دهغے جواب غواړے ؟ که نه به وو واقع شوے نو هغه ته به ئے جواب نه ورکولو بلکه زجر او رټنه به ئے ورته ورکړه لکه بعض مليان دا تپوس کوی چه د ابراهيم عليه السلام دګډ غوښے چا اوخوړے ؟ ددے جواب وائی مالره چا رانکړو۔ ددے جواب آسان دے ليکن دے تپوس ته ضرورت نشته، مارغانو اوحيواناتو به خوړلے وی۔بيا د شاګردانو اود مقابلے پطور دتدريب اومشق سره خپل مابين کښ تپوسونه او اغلوطات کول جواز لری، په دے سره ذهن تيزی معلوميږی، دشاګرد په قوت علمی کښ اضافه راځی۔

درجة الحديث : رواه ابوداود (٣٦٥٦) باسناد فيه عبد الله بن سعد البجلی الدمشقی قال ابو حاتم : مجهول وقال ابن حبان فی ثقاته : هو يخطئ واخرجه احمد (٤٣٥/٥) قال الالبانی فی تمام المنة ص (٤٥) فی سنده عبد الله قال الساجی ضعفه اهل الشام ولذلك اشار الحافظ فی التقريب الی انه لين الحديث اذا تفرد ولم اجد له متابعاً علی هذا الحديث فهو ضعيف۔وقد اعله المناوی فی فيض القدير بما نقلناه عن الساجی،

والذين قبله فلا يغتر بسكوت ابی داود علیه ولا برمز السیوطی له بالحسن لما ذکرناه فی المقدمة القاعدة السابعة والثامنة آه۔ومثل هذا القول مذکور فی تعليق جامع بيان العلم وفضله (١٠٥٥/٢) رقم (٢٠٣٧)۔

٤١- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «تَعَلَّمُوْا الْفَرَائِضَ وَالْقُرْآنَ وَعَلِّمُوا النَّاسَ فَاِنِّیْ مَقْبُوْضٌ». رواه الترمذی.

ترجمه : ابو هريرةؓ نه روايت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تاسو فرائض (يعنى فرض څيزونه يا علم ميراث) او قرآن زده کړئ او نوروته ئے هم اوښائے، څکه چه زه وفات کيدونکے يم۔ (ترمذی)۔

تشريح : تَعَلَّمُوْا الْفَرَائِضَ : په دے کښې دوه تفسيره دی : ١- فرائض نه مراد علم ميراث دے لکه امام ترمذی دا معنی اخستے ده په باب تعليم الفرائض کښې ئے داحديث راوړيدے، (جامع الترمذی)۔ ٢- د فرائض نه مراد اسلامی فرائض او ضروری احکام دی، يعنی ايمان، مونځ، روژه، زکاة، حج وغيره۔ ٣- بعض وائی فرائض نه مراد هغه سنن دی چه نبی اکرم ﷺ بيان کړيدی چه په هغے کښې اوامر او نواهی دی، په دے دليل دا دے چه قرآن ئے تر يے روستو ذکر کړيدے يعنی شرح اومتن دواړه زده کړئ، (ای تعلموا الکتاب والسنة)۔

وَالْقُرْآنَ : دا لفظ ئے دپاره د اهتمام ذکرکړو چه خاصکر قرآن زده کړئ چه په ټولو فرائضو باندے پوهه شئ دا ئے مرکز دے۔ فَاِنِّیْ مَقْبُوْضٌ : مقبوض صيغه داسم مفعول ده خو په معنی دمستقبل مجهول سره دے يعنی ساقبض۔(زردے چه زه به قبض کړے شم) وفات به شم اوبيا به زما پشان صفا جواب څوك نشی درکولے په يوه مسئله کښې، دارنګه زه چه قبض شم نو قرآن اوسنت به هم منقطع شی نو دا زده کړئ، څکه بيا به درنه دا تيارا حکام هم هير شوی وی او نور به درته نه ملاوېږی نو دکاميابئ دلارے نه به واوړئ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف ومعناه صحيح : رواه الترمذی من طريق عوف وفيه اختلاف کثير وبقية رجاله موثقون وقال الترمذی : انه مضطرب، ولکن اخرجه احمد والترمذی والنسائی والحاکم (٣٣٣/٤) من حديث ابن مسعود وصححه الحاکم۔قال ابو الاشبال فی تعليق جامع بيان العلم وفضله (٦٠٠/١) : والاشبه انه صحيح من قول ابن مسعود رضی الله عنه۔وهناك روايات کثيرة فی مسند الدارمی (٢٤٧) يؤيد هذا المعنی فليراجع

---

٤٢ - وَعَنْ اَبِی الدَّرْدَاءِ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَشَخَصَ بِبَصَرِهٖ اِلَی السَّمَاءِ فَقَالَ: هٰذَا اَوَانٌ يُخْتَلَسُ فِيْهِ الْعِلْمُ مِنَ النَّاسِ حَتّٰی لَايَقْدِرُوْا مِنْهُ عَلٰی شَیْءٍ». رواه الترمذیُّ.

ترجمه : ابودرداءؓ فرمائی (يوه ورځ) مونږ د رسول الله ﷺ سره ملګری وو چه رسول الله

ﷺ آسمان طرفته نظر اوچت کړو او وې فرمائيل : دا وخت دے چه علم به دخلقو نه لاړ شي، تردے چه هغوئ به ددے علم نه په هيڅ څيز قدرت نه لري ۔(ترمذی)۔

تشریح : فَشَخَصَ بِبَصَرِهٖ اِلَی السَّمَاءِ : فائده : په دے کښې اشاره ده چه آسمان ته کتل سنت عمل دے، قرآن په دے امر هم کړيدے نو زکريا صاحبؒ چه په فضائل صدقات کښې کوم واقعات ذکر کړيدي چه فلانی بزرگ اته نوی کاله (تول عمر) آسمان ته نه وو کتلي، نودا هسے فضول بے هدايته خبرے دي، دا خو څه عبادت نه دے۔ هٰذَا اَوَانٌ يُخْتَلَسُ فِيْهِ الْعِلْمُ : يو وخت ته ئے اشاره اوکړه۔ العلم : نه مراد علم د وحي دے يعني يو تائم کښې به وحي ختمه شي نو هيڅوك به طاقت نه لري چه هغه رانازله کړي۔ ۲- يا هذا کښې اشاره ده يو وخت ته چه قيامت ته نزدے به راځي او نبی اکرم ﷺ ته په ذهن کښې مستحضر دے۔العلم : نه مراد عام علمونه ددين دي چه آينده زمانه کښې به دعامو خلقو نه د دين علم ختميږي په قبض دعلماؤ سره، تردے چه (حديث کښې دي) چه په مانځه به هم نه پو هيږي، صرف دا به وائي چه (ادرکنا آبائنا علی هذه الکلمة) زمونږ مشرانو به دا کلمه د توحيد وئيله مونږ ئے هم وايو، حذيفه ﷺ ته چا عرض اوکړو : په دے به نجات بيامو مي ؟ هغه اوفرمائيل : آو، په دے به خلاصيږي، چه صرف کلمه ورته ياده وي نو الله دوئ په دے باندے جنتيان کوي، چه نور علم ورله نه ورځي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح بشواهده : رواه الترمذی باسنادحسن غريب واخرجه النسائی والحاکم (۹۹/۱) وقال : هذا اسناد صحيح من حديث البصريين۔ ووافقه الذهبی۔واخرجه احمد (۲۶/۶)۔ وقال الالبانی فی صحيح الترمذی (۳۳۷/۲) رقم (۲۱۳۷) : صحيح۔تخريج اقتضاء العلم العمل ص (۸۹) ومن طريق اخریٰ عن جبير بن نفير عن عوف بن مالك اخرجه الحاکم (۲۶/۱) واسناده صحيح۔

۴۳- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رِوَايَةً: «يُوْشِكُ اَنْ يَّضْرِبَ النَّاسُ اَكْبَادَ الْاِبِلِ يَطْلُبُوْنَ الْعِلْمَ فَلَا يَجِدُوْنَ اَحَدًا اَعْلَمَ مِنْ عَالِمِ الْمَدِيْنَةِ».رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَفِیْ جَامِعِهٖ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: اِنَّهٗ مَالِكُ بْنُ اَنَسٍ وَمِثْلُهٗ عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ قَالَ اِسْحٰقُ بْنُ مُوْسٰی: وَسَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ اَنَّهٗ قَالَ: هُوَ الْعُمَرِیُّ الزَّاهِدُ وَاسْمُهٗ عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ.

ترجمه : ابو هريرهؓ نه روايةً نقل دي (يعني ابو هريرهؓ دا حديث د رسول الله ﷺ نه مرفوعاً نقل کړيدے) چه هغه زمانه نزدے ده هرکله چه خلق به علم حاصلولو دپاره داوښانو ځيګرونه اووهي (په اوښانو به سفرونه کوي) ليکن دمدينے دعالم نه لوئي عالم به هيچرته بيانه مومي (ترمذی) او جامع ترمذی کښې دابن عيينهؒ نه نقل دي چه دمدينے دغه عالم مالك بن انسؒ دے، او عبد الرزاق هم دا ليکلي دي، اود اسحق بن موسیٰ بيان دے چه ما د ابن عيينهؒ نه دا واوريدل چه د مدينے هغه عالم

عُمری زاهد دے دده نوم عبد العزیز بن عبد الله دے (چه دعمر فاروقؓ په خاندان کښې دے)۔

تشریح : روایةً : دا الفاظ د مرفوع حدیث دی، مرفوعاً او روایةً وغیره لکه پدے باندے ابن عیینۃؒ صراحت کړیدے۔ یضرب الناس اکباد الابل : یعنی داوښانو جګرونه به وهی یعنی په هغے باندے به سواره وی او هغه به خیټوباندے وهي دے دپاره چه هغه اوزغلوی او سفر پرے اوکړی د علم طلب کولو دپاره د عالم المدینه نه۔ په دے حدیث کښې د مدینے طیبے د یو عالم صفت شویدے اودا پیشین ګوئی صادقه شوه۔ بیا دلته یوه قاعده واوره ! هغه دا چه کوم احادیث چه په فضائلو د ائمه اربعه ؤ وغیره کښې صراحةً راغلی دی هغه ټول موضوعی او منکرت روایات دی، سیوا ددے روایت نه چه کیدے شی چه ددے نه مراد امام مالك وی۔ مثال د هغه **موضوعی روایاتو** دا دے : لکه فتاوی برهنه ص (۱۸۵) کښې د امام ابو حنیفۃؒ په فضائلو کښې لیکی د ابو هریرهؓ نه نقل دی چه نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل : (یکون فی امتی رجل اسمه نعمان و کنیته ابو حنیفة هو سراج امتی قاله ثلاثا)۔(زما په امت کښې به یو سړے پیدا کیږی چه د هغه نوم به نعمان او کنیه ابو حنیفه وی او هغه زما د امت ډیوه ده)۔

۲- د عمرو بن العاصؓ په روایت سره نقل دی چه (سیکون من امتی رجل یقال له النعمان هو سراج امتی، یبقی الله علی یدیه شریعتی و سنتی فمن لقیه منکم فبشروه بالزلفیٰ)۔

۳- بیا لیکی چه : نبی ﷺ دمعراج په شپه د الله سره مناجات کښې اوفرمائیل : چه هر امت کښې یو حکیم وی چه حکمتونه بیانوی نو زما په امت کښې به څوك وی ؟ نو الله جواب ورکړو چه ستا په امت کښې به حکیم نعمان بن ثابت وی چه کنیه ئے ابو حنیفه ده، او په کوفه کښې به پیدا کیږی، بیا نبی ﷺ اوفرمائیل چه (هو سراج امتی ثلاثاً) دا ټول خرافات دی چه د تعصب او د فقهی مسلك د ترویج په بناء جوړ شویدی۔ دے ظالمانو د امام ابو حنیفه د فقهی مسلك د ترویج دپاره په رسول الله ﷺ باندے هم دروغ جوړ کړل۔

٤- اودا حدیث موضوعی بیانوی چه : نبی ﷺ د انس بن مالكؓ په خوله کښې کجوره اینبے وه او هغه به په ژامه کښې ساتله چه روستو زمانه کښې به یو سړے راشی او طواف به کوی د بیت الله نه، او دا دا نښیے به ئے وی، نودا کجوره به ورله ورکړے، کله چه امام صاحب راغلو نو هغه ورسره ملاؤ شو، اودا کجوره ئے ورله ورکړه او هغه اوخوړله، بس ټول علمونه په کښې ورننوتل۔ دا ټول خرافات دی، کوم بے وقوف مقلد، د امام صاحبؒ په فضیلت کښې په الامام الاعظم محمد رسول الله ﷺ باندے دروغ جوړ کړیدی۔ دارنګه کوم روایات چه د ائمه اربعوؒ په سپکوالی کښې خلقو جوړ کړیدی هغه هم موضوعی دی، لکه د امام شافعیؒ په بدیٔ کښې وائی :

(یکون فی امتی رجل یقال له محمد بن ادریس أضر علی امتی من ابلیس) کذا فی سلسلة الاحادیث الضعیفة (۲/۴۲) قال : هو موضوع اورده ابن الجوزی فی الموضوعات (۱/۴۵۷) (زما په امت کښې

به یو سړے وی چه نوم به ئے محمد بن ادریس (شافعی) وی هغه زما په امت باندے د ابلیس نه م زیات ضرری دے) (دا دروغجنه خبره ده) مگر په فضائلو دعلماؤ کښ احادیث مجمله اوعامه راغلی دی چه په فارس کښ به الله څه کسان پیدا کوی چه ددین خدمت به کوی، لکه د سلمان فارسی ﷺ مخامخ نبی اکرم ﷺ دا ارشاد اوفرمایه چه : (لو كان الدين بالثريا لنا له رجال من هذا (واشار الى سلمان) (که دین په ثریا ستوری کښ شی نو ددے سړی د قوم خلق به ورته اورسی) نو ددے نه ډیر علماء او محدثین مراد دی، تخصیص د یو عالم نه دے صحیح څکه رجال لفظ ته اوگوره۔ یا د قرون ثلاثو فضیلت راغلے دے نو د هغے نه هم تول علمائے حقه مراد دی۔او دا یو حدیث د امام مالك په باره کښ کیدے شی چه وی اگرکه دے کښ هم صراحت نشته خو غالب گمان دے څکه دغه زمانه د امام مالك کښ دده نه.لوئے عالم په قرآن او حدیث باندے بل څوك نه وو۔امام محمدؒ دده شاگرد وو، او امام محمدؒ د امام ابو حنیفه صاحبؒ نه صرف (۱۳) احادیث زده کړی وو۔ او د امام مالك نه ئے عام احادیث اخستی وو، نو دا دلیل دے چه امام مالك ډیر عالم وو۔ او د امام شافعیؒ او امام محمدؒ د یو بل نه تپوس په اعلمیت د امام ابو حنیفه او امام مالك کښ په مقدمه کښ تیر شویدے، هغے ته رجوع اوکړئ۔

بیا په **مصداق دعالم المدینة** کښ درے قوله دی :

١ – یو قول دسفیان بن عیینہؒ المتوفی سنه (١٩٨ ھ) اود عبد الرزاق صاحب المصنف دے، هغه دا چه ددے نه مراد امام مالك بن انس امام دار الهجرة دے، چه دا د امام ابو یوسف، محمد او شافعیؒ استاذ دے، اود امام ابو حنیفہؒ ملگرے دے اودده ډیر فضائل دی، یو دا چه په احادیثو کښ ئے اول کتاب لیکلے دے په نوم د (الموطا لمالك) سره، امام شافعی ددے کتاب په باره کښ فرمائی : (ما تحت اديم السماء اصح كتاب من الموطا) دا ئے په هغه وخت کښ وئیلی وو چه بخاری او مسلم نه وو لیکل شوی۔

٢ – دویم قول دسفیان بن عیینہؒ دا دے چه ددے نه مراد عمری الزاهد دے چه دده پوره نوم : عبد الله بن عبد العزيز بن عبد الله بن عبد الله بن عمر بن الخطاب المتوفی (١٨٤ ھ) دے، كذا في التقريب للحافظ ابن حجر۔ اومشکوٰة کښ چه کوم نوم عبد العزیز بن عبد الله راغلے دے هغه خطائی دکاتب او ناسخ ده۔ ٣– اودریم قول دا دے چه دا به په آخره زمانه کښ پیدا کیږی لکه حدیث کښ دی (ان الايمان ليارز الى (المدينة) نو ایمان به هم مدینے ته واپس کیږی نو دغه شان ښه عالم به هم په کښ پیدا کیږی، لیکن د اکثرو علماؤ قول دا دے چه دا عالم مخکښ تیر شویدے، اودا عالم امام مالك بن انسؒ دے څکه ده ته علماؤ امام دار الهجرة وائی صاحب الفضائل دے لکه چه دده په مناقبو کښ بیانیږی۔او عبد الله بن عبد العزیز دده پشان عالم نه وو، بلکه په عبادت ډیر مشهور وو۔امام مالك هم ډیر عبادت او زهد والا او ډیر سکون او وقار او ادب

والا انسان وو۔ په درس کښې لړم چیچلې وو خو درس ئې خراب نه کړو۔

عن عبد الرزاق مثله : **تعارف د امام عبد الرزاق** : دده نوم عبد الرزاق بن الهمام بن نافع الحمیری دے، ابو بکر الصنعاني ئې کنیه ده، مصنف عبد الرزاق کتاب ئې مشهور دے، دده په باره کښې دعلماؤ دوه قوله دي : یو قول دادے چه دا تشیع ته مائل وو، لیکن هغه زمانه کښې داسې شیعه توب نه وو چه عقیدے خرابوی، بلکه صرف علیؓ به ئې په عثمانؓ باندے افضل ګنړلو۔اودا اجتهادی مسئله وه دکفر اود اسلام مسئله نه وه۔لکه شیخ الاسلام په العقیدة الواسطیه (١٦٩) کښې فرمائی : وان کانت هذه المسالة – مسئلة عثمان وعلی – لیست من الاصول التی یضلل المخالف فیها عند جمهور اهل السنة لکن التی یضلل فیها مسئلة الخلافة) ۔(اګرکه دا مسئله د عثمان او علی د افضلیت– د هغه اصولی (اعتقادی) مسائلو نه نه ده چه د جمهور اهل سنتو په نیز مخالف ته د ګمراهۍ نسبت اوشی لیکن هغه مسئله چه مخالف ته پکښې د ګمراهۍ نسبت کولے شی مسئله د خلافت ده) دویم قول دا دے چه حافظ په التقریب کښې ذکر کړیدے : (ثقة، حافظ، مصنف شهیر، عمی فی آخر عمره، فتغیر) (یعنی آخر عمر کښې ئې ذهن کښې فرق پیدا شوے وو په سبب دړوندوالی سره نو حدیثونوکښې به ګډوډ کیدلو)، نو کوم احادیث چه په آخری عمر کښې نقل کوی هغه به ضعیف حسابیږی،کله چه متابعات او شواهد ئې نه وی۔اوکوم احادیث چه مخکښې د ړوندوالی نه بیانوی هغه به صحیح وی۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف : رواه الترمذی فی العلم (٢٦٨٠) وقال:حدیث حسن صحیح واخرجه الحاکم (١/٩٠-٩١) وقال : صحیح علی شرط مسلم ولم یخرجاه وفی الاسناد ابن جریج وابو الزبیر مدلسان معروفان بذلك وقد عنعناه وهو فی ضعیف الجامع الصغیر (٦٤٤٨)۔

---

٤٤ – وَعَنْهُ فِيمَا أَعْلَمُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ، قَالَ: «إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْعَثُ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ عَلٰى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُّجَدِّدُ لَهَا دِيْنَهَا». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابو هریرؓ وائی : رسول الله ﷺ نه چه ما ته څه معلوم دی، هغه دادی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : الله تعالی ددے امت دنفع دپاره هر سل کاله (صدۍ) کښې یو سړے را لیږی چه هغه هغوی دپاره دین تازه کوی۔(ابوداود)۔

تشریح : وَعَنْهُ فِيمَا أَعْلَمُ : دا قول دابوعلقمه دے چه روایت نقل کوی د ابو هریرةؓ نه اودا الفاظ په درجه دحدیث مرفوع کښې دی، ځکه چه په دے باب کښې اجتهاد لره دخل نشته، چه په خپل اجتهاد سره نبی اکرم ﷺ ته نسبت اوکړی۔

فیما : دا په هغه احادیثو کښې دی چه ماته معلوم دی، دا تفنن فی العباره دپاره وائی۔

يَبْعَثُ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ عَلٰى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ : دا د نبی اکرم ﷺ پیشین ګوئی ده اورشتینے ده، اوپه

كتاب العلم كښې ئې هم ددې دپاره راوړيدې چه دعلم په وجه انسان مجدد جوړيږي۔
مطلب دا دې چه الله تعالى پس دهر سلو كالونه يو تن را پيدا كوي، چه خلقو كوم دين خراب كړيدې پس د وفات د نبي ﷺ نه، گمراهيانې، رواجونه، بدعات، موضوعي حديثونه، خرافات او نوي نوي نظريات راپيدا كړي نو اصلي دين دخلقو نه اوځي او په خرافاتو باندې روان شي نو الله په دغه زمانه كښې ددين يو مجدد پيدا كړي چه هغه اصلي دين بيرته راتازه كړي، خلق دغه تازه شوي اصلي دين ته نوې دين وائي، حال دا چه دا هغه زوړ دين دې چه خلقو په كښې خرابي پيدا كړې وه او هغه مجدد بيرته راتازه كړو۔ لكه اوس زمانه كښې هم دغه چل دې په ودونو، ښاديانو، غمونو، بيانونو او خبرو اترو كښې تيارې دي، سنت اخوا طرفته پاتې شويدې اود جهل وغيره ظلمات او تيارې په امت باندې خورې شويدي، نو الله په سر د هر سلو كالو باندې يو مجدد پيدا كړي، او هغه اصلي دين راتازه كړي۔
د رأس (سر) نه يا اول سر دې يا آخر سر دسلو كالو دې چه په دې كښې الله تعالى څه خلق پيدا كړي۔ (من) نه مراد ډير خلق دي، يو كس نه دې مراد ځكه يو كس ټول كارونه ددين نشي سنبالولې، بلكه ډير خلق را پيدا كړي په مختلفو علاقو كښې چه هغه ددين په مختلفو كارونو كښې اولگوي، څوك د صحابو د تعظيم مسئله كوي چه د خلقو په زړونو كښې دصحابوؓ تعظيم واقع شي، چا باندې الله تعالى د شرك او بدعاتو او رواجونو ترديد اوكړي، چا باندې توحيد او سنت راژوندې كړي، دچا په وجه اصلي دين په خلقوكښې راشي، اودا د الله فضل وي په هغه كسانو چه دچا په وجه دين راژوندې كړي، اودا كار الله تعالى دهغه چا نه اخلي چه ايمان او عمل صالح په كښې وي لكه ارشاد رباني دې : ﴿ وعد الله الذين آمنوا وعملوا الصالحات ليستخلفنهم في الارض ﴾ (النور : ٥٥) او فرمائي : ﴿ قال لا ينال عهدي الظالمين ﴾ (البقره : ١٢٤)۔
چا كښې چه ايمان او عمل صالح نه وي نو عام طور سره دهغوي نه دا كار نه اخلي، ځكه دين ډير قيمتي شې دې الله تعالى ئې په قيمتي خلقو باندې راژوندې كوي، اگرچه كله نا كله په فاجر او بدكاره باندې هم دين مضبوطوي (ان الله ليويد هذا الدين بالرجل الفاجر) (الله دا دين كله د يو فاجر بدكار سړي په وجه مضبوطوي) البته مجددين خلق اكثر نيكان خلق وي۔
مَنْ يُّجَدِّدُ لَهَا دِيْنَهَا : لفظ د يجدد ئې راوړو، اشاره ده ديته چه دين خو نوې نه وي خو خلقو په تيارو كښې پټ كړې وي، د بدعاتو او خرافاتو خاورې او كدورات ئې پرې اچولي وي، نو كله چه دا انسان راغلو، خاورې ئې ترې لرې كړې خلقو ته ئې راښكاره كړي نو دخلقو د مزاج خلاف دې دهغوي د رائې او د عمل او د عرف او عادت خلاف دې نو هغوي ته نوې ښكاري – نو معلومه شوه چه دين چه څوك تازه كوي نو هغه مجددين دي، نه هغه خلق، چه دين دعوامو دخوف د وجې نه پريدي، وائي دامسئله ډېرې پاتې وي، دا مسئله ضروري نه ده، يوه يوه مسئله دخلقو د ويرې نه پريدي، اوبيا دې ته د حكمت او هوښيارتيا نوم گدي۔ نو دا مجدد نشي جوړيدې۔ د الله

دین مکمل نازل دے یوه خبره به هم نشي پتولے بلکه تولے به راښکاره کولے شي، دغه دے قیامت رانزدے شو نو کله به مکمل دین راښکاره کوي !

علامه سیوطی په تاریخ الخلفاء ص (٥٢٦) کښ لیکلي دي چه یوه پیړۍ چه کله شپیته اویا کالو ته اورسي نو فتنے راپیدا شي، بیا الله آخر کښ څه خلق مجددین را پیدا کړي چه ددے فتنو مقابله اوکړي، بیا فتنے ختموي، رنړا رنړا وي، تردے چه بیا تیاره راپیدا شي نو بیا الله تعالی مجددین راپیدا کړي اوداسے به ترقیامته پورے دا سلسله روانه وي، سیوطیؒ فرمائي : زه هم دخپلے (٩) صدۍ مجدد یم، تیارے ختمے شوے خو الله دے ما بیا آینده تیارو ته نه پاتے کوي.

د صحابوؓ د دور په آخر کښ خوارج او شیعه پیدا شو دهغوی مقابلے دپاره الله علماء پیدا کړل، بیا معتزله را پیدا شو الله دهغوی مقابله کښ خلق را پیدا کړل چه دهغوی مخنیوے ئے اوکړو.او دویمه صدۍ کښ د تصوف بیماري پیدا شوه، نو امام شافعیؒ ئے مقابله اوکړه، بیا د مامون الرشید په دور کښ دمعتزلو جوش او خروش وو، الله ورته امام احمد بن حنبلؒ پیدا کړو، چه دهغوی مقابله ئے اوکړه.

بیا روستو (٦) صدۍ کښ تاتاریان راغلل، الله تعالی د مصر او شام علماء پیدا کړل لکه ابن تیمیهؒ او ابن القیمؒ چه دوئ دهغوی مقابله اوکړه.داسے هر دور کښ واخله چه فتنے پیدا شوے نو الله ورته ختمونکے هم پیدا کړیدے چه د تاریخ کتلو سره تعلق لري.

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه ابوداود (٤٢٩١) باسناد صحيح.واتفق الحفاظ على تصحيحه وصححه الحافظ والحاكم (٥٢٢/٤) والذهبی والبيهقی فی المدخل.وقال الالبانی : صحيح (صحيح ابی داود (٨٠٩/٣) رقم (٣٦٠٦) الصحيحة (٥٩٩) صحيح الجامع الصغير (١٨٧٤).

---

٤٤ - وَعَنْ اِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْعُذْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:« يَحْمِلُ هٰذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُوْلُهُ يَنْفُوْنَ عَنْهُ تَحْرِيْفَ الْغَالِيْنَ وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِيْنَ وَتَأْوِيْلَ الْجَاهِلِيْنَ ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ كِتَابِهِ "الْمَدْخَل" مِنْ حَدِيْثِ بَقِيَّةِ بْنِ الْوَلِيْدِ عَنْ مَعَانِ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ اِبْرَاهِيْمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْعُذْرِيِّ .وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ جَابِرٍ فَاِنَّمَا شِفَاءُ الْعَيِّ السُّؤَالُ فِيْ بَابِ التَّيَمُّمِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى.

ترجمه : ابراهیم بن عبد الرحمن عذریؒ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : هر آینده راتلونکي جماعت نه به په هغوئ کښ نیك (ثقه او معتمد) خلق دا علم (دقرآن اوسنت) حاصلوي، او هغه خلق به ددے علم په ذریعه (آیتونو او حدیثونو کښ) دحد نه دتیر وتونکو خلقو تحریف، د باطل پرستو غلط نسبت (افتراء) او دجاهلانو تاویلات لرے کوي.دا حدیث

بیهقی په خپل کتاب المدخل کښې د بقية بن الوليد نه نقل کړیدے او هغه د معان بن رفاعه نه او هغه د ابراهيم بن عبد الرحمن عذری نه نقل کړیدے۔اود جابرؓ روایت (فانما شفاء العی السؤال) به مونږ په باب التيمم کښې ذکر کړو ان شاء الله تعالیٰ۔

تعارف: دابراهيم بن عبد الرحمن العذری : دا تابعی دے، یو حدیث ئے مرسل ذکر کړیدے نو ابن منده په صحابوؓ کښې شمارلے دے خودا خبره خطاء ده، کذا فی الاصابة فی تمييز الصحابة (١/١١٧)۔

تشريح : يَحْمِلُ هٰذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ : دا هغه پیړئ ته وائی چه دسلفو نه روسته راځی، عُدُوْلُهٗ : یعنی عادلان او ثقه خلق به د دین حفاظت کوی۔

فوائد الحديث : ١- فائده : په دے حدیث کښې نبی ﷺ پیشین ګوئی ورکړیده چه عادلان به امت کښې موجود وی او دا رشتینے شویده، نو ددے نه صدق الرسول معلوم شو۔ ٢- فائده : دین درے قسمه خلقو خراب کړیدے : ١- افراط (زیاتے) کونکو خلقو، لکه یهودو خپل مُلیان د الله او د رسول درجے ته رسولی وو، دهغوی د خولے حلال ئے حلال ګنړل، اوحرام ئے حرام ګنړل،اګرچه الله اورسول نه وی بیان کړی، دارنګه په کتابونو د الله کښې ئے قسما قسم تحریفونه اوکړل۔ ٢- دویم خرابونکی د دین هغه خلق دی چه په دین کښې دروغ وائی، دځانه خبرے او اعمال جوړوی، او الله او رسول ته ئے نسبت کوی۔

٣- دریم هغه خلق دی چه د جهالت، ناپوهئ او تعصب د وجے نه په نصوصو کښې غلط تاویلونه کوی، عوام دا ګمان کوی چه د قرآن او حدیث نه خبره اوشوه، حال دا چه هغه په حقیقت کښې داسے نه وی، بلکه غلط مقصد اخستے شوے وی، نو امت ته ئے غلط دین پیش کړو۔ ٣- فائده : ابن عبدالبرؒ ددے حدیث نه استدلال کړیدے په دے خبره چه هر هغه چاچه د نبی ﷺ نه روایت اوکړو او ظاهری جرح وغیره پرے نه وه، نو هغه به عادل حسابیږی، وجه دا ده چه نبی ﷺ عمومی تصدیق د داسے راویانو کړیدے، لیکن دا استدلال لږ بعید دے، وجه دا ده چه د نبی ﷺ مطلب دا دے چه الله تعالی به د دین کار دعادلانو خلقو نه اخلی، اوداسے ئے نه دی وئیلی چه هر څوك دین اخلی اوبیانوی ئے نو هغه به عادل وی، نو دے استدلال کښې لږه خفاء ده۔

٤- فائده : تَحْرِيْفَ الْغَالِيْنَ : تحریف دیته وائی چه یو لفظ دظاهری معنی نه واړولے شی کومه چه زر ذهن ته راځی، هغه معنی طرفته چه هغه باطله وی، او زر ذهن ته نه راځی د لفظ نه، لکه دید ظاهری معنی ده لاس، او معتزله او ماتریده معنی کوی د قدرت۔دارنګه استویٰ معنی ده برابرتیا۔او دوئ ئے په معنی د استولیٰ (غلبے) سره اخلی۔او د الله علو او پورته والے نه منی۔ نو دا غیر ظاهره معنی ده او تحریف دے۔الغالين : د غَلَا يَغْلُوْ غُلُوًّا دنصر نه جوړ دے زیاتے کول اوحد نه تجاوز کولو ته وائی، نو غالین هغه مبتدعین دی چه په دین کښې زیاتے کوی تحریفونه کوی، لکه دے وخت کښې بریلویان وائی : انما انا بشر معنی دا ده چه زه بشر نه یم،

بلکه نوريم، ځکه ان حرف مشبه بالفعل دے او ما نافيه ده۔ دا تحريف دے د الله دکتاب۔ چرته چه نور لفظ راشي نو پيغمبر نور ګڼړي، دارنګه چرته چه راشي چه الله دغيبو خبرے چاته نه ښائي مګر بعض پيغمبرانو ته بعض خبرے دوحي پطور کوی، نو دوئ وائي : پيغمبر عالم الغيب دے، دا تحريفونه دي۔ غالين مقلدين هم دي ځکه د ﴿ فاسئلوا اهل الذکر ﴾ نه صرف امام صاحبؒ مراد کوی۔ دارنګه دا هم غلو ده چه تبليغيان وائي چه دهر انسان نه به الله تپوس کوی چه په ټوله دنيا کښ د دعوت دپاره ولے نه ګرځيدے، او وائي يو کافر چه د دنيا په هغه سر کښ په کفر مړشي نو تانه به الله تپوس کوی۔ دا خبره غلو ده، الله داسے دعوت نه دے فرض کړے بلکه خپل کلي کښ دعوت کوه دا کافي ده، اګرکه دا به مستحبه وی چه انسان ددعوت دپاره ډير اوګرځي، ځکه چه محمد رسول الله ﷺ خپل کلي کښ دعوت اوکړو، په صحابوؓ فرض وه چه هغوی به نورو ته دعوت کوی۔

وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِيْنَ : انتحال ځان ته ديو شئ نسبت کول، اوديو شئ دعوی کولو ته وائي، لکه ديو شعر دعویٰ اوکړے شي چه دا زما دے او هغه ستا نه وی، معنی دا ده چه دروغ جوړول دباطل پرستو، او افتراء کول دهغوی، يعنی باطل پرست خلق چه په دين کښ دځانه دروغ زيات کړی اوخلقو ته وائي چه دا د الله او د رسول خبره ده دے دپاره چه دين په خلقو ګډوډ شی لکه ديهودو اونصاری او شيعه ګانو طريقه ده۔ د شيعه ګانو يو کتاب دے اصول کافي کليني۔ په څلورو جلدونو کښ په دے کښ يويشت زره احاديث دی، دا ټول دځانه جوړ شوی دی، سيوا ددرے رواياتو نه چه هغه هم موقوف دی، يو د عليؓ نه يو د حسنؓ نه اويو دمقداد بن الاسودؓ نه، باقي نور ټول منکرت او دروغ دی۔

درجة الحديث : اسناده لا بأس به : په ضوابط الجرح والتعديل ص (٢٠) کښ فرمائي : ددے حديث اووه طريقے دی متصلًا اومرسلًا نقل دے، اکثرو علماؤ داحديث ضعيف ګڼړلے دے ليکن امام احمد بن حنبلؒ نه مهنا بن يحيى تپوس اوکړو چه دا حديث خو موضوع دے، نو هغه اوفرمائيل : لا، هو صحيح، سمعته من غير واحد، ورواه الخطيب في شرف اصحاب الحديث (٢/٣٥) كذا في كنز العمال (٥/٢١٠) وصحح بعض طرق هذا الحديث الحافظ العلائي في بغية الملتمس نو حديث حسن درجه کښ دے، علماؤ ترے استدلالونه هم کړيدی، نودا دليل دے چه داحديث حسن دے، لکه امام ابن عبد البر او ابن حبان وغيره ترے استدلال کړيدے (ان العدل من لم يعرف فيه الجرح اذ التجريح ضد التعديل فمن لم يجرح فهو عدل حتى يتبين جرحه) وانظر تعليق المشكاة لرمضان (١/١٣٤)۔

الفصل الثالث

٤٥ - عَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَنْ جَاءَهُ الْمَوْتُ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ لِيُحْيِيَ بِهِ الْإِسْلَامَ فَبَيْنَهُ وَ بَيْنَ النَّبِيِّيْنَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : حسن بصریؒ نه بطریق مرسل روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړی ته چه په داسے حال کښې مرګ راشي چه هغه علم په دے غرض حاصلوی چه دهغے په ذریعه اسلام ژوندے کړی نو جنت کښې به دانبیاؤ او دهغه تر مینځ صرف دیوے درجے فرق وی (او هغه مرتبه دنبوت ده) (دارمی)۔

تعارف دحسن رحمه الله : حسن چه کله مطلق ذکر شي مراد ترینه حسن بن ابی الحسن البصری وی په نیز داصحاب الحدیث باندے۔ دپلار نوم ئے یسار دے، دانصارو آزاد کړے شوے غلام دے، څکه ورته انصاری وائی، حافظ ابن حجرؒ ورته ثقه، فقیه، فاضل، مشهور وئیلے دے، داپه خپل روایاتو کښې ارسال ډیر کوی، او تدلیس هم کوی، دا د اوساط التابعین نه دے په سنه (١١٠ هـ) کښې د رجب په میاشت وفات شویدے داویا کالو په عمر باندے۔په خلافت دعمر ﷺ کښې پیدا شویدے، چه دوه کاله دهغه دخلافت باقي وو۔او عثمانؓ او علیؓ ئے لیدلی دی، او احادیث ئے تربے نه دی نقل کړی، دده په باره کښې علماء دا فیصله کوی چه دده مرسل روایات به حجت نه وی، لکه چه محمد بن سعدؒ نه داخبره نقل ده، اګرچه ابن المدینیؒ فرمائی : دده اکثر مرسلات مقبول دی، اوقلیل په کښې غیر مقبول دی۔

مرسلًا : **مرسل روایت حجت دے** لیکن په شروطو سره : ١ - یو دا چه دا راوی به پخپله مدلس نه وی۔ ٢ - دویم دا چه دابه ارسال صرف دثقه نه کوی۔ ٣ - دریم دا چه ددے روایت مرسله دپاره به بل مؤید روایت متصله موجود وی اګرکه هغه روایت دومره قوی هم نه وی، څکه که قوی وی نو بیا خو به عمل په هغه قوی روایت باندے کیږی، نه په مرسل باندے۔ ٤ - دارنګه دا حدیث مرسل به دحدیث صحیح مخالف نه وی که مخالف وی نو بیا هم مرسل نه دے مقبول۔(انظر قواعد التحدیث وشرح النخبة)۔

تشریح : مَنْ جَاءَهُ الْمَوْتُ : **فائده :** علم به طلب کوی ترمرګه پورے فراغت نشته، دکتاب کتل، دهغے بیانول، ددین دعوت کول ضروری دی۔درجه واحده : دا پیغمبرانو ته نزدے شویدے څکه دپیغمبرانوؑ کار هم دا وو چه دین زده کول او اسلام پرے ژوندے کول اودده هم داکار دے نو د پیغمبرانو اودده کاریو شونو څکه ورته دومره فضیلت حاصل دے، البته هغوی ته الله د نبوت اعزاز ورکړیدے دهغوی عمل اوچت دے نو په دے حدیث کښې مونږ ته دا دعوت دے چه تاسو علم دکتاب او سنت طلب کړئ ترمرګه پورے د اسلام د ژوندی کولو په نیت دخپل نوم اوشهرت اوتنخواه په نیت نه، د رزق ذمه هسے هم الله تعالی اخستے ده ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه الدارمى (١/١٠٠) عن عمرو بن كثير عن الحسن البصرى مرسلا باسناد ضعيف لان عمراً مجهول، وروى مرفوعا عن ابن عباس عند الطبرانى فى الاوسط وفى سنده محمد بن الجعد وهو متروك واخرجه ابن النجار عن عمرو بن كثيرعن الحسن عن انس مرفوعا ـ كذا قال

الهندی فی کنز العمال (١٠/١٦٠) و (٢٦٠) ولکن یعمل بالحدیث فی فضائل الاعمال لان للعلم فضائل سوی هذا، ففی هذا الحدیث بیان الاجر المقدر فقط ولیس فیه اثبات حکم حتی یترک۔

٤٦- وَعَنْهُ مُرْسَلًا قَالَ: سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ رَجُلَيْنِ كَانَا فِيْ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ اَحَدُهُمَا كَانَ عَالِمًا يُصَلِّي الْمَكْتُوْبَةَ ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ وَالآخَرُ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ اَيُّهُمَا اَفْضَلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: فَضْلُ هٰذَا الْعَالِمِ الَّذِيْ يُصَلِّي الْمَكْتُوْبَةَ ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ عَلَى الْعَابِدِ الَّذِيْ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ كَفَضْلِيْ عَلٰى اَدْنَاكُمْ». رواه الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او حسن بصری ؒ نه د مرسل په طریقې سره روایت دے چه رسول الله ﷺ نه د بنی اسرائیلو ددوو سړو باره کښ تپوس اوشو هغوئ کښ یو خو عالم وو چه فرض مونځ به ئے کولو بیا به ناست وو خلقو ته به ئے (ددین) علم ښودلو، اودویم سړے هغه وو چه دورځے به روژه وو او تمولـه شپه بـه ئے عبادت کولو (نبی کریم ﷺ نه تپوس اوشو چه دے) دواړو کښ کوم یو بهتر دے؟۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هغه عالم ته چه فرض مونځ ورکوی او بیا خلقو ته علم ښائی په هغے عابد چه د ورځے روژه وی اود شپے عبادت کوی، داسے فضیلت حاصل دے، څنګه چه ماته تاسو کښ په یو ادنیٰ سړی باندے فضیلت حاصل دے۔ (دارمی)۔

تشریح : فوائد الحدیث : ١- د بنی اسرائیلو واقعات نقل کول اګرچه بے سنده وی جواز لری، دا وجه ده چه دلته نبی اکرم ﷺ سند طلب نه کړو، چه آیا تا دوه سړی لیدلی دی؟۔ ٢- علم ډیر اوچته درجه لری د نفلی عبادت نه۔ دا وجه ده چه علم به یافرض عین وی یا به فرض کفائی وی، او هرچه عبادت نفلی دے نو هغه نفل دے اود فرضو درجه د نفلو نه ډیره اوچته ده، دارنګه دعلم فائده متعدی ده، بل چاته رسیږی، اود عبادت فائده د هرچا دخپل ځان ده۔

٣- كَفَضْلِيْ عَلٰى اَدْنَاكُمْ : نه معلومیږی چه دنبی دپاره خپله مرتبه ښکاره کول ضروری وی۔ دے دپاره چه امت پرے هغه شان ایمان اولری څنګه چه د هغه مرتبه وی، او هرچه باقی امت دے نو ددوئ دپاره هم خپله مرتبه ښکاره کول په هغه وخت کښ جائز دی په کومه موقع کښ چه ضرورت وی، مثلاً یو شخص د قضاوت په مسائلو ښه پوهیږی او یو ځائے کښ خلق نورنا اهله خلق قاضیان مقرروی، نو دلته دے شخص دپاره خپله مرتبه ښکاره کول جائز بلکه ضروری دی چه دا ذمه واری خپل مستحق ته اورسیږی او ضائع نشی، او عاموحالاتو کښ دخپل مراتبو بیانول د ریاء اود فخر په نیت باندے ناروا دی، کله چه څه فائده هم په کښ نه وی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه الدارمی واخرج الترمذی نحوه عن ابی امامة۔وقال الشیخ الالبانی فی تعلیق

المشكوة (١/٨٢) وسنده الى الحسن صحيح لكنه مرسل ويقويه ان له شاهدا موصولا تقدم رقم (٢١٣) اى الحديث الثاني من الفصل الثاني۔

٤٧- وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «نِعْمَ الرَّجُلُ الْفَقِيْهُ فِي الدِّيْنِ اِنِ احْتِيْجَ اِلَيْهِ نَفَعَ وَاِنِ اسْتُغْنِيَ عَنْهُ اَغْنٰى نَفْسَهٗ». رَوَاهُ رَزِيْنٌ.

ترجمه: علي ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: بهتر سړے هغه دے چه د دين پوهه لري كه هغه ته څه حاجت راوړے شي نو هغه نفع رسوي، او كه هغه نه بے پروائي اوكړے شي نو هغه هم خپل نفس بے پرواه ساتي۔(رزين)۔

تشريح: اَغْنٰى نَفْسَهٗ: ددے مطلب دا نه دے چه عوام خلق ستانه د دين طلب نه كوي، نو ته به هم ورته دين نه بيانوے، بلكه مطلب: ١- دا دے چه خلقو ته دين بيانوي خو د هغوي دمالونو نه استغناء كوي اوطمع ورته نه ساتي، اوكه هغوي مال نه دركوي نو ته هم د هغوي دمال نه ځان مستغني (بے پرواه) كړه ځكه دا ستا فرض دے اودين بيانوه، نو استغناء نه استغناء بالمال مراد ده نه د دين۔ ٢- دويم دا چه علماؤ سره استغناء او خلقو نه بے پرواهي مزه كوي، او استغناء داسے اوكړي چه كه څوك ورته نه كيني اوته ورته دين بيانوے نو ځان ترے بے پرواه كړه، ځكه چه په هغوي باندے حجت قائم شو چه ستا خبرے ته نه كيني او ځان ورته مه ذليله كوه، چه خبرے ته دے غوږ نه ګدي او ته ورته لګيا ئے.

٣- يا دا چه كه يو عالم يو ځائے كښں موجود وي چه هغه د دين خدمت كوي، خلقو ته دين بيانوي اوته ورځے دهغوي په مينځ كښں خپل ځان ننباسے دپاره ددے چه دهغوي نه دے طمع د مال يا دشهرت وي، نو دا كار مه كوه بلكه ځان مستغني كړه د دوئ نه او پريده هغه عالم چه دين بيان كړي او خپل عبادت كښں مشغول اوسه، يا دكتاب اوسنت مطالعه كوه، يا تصنيف وغيره كوه كه ددے اهل ئے.

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً: رواه رزين العبدري وابن عساكر في تاريخ دمشق (١٣/١٧٣) من طريق عيسى بن عبد الله قال الدارقطني انه متروك وقال ابن حبان يروى عن آبائه اشياء موضوعة قال ابو نعيم حديثه لاشيء، هكذا في المرعاة۔وتفصيله في تعليق المشكوة (١/٨٤) **اگركه معنى دحديث داصول ددين موافق ده۔**

٤٨- وَعَنْ عِكْرِمَةَ، اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ: حَدِّثِ النَّاسَ كُلَّ جُمُعَةٍ مَرَّةً فَاِنْ اَبَيْتَ فَمَرَّتَيْنِ فَاِنْ اَكْثَرْتَ فَثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَلَا تُمِلَّ النَّاسَ هٰذَا الْقُرْآنَ وَلَا اُلْفِيَنَّكَ تَاْتِي الْقَوْمَ وَهُمْ فِي حَدِيْثٍ مِنْ حَدِيْثِهِمْ فَتَقُصُّ عَلَيْهِمْ فَتَقْطَعُ عَلَيْهِمْ حَدِيْثَهُمْ فَتُمِلُّهُمْ وَلٰكِنْ اَنْصِتْ فَاِذَا اَمَرُوْكَ فَحَدِّثْهُمْ وَهُمْ يَشْتَهُوْنَهٗ وَانْظُرِ السَّجْعَ مِنَ الدُّعَاءِ فَاجْتَنِبْهُ فَاِنِّيْ عَهِدْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَاَصْحَابَهٗ لَا يَفْعَلُوْنَ ذٰلِكَ. رواه البخاري.

ترجمه : عکرمه نه روایت دے چه ابن عباسؓ عکرمه ته اوفرمائیل : ته هره جُمعه یوځل خلقو ته حدیث بیانوه که دا قبول نه کړے (یعنی هفته کښې یو ځل وعظ او نصیحت کافی نه ګنړے نو هفته کښې دوه ځله، اوکه ډیر کولے شے نو هفته کښې دریے ځله وعظ او نصیحت کولے شے، او ته خلق دے قرآن نه مه تنګوه (یعنی هفته کښې دریے ځله نه زیات وعظ او نصیحت کولو سره خلق مه تنګوه) او زه دِے تا لره داسے حالت کښې بیا نه مومم چه ته یو قوم له ورشے او هغوئ خپلو خبرو کښې مشغول وی او ته دهغوئ خبرے قطع کولو سره دهغوئ مخکښې وعظ او نصیحت شروع کړے اودغسے درنه هغوئ خاطر درونے شی (هغوی ستومانه کړے)، په داسے موقع تاله پکار دی چه ته خاموش اوسے البته که هغوئ درته د وعظ او نصیحت فرمائش اوکړی نو ځو پورے چه هغوئ خواهش مند وی ته دهغوئ مخکښې حدیث بیانوه اوته دعاء کښې مقفیٰ عبارت نه ډډه اوکړه او هغے نه بچ شه، ځکه ما رسول الله ﷺ اودهغه صحابه معلوم کړیدی چه دا کار به ئے نه کولو۔(یعنی دعاء کښې به ئے مقفی عبارت نه استعمالولو) (بخاری)۔

تشریح : خلق په تقریرونو باندے تنګول نه دی پکار چه انسان ورته پنځه وخته بیانونه کوی، البته درس دقرآن یا دحدیث د تعلیم او تعلم دپاره روزانه کول جواز بلکه استحباب لری۔ وانظر السجع من الدعاء : سجع هغه مقفی او موزون کلام ته وائی چه د اوزان شعریه ؤ لحاظ په کښې نه وی شوے، د سجع نه ځکه منع راغلے ده چه سجع جوړول په دعاء کښې توجه خرابوی۔ ۲- دارنګه په دے کښې تکلف وی او تکلف نه هم منع راغلے ده، البته که داسے طریقے سره بغیر د تکلف نه سجع او مقفی کلام جوړ شی نودا منع نه دے، بلکه په فصیح کلام کښې داسے راتلے شی لکه دنبی اکرم ﷺ دعا ګانو کښې غالباً سجع موجوده ده، لکه (اللهم انی اعوذ بك من جهد البلاء، ودرك الشقاء، وسوء القضاء وشماتة الاعداء)، یا لکه (اللهم انی اعوذ بك من النفاق والشقاق و سوء الاخلاق) ، اوداسے نورے۔ دارنګه قرآنی آیتونو کښې داسے سجع موجود ده بلا تکلفه۔

مناسبة الحدیث : علم به په ترتیب سره بیانولے شی، خلق به پرے نشی تنګولے۔

---

۴۹ - وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْاَسْقَعِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ فَاَدْرَكَهٗ كَانَ لَهٗ كِفْلَانِ مِنَ الْاَجْرِ فَاِنْ لَمْ يُدْرِكْهُ كَانَ لَهٗ كِفْلٌ مِنَ الْاَجْرِ». رواه الدارمیُّ.

ترجمه : واثله بن اسقعؓ نه روایت دے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړے چه دعلم طالب وی او هغه ته علم حاصل شو نو هغه ته به دوچند ثواب ملاویږی، اوکه علم ورته حاصل نشی نو یو حصه ثواب به ورته ملاویږی۔(دارمی)۔

تعارف د واثله ابن اسقع ﷺ : دا مشهور صحابی دے دغزوه تبوك نه ئے مخکښې ایمان راوړیدے

اوبیا هغے ته حاضر شویدے ابتداءً په اصحاب الصفه کښ داخل وو کله چه نبیٰ اکرم ﷺ وفات شو نو شام ته لاړو او بیا به هلته غزواتو ته حاضریدو لکه دمشق او حمص ته حاضر شویدے۔ په سنه (۸۵ھ) کښ د (۱۰۵) کالو په عمر باندے وفات شویدے۔ (۵٦) حدیثونه ترے نقل دی۔

تشریح : كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِنَ الْاَجْرِ : **فائده** : دعلم په هر وخت کښ فائده شته که انسان حاصل کړی نو هم فائده شته اوکه ورته ملاؤ نشی نو یو اجرئے اوشو خو لیکن نن صبا دور کښ علم هر انسان ته ضرور حاصلیږی ځکه که مدرس ملا درنه جوړ نشی نو په دین خو به څه نا څه پوهه شے د قرآن اوسنت موافق عمل به کوے، اوخپل مسجد کښ به دین بیانوے نو د شیطان دسیسه به نه منے چه طالب ته وائی هسے هم درنه شیخ الحدیث او شیخ القرآن نه جوړیږی راشه ځانله کارو بار اوګوره، نه! علم کښ سراسر خیر دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه الدارمي (۱/۹٦) باسناد ضعيف جداً فيه يزيد بن ربيعة الرحبي الدمشقي الصنعاني قال البخاري : احاديثه مناكير۔ انظر تعليق المشكاة (۱/۸٤)۔ ولكن معناه معلوم من الدين وهو حديث : (اذا اجتهد الحاكم فاصاب فله اجران وان اخطأ فله اجر واحد)۔

۵۰- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهٖ وَحَسَنَاتِهٖ بَعْدَ مَوْتِهٖ عِلْمًا عَلِمَهٗ وَنَشَرَهٗ وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهٗ اَوْمُصْحَفًا وَرَّثَهٗ اَوْمَسْجِدًا بَنَاهُ اَوْ بَيْتًا لِابْنِ السَّبِيْلِ بَنَاهُ اَوْ نَهْرًا اَجْرَاهُ اَوْ صَدَقَةً اَخْرَجَهَا مِنْ مَالِهٖ فِيْ صِحَّتِهٖ وَحَيَاتِهٖ تَلْحَقُهٗ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهٖ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ.

ترجمه : ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : مؤمن ته دهغه دعمل یا د نیکو چه مرګ نه پس ثواب رسی، هغے کښ : ۱- یو خو علم دے چه هغه ئے زده کړو او خورئے کړو، ۲- دویم نیك اولاد دے چه روستو ئے پریښودہ۔ ۳- دریم قرآن دے چه وارثانو دپاره ئے پریښے وی، ٤- څلورم مسجد دے چه خپل ژوند کښ ئے جوړ کړے وی، ۵- پنځم مسافر خانه ده، ٦- شپږم نهر دے چه جاری کړے وی، ۷- اووم هغه خیرات دے چه هغه خپلے تندرستئ اوژوند کښ دخپل مال نه اوښکلے وی، ددے تمامو څیزونو ثواب دهغه دمرګ نه پس هغه ته رسی۔ (ابن ماجه، بیهقی)۔

تشریح : تَلْحَقُهٗ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهٖ : **سوال** : صدقه ژوند کښ شویده نو څنګه بعد الموت ملحق (پیوسته) شوه ؟۔ **جواب** : ددے صورت دا دے چه ته یوه هدیه چاته ورکړے هغه لارسیدلے نه وی چه ته مړ شے، او هدیه روسته هغه ته اورسی۔

۲- **سوال** : مخکښ تیر شوی حدیث کښ حصر په درے څیزونو کښ ذکر شویدے چه صرف درے څیزونه پس دمرګه انسان ته دهغے ثواب رسی، اودلته نور څیزونه هم ورسره زیات ذکر شو، نو بیا په هغه حدیث کښ دحصر څه معنیٰ پاتے شوه ؟ **جواب** : اصل کښ درے څیزونه دی اودا

نور کارونه په هغه دریو کښې داخل دی، او د هغې دتفصیل دپاره ئې نور کارونه ذکر کړیدی، نو داخلاف نه دے د هغه حدیث سره چه انقطع عنه عمله الا من ثلاث بلکه د هغې تفصیل دے۔

درجة الحديث : اسناده حسن: رواه ابن ماجه في مقدمة سننه (۱/۴۶) رقم (۱۹۸) وقال الالباني في صحيح ابن ماجه (۱/۴۶) حسن و كذا في ارواء الغليل (۶/۲۹)۔والبيهقي في شعب الايمان۔

۵۱- وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ اَوْحٰى اِلَيَّ اَنَّهٗ مَنْ سَلَكَ مَسْلَكًا فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ سَهَّلْتُ لَهٗ طَرِيْقَ الْجَنَّةِ. وَمَنْ سَلَبْتُ كَرِيْمَتَيْهِ اَثَبْتُهٗ عَلَيْهِمَا الْجَنَّةَ، وَفَضْلٌ فِيْ عِلْمٍ خَيْرٌ مِنْ فَضْلٍ فِيْ عِبَادَةٍ وَمِلَاكُ الدِّيْنِ الْوَرَعُ». رواه البيهقي في شعب الايمان.

ترجمه : عائشه صدیقهؓ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه الله تعالی ما ته دا وحی را لیږلے ده چه څوك دعلم دطلب دپاره لار اختیار کړی نوزه به په هغه دجنت لار آسانه کړم اود کوم سړی نه چه ما دوه سترګے آخستے وی (یعنی نابینا شوے وی، نو دے دنیوی نعمت نه دمحرومتیا او په دے دصبر او شکر په بناء به) زه ددے بدله هغه له جنت ورکړم، او علم کښې زیاتوالے په عبادت کښې د زیاتوالی نه بهتر دے اود دین جرړه پرهیزګاری ده۔ (بیهقی)۔

تشریح : اَثَبْتُهٗ عَلَيْهِمَا الْجَنَّةَ : د اِثَابَةٌ نه ماخوذ دے ثواب او بدله ورکولو ته وائی، بیا ددے اجر دپاره شرطونه دی : ۱- یو شرط دادے چه په اول سر دمصیبت کښې به صبر کوی۔ ۲- دویم داچه ثواب او اجر به ئې ګنړی لکه بل روایت کښې دی (ثُمَّ صَبَرَ وَاحْتَسَبَ) دا فضیلت چه صحابوؓ واوریدو نو آرمان ئې اوکړو چه موږ ړانده شوی وے۔لیکن موږ به دا آرمان نه کوو، ځکه زموږ سره هغه شان ایمان نشته کوم چه دهغوی سره وو، کیدے شی چه بے صبری رانه اوشی، انسان ډیر کمزورے دے، اود اجر په ځائے په ګناه کښې اخته نشو، بلکه د الله نه عافیت غوښتل پکار دی۔

وَمِلَاكُ الدِّيْنِ الْوَرَعُ : یعنی اصل او پړے ددین چه په هغې سره ددین اصلاح او قِوام راځی ورع دے، ورع دیته وائی چه کوم کارونه په آخرت کښې ضرر ورکوی انسان هغه پریدی (ترك ما يضر في الآخرة) او زهد دیته وائی چه (ترك ما لاينفع في الآخرة) (کوم کارونه چه په آخرت کښې فائده نه ورکوی انسان هغه پریدی)، نو دا د ورع نه اعلیٰ درجه ده، ځکه چه په دے کښې دضرری څیزونو او کارونو نه بچکیدو سره سره دغیر مفید کارونو نه هم ځان ساتل وی، او په ورع کښې صرف د بدو کارونو نه ځان ساتل دی۔بیا مراد دورع نه دلته ځان ساتل دی دمحرماتو اوشبهاتو نه۔ نو د انسان دین به هله کامل وی چه دعباداتو کولو سره سره دمحرماتو او شبهاتو نه احتراز او ډډه هم اوکړی۔

درجة الحديث : قال الالباني في تعليق المشكاة : لم اقف على سنده، لكن الحديث صحيح جاء مفرقا في احاديث فالجملة الاولى وردت في صحيح مسلم من حديث ابي هريرة قد مضى رقم (۲۰۴) و الجملة الثانية

وردت عن جمع من الصحابة منهم انس عند البخاری وسیاتی فی الفصل الاول من کتاب الجنائز۔والحملة الثالثة والرابعة وردتا فی حدیث واحد من روایة سعد بن ابی وقاص وحذیفة وابن عمر۔والاول صححه الحاکم علی شرطهما ووافقه الذهبی والثانی حسنه المنذری (۱/۱۵۱) په دے حدیث کښې داجمله چه (وفضل فی علم الخ) بزار ددے روایت کړیدے خو لیکن په دے کښې سوار بن مصعب دے هغه ضعیف جداً راوی دے۔

۵۲- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: تَدَارُسُ الْعِلْمِ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ خَيْرٌ مِنْ اِحْيَائِهَا. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ

ترجمه : ابن عباسؓ فرمائی : د شپے لږ ساعت دعلم درس ورکول د ټولے شپے درونړولو نه بهتر دی۔(دارمی)۔

تشریح : تدارس یو بل ته لوستلو ته وائی یا ځانله لوستل تدریس بل ته لوستل۔اوتدارس نفس لوستلو ته وائی یعنی یو شخص په عبادت کښې ترسحره پورے مشغول شو بل شخص ماسخوتن کښې کتاب اوکتلو یائے درس اوکړو دا غوره دے ددے نه چه ټوله شپه تهجد اوکړی، بیا به انسان داسے نه کوی چه ما کتاب اوکتلو بس دا کافی ده تهجد ته ضرورت نشته، بلکه لګ ساعت کتاب اوګوره لګ ساعت تهجد اوکړه۔دواړه فضیلتونه به حاصل کړے۔ نو ددے حدیث نه مرتبه د علم معلومیږی چه په عبادت باندے ډیره غوره ده بلکه علم اعلیٰ درجه عبادت دے۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف ومعناه صحیح : رواه الدارمی فی موضعین فی باب مذاکرة العلم (۱/۸۲) واسناده ضعیف والثانی (۱/۱۴۹) وفی اسناده انقطاع ونحوه روایات کثیرة فی جامع بیان العلم وفضله تؤید هذا المعنی۔

۵۳- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو: اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَرَّ بِمَجْلِسَيْنِ فِيْ مَسْجِدِهٖ فَقَالَ: «كِلَاهُمَا عَلٰى خَيْرٍ وَاَحَدُهُمَا اَفْضَلُ مِنْ صَاحِبِهٖ اَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَدْعُوْنَ اللهَ وَيَرْغَبُوْنَ اِلَيْهِ فَاِنْ شَاءَ اَعْطَاهُمْ وَاِنْ شَاءَ مَنَعَهُمْ وَاَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَتَعَلَّمُوْنَ الْفِقْهَ اَوِ الْعِلْمَ وَيُعَلِّمُوْنَ الْجَاهِلَ فَهُمْ اَفْضَلُ وَاِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا ثُمَّ جَلَسَ فِيْهِمْ»۔

ترجمه : عبد الله بن عمروؓ فرمائی : یوځل رسول الله ﷺ په دوه مجلسونو تیر شو چه په مسجد نبوی کښې منعقد وو، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : دواړه په خیر دی، لیکن دوئ کښې یو (نیکئ کښې) دبل نه بهتر دے، یو جماعت عبادت کښې مصروف دے الله یادوی او هغه ته دخپل رغبت اظهار کوی (یعنی مقصد حاصلولو دپاره د الله نه امید لرونکے دے) که د الله خوښه شی نو ورته کړی اوکه اونه غواړی نو ورته نه کړی، او بل جماعت فقه یا علم حاصلوی او جاهلانو ته علم ښائی نودا خلق بهتر دی اوزه هم معلم جوړولو سره رالیږلے شوے یم، بیا نبی کریم ﷺ خپله هم د هغه علم مجلس کښې کیناسته۔(دارمی)۔

تشریح : مَرَّ بِمَجْلِسَيْنِ فِيْ مَسْجِدِهٖ : دمسجد نبوی طرز یادول پکار دی چه هغه د ذکر او عبادت مرکز هم وو، دارنگه صحابه په کښې اوسیدل، طالبان دعلم ابو هریره دهغوی مشر وو، قیدیان به په کښې تړل کیدل، ددې دپاره چه دمسلمانانو عباداتو نه متاثره شی، جهنډې به په کښې جوړیدلے، خیمې به په کښې د قیدیانو دپاره وهلے شوې، کله کله به نیزه بازی په کښې هم کیدې شوه۔

وَاَحَدُهُمَا اَفْضَلُ مِنْ صَاحِبِهٖ : ځکه دیوې ډلې فائده لازمی ده ځان دپاره خیر جمع کوی، اوددې بلې ډلې فائده متعدی ده، بل ته فائده رسوی، اودا واضحه خبره ده چه بل ته فائده رسول ډیر افضل دی، ځکه دوئ جامع بین العبادتین (دوه عبادتونه راجمع کونکی) دی۔

فَيَدْعُوْنَ اللهَ : دپیرانو پشان حلقه جات د ذکرصحابوؓ نه ثابت نه دی چه په شریکه ذکرکوی، هُو، هُو کوی۔ د دوئ نه څوك دا نشی ثابتولے چه دوئ (صحابوؓ) دا کار کړې وی بلکه دوئ به صف کښې ناست وو، ځانله به ئې دعاګانې او ذکرونه کول۔ دمعلمینو سره نه وو ناست۔

فَاِنْ شَاءَ اَعْطَاهُمْ : ځکه چه الله بانديې لازمه نه ده چه ضرور به دعاء قبلوی، خو اعطاء ئې مخکښې راوړیده ځکه ورکول غالب دی او منع کول کم دی۔

وَاِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا : یعنی زما هم دا کار دې چه تعلیم به خلقو ته ورکوم نو دهغوی سره کیناستو ځکه چه رسول الله ﷺ دمعلمینو معلم دې۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه الدارمی (١/٩٩-١٠٠) باسناد فيه مقال فيه عبد الرحمن بن زياد بن انعم الافريقی وعبد الرحمن بن رافع التنوخی وكلاهما ضعيفان كما فی السلسلة الضعيفة (١/٢٢) رقم (١١)۔ اګرکه د اصول الحديث مطابق کمزورې دې لیکن نور حدیثونه ددې مؤید شته دې۔

٥٤- وَعَنْ اَبِی الدَّرْدَاءِ قَالَ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَا حَدُّ الْعِلْمِ الَّذِیْ اِذَا بَلَغَهُ الْعَبْدُ كَانَ فَقِيْهًا؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ حَفِظَ عَلٰی اُمَّتِیْ اَرْبَعِيْنَ حَدِيْثًا فِیْ اَمْرِ دِيْنِهَا بَعَثَهُ اللهُ فَقِيْهًا وَكُنْتُ لَهٗ شَافِعًا وَشَهِيْدًا».

ترجمه : ابو درداءؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه دعلم مقدار څه دې هرکله چه انسان هغومره علم حاصل کړی نو فقیه او عالم شی (او آخرت کښې هغه دعلماؤ په جماعت کښې اوشمیرلے شی) رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم سړې چه زما امت ته فائدې رسولو دپاره ددوئ ددین په معامله کښې څلویښت حدیثونه یاد کړی نو الله تعالی به قیامت کښې هغه فقیه (دینی عالم) پورته کړی، اود قیامت په ورځ به زه دهغه شفاعت کونکے او (دهغه په اطاعت) ګواه یم۔

تشریح : مَنْ حَفِظَ عَلٰی اُمَّتِیْ : یعنی چا چه یاد کړل څلویښت حدیثونه دامت دپاره چه

هغوی ته ئے بیان کړی، بیا دحفظ نه مراد : (١) یا خو حفظ فی الاذهان دے (یعنی په یادو یادول)۔ (٢) او یا په هغے باندے ځان پو هه کول او نور امت ته ئے نقل کول، یا په طریقه دبیان یا په طریقه د لیکلو وغیره باندے رسول دی۔دا معنی امام نوویؒ ذکر کړیده۔دا وجه ده چه په دے حدیث باندے سلفوؒ علماؤ عمل کړیدے او اربعینات ئے لیکلی دی لکه امام نووی اربعین النووی لیکلے دے اوداسے نورو علماؤ۔بیا علی امتی ئے اوفرمائیل، اشاره ده دیته چه هغه کس چه علم زده کړی خو هیچا ته ئے نه بیانوی نو هغه ته دا فضیلت حاصل نه دے۔ فِیْ اَمْرِ دِیْنِهَا : په دے کښې احتراز دے دهغه احادیثو نه چه په هغے کښې قیصے وی چه دعقیدے او علم او عمل سره ډیر تعلق نه لری۔

درجة الحدیث : دے دپاره دیارلس سندونه دی ددیارلس صحابوؓ نه نقل دے، لکه ابن الجوزیؒ په العلل المتناهیه کښې راوړیدے او هغه ټولے طریقو ته ئے ضعیف وئیلی دی (کما فی التلخیص ص : ٢٦٩) ، دارنګه امام نوویؒ فرمائی : اتفق الحفاظ علی انه حدیث ضعیف وان کثرت طرقه ۔ لیکن بعضو علماؤ دا خبره کړیده چه هره طریقه کښې څه ناڅه کلام اګرچه شته دے لیکن مجموعه طرقو ته چه نظر اوکړے شی نو دضعف درجے نه دحسن لغیره درجے ته پورته کیږی (کما قال صاحب المرقاة) داوجه ده چه په دے حدیث باندے ډیر امامانو ددین عمل کړیدے لکه عبد الله بن المبارك او امام نووی وغیره کما مر۔٢ – بله داچه که ضعیف هم شی نو په فضائل الاعمال کښې داسے احادیث معتبر وی۔

٥٥– وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«هَلْ تَدْرُوْنَ مَنْ اَجْوَدُ النَّاسِ؟» قَالُوْا : اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ. قَالَ: «اَللّٰهُ اَجْوَدُ جُوْدًا ثُمَّ اَنَا اَجْوَدُ بَنِیْ آدَمَ وَاَجْوَدُهُمْ مِنْ بَعْدِیْ رَجُلٌ عَلِمَ عِلْمًا فَنَشَرَهُ يَأْتِیْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَمِيْرًا وَحْدَهُ اَوْ قَالَ: اُمَّةً وَاحِدَةً».

ترجمه : انس بن مالكؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ (صحابوؓ ته) اوفرمائیل : آیا تاسو پو هیږئ چه دسخاوت معامله کښې دټولو نه لوئی سخی څوك دے، صحابو عرض اوکړو، الله اوهغه رسول ښه پو هیږی، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : الله تعالی د ټولو نه زیات سخی دے او بنی آدمو کښې دټولو نه زیات سخی زه یم، بیا خلقو کښې ځما نه پس دټولو نه لوی سخی به هغه سړے وی چه هغه علم زده کړو او هغه ئے خور کړو (یعنی خلقو ته ئے اوښودلو) هغه سړے به د قیامت په ورځ دیو امیر، یا وے فرمائیل د یوے ډلے په شان راځی۔

تشریح : اَللّٰهُ اَجْوَدُ جُوْدًا : الله ته جواد وائی نه سخی، ځکه چه جواد کښې طمع نه وی اوسخاء کښې طمع وی اوغرض د خپل نفس وی ثواب نیت ئے وی وغیره۔ مناسبت : دعلم بیانول اعلیٰ سخاء ده دمال نه۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف : اخرجه ابو یعلی والبیهقی فی الشعب (١٧٦٧) وقال الهیثمی فی مجمع

الزوائد (١٦٦/١) فيه سويد بن عبد العزيز متروك الحديث وعزاه المنذری فی الترغيب والترهيب الی ابی يعلی والبيهقی واشار الی ضعفه۔

٥٦- وَعَنْهُ: اَنَّ نَبِيَّ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَنْهُوْمَانِ لَايَشْبَعَانِ: مَنْهُوْمٌ فِي الْعِلْمِ لَايَشْبَعُ مِنْهُ وَمَنْهُوْمٌ فِي الدُّنْيَا لَايَشْبَعُ مِنْهَا». رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْاَحَادِيْثَ الثَّلٰثَةَ فِيْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ وَقَالَ: قَالَ الْاِمَامُ اَحْمَدُ فِيْ حَدِيْثِ اَبِي الدَّرْدَاءِ: هٰذَا مَتْنٌ مَشْهُوْرٌ فِيْمَا بَيْنَ النَّاسِ وَلَيْسَ لَهٗ اِسْنَادٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه: اود انس بن مالك نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ اوفرمائيل: دوه حرصناك سری دی چه دهغوئ خيته نه ډكيږی: ١- علم كښ حرص كونكے چه دهغه خيته هيڅ كله نه ډكيږی، ٢- د دنيا حرص كونكے چه دهغه خيته د دنيا نه هيڅ كله نه ډكيږی۔ پورتنی درے واړه حديثونه بيهقیؒ په شعب الايمان كښ روايت كړی دی، امام احمد د ابو درداءؓ حديث باره كښ فرمائيلی دی: ددے متن خلقو كښ مشهور دے ليكن ددے اسناد صحيح نه دے۔

تشريح: مَنْهُوْمَانِ تشنيه ده د نهم نه بفتح النون والهاء په يو شی باندے عاشق كيدل، ډطعام زيات شوق لرلو ته وائی۔ فالمنهوم هو شديد الشهوة المولع بالشیٔ ای حريصان ۔ (منهوم هغه سړی ته وائی چه سخت شهوت لرونكے وی او په شی باند عاشق وی مراد ترينه حارصان دی) **لَايَشْبَعُ مِنْهُ**: عالم سړے په علم نه مړيږی ورځ په ورځ ئے حرص زياتيږی چه نور علم حاصل كړی په دے كښ اشاره ده چه د عالم شان به دا وی چه هغه په علم كښ ترقی كوی، داسے به نه وی چه علم ئے په يو ځائے ولاړ وی، مخكښ نه ځی، مطالعه نه كوی، نه بلكه زيادت به كوی، لكه الله تعالی خپل نبی ﷺ ته فرمائی: ﴿وقل رب زدنی علماً﴾ [طه: ١١٤]

علماء فرمائی: (ما استكثر احد من شیٔ الا ملّه وثقل عليه الا العلم والمال فانه كلما زاد كان اشهی له) (التيسير بشرح الجامع الصغير للمناوی ٨٧٠/٢) حرف الميم ۔(هر انسان چه يو شے ډير كړی نو هغه پرے بوج كيږی سترے شی سيوا دعلم او مال نه چه دا څومره زياتيږی هغومره دانسان حرص زياتيږی)۔ نو بس علاج دا دے چه علم كښ زيادت كوه او د مال د حرص نه ځان بچ كړه او همدا مناسبت ددے حديث دے د باب سره۔

درجة الحديث: اسناده صحيح علی شرط الشيخين كذا قاله الحاكم فی المستدرك (٩٢/١) ووافقه الذهبی۔ولكن الشيخ الالبانی قال: علة السند: هی ان قتاده مدلس وقد عنعنه لكن الحديث عندی صحيح فان له طريقا اخری عن حميد عن انس عند ابن عدی وابن عساكر وله شاهد من حديث ابن عباس عند ابی خثيمة فی العلم (١٩٣/١) وسنده لا باس به فی الشواهد۔تعليق المشكاة (٨٧/١)۔

٥٧- وَعَنْ عَوْنٍ، قَالَ: قَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ ﷺ: مَنْهُوْمَانِ لَايَشْبَعَانِ: صَاحِبُ الْعِلْمِ وَصَاحِبُ الدُّنْيَا وَلَايَسْتَوِيَانِ. اَمَّا صَاحِبُ الْعِلْمِ فَيَزْدَادُ رِضًى لِلرَّحْمٰنِ وَاَمَّا صَاحِبُ الدُّنْيَا فَيَتَمَادٰى فِي الطُّغْيَانِ ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُ اللهِ: ﴿كَلَّا اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰى اَنْ رَّآهُ اسْتَغْنٰى﴾ قَالَ: وَقَالَ الآخَرُ: ﴿اِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا﴾. رواه الدارمي.

ترجمه: عونؒ فرمائي: ابن مسعودؓ اوفرمائيل: دوه حريصان دي چه دهغوئ خيټه هيڅ کله نه ډکيږي: ١- يو عالم دے. ٢- دويم دنيا دار دے ليکن دوئ په درجه کښ برابر نه دي ځکه چه عالم خو د الله رضا زياتوي او دنيا دار سرکشي کښ زياتوالے کوي. بيا عبد الله بن مسعودؓ د دنيا دار حق کښ (د دليل په طور) دا آيت اولوستلو (ترجمه): خبردار! بيشکه انسان سرکشي کوي هرکله چه هغه خپل ځان (دمال دکثرت په وجه د خلقو نه) بے پرواه گڼړي. عونؒ وائي: عبد الله بن مسعودؓ د عالم حق کښ دا آيت اولوستلو (ترجمه): دالله په بندگانو کښ عالمان د الله نه ويريږي. (دارمي).

تعارف د عون بن عبد الله بن عتبه بن مسعود الهذلي الزاهد د ثقات التابعين نه دے د کوفے والو د عابدانو او قاريانو نه شمار دے. امام دارقطنيؒ فرمائي: روايت د عون د ابن مسعودؓ نه مرسل حسابيږي وجه دا ده چه داد ابن مسعودؓ سره نه دے ملاؤ شوے، او ډير ارسال هم کوي، امام بخاري په هغه کسانو کښ ذکر کړيدے چه د (١١٠) نه تر (١٢٠) پورے وفات شويدي.

تشريح: ثُمَّ قَرَأَ: وجه د استشهاد دآيت دا ده چه عالم سړي کښ دعلم په وجه دالله خشيت زياتيږي چه داسبب د قرب دالله اود رضا دهغه دے اود مال په سبب انسان په طغيان او جرأت على الله کښ واقع کيږي چه دا سبب د بعد (وړاندے والي) دے د الله نه.

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه الدارمي (٩٦/١) وفي اسناده عون بن عبد الله ولم يسمع من ابن مسعود فهو منقطع ولكن يرتقي بالحديث الذي قبله.

٥٨- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ اُنَاسًا مِنْ اُمَّتِيْ سَيَتَفَقَّهُوْنَ فِي الدِّيْنِ وَيَقْرَؤُوْنَ الْقُرْآنَ يَقُوْلُوْنَ: نَأْتِي الْاُمَرَاءَ فَنُصِيْبُ مِنْ دُنْيَاهُمْ وَنَعْتَزِلُهُمْ بِدِيْنِنَا وَلَايَكُوْنُ ذٰلِكَ كَمَا لَا يُجْتَنٰى مِنَ الْقَتَادِ اِلَّا الشَّوْكُ كَذٰلِكَ لَايُجْتَنٰى مِنْ قُرْبِهِمْ اِلَّا» قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ: كَاَنَّهُ يَعْنِيْ الْخَطَايَا. رواه ابن مَاجه.

ترجمه: ابن عباسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: زما امت کښ به ډير داسے خلق پوهه (ديني علم) حاصل کړي او قرآن به لولي او وائي به چه مونږ اميرانو ته ورځو او د دنيا اودولت نه خپله حصه حاصلوو او خپل دين به د هغوئ نه يو طرفته ساتو، ليکن داسے نه کيږي (چه دين دنيا يوځائے جمع کړے شي بلکه د اميرانو په صحبت کښ دفائدے په ځائے نقصان وي) ځنگه چه د ازغي

داری اونے نه صرف ازغی حاصلیدے شی دغسے د امیرانو د نز دیکت نه نه حاصلیږی مګر- محمد بن صباح وائی ګویا د نبی ﷺ مراد (دمګر لفظ نه پس) ګناهونه دی۔(ابن ماجه)۔

تشریح : اِنَّ اُنَاسًا مِنْ اُمَّتِیْ : دا پیشین ګوئی ده، ابتداء کښې طریقه داوه چه مخکښې علماء حق پرست وو، زهد والاوو، بادشاهان به ورله خواله راتلل او سوال او زاری به ئے ورته کوله چه زمونږ خواته راشئ، لکه واقعات مشهور دی، ابو حازمؒ ته عبد الملك بن مروان اووئیل : مانه څه اوغواړه ! هغه ورته اوفرمائیل : عمر مے زیات کړه، هغه ورته اووئیل دا کار نشم کولے، ورته ئے اوفرمائیل : زما درته حاجت نشته۔ فضیل بن عیاضؒ ته هارون الرشید راغلو، سوال زاری ئے ورته اوکړه چه مانه دا پیسے واخله، فضیل انکار اوکړو، هغه ورته اووئیل : ستا چه څه ته ضرورت وی ماته ئے اووایه، فضیل ورته اووئیل : یو حاجت مے دے هغه دا چه بیا مه راځه ! څه وخت چه هغه اووتو نو ښځه فضیل ته غصه شوه چه ګوره درے ورځے اوشوے مونږ اوږی یو او هغه درله تیارے پیسے راوړیدی اوتا واپس کړے، دا خبره بهر هارون الرشید واوریده بیرته ئے ورله پیسے راوړے، فضیل ورته اووئیل تاته ما نه ؤ وئیلی چه زما حاجت دا دے چه بیا به نه راځے، بیا ولے راغلے، داسے زهد والا خلق وو چه بادشاهان ورته څه شے نه ښکاریدل، د دین دوجے نه، نو داحالت چه بعضو اولیدلو نو هغوی اووئیل : دا علم خو ډیر ښه شے دے، بادشاهان به ورله ملاقاتونو له راځی، نو چه کله علم ددے مقصد دپاره طلب کړے شو نو بیا به بادشاهان دوئ ته نه راتلل، ځکه دوئ طمع ګیر وو، نو بیا به دوئ د بادشاهانو خواته ورتلل، نو چا به پرے اعتراض اوکړو چه تاسو بادشاهانو خواته ولے راځئ، هغوی به جواب کولو چه مونږ ورځو دنیا ترے خورو، او د خپل دین حفاظت کوو، دین راله نشی خرابولے، نو دے حدیث کښې دا پیشین ګوئی راغلے ده چه دا خبره د دوئ غلطه ده۔ خو دلته د امراء نه مراد ظالمان امیران اوبادشاهان دی۔

امیر ته ورتلل دوه قسمه دی : ١- یو د دعوت دپاره، دهغه د برابرولو دپاره، نو دا نا روا نه دی، یو مسلمان امیر دے دهغه خواته ځوك ورغلو دے کښې څه ګناه نشته۔ ٢- خود طمع په نیت امیر ته ورتلل یا ظالمانو جابرانو ته ورتلل دانا روا دی ځکه که ته هغوی د منکراتو نه منع کوے نو هغوی ډیے وژنی پیسے چرته درکوی، او یا به د هغوی تائید کوے نو هغوی ډیے نقصان کښې واقع کړل، ټول امت ډیے ګمراه کړو، ستا په وجه ګمراه کیږی خلق به وائی که دا امیر غلط سړے وے نو فلانے مولا به خواله نه ورتلے خر نظیرے به وئیلے (*ہمارے ساتھ علماءِ حق ہیں*)۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابن ماجه (٢٥٥) قال في الزوائد : اسناده ضعيف لان فيه عنعنة الوليد بن مسلم وعبد الله بن ابي بردة لم يوثقه احد حتى ولا ابن حبان وقد اورده المنذري : وقال رجاله ثقات فلا تغتر بتوثيقه۔

٥٩- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَ: لَوْاَنَّ اَهْلَ الْعِلْمِ صَانُوْا الْعِلْمَ وَوَضَعُوْهُ عِنْدَ اَهْلِهٖ

لَسَادُوْا بِهٖ اَهْلَ زَمَانِهِمْ وَلٰكِنَّهُمْ بَذَلُوْهُ لِاَهْلِ الدُّنْيَا لِيَنَالُوْا بِهٖ مِنْ دُنْيَاهُمْ فَهَانُوْا عَلَيْهِمْ سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ ﷺ يَقُوْلُ: «مَنْ جَعَلَ الْهُمُوْمَ هَمًّا وَاحِدًا هَمَّ آخِرَتِهٖ كَفَاهُ اللّٰهُ هَمَّ دُنْيَاهُ وَمَنْ تَشَعَّبَتْ بِهِ الْهُمُوْمُ اَحْوَالُ الدُّنْيَا لَمْ يُبَالِ اللّٰهُ فِيْ اَيِّ اَوْدِيَتِهَا هَلَكَ».رَوَاهُ ابْنُ مَاجه وَرَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ مِنْ قَوْلِهٖ : «مَنْ جَعَلَ الْهُمُوْمَ» اِلٰى آخِرِهٖ.

ترجمه : عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے چه ده اوفرمائيل : كه علماء د علم حفاظت اوكړى او علم دهغے اهل (يعنى قدر دانو) خلقو مخكښے كيدى نو هغوى به بيشكه دخپل علم په سبب د دنيا والو سرداران جوړ شى، ليكن علماؤ داسے اونه كړل بلكه هغوئ علم په دنيا دارو (يا د وخت په حاكمانو) باندے خرچ كړو چه دهغے په ذريعه هغوئ دنيا (يعنى د دنيا جاه وجلال) حاصل كړى (اود علم حقيقى مقصد يعنى د دنيا والو هدايت او نصيحت بند كړى) نو هغوئ د دنيا والو په نظر كښې ذليل شو، ما ستاسو د نبى نه آوريدلى دى : كوم سړى چه خپلو مقصدونو كښې صرف يو مقصد يعنى آخرت مقصد اختيار كړو نو الله تعالى دهغه دنياوى مقصد هم پوره كوى اود كوم سړى مقصدونه چه پراګنده وى څنګه چه ددنيا حالات وى نو بيا الله ته پرواه نه وى چه هغه د دنيا په كوم يو ځنګل كښې هلاك شى (ابن ماجه)۔ بيهقى دا حديث شعب الايمان كښې دابن عمرؓ نه دے قول نه چه (من جعل الهموم) آخره پورے روايت كړيدے۔

تشريح : سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ : ددے مطلب دا نه دے چه ګنے زما نبى نه دے ستاسو نبى دے، بلكه دا د توبيخ دمخاطبينو دپاره وائى يعنى دهسے مُلا خبره نه ده بلكه پيغمبر كه خپل نبى ګنړئ نو دا دهغه خبره ده۔ كَفَاهُ اللّٰهُ هَمَّ دُنْيَاهُ : الله به كافى شى دده دغم ددنيا نه، هَمّ په لغت عربى كښې دوه معنے لرى يو په معنى د غم او فكر سره او بل په معنى د قصد او مقصد سره۔ دلته دواړه صحيح كيږى چه صرف دنيا سره ئے غم وى يا دا چه دنيا ئے مقصد ګنړلے وى۔

بيا ددے مطلب دا نه دے چه دده به هر حاجت پوره كيږى دنيا كښې، ځكه چه حديث كښې دى چه ډير مؤمنان مهاجرين داسے دى چه دنيا كښې ئے حاجتونه پوره نشى زړه كښې ئے حاجتونه پاتے شى او آخرت ته لاړ شى، ډير مؤمنان مساكين دى، ځكه دمؤمن به دا هموم نه وى چه موټر ګاړى به غواړى، بلكه مطلب دا دے چه الله به ورله پروګرامونه د رزق او ځائے او جامے تياروى، دومره رزق به وركوى چه دا پورے د مرګ نه بچ وى۔

اَحْوَالَ الدُّنْيَا : د ابدل دے د الهموم نه، يعنى هغه غمونه څه شے دى هغه حالات د دنيا دى۔ يعنى لكه وائى چه موټر نشته، بلډنګونه نشته، لوئى كاروبار نشته، رياست مشرى حاصله نشوه، وزير نشوم۔ لم يبال الله : الله به پرے هيڅ باك نكوى ځكه چه څوك سپك شى پورے اونښلى نو سپكيږى اودروند ذات پورے چه اونښلى نو انسان درنيږى۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف اخرجه ابن ماجه (۲۵۷) وفیه نهشل بن سعید قال ابن راهویه: کان کاذباً وقال ابوحاتم والنسائی متروک۔وروایة البیهقی **صحیح الاسناد** عند الحاکم (۳۲۸/۴) وتعقبة الذهبی فقال: ابوعقیل یحیی بن المتوکل ضعفوه ولکن الشیخ الالبانی قال: له شاهد من حدیث زید بن ثابت عند ابن ماجه ۴۸/۱رقم (۴۱۰۵) وسنده صحیح وصححه فی صحیح الترغیب (۱۲۸/۲)

۶۰- وَعَنِ الْاَعْمَشِ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «آفَةُ الْعِلْمِ النِّسْيَانُ وَاِضَاعَتُهُ اَنْ يُّحَدَّثَ بِهٖ غَيْرَ اَهْلِهٖ».رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ مُرْسَلاً

ترجمه: اعمش ؒ وائی: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دعلم آفت هیریدل دی اود علم ضائع کول دا دی چه د نا اهله مخکښې بیان کړے شي۔(دارمی بطریق ارسال روایت کړیدے)۔

اعمش: اسمه سلیمان بن مهزان کما مر۔

تشریح: آفَةُ الْعِلْمِ النِّسْيَانُ: **اسباب د نسیان العلم**: هیرول یو په دے راځي چه انسان بیا بیا کتاب نه ګوري ددین سره واسطه نه لري، ۲- په ګناهونو کولو سره۔عبد الله بن مسعودؓ فرمائي: یو سړي ته علم یاد وي بیا ترے هیر شي د وجے دګناه نه چه دے هغه کوي۔۳- عدم البیان والتدریس۔ (نه ئے چا ته بیانوي او نه چرته تدریس کوي) ۴- عدم المبالات والکسل (بے باکه شي او سستي پکښې پیدا شي)۔ امام زهريؒ فرمائي: (ان للعلم غوائل، فمن غوائله ان یترك العالم حتی یذهب بعلمه) (دعلم آفت او مصیبت دا دے چه عالم نه علم نشي زده کولے اوتپوسونه ترے اونه کړے شي تردے چه د هغه نه زده علم هیر شي)۔ (ومن غوائله الکذب فیه وهو شر غوائله۔(کذا فی جامع بیان العلم فضله: ۴۴۲/۱)۔ (بعض د آفتونو د علم نه دروغ وئیل دی په علم کښې او دا په کښې ډیر لوئي آفت دے)۔

غَيْرَ اَهْلِهٖ: یعنی هغه چاته علم یادول چه د دنیا اراده ئے پرے وي، نه د دین۔ ۲- یا دعمل اراده پرے غرض نه وي، دا د علم ضائع کول دي۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف: رواه الدارمی (۱۵۸/۱) مرسلا لکنه معضل لان بین الاعمش والرسول ﷺ مفاوز، لان الاعمش لم یسمع من احد من الصحابة فصار بینه وبین النبی ﷺ راویان لم یذکرا التابعی الذی اخذ عنه الاعمش والصحابی الذی اخذ عنه التابعی راجع السلسلة الضعیفة (۱۳۰۳) فالارسال ههنا یراد منه المعنی الاصطلاحی وهو الانقطاع فقط.

۶۱- وَعَنْ سُفْيَانَ: اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ لِكَعْبٍ: مَنْ اَرْبَابُ الْعِلْمِ؟ قَالَ: اَلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ بِمَا يَعْلَمُوْنَ قَالَ: فَمَا اَخْرَجَ الْعِلْمَ مِنْ قُلُوْبِ الْعُلَمَاءِ؟ قَالَ: الطَّمَعُ.رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: سفیانؒ نه روایت دے چه عمر بن خطابؓ کعبؓ ته اووئیل: (ستا په نیز) دعلم خاوندان

څوك دی؟، کعبؓ جواب ورکړو، هغه خلق چه دخپل علم موافق عمل کوی، بیا عمرؓ تپوس اوکړو، کوم څیز دعالمانو د زړونو نه علم اوکاږی، کعبؓ اوفرمائیل : طمع (لالچ – (دارمی)۔

تعارف د سفیان : هو سفیان بن سعید بن مسروق الثوری الکوفی۔ دا د اتباع التابعین نه لوئے شخصیت دے، امام المسلمین او حجة الله علی خلقه دے، فقیه، مجتهد، محدث، زاهد، عابد، ورع، ثقة، الیه المنتهیٰ فی علم الحدیث وغیره من العلوم دا دده القاب دی۔ د امام مالك، ابن جریج، اوزاعی وغیره استاذ دے۔ سنه (٩٧ هـ) کښې پیدا شوے، او په بصره کښې په سنه (١٦١ هـ) کښې د (٦٤) کالو په عمر وفات شویدے۔

تعارف د کعب : دده لقب دے کعب الاحبار دا یهودی عالم دے دنبی اکرم ﷺ په ژوند کښې په اسلام مشرف نشو تردے چه نبی ﷺ وفات شو نو بیا په کعب باندے الله احسان اوکړو او په اسلام سره په زمانه دعمر ؓ کښې مشرف شو۔ نبی ﷺ ئے نه دے لیدلے، او په کبار التابعین کښې شمار دے۔ اصل نه یمن والا دے بیا شام کښې اوسیدو او حمص کښې وفات شو په خلافت دعثمانؓ سنه (٣٢) کښې په عمر د (١٠٤) کالو سره۔ کعب وائی : زه د شام نه راغلم دا آیتونه مے دچانه واوریدل ﴿ یاآیها الذین اُوتوا الکتاب آمنوا بما نزلنامصدقا لما معکم من قبل ان نطمس وجوهاً فنردها علی ادبارها ﴾ النساء : ٤٧) ۔نو ما په مخ ګوتے وهلے چه مخ خو به مے چرته نه وی وران شوے، نو زر مے ایمان راوړو۔ صحابؓو به دده نه ډیر تپوسونه کول، وجه دا ده چه دا د تورات عالم هم وو، څکه ترے عمربن الخطاب ؓ تپوس کړیدے۔ ده به د بنی اسرائیلو تاریخی واقعات او قیصے نقل کولے۔ معاویهؓ فرمائیل : (کنا نبلو علیه الکذب) (بخاری) یعنی اسرائیلی واقعات به ئے بیانول او په هغے کښې به متناقضے قیصے راتلے اګرکه هغه به قصداً دروغ نه وئیل ولے چه دا خو ثقه شخصیت دے۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف معضل : رواه الدارمی (١٤٠/١) وسفیان هو الثوری لیس بصحابی لیکون الحدیث متصلاً ولا تابعیاً لیکون الحدیث مرسلاً فان بینه وبین عمر مفاوز ثم رواه الدارمی (١٣٩/١) من طریق عبید الله بن عمر ان عمربن الخطاب قال لعبد الله بن سلام فذکره وهو کذلك معضل ایضاً.

٦٢– وَعَنِ الْاَحْوَصِ بْنِ حَکِیْمٍ عَنْ اَبِیْهِ قَالَ: سَاَلَ رَجُلٌ النَّبِیَّ ﷺ عَنِ الشَّرِّ فَقَالَ:« لَا تَسْاَلُوْنِیْ عَنِ الشَّرِّ وَسَلُوْنِیْ عَنِ الْخَیْرِ » یَقُوْلُهَا ثَلَاثًا. ثُمَّ قَالَ: « اَلَا اِنَّ شَرَّ الشَّرِّ شِرَارُ الْعُلَمَاءِ وَاِنَّ خَیْرَ الْخَیْرِ خِیَارُ الْعُلَمَاءِ».رَوَاهُ الدَّارِمِیُّ.

ترجمه : احوص بن حکیم دخپل پلار نه نقل کوی چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه د شر باره کښې تپوس اوکړو، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : مانه دشرباره کښې تپوس مه کوئ، بلکه دخیر

باره کښې رانه تپوس کوئ، دا خبره ئے درے ځله اوفرمائیله، بیا ئے اوفرمائیل: خبردار! خراب خلقو کښې بدترین خراب علماء دی، او ښه خلقو کښې د ټولو نه بهتر ښه علماء دی (دارمی).

تعارف داحوص: دا هم دصغار التابعین نه دے، انسؓ او عبد الله بن بسرؓ ئے لیدلی دی، ضعیف الحفظ دے، وضعفه النسائی وابن معین وابن المدینی.

تشریح: علماؤ ته شری خلق هم اووئیل شو او بهترین خلق هم وجه دا ده چه که علماء الله په صحیح لار روان کړی نود دوئ نه د دین ډیر خیر کار کیږی ځکه دا په امت کښې خلاصة الخلق دی اوکه الله ئے ذهن بند کړی نو بیا د دوئ نه شر خوریږی ځکه چه ته به حق خبره اوکړے عوام خلق به ئے دغه مُلا ته اورسوی هغه ملا به وائی داخو هسے چتی مسئله ده دا خو د وهابیانو مسئلے دی، دا زمونږ مذهب کښې نشته. نود ټولو عوامو عقیده ددے یو مُلا په وجه خرابه شی نو ځکه دا شریان دی. عبد الله بن مبارک څه ښه وئیلی دی:

وهل افسد الدین الا الملوک واحبار سوء ورهبانها

یعنی دین د درے قسمه خلقو دلاسه تباه او برباد شویدے: ١- بادشاهان. ٢- باطل پرست ملیان. ٣- او پیران.

درجة الحدیث: دارمی (١/ ١٠٤) مرسلًا نقل کړیدے په طریقه دبقیه سره عن الاحوص او بقیه راوی په خپله مدلس دے او په دے روایت کښې ئے عنعنه کړیده، او عنعنه دمدلس مقبوله نه ده. او ابو الاحوص هم ضعیف دے، او حکم بن عمیر تابعی دے د عمر وغیره نه نقل کوی نو حدیث ئے مرسل هم دے. نودا روایت ضعیف دے اگرچه معنی ئے صحیح ده د نورو مواضعو نه معلومه ده.

٦٣- وَعَنْ اَبِی الدَّرْدَاءِ قَالَ: اِنَّ مِنْ اَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً یَوْمَ الْقِیَامَةِ عَالِمٌ لَایَنْتَفِعُ بِعِلْمِهٖ. رَوَاهُ الدَّارِمِیُّ.

ترجمه: ابو درداءؓ فرمائی: د قیامت په ورځ به د الله په نیز د ټولو نه بدتر عالم هغه وی چه هغه خپل علم نه فائده نه اخلی. (دارمی).

تشریح: لَایَنْتَفِعُ بِعِلْمِهٖ: (ای بالعمل به). (چه عمل اوکړی په عمل باندے) دا هله چه صیغه د معلوم شی. ٢- (وبالبیان). (په بیانولو سره) دا هله چه صیغه دمجهول شی ای لا ینتفع الناس بعلمه ای ببیانه). (خلق تری فائده نشی اخستے په دے وجه چه دا ئے نه بیانوی پټ ئے ساتلے دے د خپل سُستے والی یا مداهنت یا لالچ په وجه. د بیهقی کښې په روایت د ابی هریره کښې د: (اشد الناس عذابا یوم القیامة عالم لم ینفعه الله بعلمه) الفاظ راغلی دی.

درجة الحدیث: دارمی (١/ ٨٢) موقوفاً نقل کړیدے دابو الدرداء خبره ده. شیخ البانیؒ دا سند ضعیف گنړلے. دابن القاسم بن قیس په وجه چه دا مجهول دے. باقی رجال ئے ثقات دی

٦٤- وَعَنْ زِيَادِ بْنِ حُدَيْرٍ قَالَ: قَالَ لِي عُمَرُ هَلْ تَعْرِفُ مَا يَهْدِمُ الْإِسْلَامَ؟ قُلْتُ: لَا !، قَالَ : يَهْدِمُهُ زَلَّةُ الْعَالِمِ وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ وَحُكْمُ الْاَئِمَّةِ الْمُضِلِّيْنَ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : زیاد بن حدیرؒ وائی : ما ته عمر فاروقؓ اوفرمائیل :آیا ته پوهیږې چه د اسلام (دآبادئ) غورځونکے کوم څیز دے؟، ما اووئیل : ماته نه ده معلومه، عمرؓ اوفرمائیل : د عالم خویدل (یعنی یوه مسئله کښې د عالم غلطی کول) اود منافق د الله په کتاب کښې جګړه کول، اود ګمراه سردارانو حکم جاری کول (د اسلام آبادی تباه او برباد کوی – دارمی)۔

تعارف دزیاد : دده کنیه ده ابو مغیرة الاسدی۔ دابن عمر، علی، ابن مسعود، او علاء حضرمی رضی الله عنهم نه ئے روایات نقل کړیدی۔ تقریب کښې ورته ابن حجر ثقه، عابد من کبار التابعین وئیلے دے۔ ابن حبان ابو حاتم اودارقطنی ئے هم توثیق کړیدے۔

تشریح : زَلَّةُ الْعَالِمِ : **فائده** : په دے کښې مقصود دا دے چه علماؤ له پکار دی چه احتیاط اوکړی په باب د فتوی ورکولو کښې هسے نه چه حق نه اوخویکی۔ ۲ – دارنګه عوامو له پکار دی چه فتویٰ دهغه علماؤنه طلب کړی چه هغوی راسخین فی العلم دی، اوکه دهر ملا (جید او غیر جید) نه تپوسونه کوی نو ضرور به هغوی خطاء کیږی، نو د هغے په وجه به ډیر فساد پیدا کیږی او دین به خرابیږی۔ وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ : مطلب دا دے چه یو شخص غلطه عقیده لری اوددے د اثبات دپاره قرآن اوحدیث نه استدلال کوی خلق پرے دهوکه شی، نو دے سره دین تباه کیږی۔ وَحُكْمُ الْاَئِمَّةِ الْمُضِلِّيْنَ : یعنی ګمراه بادشاهان غلطے فیصلے اوکړی غلط قانون نافذ کړی د هغے د وجه نه صحیح نظام د رب العالمین بحر کاهل ته ګوزار شی، او دا ډیره واقعی خبره ده عام بادشاهانو په ځان باندے د لاډمیکالے نظام نافذ کړے دے او د الله د کتاب نظام شاته ګوزار شویدے، عبادات، معاملات حدود معاشرات ټول معطل دی۔ والله المستعان۔

درجة الحديث : رواه الدارمي في سننه (١/١٧) وقال الالباني : وسنده صحيح۔

٦٥ – وَعَنِ الْحَسَنِ قَالَ: اَلْعِلْمُ عِلْمَانِ: فَعِلْمٌ فِي الْقَلْبِ فَذٰلِكَ الْعِلْمُ النَّافِعُ وَعِلْمٌ عَلَى اللِّسَانِ فَذَاكَ حُجَّةُ اللهِ عَزَّوَجَلَّ عَلَى ابْنِ آدَمَ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ۔

ترجمه : حسن بصریؒ فرمائی : علم دوه قسمه دے : ۱ – یو هغه علم چه زړه کښې دننه وی، دا علم خو نفع ورکوی۔ ۲– او دویم هغه علم دے چه د ژبے دپاسه وی، دا علم په سړی د الله عز وجل دلیل او حجت دے (دارمی)۔

تشریح : فَعِلْمٌ فِي الْقَلْبِ : فاء تفصیلیه ده ددے ځائے نه اوس تفصیل بیانوی (ای فنوع منه علم

في القلب) ۔په زړه کښې دعلم کيدو مطلب دا دے چه زړه کښې دهغے نور او اثر ښکاره شوے وي اود هغے د وجے نه په بدن باندے عمل کوي۔او د هغے د تقاضا موافق چليږي، چه سنت طريقه راښکاره کوي اود بدعاتو ترديد کوي، دا حقيقي علم نافع دے۔ وَعِلْمٌ عَلَى اللِّسَانِ : په ژبه باندے د علم دکيدو مطلب دا دے چه دهغے علم موافق عمل نه کوي، صرف بيانونه کوي، د شپے ناوخته پورے تقريرونه کوي او بيا سحر نه پاځي۔

درجة الحديث : وسنده صحيح : رواه الدارمي(١٠٢/١) موقوفاً ليکن دا روايت خطيب بغدادي په تاريخ بغداد کښې مرفوعاً هم ذکر کړيدے نو مصنف لره پکار وو چه مرفوعاً ئے راوړے وے، ليکن ده صرف دارمي کتلے دے او هغه ئے موقوفاً نقل کړيدے، سنداً صحيح روايت دے۔کما قال الالباني : وسنده صحيح۔

٦٦- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ : حَفِظْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وِعَائَيْنِ: فَاَمَّا اَحَدُهُمَا فَبَثَثْتُهُ فِيْكُمْ وَاَمَّا الْآخَرُ فَلَوْ بَثَثْتُهُ قُطِعَ هٰذَا الْبُلْعُوْمُ يَعْنِيْ مَجْرَى الطَّعَامِ.رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : ابو هريرةؓ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه دوه قسمه علمونه ياد کړي دي هغے کښې يو خو مے ستاسو مينځ کښې خور کړيدے او دويم هغه علم دے که زه هغه بيان کړم نو زما دا مرئ (يعني دخوراك تللو ځائے) به پرے کړے شي۔(بخاري)۔

تشريح : وِعَائَيْنِ : دوه لوښي، دلته ذکر دمحل دے مراد ترينه حال دے يعني دوه قسمه علم دے : ١- يو علم الاحکام والشرائع دے۔٢- دويم علم الاخبارات بظلم الامراء يعني هغه علم دے چه هغه متعلق دے د اخباراتو سره په راتلونکے زمانه کښې چه ظالمان بادشاهان اوامراء به پيدا شي او فسادونه به کوي، لکه مثلًا نبي ﷺ فرمائي : دا دين به په لاس دغلامانو دقريشو باندے خرابيږي، سوال : ابو هريره ﷺ خو په دے مقام کښې کتمان العلم کړيدے؟۔ جواب : علم په دوه قسمه دے : يو هغه علم دے چه دهغے بيانول ضروري دي، ځکه هغے ته انسانان ضرورت لري، نو ددے کتمان حرام دے۔ دويم هغه علم دے چه دهغے بيانولو ته ضرورت نه وي لکه علم الاخبارات، نو ددے کتمان حرام نه دے او دلته مانع هم موجود دے چه دهغه په زمانه کښې ظالمان بادشاهان وو لکه حجاج بن يوسف او يزيد بن معاويه وغيره، نو که ده دهغوي ظلم بيان کړے وے نو قتلولو ئے۔خو ليکن ابو هريرةؓ به کنايات استعمالول لکه فرمائيل به ئے (اعوذ بالله من رأس الستين، وامارة الصبيان) (پناه غواړم په الله پورے د ابتداء د شپيتم کال د هجرت نه او د ماشومانو د حکمرانئ نه) اشاره ئے کوله خلافت د يزيد بن معاويه ته، ځکه هغه په ستين (شپيتم) سنه هجري کښې وو۔

٦٧- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ: يَا اَيُّهَا النَّاسُ مَنْ عَلِمَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ بِهِ وَمَنْ لَّمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلْ: اَللّٰهُ اَعْلَمُ فَاِنَّ مِنَ الْعِلْمِ اَنْ تَقُوْلَ لِمَا لَا تَعْلَمُ: اَللّٰهُ اَعْلَمُ. قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لِنَبِيِّهٖ: ﴿قُلْ مَا اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ وَمَا اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ﴾. متفق عليه.

ترجمه : عبد الله بن مسعودؓ خلقو ته اوفرمائيل : اے خلقو ! څوك چه په كومه خبره پوهيږي نو پكار دي چه هغه بيان كړي، او په كومه چه نه پوهيږي نو پكار دي چه اووائي چه الله تعالی ښه پوهيږي ځكه چه دكوم څيز هغه ته علم نشته دهغے باره كښں الله ښه پوهيږي وئيل دعلم يو قِسم دے (يعني معلوم دنا معلوم نه جدا كول هم دعلم يو قسم دے) الله تعالی دخپل پيغمبر باره كښں فرمائي چه : (قل ما اسئلكم عليه من اجر وما انا من المتكلفين). (يعني اے محمد! اووايه چه زه په دے قرآن ستاسو نه څه بدله نه غوارم اوزه دتكلف كونكو خلقو نه نه يم) (چه دځانه ئے جوړ كړم - بخاري ومسلم).

تشريح : فَاِنَّ مِنَ الْعِلْمِ اَنْ تَقُوْلَ : (اى من جملة العلم) - يعني تميز دمعلوم دمجهول نه دا هم يوه نوع دعلم ده، دارنګه په كوم څيز چه انسان نه پوهيږي او په هغے كښں خبرے كوي نو دا يو قسم تكلف دے اودا منع دے. د ابن مسعودؓ نه دا هم نقل دي : (الذى يفتى الناس فى كل مسئلة مجنون) (يعني هغه كس چه په هره مسئله كښں خلقو ته فتوى وركوى دا ليونے دے) ځكه انسان له ضرور سوچ پكار دے ولے چه بيا به خامخا خطاء كيږي، دا ليونتوب دے.

اوابن مسعودؓ دا حديث په هغه وخت كښں وئيلے وو چه چا ورته اووئيل چه : دلته نوف البكالي نومے يو سړے دے ، هغه وائي : دخان (لوګے كوم چه قرآن كښں راغلے دے : يوم تاتى السماء بدخان مبين - دا) به روستو راځي اودا د قيامت د علاماتو نه دے او خلق به داسے اونيسي لكه زكام پشان. كما فى الحديث د ابن مسعودؓ رائے دا وه چه دخان، لزام او بطشة الكبرى مخكښں تير شويدي په مشركين مكه باندے، نو په دے وجه غصه شو او مذكوره خبره ئے اوكړه. چه اے خلقو ! چه يوه خبره درته معلومه وي نو بيانوئ ئے اوچه درته معلومه نه وي نو ولے دځانه ګډے وډے وائے. ځكه دا هم علم دے چه په يوه خبره نه پوهيږے او (لا ادرى) اووائے. ځان په زوره متكلف مه جوړوئ ځكه لا ادرى (زه نه پوهيږم) هم نيمائي علم دے. ليكن د ابن مسعودؓ دلته دا رائے مرجوح ده، ځكه چه دجمهورو مفسرينو په نيز د قيامت په علاماتو كښں هم دخان شته دے او يو دخان په قريشو كښں هم تير شويدے. خو ابن مسعودؓ ته هغه حديث نه وو رسيدلے، نو دخپل علم مطابق سخت رد ئے كړيدے.

داسے واقعه ابن عباسؓ ته هم راغلے ده، كوفه كښں ورته يو سړے راغلو ورته ئے اووئيل چه دلته نوف البكالي نومے يو سړے دے وائي چه هغه موسیٰ چه دخضر عليه السلام سره ملاؤ

شویدے دا هغه موسی د بنی اسرائیلو نه دے، بلکه بل موسی دے۔ ابن عباسؓ غصه شو او وے وئیل: (کذب عدوُّ اللّٰه – دا دروغ وائی اود ځانه خبرے جوړوی (بخاری: ۲/ ۶۹۰)۔

٦٨- وَعَنِ ابْنِ سِيْرِيْنَ قَالَ: اِنَّ هٰذَا الْعِلْمَ دِيْنٌ فَانْظُرُوْا عَمَّنْ تَأْخُذُوْنَ دِيْنَكُمْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ابن سیرینؒ فرمائی: چه دا علم (یعنی دکتاب او سنت علم) دین دے هرکله چه تاسو دا حاصلوئ نو دا گورئ چه خپل دین دچانه حاصلوئ۔(مسلم)۔

تعارف د ابن سیرین: دده خپل نوم محمد بن سیرین دے، ابو بکرئے کنیه ده۔دانس بن مالك آزاد کرده غلام دے، دکبار التابعین نه دے، دا فقیه عالم، زاهد، عابد، ورع، محدث، دمشهورو تابعینو نه دے۔دے د روایت بالمعنی قائل نه وو۔بلکه روایت باللفظ ئے ضروری گنړلو۔کما قال الحافظ ابن حجر۔په سنه (۱۱۰ هـ) کښ د (۷۷) کالو په عمر باندے وفات شویدے۔ سیرین ئے د پلار نوم دے (عصام غلط وئیلی دی چه دائے د مور نوم دے) اوغیر منصرف دے ځکه اخفش وئیلی دی چه یاء او نون په منزله د الف نون مزیدتین دی۔

تشریح: د ابن سیرین د ارشاد مقصد دا دے چه پدے خبره باندے تنبیه ورکوی چه کله ستا د علم حاصلولو اراده وی یا حدیث حاصلوے نو دا خبره اول ښه اوسنجوه چه ته د چا نه علم حاصلوے دا کوم قسم سړے دے، آیا قابل اعتماد دے یا نه دے؟ کله چه تا د هغه عالم یا راوی حالات پوره طریقے سره معلوم کړل او پوهه شوے چه واقعی دیندار، پرهیزگار او قوی الحافظه شخصیت دے نو د هغه نه علم حاصل کړه ، دغه شان دا مقصود هم دے چه هر کس وناکس خپل استاذ مه جوړوه او نه د هر شخص نه د حدیثو روایت کوه خصوصاً مبتدعین، خواهش پرست، بے دینه بد عمله خلق خپل استاذان مه جوړوه، بعض خلق ځی او بدعتیانو نه سبقونه وائی دا کار ډیر مضر دے ځکه چه د بدعتی په سبق کښ الله برکت نه اچوی، د انسان نه زړه هیریږی، بلکه دا چه هغه به انسان ته داسے وسوسے واچوی چه زړه به ورله د حق نه متنفر کړی د اهل حقو په باره کښ به ئے بدگمانه کړی۔

٦٩- وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: يَامَعْشَرَ الْقُرَّاءِ اِسْتَقِيْمُوْا فَقَدْ سَبَقْتُمْ سَبْقًا بَعِيْدًا وَاِنْ اَخَذْتُمْ يَمِيْنًا وَشِمَالًا لَقَدْ ضَلَلْتُمْ ضَلَالًا بَعِيْدًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: حذیفهؓ نه نقل دی چه دهٔ قاریان مخاطب کولو سره اوفرمائیل: اے د قاریانو ټولگیه! په نیغه لار قائم اوسئ ځکه چه تاسو لرے وړاندے والے کړیدے، که تاسو د نیغے لارے نه اخوا شوئ نو لویه گمراهئ کښ به پریوځئ ۔ (بخاری)۔

تشریح: يَامَعْشَرَ الْقُرَّاءِ: قراء نه مراد علماء دی ځکه هغه زمانه کښ قاریان به علماء وو

اِسْتَقِيْمُوْا : يعنى په دين باندے نيغ روان اوسئ۔ فَقَدْ سَبَقْتُمْ سَبْقًا بَعِيْدًا : دلته دوه قرأته دى : ١- سبقتم صيغه د مخاطب معلوم ده نو بيا خطاب مشران صحابه كرامو ته چه د ټولو نه ئے اسلام ته وړاندے والے او سبقت كړيدے يعنى تاسو دخلقو نه مخكښ راغلى ئے، روستو خلق به ستاسو عمل ته ګورى، نو سم روان شئ، په دين باندے مضبوط اوسيږئ او فائده مند علم او عمل صالح باندے مداومت اختيار كړئ نو د آينده امتونو اجر به تاسو ته ملاويږى، ځكه تاسو مقتدا ئے د آينده امتونو دپاره۔ ٢- يا سُبِقتم صيغه دمجهول ده نو خطاب تابعينو او روستنو خلقو ته دے او مطلب دا دے چه اے روستنو خلقو ستاسو نه مخكښ والے شويدے، صحابه ستاسو نه اسلام ته مخكښ راغلى دى هغه اوچت خلق وو، تاسو هغے ته نشى رسيدلے، تاسو خو به ځان ته اوچت وائے ليكن هغوى په نيغه لار تلى دى نو تاسو هم په نيغه لار روان شئ، نو پدے كښ ترغيب دے چه د صحابه كرامو د طريقے او لارے نه اخوا ديخوا د ګمراهانو باطلو ډلو پسے روان نه شئ بلكه د صحابه كرامو نقش قدم راونيسئ ورنه ګمراه به شئ !۔

٧٠- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:« تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ جُبِّ الْحُزْنِ » قَالُوْا: يَارَسُوْلَ اللهِ ! وَمَا جُبُّ الْحُزْنِ؟ قَالَ: « وَادٍ فِىْ جَهَنَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنْهُ جَهَنَّمُ كُلَّ يَوْمٍ اَرْبَعَ مِائَةِ مَرَّةٍ» قِيْلَ: يَارَسُوْلَ اللهِ ! وَمَنْ يَّدْخُلُهَا؟ قَالَ: « اَلْقُرَّاءُ الْمُرَاؤُوْنَ بِاَعْمَالِهِمْ».رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ وَكَذَا ابْنُ مَاجه وَزَادَ فِيْهِ:« وَاِنَّ مِنْ اَبْغَضِ الْقُرَّاءِ اِلَى اللهِ تَعَالٰى الَّذِيْنَ يَزُوْرُوْنَ الْاُمَرَاءَ » قَالَ الْمُحَارِبِىُّ: يَعْنِىْ الْجَوَرَةَ.

ترجمه : ابو هريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تاسو د الله نه پناه غواړئ د جب الحزن (يعنى دغم دكوهى) نه صحابوؓ عرض اوكړو، دغم كوهے كوم يو دے، نبى ﷺ اوفرمائيل : هغه دوزخ كښ يوه كنده ده چه د هغے نه دوزخ ورځ كښ څلور سوه ځله پناه غواړى۔ صحابوؓ عرض اوكړو، يا رسول الله ! دے به كښ به څوك داخليږى؟۔ وے فرمائيل : هغه قرآن لوستونكى چه خپل ښودنے دپاره عملونه كوى۔ (ترمذى، ابن ماجه) اود ابن ماجه په روايت كښ دا الفاظ زيات دى : دالله په نزد مبغوض ترين قاريان هغه دى چه سردارانو سره ملاقات كوى۔ ددے حديث راوى محاربى وئيلى دى چه سردارانو نه مراد ظالمان سرداران دى۔

تشريح : جُبِّ الْحُزْن : جب هغه كچه كوهى ته وئيلے شى چه چيكونه په كښ نه وى اچولے شوى، يعنى دغم او خفګان كوهے ۔ اَلْقُرَّاءُ : جمع دقارئ ده مراد ترينه علماء دى ځكه عهد نبوى كښ قاريان علماء وو، دا وجه ده چه (المراؤن باعمالهم) ئے وئيلے دے نه (بقرائتهم) بلكه دلته مراد هغه علماء دى چه اعمال او عبادات كوى خو رياء په كښ كوى، نو اشاره ده چه علم او عبادت كښ به نيت

صحيح کوي، ورنه دغه کندي ته به گذار شي. **يَعْنِيُ الْجَوَرَةَ**: جوره جمع د جائر ده ظالم ته وائي. د ظالمانو اميرانو ملاقات منع دے ورنه نيك اميرانو ته دمشورے ورکولو دپاره ورتلل عيب نه دے، بلکه ظالمانو اميرانو ته ورتللو کښ ډير شر دے چه دهغه دظلم تائيد کيږي کما مر.

درجة الحديث: رواه الترمذی (۲۳۸۳) وابن ماجه (۲۵٦) والبيهقي فی الشعب (٦٨٥١) باسناد ضعيف فيه عمار بن سيف الضبي وهو ضعيف الحديث عن ابی معاذ البصری اسمه سليمان بن ارقم متروك الحديث.فالحديث ضعيف، ولكن مثل هذا الوعيد وقع فی احاديث كثيرة وهو فی ضعيف الجامع الصغير (۲٤٦٠).

۷۱- وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«يُوْشِكُ اَنْ يَّأْتِيَ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَايَبْقٰى مِنَ الْاِسْلَامِ اِلَّا اسْمُهٗ وَلَايَبْقٰى مِنَ الْقُرْآنِ اِلَّا رَسْمُهٗ مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ وَهِيَ خَرَابٌ مِنَ الْهُدٰى، عُلَمَاؤُهُمْ شَرُّ مَنْ تَحْتَ اَدِيْمِ السَّمَاءِ مِنْ عِنْدِهِمْ تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ وَفِيْهِمْ تَعودُ».رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْاِيْمَانِ.

ترجمه: علی رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: نزدے ده چه په خلقو به داسے وخت راشي چه اسلام نه به صرف دهغے نوم باقي پاتے شي، او قرآن نه به صرف دهغے نقوش باقي پاتے شي، دهغوئ جوماتونه به په ظاهره کښ آباد وي خو حقيقت کښ به دهدايت نه خالي وي، دهغوئ علماء به ذآسمان لاندے مخلوق کښ د تولو نه بدترين خلق وي هغوئ نه به (دظالمانو دحمايت او مدد کولو په وجه) دين کښ فتنه پيدا کيږي او هغوئ ته به بيرته راواپس کيږي (يعني په هغوئ به ظلم مسلط کولے شي- بيهقي).

تشريح: **يُوْشِكُ**: قريبه ده چه داسے زمانه به راشي اوهم دا شان اوشوه چه دصحابو د وفات نه پس دا زمانه راغله اودے زمانه کښ خو دا حديث بالکل په اعلیٰ سطح واقع دے.

لَايَبْقٰى مِنَ الْاِسْلَامِ اِلَّا اسْمُهٗ: ۱- مطلب دا دے چه د شعائرو او احکامو د اسلام به صرف نوم پاتے شي او د هغے حقائق به د انسانانو د مينځ نه اووځي، لکه مونځ، روژه، زکوٰة، حج به وي دا الفاظ خو شته ليکن حقيقت ئے دانسانانو نه وتلے دے، ځکه چه مونځ کښ چه کومه خشوع اوکوم مقصد دے هغه نشته، د روژے اوزکاة او حج چه کوم مقصد دے هغه انسانان پيژني هم نۀ چه هغه د نفس پاکي او د الله رضا کول دي، بلکه دا ټول عبادات صرف د عاداتو، يا د رياء، يا د غفلت په طريقے سره اداء کولے شي.

۲- يا د اسم نه مراد دا چه علم د شعائرو به ډيرو خلقو ته حاصل وي، په احکامو به پوهيږي چه مونځ فرض دے، زکاة فرض دے، ليکن عمل به پرے نۀ کوي، لکه دا خبره هم پدے زمانه کښ زشتيني شويده.

وَلَايَبْقٰى مِنَ الْقُرْآنِ اِلَّا رَسْمُهٗ : رسم نه مراد : (١) قراءت د الفاظو دے الفاظ به ډیر ښه اداء کوی، ښه تجوید والا قاریان به وی، خو عمل به په کښې نه وی۔ ٢- یا رسم نه مراد کتابت د قرآن دے په ښائسته خط سره۔ ښه قرآن چهاپ کول، په اعلیٰ خط او ښائسته پاڼرو باندے خو لیکن قرآن چه کوم مقصد دپاره راغلے دے دهغے نه به ناخبره وی، خلق به پرے صرف قسمونه قرآنونه کوی او ناوی ته به ئے په غیره کښې ګدی، صرف تلاوتونه به ئے کوی، ختمونه به کوی، دهغے د مقصد نه به درکنار وی۔ خَرَابٌ مِنَ الْهُدٰى : دقرآن درسونو اود رسول الله ﷺ دحدیث لوستلونه به خالی وی، صحیح دین به په کښې نه بیانیږی، نودا شاړ والے دمسجد دے۔ عُلَمَاؤُهُمْ : یعنی اکثر علماء به ددغه زمانے شریان وی، تول نه دی مراد ځکه بیا به حق دین څوك بیانوی، حق پرست به هر دور کښې موجود وی، دا قضیه مهمله ده، سور دموجبه کلیه په کښې نشته، بلکه په قوت دجزئیه کښې ده۔

تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ : یعنی د دوئ نه به شر راپیدا کیږی لکه نن صبا امامان دحق خلاف کوی، حق نه بیانوی، د امامتئ د وجے نه۔ دخلقو نه مالونه او اړے خوری اودین ورته پریدی، بدعات کوی، د حق پرستو سره دشمنئ کوی، د سنت نبوی نه جوابونه کوی۔ عوامو چه کوم ګډوډ دین زده کړیدے هم په هغے باندے دوئ هم ورسره سره دعلمه روان دی۔ وَفِيْهِمْ تَعُوْدُ : خوددے فتنے او شر او وبال به بیرته دے خلقو ته واپس کیږی، عوام به ترے نفرت کوی، خلقو کښې به ذلیله کیږی، اودا بعینه واقع دے، د فکر مقام دے!!۔

درجة الحديث : رواه البيهقى فى شعب الايمان (باسناد صحيح) ولكن فى سنده بشر بن الوليد اختلط۔

٧٢- وَعَنْ زِيَادِ بْنِ لَبِيْدٍ قَالَ: ذَكَرَ النَّبِيُّ ﷺ شَيْئًا فَقَالَ: «ذَاكَ عِنْدَ اَوَانِ ذَهَابِ الْعِلْمِ قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ! كَيْفَ يَذْهَبُ الْعِلْمُ وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَنُقْرِءُهٗ اَبْنَاءَنَا وَيُقْرِؤُهٗ اَبْنَاؤُنَا اَبْنَائَهُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ؟ فَقَالَ: «ثَكِلَتْكَ اُمُّكَ زِيَادُ! اِنْ كُنْتُ لَاَرَاكَ مِنْ اَفْقَهِ رَجُلٍ بِالْمَدِيْنَةِ اَوَلَيْسَ هٰذِهِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى يَقْرَؤُوْنَ التَّوْرَاةَ وَالْاِنْجِيْلَ لَايَعْمَلُوْنَ بِشَيْءٍ مِمَّا فِيْهِمَا». رَوَاهُ اَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ وَالتِّرْمِذِيُّ عَنْهُ نَحْوَهٗ وَكَذَا الدَّارِمِيُّ عَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ.

ترجمه : زیاد بن لبیدؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ د یو څیز (یعنی فتنے) ذکر اوکړو، بیا ئے اوفرمائیل : دا به هغه وخت وی هرکله چه علم لاړ شی (دے آوریدو سره) ما عرض اوکړو، یارسول الله ! علم به څنګه لاړ شی حالانکه مونږ قرآن لولو، خپلو بچوته ئے هم ښایو، زمونږ بچی به ئے بیا خپلو بچو ته ښائی اودا سلسله به قیامته پورے جاری وی۔ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : زیاد ! ستا مور دے تا ورك کړی، ما خوته دمدینے خلقو کښې ډیر هوښیار ګنړلے، آیا دا

یهود او نصاری تورات او انجیل نه لولی، لیکن دے کتابونو کښ چه څه دی (یعنی احکام) هغے کښ په هیڅ یو عمل نه کوی (احمد، ابن ماجه) او ترمذی دغسے روایت ز یاڈ نه او دغسے دارمی د ابی امامهؓ نه نقل کړیدے۔

تعارف : دزیاد ﷺ : دده کنیه ابو عبد الله الانصاری الخزرجی دے دا مدینه کښ اوسیدو بیا نبی ﷺ طرفته مکی ته لاړو هلته ئے څه موده تیره کړه چه بیا نبی ﷺ سره مهاجر شو مدینے ته، نو ده ته مهاجری او انصاری دواړه وئیلے شی۔ لیلة العقبه او بدر اونورو غزواتو ته هم حاضر شویدے۔ نبی اکرم ﷺ دا په حضرموت باندې عامل (گورنر) مقرر کړے وو، اودا په هم دغه حال وو تردے چه نبی اکرم ﷺ وفات شو۔ دمرتدینو په قتال کښ ئے ډیر رول اداء کړیدے، اودا هم په صحابوؓ کښ دفقهاؤ نه وو، په اول د خلافت دمعاویهؓ کښ وفات شویدے۔ ﷺ۔

تشریح :وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ : ده ته دوه قسمه جواب کیدے شی : ۱- یو دا چه ستا ځامنو کښ به داسے خلق راپیدا شی چه دنیا پرست به وی علم دین به نه زده کوی، نو ځکه به دین ختم شی، ځکه هر بچے خو صالح نه وی۔ ۲- دویم جواب ورته نبی اکرم ﷺ کړیدے چه یو د قرآن لوستل دی بل په هغے باندے عمل کول دی، ستا بچی خو به دین زده کړی، قرآن به لولی، لیکن عمل به پرے نه کوی، هرکله چه عمل نه کوی د دین اصلی مقصد به خراب شی نو بیا دا عالم غیر عامل او جاهل سره برابر دی۔

فائده : په شریعت کښ علم هغے ته وائی چه باعث وی په عمل باندے چه عمل انسان کښ نه پیدا کوی نودا علم نه دے، دا سے علم خو یهودو سره هم وو، خو هغوی ته ئے هیڅ فائده ورنه کړه۔ اوپه جاهلانو کښ حساب شو۔ التَّوْرَاةَ : دا دلیل دے چه تورات او انجیل تردغه وخته پورے غیر محرّف وو۔ وروی الترمذی عنه نحوه : په دے مقام کښ مصنفؒ د سهو ښکار شویدے ځکه چه ترمذی دا روایت د ابودرداءؓ نه نقل کړیدے، نه د زیاد نه، بله وجه دا ده چه د زیاد نه یو روایت صرف ابن ماجه راوړیدے او په کتب سته کښ دده ذکر نشته۔

درجة الحدیث : دا حدیث منقطع دے وجه دا ده چه دا نقل دے دسالم بن ابی الجعد عن زیاد نه اوسالم دزیاد نه اوریدل نه دی کړی، لکه امام بخاریؒ په تاریخ صغیر کښ فرمائی : لم یسمع سالم بن ابی الجعد من زیاد بن لبید۔ اگرچه باقی رجال ئے ثقات دی۔ لیکن ابو الاشبال په تعلیق دجامع بیان العلم وفضله (۵۹۴) کښ فرمائی : واما حدیث زیاد بن لبید فاخرجه احمد (۴/۲۱۸، ۲۱۹) وابن ماجه (۴۰۴۸) وابو خیثمة فی العلم (۵۲) والحاکم والطحاوی فی المشکل من طریق سالم بن ابی الجعد عنه ورجال اسناده ثقات الا انه منقطع بین سالم وزیاد لکنه ینجبر بما قبله والله تعالی اعلم۔وصححه الحاکم ووافقه الذهبی فاسناد الحدیث حسن۔

۷۴- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ تَعَلَّمُوْا

الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوهَا النَّاسَ، تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ فَإِنِّيْ امْرُؤٌ مَقْبُوْضٌ وَالْعِلْمُ سَيُنْقَبِضُ وَيَظْهَرُ الْفِتَنُ حَتّٰى يَخْتَلِفَ اثْنَانِ فِيْ فَرِيْضَةٍ لَايَجِدَانِ اَحَدًا يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ وَالدَّارِقُطْنِيُّ.

ترجمه : ابن مسعودؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائيل : علم زده کړئ او بل ته ئے اوښائے، دميراث علم (يافرض احکام) زده کړئ او خلقو ته ئے هم اوښائے (دغسے) قرآن زده کړئ او خلقو ته ئے هم اوښائے، ځکه چه بيشکه زه يو سړے يم وفات کيدونکے، او علم به هم پورته کړے شي او فتنے به راښکاره شي تردے چه دوه سړي به يو فرض ځيز کښې اختلاف کوي او هيڅوك به داسے بيانه مومي چه دهغې دواړو په مينځ کښې فيصله اوکړي (يعنی دعلم دکم کيدو اود فتنو زياتيدو به دا حال شي) – (دارمي، دارقطني)۔

تشريح : تَعَلَّمُوْا الْفَرَائِضَ : ١– فرائض داسلام مراد دي۔ ٢– يا علم الميراث مراد دے، اوس دا علم ځکه ورك شويدے چه څوك پرے عمل نه کوي، بلکه لا نور اسلامي فرائض عام انسانانو ته نه دي معلوم۔ وَيَظْهَرُ الْفِتَنُ : دا پيشن گوئي بالکل صادقه شوه ځکه نن صبا دعلم اود قرآن او حديث په خلاف کښې دفتنو سيلابونه راوتي دي، خواهشات يو طرفته فحاشي عرياني بل طرفته دارنګه يوه فتنه دا هم ده چه يهود او نصارى کوشش کوي چه مدارس بند کړي قرآن ته د دهشت ګردئ کتاب وائي۔ علماء نيسي جيلونو ته ئے اچوي۔ او يوه فتنه دا هم ده چه طلباء او علماؤ سره د علم دين دحصول فرصت نشته د رزق اود معاش په طلب کښې د قرآن اوسنت نه غفلت دے، څوك سکولونو کالجونو ته دے دپاره ځي چه تنخواه زياته وي چه معيشت مے ښه شي طلباء په انګريزي زده کولو کښې لګيا وي کوششونه کوي او ديني علومو ته وختونه کم ورکوي۔ دا هم د علم دختميدوذريعه ده۔ او اوس دور کښې واقع ده، فالى الله المشتكىٰ۔

درجة الحديث : رواه الدارمي والدارقطني ورواته موثقون الا انه اختلف فيه اختلافاً كثيراً، قاله الحافظ وقال الترمذي : انه مضطرب۔ واخرجه الحاكم وصححه۔ وقال ابو الا شبال في تعليق جامع بيان العلم وفضله (١/ ٦٠٠) بعد ذكر القول في السند : وفي الباب عن ابي هريرة وابي بكرة وابي سعيد وكلها لا تخلومن قول شديد والاشبه انه صحيح من قول ابن مسعود ﷺ۔ وانظر المستدرك (٤/٣٣٣) والبيهقي في سننه (٦/٢٠٨) والدارمي (٢/٣٤١، ٣٤٢) من طرق عنه بالفاظ متقاربة بمعناه آهـ۔

٧٥– وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : «مَثَلُ عِلْمٍ لَايُنْتَفَعُ بِهٖ كَمَثَلِ كَنْزٍ لَايُنْفَقُ مِنْهُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ». رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو : دهغې علم مثال چه

دهغې نه نفع وانخستې شي (يعني نه چاته اوښودلې شي اونه پرې عمل اوکړې شي) دهغې خزانې په شان دې چه هغې نه د الله لار کښې هيڅ خرچ نه کړې شي.-(احمد، دارمي)-

تشريح : كَمَثَلِ كَنْزٍ لَايُنْفَقُ مِنْهُ : يعني بې فائدې علم داسې مثال لري لکه مال دولت چه نه په ځان اولګولې شي اونه په بل چا باندې او نه په ديني کارونو، جهاد وغيره کښې.-اودا تشبيه په عدم النفع والانتفاع والانفاق کښې ده ځکه کوم مال چه د الله په لار کښې او نه لګې نو هغه بې فائدې لاړو، اصل مال هغه دې چه تا آخرت ته اوليږلو، دغه شان اصل علم هغه دې چه انسان آخرت ته راکاړي او فائده ترې واخستې شي-

درجة الحديث : اسناده حسن : رواه الدارمي (١٣٤/١) واحمد (٤٩٩/٢) ورجاله موثقون قاله البيهقي-وقال ابو الاشبال في تعليق جامع بيان العلم وفضله (٤٨٩/١) اسناده حسن وابن لهيعة وان كان فيه ضعف الا ان رواية عبد اللّٰه بن وهب عنه مستقيمة فانه ممن روى عنه قبل الاختلاط و كف بعد-ودراج بن سمعان ابو السمح صدوق في روايته عامة-وروايته عن ابي الهيثم خاصة ضعيفة-وقد روى هناد بن عبد الرحمن بن حجيرة وتابعه ابو الهيثم كما اخرجه الطبراني في الاوسط (٦٩٣) ثم قال : و رجه احمد (٤٩٩/٢) والدارمي (١٣٨/١) من طريقين عن ابراهيم عن ابي العباس عنه مرفوعا به-وهذا اسناد ضعيف ثم قال : والحديث له شواهد تاتي في (٧٧٧، ١٠٨٢) وقال الشيخ الالباني في تعليق المشكاة (٩٢٥) فالحديث بمجموع الطريقين حسن، لا سيما وان له شاهدا عن ابن عمر مرفوعاً رواه ابن عبد البر آهـ-



كتاب الطهارة

د پاکئ او اوداسهٔ بیان

كتاب مصدر دے په لغت کښې ضم او جمع ته وائي، په معنى دمكتوب سره دے۔
او اصطلاح کښې هغه مسائلو مستقله ؤ ته وئيلے شي چه خاص عنوان ورکړے شوے وي برابره ده چه انواعو باندے مشتمل وي او که نه وي۔(طائفة من المسائل اعتبرت مستقلة، سواء اشتملت انواعاً اولم تشتمل)۔ دے تعريف کښې طائفة من المسائل لفظ په منزله دجنس دے او د اعتبرت مستقلة معنى دا ده چه قطع نظر ددے نه چه دا تابع دغير وي، يا غير تابع دده وي، نو كتاب الطهارة ته هم شامل دے اگرچه ددے مسائل تابع دصلاة دي، اوصلاة ددے متبوع دے۔
اشتملت انواعاً اولم تشتمل، يعنى برابره خبره ده چه لاندے ترے انواع وي اوكه نه وي، نو كتاب المفقود، كتاب اللقطة او هغه کتابونو ته هم شامل دے چه تول مسائل ئے يوه نوع وي، خو كه انواع ترے لاندے وي نو هره يوه نوع به په باب سره مسمى کولے شي او هغه اشخاص چه ددے نوع لاندے وي هغه ته به فصول وئيلے کیږي۔ کتاب په منزله دجنس دے او باب په منزله د نوع دے، يعنى کوم مسائل چه دجنس حيثيت لرى كليات وى نو هغه مسائل په کتاب کښې راوړلے شي، اوكوم مسائل چه دنوع حيثيت لرى هغه په باب کښې راوړلے شي۔
په دے مقام کښې څو بحثونه دي : ١– اول: مناسبت ددے کتاب دماقبل سره۔ ٢ – دويم معنى لغوى او اصطلاحى دطهارت۔ ٣ – فرق بين الطهارة والنظافة۔ ٤ – اقسام الطهارة۔
١– اول بحث : مناسبت ددے کتاب د ماقبل سره دا دے چه ابتداء کښې کتاب الايمان ذكرشو چه دا اصل دتولو عباداتو دے او مرتب عليه د ثواب، د علم اود عمل دے، بيا د ايمان نه روسته ددين دارو مدار په عباداتو او معاملاتو او عقوباتو باندے دے، ليكن ددے تولو دپاره علم زده کول ضروري دي، نو ځکه ئے دے باندے كتاب العلم مقدم کړو۔بيا دهغے نه پس عبادات ئے په معاملاتو، عقوباتو، او آدابو باندے مقدم کړو، د وجے دا هتمام شان دهغے نه، ځکه دا مقصود دے د پيدائش دبنده نه۔ بيا په عباداتو کښې ډير اهميت لرونکے مونځ دے ځکه ئے دا مخکښې کړو، ليكن طهارت وغيره دا مفتاح اوچابي ده دمانځه دپاره اوموقوف عليه دے دپاره دمانځه نو ځکه ئے طهارت مقدم کړو په صلاة باندے۔دارنگه اول شرط دے دپاره دمانځه اودا په هيڅ حال کښې نه ساقطيږي، نودا اصل دے ځکه ئے مقدم کړو۔ دارنگه احكام ئے هم ډير دي۔نو كثرت د احكامو دده مرجح شو دپاره دتقديم دده۔
٢ – بحث : معنى لغوى د طهارت دا ده چه طهارت كه فتحه دطاء سره شي نو په لغت کښې

نظافت اوپاکوالی ته وائی۔ اوکه په کسره دطاء سره شی نو بیا آله د نظافت ته وائی۔ اوکه په ضمه د طاء سره شی هغه اوبو ته وائی چه پاکوالے راولی۔ اوپه شریعت کښې: (نظافة البدن والثوب والمكان من الحدث والخبث، وفضلات الاعضاء)۔(یعنی دبدن، جامے او مکان پاکوالے دظاهری او معنوی گندگئ نه اودغسے داندامونو گندگی لرے کولو ته طهارت وائی)۔

۳ – **بحث: د طهارت او نظافت ترمینځه فرق** دا دے چه طهارت (زوال النجاسة) (پلیتی لرے کولو) ته وائی۔ او نظافت (زوال المستقذرات والاوساخ) (خیری او طبیعت بد گنړونکی خیزونه لرے کولو) ته وائی۔ یعنی طهارت کښې دنجاست نه پاکوالے وی، کوم سره چه مونځ نه روا کیږی، او په نظافت کښې پاکوالے د هغه گندگی او خیری وی، کوم چه طبیعت بد گنړی اگرچه مونځ وغیره ورسره جائز وی۔

٤ – **بیا طهارت اولاً په دوه قسمه دے:** ١ – یو طهارت من النجاسة المتعلقة بالبدن والثوب والمکان (چه د هغه نجاست نه چه متعلق د بدن او جامے او مکان وی) دے۔

٢ – دویم طهارة من الاوساخ والدرن التی تنبت من البدن)۔(یعنی دخیرو نه ځان پاکول)۔لکه زیر ناف وینښته صفا کول، د ترخ وینښته ویستل۔ دا دواړه قسمونه په هرانسان کښې موجودیږی، برابره خبره ده که هر قوم کښې وی، که په هر دین روان وی، خو ددے طهارت لحاظ ساتی۔ دا د طبیعت مطابق طهارت دے۔ ۲ – **بل هغه طهارت** دے چه په هغے باندے قرآن او سنت حکم کړیدے نو دا په دوه قسمه دے: ١ – یو طهارت ظاهریه۔ ٢ – بل طهارت باطنیه۔

بیا طهارت ظاهریه په دوه قسمه دے:

١ – طهارت عامه، اودیته طهارت کبریٰ وائی۔ ٢ – طهارت خاصه، اودیته طهارت صُغریٰ وئیلے شی۔ طهارت عامه هغے ته وائی چه دهغے تعلق دتول بدن سره وی، یعنی تول بدن پاکول دهغے په وجه ضروری وی، یعنی غسل کول، لکه دَ جماع اوخروج المنی او حیض، اونفاس وغیره نه چه کوم طهارت کیږی۔ اوطهارت خاصه هغه دے چه دهغے تعلق د احدِ السبیلین وغیره سره وی لکه بول وبراز او ریح وغیره نه بعد چه کوم طهارت حاصلیږی هغے ته طهارت خاصه وائی، دارنگه دمانځه دپاره طهارت باطنیه هم ضروری دے لکه طهارة القلب من الاخلاق الذمیمة، (زړه د بدو اخلاقو اوصفاتو اود غلطے عقیدے اوریاء نه پاکول، او اندامونه دگناهونو نه پاکول) لکه آیت کښې دی ﴿قد افلح من تزکی وذکر اسم ربه فصلی﴾ [اعلیٰ: ١٤، ١٥] داته د مانځه سره تزکیه دباطن ذکر کړے شویده، چه لکه ځنگه چه طهارت دظاهر ضروری دے نو باطنی طهارت حاصلول هم ضروری دی، (فصلی) ئے ورپسے روستو طهارت ظاهری راوړو۔

دا وجه ده چه یو حدیث د ترمذی (١/١٨) کښې راغلی دی چه اودس کونکے ډیر داوداسه نه بعد داسے دعاء اووائی: (اللهم اجعلنی من التوابین واجعلنی من المتطهرین) اودا به د: اشهد ان لا اله الا الله

وحده لاشريك لـه واشهد أن محمدا عبده ورسولـه – نـه روسته وائي ـ وصححه في ارواء الغليل (١٣٥/١) ځکه چه په اودس سره طهارت دظاهر راغلو نو په توبه سره به طهارت د باطن حاصل شي، او کله چه دواړه طهارتونه حاصل شي نو انسان دمناجات مع الله قابل شي، نو په مانځه کښې ئې ډیر تاثیر وي۔ بیا طهارت مصدر دے داسم جنس پشان دے په قلیل او ډیر تولو باندے ئې اطلاق کیږي، دا وجه ده چه مصنف طهارت مفرد ذکر کړو ځکه په دے کښې هر قسم طهارت، طهارت د وضوء، دغسل، دتیمم، د ثوب ټول داخل دي۔او کوم ځائے چه الطهارات جمع راغلے دے نو هغه په اعتبار دتعدد دانواعو سره مراد وي۔ بیا په دے مقام کښې مسائل اوفضائل دواړه بیانیږي، اولًا فضائل بیانوي، بیا مسائل ځکه فضائلو سره اول شوق دعمل پیدا شي نو انسان عمل ته تیار شي۔نو دلته باب مقدر دے (باب فضائل الطهارة) ۔

الفصل الاول

١ – عَنْ اَبِيْ مَالِكٍ الْاَشْعَرِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْإِيْمَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَأُ الْمِيْزَانَ وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَآنِ اَوْ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ وَالصَّلَاةُ نُوْرٌ، وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ اَوْ عَلَيْكَ، كُلُّ النَّاسِ يَغْدُوْ فَبَائِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا اَوْ مُوْبِقُهَا ».رَوَاهُ مُسْلِمٌ.وَفِيْ رِوَايَةٍ: « لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ تَمْلَآنِ مَابَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ ».لَمْ اَجِدْ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ فِي الصَّحِيْحَيْنِ وَلَا فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَلَا فِي الْجَامِعِ وَلٰكِنْ ذَكَرَهَا الدَّارِمِيُّ بَدَلَ «سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ».

ترجمه : ابو مالك اشعري نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : پاکي نیم ایمان دے او الحمد لله وئیل (داعمالو) تله ډکوي، اوسبحان الله او الحمد لله ډکوي یا وے فرمائیل دے کښے هره یوه کلمه ډکوي هغه څیز چه دآسمانونو اوزمکے مینځ کښې دے، مونځ نُور دے، صدقه دلیل دے، صبر کول رڼرا ده، او قرآن ستا دپاره یا ستا په ضد دلیل دے، هر سړے چه کله صبا کوي نو خپل ځان خپل کارونو کښې خرڅوي (یعني ...) نو هغه خپل ځان آزاد وي یا هلاکوي (مسلم) او یو روایت کښې دي چه لا اله الا الله والله اکبر هغه څیز ډکوي چه دآسمانونو اوزمکے ترمینځه دي (صاحب مشکوٰة فرمائي چه) ما دا روایت نه بخاري کښې بیاموندہ، نه مسلم کښې اونه د حمیدي کتاب اوجامع الاصول کښې، البته دارمي دا روایت په ځائے دسبحان الله والحمد لله ذکر کړیدے (نو صاحب مصابیح دا روایت فصل اول کښې نقل کول درست نه شو)۔

تعارف : د ابو مالك ﷺ : دده په نوم کښې اختلاف دے بعض وائي عبید دے، بعض وائي عمرو دے، بعض وائي : کعب بن کعب دے، نوراقوال هم شته، صحابي دے او په خلافت د عمر ﷺ

کښې په طاعون عمواس کښې په سنه (١٨ هـ) کښې وفات شویدے۔ په صحابوؓ کښې دوه کسان نور هم شته د ابو مالك اشعری په نوم باندے۔ د یو نوم حارث بن الحارث الاشعری دے چه د ترمذی د راویانو نه حساب دے۔ د دویم نوم کعب بن عاصم الاشعری دے دا د نسائی، ابن ماجه راوی دے۔ امام بخاریؒ په خپل تاریخ کښې وئیلی دی چه ددے ابو مالك الاشعری (چه حدیث د الطهور شطر الایمان ترے نقل دے) نه مراد همدا کعب بن عاصم دے، لیکن صاحب المرعاۃ (٢/٢) دے خبرے ته ترجیح ورکړیده چه دا ابو مالك الاشعری جدا دے د هغه دواړو نه، دا حارث بن الحارث هم نه دے ځکه چه د هغه وفات ډیر روسته شویدے او کعب بن عاصم هم نه دے ځکه چه د هغه نه صرف ام الدرداءؓ او جابر بن عبد اللهؓ روایت نقل کوی، نه بل څوك، بلکه دا ابو مالك هغه دے چه ددے په نوم کښې اختلاف دے کما مر۔ تردے چه حافظ ابن حجر په مقدمه کښې لیکی چه دده نوم نه دے معلوم، او په خلافت د عمر ﷺ کښې وفات شویدے، کما مر۔

تشریح : اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ : طهور په ضمه د طاء سره پاکوالی ته وائی (یعنی التطهیر) اودس کول۔ او په فتحه د طاء سره هغه اوبو ته وائی چه پاکوالے راولی، ﴿ وانزلنا من السماء ماء طهوراً ﴾۔ [الفرقان:٤٨] نو دلته به مضاف ملګرے کولے شی (ای استعمال الطهور)۔ (یعنی استعمال د اوبو) لیکن سیبویه وائی چه په فتحه د طاء سره شی نو په اوبو او پاکوالی دواړو باندے ئے اطلاق کیږی۔ اوشطر دوه معنے نری : ١- په معنی د نصف (نیم) سره لکه بل روایت د ترمذی ابواب الدعوات کښې داسے الفاظ وارد دی : (الطهور نصف الایمان) ۔روستو د مشکوۃ په فصل ثالث (١٥) نمبر حدیث کښې هم دا الفاظ راغلی دی۔ ٢- حصه د ایمان۔ اول غوره دے ځکه (الحدیث یفسر بعضه بعضاً) ۔ (یو حدیث د بل تفسیر وی)

اشکال او د هغے ازاله : بیا دلته سوال دے چه طهور نیم ایمان څنګه کیدے شی ځکه ایمان کښې خو عبادات، معاملات، آداب وغیره هم داخل دی، نو مونځ نیم ایمان نه دے ګرځولے شوے او اودس نیم ایمان اوګرځولے شو؟۔ نو ددے نه یو څو جوابونه ورکړے شویدی :

١- **اول جواب** دادے چه : شطر (چه دے حدیث کښې ذکر دے) په معنی د جزء او حصے سره دے، نو هیڅ اشکال نشته، ځکه چه طهور هم یوه حصه د ایمان ده نو بناء په دے باندے مذهب د جمهورو علماؤ ثابت شو چه اعمال داخل دی په ایمان کښې۔ لیکن دا جواب ضعیف دے وجه دا ده چه په روایت د ترمذی کښې نصف الایمان هم راغلے دے نو هغه سره به څه کوے، نو اشکال باقی پاتے کیږی۔ دویم دا چه داسے خو بیا هر عمل د ایمان جزء دے نو د اودس د تخصیص څه فائده شوه؟۔ ٢- **دویم جواب** دا دے چه طهارت په دوه قسمه دے : ١-طهارت ظاهره۔ ٢- طهارت باطنه۔ نو په وضوء سره طهارت ظاهره حاصلیږی، او په باقی اعمالو او ارکانو د ایمان سره باطن پاکیږی نو ځکه اودس نیم ایمان شو۔

۳- **دريم جواب** دا دے چه شطريت په اعتبار داجر اوثواب سره دے ځكه اجر دهر شئ دوه قسمه دے۔ يو اصلي اجر دے، اودا لگ وی، اويل عارضي اجر دے اودا ډير وی، يعني يو بنده د نفس عمل كولو په ذريعه سره چه دكوم اجر مستحق گرځي د الله دطرفنه هغه اجر اصلي دے، او اجر عارضي هغه دے چه الله تعالى ئے بنده ته داخلاص اوډير بے توجه كولو په وجه سره زيات وركوي تفضلًا او احساناً په ورځ دقيامت كښې دخپل وسعت رحمت په بناء باندے۔لكه الله تعالى فرمائي : ﴿ والله يضاعف لمن يشاء ﴾ [البقرة : ٢٦١] او فرمائي : ﴿ ويزيدهم من فضله ﴾ [فاطر : ٣٠] يعني په كوم عمل باندے چه كوم اجر مرتب وی هغه اصلي دے اوكوم چه دهغے نه زيات وی هغه اجر عارضي دے۔دارنگه د ايمان هم يو اجر اصلي اويل عارضي دے نود اودس (طهارت) اجر عارضي د ايمان د اجر اصلي نصف دے او بالعكس نه دے۔ دارنگه د اودس اصلي اجر د ايمان د اصلي اجر نيم كيدل اود اودس عارضي اجر د ايمان دعارضي اجر نيم كيدل نه دی مراد بلكه د طهارت اجر عارضي دا برابردے داجر اصلي دايمان سره۔او اجر عارضي د ايمان نه دے برابر د اجر اصلي دطهارت سره ، بلكه زيات دے ترينه۔دا هم اجتهادی جواب دے د قرآن او سنت خلاف نه دے۔ نو نقل كول ئے جواز لری۔

٤- **جواب دقيق** : امام غزالي او ابن القيم - رحمهما الله - وركړيدے، او هغه دا چه دطهارت څلور اقسام دی : ١- طهارة الظاهر عن الانجاس والاحداث والفضلات (ظاهر پاكولو د پليتو، بے اودسو او فضله جاتو نه)۔ ٢- طهارة الاعضاء والجوارح عن الآثام۔(يعني دگناهونو نه ځان پاكول، لكه په ستركو، خوله، لاس وغيره باندے گناهونو كولو نه ځان ساتل)۔ ۳- تطهير القلب عن الاخلاق الذميمة۔(يعني د زړه نه بد اخلاق ويستل)۔

٤- طهارة القلب عما سوى الله ومحبة غير الله) (زړه د غير الله د محبت نه پاكول)۔بيا په دے اقسامو او مراتبو كښې په هر قسم كښې دوه دوه مقامات دی : ١- يو مقام التخلية، (يعني پاكی حاصلول)۔لكه انسان چه يو كورته راځي نو اول ئے صفا كړی روستو پرے گُل كاری كوی، نو تخليه صفائی شوه او تحليه ښائسته كول شول۔ ٢- دويم مقام التحليه يعني ځان ښائسته كول، نو په دے ځائے كښې صرف تخليه ذكر ده، او تحليه نه ده ذكر چه هغه ايمان دے يعني دا اندامونه په ښائسته عبادتونو سره مزين كول۔نو په حديث د الطهور كښې څلور واړه اقسام راغلے نو دے سره مقام التخليه حاصل شو، او بيا چه په ځان كښې ښائسته صفات پيدا كړے، د الله عظمت او محبت پيدا كړے، ښه ښه اعمال كوے نو په دے سره به تحليه حاصله شي۔نو ايمان مركب شو د تخليه او تحليه نه، نو تخليه په دے حديث كښې ذكر شوه، او تحليه به د بهر نه حاصل كړے نو په دے اعتبار سره (طهور) نصف الايمان شو۔

٥- **پنځم جواب** دا دے چه طهور نصف الايمان ځكه دے چه ديته په هر عبادت كښې

ضرورت دے، د حائضے زنانه روژه نيول، حج كول بلا طهارت صحيح نه دی، دارنګه مونځ بغير دطهور نه صحيح نه دے، دا وجه ده احاديثو كښ راځی چه دبيمار تپوس كولو نه مخكښ اودس كول، اويا عام اوقاتو كښ په اوداسه كښ اوسيدل اجر اود مؤمن صفت ښودل شويدے، نو طهور يو طرفته او باقی اعمال بل طرفته كړه، نو طهور په دے معنی نصف الايمان جوړيږی، دا وجه ده حديث كښ راځی (ولا يحافظ على الوضوء الا مؤمن) يعنی د اودس اهتمام نه كوی مګر مؤمن سړے۔ مومن به په اودس باندے حفاظت او اهتمام كوی۔

بيا په دے باندے بله مسئله تفريع ده، احناف وائی اودس عبادت مستقله محضه نه دے، بلكه وسيله دعبادت ده، چه هغه مونځ دے۔ نو نيت په كښ شرط او ضروری نه دے۔ ليكن دا خبره ضعيفه ده ځكه كله چه طهور نصف الايمان شو، نو عبادتِ مستقله محضه شو۔ ځكه ايمان عبادت محضه دے۔ نو نيت په اودس كښ ضروری شو، ځكه چه هيڅ عبادت بلا نيته نه وی۔ باقی تفصيل ددے مسئلے په حديث د انما الاعمال بالنيات كښ تير شويدے۔

٦- شپږم **جواب**: ملاعلی قاریؒ فرمائی: طهور ته نصف الايمان په دے معنی باندے وئيل شويدے چه په ايمان او اسلام سره صغائر او كبائر دواړه قسمه ګناهونه معاف كيږی (الاسلام يهدم ما كان قبله) او په وضوء سره صرف صغائر معاف كيږی۔ نو چه دواړه قسمه ګناهونه نه وی نو كامل او پوره ايمان دے، او چه كبائر نه وی او صغائر وی نو ناقص او نيمګړے ايمان دے۔ نو نصفيت دطهور صحيح شو۔ ددے جواب نه جمهور استدلال كوی په دے چه اوداسه كښ نيت شرعاً شرط دے ځكه چه اودس ديته وائی چه (عبادة شرعية مستقلة لا تصح الا بالنية) (دا هغه شرعی مستقل عبادت دے چه بغير د نيت نه صحيح نه دے) كه نيت نه وی نو ګناهونه نه رژوی۔ ٧- **اووم جواب**: دا هم شويدے چه طهور ته نصف الايمان وئيل مبالغةً دی، يعنی دے كښ ډير اجر دے ګويا كښ نيمه حصه دايمان ده، اوحقيقةً نيمه نده، بلكه دا هتمام شان د وجے نه مبالغه شويده۔ مخكښ جوابونه اصح دی۔

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ: ١- ددے جملے د ماقبل سره مناسبت په ظاهره كښ نشته، اود نبی ﷺ د بيان طريقه دا وه چه په يو بيان كښ به ئے مختلف خبرے كولے، هر يو كښ به جدا جدا حكم وو، نو ددے مناسبت دِے هم د ماقبل سره رانشی، داځه عيب نه دے۔

٢- يا مناسبت دا دے چه مخكښ الطهور كښ ظاهری پاكی ده، او الحمد لله سره باطنی پاكی حاصليږی۔ ذكر اذكار سره دانسان زړه پاكيږی۔

بيا تملا الميزان: ظاهره معنی دا ده چه الحمد لله كله تا اووئيله اوته په ايمان كښ وے نو په دے سره به ستا دميزان تله دقيامت په ورځ ډكه شی، يو الحمدلله كښ الله دومره طاقت اچولے دے چه ميزان ورسره ډكيږی۔ او سبحان الله سره نيمائی ميزان ډكيږی۔ اوددے دا مطلب نه دے

چه بس الحمد لله ډې اوږيله نو ستا ميزان ډك شو، نور عملونو ته حاجت نشته، يانور مه وايه په يو خل وئيلو باندې ډك شو، نه الحمد لله كښې الله دا طاقت اچولې دې چه دې سره ميزان ډكيږي اوس ته به ئې وې خو كله به درله ميزان ډك كړي، كله چه په ښائسته طريقه او اخلاص سره دې لوستې وي، او كله به درله اجر پرې درنه كړي، او كله به درله نيم ميزان ډك كړي ځكه تابه هغه شان توجه سره نه وي لوستې په كومه طريقه چه د الله منشاء وي. بيا دلته سوال دې چه هر كله الحمد لله سره ميزان ډك شو نو دا نور عملونه به په كښې څنګه ځائيږي، لكه سونځ، روژه، زكوة، حج او داسې نور عبادات، ځكه كله چه يو شې يو ځائې ډك كړې نو د نورو څيزونو ځائې خو پاتې نشي؟ نو ددې جواب دا دې چه دا هغه امور دي چه د ايمان سره تعلق لري، په دې كښې عقل چلولو ته حاجت نشته، الحمد لله باندې به ميزان ډكيږي او نور اعمال به په كښې هم كيښودلې كيږي الله په دې حقائقو ښه پوهيږي، دنيا كښې په دې حقائقو نه پوهيږو، او بعض علماء ئې داسې مثال وركوي لكه انوارات چه يو بلب ډيوه په يو كمره كښې اولګوه هم كوټه پرې رنړا شوه. او كه زر بلبونه او ډيوې اولګوې نو هم كمره پرې رنړا كيږي، اګرچه رنړا به زياته وي، نو په نور اعمالو سره به ميزان نور هم زيات درنيږي، نو دا انوارات د يو بل سره ضد نه دي، د يو بل مزاحم نه دي، نو دارنګه اعمال هم دي.

فائده جليله : معتزله او جهميه داعمالو د وزن (تللو) نه انكار كوي، او دا وائي چه اعمال خو اعراض دي او مستحيل البقاء دي اذا وجدت فتلاشي، (كله چه موجود شي نو بس ختم شي) او بقاء هم عرض دې نو بيا قيام العرض بالعرض لازميږي او دا محال ده. نو څنګه به او تللې شي، يعنې چه عمل دبدن نه يا دخولې نه الحمد لله لفظ خارج شو نو دا فاني او معدوم شو، نو ددې وزن محال دې. ليكن دوئ ته دا جواب وركولې شي چه د دوئ داخبره خطاء ده ځكه بقاء معنى ده دوام الاستمرار، يو شې مستمر (هميشه) كول، نو قيام العرض بالعرض نه راځي.

۲- بله دا چه دا چا وئيلي دي چه اعمال اعراض دي بلكه الله تعالى به قيامت كښې هر عمل له جسم وركوي نو تلل ئې محال نه دي،

تول به د څه كيږي : هر كله چه تول كيږي نو بيا به څه شې تللې شي؟ نو هغه وزن د درې څيزونو كيږي : **۱- يو** سجلات (صحائف الاعمال) د اعمالو رجسټرونه، لكه حديث دتسع وتسعون سجلات كښې راځي. **۲- دويم قسم :** ابدان به تلل كيږي، لكه په حديث دبخاري كښې دي (انه ليوتى بالرحل العظيم السمين يوم القيامة لا يزن عند الله جناح بعوضة) ابن ماجه (۴۲۸/۲).

۳- دريم قسم : اعمال به تللې شي ليكن دې له به الله تعالى جُثه او شكل وركوي، لكه ددې مثال ډير احاديثو كښې شته دې لكه حديث كښې دي مرګ به دقيامت په ورځ دګډ په شكل راوستې شي او د جنتيانو او جهنميانو مخامخ به ذبح كړې شي او آواز به اوكړې شي دوارو طبقو

ته چه (خلود لا موت) همیشه اوسیږئ مرگ ختم شو۔ دارنگه دنیا به دبدشکله بوډئ په شکل اوصورت راوستے شي۔ حدیث کښې دي : نیك عمل به انسان ته په قبر کښې د ښائسته خوشبویه سړی په شکل رانزدے شي او بد عمل به د بد شکل بد بویه انسان په صورت کښې راښکاره شي)

٢- **بل جواب** دا دے چه الله تعالی په دے باندے قادر دے چه اعراض اوتلی ځکه چه هغه ئے خالق دے نو تلل ئے هغه ته هیڅ مشکل نه دي، اودا تلل صرف مونږ انسانانو ته مشکل ښکاري، دا لا څه چه انسانانو ته هم دا مشکل نه دي، ځکه تبه عرض دے او هواء، گیس (سی این جی) عرض دے، گرمي، یخني اعراض دي اوډاکټران او سائنسدانان ئے په ترمامیټر او آکسیجن مشین باندے تلي، خو صرف جهمیه اومعتزله کم عقلو ته دا مشکل ښکاریدو، او خپل عقل ئے دشارع د دین نه مخکښې گنړو، او عقل ئے د دین نه تابع کولو، اوس هم دهغوی بچي شته دے چه ددین بعض احکام په عقل فاسدکاسد سره تلي اوچه ورسره موافق نشي نو دین لره لته ورکوي اورد کوي ئے (عصمنا الله من کسبهم) بیا ئے دا جمله دالطهور نه روسته په دے وجه ذکر کړه چه په الطهور کښې تخلیه ده اوپه دے جمله سره تحلیه حاصلیږي او تحلیه روسته ده دتخلیه نه۔ بیا میزان دومره لوئی دے لکه دآسمانونو اوزمکو په مقدار کما فی حدیث المستدرك کتاب الاهوال ٤/٦٢٩) کله چه دا الله پیدا کړو ملائکو اووئیل : دے کښې به دچا اعمال تللے کیږي، الله تعالی اوفرمائیل : من شئت من خلقي ۔(کوم مخلوق ته چه زما اراده اوشي)

الفائدة النفيسة – اسباب ثقل الميزان :

دمیزان (د تلے) د دروندوالي دپاره په شریعت کښې ډیر اسباب دي :

١ - یو په توحید قبلولو سره میزان درنیږي، لکه په حدیث د تسع وتسعون سجلات کښې دے ته اشاره ده۔ ٢- دویم سبب : اتباع دحق که د هرچا سره وي میزان درنیږي، او په اتباع د باطل سره میزان خفیف او سپك گرځي، دا وجه ده ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه منقول دي (انما ثقلت موازین من ثقلت باتباعهم الحق، وحق لميزان يوضع فيه الحق ان يثقل، وخفت موازين من خفت باتباعهم الباطل، وحق لميزان يوضع فيه الباطل ان يخف)۔(د چا تله چه درنه شوه نو دا په دے سبب چه دوی د حق اتباع اوکړه او لائق ده د یو میزان سره چه حق په کښې کیخودے شي چه دا به درنیږي او سپکے شوے تلے د هغه چا چه سپکے شوے په سبب د اتباع د باطل سره او لائق ده د یو میزان دپاره چه باطل پکښې کیخودے شي چه دا به سپك کیږي) ٣- اتباع دسنت سره میزان کښې ثقل پیدا کیږي، مفسرینو ددے آیت ﴿ فمن ثقلت موازينه فاولئك هم المفلحون ﴾ سوره المؤمنون) : لاندے لیکي : (فمن ثقلت موازينه باعتبار الكيفية وهي اتباع النبي عليه السلام) ۔(د چا د عملونو تلے چه درنے شوے په اعتبار د کیفیت سره چه هغه اتباع د نبي علیه السلام ده) ٤- په ښائسته اخلاقو سره

ميزان كښې ثقل اودروند والې راځي، حديث كښې دي : (ما من شئ اثقل في ميزان المؤمن يوم القيامة من حسن الخلق - ترمذي : ٢/٢١) ـ ٥- پنځم : طول الصمت : (د بې ځايه غير مفيد خبرونه چپ كېدل)، لكه په حديث د ابوذرؓ كښې دي. ٦- د الله په ذكر اوياد ولو سره لكه په دې حديث كښې دي (سبحان الله او الحمد لله كلمات لوستل)۔

٧- په هر عمل كښې اخلاص پيدا كول سبب د ثقل الميزان دے۔

فائده : دلته دوه كلمات ذكر دي : الحمد لله، سبحان الله۔ بل روايت كښې : لا اله الا الله، الله اكبر ذكر دي۔ دے څلورو كلماتو ته په سوره كهف او مريم كښې الباقيات الصالحات وئيلے شويدي۔

٢- دارنګه ديته كلمات جامعات لصفات الله تعالى وائي۔(هغه كلمات چه د الله صفات ئے راجمع كړيدي) په دے وجه دا كلمات افضل دي په اعتبار د ذكر سره۔ روستو كتاب الدعوات كښې به ذكر كړے شي چه څوك دځانه كلمات جوړوي په ذكر كښې لكه هُو، هُو، اللهُ، اللهُ ذكر كوي نو دا بدعت دے ، ځكه نبي عليه السلام دے كلماتو ته افضل اوغوره وئيلي دي۔حديث كښې دي (ما اصطفى الله لملائكته) دا كلمات الله دملائكو دپاره غوره كړيدي هغوى هم دا كلمات لولي)، اوجنتيانو ته به ددے كلماتو الهام كيږي (يلهمون التسبيح والتكبير)۔اوپه روايت د مسلم كښې دي (هن من القرآن) دا قرآن كښې هم دي، اوس وجه د جامعيت ددے كلماتو څه ده ؟ نو وجه دا ده چه سبحان الله كښې ټول صفات سلبيه ته اشاره ده، يعني الله پاك دے د ټولو عيبونو او نقصاناتو نه لكه (لا تاخذه سنة) (لم يلد، ولم يولد)، (ليس كمثله شيئ)، (هل تعلم له سميا) شو۔ دا ټول ئے راګير كړيدي، او الحمد لله كښې ټول صفات ثبوتيه دي اودا ډير زيات دي۔

په دے وجه الحمد لله ډيره غوره ده دسبحان الله نه ځكه ثبوت غوره وي دسلب نه۔ دا وجه ده چه الحمد لله يواځے ميزان ډكوي۔او صفت سلبي هله كمال دے چه كله متضمن شي صفت ثبوتي لره دا وجه ده چه قرآن او سنت كښې صفات سلبيه دالله تعالى ډير كم دي۔او الحمد لله كښې صفات ثبوتيه دي، اودا بعينه كمال دے اودا په قرآن او سنت كښې زيات بيان شويدي، په خلاف دعادت دمتكلمينو چه هغوى د الله تعالى صفات سلبيه زيات بيانوي او په هغے طريقه سره سلب كوي كوم سره چه شريعت نه دے نفي كړے لكه دخپل ذهن مطابق نفي كوي، لكه داسے وائي (ليس بمركب ولامتبعض ولا جوهر ولاعرض، ولايتمكن في مكان) (الله مركب نه دے اجزاء ورله نشته، جوهر نه دے عرض نه دے مكان كښې ئے قرارے نه دے نيولے) بلكه په بعض مقاماتو كښې د الله نه هغه صفت منفي كوي كوم چه هغه خپل ځان دپاره ثابت كړيدے لكه استواء على العرش، يد، ساق وغيره۔اوغلط تاويلات په كښې كوي، او دوئ الله لره دخپل ذهن مطابق جوړول غواړي۔

او لا اله الا الله كښې صفات د وحدت ته اشاره ده لكه الواحد الاحد الصمد۔ هر صفت چه دليل

وی په تفرد او وحدت باندے هغه په دے کښ داخل دے۔او الله اکبر کښ هغه صفات داخل دی چه ما فوق الادراك والعقل وی، لکه العلی المتعال۔نو دالله دا ټول صفات دے کلماتو راګیر کړیدی ځکه جامع کمالات دی۔ تملان : داخو ظاهره ده چه دواړو ته ضمیر راجع دے ۔ او تملا : کښ کل واحدة ته ضمیر راجع دے۔یعنی د سبحان الله او الحمد لله دواړو په ذریعه د آسمان نه تر زمکے پورے دا ټوله فضاء او خالی ګاه ډکیږی۔یعنی که ددے ثوابو نه مجسم شوی وے نو دا فضاء به ئے ډکه کړے وے۔ یا دا محمول دے پدے چه په دویم عالم کښ اقوال، اعمال او معانی نه جسد او شکل جوړیږی او دغه شان فضاء ډکوی۔ او ددے معلومات به د قیامت په ورځ کیږی۔

وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ اَوْ عَلَيْكَ : یعنی قرآن به ستا دپاره دلیل وی دقیامت په ورځ که عمل دے پرے اوکړو لکه حدیث کښ دی : (القرآن شافع مشفع، وماحل مصدق (شعب الایمان ٢/٣٥١) (د قرآن داسے سفارشی دے چه سفارش ئے قبلیږی اوداسے جګړه مار دے چه تصدیق ئے کیږی)۔

يَغْدُوْ : یعنی صبا کوی یا سحر کښ مزل کوی۔ یعنی هر چا باندے چه صبا راځی نو د هغوی دغه دوه حاله وی څوك ګناهونو طرفته روانیږی او څوك نیك اعمالو طرفته۔

فَبَائِعٌ نَفْسَهٗ : هر انسان ځان خرڅوی، نو څوك ځان په نیکو ورخرڅ کړی او د هغے بدله حاصله کړی نوځان د اور نه بچ کړی اوڅوك ځان په ګناهونو ورخرڅ کړی، او د هغے بدله کښ اور حاصل کړی نو ځان هلاك کړی۔ فَمُعْتِقُهَا : پس بعض ځان آزادونکے دے د الله دعذابونو نه لکه مسجد ته روان شی، بلے نیکئ پسے روان شی۔ اَوْ مُوْبِقُهَا : یا ځان هلاکونکے دے چه درمسال او ګیرجے ته روان شی، یا دوکان ته روان شی اود الله دعبادت او مونځ پرواه نه لری۔

وفی روایة : دا د دارمی روایت دے۔ دلا اله الا الله والله اکبر هم دا فضیلت دے چه د آسمان نه تر زمکے پورے فضاء ډکوی۔ او تعارض په کښ نشته۔ وَالصَّلَاةُ نُوْرٌ : ١- یعنی نور دے په قبر کښ۔ ٢- یا نور دے په تیارو دقیامت کښ لکه آیت کښ راځی ﴿ یسعی نورهم بین ایدیهم وبایمانهم ﴾ [الحدید : ١٢] او روستو حدیث کښ راځی چه دمانځه پابندی چه چا کوله نو (کانت له نورا یوم القیامة) ٣- یا نور فی الوجه (یعنی په مخ کښ دمانځه په وجه رڼائی پیدا کیږی) ﴿ سیما هم فی وجوههم من اثر السجود ﴾ [الفتح : ٢٩] ۔ ٤- یا نور نه مراد سبب دے دپاره دحاصلولو دنور یعنی دکثرت صلاة په وجه سره انسان ته معارف او انشراح القلب (زړه کولاو والے)حاصلیږی، چه دهغے په وجه ئے بصیرت کښ زیاتوالے پیدا کیږی اوفراست ئے مضبوطیږی۔

٥- یا بناء دے په تشبیه باندے یعنی لکه څنګه چه د رڼړا په وجه انسان د هر قسم تیارو نه بچ کیږی، دغه شان دمانځه په وجه د فحشاء اوهر قسمه معاصی نه بچاؤ حاصلوی، لکه قرآن کښ دی : ﴿ ان الصلاة تنهی عن الفحشاء والمنکر ﴾ [العنکبوت:٤٨]

وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ : صدقه دصدق نه ماخوذ دے په دے سره صدق د ایمان معلومیږی چه انسان

د ایمان په دعویٰ کښې رشتینے دے اوکه نه، (فالصدقة برهان علی الایمان) ـ یعنی صدقه به د ایمان دلیل وی ځکه چه مال محبوب دے او محبوب پریخودل اوخرچ کول نه وی مګر د ډیر محبوب دپاره، نو دا دلیل دے چه ستا د الله سره د مال نه هم ډیر محبت دے۔ (فالصدقة برهان ودلیل علی محبة الله لان تصدق المحبوب لا یکون الا لمحبوب اعلی منه ـ(صدقه دلیل دے په محبت د الله تعالیٰ باندے ځکه د محبوب شی صدقه کول دا نه وی مګر د ډیر محبوب دپاره وی) ۲- یا به د قیامت په ورځ دصدقه کونکی دپاره خاص علامت وی چه خلقو ته به دده دصدقے اوصدق الایمان پته لګی، (فالصدقة برهان للمؤمن یوم القیامة) یعنی کما یفزع للبرهان فی الدنیا فکذلك یفزع للصدقة فی النجاة فی الآخرة) ـ (یعنی دنیا کښې بے دلیله خبره نه منلے کیږی حاجت ضروری وی دلیل ته نو قیامت کښې به تاته اووئیلے شی چه دلیل راوړه دځان دخلاصی دپاره د الله دعذاب نه، نو په دے وخت کښې به خلق صدقه طرفته منډه کړی اودهغے په سبب به ځان خلاص کړی)۔

۳- یا صدقه برهان او دلیل دے دپاره دطلب کولو د اجر اوثواب ځکه چه دا صدقه یو قرض دے چه انسان خاص الله ته ورکړیدے دپاره دطلب دعوض۔

وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ : په دے کښې مختلف اقوال دی چه دصبر نه کوم صبر مراد دے۔

۱- امام نووی فرمائی : دصبر نه مراد صبرٌ ممدوح فی الشرع دے یعنی صبر علی الطاعة (صبر په طاعاتو)، والصبر عن المعصية، (صبر د ګناهونو نه) والصبر علی المصائب الدنیویة۔(صبر په دنیاوی مصیبتونو) ۲- یا صبر نه مراد صبر کول د نفس دی دلذاتِ دنیویه نه، او صبر په تکالیفو شرعیه او امور کونیه باندے، یعنی دنیا کښې ډیر خوش عیشی نه کول او په تقدیر باندے صبر کول، اواحکام شرعیه باندے صبر کول چه دهغے نه په صبر نه کولو سره انسان په ظلمت دمعاصی کښې واقع کیږی، نو په دے صبر سره به انسان ته نُور او ډیره رنړا حاصله شی، کذا فی المرقاة۔

۳- بعض وائی : دصبر نه مراد دلته صوم دے یعنی مخکښې صلوة ذکر شو بیاصدقه مالی اوس صوم ذکر کوی چه دا غالباً په شرع کښې یو ځائے ذکر کولے شی ځکه په صوم کښې صبر النفس علی الطاعات وعن الشهوات وی (نفس صبر کول وی په طاعاتو او د شهواتو نه)۔

د صبر اقسام مخکښې تیر شویدی : ۱- صبر علی المقدور (ای التقدیر) ۲- صبر علی المامور (ماموراتو باندے صبر) ۳- صبر عن المحظور (دممنوعاتو نه صبر)۔بیا ئے صبر ته ضیاء اووئیلو او صلوٰة ته ئے نُور اووئیلو، نُور لګه رنړا ده اوضیاء ډیره رنړا ده سره ددے نه چه صلاة د ایمان نه بعد ډیر افضل عبادت دے لیکن بیاهم صبر ته ډیره رنړا وئیلے شویده۔ځکه علماء فرمائی : (ما من عملٍ الا وساقه الصبر) (صبر اساس او بنیاد دے د ټولو اعمالو دپاره)، مونځ او جهاد وغیره دا ټول دصبر په وجه کیږی، په هر عمل کښې صبر ته ضرورت دے نو دے وجے نه ئے

ديته ډيره رڼرا اوونيله. بيا دضياء نه مراد ضياء في القبر دے (په قبر کښې رڼرا ده)۔

٢- يا ضياء في القلب ده (دده په زړه کښې رڼرا مراد ده)، ځکه چه کله انسان دمعاصي اوګناهونو نه صبر کوی او عباداتو باندے پابند وی نو دهغه زړه کښې رڼرا پيدا کيږی، اوددے په وجه ددين فهم انسان ته حاصليږی شه او بد معلومولے شی۔

لَمْ اَجِدْ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ : دلته مصنف صاحب المشکوة په صاحب المصابيح باندے اعتراض کوی چه دا روايت خو نه په صحيحين کښې شته او نه په هغه کتابونو کښې شته چه جامع وی رواياتو دصحيحينو لره لکه جامع الاصول او کتاب الحميدی، بلکه دا دارمی راوړيدے۔ نوددے روايت راوړل په فصل اول کښې مناسب نه دی، ځکه په دے کښې دخپل شرط نه مخالفت کول دی، ليکن ددے نه چا دا جواب ورکړيدے چه اګرچه ټول مکمل روايت په صحيحينو کښې موجود نه دے مګر بعض حصه ئے په صحيحينو کښې شته دے نو دهغے په وجه ئے دلته ذکر کړيدے، او مصنف خو دا التزام نه دے کړے چه هر لفظ به دبخاری او مسلم وی، لهذا راوړل ئے صحيح دی۔

٢- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلَا اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَا يَمْحُوْ اللهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟» قَالُوْا: بَلٰى يَارَسُوْلَ اللهِ! قَالَ: «اِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ عَلَى الْمَكَارِهِ وَكَثْرَةُ الْخُطَا اِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ». وَفِىْ حَدِيْثِ مَالِكِ بْنِ اَنَسٍ : «فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ» رَدَّدَ مَرَّتَيْنِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِىْ رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ ثَلَاثًا۔

ترجمه : ابو هريرهؓ روايت کوی چه رسول الله ﷺ (صحابوؓ ته) اوفرمائيل : آيا زه تاسو ته هغه څيز اونه ښايم چه دهغے په وجه الله تعالى ستاسو ګناهونه لرے کړی او دهغے په سبب (جنت کښې) ستاسو درجات اوچت کړی، صحابوؓ عرض اوکړو، آو يا رسول الله ! رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د مشقت په وخت (يعنى بيمارئ يا سختے يخنئ کښې) اودس پوره کول، جوماتو طرفته (دکور نه دلرے کيدو په وجه) ډير قدمونه اينبودل او يو مونځ نه پس د دويم مونځ انتظار کول نو دا رباط دے، اود مالك بن انسؓ حديث کښې دی : نودا رباط دے نو دا رباط دے دوه ځله دی اود ترمذی روايت کښې درے ځله دی۔

تشريح : يَمْحُوْ اللهُ بِهِ الْخَطَايَا : دلته يو اشکال دے چه هغه روستو حديث کښې هم راځی چه ګناهونه محو کيدل څنګه راتلے شی دا خو څه جسم نه لری، اوڅنګه به دا ګناهونه دبدن نه اووځی لکه روستو راځی (خرجت خطاياه) نوخروج اومحو خو د اجسامو کيږی، اوګناه شونه جسم نه لری ؟ نو ددے علماء دمختلف وجوهات بيانوی : ١- يو وجه دا ده چه دلته کلام کښې مجاز دے په حقيقت نه دے بناء، او خروج او محو کنايه ده دمغفرت او معافئ نه، دا توجيه

ضعيف ده، ځکه ولې دنبي اکرم ﷺ حقيقي لفظ بې حقيقته کړے شي بلا ضرورته.

٢- دويم توجيه داده چه ذکر الخطايا اومراد ترينه آثار الخطايا دي، ځکه دګناه د وجې نه په زړه کښې تور داغ پيدا کيږي، لکه حديث کښې دي : (نکتت نکتة سوداء في قلبه) مسند احمد (٢٩٧/٢) او د ګناهونو اثرهم ښکاره دے نو هغه به محوه شي، لکه حجر اسود هم دګناهونو د انسانانو په وجه تور شويدے ليکن دا هم ظاهر دحديث نه دے اګرکه ښه دے.

٣- دريم جواب : شاه ولي الله الدهلويؒ په حجة الله کښې فرمائي چه يو عالم عنصري (دنيا) دے او بل عالم المثال دے، نو دا په عالم عنصري کښې زمونږ په نظر کښې (اذا وجدت فتلاشى) دي مونږ ته اعمال خپل نه ښکاري، ليکن په عالم المثال کښې ددے اعمالو شکلونه مصور دي، جسم لري، نودلته محوه دعالم المثال نه ده چه ګناهونه به دهغه ځائے نه الله ختم کړي، ظاهر دا ده چه مجوه اوخروج دهمدے ګناهونو مراد دے اوددے ګناهونو خپل يو شکل اوجسم شته دے خو مونږ ته نه ښکاري، اود الله رسول ﷺ ته معلوم دے او مونږ به خپل عقل د الله د رسول ﷺ دعقل سره نه برابروو چه هغه په يوه خبره پوهيږي نو مونږ پرېږے ولے نه پوهيږو، نودا په ظاهر باندے حمل دے نو تسليميدل پکار دي او همدا ايمان دے.

بيا دا محو الخطايا (دګناهونو محوه کيدل) دڅه نه کيږي، ١- نو يا خو دکتب الملائکه نه ده، ٢ - يا محو الخطايا د قلب نه اثر ختمول مراد دي. بيا په دے حديث کښې خو محو الخطايا مطلقاً ذکر دے نو ددے نه معلوميږي چه : ١- صغائر او کبائر دواړه قسمه ګناهونه معاف کيږي، لکه چه دا د امام ابن حزمؒ او بعض اهل الحديث مذهب دے. ٢ - ليکن عطاءؒ، حافظ ابن حجرؒ او امام نوويؒ او ابن عبد البرؒ وغيره فرمائي چه دا مقيد دے په بل روايت سره چه هغے کښې داسے دي (الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة، ورمضان الى رمضان مكفرات لما بينهن ما اجتنبت الكبائر) متفق عليه).او وائي چه کبائر صرف په توبه معاف کيږي. دوئ ډير **دلائل بيانوي** :

١- يو دا چه که کبائر اوصغائر دواړه په اعمال مستحبه او فرائضو سره معاف شي نو هيڅ فرائض اداء کونکے به جهنم ته داخل نشي ځکه چه زنا، غلاك کونکے، شراب څکونکے به فرائض اداء کوي نو ګناه به ئے معاف کيږي، نو توبے ته هيڅ ضرورت پاتے نشو.

٢- بل دا چه حديث کښې دي (الوضوء يكفر الجراحات الصغائر) اخرجه محمد بن نصر المروزي عن سلمان الفارسي).نو ددے نه معلوميږي چه په دے سره صغائر معاف کيږي.

٣- بل دا چه قرآن کريم کښې توبه شرط کړيده دکبائرو نه ، ارشاد دے ﴿ ومن لم يتب فاولئك هم الظالمون ﴾ [الحجرات : ١١] نوڅوك چه توبه نه اوباسي دکبائرو نه نو هغه ته ئے ظالم وئيلے دے، نودے نه معلومه شوه چه په نفس اعمالو سره کبائر نه معاف کيږي ليکن په دے دواړو قولينو کښې تطبيق دا دے چه دعام کبائرو نه توبه ويستل ضروري دي هغه په اعمالو سره نه معاف

كيږي، او بعض اعمال داسې دي چه په هغې كښې ډير طاقت وي، يا ورسره ډير اخلاص او توجه ملګرې وي، نو د هغې په وجه كبائر هم معاف كيږي، لكه حج مبرور باره كښې د نبي اكرم ﷺ ارشاد دې (رجع كيوم ولدته امه) يعني هيڅ قسم (كبيره صغيره) ګناه به پرې نه وي يا لكه شهادت في سبيل الله باره كښې حديث كښې ارشاد دې چه دې سره هره ګناه معاف كيږي سيوا د دين (حقوق العباد) نه. يا لكه لا اله الا الله وحده لا شريك له الخ دعاء وئيلو سره ټول ګناهونه معاف كيږي. (وان كانت مثل زبد البحر) (اګركه د درياب د زګ هومره وي). نو په دې سره دټولو احاديثو تطبيق راغلو. والله اعلم.

وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ : ددرجاتو نه په جنت كښې درجات اوچتول مراد دي.

اِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ : اسباغ په معنى داكمال او اتمام سره دې يعني پوره كول داوداسه. بيا اسباغ په درې قسمه دې : ١ - يو يو كرت اندامونه وينځل : اودا واجب دې. ٢ - درې درې كرته اندامونه وينځل، داسنت دي. ٣ - اسباغ بتطويل الغرة والتحجيل. يعني دمقرر حد نه زيات لاس خپې وينځل. غره دتندى سپين والي ته وائي، مراد ترې دلته د تندى نه بره وېښته اولاندې مرئ وغيره اطراف وينځل دي. او تحجيل دلاس اوخپو سپين والي ته وائي اصل كښې د آس د لاسونو خپو دسپينوالي دپاره مستعمل دې، مراد ترينه دلته لاسونه اوخپې دخپل مقرر حد نه زيات وينځل دي تراوګو او ترخونو او پونډو پورې.

الغرة والتحجيل في مسئلة - اطالة الغرة والتحجيل

نو په دې كښې اختلاف دې : ١ - ائمه ثلاثه وائي: داكار مستحب نه دې بلكه بدعت دې. دليل دا دې چه نبي اكرم ﷺ په عامو اوقاتو كښې زيادت نه دې كړې نو دا مستحب نه دې.

٢ - دامام شافعيؒ او ابو هريرةؓ نه نقل دي چه مستحب دې، اودارنګه متاخرين احنافو ورته هم مستحب وئيلي دي.

دوه دلائل دي : ١ - حديث د ابي هريرة په مسلم كتاب الطهارة (١/١٢٦) كښې لكه چه روستو راځي : ابو هريرهؓ داسې عمل كړيدې. حديث داسې دې : عن نعيم بن عبد الله انه رأى أباهريرة يتوضا فغسل وجهه ويديه حتى كاد يبلغ المنكبين ثم غسل رجليه حتى رفع الى الساقين ثم قال : سمعت رسول الله ﷺ يقول : ان امتي يأتون يوم القيامة غراً محجلين من اثر الوضوء، فمن استطاع منكم ان يطيل غرته فليفعل) (نعيم بن عبد الله ابو هريره لره اوليدو چه اودس ئې اوكړو او لاسونه ئې دومره اووينځل چه اوګې ته نزدې كړل بيا ئې خپې دومره اووينځلې چه پونډو ته اورسيدل، بيا ئې د نبي عليه السلام ارشاد نقل كړو) نو د نبي ﷺ دا قول چه (فمن استطاع ان يطيل غرته فليفعل) (د چا چه طاقت وي چه خپل سپين والې اوګد كړي نو اوږد كړي) دا دليل د استحباب دې.

دارنګه په مسلم (١/١٢٧) كښې حديث مرفوع د ابو حازم دې دا وائي : (كنت خلف أبي هريرة

وهو يتوضا للصلاة فكان يمد يده حتى يبلغ ابطه فقلت له يا ابا هريرة ! ما هذا الوضوء، فقال : يا بني فرّوخ انتم ههنا لو علمت انكم ههنا ما توضات هذا الوضوء، سمعت خليلي يقول: تبلغ الحلية من المؤمن حيث يبلغ الوضوء) ترجمه : ما ابو هريرهؓ اوليدلو چه دمانځه دپاره ئے اودس كولو نو هغه لاسونه تر ترخونو پورے اووينځل، ما ترے تپوس اوكړو، ابو هريره ! دا څنګه اودس دے اوكړو؟ هغه اوفرمائيل : اے دعجمو اولاده، كه زه خبر وے چه تاسو دلته موجود يئ نو مابه دا قسم اودس نه وے كړے (يعنى تاسو چرته دا كار فرض اولازم اونه ګنړئ، او عمل مستمره ئے اونه ګنړئ څكه چه جاهلان خلق د داسے عمل نه غلطه فائده اخلى) او بيا ئے اوفرمائيل استدلالا، چه ما خپل دوست (نبى ﷺ) نه اوريدلى دى چه فرمائيل ئے : د مؤمن سرى ګانړه به هغه ځائے ته رسى كوم ځائے ته چه داوداسه اوبه رسيدلے وى۔نودا د ابو هريرهؓ عمل هم شو او نبى ﷺ ته ئے نسبت هم اوكړو۔ بل حديث روسته فصل ثانى كښ راروان دے۔دے حديث كښ دوه احتماله جوړيږى لكه روستو راروان حديث كښ راځى۔

نوښه واضح حديث مسلم (١٢٦/١) كښ دے باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فى الوضوء، عن نعيم بن عبد الله المجمر قال : رأيت ابا هريرة يتوضا فغسل وجهه فاسبغ الوضوء ثم غسل يده حتى اشرع فى العضد (يعنى مټ ئے ورسره اووينځلو) ثم غسل يده اليسرى حتى اشرع فى العضد، ثم مسح برأسه ثم غسل رجله اليمنى حتى اشرع فى الساق ثم غسل رجله اليسرى حتى اشرع فى الساق ثم قال : هكذا رأيت رسول الله ﷺ يتوضا) دا دليل دے صراحةً چه نبى ﷺ دا عمل كريدے، ليكن دا كله كله دے څكه عام صحابوؓ پرے عمل نه دے كړے۔

٣- **دليل** : عمل او قول دابو هريرهؓ دليل دے چه هغه ئے هم مستحب ګنړى، كه مستحب نه وے نو هغه به عمل نه كولے۔او استدلال به ئے په دے حديث نه كولے۔ائمه ثلاثه وائى : هر اندام مكمل وينځل دا په غراً محجلين كښ داخليږى او دغراً محجلين نه دا جواب كوى چه داعمل مستحب نه دے څكه په دے باب كښ مرفوع حديث د نبى ﷺ نشته، اودا رائے ده صرف د ابو هريرهؓ او ابن عمرؓ، يو رائے دصحابوؓ ده او يو روايت دصحابوؓ دے نو رائے دصحابوؓ منل ضرورى نه دى او روايت منل ئے ضرورى دى۔اوسنت خو ورته نشو وئيلے څكه بيا خو په دين كښ زيادت راځى، اوهرچه تاسو داحديث پيش كړو (فمن استطاع منكم ان يطيل غرته فليفعل) نودا د ابو هريرهؓ خپله وينا ده، څكه چه دا حديث دلسو صحابوؓ نه نقل شويدے او سيوا د ابو هريرهؓ نه دهيڅ يو كس نه په كښ دا الفاظ نه دى نقل،، بيا دابو هريرهؓ لس شاګردان دى، هغوى كښ نهه راويان دا الفاظ نه نقل كوى، سيوا دنعيم بن عبد الله المجمر نه چه هغه ئے نقل كوى، او هغه هم په طريقه د شك نقل كريدے لكه هغه فرمائى : (لا ادرى قوله : فمن استطاع الخ من قول النبى ﷺ او من قول ابى هريرة) (ما ته پته نشته چه فمن استطاع الفاظ د نبى عليه السلام دى او كه د

ابو هریره ؟) نو په دے روایت به عمل نه کیږی ځکه دا حدیث مُدُرَج دے۔
شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په کښں لا دا جواب کوی چه اطالة الغرة ممکنه هم نه ده ځکه الغرة د تندی سپینوالی ته وائی اوکه انسان د تندی نه زیادت اوکړی او بره ویښته سپین کړی نو دا خو بدے ښکاری چه د سر ابتدائی حصه سپینه شی او سپینیدل دهغه ځائے خوند کوی چه کوم ځائے سپین وی۔ په دے وجه په مخ کښں اطالة الغرة نه جوړیږی۔اوکومو حدیثونو کښں چه غراً محجلین راځی، نو دهغے نه مراد دا دے چه هر اندام پوره پوره اووینځلے شی لکه چه دا د اسباغ الوضوء یو قسم هم دے، کما مر۔ نو د قیامت په ورځ به دا اندامونه د اوداسه سپین اوښائسته ښکاری، اودخپل حد نه زیات وینځل نه دی مراد۔دا ددے علماؤ رائے ده خو ظاهر دحدیث داسے دے چه دا کار هم مستحب دے خودا به همیشه دپاره نشی کولے بلکه کله ناکله ئے کول پکار دی اودا تاویل صرف په یو حدیث کښں کیږی او مونږ صریح حدیث ذکر کړیدے هلته دا تاویل نه کیږی۔ ددے حدیث تحقیق په ارواء الغلیل اود حافظ په فتح الباری (١/١٩١) کښں کتلے شئ۔
٣- **دلیل** : ابن عمرؓ عمل دے۔کما فی ابن ابی شیبه واورده ابوعبید باسناد حسن (فتح الباری ١/١٩١) دے کښں رائے د امام شافعیؒ اولیٰ ده لکه چه دلائل ئے وړاندے تیر شو۔
عَلَى الْمَكَارِهِ : جمع دمَكْرَهٌ ده بفتح المیم، دګرُه نه مشتق دے مشقت اوتکلیف پورته کول او برداشت کولو ته وائی، یعنی کامل اودس کول د تکالیفو سره، یا په ځایونو د تکلیفونو باندے۔
١- لکه یخنی وی او انسان پوره اودس کوی، ٢- یا په پیسو باندے اوبه اخستل د اوداسه دپاره۔
٣- یا دیو انسان بدن درد کوی، ٤ - یا اوبه لرے نه راوړی، مشقت برداشت کوی، ٥- یا د دنیا کار پریښودل اوپه اوداسه باندے ځان مشغولول۔ دا ټول دخواهش خلاف کول دی۔
وَكَثْرَةُ الْخُطَا : خُطىٰ جمع د خُطْوَةٌ ده بضم الخاء وسکون الطاء د دوو قدمونو ترمینځ فاصلے او مسافت ته وائی۔ ددے دوه معنے دی : ١- مسجد ته ډیر ځی راځی سره د لرے والی دکور دده نه، نو قدمونه ئے هم ډیر حسابیږی، دا معنی دجمهورو علماؤ ده۔ ٢ - یا حذیفهؓ معنی کوی چه کور ئے مسجد ته نزدے وی لیکن واړه واړه قدمونه اخلی، نو هم قدمونه به ئے ډیر وی۔اوله معنی ظاهره ده ځکه چه مزل به نه خرابوی بلکه د نبی ﷺ پشان مزل کول پکار دی (ذریع المشی) تیز مزل والا وو۔اودا دحذیفهؓ اجتهاد دے۔
وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ : دا انتظار عام دے که په مسجد کښں وی اوکه بهر دمسجد نه وی که مسجد کښں وی دا خو ډیره بهتره ده۔ ١- یعنی یو مونځ اوکړی دهغے نه روسته د بل مونځ انتظار کول، او په مسجد کښں کیناستل۔ لیکن شاه انور شاهؒ فرمائی چه بیا پکار دا وه چه په دے حدیث باندے اول صحابوؓ عمل کړے وے، حال دا چه دصحابوؓ داشان نه وو چه هغوی به په مسجد کښں د یو مونځ کولو نه پس د بل مونځ په انتظار کښں کیناستل چه ټوله ورځ ئے

مسجد کښې وي۔ بعض به کيناستل، نو دده په نيز ښه معنى دا ده چه عامه معنى مراد کړې شي برابره خبره ده چه دا انتظار په مسجد کښې کوي او که بهر دمسجد نه۔

٢- **دويمه معنى** دا ده چه اګر که مسجد کښې نه دې بلکه کور يا دکان، پټي، کارخانه وغيره کښې مشغول دې ليکن زړه کښې ورسره دمانځه فکر دې چه مونځ وخت به کله راځي چه مسجد ته لاړ شم، يعنى دنيا کارونه ئې دمانځه نه نه مشغول کوي۔نو په دې معنى باندې هر مسلمان کښې دا صفت راتلې شي، چه هغه سره دمانځه اهتمام وي۔او دې معنى ته په بل حديث کښې اشاره شويده (ورجل قلبه معلق بالمساجد) يعنى دعرش سورى لاندې ناستو خلقو کښې به يو هغه شخص هم وي چه دهغه زړه په مسجد پورې معلق وي۔

فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ: د رباط دوه معنې دي : ١- رباط اصلي خپله معنى داده چه مورچه کښې انسان ځان اوساتي دپاره ددې چه دکافرانو مقابله اوکړي اوداسلامي سرحداتو حفاظت اوکړي، اودا دلته نه دې مراد۔ ٢- دويمه معنى داده چه دشيطان دمقابلې دپاره مسجد کښې ځان ساتل اود خپل خواهش خلاف کول اودا معنى دلته مراد ده۔نو د فذلکم الرباط معنى دا ده چه په دې درې واړو کارونو سره د رباط فى سبيل الله اجر ملاويږي، او دا مرابطه حقيقيه ده، او په دې آيت کښې ورته اشاره شويده : ﴿ ياآيها الذين آمنوا إصبروا وصابروا ورابطوا ﴾ الآية ـ[آخر آل عمران] ـ

يعنى د شيطان په مقابله کښې ځان اوتړئ نيك اعمالو ته اود خواهش خلاف ته۔ رباط حسي آسان دې ليکن رباط معنوي (کوم چه دې حديث کښې ذکر دې) ګران او مشکل دې، ځکه هغه ځه وخت مقرر پورې وي اودا کار تول زندګي وي، دا وجه ده ځکه ئې الرباط معرف باللام ذکر کړيدې چه دا ډير مهتم بالشان او حقيقي مرابطه ده او تکرار ئې هم د اهتمام بالشان دپاره کړيدې۔ يعنى که يو شخص هغه رباط ظاهري نشي کولې نودا رباط ورله کول ضروري دي۔

٣- وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهٖ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهٖ». متفق عليه. ___

ترجمه : عثمان رض روايت کوي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه : څوك چه اودس اوکړي او په ښه شان ئې اوکړي (يعنى دهغې د سنتو او مستحباتو رعايت سره) نو دهغه ګناه دهغه دبدن نه اوځي تردې چه دهغه د نوکونو دلاندې نه هم ګناه اوځي (بخاري، مسلم)۔

تشريح : فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ : ١- يعنى رعايت دآداب اوسننُ په کښې اوکړي۔ ٢- او اسراف د اوبو نه په کښې ځان اوساتي، نودا ښه اودس دې۔

خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهٖ : ١- يعنى دملائکو (کراماً کاتبين) دکتابونو نه اووځي، وران شي۔ ٢- يا دا چه په زړه باندې ئې چه کوم اثر کړې وي هغه ختم شي۔لکه حديث کښې دي

(ان العبد اذا ا ذنب ذنبا نكتت في قلبه نكتة سوداء) (الترمذي والنسائي من روايةابي هريرة)۔ **۳- شاه ولي الله دهلوي** په حجة الله البالغه كښې ليكي : د اعمالو دپاره په عالم المثال كښې جُثے او اجسام دي، نو كوم شے چه په دے عالم كښې عرض وي هغه په عالم المثال كښې دجوهر اوجسم په صورت كښې موجوديږي، لكه اصوات دقبيلے داعراضو نه وي اود آلاتو په ذريعه سره ساتلے شي، هواء كښې زمونږ آوازونه موجود دي۔ او الله په دے باندے قادر دے چه اعراض (ګناهونه، اعمال) زمونږ په اعضاؤ كښې محفوظ كړي او بيائے د اوبو په ذريعه خارج كړي۔ نودا په حقيقت باندے بناء دے، تاويل اومجاز ته په كښې ضرورت نشته چه ګنے مراد دخروج نه غفران او بخښنه ده۔

من جسده : دلته من جسده لفظ وائي اوروستو حديث كښې دي چه دمخ، لاسونو او خپو ګناهونه اوځي ظاهر كښې تعارض دے۔ نوددے جواب دا دے چه جسد نه مراد اعضاء د اوداسه دي نواعتراض نشته۔ **۲- جواب :** يو ضعيف روايت كښې دي چه كه بسم الله اول كښې اووئيلے شي نو جميع البدن نه ګناه اوځي، اوكه اونه وئيلے شي نو بعض اعضاؤ نه ګناهونه خارجيږي، دا حديث اګرچه ضعيف دے سنداً، خو تطبيق راولي۔ **مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ :** دا د مثال په طور دے يعني بدن به ئے دګناهونو نه داسے صفا شي كه د نوكونو لاندے ګناه وي هغه به هم لرے شي۔

٤- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ اَوِ الْمُؤْمِنُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ خَطِيْئَةٍ نَظَرَ اِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ مَعَ الْمَآءِ -اَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَآءِ فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَ مِنْ يَدَيْهِ كُلُّ خَطِيْئَةٍ كَانَ بَطَشَتْهَا يَدَاهُ مَعَ الْمَآءِ اَوْمَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَآءِ فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَ كُلُّ خَطِيْئَةٍ مَشَتْهَا رِجْلَاهُ مَعَ الْمَآءِ اَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَآءِ حَتّٰى يَخْرُجَ نَقِيًّا مِنَ الذُّنُوْبِ».رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابو هريرةؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : هركله چه يو مسلمان يا مؤمن بنده داودس اراده اوكړي او خپل مخ وينزي نو اوبو سره يا داوبو آخري څاڅكي سره هغه تمام ګناهونه چه هغے طرفته ئے سترګو سره كتلي وي د هغه مخ وينځلو سره اوځي (يعني كوم ګناهونه ئے چه سترګو سره كړے وي اورژيږي) بيا چه دواړه لاسونه وينځي نودلاسونو تمام ګناهونه چه هغه لاسونو نيولي وو، اوبو يا داوبو آخري څاڅكي سره د هغه دلاسونو نه اوځي (يعني كوم ګناهونه ئے چه لاسونو سره كړي وو رژيږي) بيا چه دواړه خپے وينځي نو تمام ګناهونه چه هغے طرفته ئے خپے تلي وے اوبو يا داوبو آخري څاڅكي سره اوځي تردے چه هغه دګناهونو نه پاك راوځي (مسلم)۔

تشريح : فوائد الحديث : ١- دا فائده معلومه شوه چه دا فضيلت دمسلمان دپاره دے نه

دمشرك دپاره، نود اوداسه فضيلت ذكر كولو كښ مشرك لره تلك وركول پكار دي چه دا فضيلت ستا نشته. ٢- دويم دا چه په مخ اولاسونو باندے دومره اوبه اچول ضروري دي چه څاڅكي زمكے ته ګذار شي. اسالة الماء (اوبه بيول) واجب دي، نوكه څوك داسے اودس اوكړي چه صرف مخ لاسونه غوړ (لامده) قدرے كړي او اوبه ترے اونه څاڅي نودا به شرعي اودس نه وي (په دے كښ رد دے په امام ابو يوسف باندے) ٣- (او)لفظ شك د راوي دے كه هريو شي، خو په معنى دحديث كښ نقصان نه راځي. خودا راوي احتياط كوي چه د نبي ﷺ لفظ رانه بدل نشي، ٤- الذنوب لفظ عام دے، واړه او غټ ټولو ګناهونو ته شامل دے مطلق ذكر دے.

٥- وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَا مِنِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوْبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوْءَ هَا وَخُشُوْعَهَا وَرُكُوْعَهَا اِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوْبِ مَالَمْ يُؤْتَ كَبِيْرَةٌ وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ». رواه مسلم.

ترجمه : عثمانؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كوم مسلمان چه د فرض مونځ وخت راتلو سره په ښه شان اودس اوكړي او مونځ كښ خشوع اوركوع اوكړي نو (د هغه دا مونځ) دهغے ګناهونو كفاره كيږي چه هغه دمونځ نه مخكښ كړي وي، په شرط ددے چه هغه ګناه كبيره نه وي كړي، اوداسے هميشه دپاره كيږي (يعني هغه مونځ چه دګناهونو كفاره جوړيږي څه زمانے سره خاص نه دے) دا فضيلت ټوله زمانه كښ قائم وي. (مسلم).

تشريح : كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوْبِ مَالَمْ يُؤْتَ كَبِيْرَةٌ : ١- ددے حديث نه په ظاهر كښ معتزله او خوارجو استدلال كړيدے چه صغائر معاف كيږي په دے شرط سره چه كبيره ګناهونه ئے نه وي كړي، اوقرآن سورة النساء (٣١) كښ راځي : ﴿ ان تجتنبوا كبائر ما تنهون عنه نكفر عنكم سيئاتكم ﴾ (د لوئي ګناهونو نه ځان اوساتئ نو واړه ګناهونه به درنه اورژوو) مفهوم ئے دا دے چه كه لوئے ګناهونو نه ځان نه ساتئ نوواړه ګناهونه نه دي معاف. اودے حديث كښ مفهوم دا شو چه لوئي ګناهونو ته ئے راتګ اوكړو نو واړه ګناهونه د اوداسه په وجه نه معاف كيږي، نودا خو دخوارج او معتزلو مذهب ثابت شو چه كبيره ګناهونو باندے سړے كافر دے او مخلد في النار دے. ځكه ئے صغيره ګناه نه معاف كيږي، كه دا مؤمن وے نو صغائر به ئے معاف كيدلے.

٢- دا اهل السنة اوټولو مسلمانانو مذهب دا دے چه كه يو سړي كبيره ګناه كوله نو هم صغيره ګناه ئے الله معاف كوي په نيك اعمالو كولو سره. صغائرئے معاف كيږي مع وجود الكبائر اودے حديث نه جواب امام نوويؒ داسے وركړيدے : (قالوا ومعناه : ان الذنوب كلها تغتفر الا الكبائر فانها لا تغتفر) يعني ګناهونه به ئے معاف كيږي مګر كه كبائر موجود وي نو هغه په دے

عمل باندے نه معاف كيږي، او صغيره معاف كيږي اگركه كبيره گناه هم موجوده وي۔او دا معنى نه ده چه كله كبيره موجوده وي نو صغيره به نه معاف كيږي، او د معتزلو معنى اگركه محتمل دعبارت ده (لكنه لم يذهب اليه احد) ديته په سلفوٌ كښ هيچا ذهاب نه دے كړے)، يعني دا مسلمانانو مذهب نه دے (دا هم دليل شو چه دحديث به داسے معنى كوے چه دصحابوٌ د فهم او عمل موافق وي، دځانه به معاني نشي كولے، گنے بيا سړى نه خوارج او رجستړي جماعة المسلمين جوړيږي)۔

بيا دلته دويم اختلاف دے د اهل السنة په خپل مابين كښ چه آيا كبيره گناهونه صرف په توبه سره معاف كيږي اوكه نور اسباب هم شته ددے دمعافئ دپاره ؟ نو :

١- جمهور علماء وائي (الكبائر لا تغفر الا بالتوبة) (دكبيره گناهونو معافئ دپاره صرف يو صورت دے چه هغه توبه ده)، نو توبه شرط ده دكبائرو دمعافئ دپاره، نور اسباب نشته۔ دا وجه ده چه تاسو به حواشي شروحو اوكتابونو كښ گورئ چه چرته فضيلت دعمل راشي چه په هغے سره ټول گناهونه معاف كيږي نو هلته ورسره دصغائرو قيد لگوي، ځائے په ځائے۔دا ددے قاعدے د وجے نه چه (الكبائر لا تغفر الا بالتوبة) ۔اوددے قاعدے نه متاثر دي۔نو هرځائے چه حديث راشي تاويل په كښ كوي۔

اوددے قاعدے دپاره دلائل دا دي : ١- يو دا حديث دے (مالم يؤت كبيرة) دلته كبيره په اودا سره نه ده معاف شوے بلكه هغه په توبه معاف كيږي۔ ٢- دكتاب الصلاة په اول حديث كښ راځي (الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة ورمضان الى رمضان مكفرات لما بينهن اذا اجتنبت الكبائر) رواه مسلم)۔دلته قيد داجتناب الكبائر لگيدلے دے۔

٣- **دليل** دا دے چه كه مونږ كبيره گناه په نورو اسبابو باندے معاف اوگنړو نو بيا به دمرجئو مذهب ثابت شي چه (المعصية لا تضر مع الايمان) نو زمونږ مشابهت به دمرجئو سره راشي چه په غير د توبے نه گناه كبيره معاف كيږي۔

٢ – په دے كښ دويم قول ظاهر دے چه ابن حزمؒ په المحلى وغيره كښ او شيخ الاسلامؒ په مجموع الفتاوى (٤٨٧/٧) كښ په خوارجو باندے رد ذكر كوي چه كبائر گناهونه د توبے نه بغير په نورو اسبابو سره هم معاف كيږي او هغه لس اسباب دي۔اے خوارجو ! تاسو كبيره گناهونو باندے خلق كافر كوئ حال دا دے چه مونږ ته شريعت دكبيره گناهونو په باره كښ داسے وئيلي دي چه كبيره گناهونه په نورو اسبابو هم معاف كيږي، نوكه گناهونه كفر وے نو هغه به بغير د توبے نه نه معاف كيدلے، حال دا چه هغه په غير د توبے نه هم معاف كيږي، اوددے دپاره لس اسباب دي (نو ددے بحث فائده به څه وي، هغه دا چه كله حديثونو كښ گناهونه مطلق راغلل نو صغيره او كبيره دواړو ته به شامل وي، اوكوم حديث كښ چه قيد راغلے وي نو هغه به د هغه

محل پورې خاص وي، لکه (مالم يؤت كبيرة، اواذا اجتنبت الكبائر) چه دلته په دې عمل باندې كبائر نه معاف كيږي، بل عمل باندې به معاف كيږي يا به په توبه معاف كيږي)۔ مطلق به په خپل اطلاق باندې جاري وي او مقيد به په خپل تقييد جاري وي۔

د گناهونو دمغفرت دپاره لس اسباب :

١- **التوبة** : اودا متفق عليه ده، او په دې باره كښې خو آيتونه او حديثونه بې شماره دي، ذكر كولو ته ئې حاجت نشته، الله فرمائي : ﴿ لا تقنطوا من رحمة الله ان الله يغفر الذنوب جميعاً ﴾ [الزمر : ٥٣] اى بالتوبة۔ ٢- **الاستغفار** : توبه قلبي شې دې او استغفار قولي شې دې په دې باب كښې ډير احاديث دي (اذا اذنب العبد ذنباً فقال : يارب، اذنبت ذنباً فاغفر لى) كما في باب الاستغفار من المشكاة ۔ ٢- (لو لم تذنبوا لذهب الله بكم ولجاء بقوم يذنبون فيستغفرون الله فيغفر لهم) رواه مسلم رياض الصالحين ص (١٧١) كما ياتى بعد ۔ ٣- **الحسنات الماحية للصغائر والكبائر** : (هغه نيكيانې چه گناهونه معاف كوي صغائر او كبائر) اودا زمونږ مقصودي خبره ده، په دې باب كښې دلائل دادي : ١- ﴿ ان الحسنات يذهبن السيئات ﴾ ۔ السيئات جمع ده ټولو گناهونو كبيره او صغيره ته شامل دې۔ ٢- من صام رمضان ايماناً واحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه۔ مطلق دې۔

٣- من حج هذا البيت فلم يرفث ولم يفسق رجع كيوم ولدته امه۔ نو چه كبيره گناه پرې پاتې وي نودا خو لا اوس هم گنده دې نو هغه به خامخا معاف كيږي۔ اوكتاب الحج كښې به راشي په روايت دمرداس اسلمي ؓ چه دحج دوجې نه الله حقوق العباد هم معاف كوي، اگركه سنداً ضعيف دې۔ ٤- مشكوة (٢/) كښې دي : (من اعتق رقبة مؤمنة اعتق الله بكل عضو منها عضواً منه من النار حتى فرجه بفرجه) ۔ نو كه انسان زنا كړې وي نو دغلام دآزادولو دوجې نه هغه هم معاف كيږي، دا د (فرجه بفرجه) معنى ده، نو كبيره گناه پدې سبب معاف كيږي۔ ٥- وان فر من الزحف والا روايات په دې دلالت كوي۔ ٦- بدري صحابو ؓ ته وئيلي شوي وو (اعملوا ما شئتم فقد غفرت لكم) (كوئ څه چه مو خوښه وي يقينا ما تاسو ته بخنه كړې ده) دلته كبائر گناهونه مراد دي ځكه صغائر خو مونږ ته هم معاف كيږي، بيا خصوصيت دهغوي څه شو۔ دارنگه بشرط التوبة هم نه دې مراد ځكه بشرط التوبة خو مونږ ته هم معاف كيږي، بيا دخصوصيت څه معنى شوه۔ نو د بدرجنگ (لويه حسنه) په وجه ټول كبائر صغائر گناهونه ورته معاف شو۔

٧- مشكوٰة (٢/٣٠٠) كښې دي يو صحابي ځان قتل كړيدې ليكن هجرت ئې كړيدې ددې په سبب الله تعالى بخښلې دې، داسې احاديث ډير زيات دي۔ دلته بيا شيخ الاسلام ددې قيدونو چه په احاديثو كښې راغلي دي (مالم يؤت كبيرة، او اذا اجتنبت الكبائر) فائده بيانوي چه نبي اكرم ﷺ دا قيدونه ولې لگولي دي ؟ دا فائده منه خبره ده، نو دامينځ كښې واوره۔ اول جواب او فائده دا ده چه دا شرط او قيد د فرائضو په باره كښې راغلې دې كمامر منا، نو فرائض مع ترك الكبائر به

صغیره ګناهونه معاف کړي (واما الاعمال الزائدة من التطوعات فلا بد ان یکون لها ثواب آخر) (یعني د فرائضو خودا اجر شو چه صغائر ئې ورته معاف کړل، او هرچه نوافل او ذکر او عبادات اوجهادونه، صدقات وغیره دي نو ددې دپاره به بل اجر وي) او هغه داچه په دې سره به کبائر ګناهونه معاف کیږي کله چه په کمالِ شان سره اداء کړې شي، نو کبائر په اعمال مستحبو سره معاف کیږي اوصغائر په اعمالِ فرضیه ۇ سره معاف کیږي، دلته عجیب کارشویدې، چه په نوافلو کښې طاقت زیات شویدې د فرائضو نه، اودا تجربه ده چه اکثر انسان جنتي کیږي نو په نفلي عملونو باندې. فرائض خو په دین کښې ډیر کم دي، یو څو شیان دي، نورئې انسانانو ته د نفلو درجه کښې پریښودي دي امتحاناً. نو عام انسانانو ته دجنت درجات د نوافلو په سبب ملاویږي.

۲- **دویم تطبیق** دا دې چه په ډیرو حدیثونو کښې تصریح راغلې ده (بان المغفرة تکون مع الکبائر) (چه کله کله کبائر ګناهونه هم د اعمالو په سبب معاف کیږي)، لکه د (وان فر من الزحف) حدیث ئې دلیل دې. او حدیث (عتق الرقبة بسبب القتل) ئې راوړیدې.

۳ - وان زنی و ان سرق نه معلومیږي چه سره د زنا اود سرقه نه انسان جنت ته ځي، نو ددې نه معلومه شوه چه کوم ځائې قید دکبائرو راغلې وو نو هغه به هم معاف کیږي اوکه مطلق راغلی وو نو هغه به هم معاف کیږي، اوکه کوم ځائې سیوا دکبائر نه راغلې وو نو هلته به صرف صغائر معاف کیږي. ۳- دریم : حدیث کښې دي چه (اول ما یحاسب به العبد صلوته) نو که مونځ کښې کبائر ګناهونه شوي وو نو هغه به په نوافلو باندې پوره کیږي نوپه نوافلو سره لوئې ګناهونه هم معاف کیږي.

٤- **سبب** : ادعیة المسلمین فیما بینهم بعضهم لبعض). (چه مسلمانان یو بل ته دعاګانې کوي په دې سره کبیره ګناهونه هم معاف کیږي). ٥- **سبب** : (ما یعمل للمیت من اعمال البر) ، لکه مور پلار دپاره صدقه کول، په دې سره د هغه کبیره ګناهونه معاف کیږي حدیث کښې دي : (من مات وعلیه صیام صام عنه ولیه) (څوك چه مړ شو او په هغه باندې روژې پاتې وې نو ولي به ئې ترې نیسي) نو په هغه باندې ګناه کبیره پاتې وه او تا چه ترې روژه اونیوله نو کبیره ګناه دې ترې لرې کړه. ٦- **سبب** : شفاعة النبي ﷺ) حدیث کښې دي : (شفاعتي لاهل الکبائر من امتي)، (زما سفارش به د کبیره ګناهونو والو دپاره وي) او حدیث کښې دي : (خُيِّرْتُ بين ان يدخل نصف امتي الجنة وبين الشفاعة، فاخترت الشفاعة، لانها اعم واكثر) . (ما ته اختیار راکړې شو چه نیمائي امت جنت ته داخل خوښوې او که شفاعت نو ما شفاعت غوره کړو ځکه چه دا عام او اکثر دې)

٧- **سبب** : (المصائب التي يكفر الله بها الخطايا) : دنیا کښې انسان باندې مصیبت راشي نو په دې سره ترې کبائر ګناهونه معاف کیږي، کما في حدیث الصحیحین (ما يصيب المؤمن من وصب ولا نصب ولا هم ولا حزن ولا غم ولا اذى حتى الشوكة يشاكها الا كفر الله بها من خطاياه) (نه

رسي يو مومن ته مرض، ستړي والے، پريشاني، غم خفگان او تکليف ترديے چه يو ازغے د هغه خپه کښې لاړ شي مگر پديے به الله تعالىٰ د هغه گناهونه معاف کوي) دلته دصغيره قيد نشته۔ بل روايت د ترمذي کښې دي: (حتى يمشي على الارض وما عليه من خطيئه) كما ياتي في باب الجنائز من المشكاة ان شاء الله۔(ترديے چه په زمکه به گرځي او هيڅ گناه به پريے نه وي) نو ديے عموم ته اوگوره۔

٨- **سبب** ما يحصل في القبر من الفتنة والضغطةوالروع: (دقبر امتحان اوراتنگيدل اويره راتللو سره دانسان گناهونه معاف کيږي)، اودديے سره ملگريے د زنکدن سختيانے هم دي دا هم گناهونه معاف کوي۔ ٩- اهوال يوم القيامة وكربها: (يعني دآخرت دورځے مصائب او غمونه اوگرميانے اوپريشانيانے او پل صراط)۔ الله په ديے سره هم گناهونه معاف کوي۔ چه بس دومره سخته بس ديے۔

١٠- **سبب** رحمة الله ومغفرته بلاسبب من العباد): (صرف د الله رحمت او مغفرت چه بندگانو د طرفنه هيڅ سبب نشته) دا ډير لوئے سبب ديے اوپه ديے باب کښې ډير احاديث دي: ١- (يا ابن آدم لو بلغت ذنوبك عنان السماء ثم لقيتني لا تشرك بي شيئاً لاتيتك بقرابها مغفرة، ولا ابالي)۔ (اے د آدم ځويه که ستا گناهونه د آسمان وريځے ته اورسي او تا ما سره شرك نه وي کړيے نو زه به تا ته په ډکوالے ددے بخنه اوکړم او زما هيڅ باك نشته) ٢- حديث کښې دي: په ورځ دآخرت کښې به الله يو سړيے راولي او غاړيے ته به ئے کړي (فيضع عليه كنفه) ب(په هغه به يو طرف ور واچوي كما يليق بشانه) يا به پريے اقرار اوکړي چه دا گناه ديے کړيے؟ هغه به وائي، آو، صغيره به ورته اول پيش کړي، بيا به ورته وائي دا په نيکيو بانديے بدلے شويے، نو بنده به وائي يا الله! نور ددے نه لوئے لوئے گناهونه دي هغه څه شو؟، شه خو زه نه وينم، نو الله به ورته کبائر هم راولي او هغه به هم ورله په نيکيو بانديے بدل کړي، نودلته اوگوره دکبيره گناه په بدله کښې نيکي ورکړيے کيږي۔

٣- حديث د تسع وتسعون سجلات والا۔ چه ددے په مقابله کښې به وړوکے بطاقه (چټۍ) چه كلمه توحيد به په کښې ليکلے وي، دا به دټولو گناهونو مقابله کښې درنه اوگرځي۔ ٤- ﴿ويغفر ما دون ذلك لمن يشاء﴾-اى بلا توبة۔ كما في سورة النساء۔ (الله د شرك نه سوا گناهونه بغير د توبے نه معاف کوي) نوجمهورو علماؤ رائے ضعيفه ده، انسان ددے احاديثو نه محرومېږي کوم چه ذکر شو۔

مَا لَمْ يُؤْتَ كَبِيرَةً: دوه قسمه لوستے شي ١- يؤت صيغه د مجهول او كبيرة ئے نائب فاعل۔ يعني ترڅو چه اتيان كبيره ته نه وي شويے۔ ٢- يا يؤت د باب افعال نه معلوم صيغه ده او كبيرةً مفعول ديے۔ يعني ترڅو چه ئے کبيره گناه ورکړيے (يعني کړي) نه وي۔

وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ: الدهر منصوب ديے بنابر ظرفيت، او(كله) تاكيد دالدهر ديے او الدهر په محل دخبريت کښې ديے۔ (اى التكفير مستمر وحاصل في جميع الازمان)۔يعني داگناهونه معاف کيدل په ټولو زمانو کښې کيديے شي، دصحابو د زمانے پوريے خاص نه دي۔

٦- وَعَنْهُ اَنَّهُ تَوَضَّأَ فَاَفْرَغَ عَلٰى يَدَيْهِ ثَلٰثًا ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهٗ ثَلٰثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنٰى اِلَى الْمِرْفَقِ ثَلٰثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُسْرٰى اِلَى الْمِرْفَقِ ثَلٰثًا ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهٖ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى ثَلٰثًا ثُمَّ الْيُسْرٰى ثَلٰثًا ثُمَّ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوْئِيْ هٰذَا ثُمَّ قَالَ: «مَنْ تَوَضَّأَ وُضُوْئِيْ هٰذَا ثُمَّ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ نَفْسَهٗ فِيْهِمَا بِشَيْءٍ غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ». متفق عليه وَلَفْظُهٗ لِلْبُخَارِيِّ ـ

ترجمه : اود عثمانؓ باره کښې نقل دی چه ده يو ځل اودس اوکړلو نو اول ئې په خپلو لاسونو درې ځله اوبه واچولې، بيا درې ځله ئې خله کنګال کړه او پوزه ئې صفا کړه (يعنی پوزه کښې اوبه اچولو نه پس ئې سونړ کړه) بيا ئې درې ځله مخ اووينځلو بيا ئې درې ځله خپل ښے لاس څنګلے پورې اووينځلو (يعنی څنګلو سره) بيا ئې درې ځله ګس لاس څنګلے پورې اووينځلو، بيا ئې په سر مسح اوکړه، بيا ئې ښئ خپه درې ځله اووينځله، بيا ئې ګسه خپه درې ځله اووينځله، بيا ئې اوفرمائيل : ما رسول الله صلی الله عليه وسلم دغسې اودس کولو باندې اوليدلو څنګه چه ما اودس اوکړو بيا (نبی کريم ﷺ) اوفرمائيل : کوم سړې چه زما ددې اودس په شان اودس اوکړی (يعنی دفرائضو او سننو او مستحباتو او آدابو رعايت اوکړی) بيا دوه رکعته مونځ اوکړی او مونځ کښې خپل زړه سره خبرې اونه کړی (يعنی پوره توجه سره مونځ اوکړی) نو دهغه تمام مخکنی ګناهونه ببنلے شی (بخاری، مسلم).

تشريح : **فوائد الحديث** : ١- عثمان ؓ اودس کريدې دپاره دتعليم ورکولو خلقو ته ديته عملی سنت پيش کول وائی، دا ښه ياديږی. ٢ - اودس دلوښی (لوټے وغيره) نه سنت دے وجه داده چه په دې سره به اوبه کمې استعماليږی، د اسراف نه په کښې بچاؤ دے.

مَنْ تَوَضَّأَ وُضُوْئِيْ هٰذَا : ديته تحية الوضوء وائی اودا په حديث دبلالؓ کښې راغلے دے چه هغه به وئيل چه هميشه زه داوداسه نه بعد دوه رکعته مونځ کوم اوددې په سبب ئې جنت کښې نبی ﷺ دخپو کشارې اوريدلے دے اودا سنت عمل دے.

غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ : دلته واړه او غټ دواړه ګناهونه مراد دی، د دوه وجونه : اوله وجه داده چه د نبی ﷺ عموم په صغيره قيد سره خرابيږی. ٢ - دويم روستوحديث پرې دليل دے (الا وجبت له الجنة). اوکله چه پرې لويه ګناه پاتې وی نو جنت ورله څنګه واجبيږی. فتفکر! دا څومره غلط قول دے ! ـ نو هرکله چه دده دپاره جنت واجبيږی او سيده جنتی کيږی نو که کبيره وی نو هغه هم معاف شويده خو دې سره سره دا يوه تجربه هم ده، چه کوم انسان کبيره ګناهونه کوی، نو دهغه داسې توجه هم نه برابريږی کوم چه دې حديث کښې ذکر ده.

لَايُحَدِّثُ نَفْسَهٗ فِيْهِمَا بِشَيْءٍ : **فائده** : که يو شخص ته خيالات اووسوسې مانځه کښې پيش

کیږی۔اودا ئے کوشش د دفع کولو کوی خو هغه نه دفع کیږی، نو بیا به هم داسے شخص ته دا فضیلت حاصل وی ځکه چه ده خو خپل کوشش کړیدے، اوکه قصداً خیالات مخے ته راولی نو بیا به ورته دا فضیلت نه حاصلیږی وجه داده چه حافظ ابن حجر په فتح الباری کښ د (لایحدث) لفظ نه استدلال کړیدے چه دے لفظ کښ اشاره ده کسب دبنده ته چه دا ئے په خپل کسب خیال راپیدا نه کړی، اوکه په خپله غیر اختیاری پیدا شی او انسان ترے اعراض کوی نو هیڅ باك نشته۔

لیکن سوال دا دے چه دعمر ﷺ نه نقل دی چه هغه فرمائی : (انی أجهز جیشی وأنا فی الصلاة) یعنی زه په مانځه کښ خپل لښکر دجنګ دپاره تیاروم)۔نو دا خو قصداً تجهیز دے آیا داکار جائز دے او آیا دا فضیلت ورته حاصلیږی سره ددے کارنه ؟

جواب دا دے چه حکیم ترمذیؒ په خپل کتاب العلوم نومے کتاب کښ داسے قید لګولے دے (ای لا یحدث فیهما بشیئ من أمور الدنیا) (یعنی د دنیاوی امورو متعلق خیالات به نه راولی)، اوهر چه دینی امور دی نو د هغے خیال راوستل جواز لری، اود عمر ﷺ تجهیز الجیش هم د امور دینیه نه دے، نودا فضیلت ورته ددے باوجود حاصل دے۔او ددے مثال داسے لکه د تلاوت په آیتونو کښ فکر کول او په هغه واقعاتو کښ چه په دغه آیتونو کښ ذکر شوی وی۔

لیکن دا جواب ضعیف دے، ځکه په مانځه کښ ددین خبرے به هم په دے حالت کښ نه راولے، چه ته په کښ کتابونه یادوے او اختلاف دعلماؤ ذهن کښ ګرځوے، داهم تهیك نه ده۔

٢- بنه **جواب** دادے چه دصحابوؓ زړونه فراخه وو چه په عمل او فکر کولو سره به ئے په مانځه کښ توجه نه خرابیدله لکه نبی ﷺ به په مانځه کښ اُمامة بنت ابی العاص په اوګو باندے اوچتوله او توجه به ئے نه خرابیدله، نو ژورو زړونو والا دا کار کولے شی، دا جواب حافظ ابن القیمؒ او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ کړیدے۔

الفائدة الانیقة : اسباب التوجه فی الصلاة :

توجه او خشوع په مانځه کښ په دے اسبابو سره پیدا کیږی۔ ١ – دمانځه الفاظ او معنی ته فکر کول۔ ٢– ضعف الشاغل وقوة المقتضی وهو خوف الله) ۔(یعنی مشغولتیا په کارونو کښ کمول چه د هغے په وجه فکر پراګنده نه وی او توجه زر پیدا کیږی، اوباعث د توجه مضبوطول چه هغه د الله نه خوف دے)، کله چه خوف الهی د انسان قوی اوکامل شی نو په خشوع اوتوجه پیدا کیدو کښ به هیڅ قسم تاخیر نه وی۔ ٤– هغه احادیث مخے ته راوستل چه په هغے کښ په ترك دخشوع باندے وعید راغلے وی۔ ٥– د الله نه دعاء غوښتل دخشوع دپیدا کیدو متعلق اود حلاوة العبادة (او عبادت کښ د خوند پیدا کیدو)۔ ٦– د الله محبت زړه کښ پیدا کول۔ دسلفوؒ به دالله سره ډیر زیات محبت وو نو په مانځه کښ به پرے د هیبت په وجه بے هوشی راتله اود بدن نه دغشو ویستلو باندے به هم نه پوهیدل۔ ٧– دارنګه دسلفوؒ واقعات په باره دخشوع کښ یاد

لرل، نو ان شاء الله چه ددے نه بعد به خشوع پیدا شي۔

٧ - وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَامِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوْءَهُ ثُمَّ يَقُوْمُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ مُقْبِلًا عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهٖ وَوَجْهِهٖ اِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : عقبه بن عامرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کوم مسلمان چه په ښه شان اودس اوکړی بیا اودریږی دوه رکعاته مونځ اوکړی زړه او مخ سره هغے ته متوجه وی (یعنی ظاهر او باطن دواړو سره) نو هغه دپاره جنت واجب کیږی۔ (مسلم)۔

تعارف د عقبه بن عامر رضی الله عنه : دا دجهینه قبیلے مشهور صحابی دے، دمعاویهؓ په دور خلافت کښ دمصر درے کاله امیر پاتے شویدے او هغه سره جنګ صفین ته هم حاضر شوے وو او په غزو البحر باندے ئے امیر هم مقرر کړے وو، اودا ډیر فصیح شاعر، کاتب، قارئ لکتاب الله، فقیه، عالم بالفرائض وو، ابتدائی مهاجرینو صحابوؓ کښ حساب دے۔ په مصر کښ په سنه (٥٨ هـ) کښ وفات شویدے او مقطم علاقه کښ دفن شویدے۔ (٥٥) احادیث تربے منقول دی۔

تشریح : اِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ : دلته هم قید دے : ١- (اذا لم یمنع مانع) (کله چه مانع نه وی موجود) چه هغه کبیره ګناهونه او شرك دے۔ که اسلام کښ پاتے شو اوکافر اومشرك نشو او نور کبائر آینده اونکړی۔ اومراد د رکعتین نه ظاهر دا ده چه نفل دی نه فرض۔

٨- وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ -اَوْ فَيُسْبِغُ الْوُضُوْءَ ثُمَّ يَقُوْلُ: اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اِلَّا فُتِحَتْ لَهُ اَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ اَيِّهَا شَاءَ». هٰكَذَا رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِيْ صَحِيْحِهٖ وَالْحُمَيْدِيُّ فِيْ اَفْرَادِ مُسْلِمٍ وَكَذَا ابْنُ الْاَثِيْرِ فِيْ جَامِعِ الْاُصُوْلِ وَذَكَرَ الشَّيْخُ مُحْيِ الدِّيْنِ النَّوَوِيُّ فِيْ آخِرِ حَدِيْثِ مُسْلِمٍ عَلٰى مَا رَوَيْنَاهُ وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ: «اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ» وَالْحَدِيْثُ الَّذِيْ رَوَاهُ مُحْيِ السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ فِي الصِّحَاحِ «مَنْ تَوَضَّأَ فَاَحْسَنَ الْوُضُوْءَ» اِلٰى آخِرِهٖ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ فِيْ جَامِعِهٖ بِعَيْنِهٖ اِلَّا كَلِمَةَ اَشْهَدُ قَبْلَ اَنَّ مُحَمَّدًا».

ترجمه : عمر بن خطاب ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : تاسو کښ چه کوم سړے اودس اوکړی او هغه (د خوبیو) انتهاء ته اورسوی یا نبی کریم ﷺ دا الفاظ اوفرمائیل چه پوره اودس اوکړی، بیا اووائی : اشهد ان لا اله الا الله واشهدان محمداً عبده ورسوله۔ زه ددے خبرے ګواهی کوم چه یو الله نه سیوا بل څوك دعبادت لایق نشته ا ومحمد (ﷺ) دهغه بنده

او رسول دے۔ او یو روایت کښې دی چه داسې اووائی: اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریك له واشهد ان محمداً عبده ورسوله۔ زه ګواهي کوم چه د يو الله نه سيوا بل څوك لايق دعبادت نشته هغه ايکې يواځې دے دهغه هيڅوك شريك نشته او ګواهي کوم چه محمد (ﷺ) د الله بنده او رسول دے، نو هغه دپاره د جنت اته واړه دروازې پرانستې شي په کومه دروازه چه دهغه زړه غواړی جنت کښې دے داخل شي (مسلم، حميدی، جامع الاصول) او امام نوویؒ د مسلم د حديث په آخر کښې چه هغه مونږ روايت کړيدے دا ذکر کړيدی چه ترمذی (شهادتين باندے ددے دعاء) دا الفاظ زيات کړی دی: اے الله! ما د توبه کونکو نه جوړ کړے او پاکيزګی کونکو کښې مے شامل کړے (يعنی دمسلم روايت ځنګه چه مونږ ذکر کړيدے هغه روايت امام نوویؒ د مسلم په شرح کښې نقل کړيدے اود هغې آخر کښې: وزاد الترمذی الخ عبارت زيات کړيدے) او هغه حديث چه امام محی السنة صحاح کښې روايت کړيدے يعنی: من توضا فاحسن الوضوء الخ: چا چه اودس اوکړو اوښه اودس ئے اوکړو، آخره پورے، دا امام ترمذی خپل جامع کښې بعينه داسې نقل کړيدے، البته د ان محمداً نه مخکښې د اشهد ذکر ئے نه دے کړے۔

تشريح: دا حديث او حديث دعقبه بن عامر (چه اوس تير شو) دواړه اصل کښې يو حديث دے لکه چه ابوداود او ابن حبان راوړيدے او هغه دا چه عقبه بن عامرؓ چه کله دا حديث خپله واوريدو نو تعجب ئے اوکړو چه صرف په اودس کولو او بيا دوه رکعته مونځ کولو باندے الله انسان ته جنت ورکوی، دا خو ډيره دخوشحالۍ خبره ده نو عمر بن الخطابؓ ورته اوفرمائيل: ستا د راتلو نه مخکښې نبی ﷺ ددے نه هم ډيره دخوشحالۍ خبره اوکړه او هغه دا چه څوك صرف اودس اوکړی اودا دعاء اووائی: (اشهد ان لا اله الا الله الخ) نو الله به ورته دجنت اته واړه دروازے پرانيزی، نو بيا به عقبهؓ اول حديث د رسول الله ﷺ نه نقل کولو، اودا دويم حديث به ئے د عمر بن الخطابؓ عن رسول الله ﷺ طريقے سره نقل کولو۔

فائده: په اودس کولو سره دظاهر پاکی حاصليږی اوپه دے ذکر کولو سره د باطن پاکی حاصليږی اوکله چه د انسان ظاهر اوباطن دواړه پاك شی نو دجنت مستحق شی۔ ﴿قد افلح من تزكى وذكر اسم ربه فصلى﴾ [اعلىٰ: ١٤] کښې ورته اشاره ده۔

بيا اته دروازے دجنت ئے ذکر کړے اګرچه انسان به ديو دروازے نه داخليږی دکومے دروازے مطابق ئے چه ډير عمل کړے وی، ليکن اته دروازونه به ورته آواز کيږی دپاره دتعظيم او اکرام دده بغير د نورو انسانانو نه په ورځ دقيامت کښې۔ ددے اته دروازو ذکر په آثارو کښې راغلے دے کما فی شرح مسلم للنووی کوم انسان چه دکومے دروازے مطابق عمل کوی هغې نه به داخليږی: ١- يو باب الصلاة۔ ٢- باب الصدقة۔ ٣- باب الجهاد۔ ٤- باب الصيام (باب الريان) ٥- باب التوبة۔ ٦- باب الكاظمين الغيظ (دغصه خوړونکو دروازه) ٧- باب الراضين

بالقضاء (په تقدير باندے چه خوك رضاء وى نو ددے دروازے نه به ورته آواز كولے شى) ٨- باب الايمن: يعنى هغه كسان به ورته داخليږى چه دهغوى سره هيڅ قسم حساب نه وى۔اويو حديث كښ دى چه ددے داخليدونكو حساب اويا زره كسان دى۔

سوال: حديث كښ دى (باب الريان لا يدخل منه الا الصائمون) (باب الريان نه به صرف او صرف روژه دار داخليږى) نودلته دا شخص په دے دعاء لوستلو سره څنګه دباب الريان نه داخليدے شى؟۔ **جواب**: ابن دقيق العيدؒ فرمائى: ده لره خو الله اختيار وركړيدے مګر دده په زړه كښ به دا نه تيريږى چه دے باب الريان نه داخل شى كله چه روژه دار نه وى اودا اختيار داته دروازو صرف د تعظيم اوشرافت دپاره دے۔كذا فى حاشية ابى داود۔

الفائدة السنية: **مسئله**: اودس كښ مسنون اذكار صرف درے راغلى دى، باقى اذكار ټول بدعى دى، خلقو دځانه جوړ كړيدى۔ ١- اول مسنون ذكر: لفظ د بسم الله وئيل (نه پوره بسم الله) په ابتداء د اوداسه كښ۔ داپه حديث كښ ذكر ده لكه چه رابه شى۔ ٢- د اوداسه په آخر كښ دا ذكر راغلے دے كوم چه په دے حديث دعمر فاروقؓ كښ ذكر دے (اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له، واشهد ان محمداً عبده ورسوله) او په روايت د ترمذى كښ ورسره دا الفاظ زيات دى (اللهم اجعلنى من التوابين واجعلنى من المتطهرين) دا زيادت اګرچه سند كښ ئے معمولى شان كلام دے ليكن ابن خزيمه كښ ددے دپاره دوه شواهد روايات موجود دى عن ثوبانؓ وغيره۔ نو په هغے سره صحيح كيږى چه دهغے نه معلوميږى چه ددے الفاظو لوستل هم پكار دى ان شاء الله تعالى۔كما فى الارواء (١/١٣٥) وعمل اليوم والليله لابن السنى رقم (٣٠) اګركه على القارى ورته ضعيف وائى د انقطاع او اضطراب په وجه ليكن روايت صحيح دے۔

دے دعاء سره بعض خلق ګوته اوچتوى او آسمان ته ګورى، خو دا ګوته اوچتول هيڅ حديث كښ نه دى راغلى، نودا اوچتول نه دى پكار۔اوهرچه آسمان ته كتل دى نو دا په هيڅ صحيح روايت كښ نه دى ثابت۔

صرف يو ضعيف حديث د ابوداود (١/٣٥) اودارمى (١/١٤٨) كښ راغلے دے: عن ابى عقيل عن ابن عمه عن عقبة بن عامر قال: قال لى عمر بن الخطاب قال رسول الله ﷺ: (من توضا فاحسن الوضوء ثم رفع بصره الى السماء فقال: اشهد ان لا اله الا الله ---الحديث) وسنده ضعيف لجهالة ابن عم ابى عقيل وهو مجهول كذا فى فتاوى الدين الخالص (١/٤٥٨)۔

٣- دريم ذكر: د پاخيدو په وخت كښ به دا ذكر وائى: سبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك۔ دا هم داودس پورے مختص نه دے، بلكه د هرے ناستے نه داوچتيدو په وخت ذكر دے۔كذا رواه النسائى فى عمل اليوم والليله (١/٤٣) والحاكم (١/٥٦٤) الصحيحة (٥/٤٣٨)۔ ٤- عمل اليوم والليلة لابن السنى رقم (٢٨) باب الدعاء بين ظهرانى

الوضوء کښې يو ذکر راغلے دے (اللهم اغفر لی ذنبی ووسع لی فی داری وبارك لی فی رزقی) ليکن دا د اودس پورے مختص نه دے بلکه عام ذکر دے۔ د اودس قيد اودارنګه دمونځ قيد ورسره ذکر کول ضعيف دی، کما فی مسند احمد، بلکه دا په اذکار مطلقو کښې داخل دے۔ ځکه چه د ابومجلز او ابو موسیٰؓ مينځ کښې انقطاع ده، کذا فی تمام المنه ص (۹۶) وغاية المرام ص (۸۵)۔

والحديث الذی رواه محی السنة فی الصحاح : غرض دمصنفؒ په دے عبارت خپل سره اعتراض کول دی په صاحب المصابيح باندے، چه په فصل اول کښې ئے روايت د ترمذی ذکر کړيدے اود خپل شرط خلاف ئے کړيدے ده دا خيال کړيدے چه دا روايت (دترمذی) په صحيحينو کښې ذکر دے، يا صرف په بخاری کښې يا صرف په مسلم کښې او دا په دے خيال کښې خطاء شويدے، بلکه دا روايت په صحيحينو کښې نه دے ذکر۔

۹- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اِنَّ اُمَّتِیْ يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِيْنَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوْءِ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ اَنْ يُّطِيْلَ غُرَّتَهٗ فَلْيَفْعَلْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د قيامت په ورځ به زما امت داسے حال کښې بللے شی چه د اودس په وجه به د هغوئ مخونه روښانه وی او اندامونه به ئے ځليږی، نو تاسو کښې چه کوم سړے غواړی چه هغه خپله رڼړا زياته کړی نو هغه له پکار دی چه هغه داسے اوکړی (بخاری، مسلم)۔

تشريح : اِنَّ اُمَّتِیْ يُدْعَوْنَ: مونځ ګذار د نبی ﷺ امت دے نه بے نمازه (تارك الصلاة) ځکه ئے امتی لفظ ذکر کړو، اودا وجه ده چه دا حديث بعض علماؤ دليل ګرځولے دے په کفر د تارك الصلاة باندے کما فی نواقض الايمان۔ يدعون : (ای ينادون للحساب)۔ (آواز به ورته کيدے شی د حساب دپاره) او ماشومان تابع دمور پلار دی۔ اوليونی ترينه په نورو دلائلو سره خارج دی ولے چه دوئ مکلف نه دی۔ غُرًّا مُحَجَّلِيْنَ : جمع داغر ده (ای ذی غرة)۔ غره داس په تندی کښې سپين داغ ته وائی مراد ترينه دلته هغه نُور دے چه دمسلمانانو په مخونو به روشنائی کوی۔ بيا ئے عرب استعمالوی ۱- دشريف دپاره۔ ۲ - اود اول الشئ دپاره لکه غرة المحرم ای اول المحرم۔ اودا سپين داغ هم په تندی کښې اول وی۔ تحجيل هم هغه سپينوالی ته وائی چه داسونو په خپو کښې وی يعنی برګ بروګ وی، او ماخوذ دے دحِجل بالکسر نه، اوحجل په لغت عربی کښې خلخال او پانزيب ته وائی چه خپو ته اچولے شی دپاره دزينت۔ اودلته ترے مراد هغه نُور او رڼړا ده چه داودس په وجه حاصله شويده په خپو اولاسونو کښې۔

فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ اَنْ يُّطِيْلَ غُرَّتَهٗ فَلْيَفْعَلْ : جمهورعلماء اطالة الغرة مستحب نه ګڼړی نو

اعتـراض پـرے راغـلـو چـه دلته خو نبي ﷺ فرمائي چه دچا طاقت وي نو اودِے كړي نو كول ئے مستحب شو ځكه نبي ﷺ دعوت وركړو۔

جواب : جـمـهـور وائـي : دا روايت مُدرج دے لس راويانو نقل كړيدے تول من استطاع الخ الفاظ نه ذكر كوي صرف نعيم راوي ئے ذكر كوي، نو دا شاذ دے بيا دنعيم راوي هم شك دے، وائي (لاادري قوله : فمن استطاع الخ من قول النبي ﷺ اومن قول ابي هريرة) هكذا ذكره الحافظ في الفتح (١/١٩١)۔

دا وجه ده چه شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله د تطويل الغرة نه انكار كړيدے، اووئيلي ئے دي چه تطويل الغرة په مخ كښې ممكن نه دے۔ ځكه سر وينځل خو نشته بلكه په هغې باندے خو مسح كول دي، اوتطويل الغرة في اليدين نه مراد (ادخال المرافق في الغسل) دي يعني پوره لاسونه تر څنګلو پورے وينځل دي۔كما مر۔ ٢ - اويا غرض په تطويل الغرة كښې تاكيد دے په پوره اودس كولو باندے لكه د(اسبغوا الوضوء) پشان دے۔٣ - يا بار بار اودس كول مراد دي۔كما في زاد المعاد (١/٤٠٩) ليكن غوره قول د امام شافعيؒ دے چه مستحب ئے ګڼړي، او دليل په استحباب باندے دوه دي لكه چه مخكښې تير شو۔ليكن داعمل هم دهميشه دپاره نه وو، بلكه كله كله كول ئے مستحب دي۔اودليل په كله كله كولو باندے دا دے چه دا د عام صحابوؓ نه نه دے نقل ځكه د نبي عليه السلام عادت مستمره نه وو۔لكه روايت د ابو هريرهؓ كښې تير شو۔

١٠- وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوَضُوْءُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابو هريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : (جنت كښې) مؤمن ته به زيور (هغې ځائے پورے) رسي كوم ځائے پورے چه د اودس اوبه رسي۔(مسلم)۔

تشريح : تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوَضُوْءُ : په دے حديث كښې دوه احتماله دي : ١- اول دا چه : اوبه د اوداسه چه شرعاً كوم ځائے ته رسي چه هغه مخ اوڅنګلے اوخپے دي تر ګيټو پورے۔
٢- دويم په دے كښې ترغيب دے اطالة الغرة والتحجيل ته چه ستا ګانړه (كالے) او سپين والے به هغه ځائے ته رسي كوم ځائے ته چه ډِے اوبه اورسولے نوكه اوبه د اوداسه دے مټ ته اورسولے مټ پورے به درته ګانړه اچولے شي اوكه څنګلو پورے ډِے اورسولے نوڅنګلو پورے به وي خوجمهور علماء اطالة الغرة نه مني نو په دے وجه هغوي وائي دا په خپل ظاهر نه دے حمل، ځكه چه كه اطالة الغره مستحب شي نو بيا د اوداسه اوبه په خيټه واچوه اوپه شا باندے هم واچوه نو هغه ډِے هم مستحب شي او هغه خو تاسو (اے شوافعو) هم نه منئ۔شوافع دا جواب كوي چه (حيث يبلغ الوضوء) نه مراد هغه ځايونه دي چه كوم ځائے ته چه نبي ﷺ اوبه رسولي دي

مطلق بدن نه دے مراد نو اطالة الغره به هغه ځائے کښ کیږی کوم ځائے پورے چه د نبی علیه السلام عمل وی، چه هغه مواضع د اوداسه دی لکه لاسونه ترترخونو او اوګو پورے اوښپے تر ساقین (پنډو) پورے، خیټه او شا نه ده مراد۔ وهو الحق۔

الفصل الثانی

۱۱- عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِسْتَقِيْمُوْا وَلَنْ تُحْصُوْا وَاعْلَمُوْا اَنَّ خَيْرَ اَعْمَالِكُمُ الصَّلاَةُ وَلاَيُحَافِظُ عَلَى الْوُضُوْءِ اِلَّا مُؤْمِنٌ». رَوَاهُ مَالِكٌ وَاَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ثوبانؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: نیغ اوسئ، او د نیغ اوسیدو طاقت به هیڅ کله اونه لرلے شئ، او پو هه شئ چه ستاسو اعمالو کښ بهترین څیز مونځ دے اود اودس حفاظت صرف مؤمن کوی۔ (مالك، احمد، ابن ماجه، دارمی)۔

تعارف د ثوبان رضی الله عنه: ثوبان بن بُجدُد ؓ د نبی اکرم ﷺ آزاد کرده غلام دے په اصل کښ دا د یمن اوسیدونکے وو لیکن چا ترے غلام جوړ کړے وو او بیا نبی ﷺ اخستے وو او آزاد ئے کړو او ورته ئے اوویل: ستا اختیار دے که خپل اهل ته واپس کیږے اوکه مونږ سره حصاریږے، نو ثوبانؓ پاتے کیدل غوره کړل نو بیا به نبی ﷺ سره همیشه ګرځیدو په حضر او سفر تولو کښ، د نبی ﷺ د وفات نه پس شام ته لاړو، رَمله بیا حمص کښ اوسیدو او هلته ئے کور جوړ کړو او په سنه (٥٤ هـ) کښ وفات شو۔ (۱۲۷) احادیث ترے نقل دی۔ ؓ۔

تشریح: اِسْتَقِيْمُوْا: (ای دوموا علی العمل ولا تروغوا روغان الثعالب)۔ (یعنی په اعمالو باندے همیش والے اوکړئ او د ګیدړانو په شان اخوا دیخوا مه اوړئ راوړئ) استقامت په شریعت کښ د حق تابعداری کول، او په نیغه لار باندے روانیدل، یعنی ټولو ماموراتو باندے راتګ کول او د ټولو منهیاتو نه ځان بچکولو ته وائی۔ پدے وجه ئے دیته ګران هم وئیلے دے۔

وَلَنْ تُحْصُوْا: ۱- یعنی تاسو به شمار نه کړے شئ ثواب د استقامت۔ ۲- یا تاسو طاقت نشئ لرلے د استقامتِ حقه ځکه چه دا ډیر ګران کار دے، لیکن په دے معنی باندے سوال دے چه هر کله انسان د استقامت طاقت نشی لرلے نو نبی ﷺ خومونږ ته په دے خبره امر کړیدے نو امر ته بیا ضرورت څه دے؟ **جواب**: په دے کښ مقصود دوام دے یو سړے به څه موده پورے اعمال اوکړی او بیا به وائی زه استقامت ته اورسیدم، نو نبی اکرم ﷺ داسے کسانو ته فرمائی: (ولن تحصوا) تاسو طاقت د استقامت نشی لرلے پوره طریقے سره په بعض اعمالو کولو سره بلکه ترمرګه پورے به عمل کوے۔ ﴿واعبد ربك حتی یاتیك الیقین﴾ [آخر النحل] ۔ او دارنګه پدے کښ مقصود تنبیه ده مکلفینو ته چه ځان کښ تقصیر اوګنړئ او په کوشش باندے ځانونه راتیز کړئ۔ (مرقاة)

اَنَّ خَيْرَ اَعْمَالِكُمُ الصَّلاَةُ: دلته غوره عمل صلاة ته وئیلے شویدے، کله جهاد ته، کله اخلاق

حسنه ته، کله اطعام الطعام وغیره ته غوره عمل وئیلے شویدے، د موقع او د محل دمناسبت په وجه سره، اومطلقاً غوره مونځ دے پس د ایمان نه اوهغه باقي دموقع او محل د وجے نه غوره گرځي۔ ۲ – ولا یحافظ : ۱ – ښه اودس کول (په اداء د شرطونو او سننو) ۲ – یا دمحافظة نه مراد دوام دے یعني همیشه دپاره اودس کښې گرځیدل دمؤمن صفت دے، اوکله کله د بیان الجواز دپاره پریښودل هم پکار دي، دپاره ددے چه فرض تربے جوړ نشي۔ اودا حدیث دلیل دے چه اودس عبادتِ محضه مستقله دے اگرکه دمانځه دپاره هم نه وي، نو دشرح وقایه او هدایه خبره غلطه ده چه اودس صرف وسیله ده، عبادت مقصوده نه دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه مالك في الموطأ (۳۶) واحمد (۲۸۰/۵ – ۲۸۲) والدارمي (۱۶۸/۱) وابن ماجه (۲۷۷) باسناد حسن۔وقال الالباني في تعليق المشكاة ص (۲۶) اخرجوه من طرق فهو بها صحيح احدها الحاكم (وقال صحيح على شرط الشيخين واقره الذهبي) والمنذري آه۔

---

۱۲ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ تَوَضَّأَ عَلٰى طُهْرٍ كُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ». رواهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ابن عمر ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چا چه د اودس دپاسه اودس اوکړو، نو هغه دپاره لس نیکئ لیکلے شي۔(ترمذی)۔

تشريح : مَنْ تَوَضَّأَ عَلٰى طُهْرٍ كُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَات : دلته یوبل روایت دے چه (الوضوء على الوضوء نور على نور) (دیو اودس دپاسه بل اودس کول نور علی نور دے)۔دا حدیث نه دے بلکه هسے یوه مقوله ده چا دځانه جوړه کړیده، اوددے حدیث نه ئے ماخوذ کړیده۔

فائده : قانون دا دے چه یو اودس دبل اودس دپاسه کول دابه کله وي، نو دا هله چه انسان اودس اوکړي او په دے باندے وخت تیر شوے وي۔

۲ – او یا په دے اوداسه باندے څه عمل کړے شوے وي لکه دوه رکعته مونځ پرے شوے وي نو بل اودس کول مستحب دي۔اوکه هیڅ عمل پرے نه وي شوے او وخت هم ډیر نه وي تیر شوے لکه اوس اودس اوکړي اوچه مسجد ته اورسي بیا اودس کوي اواودس ئے نه وي مات، نودا کار بدعت دے او اسراف دے۔دا نبي ﷺ او صحابه کرامو ؓ نه دے کړے، ځکه هر فضیلت چه دین کښې راغلے دے نو نبي ﷺ او صحابو ؓ پرے ضرور عمل کړے وي، هغوی نه دا کار نه دے نقل، اوکه تا په اودس تلاوت اوکړو یا مونځ اوبیا تازه کوے نو په دے کښې اجر دے ځکه کیدے شي چه مینځ کښې ډیے دغفلت خبرے کړے وي، خندا وغیره ډیے کړے وي، نودوباره اودس کولو سره به دا گناهونه ختم شي۔ **فقه حنفي** کښې ئے دا فرق کړیدے چه که عبادت مقصوده ئے کړے وو لکه فرض مونځ نو روستو ډیے اودس اوکړي، اوکه عبادت غیر مقصوده ئے کړے وي لکه تلاوت

اوذكر وغيره څكه ددې دپاره اودس فرض نه دې نو بيا به دوباره اودس نه كوي، دا فرق څه حديث كښې نه دې راغلې صرف قياسي خبره ده، چه كله عبادت مقصوده پرې اوكړې شي نود اودس طاقت ختم شو، اوچه غير مقصوده پرې اوكړې شي نو طاقت ئې برحال دې خو ظاهره دا ده چه دې فرق ته هم ضرورت نشته بلكه كه هر عمل پرې اوكړې شي نو دهغې نه روستو بل اودس كول مستحب دي۔

درجة الحديث : دا حديث ضعيف دې، ترمذي راوړيدې، سند كښې ئې عبد الرحمن بن زياد بن انعم الافريقي دې اوداقاضي شوې وو نو احاديثو كښې به پرې اختلاط راتلو، اودده استاذ ابو غطيف هم مجهول دې اگر كه دا ضعيف جداً روايت نه دې څه متروك او كذاب راوي په كښې نشته۔او معنى دحديث صحيح ده، د اصولو ددين نه معلومه ده څكه اودس نيك عمل دې او په هر نيك عمل باندې ادنىٰ درجه لس نيكئ وي۔

الفصل الثالث

١٣- عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ». رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه : جابرؓ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : دجنت كُنجي مونځ دې اود مونځ كنجي اودس كول دي۔(احمد)۔

تشريح : وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ : كله دجنت مفتاح (چابي) كلمه دتوحيد ذكر كوي او كله مفتاح الجنة مونځ ته وائي۔ نو اصل دا ده چه كلمه دتوحيد دا نفسِ مفتاح دجنت دې اونور اعمال لكه صلاة وغيره دا اسنان (غاښونه) دمفتاح الجنة دي نودلته ذكر دجزء شويدې اومراد ترينه كل دې لكه د (ما كان الله ليضيع ايمانكم) پشان چه ذكر د ايمان دې او مراد ترينه صلاة دې (ذكر الكل وارادة الجزء) بيا دا جمله ذكر كول تمهيد دې دويمې جملې دپاره يعني لكه څنگه چه جنت ته انسان بغير دمانځه نه نشي داخليدې نو دغه شان په مانځه كښې نشي داخليدې بغير اوداسه نه۔دا وجه ده چه بعض علماء دا حديث هم دليل گرځولې دې په كفر دهغه چا چه مونځ پريدي۔

فائده بديعه : ابن العربيؒ فرمائي : چه دلته ئې اودس ته چابي مجازاً وئيلې ده استعاره بديعه ئې كړيده څكه چه حدث مانع دې دصلاة نه نو دا پشان د يو قلف دې چه پې اودسه انسان ته لگيدلې دې خو كله چه انسان اودس اوكړي نودا قلف ترې پرانستې شي نواودس چابي شوه دخلاصي د بې اودسه انسان د دې قلف نه، اودا استعاره بعينه په اوله جمله كښې هم ده۔چه دجنت مفتاح ئې صلاة گرځولې دې څكه چه دجنت دروازې ته قلف لگيدلې دې او هغه به په مانځه اونورو طاعاتو سره پرانستلې شي، هكذا في المرعاة وغيره (٢/١٤)۔

درجة الحديث : رواه احمد من حديث سليمان قوله، وعن ابي يحيى القتات الخ وسليمان بن قرم

سئ الحفظ وابو یحیی لین الحدیث وقال ابن عدی : احادیثه عندی حسان۔وقال الالبانی : والشطر الثانی له شاهد بسند حسن عن علی سیاتی فیما بعد ان شاء اللّٰه تعالی۔

١٤- وَعَنْ شَبِيْبِ بْنِ اَبِيْ رَوْحٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ صَلّٰى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَقَرَأَ الرُّوْمَ فَالْتَبَسَ عَلَيْهِ فَلَمَّا صَلّٰى قَالَ: «مَا بَالُ اَقْوَامٍ يُصَلُّوْنَ مَعَنَا لَايُحْسِنُوْنَ الطُّهُوْرَ وَاِنَّمَا يُلَبِّسُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ اُولٰئِكَ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه : شبیب بن ابی روحؒ د رسول الله ﷺ په صحابوؓ کښې دیو صحابی نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ (یوځل) دسحر مونځ اوکړو او هغے کښې ئے سورت روم اولوستلو، نو په هغے کښې ګډوډ شو، څه وخت ئے چه مونځ پوره کړو، وے فرمائیل : خلقو له څه شوی دی چه مونږ سره مونځ کوی او په ښه شان اودس نه کوی او په دے وجه دا خلق مونږ باندے قرآن کښې اشتباه اچوی۔(نسائی)۔

تعارف دشبیب : دا د ثقات التابعین نه دے حافظ ابن حجر ذکر کړیدے او صحابی نه دے بعض وائی ابوروح د شبیب کنیه ده، اود پلار نوم ئے نعیم الکلاعی دے۔

تشریح : رَجُلٍ : ددے رجل نوم الاغر الغفاری ذے کذا ذکر ابن عبد البر فی الاستیعاب (٤٥/١)۔**الفوائد البهیة** : ١- رسول الله ﷺ بشر دے دا وجه ده چه التباس دقرآن پرے راغلے دے۔ ٢- عالم الغیب نه دے چه دمخکښې نه هغه کسانو ته خبر ورکړی چه اودس ښه نه کوی چه تاسو زمونږ سره مه اودریږئ۔ ٣ - اوپه نبی ﷺ قرائت څکه ګډوډ شویدے چه ددے خلقو سپیره والے تاثیرکوی په غیر باندے هم دا وجه ده چه روایت د احمد کښې راځی (انما لبّس الشیطان القرائة من اجل أقوام یاتون الصلاة بغیروضوء) یعنی بعض کسان بے اودسه ولاړوی یا ښه شرائط اوسنن سره اودس نه کوی نو دهغوی سره شیطان ملګرے وی نو بیا وسوسے اچوی اوقرأت په بل باندے ګډوډ کوی۔

٤- دا وجه ده علامه طیبیؒ یوه فائده ذکر کړیده چه هرکله په نبی ﷺ باندے کوم چه جلیل القدر او صاحب الکمالات انسان دے په هغه باندے د بد صحبت تاثیر کیږی نو په هغه کسانو چه اهل الاهواء او بدعتیانو سره تعلقات او صحبت لری نو تاثیر به ولے نه کیږی۔

صحبت صالح ترا صالح کند ٭ صحبت طالح ترا طالح کند

٥- په یوروایت کښې داسے راځی چه نبی ﷺ ابی بن کعبؓ ته اوفرمائیل : فتح دے ولے نه راکوله، کله چه په ما باندے قرائت ګډوډ شو۔نو دا دلیل دے چه په فتح ورکولو سره دامام او مقتدی مانځه کښې هیڅ فرق نه راځی، برابره خبره ده چه که امام فتح واخلی اوکه نه، لکه ددے دلائل به په باب العمل فی الصلاة کښې راشی۔

نو متاخرينو فقهاؤ چه دا صورتونه ذکر کړيدي چه که امام دمقتدي فتح وانخلي نو دمقتدي مونځ باطل شو۔ دارنګه که امام بل آيت يا سورت ته نقل شو او مقتدي فتح ورکړه او امام واخستله نو مونځ ئې باطل شو، دا ټول بې اصله صورتونه دي۔ دليل کښې ئې دځانه يو قاعده جوړه کړيده چه دا تعليم او تعلم في الصلاة دے اودا مفسد دے بلکه دا لا څه چه دخارج الصلاة نه فتح ورکولو سره هم ستا په مونځ کښې هيڅ فرق نه راځي، اګرچه تاسره مانځه کښې شريك نه وي، اودا په احاديثو کښې راغلي دي، لکه چه په خپل مقام کښې به راشي۔ ان شاء الله۔

٦ – **فائده عجيبه** : که يو سړے مکمل فاتحه اولولي نو مونځ ئې پوره شو اګرکه قرائت کښې هر څومره خطاء شي، يا آيت پريدي يا تبديلي دآيت اوکړي، نو سجده سهو نه لازميږي۔ دا حديث پرے دليل دے څکه التباس په خطاء او تقديم اوتاخير سره کيږي او نبي ﷺ أمر نه دے کړے په سجده سهو کولو باندے۔ ٧ – داخبره هر امام نشي کولے کله چه په مانځه کښې خطاء شي چه زه ستاسو د وجے نه خطاء شوم اے مقتديانو بلکه دا صرف نبي اکرم ﷺ کولے شي څکه هغه ته په وحي سره معلومه شوے وه اوکه نور انسانان ئې وائي نو صرف دګمان په درجه کښې به وي چه کيدے شي چه مقتديانو په اودس کښې به فرق وي څکه خطائي واقع شوه۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه النسائي في سننه (١٥١/١) ورجاله ثقات الا ان عبد الملك بن عمير كان تغيرحفظه بل قال فيه ابن معين : مخلط قاله الالباني في تعليق المشكاة ص (٩٧) وقال القارى قال ابن حجر: اسناده حسن وقال في تمام المنة ص (١٨٠) ومن ذلك تعلم ان من حسن سنده قديماً وحديثا فما احسن۔مع مخالفة متنه لظاهر قوله تعالى : ومن اساء فعليها۔والله اعلم آه۔

---

١٥ – وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ قَالَ: عَدَّهُنَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ يَدِيْ أَوْفِيْ يَدِهِ، قَالَ: «اَلتَّسْبِيْحُ نِصْفُ الْمِيْزَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ يَمْلَأُهُ وَالتَّكْبِيْرُ يَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَالصَّوْمُ نِصْفُ الصَّبْرِ وَالطُّهُوْرُ نِصْفُ الْإِيْمَانِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ.

ترجمه : دبنو سُليم قبيلے ديو سړي نه روايت دے چه رسول الله ﷺ (دا مذکوره څيزونه) زما په لاس باندے يا خپل لاس باندے شمير کړل، وے فرمائيل : سبحان الله وئيل (يعني ددے ثواب) نيمه تله ډکوي، او الحمد لله وئيل پوره تله ډکوي، او الله اکبر هغه څيز ډکوي چه دآسمان او زمکے مينځ کښې دے، اوروژه نيم صبر دے اوپاك اوسيدل نيم ايمان دے – ترمذي داحديث روايت کړيدے اووئيلي دي چه داحديث حسن دے۔

تشريح : رَجُلٌ مِنْ بَنِيْ سُلَيْمٍ (وهو صحابي) وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ يَمْلَأُهُ : دوه احتماله دي : ١ – سبحان الله نيم ميزان ډکوي، او الحمد لله نيم شو نو پوره ميزان شو۔ ٢ – يا يواځے الحمد لله ئې پوره

کوی او سبحان الله صرف نیم میزان دے نو په دے احتمال الحمد لله غوره ده دسبحان الله نه۔

درجة الحديث : اخرجه الترمذی (٣٥١٩) وقال حدیث حسن، وفیه جری النهدی وهو ابن کلیب ولم یرو عنه غیر ابی اسحاق السبیعی فهو فی عداد المجهولین۔

١٦- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ الصَّنَابِحِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ فَمَضْمَضَ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ فِيْهِ وَاِذَا اسْتَنْثَرَ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ اَنْفِهِ فَاِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ وَجْهِهِ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ اَشْفَارِ عَيْنَيْهِ فَاِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ يَدَيْهِ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ اَظْفَارِ يَدَيْهِ فَاِذَا مَسَحَ بِرَأْسِهٖ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رَأْسِهٖ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ اُذُنَيْهِ فَاِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رِجْلَيْهِ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ اَظْفَارِ رِجْلَيْهِ ثُمَّ كَانَ مَشْيُهُ اِلَى الْمَسْجِدِ وَصَلَاتُهُ نَافِلَةً لَهُ». رَوَاهُ مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : عبد الله صنابحی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : هرکله چه مؤمن بنده داودس اراده کوی اوخُله کنگالوی نو گناه دهغه خلے نه خارجیږی، اوکله چه پوزه صفا کوی (سنړوی) نو گناه دهغه دپوزے نه خارجیږی، اوکله چه خپل مخ وینځی نو گناه دهغه دمخ نه خارجیږی، تردے چه دهغه دسترگو دبنړو لاندے نه گناه اوځی، اوهرکله چه هغه خپل دواړه لاسونه وینځی نو گناه دهغه دواړو لاسونو نه اوځی تردے چه دهغه ددواړو لاسونو دنوکونو دلاندے نه هم گناه اووځی، او هرکله چه دخپل سر مسح کوی، نو گناه دهغه دسر نه اوځی، تردے چه دهغه ددواړو غوږونو نه هم گناه اوځی، اوهرکله چه خپلے دواړه خپے وینځی نو گناه دهغه ددواړو خپو نه اوځی، تردے چه دخپو نوکونو لاندے نه هم اوځی۔بیا جومات طرفته تلل اودهغه مونځ هغه دپاره (اعمالو کښ) زیاتی دے۔(مالك، نسائی)۔

تشریح : په دے کښ اختلاف دے چه آیا دا عبد الله صحابی دے که تابعی، دوه قوله دی په کښ : ١- اول قول دا دے چه دا تابعی دے او خپل نوم ئے عبد الرحمن بن عسیله دے اوکنیه ئے ابو عبد الله الصنابحی دے او عبد الله الصنابحی خطاء دے، اوده ټول احادیث دنبی ﷺ نه مرسل دی، لکه چه امام بخاری اوعلی بن المدینی دا قول کریدے۔ ٢- قول ثانی دادے چه دا صحابی مدنی دے اوعبد الله الصنابحی ئے نوم دے اودرے احادیث ترے نقل دی، یو دهغے نه دا حدیث دے او بعض روایاتو کښ تصریح دسماع عن النبی ﷺ شویده وهو قول الحاکم۔اوهرچه ابو عبد الله الصنابحی دے چه دهغه نوم عبد الرحمن بن عسیله دے نو هغه بل شخص دے اوتابعی دے، هکذا فی تهذیب التهذیب (٦/٩١)۔

مِنْ تَحْتِ أَشْفَارِ عَيْنَيْهِ : اشفار جمع شفر بضم الشين ، اهداب اوبنړو ته وائی کوم چه دسترګو په طرفونو باندے راخيژی، يعنی که بدن ئے کرے وی نو هغه ګناه هم الله داوداسه په وجه رژوی۔ ثم كان مشيه : ددے نه دا فائده معلومه شوه چه كور كښ اودس كول سنت دی، دے دپاره چه انسان ددے خير نه محرومه نشی خونن صبا خلق هرڅه په مسجد كښ كوی اودس اوسنت او تلاوت، كور ته هيڅ خير نه پريدی۔ وَصَلَاتُهُ نَافِلَةً : يعنی مونځ به ئے زياتی ثواب شی دپاره د رفع د درجاتو، څكه ګناهونه په اوداسه سره ختم شو، ليكن كه داسے ګناهونه وی چه هغه د اوداسه سره متعلق وی هغه به په اوداسه سره لرے شی اوكه داسے ګناهونه وی چه هغه په اوداسه سره لرے نشی نو په مانځه سره به لرے شی، اوكه ګناهونه بالكل نه وی، پاك انسان دے نو په اوداسه به هم ورله الله درجات اوچت كړی او په مانځه هم۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه مالك (٣٢/٦٢) والنسائی (٧٤/١-٧٥) واخرجه ابن ماجه واحمد والحاكم وقال : صحيح علی شرطهما ولا علة له۔وقال الالبانی : واسناده صحيح۔

١٧- وَعَنْ اَبِی هُرَيْرَةَ: اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اَتَی الْمَقْبَرَةَ فَقَالَ: «اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ وَدِدْتُّ اَنَّا قَدْ رَأَيْنَا اِخْوَانَنَا » قَالُوْا: أَوَلَسْنَا اِخْوَانَكَ يَارَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ: اَنْتُمْ اَصْحَابِی وَاِخْوَانُنَا الَّذِيْنَ لَمْ يَأْتُوْا بَعْدُ»فَقَالُوْا: كَيْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ يَأْتِ بَعْدُ مِنْ اُمَّتِكَ يَارَسُوْلَ اللهِ فَقَالَ: «أَرَأَيْتَ لَوْ اَنَّ رَجُلًا لَهُ خَيْلٌ غُرٌّ مُحَجَّلَةٌ بَيْنَ ظَهْرَانَیْ خَيْلٍ دُهْمٍ بُهْمٍ اَلَا يَعْرِفُ خَيْلَهُ؟ قَالُوْا: بَلٰی، يَارَسُوْلَ اللهِ. قَالَ: فَاِنَّهُمْ يَأْتُوْنَ غُرًّا مُحَجَّلِيْنَ مِنَ الْوُضُوْءِ وَاَنَا فَرَطُهُمْ عَلَی الْحَوْضِ». رواه مسلم.

ترجمه : ابو هريرهؓ نه روايت دے (يوځل) رسول الله ﷺ (جنت البقيع) مقبرے ته (دمغفرت دعاء دپاره) تشريف راوړو (دلته رارسيدو سره) نبی كريم ﷺ اوفرمائيل : اے دمؤمنانو جماعته ! په تاسو دِے سلامتی وی، مونږ هم ان شاء الله تاسو سره يو ځائے كيدونكی يو، اوزه ددے خبرے آرزو لرم چه مونږ خپل ورونړه اووينو۔ صحابوؓ عرض اوكړو، يارسول الله ! آيا مونږ ستاسو ورونړه نه يو، نبی ﷺ اوفرمائيل : تاسو زما ملګری (دوستان) ئے، او زما ورونړه هغه دی چه اوس لا (دنيا ته) نه دی راغلی۔ صحابوؓ عرض اوكړو يارسول الله ! ستاسو امت كښ چه كوم خلق لا نه دی راغلی هغوئ به تاسو (قيامت كښ) څنګه اوپيژنئ، نبی كريم ﷺ اوفرمائيل : ماته ددے خبر راكړئ كه يو سړی سره سپين تندی اوسپين لاس پښو واله آسونه وی او هغه ډير تور آسونو سره يو ځائے شوے وی، نو آيا هغه به خپل آسونه نه پيژنی، صحابو عرض اوكړو، ولے نه يارسول الله (ددے امتيازی اوصافو په وجه به ئے ضرور پيژنی) نبی كريم ﷺ اوفرمائيل :

هغویٔ بـه (دقیامت په ورځ) داودس اثر په وجه سپین مخ او سپین لاس خپو سره راځي (نو دیے نبیے سره به زه هغویٔ پیژنم) اوزه به حوض کوثر باندیے دهغویٔ د پروگرام جوړولو دپاره مخکښ لیګلے شویے یم(مسلم)۔

تشریح : اَتَی الْمَقْبَرَةَ : مقبریے ته تلل سنت دی ددعاء د مړو دپاره او تزهید فی الدنیا اورغبت فی الآخرة دپاره۔ مددونه اوحاجتونه به تریے نه غواړي چه زه تاله راغلے یم اوته الله ته اووایه، دا زیارت شرکی دیے، بیا دا مقبره یا بقیع دیے یا بله مقبره ده خو ظاهر اول قول دیے۔

اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ : سلام مستلزم سماع لره نه دیے چه سماع موتیٰ تریے ثابته شي دیته سلام الدعاء وائي۔ یعنی الله مو په سلامتیا کښ لره۔

دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِیْنَ : ایے اهل دکور دمؤمنانو۔ اود مؤمنین قید ئے ځکه اولګولو چه کیدیے شي دیے مقبره کښ کوم مشرك پروت وی نو تولو مړو ته دعاء جائز نه ده، ولے چه مشرك د الله دشمن دیے ﴿ ماکان للنبی والذین آمنوا ان یستغفروا للمشرکین ولو کانوا أولی قربی من بعد ما تبین لهم انهم اصحاب الجحیم ﴾[التوبة] ۔ (نبي او ایمان والو لـه جائز نه دی چه هغوی مشرکانو دپاره اګرکه خپلوان ئے وی – بخښه اوغواړي) وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِکُمْ لَاحِقُوْنَ : **سوال** : مرګ په هر انسان باندیے راتلل خویقیني دی نو مشیت د الله ذکرکولو څه معنی ده ؟ **جواب** : ددیے مختلف توجیهات دی : ١ – اول دا چه : دا ان شاء الله راوړل شویده محض دتبرك حاصلولو دپاره۔

٢ – بعض وائي چه په دیے کښ امتثال دأمر الله شویدیے چه الله فرمائي : ﴿ولا تقولن لشئ انی فاعل ذلك غداً الا ان یشاء الله ﴾ [الکهف].

٣ – بعض وائي : دا مشیئت متعلق دیے د لاحقون سره یعنی زمونږ لحوق تاسو پوریے د الله مشیئت سره متعلق دیے، یعنی مرګ خو به هسیے هم راځي خو آیا تاسو سره به په دیے مقبره کښ شریك شو اوکه نه بل ځائے به یو، نودا د الله دمشیئت پوریے تعلق لری، لهذا دا مشیئت متعلق دیے دلحوق پوریے، نه دنفس موت پوریے۔

٤ – یا ان په معنی د اذا سره دیے (ای اذا شاء الله لحوقنا فنلحق بکم)۔ (یعنی کله چه الله تعالی زمونږ تاسو پسے د پیوسته کولو اراده اوکړه) لهذا دا اراده به روستوکوی)۔ ظاهر قول اول دیے۔

وَدِدْتُ اَنَّا قَدْ رَأَیْنَا اِخْوَانَنَا : یعنی آرمان دیے چه مونږ خپل ورونه لیدلی وے۔ نبي ﷺ آینده زمانے (مونږ اوستاسو) دلیدلو آرمان کړیدیے نو مونږ لره هم دهغه لیدلو آرمان پکار دیے بیا کله چه نبي ﷺ دمخکنو خلقو تصور اوکړو نوروستني هم ورته را یاد شو، نو ځکه ئے دا آرمان اوکړو، او په دیے کښ کرامت اوشرافت د روستنو دیے او محبت د نبي اکرم ﷺ دیے دهغوی سره۔

اَوَلَسْنَا اِخْوَانَكَ : صحابهؓ په دیے خبره ظاهره کښ خفه شو، ځکه که دا په ظاهر پریښودیے شي نو په دیے کښ ضمناً زورنه ده صحابوؓ دپاره، چه تاسو زما ورونه نه ئے، نو ځکه داسے تپوس

كوي۔ قَالَ: اَنْتُمْ اَصْحَابِیْ : ددې نه دا نه معلومېږي چه صحابهٔ ګنې دنبي ﷺ وروڼه نه دي، بلکه علامه باجیؒ فرمائي : دلته نبي اکرم ﷺ دصحابوؓ دپاره دوه مرتبې ثابتوي، يوه مرتبه دصحبت، اويله مرتبه داخوت ده، اومرتبه دصحبت اوچته ده دمرتبې داخوت نه، هرکله چه صحبت ثابت شو نو اخوت په طريقه اولیٰ سره ثابت دې۔نو دصحابوؓ دوه درجې دي۔اود روستنو خلقو داخوت ثابتيدو نه صحبت نه ثابتيږي ځکه اخوت عام دې اوصحبت خاص، او ثبوت دعام مستلزم نه دې ثبوت دخاص لره۔

۲ – نودا حديث دليل دې په دې خبره چه رسول الله ﷺ حاضر ناظر نه دې ځکه آرمان كوي د ليدلو زمونږ۔که حاضر وې نو بيا دآرمان څه معنی ده؟ بريليانو جاهلانو په شاه اسماعيل شهيد رحمه الله باندې د کفر فتوی کړې وه، ډيرې وجې بيانولې يوه وجه په کښې دا وه چه نبي اکرم ﷺ ته ئې مشر ورور وئيلې دې، حال دا چه قرآن او سنت کښې خو دا راغلي دي۔دا جاهلان ددې نه ندي خبر۔ فَاِنَّهُمْ يَاْتُوْنَ غُرًّا مُحَجَّلِيْنَ مِنَ الْوُضُوْءِ:

فائده انيقه : په دې کې اختلاف دې چه آيا په پخوانو امتونو باندې د اوداسه حکم وو اوکه نه ؟ درې قوله دي :

۱ – پخوانو امتونو کښې د اودس حکم نه وو، اودس کول ددې امت خصوصيت دې ځکه دوئ لره الله رڼړا هم ورکريده او پخوا دپاره دا عمل نه وو نو ځکه ورله رڼړا هم نشته۔ ۲ – پخوانو امتونو کښې اودس وو خو صرف دانبياؤ دپاره نه دباقي امت دپاره۔

۳ – اودس ددې امت خصوصيت نه دې بلکه پخوانو دپاره هم وو، انبياء وي که غير انبياء، وهو الاصح الراجح، ځکه چه په حديث دجريج کښې راځي۔دهغه دعبادت خانه چه کله قوم خرابه کړه، نو هغه حديث کښې دادي :

(فتوضا وصلى ركعتين) الخ۔يعني اودس ئې اوکړو اودوه رکعته ئې اوکړل، او د الله نه ئې دعاء اوغوښته۔اوداسې آثار نور هم شته ۔

غُرًّا مُحَجَّلِيْنَ مِنَ الْوُضُوْءِ : کښې اشاره ده ديته چه ددې امت خصوصيت دا دې چه د دوي په اوداسه باندې د دوئ مخونه اولاسونه اوخپې رڼړا کيږي، او پخوانو امتونو کښې اګرچه اودس وو خو دهغوئ اندامونه پرې نه رڼړا کيدل۔هغوی له الله تعالى دا منقبت او شرافت نه وو ورکړې۔هغوی به توروي، اودا امت به سپين وي، هغوی له که الله رڼړا ورکوي نو په نورو اعمالو او اسبابو سره، خو د اوداسه دوجې نه ئې نه ورکوي۔صرف دا ددې امت محمديه خصوصيت دې البته که څوك بې نمازه بې اودسه وي په دې امت کښې نو هغه به هم توروي نبي ﷺ به ئې نه پيژني۔

وَاَنَا فَرَطُهُمْ عَلَى الْحَوْضِ : فَرَط هغه شخص ته وائي چه دقوم نه مخکښې لاړ شي او سامانونه تياروي نو نبي عليه السلام مخکښې تلې دې دامت دپاره به حوض تياروي۔

١٨ - وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَنَا اَوَّلُ مَنْ يُؤْذَنُ لَهُ بِالسُّجُوْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاَنَا اَوَّلُ مَنْ يُّؤْذَنُ لَهُ اَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ فَأَنْظُرُ اِلٰى مَابَيْنَ يَدَيَّ فَأَعْرِفُ اُمَّتِيْ مِنْ بَيْنِ الْاُمَمِ وَمِنْ خَلْفِيْ مِثْلَ ذٰلِكَ، وَعَنْ يَمِيْنِيْ مِثْلَ ذٰلِكَ وَعَنْ شِمَالِيْ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ: كَيْفَ تَعْرِفُ اُمَّتَكَ مِنْ بَيْنِ الْاُمَمِ فِيْمَا بَيْنَ نُوْحٍ اِلٰى اُمَّتِكَ قَالَ: «هُمْ غُرٌّ مُحَجَّلُوْنَ مِنْ اَثَرِ الْوَضُوْءِ لَيْسَ اَحَدٌ كَذٰلِكَ غَيْرَهُمْ وَاَعْرِفُهُمْ اَنَّهُمْ يُؤْتَوْنَ كُتُبَهُمْ بِاَيْمَانِهِمْ وَاَعْرِفُهُمْ تَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ ذُرِّيَّتُهُمْ». رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه: ابودرداء ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دقیامت په ورځ به هغے خلقو کښې د ټولو نه ړومبنے سړے زه یم چاته چه به د سجدے کولو اجازت ورکړے شي او بیا هغے خلقو کښې د ټولو نه ړومبنے سړے به زه یم چه هغه ته به سجدے نه دسر اوچتولو اجازت ورکړے شي نو زه به هغے څیز طرفته ګورم چه زما مخے ته به وي (یعنی دمخلوق مجمع) اوزه به د امتونو مینځ کښې خپل امت پیژنم۔بیا به زه ورستو طرفته داسے او خپل ښي اوګس طرفته هم داسے ګورم (یعنی څلور واړه طرفته به دخلقو ګنړه ګونړه وینم، او هغوئ به خپل امت پیژنم، یو صحابی عرض اوکړو، یارسول الله! خپل امت نه واخله د نوح علیه السلام امت پورے تمام امتونو کښې به تاسو خپل امت څنګه پیژنئ، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: زما امت به داودس د نښو په وجه سپین تندی اوسپین لاس پښے وي، دے امت نه سیوا به بل هیڅ امت داسے (امتیازی صفت سره) نه وي، اوزه به خپل امت داسے هم پیژنم چه زما دامت خلقو ته به دهغوئ عملنامے ښی لاس کښې ورکړے شي په دے وجه به ئے پیژندنه کوم، دهغوئ (وړوکی) اولاد به دهغوی مخکښې زغلي۔(احمد)۔

تشریح: يُؤْتَوْنَ كُتُبَهُمْ بِاَيْمَانِهِمْ: یعنی دوئ ته به عمل نامے په ښی لاسونو کښې ورکولے شي۔ددے حدیث دظاهر نه دا معلومیږی چه دا هم ددے امت خصوصیت دے چه صرف دوئ ته به عمل نامے په ښی لاس کښې ملاویږی، لیکن دنورو احادیثو او آیتونو نه عموم معلومیږی لکه ﴿فَمَنْ اُوْتِيَ كِتَابَهٗ بِيَمِيْنِهٖ﴾ عام دے هر امت ته شامل دے، نودلته په دے حدیث کښې د (یؤتون کتبهم) معنی به داسے اوکړے شي چه دوئ ته به دا د ټولو نه ړومبے ورکولے کیږی اونورو امتونو ته به هم ورکولے شي لیکن ددے امت نه روستو۔

(کما فی الحدیث: نحن الاولون الآخرون)۔

٢ - یا مطلب دا دے چه ددے امت ته به په جدا صفت ورکولے شي اونورو امتونو ته به په جدا صفت ورکولے شي، نو څکه به زمونږ پیغمبر ﷺ خپل امت په دے خاص صفت دعمل نامے سره پیژنی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رواه احمد من طريق ابن لهيعة وروايته عند الانفراد ضعيف ولكن اذا وجد لها متابع فروايته حسن كما قال المنذرى۔وقال الالبانى فى تعليق المشكاة ص (٩٩) : رواه احمد فى المسند (١٩٩/٥) واسناده صحيح وان كان فيه عبد اللّٰه بن لهيعة فان من الرواة عنه لهذا الحديث عبد اللّٰه بن المبارك وحديثه عنه صحيح، كما نبه عليه بعض الحفاظ، وزاد عبد اللّٰه عنه فى السند ابا ذر قرنه مع ابى الدرداء آه.



تم المجلد الاول من **الحق الصريح** شرح مشكاة المصابيح.
ويليه المجلد الثانى من اول (باب ما يوجب الوضوء) ان شاء اللّٰه.
وصلى اللّٰه على النبى الامى وصحبه وسلم.



فهرست مضامين " الحق الصريح " جلد اول

مضمون صفحه

کتاب الایمان



بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمة الطبعة الثانية : (اضافي ايډيشن)

الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه، والصلاة والسلام على رسوله وصفيه، وعلى آله واصحابه ومن هو باحسان يقتفيه امّا بعد : د الله تعالیٰ په احساناتو کښې عظیم احسان دا اُوشو چه مونږ ته ئې د خپل حبیب د ښکلو خبرو د تشریح او توضیح توفیق راکړو لکه څنګه چه قارئین کرام ته معلومه ده چه پدے سلسله کښې د مشکوٰة المصابیح کوم چه د مختلف مکاتب فکر په نظر کښې ډیر معتبر کتاب دے ددے داسے یوه مکمله شرحه نایاب وه چه په هغے کښې بغیر د تعصب نه یو آزادانه انداز سره د احادیثو په رنګ کښې د احادیثو تشریحات اُوشی اومسائل سره د دلائل او اختلافاتو او قول راجح نه ذکر شی، اکثر شروحات د تقلید مذهبی او جمود زیر دست ښکار شویدی چه په هغے کښې د انصاف نه کار نه دے اخستے شوے۔ نو ددے ارمان پوره کولو دپاره ستاسو لاس کښې چه کومه شرحه ده د مخلصو احبابو په دعاګانو او نیك نیتئ سره الله تعالیٰ ډیر زر تیاره کړه چه په هغے کښې په اول ایډیشن کښې په اول جلد کښې د بعض تزئین اوآرائش کمے وو، په بعض مواضعو کښې د بعضِ احادیثو ترجمے نه وے لیکلے شوے او د عربی او پښتو د خط جدائی هم نه وه، په عربی عبارت باندے اعراب هم نه وو لګیدلے، او د بعض ضمنی عربی عباراتو ترجمه هم نه وه لیکلے شوے چه په هغے کښې بعضِ احبابو دشواری محسوس کوله، پدے وجه پدے ایډیشن کښې د هغه کمئ حتی المقدور تلافی او تدارك اُوشو چه اوس دا جلد د نورو جلدونو په شان مزیّن او مصحح کړے شو ولله الحمد لیکن بیا هم انسان مرکب من السهو والنسیان دے۔ که څه علمی یا طباعتی خطائی وی که مونږ ته خبر راکړے شو نو د هغوی به ډیر شکر ګزار یو !۔

اوس بعض هغه اضافات ذکر کوو چه په مخکنی جلد کښې نه وو۔

١– د عربی عبارت مکمل اعراب

٢– کتابت په ډیر ښائسته فنټ کښې۔

٣– دضمنی عربی فنټ جدا او د حدیث عربی جدا۔

٤– د عربی عباراتو مکمل ترجمه۔

٥– په بعض مواضعو کښې په مسئله کښې د بعض دلائلو زیادت۔

٦– د هر مضمون جدا عنوان په جدا رسم الخط۔

٧– د درجة الحدیث جدا رسم الخط۔

٨– بعض مواضعو کښې د حدیث ترجمه پاتے وه هغه اولیکلے شوه۔

٩– په درجة الحدیث کښې مناسب اضافات۔

١٠–د درجة الحدیث عنوان په جدا خط کښې اولیکلے شو چه په اول النظر سره معلومیږی۔

١١– مشتبه الفاظو باندے اعراب اُوشو۔

١٢– بعض کلماتو کښې تاء مدوّره نه وه چه کمپیوټری نقصان وو هغه ختم کړے شو۔

١٣– په درجة الحدیث کښې د صحت، حسن او ضعف حکم صراحةً ذکر کړے شو۔

١٤– هرے مسئلے سره بعض حواله جات زیات شو۔

١٥– اشعار په ترتیب اُولیکل شو۔

١٦–د حدیث نه کرخے تاؤ کړے شوے۔

١٧– بعض مغلق عبارات په اسهل انداز کښې اولیکلے شو۔

١٨–د حدیث نه کرخے تاؤ کړے شوے۔

وکتبه عُبَیْدُهٗ، ابوزهیر سیف الله، خادم الطلبة فی مدرسة معاویة بشاور سادس ذی الحجة (١٤٢٩هـ) الموافق: ٢٠٠٨/١٢/٤ دسمبر) لیلة الجمعة